سره دحوالو او تخریجه

مکمله او مدلله

فتاوی یوسفیه

مشهوره په

ستاسو جدید مسائل او دهغی حل

اووم جلد

تالیف

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوي رحمه الله

مفتي اعظم پاکستان



تقریظونه

شیخ الحدیث حضرت مولانا

سید شیر علی شاه مدني رحمه الله

سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله

شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه اتمانزئی

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل

0782690850 | 0775681606

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوی یوسفیه

مشهوره په

ستاسو جدید مسائل او دهغې حل



مکمّل او مدلل

سره د حوالو او تخریجه

تالیف

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی رحمه الله

مفتي اعظم پاکستان

تقریضونه

شیخ الحدیث حضرت مولانا

سید شیر علی شاه مدني رحمه الله

سابق شیخ الحدیث دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ادریس صاحب مدظله

شیخ الحدیث دار العلوم نعمانیه اتمانزئی

داووم جلد اجمالي فهرست

دکوراو څمکې په کرایه ورکولو باقي مسئلې، دقسطونو کاروبار، دقرض مسئلې، امانت، رشوت، داخستلو او خرڅولو متفرق مسئلې، معاملات، دسود حکم، دبینک نه سود اخستل، دسود دې پیسو مصرف، دبینک نوکري، دبیمه کمپنې مسئلې، جواري (قمار) کول، د بانډ حکم، کمیشن، دمیراث مسائل، لونه له میراثه محرومول، دوصیت مسائل، دجهاد او شهید حکمونه، دسیاست مسائل

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل

0782690850 | 0775681606

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب نوم : ستاسو جدید مسائل او د هغې حل

مؤلف : حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوی رحمه الله

ترجمه کونکي : دار الترجمه عبدالغني مارکیټ پشاور

جلد : اووم

صفحات : ۵۹۲

تاریخ : ۲۰۱۷ء

د چاپ زیار : مولانا سید محمد پرواني

جدید مکتبه رشیدیه

جاده میوند سر چوک مارکیت مرحوم حاجي حسین گل کابل

0782690850 | 0775681606

د کتاب تر لاسه کولو ځایونه

پشاور ◦ کندوز ◦ بغلان ◦

اکوړه خټک ◦ غزني ◦ لوګر ◦

کوئټه ◦ جلال آباد ◦ خوست ◦

پروان ◦ قندهار ◦

فهرست

مضمون	صفحه

❖ د کور او زمکې په کرایه د ورکولو باقي مسئلې ❖

مضمون	صفحه

❖ د قسطونو کاروبار ❖

❖ د قرض مسئلې ❖

❖ امانت ❖

❖ رشوت ❖

صفحه	مضمون
۱۵۴	د چوټي په وخت کې د معاوضې نه پرته نوکر پابند کول سهي نه دي
۱۵۵	په لنچ ټائم کې د څه ذاتي کار له پاره بهر تلل
۱۵۶	آيا د ګورنمنټ ملازم د انچارج په اجازه له وخت نه مخکې تللی شي
۱۵۶	د اوچتو افسرانو په وينا کور کې ناست تنخوا وصولول
۱۵۶	په کار کې د دوکه کونکي تنخوا جائز نه ده
۱۵۷	د چوټي د ورځې تنخوا او اوور ټائم اخيستل
۱۵۸	د شرعي مسئلې د ښودلو اجرت اخيستل جائز نه دي
۱۵۸	په زور باندې کور ليکل شرعي طور باندې څنګه دي؟
۱۵۹	د خپل واده جامې خرڅول
۱۵۹	د سکول د شيانو په خرڅولو کې د استاذ کميشن
۱۶۰	پاتې شويو سرکاري دوايانو باندې څه وکړو؟
۱۶۰	د فيکټرۍ جوړولو د لائسنس اخيستل او خرڅول
۱۶۱	د بينک په مدد باندې ريډيو باندې ديني پروګرام وړاندې کول
۱۶۱	د امانت په ساتلو معاوضه اخيستل
۱۶۱	د ټي وي پروګرام (نيلام ګهر) کې شرکت کول
۱۶۲	که څوک د سرو زرو اجرت نه ورکوي، نو ايا د هغه د سرو نه د اجرت
۱۶۲	په اندازه اخيستو سره هغه ته ويل شي، نو ايا داسهي ده؟
۱۶۲	د هوټل ټپ اخيستل شرعي طور باندې څنګه دي؟
۱۶۳	د آزادو ښځو اخيستل او خرڅول
۱۶۳	شرط باندې د اسونو د مقابلې کونکي نوکري
۱۶۴	د چا په ګرم کړي تنور باندې د هغه د ډوډۍ لګولو نه وروسته ډوډۍ لګول
۱۶۴	د سپانسر سکيم د ډرافټ اخيستل
۱۶۵	د کورونو مشترکه اخراجات نه ادا کول سراسر حرام دي
۱۶۶	د فيکټرۍ مالکان او مزدوران دې خپلو کې په مصلحت فيصله کوي
۱۶۷	جعل سازي باندې د ګاډي الاؤنس حاصلول او هغه استعمالول
۱۶۸	پريس کارډ د ورځپاڼو د کار پرېښودو نه وروسته استعمالول
۱۶۸	په ناجائزه ذريعه پيدا شوی دولت څنګه استعماليدای شي؟
۱۶۹	د غلط اوور ټائم اخيستلو او ورکولو حکم
۱۷۰	د شمې د دندې پرمهال په نمبر نمبر ويده کيدل

❖ سود ❖

❖ بیمه کمپنۍ، انشورنس وغیره ❖

مضمون	صفحه
بیمه کمپنۍ کې ایجنټ په طورباندې کمیشن اخیستل	۲۷۰
د لس زرو روپو د بیمې شرعي حکم	۲۷۰
که بیمه د حکومت د مجبورۍ په وجه باندې وکړل شي نوځه حکم یې دی؟	۲۷۰
بیمه ولې حرامه ده؟ که څه هم وفات شوي کس د اولاد د پالنې ذریعه وي	۲۷۱
❖ جواري(قمار) ❖	
تاش کول او د هغه د شرط پیسې خوړل	۲۷۱
شرط ایښودو سره جواري کول	۲۷۱
چرګان جنګول او شرط پرې ایښودل	۲۷۲
ذهني یا علمي مقابلو په پروګرامونو کې شرکت کول	۲۷۲
د جوارۍ باره کې د یو حدیث تحقیق	۲۷۳
د قرعه اندازۍ په ذریعه باندې د بل نه خوراک څښاک کول	۲۷۴
قرعه اندازي کولو سره د یو بل نه خوراک کول	۲۷۴
❖ پرائزبانډ، بیسي او انعامي پروګرامونه ❖	
د پراویډنټ فنډ شرعي حیثیت	۲۷۵
جي پي فنډ اخیستل جائز دي	۲۷۵
د پنشن(تقاعدي) روپۍ اخیستل څنګه دي؟	۲۷۵
پنشن جائز دی ددې حیثیت د عطیې دی	۲۷۶
کونډې له پاره د خاوند میراث په قومي بچت	۲۷۷
پروګرام کې جمع کول جائزدي او که نه؟	۲۷۷
د انټر پرائزز ادارو د پروګرامونو شرعي حیثیت	۲۷۷
د هلال احمردلاټرۍ پروګرام د جوارۍ یوشکل دی	۲۷۷
هره میاشت سل روپۍ جمع کولو سره د پنځو زرو	۲۷۸
روپیو اخیستو سکیم(پروګرام) جائزنه دی	۲۷۸
هره میاشت درې سوه ورکول او ۹ زرو کمیټۍ وصولول او پاتې قسطونه نه ورکول	۲۸۰
د پرۍ پیمنټ پروګرام شرعي حیثیت	۲۸۰
د بچت سرټیفکیټ ،یونټ وغیره شرعي حیثیت	۲۸۱
د انجمن ممبرته قرض حسنه ورکولو سره دهغه	۲۸۲
نه زر روپیو باندې پنځویشت روپۍ ګټه حاصلول	۲۸۲
د ممبرانو قسطونه جمع کولو باندې د قرعه اندازۍ په ذریعه انعام اخیستل	۲۸۲

❖ لوڼه له ميراثه محرومول ❖

❖ د نابالغ، يتيم، معذور، رضاعي او خولې سره ويلي شوي اولاد په ميراث کې برخه ❖

مضمون	صفحه

❖ د مور و پلار په ژوند کې د وفات شوي اولاد برخه ❖

مضمون	صفحه

بسم الله الرحمن الرحيم

❖ د کور او زمکې په کرایه د ورکولو باقي مسئلې ❖

کور په کرایه ورکول جائز دي

سوال: د جايداد او داسې نورو... نه چې کومه کرایه حاصليږي، ایا هغه سود دی؟ زموږ یو بزرګ چې په دين باندې کافي حد پورې پوهيږي فرمايي چې سود مقرروي او هغه کې یوازې فایده وي د نقصان هيڅ صورت نه وي او همدغه صورت د کرايي په ګټه کې دی، نو معلومه شوه، اګرچې ماپخپله نه دي لوستي چې محترم ډاکټر اسرار احمد صاحب د جايداد کرايې ته سود ويلي دي.

جواب: که چیرته د جايداد نه مراد ځمکه، کور، دوکان او داسې نور... وي، نو ددې شيانو په کرايې د ورکولو اجازه په احادیثو کې راغلې ده[1] له دې وجې دا سود ګڼل غلط دي.

د ځمکې او کور په کرایه باندې د ورکولو علمي بحث

سوال: (جنګ) ورځپانه کې یو مضمون بدل شوی دی، چې ځمکه په کرونده ورکول او د کور کرايه اخيستل ,,سود،، ده، دا د کوم حد پورې صحيح ده؟

جواب: (جنګ) ورځپانه د (۱۳) نومبر (۱۹۸۱ع) په اشاعت (ګڼه) کې د جناب رفيع الله شهاب صاحب یو مضمون د ,,سود کی مصطفوي تشريح،، عنوان سره چاپ شوی دی، مضمون ليکونکي د احادیثو په حواله باندې ددې خبرې ثابتولو کوشش کړی دی چې اسلام کې ځمکه په کرونده باندې او کور په کرايه باندې ورکول سود دي، دې باره کې ډيرې پوښتنې راځي، له دې وجې ځينې اکابرينو حکم وکړ چې ددې مسئلې پوره وضاحت وکړئ، نو مناسب به يي، د لوستلو له پاره به د موصوف ټول تحرير نقل کړل شي چې د موصوف په مطلب او د هغه په مسئلو باندې پوهيدو کې هيڅ تکليف نه وي.

---

[1]]عن عبدالله ابن سائب قال: دخلنا على عبدالله ابن معقل فسألنا عن المزارعة فقال؛ زعم ثابت ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن المزارعة وامر بالمواجرة وقال لا بأس بها. (مسلم/۲/ ۱٤). وفى الهداية: ويجوز استئجار الدور والحوانيت للسكنى وان لم يبين ما يعمل فيها لأن العمل المتعارف فيها السكنى فينصرف اليه وانه لايتفاوت فصح العقد. ثم قال ويجوز استئجار الأراضى للزراعة لانها منفعة مقصودة معهودة فيها. (هداية/۳/ ۲۹۷/ كتاب الاجارة).

موصوف ليکي په دې ملک کې نظام مصطفې طرف ته پيش قدمي کيږي، خودې مقصد له پاره چې دڅومره کارکولوضرورت دی زموږ عالمان دهغه طرف ته توجه نه ورکوي، بلکې په اهم ترينوخبروکې هم يوازې اوريدل شويو خبروباندې صبرکوي، ددې ترټولونه غټ مثال سود دی، چې اسلام کې دټولونه خطرناک جرم دی. ددې جرم د سنګينې اندازه له دې نه لګيږي چې قرآن کريم ديوانسان قتل ته دټول انسانيت قتل ويلي دي، خوسوديې ددې نه هم خطرناک جرم ښودلی دی او دايې الله تعالی اودهغه رسول ﷺ سره جنګ ښودلی دی، خو افسوس چې موږ داسلام دټولونه خطرناک جرم باره کې اوسه پورې غفلت نه کاراخلو.

عام طورباندې زموږ معاشره کې دبينک نه لاس ته راغليو پيسوته سودويل کيږي اوددې نه پرته چې څومره معاملې دي خطرناک جرم کې داخلې دي، هغه طرف ته هيڅ توجه نه ورکول کيږي، همدغه وجه ده چې سرمايه دارانه نظام کوم چې (دنظام مصطفی مخالف دی) اسلامي ملکونوکې خپلې پنجې خښې کړې دي کله چې دسودحکمونه نازل شول، نوهغه وخت کې د بينک نوم قدرې هم نه و، داحاديثوپه کتاب کې نقل شوي دي چې ددې حکمونودنازليدونه وروسته حضور ﷺ کاروباري ځايونوته تشريف يوړ اودمختلفو قسمه کاروبارونوتفصيلات يې معلوم کړل اوداسې ټول کاروبارونه چې هغه کې پرته له څه محنت نه ګټه حاصليږي، مثلاً داړت(دلالي) کاروبار، دې ته حضور ﷺ سود وويل (نيل الاوطارج٥ص ١٧٤)

دتفسيرمواهب الرحمن په صفحه نمبر(١٢١) باندې ليکل شوي دي چې:

هم دې باره کې حضور ﷺ پټيوته هم لاړ، نوهلته حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه (چې هغه يو بزګر و) سره يې ملاقات وشو، حضور ﷺ ترې دزميندارې معلومات حاصل کړل، نوهغه ورته وويل چې داځمکه دفلانکې سړي ده او زه(حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه)په کې کارکوم، کله چې فصل وشي، نودواړه کسان به يې برابر برابرتقسيم کړو، حضور ﷺ وفرمايل چې تاسو د سود معامله کوئ، له دې وجې داپريږدئ اودخپل محنت پيسې ترې واخله.

(سنن ابی داؤد، کتاب البيوع، باب المخابره ج٢)

ديوبل صحابي جابربن عبدالله رضي الله عنهما نه يې هم چې کله دزمنيدارې په اړوند همدا تفصيلات واوريدل، نوحضور ﷺ وفرمايل چې څوک ځمکه په کرونده ورکول نه پريږدي، هغه دې الله تعالی اودهغه رسول ﷺ سره جنګ ته تيارشي. (ايضاً)

يادساتل پکاردي چې حضور ﷺ ځمکه په کروندې ورکولوباره کې دسودچې کومه تشريح کړې ده، دنن سبا د دور د معاشياتولوړ لوړ عالمان يې همداتعريف کوي.

لارډکينزچې داوسنې دور ديولوړ اقتصاد پوه دی، په خپل مشهورکتاب جنرل تهيوري په صفحه (٢٤٢ او٢٤٣) باندې د سودتشريح کولوکې ليکي چې ,,پخوانی زمانه کې به سود د ځمکې دکرايې په شکل کې و چې هغه ته نن سباپه کرونده باندې ورکول ويل کيږي . .

ډیرو صحابه کرامو رضی اللہ عنہم سره د هغوی د کروندې نه زیاته ځمکه وه. کله چې رسول الله ﷺ په کرونده باندې ورکولو ته سود ووئیل، نو هغوی د هغې د خرڅولو انتظام وکړو. خو کله چې دې باره کې هغوی حضور ﷺ نه پوښتنه وکړه، نو حضور ﷺ نه د هغې زیاتې ځمکې د خرڅولو اجازه ورنه کړه، بلکې ورته یې وفرمایل چې خپلو ضرورت مندو ورونوته یې مفته ورکړئ، خپله ځمکه چاته مفت ورکول اسان کار نه و، له دې وجې صحابه کرامو رضی اللہ عنہم باربار د حضور ﷺ دې مسئلې باره کې پوښتنه وکړې او حضور ﷺ ورته هر ځل همدغه جواب ورکړو. بخاري شریف اومسلم کې د همدې مضمون احادیث موجود دي.

د رسول الله ﷺ ځینې صحابه کرامو رضی اللہ عنہم سره زیاتې ځمکې وې، حضور ﷺ وفرمایل چې له چاسره ځمکه وې یا خودې هغه پخپله کرې او یا دې خپل ورور ته وبښي او که انکار وکړي، نو خپله ځمکه دې بنده کړي. (نیل الاوطار ج۵ ص ۲۹۰)

لنډه دا چې د سود دې تشریح له وجې حضور ﷺ د ځمکې اخیستلو او خرڅولو نه منع وکړه، یاد ساتل پکار دي چې هغه زمانه کې یوازې ځمکه د سرمایه دارۍ غټه ذریعه وه.

د سرمایه دارۍ دویمه غټه ذریعه کورونه وو. دا کورونه زیات تر په مکه شریفه کې وو، ځکه چې هغه یو بین الاقوامي ښار و او هلته به خلک حج او تجارت له پاره راتلل، حضور ﷺ د مکې شریفې د کورونو کرایې هم سود ګرځولو سره مسلمانان دې د اخیستلو نه منع کړل او وې فرمایل چې چا د مکې شریفې د دو کانو کرایه واخیسته هغه سود وخوړو. (هدایه ج ٤ ص ٤٥٧ مطبوعه دهلی)

دا دواړه معاملات داسې دي چې دې کې لګول شوې پیسې ورځ په ورځ زیاتیږي او بینک کې جمع شوې پیسې ورځ په ورځ کمیږي، نو د پورته ذکر شویو دواړو معاملاتو سود د بینک د سود نه ډیر زیات خطرناک دی.

امید لرم چې د اسلام عالمان عوام ته د سود دا مصطفوي تشریح بیان کړي او هغوی د اسلامي شریعت په نزد باندې د ټولو نه غټ سنګین جرم نه د بچ کولو کوشش وکړي.

جواب: مضمون لیکونکي په خپل ټول مضمون کې یو خود کیسې لیکلو او تاریخ سازۍ نه کار اخیستی دی او بیا یې ټولو مسئلو باره کې یو خاص ذهن سره خبرې کړې دي، د هغه د نکتې تجزیه ولولئ.

مزارعت

د جناب رفیع الله شهاب د مضمون مرکزي نکته داده چې کوم کس خپله ځمکه پخپله کري، د هغه له پاره د ځمکې پیداوار حلال دي، خو که چیرته یو کس خپله ځمکه پخپله نه شي کرلی او هغه په کرونده یا ټیکه یا مزدوري باندې ورکړي، نو دا سود دی، ځکه چې د هغه مطابق هغه ټول کاروبارونه سود کې داخل دي کوم کې چې پرته له څه محنت نه ګټه حاصلیږي او دا نظریه هغه د اسلام سره تړي، حالانکې دا نظریه د اوسني دور د سوشلزم کیدای شي، خو د اسلام دې نظریې سره هیڅ تعلق نه شته.

موصوف د مزارعت د منع باره کې د ابوداود په حوالې سره د حضرت رافع بن خدیج او د حضرت جابر رضی الله عنهما دوه روایتونه نقل کړي دي، چې هغوکې مخابرة ته سودویل شوی دی، کاش هغه دې د دوا ړو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه کوم چې ددې احادیثو روایت کونکي دي، ددې وجه هم نقل کړې وای، نو مسئله به واضح طور باندې مخې ته راغلې وه، راځئ چې هم د دغو دواړو بزرګانو نه پوښتنه وکړو چې د منع کولو وجه څه وه؟

عن رافع بن خديج حدثنى عماى انهم كانوا يكرون الارض على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم بماينبت على الاربعاء اوبشئ يستثنيه صاحب الارض فنهانا النبى صلى الله عليه وسلم عن ذلك، فقلت لرافع: فكيف هى بالدينار والدراهم؟ فقال رافع: ليس بهاباس بالدينار والدراهم، وكان الذى نهى عن ذلك مالو نظر فيه ذووالفهم بالحلال والحرام لم يجيزوه لمافيه من المخاطرة. (صحيح بخاری ج۱ ص۳۱۵)

الف: رافع بن خدیج رضی الله عنه وايي چې زما تره بیانوي چې د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کې به خلکو خپلې ځمکې په مزارعت باندې ورکولې او دا شرط به يې کيښوده، چې نهرسره څواکې پیداوار به زمونږ وي یا به يې هم دغه ډول بل شرط کيښود (مثلاً: دومره غله به مونږ مخکې اخلوله هغه نه وروسته به ځمکه په کرونده ډرکو)، حضور صلی الله علیه وسلم ددې نه منع وکړه، (روایت کونکی وايي) چې ما حضرت رافع رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه که چیرته ځمکه په نغدو پیسو باندې ورکړل شي، نو ددې څه حکم دی؟ رافع رضی الله عنه وویل چې دې کې هیڅ بده خبره نه شته، لیث رحمه الله وايي که چیرته د حرام او حلال خیال ساتونکي خلک په دې باندې غور وکړي، نو دې ته به چیرته هم جائز ونه وايي، ځکه چې دې کې د معاوضې ملایدو او نه ملاوید وویره وه.

درافع بن خدیج رضی الله عنه د همدې مضمون روایتونه کتوله پاره وګورئ **صحيح مسلم ج۲ ص۱۳، ابوداؤد ص٤٨١، ابن ماجه ص۱۷۹، نسائی ج ۲ ص۱۵۳، شرح معانی الاثار ج۲ ص۲۱٤ وغیره.**

حدثنى حنظلة بن قيس الانصارى رضی الله عنه قال: سالت رافع بن خديج رضی الله عنه عن كراء الارض بالذهب والورق، فقال: لاباس به، انما كان الناس يواجرون على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم على الماذيانات واقبال الجداول واشياء من الزرع فيهلك هذا ويسلم هذا، ويسلم هذا ويهلك هذا، فلم يكن للناس كراء الا هذا فلذلك زجرعنه، واماشئ معلوم مضمون فلاباس به. (صحيح مسلم ج۲ ص۱۳)

ترجمه: حنظله بن قیس وايي چې ما درافع بن خدیج رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه چې د سروزرو او سپینو زرو (نغدو پیسو) په بدله کې ځمکه په ټیکه باندې دورکولو څه حکم دی؟ ويې فرمايل: هیڅ بده خبره په کې نه شته، د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کې به خلکو چې کوم مزارعت کاوو (او د کوم

نه چې حضور ﷺ منع کړې وه) چې دځمکې مالکانو به د ځمکې هغه برخې کومې به چې نهر ته نژدې وې، دځپل ځان له پاره خاص کړې، اکثر به دهغو برخو پيداوار خراب شو او نور به محفوظ و، کله به ددې خلاف وشول. هغه زمانه کې دخلکو دمزارعت هم دا دستور و. له دې وجې حضور ﷺ ددې نه سختې سره منع وکړه، خوکه چيرته دځه معلوم اوضمانت قابل شي بدله کې ځمکه ورکړل شي. نودې کې هيڅ بده خبره نه شته.

حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې مونږ به دحضور ﷺ په زمانه کې ځمکه اخيسته. په نيم پيداوار دريمې برخې باندې او دنهردغاړو په پيداوار، حضور ﷺ ددې نه منع وکړه.[1] (مسلم ج۲ص۱۲)

د حضرت جابر رضي الله عنه اوحضرت رافع رضي الله عنه دارشاداتونه معلومه شوه چې حضور ﷺ دمزارعت نه بالکل منع نه ده کړې. بلکې د مزارعت هغو غلطو صورتونوته يې سودويلي و په کوموکې چې ناجائزشرطونه کيښودل کيدل، مثلا داچې دځمکې فلانکۍ برخه به مالک ته ملاويږي او باقي پيداوار به په دريمې ياڅلورمې برخې په نسبت باندې تقسيم شي. داسې قسمه مزارعت په کوم کې چې غلط شرطونه کيښودل شوي وي) دټول امت په نزدباندې ناجائزدی.

دمزارعت دمنع هغه وجوهات کوم چې حضرت رافع او حضرت جابر رضي الله عنهما پخپله وښودل، هغه دنوروصحابه کرامو رضي الله عنهم نه هم نقل دي، مثلا: **عن سعد قال: کنا نکری الارض بما علی السواقی من الزرع، وما سعد بالماء منها، فنهانا رسول الله صلی الله علیه وسلم عن ذلک، وامرنا ان نکریها بذهب وفضة.** (ابوداؤد ص ۴۸۱ شرح معانی الاثار وطحاوی ص۲۱۵)

ترجمه: سعدبن ابي وقاص رضي الله عنه فرمايي چې خلکو به خپلې ځمکې په مزارعت باندې ورکولې، شرط به داو چې کوم پيداوار به ,,الساقيه،، (ارټ) ياکوهي نه ګيرچاپيره اوبوسره خړوبيږي هغه به مونږ اخلو. حضور ﷺ ددې نه منع وکړه اوويې فرمايل چې دسرو زرو ياد سپينو زرو په بدله کې يې ورکوئ.

داسې مزارعت ته څنګه چې امام ليث سعد رحمه الله فرمايلي دي، دحلال اوحرامو خيال ساتونکی يوکس هم حلال نه شي ويلی.

کوم کس چې داسلام دمعاملاتي نظام په صحيح نظرسره مطالعه کړې ده هغه ته به معلومه وي چې شريعت ځينې داسې معاملې دهغې دځپل خبيث والي له وجې منع کړي دي،

[1] جابر بن عبدالله رضی الله عنهما یقول: کنا فی زمن رسول الله صلی الله علیه وسلم نأخذ الأرض بالثلث او الربع بالماذيانات فقام رسول الله صلی الله علیه وسلم فی ذالک فقال: من کانت له ارض فلیزرعها فان لم یزرعها فلیمنحها اخاه فان لم یمنحها اخاه فلیمسکها. وقال الامام النووی رحمه الله فی شرحه: ومعنی هٰذه الالفاظ انهم کانوا یدفعون الارض الی من یزرعها ببذر من عنده علی ان یکون لمالک الارض ماینبت علی الماذيانات واقبال الجداول او هٰذه القطعة والباقی للعامل فنهوا عن ذالک لما فیه من الغرر فربما هلک هٰذا دون ذاک وعکسه. (صحیح مسلم مع شرحه/ ۲/۱۲/ باب کراء الارض).

ځينې يې دغلطو شرطونو او قيدونو له وجې او ځينې له دې وجې چې په هغو کې اکثر خفګان او جګړې ته خبره رسيږي، د مزارعت هغه شکلونه په کومو کې چې غلط شرطونه او قيدونه وو، هغو کې به جنګ جګړې کيدلې، له دې وجې د مزارعت نه منع وشوه. نو کله چې حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه ته پته ولګيده چې حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه د مزارعت نه منع کوي. نو هغه وفرمايل:

يغفرالله لرافع بن خديج رضي الله عنه، انا والله اعلم بالحديث منه، انما رجلان، قال مسدد: من الانصار ثم اتفقا قد اقتتلا، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ان كان هذا شانكم فلا تكروا المزارع. (ابوداؤد ج۲ ص ۴۸۱، ابن ماجه ص ۱۷۷)

ترجمه: الله تعالى دې د رافع رضي الله عنه ته مغفرت وکړي، په الله تعالى مې دې قسم وي! زه دې حديث باندې د هغه نه ښه پوهيږم، قصه داوه چې د حضور ﷺ په خدمت کې د انصارو دوه سړي حاضر شول، چې د هغوی په مزارعت باندې جګړه وه او خبره قتل او قتال ته رسيدلې وه، حضور ﷺ وفرمايل چې ستاسو دا حالت دی، نو تاسو د مزارعت معامله ولې کوئ ؟

عن سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه قال: كان اصحاب المزارع يكرون في زمان رسول الله صلى الله عليه وسلم مزارعهم بما يكون على الساق من الزرع فجاءوا رسول الله صلى الله عليه وسلم فاختصموا في بعض ذلك، فنهاهم رسول الله صلى الله عليه وسلم ان يكروا بذلك وقال: اكروا بالذهب والفضة. (نسائي ج ۲ ص ۱۵۳)

ترجمه: د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دی چې د ځمکې مالکانو به خپلې ځمکې د هغه پيداوار شرط باندې ورکولې کومې به چې د نهرونو خواکې وې، هغوی د حضور ﷺ خدمت کې حاضر شول او مزارعت باندې يې جګړه وکړه، حضور ﷺ وفرمايل چې داسې مزارعت مه کوئ، بلکې د سرو زرو او سپينو زرو په بدله کې يې کوئ!

د دې احاديثو نه معلومه شوه چې د مزارعت نه مطلقا منع نه ده شوې، بلکې دا منع خاص د هغو صورتونو متعلق وه په کومو کې چې د غلطو شرطونو له وجې اختلاف او جنګ جګړې حالت راغلی و او دا هم معلومه شوه چې ځمکه په نغدو پيسو باندې په ټيکو ورکولو حضور ﷺ پخپله اجازه ورکړې وه، نو د مضمون ليکونکي دا نظريه بالکل غلطه ده چې داسې ټول معاملات چې هغې کې پرته له څه محنت نه ګټه حاصليږي هغه ته حضور ﷺ سود ويلي دي، که چيرته د مزارعت د منع کولو همدا وجه وې چې دې کې پرته له محنت نه ګټه حاصليږي، نو دا علت خو ځمکه په ټيکه يا په اجرت باندې ورکولو کې هم موندل کيږي، حضور ﷺ د دې اجازه ولې ورکړې ده؟

غرض داچې، مضمون لیکونکي کومه نظریه اسلام او حضور ﷺ سره تړل غواړي او هغې باندې بې دینه اقتصادپوهان دسندله پاره وړاندې کوي. اسلام سره دهغې هیڅ تعلق نه شته اونه ددې احادیثودامفهوم دی کوم چې موصوف دخپلې نظریې په تایدکې نقل کړی دی. داډیره غلطه خبره ده چې یوه غلطه خبره وشي اوهغه دحضور ﷺ طرف ته منسوب کړل شي او خلکوته داباور ورکړل شي چې همدااسلام نظریه ده، چې هغې باندې نه صحابه کرامو پوه شو، نه تابعین اونه دامت اکابرین.

دلته داعرض کول ضروري دي چې دمزارعت معامله د حضور ﷺ اوصحابه کرامو رضي الله عنهم له دورنه اوسه پورې په مسلمانانو کې موجوده ده، امام بخاري رحمه الله نقل کوي چې:

عن ابي جعفر رحمه الله قال: مابالمدينة اهل بيت هجرة لايزرعون على الثلث والربع، وزارع على وسعد بن مالك وعبدالله بن مسعود وعمر بن عبدالعزيز والقاسم وعروة وآل ابي بكر وآل عمر وآل على وابن سيرين. وقال عبدالرحمن بن الاسود. كنت اشارك عبدالرحمن بن يزيد فى الزرع. وعامل عمر الناس على ان جاء عمر بالبذر من عنده فله الشطروان جاءوا بالبذر فلهم كذا. (صحيح بخارى ج۱ص۳۱۳)

ترجمه: حضرت ابوجعفر رحمه الله فرمايي چې مدينه طيبه کې د مهاجرينو يو خاندان هم داسې نه و چې هغوی به ځمکې په کروندې باندې نه اخيستې، حضرت علي رضي الله عنه، حضرت سعدبن ابي وقاص رضي الله عنه، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه، حضرت عمربن عبدالعزيز رحمه الله، حضرت قاسم رحمه الله، حضرت عروه رضي الله عنه، دحضرت ابوبکر رضي الله عنه خاندان، دحضرت عمر رضي الله عنه خاندان، دحضرت علي رضي الله عنه خاندان او ابن سيرين رحمه الله دې ټولو دمزارعت معامله فرمايلې ده، عبدالرحمن بن اسود رحمه الله وايي چې ما د عبدالرحمن بن يزيد رضي الله عنه سره دځمکې شراکت کاو او حضرت عمر رضي الله عنه به خلکوسره دغه شان معامله کوله. که عمر رضي الله عنه به تخم له خپل طرف نه ورکړ.نونيم پيداواربه دهغه و اوکه چيرته به تخم بزګر خپل واچاو نودومره برخه به يې وي.

انصاف کول پکاردي چې داټول حضرات درفيع الله شهاب په نزدباندې (سودخواره) اوالله تعالى اودهغه رسول ﷺ سره جنګ کونکي وو؟

د ځمکې اخيستل او خرڅول

مضمون ليکونکي دځمکې اخيستل اوخرڅول هم دسودپه کاروبارکې شميرلي دي اودې له پاره هغه يوه عجيبه قيصه ليکلې ده، هغه ليکي:

ډيرو صحابه کرامو رضي الله عنهم سره دخپلې کروندې نه زياته ځمکه وه، کله چې رسول الله ﷺ ځمکه په کرونده باندې ورکولومعامله سود وګرځوله، نوهغوی دهغو دخرڅولوپروګرام جوړ کړ. خوکله چې هغوی دې باره کې حضور ﷺ نه پوښتنه وکړه، نوحضور ﷺ دزياتو

ځمکو دخرڅولونه منع کړل. بلکې ورته یې وفرمایل چې خپل ضرورت مندو وروڼوته یې مفته ورکړئ خپله ځمکه چاته مفت ورکول اسان نه و، له دې وجې اکثرصحابه کرامو ﷺ باربار د حضور ﷺ نه پوښتنه کوله اوحضور ﷺ به هرځل هم دغه جواب ورکاو. بخاري شریف اومسلم شریف کې ددې مضمون ډیر احادیث موجود دي.

شهاب صاحب دخپلې لیکلې قیصې له پاره دصحیح بخاري او مسلم شریف د ډیرو احادیثو حواله ورکړې ده. حالانکې داټوله قیصه هغه پخپله باندې لیکلې ده. دصحیح بخاري اومسلم په یوحدیث کې ددې ذکرنه شته چې:

الف: حضور ﷺ په کروندې باندې ځمکه ورکولوته سودویلي و.

ب: دحضور ﷺ داحکم اوریدوسره صحابه کرامو ﷺ دخپلو زیاتو ځمکو دخرڅولوپروګرام جوړ کړی و.

ج: هغوی داخپل پروګرام دحضور ﷺ خدمت کې بیان کړ اود حضور ﷺ نه یې د ځمکو خرڅولو اجازه غوښتې وه.

د: حضور ﷺ دهغوی دغه پروګرام ونه مانه اودځمکودخرڅولونه یې منع وکړه.

ه: ددې باوجودچې حضور ﷺ دځمکوخرڅولونه منع کړي وو اودایې سودګرځولی و، خو صحابه کرامو ﷺ به باربار دحضور ﷺ نه ددې اجازه غوښته اوهرځل به هغوی ته هم دغه جواب ملاویده.

مضمون لیکونکي چې دصحیح بخاري اوصحیح مسلم په حواله باندې دصحابه کرامو ﷺ کومه نقشه ښودلې ده، ایا دا عقل منې؟

ټولوته پته ده چې کله حضور ﷺ دخپلو مهاجرینو ملګرو سره مدینې طیبې ته تشریف راوړ، نود مدینې منورې دځمکې مالکان انصار وو، ددغو حضراتو کردارد ځمکوپه معامله کې څه و؟ دې باره کې دصحیح بخاري دوه واقعات نقل کوم.

عن ابي هريرة ﷺ قال: قالت الانصارللنبی صلی الله علیه وسلم: اقسم بيننااوبين اخواننا النخيل، قال: لا. فقالوا:فتكفونا المؤنة ونشرككم فی الثمرة، قالوا: سمعنااطعنا. (صحيح بخاری ج۱ص ۳۱۲)

لومړی: حضرت ابوهریره ﷺ وایي چې دحضور ﷺ په خدمت کې انصارحضرات حاضر شول او درخواست یې وکړ. چې زموږ داباغونه زموږ اومهاجرینو وروڼوپه مینځ کې تقسیم کړئ، حضور ﷺ ورته وفرمایل نه، بلکې تاسوکارکوئ اوپیداوارکې موږشریک کړئ. ټولو وویل **سمعنا واطعنا.**

عن یحیی بن سعید رضی الله عنه قال: سمعت انسا رضی الله عنه قال: ارادالنبی صلی الله علیه وسلم ان یقطع من البحرین فقالت الانصار: حتی تقطع لاخوانناmن المهاجرین مثل الذی تقطع لنا. الخ. (صحیح بخاری ج۱ص۳۲۰)

دویم: کله چې دبحرین علاقه دحضور ﷺ په قبضه کې راغله، نو حضور ﷺ انصار راوغوښتل او هغوی ته یې دبحرین په ځمکوکې د ځمکو ورکولوپیشکش وکړ. دې باندې انصارو عرض وکړ یا رسول الله ﷺ! ترڅوپورې چې تاسوهمدومره ځمکې زموږ مهاجرینو وروڼوته ورنه کړئ، موږ دانه قبلوو.

ایادهمدغو انصارو باره کې شهاب صاحب داقیصه کوي چې دسوددحرمت اوریدوله وجې هغوی دخپلو ځمکو خرڅولوپروګرام جوړکړ اودحضور ﷺ دمنع کولوباوجودهغوی دې سود خوري ضدکوله؟ څومره دظلم خبره ده چې کوموانصارو دخدای او دهغه درسول ﷺ درضا له پاره خپل هرڅه قربان کړل په هغوی باندې داسې غلط الزام لګول کیږي؟

خلاصه داچې دځمکې اخیستلواوخرڅولونه حضور ﷺ بالکل منع نه وه کړې، دحضور ﷺ د زمانې نه تراوسه پورې دځمکو اخیستل اوخرڅول کیږي اوچاورته کله هم سودنه دي ویلي

مضمون لیکونکي چې د(نیل الاوطار) په حواله باندې کوم روایت نقل کړی دی چې:

درسول الله ﷺ ځینې صحابه کرامو رضی الله عنهم سره زیاتې ځمکې وې، حضور ﷺ وفرمایل چې چاسره ځمکه وي یاخودې هغوی پخپله کري یادې خپل ورورته وښیي اوکه چیرته انکارکوي، توخپلې ځمکې دې بندې کړي.

داحدیث صحیح دی خوددې نه دمزارعت منع نه ثابتیږي اونه دځمکواخیستل اوخرڅول ناجائزثابتیږي، خوصحیح بخاري اومسلم شریف کې چې یوطرف ته داحدیث ذکرشوی دی، هلته ددې شرح هم دې الفاظوکې موجودده:

قال عمرو: قلت لطاؤس: لوترکت المخابرة فانهم یزعمون ان النبی صلی الله علیه وسلم نهی عنه. قال: ای عمرو! فانی اعطیهم واعینهم وان اعلمهم اخبرنی یعنی ابن عباس رضی الله عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم لم ینه عنه، ولکن قال: ان یمنح احدکم اخاه خیر له من ان یأخذعلیه خرجاً معلوماً. (صحیح بخاری ص۳۱۳ صحیح مسلم ج۲ص۱٤)

ترجمه: عمروبن دینار رحمه الله وایي چې: ماحضرت طاؤس رحمه الله ته وویل چې تاسودکروندې معامله ولې نه پریږدئ؟ خلک وایي چې حضور ﷺ ددې نه منع کړې ده، هغه وویل چې ای عمرو! زه غریبانانو زمیندارو ته ځمکه ورکولوسره دهغوی مددکوم اوخلکوکې چې څوک دټولونه لوی عالم دی، یعنې حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما هغه ماته ویلي دي چې حضور ﷺ له دې نه منع نه ده کړې، بلکې حضور ﷺ فرمایلي دي چې تاسوکې یوکس خپل ورورته

ځمکه پرته له څه معاوضې نه ځمکه کرلوله پاره ورکړئ داد هغه له پاره بهتر ده ددې په مقابله کې چې هغه باندې څه معاوضه مقرره کړي.

مطلب داچې دحضور ﷺ دارشاددقرباني اوتعليم له پاره و. نوامام بخاري رحمة الله عليه دا احاديث دې عنوان سره ليکلي دي:

باب ماكان اصحاب النبي صلى الله عليه وسلم يواسي بعضهم بعضاً في المزارعة.

ترجمه: ددې بيان چې دحضور ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم به دزراعت باره کې ديوبل له پاره څنګه غم خواري کوله.

ددې حديث په شان يوبل حديث دی، چې هغه صحيح مسلم کې دحضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی:

بينما نحن في سفر مع النبي صلى الله عليه وسلم اذجاءه رجل على راحلة له قال: فجعل يصرف بصره يميناً وشمالاً. فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من كان معه فضل ظهر فليعدبه على من لاظهرله، ومن كان له فضل من زادفليعدبه على من لازادله. قال: فذكر من اصناف المال ماذكر حتى رايناان لاحق لاحدمنافي فضل. (صحيح مسلم ج۲ ص۸۱)

ترجمه: موږ دحضور ﷺ سره په يوسفرکې وو، چې يوسړی په اوښې باندې سور راغی او اخوا ديخوا يې وکتل (هغه ضرورت مند و) نوحضور ﷺ وفرمايل چې چاسره زياته سورلی وي هغه دې داسې کس ته ورکړي چاسره چې سورلی نه وي اوچاسره چې زيات سامان وي هغه دې داسې کس ته ورکړي چاسره چې سامان نه وي، حضور ﷺ هم دې اندازکې دمختلفو شيانوذکروکړ، تردې چې موږ ته خيال راغی چې زياتو شيانو کې زموږ حق نه شته.

بې شکه دا اعلى اخلاقوتعليم دی اودمسلمانانواخلاق همدغه شان لوړ پکاردي، خوخوک به داسې عقل مندوي چې هغه دا دعوه وکړي چې اسلام کې دحاجت نه زيات شی ساتل يادهغه خرڅول منع اوحرام دي؟بالکل همدغه ډول حضور ﷺ ځمکه په کروندې د ورکولو په ځای هغوی ته دمفت ورکولو تعليم ورکړ، نودا داخلاقومروت غم خواري او مواساتو اعلى نمونه وه، خوددې نه دامطلب اخيستل چې اسلام، ځمکه په کروندې ورکولويا دهغې اخيستل اوخرڅولوته سودويلي دي، ډيرلوی جرات دی.

سخن شناس نه دلبرا! خطا اين جا است.

دکورونوکرايه

دمضمون ليکونکي دخيال مطابق دکورونوکرايه هم (سود) ده، دې له پاره هغه داکيسه جوړه کړې ده چې:

هغه زمانه (یعني درسول الله ﷺ) کې څمکه د سرمایه داري دټولونه غټه ذریعه وه، دسرمایه داري دویمه غټه ذریعه دکرایې کورونه وو. دغه کورونه زیاتر په مکه شریفه کې وو، ځکه چې هغه یوبین الاقوامي ښارو اوهلته به ـنک حج اود تجارت له پاره راتلل. حضور ﷺ دمکې معظمې دکورونوکرایه هم سود وګرځوله اوخلک یې ددې نه منع کړل اوویې فرمایل چا چې دمکې شریفې ددوکانونوکرایه وخوړه هغه سودوخوړ.

دموصوف داکیسه هم دهغه دعادت مطابق دخپل ځان نه جوړه شوې ده. دحضور ﷺ په زمانه کې دسرمایه داري ذریعه نه څمکه وه اونه دکورونوکرایه، په مدینه طیبه کې دڅمکو مالکان انصار وو، خوهغوی کې دیوکس نوم هم نه شي اخیستل کیدای چې هغوی په سرمایه داري کې مشهور و، ددې په مقابله کې حضرت عثمان غني رضی الله عنه اوحضرت عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه دحضور ﷺ په زمانه کې هم کافي مالدار و، حالانکې هغه وخت کې هغوی نه دڅمکې مالکان وو، اونه دهغوی په کرایه بانديې دوکانونه و اودمکې په اوسیدونکوکې هم داسې کس نه شته چې هغه یوازې دکرایې ددوکانونوله وجې سرمایه دار و، نوحیرانتیاده چې موصوف په هرځای کې دخپل ځانه کیسه جوړوي.

بیاداخبره هم دذکرکولوقابل ده که چیرته دڅمکې ملکیت د سرمایه داري ذریعه وه، نودشهاب صاحب دقول مطابق حضور ﷺ ټول حکمونه دسرمایه داري ختمولوله پاره کړي وو، نوسوال دادې چې حضور ﷺ پخپله صحابه کرامو رضی الله عنهم ته جاګیرونه ولې ورکړي وو؟ که چیرته دهغه فرضي کیسه ومنل شي چې هغه زمانه کې څمکه دسرمایه داري دټولونه غټه ذریعه وه، نوایا حضور ﷺ بانديې به سرمایه داري ته دترقۍ ورکولوالزام نه راځي؟

دموصوف داویل چې دکرایې کورونه دټولونه زیات په مکه کې وو، له دې وجې حضور ﷺ دمکې مکرمې دکورونو د کرایې اخیستونه منع کړه وه، داخبره هم یوازې مهمل ده، که چیرته داحکم دټولوښارونوله پاره و، نویوازې مکه به یې خاص طور بانديې ولې ښوده؟

حضور ﷺ دکرایې نه مطلقا منع کولی شوه.

موصوف چې د(هدایه) حوالې سره کوم حدیث نقل کړی دی، دهغه وجودداحادیثوپه یو کتاب کې هم نه شته او(هدایه) د احادیثو کتاب نه دی، چې دیوحدیث له پاره یوازې دهغې حواله کافي وګڼل شي، عالمانوته پته ده چې (هدایه) کې ډیرروایتونه یوازې بالمعنی نقل شوي دي اوځینې داسې هم چې هغه دحدیث په کتابونوکې هیڅ وجودنه شته.

اوکه چیرته یوحدیث دمکې مکرمې باره کې نازل شوی هم وي څوک به داسې عقل مندوي چې هغه به دمکې مکرمې مخصوص حکمونه نوروځایونوکې ثابتوي. هلته ښکار کول هم حرام دي، ایا دغه حکم به نوروځایونوکې جاري ساتل کیږي؟ دمکې مکرمې دحرمت له وجې حضور ﷺ دهغه ځای کورونه په کرایې ورکولو نه منع وکړه، نوڅوک ویلی شي چې داحکم دنورو ښارونوله پاره هم دی؟

کوم حدیثونو چې دمکې مکرمې کورونه په کرایې باندې د ورکولوحکم دی، دې باندې اتفاق دی چې دحج دموسم نه پرته د مکې مکرمې کورونه په کرایې باندې ورکول جائزدي[1]،خو ځینې حضرات دحج په موسم کې دانه خوښوي[2]. هغوکې زموږ امام ابوحنیفه رحمہ اللہ هم شامل دی. خودجمهوراماماتوپه نزدباندې دحج په موسم کې هم کورونه په کرایې باندې ورکول صحیح دي زموږ په امامانوکې امام ابویوسف رحمہ اللہ اوامام محمد رحمہ اللہ هم ددې قائل دي[3] اوفقه حنفي کې فتوا هم دې قول باندې ده، دمکې مکرمې نه پرته نوروښارونوکې کورونه کرایې باندې ورکول دټولوپه نزدباندې جائزدي

دلالي(آړت)

ددلالي (اړت)سودګڼلوله پاره موصوف د(نیل الاوطار جلد نمبر پنځم صفحه ۱۷۴) په حواله باندې داکیسه جوړه کړې ده:

دحدیثو په کتابونوکې ذکرشوي دي چې ددې حکمونو د نازلیدونه وروسته حضور ﷺ کاروباري مقاماتوته تشریف یوړو اود مختلف قسمه کاروبارونوتفصیلات یې معلوم کړل اوداسې ټول معاملات چې هغو کې پرته له محنت نه ګټه حاصلیږي، مثلاً ددلالي(اړت) کاروبار، دې ته حضور ﷺ سود وویل.

د(نیل الاوطار) نه یوازې په حواله شوې صحفې باندې، بلکې ددې باره کې ټولو بابونو کې چیرته هم داکیسه نه شته چې دسودحکمونه نازلیدونه وروسته حضور ﷺ د کاروبارونو تفصیلات معلوموله پاره بازارته تشریف یوړ اوداسې ټول معاملات په کومو کې چې دمحنت کولونه پرته ګټه حاصلیږي، هغه یې سودوګڼل.

---

[1] وفي مختارات النوازل لصاحب الهداية لا باس ببيع بنائها واجارتها. (الدر المختار/٦/٣٩٣/ كتاب الحظر والاباحة، فصل في البيع/طبع ايچ ايم سعيد)۔

[2] وروى هشام عن ابي يوسف رحمہ اللہ عن ابي حنيفة رحمہ اللہ انه اكره اجارة بيوت مكة في الموسم (أى الحج). (شامي، كتاب الحظر والاباحة/٦/ ٣٩٣، حاشيه هداية/٤/٤٧٣)۔

[3] قال في التنوير: وجاز بيع بناء بيوت مكة وارضها. . . . . الخ. قال في الدر المختار: وفي مختارات النوازل لصاحب الهداية لا بأس ببيع بنائها واجارتها لكن في الزيلعي وغيره يكره اجارتها وفي آخر الفصل الخامس من التتارخانية واجارة الوهبانية قالا قال ابو حنيفة رحمہ اللہ اكره اجارة بيوت مكة في آيام الموسم وكان يفتي لهم ان يترلوا عليهم في دورهم لقوله تعالي: سواء العاكف فيه والباد، ورخص فيها في غير آيام الموسم ٥ فليحفظ. قال الشامي: وروى هشام عن ابي يوسف رحمہ اللہ عن ابي حنيفة رحمہ اللہ انه اكره اجارة بيوت مكة في موسم ورخص في غيره، وكذا قال ابو يوسف رحمہ اللہ وقال هشام: اخبرني محمد عن ابي حنيفة رحمہ اللہ انه كان يكره كراء بيوت مكة في الموسم ويقول لهم ان يترلوا عليهم في دورهم ان كان فيها فضل وان لم يكن فلا وهو قول محمد رحمہ اللہ ، وحاصله ان كراهة الاجارة لحاجة اهل الموسم يحمل الكراهة على آيام الموسم وعدمها على غيرها. (شامي/٦/٣٩٣/ كتاب الحظر والاباحة)۔

مضمون ليکونکي ته د غلطو مفروضو جوړولو او هغه له پاره د فرضي کيسو ليکلو ښه صلاحيت حاصل دی دلته هم هغه يوه فرضي کيسه ليکلې ده، حالانکې که لړشان يې هم دصبر نه کاراخيستی وای، نو هغه ته به واضح شوې وه چې داکيسه دحضور ﷺ او دهغه دصحابه کرامو ﷡ حالاتو سره مطابقت نه لري، اول حضور ﷺ پخپله دکاروبار دصورتونو نه خبرو، کوم چې هغه وخت کې و. له دې نه پرته ټول کاروباري حضرات به دحضور ﷺ په خدمت کې حاضر وو، دهغوی شپې ورځې اوسفراوقيام به دحضور ﷺ په صحبت کې تيريدلې.

حضور ﷺ له هغوی نه پوښتنې کولې چې دهغوی په نزد باندې کوم کوم صورتونو رواج دي يوازې دکاروبارتفصيلات معلومولو له پاره حضور ﷺ ته د بازار د تلوځه ضرورت نه و، اتفاقا چيرته بازارته تلل بيله خبره ده.

اودموصوف دا ارشادچې حضور ﷺ داسې ټول معاملات چې هغو کې پرته دمحنت نه ګټه حاصليږي، سودګڼلی دی. داهم دموصوف پخپله باندې جوړه کړې نظريه ده اود حضور ﷺ طرف ته يې په زبردستي باندې منسوبوي.

ترکومه چې دلالي(اړت) تعلق دی چې هغه ته موصوف دخپلې نظرې مطابق سودوايي، دحديث نه خومعلوميږي چې حضور ﷺ دلالي(اړت) ته تجارت او دلالانو(اړتيانو)ته سوداګرويلي دي، نوجامع ترمذي کې دصحيح سند دحضرت قيس بن ابي غرزه ﷛ نه روايت دی چې

خرج علينارسول الله صلى الله عليه وسلم ونحن نسمى السماسرة فقال: يا معشر التجار! ان الشيطان والاثم يحضران البيع فشوبوابيعكم بالصدقة. قال الترمذي: حديث قيس بن ابي غرزة حديث حسن صحيح. (ترمذي ج١ ص ١٤٥ مطبوعه مجتبائی دهلی)

ترجمه: رسول الله ﷺ موږ ته تشريف راوړ اوموږته به اړتيان اودلالان ويل کيدل، حضور ﷺ وفرمايل چې اې دسوداګرو ډلې! اخيستلو او خرڅولو کې شيطان اوګناه هم شامليږي، نو په خپلو اخيستلو او خرڅولو کې صدقه هم شاملوئ.

له دې نه معلوميږي چې حضور ﷺ اړت هم په تجارت کې شميرلی دی، ځکه چې اړتي يا بايع، (خرڅونکي) وکيل وي،ياد مشتري (اخيستونکي) دواړوصورتونوکې دهغه سوداګر کيدل واضح کيږي،

خو احاديثو کې د اړت ديو خاص صورت نه منع ضرورشوې ده اوهغه داچې يو کلي وال څه شی دخرڅولو له پاره بازارته راوړي اوهغه يې دنن په قيمت باندې خرڅول غواړي، خو يوښاري کس هغه ته ووايي چې ته دې داسامان ماسره کيږده اوکله چې داشی ګران شي، نوبيابه يې زه خرڅ کړم، ددې نه حضور ﷺ منع کړې ده:

عن ابن عباس ﷠ قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لاتلقو الركبان ولايبيع حاضر لباد، فقيل لابن عباس ﷠: ماقوله لايبيع حاضر لباد؟ قال:لايكون له سمسارا. (نيل الاوطارج٥ ص ١٦٤)

ترجمه: د ښارنه بهر وتلو سره د قافلو سامان مه اخلئ او ښاروالا دې د کلي وال له پاره بيع نه کوي، ابن عباس رضي الله عنهما ته عرض و شوچې د حضور ﷺ د دې ارشاد نه څه مطلب دی؟ ويې فرمايل چې ښار والا دې د کلي وال له پاره دلال نه جوړيږي

د دې حديث باره کې شوکاني ليکي:

د حنفيه وو قول دی که چيرته دا منع کول هغه صورت له پاره خاص دي کله چې د ګراني زمانه وي او هغه شی داسې وي چې د ښاروالو ته د هغه ضرورت وي، شافعيه او حنابله وايي چې منع شوی صورت دا دی چې يو کس ښار ته سامان راوړي او هغه يې د نن په قيمت باندې خرڅول غواړي، خو يو ښاروالا هغه ته ووايي چې ته دا ما سره کيږده، دا به زه په زيات قيمت باندې خرڅ کړم، دا امام مالک رحمه الله نه نقل دي چې د کلي وال په حکم کې يوازې هغه کس راځي، چې هغه د کلي وال په شان د بازار د نرخ نه خبرنه وي، خو د کلي کوم خلکو ته چې د بازار نرخ معلوم وي هغوی دې حکم کې داخل نه دي (يعني د هغوی شی د ښار والو له پاره خرڅول جائز دي)

ابن منذر رحمه الله د جمهورو نه نقل کړي دي چې دا منع د تحريم له پاره هغه وخت کې ده کوم وخت کې چې:

١: بايع عالم وي

٢: سامان داسې وي چې د هغه سامان ښاريانو ته ضرورت وي.

٣: کلي وال هغه سامان پخپله ښاريانو ته نه وي وړاندې کړی. (ايضا)[1]

د دې ټول تفصيل نه معلوميږي چې د حضور ﷺ د دې ارشاد مطلب څه دی او دا مت فقهاوو له دې نه څه مطلب اخيستی دی ؟

ښاريانو ته د کلي د سامان خرڅولو نه چې حضور ﷺ کومه منع کړې ده هغه له دې وجې نه ده کومه چې زمونږ فاضل مضمون ليکونکی ښيي (يعني له محنت نه پرته ګټه حاصلول) بلکې د هغه له وجې حضور ﷺ پخپله باندې فرمايلي دي:

عن جابر رضي الله عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: لايبيع حاضر لباد دعوا الناس يرزق الله بعضهم من بعض. رواه الجماعة الا البخارى. (نيل الاوطار ج۵ ص ۲۶۳)

[1] قالت الحنفية انه يختص المنع من ذلک بزمن الغلاء وبما يحتاج اليه اهل المصر وقالت الشافعية والحنابلة ان الممنوع انما هو ان يجيء البلد بسلعة يريد بيعها بسعر الوقت فى الحال فيأتيه الحاضر فيقول ضعه عندى لأبيعه لک على التدريج بأغلى من هٰذا السعر، قال فى الفتح فجعلوا الحكم منوطاً بالبادى ومن شاركه فى معناه، قالوا وانما ذكر البادى فى الحديث لكونه الغالب فالحق به من شاركه فى عدم معرفة السعر من الحاضرين وجعلت المالكية البداوة قيداً وعن مالک لا يلتحق بالبدوى فى ذلک الا من كان يشبهه فاما القرى الذين يعرفون اثمان السلع والأسواق فليسوا داخلين فى ذلک وحكى ابن المنذر عن الجمهور ان النهى للتحريم اذا كان البائع عالماً والمبتاع مما تعم الحاجة اليه ولم يعرضه البدوى على الحضرى ولا يخفى ان تخصيص العموم بمثل هٰذه الأمور من التخصيص بمجرد الاستنباط. (نيل الأوطار للشوكاني/۵/۲٦٤/ طبع بيروت)۔

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دی چې حضور ﷺ فرمایلي دي چې ښاریان دې دکلي وال سامان نه خرڅوي، خلک پرېږدئ چې الله تعالی ځینوته دځینونه رزق ورکړي
مطلب داچې کلي وال خلک په بازارکې شیان خرڅوي، نودهغه له وجې ارزاني راځي اوکه چیرته دښارخلک دهغوی نه سامان واخلي اوله ځان سره یې کېږدي اوګرانیدونه وروسته یې خرڅ کړي، نوددې له وجې مصنوعي قلت اوګراني پیداشي، تاسوغوروکړئ! چې دې مقدس ارشادکې دمضمون لیکونکي دنظریې لرې لرې پورې څه پته لګیږي. ؟

دبینک سود

عجیبه خبره داده چې زموږ فاضل مضمون نګاریوطرف ته د (سود مصطفوي تشریح) په ذریعه داسې معاملات ناجائزه ګرځوي کوم چې د نبي کریم ﷺ اوصحابه کرامو رضی الله عنهم اوتابعینو رحمهم الله د دورنه ترننه پورې پرته دچا له انکارنه رائج راروان دي، خو بل طرف ته د بینک دسود دپاک ثابتولو یې کوشش کړی دی، حالانکې ددې په حرمت کې د یو معمولي مسلمان هم شک نه شي کیدای، داسې معلومیږي چې که دده وس ورسیږي، نوددې دحلال کېدو فتوا به ورکړي موصوف چې د بینک د سود څنګه وکالت کوي ددې یو نظاره وګورئ!
,,عام طورباندې زموږ دبینک له طرفه لاس ته راغلې ګټه سود ګڼل کیږي ..... حالانکې کوم وخت چې د سود احکام نازل شوي و هغه وخت د بینک نوم هیڅ شی نه و، ،
ګویا دبینک له طرفه ملاویدونکې ګټه ډیره پاکه ده، خلک هسې بې څه دا سودګڼي اود مضمون په اخرکې لیکي
,, دا دواړه معاملات (یعنې ځمکه اود کرایې کورونه) داسې دي چې په دې کې دلګول شوې سرمایې قیمت ورځ په ورځ زیاتیږي اوپه بینک کې جمع شوې روپې ورځ په ورځ کمیږي له دې وجې د پورته ذکرشویو دواړو معاملاتو سود، د بینک د سودنه څوچنده زیات خطرناک دی، ،
د موصوف چالاکې داده چې دبینک نه کومې ګټې ملاویږي هغه خو ډیرې لږ دي اوبیا ددې روپې قیمت خریدهم ډیرکم وي اود ځمکې او کورونو نه چې کومه کرایه ملاویږي هغه د بینک د سودپه مقابله کې ډیره زیاته وي اوبیا د ځمکې اوکورونوقیمتونه ورځ په ورځ باندې زیاتیږي کمیږي نه، له دې وجې دبینک ګټه حرام ده، نودځمکې اوکورونوکرایه هم حرام کیدل پکاردي دادسود دحلال ثابتولوله پاره تیک هماغه دلیل دی کوم چې قران کریم دکافرانو نه نقل کړی دی : ..انماالبیع مثل الربوا. ، که چیرته دسودپه کاروبارکې ګټه وي، نوبیع کې ددې نه ډیره ګټه وي، نوکه چیرته دسود کاروبار حرام دی، نوبیع هم حرام کیدل پکاردي اوکه چیرته بیع حلاله ده، نوبیا سود ولې حرام دی؟ قران کریم چې کوم جواب ستا مترقي خلکو ته ورکړی و، هغه جواب زه دموصوف په خدمت کې وړاندې کوم:
,,,واحل الله البیع وحرم الربوا"

ترجمه: حالانکې الله تعالی بیع حلاله کړې او سود یې حرام کړی دی.
ددې جواب خلاصه داده چې دلته دابحث نه شته چې په کوم صورت کې گټه زیاته وي اوکوم کې کمه؟ بلکې بحث دادی چې کوم صورت شرعي طورباندې صحیح اوجائزدی اوکوم ناجائز او باطل؟ مضمون لیکونکي ته خواست دی چې هغه دځمکې اودکوردکرایې دحرام کیدل دشرعي دلیلونو نه ثابت کړي، دخپل ځان نه لیکل شوې کیسو باندې نه، نوموړ ته به ددې دحرام کیدوباره کې فتوا ورکولوباندې هیڅ شک شبه نه وي، خودا دلیل چې فلانکي کاروبارکې گټه زیاته وي او فلانکي کې کمه، نوکه چیرته دکمې گټې والامعامله حرامه ده، نود زیاتې گټې والامعامله ولې حرامه نه ده؟ دادماشومانودلیل دی، ټولو خلکوته پته ده که چیرته لس زره روپۍ په بینک کې کیښودل شي، نو هغو باندې به دومره گټه نه ملاویږي. څومره چې هغه په کاروبار کې لګولو سره ملاویږي که چیرته دموصوف دلیل دلته هم جاري کړل شي، نوهغه به سبادا فتوا هم ورکړي چې گټه کونکي کاروبارکې پیسې لګول حرام دي اوسود دی، ځکه چې دې کې دبینک د سود په مقابله کې زیاته گټه ملاویږي، الله تعالی دې ورته عقل نصیب کړي.

د مضمون لیکونکي په خدمت کې یو څو وړاندیزونه

دجناب رفیع الله شهاب دمضمون په باره کې وضاحت وشو، زړه مې غواړي چې په اخر کې دصاحب په خدمت کې داخلاص یوڅووړاندیزونه وکړم، امیدلرم چې هغه به هم داخلاص په جذبه باندې دې طرف ته توجه ورکوي.

اول: یوکس هم دموزله خیتې دنظرخاوند نه پیداکیږي، بلکې د شعوراواحساس نه وروسته چې څنګه تعلیم اوتربیت اوماحول انسان ته ملاوشي، دهغه ذهن هماغه شان نظریاتوکې مبتلاشي، دصحیح بخاري دحدیث په مضمون کې هم دې طرف ته اشاره شوې ده:

,,**كل مولود يولد على الفطرة فأبواه يهودانه او ينصرانه او يمجسانه**،، (**صحيح بخاری ج۱ ص ۱۸۵**)

ترجمه: هرماشوم فطرت باندې پیداکیږي، بیادهغه موروپلارهغه نه یهودي جوړکړي یانصراني اویا مجوسي ترې جوړکړي.
تاسوچې دمحنت اوسرمایې باره کې کومه نظریه وړاندې کوئ، یادغه شان نورې نظریې کومې چې وخت په وخت ستاسودقلم نه وځي، ښکاره خبره ده چې دادهغه تعلیم اوتربیت دماحول اثردی په کوم کې چې ستاسودشعورسترګې غړیدلې دي اودهغه رنګ اومزاج ستاسوپه فکرونو اونظریو باندې اثر غورځولی دی، تاسوته یوځل دې طرف ته غور کول پکاردی چې داماحول او دا تعلیم او تربیت ایا ددین مطابق دی؟ دایومعیار او تله ده، چې په هغه سره تاسو دخپلو نظریاتو صحیح اوغلط تللی شئ، داوسني دورکوم خلک چې نظریې وړاندې کوي، دهغوی نظریې عام ډول باندې دپردي ماحول اود غیرقومونو دتعلیم اوتربیت

پیداوار وي، بیاهغوی دهغو نظریوله پاره دقران اوحدیث حوالې هم ورکوي. یعنې هغه نظریه قران اوحدیث نه وي ورکړې، هغه دبهرنه راوړل شوې وي. بیبې دقران اوحدیث په ذریعه باندې دثابتولوکوشش کیږي، داطریقه د اصلاح وړ ده دیومسلمان طریقه داده چې هغه دټولو بهرني او دننه فکرونونه خپل ذهن خالي کړي اودیني نظریې خپلې کړي اوددې له پاره دقران اوسنت سندراوړي. والله الموافق!

دویم: پاکستان کې نظریاتي ازادي ده، یوکس چې څنګه نظریه ساتل غواړي، ساتي دې هیڅ پابندۍ نه شته اودنن سبادورکې دقلم اوکاغذ زیاتوالي اودچاپ کولوسهولت هم عام دی، هر نظریه چې څوک خورول غواړي، ازادي سره یې خورولی شي، خویوه نظریه دحضور ﷺ طرف ته منسوبولو کې ډیرزیات احتیاط پکاردی، ځکه چې دحضور ﷺ طرف ته یوه خبره منسوبول ډیرخطرناک جرم دی، دحضور ﷺ ارشادمبارک دی:

,,**من کذب علی متعمداً فلیتبوامقعده من النار**،، **ترجمه**: چاچې قصدا زماطرف ته غلطه خبره منسوب کړه، هغه دې خپل کور دوزخ کې جوړکړي.

ستاسودې مضمون کې ډیرې خبرې داسې دي کومې چې د حضور ﷺ طرف ته منسوب شوي اودهغه دواقعې خلاف دي.

دریم: دین باندې پوهیدوباره کې ستاسواوزماخیال حجت نه دی، بلکې دې باره کې صحابه کرام رضي الله عنهم اوتابعین رحمهم الله داعتماد قابل دي، دقران کریم دیوایت یا د حضور ﷺ د ارشاد مبارک نه داسې خبره ویستل کوم چې د صحابه کرامواوتابعینودعمل او قول خلاف وي، زموږ له پاره صحیح نه ده، نن سبا دې معامله کې ډیره بې احتیاطي کیږي او دا بې احتیاطي ستاسوپه مضمون کې هم ښکاري، د سلامتیا لار داده چې موږ دخپلو نظریاتو تصحیح دهغو اکابرینوپه عمل باندې وکړو، دانه چې دخپلو نظریاتوپه ذریعه باندې دهغو اکابرینو غلطي نیول شروع کړو، تردې چې کومو کارونوکې دهغو اکابرینوپه مینځ کې اختلاف دی، هغو کې هم یوطرف ته ګمراه نه شوویلی.

څلورم: جناب دخپل مضمون په شروع کې په عالمانو باندې دخپل کارنه دغفلت کولوالزام لګولی دی اودمضمون په اخرکې یې دا نصیحت کړی دی:

امید لرم چې داسلام عالمان عواموته دسود دامصطفوي تشریح بیان کړي اوهغوی داسلامي شریعت په نزدباندې دټولونه غټ سنګین جرم نه دبچ کولو کوشش وکړي.

داخو پورته مې تفصیل سره عرض وکړ چې تاسوپه مضمون کې څه لیکلي دي هغه دسود اسلامي تشریح نه ده، بلکې دخپل ذهن نه جوړ شوې یوڅوخبرې تاسودحضور ﷺ طرف ته منسوب کړې دي او هغه ته مود سود داسلامي تشریح نوم ورکړی دی، له دې وجې داسلام عالمانونه داتوقع نه دي ساتل پکارچې هغوی به دچادځان نه جوړ شوي نظریات اسلامي

تشريح ومني او خلكوته به هم ددې تلقين كوي، خو تاسوته به داوړانديز ضرور كوم چې دعالمانوباره كې چې تاسو دغفلت اوكوتاهي كوم الزام لګولی دی، له هغه نه رجوع وكړئ، بې شكه ټول عالمان معصوم نه دي، انفرادي ډول باندې دهغوی نه هم كوتاهي اولغزشونه كيږي، خو ټول جماعت ته خبرې كول اوهغوی باندې ددين په اهم معاملاتو كې دغفلت اوكوتاهي الزام لګول ډيره غلطه خبره ده، دين ددين د عالمانونه حاصليږي اودعالمانوبولې ډلې پسې خبرې كول حقيقت كې په دين باندې بې اعتمادي كول دي اودحضرت مجدد رحمه الله په الفاظوكې ,,تجويزنه كنداين معنى مگر زنديقې كه مقصودش ابطال شطر دين است. ياجاهلے كه ازجهل خودبے خبراست، ،

د اوسني دورعالمان كه چيرته دصحابه كراموا وتابعينودلارې نه بې لارې شول اودهغو اكابرينو خلاف څه خبره وكړي، نوتاسوهغه مخې ته راوړی شئ، زه اميدلرم چې ان شاء الله عالمان به هغه ضرور مني، خوكه چيرته دامت عالمان، ددين د بزرګانو په لارباندې صحيح روان وي، نو ستاسو بدرد ويل به په عالمانو نه بلكې په سلف صالحينوباندې به وي او ددې قباحت ماپورته بيان كړی دی.

اخركې بياوړانديز كوم چې دا يوڅوخبرې داخلاص خبرې وګڼئ اودې طرف ته توجه وكړئ!

,,وصلى الله تعالى على خير خلقه صفوة البرية سيدنا محمد واله واتباعه الى يوم الدين،،

څای، تجير او كراكري سامان، په كرايه وركول جائزدي

سوال: كه چيرې يوكس كورپه كرايه باندې وركړي، نودهغه كوركرايه سودخونه دی؟ كوم سامان چې موږ ودونوكې په كرايې باندې اخلو يايې وركوو، مثلاً تجير اودكراكري اوداسې نو... سامان، ايا هغه هم سوددی؟

جواب: كوراوسامان په كرايې باندې اخيستل جائزدي، ددې ګټه به سودنه وي.[1]

د جايداد كرايه اود كورپګړۍ اخيستل

سوال: ايا ديوخالي دوكان ياكور پيشكي (پګړۍ) اخيستل جائز دي اوكه ناجائز؟

جواب: دپګړۍ رواج عام دی، خوددې جواز زمايه عقل كې نه راځي.

سوال: دجايداد هره مياشت كرايه اخيستوباره كې ستاسوڅه خيال دی؟

جواب: دجايدادكرايه اخيستل جائزدي.[2]

---

[1] واجارة الامتعة جائز اذا كانت فى مدة معلومة باجر معلوم. (النتف الفتاوىٰ /٣٤٧). وعن عبدالله ابن سائب قال: دخلنا على عبدالله بن معقل فسألنا عن المزارعة، فقال: زعم ثابت ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن المزارعة وامر بالمواجرة وقال لا بأس بها. (مسلم/٢/ ١٤). وقال فى الهداية: ويجوز استئجار الدور والحوانيت للسكنى وان لم يبين ما يعمل فيها۔

[2] واعلم ان الاجارة انما تجوزفى الأشياء التى تتهيا ويمكن لمستأجرها استجلاب[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د پګړۍ (پیشکي) شرعي حیثیت

سوال: نن سبا دوکانونه دپګړۍ په سستم باندې خرڅيږي، يعني يو دوکان کرايه باندې ورکولونه وړاندې څه پيسې غوښتل کيږي، مثلاً يولک روپۍ اوبياکرايه هم ورکول وي. خود پیشګي پيسو باوجود دوکاندارته دملکيت حق نه وي حاصل اوکه چيرته دملکيت حق حاصل وي، نوبيا کرايه دڅه شي غوښتل کيږي؟

جواب: دپګړۍ طريقه دشريعت د قواعدو مطابق جائز نه ده.[1]

په پګړۍ باندې دکان يا مکان ورکول

سوال: نن سبا د پوره ملک په طول وعرض په ډيروښارونو کې په پګړۍ سستم باندې دکانونه او مکانونه خرڅيږي چې په هغو کې د ځمکې مالک فليټ جوړ کړي او دکان جوړکړي، په لکونو روپۍ حاصلې کړي او د لکونو روپيو د حاصلولو باوجود په هره مياشت کې پنځه فيصده کرايه هم وصوله وي او که چيرته فليټ يا دکان خرڅ وي، نو بياهم د ځمکې مالک د نوي خريدار په نوم د رسيد د بدلولو له پاره د لس فيصده نه واخلي، تر ۲۵ فيصده پورې رقم وصولوي، پوښتنه دا ده چې ايا د فليټ قيمت د وصولولو باوجود په هره مياشت کې کرايه اخيستل سهي دي؟ او د فليټ د خرڅولو نه وروسته د رسيد بدلولو په نوم رقم اخيستل سهي دي؟ که چيرته دا ټول ناجائزه وي، نو جائز صورت کوم دی؟

جواب: په کراچۍ کې چې په پګړۍ باندې مکان او دکان ورکولو کوم رواج دی، زه په هغه نه پوهيږم يعني د شرعي قاعدې د لاندې هغه نه راځي، الله پوهيږي چې خلکو دا طريقه له کوم ځاې نه اخيستې ده؟ اودکوم عالم نه يې پوښتنه کړې ده چې دا طريقه يې اختيار کړې ده يا په خپله يې په ذهن کې جوړه کړې ده؟ په هرحال دشرعي قاعدې په لحاظ سره دا طريقه ناجائزه ده. سهي صورت دادی چې د دکان يا د مکان مالک څومره قيمت اخيستل غواړي، نو هغه دې واخلي او د خريدار په نوم دې منتقل کړي او ده ته دې په کلاو طريقې سره مالکانه حقوق حاصل کړل شي او ددې خرڅونکي دې د دکان يا مکان سره هيڅ تعلق پاتې نه شي.[2]

بقيه د تيرمخ] .. منافعها مع سلامة اعيانها لمكانها لمالكها. (النتف الفتاوي/ ۳۳۸/كتاب الاجارة). ايضاً: وصح استئجار دار او د كان بلا ذكر ما يعمل فيه فان العمل المتعارف فيهما سكنٰى فينصرف اليه. (شرح الوقاية/ ۳/۲۹۳/ كتاب الاجارات)۔

[1] وفى الدرالمختار قال فى الأشباه: لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة كحق الشفعة. وفى الشامية: (قوله لا يجوز) قال فى البدائع الحقوق المجردة لا تحتمل التمليك ولا يجوز الصلح عنها. هٰكذا فى (شامي/۵۱۸/۴/مطلب لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة)۔

[2] قال فى الأشباه: لا يجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة كحق الشفعة (وفى الشامية) (قوله لا يجوز) قال فى البدائع الحقوق المجردة لا تحتمل التمليك. . . . . . . الخ. (درمختار مع ردالمحتار/ ۴/ ۵۱۸).

په کرايه اخيستل شوى دوکان په کرايه ورکول

سوال: يو سړي يو دوکان د مالک نه د فرنيچر او فټنګ سره په څلوېښت زره روپۍ واخيست او د هغې کرايه هم پنځوس روپۍ د مياشتې ورکوي، زه د هغه نه دا دوکان په دوه سوه روپۍ مياشت کرايه باندې اخيستل غواړم، ايا شرعي طورباندې داسې کول ما او د هغه له پاره جائز دي او که نه؟

جواب: دغه دوکان په کرايه باندې اخيستل جائز دي، دې کې شرعي طورباندې هيڅ منع نه شته.[1]

سرکاري ځمکه باندې قبضه کول او په کرايه يې ورکول

سوال: يو غيراباد ځاى چې هغه ځنګل و، هغه کې کورونه جوړ شول او هغه ځاى سرکاري و، د هغه کرايه اخيستل سهي دي او که نه؟

جواب: که د حکومت په اجازه باندې يې کورونه جوړکړي وي، نو بيا يې کرايه اخيستل جائز دي.[2]

د فلمونو کيسټې په کرايې باندې د ورکولو کاروبار

سوال: ايا د فلمونو کيسټې په کرايې باندې د ورکولو کاروبار جائز دى؟ او که نه دى، نو ايا د دې کاروبار کونکو خلکو لمونځونه، روژې، زکات، حج او نور نيک عملونه قبليږي؟

جواب: د فلمونو کاروبار ته جائز څنګه ويل کيداى شي؟[3]

---

[1] وقال اعلم ان الاجارة انما تجوز في الاشياء التى تتهيا ويمكن لمستأجرها استجلاب منافعها مع سلامة اعيانها لمكانها لمالكها. (النتف الفتاوي/۳۳۸). والاصل عندنا ان المستأجر يملك الاجارة فيما لا يتفاوت الناس فى الانتفاع به كذا في المحيط. ثم قال واذا استأجر داراً وقبضها ثم آجرها بمثل ما استأجرها او اقل وان آجرها باكثر مما استأجرها فهى جائز ايضاً الا انه ان كانت الاجرة الثانية من جنس الاجرة اولى فان الزيادة لا تطيب له ويتصدق بها وان كانت خلاف جنسها طابت له الزيادة. . . . الخ. (عالمگيري/٤/ ٤٢٥/كتاب الاجارة/ الباب السابع). ايضاً: ويجوز استئجار الدور والحوانيت للسكنٰى وان لم يبين ما يعمل فيها. (هداية/۳/۲۹۷/ كتاب الاجارات)۔

[2] من احياه باذن الامام ملكه وان احياه بغير اذنه لم يملكه عند ابى حنيفة رحمه الله. . . . ولأبى حنيفة رحمه الله قوله عليه السلام ليس للمرء الا ماطابت به نفس امامه. (هداية/ ٤/٤٧٨/كتاب احياء الموات). وقال فى التنوير: اذا احيا مسلم او ذمى ارضاً غير منتفع بها وليست بمملوكه لمسلم ولا ذمى وهى بعيدة من القرية اذا صاح من بأقصى العامر لا يسمع صوته ملكها عند ابى يوسف رحمه الله تعالى ان اذن له الامام. (تنويرالابصار /٦/٤٣٢/كتاب احياء الموات، طبع ايچ ايم سعيد) دغسى او ګورئ پورتنئ حاشيه)۔

[3] وقال تعالي: "ومن الناس من يشترى لهو الحديث ليضل عن سبيل الله [بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د هغه ګټه هم حلاله نه ده[۱]،

لمونځ، روژه، حج، زکات فرض دي، هغه اداکول پکاردي، هغه به اداشي، هغو کې به نور نه وي، ترڅو پورې چې هغه انسان ګناهونه پرې نږدي.

د کرایه دار نه د پیشکي (ایډوانس) پیسو شرعي حکم

سوال: د کور د مالک د کرایه دار نه پیشکي (ایډوانس) پیسې اخیستل امانت دي او که قرض؟

جواب: دي خو امانت، خو که چیرته د کرایدار له طرف نه ورته د استعمال اجازه وي (څنګه چې عام طور باندې وي) نو دا به بیا قرضه شمیرل کیږي.

سوال: ایا د کور مالک په خپله رضا باندې د غه پیسې استعمالولی شي؟

جواب: د مالک په اجازه یې استعمالولی شي.

سوال: که د کور مالک هغه پیسې په ناجائز کارونو کې استعمال کړي، نو ایا ګناه به کرایه دار باندې هم وي؟

جواب: نه.[۲]

سوال: ایا کرایه دار به هر کال د هغو پیسو زکات ورکوي؟

جواب: هو![۳]

سوال: ایا د کور مالک هغه پیسې په جائز کاروبار کې استعمالولو باندې به هم ګناهګار وي؟

جواب: که اجازه یې وي، نو بیا ګناهګار نه دی.[۴]

بقیه د تیرمخ] ..بغير علم ويتخذها هزوا، اولائک لهم عذاب مهين". (لقمان: ۵). قال المظهري اى ماتلهى وتشتغل عما يفيد من الأحاديث التى لا اصل لها والاساطير التى لا اعتبار فيها والمضاحيک وفضول الكلام. (تفسير مظهري/۷/ ۲۴۶). وهٰكذا قال قالت الفقهاء الغناء حرام بهٰذه الآية لكونه لهو الحديث. (تفسير مظهرى /۷/۲۴۸). وقال الشامى قلت فى البزازية صوت الملاهى كضرب قصب ونحوه حرام لقوله عليه السلام استماع الملاهى معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها كفر اى بالنعمة. . . الخ. (شامي/۶/۳۴۹/ كتاب الحظر والاباحة/طبع ايچ ايم سعيد/كراچى)۔

[۱] ولا يجوز الاستئجار على الغناء والنوح وكذا سائر الملاهى لانه استئجار على المعصية والمعصية لا يستحق بالعقد. (هداية/۳/۳۰۳/ كتاب الاجارات/ باب اجارة الفاسدة)۔

[۲] قال الله تعالي: "ولا تزر وازرة وزر اخريٰ وان تدع مثقلة الى حملها لا يحمل منه شيئاً". (فاطر:۱۸)۔

[۳] واعلم ان الديون عند الامام ثلاثة: قوى ومتوسط وضعيف، فيجب زكاتها اذا تم نصابا وحال الحول لكن لا فوراً بل عند قبض اربعين درهماً من الدين القوى كقرض وبدل مال تجارة فكلما قبض اربعين درهماً يلزمه درهم. (درمختار/۲/ ۳۰۵/كتاب الزكاة/باب زكاة المال/ طبع سعيد كراچى)۔

[۴] وعن ابى حرة الرقاشى عن عمه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا تظلموا الا لا يحل مال امرء الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة/۱/۲۵۵/ باب الغصب والعارية). [بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

سوال: که چیرته دکرایه دارمالک ته پیسې دقرض په طورباندې ورکړي، نودې صورت کې به دکوروالادگناه نه بچ وي؟

جواب: پورته معلومه شوې ده چې گناهګاربه نه وي. [۱]

سوال: دکورمالک یوطرف ته دکرایې په طورباندې ډیرې پیسې اخلي، اوداېډوانس په نوم باندې هم دپیسونه فایده اخلي، کال دوه کاله وروسته کرایه هم زیاتوي، نوایاداظلم نه دی؟ ددې مسئلې د عدالت په ذریعه باندې، یادعالمانوپه تاکیدباندې منع کول ضروري نه دي؟

جواب: دضمانت دپیسومقصدداوي، چې اکثردکرایه دارکورته نقصان ورسوي، کله ناکله د بجلۍ، ګیس وغیره بلونه اِدانه کړي اوهغه د کورمالک بیاورکوي، له دې وجې دکرایه دارنه ضمانت اخیستل کیږي، که چیرته پوره اعتماد وي، نوبیا دضمانت ضرورت نه وي. [۲]

د غاصب کرایه دارنه به اخرت کې تاسوته حق ملاویږي

سوال: زما کور یو ډاکټرپه کرایه باندې واخیست اوکلینک یې ترې جوړ کړ اود پنځلسو میاشتو کرایه سره دبجلۍ اودبل ګیس یې نه دي اداکړي، کوریې خالی کړ اوچیرته لاړ، زما عمر تقریبا پنځه اویاکاله دی، زه دعدالتونواودوکیلانوچکرکې نه شم پریوتلی، ایا دقیامت په ورځ به ماته زماحق ملاویږي؟

جواب: دقیامت په ورځ به هرحقدارته دهغه حق ورکول کیږي، تاسوته به هم ستاسوحق ضرور ملاویږي. [۳]

د کرایې د کور د معاهدې ماتولو سزا څه ده؟

سوال: ماخپل دوکان یوسړي ته دې شرط باندې په کرایه ورکړی و او په هغه معاهده کې لیکل شوي دي، که چیرته زماخوښه نه وه نو یوولس میاشتې وروسته به درباندې دوکان

بقیه د تېرمخ].. لا یجوز لاحد ان یتصرف فی ملک غیره بلا اذنه. (شرح المجلة لسلیم رستم باز/ ٦١/ المادة: ٩٦/طبع کوئٹه)۔

[۱] ایضاً پورتنۍ حواله۔

[۲] قال الله تعالي: "وان کنتم علی سفر ولم تجدوا کاتباً فرهٰن مقبوضة". (البقرة: ٢٨٣). قال المظهري: والشرط خرج مخرج العادة علی الاعم الاغلب فلیس مفهوم معتبر عند القائلین بالمفهوم وایضاً حیث یجوز الرهن فی الحضر مع وجود الکاتب اجماعاً. (تفسیر مظهري/١/ ٤٣٢). وعن عائشة رضی الله عنها قالت: اشتریٰ رسول الله صلی الله علیه وسلم عن یهودی طعاماً ورهنه درعه. (صحیح بخاري/١/٣٤١، مسلم/٢/٢١). ایضاً الکفالة علی ضربین، کفالة بالنفس وکفالة بالمال، فالکفالة بالنفس جائزة سواء کان بامر المکفول عنه او بغیره کما یجوز فی المال. . . . . الخ. (الجوهرة النیرة/کتاب الکفالة/٢١٣/طبع دهلی)۔

[۳] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لتؤدن الحقوق الی اهلها یوم القیامة حتی یقاد للشاة الجلحاء من الشاة القرناء. رواه مسلم. (مشکوٰة/٢/٤٣٥/ باب الظلم)۔

خالي کوم هغه معاهده په کومې باندې چې ددوو مسلمانانوګواهانودسخطونه هم موجوددي.
داسې ليکل شوې ده، دمعاهدې وخت ختميدوباندې مقرنمبر ايک(کرايه دار) او مقر نمبردو(مالک) به بله کرايه نامه وليکي اوکرايه داربه پاتې شي،که نه، پخپله به دوکان سمدستي خالي کړي اومقر نمبردويعنې مالک ته دوکان اوقبضه حواله کړي اوباقي پيسې به د مقرنمبردونه حاصل کړي، مادمعاهدې ختميدونه دري مياشتې مخکې دخپل استعمال له پاره کرايه دارته ددوکان خالي کولو ويل، هغه دګواهانوپه مخکې دبل دوکان ملاويدونه وروسته ددوکان خالي کولواقراروکړ اودغه شان شپاړس مياشتې تيرې شوې اوبيايې صفاانکاروکړ، مادوه کاله تيرېدونه وروسته هم له دې وجې بله کرايه نامه نه ده ليکلې اونه اوسه پورې هغه دوکان خالي کړى دى داوسني قانون په نزدباندې دداسې معاهدې هيڅ حيثيت نه شته اونه دمعاهدې ماتولوڅه سزاشته، دغه معاهده يوازې دزړه دتسلي په حيثيت برابرده مسئله داده چې شريعت کې دا معاهده ماتولوپه وعده خلافي کې راځي، اوداسلامي قانون مطابق شريعت کې ددې خلاف کولوڅه سزاده؟ اود پاکستان په اسلامي حکومت کې دې باندې عمل ولې نه کيږي؟

جواب: معاهده ماتول کبيره ګناه ده[1]، تاسود پاکستان دا قانون کومې ته چې معاهده ماتول ويل کيږي، په شرعي عدالت کې وړاندې کولی شئ.

د کرايه دار د کورخالي کولو په عوض کې پيسې ورکول

سوال: زماخاوندخپل کوريوسړي ته دولس کاله مخکې په (۱۹۷۲ء) کې په دوه نيم سوه روپۍ مياشت کرايې باندې ورکړى و اوپه استامپ باندې يې ورسره ديوولسومياشتومعاهده کړې وه، چې دهغې په نزدباندې دکورمالک خپل کورخالي کولی شو، په (۱۹۷۲ء) کې زماخاوندوفات شو، له هغه نه وروسته کرايه ډيره ګرانه باندې اود يوڅوعزت داروخلکوپه مجبوره کولوباندې اومتوجه کولو سره په (۱۹۷۷ء) کې کرايه کې سل روپۍ زياته کړه، په (۱۹۷۹) کې ماته د خاوند دکور ضرورت راغى، نوماهغه کس ته دکورخالي کولو وويل، نو کرايه داراودهغه بچي ډيرزيات غوسه شول اودهکميانې يې راکړې اودکورخالي کولونه يې انکاروکړ.

---

[1] قال الله تعالى: "وأوفوا بالعهد ان العهد كان مسؤلاً". (الاسراء: ٣٤). قال المظهرى أى مطلوب يطلب من العاهد ان لا يضيعه. (تفسير مظهري/٥/٤٣٩). وعن عبدالله بن عمرو رضى الله عنهما ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: اربع من كن فيه كان منافقاً خالصاً، ومن كانت فيه خصلة منهن كانت فيه خصلة من النفاق حتى يدعها: اذا اؤتمن خان، و اذا حدث كذب، و اذا عاهد غدر، و اذا خاصم فجر. (صحيح بخاري/١/ ١٠، كتاب الايمان، طبع نور محمد كراچى). تفصيل دپاره اوګورئ: الزواجر عن اقتراف الكبائر/ ١/١٠٨ تا ١١٠/ الكبيرة الثالثة والخمسون: عدم الوفاء بالعهد، طبع بيروت).

ما او زما لیور یو څو عزت مند خلک راجمع کړل اوهغوی دهغه کرایدار زامن پوه کړل او هغوی ته یې وویل چې دایوه کونډه ده اوددې درې یتیمان بچي دي، یوه بوډۍ خواښې اودمعذوره لیورخیال وکړئ، ډیرکوششونونه وروسته اخرهغوی کورخالي کولو باندې راضي شول چې کوربه ډیرژرخالي کړو، خودوه نیم کالوپورې یې بانې وکړې، موږکرایه دارته وویل چې اوس به موږ مارشلا نه مدد واخلو، نوکرایدار دمحلې یوسړي سره موږته راغی اووعده یې وکړه چې موږ به دوه میاشتوکې په هرحالت کې کورخالي کړو اوهغه محلې دارهم ګواهي ورکړه اودوه میاشتوکې دکورخالي کولوهغه دوه کسانوکوم چې خپلوکې خپلوي ده وعده کولونه وروسته لاړل دغه وخت کې کرایه داروکیل وغیره سره مشوره وکړه اوکرایه یې عدالت کې داخل کړه، کله چې ډیروخت وروسته دعدالت نه موږته نوټس راغی، نوموږته دکرایه کاردوعده خلافي پته ولګیده، موږدکرایه دارنه ددې وعده خلافي اوکورنه خالي کولوباره کې پوښتنه وکړه، نوهغه دکورخالي کولونه صفاانکاروکړ اوډیررعب سره یې وویل چې داکورمخکې دهندو و، ماپخپل نوم باندې کولی شو اوکه کورخالي کول غواړې، نوماته اتیازره روپۍ راکړئ، نویوه میاشت کې به درته کورخالي کړم. دهغه ددې بدنیتي او دوکې چې موږته څومره تکلیف راورسو، تاسودهغه اندازه نه شئ کولی، مایووړاندیز مارشلا ته وکړ اویودرخواست مې ډي ایم ایل اے ته کچروکې وکړ. حیدرابادته څوڅوځله تلونه وروسته ایس ډي ایم ددواړو فریقو یعنې کرایه داراوکوردمالک په حیثیت باندې زمامعاهده وکړه، چې دکرایه دارغوښتونکې اته زره روپۍ به دکوردمالک ښځه، کرایه دارته دکورخالي کولوله پاره ورکړي اودرې میاشتوکې به کرایه دار کورخالي کړي اواته زره روپۍ به واخلي دامعاهده ددواړو فریقو په رضامندي باندې وشوه او دواړوفریقو یعنې ماوکرایه دارپرې دستخط وکړ، ایس ډي ایم(دامن له پاره) پرې خپل مهر ولګاوه او دستخط یې وکړ، درې میاشتې پوره کیدونه وروسته دمقررشوي تاریخ باندې زه دکورقبضې اخیستوله پاره لاړلم، نو ماته ډیر زیات تکلیف اوپریشاني ملاوشوه اوډیرزیات ذهني تکلیف راته راورسید، کرایه داراودهغه بچودلاندې ګودام دروازې غورځولې وې اوهغه کې یې میښې تړلې وې اومختلفو طریقو باندې یې ماته تکلیف رارسولواوماته یې دهمکې راکړه، چې موږ کورنه شو خالي کولی اوکله چې موږته کورملاوشي، نوموږ به کور خالي کړو، دې نه وروسته مابیااایس ډیم صاحب ته رجوع وکړه اوڅوڅو ځله حیدرابادته لاړم چې په هغه کې زماپیسې اووخت ډیرزیات ضائع شواودسفرتکلیف هم راته ملاوشو، خوایس ډي ایم صاحب چې یو عزت دارافسردی اود دواړو فریقوپه مینځ کې یې چې معاهده کړې وه، هغه هم ذکرشوي کرایه دارچې هغه دمعاهدې خلاف ورزي کړې وه، دمعاهدې پابندي کولوباندې مجبوره نه کړ اودرخواست باندې یې څه ولیکل چې داواپس مارشل حکام ته لیږم، هغوی به فیصله وکړي، خونن اووه اته میاشتې تیریدونه وروسته هم دې باندې هیڅ عمل ونه شو مادکرایه دارپه ناجائزه مطالبه باندې یوازې

دې له پاره ورکول منظور کړل چې مورږ د نور تکليف او پريشاني نه بچ شو. حالانکې کرايه دولس کاله مخکې په دوه نيم سوه روپۍ مياشت باندې دلته راغلې وه او دې دولس کلونوکې يوازې يوځل په (۱۹۷۷) کې هغه کرايي کې سل روپۍ زياتې کړې وې اونن دکرايې په نسبت باندې ګراني څلور، پنځه چنده زياته شوې ده اوحکومت پخپله دکال لس فيصده دزياتولواجازه ورکړې ده، دغه شان کرايه دار زمورږ مجبورحق باندې قبضه اچولې ده محترم مولاناصاحب! تاسو دقران اوحديث په رڼاکې اوداسلامي قانون په نزدباندې دا ووايئ چې ددې سزاڅه ده؟

جواب: شرعي حکم دادی چې کله دکورمالک ته ضرورت وي، هغه کورخالي کولی شي[1] اود کرايه دار په ذمه باندې دمعاهدې مطابق کور خالي کول لازم دي[2]، که نه، هغه به دالله تعالى په دربار کې دظالم او غصب کونکي په حيثيت باندې وړاندې کيږي اونن سباچې کوم رواج دی چې کرايه دارڅه پيسې اخيستوباندې کورخالي کوي (څنګه چې ستاسو دکرايه دار سره اته زره روپۍ معاهده کړې وه) کرايه دارله پاره داپيسې اخيستل، مرداراودخنزيرپه شان بالکل حرامې دي[3] کوم کس چې په الله تعالى، رسول اود اخرت په سزا اوجزاباندې ايمان لري، هغه داسې حرام نه شي خوړلی، اوس داڅومره غټ ظلم دی چې ستاسوکرايه دار دکور دمالک نه په دې جرم کې چې هغه څوارلس کاله زه دې کورکې ولې پريښودلم، اته زره روپۍ غواړي، دې ته به هم اندهيرنګري (بې قانونه پاچايي) ويل کيږي، پاتې شوه داخبره چې حاکم به تاسوته انصاف درکړي، زه ددې توقع نه ساتم، ځکه چې اول خوزمورږ افسران ډيرکم اوري، ديويتيم، دکونډې، بوډا اوکمزوري کس اوازونه دغه محلونوته ډيرکم رسيږي.

دويم داچې زمورږ په ملک کې انصاف غوښتل دکمزوري کس کارنه دی، دجناب ګورنر يا وفاقي محتسب افسرته يوازې غټ خلک رسيدای شي، ستاسوپه شان دغريبانو خلکو وړانديزونه شي رسيدای اونه زماپه شان کالم، تاسوصبروکړئ، الله تعالى به تاسوته انصاف درکړي.

---

[1] قال فى الدرالمختار آجر كل شهر بكذا فلكل الفسخ عند تمام شهر. (درمختار/٦/٤٥/ باب الاجارة الفاسدة). آجر داره ثم اراد نقض اجارتها وبيعها لانه لا نفقة له ولعيا له فله ذٰلك. (عالمگيري/ ٤/٤٥٩)۔

[2] قال الله تعالى: ''وأوفوا بالعهد ان العهد كان مسؤلاً''. (الاسراء: ٣٤). قال المظهرى اى مطلوبا يطلب من العاهد ان لا يضيعه. (تفسير مظهري/ ٥/ ٤٣٩)۔

[3] عن ابى حرة الرقاشى عن عمه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا تظلموا! الا لا يحل مال امرء الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة/١/٢٥٥). قال تعالى: ''ولا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل'' وفى الجامع لاحكام القرآن للقرطبي، تحت هٰذه الآية: من اخذ مال غيره لا على وجه اذن الشرع، فقد اكله بالباطل. (تفسير قرطبي/٢/٣٢٣/ طبع دار احياء التراث/بيروت). ايضاً: لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل) بما لم تبحه الشريعة من نحوالسرقة والخيانة والغصب والقماروعقودالربا.(تفسيرالنفسي/١/٣٥١/طبع دارابن كثي/بيروت)

د کرایه دار بلډنګ نه خالي کول جرم دی

سوال: زه د یو کمرشل بلډنګ مالک یم او د هغه په کرایه باندې اخیستو له پاره ماته یو کس درخواست وکړو، تول شرطونه مقرر شول، دووه معززکسانو په موجودګي کې هغه دیقین راکړچې مقرر شوي وخت کې به کرایه داري په دې شرطونو باندې کیږي او د مقرر وخت نه وروسته به بلډنګ خالي کړم او مالک ته به یې حواله کړم، نو دې یقین نه وروسته د ګواهانو په موجودګي کې په استامپ باندې معاهده ولیکل شوه او د عدالت د رجسټرار نه مو تصدیق وکړو، د کرایې د معاهدې پنځه کاله وخت ختم شو، خو کرایه دار بلډنګ نه خالي کوي. زما زوی چې هغه بهر ملک کې نوکرو، اوس واپس راغلی دی، د هغه دوه زامن او پخپله باندې بې کاره دی، موږ ټولو ته رزق ګټلو له پاره د ټولونه مخکې د خپل ځای ضرورت دی، موږ سره د دې جایداد نه پرته د کاروبار له پاره بل ځای نه شته او نه موږ د معاش څه بله ذریعه.

دانصاف حاصلولو او د عدالت نه مدد حاصلول د موجوده قانون مطابق یوه ډېره سخته او ګرانه مرحله ده، چې هغه اسلامي دور کې د ملک او قوم ننګ او غیرت دی، مهرباني وکړئ او زما پورته بیان شوي حلفیه بیان په رڼا کې د کور د مالک او د کرایه دار ذمه داری، فرائض او حقوقو وضاحت وفرماییء او شریعت په نزد باندې د دې اسان حل څه کیدای شي؟

جواب: اسان او زر ترزر حل یې خو د الله تعالی نه ویره ده چې یو کس د پنځو کالو معاهده کولو سره کور په کرایه باندې واخیست، نو د نېټې تیریدو نه وروسته هغه له پاره کور استعمالول شرعي طور باندې جائز نه دي، که چیرته مسلمان د حلال او حرام خیال وساتي، نو نیمې جګړې به پخپله ختمې شي.[1]

د چا مکان نه خالي کول یا ټال مټیل کول شرعاً څنګه دي؟

سوال: یو سړي خپل مکان بل چاته د میاشتني حساب سره په کرایه ورکړ، د څه وخت تیریدو نه وروسته د مکان مالک کرایه دار ته د خپل جائزاو اشد ضرورت مطابق د مکان د خالي کولو له پاره وویل او معقول وخته پورې یې نوټس هم ورکړ، پوښتنه دا ده چې د شریعت مطابق کرایه دار باندې مکان خالي کول لازم دي؟ او که چیرته هغه مکان نه خالي کوي او د ټال مټیل نه کار اخلي، نو د شریعت مطابق په کرایه دار باندې څه حکومونه جاري کیدلی شي؟ او د ده سزا څه ده؟

جواب: که چیرته مکان مالک کرایه دار ته د مکان د خالي کولو ووایي، نو د ده په ذمه باندې مکان خالي کول واجب دي او د خالي کولو نه انکار کول یا د ټال مټیل نه کار اخیستل شرعاً حرام دي، که څوک د مالک له خوښې پرته په مکان کې اوسیږي، نو د الله تعالی په دفتر کې به

[1] لا یجوز لأحد ان یتصرف فی ملک غیره بلا اذنه. (شرح المجلة/ ٦١/ المادة: ٩٦/ طبع کوئټه).

دده نوم غاصب لیکل کیږي او په دې مکان کې اوسیدو سره دده هیڅ یو عبادت نه قبلیږي. ځینې کرایه دار د مکان د خالي کولو معاوضه اخلي بیا مکان خالي کوي، دا د معاوضې روپۍ د هغوی له پاره حرام مال دی [۱] او د حرام مال خوړلو والو په باره کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې په دوی باندې جنت حرام دی او دوی د دوزخ مستحق دي. [۲]

کرایه په وخت نه اداکولو باندې جرمانه لګول صحیح نه دي

سوال: دجامع مسجدمحمدي دوکان باندې دځلورو روپیو په اسټامپ باندې معاهده شوې وه چې هردوکان داربه دمیاشتې په لسم تاریخ باندې کرایه ورکوي، وخت باندې کرایه نه ورکولو باندې به هریودوکان باندې هیمشه څه جرمانه لګیږي، دې معاهدې کولووخت کې کرایه دار دوکاندار په خوشالي اورضامندي سره اخیستي و. اوس جرمانه اخیستل جائزدي اوکه نه؟

جواب: شرعي طورباندې دغه شان دجرمانې اخیستوهیڅ ګنجائش نه شته. [۳]

د اسکیم ټیکسیان د چا نه په کرایه باندې اخیستل او چلول

سوال: د اسکیم خړ ټیکسیان همیشه په (۲۰) روپۍ ټیکه باندې ملاویږي اوددې چلول څنګه دي؟ ایا دا د سود اعانت یا په سود ورکولو کې د چا مددکول خو نه دي؟

جواب: په سود باندې د اخیستو ګناه کوم چې و یاچاته چې و هغه شوي دي په دې باندې استغفار وکړئ پاتې د ټیکسي استعمال جائز دی. [۴] والله اعلم!

---

[۱] لا یجوز لأحد من المسلمین اخذ مال احد بغیر سبب شرعي. (فتاوي/٤/ ٦١/مطلب فی التعزیر. . . . . الخ.

[۲] عن جابر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لا یدخل الجنة لحم نبت من السحت، وکل لحم نبت من السحت کانت النار اولی به: رواه احمد والدارمی والبیهقی فی شعب الایمان. (مشکوٰة/٢٤٢/ باب الکسب وطلب الحلال). وعن ابی بکر ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لا یدخل الجنة جسد غذی بالحرام. رواه البیهقی فی شعب الایمان. (مشکوٰة/ ٢٤٣/ باب الکسب وطلب الحلال/ طبع قدیمی).

[۳] قال تعالی: "و لا تأکلوا اموالکم بینکم بالباطل" وفی تفسیر القرطبي: من اخذ مال غیره لا علی وجه اذن الشرع، فقد اکله بالباطل. (تفسیر قرطبي/٢/٣٢٣). وفی الدرالمختار: لا بأخذ مال فی المذهب. قال الشامي: (قوله: لابأخذ مال)قال فی الفتح وعن ابی یوسف رحمه الله یجوز التعزیرللسطان بأخذ المال و عندهما و باقی الأئمة لا یجوز وظاهر ان ذٰلک روایة ضعیفة عن ابی یوسف رحمه الله قال فی الشرنبلا لیة ولا یفتی بهٰذا لما فیه من تسلیط الظلمة علی اخذ مال الناس ثم قال ولا یجوز من المسلمین اخذ مال احد بغیر سبب شرعی. (شامي/٤/ ٦١/مطلب فی التعزیر بأخذ المال)۔

[۴] یجوز استئجار السیارات للرکوب والحمل لأنها منفعة معلومة والمؤجر یقید المستأجر بقیادة السیارة. (الفقه الحنفی وادلته/ ٢/٨٦/ کتاب الاجارة).

دوکان نايي(ډم) ته په کرايه باندې ورکول

سوال: يونايي مانه دوکان په کرايه باندې اخلي اوهغه نه نايي خانه جوړول غواړي، صفاخبره داده چې حمام کې دخلکو ږيرې وغيره خريل کېږي اوانګريزي ويښتان ورته جوړيږي، نوداسې صورت کې ددوکان دکرايې زماله پاره څه حکم دی؟

جواب: تاسوحرام پيسې اخيستوباندې مجبورنه يئ، هغه ته ووايئ چې زه به دږيرې خريلوپيسې نه اخلم، ماته به حلال پيسې راکوې که هغه له چانه قرض ولې نه اخلې

❖ د قسطونو کاروبار ❖

....

قسطونوباندې په ګران قيمت اخيستل اوخرڅول جائزدي

سوال: يوسړی ټرک اخيستل غواړي، چې دهغه قيمت پنځوس زره روپۍ دی، خودهغه سړي دومره طاقت نه شته چې دهغه ټرک قيمت په يوځل ورکړي،نو هغه يې په قسطونواخيستل غواړي، خو قسطونوباندې اخيستوسره به هغه دټرک داصل قيمت نه ديرش زره روپۍ زياتې ورکوي، اوايډوانس شل زره روپۍ اوهره مياشت به پنځلس سوه روپۍ ورکوي، مهرباني وکړئ دشريعت مطابق جواب راکړئ چې داټرک اويادې طريقې سره نورشيان اخيستل اوخرڅول جائزدي اوکه نه؟

جواب: جائزدي.[1]

قسطونوباندې دموټرو کاروبار د ضروري شرطونوسره جائزدی

سوال: قسطونوباندې دموټروکاروبارپه سودکې داخل دی اوکه نه؟

جواب: که خرڅونکی دموټر کاغذونه اخيستونکي ته حواله کړي او قسطونوباندې يې پرې

---

[1] البيع مع تأجيل الثمن، وتقسيطه صحيح، يلزم ان تكون المدة معلومة فى البيع بالتأجيل والتقسيط. (شرح المجلة لسليم رستم باز/۱۲۵/ رقم المادة: ۲٤٦). وفى المبسوط: واذا اشتريٰ شيئاً بنسيئة فليس له ان يبيعه مرابحة حتى يبين انه اشتراه بنسيئة، لأن بيع المرابحة بيع امانة تنفى عنه كل تهمة وجناية ويتحرز فيه من كل كذب. . . . . . ثم الانسان فى العادة يشترى الشيء بالنسيئة باكثر مما يشترى بالنقد، فاذا اطلق الاخبار بالشراء فانما يفهم السامع من الشراء بالنقد فكان من هٰذا الوجه كالمخبر بأكثر مما اشتريٰ به. (المبسوط/اول كتاب المرابحة/۱۳/ ۷۸/ طبع دارالمعرفة بيروت). ولأن للأجل شبها بالمبيع، الا تريٰ انه يزاد فى الثمن لأجله. (درمختار مع ردالمحتار/٥/ ١٤٢/ باب المرابحة والتولية). ايضاً: اما الأئمة الأربعة وجمهور الفقهاء والمحدثين فقد اجازوا البيع المؤجل بأكثر من سعر النقد بشرط ان يبت العاقدان بأنه بيع مؤجل بأجل معلوم وبثمن متفق عليه عند العقد. (بحوث فى قصايا فقهية معاصرة/۷/طبع مكتبه دارالعلوم/ كراچى)۔

خرڅ کړي، نوجائزدي، دې کې په قرض باندې دخرڅولوله وجې قیمت کې زیات والی کول هم جائز دي، دابه دسودپه حکم کې نه وي، خودې کې داضروري ده چې دافیصله وکړي چې اخیستونکي به یې په نغدو اخلي او که په قسطونو. چې دهغه په حساب باندې قیمت مقرر شي، مثلاً: دیوشي نغدقیمت (۵۰۰۰) روپۍ دې اوپه قرض (۷۰۰۰) زره روپۍ باندې خرڅیږي، نوداسې قیمت کې زیادت کول جائزدي اودسودحکم کې به نه وي داخل.[۱]

دګنډلومشین په دوه زره اخیستل په دوه سوه میاشت په دوه نیم زره خرڅول

سوال: یو سړی د بازار نه د ګنډلو مشین په دوه زره واخلي اوپه نورو خلکو یې په (۲۵۰۰) روپۍ میاشتنیو قسطونو باندې ورکوي او (۲۰۰) روپۍ هر ورځ قسط اداء کوي، شرعا د قرآن او د حدیث مطابق دا کاروبار جائز دی اوکه نه؟

جواب: تاسو چې کوم صورت لیکلي دی دا صحیح دی، که چیرته د دوو زرو شی څوک په نغدو باندې واخلي او په پنځویشت سوه یې په قسطونو ورکړي، نو هیڅ حرج نه شته. [۲]

د دریولکو رکشه په قسطونو په څلورلکه اخیستل

سوال: د یوې رکشې قیمت په بازار کې نغد درې لکه دی او که چیرته دغه رکشه په قرض واخیستل شي، نو څلور لکه روپۍ بطور قیمت وصولیږي او حالانکې اولنی قسط پنځوس زره او ددې نه وروسته په هره میاشت کې څلور زره وصولول وي، همدا رنګه په قرض اخیستو کې څلور لکه قیمت اداء کول وي، ایا دا اخیستل او خرڅول سهي دي؟

جواب: دا سودا سهي ده [۳] خو شرط دادی چې یو قیمت چې یو ځل مقرر شي بیا هغه نه شي

---

[۱] وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال: نهٰی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن بیعتین فی بیعة،وقد فسر اهل العلم قالوا بیعتین فی بیعة ان یقول ابیعک هٰذا الثوب بنقد بعشرة ونسیئة بعشرین، ولا یفارقه علی احد البیعین، فاذا فارقه علی احدهما فلا بأس اذا کانت العقد علی واحد منهما.(ترمذي/۱/ ۲۳۳/ ابواب البیوع/باب ماجاء فی النهی عن بیعتین فی بیعة)

[۲] لان للأجل شبها بالمبیع، الا تری انه یزاد فی الثمن لأجل الأجل. (هدایة/۳/ ۷۶/ کتاب البیوع/بب المرابحة والتولیة). وقد فسر بعض اهل العلم قالوا بیعتین فی بیعة ان یقول ابیعک هٰذا الثوب بنقد بعشرة، وبنسیئة بعشرین، ولا یفارقه علی احدالبیعین فان فارقه علی احدهما فلا بأس اذا کانت العقدة علی واحد منهما. (ترمذي/۱/۱۴۷/ ابواب البیوع/ باب ماجاء فی النهی عن بیعتین فی بیعة).

[۳] ان للأجل شبها بالمبیع الا تریٰ انه یزاد فی الثمن لأجل الأجل، والشبهة فی هٰذا ملحقة بالحقیقة. (الهدایة/۳/۷۶/ باب المرابحة،طبع امدایه ملتان،ایضاً:ومثله فی الدرالمختارمع ردالمحتار/۵/۱۴۲/باب المرابحة والتولیة/طبع ایچ ایم سعد).

زياتولی. [۱]

د موټر ټيرونه په قسطونو خرڅول

سوال: زما يو دوست د ټيرونو کارو بار شروع کړی دی هغه په نغدو باندې د مارکيټ نه ټيرونه راوړي او موټر لرونکي ته يې په قسطونو ورکوي، په يو ټير کې (۳۰۰) روپۍ ګټه کوي او ټير اخيستونکی دا روپۍ په دوو مياشتو کې زما دوست ته اداء کوي، زما په خيال دا کاروبار په سود کې راځي تاسو سهي جواب راکړئ!

جواب: دا شرعاً سود نه دی. [۲]

په قسطونو د کاروبار کوونکيو پيسې په مسجد لګول

سوال: کوم خلک چې په قسطونو سامان اخلي او خرڅوي يې دا خلک ډيره زياته ګټه کوي، ايا ددوی پيسې په مسجد کې لګېدلی شي او که نه؟

جواب: کوم خلک چې د قسطونو کاروبار کوي، که چيرې د دوی کاربار سهي وي، که هغوی هرڅومره ګټه کوي ددوی روپۍ سهي دي. [۳]

له کمپنۍ نه په قسطونو موټر اخيستل

سوال: موږ په مليشيا (ماليزيا) کې اوسيږو که چيرته موږ کمپنۍ نه موټر اخلو، کمپنۍ والا وايي چې په نغدو يې دومره قيمت دی او په قرض باندې دومره، بيا هغه قيمت هره مياشت په بينک کې جمع کيږي، کمپنۍ د بينک نه خپل قيمت وصولوي، په داسې طريقې سره دا موټر اخيستل جائز دي او که ناجائز؟

جواب: دموټر قيمت که چيرې يو ځل مقرر کړل شي او بيا په قسطونو باندې اداء کيږي، نو جائز دی. [۴]

---

[۱] لما روى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه نهى عن قرض جر نفعاً، كل قرض جر نفعاً ربا. (بدائع الصنائع /۷/ ۵۹۷/ كتاب القرض الأشباه والنظائر/۲۵۷). مالک عن زيد بن اسلم انه قال: كان الربا فى الجاهلية ان يكون للرجل على الرجل الحق الى اجل فاذا حل الحق قال: اتقضى ام تربي؟ فان قضى اخذ والا زاده فى حقه واخر عنه الأجل. (مؤطا امام مالک/۶۰۶/ كتاب البيوع/باب ماجاء فى الربا فى الدين، طبع مير محمد كراچى).

[۲] البيع مع تأجيل الثمن وتقسيطه صحيح، يلزم ان تكون المدة معلومة فى البيع بالتأجيل والتقسيط. (شرح المجلة /۱۲۵/رقم المادة: ۲۴۵، ۲۴۶).

[۳] دتيرې صفحې درې حاشيې وګورئ.

[۴] ايضاً_

د ټریکټر، موټر او داسې نورو د اخیستو له پاره پولک ورکول او بیا یو نیم لک په قسطونو باندې بیرته اخیستل

سوال: زموږ په علاقه کې دوه عالمان خلکو ته د ټریکټر، موټر او داسې نورو... د اخیستو له پاره روپۍ ورکوي، ورکړل شویو روپیو کې یو لک روپۍ باندې یونیم لاک روپۍ وصولوي. وصولي په میاشت کې د پنځو زرو په حساب سره وي. واضحه دې وي چې هغه د نغدو په صورت کې نه ورکوي، یوازې ټریکټر او داسې نور...اخیستو له پاره یې ورکوي. ایا دا جائز دي؟

جواب: د لس زره په قیمت باندې پنځلس زره وصولول سود دی، خو که چیرې د لسو زرو (مثلا) څه شی واخلي او په پنځلس زره یې ورکړي، نو جائز دي، که ستاسو عالمان صاحبان دا صورت اختیار کړي، نو صحیح دي، که نه، نو سود به خوري. [۱] والله اعلم!

په نغدو په لس روپۍ اخیستل شوې شی په قسطونو په سل روپۍ خرڅول

سوال: دیوې اهمې مسئلې طرفته ستاسو توجه راړول غواړم. الله تعالی جل شانه او حضرت محمد ﷺ چې د سود په اړه څومره په سختۍ سره اهل ایمان خبردار کړي دي، له دې نه ثابتیږي چې دا د شرک نه وروسته د ټولو نه لویه ګناه ده. خو په دې زمانه کې د سود نه په ګټې سره تعبیر کیږي. مثلا: بیمه کمپنۍ، د بینکونو له طرف نه د سود نه زیات زیات لالچ ورکول او نورې داسې ډیر طریقې رواج دي، د مثال په طور یو طریقه د کور شیان په قسطونو باندې ورکول دي، په دې کې ټاکل شوې ګټه هم اخیستل کیږي او ګاک ته دوکه ورکول هم شامل دي، د قسطونو کاروبار کونکو د ځینې ملایانو نه فتوا هم اخیستې ده چې په پنځوس روپۍ په اسانۍ باندې ملاویږي) چې دا کاروبار سودي نه دی. بلکې یوازې تجارت دی دا ټوله دې نتیجې ته رسیدلې ده چې دا کاروبار هم د سود یو قبیح شکل دی، د دې کاروبار طریقه کار یا طریقه واردات ورته وایې داسې ده:

دکان دار یو پنکه په هول سیل ریټ باندې په اووه سوه واخلي، د پنکې د خرڅولو قیمت (۱۰۰۰) روپۍ دی، په دې زرو روپیو پسې (۳۵) فیصده ګټه جمع کوي، دغه شان اوس د دې قیمت (۱۳۵۰) روپۍ جوړیږي، د دې پیسو دریمه برخه اول وصولوي، یعنې څلور نیم سوه روپۍ ایډوانس، بقایه پیسې دوه سوه روپۍ د میاشتې د قسطونو په صورت کې وصولوي، ګاک چې کومې پیسې یعنې (۴۵۰) روپۍ په یو ځل ادا کړي وي، په هغه یې هم ګټه جمع کړې ده، دغسې دکاندار (۶۵۰) روپۍ سود د ګټې په نوم باندې وصولوي.

---

[۱] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: كل قرض جر منفعة فهو ربا. (فيض القدير/٩/ ٤٤٨٧/ طبع مكتبة نزار الرياض/اعلاء السنن/كتاب الحوالة /١٤/ ٥١٢، ٥١٣/ طبع ادارة القرآن كراچى).

۱: ستاسو نه پوښتنه کوو چې د بینکونو او مالیاتي ادارو له طرفه کاته دارانو ته سودي ګټې ورکول او د قرض ورکولو په صورت کې فکسډ (مقرر) سود حاصلول او په دې کاروبار کې څه فرق دی.

۲: که تاسو دا ووایئ چې دلته خو روپۍ نه ورکول کیږي، بلکې سامان ورکول کیږي، نو دکاندار ته په سامان ورکولو باندې ډبل (دوچند) روپۍ ملاویږي څکه چې هغه که ګاک ته زر (۱۰۰۰) روپۍ ورکړي، نود هول سیل او ریټېل له وجې به هغه (۳۰۰) روپۍ تاوان برداشت کوي، چې دی په دې باندې بالکل نه دی خوشاله اوده د خپل لګول شوي رپیو ډیره برخه مخکې هم وصول کړې ده. لکه څنګه چې پورته بیان شوي دي، چې د (۷۰۰) روپیو نه یې (۴۵۰) روپۍ مخکې وصول کړي دي او اوس په (۲۵۰) روپیو باندې زیاتې (۶۵۰) روپۍ سود وصولوي، نو ایا دا سود نه دی؟

جواب: څنګه چې تاسو لیکلي دي، سود اخیستل بدترینه ګناه ده او د سود اخیستونکو خلاف الله پاک دجنګ اعلان کړی دی.[1] نن چې دا پوره قوم په مختلفو شکلونو باندې د الله پاک په عذابونو کې اخته دي، د هغه یو اهم ترینه وجه زموږ د ملک سودي نظام دی، کوم خلک چې سود اخلي او ورکوي د هغوی ایمان هم مشتبه دی.

۲: په قسطونو باندې شی اخیستل او ورکول جائز دي، [2] فرض کړئ یو شی د لسو روپیو دی، تاسو هغه د قسطونو په شکل کې اخلئ او دهغه سل روپۍ قیمت مقرر کړئ، دا شرعا جائز دي، په دې شرط چې نور غلط شرطونه په دې کې شامل نه وي، جناب عالي چې په دې سلسله کې کوم شبهات ذکر کړي دي په هغه باندې داسې پوهیدل مشکل دي، که څه وخت درته موقع پیدا شوه، نو تاسو ماته تشریف راوړئ، چې په دې مسئله باندې د خیالاتو تبادله وشي.

د قسطونو د کاروبار په جواز کې علمي بحث

سوال: د (جنګ) ورځپاڼې په خصوصي اشاعت کې د (اسلامي صفحه) په عنوان باندې دلچسپي اوشوق سره دجناب توجه دې طرف ته کولو ضرورت وړاندې کړو. ډیرځله لوستونکي تاسونه دقسطونو دکاروبار د جواز اوعدم جوازباره کې پوښتنې وکړې اوتاسوورته یوازې هم دومره جواب ورکړئ چې عالمانواوفقهاوودقسطونوکاروبار، یعنې د نغد قیمت په مقابله کې په قرض باندې زیات قیمت جائزګڼلی دی اوکه چیرې داسې شرط

[1] قال الله تعالي: "واحل الله البيع وحرم الربوا". (البقرة: ٢٧٥). وقال تعالي: "فان لم تفعلوا فأذنوا بحرب من الله ورسول". (البقرة: ٢٧٩)

[2] البيع مع تأجيل الثمن، وتقسيطه، صحيح، يلزم ان تكون المدة معلومة فى البيع بالتأجيل والتقسيط. (شرح المجلة لسليم رستم باز/١٢٥/ رقم المادة: ٢٤٥، ٢٤٦). ايضاً: لأن للأجل شبها بالمبيع، الا تريٰ انه يزاد فى الثمن لأجل الأجل. (هداية/٣/٧٦/ كتاب البيوع).

چې هغه معامله فاسدوي (**شراء بألتقسيط**) سره وي، نو هغه به ختم شي اودامعامله (**شراء بألتقسط**) سهي دی او اخرکې دوالله اعلم بالصواب الفاظ ليکل شوي وي، چې دهغه نه دځه شک طرف ته اشاره وي، ياکم نه کم دورع اوتقوی نښه ده.

دې باره کې يوڅوورانديزونه دي:

اصطلاحاً چې کومې ته په عربي کې (**شراء بألتقسيط**) اوپاکستان کې ,,بيع بالاجاره. ، ويل کيږي، اودې معامله کې دبيع مختلف نومونه په مختلف ملکونوکې دي، مثلاً برطانيه کې هائر پرچيز (**Hire purchase**) په امريکه کې انسټالمنټ کريډټ (**installment credit**) انسټالمنټ بائنګ (**installment buying**) د خرڅولو دا شکلونه عام طورباندې د صرفي قرض(**consumer credit**) له پاره اختياريږي.

پس منظر(شاليد)اوشروع

په مختلف دائرة المعارف او موسوعة (**Encyclopedia**) کې ليکل شوي دي چې د شراء بالتقسيط پس منظر دکورني او پائدار اواصلي شيانو حاصلولو له پاره يومعاشي طريقه ده او ددې شيانودحاصلولويوه اسانه طريقه ده، ددې شروع د نولسمې پيړۍ په مينځ په امريکه کې وشوه، کله چې دجاموګنډلومشين جوړلو يوې کمپنۍ داخيستونکوله پاره دهغه قيمت په قسطونو باندې وړاندې کړ اودا نوروکمپنيو دخپلو مصنوعاتو دخرڅولواودګټې ذريعه وګڼله، بلکې ددې په ذريعه باندې يې ډيره زياته ګټه حاصله کړه اودکامياب کاروبارذريعه يې جوړه کړه.

تعريف او نوعيت

(الف) بيع بالاجاره:

ديوقسمه اجاره (دکرايه داري معاهده) ده، چې دهغې په نزدباندې کرايه دارمقررشوې پيسې په قسطونوباندې اداکوي اودمعاهدې لاندې داخيستلو حاصل شوي اختيارنه عملي شکل ورکول کيږي، دې معاملې کې داخيستونکي حيثيت دبيع د خريدارپه حيثيت نه وي، چې هغه کې خريداريوشي پخپله باندې اخلي يادخريداري باره کې نه ختميدونکي خوښي اظهار کوي، ددې معاهدې په نزدباندې اخيستونکی هغه وخت پورې مالک نه شي کيدای ترڅوپورې چې هغه مقررشوي قسطونه ادانه کړي.

(**ب**): دځينې عالمانوپه نزدباندې بيع اجاره داخيستونکي له پاره يو قسم قرض ورکول دي، يعنې داخيستونکي په نزدباندې دامعاهده استقراض ده چې دهغو په نزدباندې اخيستونکي دسامان دقيمت څه برخه مخکې ورکړي کومې ته چې ډاون پيمنټ ويل کيږي اوباقي واجب الادا پيسې (چې هغو کې اخيستونکي خپله ګټه هم شامل کړي) قسط وار اداکولوباندې

خوښي ښکاره کړي، اوعام طور باندې دقسطونوورکول دشپږمیاشتو یادوه کالونه زیات وخت کې وي، دا تعریف **شراء بالتقسیط**(دقسطونوکاروبار) ته نږدې دی.

نوعیت اوماهیت:

بیع بالاجاره یا شراء بالتقسیط دبیع دمعاملې یو امتیازي شکل دی چې هغه کې داخیستلوقیمت په قسطونوباندې ورکول کیږي اودملکیت حق خریدارته نه وي حاصل اوخریدارته یوازې دقبضې اواستعمالولوحق ورکړل شي.

غوښتنه اورغبت:

دګرانو شیانواخیستل عام طورباندې دخلکوله پاره مشکل وي، له دې وجې دهغو شیانوقیمت په یوځای باندې ورکول دهرچاله پاره اسان نه وي، بلکې دزیاتوله پاره ناممکن وي،خو په قسطونو باندې پیسې ورکول دګرانو شیانواخیستل ممکن شي. دمثال په طورباندې دداسې سامان فهرست ورکول کیږي:

الف: موټرې اوکم وزن اوچتونکي ټرکونه اوبسونه. (نوي او زاړه).

ب: موټرسائیکلې **ج:** ټیلي ویژن سیټ او ټیپ ریکارډر وغیره.

د: فرنیچراونورسامان. **ه:** فریج، اوداختریاواده وغیره سامان.

و: نورسامانونه.

اقتصادي اهمیت:

داقتصادي نظریې له مخې په دې طریقه باندې اخیستونکی هغه ټول شیان اخلي کوم چې هغه د پیسوورکولونه وروسته ډیر وخت پورې استعمالولی شي، که چیرته داطریقه اختیارنه کړي، نو اخیستونکی به دهمیشه له پاره ددې شیانونه محروم پاتې شي، ددې شیانوپه موجودګي کې نه یوازې دهغوی دکورپه سامان کې زیادت وشي، بلکې داثاثې اوښایست شیان هم وي.

د بیع بالاجارې شکل اوصورت:

ددواړو ډلو نومونه دپلار نومونه، پتې، دسخطونه اودګواهانونومونه اوله پټونه پرته دشیانو اندازه(کچه) اوقیمت، تفصیل اوتشخیص، په قسطونوباندې ورکولو پیسنو شرح، د قسطونو نه اداکولوپه صورت کې دفریقینو دمعاهدې اختیارات او فرائض وغیره ولیکل شي اوټولونه اهمه خبره،،دکم نه کمو پیسو ورکولو حد، ، دذکرکولوقابل دی، چې دهغو په نزدباندې به اخیستونکی دریمه یاڅلورمه برخه پیسې مخکې اداکوي، دې نه پرته دمعاهدې په دوران کې اخیستونکی نه هغه شي خرڅولی شي. اونه یې ګانه کیښودلی شي اونه هغې باندې څه بوج اچولی شي، تردې پورې چې هغه داسې څه عمل نه شي کولې کوم چې د خرڅونکي دملکیت

حق ته نقصان رسونکی وي، غرض داچې معاهده کې ټول شرطونه ددې خبرې تقاضا (غوښتنه) کوي، چې د خرڅونکي مفاداتو ته پکې تحفظ حاصل وي.

تنقید:

په داسې بیع باندې په عامه توګه لاندې تنقیدونه کیږي:

الف عوام دخپلې جائزې ګټې نه لوړې سطح ژوندتیرولوباندې مجبوروي اوهغوی ته دارغبت ورکوي چې دې شیانوباندې خپل کورونه ښائسته کړئ اودهغوی ګټه ددې شیانو اخیستلو قابل نه وي اودې نه پرته دې باره کې چې مغربي ملکونوکې او زموږ ملک کې څومره قانونه دي، هغه سرمایه کارکمپنیوته تحفظ او مراعات ورکوي اود رغبت اوچت ژوندپه هوس کې ګرفتار اخیستونکي دقانوني مددنه محروم وي.

ب: داخاص قسمه بیع (اخیستل اوخرڅول) معاشره (ټولنه) کې اقتصادي استحکام ختموي اود افراط زر له پاره یومحرک ثابتیږي.

ج: داصلیت اوماهیت په اعتبارباندې ټاکل شوې شرح نه یوازې سود سره یوشان والي لري، بلکې د سود شرح نه ډیرزیات وي اودګټې دغه شرح داخیستونکي استحصال کې خپل کردار ادا کوي. اوس سوال دا پیداکیږي چې ایا ذکرشوې (**شراء بالتقسیط**) اسلام کې جائزده؟ او ددې نوعیت اوماهیت اوفاسدشرطونه دادي:

شراء بالتقسیط : داصلیت اونوعیت په اعتبارباندې (**ثنائی الوظیفه** او**ینفع لغرضین**) ګڼل شوې ده، ځکه چې دې کې بیع اواجاره دواړه شاملې دي، بلکې د (**معاملتین، صفقتین وبیعتین**) شامل والی دی، ځنګه چې ددې دتعریف نه ددې خبرې پته لګیږي، نودتشریح داثبوت اسلام کې احسن نه ده اود دوو معامله وو په یوه معامله کې جمع کیدل داصحیت نه متغائردي، بلکې ځینې صورتونوکې (**شراء بالتقسیط اجتماع المعاملتین**) پورې محدودنه وي، بلکې **اجتماع المعاملات** په قالب کې داخل وي، لکه: بیع، اجاره، کفالت، ضمان، بیمه او داسې نور...

شرعي نصوص:

(**شراء بالتقسیط**) په سلسله کې شرعي نصوص دغور او فکر له پاره ولولئ؛ لکه:

اولا: اجرت اوضمانت یوځای کې نه شي جمع کیدای. (دفعه:۸۶ ٨٦ مجلة الاحكام العدلية)

ثانیا: **بيع الدين، وهو ماكان الثمن والثمن فيه مؤجلين معاً وهو بيع منهى عنه.** (**القسم الاول فى المعاملات المادية، تاليف السيدعلى فكري: ص:١٩ ١٩**)

ثالثا: **بيعتان فى بيعة المنهى عنه. قال ابن مسعود: صفقتان فى صفقة. ولأنه شرط عقد فى عقد فلم يصح.** (القسم الاول فى المعاملات المادية. تاليف السيد على فكرى ص: ٤٥٤)

فاسد شروطونه:

١: داجارې معامله دراتلونکې خريداري سره تړلې وي اوداشرط (**تفضى الى المنازعة**) ته لار هواروي.
٢: داخيستونکي دا ذمه داري وي چې هغه قصدا ياغلطي سره دې اخيستل شوي شي کې څه عيب پيدانه کړي، چې هغې ته معاهده کې (**Fault Clause**) ويل کيږي.
٣: فوراًمرمت کول اودضرورت مطابق په کې پرزې بدلول، چې دهغه په قدراوقيمت کې څه فرق رانه شي. ۴: انشورنس اوبيمه کول يې لازم وي.
۵: ددريم کس ضمانت اود کفالت وجود.
۶: که دمجبوري ياغريبي له وجې اخيستونکی دواجب الادا قسط په ورکولوکې څه کوتاهي وکړي، نوخرڅونکی پرته دڅه مداخلت نه دخرڅ شوي شي مطالبه کولی شي.
٧: دګټې په شرح کې دخرڅونکي خپله خوښه وي.
نودتولوخبرومقصددادی که چيرته داسرمايه کارې کمپنۍ په دې فاسدو شرطونوکې څه قسمه کمی هم وکړي، ياکم نه کم داپه اسلامي شکل کې اچولوسره ددې مخ بل طرف ته واړوي، نوبيابه هم داخيستونکي داستحصال له پاره داکوشش بندجوړنه شي، دې نه پرته که اسلامي قانون دعيش دی سامان بالکل ناجائزنه ګڼي، نو بياهم داسلام معاشيات دداسې قسمه بيع رواج نه خوښوي اود اسلام په نظرکې داداخيستونکي داستحصال يوه نوې طريقه، چيرې هم صحيح نه شي کيدای.
دجناب په خدمت کې دقسطونودکاروبارباره کې دا څو خبرې عرض کړې، درخواست دی چې دقران اوسنت مطابق، فقه او فتاوا اوامامانواوفقهاوو دخيال مطابق جواب ورکړئ!
جواب: ماشاء الله! تاسوښه تفصيل سره دبيع بالاقساط باره کې معلومات حاصل کړي دي، **جزاكم الله احسن الجزاء**. خوکومه مسئله چې مااختصارسره بيان کړې وه هغه ددې تفصيل نه وروسته هم په خپل ځای باندې صحيح ده، يعنی په قسطونوباندې اخيستل اوخرڅول جائزدي[1].

---

[1]]البيع مع تأجيل الثمن، وتقسيطه صحيح، يلزم ان تكون المدة معلومة فى البيع بالتأجيل والتقسيط. (شرح المجلة للباز/١٢٥/ المادة: ٢٤٥، ٢٤٦). ايضاً: اما الأئمة الاربعة وجمهور الفقهاء والمحدثين، فقد اجازوا البيع المؤجل باكثر من سعر النقد، بشرط ان يبت العاقدان بانه بيع موجل باجل معلوم وبثمن متفق عليه عند العقد. (بحوث فى قضايا فقهية معاصرة/٧/ طبع مكتبه دارالعلوم/ كراچى)۔

خودې شرط سره چې دې کې څه فاسدشرط نه وي، که چیرته څه فاسدشرط پکې ولګول شي،نوبیابه معامله فاسده وي.[١]

مثلا : داشرط چې ترڅوپورې اخیستونکی ټول شرطونه ادانه کړي، هغه ددې شي مالک نه شي جوړیدای، دافاسدشرط دی، دبیع سهي کیدوله پاره داضروري ده چې اخیستونکي ته دملکیت قبضه ورکړل شي، که هغه په نغدقیمت باندې وي اوکه په قرض باندې اوکه دقرض په صورت کې په یوځای باندې دپیسو ورکولو معاهده وي اوکه په قسطونوباندې، هرصورت کې به داخیستونکي قبضه ګڼل کیږي[٢] اوددې خلاف شرط لګولوله وجې به معامله فاسده شي[٣] دې ځای نه داخبره ښکاره شوه چې ددې معاملې ته دبیع او اجارې مرکب ویل غلط دي،خو دقرض پیسو اخیستو له پاره د ضمانت غوښتلوشرط سهي دی[۴] اوداشرط هم سهي دی که چیرته په ټاکل شوي تاریخ باندې پیسې ادانه کړل شوې، نوداخیستونکي فلانکی فلانکی شی به خرڅ کړل شي اوخپل قیمت به ترې وصول کړي، خودابه ضروروي چې دهغه دقرض نه اضافي پیسې به هغه ته واپس ورکول کیږي[۵]

پاتې شوه داخبره چې قسطونوباندې شی ورکولوسره دهغې قیمت زیات وي. نودامعامله دفریقانو خپل اختیارباندې پریښې ده، که چیرې اخستونکی دامحسوسوي چې دقسطونوپه صورت کې به هغه ته نقصان وي، نوهغه ددې اخیستلونه انکار کولی شي اوداستحصال په صورت کې ښکه چې حکومت ته په قیمتونوباندې دکنټرول حق دی، دغه شان دبیع

١] وکل شرط لا یقتضیه العقد وفیه منفعة لاحد المتعاقدین او للمعقود علیه وهو من اهل الاستحقاق یفسده کشرط ان لا یبیع المشتری العبد المبیع لان فیه زیادة عاریة عن العوض فیؤدیٰ الی الربا ولأنه یقع بسببه المنازعة فیعری العقد عن مقصوده. (هدایة/٣/٥٩/کتاب البیوع/ باب البیع الفاسد/ النتف الفتاویٰ/ ٢٩١).
وفی البخاري: باب اذا شرط فی البیع شروطاً لا تحل، عن عائشة رضی الله عنها قالت: جاء تنی بریرة فقالت. . . . . . ثم قام رسول الله صلی الله علیه وسلم فی الناس فحمد الله واثنٰی علیه ثم قال: اما بعد! ما بال رجال یشترطون شروطاً لیست فی کتاب الله؟ ما کان من شرط لیس فی کتاب الله فهو باطل، وان کان مائة شرط قضاء الله احق وشرط الله اوثق وانما الولاء لمن اعتق. (صحیح البخاري/ ١/ ٢٩٠)۔

٢]واعلم ان البیع لا ینعقد الا باجتماع خمسة اشیاء. . . . . . الخامس: القبض. (النتف فی الفتاویٰ/٢٧٥)

٣]وکل شرط لا یقتضیه العقد وفیه منفعة لأحد المتعاقدین او للمعقود علیه وهو من اهل الاستحقاق یفسده. (هدایة/٣/ ٥٩/کتاب البیوع/باب البیع الفاسد)۔

٤]الکفالة علی ضربین کفالة بالنفس وکفالة بالمال، فالکفالة بالنفس جائزة سواء کان بأمر المکفول عنه او بغیره کما یجوز فی المال. . . . . الخ. (الجوهرة النیرة/ کتاب الکفالة/١/٣١٢/طبع دهلی)۔

٥] وهو (الرهن) مضمون بالأقل من قیمته ومن الدین فاذا هلک فی ید المرتهن وقیمته والدین سواء صار المرتهن مستوفیاً لدینه، وان کانت قیمة الرهن اکثر فالفضل امانة لان المضمون بقدر ما یقع به الاستیفاء وذاک بقدر الدین. (هدایة/٤/ ٥٢٠/ کتاب الرهن). وقال الله تعالی: ''ان الله یأمرکم ان تؤدوالامانٰت الا اهلها''. (النساء: ٥٨)۔

بالاقساط په قیمتونوباندې هم کنټرول ساتل کیدای شي[1]، قسطونوباندې اخیستل دعوام له پاره سهولت دی، له دې وجې دې باندې پابندي لګول ښه خبره نه ده، خلاصه داده چې که چیرې بیع بالاقساط دشرعي قانون مطابق وي او د فاسدو شرطونو نه پاکه وي، نوداجائزده، که نه، نو ناجائز.

قسط بندیدو له وجې په قسط ورکړل شوی شی بیرته اخیستل

سوال: زمانښځې زمادزوی له پاره دهغه دخوښې سره سم په قسطونو باندې دسامان ورکولودوکان په حق کې ده اوزه ددې کاروبار خلاف یم، ځکه چې دې کاروبارکې اخیستونکي ته داخبره زباني وشي چې داشی تاته په قسطونودرکول کیږي چې تاته فایده وشي اوته اساني سره دیوغټ شي مالک شې اوکاغذونوکې کرایه دار لیکل کیږي، دقسطونو بندېدو په صورت کې شی واپس اخیستل کیږي، زمانښځه وایي چې ډیرخلک داکاروبارکوي، نوته دمولاناصاحب نه پوښتنه ولې نه کوې؟ ملک کې اسلامي شریعت نافذشوی دی. زما خیال دی چې اخیستل شوی شی دځینې نقصان له وجې واپس کیدای شي، خوخرڅ شوې شی نه شي واپس کیدای، دواجبات د اداکولوله پاره مهلت ورکول کیږي، دې مسئلې باره کې ستاسوخیال د اسلامي شریعت مطابق څه دی؟

جواب: قسطونوباندې شی ورکول خوجائزدي[2]، خودې کې دوه خرابیانې چې تاسولیکلي دي، داصلاح قابل دي یوه اخیستونکی کرایه دارلیکل، دویمه دقسط نه اداکولوپه صورت کې شی بیرته اخیستل دادواړه خبرې شرعي طورباندې ناجائزدي[3] ددې په ځای باندې څه

---

[1] (ولا یسعر حاکم) لقوله علیه السلام: لا تسعروا فان الله هوالمسعر القابض الباسط الرازق. الا اذا تعدی ارباب الاموال عن القیمة تعدیا فاحشاً فیسعر بمشورة اهل الرأی. (درمختار/٦/٣٩٩/ کتاب الحظر والاباحة/طبع سعید)۔

[2] البیع مع تأجیل الثمن، وتقسیطه صحیح، یلزم ان تکون المدة معلومة فی البیع بالتأجیل والتقسیط. (شرح المجلة للباز/١٢٥/ المادة: ٢٤٥، ٢٤٦). ایضاً: اما الأئمة الاربعة وجمهور الفقهاء والمحدثین، فقد اجازوا البیع المؤجل باکثر من سعر النقد، بشرط ان یبت العاقدان بانه بیع موجل باجل معلوم وبثمن متفق علیه عند العقد. (بحوث فی قضایا فقهیة معاصرة/٧/ طبع مکتبه دارالعلوم/ کراچی)۔

[3] لان فی الشرط الاول کذب وعد رسول الله صلی الله علیه وسلم من الکبائر کما روی عن انس عن النبی صلی الله علیه وسلم فی الکبائر قال: الشرک بالله وعقوق الوالدین وقتل النفس وقول الزور. (ترمذي/١/ ٢٢٩). وکل شرط لا یقتضیه العقد وفیه منفعة لاحدالمتعاقدین او للمعقود علیه وهو من اهل الاستحقاق یفسده کشرط ان لا یبیع المشتری العبد المبیع لانه فیه زیادة عاریة عن العوض فیؤدي الی الربا. (هدایة/٣/ ٥٩/ کتاب البیوع/باب البیع الفاسد). وقالت عائشة رضی الله عنها. . . . . . ثم قام رسول الله صلی الله علیه وسلم فی الناس فحمد الله واثنی علیه ثم قال: اما بعد! ما بال رجال یشترطون شروطاً لیست فی کتاب الله؟ ما کان من شرط لیس فی کتاب الله فهو باطل، وان کان مائة شرط[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

داسې طريقه اختيارول پکار دي چې د قسطونو د اداکولو ضمانت هم ملاوشي او د شريعت خلاف هم نه وي.

د قسطونو مسئله

سوال: الف: يوسوزوکی، ويګن، ياټرک په نغدو پيسو باندې واخلی، او هغه ته ,,ب،، د هغه موټر داخيستلو د پاره راغی. ,,ب،، داموټر د ,,الف،، نه په قسطونو باندې اخيستل غواړی او ددې له پاره ,,الف،، د ,,ب،، سره لاندې شرطونه لګول غواړی:

۱ لس زره روپۍ به نغدې اخلم (دادمختلفو موټرو د قيمت په لحاظ باندې مختلف وي) بقايا پيسې به دوه زره روپۍ مياشت قسطونو باندې اخلم، دموټر اصل قيمت پنځه څلويښت زره روپۍ دی، زه به د رنه لس زره روپۍ ګټه اخلم، يعنی ته به د پنځه څلويښتو په ځای باندې پنځه پنځوس زره روپۍ ورکوې (دلس زرو نغدو نه پرته به پنځه څلويښت زره روپۍ ورکول وي) دې صورت کې چې لس زره روپۍ ګومه چې ګټه ده دې کې کمې زياتې هم کيدای شي. مثلاً: نغدې پيسې پنځلس زره کيدای شی يا ماهوار قسط د دوو زرو نه کم يا زيات هم کيدای شي.

۲ که موټر وسوځی يا ورك شی، ب: به دا قيمت په هر صورت کې اداکوي.

۳: که ب: په څه وجه باندې درې مياشتې مسلسل قسط ادانه کړي نو ,,الف،، ته به حق وي چې هغه موټر په خپله قبضه کې واخلي او ,,ب،، ته هيڅ هم ادانه کړي.

کله ناکله داصورت هم وي چې ب: ته د پيسو ضرورت وي، او هغه موټر په نغدو باندې خرڅ کړي، او الف: ته هره مياشت قسط ورکوي. ځينې حالاتو کې موټر موجود نه وي او الف: ب: نه څه نغدې پيسې واخلي او هغه پيسې په خپلو پيسو کې شاملې کړي او ب: ته موټر ورکړي، يا نغدې پيسې ورکړي او ب: موټر واخلي (مثلاً: د پنځه څلويښت زرو موټر له پاره پنځه ديرش زره روپۍ الف: ورکړي او لس زره روپۍ ب: ورکړي)

مولاناصاحب! ډيرخلک دې کاروبارکې داخل دي، د قسطونو په صورت کې ګران خرڅول خو سود کې داخل نه دي؟

جواب: دلته يو څو مسئلې دي:

۱: نغدشی په کم قيمت باندې اخيستل او هغه مخکې په قسطونو باندې په ګران قيمت باندې خرڅول جائز دی.[۱]

بقيه د تيرمخ].. قضاء الله احق وشرط الله اوثق وانما الولاء لمن اعتق. (صحيح البخاري/۱/ ۲۹۰)_

۱] نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن بيعتين فى بيعة. . . . . وقد فسر بعض اهل العلم قالوا: بيعتين فى بيعة ان يقول ابيعک هذا الثوب بنقد بعشرة، وبنسيئة بعشرين، ولا يفارقه على احد البيعين، فان فارقه فلا بأس به اذا كانت العقدة على احده منهما. (جامع الترمذي/۱/۲۳۳/كتاب البيوع/باب ماجاء فى النهى عن بيعتين فى بيعة). وفى الهداية: لان للاجل شبهاً بالمبيع، الا يرى[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

۲: کوم کس چې شی په قسطونو باندې اخیستی دی، هغه ددې مالک شو، او د قسطونو پیسې دهغه په ذمه باندې واجب شوې، که چرې هغه غواړی نوداشی مخکې خرڅولی شي، په نغدو باندې هم او قرضو باندې هم.

۳: قسطونو باندې اخیستلونه پس خداې دې نه کړي که چرې موټر ته څه نقصان ورسید، نو دا نقصان به داخستونکي وي، ذقسطونو پیسې به دهغه په ذمه باندې موجودې وي.[۱]

۴: داشرط که چرې په څه وجه باندې هغه درې میاشتې مسلسل قسطونه ادانه کړل نو الف: به موټر خپله قبضه کې واخلي، او دهغه اداشوي قسطونه به ختم شی، داشرعي طورباندې صحیح نه دی[۲]، الف: ته داحق خوحاصل دی چې خپل قسطونه قانوني ذریعه باندې حاصل کړي، خوهغه موټر په خپله قبضه کې داخیستلوحق نه لري اونه داداشویو قسطونوهضم کولوحق لري.[۳]

۵: الف: چې د ب: نه کومې پیسې مخکې اخلي هغه جائزدي. والله اعلم.

په قسطونو د کورونو سامان په دې شرط خرڅول چې که په مقرر وخت باندې یې قسط ادا نه کړ، نوروزانه به پرې جرمانه وي

سوال: زه په اسانو قسطونو(د میاشتې په نیته) د کورسامان ورکوم، ضرورت مند په خپله خوښه خپل مطلوبه شیان چیک کولو سره قیمت او د قسطونو مقرر وخت باندې د ورکولو شرط خوښې سره مقرر کړي، کوم چې د ایګریمنټ په شکل کې وي، خو په دې کې دا شرط هم وي چې که اخیستونکی په مقرره وخت کې ادائیګي ونه کړي، نو روزانه به د میاشتې د جرمانې سره پیسې ادا کوي، که اخیستونکي ته د وصولي له پاره موږ په موټر سائیکل یا سورلۍ باندې لاړ شو، نو د هغه خرچې هم د اخیستونکي نه اخلو، د اسلامي تعلیماتو په رڼا کې دا طریقه صحیح ده او که نه؟ مهرباني وکړئ او زموږ رهنمایي وکړئ.

جواب: په قسطونو باندې کورونو ته مال رسول او په مقرره وخت باندې وصول کول جائز دي، خو په دې کې چې دا شرط لګول شوی دی چې که پیسې په وخت باندې ادا نه شي، نو روزانه

بقیه د تیرمخ].. انه یزاد فی الثمن لاجل الاجل. (الهداية/۳/ ۷۶/باب المرابحة والتولية، ومثله فی البحرالرائق/ ۶/۱۱۴/ باب المرابحة والتولية، والشامية/۴/۱۷۴/طبع ایچ ایم سعید)۔

[۱] فان هلک فی یده هلک بالثمن وكذا اذا دخله عیب. (هداية/۳/۳۱/ كتاب البيوع)۔

[۲] وكل شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لاحد المتعاقدين او للمعقود عليه وهو من اهل الاستحقاق يفسده كشرط ان لا يبيع المشتری العبد المشتری لان فيه زيادة عارية عن العوض فيؤدي الى الربا. (هداية/۳/۵۹/ كتاب البيوع)۔

[۳] قال الله تعالي: "يأيها الذين أمنوا لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل الا ان تكون تجارة عن تراض منكم". (النسآء/ ۲۹)۔

به دومره پیسې زیاتیږي، دا صریح ناجائز دي او د دې له وجې دا پوره کاروبار ناجائز کیږي همدغه ډول د موټر سائیکل اجرت حاصلول دا هم ناجائز دي. [۱]

په قسطونو باندې د کورني سامان تجارت

سوال: زموږ د قسطونو کاروبار دی او موږ کورني اوداسې نور د ضرورت شیان په اسانه قسطونو باندې خلکو ته ورکوو، چې د هغه طریق کار دادی چې موږ یوپکی (پنکه) په (۱۴۰۰) روپۍ واخیسته او یو ګاک ته مو دغه پکی (پنکه) د یو کال په قسطونو (۲۲۰۰) باندې ورکړه او ایډوانس ترې (۵۰۰) او د میاشتې ترې (۲۰۰) روپۍ قسط اخلو او که دا سړی بقایا رقم په یو کال کې ورنکړي او رقم باندې د یو کال نه زیاته موده تیره شي مثلا دوه یا درې کاله، نو موږ خپل اصل رقم وصول کوو کوم چې مقرر شوی و او په دې باندې نور زیات هیڅ کمیشن وغیره نه اخلو، معلومات دا کول و چې داسې قسطونو باندې کاروبار جائز دی اوکه ناجائز؟ او که د جواز بله څه طریقه وي، نو هغه راته ولیکئ.

جواب: د قسطونو کومه طریقه چې تاسو لیکلې ده، یعنې څومره قیمت چې په اوله ورځ مقرر شوی و هغومره وصول کوئ او که فرض کړه په وخت باندې یې ادا نه کړي، نو زیاتې پیسې مه وصول کوئ، د قسطونو دا کاروبار صحیح دی. [۲]

---

[۱] قال الله تعالي: "واحل الله البيع وحرم الربوا" لما روى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه نهى عن قرض جر نفعاً. (بدائع الصنائع/كتاب القرض/ ۱۰/ ۵۹۷). كل قرض جر نفعاً فهو ربا. (الاشباه والنظائر/۲۵۷). ايضاً: مالک عن زيد بن اسلم انه قال: كان الربا فى الجاهلية ان يكون للرجل على الرجل الحق الى اجل فاذا حل الحق قال اتقضى ام تربى فان قضى اخذ والا زاده فى حقه وأخر عنه فى الأجل. (مؤطا الامام مالک/۶۰۶/ باب ماجاء فى الربا فى الدين/ طبع مير محمد). ايضاً: كان الرجل فى لجاهلية اذا كان له على انسان مأة درهم الى الأجل فاذا جاء الأجل ولم يكن المديون واجداً لذالک المال قال: زدنى فى المال حتى ازيد فى الأجل فربما جعله مأتين. (تفسير كثير/۹/۲/سورة آل عمران: ۱۳۰).

[۲] البيع مع تأجيل الثمن وتقسيط صحيح، يلزم ان تكون المدة معلومة فى البيع بالتأجيل والتقسيط. (شرح المجلة لسليم رستم باز/۱۲۵/ رقم المادة: ۲۴۵، ۲۴۶/ طبع حبيبيه كوئته).

❖ د قرض مسئلې ❖

کورګانه کول او پیسې د قرض په طور اخیستل

سوال: ډیرزیات مواوریدلي دي چې سوداخیستونکی اوسودورکونکی دواړه دوزخیان دي او د یو شان سزا مستحق دي دامعلومول غواړم چې ایا حقیقت کې دواړه دیوشان سزامستحق دي؟ اوکله ناکله انسان دخپلې څه مجبوري له وجې په سودباندې قرض اخیستوته مجبورشي اوبیاپه کلونو کلونودخپلې غریبي اوبدحالي له وجې دسودپیسې ورکوي، نوایادالله تعالی په نزدباندې دداسې کس له پاره هم درحم څه ګنجائش نه شته؟ دنیاکې داذهني تکلیف برداشت کولونه وروسته به اخرت کې هم دوزخ دهغه مقدروي؟ ګانه کول هم دسودیوقسم دی. زموږ معاشره کې ډیرخلک په سود باندې پیسې ورکوي اوهمدا دهغوی کاروباروي، هغوی ته پیشه ور سود خواره ویل کیږي، خوڅه خلک داسې هم دي چې دهغوی کاروبارپه سودباندې قرضې ورکول نه وي، نودتعلقاتوله وجې هغوی ګانه کیښودو سره قرض ورکړي اوبیادهغه ګانه نه اخیستل شوې ګټه پخپله خوري، دې صورت کې هم دواړه فریقان دبرابرې سزا مستحق دي؟ ماډیرمجبوري اوضرورت له وجې دخپل کورڅه برخه چاسره ګانه ایښې ده او دهغه دنیم قیمت پیسې مې ترې دقرض په طورباندې اخیستې دي اواوس زه هغه ته داپیسې ورکولوباندې خوشاله نه یم اوډیره بدحالي مې ده، توایادې صورت کې زه هم ګناه کې برابرشریک یم؟ اوزه دګانې ورکولوله وجې لوږوته هم رسیدلی یم، دکله نه چې ماقرض اخیستی دی اوسودورکوم. نومامحسوسه کړې ده چې زه مالي لحاظ سره کمزوری کیږم، پیسوکې برکت نه شته، کاروبارخراب شوی دی، ایا سود ورکولوسره دکوربرکت ختمیږي؟ دې نه پرته شپه ورځ دخپل دوزخي کیدوغم هم راسره وي.

جواب: سوداخیستل او ورکول دواړه حرام دي[۱] اودګانې کوم صورت چې تاسولیکلی دی، هغه هم حرام دی[۲]. تاسو سود قرض اخیستو سره دالله تعالی غضب ته پخپله دعوت ورکړی دی، اوس ددتوبې اواستغفارنه پرته ددې هیڅ علاج نه شته، الله تعالی دې تاسوباندې رحم

---

۱ [قال الله تعالي: "واحل الله البيع وحرم الربوا". (البقرة: ٢٧٥). وقال تعالي: "يأيها الذين أمنوا اتقوالله وذروا مابقى من الربوا ان كنتم مؤمنين، فان لم تفعلوا فأذنوا بحرب من الله ورسوله". (البقرة: ٢٧٨، ٢٧٩). وفى الحديث: عن جابررضى الله عنه قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم: آكل الربا ومؤكله وكاتبه وشاهديه، وقال هم سواء. (مشكوٰة/ باب الربا/٢٤٤/ طبع قديمى)۔

۲ [قال الحصكفي رحمه الله: (لا انتفاع به مطلقاً) لا باستخدام ولا سكنٰى ولا لبس ولا اجارة ولا اعارة سواء كان من مرتهن او راهن. (درمختار مع ردالمحتار/٦/ ٤٨٢/ كتاب الرهن)۔

وکړي، ایا دا ممکن نه ده چې د کورڅه برخه تاسو خرڅه کړئ او د سود د قرض نه خلاصئ وموميئ؟

سوال: ما د ملازمت ریټائیرمنټ نه وروسته دخپل پنسن پیسې او د هاوس بلډنګ فنانس کارپوریشن نه قرض واخیست او په یوسل شل ګزه پلاټ باندې مې کورجوړکړ. پنځه دیرش کاله د کرایې کورکې اوسیدو نه وروسته دخپل ذاتي کورخواهش مې پوره شو. د قرض واپسي په قسطونو باندې په پنځلس کاله کې کیږي او د قسطونو په لحاظ باندې به دا پیسې چې پنځلس کلونوکې اداکیږي هغه د اصل پیسو نه تقریبا یونیم چندزیاتې دي. یعني د (۲۵) زرو روپیو قرض به زه تقریبا (۹۷) زره روپۍ ورکوم، هاوس بلډنګ فنانس کارپوریشن یوه حکومتي اداره ده او داوسني سرکاري پالیسي مطابق دا اداره دجوړشوي کورپه ملکیت کې دشراکت له پاره پرته له سودنه قرضه ورکوي اوپنځلسوکلونوکې چې کومې زیاتې پیسې اخلي، هغه غالبا ددې وخت دروپۍ دقیمت له وجې دي، ځکه چې جدید معیشت کې افراط زر یوا همه خبره ده، چې د هغه له وجې د روپۍ قیمت کمیږي او داستعمال شیان ګرانیږي. مثلاً: که چیرته له نن نه د پنځلس کلونو مخکې یعني د (۱۹۲۸ع) د اقتصاد جائزه واخلو. نو موږ ته به د هریوشي په قیمت کې د ځمکې او اسمان فرق ښکاره شي، داسې صورت کې زیاتو پیسوته د قیمت له وجې ګټه ویلو په ځاي باندې (سود) ویل د کوم حدپورې سهي دي؟ خوکله چې ما د قرضې دا مسئله یوملاصاحب (چې هغه د دین یوعالم هم دی) ته بیان کړه، نو هغه راته وفرمایل چې: تاسو د باندې قرضې اخیستو له وجې کبیره ګناه کړې ده او ستاپه پنشن باندې چې څومره اوځنګه کورجوړیدای شو جوړکړی به دې و اوګذاره به دې کړې وه، خوتا به یوازې دبچیو له پاره داقرض اخیستو سره دوزخ نه اخیست، نوستاسونه مې ددې مسئلې پوښتنه کوله چې

الف: ایا ملکیت کې دشراکت په بنیادباندې قرض اخیستوسره ماکبیره ګناه کړې ده؟

ب: ایا خپلوبچیوته یوصفا ماحول اوا وکور ورکول دیومسلمان له پاره منع دي؟ اوایا یوازې دکم وسائلو له وجې په خراب حالاتوباندې صبراوشکرسره ناسته کول ښکاردي او خپل ژوند په جائزذریعه باندې ښه کولو کوشش نه دی ښکار؟

ج: ایا دپوره بیان شوي صورت نه وروسته هم دفنانس کارپوریشن نه اخیستی قرض به دسودقرض وي او دې باندې جوړ شوی کوربه د مسلمان له پاره حرام وي؟

جواب: هو! داقرض هم دسودقرض دی، په هرحال تاسو اخیستی دی، نو اوس دالله تعالی مخکې دخپل جرم اقرار وکړئ او توبه او استغفار وکړئ، الله تعالی به مومعاف کړي، دبانوله وجې دشي اصل نه بدلیږي، نه یوحرام حلال کیدای شي، ځکه چې معامله دانسان سره نه ده، بلکې دالله تعالی سره ده او دالله تعالی مخکې بانې نه چلیږي، بلکې دجرم خطرناک کېدوکې نور هم زیاتوالی کیږي.[1]

---

[1] قال تعالی: "و احل الله البیع وحرم الربوا". (البقرة/۲۷۵). عن علی[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

قرض پیسې ورکول او بیرته ډیرې اخیستل

سوال: مایوصاحب ته په (۱۹۵۱ء) کې پنځویشت روپۍ قرض ورکړې دي، هغه ماته په (۱۹۹۳ء) کې پنځویشت روپۍ راکړې، که چیرته هغه ماته په (۱۹۵۱ء) کې پنځویشت روپۍ راکړې وای، نوما په هغوباندې درې ماسې سره زراخیستی شو، ځکه چې هغه وخت کې سره زربه سل روپۍ توله وه، اوس درې ماشوسره زرواخیستوله پاره ماته زرروپۍ پکاردي، ځکه چې نن سباسره زربه څلورزره روپۍ توله ده، که زه دې پیسوباندې سره زراخیستوته لاړشم، نو دوکاندار به رانه پوښتنه هم ونه کړي، بلکې راته به وایي چې دماغ دې خراب دي که زه دقرض دارنه زرروپۍ غواړم، نوهغه راته سودخور وایي، تاسووایئ چې داسې لین دین کې څه کول پکاردي چې دچاسره بې انصافي ونه شي؟

جواب: زه هم دافتوا ورکوم چې دروپۍ په بدله کې روپۍ اخیستل پکاردي،که نه، دسوددروازه به خلاصه شي، روپۍ قرض ورکولووخت کې دمالیت خیال دچاذهن کې هم نه وي،که نه، دپیسوپه ځای به دسروزروقرض اخیستل کیده، په هرحال دبل عالم نه هم پوښتنه وکړئ![1]

د ګانه شوې ګینې د مجبوري له وجې د خرڅولو نه وروسته که مالک راغی، نو اوس یې څه حکم دی؟

سوال: یوې ښځې له نن نه تقریبا څلور کاله مخکې زما د مور بي بي سره څه ګینه د پنځو زرو په عوض ګانه کړي و او ویې ویل چې په درې څلورو میاشتو کې به یې اخلم، له دې نه تقریبا شپږ میاشتې وروسته زما مور سخته ناروغه شوه او تقریبا د درې میاشتو ناورغي نه وروسته وفات شوه، د مور له وفات نه تقریبا یو کال وروسته هغه ښځه کور ته راغله، ویې ویل چې ما فلانۍ ګینه ستا مور ته ورکړې وه، هغه بیرته راکړئ، اتفاقي خبره ده چې د ضروري کار له وجې نه ځینې ګینې خرڅې شوې کوم چې په (۱۹۹۲، ۱۹۹۳ء) کې تقریبا په اووه زره روپیو خرڅې شوې، مور د مور ټول ګینې هغې ته وښوولې، چې هغه خپله ګینه وپیژني، خو په هغه ګینوکې د هغې ګینه نه وه، مور هغې ته اووه زره روپۍ ورکول وغوښتل، نو هغې وانخستلې

بقیه د تیرمخ].. امیر المؤمنین مرفوعاً: کل قرض جر منفعة فهو ربا. (اعلاء السنن/ ١٤/ ٥١٢/ باب کل قرض جر منفعة فهو ربا، طبع ادارة القرآن کراچی). وقال الحصکفی رحمه الله: وفی الأشباه کل قرض جرنفعاً فهو حرام. (ردالمحتار/٥/١٦٦/ طبع سعید)

[1] الدیون تقضٰی بأمثالها. (ردالمحتار/٣/٨٤٨/ مطلب الدیون تقضٰی بأمثالها، ایضاً: الاشباه والنظائر/٢٥٦/ الفن الثانی). رجل استقرض من آخر مبلغاً من الدراهم وتصرف بها ثم غلا سعرها، فهل علیه ردها مثلها؟ الجواب: نعم، ولا ینظر الی غلاء الدراهم ورخصها. (الفتاویٰ تنقیح الحامدیة/١٠/ ٢٩٤/ باب القرض)۔

او وېې ویل چې زما ګینه زیاته قیمتي وه او ما سره هغه رسید هم موجود دی په کوم مالیت باندې چې ما خرڅه کړې وه.

جواب: د هغې د ګینې خرڅولو حق تاسوته نه و حاصل، په هرحال کوم ګینه چې تاسو د غلطي له وجې خرڅه کړې ده د هغې رسید تاسوسره موجود دی چې د هغې نه د ګینې وزن معلومېږي، اوس که هغه ښځه دعوه کوي چې د هغې ګینه قیمتي وه، نو د هغې ثبوت دې وړاندې کړي هغې چې کله ګینه ګانه کړې وه، نو د هغې وزن او حالت به لیکل شوی وي، یا خو دې هغه د خپلې دعوې ثبوت وړاندې کړي او په هغې باندې دې د دوه سړیو، یا د یوسړي او دوه ښځوګواهي وړاندې کړي چې هغې ستاسو مورسره د دومره مالیت ګینه ایښې وه، که داسې ثبوت وړاندې کړي ستاسو په ذمه د هغومره ګینې واپس کول ضروري دي اوکه هغه ثبوت نه شي وړاندې کولی، نو تاسو هغې په مخکې قسم وخورئ چې زموږ سره دومره ګینه وه، دې ښځې ته پکار دي چې د قسم خوړلو نه وروسته جګړه ختمه کړي.[1]

د ګانه شوي کور کرایه اخیستل

سوال: په یو سړي باندې د چا یو لک روپۍ په طور د قرض واجب الادا دي، هغه سره د قرض ادا کولو هیڅ صورت نه و، له یو کور نه پرته چې دا کور ورسره ګانه کیښودل شي، اخر هغه دا کور یو سړي ته د دوه کلونو له پاره ګانه باندې ورکړ او د کور کرایه هغه سړي دوه زره روپۍ د میاشتې وصول کوله او دغه شان قرض دار د بل سړي قرض ختم کړ، اوس به ایا په دې صورت کې په دې کور باندې زکات فرض وي؟ ایا کور په داسې ګانه ورکول جائز دي.

جواب: په دې کور باندې هیڅ زکات نه شته.

دا کور ګانه کیښودل جائز دي که بل څه شرعي قباحت نه وي، که قرض ورکونکي د ګانه کړي کور کرایه د دې قرض په حساب سره کټ کړې ده، نو بیا خو صحیح ده، ګینې د رهن نه منافع حاصلول سود او ناجائز دي.[2]

د دکان په بدله کې په مقاطعه ورکړې ځمکه باندې که قرض والا دا اخیستلو دعوه وکړي نو فیصله به څنګه کیږي؟

سوال: څه فرمایي علماء کرام او مفتیان ددین متین په دې مسئله کې چې د زید او عمرو د کروندې د ځمکې په یو برخه باندې جګړه شوه، زید وایي چې د نن نه تقریبا د پنځلسو کلونو خبره ده د عمرو د دکان زه مقروض شوم، د عمرو په وینا زه اته سوه روپۍ مقروض شوم، ما وویل: في الحال ما سره پیسې نه شته، زما فلانۍ ځمکه تاسو په مقاطعه باندې واخلئ،

---

[1] البینة علی المدعی والیمین علی المدعٰی علیه. (مشکوٰة/ ۱/ ۳۲٦/ باب الأقضیة والشهادات).

[2] وفی الأشباه: کل قرض جر نفعاً حرام فکره للمرتهن سکنی المرهونة باذن الراهن. (درمختار/ ٥/ ١٦٦).

ځومره هم چې ستاسو پیسې دی هغه لږ لږ وصول کوئ، چې کله تاسو د ځمکې د ګټې نه پیسې وصول کړئ، نو بیا ماته ځمکه راواپس کړه، په دې ویلو باندې ما د ځمکې قبضه عمرو ته ورکړه، په دې درمیانه موده کې ما د ځمکې د واپس کولو مطالبه وکړه، نو هغه ټال متهول کاو. عمرو وایي چې هغه مذکوره ځمکه زید د دکان د قرضې په عوض کې په ۸۰۰ روپۍ باندې په ما خرڅه کړې ده، ما د هغه نه اخیستې ده، چې د هغې تقریبا شل کاله شوي دي. لیکن ثبوت او ګواهان چاسره هم نه شته، هر یو قسم خوړلو ته تیار دی، خو زید وایي چې زما په زید باندې اعتبار نه شته، هغه یو کرت په دروغه قسم خوړلی دی، ما سره د دې ثبوت دی همدغه شان عمرو هم ویلې شي چې زید دروغژن دی زما د هغه په قسم باندې اعتبار نه شته. زید دا هم وایي چې د ځمکې په ابادي سره د قرضې نه چې کوم زیات مال تا وصول کړی دی د هغې هم حساب راکړه، اوس به په مذکوره صورت کې څوک رښتینی ګڼل کیږي؟ که عمرو صحیح وګڼل شي، نو د هغه د قول موافق به د اتو سوو روپیو په عوض دا سودا وي او که اوس به د موجوده نرخ په لحاظ سره سودا کیږي؟

د شرعي حکم نه مو خبر کړئ، د دې جګړې شرعي فیصله به څه وي؟ **﴿ بینوا توجروا ﴾** مهرباني وکړئ فقهي حوالو سره جواب ولیکئ!

جواب: دواړه ډلې په دې باندې متفق دي چې دا ځمکه په اصل کې د زید وه او دواړه ډلې په دې باندې هم متفق دي چې د اته سوه روپیو په بدل کې زید ته د ځمکې قبضه ورکړل شوې وه. اختلاف په دې کې دی چې دا قبضه د بیع وه او که د رهن؟

عمر د بیع مدعی دی او زید د هغه منکر، په مدعي فرض دي چې هغه د خپلې دعوې په ثبوت کې ګواهان وړاندې کړي او که یې وړاندې نه کړي، نو د منکر په قسم باندې به اعتماد کیږي او ځمکه به هغه ته حواله کول کیږي، له دې وجې شرعي فیصله د زید په حق کې ده. [۱]

خو په دې کې به د دوه شیانو معلومات په فیصله کې مدد کوي، اول دا چې دا معلومه شي چې دا د کوم کال خبره ده ایا هغه وخت د دومره ځمکې قیمت اته سوه روپۍ و؟

دویمه دا چې د ځمکې سودا وشي، نو د مشتري په نوم انتقال کیږي، خو د عمرو په نوم د دې ځمکې انتقال شوی دی؟

هر چې د زید د قول تعلق دی، عمرو ته په اته سوه کې ګانه ورکړل شوې وه او عمرو به د هغه وخت نه تر نن پورې له اته سوه ډیرې ګټلې وي، له دې وجې د پیسو د واپس ورکولو سوال نه شته. **والله اعلم!**

[۱] البینة علی المدعی والیمین علی المدعٰی علیه. (مشکوٰة/۳۲۶/ باب الأقضیة والشهادات).

په ډالرو اخیستل شوې قرضه به په ډالرو ادا کیږي

سوال: ما د یو دوست نه په (۱۹۹۰ع) کې څه پیسې قرض اخیستې وې چې په پاکستاني کرنسۍ کې نه وې، بلکې په ډالر کې وې، چې د هغو د واپس کېدو موده دوه کاله وه. خو ما ادا نه کړای شوې او بیا مې له هغه نه معافي وغوښته، نو هغه وویل چې کله تاسو سره وي، نو رایې کړه. حې هغه اوس ما ادا کړې دي، خو په ډالر کې ـ پوښتنه دادده چې د قرض دا طریقه صحیح ده که غلطه؟

ایا موږ قرض په ډالر کې اخیستی شو او که نه؟ د پاکستاني کرنسۍ او د ډالر په فرق سره چې کوم رقم د قرض په ادا کولو کې زیات یا کم ورکول کیږي د هغه شرعي حکم څه دی؟ چې هر کله په قرض نامه کې دا لیکل شوي وي چې د قرض ادائیګي به په ډالرو کې وي څکه چې قرض په ډالر کې ورکړل شوی دی.

جواب: که قرض د ډالر په شکل کې اخیستل شوی وي او د ورکولو فیصله یې هم د ډالر په شکل شوي وي، نو د ډالر په شکل باندې به ورکول کیږي که ګران وي او که ارزان وي. [۱]

دامریکایي ډالرو د اخیستل شوي قرض ادائیګي به څنګه وي؟

سوال: ما دوه کاله مخکې د خپلې خور نه پنځوس زره روپۍ قرض حسنه اخیستې وې. هغې د شپږ سوه ډالرو ډرافټ راولیږه، چې د هغې پیسې اته څلویښت زره روپۍ جوړې شوې، اوس د هغه خور وینا ده چې د قرض پیسې دې د ډالر په صورت کې ادا شي، زما اصرار د روپیو په صورت کې د ورکولو دی، تاسو مې رهنمایي وکړئ!

جواب: هغې د امریکایي ډالرو ډرافټ رالیږلی و، له دې وجې دادې د ډالرو په شکل کې ادا شي. [۲] **والله اعلم!**

د سرو زرو د قرض واپسي څنګه پکار ده؟

سوال: زما یو دوست الف: دنن نه پنځلس کاله مخکې یعنې په (۱۹۲۹ء) کې له یو کس :ب: نه پنځلس تولې سره زر قرض اخیستي وو. :ب: زرګردی، نوهغه ورته نغدې پیسې ورنه کړې :الف: هغه سره زر تقریباً په دیارلس زره روپۍ باندې خرڅ کړل، اوس پنځلس کاله وروسته :ب: (چې هغه دملک نه برتللی و، بیرته راتلوسره) :الف: نه خپل پنځلس توله سره زر واپس

---

[۱] ولو استقرض فلوساً نافقة وقبضها ولم تكسد لكنها رخصت أو غلت فعليه رد مثله ما قبض بلا خلاف. (بدائع الصنائع/۲۳۷/۷/ فصل في حكم البيع/ طبع ايچ ايم سعيد/ كراچي).

[۲] القرض تقضى بأمثالها. (ردالمحتار/ ۸۴۸/۳/ كتاب الأيمان/ طبع سعيد). الديون تقضى بأمثالها. (الأشباه والنظائر/ ۲۵۶/ طبع قديمي).

وغوښتل، :الف: وويل چې هغه وخت کې ما هغه په ديارلس زره روپۍ خرڅ کړي و. نو ته ما ته ديارلس زره روپۍ واخله، خو ب: وايي چې ما ته يا هغه پنځلس تولې سره زر راکړه يا اوسنۍ قيمت راکړه، د حنفي فقهې په رڼاکې راته زر جواب راکړئ چې دې دواړو کې څوک په حق دي؟ اونن سبا د پنځلس تولې سره زرو قيمت تقريباً (۲۲۵۰۰) روپۍ جوړيږي. اميدلرم چې جواب به زر راکړئ!

جواب: څومره سره زر يې چې يې ترې اخيستي و، هغومره به واپس ورکوي، د قيمت اعتبار نه شته.[۱]

فيکټري کې د سود قرض اخيستل جائز نه دي

سوال: فيکټري کې قرض ورکول کيږي، چې هغو کې موټر سائيکل، پنکه، د کور جوړولو قرضه وغيره ورکول کيږي او هغه باندې څلور فيصده سود زموږ د تنخوانه کټ کيږي، ايا د دې اخيستل صحيح دي؟

جواب: دا د سود قرضه شوه، د دې اخيستل جائز نه دي.[۲]

کور جوړولو له پاره په سود قرضه اخيستل ناجائز دي

سوال: ما سره يو پلاټ دی او د هغه جوړولو له پاره ما سره هيڅ لاره نه شته، زما پنځه بچي دي، حکومت قرضه ورکوي، د شپته زرو به اتيا زره واپس اخلي، نو ايا زه قرضه واخلم او کور جوړ کړم، دا زما له پاره جائز دي او که ناجائز؟

جواب: يادساتل پکار دي، چې څنګه (سود) اخيستل منع او حرام دي، د غه شان سود ورکول هم حرام دي، حکومت چې کومې شل زره روپۍ زياتې اخلي، دا سود دی[۳]، نو دا معامله شرعي طور باندې ناجائز ده.[۴]

۱] استقرض من الفلوج الرائجة والعدالى فكسدت فعليه مثلها كاسدة ولا يغرم قيمتها وكذا كل ما يكال ويوزن لما مر انه مضمون بمثله فلا عبرة بغلائه ورخصه. (درالمختار مع ردالمحتار/ ٥ / ١٦٢/ باب المرابحة والتولية/ فصل فى القرض، ايضاً: عالمگيري/ ٣ /٢٠٤ / الباب التاسع عشر فى القرض والا ستقراض)۔

۲] قال الحصكفى رحمه الله: وفى الأشباه كل قرض جر نفعاً فهو حرام. (ردالمحتار/٥/١٦٦). عن جابر رضي الله عنه قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء. (مشكوٰة/٢٤٤/باب الربا)۔

۳]عن على رضي الله عنه قال: كل قرض جر منفعة فهو رباً. (اعلاء السنن/١٤/ ٥١٢/ باب كل قرض جر منفعة، طبع كراچى)

٤] عن جابر رضي الله عنه قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء. رواه مسلم. (مشكوٰة/١/٢٤٤/ باب الربا/طبع قديمى)۔

د بینک د ملازم یا د حرامه گټه کونکي نه قرض اخیستل

سوال: که څوک د بینک ملازمت کوي یا د چا گټه حرامه وي، نو له هغه نه قرض اخیستل کیدای شي؟

جواب: هغه به هم حرام وي. [۱]

په نیمه باندې څاروی ورکول صحیح نه دي

سوال: زید د میښې یو بچی (کټی) مثلاً په پنځه زره روپۍ باندې واخیست او اخیستو سره یې بکر ته حواله کړ چې هغه یې وپالي او د هغه خدمت وکړي، بکر د هغه پالنه او د هغه د خوراک انتظام یې وکړ، یو کال یا دوه کاله وروسته زید او بکر یوځای کېدو سره هغه په لس زره باندې خرڅ کړ او زید خپل ذاتي پیسې پنځه زره ویستو سره باقي گټه پنځه زره روپیو کې نیمې بکر ته ورکړې او نیمې یې خپله واخیستې، ایا دا کار صحیح دی؟

جواب: داسې په نیمه باندې څاروی ورکول صحیح نه دي، هغه څاروی د زید ملکیت دی او پالنه کونکی یې د اجرت مستحق دی، که د خرڅولو نه وروسته د زیات مال نیمه برخه هغه ته ورکړي او هغه یې په رضا قبوله کړي، نو دا جائز ده. [۲]

صحابه کرام رضی الله عنهم به د غیر مسلمو نه څنګه قرضې اخیستې

سوال: جناب! یو خبره زما په ذهن کې تاویږي، جواب راکولو سره مې تسلي وکړئ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې موږ لوستي دي چې اکثر صحابه کرام رضی الله عنهم به د ضرورت په وخت د غیر مسلمو نه قرض اخیست، د دې به څه نوعیت و؟

جواب: صحابه کرام رضی الله عنهم به سودي قرضې نه اخیستې، دکله نه چې د سود نه منع شوې وه، چا هم د یو غیر مسلم نه سودي قرض نه و اخیستی. [۳]

د هاوس بلډنګ فنانس کارپوریشن نه قرضه اخیستو سره کور جوړول

سوال: مخکې به هاؤس بلډنګ فنانس کارپوریشن په سود باندې قرضه ورکوله، خو اوس

---

[۱] وفی ردالمحتار: (قوله الحرام ینتقل) ای تنتقل حرمته وان تداولته الأیدی وتبدلت الأملاک. (ردالمحتار/۵/۹۸/باب البیع الفاسد/کتاب البیوع).

[۲] واذا دفع الرجل الی رجل دابة لیعمل علیها ویؤاجرها علی ان ما رزق الله تعالی من شیء فهو بینهما فان آجر العامل الدابة من الناس واخذ الجر کان الاجر کله لرب الدابة وللعامل اجر مثل عمله. (عالمگیری/۴/۴۴۵).

[۳] عن عمر بن الخطاب ان آخر ما نزلت آیة الربوا، وان رسول الله صلی الله علیه وسلم قبض ولم یفسرها لنا فدعوا الربا والریبة. (مشکوٰة/۲۴۶/ باب الربا/ طبع قدیمی).

هغوی په شراکت باندې قرضه ورکوي، دې کې د مخکې نه مقرر کړل شي چې د کور کرایه به څه وي؟ نیمه کرایه به کارپوریشن اخلي او نیمه به د کور مالک. خوداخبره یادساتل پکار دي چې د کور کرایه کله ملاویږي، کله نه ملاویږي او کله کور خالي وي او که کرایه زیاتیږي او کمیږي. خو کارپوریشن هم دهغه مقرر شوې د کرایې نیمه کرایه اخلي. ایا داسود نه دی؟ بلکې داد سود نه هم بدتردی. ځکه چې دسود لفظ ورته نه اخیستل کیږي، خو حقیقت کې سود دی. دغه شان ناخبرخلک دسود په شان ګناه کې شریک شي. تاسو خپل خیال زرترزره بیان کړئ. ډیره مهرباني به مو وي.

جواب: ماچې کوم حدپورې غورکړی دی، نود کارپوریشن دامعامله هم سود کې داخله ده، ددې معاملې پوره حقیقت د نوروعالمانو نه هم معلوم کړئ.[۱]

د قرض پیسو نه زیاتې اخیستل

سوال: ډیروخت مخکې د ما خپل پلار نه د قرض په طورباندې لس زره روپۍ واخیستې او دې خیال سره مې پرې کورجوړ کړ، چې دا کور به په کرایه ورکړم، نوقرض به هم اداکړم او ماته به هم څه پیسې ملاویږي او بیاما هغه په کورپه څلورسوه روپۍ میاشت باندې په کرایه ورکړ او دوه سوه روپۍ میاشت به پلارته ورکولې اودوه سوه روپۍ به ما بینک کې جمع کولې دې نیت سره چې لس زره روپۍ جمع شي، نوهغه به ورته واپس کړم، اوس خبره داده چې دغه لس زره روپۍ پوره کیدونکې دي، نوماته مې پلار وویل چې ماته به زما لس زره روپۍ کله راکوې؟ما ورته وویل چې لږشان وخت پاتې دی، چې پیسې جمع شي، نوتاسوته به یې درکړم، نوپلار مې راته وویل چې دا خو زما په پیسو باندې پیداشوې پیسې دي، دا راته وو ایه چې مانه اخیستل شوې پیسې به کله راکوې، یعنې د هغه اراده ده چې کومې دوه سوه روپۍ میاشت یې چې اخیستې هغه هم او کومې دوه سوه چې جمع کړې وې هغه هم د هغه پیسې دي د غه شان به هغه ته پنځلس زره روپۍ ملاوشي او اوس هغه غواړي چې لس زره زما قرض هم راکړه، یعنې هغه دلس زرونه پنځویش زره جوړې کړې.

جواب: تاسو چې څومره پیسې ورکړې دي، دهغه دقرض هغومره برخه اداشوې ده. نورې پیسې هم ورته ورکړئ، دهغه قرض یوازې لس زره روپۍ دی، دهغه نه زیاتې اخیستل دهغه له پاره جائز نه دي.[۲]

۱]وفی التنویر: الربا هو فضل خال عن عوض بمعیار شرعی مشروط لأحد المتعاقدین فی المعاوضة. (شرح التنویر مع ردالمحتار/ ۱۶۸/۵ تا ۱۷۰، باب الربا/طبع ایچ ایم سعید)۔

۲] القرض هو عقد مخصوص یرد علی دفع مال مثلی لآخر لیرد مثله. (تنویر الأبصار مع ردالمحتار/۱۶۷/۵/ فصل فی القرض). کل قرض جر نفعاً فهو حرام. (ردالمحتار/۵/ ۱۶۶)۔

په قسطونو باندې قرض اخيستل جائز نه دي

سوال: ما شپږ مياشتې مخکې د سخت ضرورت له وجې نه لس زره روپۍ په قسطونو باندې اخيستې وې، ددې طريقه کار داو چې اول زما نه هغه سړي دوه نيم زره روپۍ د ايډوانس په طور واخيستې او بيا يې رانه هره مياشت زر(۱۰۰۰) روپۍ اخيستې، ايا دا پيسې چې ما اخيستې دي دې ته به سود وايي؟

جواب: دا سودي پيسې دي، د بيا له پاره د داسې پيسو د اخيستو جرات مه کوئ[1] الله پاک ته توبه وباسئ ځکه چې سود خوړل او سود ورکول کبيره ګناه ده او الله پاک په دې باندې د جنګ اعلان کړئ دی.[2]

قرض ورکولو سره په هغه باندې ګټه اخيستل جائز نه دي

سوال: زيد د عمرو نه قرض واخيست، حال دا چې عمرو هغه پيسې په بينک کې کيښودې، د هغه ځاس نه هغه ته هره مياشت يا د څو مياشتو په يوځاى ګټه ملاويدله، چې کله زيد دا پيسې واخيستې، نو هغه سړي ته يې وويل چې دا پيسې راکړه، چې کومه ګټه بينک درکوي هغه به زه درکوم، ايا دا ګټه سود دی؟ د دې ګناه به د چا په سر وي حال دا چې عمرو غريب دی؟ که د زيد په پيسو باندې ګټه چې د لږ مقدار ده نه ورکوي، نو د غريب ګزاره به ګرانه وي او عمر به پيسې هم نه ورکوي، جواب راکړئ.

جواب : دا سود دی ګناه به د اخيستونکي او ورکونکي دواړو په ذمه وي.[3]

د مقروض(پوروړي) د کور نه خوراک څښاک کول

سوال: که چاته يې قرض حسنه ورکړی وي، نو د هغه سره خوراک څښاک کول صحيح دي او که نه؟

---

[1]]والربا الذى كانت العرب تعرفه وتفعله انما كان قرض الدراهم والدنانير الى اجل بزيادة على مقدار ما استقرض على ما يتراضون به ولم يكونوا يعرفون البيع بالنقد. . . . . . و لذالک قال الله تعالي: وما أتيتم من ربوا ليربوا فى اموال الناس فلا يربوا عندالله، فاخبر ان تلك الزيادة المشروطة انما كانت ربا في المال العين لانه لا عوض لها من جهة المقرض. . . . . . الخ. (احكام القرآن للجصاص/١/ ٤٦٥/ باب الربا، طبع سهيل اكيدمى). ايضاً: (واحل الله البيع وحرم الربوا). . . . . فمن الربا ما هو بيع ومنه ما ليس ببيع وهو ربا اهل الجاهلية وهو القرض المشروط فيه الاجل وزيادة مال المستقرض. (احكام القرآن للجصاص/٤٦٩/ باب البيع، طبع سهيل اكيدمى لاهور).

[2] ["فان لم تفعوال فاذنوا بحرب من الله ورسوله". (البقرة: ٢٧٩).

[3] عن على انه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم لعن آكل الربا ومؤكله وكاتبه. . . . . . الخ. (مشكوٰة/١/ ٢٤٦/ باب الربائ، طبع قديمى كتب خانه).

جواب: که هغه پرې د قرض له وجې نه خوراک کوي، نو خوراک یې جائز نه دی او که د قرض نه مخکې د دواړو طرفونو نه د خوراک او په یو بل د خوړلو عادت و، نو جائز دي، د دې باوجود هم که د احتیاط نه کار واخیستل شي، نو غوره ده. [۱]

قرض با ندې ګټه اخیستل سود دی

سوال: ځینې خلک د شیانونه پرته موږنه نغدې پیسې کله پنځوس او کله سل روپۍ یا له دې نه کمې زیاتې قرض اخلي، په شیانو باندې موږته تقریباً پنځلس شل فیصده ګټه حاصلیږي، خو نغدې پیسې ورکولو باندې موږته هیڅ ګټه نه ملاویږي، حالانکې دا نغدې ورکړل شوې پیسې هم موږته میاشت دوه میاشتې وروسته ملاویږي او کله دې نه هم ډیروخت وروسته، که چیرې موږ دې باندې ګټه اخلو، نو ایا دا به هم سود کې داخل وي او زموږ له پاره به جائزوي؟

جواب: نغدې پیسې قرض ورکولو ته قرض حسنه ویل کیږي، دې باندې به تاسو ته ثواب ملاویږي خو دې باندې زیاتې پیسې اخیستل د ګټې په نوم باندې سود دی او دا حلالې نه دي[۲] مسلمان ته هر یوه معامله د دنیا د ګټې له پاره کول نه دي پکار، دا خرت د فایدې له پاره هم څه کول پکار دي، نو یو ضرورت مند ته قرض حسنه ورکول د اخرت ګټه ده، دې باندې هم ډیر زیات ثواب او اجر ملاویږي[۳]

قرض سره څه بل شی هم اخیستل

سوال: مانه زما تره لس زره روپۍ نغدې واخیستې او یوکال وروسته به تا ته لس زره روپۍ واپس کړم او دې سره به پنځویش منه وریجې هم، ایا ما له پاره پیسې اوغله اخیستل جائز دي؟

---

[۱] عن انس قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اذا اقرض احدكم قرضاً فاهديٰ اليه او حمله على الدابة فلا يركبه ولا يقبلها الا ان يكون جريٰ بينه وبينه قبل ذٰلك. (مشكوٰة/ ۲۴۷/باب الربا/ طبع قديمى كتب خانه).

[۲] عن على امير المؤمنين مرفوعاً: كل قرض جر منفعة فهو ربا. (اعلاء السنن/۱۴/ ۵۱۲/باب كل قرض جر منفعة فهو ربا). وفى الشامية: كل قرض جر نفعا فهو حرام. (ج۵/ ۱۶۶) والربا الذى كانت العرب تعرفه وتفعله انما كان قرض الدراهم والدنانير الى اجل بزيادة على مقدار ما استقرض على ما يتراضون به ولم يكونوا يعرفون البيع بالنقد. . . . . و لذالك قال الله تعالى: وما أتيتم من ربوا ليربوا فى اموال الناس فلا يربوا عندالله، فاخبر ان تلك الزيادة المشروطة انما كانت ربا فى المال العين لانه لا عوض لها من جهة المقرض. . . . . الخ. (احكام القرآن للجصاص/۱/ ۴۶۵/ باب الربا، طبع سهيل اكيدمى). ايضاً: (واحل الله البيع وحرم الربوا). . . . . فمن الربا ما هو بيع ومنه ما ليس ببيع وهو ربا اهل الجاهلية وهو القرض المشروط فيه الاجل وزيادة مال المستقرض. (احكام القرآن للجصاص/۴۶۹/ باب البيع، طبع سهيل اكيدمى لاهور)ـ

[۳] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من كان فى حاجة اخيه كان الله فى حاجته ومن فرج عن مسلم كربة فرج الله عنه كربة من كربات يوم القيامة. (مشكوٰة/۴۲۲/ باب الشفقة والرحمة على الخلق/ الفصل الاول)ـ

جواب: کله چې تاسوته خپلې لس زره روپۍ درکړل شي، نوهغې سره نورڅه زيات اخيستل سود دی، يعني حلال نه دي.[۱]

د قرض واپسي با ندې زياتی پيسې اخيستل

سوال: زماورورزمانه قرض لس روپۍ اخلي او واپس کولووخت کې په خوشالي باندې ماته پنځلس روپۍ راکوي، پوښتنه داده چې، ايا داسود خو نه دی؟

جواب: که چيرې زياتې پيسې دمعاوضې په طورباندې درکوي، نودا سود دی[۲] اوکه هسې دخپل طرفنه دانعام اواحسان له پاره يې درکوي،نوبيادې وروسته څه بل وخت کې درکړي.[۳]

قرض ورکولو وخت کې د دعا شرط لګول

سوال: که چاته قرض په شرط باندې ورکړل شي چې دپيسو واپس کولووخت پورې به زماحق کې دعاکوې، نوايادابه هم سودکې داخل وي اودهغه دعابه قبليږي اوکه نه؟

جواب: چاته چې قرض ورکړل شي دعاخوبه هغه پخپله باندې هم کوي، په هرحال دورکونکي له پاره ددعاشرط لګول غلط دي اودهغه ثواب ختمونکی دی،خو داسودنه دی يعني ددعا شرط لګول سهي نه دي.

د قرض د ادا کولو له پاره سودي قرضه اخيستل

سوال: زه د ځينې خلکو مقروض يم، اوس زه دا قرضه ادا کول غواړم، خو ماسره وسائل نه شته، اوس که زه د دې قرضې د ادا کولو له پاره د حکومت نه قرضه اخلم، نو په هغې باندې سود ادا کول راځي، عرض دادی چې زما رهنمايي وکړئ چې زه څه وکړم؟ ايا د خلکو قرضې ورکولوله پاره حکومتي قرض واخلم او په هغو سود ورکړم؟

جواب: د قرض د ورکولو له پاره د حکومت د يوې ادارې نه هم د سودي قرضې اخيستو مشوره تاته نه شي درکول کېدای، ځکه چې سودي قرضه اخيستل ګناه ده [۴] او ډير خلک

۱] ايضاً اوګورئ تيره شوی حواله (عن علی امير المؤمنين مرفوعاً: کل قرض جر منفعة فهو ربا. . . الخ)۔

۲] ايضاً پورتنئ حواله۔

۳] عن جابر رضی الله عنه قال: کان لی علی النبی صلی الله عليه وسلم دين فقضا لی وزادنی. (مشکوٰة/ ۲۵۳/ باب الافلاس والانظار، الفصل الثانی). وفی المرقاة للقاري: من استقرض شيئًا فرد احسن او اکثر منه من غير شرطه کان محسناً، ويحل ذلک للمقروض، وقال النووي رحمه الله: يجوز للمقرض اخذ الزيادة، سواء زاد فی الصفة او فی العدد. . . . وحجة اصحابنا عموم قوله صلی الله عليه وسلم: فان خيرالناس احسنهم قضاء. وفی الحديث دليل علی انه رد الأجود فی القرض او الدين من السنة ومکارم الأخلاق، وليس هو من قرض جر منفعة. (مرقاة/٦/ ١١٧، باب الافلاس والانظار/طبع رشيديه)۔

۴]قال تعالي: واحل الله البيع وحرم الربوا. (البقرة: ٢٧٥). عن علی [بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

زما په علم کې دي چې هغوی د داسې ضرورتونو له پاره د بینک نه قرضې واخیستې، خو د همیشه له پاره په سودي قرضه کې ونیول شو، هغوی د خپلې قرضې نه ډېرې زیاتې پیسې بینک ته ادا کړي دي، بلکې اوس یې د سود نه وروسته د نور سود په چکر کې دي.

قرض څنګه ادا کړل شي، په ډالرو که په روپیو؟

سوال: ما له نن نه د څلورو کاله نه زیاته موده مخکې د خپل یو دوست نه شل زره روپۍ قرض واخیستې، پرته د څه پیشګي د شرط کولو نه، اصولاً ماته دا پیسې زر ادا کول پکار و، خو ما د کوشش باوجود داسې و نه کړای شو او د تیرو اووه کلونو نه په یورپ کې مقیم یم، کوم وخت چې ما دا پیسې اخیستې وې هغه وخت د امریکي ډالر قیمت کم و زیات شل روپۍ و، نوما په خپل زړه کې هماغه وخت دا فیصله وکړه چې زه به زر ډالره ولیږم، اوس چې هر کله ما هغه ته زر ډالر ولیږل، نو هغه پنځه سوه ډالر ماته دي وینا سره واپس کړل چې ما خپلې شل زره روپۍ وصول کړي دي او پاتې تاته واپس کوم ځکه چې ما تاته شل زره روپۍ پاکستانۍ درکړې وې نه امریکي ډالر زما دا اصرار دي چې کوم وخت ما دا پیسې اخیستې وې هغه وخت د ډالر قیمت شل روپۍ و، اوس که د ډالر قیمت زیات شو او دوچند شو، نو په دې کې د چا څه ګناه؟ دویم دا چې دا خو د ډېر ظلم خبره ده چې د نن نه څلور کاله مخکې که د قیمت او ګران والي حساب ولګول شي، نو د نن څلویښت زره د هغه وخت د شلو زرو برابر وي، خو هغه ضد کوي او وایي چې دا سراسر سود دی، چې زه به یې په هیڅ قیمت وانخلم، زما اصرار اوس هم په خپل ځای قائم دی او دا ظلم او زیادت ګنم چې یو سړی قرض درکړي او په موجوده خراب تر معاشي صورت حال کې د هغه پیسو قدرو قیمت نیم پاتې شي حال دا چې په دې کې د دواړو هیڅ قصور نه شته، د دې مشکل حل د علماء حق په نزد څه کیدای شي؟

جواب: دا مسئله ډېره ګرانه ده، په دې کې زما رایه دا ده چې د امریکي ډالر چې مساوي کوم رقم جوړېږي، هغه دې ورکړل شي، ځکه چې د پاکستاني روپیو قیمت پخپله نه غورځیږي، بلکې غورځول کیږي او په دې کې د امریکي ډالرو لحاظ ساتل کیږي، له دې وجې کوم وخت چې قرض اخیستل شوی و هغه وخت چې د دې پیسو څومره امریکي ډالر جوړیدې هغه به واجب الادا وي، د نورو علماء کرامو نه دې هم په دې کې تحقیق وکړل شي. [1]

بقیه د تیرمخ]..امیرالمؤمنینرضی الله عنه مرفوعاً: کل قرض جر منفعة فهو ربا، وکل قرض شرط فیه الزیادة فهو حرام بلا خلاف. (اعلاء السنن/١٤/ ٤٩٩/ طبع ادارة القرآن/ کراچی). قال تعالیٰ: "یأیها الذین أمنوا لا تأکلواالربٰوا اضعافاً مضاعفة واتقوالله لعلکم تفلحون. واتقواالنار التی اعدت للکٰفرین.(آل عمران: ١٣١).

[1] ولو استقرض فلوساً نافقة وقبضها ولم تکسد، لکنها رخصت او غلت، فعلیه رد مثله ما قبض بلا خلاف. (بدائع الصنائع/ فصل فی حکم البیع/٧/ ٢٣٧/ طبع بیروت). ایضاً: رجل استقرض من آخر مبلغاً من الدراهم وتصرف بها ثم غلا سعرها فهل علیه ردها مثلها؟ الجواب:نعم، ولاینظر[بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

د لسو کلونو مخکېنی قرض په کوم حساب سره واپس شي؟

سوال: یو سړی مثلاً: زید بکر ته یو لک روپۍ قرض ورکړې، یا یې د بکر په لاس یو شی په یو لک روپۍ باندې خرڅ کړ، بکر د قرض په ادا کولو کې مثلاً: د لسو کاله تاخیر وکړ، بل طرف ته لس کاله وروسته د روپۍ قیمت د مخکې نه ډېر زیات غورځیدلی دی، اوس سوال دادی چې ایا زید د دې خبرې پابند دی چې هغه د بکر نه یو لک روپۍ وصول کړي؟ یا که په روپۍ کې د کمي په تناسب سره به د زیاتو پیسو اخیستو مجاز وي؟ که هغه یوازې یو لک روپۍ وصولوي. نو په دې کې د زید ډېر نقصان دی او دغه شان به د قرض لین دین کول او قرض ورکول بندشي، چې په هغه کې ظاهره ده ډېر لوي حرج دی او که هغه زیاتې پیسې اخلي، نو په هغه کې د سود ویره ده، د شریعت اسلامیه په دې کې څه حکم دی؟

جواب: دې ضعیف بنده خو د سود نه د بچ کیدو له پاره همدا فتوا ورکوله، خو د روپۍ د قیمت مسلسل کمیدو د دې رایې په بدلولو باندې مجبور کړ، خو په دې کې دا امر د توجه لائق دی چې کله زموږ د روپۍ د قیمت د کمي اعلان وشي (او کله پرته د اعلان نه دا حرکت کیږي) نو د دې معیار څه وي؟ دا ضعیف بنده د مالیاتو نه واقف نه دی، خو خیال مې دی چې نن سبا په دنیا کې د امریکې ډالر راج دی، له دې وجې زموږ د کرنسۍ معیار به هم هغه وي، که زما دا قیاس صحیح وي، نو امریکیي ډالر به معیار جوړیږي او د لسو کلونو مخکې قیمت دې واجب الاداء وګڼل شي، که نه سره زر دې معیار جوړ کړل شي، دا چې دې ضعیف بنده لیکلي دي، د دې حیثیت د فتوا نه دی بلکې یو ذاتي رایه ده یا خیال دی، نور اکابرین اهل فتوا ته دې رجوع وشي او هغوی چې څه فتوا ورکړي هغې باندې دې عمل وشي. [1]

بقیه دتیرمخ].الی غلاء الدراهم ورخصها.(تنقیح الفتاویٰ الحامدیة/۱/۲۹۲/باب القرض/طبع رشیدیه/کوئته)

[1] د نورو علماء کرامو رائې او فتوٰی داده چه څومره روپۍ ئې قرض اخستې وې نود هم دغومره واپس کولو حکم دې، که دروپۍ قیمت کم شی اوکه زیات شی، البته که د روپو د قرض ورکولو په ځائې ډالر ورکړې شی یا بله کرنسی (غیرملکی پیسې) نوبیا به هم ددغه کرنسئ واپس کولو حکم وی. القروض یجب فی الشریعة الاسلامیة ان تقضی بامثالها. (بحوث فی قضاهای فقهیة معاصرة/۱۷۴/طبع دارالعلوم /کراچی). ایضاً: الدین تقضی بامثالها. (ردالمحتار/۳/۸۴۸/ کتاب الأیمان/مطلب الدیون تقضی بأمثالها). الدیون تقضی بامثالها. (الاشباه والنظائر/ ۲۵۶/الفن الثاني/کتاب المداینات). هو عقد مخصوص یرد علی دفع مثلی لیرد مثله. (تنویرالابصار مع الدرالمختار/۵/۱۶۱/ باب المرابحة والتولیة/فصل فی القرض). والذی یتحقق من النظر فی دلائل القرآن والسنة ومشاهدة معاملات الناس ان المثلیة المطلوبة فی القرض هی المثلیة فی المقدار والکمیة، دون المثلیة فی القیمة والمالیة. (بحوث فی قضایا فقهیة معاصرة/ ۱۷۴/طبع دارالعلوم/ کراچی). وکذا فی الفتاویٰ العالمگیریة/۵/۳۶۶/ کتاب الکراهیة/الباب السابع والعشرون فی القرض والدین).

د قومي قرضو ګناه به په چاوي؟

سوال: قرض داري باندې دقرض زبردست بوج وي، تردې پورې چې حضور ﷺ به دقرض داري کس دجنازې لمونځ نه کاو، ترڅوپورې چې الله تعالی حضور ﷺ ته وسعت نه و ورکړی، وروسته به حضور ﷺ دهغه قرض په خپله ذمه باندې واخیست او دجنازې لمونځ به يې اداکړ.

زموږ قوم باندې په اربونوډالر قرض دی، چې هغه دقوم په نوم باندې دورلډبینک نه اخیستل شوی دی، دهغه اصل اوسودچې په اربونوروپۍ جوړیږي په هریوکس باندې واجب دي، اودغه قرض دسود سره په هریوکس باندې واجب دی، اوس سوال دادی چې د جنازې کولو وخت کې صدر، وزیراعظم، فنانس منسټر اودهغه دکارکنانو په کاته کې به اچول کیږي یادمړي خپلوان اصل قرض دسودنه پرته حکومت ته حواله کړي، چې هغوی يې ورلډبینک ته حواله کړي؟ ایاد په مقروض حالت کې دجنازې لمونځ کیدای شي، چې دهغه هیڅ ذمه داري نه وي؟اوسه پورې چې کوم پرته له څه واسطې نه دحکومت په قرضه کې وفات شوي دي. هغوی به ببنل کیږي؟ ډیرخلک چې هغوی دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ اطاعت کوي، داسوال کوي، چې ددې ماسره هیڅ جواب نه شته.

جواب: قومي قرضې دخلکوپه ذمه نه وي، بلکې دحکومت په ذمه وي، نودهغه باره کې به پوښتنه دعوامونه نه کیږي، کوم حکومت چې دغه قرضه اخستې وي دهغوی ~~نه به پوښتنه~~ کیږي، خو حکومت دعوامونمائندګي کوي، له دې وجې غیراختیاري طورباندې په عوامو باندې هم ددغې قرضواثر پریوځي، اګرچې عوام ګناهګارنه دي.

د وزیراعظم خود روزګار سکیم (پروګرام) نه قرض اخیستل

سوال: زه دا معلومات کول غواړم چې د وزیراعظم خود روزګار اسکیم نه د کاروبار له پاره د قرضې اخیستو په باره کې شرعي حکم څه دی؟

جواب: دا سودي قرض دی او سودي قرض شرعا جائز نه دی. [1]

د نوم او پتې نه ښودونکي کس مالي امداد څنګه واپس کړو؟

سوال: عرض دی چې څه وخت مخکې ماسره یوحادثه وشوه اوهغه بل ښارکې شوې وه، هغه

---

[1] فمن الربا ما هو بيع ومنه ما ليس ببيع وهو ربا اهل الجاهلية وهو القرض المشروط فيه الأجل وزيادة مال على المستقرض. (احكام القرآن للجصاص/١/ ٤٦٩/. ايضاً: واما الذى يرجع الى نفس القرض فهو ان يكون فيه جر منفعة فانكان لم يجز، نحو ما اذا اقرضه دراهم غلة على ان يرد عليه صحاحاً، او اقرضه وشرط شرطا له فيه منفعة لما روى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه نهى عن قرض جر نفعاً، ولأن الزيادة المشروطة تشبه الربا، لانها فضل لا يقابله عوض،والتحرزعن حقيقة الربا وعن شبهة الربا واجب(بدائع الصنائع/٧/٥٩٧/كتاب القرض،فصل فى الشروط).

کې یوسړي ماسره د پیسو امداد کړی و، زما په ډیرزیات پوښتنو باندې هم هغه خپل نوم اوپته نه وه ښودلې، د هغه وخت نه اوسه پورې زه پریشاني کې مبتلایم، تاسو ماته ووایئ چې زه هغه ته پیسې څنګه واپس کړم او ددې په قران او حدیث کې څه حکم دی؟

جواب: چې هغه کس خپل نوم اوپته نه ده ښودلې، نو ددې ثابتیږي چې د هغه نیت ددې پیسو واپس اخیستونه و، نو ددې واپس کولو پاره د پریشانید وضرورت نه شته او که چیرې تاسو ته الله تعالی توفیق درکړی دی، نو هغه هومره پیسې د هغه صاحب له طرف نه صدقه کړئ. [۱]

د نامعلومه هندوانو قرض څنګه اداکړو؟

سوال: له نن نه تقریبا څلویښت کاله مخکې زموږ هندو (سیټ) سره کاروباري لین دین و، هغه هندو و، د پاکستان جوړیدو په وخت هغه ددې ځای نه هندوستان ته لاړ او هغه هندو موږ ته خپله پته نه وه ښودلې او ددې ځای نه لاړ، پریشاني داده چې د هغه د قرض په طور باندې څه پیسې موږ سره پاتې شوي دي، اوس ماته یادنه دي چې د هغه څومره پیسې په موږ باندې قرض دي؟ کله چې هغه هندوان لاړل، نو هغوی موږ سره د هغه ځای نه هیڅ تعلق نه دی ساتلی، نه یې راته خپله پته وغیره ښودلې ده زه غواړم که چیرې هغه هندو ژوندی وي چې هغه ته خپلې پیسې واپس کړم او که ژوندی نه وي، نو چې د هغه کوم وراثان دي هغوی ته هغه پیسې واپس کړم، خو پریشاني داده چې نه ماته هغه پیسې یادې دي او نه راته د هغوی څه پته معلومه ده، تاسو مهرباني وکړئ او ماته ووایئ چې زه دې باره کې څه وکړم؟ خدای دې نه کړي ددې پیسو باره کې اخرت کې ماته سزا راکړل شي، زه خوایمان داري سره د هغوی پیسې واپس کول غواړم، هغه هندوان لس یا اته کسان وو.

جواب: پیسې څومره وې؟ ددې اندازه خوکیدای شي، سوچ وکړئ چې تقریباً دومره به وې، څومره پیسې موچې ذهن ته راشي هغه پیسې چا ضرورت مند ته ورکړئ او د خپلې ذمې د بوج ختمولو نیت وکړئ. [۲]

مسلمان به د هندو دکاندرا نو قرض څنګه ادا کوي؟ چې کله هغوی په هندوستان کې وو؟

سوال: زموږ څه خلک د هندوستان اوسیدونکي دي، د هغوی څو خویندې وې او یو یې ورور

۱] قال: والعطية على اربعة اوجه، احدها للفقير للقربة والمثوبة ولا يكون فيها رجوع وهى صدقة. (النتف فى الفتاوي/۲ ۱ ۳)۔

۲] عليه ديون ومظالم جهل اربابها وأيس من عليه ذٰلک من معرفتهم فعليه التصدق بقدرها من ماله ومتى فعل ذٰلک سقط عنه المطالبة من اصحاب الديون. (ردالمختار/ ۲۸۳/٤). ايضاً: قال ابن عابدين رحمه الله: والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده عليهم و الا فان علم عين الحرام لا يحل له ويتصدق به بنية صاحبه. (۹۹/۵)

و چې د عادت ډير خراب وختل، پلار يې نواب و، چې کله يې نوابي ختمه شوه، نو د کور ګوزاره يې هم ګرانه شوه، اوس يې دوه ناواده کړې خويندو د کور خرچ سنبالول شروع کړل، ناروغه مور يې څو ورځې وروسته مړه شوه، د هغې نه وروسته يې پلار هم وفات وشو. بيا دا ښځه پاکستان ته راغله خپلې يوې واده کړې خور سره، اوس په هندوستان کې د دوه درې دکانونو قرض پاتې شو چې به ادا کولو؟ دوه دکانداران هندوان وو او يو مسلمان، اوس مې اوريدلي دي چې هغه خلک وفات شوي دي، مولانا صاحب! اوس هغه ښځه دلته واده شوې ده، دومره مالداره هم نه ده، بس ګزاره يې کيږي، اوس په داسې صورت کې به د دې قرضې وبال په چا باندې وي؟ او د دې شرعي حيثيت څه دی؟ دې ښځې به د کور سودا راغوښته، نو د دې ذمه دار څوک دی؟ او دا قرضه ياده هم نه ده چې څومره وه؟ او څنګه به ادا کيږي؟ دويم د هغوی په کور کې يوه زړه نوکره وه، د هغې هم د سپينو زرو څه ګينه وه، هغه هم خرڅولو نه وروسته دې خلکو خرچ کړل، هغه نوکره هم ډيره مخکې وفات شوې وه، د هغې ادا کول د چا په ذمه دي؟ دا ښځه د اخرت د عذاب نه ډيره په ويره کې ده او د دې مسئلې حل غواړي.

جواب: د اخرت معامله ده هم د ويرې شی! چې الله پاک به د هر صاحب حق، حق هغه ته ورکوي او هلته به روپۍ پيسې خو وي نه، بس نيکۍ او بدۍ به وي، د څومره خلکو چې د هغه په ذمه حق وو، د هغه هغومره نيکۍ به اهل حقوق ته ورکول کيږي او چې کله د هغه نيکۍ ختمې شي او د هغه په ذمه حقوق هم پاتې وي، نو د هغو خلکو بدۍ، به د حقوق په بدل کې په هغه باندې بار کړل شي. [١] الله پاک دې ترې مونږ وساتي د سخت ذلت او رسوايي سره مخامخ کيدل دي، له دې وجې عقل مند او پوه سړی هغه دی چې هغه د چا حق ونړلو سره د الله پاک دربار ته لاړ نه شي، دې ښځې چې کومې قرضې اخيستې وې هماغه د دې په ذمه دي او په ذمه به يې وي، د مسلمان دکاندار يا نوکرې چې کوم حق د هغې په ذمه دی هغه د هغې وارثانو ته لټولو سره هغوی ته ادا کول پکار دي، يا د هغوی نه معافي غوښتل پکار دي او د غير مسلم دکاندارانو معامله خو نوره هم سخته ده، له دې وجې د هغوی د وارثانو معلومات کولو سره دې هغوی ته هم پيسې ادا کړل شي، يا د هغوی نه معافي غوښتل پکار دي او که د هغوی د وارثانو معلومات هم نه کيږي او دومره سرمايه هم نه شته چې د هغوی له طرف نه صدقه کړل شي، نو د الله پاک نه دې دعا کوي چې: يا الله! زما په ذمه باندې د فلاني خلکو حقوق دي، ماسره د هغوی د حقوق ادا کولو ګنجائش نه شته، ته د خپلې خزانې نه د هغوی حقوق ادا کولو سره ما ته معافي وکړې، همیشه دې دعا کوي، څه بعيد ده چې کريم رب له خپل طرف نه د هغوی

---

[١] عن ابی هريرة رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: تدرون ما المفلس؟ قالوا: المفلس فينا من لا درهم له ولا متاع! فقال: ان المفلس من أمتي من يأتي يوم القيامة بصلاة وصيام ويأتى قد شتم هٰذا وقذف هٰذا وأكل مال هٰذا وسفک دم هٰذا وضرب هٰذا، فيعطى هٰذا من حسناته وهٰذا من حسناته، فان فنيت حسناته قبل ان يقضى ما عليه، اخذ من خطاياهم فطرحت عليه ثم طرح فى النار. (مشکوٰة/٤٣٥/ باب الظلم).

حقوق ادا کولو سره دې ته معافي وکړي. [1]

قرض ورکونکی که مړ شي او د هغه وارثان هم معلوم نه وي، نو څه کول پکار دي؟

سوال: زما والد صاحب په کال (۱۹۵۹ء) کې وفات شوی دی، د وفات نه څو ورځې مخکې هغه ماته او زما مور ته دا ویلي و چې په ما باندې د ځینو خلکو قرضې دي کومې چې مور د هغه له وفات نه څو ورځې وروسته ادا کړې، خو څو میاشتې وروسته د والد صاحب یو دوست دعوه وکړه چې ستاسو پلار زمونږ نه (۲۵ یا ۳۰) روپۍ قرض کړې وې، خو زما پلار د هغه ذکر نه و کړی او څه دهغه صاحب د عادتونو له وجې نه مونږ په هغه باندې یقین ونه کړ او بیا په (۱۹۶۲ء) کې مونږ پاکستان ته راغلو، او اوس مونږ ته دا خیال راځي چې څه پته لګیږي د هغه وینا سهي وي ؟ او زمونږ والد صاحب د هغه مقروض وي، لهذا اوس مونږ د دې قرض ادا کول غواړو خو هغه صاحب وفات شوی دی او زمونږ د هغوی د وارثانو سره څه رابطه هم نه شته، نو اوس پوښتنه داده چې زه څومره پیسې او څنګه هغه ادا کړم چې د والد صاحب قرض ادا شي ؟

جواب: د هغه صاحب د وارثانو معلومات کول او د هغوی لټون پکار دی او ستاسو د والد صاحب په ذمه چې څومره قرض و هغه دې هغه وارثانو ته ورسول شي او که بالفرض هغوی پیدانه شي، نو هغومره پیسې دې صدقه کړل شي. [2]

د داسې مړي قرضه څنګه ادا شي چې د هغه نژدې خپلوان نه وي

سوال: که یو سړی د چا نه قرض واخلي او قرض ورکونکی سړی وفات شي او د هغه سړي ښځه بچي هم نه وي، یوازې میرنی مور او میرني ورونه خویندې او د هغه تربوران وغیره وي، په داسې صورت کې قرض څنګه اداکول پکار دي؟

---

[1]] علیه دیون ومظالم وجهل اربابها وأیس من علیه ذلک من معرفتهم فعلیه التصدق بقدرها من ماله. وفی الشامیه: (قوله جهل اربابها) یشمل ورثتهم فلو علمهم لزمه الدفع الیهم لأن الدین صار حقهم. (درمختار مع تنویرالأبصار/ کتاب اللقطة/٤/ ٢٨٣). وفی فتاویٰ قاضی خان: رجل له حق علی خصم فمات ولا وارث له، تصدق عن صاحب الحق بقدر ماله علیه، لیکن ودیعة عندالله تعالی یوصلها ای خصمائه یوم القیامة، واذا عصب. مسلم من ذمی مالاً أو سرق منه فانه یعاقب به یوم القیامة، لأن الذمی لا یرضٰی عنه العفو، فکانت خصومة الذمه اشد. (شرح فقه الاکبر/ ١٩٤/ بیان اقسام التوبة/ طبع دهلی).

[2]]علیه دیون ومظالم جهل اربابها وأیس من علیه ذلک من معرفتهم فعلیه التصدق بقدرها من ماله. . . . . . الخ. (درمختار/ کتاب اللقطة/٤/ ٢٨٣). وفی فتاویٰ قاضیخان: رجل له حق علی خصم فمات ولا وارث له تصدق عن صاحب الحق بقدر ماله علیه لیکن ودیعة عندالله یوصلها أی خصمائه یوم القیامة. . . . . اخ. (شرح فقه الأکبر/١٩٤/بیان اقسام التوبة/طبع دهلی).

جواب: د کوم مړي چې قرضه ادا کول دي، دادې وکتل شي چې د هغه په خپلوانو کې د هغه قریب ترین کوم یو دی؟ هغه ته دې حواله کړل شي او هغه ته دې وویل شي چې د علماء کرامو نه پوښتنه کولو سره دې د چا چا چې دا پیسه جوړیږي، هغوی ته دې ورکړل شي. [۱]

ایا د هندوانو او سکانو له طرف نه صدقه ورکولو سره، قرض نه ادا کیږي؟

سوال: زما سوال دادی چې زموږ یو مشر چې کله په هندوستان کې و، د پاکستان د جوړیدو نه مخکې هغه هندوانو، سکانو او مسلمانانو سره کاروبار کاو، په هغه زمانه (۴۷، ۱۹۴۲ء) کې یې څانه شل روپۍ قرض اخیستی و، یو سك نه (۵۰) روپۍ، یو هندو نه (۴۰) روپۍ، غرض داچې د مسلمان، هندو، سك، ده باندې کم وزیات (۴۰۰، ۵۰۰) روپۍ به قرض وي، چې پاکستان جوړ شو، نو هغوی کراچۍ ته راغلل، ټول ژوند یې په دې احساس کې تیر کړ چې د هغوی پیسې ورکول دي، خو څه ذریعه یې جوړه نه شوه، بیا اخر هغه کله پنځه سوه روپۍ او کله (۱۰۰۰) روپۍ هم د هغوی په نوم خیراتولې، زړه یې مطمئن نه شو، اوس څو ورځې مخکې یې درې زره روپۍ خیرات کړې چې په څه طریقه د هغوی له قرض نه خلاص شي، هغه ته چا وویل: حضرت د سکانو او هندوانو قرض به ادا کیږي د مسلمان به ادا شي، د الله پاك ویره یې په زړه کې ډیره ده، په خپل ژوند کې دا قرض ادا کول غواړي، ایا د غه شان د قرض د نه ادا کولو کفاره کیدای شي؟

جواب: که د هغو خلکو وارثان معلوم وي، نو هغوی سره معامله کول پکار دي، څه چې هغوی کړي دي هغه سهي دي، یعنی چې د هغوی له طرف نه یې صدقه وکړه. [۲]

که صاحب قرض معلوم نه وي، نو د هغه له طرف نه دې صدقه شي

سوال: ما چې کله په سکول کې سبق ویلو، نو عمر مې پنځلس شپاړس کاله و، هغه وخت به مې د هندو حلوایي نه حلوا کله کله په قرض خوړله، په صوبه بنګال کې زما پلار استیشن ماستر و، بدلون به یې کیده، له دې وجې به هغه قرض نه ادا کیده، اوس هغه د هندوستان په

---

[۱] (قوله جهل اربابها) یشتمل ورثتهم فلو علمهم لزمه الدفع الیهم لأن الدین صار حقهم. (فتاویٰ شامي/ کتاب اللقطة/٤/ ٢٨٣/ وفی فتاویٰ قاضیخان: رجل له حق علی خصم فمات ولا وارث له تصدق عن صاحب الحق بقدر ماله علیه لیکن ودیعة عندالله یوصلها ای خصمائه یوم القیامة. . . . الخ. (شرح فقه الاکبر/١٩٤/ بیان اقسام التوبة/ طبع دهلی).

[۲] علیه دیون ومظالم جهل اربابها وأیس من علیه ذلک من معرفتهم فعلیه التصدق بقدرها من ماله. وفی الشامیة: قوله جهل اربابها) یشمل ورثتهم فلو علمهم لزمه الدفع الیهم لان الدین صار حقهم. (فتاویٰ شامي/٤/ ٢٨٣). وفی فتاویٰ قاضیخان: رجل له حق علی خصم فمات ولا وارث له تصدق عن صاحب الحق بقدر ماله علیه لیکن ودیعة عندالله یوصلها ای خصمائه یوم القیامة. . . . الخ. (شرح فقه الاکبر/١٩٤/ بیان اقسام التوبة/ طبع دهلی).

بنګال بنار کې دی د هغو هندوانو به معلومات هم نه وي، پنځوس کاله تیر شو، اوس څنګه قرض ادا کړل شي؟ چې راته یاد هم نه دی هغه وخت به په یوه پیسه باندې حلوا ملاویده زیات نه زیات به څو روپۍ جوړیږي

جواب: چې کله صاحب حق معلوم نه وي چې د هغه حق واپس کړل شي، نو د هغه له طرف نه صدقه کول پکار دي، نوتاسو د هغه حلوایي له طرف نه دومره پیسې صدقه کړئ [۱]

د عیسایي نه مې قرض واخیست، اوس د هغه پته نه شته، ایا د هغه له طرف نه صدقه کیدای شي؟

سوال: د تیرو شلو کلونو نه د یو غیر مسلم (عیسایي) څه واجبات زما په ذمه پاتي دي، دهغه اوس معلومات نه شته، کیدای شي چې ملک پریښودو سره تللی وي، یا مړ شوی وي، ایا د هغه په نوم صدقه کول صحیح دي؟

جواب: دکوم عیسایي پیسې چې ستاسو په ذمه دي تاسو دا وګورئ چې شل کاله مخکې دهغو څومره قیمت و، هغومره پیسې تاسو دهغه عیسایي له طرفنه دالله پاک په لاره کې ورکړئ![۲]

د سود پیسې قرض دارته قرض کې ورکول

سوال: که چیرته مونږ سره دسودپیسې وي، نوایامونږ هغه پیسې قرض دار ته دقرض ختمولوله پاره ورکولی شواوکه نه؟ یاهغه پیسې په جومات وغیره کې په بیت الخلاوغیره جوړولوکې لګول کیږي ؟

جواب: دسودپه پیسوباندې خپل قرض اداکول جائزنه دي[۳]، نه دې هغه په جومات کې یابیت الخلاجوړولوکې استعمال شي[۴]، بلکې څنګه چې دنفرت قابل اوګنده شي نه ځان

---

[۱] ایضاً_

[۲] علیه دیون ومظالم جهل اربابها وأیس من علیه ذلک من معرفتهم فعلیه التصدق بقدرها من ماله. (درمختار/ کتاب اللقطة/ ٤/ ٢٨٣). وفی فتاوي قاضیخان: رجل له حق علی خصم فمات ولا وارث له تصدق عن صاحب الحق بقدر ماله علیه لیکن ودیعة عندالله یوصلها أی خصمائة یوم القیامة. . . . . الخ. (شرح فقه الاکبر/ ١٩٤/ بیان اقسام التوبة/ طبع دهلی).

[۳] (ما حرم اخذه حرم اعطاؤه فاخذ الرشوة ممنوع کاعطائها ومثل ذالک الربا وأجرة النائحة. . . . . . . الخ (شرح المجلة/٣٣/رقم المادة: ٣٤). ایضاً کما لا یحل اکل الحرام لا یحل ایکاله قال صلی الله علیه وسلم: لعن الله آکل الربا وموکله.وقال صلی الله علیه وسلم: لعن الله الراشی والمرتشی.(المبسوط للسرخسي/١٤/٨٤)

[۴] قال تاج الشریعة: اما لو انفق فی ذالک مالاً خبیثاً، ومالاً سببه الخبیث والطیب، فیکره لأن الله لا یقبل الا الطیب فیکره تلویث بیته بما لایقبله. (درالمختار/١/ ٦٥٨/مطلب فی احکام المساجد). وعن ابی هریرةرضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:ان الله طیب لایقبل الاطیباً(مشکوة/ ٢٤١/١/ کتاب البیوع)

خلاصيږي، دغه شان دسودپيسې يومحتاج ته پرته دثواب دنيت ورکول پکاردي[۱] سوال کې چې دکوم قرض داري باره کې پوښتنه شوې ده که چيرې هغه په رښتيابانده محتاج وي، نوهغه ته قرض اداکولوله پاره د سود پيسې ورکول جائزدي.

د فليټ جوړيدوباندې د وعدې خلاف کولوله وجې جرمانه اخيستل شرعي طورباندې څنګه دي؟

سوال: ماديوسړي نه يوفليټ اخيستى و، هغه مانه پوره پيسې واخيستې، هغه يوتاريخ مقرر کړ اووعده يې وکړه چې مقررشوي تاريخ پورې به فليټ مکمل کړم، ماهغه وخت کې هغه ته وويل چې داګران کاردى، نوماهغه ته وويل که چيرته دې تاريخ پورې ته ماته فليټ مکمل نه کړې، نو جرمانه به يې، نوداخبره وشوه که چيرته دې تاريخ پورې مې تاته قبضه درنه کړه، نودې علاقه کې به ددومره غټ فليټ چې څومره کرايه وي هغه به تاته درکوم، نواوسه پورې فليټ تيارشوى نه دى اومادهغه نه دوه زره روپۍ کرايه اخيستل شروع کړي دي ځينې دوستانوراته وويل چې دې پيسونه سود جوړيږي، مهرباني وکړئ فتوا ورکړئ که چيرته داپه رښتياباندې سود وي، نوچې زه دهغه نه کرايه نه اخلم.

جواب: کله چې خرڅونکي په مقررشوي وخت کې اخيستونکي ته کور حواله نه کړاى شو، نوپه وخت باندې کورنه ورکولوپه صورت کې خپلوکې جرمانه مقررکول صحيح نه دي، که اخيستونکى غواړي، نومعامله ختمولى شي، خودزيات وخت په بدله کې جرمانه اخيستل جائزنه دي، مطلب داچې مقرروخت کې فليټ نه ملاويدوپه صورت کې جرمانه اخيستل(که څه هم نوم ورته کرايه وغيره ورکړل شوى وى) سوددى[۲] اوکومې موچې ترې نه اخيستې دي هغه مالک ته واپس کول پکاردي.[۳]

۱]والا فان علم عين الحرام لا يحل له و يتصدق به بنية صاحبه.....الخ. (فتاويٰ شامي/ ۹۹/۵/ مطلب فى من ورث مالاً حراماً).ايضاً:ويتصدق بلا نية الثواب وينوى به براء ة الذمة. (قواعد الفقه/۱۱۵/ طبع صدف پبلشرز/ کراچى)

۲](وذٰلک اعتياض عن الأجل وهو حرام) وهٰذا لأن الأجل صفة کالجودة والاعتياض عن الجودة لا يجوز فکذا عن الاجل الاترى ان الشرع حرم الربا النسيئة وليس فيه الا مقابلة المال بالأجل شبهة فلا يکون مقابلة المال بالأجل حقيقة حرام اولى. (کفاية شرح هداية مع فتح القدير/ ۳۹۶/۷/ کتاب الصلح، باب الصلح فى الدين). ايضاً: فى ردالمحتار: قوله لا باخذ المال فى المذهب، قال فى الفتح: وعن ابى يوسف رحمه الله يجوز التعزير للسلطان باخذ المال وعندهما وباقى الأئمة لا يجوز اه. ومثله فى العمراج، وظاهره ان ذالک رواية ضعيفة عن ابى يوسف رحمه الله قال فى الشرنبلالية: ولا يفتى بهٰذا لما فيه من تسليط الظلمة على اخذ مال الناس فيأکلونه اه. ومثله فى شرح الوهبانية. (ردالمحتار/٤/ ٦۱/ مطلب فى التعزير بأخذ المال)۔

۳] والحاصل انه ان علم ارباب الأموال وجب رده عليهم. (ردالمحتار/ ۹۹/۵/ باب البيع الفاسد)۔

وعده پوره کول یا ماتول

سوال: الف: ب: نه دې شرط سره قرض واخیست چې دراتلونکې میاشت په لومړي تاریخ به یې درته واپس کړم، خواتفاقي طورباندې په لومړی تاریخ باندې هفته واره چوټي وه، چې دهغه له وجې دتنخوا دفتربند و او الف: هغه قرضه ادا نه کړای شوه، اوس تاسو ووایئ چې دهغه وعده پوره شوه اوکه وعده کې یې نقص راغی؟

جواب: ددواړوفریقانوپه ذهن کې داو چې په لومړي تاریخ باندې تنخوا ملاویدوباندې به قرض اداکوي اوپه دغه تاریخ باندې ددفتردبندیزله وجې قرضه ادانه شوه، نوبله ورځ باندې دې ورته ورکړي، دی به دوعده خلافي گناهگارنه وي، حدیث شریف کې دي:

اذاوعدالرجل اخاه ومن نیة ان یفي له. فلم یف ولم یجیٔ المیعاد فلا اثم علیه.

(مشکوۃ شریف ص۴۱۶، بروایت ابوداؤدوترمذی شریف)

ترجمه: کله چې یوانسان خپل وروړسره وعده وکړي اودهغه نیت داوي چې هغه به خپله وعده پوره کوي، خو(دڅه عذرله وجې) هغه پوره نه شي، نوهغه باندې به هیڅ گناه نه وي.

د ادائیگي په وخت کې پیښن شوی خنډ(مانع) ورته بیان کړي

سوال: دکاروباري لین دین مطابق موږته معلوم وي چې فلانکی ورځ باندې به موږته دبازارنه پیسې ملاویږي، ددوکان دوعدې مطابق موږ نوروخلکوسره وعده وکړه چې موږبه تاسوته سبایابل سبا پیسې اداکړو، که چیرته مخکې دوکان دارله څه وجې وعده خلافي وکړي، نو موږبه خپله وعده باندې قائم نه شوپاتې کیدای، اوس چې موږچاسره وعده کړې وي، که هغه ته خپل حالت بیان کړو، نوهغه پرې یقین نه کوي، داخبره ذهن کې ساتلوله وجې موږ هغه ته څه بله بانه وکړو، چې هغه خفه نه شي، ایا داسې کول جائزدي؟

جواب: غلط بیاني کول خوناجائزدي که هغه کس دې سره مطمئن کیږي نه [1]، ددې په ځاي باندې هغه سره وعده کولووخت کې هغه ته دا ویل پکاردي چې دفلانکي کس په ذمه باندې زماپیسې دي اود فلانکي وخت هغه ماسره وعده کړې ده، دهغه نه اخیستوسره به تاته واپس کړم اوترکوم حدپورې چې ممکن وي، نووعده خلافي اوغلط بیاني نه پرهیزکول لازم دي، حدیث شریف کې دي چې: ..التاجرالصدوق الامین مع النبیین والصدیقین والشهداء...

(مشکوۃ شریف ص۲۴۳ بروایت ترمذی شریف وغیره)

ترجمه: رښتونی امانت دار سوداګربه د(قیامت په ورځ) دنبیانو، صدیقانو اوشهیدانوسره وي.

---

[1] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: کبرت خیانة ان تحدث اخاک حدیثاً هو لک به مصدق وانت به کاذب. (مشکوٰۃ/۲/۴۱۳/ باب حفظ اللسان والغیبة والشتم)-

یوبل حدیث کې دي: ،،التجار یحشرون یوم القیامة فجاراً. الامن اتقی وبر وصدق.، ،(مشکوة شریف ص ۲٤٤ بروایت ترمذی شریف وغیره)

ترجمه: سوداګر خلک به د قیامت په ورځ بدکار راجګیږي، پرته له هغه کس نه چې تقوا یې اختیار کړې وي او ربنتیایې ویلي وي.

قرض نه ادا کونکي او بې اتفاقي پیدا کونکي تره سره تعلق ختمول

سوال: زما تره زما له پلار نه تقریباً لس کاله مخکې دیولک روپیو مال په دې صورت باندې اخیستی و، چې فلانکي فلانکي دوکان دارته یې ورکوم، کله چې راته له هغه نه پیسې ملاوشي، نو تاته به یې درکړم، دې نه مخکې به یې هم داکار کولو او پیسې به یې واپس کولې دې خل څه وخت تیرید وسره یې پیسې واپس نه کړې، پلار مې ترې د پیسو غوښتنه وکړه، نو تره مې ورته د نقصان بانه وکړه او په یوځای او سمدستي اداکولو نه یې معذرت وغوښت، په دې کې اته کاله تیر شول، دې دوران کې به نه ترې یوازې پلار مې پخپله تقاضا کوله، بلکې زما په ذریعه به یې ترې هم غوښتنه کوله، خو تره به د خراب حالاتو او مختلف بانې کولې. له نن نه دوه کاله مخکې زما پلار وفات شو، کله چې ماله تره نه د پیسو مطالبه وکړه، نو هغه بالکل انکار وکړ، چې زه درته پیسې بالکل نه درکوم، زما ورپاد ولو باندې هغه وویل چې پیسې خو ما باندې نه شته او ثبوت وړاندې کړه، خو دومره ډیرې پیسې نه دي، کله وایي چې ستا پلار ما نه پیسې اخیستې دي. کله څه وایي او کله څه بانه کوي ماد خاندان څه مشرانو ته د دې مسئلې حل کولو باره کې وویل، نو هغه ډیر سخت خفه شو او وېې ویل چې څوک به هم دې معامله کې خبرې نه کوي، د تره حالات مې بالکل سهي نه یوازې اوس بلکې د مخکې نه سهي دي، تره مې کاروباري معاملو نه پرته د کور په معاملو کې میانه روي نه کوي، خاندان والا او نورو خلکو ته شیطاني کول او په مونږ وروڼو خویندو کې بې اتفاقي پیداکولو کې خپل کردار اداکوي، ایا داسې صورت کې مونږ ورسره تعلق ختمولی شو؟

جواب: که یې نه درکوي، نو د قیامت په ورځ به یې درکوي[1] او د تعلق ختمولو خبره داده چې ډیرزیات ورسره تعلق مه ساتئ، خو سلام دعا، پوښتنه کول او جنازې وغیره کې د شرکت کولو تعلق مه ختموئ.[2]

---

[1] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: صاحب الدین ماسور بدینه یشکو الی ربه الوحدة یوم القیامة. (مشکوٰة/ ۲۵۲/باب الافلاس والانظار)۔

[2] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: للمسلم علی المسلم ست بالمعروف: یسلم علیه اذا لقیه، ویجیبه اذا دعاه ویشمته اذاعطس،ویعوده اذا مرض، ویتبع جنازته اذا مات، ویحب له ما یحب لنفسه. (مشکوٰة/ ۳۹۸/ باب السلام)

قرض اداکړه یا یې له څښتن څخه معافي وغواړه؟

سوال: په (۷۰-۱۹۶۹ء) کې ما دسکول یو استاذ نه یوه رساله چې هغه وخت کې د هغې قیمت یوازې (۷۰) پیسې و، قرض واخیسته خو د هغې قیمت مې ادا نه کړ، په دویمه میاشت مې یوه بله رساله هغه دې وعده باندې قرض واخیسته چې د دواړو پیسې به یوځای درکړم او بیا مې دریمه میاشت باندې یوه بله رساله د هغه نه قرض واخیسته، دې وعدې سره چې د دریو واړو پیسې به یوځوورځې وروسته درکړم، خو دنن پورې هغه ورځ نه ده راغلې د هغه د دریو واړو رسالو قیمت ټولې دوه روپۍ اولس پیسې جوړیږي د هغه نه تقریبا یوکال وروسته هغه استاذصاحب د هغو پیسو تقاضا هم وکړه، خو ما ورته بیا بانه وکړه او دنن پورې مې د غه قرض نه دی اداکړې، اوس مسئله دا ده چې زه د هغو رسالو قیمت اداکول نه غواړم، تاسو مهرباني وکړئ او دا راته ووایئ چې د دې خبرې تقریباً نولس کاله شوي دي، زه به هغه اصل پیسې یعنې دوه روپۍ اولس پیسې ورکوم یا به زیاتې ورکوم؟ که زیاتې نوڅه حساب باندې؟ما یو حدیث مبارک اوریدلی دی چې د هغه مفهوم داسې دی چې کوم کس چې له چانه قرض واخست او هغه یې ورته واپس نه کړ، نود قیامت په ورځ به یوازې د دوو پیسو له پاره د هغه داوو سوو قبول شویو لمونځو ثواب ورکول کیږي.

جواب: د دغې درې واړو رسالو قیمت اداکول ستاسو په ذمه باندې واجب دي، خپل استاذ محترم سره ملاوشئ او یا یې خوترې نه معاف کړئ یا چې څومره قیمت درنه هغه وغواړي، ورته ورېې کړئ[۱] او د دغه پیسو والاحدیث کوم چې تاسو بیان کړی دی دا خو مې چیرته نه دی لیدلی البته دقرض او حقوقو معامله ډیرسخته ده، انسان د دمرګ نه مخکې د دې نه ځان خلاصول پکار دي.[۲]

زوی د پلار له مرګ نه وروسته قرض داري سره څنګه معامله وکړي؟

سوال: زما والدصاحب نه یو سړي څه پیسې دقرض په طورباندې اخیستې وې او د هغه په بدله کې یې څه قیمتي سامان دضمانت په طورباندې ایښی و، کله چې مقررشوی وخت تیرېدونه وروسته هغه سړی رانغی، نوما ته مې پلارصاحب وویل چې فلانکي سړي نه دقرض مطالبه وکړه او امانت ورته وریادکړه، څوځله هغه کس ما ته ملاوشو او ما ورته دپلارپیغام ورکړ،

۱] وان کانت عما یتعلق بالعباد فان کانت من مظالم الأموال فیتوقف صحة التوبة منها مع ما قدمناه فی حقوق الله علی الخروج عن عهدة الاموال وارضاء الخصم فی المال او الاستقبال بان یتحلل منهم او یردها الیهم او الی من یقوم مقامهم من وکیل او وارث هٰذا. (شرح فقه اکبر/۱۹٤)۔

۲] وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: رحم الله عبداً کانت لأخیه عنده مظلمة فی عرض او مال فجاءه فاستحله قبل ان یؤخذ. (ترمذي/۲/ ٦۷۰)۔

خوهرځل به يې دزر ملاويدو بانه وکړه، دغه دوران کې زماپلارصاحب وفات شو، له هغه نه څه وخت وروسته ماته هغه کس ملاوشو، ماورته دپلارصاحب دوفات وويل اودقرض مطالبه مې ترې وکړه، هغه کس وويل چې زه هغه پيسې نه شم درکولی اوهغه پيسې راته معاف کړئ اوزماامانت ماته واپس کړئ، دخپل مرګ اودهغه امانت دحفاظت دڅه ګارنټي نه کيدولو وجې ماهغه ته هغه امانت واپس کړ:

۱: ايا دا سهي دی؟

۲: ايا زه دپلارصاحب له طرف نه دغه قرض دارمعاف کولی شم؟

۳: ياکه څه بله طريقه وي، نوهغه بيان کړئ.

جواب: ستاسودپلارله وفات نه وروسته دهغه مال دهغه وارثانوته منتقل شو[۱]، اوس که چيرته تاسودخپل پلاريواځې وارث يئ اوبل څوک وارث نه شته، نوتاسويې معاف کولی شئ اوکه چيرې نوروارثان يې هم شته، نودخپلې برخې پيسې خوپخپله باندې معاف کولی شئ اونورو وارثانوسره دمعاف کولوخبره کولی شئ[۲] (دې شرط سره چې ټول وارثان بالغ اوعقل لرونکي وي)

دګانې کټه استعمالول

سوال: زموږعلاقه کې دګانې کولورواج ډيرعام دی چې هغه ته ځينې عالمانوجائزويلې دي، ددې درې طريقې دي:

۱: فرض کړئ (الف) د (ب) نه لس زره روپۍ قرض واخيستې، (ب) ددې په بدله کې د(الف) ځمکه ګانه کړه، اوس (ب) به د(الف) دځمکې فصل هغه وخت پورې خوري ترکوم وخت پورې چې (الف) پوره لس زره روپۍ واپس نه کړي.

۲: دې طريقه کې به (ب) (الف) ته لس فيصده ماليه ورکوي.

۳: دې طريقه کې به (ب) (الف) ته دفصل دنيم قيمت برابرپيسې ورکوي، يابه يې خپلو پيسو کې کموي...... جناب مولانا! يوه خبره دا که چيرې محنت، تخم اوغويان د(الف) وي اويامحنت، تخم اوغويان د(ب) وي، نوڅه اثربه پرې غورځيږي؟ تاسو دې شرعي حيثت نه موږخبرکړئ، چې خلکوته ستاسوفتوا وښودل شي.

جواب: دګانه کيښودل شوي شي مالک، ګانه کونکی دی اودهغه ګټه اوپيداوارهم دهغه

۱]تعريف الارث. . . . . . في الاصطلاح انتقال الملكية من الميت الى ورثته الأحياء سواء كان المتروك مالاً، اوعقاراً، او حقاً من الحقوق الشرعية. (المواريث في الشريعة الاسلامية/ ٣٤)_

۲] وعبارته (جامع الفصولين) قال احد الورثة: برأت من تركة ابي يبرأ الغرماء عن الدين بقدر حقه لأن هٰذا ابراء عن الغرماء بقدر حقه، فيصح. . . . الخ. (غمز عيون البصائر شرح الحموى على الأشباه والنظائر/ ٥٤/٣/ الفن الثالث الجمع والفرق/طبع ادارة القرآن) _

ملکیت دی[1] کوم کس سره چې دا ګاڼه کیښودل شوي ده، هغه نه دګاڼه شوي شي مالک دی اونه دهغه دپیداوار، بلکې داټول شیان دهغه سره امانت دي کله چې مالک د قرض پیسې واپس کړي، داټول شیان به دهغه نه وصول کړي، چا سره چې ګاڼه کیښودل شوي وي هغه له پاره دګاڼه شي ګټه اودهغې پیداوارخوړل سود دی اوداشرعي طورباندې حرام دي

عن علی امیر المؤمنین مرفوعاً کل قرض جر منفعة فهو ربا. (اعلاء السنن/۱٤/ ٥۱۲/ باب کل قرض جر منفعة فهو ربا). ایضاً: ولا یجوز اجر الرهن، ولا یخرج من ید المرتهن الا بعد قضاء الدین، ولا ینتفع به و ذٰلک لأن فی اجارته استحقاق یدالمرتهن وفی ذٰلک ابطال الرهن. (شرح مختصر الطحاوي/۳/ ۱٤۹/ کتاب الرهن). ایضاً: لا یحل له ان ینتفع بشيء منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لأنه اذن به فی الربا ولأنه یستوفی دینه کاملاً فتبقٰی له المنفعة فضلا فیکون رباً. (ردالمحتار/ ٦/ ٤۸۲/ کتاب الرهن)۔

د نامعلوم کس قرض څنګه اداکړل شي؟

سوال: که چیرته موږ له چانه یوشي قرض واخیست، دهغه نه وروسته موږ دهغه ځای نه بل ځای ته لاړو، بیایوه ورځ دهغه شی هغه ته واپس کولو له پاره دهغه کورته لاړو، نومعلومه شوه چې هغه کس خوهغه کوږ پریښودلوسره دهغه ځای نه تللی دی، هغه کس موږ ډیرزیات وکوت، خو هغه پیدانه شو، نوتاسووواییئ چې دهغه کس قرض څنګه واپس کړو؟

جواب: ددې حکم دورک شوي شي دی، دکوم شي چې مالک پیدا نه شي هغه شی دمالک له طرف نه صدقه کول پکاردي

[1] (لا انتفاع به مطلقاً) لا باستخدام ولا سکنٰی ولا لبس ولا اجارة ولا اعارة سواءً کان من مرتهن او راهن الا باذن کل للآخر وقیل لا یحل للمرتهن لأنه ربا وقیل ان شرطه کان ربا والا لا. (درمختار/٦/٤۸۲). قال فی الاختیار: ویهلک علی ملک الراهن حتی یکفنه لأنه ملکه حقیقة وهو امانة فی ید المرتهن. (ردالمحتار/ ٦/٤۷۹/ کتاب الرهن)۔

❖ امانت ❖

....

که د امانت پیسې غلا شي، نوشرعي حکم يې څه دی؟

سوال: یو کس چې کله دبهرملک نه خپل ملک ته تلو، نوهغه یودوست سره څه پیسې دامانت په طورباندې کیښودې، چې کله واپس راشم، نوداپیسې به درنه اخلم، بیابهرملک ته ولاړ نه اود دوست ورته څوځله یادولو باوجود هغه هغه پیسې واپس راونه غوښتې، دغه دوران کې يې دهغه ملګري بریف کیس چې هغې کې دغه پیسې هم وې، چاپټ کړ، تاسووایئ چې دې حالاتوکې به هغه دوست ټولې پیسې واپس کوي؟

جواب: که چیرته دامانت پیسې هغه محفوظې ساتلې او غفلت يې پکې نه کاو، نودهغه په ذمه باندې ددې اداکول لازم نه دي[۱] خوکه چیرې هغه دامانت دپیسوحفاظت نه کاو اوهغه يې محفوظې نه وې ساتلې، بلکې هغه يې خرچ کړې وې، یايې په کې خپلې پیسې داسې یوځای کړې وې چې دواړوکې فرق نه کېده، یايې دهغو په حفاظت کې غفلت کاو، نواداکول يې لازم دي.[۲]

دامانت پیسو دورکیدو ذمه داري په چا باندې ده؟

سوال: یوپروګرام کې زیدبکرسره یوشی کیښود چې دپروګرام ختمیدونه وروسته به يې درنه واخلم، خودبکرنه هغه ورک شو، ایا زید د بکرنه دشي دنیم یاټول قیمت اخیستلوحق لاردی؟

جواب: کوم کس سره چې شی امانت کیښودل شوی و، که چیرې دهغه دبې پروایې له وجې نه وي ورک شوی، نودهغه قیمت نه شي اخیستل کیدای.[۳]

۱](وهی امانة) هٰذا حکمها مع وجوب الحفظ والأداء عند الطلب واستحباب قبولها فلا تضمن بالهلاک (مطلقاً) سواء امکن التحرز ام لا، هلک معها شيء ام لا لحدیث الدار قطنی لیس علی المستودع غیر الفعل ضمان. (ردالمحتار/٥/ ٦٦٤). ایضاً: والأمانة غیر مضمونة فاذا هلکت او ضاعت بلا صنع الأمین ولا تقصیر منه، لا یلزمه الضمان. (شرح المجلة/٤٢٦/ رقم المادة: ٨٦٨، الباب الاول فی احکام عمومیة تتعلق بالأمانات)_

۲] وکذا لو خلطها المودع بجنسها او بغیره بماله او مال آخر بغیر اذن المالک بحیث لا تتمیز الا بکلفة. . . . . ضمنها لاستهلاکه بالخلط. . . . . ولو انفق بعضها فرد مثله فخلطه بالباقی خلطاً لا یتمیز معه ضمن الکل. (درمختار/٥/٦٦٨، ٦٦٩/کتاب الایداع)_

۳] ایضاً اوګورئ تیره شوی حواله ((وهی امانة) هٰذا حکمها مع وجوب الحفظ والأداء عند الطلب...الخ)

چا نه یوش په عاریت اخیستل او بیایې نه واپس کول کبیره ګناه ده

سوال: زمونږ علاقه کې یو سړی دی هغه چې چاسره ښه شی ويني، نوهغه د کتلوله پاره واخلي اوبیا يې نه واپس کوي، ایا دهغه له پاره داسې کول جائزدي؟

جواب: کوم شی چې چانه وغوښتل شي، نوهغه داخیستونکي سره امانت وي[۱] اوهغه نه واپس کول په امانت کې خیانت کول دي او خیانت کول کبیره ګناه ده. [۲]

کوم کس چې د امانت نه انکارکوي هغه باندې قسم لازم دی

سوال: سوال دادی چې یوکس سره امانت کیښودل شو، هغه کس دامانت دوجودنه انکارکوي، دقسم اخیستو نه هم انکاري دی، دقران مجید حلف ته ناجائزوایي، اوس څه کول پکاردي؟

جواب: کوم کس سره چې امانت کیښودل شوی و، که چیرې هغه انکارکوي، نوشرعي طورباندې دهغه په ذمه باندې قسم لازم دی، نویاخودې هغه دعوه کونکي ته هغه شی واپس کړي، یادې قسم وکړي[۳] اوکومومسلمانانوته چې ددې پته وي هغوی دې هم دمظلوم مدد وکړي، که نه هغوی ټول به هم ګناهګاروي. [۴]

له اجازې پرته د هغه ټیلیفون استعمالول خیانت دی او هغومره بل ادا کول شرعا او اخلاقا لازم دی

سوال: یو سړی په سفر باندې ځي او خپله ښځه د یو نژدې خپلوان په کور کې پریږدي، څکه چې د هغه ښځه یوازې اوناروغه هم ده، دهغې خپلوان د خپل کور د کارونو له پاره د هغه سړي ټیلیفون استعمالوي، په دې صورت کې چې د ټیلیفون بل زیات راشي، نو ادا کول یې د چا په ذمه دي؟

جواب: د ښځې خپلوانو ته د هغې د خاوند له اجازې پرته د ټیلیفون استعمال جائز نه و، د دې

۱]کتاب العارية. . . هي . . . . شرعاً تمليک المنافع مجانا. . . . . . وحكمها كونها امانة. (الدرالمختار /كتاب العارية/٥/٦٧٦). وفى الحديث لا ايمان لمن لا امانة له. (مشكوٰة/١٥/ كتاب الايمان/الفصل الثانى)۔

۲]عن ابي هريرة رضی اللہ عنہ ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: آية المنافق ثلاث اذا حدث كذب، واذا وعد اخلف، واذا اؤتمن خان. (سنن نسائي/٢/٢٣٢/ طبع قديمى)۔

۳]قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: البينة على المدعى واليمين على المدعٰى عليه. (مشكوٰة/ باب الأقضية والشهادات/٣٢٧/ طبع قديمى)۔

٤] وقال عليه الصلاة والسلام: انصر أخاک ظالماً أو مظلوماً، فقال رجل: يا رسول الله انصره مظلوماً، فكيف انصره ظالماً؟ قال: تمنعه من الظلم فذٰلک نصرک آياه.(مشكوٰة/٤٢٢/باب الشفعة والرحمة على الخلق)

بل اداکول شرعا او اخلاقا هم ددې خپلوانو په ذمه دی چاچې په امانت کې خیانت کړی دی.[۱]

که امانت کیښودل شوی قیمتي شی غلا یا ورک شي، نو د چا په ذمه به وي؟

سوال: یو دکان دار د یو سړي سره یو قیمتي شی یا پیسې د امانت په طور کیښودې، الله مه کړه که هغه د هغه نه غلا یا ورکې شي، نو دهغه قیمتي شي کوم چې هغه سره د امانت په طور کیښودل شوی دی، د هغه په ذمه به وي یا که د هغه چا چې امانت یې ایښی و، ذمه دار به څوک وي؟

جواب: کوم سړي سره چې هغه شی امانت کیښودل شوی دی، که هغه په امانت کې خیانت ونکړ د هغه یې پوره حفاظت وکړ او د هغې باوجود ترې غلا شو،نو د کوم سړي شی چې غلا شوی دی نقصان به هم د هغه وي، چا سره چې امانت کیښودل شوی و د هغه ذمه فارغه ده. [۲]

د امانت پیسې که د چا نه په زورواخلي، نو ایا ضمان لازمیږي؟

سوال: ماته یو مسئله پیښه شوه، چې له وجې یې زه په سخت اضطراب او کافي پریشانۍ کې یم، مسئله داده چې زه تیر کال د ابوظبي نه پاکستان خپل وطن ته راتلم، دلته (د ابوظبي نه د روانیدو نه مخکې د عام دستوراو رواج مطابق دوستان احباب د خپل خپلوانو له پاره ډالۍ یا د کورونو د خرچو له پاره پیسې وغیره ورکوي، ماته هم خلکو پیسې، یعنې نغد درهم راکړل، کوم چې تقریبا دیرش زره و، ددې نه پرته زما ذاتي شل زره دراهم و کوم چې یوځای کولو سره پنځوس زره درهم شو، چې کله زه د ابوظبي نه اسلام اباد ائیرپورټ ته راغلم، نو هلته زما خپلوان د خپل ګاډي سره موجود و، زما تعلق د ازاد کشمیر سره دی، زه خپل کور ته روان شوم، تقریبا یو دوه کلومیټره لانه وم تللی چې په یو بل ګاډي کې سورو کسانو د ګاډي د درولو اشاره وکړه د ګاډي ددرولو نه وروسته د ګاډي سړي خپل تعلق د سي آئي اے اداره سره ښکاره کولو باندې زما تلاشي اخیستل شروع کړل د تلاشي په دوران کې زما ټول مال چې تقریبا پنځوس زره دراهم و هغه یې واخیستل او وتښتیدل، ترڅو پورې چې دوه میاشتې په پاکستان کې وم د هغې د حصول په کوشش کې وم، خو هیڅ راته حاصل نه شو، چې زه واپس ابوظبي ته راغلم، نو دلته چې کومو درې ملګرو ماته د خپل کور د خلکو له پاره کومې پیسې

---

[۱]]لا یجوز لأحد ان یتصرف فی ملک غیره بلا اذنه، او وکالة منه او ولایة علیه وان فعل کان ضامناً. (شرح المجلة لسلیم رستم باز/۶۱/ المادة: ۹۶/ طبع مکتبه حبیبیة کوئته). تصرف الانسان فی مال غیره لا یجوز الا باذنه او ولایة. (الجوهرة النیرة/۱/ ۲۸۷/ کتاب الشرکة). الا لا یحل مال امرئٍ الا بطیب نفس منه. (مشکوٰة/ ۲۵۵).

[۲]] وهی (ای الودیعة) امانة هٰذا حکمها مع وجوب الحفظ والأداء عند الطلب. . . . . . . فلا تضمن بالهلاک. . . . . . . مطلقاً والودیعة امانة فی ید الودیع فاذا هلکت بلا تعد منه وبدون وتقصیره فی الحفظ لا یضمن. (شرح المجلة/ لسلیم رستم باز/۴۳۱/ رقم المادة: ۷۷۷).

راکړې وي د هغو د واپس غوښتلو یې زما نه مطالبه شروع کړه، ما دلته د یو عالم نه د دې مسئلې په باره کې پوښتنه وکړه، نو هغه وفرمایل چې د ضائع شویو پیسو واپسي ستا په ذمه نه شته، اوس تاسو ته درخواست دی چې د قرآن او سنت په رڼا کې زما په دې مسئله کې رهنمايي وکړئ.

جواب: تاسو د هغه حضراتو پیسې د امانت په طور راوړې وې او که د امانت پیسې پرته د څه اختیاري عمل نه ضائع شي، نو د هغه پیسو واپسي ستاسو په ذمه نه ده، ددې خلکو مطالبه شرعا ناجائز ده. [1]

ایا د امانت نه قرض ورکول جائز دي؟

سوال: ماسره د خلکو قسطونه(کمیټی)جمع کیږي،ډیرخلک یا زما جینکۍ ملګرې قرض غواړي، یعنې د قرض ادا کولو له پاره، یا د ناروغۍ نه د علاج له پاره یا د سکول او کالج یا د امتحان د فیس د ادا کولو له پاره یا په بل څه ضرورت کې، زه هغوی ته ورکوم، خو د چا د قسط چې نمبر وي هغه ته په وخت باندې ادا کیږي، ځکه چې د جمع شویو پیسو نه قرض ورکوم، هغه هم د وعدې مطابق واپس ملاو شي، ایا دا عمل شرعا جائز دی ځکه چې پیسې د نورو خلکو وي؟

جواب: تاسو سره چې دقسطونو کومې پیسې جمع کیږي هغه امانت دي، که تاسو د ټولو برخه لرونکو نه دا اجازه واخلئ، نو بیا دا پیسې خرچ کولی شئ، که نه، نو نه. [2]

امانت کیښودل شوی مال خرڅولو سره ګټه اخیستل شرعا صحیح نه دي

سوال: یو صاحب سره زما مال د امانت په طور پروت و، کوم چې هغه زما له اجازې پرته استعمال کړ، اوس هغه ماته د دې پیسې یا قیمت په خپله خوښه ادا کول غواړي، مال د ګټې په صورت کې و او په مارکیټ کې نه و د دې مال د هغه صاحب په استعمالولو سره زما تقریبا د څلویښتو لاکو روپیو اړډر منسوخ شو، هغه مال مې چاپ کولو سره سپلائي کړ، چې د هغه له وجې نه ماته سخت مالي نقصان وشو او د اړډر د منسوخ کیدو له وجې نه اوس هغه مال زما د هیڅ کار نه دی، د پارټۍ وینا ده چې اوس تاسو د مال په بدله کې مال واپس واخلئ اویا د هغې بیان کړی قیمت.

---

[1]]وهي (اى الوديعة) امانة هٰذا حكمها مع وجوب الحفظ والأداء عند الطلب......فلا تضمن بالهلاك . . . مطلقاً سواء امكن التحرز ام لا هلك معها شيء ام لا لحديث الدار قطني، ليس على المستودع غير المغل ضمان، واشتراط الضمان على الأمين باطل به يفتٰى....الخ. (درمختار مع الشامي/ ٥/٦٦٤/ كتاب الايداع).

[2]]لا يجوز لأحد ان يتصرف في ملك غيره بلا اذنه او وكالة منه او ولاية عليه وان فعل كان ضامناً. (شرح المجلة لسليم رستم باز/ ٦١/المادة: ٩٦).

جواب: هغه سړي ستاسو په امانت کې خيانت کړی دی، له دې وجې د هغه ګټه شرعا سهي نه ده او اوس تاسو د هغې قيمت اخيستی شئ، هغه مال اوس ستاسو د هيڅ کار نه دی له دې وجې د مال په بدل کې مال ورکول خو غلط دي او کوم قيمت چې هغه ورکول غواړي هغه هم غلط دی، بلکې تاسو مناسب قيمت وصول کولی شئ. [۱]

❖ رشوت ❖

....

نوکري له پاره د رشوت ورکولو او اخيستلو شرعي حکم

سوال: رشوت اخيستونکي اورشوت ورکونکي دواړه دوزخيان دي، خو د معاشرې ځينې خرابيانو له وجې اخيستونکی دطاقت مالک وي اوپه زورباندې رشوت اخلي اورشوت ورکونکی په رشوت ورکولوباندې مجبوروي، ځکه که چيرته هغه انکارکوي، نودهغه کار بنديږي، ځکه چې ځينې کارونه داسې دي چې دهغو نه پرته معاشره کې اوسيدل نه شي کيدای اوځينې خلکو د نوکريو ورکولو له پاره هم رشوت اخلي اوايا نوکري حاصلونکی کس کوم چې رشوت ورکولو باندې نوکري حاصلوي، دهغه ګټه به حلاله وي؟ ځکه چې داسې کس هم په خوشالي باندې رشوت نه ورکوي، نودې حالاتوکې درشوت اخيستونکي اورشوت ورکونکي، دواړوله پاره څه حکم دی؟

جواب: رشوت اخيستونکي خوپه هرحالت کې د(في النار) مصداق دی[۲] اود رشوت ورکونکي باره کې دا ويل شوي دي چې دظلم ختمولو له پاره رشوت ورکړل شي، نواميددی چې الله تعالی به مواخذه نه کوي[۳] رشوت ورکولو باندې چې کومه نوکري حاصله شي، هغه

---

[۱] وفى المحيط البرهاني فى الفقه النعمانى (ج:٦/٣٢٩/ طبع غفارية كوئة) فى ردالوديعة فى الأصل اذا كانت دراهم او دنانير او شيئا من الوكيل والموزون، فانفق المودع طائفة منها فى حاجة نفسه كان ضامناً لما انفق منها. وفى شرح المجلة لرستم باز (٤٤٦/ رقم المادة: ٨٠٣) الوديعة متى وجب ضمانها، فانكانت من المثليات تضمن بمثلها، وان كانت من القيميات تضمن بقيمتها يوم لزوم الضمان.

[۲] الراشي والمرتشي فى النار. (كنز العمال/٦/١١٣/ حديث نمبر: ١٥٠٧٧، ايضاً: المطالب العالية/٢/ ٢٤٩/ باب ذم الرشوة لابن حجر عسقلانى رحمه الله). الرشوة على وجوه اربعة. . . . . . ولم ار قسماً يحل الأخذ فيه دون الدفع. (البحرالرائق/٦/٢٨٥/كتاب القضاء/ طبع دار المعرفة/ بيروت)۔

[۳] الرشوة اربعة اقسام. . . . . . . الرابع: ما يدفع لدفع الخوف من المدفوع اليه على نفسه او ماله حلال للدافع حرام على الآخذ لأن دفع الضرر عن المسلم واجب ولا يجوز اخذ المال ليفعل الواجب. (فتاوي شامي/كتاب القضاء/ ٥/ ٣٦٢). ايضاً: ولا بأس بالرشوة اذا خاف على دينه (وفى الشامية). . . . . دفع المال للسلطان الجائر لدفع الظلم عن نفسه وماله،ولاستخراج حق له ليس برشوة[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

کې تفصيل دادی که چيرې هغه کس د دغې نوکرې اهل وي او کوم کارچې هغه ته حواله شوی وي هغه سهي کوي، نو د هغه تنخوا حلاله ده (اګرچې د رشوت ګناه به وي) او که چيرته هغه د دې کار اهل نه دی، نو تنخوا هم حلاله نه ده. [۱]

په امتحان کې د کاميابۍ له پاره رشوت ورکول

سوال: ډير زده کوونکي په امتحان کې محنت نه کوي او په نتيجه(رزلټ) کې د ښه پوزيشن او نمبرو زياتولو له پاره بې دريغه پيسې ورکوي، دغه شان د حق دارو حق وهل کيږي او نا اهل د پيسو په زور باندې په کاغذاتو کې خپل قابليت زيات کړي، ځينې والدين پخپله د خپلو بچيو د ښه پوزيشن راوستو له پاره دولت خرچ کوي داسې عام طور د ميټرک د رزلټ په موقع باندې کيږي ځکه چې ميټرک پاس کول د طالب علم د بهتر مستقبل بنياد دی، اسلامي نقطه نظر سره داسې حاصل شوي پوزيشن باندې چې کوم روزګار وکړل شي، ايا هغه به سهي وي، ايا دا به په ګناه کې شمارل کيږي؟ ځينې والدين خپله دا طريقه اختياره وي او ماشوم د لا علمي له وجې نه هغه بده نه ګڼي، دا وضاحت هم وکړئ چې که د داسې کولو نه وروسته انسان خپل ضمير ملامته کوي، نو څه کول پکار دي؟

جواب: دا رشوت دی[۲] او د رشوت حرام کيدل ټولو ته معلوم دي او که غلطي يې کړې وي، نو د توبې نه پرته بل څه مخ نيوی کيدای شي؟

ايا د رشوت ورکولو په خاطر د رشوت اخيستل هم عذر نه دی؟

سوال: يو پوښتنه کونکي تاسو نه پوښتنه کړې ده چې: داسې موقع باندې کله چې د خپل حق حاصلولو له پاره ناحق پيسو ورکولو نه پرته کار نه کيږي، پيسې ورکول چې د بل حق هم ونه وهل شي، رشوت دی او که نه؟ تاسو ورته جواب ورکړ چې د ظلم ختمولو له پاره رشوت ورکړل شي، نو اميد دی چې دې باندې به مواخذه نه وي، نو لکه رشوت ورکول په هر حالت کې حرام دي، يعنې رشوت اخيستل په هرحالت کې حرام دي او که داسې مجبوري وي، نو رشوت ورکونکي دې رشوت ورکړي او اميد دې ساتي چې دا ګناه به معاف شي.

بقيه د تيرمخ]... يعنى فى حق الدافع. (فتاوىٰ شامي/٦/٤٢٤/ الحظر والاباحة).

١] كتاب الاجارة: واما ركنها فهو الايجاب والقبول والارتباط بينهما واما شرط جوازها فثلاثة اشياء، اجر معلوم وعين معلوم وبدل معلوم ومحاسنها دفع الحاجة بقليل المنفعة، واما حكمها فوقوع الملک فى البدلين ساعة فساعة. (البحر الرائق/٨/٣/كتاب الاجارة/طبع دارالمعرفت/ بيروت). ايضاً: لا يجوز عقدها حتى يعلم البدل والمنفعة وبيان المنفعة بأحد ثلاث بيان الوقت وهو الأجل وبيان العمل والمكان فالأجر ببيان النقد. (البزازية على هامش الهندية/٥/١١/كتاب الاجارة).

٢]الرشوة مال يعطيه بشرط ان يعينه كذا فى فتاوى قاضيخان. (مجموعة قواعد الفقه/ ٣٠٧/ البحرالرائق /٦/٢٨٥/ كتاب القضاء).

رشوت اخیستل اورشوت ورکول دواړه حرام دي او دواړو باندې دالله تعالی دلعنت خبرورکړل شوی دی، بیاداللہ تعالی دا حکم دی چې کوم شی الله تعالی حرام کړی دی، هغه حلال اوکوم شی یې چې حلال کړی دی هغه مه حراموئ، تاسوعالم یئ، تاسوته زمانه ددې خبروزیات علم اوخبردی، که چیرته دا ومنل شي چې د مجبوري په حالت کې رشوت ورکولوسره دهغې ګناه نه دخلاصي امیدکیدای شي، نوبیا دنورو ډیرجرمونو دکولو جواز پیدا کیدای شي، مثلاً: یوسړی دبې روزګاري په حالت کې غلاکوي، چې دخپلو بچیوخیټه مړه کړي، نودې باره کې هم ویل کیدای شي چې هغه به دغلا دګناه اوسزانه بچ شي دغه شان ددروغوویلونه پرته د ډیر نقصان خطره وي، نو دضرورت له پاره د دروغو ویلومعافي هم کیدای شي، دډیرزیات جذباتوله وجې زناګونکي سره هم رعایت کیدای شي اوداسې نور..... زمامحترمه لږشان غوروکړئ! درشوت په شان بالکل حرام شي کې رعایت ورکولوسره خبره دکوم ځای نه کوم ځای ته رسیږي؟

دې نه پرته ستاسودفتوا له وجې په لوستونکو باندې څه اثرغورځیږي؟ دې باندې غور وکړئ، داخوښکاره خبره ده چې خلک دمجبوري له وجې رشوت ورکوي، که نه، د دفترونو چکرونه لګوه اوکار نه کیږي په رضااوخوشالي باندې څوک هم رشوت نه ورکوي بل طرف دا هم حقیقت دی چې زمونږ دملک معاشرتي اومعاشي حالات داسې دي چې رشوت اخیستونکي هم څه حد پورې دمجبوري له وجې رشوت اخلي، ستاسوفتوا به عواموباندې دا اثروي چې یوڅوداسې خلک چې هغوی رشوت ورکول بالکل حرام ګڼي اوددې منع کولوحوصله لري، هغوي به داګڼلو سره چې مجبوري اوتکلیف (کومې ته چې تاسوظلم ویلې دي) نه بچ کیدوپه صورت کې رشوت ورکولو اوددې دګناه نه دبچ کیدو امید شته، اوس به خپل موتبې په اساني باندې سست کړو.

مولاناصاحب! درشوت داعذاب کوم چې دې ملک باندې نازل دی، تاسواندازه کړی دی؟ درشوت له وجې دحکومت ټول نظام ګډوډ شوی دی، دقران اوکتاب حکمراني یوبې معنا شان خبره جوړه شوې ده، انصاف ددې له وجې ختم شوی دی، حلال رزق حاصلول چې هغه د مسلمان له پاره دایمان قائم ساتلوذریعه ده، یوازې یوخوب جوړشوی دی، مختصرداچې دایمان والوپه معاشره کې یهودیت (سرمایه پرستي) زیاتیږي، ایا رشوت دهغو جرمونو داثراتو نه کم دی، دکوموحدچې قران کې مقررشوی دی؟ نن درشوت بداثرات دهغو جرمونو نه هم زیات دی، نوضرورت ددې خبرې دی، چې درشوت منع کولوله پاره څه وکړل شي.

اودعواموپه زړه اودماغوکې داخبره کینول پکاردي چې د حراموګټه اومسلمان ژوند یوځای نه شي تیرولی اودې سره حکومت هم دې خبره باندې راضي کول چې دمعاش باره کې دقران کریم دحکمونونافذکول دهغوی ترجیح وي اودرسول پاک ﷺ اوصحابه کرام رضی اللہ عنہم ساده ژونددخپل ځان له پاره نمونه جوړکړل شي امیدلرم چې ددې خبرو له پاره به تاسومامعاف کړئ

او د يو درد لرونكي زړه اوازه ګڼلوسره به معافي وكړئ.

جواب: ستاسو خط زموږ د معاشرې له پاره هم او د حكومت كاركنانو له پاره هم د عبرت قابل دی او ما چې كومه مسئله ليكلې ده، كه چيرته مظلوم د ظلم ختمولو له پاره رشوت وركړي اود خونخوارو درندګانونه خپل ځان خلاص كړي، نواميددی چې دې باندې به مواخذه نه وي[1] دامسئله په خپل ځای باندې صحيح ده، اخرمظلوم ته خوپه څه طريقه باندې دتسلي وركولو حق ملاويدل پكاردي، عامو حالاتوكې چې درشوت كوم لين دين وي، دامسئله دهغه باره كې نه ده.

د ظلم ختمولو له پاره د رشوت جواز

سوال: تاسويوجواب كې ليكلي و، چې دظلم ختمولوله پاره رشوت وركول جائزدي، حالانكې رشوت اخيستونكی اووركونكی دواړه ملعون دي، بياتاسودجوازقول ولې فرمايلی دی؟

جواب: درشوت باره كې چې جناب په ماباندې كوم اعتراض كړی دی، مادخپل شكست اعتراف سره دغه بحث ختمول غوښتل، خو تاسوداهم محسوسه كړې ده، نوزه يوځل بيا مختصر طور باندې عرض كول غواړم، كه چيرته دهغې نه شفا نه وي، نوبيا شئ چې زه ددې نه زيات عرض كولونه معذوريم.

ستاسوداخبره بالكل صحيح ده چې رشوت بالكل حرام دی، الله تعالى اودهغه رسول ﷺ په رشوت وركونكي اواخيستونكي دواړوباندې لعنت كړی دی[2] اودې باندې يې ورته ددوزخ وعيد اوروليی دی[3] خوتاسوته به معلومه وي چې داضطرارپه حالت كې دمرداردخوراک هم اجازه شته[4]، همدغه حالت درشوت وركولوهم دی، يوكس ديوظالم حواله كې دی، هغه د ظلم ختمولوله پاره رشوت وركوي، دامت فقهاء دې باره كې فرمايي چې: اميددی چې دې باره كې به مواخذه نه وي اوهمدغه ماليكلي وو، ښكاره خبره ده چې دې باندې دعام حالاتو

---

[1] ولا بأس بالرشوة اذا خاف على دينه قال الشامي رحمه الله عبارة المجتبى لمن يخاف وفيه ايضاً دفع المال للسلطان الجائر لدفع الظلم عن نفسه وماله ولاستخراج حق له ليس برشوة يعني في حق الدافع. (ردالمحتار/٦/ ٤٢٤/ الحظر والاباحة). ومنها: اذا دفع الرشوة خوفاً على نفسه او ماله فهو حرام على الآخذ غير حرام على الدافع، وكذا اذا طمع في ماله فرشاه ببعض المال. (البحرالرائق/٦/٢٨٥/طبع بيروت)۔

[2] لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الراشي والمرتشي. (ابوداؤد/٢/١٤٨/ باب في كراهية الرشوة)۔

[3] الراشي والمرتشي في النار. (كنز العمال/١/ ١١٣/ رقم الحديث: ١٥٠٧٧، ايضاً: المطالب العالية/لابن حجر عسقلانی/٢/ ٢٤٩/ باب ذم الرشوة)۔

[4] قال تعالي: "قل لا أجد في ما اوحي الى محرما على طاعم يطعمه الا ان يكون ميتة. . . . . . فانه رجس او فسقا اهل لغيرالله به فمن اضطر غير باغ ولا عاد فان ربك غفور رحيم. (سورة: ٦، الانعام/١٤٥)۔

قانون نه نافذ کیږي، نو رشوت اخیستل خوپه هرحالت کې حرام دی او کبیره ګناه ده[۱] او د رشوت ورکولو دوه صورتونه کیدای شي: یوداچې د جلب منفعت له پاره رشوت ورکړل شي، دا حرام دي او همدغه مطلب دی دهغه حدیثونو کوموکې چې د رشوت باره کې وعیدونه راغلي دي.[۲]

او دویم صورت داچې د ظلم ختمولو له پاره رشوت ورکولو باندې مجبوروي، دې باره کې فقهاء فرمایي چې: امید دی چې دې باره کې به مواخذه نه وي[۳]، دې باره کې د جناب دا فرمایل چې زه د الله تعالی او دهغه رسول ﷺ په مقابله کې د فقهاء تقلید باندې زور کوم، ډیر افسوس ناک الزام دی له دې وجې مالیکلي دي چې: تاسوماشاء الله پخپله باندې (مجتهد) یئ، د مجتهد په مقابله کې مقلد غریب څه کولی شي؟ ستاسو دا فرمایل چې عوام په عالمانو باندې اعتماد کوي، خوهغوی کې خلوص پکاردی، سهي ده، خو تاسو خود بې اعتمادي خبره کړې ده، چې هغه باندې مادخپل شکست اعتراف وکړ.

د مجبوري په حالت کې رشوت اخیستل

سوال: څو ورځې وړاندې زما ملاقات یو هم صنفي (کلاس فیلو) سره وشو، چې هغه اوس د ازاد کشمیر په یوځنګل کې د فارسټر په حیثیت باندې نوکردی، ما هغه سره د رشوت باره کې خبره وکړه، نو هغه چې څه کیسه بیان کړه هغه داسې وه:

زما بیسک تنخوا درې سوه پنځویشت (۳۲۵) روپۍ ده، ټول الاونس وغیره چې ورسره یوځای شي، نو ټولې څلورسوه روپۍ تنخوا جوړیږي، زما ډیوټي چې کوم ځنګل باندې ده هغه زموږ له کورنه پنځلس کلومیټره لرې دی، زما د تلو راتلو کرایه، زما ښځه او بچې چې د هغوی تعداداووه دی، د هغوی د خوراک څښاک انتظام کول، جامې، بوټان، علاج او داسې نور...، میلمانه، غرض داچې د نیا کې چې کوم نظام دی هغه ماته په جائز طریقه باندې چلول وي او زما ځنګل ته په دوره باندې راتلونکي د ځنګلاتو افسران چې هغوی کې ایف ډي او رینجر صاحب او نور

۱] او ګورئ تیره شوی حاشیه (الراشي والمرتشي فی النار. . . . الخ، الرشوة علی وجوه اربعة. . . . . . الخ. (البحرالرائق/٦/٢٨٥/کتاب القضاء/ طبع دار المعرفة/ بیروت)۔) او وړپسی حاشیه (الرشوة اربعة اقسام. . . . . . . الرابع: ما یدفع لدفع الخوف من المدفوع الیه. . الخ)

۲] وفی الخانیة: الرشوة علی وجوه اربعة: منها ما هو حرام من الجانبین. . . . . . الثانی اذا دفع الرشوة الی القاضی لیقضی له حرم من الجانبین سواءً کان القضاء بحق او بغیر حق. (البحرالرائق/٦/٢٨٥). ایضاً: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم: الراشی ای معطی الرشوة والمرتشی ای آخذها. . . . . . وانما یلحقهم العقوبة معاً اذا استویا فی القصد والارادة، ورشا المعطی لینال به الی الظلم فاما اذا اعطی لیتوصل به الی حق او یدفع عن نفسه ظلماً فانه غیر داخل فی هٰذا الوعید. (بذل المجهود، کتاب القضاء/ ٤/ ٣٠٧)۔

۳]ومنها: اذا دفع الرشوة خوفاً علیٰ نفسه او ماله فهو حرام علی الآخذ غیر حرام علی الدافع، وکذا اذا طمع فی ماله فرشاه ببعض المال. (البحرالرائق/٦/ ٢٨٥/ کتاب القضاء)۔

افسران تردې پورې چې دازاد کشمیرصدرهم کال کې یوځل دوه دوره کوي، اوس دهغوی ټولوخلکو د دوروپه دوران کې چې کومه خرچې کیږي، هغه دهغې علاقې دفارسټراوپټواري په ذمه وي، چې هغه کله هم ددوه درې زرونه کمه نه وي، ته ماته دا ووایه چې زه اوپټواري په دغه درې زره دکوم ځای نه ورکوو که رشوت وانه خلو؟ داسوال هغه مانه کړی و جواب یې تاسوورکړئ، چې ایا دې حالاتوکې رشوت اخیستل څنګه دي؟

جواب: رشوت اخیستل خوګناه ده[۱] اوس دغه سړی څه وکړي؟ ددې جواب خوافسران ورکولی شي پکارداده چې نوکرانوته دومره تنخوا ضرورورکړل شي چې هغې باندې هغوی دخپلو بچیو پالنه کولی شي اوهغوی باندې اضافی بوج کوم چې سوال کې ذکرشوی دی نه دي اچول پکار.

د رشوت په پیسوبا ندې د اولاد پالنه(پرورش) مه کوئ

سوال: رشوت نن سبادیوې ناروغۍ شکل اختیارکړی دی اودې ناروغۍ کې نن سبا هریو کس مبتلادی زماپلارهم دې ناروغۍ کې مبتلادی زه دیوولسم ټولګي طالب علم یم اوماته ددې خبرې خیال اوس راغی چې زماپلارصاحب زماپه تعلیم باندې، زماپه خوراک څښاک اوداسې نورو... باندې چې کومې خرچې کوي، هغه ټولې درشوت دي تاسوماته دقران اوحدیث په رڼاکې ووایئ چې ماته څه کول پکاردي؟ ایا زه دپلارصاحب دحراموپه ګټه باندې تعلیم حاصلوم اوخوراک څښاک کوم؟ یازه خپل کورپریږدم اوچیرته لاړشم اومحنت مزدوري کوم اوخپل وخت تیروم، یاڅه بله لاره اختیارکړم؟

جواب: که چیرته ستاسودپلاردګټې زیاته برخه حرامه وي، نودهغه اخیستل جائزنه دي، تاسوخپل پلار ته ووایئ چې هغه تاسوته دخپل جائزتنخوا نه پیسې درکوي، درشوت پیسې دې نه درکوي.[۲]

د خاوند د رشوت په ذریعه باندې پیسې کورته راوړل او د ښځې د هغې په استعمال باندې ګناه

سوال: که چیرې خاوندرشوت اخلي اودښځې داخبره نه وي خوښه اود خاوند له ویرې هغه منع کولی هم نه شي، نوایاددې ګټې خوړلوباندې به ښځې ته هم عذاب وي؟

جواب: خاوندکه چیرې دا حرامې پیسې کورته راوړي، نوښځې ته پکارده چې په مینه باندې خاوند ددې زهرودخوراک نه منع کړي، که چیرې هغه نه منع کیږي، نوهغه ته دې صفا صفا ووائی چې زه به نهره تیره کړم، خودحراموپیسې زماکورته مه راوړه، که حلالې کمې هم وي

۱]لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم الراشي والمرتشي. (ابوداؤد/۲/ ۱۴۸/ باب فی کراهیة الرشوة)۔

۲] آکل الربا وکاسب الحرام اهدیٰ الیه او اضافه وغالب ماله حرام لا یقبل ولا یأکل مالم یخبره ان ذٰلک المال اصله حلال. (عالمگیري/۵/ ۳۴۳/ الباب الثانی عشر فی الهدایا والضیافات)۔

زما له پاره کافي دي که چیرې ښځې په دستورباندې عمل وکړ، نوهغه به ګناهګاره نه وي، بلکې درشوت اوحرام خوړولو سزابه یوازې دسړي له پاره وي[۱] اوکه چیرې ښځه داسې نه وي اوهغه دحرامورا وړل شوې پیسې خرچ کوي، نودواړه به دوزخ ته ځي.

د رشوت په پیسوبا ندې د چا خدمت کولو سره د ثواب امید لرل

سوال: زمایوافسردی، چې هغه دخپل ماتحت په خدمت کې حاتم طائي نه کم نه دی، چاته د لور دواده له پاره جهیزاخلي، چاله پاره فلیټ اوپلاټ اخلي، هغه داهرڅه دخپلې برخې د رشوت په پیسو باندې کوي اوپخپله باندې ایمان داردی، تاسونه دمذهب په نزدباندې دا معلومول غواړم چې ایا هغه ته به ددې خدمت په بدله کې ثواب ملاویږي اودهغه ایمان به باقي وي؟

جواب: رشوت اخیستل حرام دي[۲] اوپه حرامو پیسوباندې دچاخدمت کول اوهغه باندې د ثواب طمع لرل ډیره سخته ګناه ده، ځینې اکابرینولیکلي دي چې حرام مال باندې دثواب نیت کول ایمان ختموي[۳] ستاسوحاتم طائي ته پکاردي چې درشوت پیسې خپل مالک ته واپس کړي اوپه خپل ځان دې صدقه وکړي.[۴]

ایا د رشوت مال د خیر په کارونوکې خرچ کول جائز دي؟

سوال: زه یو سرکاري ملازم یم، زما تنخوا دومره نه ده چې د کور خرچې او نور ضروریات پوره شي ماته د خپلې تنخوا نه پرته د ټیکدار حضراتو نه د هغوی په خپله رضا باندې پیسې ملاویږي زما دا فطری عادت دی چې کله یو مسکین، حاجت مند، فقیر او مجبور وینم، نو

۱]وفي الخانية: امرأة زوجها في أرض الجور، ان اكلت من طعامه ولم يكن عين ذلك الطعام غصباً فهي في سعة من اكله، وكذا لو اشتريٰ طعاماً او كسوة من مال اصله ليس بطيب فهي في سعة من تناوله والاثم على الزوج. (فتاويٰ شامي/٥/ ٩٩/مطلب فيمن ورث مالاً حراماً)۔

۲]الراشي والمرتشي في النار. (كنزالعمال/١٢/ ١١٣/رقم الحديث: ١٥٠٧٧، المطالب العالية/ لابن حجر عسقلاني/٢/ ٢٤٩/ باب ذم الرشوة)۔

۳]رجل دفع الى فقير من المال الحرام شيئًا يرجو به الثواب يكفر. . . . . . . قلت الدفع الى فقير غير قيد بل مثله فيما يظهر لو بنٰى مسجداً او نحوه مما يرجو به التقرب لأن العلة رجاء الثواب فيما فيه العقاب. قال ابن عابدين تحت قوله: (انما يكفر اذا تصدق بالحرام القطعي) اى مع رجاء الثواب فيما فيه العقاب. قال ابن عابدين تحت قوله: (انما يكفر اذا تصدق بالحرام القطعي) اى مع رجاء الثواب الناشي عن استحلاله. (ردالمحتار/٢/٢٩٢)۔

٤] دفع للقاضي او لغيره سحتاً. . . . . فظاهره ان التوبة من الرشوة برد المال الى صاحبه وان قضٰى حاجته. . . . الخ. (البحرالرائق/٦/٢٨٦). الحاصل انه ان علم ارباب الأموال وجب رده عليهم، والا فان علم عين الحرام لا يحل له ويتصدق به بنية صاحبه. (فتاويٰ شامي/٥/٩٩/ مطلب فيمن ورث مال حراماً)۔

زما زړه ډير خفه کيږي او زه په فراخه زړه باندې د داسې سړي امداد کوم، يعنې خيرات ورکوم، يا بيا د حاجت مند د حاجت پوره کولو کوشش کوم او داسې کولو سره زما زړه ته خوشالي او سکون ملاويږي دغه شان چيرته چې په يو ښار يا د سفر په دوران کې په لارو باندې مساجد جوړيږي، نو په هغو کې چنده ورکوم، که وريې نه کړم، نو زما ضمير ما ملامته کوي چې د الله پاک کور تعميريږي او ما په دې کې برخه وانه چوله دا چنده د توفيق مطابق ورکوم، د دې نه پرته داسې مساجد چې هلته د قالين ضرورت وي، د آئرن ګارډر ضرورت وي، يا سيمنټ ضرورت وي، نو د توفيق مطابق ورکوم، د کال په ختميدو باندې زکات هم ورکوم، ماته د يو مولوي صاحب نه معلومه شوه چې د الله پاک په لاره کې چې څه هم خرچ کړل شي که هغه خيرات وي يا د يو مسجد شريف په تعمير کې برخه اخيستل وي يا په هغو کې قالين واچول شي اوداسې نور... که د حلالې روزي نه وي، نو سهي ده، ثواب به ورته ملاويږي او که د حلالې ګټې نه نه وي، نو د کبيره ګناه مرتکب به وي له کله نه چا ما دا اوريدلې دي زه ډير پريشانه يم، که د يو يتيم، مسکين، کونډې، فقير او حاجت مند ضرورت پوره نه کړم، نو زما ضمير ما ملامته کوي او په دويم صورت يعنې په مدد کولو کې ماته خوشالي او ارام ملاويږي، اوس زه د ګناه کبيره اوريدلو سره ويره محسوس کوم چې زما په دې کار باندې به ما الله پاک جهنم ته داخل کړي، زه دا واضح کړم چې دا ټول کارونه زه د خلوص نيت او رشتينې زړه نه کوم ماته يو حديث ياد دى "د اهل ايمان، مومن نښه داده چې کله هغه يو نيک کار کوي، نو هغه ته خوشالي محسوسيږي او کله چې بد کار کوي، نو هغه پښيمانه کيږي". ماسره زما زړه په پورته ذکر شوې امورو کې بالکل مطمئن وي اوماته روحاني تسکين ملاويږي، اوس تاسو مهرباني کولو سره وضاحت وکړئ چې:

۱: ايا د حلالې ګټې نه پرته په نورو پيسو باندې د پورته کارونو کولو په صورت کې انسان د کبير ګناه ارتکاب کونکی جوړيږي؟ او که داسې وي، نو ايا د پورته ذکر شويو خلکو امداد بند کړل شي؟

۲: ايا د مسجدونو په تعمير وغيره کې په داسې مال سره برخه اخيستو نه ځان وساتل شي؟

۳: ايا ددې مال نه په نصاب پوره کيدو باندې د کال په اخره کې زکات ورکول جائزدي او که نه؟

نور وضاحت دادی چې ګراني ډيره زياته ده او تنخوا کمه ده، چې په هغې باندې خرچې په يو صورت کې هم نه پوره کيږي، له دې وجې د مجبوري په حالت کې زه په پورته پيسو اخيستو باندې مجبور يم، اګر چې زما ضمير د دې خلاف دی او دا هم بيان کړم چې د دې پيسو په عوض کې چاته هم ناجائز مراعات نه شي ورکولی.

جواب: ستاسو نيک نيتي، د غريبو امداد او د نيکي په کارونو کې برخه اخيستل قابل دي، خو په دې خبره باندې ځان پوه کول پکار دي چې تاسو سرکاري ملازم يئ او ستاسو له پاره سرکاري تنخوا خو حلاله ده په دې شرط چې تاسو کار په ديانت داري سره کوئ، خو د ټيکدار

له طرف نه چې تاسو ته څه درکول کیږي هغه ستاسو له پاره حلال نه دي په حدیث کې دي رسول الله ﷺ یو سړی په یو سرکاري کار باندې (د صدقاتو د تحصیل له پاره) ولیږه. هغه واپس راغلو او وصول کړی مال یې رسول الله ﷺ ته وړاندې کړ او ورسره یې دا هم وویل چې دا مال خو ستاسو دی او دا مال ماته په تحفه کې راکړل شوی دی رسول الله ﷺ منبر ته تشریف وخوت او خطبه یې وفرمایله چې: ځینې خلک موږ په سرکاري کارونو پسې ولیږو. نو هغوی واپس راتلو سره موږ ته وایي چې دا پیسې خو ستاسو دي، یعنې د کوم سرکاري کار له پاره چې لیږل شوي و او ودا پیسې ماته په هدیه کې ملاو شوي دي ددې نه وروسته یې وفرمایل: دا سړی دخپلې مور په کور کې ولې نه کیناسته، بیا به زه وګورم چې هغه ته څومره تحفې ورکول کیږي؟![۱]

د دې حدیث نه معلومه شوه چې سرکاري ملازم ته چې د سرکاري کار له وجې نه کومه تنخوا ملاویږي هغه خو حلاله ده او کوم خلک چې سرکاري ملازم ته ډالۍ ورکوي هغه په حقیقت کې ډالۍ نه دي، بلکې رشوت دی [۲] او تاسو ته خو به دا معلومه وي چې **﴿ الراشی والمرتشي کلاهما فی النار ﴾** [۳] یعنې رشتوت ورکونکی او اخستونکی به دواړه په دوزخ کې وي. اوس ستاسو د پوښتنو ځوابونه په ترتیب سره لیکم:

۱: د حلالو پیسو نه پرته د رشوت مال د خیر کارونو کې خرچ کول حلال نه دي، بلکې کبیره ګناه ده او د ځینې علماء کرامو په نزد خو حرام شی خرچ کول او په هغې باندې د ثواب نیت کول په دې کې د کفر ویره ده. [۴]

۲: ظاهره ده چې حرامې پیسې اخیستل اوپه مسجد کې خرچ کول ستاسوله پاره جائز نه دي [۵] خو یو تدبیر کیدای شي چې تاسو د چا کار کوئ، نو هغه ته ترغیب ورکړئ چې په فلانې

---

[۱] عن ابی حمید الساعدی قال: استعمل النبی صلی الله علیه وسلم: رجلاً من ا لازد. . . . . . . فلما قدم قال: هٰذا لکم وهٰذا اهدی لی، فخطب النبی صلی الله علیه وسلم: وحمد الله واثنٰی علیه ثم قال: اما بعد! فانی استعمل رجلاً منکم علی امور مما ولانی الله، فیأتی احدهم، فیقول: هٰذا لکم وهٰذه هدیة اهدیت لی، فهلا جلس فی بیت امه فینظر ایهدیٰ له ام لا. . . . . . . الخ. (ابوداؤد/۲/۵۳). (قال الشیخ خلیل احمد السهارنفوری) وظاهر انه اذا جلس فی بیت امه وابیه لا یهدیٰ له قطعاً ویقیناً، فهٰذا الذی اهدیٰ له هو للحکومة وهو الرشوة. (بذل المجهود/۴/۱۲۰).

[۲] ایضاً_

[۳] د حدیث الفاظ دادی: الراشی والمرتشی فی النار. (کنزالعمال ج:۱۲ ص:۱۳، رقم الحدیث: ۱۵۰۷۷، المطالب العالیة/۲ ۲۴۹/ باب ذم الرشوة).

[۴] رجل دفع الی فقیر من المال الحرام شیئاً یرجو به الثواب یکفر. . . . . . قلت: الدفع الی فقیر غیر قید بل مثله فیما یظهر لو بنی مسجداً ونحوه مما یرجو به التقرب لأن العلة رجاء الثواب فیما فیه العقاب. (وفی الشامیة) انما یکفر اذا تصدق بالحرام القطعی ای مع رجاء الثواب الناشی عن استحلاله. (ردالمحتار/۲/۲۹۲).

[۵] قال تاج الشریعة: اما لو انفق فی ذٰلک مالاً خبیثاً، ومالاً سببه الخبیث والطیب، فیکره، لان اله لایقبل الا الطیب، فیکره تلویث بیته بمالایقبله. (ردالمحتار/۱/۶۵۸/ مطلب فی احکام المساجد) [بقیه حاشیه په راروانه صفحه

ځای کې په مسجد کې د فلاني شی ضرورت دی، که تاسو سره ګنجائش وي، نو ددې مسجد خدمت وکړئ کار خو تاسو د هغه پرته د پیسو نه وکړ او څه قسم رشوت درته ملاو نه شو، خو د نیک کار ترغیب تاسو ورکړ او که هغه یې د دې نیکۍ په کارکې خرچ کړي، نود ثواب مستحق به وي او تاسوبه د ترغیب ورکولو مستحق یئ همدا صورت د غریبانو، مسکینانو د خدمت له پاره هم تاسو استعمالولی شئ.

۳: دا سهي ده چې تنخواګانې کمې دي، له دې وجې ګزاره نه کیږي خو یو خبره یاد ساتئ چې که په دنیا کې تاسو ښه ګزاره وکړه خو د مرګ نه وروسته هغه ټوله ادا کول وي او هلته به ستاسو څوک هم د پوښتنه کولو والا نه وي، نو دا ستاسو معامله سهي ده یا غلطه؟ د دې فیصله تاسو په خپله وکړئ خو چې د چا په قبر او حشر باندې ایمان نه وي،د هغه ږوه کول زما له پاره ګران دي!

د رشوت پیسې په ښو کارونو کې صدقه کول

سوال: که چیرې یوکس رشوت اخلي اودرشوت هغه پیسې په څه نیک کارکې خرچ کوي، مثلاً: دجومات یامدرسې جوړولوکې یې استعمالوي، نوایاهغه کس ته به ثواب ملاویږي؟

اګرچې دثواب اوعذاب باره کې دالله تعالی نه ښه څوک نه پوهیږي، خودالله تعالی اود رسول ﷺ دحکمونواوطریقوپه رڼاکې جواب راکړئ!

جواب: درشوت پیسې حرامې دي اوحدیث شریف کې ارشاددی چې، څوک حرامې پیسې وګټي اوهغو نه صدقه ورکړي، نوهغه قبول نه ده[۱] فقهاوو لیکلي دي چې حرام مال کې دصدقې نیت کول ډیره غټه ګناه ده ددې مثال داسې دی چې یوکس ګندګي جمع کړي اویولوړ سړي ته یې تحفه کړي، نوهغه به تحفه نه وي، بلکې هغه کس به بې عزته ګڼل کیږي اودالله تعالی په دربارکې ګندګي وړاندې کول هم ګستاخي ده.[۲]

بقیه د تیرمخ].. وعن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ان الله طيب لايقبل الا طيباً، وان الله امر المؤمنين بما أمر به المرسلين. (مشكوٰة/ ١/ ٢٤١/ كتاب البيوع).

[۱] عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: لا تقبل الصلوٰة بغير طهور، ولا صدقة من غلول. (سنن ترمذي/٣/١). ايضاً: عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: لا يكسب عبد مال حرام فيتصدق منه فيقبل منه ولا ينفق منه فيبارک له فيه ولا يتركه خلف ظهره الا كان زاده الى النار ان الله لايمحوا السيء بالسيئ ولكن يمحو السيء بالحسن، ان الخبيث لا يمحوا الخبيث. رواه احمد وكذا فى شرح السنة. (مشكوٰة/٢/ ٢٤٢/ باب الكسب وطلب الحلال)۔

[۲] رجل دفع الى الفقير من المال الحرام شيئاً يرجو به الثواب يكفر. . . . . . . قالت الدفع الى فقير قيد بل مثله فيما يظهر لو بنى مسجداً ونحوه مما يرجوا به التقرب لان العلة رجاء الثواب فيما فيه العقاب. (ردالمحتار/٢/ ٢٩٢)۔

د کمپنۍ شیان استعمالول

سوال: که چیرې یوکس په کمپنۍ کې کارکوي، هلته کاغذ، پنسل، رجسټریا بل څه داسې شی کوم چې د دفتر د استعمال له پاره وي، کور ته یوسي پخپله یې استعمالوي، نو ایا داجائزدي؟
سوال ۲: یایې دفترکې دځان له پاره استعمالوي؟
سوال ۳: کورته یې دبچیود استعمال له پاره راوړي.
سوال۴: د دفترټیلیفون دخپل کاروبار، یاخبرو له پاره استعمالوي.
سوال۵: دکمپنۍ دشیانو په خرڅولو کې کمیشن اخیستل.
سوال۷: د دفتر اخبار کورته وړل وغیره.

جواب: د پنځم سوال نه پرته دټولوسوالو نو یو جواب دی، که چیرې د کمپنۍ له طرف نه اجازه وي، نوجائزدي، که نه، نه، بلکې غلا اوخیانت دی[۱] دپنځم سوال جواب دادی چې کمیشن اخیستل رشوت دی اودهغې په حرام کېدوکې هیڅ شک نه شته.[۲]

د کالج د پرنسپل د خپلو ماتحتو نه تحفې اخیستل

سوال: زه یومقامي کالج کې پرنسپل یم، زماپه مشرۍ کې ډیرلیکچرران اونورخلک کار کوي هغه خلک ماته وخت په وخت مختلف قسمه تحفې راکوي، چې هغو کې لوښي، دمټایي ډبې، غټې کیکونه اودمختلفو ځایونوتحفې وي اوهغو کې دپاکستان دمختلفو ښارونو شیان وي، دې نه پرته دداخلوپه وخت کې د هلکانو پلاران هم دمټایي ډبې راوړي اوزه یې ترې واخلم، زماکورولااوخپلوان دغه شیان استعمالوي، خوځینې خلک وایي چې دا شیان اخیستل جائزنه دي، ځکه چې دادرشوت یوه طریقه ده، کوم شیان چې هغوی ما مشر ګڼلو سره په خپله خوشالي باندې راکوي، نوتاسووایئ چې زه هغه اخلم اوکه یې نه اخلم؟زمابنځه هم وایي چې داشیان په خپله خوشالي باندې راوړي، اخیستل یې په موږ فرض دي، موږ یې له هغوی نه نه غواړو، تاسوجواب ضرورراکړئ!

جواب: کوم خلک چې دتعلق اومحبت اوستاسو دبزرګي له وجې تحفې درکوي، نوهغه تحفه

---

[۱] تصرف الانسان فی مال غیره لا یجوز الا باذن او ولایة. (الجوهرة النیرة/کتاب الشرکة/۱/ ۲۸۷). قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا لایحل مال امریء الابطیب نفس منه(مشکوٰة/۲۵۵/باب الغصب والعاریة)

[۲] الوکیل اذا باع ان یکون امینا فیما یقبضه من الثمن. (الفقه الحنفی وادلته/۲/۱۳٤/ضمان الوکیل). ایضًا: فان الوکیل ممن لا یثبت له حکم تصرفه وهو الملک فان الوکیل بالشری لا یملک المشتری والوکیل بالبیع لا یملک الثمن. . . . . . . لأن الوکیل یملک التصرف من جهة المؤکل. (الجوهرة النیرة/۱/ ۳۰۰/ کتاب الوکالة)۔

ده، او د هغې استعمال سهي او جائز دی[۱] او کوم خلک چې ستاسو نه ستاسو د عهدې له وجې د ګټې اخيستلو په اميد ميټهايي وړاندې کوي، يعنې تاسو هغوی ته د خپلې عهدې له وجې کته ورسوله يا د بيا له پاره طمع لري، دا رشوت دی، دا مه قبلوئ، مه يې پخپله خورئ او مه يې کوروالو باندې خورئ او د دې معيار دا دی که چيرې تاسو په دې عهده باندې نه وئ. يا دې عهدې نه لرې شئ نو ايا بيا به هم دا خلک تاسو ته تحفې در کوي؟ که چيرې د دې جواب په :نه: کې وي، نو دغه تحفې هم رشوت دی، که چيرې د دغې تحفې ستاسو عهدې سره څه تعلق نه وي، نو بيا دغه تحفې ستاسو له پاره جائز دي.[۲]

د انکم ټيکس محکمې ته رشوت ورکول

سوال: د انکم ټيکس محکمې ته په خاص طور او د حکومت نورو ادارو ته چې ترڅو پورې رشوت ور نه کړل شي ، کار نه کوي، د جائز کار له پاره هم رشوت غواړي، که رشوت ور نه کړل شي، نو هر قسمه پريشانه کول کوي تر دې پورې چې د انسان ژوند ګران شي، د مجبورۍ له وجې انسان رشوت ورکولو ته تيار شي اوس به ګناه د چا وي؟ په ورکونکي باندې هم يا يوازې اخيستونکي باندې؟ (د لته دا خبره ياد ساتل پکار دي چې يو انسان هم د خپل جائز محنت ګټه په خوشالي باندې رشوت ورکولو ته تيار نه وي، بلکې د مجبورۍ له وجې ور کوي، بلکې مجبوريږي.)

جواب: که رشوت د ظلم ختمولو له پاره ورکړل شي، نو اميد دی چې د ې ورکونکي په ځای به يوازې په اخيستونکي باندې ګناه وي.[۳]

۱]واما الحلال من الجانبين فهو الا هداء للتودد والمحبة كما صرحوا به وليس هو من الرشوة لما علمت. . . . وقال عليه الصلاة والسلام: تهادوا تحابوا. (بحر/٦/ ٢٨٥/كتاب القضاء)۔

٢] عن ابي حميد الساعدی قال: استعمل النبی صلی الله عليه وسلم: رجلاً من الازد يقال له ابن البنية علی الصدقة فلما قدم قال: هٰذا لكم وهذا اهديٰ لی، فخطب النبی صلی الله عليه وسلم: وحمد الله واثنٰی عليه ثم قال: اما بعد! فانی استعمل رجلاً منكم علي امور مما ولانی الله، فيأتی احدهم، فيقول: هٰذا لكم وهٰذه هدية اهديت لی، فهلا جلس فی بيت ابيه او فی بيت امه فينظر ايهديٰ له ام لا.....الخ. (مشكوٰة/ كتاب الزكاة/ الفصل الاول/١/ ١٥٦/ابو داؤد/٢/٥٣). وفی بذل المجهود شرح سنن ابی داؤد/٤/١٢٠: وظاهر انه اذا جلس فی بيت امه وابيه لايهدی له قطعاً ويقيناً،فهٰذا الذی اهديٰ له هو للحكومة وهوالرشوة.(بذل/٤/١٢٠)

٣] لا بأس بالرشوة اذا خاف علي دينه. قال الشامي: عبارة المجتبٰی لمن يخاف، وفيه ايضاً دفع المال للسلطان الجائر لدفع الظلم عن نفسه وماله و لاستخراج حق له ليس برشوة يعنی فی حق الدافع. (ردالمحتار/٦/ ٤٢٤/ حظر والاباحة/ طبع سعيد/ البحرالرائق/ ٦/ ٢٨٥/ طبع بيروت)۔

د خوراک د محکمې د رشوت اخیستونکي افسر نورو افسرانو ته شکایت کول

سوال: زه یو دوکان داریم او زموږ دوکان نه د کے ایم سي له طرف نه د خوراک انسپکټر د مصالحې وغیره لیبارټري کې چیک کولوله پاره وړي موږ کې څه دوکان داران داسې هم دي چې هغوی شیانو کې ملاوټ کوي او فوډانسپکټرته هره میاشت درشوت په طورباندې څه پیسې ورکوي، اوس چې کوم دوکاندارن ملاوټ نه کوي، دهغوی په شیانوپه قصدسره د خاورو څه ذرې یا نور شیان ملاوکړل شي، چې هغه په عام نظرباندې نه ښکاري اولیبارټرۍ کې پته ولګیږي او سیمپل ناکام شي، ایا دې صورت کې موږله پاره فوډانسپکټرته پیسې ورکول جائزدي او که نه؟

جواب: ایا دا ممکن نه دي چې دداسې رشوت خورافسرشکایت نورو افسرانوته وکړل شي؟ رشوت ورکول په یوصورت کې هم جائزنه دي [1]

ممتحن ته که څوک څه ډالۍ ورکړي نو څه به کوي؟

سوال: زه په میډیکل کالج کې سبق ښیم، د امتحانونو په ورځو کې دلته رشوت ډیر زیات چلیږي، دا ځل د یوې طالبې مور زموږ کور ته راغله او د تلو په وخت یې د شپږ اووه زرو روپیو شیان د تحفې په طور پریښودل، زما د انکار باوجود هغې په کور کې کیښودل او لاړه، ما هغه استعمال نه کړل، خو زه دا معلومات کوم چې اوس په دې څه وکړم؟

جواب: دا ډالۍ هم رشوت ده، تاسو په سختۍ سره دا واپس کړئ او که هغوی یې نه اخلي. نو یو محتاج ته یې ورکړئ، خپله یې مه استعمالوئ. [2] والله اعلم!

ټیکه دار افسرانو ته رشوت ورکول

سوال: زه سرکاري ټیکه داریم، مختلفو محکموته داوبورسولوله پاره دپائپونوخورولوټیکې موږ اخلو، موږ چې کومې ټیکې اخلودهغو له پاره باقاعده ټینډرفارم جمع کوو او دمقابلې نه وروسته اخلو، مقابله داسې چې ډیرټیکداران دهغې ټیکې له پاره خپلې خپلې پیسې لیکي اوبیا ټینډر دټولو مخکې خلاص کړل شي، دچاقیمت چې کم وي سرکار هغه ته ټیکه ورکړي،

[1] الراشي والمرتشي في النار. (كنز العمال/٦/ ١١٣/ رقم الحديث: ١٥٠٧٧، ايضاً: المطالب العالية/٢/٢٤٩/باب ذم الرشوة)۔

[2]]ويرد هدية. . . . . . . قال عمر بن عبدالعزيز رحمه الله: كانت الهدية على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم: هدية واليوم رشوة. ذكره البخارى. . . . . . . و تعليل النبى صلى الله عليه وسلم: دليل على تحريم الهدية التى سببها الولاية. . . . . . . الخ. (ردالمحتار/ ٣٧٢/٥/ طبع سعيد كراچى).

دې کارکې موږ خپله حلاله پیسه لګوو او سرکار چې د پائپونو کوم معیار مقرر کړی وي هماغه پائپ لګو کوم چې د محکمې نه منظورشوې کمپنۍ نه اخلو او کوم قسم چې محکمه مقره وي هغه اخلو، موږ د خپل طرف نه کار ایمانداري سره کوو. خو یو څو واړه شیان مثلاً د پائپ یو ځای کولو والا چې د هغې پیروالې محکمې لس انچې مقرر کړی وي هغه موږ پنځه انچې پیر ولګو په دې باندې دلائن په مضبوطي کې فرق نه پریوځي. خو زموږ مجبوري داده چې د محکمې کوم افسران چې ددې کار مشران وي، هغوی ته به موږ لازمي طورباندې دافسر د عهدې مطابق د ټینډر د قیمت دوونه پنځه فیصده پورې پیسې ورکوو او هغوی د سرکاري محکمې نوکران وي او دهغې نه تنخوا جدا اخلي او کومې پیسې چې هغوی زموږ نه اخلي هغه سرکاري خزانه کې نه جمع کیږي، بلکې دهغوی جیبونوته ځي که چیرې موږ پیسې نه ورکوو. نو هغوی کارکې بندیز راولي او که چیرې موږ کار سل فیصده مکمل کړو. نو بیا هم په کې هغوی نقص پیداکوي او زموږ پیسې بندوي او د بیا له پاره په کارونو کې بندیز پیداکوي، تاسو ته خواست دی چې تاسو دا ووایئ چې زموږ داګټه حلال ده او که نه؟ ځکه که چیرې موږ افسرانو ته پیسې ورنه کړو. نو هغوی زموږ دسل فیصده ایمانداری باوجود زموږ کاربندوي او زموږ بلونه نه اداکوي، کار په شروع کې موږ خپلو ذاتي پیسو باندې کوو اود کار دوران کې سرکار موږ ته څه پیسې اداکوي اود پیسو زیاته برخه زموږ خپلې پیسې وي.

جواب: رشوت یو داسې مرض دی، چې دې زموږ د ټول ملک نظام خراب کړی دی، دکومو افسرانو خولې باندې چې د حرامه وینا لګېدلي ده دهغوی ژوند تباه شي او د ملک نظام هم ګډوډ کړي ترڅو پورې چې دسرکاري افسرانو او نوکرانو په زړه کې دالله تعالی ویره اود قیامت د ورځې حساب کتاب اود قبره تیاره کې ددې شیانو د حساب کتاب احساس نه وي پیداشوی، ترهغې پورې ددې ناروغۍ (کینسر) هیڅ علاج نه شي کیدای، تاسو ته هم دا وایم چې دکوم حدپورې ممکن وي دغو سپیو ته هډوکي مه اچوئ او کوم ځای کې چې بې بسه شئ هلته دالله تعالی نه معافي وغواړئ.

ټریفک پولیس که څوک ناجائز طور تنګوي نو هغوی ته رشوت ورکولو سره ځان خلاصول څنګه دي؟

سوال: نن سبا پولیس خلک له څه وجې پرته تنګوي، دموټر کاغذاتو وغیره د پوره کیدو باوجود وایي چې جرمانه راکړئ، دا جرمانه د رشوت په طور اخلي، که جرمانه ورنه کړل شي، نو چالان ورکوي، چې په هغې سره د عدالتونه چکرې لګیدل شروع شي، معلومات دا کول دي چې که په داسې صورت حال کې یو سړی رشوت ورکولو سره خپل عزت بچ کړي، نو ایا هغه به د دې حدیث مصداق وي چې رشوت ورکونکی او اخستونکی دواړه جهنمیان دي؟ که ذاسې واقعه راپیښه شي، نو څه کول پکار دي؟

جواب: د خپل عزت د بچ کولو له پاره که سپي ته هډوکي واچوئ (یعنې د مجبورۍ نه رشوت ورکړئ) نو امید دی چې الله پاک به په دې باندې تاسو او مونږ ونه نیسي. [۱]

د سرکاري موټر مرمت کونکی مجبورا د الف په ځای ب لیکل

سوال: زه د یوې فوجي ادارې سربراه یم، د هغې ادارې بنیادي کار دموټرو مرمت کول دي، حکومت څه پیسې ماته راکړې دي، چې د هغې نه ماته اجازه ده چې زه دموټرو زیاتي پرزه جات اخیستو سره دموټرو مرمت وکړای شم، اوس زه داسې کوم چې په موټر کې الف پرزه لګوم، خو د لیکلو په وخت لیکم چې ب پرزه مې لګولې ده، ددې عمل ضرورت له دې وجې پیښیږي چې حکومت کومې پیسې راکوي په هغو سره مرمت کول وي، په دې ترکیب سره مرمت په تیزۍ سره وشي، زه ټوله پیسه د حکومت په کارونو کې خرچ کوم، ځکه چې که زه داسې ونه کړم، نو سرکاري موټر به څو څو ورځې ولاړ وي او د ملک نقصان به وي، ایا داسې سهي ده؟

جواب: ستاسو په ټول کار کې ګورنمنټ ته دوکه ورکول نه شته، خو د الف په ځای ب لیکل غلط بیاني او دروغ دي او دا دروغ هم تاسو پرته له څه وجې مه وایئ، ځکه چې تاسو د خپلو اعلی افسرانو سره یوځای کیدو باندې د دې دروغو نه د بچ کیدو څه تدبیر کولی شئ.

داړتیا له مخې د بس دڅښتن پولیسو ته رشوت ورکول

سوال: زه په پاکستان کې یو بس اخیستل غواړم، کوم چې به انشاء الله ډرائیور چلوي او زما وورور به یې خیال ساتي، خو لکه څنګه چې تاسو ته پته ده چې په پاکستان کې پولیس په هر جائز او ناجائز خبره باندې تنګول کوي او چیرته هم د رشوت ورکولو نه لمن بچ کول ممکن نه وي، نو په داسې ځای کې به د بس ګټه حلاله وي که حرامه؟

جواب: هر چې د پاکستان د پولیس تعلق دی، نو د هغوی حال ټولو ته معلوم دی، شرعا خو رشوت ورکونکی او اخیستونکی دواړه ګناهګار دي، خو که انسان په رشوت ورکولو باندې مجبور شو، نو د الله پاک نه امید دی چې په دې باندې به هغه نه رانیسي، رشوت اخیستونکي په هر حال کې جهنمي دی. [۲]

---

[۱] الرشوة اربعة اقسام. . . . . الرابع: مایدفع لدفع الخوف من المدفوع الیه علی نفسه او ماله حلال للدافع حرام علی الآخذ. . . . . الخ. (ردالمحتار/٥/ ٣٦٢/ کتاب القضاء).

[۲] الرشوة اربعة اقسام. . . . . ما یدفع لدفع الخوف من المدفوع الیه علی نفسه او ماله حلال للدافع حرام علی الآخذ. . . . الخ. (فتاوی شامي/ ٣٦٢/٥). الرشوة علی وجوه اربعة. . . . . ولم ارقسماً یحل الأخذ فیه دون الدفع. (البحرالرائق/٦/٢٨٥/ کتاب القضاء).

ټيکه دارو نه رشوت اخيستل

سوال: زه بلډنګ ډپارټمنټ کې سب انجنئريم، د نوکري مې درې کاله شوي دي. دلته چې يو بلډنګ د جوړولو له پاره ټيکه دارته په ټيکه ورکړل شي، نو موږ ټيکه دارنه يو لک شل زره روپۍ کميشن اخلو، چې په کې د ټولو برخه وي، (يعني د چپړاسي نه ترچيف انجنئرپورې)، دې کې دوه فيصده برخه زما هم وي، په يو لک باندې دوه زره روپۍ، دا د تنخوا نه پرته وي دې وخت کې زما په نګراني کې د شل لکو روپيو کاردی او هره مياشت د څلورو لکو روپيو بيل جوړيږي، د غه شان د تنخوا نه پرته ماته اته زره روپۍ ملاويږي او تنخوا مې يوازې اوولس سوه روپۍ ده، ټيکه داران خپل کار د شيډول مطابق نه کوي او خراب سامان لګوي سيمنټ، او سپنه وغيره د حکومت د معيارنه لګوي، او ډيرشيان داسې وي چې د هغه يوازې په کاغذونو کې نوم ليکل شوی وي او هغه لګول شوي نه وي او موږ ته غلط تصديق کول وي کله چې موږ ديوې منصوبې اندازه ولګوو، نو هغه مخکې سپرنټنډنګ انجنئرته وړل وي، هلته د سائټ انچارج نه منظور کولو له پاره افسر او نورو ملازمينو ته د کار مطابق کميشن ورکول وي، دې نه پرته هغه فائل چيف انجنئرته ځي، هغه ته هم د کار مطابق کميشن ورکول وي او دا يې يو اصل جوړ کړی دی، د دې نه پرته استيمنټ نه پاس کيږي دې اعتبارسره موږ د ټيکه دارانو نه د مجبورۍ له وجې کميشن اخلو، که نه، موږ به مخکې پيسې څنګه ورکوو ټيکه دار د خراب لګولو له وجې د غه کمی پوره کوي او د دې موږ ټولو ته پته ده موږ د غه شان په دروغو، بدديانتۍ، رشوت او سرکاري پيسو کې (چې هغه په حقيقت کې د عواموي) کې خيانت کونکي شو عام طور باندې دا بدنه ګڼل کيږي زما زړه په دې کارباندې خوشاله نه دی، مهرباني وکړئ او ماته لار وښايئ چې څه وکړم؟ ايا نوروته ورکولو له پاره کميشن اخلم او هغې کې ځان ته هيڅ هم نه ساتم؟ يا څه په کې ځان ته ساتم؟ يا نوکري پريږدم؟ ځکه چې پورته ذکرشوي حالاتو کې ټول غلط کارونه کول وي.

جواب: د کوموبد کارونو ذکرچې تاسو کړی دی، د دې اجازه خو نه عقل ورکوي او نه شريعت، نه قانون او نه اخلاق، که چيرې تاسو د دې لعنتونو نه شئ بچ کيدای، نو د دې نه پرته درته څه ويلی شم چې نوکري پريږدئ او څه حلاله طريقه وګورئ، دلته داسوال هم پيدا کيږي که چيرې نوکري پريږدئ، نو خپلو بچيو باندې به څه خورئ؟ د دې دوه جوابونه دي يو خو داچې بل ځاي کې نوکري پيدا کولو نه وروسته دا نوکري پريږدئ، مخکې يې مه پريږدئ، دويم جواب دادی چې تاسو همت نه کارواخلئ او د دې بدي خلاف جهاد وکړئ او د رشوت اخيستلو او ورکولو نه انکار وکړئ کله چې تاسو داسې وکړئ، نو ستاسو د محکمې ټول افسران او ملازمان به ستاسو خلاف شي او ستاسو افسران به ستا خلاف د دروغو او رښتياو خبرې جوړې کړي او ستاسو د نوکري نه د ويستلو کوشش به کوي، د دې په جواب کې تاسو پورته بيان شوي خط د ثبوتونو سره

دخپلې صفايئ په طورباندې صدر، وزيراعظم. اود صوبايي حکومت مشرانو اودقومي اوصوبايي اسمبلۍ ممبرانوته وليږئ، زيات نه زيات به ستاسو محکمه تاسو دنوکرئ نه وباسي خوبيابه ان شاء الله تاسوله پاره دخيراوبرکت لارې خلاصې شي. که چيرې تاسو دمحکمې ددې زياتي خلاف يوځکومتي مشريه خپل حق راضي کړ، نو ستاسو نوکري به هم نه ختميږي، البته تاسوته به څه غيراهم کاردرکړل شي اوتاسوبه بياخپل وخت په اوولس سوه روپۍ کې تيروئ اوهغې کې اضافه هم کيداى شي. په دې شرط باندې چې تاسوخالي وخت کې څه بل کارکولى شئ، نو زمامحترمه! څنګه چې تاسوپه زړګونوکې يويئ چې ماته داسې تقوا والاخط ليکلى شئ، دغه شان به ځوک په دې بې انصافي کې دحق له پاره اواز وچتوي، دالله تعالى مدد دې تاسره شامل وي او هم خياله بندګان دې ستاسو مدد وکړي.

دفتري فائل ښودلو باندې پيسې اخيستل

سوال: زه يودفترکې نوکريم، زمونږ دفترکې داسې وي که چيرې يوسړى خپل فائل کتلوله پاره راشي، چې فلانکى زمافائل دى، هغه راوباسې، يازمادفائل نمبردادى، که چيرې راته يې وښيي، نو ډيره مهرباني به وي اودې نه پرته فلانکى شى ماته ترې نه ټائپ کړئ اوماته يې راکړئ، زمونږ مشرکلرک داټولې خبرې پوره کوي هغه سړى سنيئرصاحب ته څه پيسې ورکړي او زمونږ سنئير صاحب هغې کې څه مونږته هم راکړي، پوښتنه د ده چې دارشوت خونه دى؟ اوکه چيرې رشوت دى، نوددې ذمه داري به مونږباندې وي اوکه زمونږپه سنيئرکلرک باندې؟ که ددې مسئلې حل راته بيان کړئ، نوډيره مهرباني به وي.

جواب: دفائل راويستلو اوټائپ کولوکه چيرې سرکاري اجرت مقرروي، نودهغه اجرت اخيستل سهي دي (اودهغې استعمال هغه دې کوم چې قانون کې مقررشوى دى) دې نه پرته څه اخيستل رشوت دي[۱] اوګناه کې به هغه ټول شريک وي، دچا چې دې کې برخه وي.

د يو ملازم د ملازمت دوران کې چا نه پيسې اخيستل

سوال: که يونوکرته دتنخوا نه پرته دنوکرئ په دوران کې يوسړى په خوشحالي باندې پيسې ورکړي، نواياهغه جائزدي اوکه ناجائز؟ ځکه چې خلک وايي چې مونږدهغوى نه نه غواړو اونه مونږ دچازړه خفه کوو، نودارشوت نه دى، اوس تاسودکتاب اوسنت په رڼاکې مونږته بيان کړئ چې داجائزدي اوکه نه؟

جواب: که چيرې دکارکولومعاوضه ورکوي، نورشوت دى[۲]، که دى ترې غواړي اوکه يې نه

---

[۱] وحد الرشوة: بذل المال فيما هو مستحق على الشخص. (کشاف اصطلاحات الفنون/۱/ ۵۹۵). بذل المال لاستخلاص حق له على الآخر رشوة......الخ. (بحرالرائق/ ۶/ ۲۸۵/ کتاب القضاء/طبع دارالمعرفة)

[۲] ايضا تيره شوى حواله۔

غواړي، که دوستي یا خپلولي کې د تحفې په طور باندې ورکوي، نو بیا سهي ده.[۱]

د پولیس په محکمه کې ملازمت کول شرعا څنګه دي؟

سوال: ایا په پولیسو کې نوکري کول جائز دي؟ بله دا چې په دې صورت کې څه حکم دی چې رشوت نه اخلي او په چا باندې پرته د څه وجې نه ظلم نه کوي؟

جواب: د پولیس په نوکري کې شرعا هیڅ قباحت نه شته. خو که د دې نوکري په ذریعه رشوت اخلي یا ظلم کوي، نو ګناهګار به وي او د قیامت په ورځ به په هغه باندې مواخذه وي

خوشالي سره ورکړل شوې پیسې سرکاري نوکر له پاره استعمالول

سوال: زه چې کوم دفترکې نوکریم، هلته دشیانوو ړلو او راوړلو له پاره موټرو سره تړون(معاهده) شوې ده او دهغې کرایه دحکومت نه منظورشوې وي اوهغوی ته هره میاشتې پیسې ورکول کیږي څه وخت مخکې دهغې په کرایانوکې اضافه وشوه، خومنظوري کې دوخت لګیدوله وجې ددغه وخت حساب وکړای شواوهغوی ته مخکې پیسې اداکړل شوې، اوس مسئله داده چې کوم وخت کې پیسې اداکړې دي، خلکودهغوی نه دمیتهایي غوښتنه وکړه اوهغوی په دې باندې راضي شول، خوهغوی ته وویل شو چې موږ ته دې نه څه پیسې راکړئ چې په هغې باندې موږ پنځه شپږ کسان پارټي وکړو دهغوی نه دغه پیسې واخیستل شوې اوهغه وخت کې ورته دا وویل شو چې داپیسې تاسونه دبل څه له پاره نه. بلکې ستاسو په خوشالي باندې دمتهایي له پاره واخیستل شوې، دې باندې هغوی وویل چې نه موږ یې په خوشالي درکوو، دموټر یومالک ښه کافي پیسې ورکړې چې هغه درې کسانوخپلوکې تقسیم کړې اونوروپیسوباندې یې څلورپنځه څله ډوډۍ وخوړله، مهرباني وکړئ تاسو ووایئ چې داپیسې خوړل جائزدي اوچاچې خوړلې دي هغه حضرات وایي چې دفترکې افسرانو ته ددې خبرې پته نه لګیږي اوپه دې کې بل منفعت هم نه وي زموږاداره یوه غیرسرکاري اداره ده.

جواب: داسې قسمه میتهایي کومه چې سرکاري نوکرانوته ورکول کیږي، رشوت کې داخلیږي او له دې نه ځان ساتل پکار دي، ځکه چې دامیتهایي نه ده، بلکې زهردي.[۲]

۱] واما الحلال من الجانبين فهو الاهداء للتود والمحبة وليس هو من الرشوة. (بحر/٦/٢٨٥/كتاب القضاء). ايضاً: ويرد هدية. . . . . الا من اربع. . . . . . قريبه المحرم او ممن جرت عادته بذلك بقدر عادته. (درمختار/٥/٣٧٤)۔

۲] هدايا العمل كلها حرام. (المطالب العالية لابن حجر/٢/٢٢٢). (فقام النبى صلى الله عليه وسلم. . . . . وقال: ما بال العامل نبعثه) على العمل فيجيء بالمال (فيقول: هٰذا لكم وهٰذا اهدى لى، الّا جلس فى بيت امه وابيه فينظر ايهدى له ام لا؟) وظاهر انه اذا جلس فى بيت امه وابيه لا يهدى له قطعاً ويقيناً فهٰذا الذى اهدى له هو للحكومة وهو الرشوة. . . . الخ. (بذل المجهود شرح ابوداؤد/ ٤/ ١٢٠/ كتاب الخراج)۔

رشوت اخيستونكي نه تحفې قبلول

سوال: ديوكس خپلوان ياملګري چې دلمونځ اوروژې پابند دي، يعنې دالله تعالى حكمونه مني اوهغه داسې محكمه كې نوكردى چې هلته خلک دكارپه بدله كې پيسې وركوي، حالانكې هغه يې پخپله باندې نه غواړي، خو داسلسله له شروع نه راروانه ده، خلک يې هغه ته هم وركوي پوښتنه داده چې هغه دې پيسوباندې پخپله، دې نه پرته دوستانو، ياخپلوانووغيره ته تحفې وغيره يا نيک كارونوكې استعمالولى شي، دهغه داتحفې يانيک كارونو كې استعمالول كوم حدپورې جائزدي؟ دمثال په طورباندې كه هغه چيرې خپل دوست ياخپلوان په تحفه كې جامه وركړه اوواپس كول يې زړه خفه كول دي، كوم چې اسلام منع كړې دي اوهغه ته داخبره معلومه نه وي چې داجامه دحلالوپيسونه ده، نوايادغه جامه اغوستلوسره به لمونځ كيږي اولمونځ ورسره كولى شي اوكه نه؟

جواب: دكارپه بدله كې چې كومې پيسې هغه ته وركول كيږي هغه رشوت دي[۱]، دهغې اخيستل دهغه له پاره جائزنه دي[۲]، كه چيرې هغه په هغه پيسوباندې چاته تحفه واخلي، نودهغې اخيستل هم جائزنه دي[۳] اوكه چيرې دخپلې تنخوا په پيسوباندې يا نورو جائز پيسوباندې تحفه واخلي، نودهغې اخيستل جائزدي اوكه چيرې دامعلومه نه وي چې داتحفه دجائز پيسوده اوكه دناجائز؟ كه چيرې دهغه زياتې پيسې حلال وي، نوبياتحفه اخيستل جائزدي[۴]،كه نه، احتياط كول پكاردي اوكه چرې دهغه دخفه كيدوويره وي، نودهغه نه يې اخلئ استعمالوئ يې مه، بلكې دثواب له نيت پرته يې چامحتاج ته وركوئ.[۵]

۱]وفى وصايا الخانية قالوا: بذل المال لاستخلاص حق له على آخره رشوة. (بحر/٦/ ٢٨٥). ايضاً: وفى البرجندي رحمة الله عليه: الرشوة مال يعطيه بشرط ان يعينه، والذى يعطيه بلا شرط فهو هدية. (كشاف اصطلاحات الفنون/ ١/ ٥٩٥/ طبع سهيل اكيدمى)۔

۲]الحرمة تتعدد مع العلم بها (وفى الشامية). . . . . . اما لو رأى المكاس مثلاً يأخذ من احد شيئاً من المكس ثم يعطيه آخر ثم ياخذ من ذلک الآخر فهو حرام. (ردالمحتار/ ٥/٩٨/ مطلب الحرمة تتعدد)۔

۳]آكل الربوا وكاسب الحرام اهديٰ اليه او اضافه وغالب ماله حرام لا يقبل ولا يأكل مالم يخبره ان ذلک المال اصله حلال. (عالمگيرية/٥/ ٣٤٣/كتاب الكراهية/ الباب الثانى عشر فى الهدايا والضيافات)۔

٤]اذا كان غالب مال المهدى حلالاً فلا بأس بقبول هديته واكل ماله مالم يتبين انه من حرام. (الأشباه والنظائر/ ١٢٥/ طبع ادارة القرآن)۔

٥] والا فان علم عين الحرام لا يحل له ويتصدق به بنية صاحبه. . . . . .الخ. (ردالمحتار/ ٥/٩٩/ مطلب فى من ورث مالاً حراماً)۔

يوې ادارې نه كليندراو ډائرۍ په تحفه اخيستل

سوال: نن سباد كليندراو ډائري تقسيمولورواج عام دى، حقيقت كې خو داخپله مشهورتيا كول دي، خودا شيان يوازې خاص كسانوته وركول كيږي، مثلا: كه چرې يوه پارټى څه غټې ادارې يا حكومت ته څه مال وركوي، نودكال په شروع كې هغوى اخيستونكوخلكوته ډائريانې ياكليندرې دتحفې په طورباندې وركوي، ايا داسې قسمه تحفه قبلول هغه كسانوله پاره جائزدي، كوم چې يوې ادارې سره د اخيستلواوخرڅولوپه شعبه كې نوكران وي؟ موږسره داويره ده چې داخورشوت كې داخل نه دي؟

جواب: كه داډائرى داسې كمپنى يا ادارې چاپ كړې وي چې دهغې ګټه شرعي طورباندې جائز وي، نوددې اخيستل جائزدي، كه نه، نه دي.

دركشايا ټيكسي ډرائيوراو يا د هوټل ملازم ته څه پيسې پريښودل، يا استاذ، پيراوداسې نورو.... ته تحفه وركول

سوال: زموږ معاشره كې كاركونكوته دمقررشوي معاوضې نه پرته دزياتوپيسوور كولورواج دى، مثلا: د ركشې دميټرله پيسونه پرته اكثرڅه چينج(ماتې روپۍ) پاتې شي، هغه نه د ركشې ډرائيوروركول غواړي اونه يې مسافراخيستل غواړي اوهغه پيسوته نذرانه، شكرانه ياپه انګريزي كې (ټپ) ويل كيږي، موږ داخبره معلوموول غواړوچې ډرائيوران چې دخپلو پيسونه زياتې پيسې اخلي، جائز دي اوكه ناجائز؟ دې نه پرته مريد پيرته، شاګرداستاذ، هوټل كې خوراك كونكي بيرا ته وركوي تاسوشرعي طورباندې ووايئ چې دا پيسې خيرات دي؟ وركونكي ته به ددې ثواب ملاويږي؟ د اخيستونكي جائزحق دى؟

جواب: كه چرې داپيسې په خوشالي باندې وركړل شي، نود اخيستونكي له پاره حلالې دي[۱]او خپلو بزرګانو يا ماشومانوته چې دتحفې په طورباندې كوم شى په خوشالي باندې وركړل شي، هغه هم جائزدي.[۲]

د مجبورۍ له وجې د رشوت وركونكي حكم

سوال: حضور ﷺ فرمايلي دي چې: رشوت اخيستونكى اورشوت وركونكى دواړه دوزخيان دي دې باره كې به نور هم ډيراحاديث وي، پاكستان كې دټريفك پوليس اودډرائيورانومينځ كې دا مسئله وي چې هغوى دموټرو نه هره مياشت رشوت اخلي، كله ناكله چې په چوك كې

۱]قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا يحل مال امريء الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة/۲۵۵)۔

۲] و اما الحلال من الجانبين فهو الاهداء للتود والمحبة كما صرحوا به، وليس هو من الرشوة. . . . . . قال عليه السلام. تهادوا تحابوا. (البحرالرائق/٦ / ۲۸۵/ كتاب القضاء/ طبع دارالمعرفة/ بيروت)۔

موټر ملاوشي، نو ويې دروي اوپيسې ترې واخلي كه چرې هغوى ته د موټر كاغذونه وښودل شي، نو كه كاغذونه پوره هم وي، بيا هم څه نا څه بانه جوړوي، مثلاً: د موټر رنګ سهي نه دى، تاموټر تيزچلاو، كه هغوى ته ديريش يا پنځوس روپۍ رشوت ورنه كړي او ورته ووايې چې چالان موكړه مونږ به دحكومت فيس داخل كړو. نوهغوى په چالان كې دومره دفعې وليكي. چې كله مونږ مجسټريټ ته لاړشو، نوهغه موكله پنځه سوه او كله زرروپۍ جرمانه كړي اوبيا داسې هم كيداى شي چې يوې مياشت پورې دلائسنس يادموټر د كاغذونوهم پته نه لګيږي. دا كار هغوى يوازې دې له پاره كوي چې بياله پاره پيسې په ارام باندې ملاوشي. بيا ډرائيور دمجبوري له وجې ديريش يا پنځوس روپۍ وركړي اودهغو په بدله كې هغه ډيرې سورلۍ خيژوي، همدغه وجه ده چې د اكثر دموټر كاغذونه نه وي، چې دكاغذپه موجودګي كې هم رشوت وركول وي زمادې بيان نه مقصد دانه دى چې مونږجرم كوو او پيسې وركوو. بلكې كه چيرې دچاجرم دى اوهغه پيسې هم وركوي. نو اسلام كې دهغه څه مقام دى؟ كه هرڅه سهي كيدو نه وروسته هم رشوت يوازې دې له پاره وركړل شي چې هغوى په ناجائزه باندې تنګول كوي او بيابه ډيرې پيسې وركول وي، ايا ددې حديث په رڼاكې ډرائيور اوپوليس والا دواړو له پاره دغه حديث دى، يعنې ددواړو جرم به برابروي؟

جواب: غيرقانوني كارخودخپل وس مطابق نه دې كول پكار، ددې باوجودكه چرې رشوت وركول كيږي، نواخيستونكى دځان له پاره ددوزخ سامان جوړوي اووركونكى مجبوردى، اميددى چې هغه باندې مواخذه نه وي اوكه چرې غيرقانوني كارله پاره رشوت وركړل شي، نودواړو فريقانو باندې لعنت دى.[1]

د نوكرانو له پاره سركاري تحفه جائزده؟

سوال: جنګ اخباركې (ستاسومسئلې اودهغو حل) په كالم كې چې تاسودتحفې يارشوت باره كې كوم جواب وركړى دى، هغه باره كې عرض كول غواړم كه چېرې يوكس په يوه اداره كې نوكر وي اوهغه خپل كارپوره محنت سره كوي اواداره دهغه دخدماتوپه بدله كې هغه ته څه اضافي تنخوا يا تحفه ورغيره وركړي، نوداخوبه رشوت كې داخل نه وي، كه چېرې هغه په دغه عهده باندې نه واى نويقيناً هغه ته به دغه تحفه نه وه ملاوشوې، ځكه چې هغه ته به دخپلو صلاحيتونو ښكاره كولوموقع نه وه پيداشوې اواوس چې هغه دخپل صلاحيتونونه فائده اخلي او ډير محنت اوخلوص سره كاركوي اوانتظاميه دهغه دخوشحالول له پاره هغه ته انعام وركوي، نو دا به رشوت كې داخل نه وي، ځكه چې اسلام دهميشه نه دمحنت كونكو

[1] لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الراشي أى معطى الرشوة والمرتشى اى آخذها...وانما يلحقهم العقوبة معاً اذا استويا فى القصد والارادة، ورشا المعطى لينال به الى الظلم فأما اذا اعطى ليتوصل به الى حق او يدفع عن نفسه ظلماً فانه غير داخل فى هٰذا الوعيد. (بذل المجهود/٤/ ٣٠٧/ كتاب القضاء/ البحرالرائق/٦/ ٢٨٥)

دخوشحالولو تاکید کوي، ځکه چې ددې په وجه باندې هغه کې نه صرف دکارکولوجذبه پیداکیږي بلکې انسان دنوروبدیونه هم بچ کیږي، زماګناهګارخیال دادی چې تاسودخپلې علمي تجربې په رڼاکې ددې وضاحت وکړئ.

جواب: دحکومت له طرف نه چې ورکړل شي دهغه په جائزکیدوکې څه شک کیدای شی؟ خو سرکاري ملازم چې دخلکوڅه کار وکړي دهغوی نه څه تحفه واخلي نوداهم درشوت یوقسم دی[۱]. اوکه چېرې دهغه خپل خپلوان یادوستان هغه ته څه تحفه ورکړي، نوهغه په رښتیا باندې تحفه ده[۲]،نو خلاصه داده چې حکومت یاانتظامیه که چېرې خپلو نوکرانوته څه ورکوي، که هغه تنخواه وی، بونس وي، یاانعام ټول جائزدي [۳]

د فیکټرۍ د مزدورانو نه د کور نمبر اخیستل

سوال: مونږیوې فیکټرۍ کې کارکوو، دفیکټرۍ دقانون مطابق ټولو خلکوته په نمبر نمبر باندې داوسیدوله پاره کور ورکول کیږي، خود ډیرضرورت مندوچې کله دکورنمبرراشي نو هغوی ته نغدې پیسې ورکړل شي اودهغه نمبرواخیستل شي اوکورورته الاټ شي. آیا دا جائزدي؟

جواب: دچانمبرراتلل داسې شی نه دی چې هغه خرڅ اوواخیستل شي، پیسوورکولوسره نمبراخیستل جائزنه دي[۴]، اوکوم کس چې پیسې اخیستلوسره خپل نمبرورکړو، هغه دپاره دغه پیسې حلالې نه دي، بلکې ددې حکم به درشوت په پیسوکې وي.

۱] (ویرد هدیة). . . . . قال عمر بن عبدالعزیز رحمه الله: کانت الهدیة علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم هدیة، والیوم رشوة ذکره البخاری. . . . . . وتعلیل النبی صلی الله علیه وسلم دلیل علی تحریم الهدیة التی سببها الولایة. . . . . . . الخ. (ردالمحتار/٥/ ٣٧٢/ مطلب فی هدیة القاضی)۔

۲]ویرد هدیة. . . . . . الا من اربع. . . . . قریبه المحرم او ممن جرت عادته بذلک بقدر عادته. (درمختار/٥ /٣٧٤/ کتاب القضاء/طبع ایچ ایم سعید)۔

۳]عن ابن الساعدی قال: استعملنی عمر رضی الله عنه علی الصدقة فلما فرغت امر لی بعماله فقلت: انما عملت لله، قال: خذ ما اعطیت فانی قد عملت علیٰ عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم: فعملنی ای اعطانی عمالتی. (ابوداؤد/ باب ارزاق العمال/٢/ ٥٢). ولا بأس برزق القاضی لأنه صلی الله علیه وسلم بعث ابن اسید الی مکة وفرض له وبعث علیاً وفرض له ولانه محبوس لحق المسلمین فتکون نفقته فی مالهم. (هدایة/٤/٤٧٦)۔

٤]قال فی الأشباه: لا یجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة. قوله لا یجوز قال فی البدائع: الحقوق المجردة لا تحتمل التملیک. (ردالمحتار مع الدرالمختار/ ٤/ ٥١٨/ مطلب لا یجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة)۔

❖ د اخیستلو او خرڅولو متفرقې مسئلې ❖

....

د غوښتل شوي شي حکم

سوال: که چېرې یو کس ته څه شی د څه وخت له پاره (چې وخت یې مقررنه وي) قرض ورکړل شي او ډېر وخت تیرېدو نه وروسته (د شي نه واپس کولو په صورت کې) د دواړو فریقو د هغه شي د هرې میاشتې څه معاوضه مقرر کړه. او بیا ورته کرایه هم نه حاصلیږي او اخرکې تنګېدو په وجه باندې د قرض ورکړل شوي شي نه د خپل ملکیت نه د برآت اعلان وکړي (یا د سائل پکار دي چې دا اعلان د هر طرف نه مایوسه کیدو په وجه باندې و، کله چې نه د شي د واپسئ امید پاتې شو او نه د معاوضې ملاویدو) دې صورت کې به د معاوضې پیسې قرض کې شمیرل کیږي (د برآت د اعلان د وخت پورې پیسې) یا د هغو د حاصلولو نه هم مایوسه کیدل پکار دي؟ دویمه خبره دا ده چې معاوضه به د هغه وخت نه شمیرل کیږي کوم وخت کې چې شی قرض اخیستل شوی و یا هغه وخت نه کوم وخت کې چې معاوضه مقرر شوې وه. ؟

جواب: دچانه چې څه شی وغوښتل شي نو د هغه واپس کول واجب دي[۱] او کوم کس چې د هغه په واپسي کې بانې کوي، نو هغه خیانت کونکی او غاصب دی، د هغه دپاره د هغه شي استعمالول حرام دي.[۲]

۲. د فریقانو په خوښه که چېرې د هغه معاوضه مقرر شوه، نو دا به بیع وي او د مقرر شوي شرط مطابق به د هغې اداکول ضروري وي.

۳. د معاوضې چې څومره قسطونه اداشوي وي، نو هغه د شي اصلي مالک له پاره حلال دي او د برآت د اعلان مطلب که چېرې دا و چې پاتې قسطونه معاف شول، نو معاف شول، که نه، د هغه په ذمه به یې اداکول واجب وي.[۳]

۱]قال ای القدوری وللمعیر ان یرجع فی العاریة متی شاء. . . . . . لقوله علیه السلام المنحة مردودة والعاریة موداة. . . . . . . قوله مردودة یجب ردها. . . الخ. (البنایة فی شرح الهدایة/۱۲/ ۴۷۳/ کتاب العاریة، طبع مکتبه حقانیه). ایضاً: ان المستعیر لا یملک الایداع کرد مستعار غیر نفیس الی دار مالکه فان هٰذا تسلیم بخلاف المستعار النفیس کالجواهر حیث الارد الا الی المعیر بخلاف رد الودیعة والمغصوب الی دار مالکها فان هٰذا لا یکون تسلیماً بل لا بد من الرد الی المالک. (شرح الوقایة/۳/۲۷۷/ کتاب العاریة)_

۲] الا لا یحل مال امریٔ مسلم الا بطیب نفس منه. (مشکوٰة/ ۱/ ۲۵۵). فان طلبها ربها فحسبها وهو قادر علی تسلیمها صار غاصباً. (ملتقی الابحر ومجمع الانهر/ ۳/ ۴۷۰)_

۳] وفی الملتقط علیه الف ثمن جعله الطالب نجوماً ان اخل بنجم حل الباقی فالأمر کما شرطا. (بحر/۵/۲۸۰). وفی الهدایة یجوز للبائع ان یحط عن الثمن. (الهدایة/ کتاب البیوع/ ۷۵)_

۴. څومره معاوضه چې د دواړو فریقانو په خوښي باندې مقرره شوې وي، صحیح ده، په دې وجه باندې د سوال دې برخه کې شک دی چې د میاشتې معاوضه به د هغه وخت نه شمیرل کیږي.

د افیونو کاروبار

سوال: عرض دادی چې زمادوست کوم چې پیښورکې اوسیږي، هغه وایي چې پیښور کې دافیونو کاروبار عام دی او د هغه ځای ملایان صاحبان هم وایي چې دافیونو کاروبار حرام نه دی او هلته ډیر خلک د افیونو کاروبار کوي، تاسو مهرباني وکړئ او د قران او حدیث په رڼا کې داوواییځ چې افیون حرام دي او که نه؟ او که چیرې حرام دي، نو بیا دا د دوایي په طور باندې استعمالیدای شي او که نه؟

جواب: دافیونو استعمال په دوایي کې جائزدی، او د دې خرڅول او اخیستل هم جائزدي، شرط دادې چې د همدې مقصدله پاره وي[۱] مثلاً که چرې دیو خاص سړي باره کې وي، چې هغه ترې نه پوډر جوړوي نو بیا نه دي خرڅول پکار.[۲]

آیا اسلام موږ ته څه اقتصادي نظام نه دی راکړی؟

سوال: زه په سندھ یونیورستي (جامشورو) کې د بی بی اے آنرز د دریم کال زده کونکی یم، څو ورځې مخکې ما د سوشلزم د حمایت کونکي یو پروفیسر په لیکچر کې شرکت وکړ، د هغه د قول مطابق سوشلزم د حکومت یو طریقه ده، او اسلام موږ د هیڅ قسم اقتصادي نظام د اختیارولوڅخه نه یو منع کړي او نه څه داسې جامع اقتصادي نظام اسلام موږ ته راکړی دی؟ لهذا حکومت پاکستان ته سوشلزم طرز حکومت اختیارول پکار دي، چې د هغې د لاندې هر شی د ملک ملکیت وي او حکومت د هر سړي د بنیادی ضروریاتو ذمه دار وي، نور هم داسې ډیر فوائد پروفیسر صاحب وشمارل مثلاً په دې سره به بې روزګاري ختمه شي، غریبي به ختمه شي، ګراني به ختمه شي، موږ دناپوهي له وجې هغه وخت ومنله چې سوشلیزم طرز حکومت بالکل صحیح دی.

جواب: سوشلیزم نظام په روس کې پیل شوی دی او په کوم ځای کې چې دا نظام رائج شو د .

۱]وصح بیع غیر الخمر مما مر ومفاده صحة بیع الحشیشة والأفیون قلت وقد سئل ابن نجیم عن بیع الحشیشة هل یجوز؟ فکتب لا یجوز، فیحمل علی ان مراده بعدم الجواز عدم الحل. (الدرالمختار) (قوله صح بیع غیر الخمر) عنده خلافا لهما فی البیع والضمان لکن الفتویٰ علیٰ قوله فی البیع وعلیٰ قولهما فی الضمان ان قصد المتلف الحسبة، ذالک یعرف بالقرائن، والا فعلیٰ وله کما مر فی التاتر خانیة وغیرها. (ردالمحتار/٦/ ٤٥٤/ کتاب الأشربة)۔

۲] الأمور بمقاصدها: یعنی ان الحکم الذی یترتب علیٰ امر یکون علی مقتضٰی ماهو المقصود من ذٰلک الأمر. (شرح المجلة لسلیم رستم باز/ ١٧/ المقالة الثانیة/ طبع حبیبیه/ کوئته)۔

انسانانو نه غلامان جوړ شول، رسول الله ﷺ زموږ د دنیا او آخرت له پاره بهترین نظام راوړی دی، خو موږ خپل عقل هم خراب کړ او شکل مو هم خراب کړ، موږ سره نه اوس دین شته، نه ایمان او نه د رسول الله ﷺ طریقه کار، اوس چې ستاسو پروفیسر صاحب څه وایي. وایي به ! زه هغوی ته هم او تاسو ته هم مشوره درکوم چې په تبلیغي جماعت کې درې چلې ولګوی؛

د واپسي په شرط باندې داخیستل شوي شي خرڅول

سوال: یو سړی چې په ګرځیدو راګرځیدو باندې سامان خرڅوي. د یو دکاندار نه داسې په نغد ادا کولو باندې سامان اخلي. مثلاً سهار د دکاندار نه (۱۰) ساعتونه(ګړی) اخلي او ورسره دا هم وایي چې که د ماښام پورې ټول ساعتونه خرڅ شو، نو صحیح ده او که په دې کې یو یا دوه یا هر څومره چې وي پاتې شي، نو تاسو به داساعتونه له څه ګټې پرته واپس کوئ، یعنې په کوم قیمت باندې چې دکاندار هغه اخیستي وي په هماغه قیمت باندې یې واپس واخلي او دا سلسله روزانه دغه شان جاري وي.

دلته دځینوعلماء کرامو خیال دی چې دا طریقه جائز نه ده. لهذا د قرآن او سنت په رڼا کې زموږ رهنمایي وکړئ؛

جواب: دا طریقه صحیح ده، کوم ساعتونه چې خرڅ شي د هغو ګټه به متعین طور سره هغه ته ملاویږي، او کوم چې نه خرڅیږي هغه واپس کوي، او دا به اقاله وي، ګویا دا بیع ده په شرط د اقالې. [۱] والله اعلم

د ټیوشن کولو اجرت اخیستل

سوال: کوم استاذان حضرات چې ماشومانو ته په کورونو کې ټیوشن کوي، آیا دا شریعت له مخې جائز دي اوکه نه؟ حال دا چې د سکول نه ورته دومره ښه تنخوا هم ملاویږي، او بیا د هر هلک نه یو نیم سل روپۍ د ټیوشن اخلي، د قرآن او حدیث نه په دې مسئله باندې رڼا واچوئ؛

اکثر قاریان هم د خلکو کورونو ته تلو سره قرآن کریم ښایي، د مسجدونو نه هم ښه تنخوا اخلي د هغوی له پاره دا جائز ده یا ناجائز؟

جواب: د ټیوشن په کولو باندې اجرت اخیستل جائز دي [۲] او هم دغه شان د قرآن کریم په تعلیم باندې هم اجرت اخیستل جائز دي.

---

[۱] وتصح بمثل الثمن الاول. . . . . الخ. (درمختار/باب الاقالة/ ۵/۱۲۴). ایضاً: الاقالة جائزة فی البیع بمثل الثمن الاول لان العقد حقهما فیملکان رفعه. (الجوهرة النیرة/ ۱/۲۱۰/ باب الاقالة).

[۲] ویفتی الیوم بصحتها لتعلیم القرآن والفقه والامامة والأذان. (قوله ویفتی الیوم بصحتها لتعلیم القرآن. . . الخ) قال فی الهدایة: وبعض مشایخنا رحمهم الله تعالیٰ استحسنوا الاستئجار علی تعلیم القرآن الیوم لظهور التوانی فی الأمور الدینیة. (الدرالمختارمع ردالمحتار/۶/ ۵۵/مطلب فی الاستئجار[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

آیا ملازم سړی په فارغ وخت کې ماشوما نو ته ټیوشن کولی شي؟

سوال: زه په یوه اداره کې ملازمت کوم او زما معقوله تنخواه ده. د کور افراد زیات دي. د کور سرپرست یوازې زه یم، په فارغ وخت کې ماشومانو ته ټیوشن کوم. او زه حافظ قرآن یم. ماشومانو ته قرآني تعلیم ورکوم، چې کومه تنخوا ملاویږي په هغې باندې د کور ضروریات پوره کوم، تاسو د قرآن او حدیث په رڼا کې بیان کړئ چې دټیوشن فیس اخیستل جائز دي اوکه نه؟

جواب: ټیوشن یو زیاتې ملازمت دی، په فارغ وخت کې که ټیوشن وکړل شي. نو په هغه باندې اجرت اخیستل جائز دي. [۱]

د سکول او کالج داستاذانو خپلو شاګردانو ته ټیوشن کول

سوال: نن سبا یو عامه وبا خوره شوې ده چې اکثر د سکول او کالج استاذان ټیوشن کوي، د ګورنمنټ نه هم تنخوا اخلي، او دهغو ماشومانو نه فیس هم چاته چې ټیوشن ورکوي، آیا د هغوی له پاره دا فیس اخیستل جائز دي اوکه ناجائز؟

جواب: ټیوشن اخیستل خو جائز دي، خو په سکولونو او کالجونو کې ماشومانو ته توجه نه ورکول ګناه ده.

د ویزې په بدله کې ځمکه ګانه کول

سوال: ۱: دزیداوبکرپه مینځ کې په استامپ باندې داسې معاهده وشوه، چې زید ، به دبکر زوی له پاره په دوبۍ کې دنوکرۍ له پاره د دوبۍ یوه ویزه واخلي، اودځمکې یوه ټوټه به دویزې په بدله کې زید ته ورکړي اودهغې دغلې یومقررشوی مقدار زیدته ورکوي، زید دبکر زوی ته ویزه ورکړه اودنوکرۍ بندوبست یې هم ورته وکړ، خو اوسه پورې ځمکه کې دبکر زمیندارکارکوي اوټول کال کې یوځل یوخاص مقرر شوی مقدار زیدته ورکوي، په ذکرشوي استامپ کې دي چې دوه کاله پس به دویزې قیمت اداکولوسره بکر دزیدنه بري شي، اوس سوال دادی چې دې صورت کې غله یا وریژې زیدله پاره اخیستل جائزدي اوکه نه؟ دسود ویره خویکې نه شته؟ که ده نوولې؟

سوال: ۲: پورته ذکرشوي صورت کې زید دخپل جیب نه په شپږ زره درهمه باندې ویزه واخیستله اوبکرچې هغه سره په دوه کالوکې دقیمت ورکولوکومه وعده کړې وه، هغه به څنګه جائزوي؟ جواب راکړئ!

بقیه د تیرمخ].. علی الطاعات/ ایضاً: کفایة المفتي/ ۷/۳۲۶/۷/ ۳۱۶/ کتاب المعاش).

[۱] ایضاً_

جواب: ۱: لومړی صورت د ګروي (ګاڼې) دی، یعنې دویزې په بدله کې به زیدسره دوه کالوله پاره ځمکه ګانه وي، دګانې په ځمکه باندې دقرض په بدله کې ګټه اخیستل سود دی، نو دزیدله پاره ددغې ځمکې ګټه حلاله نه ده. [۱]

جواب: ۲: څومره قیمت چې زید دویزې اداکړی دی، هغومره قیمت په مقرر شوي تاریخ اداکول پکاردي، که زید دقیمت په بدله کې غله اخیستل غواړي نواخیستلی یې شي. او دغلې چې هرڅومره مقدار دواړه فریقان مقررکړي صحیح دی. [۲]

د رشوت نه د ربښتینې توبې طریقه

سوال: زما پلار د پاکستان د آزادۍ نه وروسته هجرت کولو سره مستقل طور باندې کراچۍ کې مقیم شوی و، زما د پیدائش نسبت د پاکستان سره تړلی دی، د انډیا نه په هجرت باندې زما پلار په خپل تیز طبیعت او تیره ژبه او په خپلې هوښیارۍ او مکارۍ باندې دروغ قسم کلیم جمع کولو سره ښه ډیر جائیدادونه قبضه کړل، دغه شان پاکستان ته راتلو سره په شروع زمانه کې د مالدارۍ دور په موږ باندې شورع شو، او په لوټ شویو قافلو کې راتلونکي خلک د ډیرې مودې نه غریبۍ سره مخ وو، د ډیر دولت د کیدو د وجې نه زما نه پرته زما پنځو وروڼو دنیاوي تعلیم او تربیت ډیر په اعلی طور په مشنري سکولونو کې وشو، ماته له فراغت نه وروسته فورا د پولیس افسر په طور ملازمت ملاو شو، وړوکي رور ته مې د بینک د افسر ملازمت ملاو شو، او په نورو وروڼو کې یو ته په انکم ټیکس کې، یو ته په کسټم کې ځای پیدا شو، او یو ورور ته په KDA کې او د ټولو نه وړوکي ته په ای ایس سي کې ملازمت ملاویدو باندې د تنخوا نه پرته ښه ډیره حرامه ګټه د رشوت په صورت راتلل شروع شو او دغه شان د دولت ډیری لګیدل شروع شو، چونکې په موږ ټولو وروڼو کې د یوځای اوسیدلو جذبه د ماشوم والي نه موجوده ده په دې وجه موږ مشترکه طور په یو عالیشان او وسیع ځای کې اوسیدل شروع کړل.

راقم الحروف چونکې په پولیس (ASI) لګېدلی و، ښه د رشوت بازار یې ګرم کړی و، او اعلی عهدې لرونکو ته یې ځان ورساو، او په کشرانو وروڼو کې بینک آفسر د سود په ګټه باندې

---

[۱] الرهن شرعاً حبس شيء مالي بحق يمكن استيفاءه (قوله بحق) اى بسبب حق مالي (لا انتفاع به مطلقا) لا باستخدام ولا سكنى ولا لبس ولا اجارة ولا اعارة سواءً كان من مرتهن او راهن. (ردالمحتار/٦/ ٤٨٢).
ايضاً: لا يحل له ان ينتفع بشيء منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن به فى الربا لأنه يستو فى دينه كاملاً، فتبقى له المنفعة فضلا فيكون ربا. (ردالمحتار/ ٦/٤٨٢/ كتاب الرهن)۔

[۲] هو (أى البيع) مبادلة المال بالمال بالتراضى. (البحرالرائق/٥/٤٢٩/ كتاب البيع). وفى الهندية: اما تعريفه فمبادلة المال بالمال بالتراضى. (فتاوىٰ هندية/ ٣/ ٢/ كتاب البيوع). كل يتصرف فى ملكه كيف يشاء. (شرح المجلة/٦٥٤/ رقم المادة: ١١٩٢)۔

ډيرې ګټې حاصلې کړې، د سودي قرضونو په حصول او د بينکونو واجب الادا قرضونه سره د سود معاف کولو کې چې کوم نوم هغه پيدا کړو، د بينکارۍ په دنيا کې يې مثال پيش کول ګران دي، په انکم ټيکس کې ملازم زما ورور د انسپکټر په عهده باندې هغه فوائد حاصل کړل چې په ټول خاندان کې يې نوم پيدا کړ، خو په معاشره کې يې په "راشي ورور" باندې ډير شهرت وموند، کسټم افسر زما ورور ملازم يو اصل جوړ کړی دی چې څوک به هم نه بخښبي، د نورو ملکونو نه راتلونکو پاکستانيانو نه غير ملکي شيان، قيمتي کپړه، او غوره سامان نه پرته په فارن کرنسي کې ډالر، پاونډ، ين او د فرانک ډير والی به په کور کې وو، د رشوت د نوټونو د بې قدرۍ يې دا حال وو چې د پنځوسو روپيو پان او د مرغ مسلم دعوت کول د هغه عام عادت و. خو په ISC او KDA کې ملازمان زما دواړه مسکينانو ورونړه به رشوت ضرور اخيست خو د هغوی د ګټې تقابل زما او د نورو څلورو ورونړو د رشوت د ګټې په مقابله کې کم و، په هر حال روزانه به يې دوه درې زره خو پيدا کولې، دغه شان د رشوت د ګټې دور و، روزانه به د رشوت پيسې د بچيو په موجودګي کې جمع کولو باندې د فرمائشي لسټ مطابق تقسيم شوې او پاتې پيسې به د بچت په طور وساتل شوې، د بد نظر نه د بچ کيدو دپاره به اکثر او بيشتر د لنګر اهتمام کيده، چې به په کې به د غريبانو او فقيرانو د شرکت بندوبست کېده، مونږ ټولو به خپله کاميابي په همدې کې ګڼله.

زه هغه وخت په هوش کې راغلم چې کله اوبه د سر نه تيرې شوې، يعنی چې کله زما درې بچي بالترتيب معذور پيدا شو، ډاکټرانو وويل چې دا لاعلاج دي، ما دولت او اثر ورسوخ د هغوی د علاج دپاره وقف کړل، خو بالآخر په يو ميډيکل کانفرنس کې د پيش شوې موضوع دې الفاظو زه نااميده کړم چې : د ټولو نه زياته لاعلاج او سخته بيماري د پوليس والو نويو پيدا شويو اولادو ته لګيږي" په تحقيق کولو باندې ماته احساس وشو چې د رشوت خورو د کورونو زينت چونکې د رشوت په حرام مال سره وي، لاعلاجه بيماري په مفته کې په رشوت خورو کورنو کې پالنه موندونکو معصومو نويو پيدا شويو ماشومانو ته نصيب کيږي،ددې معصومو ماشومانو هيڅ قصور نه وي، اصل ذمه داري خو د هغوی د مور پلار رشوت اخستونکو خلکو ته سزا ملاويدل پکار دي، خو د الله پاک انتقام هم ډير خطرناک دی، نطفه چونکې له حرامو نه جوړيږي، په دې وجه رشوت اخستونکي مور پلار ته هم سزا ملاويدل شروع شي.

په دې ټولو عبرت انګيزه نښو موندلو باندې ما رشوت اخيستل پريخودل، خو چې کوم رشوت اخيستل شوي دي، دهغه په باره کې ستاسو جواب دادی چې اصل رقم دې حقدارانو ته واپس کړل شي، په دې سلسله کې ماته ګرانه دا ده چې د ملازمت په دوران کې زما تقرري په ډيرو ټانو باندې شوې ده، د کومو کومو خلکو نه چې ما په جائز او ناجائز کارونو باندې بنه رشوت واخيست، هغوی ټول نه خو زما پيژندګلوي وو او نه داسې معروف شخصيتونه وو چې د هغوی لټون په آسانۍ سره وکړل شي، اکثر به وفات شوي وي، اکثر او زيات به کورونه بدلولو

سره د ښار يو بل ځای ته يا به د کراچۍ ښار نه بل ښارته تللي وي، اوس زه هغوی څنګه ولټوم؟ د ځواني په زمانه کې خو مې ښه د رشوت بازار ګرم کړی و، اوس د بوډاتوب منازل په سر باندې دي، ډير سخت تکليف محسوسوم، حال دا چې زما نور ټول ورونه زما له منع کولو سره سره رشوت له څه ويرې او خطرې پرته خوري، زه خپله د چا نه پيسې نه غواړم، که څوک خپله راکړي نو واپس کوم يې هم نه، خو ماتحت عمله په چل ول باندې پخپله زمابرخه ماته په خاموشي سره په لفافه کې بندولو سره رارسوي، کومې چې زه رد کوم هم نه، زما په مقابله کې خو زما ورونه خپل خپل مذکوره محکمو کې باقاعده غوښتلو سره رشوت طلب کوي، په بينک کې ملازم ورور مې د سود په کار باندې اوس کميشن مقرر کړی دی،

شرعي طور زما متعلق څه حکم دی؟ جواب راکړئ چې د دې تکليف نه خلاص شم.

جواب: مکرم او محترم روره السلام عليکم!

د الله پاک په لکونو شکرونه د يچې د مرګ نه مخکې تاسو ته د ګناه احساس وشو. او ورسره درته د دې ګناه د کفارې هم احساس وشو، که الله پاک مه کړه انسان په دې حالت کې مړ شي او توبه هم و نه کړي، نو چې څه حشر به يې وي؟ الله پاک دې موږ د هغعه نه بچ وساتي، ستاسو معامله ډيره سخته او نازکه ده، په دې سلسله کې څو خبرې تاسو ته کول غواړم:

۱: تر نن پورې مو چې کوم رشوت اخيستی دی، که د هغه مقدار هر څومره وي، په هغه باندې په رښتيني زړه سره توبه وکړئ، او په کور کې ورې او ترې مړ کيدل ښه دي، په نسبت د دې چې د رشوت يوه پيسه هم کورته راشي. ستاسو کوم اهلکار چې تاسو ته په بندو لفافو کې پيسې رارسوي، هغوی ته صفا ووايئ چې زه دا زهر ګنم او په هيڅ قيمت باندې هم د رشوت د پيسو اخستونکی نه يم، په دې وجه دې هغوی دا سلسله بنده کړي، اګر که په دې سلسله کې تاسو ته د خپلو خپلوانو د طرف نه. د دوستانو او ملګرو د طرف نه، د ښځې او بچيو د طرف نه هر څومره مزاحمت کول وي. خو تاسو دا تصور وکړئ چې زما آخري وخت دی، او د دې خلکو راضی کيدل يا خفه کيدل زما له پاره يو شان دي.

۲: د اول نه آخره پورې چې څومره مال تاسو د رشوت اخيستی دی، په پښيمانتيا سره هغه باندې د الله پاک نه معافي وغواړئ، او الله پاک سره وعده وکړئ چې يا الله! کوم زهر چې ما خوړلي دي، په قبر او حشر کې په هغو باندې ما مه رانيسه، ښه په ژړا ژړا باندې د الله پاک نه معافي وغواړئ![1]

۳: په پوره ژوند کې چې د رشوت څومره پيسې تاسو اخيستې دي، د هغو اندازه وکړئ او الله پاک سره عهد وکړئ چې زه به دا پيسې واپس کوم.

---

[1] ”يٰأيها الذين اٰمنوا توبوا الى الله توبة نصوحاً عسٰى ربكم ان يكفر عنكم سياٰاتكم ويدخلكم. . . . . الخ. (التحريم: ۸). ”ربنا لاتؤاخذنا ان نسينا او أخطأنا“. (البقرة: ۲۸۶).

۴: د کومو خلکو نوم او پته چې تاسو ته معلومه ده، په هغوی کې هر یو ته لاړ شئ، او هر یو ته دا خبره وکړئ چې ما چې ستاسو نه د رشوت کومه پیسه اخیستې ده هغه د الله پاک له پاره ماته معاف کړئ که معاف کولی یې نه شئ نو ان شاء الله زه به کوشش کوم چې په کرار کرار ستاسو پیسې واپس کړم. [۱]

۵: او د کومو خلکو چې تاسو ته علم نه شته، یا ستاسو په ذهن کې نه وي، د هغوی اندازه وکړئ چې تاسو د هغوی نه څومره روپۍ اخیستې دي؟ او تاسو الله پاک سره وعده وکړئ چې الله پاک دې توفیق راکړي چې دومره روپۍ د خلکو له طرف نه غریبانو او مسکینانو ته ورکړئ! [۲] او که د هغو له پاره تاسو خپل کور خرڅ کړئ نو له دې نه هم مه وروسته کیږئ! دا څو شیان ما مختصر ذکر کړي دي که نور د څه شي وضاحت پکار وي نو تاسو زما خواته تشریف راوړئ! والسلام.

د بل د څاروي په پاللو باندې اجرت اخیستل

سوال: غوا یا میښه چا ته د پالنې له پاره ورکول او هغه ته دا ویل چې څاروی ما اخیستی دی، د ګیا وغیره غم یې ته کوه، پی(شیدې) هم ستا، پاتې د دې څاروي په بچیو کې نیم ستا او نیم زمونږ دي، آیا داسې معامله شرعي نقطه نظر سره جائز ده؟

جواب: دا معامله شرعي نقطه نظر سره جائز نه ده، څاروي به د هغه وي چې د چا ملکیت دی، او د هغه پالنه کونکي ته به مناسب مزدوري ملاویږي. [۳]

---

[۱]]ان التوبة من الرشوة بردالمال الى صاحبه. . . . الخ. (البحر/۲۸٦/٦). وان كانت (اى التوبة) عما يتعلق بالعباد فان كانت من مظالم الأموال فيتوقف صحة التوبة منها مع ما قدمناه فى حقوق الله على الخروج عن عهدة الأموال وارضاء الخصم فى الحال او الاستقبال بأن يتحلل منهم او يردها اليهم او الى من يقوم مقامهم من وكيل او وارث. (شرح فقه الاكبر/۱۹٤/ بيان اقسام التوبة).

[۲]]الحاصل: انه ان علم ارباب الأموال وجب رده عليهم، والا فان علم عين الحرام لا يحل له، ويتصدق به بنية صاحبه.(ردالمحتار/٥/۹۹).وفى القنية:رجل عليه ديون لأناس لا يعرفهم من غصوب ومظالم وجنايات يتصدق بقدرها على الفقراء على عزيمة القضاء ان وجدهم مع التوبة الى الله فيعذر. (شرح فقه الأكبر/۱۹٤/ بيان اقسام التوبة).

[۳]]اذا دفع البقرة بالعلف، ليكون الحادث بينهما نصفين، فما حدث فهو لصاحب البقرة ولذلك لرجل مثل علفه الذى علفه واجر مثله لمن قام عليها. (الفتاوىٰ التتارخانية/٥/٦٧٠/ كتاب الشركة). وفى الفتاوى الهندية/ ٤/ ٤٤٥/ الفصل الثالث فى قفيز الطحان). دفع بفرة الى رجل على ان يعلفها، وما يكون مناللبن والسمن بينهما انصافاً فالاجارة فاسدة، وعلى صاحب البقر للرجل اجر قيامه وقيمته علفه ان علفها من علف هو ملكه، لا ما سرحها فى المرغى. . . وكذا لو دفع الدجال على ان البيض بينهما لا يجوز، والحادث كلهٗ لصاحب الدجاج.

د اجرت نه د زیاتو پیسو ورکولو فیشن

سوال: زموږ د معاشرې یوه لویه خرابي داده چې هغوی د نورو خلکو په تقلید کې او هرنوي شي خپلولو نه مخکې د خپل دین اصول پریږدي اودې ته زمونږ د معاشرې خراب ذهنیت د فیشن ښائسته نوم ورکړی او موږ ته یې غلط لارو باندې پیش کولو د پاره وړاندې کړی، کیدای شي همدغه وجه وي چې اوس موږ کې د بدې او ښه والي مینځ کې د فرق کولو شعور ختم شوی دی او بدې راته اوس ښه کارونه ښکاري، خو که چېرې موږ کې د خپلو دیني اصولو احترام او هغو باندې په کلکه د عمل کولو جذبه موجوده وای، نو د دې عمل په وجه باندې به موږ نن د ډیرو بدو او فضول لعنتونو نه ځان بچ کولي شوای.

ټپ، بخشش یا د بهرګټه، هم یو وبایي او فضول لعنت دی، چې د هغې مطلب یو خدمتګار ته د هغه د خدمت په بدله کې د هغه د مقررشوي معاوضې نه پرته انعام ورکول دي. اوسه پورې به خودا فضول خرچي اوبدې ګڼل کیده، خو اوس د حالات بدلیدو په وجه باندې دا یورواج ګڼل کیږي او معاشره کې د دې د شروع کولو د پاره کوشش هم کیږي. د ځه خلکو په نظر کې دا په معاشره کې د اوچت مقام ذریعه هم کیدای شي، خو د داسې خلکو تعداد هم کم نه دی چې هغوی دې ته د معاشرې د خرابولو ذریعه وایي. هوټل کې ټپ، او سرکاري دفترونو کې د بند کارونو پوره کولو د پاره نذرانه، انعام یا رشوت دیوا وچت سړي د خوشحالولو د پاره تحفې ورکول، رکشا، ټیکسی والونه پرته په مختلفو شعبو کې د مقررشویو پیسونه زیاتې پیسو ورکولو کې د ځه شک ګنجائش نه بغیر د بدو او ګناهونو په فهرست کې شاملیږي، خو افسوس دی چې دیني هدایات یې هیر کړي دي او نن مسلمان پخپله داخپل حق او معاشرتي ضرورت ګڼي، حقیقت کې د دې بدیو پیداکونکي هغه خلک دي د کومو په زړونو کې چې د بهرد ګټې خیال پوخ شوی وي، او د دوی حوصله هغه خلک پیداکوی کومو خلکو سره چې ناجائز دولت ډیر زیات وي، هغوی ناجائزه طورباندې پیسې پیداکوي او ناجائز طورباندې یې خرچ کوي، هغوی ته پته نه وي چې د دې حرکتونو په وجه باندې خو یو طرف د غریبانو کې غربت زیاتیږي او بل طرف د معاشرې د تباهي سامان پیداکیږي.

جواب: چاته د مقررشوي معاوضې نه زیاتې پیسې ورکول خو شرعی طورباندې جائز دي، بلکې مستحب دي[1]، خو دلته د یو څو شیانو خیال ساتل پکار دي.

---

[1] عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: كان لرجل على النبى صلى الله عليه وسلم: سن من الابل فجاء ه يتقاضاه، فقال: اعطوه! فطلبوا سنه فلم يجدوا له الا سنا فوقه، فقال: اعطوه! فقال: او فيتنى او فى الله لک، قال النبى صلى الله عليه وسلم: ان خياركم احسنكم قضاء. (صحيح البخاري/۱/۳۲۲/ باب احسن القضاء). وايضا: پيغمبر صلى الله عليه وسلم چون دَين ادا كردى، زياده از قدر واجب دادى، بجائى نيم وسق يك وسق، وبجائى يك وسق دو وسق دادى، ومى فرمود كه اين قدرحق تست، [بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

۱. اخستونکی دې دمقررشوې معاوضې نه دزياتې طمع اوحرص نه کوي.
۲. که چېرې يوکس انعام ورنه کړي نودهغه نه دې مطالبه نه کوي[۱]، اونه دې هغه شوم ګڼي چې شرعي طورباندې دادواړه خبرې حرامې دي.[۲]
۳. کوم شی چې دحراموذريعه جوړه شي هغه هم حرام وي[۳]، مثلاً: دپيشې په طورباندې سوال کول حرام دي، اوکوم خلک چې دغه شان سوال کونکوته پيسې ورکوي، هغوی دوی ته دخير غوښتلو عادت جوړوي، په دې وجه باندې ځينې عالمانوفرمائيلي دي چې دپيشې په طورباندې نه صرف سوال کول حرام دي، بلکې هغوی ته پيسې ورکول هم حرام دي[۴] دغه شان که چېرې دزياتو پيسو ورکولوپه وجه باندې هغوی کې دمطالبې کولوعادت پيداکيږي، نودنه ورکونکي شوم اوکمزوري ګڼلومرض پکې پيداکيږي، نوداهرڅه دپرېښودوقابل دي.

د شاړې ځمکې ملکيت

سوال: اوريدلی مودي چې شاړه ځمکه کوم سړي اباده کړه دهغه له پاره حلاله ده، په کاغذونو کې دملکيت هيڅ وزن نه شته.

جواب: دامسئله دهغې شاړې ځمکې ده، دکومې چې مالک نه وي، او دحکومت په اجازه يې اباده کړې وي، دکومې شاړې ځمکې چې مالک وي دهغې ابادول جائزنه دي.[۵]

بقيه د تيرمخ]..واين قدر افزونى ازمن است، اين زياده دادن بى شرط ربانيست، جائزاست، بلكه مستحب است. (مالا بدمنه، فارسى، كتاب التقوىٰ ص:۱۰۶، طبع مكتبه شركت علميه ملتان)۔

۱] عن ابى حرة الرقاشى عن عمه رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا تظلموا الا لا يحل مال امريء الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة/۲۵۵/ كتاب البيوع/ باب الغصب والعارية)۔

۲] "يٰأيها الذين أمنوا لايسخر قوم من قوم عسىٰ ان يكونوا خيراً منهم". (سورة ۴۹، الحجرات: ۱۱)۔

۳]لان الاصل ان سبب الحرام حرام. (هداية/٤/۴۹۶)۔

٤]ولا يحل ان يسأل شيئاً من القوت من له قوت يومه ويأثم معطيه ان علم بحاله لاعانته على المحرم. (الدرالمختار /۲/۳٥٤، ۳۵۵/باب المصرف)۔

٥] عن عائشة رضى الله عنها ان النبى صلى الله عليه وسلم قال: من عمر ارجاً ليست لأحد فهو احق. (جامع الاصول/۱/۳٤۷/ رقم الحديث: ۱۳۰). عن اسمر بن مضرس رضى الله عنه قال: آيت النبى صلى الله عليه وسلم. ....من سبق الى مالم يسبقه مسلم فهو له. (ابوداؤد/كتاب الخراج/ ۲/۸۱/ طبع امداديه) ايضاً: اذا احيا مسلم او ذمى ارضاً غير منتفع بها وليست بمملوكة لمسلم ولا ذمى فلو مملوكة لم تكن مواتاً فلو لم يعرف مالكها فهى لقطة ملكها عند ابى يوسف رحمه الله وهو المختار كما فى المختار. . . . . ان اذن له الامام فى ذلك وقالا يملكها بلا اذنه........الخ. (الدرالمختار/٦/ ٤۳۱، ٤۳۲/ كتاب احياء الموات)۔

د مزدورانو بونس که مالک په خوشحالي باندې ورکوي نو جائز دی

سوال: د مزدورانو بونس اخیستل جائز دي او که نه؟

جواب: که مالک يې خوشحالي باندې ورکوي نوجائز دی.[1]

په بچيو د ناجائزې ګټې د خوړلو ګناه به په چاوي؟

سوال: يو پلار خپلو بچيو باندې په ناجائز طريقه باندې ګټل شوې پيسې خوري، تردې پورې چې بچي يې بالغ او عقل مندشي او بچيوته پته ولګيږي چې زموږ پلار په موږ باندې د حرامو پيسې خوړلې دي، نو آيا بچيوته د خپل مور پلار نه جدا کيدل پکار دي؟ او که چېرې بچي يې ددې قابل نه وي چې پخپله باندې ګټه وکړي، نو بيا بچيوته څه کول پکار دي؟ آيا د پلار ګناه به بچيو باندې هم وي، يا صرف د پلار به يې وي؟ دې باره کې د قران او حديث مطابق تفصيل سره بيان وکړئ!

جواب: بالغ کيدو اوپته لګيدو نه وروسته به يې بچي هم ګناهګار وي، هغوی ته د داسې ګټې نه پرهيز کول پکار دي[2]، او که چېرې دا ممکن نه وی نو بيا جدا کيدل پکار دي، او د مور پلار په خدمت او اطاعت کې هيڅ قسمه کمی کول نه دي پکار، او که چېرې د هغوی څه ضرورت نه وي، نو هغه پوره کول پکار دي.

ماتې پيسې وي او دا ويل چې نه شته

سوال: زه دوکان داريم، خلک رانه ماتې پيسې اخيستل غواړي، او هغه د خپل استعمال له پاره وی، موږ ورته وايو چې نه شته، آيا دا به دروغو کې شماريږي؟ او څه ويل پکار دي؟

جواب: دروغ ويل نه دي پکار[3]، او يو مناسب طريقه باندې ورته عُذر کول پکار دي.

سفر کې په مسافرو باندې په ګران هوټل کې خوراک کولو سره د ډرائيور مفت خوراک

سوال: کراچۍ، حيدراباد او څينې نورو ځايونو کې بسونه هوټلونو کې ودريږي او مسافر د هغه هوټلونه خوراک کوي، او شربتونه وغيره څښنې، او د عام ريتې نه هوټل والا زياتې پيسې اخلي،

---

[1] عن ابی حرة الرقاشی عن عمه رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا لا تظلموا! الا لا يحل مال امرء الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة/٢٥٥/كتاب البيوع/ باب الغصب والعارية)۔

[2] عن عائشة رضی الله عنها ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: رفع القلم عن ثلاثة. . . . . . . وعن الصغير حتى يكبر. . . . . الخ. (ابن ماجة/١٤٧/ باب طلاق المعتدة والصغير)۔

[3] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الكذب فجور وان الفجور يهدى الى النار.(مشكوٰة/ ٢/ ٤١٢)

او ډرائیور اود بس نوره عمله یادهغوی میلمانهٔ هم په خوراک کې شریک وي اود هغوی نه پیسې نه اخلي، نوایاداخوراک دډرائیوراودنورې عملې دپاره حلال دی اوکه حرام؟

جواب: که هوټل والا ډرائیوراودهغه په میلمانو باندې دپیژندګلو او دوستي اواحسان په وجه باندې مفت خوراک کوي نوداجائزدی، اوکه چرې دې له پاره یې پرې خوري چې هغوی موټر هلته ودروي چې دمسافرونه زیاتې پیسې واخلونوداجائزنه دي.[1]

د بس دعملې هوټل باندې دریدو سره مفت خوراک کول

سوال: د کراچۍ نه کوئټې او د کوئټې نه کراچۍ ته بسونه چلیږي، په هر کوچ کې تقریبا د (۵) نه واخله تر (۸) کسانو پورې عمله وي، او په لاره کې هر بس د خوراک او چای څښلو له پاره دریږي او د کوچ والو دهوټل د مالکانو سره معاهده وي چې موږ به دموټر سورلی ستاسو په هوټل باندې دروو، تاسو پوه شئ او سورلۍ پوه شه، که ارزان ورکوئ که ګران، هغه ستاسو کار دی، خو زموږ په بس کې چې څومره عمله وي سره د کله نا کله ملیمه، د هغو ټولو کسانو دپاره به اعلی قسم خوراک مفت وي او په خوراک کې به هم بې حسابه شیان وي، مثلاً: د خوراک نه پس بوتلې اوداسې نور...هم شامل وي، که داسې نه وي نو موږ به بس بل ځای دروو. د هوټل والاخو دا خوراک عملې ته مفت ورکوي خو زور یې د سورلیو نه اوباسي، خوراک ورته ډیر ګران هم ورکوي او خراب هم وي، لهذا پوښتنه داده چې دا مفت خوراک د دې ډرائیورانو اوبس عملې دپاره جائزدی اوکه نه؟ بله دا چې د دې لالچ له وجې دهوټل ګټه جائز ده اوکه نه؟

جواب: کوم صورت چې تاسو لیکلی دی، د دې مطابق چې ډرائیور او د هغه ملګري کوم خوراک کوي دا د رشوت ډوډۍ ده، چې د هغوی له پاره حلاله نه ده. [2] په رشوت ورکولو کې د هوټل والا هم ګنهګار دي، خو د هغوی ګټه حلاله ده.

دډاک لفافه، کارډ وغیره د مقرر قیمت نه په زیات خرڅول

سوال: د ډاک خانې لفافې، پوسټ کارډ، رسیدي ټکټ وغیره په زیات قیمت باندې خرڅول صحیح دي اوکه نه؟

---

[1] اما الحلال من الجانبين فهو الاهداء للتود والمحبة وليس هومن الرشوة (البحرالرائق/٦/٢٦٢). فى البرجندي رحمه الله: الرشوة مال يعطيه بشرط ان يعينه كذافى فتاويٰ قاضيخان(كشاف اصطلاحات الفنون/١/٥٩٥/ طبع سهيل اكيدمى)

[2] وفى البرجندي: الرشوة مال يعطيه بشرط ان يعينه كذا فى فتاويٰ قاضى خان. (مجموعة قواعد الفقه/٣٠٧). لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الراشي اى معطى الرشوة، والمرتشي اى آخذها. . . . . . وانما يلحقهم العقوبة معاً اذا استويا فى القصد والارادة، ورشا المعط لينال به الى الظلم.......الخ. (بذل المجهود/٤/ ٣٠٧، البحر/ ٦/ ٢٨٥).

جواب: زيات قيمت اخيستل جائز دي، قانونا کيداى شي جائز نه وي. [۱]

محصول(ګمرک) نه ورکول شرعي طور بانديې څنګه دي؟

سوال: محصول اخيستل او ورکول څنګه دي؟ که چېرې يوکس مال په پټه بانديې يوړو، نوهغه له پاره هغه مال څنګه دى؟ او آيا د ګمرک ټيکدارته دهغه شکايت کول پکار دي؟

جواب: محصول(ګمرک) شرعي طوربانديې جائزنه دى[۲] که دمال اوعزت ويره نه وي. نو ورکول يې نه دي پکار. [۳]

د شاپ ايکټ شرعي حيثيت او د جمعې په ورځ بانديې دوکان خلاصول

سوال: عرض دادې چې داسلامي مسئلوباره کې ستاسوکالم لولم، او نن ماته يوه مسئله راغلې ده، ماد ډيروعالمانونه اوريدلي دي چې دجمعې په ورځ بانديې مسلمانانو! تاسوخپلو جماتونوته صفا ستره ځئ اومونځ اداکوئ، اوله لمانځه وروسته تاسو ځمکه بانديې خپل رزق تلاش کړئ، او حضور ﷺ فرمائيلي دي چې تجارت ښه پيشه ده او خپله پيشه کې امانت او ديانت سره محنت کوئ او رزق ګټئ! اوس مسئله داده چې پاکستان کې يوقانون دى، چې هغې ته دشاپ ايکټ قانون ويل کيږي، ددې قانون مطابق دشپې اتو بجونه وروسته دوکان خلاصول يازيات محنت کول يادجمعې په ورځ بانديې (دجمعې دلمانځه نه مخکې ياوروسته) دوکان خلاصول جرم دى. اوس تاسودا ووايئ چې ايا اسلام کې دشپې اته بجونه وروسته دوکان خلاصول يازيات محنت کول يادجمعې په ورځ بانديې(دجمعې دلمانځه نه پرته) دوکان خلاصول جائزدي ياجرم دى؟ دشاپ ايکټ يوصاحب دټول کال راهيسې مادې باره کې پريشانه کوي اومابانديې جرمانې لګوي، تاسوته په دې مسئلې بانديې دپوهيدوډپاره دا وضاحت وکړم چې زمونږدوکان په محله کې دى، مونږهم هغه پلاټ کې اوسيږو. زمونږدوکان کې نوکروغيره نه شته، مونږ دوه ورونه په يوځاى بانديې دوکان کوو، اوورسره تعليم هم حاصلوو، زه دبي کام طالب علم يم اوزمونږدمعاش ذريعه هم دغه دوکان دى، مور اوپلار مو

۱]و يجوز للمشترى ان يزيد البائع فى الثمن. . . . . . . الخ. (الجوهرة/باب المرابحة والتولية/ ۲۱۳/۱).
ايضاً: ومن اشتريٰ شيأاً واغلى فى ثمنه جاز. (فتاويٰ عالمگيري/۳/ ۱۶۱/ الباب الرابع عشر).

۲] ځکه چه دا ظلم دې اوڅنګه چه ظلم ناجائز اوحرام دې دغه شان دظلم مددکول هم ناجائزدى. او څنګې اداکولوسره دظلم مدد کيږي. لهذا ناجائزدى. (فتاويٰ محمودية/۱۳۸/۱۷/ باب المترفات). قال الله تعاليٰ: "ولا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل". (البقرة:۱۸۸). قال الامام البغوى فى المعالم تحت هٰذاه الآية: (بالباطل) بالحرام يعنى بالربا والقمار والغصب والسرقة والخيانة ونحوها. (معالم التنزيل/۲/۵۰). ولا يجوز لأحد من المسلمين اخذ مال بغير سبب شرعى. (فتاويٰ هندية/۴/ ۴۶۰)_

۳] الضرورات تبيح المحظورات اى ان الأشياء الممنوعة تعامل كالأشياء المباحة وقت الضرورة. (شرح المجلة/۲۹/ رقم المادة: ۲۱)_

وفات شوي دي، مونږ ټول ورونه خويندې يوځاى اوسيږو، ددې حالاتو په وجه باندې کله کله دناوخته پورې دوکان خلاص وي، او کله دجمعې په ورځ باندې ددوکان خلاصولو ضرورت هم راشي، محله کې دوکانداري درخصتي په ورځ هم وي اودشپې نهه لس بجوپورې وي، اوس په ۲۱ دسمبرباندې دجمعې په ورځ دمحرم مياشت ختميدوپه وجه باندې ما ددوکان صفايي کوله چې دشاپ ايکټ والاسړى راغې اودوکان خلاصېدو په وجه باندې يې زما چالان وکړ، ما هغه ته ويل چې ما صفايي کوله، خوهغه زما خبره ونه منله، زه دمجبوري په وجه باندې تاسوته داخط ليکم. چې تاسود دې مسئلې وضاحت وکړئ چې دشاپ ايکټ قانون، داسلامي نظرې مطابق صحيح دى که غلط؟

جواب: دجمعې دلمونځ له پاره داذان نه وروسته دلمونځ نه فارغيدوپورې وخت کې اخيستل او خرڅول جائزنه دي[1] له دې نه پرته د دوکان په خلاصولوشرعي طورباندې څه پابندي نه شته، بلکې په قران کريم کې صفاارشاددى چې کله مونځ وشي، نوتاسوځمکه کې خواره شئ او د الله تعالى رزق تلاش کړئ![2] پاتې شوهغه قانون دکوم چې تاسو حواله ورکړې ده، نو زمونږ په ملک کې چې څومره نوربې شميره غيراسلامي قانونونه دي، هغو کې يوداهم شامل کړئ!

رکشه اوټيکسي په روزانه کرايه باندې چلول

سوال: اکثر ټيکسي او رکشه ډرائيور په کرايه باندې ټيکسي يا رکشه چلوي، دا ټيکسي يا رکشه د هغوى ملکيت نه وي، هغوى د مالک نه د يو متعين معاهدې د لاندې موټر چلوي، مابنام د پيټرول وغيره پيسې لرې کولو سره چې څومره پيسې د روزانه د آمدني نه زياتې شي، هغه د ټيکسي يا د رکشې د مالکانو وي، او ډرائيور د مقرر شوې معاهدې د لاندې خپل مخصوص پپيسې واخلي. آيا دا شرعا جائز ده؟

جواب: په مذکوره صورت کې د يو سړي داسې د معاهدې لاندې ټيکسي يا رکشه چلولو سره ـــه کول يا په کرايه باندې اخيستل شرعا جائز دي په دې کې هيڅ قباحت نه شته. [3]

۱]واذا اذن المؤذنون الأذان الاول ترک الناس البيع والشراء وتوجهوا الى الجمعة. . . . . . . والمراد من البيع والشراء ما يشغلهم عن السعى حتى انه اذا اشتغل بعمل آخر سواه يکره ايضاً. (الجوهرة النيرة/۱/۹۳/ کتاب الصلوٰة/باب صلوٰة الجمعة)_

۲]"يٰايها الذين أمنوا اذا نودى للصلوٰة من يوم الجمعة فاسعوا الى ذکرالله وذروا البيع ذٰلکم خير لکم ان کنتم تعلمون، فاذا قضيتم الصلوٰة فانتشروا فى الأرض وابتغوا من فضل الله". (الجمعة: ۹، ۱۰)_

۳]لا تصح الاجارة الا بشرطين: ان تکون المنافع معلومة، ۲. ان تکون الأجرة معلومة. (الفقه الحنفي/۲/ ۸۲/ کتاب الاجارة/شروط صحة الاجارة).

د رکشې میټر غلطولو سره زیاتې پیسې اخیستل

سوال: زمونږ په محله کې اکثریت د رکشه او ټیکسی والا دي، هغو خلکو سره اکثر زما تکرار راځي، حکومت د رکشه او ټیکسي میټر فی میل مقرر کړی دی، او دا خلک وايي چې حکومت هر وخت پټرول ګرانوي او د رکشې او ټیکسی کرایه نه زیاتوي، په دې وجه زمونږ په موجوده ریټونو باندې ګزاره نه کیږي، لهذا مجبورا مونږ د رکشې او د ټیکسی د میټر په تیزولو باندې مجبور یو، په دې سلسله کې شرعي رهنمائی مطلوب ده چې دا زیاتې پیسې کومې چې د حکومتي ریټونو نه پرته د میټر د تیزیدلو له وجې حاصلیږي جائز دي او که نه؟

جواب: کوم خلک چې په رکشه یا ټیکسي کې سفر کوي، د هغوی په ذهن کې خو همدا ده چې رکشه او ټیکسی والا د حکومت په مقرر کړي ریټ باندې چلیږي، په دې صورت کې د رکشې او ټیکسی والا د خپل ځان نه کرایه زیاتولو سره وصول کول د مسافر په خوښه نه دي، بلکې په دوکې سره دي، په دې وجه زیاتې پیسې حلالې نه دي. [۱] خو که د مسافر سره دا فیصله وکړل شي چې زه به دومره پیسې زیاتې اخلم او هغه په دې باندې راضي شي نو جائز ده.

د رکشې یا ټیکسی چلونکی له میټر نه زیاتې پیسې اخیستل

سوال: آیا د رکشې یا ټیکسي والا له پاره جائز دي چې میټر کومه کرایه ښايي مثلاً: (۴،۲۰، ۸،۸۰ یا ۱۳،۰۴) روپۍ او داسې نور...، خو که چیرې هغوی ته پنځه، لس یا پنځلس روپۍ ورکړل شي نو هغوی ټولې پیسې جیب ته واچوي او باقی پیسې نه ورکوي، آیا دا زیاتې پیسې صدقه، خیرات، یا زکات ګڼلو سره پرینبودل پکار دي؟ مهرباني وکړئ چې هغه خلک کوم چې ناجائز اخیستل او ورکول ګناه ګڼي، هغوی ته معلومه شي چې هغوی ګناه کوي او که نه؟

جواب: اصل اجرت خو هم هغه هومره جوړیږی څومره چې میټر ښايي، زیاتې پیسې کرایه دار واپس اخیستلی شي، خودې معامله کې خلک زیات بحث نه کوي، او که د روپۍ نه څه پیسې زیاتې وي نو هغوی پوره روپۍ ورکړي، که څوک یې په خپله خوشحالي باندې پریږدي، نو د رکشې یا ټیکسي والا له پاره حلالې دي، او که چرې هغه ترې نه مطالبه وکړی نو واپس کول یې ضروري دي. [۲]

---

[۱] قال تعالیٰ: لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل (قوله بالباطل) بالحرام يعنى بالربا والقمار والغصب والسرقة والخيانة ونحوها. (تفسير معالم التنزيل للبغوي/۲/ ۵۰). ايضاً: عن ابى حرة الرقاشى عن عمه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا تظلموا! الا لا يحل مال امرء. (مشكوٰة/۲۵۵/ باب الغصب والعارية).

[۲] قال تعالیٰ: لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل (قوله بالباطل) بالحرام يعنى بالربا والقمار والغصب والسرقة والخيانة ونحوها. (تفسير معالم التنزيل للبغوي/۲/ ۵۰). ايضاً: عن ابى حرة الرقاشى عن عمه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا تظلموا! الا لا يحل مال امرئ. (مشكوٰة/۲۵۵/ باب الغصب والعارية)۔

سوال: اکثرداسې هم وی چې د رکشې والادمیټرنه زیاتې پیسې غواړي آیا دمیټرنه زیاتې پیسې غوښتل دهغه دپاره حلال دي اوکه نه؟

جواب: ددې دوه صورتونه دي:

یوصورت داچې رکشې یاټیکسی والادمخکې نه ووائی چې دمیټرنه به دومره پیسې زیاتې اخلم، نودادهغه دپاره حلال دي، اوسورلی ته اختیاردې چې دغه زیاتی پیسې قبولې کړي یا هغه سره نه ځي.[۱]

دویم صورت دادې چې منزل ته رسیدونه وروسته هغه زیاتې پیسې غواړي، داجائزنه دي، ځکه چې دې صورت کې معاهده په میټر باندې وه، دمعاهدې خلاف کول دهغه دپاره جائزنه دي.[۲]

قاچاق(سمګلنګ) کونکي باندې کپړه خرڅول

سوال: که څوک دسمګلنګ له پاره کپړه(ټوکر) اخیستل غواړي، نودوکان دارته په هغه کپړه خرڅول پکاردي اوکه نه؟ اوکه چېرې خرڅه یې کړه نوهغه پیسې حلالې دي اوکه حرامې؟

جواب: قانوني طورباندې قاچاق(سمګلنګ) منع دی، که چېرې دوکان دارته پته وي چې دی کپړه دقاچاق(سمګلنګ) له پاره اخلي نوهغه ته نه دي ورکول پکار، اوکه چېرې یې ورکړي، نوګټه یې شرعي طورباندې حلاله ده.

دقاچاق(سمګلنګ) شرعي حیثیت

سوال: پوښتنه داده چې غیر قانوني کاروباره لکه سمګلنګ ، د دې متعلق د دې کونکي وایي چې دا مونږ په خپلو پیسو سره مال اخلو او منافع لګولو سره یې خرڅوو، لهذا دا جائز دی، د قرآن او سنت په رڼا کې جواب راکړئ!

جواب: شرعا خو کاروبار او اخیستل خرڅول جائز دي، خو کوم شیان چې د حکومت د قانون په رڼا کې ممنوع دي، هغه صحیح نه دي.

سوال : آیا د دې اخستونکي، خرڅونکي، سودا کونکي او په مینځ کې معاونت کونکي، د قرآن او سنت په رڼا کې قابل تعزیر دي حال دا چې په لاره کې دا د رشوت باعث هم دی؟

۱] الاجارة عقد. . . . . ولا یصح حتی تکون المنافع معلومة والأجرة معلومة. . . . . . الخ. (هدایة/ ۲۹۱/۳/ کتاب الاجارة). ایضاً: لا تصح الاجارة الا بشرطین: ان تکون المنافع معلومة، ۲. ان تکون الاجرة معلومة. (الفقه الحنفی وادلته/۸۲/۲/ کتاب الاجارة/ شروط صحة الاجارة)۔

۲] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: آیة المنافق ثلاث: اذا وعد اخلف، واذا حدث کذب. . . . . . الخ. (مشکوٰة/ ۱۷/ باب الکبائر وعلامات النفاق)۔

جواب: په دې کاروبار کې چې کوم رشوت وغیره ورکول راشي هغه به ګناه وي. او مشهور حدیث دي چې رشوت ورکونکی او اخستونکی دواړه په دوزخ کې دي. [۱]

د قاچقبرانو نه مال اخیستل او خرڅول

سوال: موږ د بهر نه مال راغواړو، چې په هغه باندې د اندازې مطابق د سلو روپیو په مال باندې ۹۲ روپۍ درآمدي ډیوټي ورکول وي، دغه شان موږ ته مال په (۱۹۲) روپۍ باندې پریوځي. سمګلران بغیر د ډیوټي نه هغه په (۱۳۰، ۱۴۰) باندې بازار کې خرڅوي، آیا حکومت ته د دومره زیاتې ډیوټي لګولو حق شته، حال دا چې هغوی عوامو ته بنیادي سهولتونه هم نه ورکوي، د سمګلرانو نه مال اخیستلو سره خرڅول جائز دي او که نه؟

جواب: شرعا جائز دي، د ګورنمنټ د قانون مطابق نه دي جائز.

د سرکاري ګودامونو نه غلا شوي غنم اخیستل، او د دې غنمو د بارولو او وړه کولو مزدوري کول

سوال: زه په یو پرائیویټ فلور میل کې ملازم یم، زما ډیوټي د غنمو په هغه سرکاري ګودامونو باندې ده کوم چې فلور میلونو ته د خپلې کوټې مطابق غنم ورکوي، محترم مفتي صاحب! د دې سرکاري ګودامونو نه چې کوم وخت موږ میلونو ته غنم ورکوو نو د ګودام AFC چې سرکاري ملازم دی د هرموټر د وزن کولو په وخت د ځلوېښتو نه شپیتو اویا کلوګرام پورې غنم کټ کوي، د دې خبرې علم ټولو میل مالکانو ته دی، او هغوی په دې خبره باندې تقریبا راضي هم دي، دویمه خبره دا ده چې د دې سرکاري ګودامونو نه AFC حضرات په غلا باندې څو څو ټرکونه غنم په پرائیویټ ریټ باندې میلونو ته ورکوي، او دا پیسې په سرکاري خزانې کې د جمع کیدو په ځای سرکاري اهلکار خپل مینځ کې تقسیموي اوس جناب ته د دې مضمون مناسبت سره څو مسائل لیکم، امید دی چې تفصیلي جواب به راکړئ:

آیا د میل مالکان چې د هغه سرکاري ملازمانو نه په غلا باندې کوم غنم اخلي، په پرائیویټ ریټ باندې هغه غنم اخیستلی شي؟

جواب: دا خو ظاهره خبره ده چې سرکاري ملازمین صرف د حکومت نمائندګان دي، لهذا د هغوی د سرکاري ګودامونو غله په غلا باندې خرڅول جائز نه دي، او نه د میل والو له پاره د غلا مال اخیستل جائز دي. [۲] دا خلک د معمولي ګټې له پاره په خپله روزي کې حرام ګډوي

---

[۱] الراشي والمرتشي في النار. (كنز العمال/ ٦/١١٣/ حديث نمبر: ١٥٠٧٧).

[۲] قال عليه السلام: من اشتري سرقة وهو يعلم انها سرقة فقد شرک فی عارها واثمها. (فیض القدیر/١/ ٥٦٤٥، رقم الحديث: ٨٤٤٣، طبع مكتبة الباز). ايضاً: قال القرضاوي: لم يحل للمسلم ان يشترى شيأً يعلم انه مغصوب او مسروق او مأخوذ من صاحبه بغير حق لانه اذا فعل [بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

او خپل آخرت تباه کوي، د غله سزا شریعت لاس پرې کول مقرر کړې ده[1] ، چې کله د هغوی په ګناه باندې هغوی ته سزا ګانې ملاویږي، نو هغه وخت به د هغوی څوک هم پوښتنه کونکی نه وي،اوکوم میل مالکان چې په دې خیانت کې شریک دي،هغوی ته به هم برابر سزا ملاویږي.

سوال: د میل مالکان که دا غنم اخیستلو سره په مل کې اوړهٔ کولو په صورت کې خرڅ کړي نو دا ګټه حلاله ده که حرامه؟

جواب: که د میل مالکانو ته دا علم وي چې دا د غلا مال دی، نو د هغوی له پاره یې نه اوړه کول جائز دي اونه د هغه اجرت حلال دی. [2]

سوال: زه په حیثیت د میل ملازم دا غنم په موټر کې لوډ کولو سره د وزن کولو نه پس میل ته سپلائي کوم، ما ته د میل نه صرف خپله د میاشتې تنخواه ملاویږي، یا ځینې ملازمانو ته فی لوډ خپل کمیشن ملاویږي، آیا زمونږ دپاره دا تنخواه یا کمیشن حلال شو یا حرام؟

جواب: که ستاسو په علم کې وي چې دا د غلا مال په موټر باندې لوډ کیږي، نو تاسو هم په جرم کې شریک یئ، او د قیامت په ورځ باندې د دې د حساب نه بری الذمة کیدلی نه شئ. [3]

سوال: کوم موټر چې دا غنم لوډ کولو سره میلونو ته رسوي او فی لوډ خپله کرایه وصولوي، آیا د هغوی دپاره دا کرایه حلاله ده که حرامه؟

جواب: که دا ورته معلومه وي چې حرامه غله ده نو موټر لرونکو له پاره د دې اوچتول هم حلال نه دي، او که هغوی ته معلومه نه وي چې دا د غلا مال دې نو معذور دي. [4]

بقیه د تیرمخ]..یعین الغاصب او السارق او المعتمد علی غصبه وسرقته وعداوته قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من اشتری سرقة (ای مسروقاً) وهو یعلم انها سرقة، فقد اشرک فی اثمها وعارها، البیهقی. (الحلال والحرام فی الاسلام، لشیخ یوسف القرضاوي/٢١٦/ طبع المکتب الاسلامی). بیع المسروق: اذا علم المشتری ان المبیع مسروق یحرم علیه شراؤه لان فیه اعانة الظالم علی ظلمه. (الفقه الحنفی وادلته، البیوع المنهی عنها/٢/ ٤٨). الحرمة ینتقل ای تنتقل حرمته وان تداولته الأیدی وتبدلت الأملاک. (ردالمحتار/ ٥/٩٨). وفیه ایضاً: لو رأی المکاس مثلاً یأخذ من احد شیأاً من المکس ثم یعطیه آخر ثم یأخذ من ذالک الآخر فهو حرام. (٥/ ٩٨/ مطلب الحرمة تتعدد).

[1] [قال تعالي: السارق والسارقة فاقطعوا ایدیهما جزاءً بما کسبا نکالاً من الله. (المائدة: ٣٨).

[2]] ایضاً حاشیه ګذشته: قال علیه السلام: من اشتريٰ سرقة وهو یعلم انها سرقة. . . . . الخ (فیض القدیر/١/ ٥٦٤٥، رقم الحدیث: ٨٤٤٣، طبع مکتبة الباز). ایضاً: قال القرضاوي: لم یحل للمسلم ان یشتری شیأاً یعلم انه مغصوب او مسروق...........ثم یعطیه آخر ثم یأخذ من ذالک الآخر فهو حرام. (٥/ ٩٨/ مطلب الحرمة تتعدد).

[3]]ایضاً_

[4]] ایضاً حاشیه ګذشته: قال علیه السلام: من اشتريٰ سرقة وهو یعلم انها سرقة. . . . . الخ (فیض القدیر/١/ ٥٦٤٥، رقم الحدیث: ٨٤٤٣، طبع مکتبة الباز). [بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

سوال: کوم مزدور چې دا غنم لوډ کوي، او بیا یې په میلونو کې کوزوي، دا خلک په هره بورۍ باندې خپل کمیشن اخلي، آیا دا کمیشن د هغوی له پاره حلال دی او که حرام؟

جواب: د دې حکم هماغه دی چې هغوی د غلا مال ګاډي کې لوډ کوي یا کوزوي، نو هغه هم شریک جرم دی، خو د بې علمي په وجه باندې معذور دی. [۱]

د انعام پیسې څنګه ورکړل شي؟

سوال: دکارخانې کاریګرانو ته نیمه میاشت وروسته دکارخانې دمال پیداواردانعام په طورباندې د برخې مطابق نغدې پیسې ورکړل شي، څه کاریګرانوکارپرېښی دی اودخپل انعام دپیسو اخیستو له پاره ډیروخت نه نه دي راغلي، نه دهغوی څه پته شته، هغه نغدې پیسې دامانت په طورباندې موجودې دي، هغو باندې څه کول پکاردي؟

جواب: انعام دې ته ویل کیږي چې دهغه په ملاویدوباندې شکایت نه وي اونه هغه دواجب حیثیت لري کاریګرانوته چې دانعام کومې پیسې ورکول کیږي، که چیرې دهغو همدا حیثیت وي، نوکومو کسانو ته چې پیسې نه دي ورکړل شوي، نودهغوی دبرخې پیسې دکارخانې والودي، هغوی چې پرې څه کول غواړي ودې کړي اوکه چیرې دهغه نوم انعام بس هسې کیښودل شوی دی او حقیقت کې دهغه اداکول دواجب حیثیت لري، بیاهم چې کوم کاریګر کارخانه پرېښې ده، هغه ددې مستحق نه دی، ځکه چې دې انعام له پاره دتاریخ مقررکولو مطلب دادی چې کوم کسان به دې ورځ باندې نوکران وي هغوی به دانعام حق داروي.

کوموکاریګرانوچې دمقررشوي تاریخ نه مخکې کارخانه پرېښې وي، نودهغوی حق ختم شو[۲] اوکه چیرې کاریګر پخپله کارخانه نه وي پرېښې، بلکې دکارخانې مالک ویستلی وي، نوهغه ددې انعام حق داردی اودکارخانه دارباندې فرض دي چې دنوکرې ویستلووخت کې هغه ته خپل انعام هم ورکړي.

یو ناپیژاند کس باندې وسله خرڅول

سوال: کوم کس چې دګناه په نیت باندې مال خرڅوي، مثلاً: سمګلنګ له پاره جامې وغیره، یاچاته نقصان رسولوله پاره وسله اخیستل غواړي، نو دوکاندار ته چې دداسې شي خرڅولو باندې کومه ګټه ملاویږي هغه به جائزوي اوکه نه؟

بقیه د تیرمخ]..ایضاً: قال القرضاوي: لم يحل للمسلم ان يشترى شيأً يعلم انه مغصوب او مسروق..........ثم يعطيه آخر ثم يأخذ من ذالک الآخر فهو حرام. (٥/ ٩٨/ مطلب الحرمة تتعدد).

[۱] ایضاً حاشیه ګذشته.

[۲] اذا بطل الشيء بطل ما في ضمنه، اذا بطل المتضمِن بطل المتضمَن. (الأشباه والنظائر/٣٩١)

جواب: داسې کس ته اسلحه ورکول چې دهغه باره کې دايقين وي چې دی به ناحق څوک قتلوي، نوداجائزنه دي، خرڅونکې به هم ګناهګاروي، خوبيع سهي ده.[۱]

داختارونوپه ذريعه د صنعت ګرو نه ډيرې فائدې اخيستل

سوال: نن سبادټريډيونين زمانه ده اوکاريګران (دلويو لويو ادارو) خپل جائز او ناجائز مطالبو پوره کولوله پاره هغوی بليک ميل کوي که چيرې کارخانه دار، ياسوداګروغيره دهغوی مطالبې ونه مني، نو دهغوی کاروباربندشي دقران اوحديث مطابق دا ووايئ چې دبليک ميلنګ اواختارونو په ذريعه باندې بې شيمره فائدې اخيستل جائزدي اوکه نه؟ ايا داپه حراموکې داخل نه دي؟

جواب: ناجائز، که هغه دمزدورانوله طرف نه وي اوکه دمالکانوله طرف نه، هغه ناجائزدي اصل خرابي داده چې موږکې نه داخرت دمحاسبې فکرپاتې شوی دی اونه دحلال اوحرام فرق، مزدور غواړي چې هغه محنت ونه کړي اومزدوري ورته ډيره ملاوشي، کارخانه دارداغواړي چې مزدور کار کوي، خوهغه ته مزدوري ورکول نه وي څنګه چې دکارخانه دارله طرف نه کمه مزدوري ورکول حرام دي، دغه شان دمزدورانوله پاره سهي کارنه کول ياپه زورباندې ناجائزه طورباندې فائدې حاصلوي، نودهغه رزق هم حرام دی[۲] اود قيامت په ورځ به دهغه نه پوښتنه کيږي چې تادفلانکي کس څومره کارکړی و اودهغه نه دې څومره مزدوري اخيستې وه.

د ډاکټري له پاره دروغژنې حلف نامې جمع کول سخته ګناه ده، خوکټه حلاله ده

سوال: له يوې مودې نه په ذهني پريشاني کې اخته يم، تاسو نه د رهنمايي غوښتونکی يم، د قرآن او حديث په رڼا کې ماته زما د مسئلې حال بيان کړئ!

زما شمير په ماهرو ډاکټرانو کې کيږي، څه موده مخکې زه د دين نه ناخبره وم، درې کاله

۱] ويكره بيع السلاح فى آيام الفتنة معناه ممن يعرف انه من اهل الفتنة لأنه تسبب الى المعصية. (هداية/٤/٤٧٠). ايضاً: والقسم الثانى من السبب القريب اعنى مالم يكن محركاً وباعثاً بل موصلاً محضاً فحرمته وان لم تكن منصوصة ولكنه داخل فيه باشتراک العلة، وهى الافضاء الى الشر والمعصية ولهٰذا اطلق الفقهاء رحمهم الله عليها لفظ كراهة التحريم، لا الحزمة. . . . . . . ومن هٰذا القبيل بيع الأسلحة لأهل الفتنة واهل الحرب فانه سبب قريب وصورة اعانة للمعصية. . . . الخ. (جواهر الفقه/ تفصيل الكلام فى مسئلة الاعانة على الحرام/ ٢/٤٥١)۔

۲]وليس للخاص ان يعمل لغيره ولو عمل نقص من اجرته بقدر ما عمل وقال ايضا: نجار استوجر الى الليل فعمل الآخر دواة بدرهم وهو يعلم فهو آثم وان لم يعلم فلا شيء عليه وينقص من اجر النجار بقدر ما عمل فى الدواة. (ردالمختار/٦/٧٠، ايضاً: هداية/٣/٣١٠/ كتاب الاجارات/ باب ضمان الأجير)۔

وړاندې د (FRCS) کولو له پاره لندن ته لاړم، هلته مې د انډیا نه راغلي یو تبلیغي جماعت سره ملاقات وشو، له هغه نه وروسته زما ژوند بدل شو، د حرام، حلال ادراک راته پیدا شو او ستاسو کالم ډیر په باقاعدګي سره لولم، مخکې ورځو کې ما د حرامې ګټې متعلق ستاسو جواب ولوست چې څنګه د کور سربراه پوره کورنۍ باندې حرامه ګټه خوري او تاسو چې څنګه په بصیرت سره د هغوی ښځې ته حل وښوده چې د یو غیر مسلم نه قرض اخیستو سره کور چلوه، زه هم له هغه ورځې نه سخت پرېشان یم، زما کیسه داده چې په ظاهره کې د ښه نمبرو باوجود چې کله ماته په کراچۍ کې په میډیکل کې داخله ملاو نه شوه، نو ما جعلي ډومیسائل جوړولو سره په پنجاب کې په ډاکټرۍ کې داخله واخیسته او هلته مې خپل تعلیم پوره کړ، اوس مې په ذهن کې دا پرېشاني ده چې ما د ډومیسائل په وخت حلف نامه داخله کړې وه چې زه په لاهور کې پیدا شوی یم، چې دایوه ددروغو حلف نامه وه، ددې نه وروسته مستقل رهائش یعنې پي آرسي، مې هم جعلی جوړه کړه او داخله مې کړه، ددې له پاره مې هم ددروغو حلف نامه داخل کړه.

دریمه غلطي مې دا وکړه چې کله مې د ډاکټرۍ فارم داخل کړ، نو په هغې کې مې هم دروغژنې حلف نامې داخلې کړې، په دروغومې دلاهور پته ولیکله، اوس تاسو ما د قرآن او حدیث په رڼا کې خبر کړئ چې د کومې ډګرۍ د حصول له پاره چې ما په حلال او حرام کې تمیز ونکړ، دروغژنې حلف نامې مې داخلې کړې، په دروغو مبني سرټیفیکیټ (ډومیسائل او PRC) مې جمع کړل او که ما دا هر څه نه و جمع کړي، نو نن به ډاکټر نه وای، نه به راته داخله ملاو شوې وه، اوس که د دې هر څه کولو نه وروسته چې ماته کومه ډګري راغلې ده، د دې حیثیت څه دی؟ او د دې ډګري له وجې نه چې کومه ګټه کیږي د هغې حیثیت څه دی؟ ایا په حرامه ګټه کې به شمارل کیږي یا به ورته حلاله ګټه ویل کیږي؟ تاسو ما خبر کړئ چې ایا زما ګټه کومه چې د ډاکټرۍ په لاره شوې ده چې هغه حلاله ده اوکه نه؟ چې زه بل څه کار شروع کولو سره خپل اهل و عیال له پاره د حلالې ګټې بندوبست وکړم.

جواب: تاسو چې کومې دروغژنې حلف نامې داخل کړې دي د هغو په تاسو باندې وبال راغی، چې د هغه نه توبه لازمي ده، په دروغو باندې قسم کول سخته ګناه ده [1] د دې له پاره الله پاک ته توبه وکړئ، هر چې ستاسو د ډاکټرۍ تعلق دی، که تاسو د ډاکټرۍ امتحان پاس کړی دی او په هغه کې مو څه دوکه نه وي کړي او په تاسو کې سهي طور د ډاکټرۍ استعداد (قوت) موجود وي، نو ستاسو د ډاکټرۍ پیشه جائز ده.

[1]]الکبائر: الاشراک بالله وعقوق الوالدین. . . . . والیمین الغموس. (مشکوٰة/ ١٧/ باب الکبائر).

کاروبار له پاره د ملک نه بهرتلل په شریعت کې څنګه دي؟

سوال: که څيرې يو مسلمان ملک کې دجايدادياوخت تيرولوله پاره دوه درې لکه روپۍ په بينک کې موجودې وي اودنوروپيسوپه لالچ کې زه دخپل ملک، خاندان اوښځې اوبچيونه لرې نوکري کوم، نودامعلومول غواړم چې شريعت کې ددې باره کې څه حکم دی؟ داهم بيانول غواړم چې مور کال وروسته ديوې نيمې مياشت په رخصتي باندې ملک ته راځو.

جواب: ستاسوپه خط کې دوه مسئلې دغورکولودي:

۱: داچې کوم کس سره دخپل وخت تيرولوله پاره دضرورت مطابق معاش موجودوي، نوهغه ته هم هغه باندې صبرکول پکاردي، يا نورې حاصلولوکې مشغوليدل پکاردي؟ددې جواب دادی که څيرې په حلاله ذريعه باندې نوروحاصلولوکې مشغول وي، نوجائز دي، په دې شرط چې دشريعت په فرائضوکې څه غفلت نه کوي، خوکه څيرې صبروکړئ اوخپل وخت داخرت له پاره وقف کړئ، نودا غوره ده.[۱]

۲: داچې دنوروپيسوګټلوله پاره خپل خپلوان پريښودل اودملک نه بهرتلل سهي دي اوکه نه؟ ددې جواب دادی چې دادحقوق العباد مسئله ده، موروپلار، دښځې اوبچيوحقوق اداکول دهغه ذمه داري ده، که څيرې هغوی خپل حق معاف کولوسره اجازه ورکوي، نوسهي ده،که نه، نه اواجازه او خوښه هم يوازې په خوله نه، بلکې په رښتيا باندې اجازه ضروري ده[۲] زماعلم کې ډيرداسې واقعات راغلي دي چې خلک ناوې ګانې پريږدي اوبهرملک ته لاړشي اودلته يې ښځې په ګناه کې مبتلاشي پخپله وفرمايئ چې ددې ظلم ذمه واربه څوک وي؟ که څيرې دغه ښځې پريښودل شي او وتښتي، نوبيامو هغوی نه قيدياني ولې جوړولې؟

د استاذانوله لوري په زور شيان خرڅول

سوال: الف ديوسکول هيډماسټردی، دهرکال په شروع کې دسکول په ماشومانوباندې دډرائنګ او خوشخطي کتابونه په زوروباندې خرڅوي اوتعليم دمحکمې په نزدباندې هغه داسې نه شي کولی، او دهغې کميشن په استاذانوکې تقسيم کړي اوددې دليل داوړاندې کوي چې دا خو کاروباري ګټه ده، ايا هغه سهي وايي؟

۱] عن ابي الدرداء رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ما طلعت الشمس الا وبجنبتيها ملكان يناديان يسمعان الخلائق غير الثقلين يا ايها الناس هلموا الى ربكم ما قل وكفى خير مما كثر والهى. (مشكوٰة/ ٤٤٥/ كتاب الرقاق/ الفصل الثالث)۔

۲]لا يحل سفر فيه خطر الا باذنهما وما لا خطر فيه يحل بلا اذن، قال الشامي: وما لا خطر فيه كالسفر للتجارة والحج والعمرة يحل بلا اذن الا ان خيف عليها الضيعة. (ردالمحتار/ ٥/١٢٥). ولو خرج المتعلم وضيع عياله يراعى حق العيال. (ردالمحتار/ كتاب الحظر والاباحة/٦/٤٠٨)۔

جواب: که چیرې یوزده کونکی هغه په خپله خوشالي باندې واخلي، نوسهي ده، خو په زورباندې خرڅول ناجائزدي.[1]

ایا په اخبارونو (ورځپا ڼو) کې کارکونکي په مفت کې ملاوشوی اخبار خرڅولی شي؟

سوال: ځینې خلک چې په اخبارونوکې کار کوي، هغوی ته اخبار مفت ملاویږي، ایا هغوی خپل اخبار خرڅولی شي؟
جواب: دا سړی هغه اخبار خرڅولی شي.[2]

د شوپیس یا ګفټ وغیره دکان پرانستل

سوال: زه دشوپیس یا ګفټ وغیره دکان پرانیستل غوارم، تاسو ته عرض دی چې دا کاروبار دقرآن او حدیث په رڼا کې څنګه دی؟ جائزدی اوکه ناجائز؟ اویا که دڅه شرطونو سره به حلال وي؟
جواب: د کومو شیانو چې استعمال جائز دی، د هغو اخیستل او خرڅول هم جائز دي.[3]

له نوکري پرته د تنخوا وصولول

سوال: یو صاحب خپل دوه وریرونه د کمپنۍ په سټور کې د چوکیداري په نوکري باندې لګولي دي، کشر ورور یې نوکري ته نه ځي او مشریې ځي، ایا د هغوی تنخوا حلاله ده؟
جواب: کوم ورور یې چې نوکري ته ځي د هغه تنخوا حلاله ده او کوم چې نه ځي د هغه حلاله نه ده[4]

د ډندې (ډیوټي) په دوران کې د ویده کیدونکي د تنخوا شرعي حکم

سوال: زه چې په کوم پلانټ باندې کار کوم، هلته په شفټونو کې د نوکري فرائض پوره کول

---

[1] "یٰأیها الذین امنوا لا تأکلوا اموالکم بینکم بالباطل الا ان تکون تجارة عن تراض منکم". (النساء: ٢٩). الا لا یحل مال امریء الا بطیب نفس منه. (مشکوٰة/ ٢٥٥/ کتاب الغصب والعاریة)_

[2] کل یتصرف فی ملکه کیف شاء. (شرح المجلة لسلیم رستم باز/١/ ٦٥٤/ المادة: ١١٩٢).

[3] کل ما ینتفع به فجائز بیعه والاجارة علیه. (القواعد الفقهیة/١٢٨). والحاصل: ان جواز البیع یدور مع حل الانتفاع. (درمختار/٥/٦٩/ باب البیع الفاسد).

[4] والاجارة لا تخلوا اما ان نقع علی وقت معلوم او علی عمل معلوم، فان وقعت علی عمل معلوم فلا تجب الأجرة الا باتمام العمل. (النتف فی الفتاوي/ ٣٣٨/ کتاب الاجارة). وایضاً: والأجیر الخاص الذی یستحق الأجرة بتسلیم نفسه فی المدة وان لم یعمل کمن استوجرشهراً للخدمة او لرعی الغنم وانما سمی اجیر وحد لانه لا یمکنه ان یعمل لغیره لان منافعه فی المدة صارت مستحقة له والأجر مقابل بالمنافع.(هدایة/٣/ ٣٠٨/ کتاب الاجارات/باب ضمان الأجیر).

کیږي سهار او ماښام او د شپې درې شفټونه په مختلفو وختونو کې وي، زموږ د پلانټ نوعیت داسې دی چې که په دویم پلانټ کې خرابي پیدا شي، نو په هغه صورت کې زموږ پلانټ چلیږي او د شپې خوشاذ او نادر ددې ضرورت راځي خو ډیوټي ددې له وجې نه وي چې اتفاقا د ایمرجنسي په طور باندې د پلانټ د روانولو ضرورت راشي، له دې وجې د ټولو افرادو موجودیت ډېر ضروري دی، په دې صورت کې چې کله پلانټ بند وي، خصوصا د شپې په وخت خو تقریبا یوه نیمه یا دوه نیمې بجو ته نژدې ټول افسران او کارکنان ویده شي، تاسو نه پوښتنه داده چې ایا د شپې د ډیوټۍ په دوران کې چې څه کار هم نه وي او خوب هم یو فطري عمل دی، زموږ د شپې په وخت کې ویده کیدل د شریعت په رڼا کې څنګه دي؟ او ایا د دې قسم نوکري نه حاصله شوې تنخوا حرامه ده که حلاله؟

جواب: د اصولو مطابق د کومو خلکو چې دې وخت کې دنده وي هغوی ته ویده کیدل نه دي پکار، خو که په ډیوټۍ کې څه مسئله نه واقع کیږي او په ضرورت پیښیدو باندې فورا پورته کیږي، نو غالبا په دې کې به دچشم پوشي نه کار اخیستل کیږي، له دې وجې جائز دي. [۱]

د کمپنۍ له اجازه نه پرته په خپل ځای په کمه تنخوا بل سړی ساتل

سوال: زه په یو کمپنۍ کې د چوکیدار په حیث ملازم یم، تنخوا د کمپنۍ له لوري ماته ټیکیدار ادا کوي چې هغه درې زره روپۍ دهٔ، ما کمپنۍ ته د ویلو نه پرته یو سړی په خپل ځای باندې مقرر کړی دی چاته چې زه پنځه سوه روپۍ ادا کوم، باقي ۲۵۰۰ روپۍ زما له پاره جائز دي او که ناجائز؟ زه په یو مسجد کې امام یم او د هغې تنخوا ماته دوه زره روپۍ ملاویږي؟

جواب: د کمپنۍ والا له طرف نه که اجازه درکړل شي، نو تاسو په خپل ځای سړی ساتلی شی،که نه، نه یې شئ ساتلی، د کمپنۍ د اجازې نه پرته چې تاسو کوم سړی ساتلی دی دا تنخوا ستاسو له پاره جائز نه ده، بلکې د مسجد امامت هم ستاسو له پاره جائز نه دی. [۲]

---

[۱] والأجیر الخاص الذی یستحق الأجرة بتسلیم نفسه فی المدة وان لمیعمل کمن استوجر شهراً للخدمة او لرعی الغنم وانما سمی اجیر وحد لانه لا یمکنه ان یعمل لغیره لان منافعه فی المدة صارت مستحقة له والأجیر مقابل بالمنافع. (هدایة/۳/۳۰۸/ کتاب الاجارات/ باب ضمان الأجیر). وفی الدرالمختار: الثانی وهو الأجیر الخاص ویسمٰی اجیر وحد، وهو من یعمل لواحد عملاً مؤقتاً بالتخصیص. . . . . کمن استؤجر شهراً للخدمة، او شهر لرعی الغنم المسمٰی بأجر مسمی. . . . . ولیس للخاص ان یعمل لغیره، ولو عمل نقص من اجرته بقدر ما عمل. (الدرالمختار/۶/۶۹، ۷۰/ ضمان الأجیر/ کتاب الاجارة).

[۲] واذا شرط عمل بنفسه بأن یقول له: اعمل بنفسک او بیدک لا یستعمل غیره، لان المعقود علیه العمل من محل معین فلا یقوم غیره مقامه. (الدرالمختار/ ۶/۱۸/ کتاب الاجارة). الاجیر الذی استوجب علی ان یعمل بنفسه لیس له ان یستعمل غیره مثلاً لو اعطی احد جبة لخیاط علی ان یخیطها بنفسه بکذا دراهم فلیس للخیط علی ان یخیطها لغیره، بل یلزم ان یخیطها بنفسه وان خاطها بغیره وتلفت فهو ضامن. (مجلة الاحکام للأتاسي/ ۳۰۶، رقم المادة: ۵۷۱/ الفصل الرابع فی اجارة الآدمی).

فوټوسټیټ مشین باندې د شناختي کارډ، پاسپورټ کاپیا نې جوړول

سوال: زه د فوټوسټیټ مشین کار کوم او د فوټو اسټیټ متعلق څو پوښتنې تاسو نه کول غواړم، د فوټو اسټیټ کار کول جائز دی اوکه ناجائز؟

جواب: جائز دی.

سوال: په فوټو اسټیټ مشین باندې شناختي کارډ چې په هغه باندې تصویران وي هغه هم کول راځي او د پاسپورټ هم فوټوسټیټ کاپیانې جوړیږي؟

جواب: د ضرورت په بناء جائز دي. [1]

دقرآ ني آیاتونو اومقدسو نومونو لرونکې لفافه کې سودا خرڅول

سوال: نن سبادوکانداران سوداوغیره داسې لفافواوکاغذونوکې اچوي، چې هغو باندې دقران ایتونه اومقدس نومونه لیکل شوي وي، دې باره کې دشریعت څه حکم دی؟ ایا دهغوی رزق حلال دی؟

جواب: دې باندې رزق نه حرامیږي، خوداسې کول ګناه ده. [2]

کاربندیز(هړتال) کې د سکول بندیدو باوجود پوره تنخوا اخیستل

سوال: کراچۍ کې نژدې هره ورځ دکار بندیز(هړتال) له وجې سکولونه بندشي، زه دشخصي (پرایویټ) سکول استاذه یم، دسکول بندیدو باوجود ماته پوره تنخوا ملاویږي، تاسو نه پوښتنه داده چې داپیسې جائزدي؟اودې نه پرته زمادمعاش هیڅ ذریعه نه شته.

جواب: دې کې کوتاهي ستاسوله طرفه نه ده له دې وجې باندې ستاسوتنخوا حلاله ده. [3]

له اجازې پرته کتاب چاپول اخلاقا سهي نه دي

سوال: نن سبابازارکې دبهرملک کتابونه کوم چې زموږکورس کې شامل وي اوڅه په

---

[1]]الضرورات تبيح المحظورات، اى ان الأشياء الممنوعة تعامل كالاشياء المباحة وقت الضرورة. . . . . الخ. (شرح المجلة/٢٩، المادة: ٢٩). والحاجة تنزل منزلة الضرورة عامة او خاصة. (شرح المجلة/ ٣٣، رقم المادة: ٣٢). لان مباشرة الحرام لا تجوز الا لضرورة. (الاشباه والنظائر/ ١/ ٢٦١).

[2]] ويكره ان يجعل شيئاً فى كاغذ فيه اسم الله تعالى كانت الكتابة على ظاهرها او باطنها. . . . . ولا يجوز لف شيء فى كاغذ فيه مكتوبه من الفقه. (عالمگيري/ ٥/٣٢٢/ كتاب الكراهية/ طبع رشيديه كوئته)_

[3]] وفى الذخيرة لو استأجره ليعلم ولده الشعر والأدب اذا بين له مدة جاز اذا سلم نفسه تعلم او لم يتعلم. (البحرالرائق/١٩/٨/ كتاب الاجارة). ايضاً: لو استوجر استاذ لتعليم علم او صنعة وسميت الأجرة فان ذكرت مدة العقدت الاجارة صحيحة على المدة حتى ان الأستاذ يستحق الاجرة بوجوده حاضراً مهيئاً للتعليم تعلم التلميذ او لم يتعلم. (مجلة الاحكام لخالد الأتاسي/٣٠٥، رقم المادة: ٥٦٧/ كتاب الاجارة)_

کورس کې مددورکونکي وي،زده کوونو ته په ډېرکم قیمت باندې ملاوېږي. یوکتاب کوم به چې په یونیم سل دوه سوه باندې ملاویدوهغه اوس په شل پنځویش روپۍ باندې ملاوېږي موږته داخبره معلومه ده چې پاکستاني پبلشران دا کتابونه دبهرملک دپبلشرانوله اجازې پرته چاپ کوي که چیرې موږ داکتابونه دبهردپبلشرانونه اخلو اول خوبه دا کتابونه ملاوېږي نه اودویم داکه چیرې داکتابونه داوچتوعلاقودکتابونوپه دوکانو کې ملاوشي. نوهغه زموږ دوس نه بهروي، یوازې دمالدار خلکو بچي هغه اخیستی شي دې خبرې ته توجه ورکول پکاردي چې ددې کتابونواصل قیمت دومره نه وي څومره چې دزرمبادله په چکر کې، دښه کاغذله وجې. په مینځ کې یو یا دوه منافع خواره، د بهردکمپنۍ مفادات اودلیکونکي دېرخې له وجې ددې قیمتونه زیات شي بهرملکونوکې ددې کتابونواخیستل دومره گران نه دي، څومره چې زموږپه ملک کې دي.

اوس سوال دادی چې دبهرملک ددې کتابونو دویم چاپ، چې هغه دلته دجمله حقوق محفوظ کیدوباوجودپرته له اجازې چاپیږي، دهغو مطالعه کول اودهغو نه فائده اخیستل دیني لحاظ سره جائزدي اوکه نه؟څوک وایي چې بالکل غلط دي اوتاسوپه دې غلط کار کې دهغوی شریک جوړیږئ، دهغوی مددکونکي یئ. څه وایي چې داعلم اوحکمت دی اوحکمت یوورک شوی لعل دی اوداچې علم دچاډپلارمیراث نه دی، داخلک دعلم په خزانه باندې دمارپه-شان ناست دي دادبهرملکونوالاموږ دزرمبادله په چکرکې لوټ کوي، که هغه اسلحه وي اوکه کتابونه یا مشینري، اوس چې تاسوته په کم قیمت باندې ملاوېږي، په ارام یې واخلئ اوفائده ترې واخلئ، که دې خبروپسې لاړئ، نوهماغه خلک به ترې فائده واخلي کوم چې یوشي کې هم سهي اوغلط نه گوري، همدغه شان مسئله دفوټو سټیټ هم ده چې کوم کتابونه زموږ د اخیستلو دطاقت نه بهروي، موږ دهغو نه فوټوسټیټ وباسو یا که یوڅوسبقونه پکاروي، نودهغو نه فوټوسټیټ وباسو، اگرچې دهغه کتاب ټول حقونه محفوظ وي اود فوټوسټیټ نه کولوتاکیدپرې وي، داسې صورتحال کې زموږ رویه څنگه پکارده؟.

جواب: دبهرکتابونه کوم چې دلته له اجازې پرته چاپ کیږي، اخلاقي طورباندې سهي نه دي، خوچې چادلته کتاب چاپ کړ شرعي طور باندې یې هغه دلته مالک دی، دهغه نه کتاب اخیستل جائزدي اودهغه نه فائده اخیستل هم شرعي طورباندې جائزده، همدامسئله د فوټوسټیټ هم ده.[۱]

۱] آیا دکتاب مصنف ته یا متعلقه ادارې ته شرعاً دچاپ د حقوق محفوظ کولو حق حاصل دی اوکه نه؟ نوپه دې باره کې د اکابرو علماو رایې مختلفې دي،ځینې اکابر مثلاً: حضرت مولانا رشید احمد گنگوهي رحمه الله. حضرت مولانا محمد شفیع صاحب رحمه الله. حضرت مولانا مفتي محمود حسن گنگوهي رحمه الله اوداسې نور... ددې د عدم جواز......[بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

د کتابونو حقوق محفوظ کول

سوال: نن سبا عام طورباندې د کتابونو لیکونکي د خپلو کتابونو حقوق محفوظ کړي، ایا داسې حقوق محفوظ کول شرعي طورباندې سهي دي؟ او حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي صاحب رحمه الله او د دین نور زبرګانو د خپلو کتابونو حقوق نه وو محفوظ کړي.

جواب: زموږ اکابرین د چاپ حقوق محفوظ کول جائزنه ګڼي.[1]

د خپلو کتابونو حقوق طبع اولاد ته لیکلو سره ورکول

سوال: زید څه موده وړاندې خپل څو قلمي تالیفات خپلو زامنو ته هبه بالقبض کړل، چاته د اصل لیک او چاته د فوټو سټیټ د نقل، چې د چا له پاره هم ممکن وي هغه دې چاپ کړي او د حقوق طبع یې چاته هم تصریح نه وه کړې، ځکه چې اول د دې حقوق جواز هم معلوم نه و، اوس په هغوی کې یو زوی وایي چې ماته یې حقوق الطبع راکړه، نو زه به یې چاپ کولو سره خرڅوم، اوس زید په دې زامنو کې که یو ته حقوق الطبع ولیکي که نور زامن راضي وي او که نه وي، نو ایا شرعا به دا اجازه نامه لیکل جائز وي او که نه؟

جواب: غوره داده چې د یو هلک په نوم باندې حقوق طبع نه کړل شي، بلکې ټول هلکان دې په دې کې شریک شي، چې د اولاد ترمینځه یې خفګان پیدا نه شي.[2] والله اعلم!

د سوزکي والا د رخصتیا نو د ورځو کرایه اخیستل

سوال: زموږ دیودوست سوزکي چلونکی دی، ماشومان سکول ته بیایي او راولي یې، هره میاشت ترې کرایه اخلي، اوس سکول کې دوه میاشتو له پاره چوټي کیږي، هغه له پاره د دوو میاشتو کرایه اخیستل جائزدي او که نه؟

بقیه د تیرمخ].. قائل دي. (تفصیل له پاره وګورئ: فتاوی رشیدیه (ص:۱۷۷ طبع کراچی)، (فتاوی محمودیه جدید ج۱۲، ص۱۸۳ تا ۱۸۲)، (جواهرالفقه. ج۲ ص۳۳۵ تا ۳۳۸) خود اکثرو علماوو رایه داده چه مصنف ته د چاپ حقوق د محفوظ کولو حق حاصل دی چاته بغیر د اجازت نه ددې چاپ کول جائزنه دي. په دې حضراتو کې شیخ الاسلام مولانا مفتي محمدتقي عثماني صاحب مدظله، دکتور وهبة الزحیلي صاحب، مفتي نظام الدین اعظمي صاحب رحمه الله مفتي دارالعلوم دیوبند. حضرت مولانا مفتي سید عبدالرحیم صاحب لاجپوري رحمه الله. راندي ضلع سورت او داسې نور... شامل دي. (تفصیل له پاره وګورئ: بحوث فی قضایا فقهیه معاصرة. (ج۱. ص۱۲۲). (فقهی مقالات). (نظام الفتاوی ج۲ ص۳۱۴). (کتاب المعاملات). (الفقه الاسلامی وادلته ج۴ ص۲۸۲. القسم الثانی. احکام الحق. حق التالیف والنشر والتوزیع). (فتاوی رحیمیه ج۳ ص۱۴۲)

[1] وفی الأشباه لا یجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة. (درمختار/ ٤/ ٥١٧)_

[2] وذهب الجمهور الی ان التسویة مستحبة، فان فضل بعضاً صح وکره، وحملوا الأمر فی حدیث النعمان علی الندب والنهی علی التنزیه. (اعلاء السنن/١٦/ ٩٦، ٩٧/ کتاب الهبة).

جواب: که سکول والا په خوشالي باندې د چوټيانو د وخت پيسې ورکوي، جائز دي.

د مدرسې له پاره د وقف شوې ځمکې پيداوار خوړل جائز نه دي

سوال: زموږ ښار کرنال (انډيا) کې يو لاوارثه سړی و، هغه خپله ځمکه مدرسه عربيه ته ورکړې وه او هغه سړی په انډيا کې مړشوی و او هغه مدرسه پاکستان کې اوسه پورې چليږي. اوس چې کوم سړي ورته ځمکه ورکړې وه د هغه په اولاد کې تقريبا اتم نسل نه يو سړی وايي چې زموږ نيکه د دې مدرسې له پاره ځمکه ورکړې وه، دا مدرسه زموږ ده، دې کې د هيڅ چا حق نه شته، هغه سړی په زور باندې د هغې مدرسې ګټه خوري، بانه يې دا جوړه کړې ده چې زه مدرسې کې سبق ښايم، خو مدرسه کې هغه په ټوله هفته کې يوه يا دوه ورځې حاضروي، ماشومان د يو بل سبق اوري يو خو هغه د ښار والو سره جګړه کوي، بل طرف ته د ماشومانو ژوند تباه کيږي د قران او حديث په رڼاکې جواب راکړئ چې ايا هغه سړی کوم چې دا دعوه کوي چې دا زما د نيکه مدرسه ده، دې کې څه حق لري، يا دا سهي ده؟ ځکه چې زموږ ښار سره نژدې څه داسې غټه مدرسه نه شته چې هلته ماشومان تعليم حاصل کړي او څومره ځمکه چې هغه سړي ورکړې ده، هغه تقريباً پنځوس ايکړه ځمکه ده، که ښاريان هغه له مدرسې نه وباسي، نو شرعي طور باندې خو د دې نه څه منع نه شته؟

جواب: د هغه سړي په مدرسې باندې هيڅ حق نه شته، ښاريانو ته پکار دي چې هغه وباسي او د مدرسې انتظام يو معتبر سړي ته حواله کړي د هغه سړي له پاره د هغې مدرسې پيداوار خوړل جائز نه دي. [1]

د ناجائزې قبضه کړې ځمکې د خرڅولو شرعي حيثيت

سوال: ځينې خلکو سره نه خپل کور وي نه دومره مال چې هغوی د هغې نه د استوګنې له پاره کور جوړ کړي، داسې ځينې خلکو په ځينې علاقو کې په خالي ځمکو باندې قبضې کولو سره په هغو باندې په مزه مزه کورونه جوړ کړل، د دې نه وروسته هغو خلکو د دې ځمکو او کورونو اخيستل او خرڅول هم شروع کړل، صورت حال دا دی چې د دې ليکلو پورې ګورنمنټ دا ځمکه چاته هم نه ده الاټ کړې، خو خلک د دې په اخيستلو او خرڅولو کې مصروف دي ايا دا جائز ده؟

جواب: انسان د خپل مملوک شي د خرڅولو حق لري، کوم شی چې د هغه ملکيت نه وي د هغه د خرڅولو چاته هم حق نه شته، لهذا د سرکاري اجازې نه پرته چې کوم خلک په ځمکه باندې

[1] الوقف....وعندهما حبس العين عليٰ حکم ملک الله تعالی فيزول ملک الواقف عنه الی الله تعاليٰ علی وجه تعود منفعته الی العباد فيلزم ولا يباع ولا يوهب ولا يورث. (هداية/٢/٦٣٧/ كتاب الوقف). قال ابن نجيم رحمة الله تعاليٰ عليه والحاصل ان المشايخ رجحوا قولهما وقال الفتاويٰ عليه. (بحر/ ٥/ ١٩٤/ كتاب الوقف)۔

قابض دي هغوی د دې د خرڅولو مجاز نه دي. [۱]

په عرب ملکونوکې د چا په نوم باندې کاروبار کولو سره هغه ته څه پیسې ورکول

سوال: دلته د متحده عرب امارات د قانون مطابق یو غیر ملکي په خپل نوم باندې کاروبار نه شي پرانستلی، خو عملاً د هغه له پاره دوه طریقې دي، یو خو دا چې خلک د دې ځای د شهریت لرونکي یو مواطن په نوم باندې کاروبار پرانیزي، یعنې د حکومت او بلدیه وغیره په کاغذونو کې کاروبار دلته د یو اوسیدونکي په نوم وي، خو په حقیقت کې کاروبار د غیر ملکي وي، د کوم عربي مواطن په نوم باندې چې کاروبار پرانستل کیږي هغه یوازې لږ شان سالانه فیس وصولوي، دا فیس هغه غیر سرکاري طور اخلي، کله کله یو متقي سړی یا څوک عربي دوست وي، نو هغه دا فیس نه اخلي همدغه شان که څوک غیر ملکي چرته ملازمت کوي، نو هغه کله کله په پورته طریقې سره د یو عربي په نوم باندې کاروبار پرانیزي، دویمه طریقه داده چې که یو غیر ملکي څه لوی کاروبار پرانستل غواړي، نو د حکومت په کاغذاتو کې غیر ملکي په دې کاروبار کې (۴۵) فیصده او د دې ځای اوسیدونکي (۵۵) فیصده پارټنر وي، ځینې وخت دا پارټنرشیپ (۷۵) فیصده او (۲۵) فیصده هم کیږي، دا هر څه د حکومت په کاغذاتو کې وي، خو په حقیقت کې ټول کاروبار د غیر ملکي وي، په دې کې هم د دې ځای اوسیدونکی مخصوص سالانه فیص وصولوي، یو بله خبره داده چې د حکومت تقریبا ټول خلک ددې حالاتو نه خبر دي، دلته مقامي خلک تقریبا (۲۰) فیصده او غیر ملکي تقریبا (۸۰) فیصده ته نژدې دي، په پورته لیکل شویو حالاتو کې به د کاروبار ګټه حلاله وي او که حرامه؟

جواب: شرعا خود کاروباره له پاره هیڅ قید نه شته، یوازې کاروبار حلالیدل پکار دي، خو نن سبا حکومتونه غیر ملکیانو ته د کاروبار کولو اجازه نه ورکوي، خو که یو مواطن یعنې د هغه ځای اوسیدونکي په کاروبار کې شریک شي، نو اجازه ملاویږي، په دې صورت کې څنګه چې تاسو ویلي دي چې ځینې خلک خو پیسې اخلي او ځینې یې نه اخلي، په هر حال کاروبار سهي دی.

د بهر ملک نه راتلونکوته ملاوشوی ټي آر T-R فارم خرڅول

سوال: ایا ټي آر فارم خرڅول جائز دي؟ د دې تفصیلي صورت دادی چې بیرون ملک د دوه کالو قیام نه وروسته حکومت ډیوټي فري شاپس (Duty Free Shops) نه یو عدد

---

[۱] اذ من شرط المعقود علیه ان یکون موجوداً مالاً متقوماً وان یکون ملک البائع فیما یبیع لنفسه. (فتاوي شامي/۵/ ۵۸)لایجوزلأحد ان یتصرف فی ملک غیره بلااذنه اوو کالة منه.(شرح المجلة لسلیم رستم باز/ ۶۱)

ائیرکنډیشنر پرته د کسټم نه د اخیستلو رعایت ورکوي، نو ځینې خلک دا فارم خرڅوي، د دې صورت دادی چې په دې فارم باندې قانوني کارروایي کیږي ، بیا صاحب فارم د دې کار روایي کولو نه وروسته خپل اخیستی سامان ایجنټانو باندې خرڅ کړي، که چا په دې طریقه باندې دا فارم خرڅ کړ، نو ایا دا جائز دي اوکه ناجائز؟ که جائز نه وي، نو د هغه نه حاصلیدونکو پیسو سره به څه کوي؟

جواب: که دا فارم (اجازه نامه) خاص د بهر اوسیدونکي په نوم باندې چاته ملاویږي او بل چاته د دې د استعمال د حکومت له طرف اجازه نه وي، نو بیا خو د دې د خرڅولو او اخیستلو په ناجائز کیدو کې څه شبهه نه شته او که قانونا بل څوک دا استعمالولی شي، نو هم یوازې اجازه نامه خرڅول جائز نه دي[1] او په خرڅولو باندې حاصلیدونکې پیسې اصلي مالک ته واپس کول واجب دي، په خپل استعمال کې راوستل یې حلال نه دي. [2]

وقف جایداد خرڅول

سوال: مرکزي جامع مسجد ته په (۱۹۲۹ء) کې یو سړي یو دکان او یو کور وقف کړی و، هغه وخت چې کوم کرایه دار په دکان او کور باندې قابض و، هغه اویا روپۍ د میاشتې کرایه ادا کوله، وروسته په دې کې ډیرش روپۍ زیاتې شوې، کومه چې تر اوسه پورې وصولیږي، خو اوس د کورونو او د دکانونو په کرایه کې دومره زیاتوالی شوی ده چې کور او دکان په اساني سره په (۵۰۰۰) روپۍ ماهانه ورکول کیږي ، اوس قابض کرایه دار د کرایې په اضافي مطالبه باندې جنګ کولو او ځان وژلو ته تیار شي او عدالتي طریق سره هم د قانوني سقم له وجې نه بې دخلي ممکن نه ده، حال دا چې دا جایداد په لکونو روپو خرڅیدلی شي، تاسو بیان وکړئ چې دغه ذکر شوي جایداد د مسجد انتظامیه خرڅولو سره نوي جایداد اخیستی شي یا مال د مسجد په تعمیر او توسیع باندې خرچ کیدلی شي اوکه نه؟

جواب: وقف جایداد د شرعي ضرورت له پاره خرڅیدلی شي، له دې وجې دا دکان دې خرڅ کړل شي او هغه پیسې دې د مسجد په توسیع کې خرچ شي. [3]

---

[1] قال فی الأشباه لا یجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة (قوله لا یجوز) قال فی البدائع الحقوق المجردة لا تحتمل التملیک. (درمختار مع ردالمحتار/٤/ ٥١٨/ کتاب البیوع).

[2] ان علم ارباب الأموال وجب رده علیهم. (فتاوی شامي/٥/ ٩٩/ مطلب فیمن ورث مالاً حراماً).

[3] الثالثة: ان یجحده الغاصب ولا بینة: ای واراد دفع القیمة، فللمتولی اخذها، یشتری بها بدلاً. (ردالمحتار/٤/ ٣٨٨/کتاب الوقف/مطلب لایستبدل العامر الا فی اربع/وکذا فی البحرالرائق/٥/٤٠٥/کتاب الوقف/ طبع رشیدیه)

په ډيارۍ كاركوونكي كه يوه ورځ چوټي وكړي، نو آيا د پوره مياشتې تنخوا اخيستى شي؟

سوال: په اداره كې څه كار كوونكي (Workers) په ډيلي ويجز (ډيارۍ) باندې كار كوي، په مياشت كې كه هغوى يوه ورځ چوټي وكړي، نو د مياشتې په اختتام باندې د هغه ورځې تنخوا هم اخلي، دا عمل څنګه دى؟

جواب: كه په روزانه كار باندې يې تقرري وي، نو چې څومره ورځې كار وكړي د هغې تنخوا جائز ده او د غير حاضري د ورځې تنخوا اخيستل جائز نه دي. [1]

د چوټي په وخت كې د معاوضې نه پرته نوكر پابند كول سهي نه دي

سوال: زه پاكستان استيل كې داسټنټ منيجر اليكټريكل (د ۱۷ ګريډ برابر) نوكر يم. لمونځ، روژه او نورو اسلامي تعليماتو باندې نه يوازې په خپله باندې عمل كوم، بلكې زمانبځه اوبچي پرې هم عمل كوي دروغ نه وايم، دسود دپيسو نه ځان ساتم اوباقاعدګي سره زكات اداكوم، حج مې كړى دى، دالله تعالى نه ويريږم، غرض داچې زما په خيال په يومسلمان كې چې څومره خوبي كيداى شي هغې باندې دعمل كولو كوشش كوم، پاكستان استيل سره خواكې په ګلشن حديد كې اوسيږم، خپله ډيوټي ايمانداري سره كوم، ځكه چې ډيوټي هم عبادت ګڼلوسره كوم، نودخپلې موجوده عهدې نه هم زيات معلومات حاصل كړل اوخپله ذمه داري ښه طريقې سره اداكوم او ددې محاورې په شان ,,جس نے سبق ياد كيا اسے چھٹی نہ ملی، ، سلوک ماسره هم كيږي، اوزمادايمانداري، كاركې شوق اود معلوماتو له وجې زمانه ډيركاراخيستل كيږي اوزه هغه هم كوم اودسركاري نوكري له وجې زمادعهدې برابر، بلكې زمانه دلوړې عهدې والاعياشي كوي، اودهغوى نوكري يوازې دنوم حد پورې وي، نتيجه يې داوي چې دهغوى دبرخې بوج څه نا څه حوالې سره زه اوزما په شان څه نور(كوم چې په وړو كې دمالګې برابردي) كسان اوچتوي، دډيوټي په وخت كې څومحنت جدا خبره ده، اكثر دډيوټي نه وروسته ماته نه يوازې په خپل، بلكې دنوروخلكو په سائټ (پلانټ) باندې پاتې كيدل وي اودچوټي په ورځ يااكثردشپې مادكورنه فالتو لرې كولو له پاره خپل يادنوروخلكوسائټ(پلاټ) له پاره راغواړي، يوازې له دې وجې چې نورخلك ذمه داري نه محسوسوي اوهغوى كله هم دخه زده كولوكوشش نه دى كړى، اكثركله چې

[1] و اول المدة ما سمى ان سمى، والا فوقت العقد، فان كان العقد حين يهل اى يبصر الهلال، اعتبر الأهلة، والا فالايام كل شهر ثلاثون، وقالا: يتم الاول بالايام والباقى بالاهلة. (در مختار/ ٦/ ٥١/ باب الاجارة الفاسدة). اما لو شرط شرطا: تبع كحضورالدرس آياماً معلومة فى كل جمعة فلا يستحق المعلوم الا من باشر خصوصاً اذا قال: من غاب عن الدرس قطع معلومه، فيجب اتباعه. (ردالمحتار/ ٤/ ٤١٩/ كتاب الوقف).

چوټیانې راشي (څنګه چې راتلونکي اخترباندې د حکومت له طرف نه دنهې، چارشنبې اودزیارت دورځو دچوټیانو اعلان شوی دی او جمعې اوهفتې باندې داستهیل ملزخپله هفته واري چوټي وي، نوپنځه ورځې مسلسل چوټي شوه) نوزماډیوټي ولګول شي یاماڅلیریشت ګهنټې خپل کورکې اوسیدوباندې مجبورکړي څکه چې زماټول خاندان په کراچۍ کې اوسیږي، ماته په مختلف تهوارونوباندې ډیرزیات تکلیف وي اونورخلک مزې کوي، زه که چیرې بانه وکړم چې زمافلانکي خپلوان ناروغ دی، نو بیابه مادې چوټیانوکې کور اوسیدو باندې نه شي مجبورولی دغه شان کله چې ټوله ورځ ایمانداري سره ډیوټي کولونه وروسته زه دشپې ارام کوم اودشپې دوه بجې موټر زمادکورمخې ته ودریږي اوماته ووایي چې راځې صاحب تاسواستهیل ملزته غواړي، نوایازه دخپل طبیعت دخرابیدوبانه کولوسره خپل ځان خلاصولی شم اوکه نه؟ اوایاداسې کول به دروغوکې شامل وي اوکه نه؟ اوایاداسې بانه کولوسره به زه ګناهګاریم اوکه نه؟

جواب: تاسوامانتداري سره کارکوئ، الله تعالی موخوشاله ساته، یومسلمان ته هم داسې کول پکاردي.

۲: دډیوټي دوران کې ستاسوپه ذمه باندې کاردی اودهغه کول پکاردي، په اضافي وخت کې که چیرې تاسونه کاراخیستل کیږي، نودهغې معاوضه ملاویدل پکاردي.

۳: زیات وخت یادچوټیانووخت دانسان دخپلوضروري غوښتنو او ضرورتونوله پاره وي، نوکه چیرې تاسونه شئ تلی، نوتاسوله پاره عذر کول جائزدي، څه مناسب لفظ استعمالولی شئ چې دروغ نه وي مثلاً: زماطبیعت لږسهي نه دی، سهي فقره ده څکه چې دانسان طبیعت څه نا څه ضرورخراب وي.

۴: داخترپه چوټیانوکې تاسوپابندول هم سهي نه دي، که چیرې تاسوته اضافي معاوضه درکول کیږي، نوبیاسهي ده،که نه، تاسوته عذرکول پکاردي چې زماخپل څه ذاتي کاردی او مناسب به وي چې تاسوخپل دفترته لیک ولیکئ چې داسې موقع باندې تاسونه راغواړي.

۵: خبره داده که چیرې کاریګرخپله ډیوټي دیانتداري سره کوي، نو دومره ګنټې کارکولونه وروسته ارام دهغه له پاره ډیرضروري دی،که نه، هغه به بله ورځ سهي کارنه شي کولی، له دې وجې تاسوته عذرکول جائزدي چې دچوټي په وخت کې تاسونه پریشانوي.

په لنچ ټائم کې د څه ذاتي کارله پاره بهر تلل

سوال: په اداره کې لنچ ټائم مقرر دی، ددې نه پرته دڅه ذاتي کار له پاره بهرتلل څومره سهي دي؟

جواب: د ذاتي کار له پاره بهر تلل جائز نه دي، خو داسې معمولي ضرورت چې د هغه له پاره

د تلو عرفا اجازه وي، د هغه دپاره تلل جائز دي. [۱]

آيا د ګورنمنټ ملازم دا انچارج په اجازه له وخت نه مخکې تللی شي

سوال: زه په يو داسې ګورنمنټ اداره کې کار کوم چيرته چې اووه نيمې (۷:۳۰) بجې ډيوټي ده او کار په څلور پنځه ګنټې کې ختم شي له دې وجې کار کوونکي د سيکشن انچارج په اجازه اويا له اجازې پرته ګنټه دوه مخکې کورونو ته لاړ شي او وخت نه پوره کوي دکارکوونکو دا عمل او د انچارج د اجازه ورکولو عمل کوم ځاي پورې سهي دی؟

جواب: که متعلقه کار ختم شوی وي، نو د انچارج په اجازه باندې تللی شي، که کار پروت وي د هغه په اجازه باندې هم له سخت عذر پرته تلل جائز نه دي. [۲]

د اوچتو افسرانو په وينا کورکې ناست تنخوا وصولول

سوال: زموږ څو دوستان ناجائز ګټه نه کوي، خو هغوی ته د هغوی اوچتو افسرانو ويلي دي چې تاسو خپلو کورونو کې اوسيږئ، يوازې د مياشتې په پنځم تاريخ باندې راځئ او تنخوا اخلئ، ايا داسې تنخوا وصولول او کار ته نه تلل جائز دي؟

جواب: پرته د کار نه تنخوا اخيستل جائز نه دي. [۳]

په کارکې د دوکه کونکي تنخوا جائز نه ده

سوال: يو سړی سرکاري نوکري کوي، خو پخپله ډيوټي کې د کار کولو نه پرته خپله تنخوا هره مياشت وصولوي او دا پيسې په خپل اهل وعيال باندې هم خرچ کوي، زيد د همدې اداري په يونين کې هم دی، په خپل سيټ باندې نه کيني، نه خپله پوره ذمه داري پوره طريقې سره

---

[۱] وفي الهندية: وفي الفتاويٰ الفضلي رحمه الله: اذا استأجر رجلاً ليوماً ليعمل كذا فعليه ان يعمل ذالک العمل الى تمام المدة ولا يشغل بشيء آخر سوى المكتوبة. وفي فتاويٰ سمر قند: قد قال بعض مشائخنا رحمهم الله تعاليٰ ان له يؤدى السنة ايضاً واتفقوا انه لا يؤدى نفلاً وعليه الفتويٰ، وكذا في الذخيرة. (الفتاويٰ الهندية/ ٤/ ٤١٦/ كتاب الاجارة/ الباب الثالث في الاوقات التى. . . . . . . الخ. قال العلامة ابن عابدين: (قوله وليس للخاص ان يعمل لغيره) بل ولا ان يصلى النافلة قال في التتارخانية وفي فتاويٰ لفضلي واذا استأجر رجلاً يوماً يعمل كذا فعليه ان يعمل ذالک العمل الى تمام المدة ولا يشتغل بشيء آخر سوى المكتوبة، وفي فتاويٰ سمر قند وقد قال بعض مشائخنا رحمهم الله تعاليٰ له ان يؤدى السنة ايضاً واتفقوا انه لا يؤدى نفلاً وعليه الفتويٰ. (شامي/٦/٧٠/ باب ضمان الأجير).

[۲] ايضاً_

[۳] والاجارة لا تخلو، اما ان تقع على وقت معلوم او على عمل معلوم، فان وقعت على عمل معلوم فلا تجب الأجرة الا باتمام العمل. . . . . . وان وقعت على وقت معلوم، فتجب الأجرة بمضي الوقت ان هو استعمله او لم يستعمله. . . . . . الخ. (النتف في الفتاويٰ/ ٣٣٨/ كتاب الاجارة/ معلومية الوقت والعمل).

سر ته رسوي او په کور کې ناست په دفترکې د حاضري په رجسټر کې د هغه حاضري هم روزانه د معمول مطابق لګيږي، ځکه چې زموږ په معاشره کې نن سبا د حلال او حرام پيژندګلوي ختمه شوې ده، بس خلک هيڅ نه ګوري، د کار کولو نه پرته خپله تنخوا هم وصولوي. ايا د هغوی دا پيسې سهي دي؟ حلالې دي اوکه حرامې؟ ځکه چې محنت يې هيڅ نه دی کړي او پيسې ترې پوره وصولوي، نن سبا زموږ په معاشره کې خاص طور باندې سرکاري ادارو کې ډير خلک دي چې خپلې ډيوټي ته هم نه ځي او هره مياشت تنخوا پوره وصولوي.

جواب: دا خو ښکاره ده چې سرکاري ملازمينو ته چې کومه تنخوا ملاويږي، د هغوی د کارکردګي معاوضه ده او د کار کوم وختونه چې مقرر دي هغه د هغوی د کارکردګي پيمانه ده، اوس که يو ملازم بالکل کار ته نه ځي، يا ځي، خو څومره وخت چې د هغه کار له پاره مقرر دی، دومره وخت کار نه کوي، نو ګويا پرته د معاوضې نه تنخوا اخلي، لهذا د هغه دا تنخوا اخيستل ناجائز او حرام دي[1] په قرآن کريم کې دې خلکو ته د هلاکت وعيد اورول شوی دی کوم چې په ناپ تول کې کمی کوي[2] مولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله په تفسير معارف القرآن کې ليکي : " قرآن او حديث په ناپ تول کې کمي کولو ته حرام ويلي دي، ځکه چې عام طور سره د معاملاتو لين دين هم په دې دوه طريقو سره کيږي، دهمدې په ذريعه ويل کيدای شي چې د حق دار حق ادا شو اوکه نه شو؟ خو مقصود په دې سره د هر حق دار حق ادا کول دي، په هغه کې کمی کول حرام دي مزدور، ملازم چې د څومره وخت معاهده کړې ده، په هغه کې وخت غلا کول او کمول هم په دې کې داخل دي، په وخت کې دننه چې څنګه په محنت سره کار کول په عرف عام کې معمول دي، په هغه کې سستي کول تطفيف دی، په دې کې عام خلکو کې تردې چې په اهل علم کې هم غفلت موندل کيږي، د خپل ملازمت په فرائضو کې کمی کول څوک ګناه هم نه ګڼي. **اعاذنا الله منه!.** (معارف القرآن ج ۸ ص ٦٩٤)

نوچې کوم ملازمين کار ته نه ځي او خپله تنخوا وصولوي، هغوی خائنان او غله دي او د هغوی تنخوا وصولول سهي نه دي.

د جمعې د ورځې تنخوا او اوور ټائم اخيستل

سوال: اوور ټائم اود فرائيډے (Friday) په نوم باندې زيات اوقات او د جمعې د جمعې په ورځ باندې اجرت اخيستل چې هر کله په دې اوقاتو کې کار نه وي، څنګه دي؟ زه د خپل زړه د اطمينان له پاره پوښتنه کوم.

جواب: ستاسو د دې په باره کې پوښتنه کول، د دې خبرې دليل دی چې ستاسو په زړه کې

[1] ايضاً_

[2] ويل للمطففين الذين اذا اكتالوا على الناس يستوفون، واذا كالوهم اووزنوهم يخسرون. (المطففين: ۱، ۲).

شک دی او ضمیر مو مطمئن نه دی د اوور ټائم مطلب دادی چې ملازم د ډیوټي د وخت نه زیات کار کړی دی، لهذا هغه د زیاتې معاوضې مستحق دی او د فرائیډ ے مطلب دادی چې هغه د چوټي په ورځ کار کړی دی، لهذا د اضافي پیسو مستحق دی کوم ملازم چې په زیات وخت کې کار نه دی کړی، یا یې د چوټي په ورځ کار نه دی کړی، هغه د اضافي پیسو مستحق نه دی، که غلط بیاني کولو سره دا پیسې اخلي، نو د هغه له پاره حلالې نه دي. [1] والله اعلم!

د شرعي مسئلې د ښودلو اجرت اخيستل جائز نه دي

سوال: ماته ستاسو په باره کې ښه معلومات دی چې که ستاسو نه څه دیني مسئله د ډاک په ذریعه وپوښتل شي، نو تاسو د هغه جواب په ذریعه د ډاک کې ورکوئ، که بذات خود تاسو ته راتلو سره څه مسئله معلومول کیږي، نو تاسو یې پرته د څه قسم معاوضې د هغه حل ښیئ، خو زما په علم کې یو سړی دی چې خپل ځان ته عالم دین وایي، که د هغه نه د خط او کتاب په ذریعه څه دیني مسئله وپوښتنل شي، نو هغه د دې په ځای چې په خط او کتابت سره جواب ورکړي، هغه خپل کور ته سائل راغواړي او دهغه نه د مسئلې د حل نه مخکې د پیسو مطالبه کوي او د هغه د طلب کړې پیسو د ورکولو نه وروسته هغه ته د مسئلې حل ښیي، ایا د هغه سړي دا فعل جائز دی؟ د پیسو اخیستونکي او ورکونکي دواړو کسانو په باره کې بیان کړئ چې ایا د هغوی داسې کول د شریعت په رڼا کې سهي دي. ؟

جواب: په شرعي مسئلو ښودلو باندې پیسې اخیستل جائز نه دي،[2] د داسې عالم نه د مسئلې پوښتنه کول هم ګناه ده.

په زور باندې کور لیکل شرعي طور باندې څنګه دي؟

سوال: زمایودوست خپلې ښځې ته دځینې غیرشرعي کارونوله وجې باربارتنبیه وکړه، خو دهغه ښځې هغه کارونه پرې نه ښودل اوخاوندسره یې دنفرت اوحقارت رویه اختیاروله اوهغه کارونو باندې یې اصراراکولو، ډیرسوچ کولونه وروسته زماهغه دوست خپلې ښځې ته یوطلاق ورکړ په دې باندې دهغه ښځه اودهغې خپلوان ډیرزیات خفه شول اوهغه ښځې ته یې دوه نورطلاقونه وغوښتل او زمونږدوست ورکړل، بیاپه څه بانه باندې زمونږ هغه دوست سخر وغوښت او هلته یې ډیربې رحمي سره وواهه، دډیروهلوله وجې زمونږ ددوست حالات خراب شول اوبیایې اوښي هغه خپل ملګري کره قیدکړ اوبیایې سهارپه زورباندې عدالت ته بوته او

---

[1] قال الله تعالى: "لاتأكلوا اموالكم بينكم بالباطل". (النساء: ٢٩). وفى التفسير البغوى تحت هذه الآية. (٢/٥٠). (بالباطل) بالحرام يعنى بالربا والقمار والغصب والسرقة والخيانة ونحوها.

[2] فقد اتفقت النقول عن ائمتنا الثلاثة ابى حنيفة، وابى يوسف، ومحمد، رحمهم الله تعالى، ان الاستئجار على الطاعات باطل. (شرح عقود رسم المفتي/ ٣٧).

هلته يې ترې په زورباندې کورد بچيو په نوم باندې او ليکه او په کاغذونو باندې يې ترې دسخط واخيست، زمونږ هغه دوست چې دهغه دماغ دوهلوله وجې کارپرينبنی و په کاغذونو باندې دويرې دسخط وکړ.

۱: که چيرې خاوندشرعي طورباندې مطمئن کيدونه وروسته ښځې ته طلاق ورکړي، نود سخر او اوښو په طلاق ورکولو باندې داسې وهل شرعي طورباندې جائزدي؟

جواب: شرعي طورباندې ناجائزاوظلم دی.

۲: ايا داسې په نوم کول، شرعي طورباندې جائزدي اوزمونږ هغه دوست شرعي طورباندې کور واپس اخيستو حق لاردی؟

جواب: که چيرې دهغه سړي دماغوکارنه کولو،نوبياپه نوم کول سهي نه دي[۱] اوڅه چې وشو، نوغصب دی.[۲]

د خپل واده جامې خرڅول

سوال: ماتقريبا دوه کاله وړاندې دواده له پاره دکارجامې جوړې کړې وې، هغو کې ډيرې جامې اوسه پورې بندپرتې دي، که زه هغې کې څه جامې دمارکيټ په قيمت باندې خرڅې کړم، نودا ګټه به زماله پاره جائزوي؟ اودداسې جاموقيمت ورځ په ورځ زياتيږي اوڅو کاله وروسته به ياکه بهر ملک کې يې خرڅې کړم، چې هلته دلاس کار ډير زيات ګران وي. نوماته چې دې جاموباندې کومه ګټه ملاوشي، يعنې په کوم قيمت باندې چې ماهغه جوړې کړې وې په خرڅولو باندې ماته دهغې نه زيات قيمت ملاوشي، نوداسې کول جائزدي؟ داسلام په نزدباندې زما داسې ګټه کې زکات وغيره اداکولی شم؟

جواب: داګټه جائزده، دې کې هيڅ بده خبره نه شته.[۳]

د سکول دشيانوپه خرڅولوکې د استاذ کميشن

سوال: يوسکول کې يوهيډماسټرصاحب په سکول کې خرڅيدونکي شيانوکې مثلا: ډرائنګ، دشرحې کتابونه، دسکول بيجونه، رپورټ کارډونه وغيره چې کوم کميشن

۱]واما ما يرجع الى الواهب، فهو ان يكون الواهب من اهل الهبة، وكونه من اهلها ان يكون حراً عاقلاً بالغاً مالكاً للموهوب، حتى لو كان عبدًا او مكاتباً. . . . . . . او كان صغيراً او مجنوناً او لا يكون مالكاً للموهوب لا يصح هٰكذا فى النهاية. (فتاويٰ عالمگيرية/ ۳۷٤/ كتاب الهبة/ الباب الاول)_

۲] قال تعالي:"ولاتأكلوا اموالكم بينكم بالباطل"(قوله بالباطل) بالحرام يعنى بالربا والقمار والغصب والسرقة والخيانة ونحوها. (تفسير بغوي/۲/ ۵۰). ايضاً: عن ابى حرة الرقاشى عن عمه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لاتظلموا الا لا يحل مال امريء الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة/۲۵۵/ باب الغصب والعارية)

۳] كل يتصرف فى ملكه كيف شاء. . . . الخ. (شرح المجلة لسليم رستم باز/٦۵٤، المادة: ۱۱۹۲)_

حاصلوي، پخپله باندې يې نه اخلي، بلکې دا وايي چې زماکميشن په نوروا ستاذانو کې تقسيم کړئ، ايا د موصوف دا ويل سهي دي؟

جواب: دموصوف داعمل دپسخيدو او تقليد کولو قابل دی.

پاتې شويو سرکاري دوايانو باندې څه وکړو؟

سوال: زما خاوند نوکردی اوهغه ته دمحکمې له طرف نه دميډيکل سهولت موجود دی اوکومې دواياني چې موږته ملاويږي، هغه پيکنګ کې وي، څه خودناروغي دوران کې وخوړل شي، څه پاتې شي اوداسې دوايانې موږ سره ډيرې زياتې جمع شوي دي، موږ په دې باندې څه وکړو؟ دوايانو والاته واپس ورکولو سره نور سامان مثلاً: فنس، ياتوته پيسټ وغيره ترې نه اخيستی شو، ايا دابه شرعي طورباندې جائزوي؟ ځکه چې زه دلمونځ اوروژووغيره ډيره پابنده يم، ستاسو شکريه به اداکوم.

جواب: دمحکمې له طرف نه چې کومې دواياني ملاويږي تاسوهغه استعمالولی شئ، خودهغې دخرڅولو يادهغې په بدله کې دنور سامان اخيستو شرعي طورباندې اجازه نه شته، کوم چې زيات شی هغه محکمې ته واپس کړئ[۱] اوکه چيرې هغه نه شي واپس کيدای، نوبه ضرورت مندواومحتاج خلکوته يې ورکړئ، يايې چيرته خيراتي هسپتال ته ورکړئ.[۲]

د فيکټرۍ جوړولو د لائسنس اخيستل او خرڅول

سوال: دجامو جوړولوفيکټرۍ جوړولو له پاره دحکومت نه داجازې ضرورت وي، حکومت هريوې فيکټرۍ ته دمشينانودتعداد په لحاظ باندې ددرامدلائسنس ورکوي، دالائسنس دتار د راغوښتلو له پاره وي، د وړوکې فيکټري مالکانوسره دومره پيسې نه وي چې هغوی پخپله باندې تار راوغواړي حکومت چې کوم لائسنس راکوي هغه موږ د وړوکارخانوپه مالکانو باندې خرڅ کړو، غټ غټ سرمايه دارپه دغه لائسنس باندې تار راغواړي اودغه تاربازارکې خرڅوي اود مختلفو خلکونه وروسته زموږفيکټرۍ ته راځي اودهغې نه جامې جوړيږي دامعلومول غواړم چې ددغه لائسنس په خرڅولوباندې چې موږته کومې پيسې ملاويږي هغه حلالې دي که حرامې؟

جواب: ددرامدلائسنس مال نه دی، بلکې يوحق دی، له دې وجې ددې خرڅولو کې شک دی، ددې نه ځان ساتل پکاردي.

۱] ان الله يأمركم ان تؤدوا الأمانات الى اهلها". (النساء: ۵۸)۔

۲] والحاصل: انه ان علم ارباب الأموال وجب رده عليهم، والا فان علم عين الحرام لا يحل له، ويتصدق به بنية صاحبه. (ردالمحتار/۵/۹۹/ باب البيع الفاسد/ مطلب فيمن ورث مالاً حراماً)۔

د بینک په مدد باندې ریډیو باندې دیني پروګرام وړاندې کول

سوال: ریډیو باندې د (روشنایي) په نوم یوپروګرام وړاندې کیږي، چې هغه عام طورباندې دبلیغ الدین په اوازکې وي، خوددې پروګرام نه وروسته ویل کیږي چې داپروګرام ستاسوپه خدمت کې دفلانکي بینک په تعاون سره وړاندې شو، تاسودقران اوحدیث په رڼاکې ووایئ چې ایا دسود کاروبارکونکو اداروپه مددباندې داسې پروګرامونه وړاندې کول سهي دي؟ ځکه چې سودحرام دی.

جواب: دحراموما‌ل په نیک کارکې خرچ کول سهي نه دي، بلکې دوه چنده ګناه ده.[1]

د امانت په ساتلو معاوضه اخیستل

سوال: ماسره خلک پیسې جمع کوي اوزه یې جمع کوم اخیستلو ورکولو کې هیریدل هم کیږي، دې نه پرته ډیرزیات محنت کول وي، که دې باندې سل روپیوباندې دوه روپۍ واخیستل شي، نودابه جائزوي اوکه نه؟ مهرباني وکړئ جواب راکړئ!

جواب: خلک تاسوسره دامانت په طورباندې پیسې جمع کوي، څومره پیسې چې درسره جمع کړي هغومره واپس کول ضروري دي، هیریدلوله پاره حساب کتاب ضروري دی اودوفات کیدوپه صورت کې وارثانوته امانتونه رسولوکې به سهولت وي اوکه چیرې مخکې نه دامقررکړل شي چې دومره فیصده پیسې به دامانت دحفاظت له وجې اجرت وي، نوداسې اجرت اخیستل جائزدي، خوکه دې صورت کې پیسې ورکې شوې، نودهغې ضمانت به په تاسووي[2] غرض داچې په سل روپیوباندې دوه روپۍ اخیستل جائزنه دي، سود دی[3] دې نه مخکې موچې دچاچانه داسې پیسې اخیستې دي، هغوی ته هم دهغوی پیسې واپس کړئ.[4]

د ټي وي پروګرام (نیلام ګهر) کې شرکت کول

سوال: ټي وي کې ځینې پروګرامونه (نیلام ګهر)په شان انعامونه ورکوي، داسې پروګرامونه ډیرزیات مشهوروي، اوس سوال دادی چې دې پروګرام کې خلک ټکټ اخیستونه وروسته

۱] رجل دفع الی فقیر من المال الحرام شیئاً یرجو به الثواب یکفر. . . . . قلت الدفع الی فقیر غیر قید بل مثله یظهر او بنٰی مسجداً او نحوه مما یرجو به التقرب لان العلة رجاء الثواب فیما فیه العقاب.(ردالمحتار/ ٤/ ٢٩٢)۔

۲]وهی (الودیعة) امانة هٰذا حکمها مع وجوب الحفظ والأداء عند الطلب. . . . . فلا تضمن بالهلاک الا اذا کانت الودیعة بأجر. (ردالمحتار/٥/ ٦٦٤/ طبع سعید)۔

۳]باب الربا، هو فضل مال بلا عوض فی معاوضة مال بمال أی فضل احد المتجانسین علی الآخر. (البحرالرائق/٦/ ١٣٥/ طبع دارالمعرفة/ بیروت)۔

٤] والحاصل: ان علم ارباب الاموال وجب رده علیهم. (فتاویٰ شامي/ ٥/٩٩/ باب البیع الفاسد)۔

شرکت کوي او ځه پوښتنونو په بدله کې هغوی ته د هغوی د خرچ شویو پیسو نه زیاتې ملاوشي او ځه خلکو ته کم او چاته هیڅ هم ملاونه شي او واپس شي، ایا داسهي دي؟ داجواري کې خونه دي شامل؟

جواب: دې کې شرکت کول جائزنه ګنم، دپیسو اخیستو او ورکولو خو سوال نه پیداکیږي.

که څوک د سرو زرو اجرت نه ورکوي، نو ایا د هغه د سرو نه د اجرت په اندازه اخیستو سره هغه ته ویل شي، نو ایا داسهي ده؟

سوال: زموږ په ډایي مشین باندې یوازې دکانداران کار کوي، خو اجرت نغد نه ورکوي. بلکې هفته وروسته د مزدورۍ د ورکولو وعده کوي او په کرار کرار يې ادا کوي، ځینې دکانداران پیسې بندې کړي او چې ډیر زیات کار جمع شي، نو کار بندولو سره په نورو مشینانو والو باندې کار شروع کوي، شاګرد بار بار ځي، خو پیسې ورته نه ملاویږي، نتیجه دا چې پیسې هم لاړې او ګاک هم لاړ، د یو بل مشین والاوینا ده چې کله هغه ګوري چې پیسې زیاتې شوې، نو سره زر کوم چې هغه ته د کار له پاره ورکول کیږي، د هغه نه هغه لږ لږ سره زر کیږدي، چې د هغې دکاندار ته پته نه لګیږي او وصولي يې هم وشي، وروسته د دکاندار کاته وصول کولو سره هغه ته بیانوي، ایا داسې وصول کول سهي دي؟ او په اول صورت کې کاروبار بندیږي او نقصان ناقابل برداشت وي او په دویم صورت کې دواړه راضي وي، مطلب دا چې په مزدورۍ ورکولو کې نیت خراب وي، یعنې د نه ورکولو او په کاروبار کې وعده خلافي هم کوي، نو ایا په بله طریقه باندې خپل حق وصولولو کې څه باک شته او که نه؟

جواب: صحیح ده، په دې شرط چې هغوی سره څه دوکه ونه شي. [1] **والله اعلم!**

د هوټل ټپ اخیستل شرعي طور باندې څنګه دي؟

سوال: زه یو هوټل کې بیرا یم او دلته ماته د تنخوا نه پرته هره ورځ ټپ هم ملاویږي او هغه د ګاک په خپله خوښه او خوشالي باندې راکوي معلومول داغواړم چې داټپ زموږ له پاره حلال دی که حرام؟ لږ تفصیل سره جواب راکړئ چې زه يې خپل دوستانو ته هم ووایم.

---

[1] ولا يقطع. . . . . ومثل دينه ولو دينه موجلاً او زائداً عليه او اجود لصيرورته شريكاً اذا كان من جنسه ولو حكماً. (قوله ولو دينه موجلا) لأنه استيفاء لحقه والحال والمؤجل سواء فى عدم القطع استحسانا. . . . . وقد صرح فى شرح تلخيص الجامع فى باب اليمين فى المساومة بأن له الأخذ وكذا فى خطر المتجبى ولعله محمول على ما اذا لم يمكنه الرفع للحاكم فاذا ظفر بمال مديونه له الأخذ ديانة بل له الأخذ من خلاف الجنس. (الدرالمختار مع ردالمحتار/ ٤/ ٩٥/ مطلب فى أخذ الدائن من مال مديونه من خلاف جنسه/ طبع سعيد).

جواب: کوم خلک چې پخپله خوشالي باندې درکوي دهغوی نه اخیستل حلال دي، خوداحق ګڼل، ددې مطالبه کول اوچې ځوک یې درنه کړي هغوی کمزوري ګڼل جائزنه دي.[۱]

د آزادو ښځو اخیستل او خرڅول

سوال: عرض دادی چې دلته په سنده اوبلوچستان کې هغه بنګالی ښځې کومې چې د دلالانو د دوکو له وجې دبنګله دیش نه پاکستان ته راوستل شي، په هغو ښځوکې څه بالغه او نابالغه ناواده شوې ښځې هم وي، څه لاوراته (طلاق شوې) اوڅه واده شوې وي اوهغوی دلالان په زور باندې په کلوکې دلاوارثوپه شان پریږدي اوددې ځای خلکوته یې نکاح کې ورکړي، ایا شرعي لحاظ باندې بنګالی یاغیربنګالی داسې ښځوسره نکاح کول جائزدي؟ که ناجائزوي، نودا کاروبار حرام وګرځوئ اوفتوا ورکړئ چې خلک بیاله پاره داکاروبارختم کړي اواخیستونکوته هم شرعي طورباندې تنبیه وکړئ چې دراتلونکي نسل له پاره یوشرعي حکم اوهدایت موجودوي اوخاص طورباندې ملایانو حضراتوته خواست وکړئ چې هغوی داسې قسمه نکاح نه کوي.

جواب: دازادوښځواخیستل اوخرڅول چې هغې ته عام طورباندې عزت فروشي ویل کیږي، شرعي طور باندې حرام دي[۲] اوکوم خلک چې دې ګنده کاروبارکې مبتلادي، هغوی دانسانیت دښمنان دي، د شیطان ایجنټان اودمعاشرې مجرمان دي، داسې ښځې کومې چې ددې ظالمانو لاس ته راغلې وي که چیرې یوسړی دهغوی دازادي له پاره شرعي طورباندې هغوی سره نکاح وکړي، نونکاح صحیح ده، شرط دادی چې ښځه بالغه اوعقل لرونکې وي اونکاح دهغې په خوښه شوي وي اوکه چیرې انجیلی نابالغه وي، نودهغې نکاح دهغې دوارثانوداجازې نه پرته نه شي کیدای، ترڅوپورې چې هغه پیغله شوې نه وي، دپیغلیتوب نه وروسته دهغې په خوښه که دهغې نکاح و شي، نونکاح به وشي.[۳]

شرط باندې د اسونو د مقابلې کونکي نوکري

سوال: ریس(رفتار) کې دمنډه وهونکي اس خدمت کول، یاداسې اداره کې ملازمت کول چې دهغوی په نګراني کې اسونه منډې وهي، شرعي لحاظ سره څنګه دي؟

۱] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا يحل مال امرىء الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة/۲۵۵)۔

۲]عن النبي صلى الله عليه وسلم: قال الله: ثلاثة انا خصمهم يوم القيامة: رجل اعطى بي ثم غدر ورجل باع حراً فاكل ثمنه ورجل استأجر اجيراً فاستوفى منه ولم يعط اجره. (بخاري/ ۱/۲۹۷). واما شرائط المعقود عليه: فان يكون موجودا مالاً متقوماً........ولم ينعقد بيع ما ليس بمال متقوم كبيع الحر. (البحرالرائق/۵ /۲۵۹)۔

۳] قوله (نفذ نكاح حرة مكلفة بلا ولي) لأنها تصرف في خالص حقها وهي من اهله لكونها عاقلة بالغة..... وقدبالمكلفة اعتراضاً عن الصغيرة فانه لاينعقد نكاحها الا بولي.(البحرالرائق/كتاب النكاح/۳/ ۱۰۹، ۱۱۰)

جواب: په شرط باندې د اسونو مقابله حرامه ده[۱] او د هغې ملازمت کول هم ناجائز دي. [۲]

د چا په ګرم کړي تنور باندې د هغه د ډوډۍ لګولو نه وروسته ډوډۍ لګول

سوال: يو سړی په تنور باندې ډوډۍ ولګولې، اوس که بل څوک په هغه باندې ډوډۍ لګوي او تنور هم ګرم وي، نو څنګه ده؟

جواب: کوم سړي چې په تنور باندې ډوډۍ لګولې وي، که د تنور د ګرمولو پيسې هغه ادا کړې وي، نو د هغه په اجازه سره تاسو هغه تنور استعمالولی شئ، پرته له اجازې څخه نه. [۳]

د سپانسر سکيم د ډرافټ اخيستل

سوال: نن سبا د ريګولر سکيم او اسپانسر سکيم په ذريعه باندې د حج درخواستونه اخيستل کيږي، سپانسر شپ په ذريعه باندې چې څوک تلل غواړي، نو د بهر ملک نه د پنځه څلويښت زرو روپيو ډرافټ جمع شي، ځيني خلک کوم چې حج ته تلل غواړي دا ډرافټ د هغه نه څه زياتې پيسې واخلي او د هغه په نوم يې را وغواړي، نن سبا دا ډرافټ په (۵۰۰، ۴۹) باندې ملاويږي، صورت يې دا دی چې د سپانشر اسکيم په ذريعه باندې ډيرزيات حاجيان هم د غه شان په ډيرو پيسو باندې ډرافټ اخيستلو سره حج ته ځي، پوښتنه داده چې دا سې ډيرې پيسې ورکولو سره ډرافټ اخيستل جائز دي؟ کوم خلک چې د بهرنه ډرافټ را غواړي د هغوی نه که پوښتنه وشي چې تاسو ولې زياتې پيسې ورکوئ؟ نو هغوی وايي چې دا د کرنسۍ فرق دی، کله چې بهر ملک کې ډرافټ جوړيږي، نو کرنسۍ کې فرق راشي او څه ګټه به هغوی هم ساتي که چيرې دا صورت ناجائز وي، نو د دې د اصلاح څه صورت کيدای شي؟ ايا دا به ښه نه وي چې دا ډرافټ د پاکستاني کرنسۍ په ځای باندې د بهر ملک په کرنسي مثلاً ډالر، پاونډ، ريال وغيره کې واخيستل شي؟ د غه شان به پاکستانۍ روپۍ ورکولو سره د بهر ملک ډرافټ اخيستل کيږي، نو سود کې خو به نه داخليږي؟ د ې وخت کې چې کوم ډرافټ ملاويږي هغه پاکستانۍ روپۍ کې وي او ادائيګی هم پاکستانۍ روپۍ کې وي د سپانسر شپ سکيم په ذريعه باندې خلک له دې وجې هم زيات حج ته ځي چې دې کې د ريګولر سکيم په مقابله کې مکه مکرمه، يا مدينه منوره کې د حکومت له طرف نه د اوسيدو شرط لازمي نه وي او ريګولر سکيم باندې حج ته تلونکوله پاره د اوسيدو شرط لازمي وي او لازمي رهائش کې تکليف ډيروي.

---

[۱] حل الجعل ان شرط المال فی المسابقة منجانب واحد وحرم لو شرط فيها من الجانبين لانه يصير قماراً. قوله من الجانبين بان يقول ان سبق فرسک فلک علی کذا وان سبق فرسی فلی عليک کذا. (ردالمحتار/٦/٤٠٣)۔

[۲] ما حرم فعله حرم طلبه. . . . . . الخ. (شرح المجلة/ ٣٤)۔

[۳] لا يجوز لأحد ان يتصرف فی ملک غيره بلا اذنه او وکالة منه او ولاية عليه. (شرح المجلة/ ٦١).

جواب: د يرې پيسې ورکولو باندې د کموپيسو د رافت اخيستل خوسود دی[1]، خو د يو ملک د کرنسي د بل ملک کرنسي سره بدلول په هر صورت کې جائز دي. که هغه کم وي او که زيات[2].

له دې وجې ښه صورت دادی چې حکومت د ريالونو يا د الرو د رافت اخلي. يا ورته دا شکل ورکړي چې د رافت له پاره هغومره پيسې اخلي د څومره پيسو چې د رافت دی او زياتې پيسې دې ايجنټان د خپل محنت له پاره جدا اخلي.[3]

د کورونو مشترکه اخراجات نه ادا کول سراسر حرام دي

سوال: موږ چې په کوم اپارټمنټ کې اوسيږو هغه په يو نيم سلو فليټونو باندې مشتمل دی، په هغه کې د چوکيدار نظام، د اوبو سپلائي اود صفايي د اخراجاتو په مد کې د هر کور نه د مياشتې سل روپۍ اخيستل کيږي، چې پورته بيان شويو سهولتونه او سيدونکو ته ورکړل شي څه د کورونو والا يوه پيسه هم نه ورکوي، خو د ټولو سهولتونو نه فائده اخلي، مولوي صاحب! ايا شرعي اعتبار سره دا حرام خوري نه ده؟

جواب: دا د حقوق العباد مسئله ده، چې هر کله اجتماعي سهولتونه ټول اوچتوي، نو د هغې واجبات هم د ټولو په ذمه لازم دي، په هغوی کې که څه خلک واجبات نه ادا کوي، نو ګويا د نورو مال په ناحقه خوړلو کې اخته دي، چې سراسر حرام دي او د قيامت په ورځ باندې به هغوی دا حقونه پوره کوي، په حديث شريف کې دي چې رسول الله ﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه پوښتنه وکړه چې ايا تاسو پوهيږئ چې غريب څوک دی؟ هغوی عرض وکړ چې زموږ په نزد خو غريب هغه چاته وايي چې هغه سره روپۍ (پيسه) نه وي، رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په امت کې غريب هغه سړی دی چې د قيامت په ورځ باندې به لمونځ، روژه او زکات سره راشي، خو په دې حالت کې به راشي چې فلاني ته يې کنځل کړي و، په فلاني يې تهمت لګولی و، د فلاني مال يې خوړلی و، د فلاني وينه يې تويې کړې وه، فلانی يې وهلی و، د هغه نيکي به هغو خلکو ته ورکړل شي، نو که نيکي ختمې شوې، خو د خلکو حقوق نه و ادا شوي، نو د حقوق په اندازه به د خلکو ګناهونه په هغه باندې بار کړل شي او هغه به جهنم ته وغورځول شي.

۱]باب الربا هو فضل مال بلا عوض في معاوضة مال بمال أي فضل احد المتجانسين على الآخر. . . . . الخ. (البحر الرائق/٦/ ١٣٥/ طبع دار المعرفة بيروت)_

۲]بيعوا الذهب بالفضة كيف شئتم يدا بيد، وبيعوا البر بالتمر كيف شئتم يدا بيد، وبيعوا الشعير بالتمر كيف شئتم يدا بيد. (ترمذی شريف/ كتاب البيوع/ ٢٤٥). واذا عدم الوصفان الجنس والمعنى المفهوم اليه، حل التفاضل والنسأ لعدم العلة المحرمة. . . . . الخ. (هداية/ ٣/ ٨١/ باب الربا/ كتاب البيوع)_

۳] اجارة السمسار والمنادي والحمامي والصكاك وما لا يقدر فيه الوقت ولا العمل تجوز لما كان للناس به حاجة ويطيب الأجر المأخوذ لو قدر اجر المثل. (ردالمحتار/ ٦/ ٤٧/ كتاب الاجارة)_

(مشكاة ص ٤٣٥) [1] له دې وجې مسلمان ته پکار دي چې د قيامت په ورځ باندې په داسې حالت کې د الله پاک په دربار کې وړاندې شي چې د خلکو حقوق (نفس، مال او عزت په باره کې) د هغه په ذمه څه نه وي، که نه، د اخرت معامله ډيره سخته ده.

د فيکټرۍ مالکان او مزدوران دې خپلو کې په مصلحت فيصله کوي

سوال: ديوې فيکټرۍ وخت دسهار اته بجونه دمازديګرخلورنيمو بجو پورې و، ديونين اومالکانو مينځ کې دافيصله وشوه چې وخت زيات شي اوداتونه دې ترلس منټه اوپنځه بجوپورې شي او دجمعې نه پرته يوزيارت نه بل زيارت باندې به هم چوټي وي، يعنې مياشت کې ټولې شپږچوټيانې، بياداخبره هم وشوه چې دهرې مياشتې په لومړۍ اودريم زيارت باندې به چوټي وي، داخبره دې له پاره وشوه چې جګړه ونه شي چې په کوم زيارت باندې به چوټي وي، اوس سوال دادی چې ددې خبرې هغه وخت کې خيال ونه ساتل شو چې په مياشت کې پنځه ځله هم زيارت راتلی شي، کمپنۍ وايي چې موږ به يوازې په لومړي اودريم زيارت باندې چوټي کوو، موږ دپنځه ځله نه د زيارت راتلوذمه دارنه يو حالانکې داسې صورت کې دهغه مياشتې وخت د نورو مياشتو نه زياتيږي، دحساب مطابق خوداسې پکاردي چې په يوزيارت باندې کاروي اوبل باندې نه وي، بيابه وخت صحيح وي، خودکمپنۍ مالکان دې خبرې ته بالکل خيال نه کوي، اتفاقاً دې کال کې ديوې نه زياتومياشتوکې دزيارت ورځ پنځه ځله راځي، مثلاً دې مۍ کې پنځه زيارتونه راځي، دې باره کې داسلامي انصاف فيصله بيان کړئ! ځکه چې مالکان پخپله هم ډيرمذهبي دي، چيرته دالله تعالی په نزدباندې ګناهګارنه شي اومزدوران هم دحق نه زيات وانه خلي دويمه خبره داده که چيرې دزيارت په ورځ باندې سرکاري چوټي راشي، نوددې په بدله کې به مزدورانوته جداچوټي ملاويږي اوکه نه؟ ځکه چې هغه چوټي خوهغوی ته هسې هم ملاويده اودزيارت دورځې چې کومه چوټي ده هغه هغوی هره ورځ څلويښت منټه زيات کارکولوله وجې ګټي اوداورته دزيات کارکولوله وجې ملاويدل پکارده، دې باره کې دعدل اوانصاف فيصله وکړئ.

جواب: ددواړوفريقوپه مينځ کې چې کومه فيصله شوې ده، دهغې مطابق دانصاف اوعدل خيال ساتلوتقاضاداده که چيرې په يوه مياشت کې پنځه ځله دزيارت ورځ راځي، نوهغه ورځ باندې نيمه چوټي کول پکاردي اوکه چيرې نيمه چوټي دفيکټرۍ په حق کې نقصان کونکې

---

[1] عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: اتدرون ما المفلس؟ قالوا: المفلس فينا من لا درهم له ولا متاع! فقال: انالمفلس من امتى من يأتي يوم القيامة بصلاة وصيام وزكوٰة ويأتى قد شتم هٰذا، وقذف هٰذا، واكل مال هٰذا، وسفک دم هٰذا، وضرب هٰذا، فيعطى هٰذاا من حسناته، وهٰذا من حسناته، فان فنيت حسناته قبل ان يقضٰى ما عليه، اخذ من خطاياهم فطرحت عليه ثم طرح فى النار. (مشكوٰة/٤٣٥/ باب الظلم، مسلم/٢/ ٣٢٠، ترمذي/٢/ ٦٧).

وي، نوداسې فيصله کول پکاردي چې يوزيارت نه وروسته بل زيارت باندې به چوټي وي اودکليندړمطابق د چوټيانو چارټ لګول پکاردي چې داختلاف وجه بالکل پيدانه شي دويمې مسئلې باره کې په فريقانوکې څه خبره نه ده شوې، نودې ته دعام حالاتومطابق کتل پکاردي[۱] يعنې که چيرې دعامو کمپنودستور داوي چې داسې صورت کې په بله ورځ باندې چوټي ورکوي، نوهغه شان کول پکاردي اوکه نه ملاويږي، نودې صورت کې نه دي ورکول پکار اوکه دې باره کې څه خاص دستورنه وي، نودامعامله دې کاريګران اومالکان خپلوکې په صلاح مصلحت باندې وکړي او تاسوچې دچوټي باره کې کوم دليل ليکلى دى هغه په خپل ځاى باندې صحيح اووزن لرونکى دى.

جعل سازي باندې د ګاډي الاؤنس حاصلول اوهغه استعمالول

سوال: موږ يوه سرکاري محکمه کې نوکران يو. زموږ اداره خپلو ملازمينوکې يوازې افسرانوته د تنخوا نه پرته خصوصي پيسې چې هغو ته الاؤنس ويل کيږي، ورکوي دغه الاؤنسوکې يو دموټر الاؤنس هم دى، ددې شرط دادى چې کوم افسرته دا الاؤنس ورکول کيږي، هغه سره موټر وي اودهغه په خپل ذاتي استعمال کې وي اودموټر کاغذونه ادارې سره جمع شوي وي کوم افسر سره چې موټر نه وي، هغه ته دتلوراتلوخرچې څه ته کنونيس الاؤنس ويل کيږي ملاويږي او دهغه دموټر دالاؤنس په مقابله کې ډيرزيات کم وي، ځينې دوکه بازملازمين موټر واخلي او دهغه کاغذونه جمع کړي اوبياموټر خرڅ کړي اودموټر الاؤنس جاري وي اوکله چې د انکوائري ويره وي، نوبل موټر واخلي يادچاخپلوان موټر وښايي داسې قسمه ناجائزکارونه هغه خلک هم کوي کوم چې نيک او لمونځ ګزاره وي، موږتاسونه دقران اوسنت په رڼا کې دامعلومول غواړوچې دې طريقه باندې حاصل شوې پيسې حلالې دي اوکه حرامې؟ که ناجائزدي نو ولې؟

جواب: دجعل سازي اودوکې په ذريعه باندې حاصلې شوې پيسې څنګه حلالې کيداى شي؟ داسې افسران ددې قابل دي چې هغوى معطل کړل شي.[۲]

سوال: کومې پيسې چې مخکې اخيستل شوې وي هغه به واپس کول وي اوکه توبه کولوسره به ګذاره وشي؟

جواب: توبه هم وکړئ اوپيسې هم واپس کړئ![۳]

۱] التعيين بالعرف كالتعيين بالنص. (شرح المجلة لسليم رستم باز/ ۳۸)_

۲] "ولا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل" قوله بالباطل يعنى بالربا والقمار والغصب والسرقة والخيانة ونحوها. (تفسير بغوي/ ۲/۵۰/ ايضاً تفسير نسفي/۱/۳۵۱)_

۳] قال تعالي: "يايها الذين امنوا توبوا الى الله توبة نصوحاً". (التحريم:۸). قال ابن عابدين رحمه الله: والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده عليهم. . . . . والا فان علم عين الحرام لا يحل له ويتصدق به بنية صاحبه. (ردالمحتار/٥/ ۹۹/ باب البيع الفاسد/ مطلب فيمن ورث مالاً حراماً)_

سوال: مورِ دې ګنلوسره چې دادنیاوي معامله ده، دین سره ددې څه تعلق دی، که چیرې هغوی کې یوکس لمونځ ورکوي، نوهغه پسې لمونځ کوو؟

جواب: که بې خبري کې یې کړې وي اومعلومیدونه وروسته یې توبه وکړه اوپیسې یې هم واپس کړې، نوهغه پسې لمونځ جائزدی، که نه، نه دی روا. [۱]

پریس کارډ د ورځپا ڼو د کار پریښودو نه وروسته استعمالول

سوال: څه موده مخکې ما په یوه ورځ پاڼه(اخبار) کې د رپورټر په حیثیت کار کول شروع کړل، اخبار ته څه نقصان ورسید، چې د هغه له وجې نه زه د اخبار نه فارغ شوم، د هغه اخبار له طرف نه جاري شوي پریس کارډ اوس هم ما سره موجود دی، ځینې وخت انتظامیه پولیس وغیره خلک ناجائزه تنګوي، یا ټریفک پولیس خلک بې ځایه پریشانه کوي، نو زه هغه استعمالوم، ایا زما دې کارډ ته د پولیس یا د یو تنظیم مخکې یا د خپل یا د یو بیګناه د مدد له پاره استعمالولی شم؟

جواب: د دې پریس کارډ د شر نه د بچ کیدو له پاره استعمال جائز دی.

په ناجائزه ذریعه پیدا شوی دولت څنګه استعمالیدای شي؟

سوال: یوسړي په ناجائزه طریقه باندې دولت حاصل کړ اوهغه کورکې کوم چې ناجائزدولت باندې اخیستی شوی وي، یاجوړ شوی وي، دهغه سړي دهغه کور دنورو خلکولمونځ ، د قران کریم تلاوت کول اونورعبادتونه اوذکرونه کول څنګه دي؟ اودکورنه بهرچې کوم دوستان وغیره دي،دهغوی عملونه اداکول څنګه دي، چې هغوی ته ددې باره کې علم وي یایوازې شک ؟

سوال: که وروسته دغه سړي په ناجائزکارونوباندې پښیمانه شي اوتوبه وکړي، نودغه ناجائز دولت باندې حاصل شوی کور، نورجایداد او سامان وغیره باندې څه وکړي؟ اوچې هغه سره داوسیدواوانتظام هم نه وي. نوایادغه سړی دمجبوري په حالت کې دغه کورکې اوسیدای شي؟

سوال: دغه شان که یوداسې سړي نه کوم چې ناجائزه طریقه باندې دولت پیداکړی وي، نه څوک ضرورت مندقرض اخیستی شي او قرض اخیستونکي ته دې باره کې علم وي یاورته علم نه وي یوازې شک یې وي بیان وکړئ چې ناجائزدولت چې هغه کې غلا، رشوت، ډاکه، اودوکه وغیره شامل دي، پورته ذکرشوې مسئلو کې دټولوحکم یودی اوکه مختلف دی؟

۱] ان من شرط التوبة: ان ترد الظلامة الى اصحابها، فان كان ذلک فی المال، وجب ادائه عيناً او ديناً ما دام مقدوراً عليه، فان كان صاحبه مات دفع الى ورثته. . . . . الخ. (القواعد للزركشي/۲/۲٤٥/ طبع بيروت).
وكره امامة عبد وفاسق واعمٰى (قوله وفاسق) من الفسق وهو الخروج عن الاستقامة، ولعل المراد من يرتكب الكبائر كشارب الخمر والزان وآكل الربا ونحو ذلک. (ردالمحتار/۱/ ٥٦٠/ باب الامامة)_

جواب: ددې ټولوسوالونو يوجواب دى، چې د غلا، ډاکې اورشوت وغيره په ذريعه باندې کوم دولت پيدا شوى وي، دغه سړى دهغه دولت مالک نه دى، ترڅوپورې چې اصل مالکانوته هغه پيسې واپس نه شي يا يې ورته معاف نه کړي دکوم ناجائزدولت تعلق چې حقوق العبادسره وي، دهغه مثال دمردارې اوخنزيرپه شان دى، چې په هيڅ طريقه باندې هم هغه نه پاکيږي اودهغه دپاکولو يوازې دوه صورتونه کيداى شي، يادې هغه شى مالک ته واپس شي، يادې په هغه باندې معاف شي[۱]. دريم يې هيڅ صورت نه شته، داسې ناجائز دولت نه څوک خوړلى شي اونه يې په چاباندې خوړلى شي، نه يې صدقه کولى شي، نه يې چاته دهديې په طور ورکولى شي اونه يې چاته په قرض ورکولى شي.

د غلط اورټائم اخيستلواو ورکولوحکم

سوال: زه ددفاع په محکمه کې نوکري کوم، زموږ ددفتروخت دسهاراوونيموبجونه دغرمې دوه بجوپورې دى، دحکومت له طرف نه ديوې نيمې بجې نه وروسته نيمه ګنټه لمونځ له پاره وقف ده، دوه بجونه وروسته چې کوم خلک چې دوه يادوه نيمې ګنټې کارکوي هغوى ته دقانون مطابق درې روپۍ ورځ ورکول کيږي اودې باره کې افسرانوته ددې تصديق کول وي، چې فلانکي سړي په فلانکۍ ورځ باندې دوه بجونه وروسته دفترکې کارکړى دى، نودغه شان چې کومو خلکو دافسرانوسره تعلق وي، دټولې مياشتې اوورټائم اويا يا پنځه اويارويۍ اخلي اودغورکولوخبره داده چې زموږ دفتر کې دومره کارنه وي، چې هغې له پاره ناوخته پورې کيناستل پکاروي، بلکې حقيقت دادى که چيرې ديانت داري سره کار وشي. نو روازنه ددريوګنټونه زيات کار يوسړي سره هم نه وي اوداوورټائم خوسوال نه پيداکيږي، دابالکل دورغ دي، ماشاء الله تصديق کونکي افسران په ظاهري شکل اوصورت باندې ډيرنيکان دي، کله کله دماسپښين دلمونځ امامت هم کوي اوداسې ددروغوتصديق کول دخيرکارګڼي، موږ سوچ کوو که چيرې دهغوى دقول مطابق داپه رښتياباندې دخيرکاردى، نوبيادځه مصلحت له وجې يوازې ديوڅوکسانوسره داخيرکوي اونورخلکوته يې نه کوي اوداټول کارونه ډيرپه پټه باندې کوي چې کومونوکرانوته پيسې نه ملاويږي چې هغوى ته پته ونه لګيږي، که چيرې موږدهغوى نه پوښتنه وکړوچې جناب! تاسوداغلط کارولې کوئ؟ نودخپلې اصلاح کولوپه ځاى باندې زموږخلاف کارونه کوي اوزموږ پريشانه کول شروع کړي که چيرې همداسې

۱]والحاصل انه ان علم ارباب الأموال وجب رده عليهم، والا فان علم عين الحرام لا يحل له ويتصدق به بنية صاحبه. (ردالمحتار/۵/۹۹/باب البيع الفاسد/طبع سعيد). وان كانت (اى التوبة) عما يتعلق بالعباد فان كانت من مظالم الأموال فيتوقف صحة التوبة منها مع قدمناه فى حقوق الله على الخروج عن عهدة الأموال وارضاء الخصم فى الحال اوالاستقبال بأن يتحلل منهم اويردها اليهم او الى من يقوم مقامهم...الخ. (شرح فقه الاكبر/۱۹۴/ طبع بمبئى)

دنیادار قسمه افسران وي، نومورډ به دهغوی نه ګیله نه کوله اوهغوی ته به موهم دې سلسله کې تکلیف نه ورکولو، خو د پوره ذکر شویو صفتونو مالک انسان نه داسې کار لیدلو باندې ډیرزیات خفه شو.

جواب: **الف** کوم صاحبان چې داوورتائم کولونه پرته پیسې اخلي، نوهغوی حرام خواره دي اود قیامت په ورځ به هغوی دهرڅه حساب کتاب ورکوي[۱]، پته نه شته چې دقیامت په حساب کتاب باندې یقین ساتي هم اوکه نه.

ب دانیک عمله افسرصاحب! خلکوباندې سرکاري پیسې په حرام طریقه باندې خوري، دقیامت په ورځ به دهغه نه دپوره پیسومطالبه کیږي[۲] دیوبزرګ نه چاپوښتنه وکړه چې ددنیادټولونه غټ احمق څوک دی؟ ویې فرمایل څوک چې خپل دین بربادکړي اودنیاابادکړي اود دنیاله پاره اخرت بربادکړي اودهغه نه احمق سړی هغه دی څوک چې دنوروله پاره خپل دین بربادکړي.

دشپې دډ ندې پرمهال په نمبر نمبر ویده کیدل

سوال: زه په یو پاور هاوس کې ملازم یم، په میاشت کې یوه هفته د شپې ډیوټي(دنده) کوم، چې په هغه کې ماسره کار کونکي ملګري دوه درې ګنتې په نمبر نمبر ویده کیدو سره ارام کوي، چې ددې خبرې زمونږ افسرانو ته هم علم دی، د زیات ستړي کیدو په وخت کله کله افسران هم ارام کوي، خو زه د دوه کالو نه دې ته ناجائزه ګڼلو سره نه ویده کیږم، پوره شپه د ویښ پاتې کیدو له وجې نه په صحت باندې کافي اثر کیږي او د شپې د درې څلورو بجو نه وروسته دیوټي هم صحیح طریقې سره نه شم پوره کولی په دې سلسله کې ستاسو نه د رهنمایي غوښتونکی یم.

جواب: ستاسوطرزعمل صحیح دی، خوکه د افسرانوله طرف نه دوه درې ګنتې د ویده کیدو اجازه ملاویږي اوپه هغه سره کار کې څه خلل نه واقع کیږي، نو د ویده کیدو ګنجائش شته. **والله اعلم!**

---

[۱] قال تعالی: "ولا تأکلوا اموالکم بینکم بالباطل" (البقرة: ۸۸). (بالباطل) بالحرام یعنی بالربا والقمار والغصب والسرقة والخیانة ونحوها. (معالم التنزیل/۲/۵۰). وقال تعالیٰ: الیوم نختم علی افواههم وتکلمنا ایدیهم وتشهد ارجلهم بما کانوا یکسبون. (یٰسٓ: ٦٥)۔

[۲] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لتؤدن الحقوق الی اهلها یوم القیامة حتی یقاد للشاة الجلحاء من الشاة القرناء. (ترمذي/۲/٦٧/ ابواب صفة القیامة)۔

ایا په دفتري وختونو کې لمونځ کونکی په هغومره وخت په کار کې زیات تیروي؟

سوال: که موږ د ځا ملازمان یو او د لمونځ په وختونو کې د لمونځ د ادا کولو له پاره ځو، نو ایا موږ ته د دې وختونو په بدله کې زیات کار کول پکار دي؟ -

جواب: لمونځ فرض دی، د دومره وخت په بدله کې د زیات کار ضرورت نه شته، که په دفتري وختونو کې په ایمانداري سره کار و شي، نو ډیره ده.

دفتري وخت کې نیک کارونه کول

سوال: ځینې سرکاري نوکران مثلاً: استاذان،ملازمان اوداسې نور... دډیوټي (وظیفې) پرمهال چې څه وقفه هم نه وي رمضان المبارک کې دقران مجیدتلاوت وغیره کوي اودغه وخت کې هیڅ کارنه کوي، چې له وجې یې داستاذانونه دماشومانواونورونوکرانونه د دفتر کار پاتې کیږي، ددوی ددې کارثواب شته اوکه نه؟

جواب: که سرکاري نوکران وي اوکه غیرسرکاري، دهغوی دکارکولو وخت دهغوی خپل نه وي، بلکې په کومه اداره کې چې هغوی کار کوي، هغوی دتنخوا په بدله کې دهغوی وخت اخیستی وي، دهغوی دغه وخت دهغه ادارې اوقوم امانت دی، که چیرې هغوی دغه وخت په کار کولو کې تیروي کوم چې هغوی ته حواله شوی دی، نودامانت حق اداکوي اودهغوی تنخوا دهغوی له پاره حلاله ده، اوکه چیرې دغه وخت کې څه نورکارونه کوي مثلاً: تلاوت یاڅه کارنه کوي، بلکې ګپ شپ لګوي، نوامانت کې خیانت کوي اودهغوی تنخوا دهغوی له پاره حلاله نه ده.[۱]

اوکه چیرې ددفترکاریې ختم کړی وي اوهغوی ته کارنه وي اوفارغ ناست وي، نوهغه وخت کې دقران کریم تلاوت کول جائز دي، دغه شان څه بل ښه کارکې دغه وخت تیرول هم صحیح دي. کار کونکي خلک ددې ډیرکم خیال ساتي، دیانت داري او امانت داري سره دکار کولو تصور هم ختمیږي، داخلک دقوم نوکران دي، سرکاري خزانه کې دعواموډګتې نه جمع شوې پیسې دوی ته دتنخوا په طورباندې ورکول کیږي، خوکارنه دپتیدو دا حالت دی چې خلک باربار دفترونوته ځي اوناکام واپس راځي اوکه چیرې رشوت یاسفارش وشي، نوهماغه وخت کار وشي، همدغه خلک دسرکار(اودسرکارپه ذریعه باندې دعوامونوکران) نه دي، بلکې

۱] ولیس للخاص ان یعمل لغیره ولو عمل نقص من اجرته بقدر ما عمل. وفی الشامیة: قوله (ولیس للخاص ان یعمل لغیره) بل ولا ان یصلی النافلة وفی فتاوی الفضلی و اذا استأجر رجلاً یوماً یعمل کذا فعلیه ان یعمل ذلک العمل الی تمام المدة ولا یشتغل بشیء آخر سوی المکتوبة وقد قال بعض مشائخنا ان یؤدی السنة ایضا واتفقوا انه لا یؤدی نفلاً وعلیه الفتوی. (ردالمحتار/٦/ ٧٠/ کتاب الاجارة/ طبع سعید)۔

دسفارش اورشوت نوکران دي انصاف وکړئ چې ددغو نوکرانوله پاره تنخوا څنګه حلاله کیدای شي؟ که چیرې هغوی سره الله تعالی دجواب ورکولوویره پیداشي اوهغوی ته پته ولګیږي چې دقیامت په ورځ به هغوی دیویوعمل جواب ورکوي، نوددفترکاربه دیانت داري اوامانت داري سره کوي اوعوام به دهغوی نه پریشان نه وي، الله تعالی دې موږته دامانت داري اودیانت داري دولت نصیب کړي!

د پراویډنټ فنډ پیسې اخیستل

سوال: (۱) دهرسرکاري ملازم نه څه پیسې لازمي طورباندې کټ کیږي، دغه پیسې ترې د پراویډنټ فنډپه نوم باندې اخیستل کیږي داپیسې هغه ته دملازمت نه دریټائرډ (تقاعد) کیدونه وروسته ملاویږي او دغه پیسې دهغه نه دکټ شویو پیسوپه مقابله کې دوه چنده وي ښکاره خبره ده چې حکومت دغه پیسې په بینک کې ږدي اوبه فکسډ ډیپازټ باندې سود زیات وي له دې وجې د ملازمت په پنځویشت یادیریش کلونو کې دوه چنده شي. مهرباني وکړئ دشریعت په نزدباندې بیان کړئ چې داضافي پیسې اخیستل جائزدي اوکه حرام؟

سوال: ۲ دپراویډنټ فنډکومې پیسې چې دحکومت په کاته کې جمع کیږي، نوکرته خوهرکال داپته لګیږي چې زماکاته کې دومره پیسې جمع شوې، ایا دغه پیسوباندې به زکات واجب وي اوکه نه؟ ځکه چې ملازم هغه پیسې نه په خپله خوښه راویستی شي اونه یې په خپله خوښه خرچه کولی شي.

جواب: پراویډنټ فنډباندې چې کومې اضافي پیسې دمحکمې له طرف نه ورکول کیږي دهغو اخیستل جائزدي اوترڅوپورې چې وصول نه شي او کال پرې تیرنه شي، هغوباندې زکات واجب نه دی.[1]

فلیټ یې په دې شرط د زوم په نوم کړ چې د ژوند تر پایه به ماته د دې کټه راکوي

سوال: ما خاص د خپل جیب نه یو فلیټ په دوه لکه روپۍ واخیست او خپل زوم ته مې وویل چې دا فلیټ په خپل نوم کړئ، خو شرط مو دا کیښود چې د دې فلیټ کټه چې تر څو پورې زه او زما ښځه ژوندي یو، موږ ته ملاویږي دا شرط زباني د خپلو څلورو وارو خپلوانو مخکې مقرر شو، څه موده وروسته هغه فلیټ زما زوم خرڅ کړ چې په کې زما رضا هم شامله وه، خو زوم مې هغه فلیټ په درې نیم لکه خرڅ کړ، چې په هغو کې یې ماته یوازې پنځوس زره روپۍ

---

[1] واما شرائط الفريضة ترجع الى المال فمنها الملك فلا تجب الزكاة فى سوائم الوقف والخيل المسبلة لعدم الملك، وهذا لأن فى الزكاة تمليكاً، والتمليك فى غير الملك لا يتصور. (البدائع الصنائع/ ۲/ ۹/ طبع سعيد). پراویډنت فند پر زکوٰة وسود کا مسئله، مرتبه: مفتی محمدشفیع رحمه الله)۔

راکړې او پاتې يې خرچ کړې او ويې ويل چې قرض دارو ته مې ورکړې، ايا شرعي اعتبار سره داسې کول صحيح دي؟

جواب: چې کله تاسو هغه ته ورکړو، نو هغه يې مالک شو [۱] او هغوی چې ستاسو په رضا باندې خرڅ کړ، نو د هغه خرڅول هم صحيح دي او تاسو ته يې چې کومې پنځوس زره روپۍ درکړې، نو هغه هم صحيح دي، خو ستاسو زوم ته پکار و چې د خپلې وعدې مطابق يې د فليټ د مياشتې ګټه ستاسو د ژونده پورې تاسو ته درکولی.

له کتابخانې د غلا شويو کتابونو سره څه وکړم؟

سوال: ما يوځل د يوې کتابخانې نه، بلکې يو نه ډير ځله کتابونه غلا کړي وو. هغه له دې وجې چې ما وکتل چې حکومت زمونږ په پيسو باندې ګټه کوي او مونږ ته هيڅ نه راکوي او حرام خوړلو سره يعنې عوام زمونږ پيسې خوري، نو ما سوچ وکړ چې زه څه کولی شم هغه وکړم، ما د يوې کتابخانې نه تقريبا څلويښت يا پنځوس کتابونه غلا کړل او مختلف قسم کاغذونه مې هم غلا کړل، اوس زه دا نقصان څنګه پوره کړم؟

جواب: کتابونه او کيسټې وغيره په کتابخانې کې واپس کيږدئ او کوم نقصان چې تاسو کړی دی، د هغې اندازه لګولو سره هغومره کتابونه اخيستلو سره په کتابخانې کې جمع کړئ! [۲]

❖ معاملات ❖

....

د دفتر سټيشنري په کورکې استعمالول

سوال: سرکاری نوکرانوته په دفترکې چې کومه سټيشنري ورکول کيږي، کله دکم کارپه وجه باندې پوره طورباندې دسرکارپه کارکې استعمال نه شی، بياپه دويمه مياشت کې نورسامان ورکړل شي، هغه زياتی سامان خلک کورته راوړي اوبچيوته يې داستعمالولوله پاره ورکړي، آيا دا ټول شيان دنوکرانوذاتی شيانوکې داخل دي اود هغوی ذاتي اوکورني استعمال د اسلامی اصولومطابق جائزدي اوکه نه؟

جواب: سرکاری سامان کورته وړل صحيح نه دي، اوکه چيرې د سرکار دطرف نه اجازه وي (نوبيا صحيح ده). [۳]

---

[۱] والهبة شرعاً: تمليک الأعيان بغير عوض. . . . . وتمام الهبة بالقبض. (الفقه الحنفی اودلته/۳/ ۸۹).

[۲] والحاصل انه ان علم ارباب الأموال وجب رده عليهم. (فتاويٰ شامي/ ۵/ ۹۹/ باب البيع الفاسد).

[۳] لا يجوز لاحدٍ من المسلمين اخذ مال احدٍ بغير سببٍ شرعی. [بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د سرکاري کوئلې داستعمال په ځای د هغې پيسې استعمالول

سوال: زه سرکاري نوکريم، موږته ديخني(ژمي) په موسم کې دحکومت له طرف نه دکوئلې له پاره بوديجه(بجټ) منظوريږي، داکويله يوازې ديخو علاقو له پاره منظوريږي، زه په ضلع سوات کې نوکريم، اوهغه ډيره يخه علاقه ده اودجنوري نه دمارچ پورې دلته ډيره زياته يخني وي او موږته دې مياشتوکې کوئله سوزول پکاروي، خوهغه وخت کې حکومت موږته پيسې نه راکوي، اوبياموږته دجون په مياشت کې پيسې ملاويږي، ددې طريقه داسې ده چې حکومت يوکس ته ټيکه ورکوي، چې تاسودې سرکاري دفترونوته کوئله ورکوئ، خو ټيکدار کوئله نه ورکوي، بلکې هغه په خپل کاغذونوکې وليکي چې ما کوئله ورکړه. حالانکې نه ټيکه دارکويله ورکوي اونه دفترونوکې کوئله سيزل کيږي، بلکې کله چې دجون په مياشت کې بوديجه(بجټ) منظوره شي، نو ټيکه داردهغې نه خپل کميشن واخلي اوپاتې پيسې موږ خپلو کې تقسيم کړو، حالانکې دغه پيسې موږته دکوئلې له پاره راکول کيږي. اکثرخلک وايي چې داپيسې زموږله پاره جائزدي، ځکه چې ديخني په ورځوکې مونږيخني برداشت کړه اودځان له پاره مو بچت وکړ، دې کې څه بده خبره نه شته اوځيني وايي چې په نغد ډول ددې اخيستل جائزنه دي، ځکه چې موږکويله نه ده سيزلې نوپيسې دڅه شي اخلو؟ تاسوفيصله وکړئ!

جواب: چونکې بوديجه(بجټ) کې دنوروخرچوسره ددې له پاره هم پيسې ايښودل کيږي، اودحکومت له طرف نه ددې ټيکه ورکول کيږي، او ټيکه دارته دې باره کې دسرکاري خزانې نه پيسې ورکول کيږي، په دې وجه باندې ددې پيسو اخيستل داستعمالونکي حق دی ، پاتې شوه داخبره چې دضرورت په وخت کې کويله ورنه کړل شوه اوتاسودکوئلې نه پرته ديخني موسم تيرکړ، دادحکومت دکارکردګي نقص دی يادټيکه داردنااهلي، تاسوته ددې خلاف احتجاج کول پکاردي اودې نظام کې چې کومه خرابي ده دهغې اصلاح کول پکاردي، چې ټيکه دارپه وخت باندې کوئله درکړي، په هرحال کله چې ددې پيسې دسرکاري خزانې نه وتلې دي، نودهغو حاصلول ستاسوله پاره جائزدي. [1]

بقيه د تيرمخ].. (شامي/٤/ ٦١/ باب التعزير/ كذا في امداد الفتاوي/ ١٤٦/٤/ طبع مكتبه دارالعلوم كراچي). ايضا: لا يجوز لاحد ان يتصرف في ملك غيره بلا اذنه او وكالة منه او ولاية عليه وان فعل كان ضامناً. (شرح المجلة/ ٦١، المادة: ٩٦/ طبع مكتبه حبيبيه/ كوئته)۔

[1] وتصح بقبض بلا اذن في المجلس. . . . . . . وبعده به اى بعد المجلس بالاذن وفي المحيط لو كان امره بالقبض حين وهبه لا يتقيد بالمجلس ويجوز القبض بعده والتمكن من القبض كالقبض. . . . الخ. (الدرالمختار/ مع الرد/٥ /٦٩٠/كتاب الهبة/ طبع سعيد كراچي)۔

سرکاري موټر بې ځایه استعمالول

سوال: زه یو سرکارې نوکریم، دعهدې اوتنخوا په لحاظ باندې ماته دموټر ساتلوحق حاصل دب، دحکومت له طرف نه دموټر الاؤنس دوه سوه پنځه اتیاروپۍ هره میاشت راکول کیږي، خوزه په خپل موټر کې دفترته نه راځم، دفترته تلوراتلودپاره سرکاري موټر استعمالوم، او دې دپاره دلیل داپیداکوم چې سرکاري فائل (دوسیه) وړل راوړل وي. دغه شان دسرکاري موټر په استعمال باندې تقریباً دوه زره روپۍ میاشت خرچه راځي، تاسوددې حساب په حواله باندې ووایئ چې یومسلمان کیدوسره دموټر دا الاؤنس مادپاره حلال دې؟ اوبل دسرکاري موټر د استعمال له پاره داسې جوازپیداکول اودهغه استعمالول دکوم حد پورې جائزدي؟ چونکې زه له هغې ورځې ویریږم کله به چې احتساب کیږي. دالله تعالی رضاحاصلولواوداحتساب نه دبچ کیدودپاره ماته څه کول پکاردي؟

جواب: اصول دادي چې سرکاري مال دهغه مقصدله پاره استعمالیدای شي، دکوم له پاره چې د حکومت دطرف نه اجازه وي[1]، تاسودسرکاري موټر استعمال هم دې اصل باندې کوئ، که دموټر الاؤنس سره تاسوته دسرکاري موټر استعمالولواجازه نه شته نودااستعمال غلط او د مواخذې قابل دی.

د کمپنۍ نه د سفر خرچه وصولول

سوال: زید چې په کومه کمپنۍ کې ملازم دی، د هغې کمپنۍ له طرف نه په نورو ښارونو کې د مال خرخول او د پیسو د وصولي دپاره تلل راځي، چې د هغه پوره خرچه د کمپنۍ په ذمه ده، یعنی په ځینو ښارونو کې د زید ذاتي دوستان دي چې هغوی سره د پاتې کیدو د وجې نه خرچې نه کیږي، آیا زید د نورو ښارونو په تناسب سره د دې ښارونو خرچې هم د خپلې کمپنۍ نه وصولولی شي اوکه نه؟

جواب: که د کمپنۍ له طرف نه دا فیصله شوې ده چې ملازم ته دې د سفر دومره خرچه ورکړل شي که هغه یې کم خرچ کوي او که زیات، او که کوي یې او که یې نه کوي، په دې صورت کې خو زید خپل دوست سره د اوسیدو باوجود د کمپنۍ نه د سفر خرچ وصولولی شي، او که د کمپنۍ له طرف نه مقرر شوې نه وي، بلکې چې څومره اندازه خرچې شوې وي، ملازم دهغو تفصیلات او جزئیات لیکلو سره کمپنۍ ته ورکوي او د کمپنۍ نه هغومره پیسې وصولوی کومې چې هغه د دې سفر په دوران کې خرچ کړي دي، نو په دې صورت کې د کمپنۍ نه

---

[1] ان الله یأمرکم ان تؤدوالأمٰنٰت الی اهلها. (النساء: ۵۸). ایضاً: یلزم ان یکون الآجر متصرفاً بما یؤجره او وکیل المتصرف او ولیه او وصیه. (شرح المجلة/۲۵۳/المادة: ٤٤٦)۔

هغومره د سفر خرچ وصولولی شي څومره چې د هغه خرچه شوې ده. [1]

د سرکاري دوايا نو غلط استعمال

سوال: اکثرسرکاري اوغیرسرکاري ادراوکې دنوروسهولياتوسره د ډاکټر سهولت هم مفت ورکول کيږي، اوداليدل شوي دي چې ددې سهولياتوغلط استعمال. خاص طورباندې د دوايانو سهولت، داسې کوي چې دروغ ويلوسره بيماري وښودل شي. يايوډاکټرهم دې سکيم کې شامل کړي اوپه خپل نوم باندې ترې نه ډيرې دوايانې وليکي، اوبياهغه دوايانې په ميډيکل سټورونوباندې په ارزان قيمت باندې خرڅې کړل شي اودخپل ضرورت نورشيان ترې واخلي، اودا کار داسې حجت سره کوي چې اکثرنوکران داخپل حق ګڼي. اودې ته بدويل هغوی له پاره دکنځلوبرابروي. مولاناصاحب! داسې مال چې دروغوويلوسره اواداري ته دوکه ورکولوسره حاصل شی دې ته حلال رزق ويل کيدای شي؟ اوددې په بدله کې چې کوم مال حاصل شي، هغه جائزدی؟

جواب: ستاسودسوال جواب خودومره واضح دی چې ماته ليکلوباندې هم شرم راځي. دا خو ښکاره خبره ده چې سرکاري ياغيرسرکاري اداري چې د دوايانوکوم سهولت ورکوي، هغه د بيمارانو له پاره دی، اوس چې کوم کس بيمارنه دی هغه دپاره ددې سهولت حاصلولوهيڅ حق نه شته، که چيرې هغه ځان په خپله باندې بيمارکړي اوډاکټرته لاړشي اودوايانې حاصلې کړي نودا کبيره ګناه ده.

اول: دروغ اوجعل سازي. **دويم:** اداري ته دوکه ورکول.

دريم: ډاکټر ته رشوت ورکولوسره هغه په ګناه کې شريکول.

څلورم: دادارې مال ناحق خوړل اوددې څلوروواړوشيانوپه حرام کيدواوکبيره ګناه کيدوکې هيڅ شک نه شته[2]، اوپه کومه ګټه کې چې داڅلورګناهونه شامل وي دهغې

---

[1] يلزم ان يكون الآجر متصرفاً بما يوجره او وكيل المتصرف او وليه او وصيه.(شرح المجلة/۲۵۳، المادة: ٤٤٦)

[2] عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: آية المنافق ثلاث، زاد مسلم: وان صام وصلى وزعم انه مسلم، ثم اتفقا: اذا حدث كذب، واذا وعد اخلف، واذا اؤتمن خان. (مشكوٰة/ ١٧). ايضاً: عن عبدالله بن عمر رضى الله عنهماو ان رجلاً جاء الى النبى صلى الله عليه وسلم فقال.......يا رسول الله! ماعمل النار؟ قال: الكذب اذا كذب فجر واذا فجر كفر واذا كفر دخل يعنى النار. (مسند احمد/۲/۱۷٦). ايضاً: عن عبدالله قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: آياكم والكذب! فان الكذب يهدى الى الفجور وان الفجور يهدى الى النار. . . . . الخ. (سنن ابى داؤد/۲/۳۲۵/ كتاب الادب). ومن غشنا فليس منا. (مشكوٰة/ ۳۰۵). عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم: الراشي والمرتشى فى الحكم. (ترمذي/۱/ ۱۵۹/ ابواب الاحكام). ايضاً: لعن الله الراشي والمرتشى والرائش الذى يمشى بينهما. الحديث. (كنز العمال/٦/ ١١٤). ولا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل. ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

دناپاکي، ناجائز کيدوا بې برکتي کې څه شک کيدای شي؟ الله تعالی دې زموږ مسلمانانو ورونوته عقل او ایمان نصیب کړي، چې هغوی حلال هم حراموله سره خوري!

د آرمي (پوځ) د مریضانو د پاره ځانګړي درمل په نورو خلکو استعمالول

سوال: زه په آرمي (پوځ) کې ډسپنسر یم، موږ ته چې کومې دوایانې راځي، هغه یوازې د پاکستان د آرمي د مریضانو له پاره راځي، چې سیول (عامو) خلکو ته یې د ورکولو اجازه نه وي (د ایمرجنسي نه پرته) اوما د پاکستان آرمي دوایانې خرڅې کړي دي،اوس د پاکستان آرمي مریضانو ته خو دا پیسې نه شم ورکولی، ځکه چې هغوی ضرورت مند نه دي، د هغوی ضرورت ګورنمنټ پوره کوي، نو که زه پیسې سیول ضرورت مند مریضانو ته ورکړم نو آیا زما د ذمې نه به حقوق العباد ادا شي؟ یا که ګورنمنټ سره یې جمع کړم؟ خو د ګورنمنټ په عهدیدارانو باندې اعتبار نه شته.

جواب: چونکې ستاسو د قول مطابق د ګورنمنټ د طرف نه دا دوایانې د آرمي له پاره مخصوص دي، په دې وجه یې تاسو د آرمي په کاته کې جمع کړئ! [1] **والله اعلم**

له سرکاري بودیجې پاتې شویو پیسو باندې څه کول پکار دي؟

سوال: زید په یو دفتر کې سرکاري ملازم دی، دې دفتر ته مثلا یو لک روپۍ د کال د خرچې له پاره ورکول کیږي، چې په هغو کې لس زره روپۍ مثلا د دفتری ملازمینو د سفري اخراجاتو له پاره ځانګړې وي، پوره کال تیر شو خو په دې پیسو کې هیڅ نه دي خرچ شوې. د کال په آخر کې مجاز آفسر دا پیسې له استحقاق پرته خپله یا د دفتر یو ملازم ته ورکړې، نو آیا زید هم دا پیسې د استحقاق نه پرته وصول کړي؟ حال دا چې دا پیسې واپس په سرکاري خزانه کې نه شي جمع کولی، یا دې بغیر د نیت نه یو ضرورت مند یا دینی ادارې ته ورکړي؟ یا یې د مجاز افسر دپاره پریږدي؟ که زید دا پیسې خپله استعمال کړي؟ جوابات زر تر زره رالیږلو سره مهرباني وکړئ.

جواب: ګورنمنټ هغه پیسې د اخرجاتو دپاره ورکړې دي، که اخراجات نه کیږي، نو هغه پیسې نه تاسو استعمالولی شئ او نه ستاسو مجاز افسر! آیا ستاسو په عقل کې دا خبره راځي چې هغه پیسې تاسو ماته راکوئ؟ حال دا چې زما د دې دفتر سره هیڅ تعلق هم نه شته، په هر

بقیه د تیرمخ].. (البقرة:۱۸۸). والمراد والله اعلم لا يأكل بعضكم مال بعض بالباطل. . . . . . . وأكل المال بالباطل على وجهين احدهما اخذه على وجه الظلم والسرقة والخيانة والغصب وما جرى مجراه والآخر اخذه من جهة محظورة نحوالقمار..........الخ. (احكام القرآن للجصاص/ ۱/ ۲۵۰/ طبع سهيل اكيدمى)۔

[1] ان الله يأمركم ان تؤدالأمانات الى اهلها. (النساء/۵۸). ايضًا: لا يجوز لاحد ان يتصرف فى ملك غيره بلا اذنه او وكالة منه. (شرح المجلة/۶۱/ رقم المادة: ۹۶، ايضاً: الأشباه والنظائر/۲۷۶/ الفن الثانى).

حال دې نوټ لیکلو سره پیسې گورنمنټ ته واپس کول پکار دي، چې سرکال په دې پیسو کې هیڅ هم نه دي خرچ شوي. او ستاسو افسر مجاز چې کومې پیسې تاسو ته درکړې دي او څه یې خپله ساتلې دي، نو دا پیسې نه ستاسو دپاره جائز دي او نه ستاسو دمجاز افسر له پاره. [۱] بلکې د هغو پیسو گورنمنټ ته واپس کول ضروري دي. [۲]

د سرکاري پیسو بې ځایه استعمال جائز نه دی

سوال: زید په یو دفتر کې ملازم دی، د هغه مجاز افسر هغه ته دیو شي له بازاره د اخیستو له پاره سل روپۍ ورکړې، حال دا چې د هغه شي بازاری قیمت سل روپۍ دی. خو هماغه شی کوم چې زید ته په شل روپۍ ملاویږي اوس هغه شی په سرکاري کاته کې د سلو روپو ظاهر شوی دی او زید د سلو روپو په سرکاري رسید باندې دسخط هم کړی دی او مجاز افسر ته د شلو روپو والا قیمت نه دی ویل شوی اوس سوال دا دې چې زید دا بقایا (۸۰) روپۍ په خپل ذاتي استعمال کې راوستلی شي او که دا اتیا روپۍ مجاز افسر ته ورکړي، حال دا چې مجاز افسر به دا په خپل ذاتی استعمال کې راولي او دا خبره په دې وجه ښکاره ده چې په رسید کې سل روپۍ قیمت ظاهر شوی دی او افسر مجاز په دې باندې دسخط هم کړی دی، یا بغیر د صدقې د نیت نه دا پیسې یو ضرورت مند ته یا دیني طالب علم ته یا یوې دینې ادارې ته حواله کړل شي؟ په شافي جواب سره مو مستفید کړئ!

جواب: افسر مجاز هغه ته د شي د راوړلو حکم وکړ، هغه شی د شلو روپو ملاو شو، نو هغه ته د شلو روپو رسید کټ کول پکار و، او شل روپۍ ورته بیانول پکار وې، د زید د شلو په ځای سل روپۍ وصولول بد عهدي او خیانت دی، اوس د دې حل دا نه دی چې هغه زیاتې پیسې غریب مسکین ته ورکړي یا یو طالب علم ته یې ورکړي. ځکه چې هغه پیسې د گورنمنټ دي په دې وجه دې څه داسې تدبیرو کړئ چې اتیا روپۍ گورنمنټ ته واپس شي، د مثال په طور که د بیا له پاره د گورنمنټ دپاره څه شی اخیستل کیږي نو د سلو روپیو د شي دې شل روپۍ واخلي. یا دغه شان یو بل صورت تاسو سوچ کولی شئ، په هر حال د گورنمنټ پیسې نه خو ستاسو دپاره جائز دي او نه ستاسو د افسر له پاره. [۳]

---

[۱] قال تعالي: ولا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل (قوله بالباطل) بالحرام يعنى بالربا والقمار والغصب والسرقة والخيانة، ونحوها. (تفسير بغوي/۲/۵۰).

[۲] والحاصل انه ان علم ارباب الأموال وجب رده عليهم.(فتاويٰ شامي/ ۵/۹۹/ مطلب فيمن ورث مالاً حراماً)

[۳] ان الله يأمركم ان تؤدالأمالات الى اهلها. (النساء/۵۸). ايضًا: لا يجوز لاحد ان يتصرف فى ملك غيره بلا اذنه او وكالة منه. (شرح المجلة/۶۱/ رقم المادة: ۹۶، ايضاً: الأشباه والنظائر/۲۷۶/ الفن الثانى). ايضاً: قال تعالي: ولا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل (قوله بالباطل) بالحرام يعنى بالربا والقمار والغصب والسرقة والخيانة، ونحوها. (تفسير بغوي/۲/۵۰).

د ګورنمنټ سلینډر کوم چې والد صاحب راوړی و، زوی یې څنګه واپس کړي

سوال: زما د وفات شوي پلار تعلق دتعلیم دشعبې سره و، هغه په ګورنمنټ کالج کې پروفیسر و، تقریبا څلور پنځه کاله مخکې هغه د کالج نه د ګیس دوه سلنډري (کومې چې د ګورنمنټ ملکیت وې) کور ته راوړلو سره د استعمال دپاره کیښودلې وې. په دې سلنډرو کې به موږ ګیس په خپلو پیسو باندې اچولو، تقریبا یو کال مخکې زما والد صاحب وفات شو، زه هغه سلنډر واپس کول غواړم چې زما په والد صاحب باندې دا قرض پاتې نه شي، خو مسئله دا ده چې که سلنډر واپس کوم نو شرم راځي چې خلک به څه وايي چې دومره موده یې د کالج سلنډري ځان سره ایښې وې، او که د دې سلنډرو پیسې د کالج پرنسپل ته ورکوم نو شبه مې ده چې دا پیسې به د ګورنمنټ په کاته کې نه ځي او په دې کې هم هغه خبره ده چې خبره به ښکاره شي، په دې وجه زه غواړم چې ماته یو داسې لاره وښایئ چې هغه پیسې په داسې ځای کې ورکړم چې شرمندګي پکې هم نه وی او بوج مې هم د سر نه کوز شي.

جواب: د دې سلنډرو چې څومره قیمت دی، چونکې استعمال شده دي، په دې وجه په خپل یو پیژندګلو کس باندې د دې قیمت ولګوئ، او هغومره کتابونه اخیستلو سره په کالج کې داخل کړئ، ستاسو راز به هم ښکاره نه شي او د مالک هغه شی به هم ورسیږي. [1]

سرکاري کاغذ د خپل کار له پاره استعمالول

سوال: کله موږ د ګورنمنټ کاغذ، قلم وغیره هم استعمالوو، د دې دپاره څه کول پکار دي، کوم چې موږ استعمال کړي دي؟

جواب: سرکاري کاغذ او قلم له ضرورت او اجازې پرته استعمالول نه دي پکار، او که وشو، نو هغومره معاوضه په سرکاري خزانه کې جمع کول پکار دي، خو د ګورنمنټ له طرف نه که د دې اجازه وي، نو بیا هغه بله مسئله ده. [2]

د سرکاري قانون مطابق که ملازم د مالک نه مراعات وصول کړي، نو څه حکم دی؟

سوال: د سرکاري قانون مطابق که یو مالک خپل ملازم برطرف کړي، نو هغه به دا لاندې لیکل شوي واجبات ادا کوي:

---

[1] من غصب شيئًا، ثم اخفاه وضمنه المالک قيته ملكه الغصاب لان المالک ملک قيمته بكماله والشيء المغصوب تنتقل ملكيته للغاصب. (الفقه الحنبى وادلته/۳/۱۱۲/ كتاب الغصب/ طبع بيروت).

[2] لايجوز لاحد ان يتصرف فى ملک غيره بلا اذنه او وكالة منه او ولاية عليه،وان فعل كان ضامناً.(شرح المجلة/۶۱/ المادة: ۹۶).لايجوزتصرف فى مال غيره بلااذنه ولا ولايته. (الدرالمختار/كتاب الغصب/۶/ ۲۰۰)

الف : یا خو دې ملازم ته یوه میاشت مخکې خبر ورکړي چې ته د فلانې تاریخ نه فارغ یې، یا دې هغه ته د یوې میاشتې تنخواه په طور د معاوضه نوټس ادا کړي او فورا دې فارغ کړي.
ب : ګریجویټي چې څومره کلونه یې ملازمت کړی وي، د هغومره میاشتو تنخواه په طور د ګریجویټي.
ج : بونس څومره بونس چې د کلنیو حسابونو په موقع باندې ملازمینو ته ورکول کیږي.
د : هر ملازم د هرې میاشتې د ذمه داري د ادا کولو نه پس د څلورو ورځو د رخصت مستحق ګڼل کیږي، د کال په ختمیدو باندې ملازم ته دا حق حاصل دی چې هغه د اته څلویښتو ورځو رخصت یا تنخواه حاصله کړي، که مالکان یې رخصت ورکول نه غواړي، نو د هغه د رخصت معاوضه دې د دومره ورځو د تنخواه په صورت کې ادا کړي، که مالکان په دې واجباتو کې د څه پیسو د جزي یا کلي مقدار د ورکولو نه انکار وکړي نو لیبر کورټ به دا واجبات هم او هر جانه به هم اداکوي، د پوښتنه کولو خبره دا ده چې دا پیسې جزي یا کلي که مالکان د حکومتي ویرې نه په خوشحالي سره ادا کړي، نو د ملازم دپاره شرعي طور جائز او حلالې دي اوکه نه ؟
جواب: د کومو مراعاتو چې په سوال کې ذکر شوی دی، هغه مالکانو ته تسلیم دي، په دې وجه د هغو په حصول کې هیڅ قباحت نه شته.

د کارکونکي په کلنۍ ترقي کې د خنډ اچونکي افسر حکم

سوال: چې د یو کار کونکي په کلنۍ ترقي کې یو افسر خنډ اچوي، نو د هغه به څه حکم وي؟
جواب: که د کارکونکي ترقي د قاعدې په لحاظ سره د نومړي حق جوړیږي، نو په دې ترقي کې خنډ اچونکی افسر به ګناهګار وي او د حق العباد ضائع کونکی سخت ګناهګار دی.

د ملازم له پاره د سرکاري شیانو ذاتي استعمال جائز نه دی

سوال: زه په یو سرکاري کمپنۍ کې نوکري کوم، په دفتر کې د سرکاري کارونو له پاره د ټیلیفون سهولت موجود دی، ددې نه پرته د موټر سهولت هم موجود دی، چې د سرکاري کار له وجې نه یوخوا بل خوا ځي ،د جناب نه پوښتنه دا کول دي چې ایا څوک یا زه خپله سرکاري موټر یا ټیلیفون د خپلو ذاتي کارونو له پاره استعمالولی شم؟ مثلا: زه روزانه خپل کور، ښځې اوبچیو ته ټیلیفون کوم، یاموټراستعمالوم، خپلوانو ته ټیلیفون کوم په کومه کمپنۍ کې چې زه کار کوم هغه زموږ د ښار نه کافي لرې ده، یعني په بل ښار کې ده، چې هلته روزانه سهار او ماښام تلل راتلل ممکن نه دي، کمپنۍ زموږ د اوسیدو له پاره کالونۍ جوړه کړې ده، د جناب نه پوښتنه دا کول دي چې مهرباني وکړئ او دا بیان کړئ چې داسې د سرکاري شیانو استعمال ایا جائز دی؟ ددې شرعي حیثیت څه دی؟ څه خلک وایي چې داسې کول هیڅ ګناه نه ده؟

جواب: سرکاري شیان لکه ټیلیفون، موټریا نور شیان دا د سرکاري کارونو له پاره وي، د ذاتي استعمال له پاره نه وي، که د ګورنمنټ له طرف نه یو سړي ته د ذاتي استعمال له پاره اجازه وي، نو بیا صحیح ده، که نه، په خپل ذاتي کار باندې راوستل یې جائز نه دي [۱] د قیامت په ورځ باندې به ددې هم حساب کتاب کیږي.

د ډاکټر د لیکل شوې دوایي په ځای ناروغ ته د طاقت شیان اخیستل

سوال: زما اوس اوس واده شوی دی او زما ښځه ډیره کمزورې ده او لوبلډ پریشر یې وي، ماته د دفتر له طرف نه میډیکل مفت دی، ما څو ډاکټرانو ته ښودلې ده، هر څوک د طاقت او د وټامن ګولۍ ورکوي خو ښځه مې ګولۍ تیرولو سره قی کوي چې د هغه له وجې دوایانې پرتې پاتې شي ما چې ډاکټرانو ته دا خبره وکړه، نو هغوی وویل چې: اوولټین، هارلس، کمپلان، شهد وغیره ورکوئ، خو زما تنخوا دومره نه ده چې دا هر څه وکړی شم، ما ډاکټرانو ته وویل: نو هغوی وویل چې موږ تاته کومې دوایانې لیکلو سره درکړو، نو ته د کیمیسټ د دکان نه د هغو په بدل کې دغه شیان واخله ستاسو نه مې دا پوښتنه کوله چې که زه د دوایانو په ځای د طاقت له پاره اوولټین، هارلس، کمپلان وغیره واخلم، نو ایا دا به جائز او حلال وي؟

جواب: ایا د ګورنمنټ له طرف نه د دې اجازه شته؟ ایا که ډاکټران هم دا دوایانې لیکلو سره ورکړي، نو ګورنمنټ به د هغې د ورکولو اجازه نه ورکوي؟

د غلا کړې سرکاري دوایانو بدله څنګه خلاصه کړم؟

سوال: زید یو ډسپنسردی، ډیره موده وړاندې به هغه د حکومت دوایانې پټولو سره خرڅولې، یعنې د هر یو شي قیمت به سل روپۍ و، نو بازار ته تلو سره به یې په څلویښت یا پنځوس باندې خرڅ کړه، ناڅاپه د الله پاک ویره د زید په زړه کې راغله، زید توبه وکړه، په دې خبره باندې اووه کاله تیر شول، ددې نه وروسته یې تر اوسه پورې هیڅ دوایي نه ده خرڅه کړې، زید په تبلیغ کې هم ځي راځي، پنځه وخته لمونځ کونکی دی، سهار او ماښام ذکر او اذکار هم کوي د زید په زړه کې اوس هم هغه د دوایانو مسئله اینښتې ده، ځکه چې زید ته معلومه ده چې حقوق العباد تر هغه وخته پورې نه معاف کیږي ترڅو چې بنده نه وي معاف کړي، زید ته دا پته هم نه شته چې ما څومره دوایانې خرڅې کړې دي؟ که زید د خپل ذهن مطابق اندازه ولګوي چې د دومره پیسو دوایانې به ما خرڅې کړې وي، پوښتنه دا کول دي چې زید د خپل ذهن مطابق حساب لګولو سره دا پیسه څیرته جمع کړي؟ ځکه چې د حکومت پاکستان په

---

[۱] لا يجوز لأحد ان يتصرف في ملك غيره بلا اذنه او وكالة منه او ولاية عليه، وان فعل كان ضامناً. (شرح المجلة/۶۱/ رقم المادة: ۹۶). لا يجوز تصرف في مال غيره بلا اذنه ولا ولايته. (الدرالمختار/۶ /۲۰۰/ كتاب الغصب/ طبع سعيد).

عهدیدارانو باندې د زید یقین نه شته چې هغوی به په دې پیسو باندې دوایانې اخیستو سره مریضانو ته ورکړي.

جواب: د الله پاک شکر ادا کړئ چې الله پاک تاسو ته پوهه درکړه او د خپلو ګناهونو د ختمولو غم یې درسره پیدا کړ، تاسو داسې وکړئ چې څومره دوایانې تاسو د ګورنمنټ خرڅې کړې دي، د هغو حساب ولګوئ او په لږ لږ ضرورت مند مریضانو ته هغومره پیسې ورکوئ! [1]

د ګورنمنټ په محکموکې غلا د شخصي غلا نه بدتر ده

سوال: تقریبا دوه کاله وړاندې زما مشر ورور او زما والد محترم د بجلۍ د غلا کولو طریقه خپله کړې وه، کومه چې تراوسه پورې جاري ده، ویل کیږي چې څوک په دنیا کې څه ښه یا بد عمل پریږدي، نو هغه ته د مرګ نه وروسته هم په قبر کې د هغې بدل ملاویږي، ویل کیږي چې ترڅو پورې په دنیا کې هغه بد عمل جاري وي د هغې ګناه به هغه مړي او د هغه ملګرو ته ملاویږي، دبجلي یوقومي اداره ده، دا د یو قوم امانت دی او همدغه شان ټیلي فون، د ټیکس غلا وغیره چې څه هم غلا کوي یا یې مدد کوي، ویل کیږي چې د قیامت په ورځ به د هغې بدله د اعمالو د کرنسۍ نه اخیستل کیږي، یعنې عملونه به ترې نه اخیستل کیږي، زموږ په نزد چې کومه بجلۍ غلا کیږي په دې لحاظ سره موږ د دې بجلي په استعمال سره چې کوم نیک عمل یا عبادت په دې رڼا کې کوو یقینا هغه به قابل قبول نه وي، ځکه چې غلا کول حرام دي او که دحرام شي استعمالولو سره څوک نیک کار کوي، نو یقینا به نه قبلیږي، مولانا صاحب! دا سوال چې ما کړی دی او په دې سوال کې چې ما د خپلو کومو خیالاتو اظهار کړی دی هغه صحیح دي او که نه؟

ددې جواب راکړئ چې زموږ نورو ډیر مسلمانانو وروڼو ته هم معلومه شي چې د ګورنمنټ د مال غلا کولو به هم د الله پاک په نزد د نیکو په بدل کې د غلا خساره پوره کولی شي، که کیدای شي، نو دا داسې خلکو انجام د حدیث نه ثابت وفرمایئ.

جواب: ستاسو خیالات صحیح دي، اګر چې تعبیرات مو صحیح نه دي، څنګه چې د شخصي املاک غلا کول ګناه ده، همدغه شان قومي املاک غلا کول هم ګناه ده، بلکې په ځینو اعتباراتو سره دا غلا زیاته سخته ده، ځکه چې د یو سړي نه خو معافي اخیستل ممکن دي او د پوره قوم نه د معافیاخیستو هیڅ صورت نه شته. [2]

---

[1] لأن سبیل الکسب الخبیث التصدق اذا تعذر الرد علی صاحبه. (فتاویٰ شامي/ ۶/ ۴۸۵/کتاب الحظر والاباحة).

[2] وقسم یحتاج الی التراد وهو حق الآدمي والتراد ما فی الدنیا بالاستحلال او رد العین او بدله وأما فی الآخرة برد ثواب الظالم للمظلوم او ایقاع سیئة المظلوم علی الظالم او انه تعالی یرضیه بفضله وکرمه. (مرقاة المفاتیح/ ۱/ ۱۰۲/ باب الکبائر).

د فارم ایے خرڅول شرعي طور با ندې څنګه دي؟

سوال: زه اوس اوس د سعودي عرب نه بیرته راغلی یم، هلته مورږته د پاکستان دحکومت له طرف نه یو سهولت داحاصل دی چې چاهلته دوه کاله تیرکړي وي هغه ته ګفټ اسکیم ملاویږي، دې اسکیم کې داسې وي چې تاسودخپل خاندان یوکس ته موټر تحفه کې ورکولی شئ، هغه له پاره یوفارم چې هغه کې دالیکل شوي وي چې دلته ستاسوڅومره وخت شوی دی او موټر دچاپه نوم باندې لیږئ، بیا د سفارت له لوري دهغه تصدیق کول وي څه خلک خو موټر اخیستوسره پاکستان ته رسیدوباندې هغه خرڅ کړي اوزیاترخلک داسې کوي چې دغه فارم په پاکستان کې خرڅ کړي اوزما اراده هم دفارم د خرڅولوده، زمادپوښتنې اصلي مقصددادی چې دافارم خرڅول جائزدي اوکه نه؟ اوددې حاصل شوې پیسې به جائزوي اوکه ناجائز؟ که چیرې پیسې جائزنه دي، نوایازه دافارم ضائع کړم یادې باندې حاصل شوې پیسې بل ځای خرچ کړم؟

جواب: ددې فارم حیثیت داجازه نامې دی اواجازه نامه دخرڅولو شی نه دی، له دې وجې ددې اخیستل اوخرڅول صحیح نه دي.[۱]

د بس دکلنډر ټکټ نه ورکول

سوال: زه یو ملازم سړی یم، روزانه د کوټړي نه حیدرآباد ته ځم راځم، د پبلک بس نه موجودیت له وجې د ګورنمنټ په بس کې سفر کول وي، چې په هغه کې یې څلور ځایه لیکلي دي چې : الله پاک ګوري ! کرایه ورکولو سره ټکټ ضرور حاصل کړئ، خو کلنډر ټکټ نه ورکوي، څو کرته د خولې وهلو نه وروسته اوس په خاموشې باندې مجبور یم، ایا زموږ له پاره په دې کې ګناه شته؟ موږ پیسې خو ورکړو خو هغه د کلنډر جیب ته لاړې شي، د ګورنمنټ خزانې ته نه ځي.

جواب: تاسو د هغوی افسرانو ته د دې شکایت وکړئ، ددې نه وروسته هم که ستاسو په شکایت باندې توجه نه ورکول کیږي، نو ستاسو ذمه به د الله پاک په نزد فارغه وي.

جعلي کارډ استعمالول

سوال: نن سبا دکالج کارډونه چې(کے ٹی سي) جاري کړي دي، هغه جعلي جوړیږي، دداسې کارډونو په ذریعه چې اصلي کرایه کې کومې پیسې بچت کیږي هغه استعمالول جائزدي او که ناجائز؟

۱] لا یجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة عن الملک قال فی البدائع الحقوق المفردة لا تحتمل التملیک ولا یجوز الصلح عنها. (شامي/٤/ ٥١٨/ کتاب البیوع)۔

جواب: جعلي کارډونه استعمالول کبیره ګناه ده او بدیانتي او خیانت کې داخل دي. [۱]

دغه شان ځینې خلک ددې کارډونو په ذریعه باندې ریل ګاډي کې رعایتي ټکټونه استعمالوي، داهم کبیره ګناه ده، چاچې داسې کارونه کړي وي هغوی ته پکاردي چې ددې په بدله کې صدقه وکړي چې دبددیانتي ګناه یې معاف شي. [۲]

د ذاتي کار له پاره په سفر کې د تعلیمي ادارې د کارډ په ذریعه رعایتي ټکټ استعمالول

سوال: زه یوزده کونکی یم، زموږ د تعلیمي ادارې له طرف نه د ادارې شناختي کارډ ورکول کیږي چې هغه موږ د سفر په دوران کې ښودلو سره رعایتي ټکټ اخلو، ایا موږ له پاره داسې رعایتي ټکټ اخیستل جائز دي؟ حال دا چې موږ د خپلو کارونو له پاره هم سفر کوو؟

جواب: که د محکمې له طرف نه ددې اجازه وي چې د خپل ذاتي ضرورت په سفر کې هم تاسو کارډ استعمالولی شئ، نو تاسو کارډ استعمالولی شئ، که نه، نه.

د مالک له اجازې پرته دشي استعمالول

سوال: عرض دادی چې موږ دوبیان یو، دچا جامې دهغه داجازې نه پرته نه شواغوستی، ددې خبرې هرسړي ته پته ده، خو زموږ کاروبار کې اکثرداسې وي که په یوصاحب باندې قرض زیات شي، نو هغه خپلې جامې پریږدي اوبیانه راځي، دهغه له وجې زموږ پیسې بندې شي، دریومیاشتونه وروسته هغه جاموباندې زموږ ذمه داري ختمه شي، دغو دریومیاشتو وروسته ایا موږهغه جامې اغوستی شو اوکه نه؟

جواب: دجامود مالکانو پته خوتاسوته معلومه وي، بیایې هغو مالکانو ته ولې نه رسوئ؟ که چیرې دمالک پته نه وي معلومه، نودرې میاشتې هغه دلقطې په حکم کې داخل شي،

۱] عن ابی هریرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: المسلم اخوالمسلم، لا یخونه، ولا یکذبه، ولایخذله، کل المسلم علی المسلم حرام عرضه وماله ودمه.....الخ. (ترمذي/۲/۱٤). ایضًا: عن ابی هریرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: آیة المنافق ثلاث.....اذا حدث کذب، واذا وعد اخلف، واذا اوتمن خان. (مشکوٰة/ ۱۷). ولا تأکلوا اموالکم بینکم بالباطل. (البقرة: ۱۸۸). وفی احکام القرآن للجصاص (ج۱/ ۲۵۰) وأکل المال بالباطل علی وجهین احدهما اخذه علی وجه الظلم والسرقة والخیانة والغصب وما جریٰ مجراه)۔

۲] سبیل الکسب الخبیث التصدق اذا تعذر الرد علی صاحبه. (شامي/۶/ ۳۸۵). وفی الهدایة: قال فان جاء صاحبها والا تصدق بها ایصالاً للحق الی المستحق وهو واجب بقدر الامکان. (هدایة /۲/٤۱۶) زید له دا کتل پکاردی چه زما په ذمه څومره کرایه واجب ده؟ په دغومره روپو دې ددغه ریلوې ټکټ واخلی اودغه ټکټ دې ضائع کړی.دهغې نه دې کارنه اخلی.(امداد الفتاویٰ ج۳ص۴۴۵ مکتبه دارالعلوم)

د مالک له طرف نه يې صدقه کړئ اونيت داساتئ که چيرې مالک راغی، نوزه به يې ورته قيمت اداکوم[۱]، که چيرې تاسو مستحق يئ، نوخپل ځان له پاره يې هم ساتلی شئ.[۲]

د مالک له اجازې پرته د نيالګې (څانګې) اخيستل

سوال: ايا موږ په يوځای کې مثلا: سکول، کالج، هسپتال، پارک يا په بل يو ځای کې د مالک نه د پوښتنه کولو نه پرته يوه څانګه وغيره ماتولو سره بل ځای کې د نال کولو په نيت باندې اخيستی شو؟ زموږ مقصد دادی چې دا بوټی په خپل کور کې ولګوو، د څانګې ماتولو سره ضائع کول مقصد نه دي، نو ايا دا جائز دي؟

جواب: د مالک د اجازې نه پرته څانګه اخيستل جائز نه دي. [۳]

د ملګروشی د هغوی له اجازې پرته استعمالول

سوال: زه په فوج کې ملازمت کوم، د ټريننګ په دوران کې موږ ټول ملګري يوځای اوسيږو، په دې دوران کې موږ د يو بل نه د ضرورت شيان اخلو، کله په پوښتنه کولو سره او کله پرته د پوښتنه کولو نه ما همدغه شان خوځله وکړل، کله داسې هم کيږي چې موږ شی اخيستلو سره نه واپس کوو معلومه نه ده چې څومره ځله دا عمل زما نه صادر شوی دی، اوس راته ياد هم نه دي چې کوم شی مې، کله د چا نه اخيستی و؟ او واپس کړی مې و او که نه؟ ماته اوس څه کول پکار دي؟

جواب: څومره ملګرو چې د يو بل شيان استعمال کړي دي، هغه په هغوی باندې معاف کړئ!

د پردي شي مالک ته واپس کول ضروري دي

سوال: دنن نه څوکاله وړاندې زما يو ملګري چې د يو اسلامي ملک نه يې تشريف راوړی وو، له ځان سره يې سامان وغيره هم راوړی و، هغه سامان کې يوشی داسې و چې هغه ماکورکې دښودلو له پاره خپل کورته يوړو، خواتفاق خبره داده چې سمدستي زموږ په مينځ کې

۱]قال فان جاء صاحبها والا تصدق بها ايصالاً للحق الى المستحق وهو واجب بقدر الامكان وذالک بايصال عينها عن الظفر بصاحبها وايصال العوض وهو الثواب على اعتبار اجازته التصدق بها وان شاء امسکها رجاء الظفر بصاحبها. قال فان جاء صاحبها بعد ما تصدق بها فهو بالخيار ان شاء امضى الصدقة وله ثوابها لأن التصدق وان حصل باذن الشرع لم يحصل باذنه فيتوقف على اجازته. . . . . . . الخ. (هداية/۲/ ۶۱۵/ کتاب اللقطة)_

۲] قال فی التنوير: فينتفع الرافع بها لو فقيرًا والا تصدق بها على فقير ولو على اهله وفرعه وعرسه. (ردالمحتار/۴/ ۲۷۹/ کتاب اللقطة)_

۳] لا يجوز لأحد ان يتصرف فی ملک غيره بلا اذنه او وکالة منه او ولاية عليه. (شرح المجلة لسليم رستم باز/ المادة: ۹۶/۶۱/ طبع مکتبه حبيبيه/کوئټه).

اختلافات پیداشو او هغه اوسه پورې شروع دی، اوس مسئله داده چې د کوم صاحب نه ماهغه شی اخیستی و، هغه ماباندې الزام ولګاو او زمانیت بالکل صفاو او دی او د هغه هغه شی اوسه پورې هماغه شان پروت دی، څنګه چې دنن نه اته نهه کاله وړاندې ما د هغه نه اخیستی و. یوازې د الزام لګولو او د غوسې له وجې (چې غوسه حرامه ده) ماهغه ته هغه شی واپس نه کړ (الله تعالی مې دې معاف کړي) د هغه شي باره کې مانه چاته ویلي دي او نه مې چاته ښودلی دی، اوس دابوج نورنه شم اوچتولی، زه غواړم چې هغه چیرته استعمال کړم او زماداخواهش دی چې د هغې قیمت غریبانانو کې تقسیم کړم او هغه شی ځان سره وساتم، ایا داسې ممکن ده؟ یا هغه ته خپل شی واپس کړم یایې څه اسلامي ځای کې کیږدم، خو داعمل زه ښه نه ګڼم او زه پوهیږم چې دچاکوم مال حق وي، هغه ته ملاویدل پکاردي) خومجبوري داده چې اوس هغه شی هغه ته نه شم واپس کولی، وجه یې داده چې اوس هغه زموږ نه ډیرلرې اوسیږي دویمه خبره داده که چیرې زه هغه ته هغه شی واپس کړم، نوددې له وجې به زمابدنامي وشي او بیابه پته نه شته چې ماباندې څومره الزامونه ولګول شي، زه دې عمل نه بچ کیدل غواړم اوس تاسوته خواست دی چې ماته څه داسې طریقه وښایئ چې زه د شرمیدونه بچ شم او د هغه دغه شی اوس هغه ته نه شي رسیدای.

جواب: د هغه شي نه صدقه کول جائزدي او نه پخپله د هغې استعمالول جائزدي، هغه مالک ته واپس کول فرض دي[1] که د دې ځای ذلت او بدنامي موخوښه نه وي، نود قیامت په ورځ ذلت او بدنامي او د هغه په بدله کې خپلې نیکي ورکولو ته تیارشئ![2]

د بنګړیو کاروبار څنګه دی؟

سوال: د بنګړیو کاروبارکول جائزدي او که ناجائز؟ نن سبا د بنګړیو کاروبار فیشن کې شامل دی، او دوکان کې ښځې بنګړي اخلي او اچوي یې هم، د سړیو له پاره ښځوته بنګړي اچول خوصحیح نه دي، خو هغه وخت کې ذهن بالکل صفاماحول کې وي کله چې انسان په خپله روزي باندې ولاړوي، د هغه ذهن ګنداخیالاتوته نه ځي، ایا دې لحاظ سره داکارصحیح دی او که نه؟ که چیرې ښځې خپل سائز ښودلو سره بنګړي واخلي، نوبیاداکاروبار څنګه دی؟ هغوی سره سړي لین دین کولی شي او که نه؟ زماامید دی چې تاسو به ماته زماد سوال پوره جواب راکړئ چې زه مطمئن شم زماد بنګړیو دوکان دی، لمونځ هم کوم، ایا د دې کارګټه

---

[1]]ان الله یأمرکم ان تؤدوالأمٰنٰت الی اهلها. (النساء/ ٥٨). عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:اد المانة الی من ائتمنک ولا تخن من خانک. (ابوداؤد/٢/١٤٢/ کتاب البیوع/ طبع امدادیه)

[2]] وقال النبی صلی الله علیه وسلم: رحم الله عبداً کانت لأخیه عنده مظلمة فی عرض او مال فجاء ه فاستحله قبل ان یؤخذ فلیس ثم دینار ولا درهم، فان کنت له حسنات اخذ من حسناته. (ترمذي/٢/٦٧/ ابواب صفة القیامة)_

حلاله ده؟ د دې کار د کتې نه انسان زکات او خیرات ورکولی شي؟ قبلیږي به او که نه؟ جواب راکړئ او د شکریه اداکولو موقع راکړئ!

جواب: د بنګړیو خرڅول خو جائز دي[1] خو نامحرمه ښځوته بنګړي اچول جائزنه دي[2] زړه او ماحول که هر څومره صفاوي، دا کار حرام دی که چیرې ښځې دخپل سائز بنګړي درکړي او تاسو هم د هغې سائز بنګړي هغوی ته حواله کړئ، نو دا جائز دي.

د سرې له پاره د سرو زرو ګوته جوړونکی زرګر

سوال: د سرو زرو لاکټ وغیره، زنځیر د سړیو له پاره استعمالول جائزنه دي. که چیرې یو ورور مونږ باندې په فرمائش جوړول غواړي، نو په جوړونکي باندې به ګناه وي؟

جواب: د سرو زرو ګوته جوړول جائز دي، سړیو له پاره د هغې په ګوته کول حرام دي[3] له دې وجې به تاسو ګناهګارنه یئ، خو که چیرې تاسو د سړیو د ګوتو جوړولو نه انکار وکړئ، نو دا به غوره وي.

غیرشرعي جامې ګنډل څنګه دي؟

سوال: زید د درزي توب (خیاطي) کار کوي، هغه ته د ګنډلو له پاره د سړیو او ښځو جامې راځي او سني دور کې هغه ته د ګاک (مشتري) د فرمائش مطابق ډیزائن ورکوي، مثلاً: د ښځو جامې تنګې، د سړیو پتلون او کالر والا قمیص وغیره، نو دې کې کاریګر، د جوړولو له وجې د ګاک سره ګناهګار دی او که نه؟

جواب: داسې جامې جوړول چې هغې کې د سړي او د ښځې د ستر اندامونه واضح شي صحیح نه دي[4] کاریګر باندې به د اغوستلو او تیارولو ګناه نه وي، خو مدد کولو ګناه به پرې وي[5] له دې وجې ښه خبره داده چې داسې جامو جوړولو نه ځان وساتل شي، خلکو سره د

---

[1] قال العلامة العثماني رحمه الله تعالى: يجوز للنساء لبس انواع الحلى كلها من الذهب والفضة والخاتم والحلقة والسوار والخلخال والطوق والعقد والتعاويذ والقلائد وغيرها. (اعلاء السنن/ ۱۷/ ۲۹۳)۔

[2] ولا يحل له ان يمس وجهها ولا كفها وان كان يأمن الشهوة وهٰذا اذا كانت شابة تشتهى. . . . الخ. (عالمگيري/۵/ ۳۲۹/ كتاب الكراهية/ طبع رشيديه كوئته)۔

[3] ويكره للرجال التختم بما سوى الفضة كذا فى الينابيع، والتختم بالذهب حرام فى الصحيح، كذا فى الوجيز لكردرى. (عالمگيري/۵/ ۳۳۵/ كتاب الكراهية)۔

[4] وهٰذا كله اذا كان الثوب صفيقاً لا يصف ما تحته فان كان رقيقاً يصف ما تحته لا يجوز لان عورته مكشوفة من حيث المعنٰى، قال النبى صلى الله عليه وسلم: لعن الله الكاسيات العاريات. (البدائع الصنائع/۱/ ۲۱۹/ طبع سعيد)۔

[5] "ولا تعاونوا على الاثم والعدوان" يعنى لا تعاونوا على ارتكاب...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه.

جګړو او اعتراض نه بچ کېدوله پاره دوکان باندې لیکل پکاردي چې غیرشرعي جامې دلته نه جوړیږي.

د سړیوله پاره د ریښمو جامې جوړول

سوال: زید یو درزي(خیاط) دی او دکاردوران کې د الله تعالی حکمونه او لمونځ پابندي سره اداکوي، ایا داپېشه دحلاله رزق ده؟ ځکه چې زید دسړیو له پاره دوریښمو جامې هم ګنډي اوسړیوله پاره وریښم اغوستل منع دي، اوس که چیرې دسړیو جامې(کومې چې دوریښم دتارونونه جوړې وي) نه ګنډي، نولکه چې خپل رزق ته لتې ورکوي اوکه چیرې یې ګنډي، نودګناه په کارکې به مددکونکی اوبرخه دارشي.

جواب: خالص وریښم دسړیوله پاره حرام دي[۱]، خومصنوعي وریښم حرام نه دي، نن سباعام رواج هم ددې دی، خالص وریښم خوبه ډیرمالدار سړي اغوستی شي خالص وریښم دسړیوله پاره ګنډل مکروه ضروردي[۲]خو د درزي ګټه حرامه نه ده.

په ټوکواوکیسوباندې ګټل شوې پیسې څنګه دي؟

سوال: یوسړی دی چې هغه ټوکو اوکیسې کولوسره پیسې ګټي، په نوروالفاظوکې داچې هغه دا کار (ټوکې کول) دخپل رزق ګټلو ذریعه جوړه کړې ده، ایا دداسې سړي ګټه حلاله ده که حرامه؟ داسې کس نه هدیه اخیستل جائزدي؟ داسې سړی په دغه ګټه باندې حج کولی شي؟ که چیرې هدیه ترې واخیستل شوه، نودهغې استعمال څنګه پکاردی؟ نن بساد ټیټرهالونه جوړشوي دي اوهغې کې استیج شوګانې مثلا: ډرامې اوګانې بجانې وغیره وي، دداسې ټیټر هالونو د مالک، اداکار اوهدایت کارګټه وغیره حلاله ده اوکه حرامه؟ اوایاداسې ګټې باندې حج وغیره کېدای شي؟ ایا دداسې کس نه هدیه اخیستل کېدای شي؟ که چیرې هدیه واخیستل شي، نودغه هدیه څنګه حلال کېدای شي؟

جواب: ټوکې کول که چیرې په جائزحدودکې وي، نوګنجائش شته، خودا درزق ګټلوذریعه جوړول صحیح نه دي[۳] استیج شوګانې، ډرامې اوګانې بجانې حرامې دي[۴] داسې ګټه

بقیه د ټیرمخ].. المنهیات و لا علی الظلم. (تفسیر مظهري/ ۳/ ۱۹/ طبع مکتبه اشاعت العلوم/ دهلی)۔

۱] لا یحل للرجال لبس الحریر ویحل للنساء لان النبی صلی الله علیه وسلم: نهٰی عن لبس الحریر والدیباج وقال انما یلبسه من لا خلاق له فی الآخرة. . . . . الخ. (هدایة /٤/٤٥٥/ کتاب الکراهیة)۔

۲]"ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان". یعنی لا تعاونوا علی ارتکاب المنهیات ولا علی الظلم. (تفسیر مظهري/ ۳/ ۱۹/ طبع اشاعت العلوم کراچی)۔

۳]لا تکثروا الضحک، فان کثرة الضحک تمیت القلب. (کنز العمال/۳ / ٤٨٨/ الحدیث رقم: ۷۵۵۱)۔

٤]ولا یجوز الاستئجار علی الغناء والنوح وکذا سائر الملاهی لانه استئجار ...[بقیه حاشیه په راروانه ضفحه..

باندې حج کول داسې دي لکه چې څوک خپل بدن او جامو باندې ګندګي ووهي او د چا مشر سړي ليدو له پاره د هغه کورته لاړ شي.[۱]

دفتري کارونوکې د ديانتداري اصول

سوال: دفترونوکې چې د کومو افسرانونه لاندې خلک وي، د هغوی نه تقريبا يو يادوه ګنټې مخکې تلوله پاره مور روزانه اجازه اخيستی شوچې نورکارونه هم وکړل شي او په دفترونو کې زيات ترکارنه وي او کوم کارچې وي هغه زرختم شي، يابله ورځ هم کيدای شي اجازه ملاويدوباندې د دغه وخت تنخوا به جائزوي او تنخوا افسر نه حکومت ورکوي؟ افسرهم د چاماتحت وي او هغه هم د بل چا، د غه شان هرڅوک بل چاماتحت وي، نودخپل افسرپه اجازه باندې به عمل کول وي چې هغه ته به جواب ورکول وي او که د حکومت چې هغه دڅه پوښتنه نه کوي؟ (ددې سوال د هريو طرف جواب راکړئ که نه، اطمينان به ملاونه شي)

جواب: دې مسئلې کې اصول دادي چې د محکمې دقانون مطابق د دفتردحاضري يوخاص وخت مقرروي او د هغه نوکرته تنخوا ملاويږي، له دې وجې د مقررشوي وخت نه غيرحاضري جائزنه ده او د غيرحاضري د وخت تنخوا هم حلاله نه ده[۲] خوځينې حالتونه داسې کيدای شي چې هغه باندې قانون هم د لچک اورعايت معامله کوي، مثلاً: يونوکرته يوناڅاپه ديوضروري کارله پاره تلل پيښ شول، داسې صورتونوکې د مجاز افسرنه د اجازه اخيستلو ګنجائش شته، خو د وخت نه مخکې د تلو معمول جوړولو سره د هغوی له پاره د دغه وخت تنخوا حلاله نه ده، که څه هم هغوی د افسرپه اجازه باندې تللي وي، که چيرې هغوی د دغه وخت تنخوا اخلي، نوحرام به خوري او هغوی ته اجازه ورکونکي افسربه هم ګناهګاروي او د قيامت په ورځ به نيول کيږي[۳] پاتې شو داصورت چې د دفترټول کارختم شو او اوس نوکران فارغ دي، ايا هغوی ته د وخت ختميدو پورې په دفتر کې ناسته پکار ده؟ يادې صورت کې هغوی ته د مجازافسرنه د چوټي اجازه اخيستل پکار دي؟ زما په خيال دفترونوکې د کاررش وي او ډيرزيات فائلونه پراته وي له دې وجې داسې صورت نه شي راتلی چې نوکران ټول کارختم کړي او که چيرې کله ناکله داسې صورت راشي، نودې باره کې د محکمې دقانون نه پوښتنه کول پکار دي چې ايا داسې صورت کې نوکرانوته د وخت

بقيه د تيرمخ]... على المعصية، والمعصية لا تستحق بالعقد. (هداية/۳/۳۰۳/ باب اجارة فاسدة)۔

[۱] عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ان الله طيب لا يقبل الا طيباً، وان الله امر المؤمنين بما امربه المرسلين فقال: ياايها الرسل كلوا من الطيبات واعملوا صالحا.....الخ.(مشكوٰة/ ۲۴۱/ طبع قديمى)

[۲] وليس للخاص ان يعمل لغيره، ولو عمل نقص من اجرته بقدر ما عمل........الخ. (شامية/ ۶/۷۰/ كتاب الاجارة/باب ضمان الاجير/ طبع سعيد)۔

[۳] ولا تعاونوا على الاثم والعدوان يعنى لاتعاونوا على ارتكاب المنهيات ولاعلى الظلم.(تفسيرمظهري/ ۳/ ۱۹)

ختمیدو پورې دفترپابندي لازم ده یاهغوی ته دکارختمولونه وروسته کورته دتلواجازه شته؟ که چیرې قانون هغوی ته داسې حالت کې کورته دتلواجازه ورکوي، نودهغوی دغیرحاضري تنخوا به دهغوی دپاره حلاله وي اوکه چیرې قانون اجازه نه ورکوي، نوتنخوا به حلاله نه وي اوکه چیرې دیونوکرپه ذمه باندې یوخاص کاروي اوهغه ته ویل شوي وي چې ته به داکارپوره کوې، که هغه ټول کارپه لږوخت کې وکړي یاډیرکې، نوددې کاردپوره کولونه وروسته به ورته د تلو اجازه وي [۱]

سوال: ددفترپه وخت کې چې کله څه کارنه وي، نوسیټ (چوکۍ) پریښودوسره اخوا دیخوا تللی شي؟ کتابخانه، کینټین یا د دفترنه بهرذاتي کار له پاره؟ اودغسل خانې وغیره له پاره خوسیټ پریښودل وي؟

جواب: پورته ددې جواب هم راغلی دی، که چیرې قانون دسیټ پریښودو اجازه ورکوي، نوهیڅ بده خبره په کې نه شته، که نه، د ضرورت نه پرته سیټ پریښودل به جائزنه وي. [۲]

سوال: ددفتروخت سهار اته بجونه دوه نیموبجوپورې دي، خوانچارج (ناظم) د نهونه دوه نیموپورې دراتلوویلي دي اوپخپله هم نهه بجې راځي، نوخبره دانچارج منل پکاردي کوم چې زموږنه کاراخلي یادحکومت کوم چې موږته تنخوا راکوي اوچاچې وخت مقررکړی دی؟

جواب: دقانون مطابق دانچارج داخبره غلطه ده، په دې باندې عمل کول جائزنه دي اوددومره وخت تنخوا هم حلاله نه ده. [۳]

سوال: کوم افسرچې دنهونه دوه نیموپورې وخت مقررکړی و، هغه لاړو، دهغه په ځای باندې بل راغی، خوهغه هم دې باره کې هیڅ ونه ویل اوهغه هم نهه بجې راځي، نوخبره به دهغه مخکې افسر والا چلیږي اوکه پخپله باندې وخت مقررول پکاردي؟

جواب: دقانون خلاف نه مخکې ته اجازه شته اونه دویم ته اوکه چیرې قانون دې افسرانوته ددې رعایت کولواجازه ورکوي، نوبیاپه دې خبرې باندې عمل کول جائزدي، که نه، هغه افسران به هم خیانت کونکي وي اودهغوی په خبره باندې عمل کونکي نوکران هم.

۱] والاجارة لا تخلو اما ان تقع علی وقت معلوم او علی عمل معلوم، فان وقعت علی عمل معلوم فلاتجب الاجرة الا باتمام العمل. . . . . وان وقعت علی وقت معلوم فتجب الاجرة بمضی الوقت ان هو استعمله او لم یستعمله. (النتف فی الفتاوی/ ۳۳۸/ کتاب الاجارة)۔

۲] ولیس للخاص ان یعمل لغیره، ولو عمل نقص من اجرته بقدر ما عمل......الخ. (شامیة/ ۶/ ۷۰/ کتاب الاجارة/باب ضمان الاجیر/ طبع سعید)۔

۳] وفی الفتاوی الفضلی واذا استأجر رجلاً یوماً یعمل کذا فعلیه ان یعمل ذلک الی تمام المدة ولا یشغل بشيء آخرسوی المکتوبة(شامي/۶/ ۷۰/کتاب الاجارة باب ضمان الاجیر/ مطلب لیس للاجیر الخاص....الخ

سوال: ددفتروخت اتونه دوه نیموبجوپورې دی. خوټول افسران او نوکران نهه بجې راځي اوکارهم نهه بجې شروع کیږي، نوانه بجې راتلو سره څه وکړو؟

جواب: دفترته راشئ کینئ اوتنخوا حلاله کړئ! [۱]

سوال: که یوڅوک نیمه ګنټه یایوه ګنټه ددفتردوخت نه وروسته راځي. خودغه وخت دچوټي نه وروسته دفتر کې پاتې کیدوسره پوره کړل شي، نوشروع کې چې دنیمې یایوګنټې غیرحاضراوسیدوله وجې دهغه وخت تنخوا ناجائزه وه، اوس وخت پوره کولوسره به هغه جائز شي؟

جواب: نه! ددفترچې کوم وخت مقرردی هغې کې خیانت کولوسره او زیات وخت کې کار ختمولوسره تنخوا نه حلالیږي. [۲]

سوال: کله چې پته ولګیږي چې اوس څه کارنه شته، نوواپس تللی شو اوچې هغه وخت دچوټي کولونه وي؟

جواب: ددې جواب پورته ذکرشوی دی که چیرې ستاسوپه ذمه باندې دمقررشوي وخت پابندي نه وي، بلکې دمقررشوي کارپابندي وي، نودکارپوره کولونه وروسته تاسو ازادیئ اوکه چیرې ستاسوپه ذمه باندې دوخت پوره کولوپابندي ده که کاروي اوکه نه وي، نوتاسونه شئ تللئ. [۳]

سوال: که یوه ورځ ذاتي کاروي، نودافسرنه اجازه اخیستلوسره تللی شو؟ اودهغې ورځې دپاتې وخت تنخوا به جائزه وي؟

جواب: که غیرقانوني طریقې سره چوټي وکړل شي، نودتنخوا دحلال کیدوسوال هم نه پیداکیږي.

سوال: دلمونځ یا ډوډۍ له پاره چې کومه وقفه ملاویږي، دغه دوران کې په دفترکې خپل سیټ باندې ناست وي که څه کاروي اوکه نه او دغه شان دلمونځ اوډوډۍ له پاره ملاویدونکې وقفې برابروخت مخکې تللی شي؟ یعنې که چیرې دغه وقفه دنیمې ګنټې وي، نود چوټي مقررشوي وخت نه نیمه ګنټه مخکې تللی شي؟

۱] تفصیل دپاره اوګورئ: معارف القرآن ج۸، ص۶۹۴۔

۲] والاجارة لا تخلوا اما ان تقع علی وقت معلوم او علی عمل معلوم، فان وقعت علی عمل معلوم، فلا تجب الاجرة الا باتمام العمل. . . . . . . وان وقعت علی وقت معلوم فتجب الاجرة بمضی الوقت ان هو استعمله او لم یستعمله. (النتف فی الفتاوی/۳۳۸/کتاب الاجارة)۔

۳] (والثانی) وهو الأجیر الخاص ویسمٰی اجیر وحد (وهو من یعمل لواحد عملاً موقتاً بالتخصیص ویستحق الأجر بتسلیم نفسه فی المدة وان لم یعمل. . . . . الخ. (درمختار/ ۶۹/۶/ کتاب الاجارة)۔

جواب: نه! دغه وقفه دضرورتونو پوره کولو ده، دکاروخت نه دی، دکار دوخت په بدله کې تاسو هغه وخت کارکولو سره خپله ذمه داري نه شئ ختمولی.

سوال: لمونځ وروسته اداکول صحیح دي، ځکه چې دفترکې لاندينو جامې بدلولوکې ډيروخت لګيږي اوهغه دمتیازونه وروسته یاهسې قطرې راتلو سره خرابيږي؟

جواب: لمونځ که چیرې دخپل مقررشوي وخت نه وروسته کړل شي. نودالله تعالی مجرم اوخپل ذات سره به خیانت کول وي[۱]، تاسو داسې جامې ولې اچوئ چې هغې کې لمونځ نه اداکيږي اويادلمونځ کولو له پاره دهغو دبدلولوضرورت وي.

سوال: د دفترکاغذ، قلم او نورشیان دخپل ضرورت له پاره استعمالیدای شي اوچې استعمالولو باندې یې څه پابندي نه وي؟

جواب: که چیرې دحکومت یامحکمې له طرف نه اجازه وي، نود دفتر سامان دځان له پاره استعمالولی شی. که نه، نه.[۲]

سوال: دنوکري نه مخکې معائنه کول وي، کوم خلک چې معائنه کوي هغوی وایي دچایو اوبو پیسې (رشوت) غواړي، که ورنه کړل شي، نوځه بندیزپیداکوي اودهغې نتیجه به دبې روزګاري وي، که چیرې موږ مجبور یو، یا په خپله خوشالي باندې دهغه خلک حق یامحنت ګڼلو سره دبې روزګاري نه دبچ کیدوله پاره هغوی ته پیسې ورکړو، نو دا به رشوت وي؟

جواب: رشوت د خنزیرهډوکي دي اورشوت اخیستونکي خاربنتي سپي یا لیوني سپي دي، که چیرې هغه ددې حرام هډوکي نه پرته نقصان درکوي، نوبیامجبوري ده.[۳]

سوال: کوم افسرچې سفارش کولوسره نوکري ورکړي وي اوس وایي چې په دې خوشالي کې موږله پاره دعوت وکړه اوځه غیرحاضري په حاضروکې دبدلولوپه خوشالي کې هم اودکار کولو نه مخکې داسې څه معاهده نه وه شوې، نوایا اوس دهغه له پاره دعوت کول به رشوت وي؟

جواب: دسفارش معاوضه رشوت دی.[۴]

۱] قال تعالي: "ان الصلوٰة كانت على المؤمنين كتٰباً موقوتاً". (النساء: ۱۰۳)۔

۲] وعن ابي حرة الرقاشي عن عمه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا تظلموا الا لا يحل مال امريء الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة/ ۱/ ۲۵۵/ باب الغصب والعارية)۔

۳] قال تعالي: "فمن اضطر غير باغ ولا عاد فلا اثم عليه، ان الله غفور الرحيم" (البقرة: ۱۷۳). ايضاً: الضرورات تبيح المحظورات. (الاشباه والنظائر/۸۵/ طبع بيروت). قال العلامة ابن عابدين رحمه الله وما يدفع لدفع الخوف من المدفوع اليه على نفسه او ماله حلال للدافع حرام على الآخذ، لان دفع الضرر عن المسلم واجب ولا يجوز اخذ المال ليفعل الواجب........الخ. (شامي/۵/ ۳۶۲/ مطلب فى الكلام على الرشوة/ طبع ايچ ايم سعيد)۔

٤] وفى الكشاف المصطلحات: الرشوة لغة ما يتوصل به الى الحاجة بالمضايقة...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

غلط عمر ليکلو سره د ملازمت تنخوا اخيستل

سوال: په پاکستان کې عموما خلک د خپلو ماشومانو عمر کم ليکي چې په مستقبل کې ورته فائده وي د ريټائرډ (تقاعد) کيدو په عمر کې يې ناجائز د دوه درې کالو اضافه وشي، اوس مسئله داده چې په دې اضافي سره چې کومه تنخوا ملاويږي، ايا هغه جائز ده يا ناجائز؟ ځکه چې هغه زياتي کال د بل چا حق دی کوم چې عمر زياتولو سره يې بل سړی حاصل کړي.

جواب: تنخوا خو خير حلاله ده که کار حلال وي، خو د دروغو گناه به يې هميشه په سر وي.

د ټاکل شوې تنخوا نه زياته د مقدمې په ذريعه اخيستل

سوال: ما په يو ځای کې کار کاو، اوس مې زړه موړ شوی دی، پنځه کاله مې وشو د نوکري کولو د مالک سره چې مې کومه معاهده وه يعنې تنخوا مقرر وه هغه ماته ملاويږي هره مياشت مقرر تنخوا ماته ضرور ملاويږي اوس يو سړي مشوره راکړې ده چې ته په کورټ کې مقدمه وکړه، کافي پيسې به درته ملاو شي حال دا چې زما حق يعنې چې کومه تنخوا مقرر وه هغه ماته ملاويږي، اوس که زه مقدمه وکړم او ماته چې کومې پيسې ملاو شي، نو ستاسو د هغې په باره کې څه خيال دی ايا دا جائز دي؟

جواب: تاسو سره يې چې د څومره تنخوا معاهده شوې وه هغه خو ستاسو له پاره حلاله ده، ددې نه زياته که ته وصول کړې. نو دا به غصب وي، که ستاسو له پاره هغه تنخوا کافي نه وي، نو تاسو معاهده ختمولی شئ [1]

د غير حاضري کونکي ماسټر له پاره پوره تنخوا اخيستل

سوال: يوعالم سړی په يوسکول کې ماسټردی، خو هغه د خپلې علاقې د خلکو په معاملاتو کې دومره مصروف دی چې باقاعدگي سره هغه ته په سکول کې د حاضري موقع نه ملاويږي، بلکې زيات نه زيات په مياشت کې به يې اولس يا اتلس حاضري جوړيږي، نو ايا هغوی له په دې باندې پوره تنخوا اخيستل جائز دي چې هغوی په خدمت خلک او د خلکو په کارونو کې مصروف دي په داسې حال کې چې په سکول کې بل داسې ماسټر موجود وي کوم چې د هغه ساعت (پيريډ) اخيستی شي؟

بقيه د تيرمخ].. بان تصنع له شيئاً ليصنع لک شيئاً آخر. (مجموعة قواعد الفقه/۳۰۷). ايضاً: اخذ المال ليسوى امره عند السلطان دفعا للضر او جلباً للنفع وهو حرام على الآخذ. . . . . الخ. (شامي/۵ / ۳۶۲/ طبع ايچ ايم سعيد)۔

[1]] الاجارة بعد ما انعقدت صحيحة لا يجوز للآجر فسخها بمجرد زيادة الخارج فى الاجرة. (شرح الملة/۲۴۵/ المادة: ۴۴۱/ طبع حبيبه/ کوئته).

جواب: ماسټر صاحب ته تنخوا خو د استاذي ملاویږي. د خدمت خلک خو ورته نه ملاویږي. له دې وجې چې هغوی څومره لوستل کوي د هغومره تنخوا اخیستلو مستحق دی. د هغه نه زیاتې ناجائزه اخلي. [۱]

د غلط بیاني کولو سره د تنخوا د اخیستلو شرعي حیثیت

سوال: د پاکستان نه یو صاحب جعلي سرټیفیکیټ جوړولو سره دلته سعودي ته په یو لوی پوسټ باندې فائز شوی دی، د پاکستان متعلقه حکام ډیر حیران شو. ځکه چې په پاکستان کې دې صاحب په ماضي کې ددې عهدې د اسسټنټ په حیثیت باندې کار کړی و او د خپل نالائق والي له وجې نه د اسسټنټ د عهدې نه هم د متعلقه محکمې نه وتلی و. د اسسټنټ نه وړاندې محنت کولو سره قانوني طور ترقي کول د هغه له پاره قطعي ناممکن و. دغه شان هغوی خو په دې دنیا کې په چالاکي سره د جعلي سرټیفیکیټ (اسناد) په ذریعه د نورو ملکونو خلکو نه بیوقوفه جوړ کړل او دلته په دې لویه عهده باندې کار کوي دغه شان هغوی د پاکستان نه د راتلونکي یو موزون او قابل انسان حق هم ضائع کړ اوس به د هغوی دِ ګټې شرعي حیثیت څه وي؟ ایا ډیر حجونه او عمرې کولو سره د هغوی دا قصدا کړې ګناه ختمیدلی شي؟

جواب: د دروغو او جعل سازي په ذریعه یو عهده او منصب حاصلول خو ښکاره ده چې حرام دي او دروغ او دوکه ورکولو باندې چې څومره وعیدونه راغلي دي، دا سړی د هغو مستحق دی، مثلا په دروغژنو باندې د الله پاک لعنت دی [۲] د رسول الله ﷺ ارشا دی چې دوکه کونکی زمونږ نه نه دی [۳] له دې وجې جعل سازي که وړه وي یا لویه، د داسې سړي په بدکاره او ګناهګار کیدو کې هیڅ شک نه شته، الله پاک ته توبه کول پکار دي، پاتې شوه دا مسئله چې د داسې سړي ګټه حلاله ده که حرامه؟ له دې وجې دا اصول یاد ساتل پکار دي چې که دا سړی ددې منصب اهلیت او صلاحیت لري او کار هم صحیح کوي، نو د هغه تنخواه حلاله ده او که د منصب هیڅ اهل نه وي، یا کار صحیح طریقې سره نه شي کولی، نو د هغه تنخوا حرامه ده [۴] دا اصول دې هغه صاحب نه بلکې ټول سرکاري او غیر سرکاري ملازمین یاد

---

[۱] قال العلامة ابن عابدين: بخلاف ما اذا لم يقدر لكل يوم مبلغاً فانه يحل له الاخذ، فان لم يدرس فيها للعرف بخلاف غيرها من ايام الأسبوع حيث لا يحل له اجر يوم لم يدرس فيه مطلقاً سواء قدر له الاجر يوم او لا. (ردالمحتار/ ٤/ ٧٢/ مطلب فى استحقاق القاضى والمدرس الوظيفة فى يوم البطالة/ طبع سعيد).

[۲] قال الله تعالى: لعنت الله على الكٰذبين، ، (آل عمران: ٦١)

[۳] قال النبى صلى الله عليه وسلم: من غشنا فليس منا. الحديث. (ترمذي/ ١/ ٢٤٥/ باب ماجاء فى كراهية الغش فى البيوع/ طبع قديمى).

[٤] احسن الفتاوي/ ٨/ ١٩٨).

ساتي زما د مشاهدې او مطالعې د حده پورې خو زموږ په افسرانو او ملازمينو کې پنځوس فيصده داسې خلک دي کوم چې يا خو د هغه منصب اهل هم نه دي. يوازې د سفارش يا د رشوت په زور دې منصب ته راغلي دي يا که اهل دي، نو خپله ډيوټي صحيح طريقې سره نه ادا کوي د داسې خلکو تنخوا حلاله نه ده هغوی خپله هم حرام خوري او د کور په خلکو باندې هم حرام خوري.

د اور ټائم (زيات وخت) ليکل او د هغه تنخوا اخيستل

سوال: زه د لمونځ او روژې ډيرسخت پابند يم او حلاله روزي زما لټون دی. خو يو خنډ راته پيښيږي ،هغه داچې زه په يو مالياتي ادارې کې ملازم يم چيرته چې د مقرر شويو وختونو د ختميدو نه وروسته نور هم څو ګنټې خدمت کول راځي، چې د هغه بيله تنخوا ورکول کيږي. چې د هغې طريقه کار دادی چې ټولو ملازمينو ته چا چې اوور ټائم کار کړی وي او د ټائم ختميدو نه وروسته په يو رجسټر باندې دستخط کول وي، چې په هغه کې ټوټل اوور ټائم يې څومره ګنټې وکړو او ورسره وخت او دستخط ليکل وي، خو د هغه ليکل شوي او دستخط شوي وخت نه دوه ګنټې مخکې چوټي وشي او يوازې يوه ګنټه کار کول وي. په ډيرو ادارو کې داسې وي، نو ورسره د دوه ګنټو هم (په کوم کې چې موږ کار نه کوو، چوټي وکړو) معاوضه وصول کوو هغه زموږ له پاره حلال دي؟ موږ يې د خپلې ښځې او بچيو د خيټې ساتلو له پاره استعمالولی شو؟

جواب: معاوضه يوازې د دومره وخت حلاله ده چې په کوم کې يې کار کړی وي. له هغه نه د زيات وخت په رجسټر کې اندراج کول دروغ او بدديانتي ده او د هغه پيسې اخيستل قطعي حرامې دي.[1]

د غلط اور ټائم تنخوا اخيستل

سوال: نن سبا خاص ډول په سرکاري دفترونو کې دا ناروغي عامه ده چې بوګس اوور ټائم او بوګس ټي اے ډي اے (TADA) حاصلوي، چې په هغه سره د ګورنمنټ د کروړونو روپيو د کال نقصان کيږي، دغه شان ځينې خلک په مياشت کې اته يا لس ورځې دفتر ته راځي، خو تنخوا پوره مياشت حاصلوي.

---

[1]]والأجير الخاص الذى يستحق الأجرة بتسليم نفسه فى المدة وان لم يعمل كمن استوجر شهراً للخدمة او لرعى الغنم. وانما سمى اجير وحد لانه لا يمكنه ان يعمل لغيره لان منافعه فيالمدة صارت مستحقة له. وفى حاشية الهداية: اى سلم نفسه ولم يعمل مع التمكن اما ذا امتنع ومضت المدة لم يستحق الأجر،لانه لم يوجد تسليم النفس. (هداية آخرين /٣١٠/ باب ضمان الأجير). ايضاً: الأجير الخاص يستحق الأجرة اذا كان فى مدة الاجارة حاضراً للعمل ولا يشترط عمله بالفعل، لكن ليس له ان يمتنع عن العمل واذا امتنع لا يستحق الأجرة. (شرح المجلة/ ٢٣٩/ المادة: ٤٢٥).

الف: هغه خلک چې کوم اور ټائم او ټي اے ډي اے او بوګس تنخوا حاصلوی د هغوی ګټه څنګه ده؟

ب: کوم افسران چې اور ټائم، ټي اے ډي اے او تنخوا تیاروي او په هغه کاغذاتو باندې څو افسران دستخط هم کوي، ایا هغوی بري الذمة ګڼل کیدای شي یا که هغوی هم په دې کې برابر شریک دي؟ ددې خلکو د ګټې نه زکات، صدقات او نورو فلاحي کارونو کې خرچ شوي روپۍ به قابل قبول وي اوکه نه؟

جواب: ظاهره ده چې د هغوی ګټه خالص حرامه ده، [1] او کوم افسران چې ددې منظوري ورکوي هغوی په دې جرم او حرام کار کې برابر مجرمان دي، صدقه او خیرات د حلالې ګټې قبلیږي د حرام مال نه نه [2] د حرام مال نه د صدقې مثال داسې دی لکه څوک چې د ګندګي پیکټ چاته په ډالۍ کې ورکړي.

سرکاري د ندې صحیح نه اداکول قومي او ملي جرم دی

سوال: د زید دورکس شاپ اټینډنټ په توګه تقرر کیږي، خو هغه خپل منصبي فرائض قطعي طور انجام ته نه رسوي، خو د حکومت نه د میاشتې تنخوا وصول کوي، ایا د هغه د میاشتې تنخوا د شرعي حدود مطابق جائز ده؟

جواب: د کوم کار له پاره چې د چا تقرر شوی وي که هغه دا کار پوره پوره سر ته ورسوي، نو تنخوا به یې حلاله وي، که نه، حرامه به وي [3] کوم سرکاري ملازمین چې خپله دنده صحیح طریقې سره نه ادا کوي، نو هغوی د الله پاک سره هم خیانت کوونکي دي او د قوم هم او د هغوی تنخوا شرعا حلاله نه ده په دنیا کې هم هغوی ته د دې بدله ملاویږي چې د نبې ګټې، بنه رهائش او بې فراخي باوجود چې د هغوی سکون تباه او د شپې خوب حرام وي، د طاعت

---

[1] وليس للخاص ان يعمل لغيره، لو عمل نقص من اجرته بقدر ما عمل فتاوى النوازل. وقال العلامة ابن العابدين قوله وليس للخاص ان يعمل لغيره بل لا ان يصلى النافلة و اذا استأجر رجلاً يوماً ان يعمل كذا فعليه ان يعمل ذالک العمل الى تمام المدة ولا يشغل بشيء آخر سوى المكتوبة. (ردالمحتار/٦/ ٧٠/ مطلب ليس للأجير الخاص ان يصلى النافلة).

[2] عن ابى هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى اللّه عليه وسلم: من تصدق بعدل تمرة من كسب طيب ولا يقبل الله الا الطيب، فان الله يتقبلها بيمينه ثم يربيها لصاحبها كما يربى احدكم فلوه حتى يكون مثل الجبل. (مشكوٰة/ ١٦٧/ باب فضل الصدقة).

[3] الأجير الخاص الذى يستحق الأجرة بتسليم نفسه فى المدة وان لم يعمل كمن استوجر شهراً للخدمة او لرعى الغنم، وانما سمى اجير وحد لانه لا يمكنه ان يعمل لغيره لان منافعه فى المدة صارت مستحقة له. وفى حاشية هداية اى سلم نفسه ولم يعقمل مع التمكن، اما اذا امتنع ومضت المدة لم يستحق الاجر، لانه لم يوجد تسليم النفس. (هداية/ ٣١٠ / باب ضمان الأجير).

او د عبادت توفيق ترې اخيستل شوى وي او د اخرت عذاب به ورته د مرګ نه وروسته راښكاره شي الله پاک دې ترې موږ په خپله پناه کې وساتي. په هر حال خپله دنده صحيح طريقې سره نه پوره کول يو داسې ديني، اخلاقي او قومي او ملي جرم دى چې سړى د ګناه معافي هم نه شي غوښتلى.

د ډرائنګ (انځور جوړونې) نوکري شرعي طور با ندې څنګه ده؟

سوال: زما ورور ډيرښه انځور ګر دى، موږ دهغه نه انځورګر جوړول غواړو، ځينې خلک وايي چې آرټ ډرائنګ په اسلام کې جائزنه دى، وضاحت وکړئ چې دډرائنګ ماسټرنوکري په اسلام کې صحيح ده او که غلطه؟

جواب: انځورګري خوپخپله باندې ناجائزنه ده اوددې صحيح او غلط استعمال دا جائز او ناجائز ګرځوي، که چيرې ستاسو ورور د ژونديو شيانو د تصويرانو جوړولوشوق لري، نوبيا دا ناجائزدي[۱] او که چيرې داسې انځورکوي چې هغو کې داسلامي اصولوخلاف ورزي نه کيږي، نوبيا جائزده.

غلط ډاکټري سرټيفکيټ جوړول جائز نه دي

سوال: زه د پيشې په لحاظ سره ډاکټر يم، يو مسئله چې هغه په عامه توګه مخې ته راځي هغه داده چې سرکاري ملازمان د څه ذاتي وجې نه د خپل دفتر نه د چوټي کولو نه وروسته په خپل دفتر کې د وړاندې کولو له پاره د ميډيکل سرټيفکيټ جوړولو له پاره راځي، يعنې عموما د هغوى د چوټي کولو وجه بل څه وي، خو هغه خپل ځان ناروغ ښکاره کولو سره د دې مودې له پاره ميډيکل سرټيفکيټ جوړوي، تاسو ته درخواست دى چې ايا پرته د غرض نه يعنې پرته د اجرت نه داسې سرټيفکيټ جوړول جائز دي او که نه؟ د دې څه معاوضه هم اخيستل کيداى شي او که نه ؟

جواب: غلط سرټيفکيټ ورکول جائز نه دي، نه له اجرت پرته او نه په اجرت سره. [۲]

۱]وعن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يقول كل مصور فى النار يجعل له بكل صورة صورها نفسا فيعذبه فى جهنم. قال ابن عباس رضى الله عنهما: فان كنت لا بد فاعلاً فاصنع الشجر وما لا روح فيه. متفق عليه. (مشكوٰة /۳۸۵/ كتاب التصاوير). وفى مرقاة المفاتيح شرح المشكوٰة: قال اصحابنا وغيرهم من العلماء تصوير صورة الحيوان حرام شديد التحريم وهو من الكبائر لانه متوعد عليه هٰذا الوعيد الشديد المذكور فى الأحاديث سواء صنعه فى ثوب او بساط او درهم او دينار او غير ذالک وما تصوير صورة الشجر والرجل والجبل وغير ذالک فليس بحرام هٰذا حكم نفس التصوير. (مرقاة المفاتيح/ ٤/ ٤٨٣/ طبع بمبئی). وفى فتاوى الشامية: اما فعل التصوير فهو غير جائز مطلقاً لانه مضاهاة لخلق الله تعالىٰ........فصنعته حرام بكل حال لانه فيه مضاهاة لخلق الله. (شامي/١/ ٦٤٧، ٦٥٠)۔

۲] فتنقيح الضابطة فيهٰذا الباب على ما من به على ربى ان الاعانة ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د جعلي سرټيفکيټ (سند) په ذريعه د حاصلې شوې نوکرې شرعي حيثيت

سوال: يو کس ديوې تجربې سرټيفيکټ جوړکړې اوبهر ملک ته لاړشې او کار کوي. حقيقت کې دغه پوسټ باندې هغه کارنه وي کړي. خوخپل ځان ته ددغې پوسټ اهل وايي. دقانون په نظر کې خوهغه مجرم دی، خودشريعت او اسلامي قانون مطابق دهغه دغه ګټه جائز ده او که ناجائز؟

جواب: کومه عهده چې هغه ته ورکړل شوې ده که چيرې هغه کې دهغه کارکولوصلاحيت موجود وي اوکارهم پوره ديانت داري سره کوي، نو دهغه ګټه حلاله ده.خو هغه باندې د دروغو او غلط کاري ګناه شته اوکه چيرې هغه دهغه کارکولواهل نه وي يايي اهل وي. خوکارديانتداري سره نه کوي، نو دهغه ګټه حلاله نه ده. [۱]

نقل کولوسره سکالرشپ حاصلول اوپيسې استعمالول

سوال: يوزده کونکي ته دسکول ياکالج له طرف نه سکالرشپ پيسې ملاوشوې. سکالرشپ دغه پيسې هغه ته دښه نمبروله وجې حاصلې شوې اودغه نمبرې هغه امتحان کې دنقل کولوله وجې حاصلې کړې وې. ددې پيسوشرعي حيثيت څه دی؟ که چيرې ناجائزې وي. نودغه پيسې په څه ديني کارکې لګول کيدای شي اوکه نه؟

جواب: که چيرې هغه ته دنقل له وجې انعام ملاوشو، نوهغه کس دانعام مستحق نه دی. هغه دوکه باندې انعام حاصل کړ اودوکه باندې چې کومې پيسې حاصلې شي هغه حرامې دي[۲] اوحرامې پيسې په ديني کارکې لګول جائزنه دي[۳]، هغه کس ته پکاردي چې په خپل کارباندې دخفګان سره توبه وکړي اودغه پيسې غريبانانوته دصدقې دنيت نه پرته ورکړي [۴]

بقيه د تيرمخ].. على المعصية حرام مطلقاً بنص القرآن اعنى قوله تعالى: ولا تعاونوا على الاثم والعدوان، وقوله تعالى: فلن اكون ظهيراً للمجرمين، ولكن الاعانة حقيقة هى ما قامت المعصية بعين فعل المعين ولا يتحقق الا بنية الاعانة او التصريح بها او تعينها فى استعمال هٰذا الشيء بحيث لا يحتمل غير المعصية وما لم تقم المعصية بعينه لم يكن من الاعانة حقيقة بل منالتسبب ومن اطلق عليه لفظ الاعانة فقد تجوز لكونه صورة اعانة كما مر من السير الكبير. (جواهر الفقه/ تفصيل الكلام فى مسئلة الاعانة على الحرام/۲/ ۴۵۳).

۱] كذا فى احسن الفتاوى/۸/۱۹۸/ متفرقات الحظر والاباحة_

۲]عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم: مر على صبرة من طعام فادخل يده فيها فنالت اصابعه بللاً فقال: يا صاحبَ الطعام! ما هٰذا؟ قال: اصابته السماء يا رسول الله ﷺ! قال: افلا جعلته فوق الطعام حتى يراه الناس: ثم قال: من غش فليس منا. . . . الخ. والعمل على هٰذا عند اهل العلم كرهوا الغش وقالوا الغش حرام. (ترمذي/ ۱/ ۲۴۵/ كتاب البيوع)_

۳]عن ابى هريرة رضي الله عنه قال:قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن الله طيب لا يقبل الا طيبا..الخ(مشكوٰة/ ۲۴۱)

۴] سبيل الكسب الخبيث التصدق اذا تعذر الرد على صاحبه. (شامي/۶/ ۳۸۵/ كتاب الحظر والاباحة)_

امتحان کې نقل کولوسره د پاس کيدونکي تنخوا څنګه ده؟

سوال: يوکس کوم چې سرکاري نوکردی، دڅوارلسم امتحان يې د سبق ويلوپرته نقل سره ورکړی دی اوپاس شوی دی، دفترکې دهغه ترقي وشي اوتنخوا کې يې هم اضافه کيږي. ځکه چې هغه څوارلسم پاس کړ، نوايادهغه ددې اضافي ترقي پيسې جائزدي اوکه ناجائز؟

جواب: که چيرې هغه کې دڅوارلسم پاس کولوصلاحيت نه و. نو دهغه اضافي تنخوا جائزنه ده. اوکه صلاحيت موجود دی، نوبيا جائزده.[1]

سوال: که چيرې هغه امتحان ته څه تياري کړې وه اوڅه يې نقل وکړ اوپاس شو. نودهغه دترقي پيسې به جائزوي اوکه نه؟

جواب: پورته بيان شوی جواب ددې هم دی.

په امتحان کې د نقل کولو حکم

سوال: په امتحانونو(ازموينو) کې نقل کول شرعا جائز دي اوکه ناجائز؟

جواب: ناجائز.

سوال: خاص کَر په ميډکل کالجونو کې چې تحريري امتحان وي او د کوم چې د زباني امتحان له وجې نه څه اهميت نه وي او پروفيسر حضراتو ته د نقل په باره کې علم وي او ښکاره نقل کيږي، يعنې په پټه، يا د هغوی په ويرولو سره نه کيږي، په دې صورت کې شرعا دا جائز دي اوکه ناجائز؟

جواب: که د بورډ يا محکمې يا د کالج له طرف نه په نقل باندې څه پابندي نه وي، نو جائز ده، ګني د استاذانو د سترګو پټولو له وجې ناجائز دي.

په امتحان کې د نقل له پاره استعماليدونکی نوټس فوټو اسټيټ کول

سوال: نوټس د سکولونو او کالجونو فوټوسټيټ کيږي او د دې نوټس نه نن سبا د لوستلو کار کم او په امتحان کې د نقل کولو کار زيات اخيستل کيږي، ايا ددې شيانو فوټوسټيټ کول صحيح دي؟

جواب: په دې کې فوټوسټيټ کونکی ګناه ګار نه دی، د دې استعمالونکي ګناه ګار دي.[2]

---

[1] [احسن الفتاوي/۸/ ۱۹٤]۔

[2]] و اذا استأجر الذمی من المسلم داراً ليسکنها، فلا بأس بذلک وان شرب فيها الخمر، او عبد فيها الصليب، او ادخل فيها الخنازير ولم يلحق المسلم فی ذلک بأس، لان المسلم لا يؤاجرها لذلک، وانما آجرها للسکنٰی. (عالمگيري/ ٤/ ٤٥٠/ کتاب الاجارة/ الفصل الرابع فی فساد الاجارة/ طبع رشيديه/ کوئته).

کومه اداره چې ګیس، بجلي او پولیسو ته برخې ورکولو سره بچت کوي، په هغې کې کار کول

سوال: زه چې په کومه اداره کې کار کوم، هلته هر طرف ناجائز طریقو سره د پیسو بچت کیږي مثلاً: ګیس، بجلي، ټیکس، کارپوریشن، پولیس او د لیبر ډیپارټمنټ خلک خپله برخه وصول کولو سره د ادارې مالکانو ته فائده رسوي، ایا په داسې ځایونو کې کار کول جائز دي؟

جواب: کار کول جائز دي، په دې شرط چې تاسو خپله په انتظام کې ملوث نه یئ!

قصداً د بجلي، ټیلیفون او ګیس بیلونه ناوخته رالیږل چې لیټ فیس ترې وصول شي، د هغوی دا فعل څنګه دی؟

سوال: که د بجلي، ګیس او ټیلیفون بیل دوه درې ورځې مخکې ملاو شي، نو عملي طور دا ناممکن ده چې بیلونه په وخت باندې جمع شي، ځکه چې د اخري تاریخونو په سبب د بینک په کړکیو باندې اوږده اوږده قطارونه وي او ډیرځله په دې حالاتو او دځینې نورو وجوهاتو په بناء د بیلونو ادا کیدلو د تاخیر له وجې سرچارج برداشت کول راځي.
همدغه شان د سرکاري ادارو بدنیتي صفا ښکاره ده،یوازې د یوې ورځې په وروسته کولومخکې کولو باندې لکونه روپۍ د غریبو صارفینو نه راټولې کړي، د اسلام په رڼا کې دداسې خلکو څه حکم دی؟

جواب: تقریبا د ټولو سرکاري ادارو نه خلکو ته عام شکایت دی او ربښتیا خو داده چې نورو ته که هر څومره بد وویل شي، خو د هر سړي ضمیر خپله د دې خبرې ګواهي ورکوي چې هغه د ظلم په منډه کې له چا نه وروسته نه دی الا ماشاء الله....څه خلک اوس هم شته چې په دیانت داري سره کار کوي.

د بجلي په بیل کې ټیکسونه داخلول شرعاً څنګه دي

سوال: نن سبا د بجلي په بیل باندې ځینې شیان لیکل شوي دي، مثلاً: ټولې یونټې، د بجلي قیمت، ګورنمنټ محصول، سرچارج ایندهن، اضافي سرچارج، کرایه، میټر وغیره دا ټول شیان د بجلي بل ښه کافي حد ته رسوي مثلاً: که د شپږو سوو روپیو بل وي، نو په هغې کې د یونټ په حساب سره د بجلي قیمت مثلاً: یو نیم سلو پورې کم وي، ایا د واپډا او (KESC) له پاره دا جائز دي چې داسې ټیکسونه په بیل باندې ولګوي؟

جواب: څومره حساب سره چې هغوی بیل جوړوي هغومره بیل ورکول پکار دي، په دې کې څه

ټيکسونه هم شامل شي، په هر حال بيل صحيح طريقې سره ډکول پکار دي. [1] والله اعلم!

دبجلي، ګيس او ټيليفون په بيلونو کې زياتې پيسې لګول، بله دا چې د دې ذمه دار څوک دی؟

سوال: بجلي، ګيس، ټيلي فون وغيره په بيلونو کې چې کومې پيسې زياتې لګولو سره وصول کيږي، د حقوق العباد په حوالې سره د شريعت مطابق به د هغې حساب کتاب څنګه وي؟ څوک به يې ذمه دار وي؟ د چا چې پيسې ضائع شوې دي هغه ته به څه فائده وي؟

جواب: په بيلونو کې ناجائزې پيسې چې چا لګولې دي د قيامت په ورځ به هغه د دې بدله ورکوي. [2]

د غوښتنې باوجود که د بجلي والا ميټر نه بدلوي، نو ايا د محکمې په شان بې ايماني جائز ده؟

سوال: زما د بجلي ميټر د ميټر ريډر په وينا خراب دی، درخواست هم ورکړل شو، خو د نهو مياشتو د تيريدو باوجود هغه بدل نه کړل شو، ما بې ايماني کله هم نه ده کړې، د يو صاحب وينا ده که چې که يو محکمه بې ايماني کوي، نو هغومره بې ايماني ته هم کولی شې او دا شرعا جائز ده، خو ما د هغه دليل رد کړ، تاسو جناب مهرباني وکړئ چې د هغه صاحب دا وينا چې څومره بې ايماني محکمې والا کوي، ايا دومره زه هم کولی شم او که نه؟

جواب: محکمې والا که بې ايماني کوي، نو د هغې په بدل کې زموږ بې ايماني کول جائز نه دي، تاسو محکمې والا سره ملاو شئ او ورته وايئ چې ستاسو ميټر خراب دی دا صحيح کړئ. [3]

د ګيس په بيل باندې جرمانه لګول شرعا څنګه دي؟

سوال: تجارتي او صنعتي صارفينو ته د ګيس بيل جاري کيږي، په هغه کې د ادا کولو اخري تاريخ ليکل شوی وي، که يو صارف د هغه تاريخ نه وروسته بيل ادا کوي، نو په هغه باندې

---

[1]] ځکه چه دا يو قسم معاهده ده چه ددې پابندی ضروری ده. واوفو بالعهد ان العهد کان مسؤلاً. (بنی اسرائيل/ ۳۴).

[2]] وما کان سبباً لمحظور فهو محظور. (ردالمحتار/ ٦/ ۳۵۰/ کتاب الحظر والاباحة). قال النووي: فيه تصريح بتحريم کتابة المترابيين والشهادة عليها وبتحريم الاعانة على الباطل. (مرقاة شرح مشکوٰة/ ٦/ ۵۱/کتاب البيوع/ باب الربا، الفصل الاول/طبع رشيديه).

[3]] والمظلوم ليس له ان يظلم غيره. (الفقه الحنفى وادلته/ ۲/ ۱۳۵/ طبع بيروت).

(۲) فیصده جرمانه لګول کیږي، که په ادا کولو کې نور هم تاخیر راشي او یوه میاشت بله تیره شي، نو بیا (۲) فیصد جرمانه لګول کیږي دا جرمانه د اصل بیل په رقم او د لومړۍ جرمانې په رقم دواړو باندې لګیږي، ګویا داسې لکه د سود له پاسه سود. همدغه شان هره میاشت جرمانه لګول کیږي، ترڅو چې هغه پوره رقم نه وي ادا کړي
تاسو دا وفرمایئ چې په اسلامي نقطه نظر سره دا سود دی او که نه؟

جواب: که د سابقه پیسو په حساب سره جرمانه لګول کیږي، نو بیا خو دا سود دی او که د اصل پیسو هیڅ قید نه وي، بلکې دا اصول مقرر کړل شي چې کوم سړی یې په وخت نه ادا کوي په هغه باندې به دومره جرمانه لګول کیږي، نو دا صحیح ده. [۱]

د غلا د بجلي په ذریعه په چلول شوي موټر سره راویستل شویو اوبو باندې پوخ شوی خوراک خوړل

سوال: حکومتي بجلي غلا کول بریکټ یا کنډې لګولو سره څنګه ده؟ بله دا چې په دې بجلي باندې موټر چلیږي، چې په هغه خوراک څښاک او اودس وغیره له پاره اوبه ډکیږي، ایا د دې بجلي باندې شوی عبادت به قبول وي او که نه؟

جواب: د بجلي غلا جائز نه ده، [۲] په دې سره د عبادت ثواب هم ضائع کیږي، توبه کول پکار دي. [۳]

سوال: داسې خلک چې دهغوی په کور کې د دې قسم د بجلۍ په استعمال باندې حاصل شویو اوبو نه خوراک پخیږي د هغه نه خوراک کول څنګه دی؟

جواب: نه دې خوړل کیږي.

---

[۱] احل الله البیع وحرم الربا، فمن الربا ما هو بیع ومنه ما ولیس بیع وهو ربا اهل الجاهلیة وهو القرض المشروط فیه الاجل وزیادة مال علی المستقرض.(احکام القرآن للجصاص/۱/ ٤٦٩/ طبع سهیل اکیدمی لاهور)

[۲] تصرف الانسان فی مال غیره لا یجوز الا باذن او ولایة. (الجوهرة النیرة/ کتاب الشرکة/ ۱/ ۲۸۷).

[۳] عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: من اشتری ثوبا بعشرة دراهم ای مثلاً وفیه ای فی ثمنه درهم ای شیءٔ قلیل حرام لم یقبل الله تعالی له صلاة او لایثاب علیها کمال الثواب وان کان مثاباً باصل الثواب واما ما اصتل الصلاة فصحیحة بلا کلام زکرّه ابن الملک وقال الطیبی رحمه الله کان الظاهر ان یقال منه لکن المعنی لم یکتب الله له صلاة مقبولة مع کونها مجزئة مسقطة للقضاء کالصلاة فی الدار المغصوبة اه.وهو الأظهر لقوله تعالی انما یتقبل الله من المتقین والثواب انما یترتب علی القبول کما ان الصحة مترتبة علی حصول الشرائط والارکان والتقوی لیست بشرط لصحة الطاعة عند اهل السنة والجماعة. (مرقاة شرح المشکوٰة/ ۳/۳۰۰ / باب الکسب وطلب الحلال/ الفصل الثالث/ طبع بمبئی).

د ګیس، بجلي وغیره بیلونه قصد سره وروسته لیږل

سوال: زموږ معاشره کې دلوټ ماراوپیسووهلورواج دومره عام دی چې اوس ټولې سرکاري اداري هم دې کې شاملې شوې دي، سرکاري ادارو اوس داطریقه شروع کړې ده چې دبجلي یاګیس وغیره د واجباتو اداکولوله پاره بیلونه کله چې صارفینوته ولیږل شي. نوهغو باندې لیکل شوي وي چې فلانکي تاریخ پورې داپیسې اداکړئ،که نه. لیټ فیس یاجرمانه به د(۵ نه ۲۰) پورې اضافي وي داسې ټول بیلونه دډاکخانې په ذریعه باندې تقسیمیږي اوهغه اکثر د اداکولو د تاریخ نه وروسته ملاویږي اوکه چیرې مخکې ملاوشي. نویوه یا دوه ورځې مخکې ملاوشي اوهغو ورځوکې صارف کورکې موجودنه وي. دبینک چوټې وي اوداسې نور.... یعني ډیربیلونه دا مقررشوي تاریخ نه وروسته دلیټ فیس سره جمع کیږي، تاسو دشریعت مطابق فتوا ورکړئ اود شکریه اداکولوموقع راکړئ چې
۱: ایا دپیسوپه وصولولوکې لیټ فیس یاجرمانه اخیستل جائزدي؟ داسې اضافي پیسې اخیستل به حلالې وي؟
۲: ایا دحکومتي ادارونه پرته نورخلک یااداري هم داطریقه خپلولی شي، هغې کې دقرض پیسې که چیرې په مقررتاریخ باندې وصول نه شي، نودخپلې مرضي مطابق جرمانه اخیستل کیږي اوداسې اضافي فالتوپیسې به داخیستونکي له پاره حلالې وي؟
۳: ایا داسې پیسې کومې چې بیلونوکې ناجائزطورباندې اچول کیږي اوصارف هغه حق نه ګڼي اودمحکمې عمله هغه زبردستي سره اخلي، نودابه دحکومت له پاره جائزاوحلال وي؟ زموږ ملک اسلامي دی، دلته هروخت دمحمد ﷺ دنظام مطالبه وي، دحلالې ګټې بنیادي شرط دی، خوسرکاري خزانې ته اکثر داسې پیسې ځي کومې چې دعوامونه پرته دځه دلیل اوجوازنه په زوراخیستل شوي وي، دې باره کې تاسو واضحه فتوا ورکړئ.

جواب: تاسو چې کوم شکایت لیکلی دی که چیرې صارف ته ددې تجربه شوي وي اوکله چې بل داسې وخت کې ملاوشي چې دهغه په وخت باندې جمع کول ممکن نه وي، نودالیټ فیس اخیستل ظلم اوناجائز دی. متعلقه ادارو ته ددې خیال ساتل پکاردي اوناجائزاستحصال نه ځان ساتل پکاردي.[1]

---

[1] وفي شرح الآثار: التعزير بالمال كان في ابتداء الاسلام ثم نسخ والحاصل ان المذهب عدم التعزير بأخذ المال. (ردالمحتار/ ٤/ ٦١). ايضاً: عن ابي حرة الرقاشي عن عمه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا تظلموا! الا لا يحل مال امرء الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة/١/٢٥٥). ايضاً: تفصيل دپاره اوګورئ: كفاية المفتي ج٢ ص٢٠٥، طبع دارالاشاعت)۔

د ناجائز کار جواب ورکونکی څوک دی، افسر که ماتحت؟

سوال: فرض کړئ دیوې سرکاري محکمې افسرخپل ماتحت ته د ناجائز کارکولوحکم وکړي، نوایاهغه ماتحت سرکاري نوکردخپل افسرحکم ومني، که چیرې هغه سرکاري نوکردخپل افسر حکم ومني، نوایا دقیامت په ورځ به ددې ناجائزکارحساب به په سرکاري افسر وي یاپه هغه ماتحت نوکربانديې؟

جواب: دادواړه مجرمان دي[۱]، افسربه دناجائزکارکولوحکمْ کولوله وجې‌نیول کیږي[۲] اودهغه ماتحت به دناجائزکارکولوله وجې.

ددې کال بوائزفنډ دراتلونکي کال له پاره جمع کول

سوال: بکر دیوپرائمري سکول هیډماسټردی، هغه ته هرکال د ماشومانو له پاره پنځه زره روپۍ (۵۰۰۰) بوائزفنډ ملاویږي اود بوائز فنډ دخرچې نه چې کومې پیسې پاتې شي هغه د بل کال تعلیمي فنډ کې جمع کړي، سوال دادی چې دا پیسې خو د تیرشوي کال دماشومانو حق دی اوقانوني طوربانديې داهم هغه کال خرچ کول پکاردي، نوایاکوم ماشوم چې سکول پریښودوسره ځي، دهغوی دتعلیمي کال فنډ په نوروماشومانوبانديې خرچ کیدای شي اوکه نه؟

جواب: که چیرې هغه دماشومانوضرورتونوپوره کولوکې دشوم توب نه کاراخیستی وي، نوبیابه ګناه ګاروي، ګني کومې پیسې چې پاتې شي هغه په فنډکې جمع کول پکاردي.[۳]

د ګاونډي نه د بجلۍ تاراخیستل

سوال: دبجلي میټرملاویدل ګران کاردی، ګاونډي سره میټرشته، ایا دهغه نه دبجلي تاراخیستی شو؟

جواب: دبجلي کمپنۍ له طرف نه که چیرې اعتراض نه وي، نوجائزدي.[۴]

۱]عن عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا کلکم راع وکلکم مسؤل عن رعیته فالامام الذی علی الناس راع وهو مسؤل عن رعیته....الخ. (بخاري/ ۲/ ۱۰۷۵). ایضاً: ان الاعانة علی المعصیة حرام مطلقاً بنص القرآن اعنی قوله تعالی: ولا تعاونو علی الاثم والعدوان. (احکام القرآن لمفتی محمد شفیع/ ۳/ ۷٤)

۲]قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لاطاعة فی معصیة، انما الطاعة فی المعروف. (مشکوٰة/ ۳۱۹/ کتاب الامارة والقضاء). ایضاً: ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان. (المائدة: ۲)۔

۳] قال الله تعالی: ان الله یأمرکم ان تؤدوا الأمانات الی اهلها. (النساء: ۵۸)۔

٤] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا لا تظلموا! الا لا یحل ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه.

بقیه د تیرمخ].. مال امریء الا بطیب نفس منه. رواه البیهقی فی شعب الایمان. (مشکوٰة/ باب الغصب والعاریة/ ۳۱۹). ایضاً: لا یجوز لأحد ان یتصرف فی ملک غیره بلا اذنه..الخ. (شرح المجلة/ ٦۱/ المادة: ۹٦)

د خپلې ګټې غوښتونکي پلار او ورور خرچې کټ کول

سوال: تقریبا اووه کاله مخکې ما خپل کشرورور او مور و پلار سعودي عرب ته راوغوښتل. پلار صاحب مې څلور کاله او ورورمې دوه کاله په یوسټور کې کاروکړ. دهغوی اوسیدل اوخوراک څښاک مورښه و، زما ښځه او بچي هم دلته ماسره اوسیږي، دپلار او ورورتنخوا به مې ماسره جمع کیده، دلته اوسیدو دوران کې چې دهغوی څومره ضرورتونه وو یانورکه څه ورته پکاروو هغه به پوره کیدل، کله کله به هغوی څه پیسې هم اخیستې او هغه به ماڅان سره لیکلې، دې نه پرته دهغوی دویزو او ټکټونو خرچې، دمورکالي، دورورله پاره واده هم ما وکړ، دهغه دواده اودکالوخرچې اودحج خرچې (پلارصاحب مې څلورحجونه کړي دي) اودخوراک وغیره خرچې هم شوې ده، داټول هرڅه لیکل شوي دي دورورمې.دوه بچي هم وشول خو هغوی ټول به زمونږ کور کې اوسیدل، زماد پلار رجداکوردی او هغه دهغه په نوم دی، خو هغه هم ماسره اوسیږي اود یوکال راهیسې پلارمې زمانه تقاضا کوي سعودي عرب کې اوسیدو دوران کې هغه اوکشر ورور مې چې څومره ګټه کړې ده هغه ټوله زمانه غواړي، ماهغوی ته ولیکل چې تاسو باندې کومه خرچې شوې ده هغه کټ کولونه پرته چې څومره پیسې دي هغه به درکړم څومره خرچې چې شوې دي دهغې حساب کتاب مې هغوی ته ولیږه، خو هغوی زماپه دې خبره باندې خفه شول، ایا ماهغوی سره زیاتی یاظلم وکړ؟ هغوی ماته جواب کې ظالم، نافرمان او دوزخي ولیکل، یا یوسړی چې څه ګټي هغه ته دخپلې ګټې نه دخرچ کولوحق وي اوکه نه وي؟ مخکې هغوی ټولې غوښتلې اوس زمادلیکلونه وروسته هغوی ولیکل چې دخوراک دې څومره کټ کړي دي هغه واپس کړه که نه، لعنتي اودوزخي به مرې، که چیرې هغوی ماسره نه اوسیدل اوبل ښارته تلل اوکاریې کولای، نوبیابه یې دخپل خوراک او اوسیدوبندوبست کاو اوهغوی به هغه خرچه برداشت کوله، شرعي طور باندې څه صحیح دي؟ هغوی وایي چې خپل کوردې زماپه نوم باندې رجسټرډ کړه اوخپل بینک اکاونټ هم زماپه نوم کړه، دې سره هغوی دیوحدیث حواله هم ورکوي.

جواب: دهغوی دامطالبه شرعي طورباندې جائزنه ده اودې موقع باندې دحدیث حواله ورکول هم غلطه ده، حدیث دې صورت کې دی کله چې پلارمحتاج وي، هغه صورت کې هغه دخپل زوی دمال نه دضرورت مطابق اخیستی شي.[۱]

کورکې چې څومره خرچې شوې دي ته دهغوی نه دهریوکس دبرخې مطابق دغوښتلوحق داریئ[۲] خوکه چیرې تاسودخوراک خرچې په خپله برخه کې واچوئ، دهغوی نه وصول نه

۱] عن عمروبن شعیب عن ابیه عن جده ان رجلاً اتی النبی صلی الله علیه وسلم:فقال ان لی مالاً وان والدی یحتاج الی مالی،قال:انت ومالک لوالدک...الخ.وفی الحدیث دلیل علیٰ وجوب النفقة الوالد علی ولده. (مرقاة/ ۳)
۲]بوادر النوادر/ ۴۸۷/ طبع اداره اسلامیات)_

کړئ. نو د پلار خفګان ختمیدای شي او دا به ستا له پاره د ثواب کاروي خلاصه دا چې تاسو قانوني طورباندې دا خرچې وصول کولی شئ. خو دمروت تقاضادا ده چې د هغوی نه د خوراک خرچې وصول نه کړئ.

د قرضې په نیت باندې غلا کول او واپس کول

سوال: یو سړي د پیسو قرض اخیستو په نیت باندې غلا کوي چې بیا به یې کیږدم او د خپل ضرورت پوره کیدو نه وروسته هغه واپس پټې شوې پیسې کیږدي، نو ایا هغه ته به سزا ملاویږي چې هغه پیسې ولې راویستې وې؟

جواب: غلا کولو کې دوه غلطۍ دي، یو د چې د الله تعالی د حکم خلاف یې وکړل. دویم د انسان، چې د هغه د مال نقصان یې وکړ د غلا پیسې واپس کولو سره د انسان حق خو ادا شو[۱] خو د الله تعالی کوم قصوریې چې کړی و د هغه ګناه د هغه په ذمه باقي ده. هغه به توبې او استغفار باندې معافیږي. [۲]

که چاته غورځیدلې پیسې ملاو شي نو هغو سره څه وکړي؟

سوال: که یو سړي ته په سړک باندې سل روپۍ ملاوشي او هغه تر د درې ورځو پورې انتظار کوي چې د هغې مالک ملاو شي، خو د هغه پیسو څوک مالک هم په دې دوران کې نه ملاویږي، ایا هغه سړی ذاتي طور هغه پیسې خرچ کولی شي؟ که نه شي، نو هغه پیسو سره څه وکړي؟

جواب: مالک دې ولټوي او که د هغه د ملاویدو توقع نه وي، نو د هغه له طرف نه دې صدقه وکړي او نیت دې دا ساتي چې که مالک ملاو شو او هغه دا صدقه بحال ونه ساتله، نو د هغه پیسې به د خپل طرف نه ادا کړم. [۳]

---

۱ [ویبرأ بردها ولو بغیر علم المالک فی البزازیة غصب دراهم انسان من کیسه ثم ردها فیه بلا علمه برئ وکذا لو سلمه الیه بجهة اخریٰ کهبة.....الخ. (قوله ویبرأ بردها أی برد العین المغصوبة الی المغصوب منه. (شامي/ ۶/ ۱۸۲)۔

۲ ["ومن تاب وعمل صالحاً فانه یتوب الی الله متاباً". (الفرقان: ۷۱)۔

۳ [اللقطة امانة فی ید الملتقط اذا اشهد الملتقط انه یأخذها لیحفظها ویردها علی صاحبها.....وان کانت اللقطة اقل من عشرة دراهم عرفها آیاماً......فان جاء صاحبها ردها الیه والا تصدق بها علی الفقراء فان جاء صاحبها بعد التصدق بها فهو بالخیار، ان شاء امضی الصدقة وله ثوابها. . . . . الخ. (اللباب فی شرح الکتاب/ ۲/ ۱۱۹، ۱۲۰/ کتاب اللقطة، وایضاً: شرح مختصر الطحاوي/ ۴/ ۴۵). ایضاً: ابو حنیفة رحمه الله. . . . . قال فی اللقطة: یعرفها صاحبها الذی اخذها سنة ان جاء لها طالب، والا تصدق بها. . . . . الخ. (الفقه الحنفی وادلته/ ۳/ ۱۲۱).

په وړوکوالي کې ورته يو غورځېدلی شی ملاو شو، د کور خلکو ځان سره وساته، اوس څه وکړي؟

سوال: بنده ته له نن نه تقريبا (۸) يا نهه کاله وړاندې د يو نهر په غاړه باندې د سرو زرو ګوتمه ملاو شوه، هغه وخت زه ماشوم وم. کور کې مې ووېل، نو د کور خلکو هغه ګوتمه کېښودله، اوس د هغې ماليت شلو زرو روپيو ته نژدې دی. اوس بنده بالغ دی. ايا د کور د خلکو نه اخيستلو سره هغه خرڅه کړي او د هغې قيمت نغد ادا کړي حال دا چې د کور خلک د ګوتمې واپس کولو ته تيار نه دي؟ په داسې حالت کې څه کول پکار دي؟

سوال: بنده د يو سپورټس دکان چلوي، د نن نه تقريبا پنځلس مياشتې مخکې يو کرکټ بيټ د بنده په دکان باندې د چا پاتې شو، چې د هغې ماليت دوه سوه روپۍ و، ايا هغه هم خرڅولو پيسې يو ضرورت مند ته صدقه کړي؟

جواب: د دواړو سوالاتو يو جواب دی چې که د چا غورځېدلی شی ملاو شي او د مالک د ملاوېدو څه توقع نه وي، نو هغه په فقيرانو صدقه کول پکار دي، که ستاسو د کور خلک يې نه درکوي، نو لږ لږ يې تاسو صدقه کړئ، تردې چې ستاسو د سر نه بوج کوز شي. [1]

که د چا شی پاتې شي او بيا ملاقات هم ګران وي، نو د هغه له طرفه دې صدقه کړي

سوال: په حيدرآباد، لطيف آباد کې يو ايکسيډنټ (دموټرټکر) زما مخکې وشو، په دې ټکرکې چې د سوزوکی و، هغه په موړ باندې چپه شو، په همدې سوزوکۍ کې يو سړی د قرآن کريم تفسير حصه اول او دوم ماته راکړ، بيا په دې رش کې هغه هم زما په لاس کې پاتې شو، کوم چې تر نن پورې ماسره محفوظ دی، ما د هغه سړي د لټون ډير کوشش وکړ، خو هغه ملاو نه شو، مسئله دا ده چې په هغې باندې څه وکړم؟

جواب: که د دې څوک مالک راشي او پته او نښه وغيره ښودلو سره يې وغواړي، نو صحيح ده، که نه، د اصل مالک له طرف نه يې صدقه کړئ، يعنې يو مستحق ته يې ورکړئ. [2]

---

[1] واما اذا لم يجيء صاحبها يتصدق بها الملتقط ليصل ثوابها الى صاحبها. (الفقه الحنفى وادلته/ ۳/ ۱۲٤).
قال ابو جعفر: واذا وجد الرجل لقطة. . . . . . فان جاء صاحبها واستحقها ببينة اقامها عليها دفعها الى، والا تصدق بها ولم يأكلها. . . . . . الخ. (مختصر الطحاوى مع الشرح/ ٤/ ٤٥/ كتاب اللقطة والآبق). وفيه ايضًا: عن ابى صالح عن ابى هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: وسل عن اللقطة لا يحل اللقطة من التقط شيئًا. . . . . . . فان جاء صاحبه فليرده اليه فان لم يأت فليتصدق به. . . . . . . الخ.
(شرح مختصر الطحاوي/ ٤/ ٥۳).

[2] فاذا جاء صاحبها واقام البينة سلمها اليه واما اذا لم يجيء صاحبها...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

که ورک شوی شی مې د مالک له طرف نه صدقه کړ او مالک یې راغی، نو څه حکم یې دی؟

سوال: د مسجد یو خزانچي ته په لاره کې سرو زرو لښتې وموندلې، هغه په لاؤډ سپیکر باندې اعلان وکړ، خو د شلو ورځو د تیریدو نه وروسته هم د هغو د اخیستلو له پاره څوک رانغلل، نو هغه بیا اعلان وکړ او ویې ویل چې که تر دوه میاشتو پورې د دې د اخیستلو له پاره څوک رانغلل، نو موږ به دا خرڅولو سره د مسجد په کار کې ولګوو، عرض کول دادی چې په میعاد تیریدلو باندې څه وخت د دې ګینې اصل مالک راشي او هغه په دې باندې پوهیږي هم چې زما تاپس د مسجد په کار کې اخیستل شوی دی، خو هغه بیا هم د دې لښتیو غوښتنه کوي، نو ایا د مسجد انتظامیه ته به هغه ته دالښتې واپس کول ضروري دي او که نه؟

جواب: که مالک مطالبه وکړي، نو ضرور به یې واپس کوي. [1]

سوال: که چا څه شی وموندل او هغه ډیرځله اعلان وکړي او بیا هم مالک رانه شي، نو ایا هغه شي خرڅولو سره خیرات کولی شي د هغه د اصل مالک په نوم باندې؟

او که د خیرات کولو نه وروسته اصل مالک څه وخت راشي او سره د پوهې هم چې هغه شی زما په نوم باندې هغه سړی خیرات کړی دی، خو بیا هم هغه د خپل شي غوښتنه وکړي، نو ایا هغه سړی ذمه دار دی، چې هغه سړي ته هغه شی یا د هغه قیمت ادا کړی؟ یا که په میعاد تیریدو باندې هغه ذمه دار نه دی؟

جواب: مالک که دا صدقه په خوشالي باندې قبوله کړي، نو صحیح ده، که نه، هغه شی (یا د هغه قیمت) به مالک ته واپس ورکوي او هغه صدقه به د ورک شوي شي د موندونکي له لوري ګڼل کیږي. [2]

بقیه دتیرمخ]..یتصدق بها الملتقط لیصل ثوابها الی صاحبها. (الفقه الحنفي وادلته/ ۳/ ۱۲۴/ کتاب اللقطة)

[1] فاذا جاء صاحبها واقام البینة سلمها الیه. (الفقه الحنفی وادلته/۳ /۱۲۴). عن ابی بن کعب عن النبی صلی الله علیه وسلم: انه قال فی اللقطة، وذکر الحدیث وقال: فان جاء صاحبها فعرف عددها، ووکائها فادفعها الیه. . . . . وفی بعضها: فان جاء ربها فادفعها الیه. (شرح مختصر الطحاوي/ ۴/ ۴۹/ طبع دارالسراج/ بیروت).

[2] ثم ان جاء لها طالب بعد ذٰلک کان صاحبها بالخیار، ان شاء ضمنه مثلها وکان الأجر للذی تصدق بها، وان شاء امضٰی الصدقة وکان له الأجر. (الفقه الحنفی وادلته/ ۳/ ۱۲۱). وفی شرح مختصر الطحاوي/ ۴/ ۵۵). کتاب اللقطة: عن ابی هریرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: وسئل عن اللقطة: لا یحل اللقطة، من التقط شیئًا فلیعرفه سنة، فان جاء صاحبه فلیرده الیه، فان لم یأت، فلیتصدق به، فان جاءَ، فلیخیره بین الأجر وبین الذی له. (ایضاً سنن الکبریٰ للبیهقي/۶/ ۱۸۸/ طبع دارالمعرفة/ بیروت).

د ورک شوي شي صدقه کول

سوال: عرض دادی چې ما یوساعت د دفتر په غسل خانې کې موندلی دی، ما ددې خبر نزدې ټولو دفترونو کې ورکړی دی، په نزدې مسجد کې مې اعلان هم وکړ، د دې نه پرته مې اشتهار لیکلو سره په مناسب ځایونو باندې ولګولو چې خلکو ته معلومه شي او د هغې اصل مالک ملاو شي، نو د هغه امانت به هغه ته واپس کړم ددې واقعې یوه نیمه میاشت وشوه. خو مالک یې پیدا نه شو، تاسو ته درخواست دی چې شرعي نقطه نظر سره د دې حل وښایئ چې د دې ساعت استعمال څنګه دی؟

جواب: که د مالک دپیداکېدو توقع نه وي، نو د مالک له طرف نه دې صدقه شي، وروسته که مالک پیداشي، نو هغه ته اختیار دی که هغه یې صدقه جائز ساتي یا ستاسو نه دساعت قیمت وصولوي، بیابه دا صدقه به ستاسو له طرف نه ګڼل کیږي. [1]

په دکان کې د پرېښودل شویو شیانو سره به څه کوي؟

سوال: زما دکان ته ګاک راځي، کله کله زما په دکان کې ګاک د خوراک شیان چې په هغو کې فروټ وغیره شامل وي هیرولو سره لاړ شي، تاسونه پوښتنه داده چې د دې شیانو سره څه و شي؟ ۱: که دا شیان امانت کېښودل شي، نو دا خرابیږي، د زیات وخت ساتلو له وجې
۲: ایا یو غریب ته ورکول یاخپله ساتل یې جائز دي.
۳: یا که هغه خرابیدو ته پرېږدي؟

جواب: ددې میوو د خرابیدلو نه مخکې خو دې د مالک انتظار و شي، چې کله یې د خرابیدو ویره وي، نو د مالک له طرف نه دې یو محتاج ته ورکړل شي، که وروسته مالک راشي، نو هغه دې د صحیح صورت حال نه خبرکړل شي، که مالک دا صدقه جائز ساتي، خو صحیح دد. که نه، مالک ته د هغه د میوې قیمت ادا کړئ او دا صدقه به ستاسو له طرف نه شمارل کیږي. [2]

---

[1] وان كانت اقل من عشرة دراهم عرفها آياماً وان كانت عشرة فصاعداً عرفها حولاً فان جاء صاحبها والا تصدق به، وان جاء صحبها بعد ما تصدق بها فهو بالخيار ان شاء امضى الصدقة وله ثوابها، وان شاء ضمن الملتقط. (هداية/ ٢/ ٦١٤، ٦١٥/ كتاب اللقطة).

[2] ثم ان جاء لها طالب بعد ذلك كان صاحبها بالخيار، ان شاء ضمنه مثلها وكان الأجر للذى تصدق بها، وان شاء امضٰى الصدقة وكان له الأجر. (الفقه الحنفى وادلته/ ٣/ ١٢١). وفى شرح مختصر الطحاوي/ ٤/ ٥٥). كتاب اللقطة: عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: وسئل عن اللقطة: لا يحل اللقطة، من التقط شيئاً فليعرفه سنة، فان جاء صاحبه فليرده اليه، فان لم يأت، فليتصدق به، فان جاء، فليخيره بين الأجر وبين الذى له. (ايضاً سنن الكبريٰ للبيهقي/٦/ ١٨٨/ طبع دارالمعرفة/ بيروت).

په لاره کې د پروت معمولي شي استعمال څنګه دی؟

سوال: په لاره کې چې څو غیر ضروري شان پراته وي، لکه لرګي او داسې نور بې قیمته شیان، هغه د ذاتي استعمال له پاره اوچتول څنګه دي؟

جواب: جائز دي. [۱]

په لاره کې موندل شوي د سرو زرو لاکټ سره څه وکړي

سوال: د نن نه پنځه یا شپږ کاله مخکې چې کله زه ناپوه وم، نو یوه ورځ زما وړوکې خور د بهر نه یو لاکټ راوړ، کوم چې د خپل زنځیر نه غالبا ماتیدلو سره پریوتلی و په ما باندې هغه ډیر ښه ولګید، له دې وجې ما وساته، زما خیال و چې دا د پیتلو دی، ما د خپل ملګري د پلار نه پوښتنه وکړه، نو هغه وویل چې دا پیتل دي، ما لس یا دولس ورځې اچولی ذی. یعنې کله کله به مې اچاو، خو نن ما د زرګر د یو دکان نه معلومات وکړ، نو معلومه شوه چې دا د پانسې زر دي او د دې قیمت اته سوه روپۍ ده، په دې اوریدلو باندې ماته ډیر افسوس وشو او ویریدم هم، اوس تاسو نه پوښتنه کوم چې زه په دې باندې څه وکړم؟

۱: ایا دا خرڅولو سره صدقه کړم؟

۲: ایا د دې قیمت معلومولو سره صدقه کړم او دا ځان سره یې کیږدم؟ هسې که دا خرڅ هم شي، نو ما اوریدلي دي چې زرګر خرڅ شوي سره په نیم قیمت باندې اخلي.

۳: زما ماما د صدقې مستحق دی، ذهني مریض دی، ایا د لاکټ په قیمت باندې موږ د هغه علاج کولی شو او که نه؟ ځکه چې اوس د دومره مودې نه وروسته د هغې د مالک معلومات کول هم ګران دي، ځکه چې زما خور دا په عامه لار کې موندلی و.

جواب: د دې لاکټ چې څومره قیمت وي، هغومره قیمت صدقه کړئ، [۲] خپل ماما ته یې هم ورکولی شئ. [۳]

د ورکې شوې وزې په بچي باندې څه وکړل شي؟

سوال: څه فرمايي علماء دین په دې مسئله کې چې په یو زیر تعمیر فلانتې باندې تقریبا دوه میاشتې د یوې وزې بچی د سهار د لمانځه نه مخکې راغی، چې هغه ډیر کرته وشړل شوه. خو نه تلو، چې د ګاونډیانو نه مې پوښتنه وکړه، چا ورته خپله و نه ویل. د دې علاقې د

---

[۱] الأصل في الأشياء الاباحة. (الأشباه والنظائر/ ۱/ ۹۷).

[۲] فان جاء صاحبها والا تصدق بها ايصالاً للحق الى المستحق وهو واجب بقدر الامكان. . . . . . الخ. (هداية/۲/ ۶۱۵/ كتاب اللقطة).

[۳] وان كان الملتقط فقيرٍ فلا بأس بان ينتفع بها. . . . . . . وكذا اذا كان الفقير اباه او ابه او زوجته وان كان هو غنياً. (هداية/ ۲/۶۱۸ كتاب اللقطة).

شپونکي نه مې هم پوښتنه وکړه، هغه هم انکار وکړ، د مسجد نه مې په لاؤډ سپیکر باندې هم وویل، خو څوک یې هم د اخیستلو له پاره رانغی، اوس هغه تقریبا د لسو میاشتو شوی دی. د شریعت مطابق څه فتوا ده؟

جواب: که د لټون باوجود د دې وزې مالک پیدا نه شو، نو د هغې حکم د ورک شوي شي دی چې د مالک له طرف نه دې د صدقې نیت کولو سره یو غریب یا محتاج ته ورکړل شي. که بالفرض چیرته مالک یې پیداشي شي، نو هغه ته به اختیار وي، که هغه صدقه ساتي یا تاسو نه د صدقې قیمت وصول کړي، په دویم صورت کې به دا صدقه ستاسو له طرف نه وي [۱]

د ورک شوي شي پیدا کولو باندې انعام اخیستل

سوال: زما دچاچي(تره ښځې) لاکټ کورکې ورک شو اوهغه لاکټ زماخور وموند. خوهغې دپیسوپه لالچ کې هغه پټ کړ، کله چې چاچي وویل چې څوک لاکټ راوړي هغه ته به لس روپۍ ورکړم، نوهغې هغه لاکټ چاچي ته ورکړاولس روپۍ یې واخیستې. اوس تاسو ووایئ چې دغه لس روپۍ دهغې له پاره حلالې دي اوکه حرامې؟

جواب: که هغې په رښتیاباندې پټ کړی وي،نودغه لس روپۍ دهغې له پاره حلالې نه دي [۲]

که موندل شوی شی ساتل غواړئ، نوهغومره پیسې صدقه کړئ

سوال: مادغې اخترنه یوڅوورځې مخکې دبس نه غورځیدلی یو د لاس ساعت پیداکړ. هغه ساعت ډیر قیمتي دی. خپل طورباندې کوشش کولوباوجودماته مالک پیدا نه شو. نو ما د پنډۍ په جنګ اخبارکې اشتهارورکړ. خوبیاهم مالک ملاونه شو. اوس تاسوته خواست دی چې زمامسئله حل کړئ چې زه دې ساعت باندې څه وکړم؟

جواب: که چیرې دمالک دملاویدوامیدنه وي، نودهغه له طرف نه یې صدقه کړئ. که چیرې پخپله باندې ساعت ساتل غواړئ. نودهغه قیمت معلوم کړئ اوهغه صدقه کړئ صدقه کولونه وروسته که چیرې مالک راشیز هغه صدقه جائز وساتي، نوسهي ده. که نه. صدقه به ستاسوله طرف نه وي، مالک ته به قیمت ورکول واجب وي. [۳]

۱] وان كانت اقل من عشرة دراهم عرفها آياماً وان كانت عشرة فصاعداً عرفها حولاً فان جاء صاحبا والا تصدق به. وان جاء صاحبها بعد ما تصدق بها فهو بالخيار، ان شاء امضى الصدقة وله ثوابها، وان شاء ضمن الملتقط. (هداية /۲/ ٦١٤، ٦١٥/ كتاب اللقطة).

۲] اذ لا يجوز لأحد من المسلمين اخذ مال احد بغير سبب شرعى. (شامي/٤/٦١/ باب التعزير).

۳] فان جاء صاحبها والا تصدق بها فان جاء صاحب يعنى بعد ما تصدق بها فهو بالخيار ان شاء امضى الصدقة وله ثوابها وان شاء ضمن الملتقط لأنه سلم ماله الى غيره بغير اذنه. (هداية/ ۲/ ٦١٥/ كتاب اللقطة)

د نامعلوم سړي قرض به څنګه ادا کوو؟

سوال: که موږ له چا نه یو شی قرض واخیست، د دې نه وروسته موږ د هغه ځای نه بل ځای ته لاړو، بیا یوه ورځ د هغه شي د واپس کولو له پاره لاړو، نو معلومه شوه چې هغه سړی کور پریښودو سره د هغه ځای نه تللی دی، هغه سړی موږ ډیر وکوت، خو پیدا مو نه کړو. نو داسې ووایئ چې د هغه سړي قرض موږ څنګه ادا کولی شو؟

جواب: د دې حکم د ورک شوي شي دی، چې د کوم شي مالک پیدا نه شي هغه شی د دې مالک له طرف نه صدقه شي. [۱]

د شرابو او خنزیر خوراک خرڅولو نوکري جائز نه ده

سوال: زه دمیس بوائے (بیره) په طورباندې کارکوم، هغې کې ماته روزانه دخنزیرغوښه او شراب هم په میزونوباندې کیښودل وي. مسئله داده چې موږ دهغې کوم اجرت ملاویږي هغه جائزدی اوکه ناجائز؟ اسلام کې کومه ګټه حلاله اوکومه حرامه ده؟ مختصرشان تشریح یې وکړئ.

جواب: شراب اودخنزیرغوښه څنګه چې خوړل حرام دي، دغه شان په بل چاییې خوړل هم جائزنه دي[۲] اودیومسلمان لِه پاره داسې نوکري هم جائزنه ده، په کومه کې چې حرام کارکول وي. [۳]

د خنزیر د غوښې پخولو نوکري

سوال: ما تول عمردا اوریدلي دي چې دخنزیرغوښه حرامه ده، بالکل صحیح ده دامې اوریدلي دي چې خنزیردبدن کومې برخې پورې ولګیږي هغه ناپاک شي محترم جناب! موږخوباورچیان یو. ترڅو پورې چې دخنزیرغوښه کټ نه کړو، اونه وینځواوپخه یې نه کړونوانګریزان به موږته څه نوکري راکړي؟ اودمالکې څخلواوذائقې خبره پاتې ده که چیرې انګریزانوسره (یعنې نوکري کې) دخنزیرغوښه نه پخوو، نو انګریزان راپورې خاندي، ځکه چې زموږ پاکستاني وروڼه هلته د شرابو او زناپه شان کارونوخیال نه ساتي. بلکې

---

[۱] فان جاء صاحبها والا تصدق بها. (هداية/ ۲/ ۶۱۵/ كتاب اللقطة).

[۲] وعن انس ابن مالک رضي الله عنه قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم فى الخمر عشرة: عاصرها، ومعتصرها، وشاربها وحاملها، والمحمولة اليه، وساقيها، وبائعها، وآكل ثمنها، والمشتريْ لها، والمشتراة له. (ترمذي/ ۲/ ۲۴۲/ باب فى بيع الخمر والنهى عن ذالک/ طبع رشيديه/دهلى).

[۳] "وتعانوا على البر والتقويْ، ولا تعاونوا على الاثم والعدوان" يعنى لا تعاونوا على ارتكاب المنهيات ولا على الظلم. (تفسيرمظهري/۳/ ۱۹). ايضاً: الاستئجار على المعاصى انه لا يصح لانه استئجار على منفعة غير مقدورة الاستيفاء شرعاً. (بدائع الصنائع/۴/۱۸۹/ كتاب الاجارة/ مطلب فيما يرجع الى المعقود عليه/ طبع سعيد)

دانګریزانو نه شراب غواړي او که چيرې نظروشي، نو چرس، بهنګ وغيره د هرڅه لين دين دی، اخبارانو کې دابيانونه راځي، ايا دچرسو، شرابو، رشوت اوزنا وغيره نه دخنزيرغوښه زيات اهميت لري؟ مهرباني وکړئ او دا مشکله مسئله حل کړئ.

جواب: څنګه چې تاسو ليکلي دي دخنزيرغوښه دمسلمانانوله پاره حرام ده[1]. دالله تعالی ځمکه ډيره غټه ده، انګريزانوسره تاسو دخنزير پخولو نوکري ولې کوئ؟ ايا دګټې څه بله ذريعه نه شي ملاويدای؟ پاتې شوه داخبره چې ځينې خلک شراب، زنا، رشوت اونوردګناهونه پرواه نه کوي، نو دغه خلک هم ګناهګاراومجرمان دي. خوبيوجرم دبل جرم دجوازله پاره دليل جوړول صحيح نه دي اوکه يوکس چيرې زناکوي، نودهغه په حواله باندې به بل کس ته ګناه کول جائزوي؟

زياتي پيسې ليکلوسره بيل پاس کول

سوال: زه سرکاري نوکريم اوکله چې سرکاري کارله پاره فوټوسټيټ کول وي، نوچپړاسي دزياتي پيسې په رسيدباندې وليکي اوماته يوفارم ډکول وي اودهغې رسيدسره دخپل ماتحت افسرنه دهغې تصديق کول وي، ايا دې ګناه کې زه هم شريک يم، حالانکې زه دهغه نه اضافي پيسوکې يوه پيسه هم نه اخلم.

جواب: ګناه کې دمددکولوله وجې تاسوهم ګناهګاريئ[2] اود نورو خلکو ددنيا له پاره خپل اخرت بربادوئ.[3]

دجعلي نوکرپه نوم باندې تنخوا اخيستل

سوال: زه سرکاري افسريم، موږ ته ديوذاتي نوکرساتلواجازه ده، هغه نوکرډيرې لوې مرحلې نه وروسته ساتل کيدای شي، دهغې نه وروسته رجسټرباندې دهغه حاضري لګيږي اودهغه نوکر تنخوا موږ پخپله باندې ګوته لګولوسره واخلو، خودخاص حالاتوله وجې نوکران دوه څلور مياشتې وروسته بدلول وي نوکر(کورکې کارکونکي) ځي راځي، خودکوم نوکرنوم چې کاغذونوکې دی، ماڅه وخت مخکې تاسونه پوښتنه کړې وه، تاسوفرمايلي وچې دنوکرتنخوا زموږ له پاره جائزنه ده، که دکورټول کارښځه ولې ونه کړي، دهغې نه وروسته دلږلږوخت له پاره نوکران ساتل شروع کړي دي اوهغوی ټولوته تنخوا دهغه نوکر د

---

[1] "انما حرم عليكم الميتة والدم ولحم الخنزير وما أهل لغيرالله". (البقرة: ۱۷۳)۔

[2] "ولا تعاونوا على الاثم والعدوان" يعنى لا تعاونوا على ارتكاب المنهيات ولا على الظلم. (تفسير مظهري/ ۳/ ۱۹/ طبع اشاعت العلوم دهلى)۔

[3] وعن ابي امامة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: من شرالناس منزلة يوم القيامة عبد اذهب آخرته بدنيا غيره. رواه ابن ماجة. (مشكوٰة/ ۴۳۵/ باب الظلم، الفصل الثالث)۔

تنخوا نه ورکوم. ایا زما دا کار صحیح دی؟

تنقیح: ۱. ددې خبرو وضاحت کول پکار دي. ایا داسې ممکن نه دي چې تاسو د قانون مطابق یو مستقل نوکرو نیسئ؟

۲: ایا د لږلږ وخت له پاره نوکران نیولو سره د هغه قانون مقصد پوره کیږي؟

۳: که چیرې د کور خلک د نوکر کار پخپله باندې وکړي، نو ایا قانون تاسو ته د نوکر د تنخوا حاصلولو اجازه درکوي.

ددې تنقیح دا جواب راغی:

تاسو په مخکې سوال باندې تنقیحي سوالونه کړي دي، ددې جواب دادی:

۱ هو! د قانون مطابق خو یو نوکر و ساتو. خو هغه نوکر د پردی د مجبوري له وجې کور کې کار نه شي کولی او که چیرې څوک ښځه د قانون مطابق نوکره وساتو. نو داسې خلک خو دوه درې میاشتې وروسته خپل کورونه بدلوي. یا مالکه هغوی مجبوري له دې وجې بدل کړي. دې صورت کې د هغې نوکر بدل او نوکري نه وتل یوه ګرانه مرحله وي. ځکه چې دې عمل کې ډیرې میاشتې لګیږي باقی د کوم حد پورې چې د قانون خبره ده هغه خو هم یو نوکر ساتل وي او عملي طور باندې کیدای شي چې ډیر کم خلک داسې کوي. یعني (۲/ ۱) فیصد او ټولو خلکو ته پته ده چې خلک دا په خپله خرچې کې راولي.

۲، ۳: نوکرونه ساتئ، نو تنخوا به نوکرې ته ملاویږي، له دې وجې خلک کاغذي نوکران وساتي او د سهولت له پاره په سل دوه سوه روپۍ باندې لږلږ وخت له پاره نوکران وساتي او د نوکر تنخوا د زر روپیو نه زیاتې ملاویږي.

جواب: ستاسو د خط نه داسې معلومیږي چې ستاسو قانون څه داسې دی چې هغه اعلی افسرانو ته د دروغو او جعل سازي تعلیم ورکوي. ترڅو پورې چې تاسو جعلي دستخط ونه کړئ د هغې پورې ددې جائز رعایت نه فائده نه شئ اخیستی. کوم چې قانون تاسو ته درکول غواړي او س درې صورتونه کیدای شي:

لومړی: دا چې تاسو هم د نورو افسرانو په شان هره میاشت د جعلي دستخط کولو مشق کوئ او ښکاره خبره ده چې زه تاسو ته ددې مشوره نه شم درکولی.

دویم: دا چې تاسو د همیشه له پاره ددې رعایت نه ځان محروم کړئ دا به تاسو سره د قانون زیاتې وي، که چیرې تاسو رښتیا ووایئ، نو د رعایت نه به محروم شئ او که چیرې رعایت حاصلول غواړئ، نو دروغ لازم دي.

دریم: صورت دادی چې تاسو او ستاسو ملګري دې قانون جوړولو والو خیال دې طرف نه کړئ او دې قانون کې لچک پیدا کړئ چې د نوکر تنخوا حاصلولو له پاره تاسو ته او ستاسو

نورو ملګروته جعلي دستخط کول نه وي پکار

سوال: یودوه یادرې دلږلږوخت نوکران ساتلوباوجودڅه پیسې پاتې شي. دهغه زه په څه طریقه باندې حکومت ته دواپس کولوکوشش کوم. مثلاً زمادارې کې دیوشي کمی وي. که چیرې هغه شی دمحکمې دکاروایي مطابق اخیستل وي. نوهغه شی به تقریباً په دوه زرد روپۍ کیږي خوزه هم هغه شی په زرروپۍ باندې واخلم اوخاموشي سره یې کیږدم. ایا دې طریقې سره دهغو پیسوواپس کولوسره به زه دمطالبې نه خلاص شم.

جواب: هو کله چې پیسې واپس محکمې ته ورسیدې . نوتاسوبري شوئ [۱]

سوال: زمادفترکې ځینې خلک ډیرزیات غریبانان دي. مخکې ورځو کې هم ددغه شان دیو سړي دلورواده له پاره مادهغه پیسونه څه پیسې هغه ته ورکړې. خیال مې داووچې دغریب مددبیت المال نه کیدل پکاردي اوماسره هم سرکاري پیسې دي. ایا زماداکارصحیح دی؟

جواب: ماته دې کې شک دی. ځکه چې تاسوسره ددې اختیار نه شته. بیت المال کې په رښتیا باندې دغریبانانوحق دی، خودبیت المال شعبې جداجدادي

غیرقانوني طورباندې یوملک کې داوسیدونکي ګټه اود هغه لمونځ اواذان څنګه دی؟

سوال: مولانا! که چیرې یوکس غیرقانوني طورباندې پاکستان کې اوسیږي اودلته نوکري کوي، نوایا دهغه ګټه جائزده؟ ځکه چې هغه دقران ددې حکم خلاف کوي چې: اوتاسوکې چې کوم خلکو سره حکومت وي دهغوی اطاعت کوئ اوایاداسې کس اذان کونکی یا امام وي، نودهغوی داذان اولمونځ باره کې څه حکم دی؟ که چیرې دهغوی داعمل جائزدی. نوبیاچې کوم خلک په بینکونو او ټي وي وغیره کې نوکري کوي. دهغوی پیسې ولې ناجائزې دي؟ هغوی خوهم اخر په خپل محنت باندې پیسې ګټي.

جواب: دهغه ګټه خو ناجائزنه ده. که څوک غیرقانوني طورباندې اوسیږي. نودهغې اطلاع حکومت ته ورکول کیدای شي. والله اعلم!

دبرخې نه دبرآت کوونکي وروراضي کول ضروري دي

سوال: زما ټول ورونه اوخویندې زمادپلارکور زماپه نوم باندې کولوله پاره تیار وو. کله چې کاغذونه تیارشول. نو یو ورور د دستبردار کېدونه انکار وکړ. هغه ته دخپلې برخې

[۱] ویبرأ بردها ولو بغیر علم الملک فی البزازیة غصب دراهم انسان من کیسه ثم ردها فیه بلا علمه بریٔ وکذا لو سلمه الیه بجهة اخریٰ کهبة......الخ. قوله ویبرأ بردها ای برد العین المغصوبة الی المغصوب منه. (ردالمحتار/۶/ ۱۸۲)

اخیستلو وویل شو، هغه نه خپلې برخې اخیستوته تیاردی اونه دستبردارکیدوته. عدالت د اجتماعي دستبرداري له وجې انتقال کړی دی، ایا داشرعي حیثیت سره صحیح دی؟ یادساتل پکاردي چې زه دخپلې مورسره دې کور کې اوسیږم اونورټول جداجدا خپلو کورونو کې اوسیږي.

جواب: کوم وروړچې راضي نه دی هغه ته قیمت ورکولو سره دهغه راضي کول ضروري دي.[۱]

د مشر له اجازې پرته د کوریا دوکان نه څه شی اخیستل

سوال: یوکس دخپل ضرورتونوپوره کولوله پاره دخپل دوکان نه پیسې پټوی، یعنې غلاکوي، نو آیا دې صورت کې به دهغه لمونځونه، وظیفې اوتلاوت او داسې نور... عبادات قبلیږي، یعنې کومه وظیفه چې دکوم کار دپاره کوي هغه وظیفه به دغلاپه وجه باندې بې اثره کیږي نه؟ ځکه چې دغه کس دخپلو ضرورتونو پوره کولودپاره غلاکوي دعادت په وجه نه.

جواب: دخپل کوریادوکان دمشرله اجازې پرته شی اخیستل جائزنه دي، هغه ته ویلوسره اخیستل پکاردي.[۲]

د مورپه ناروغي پیسې اخیستل جائزدي

سوال: زه ناروغ یم، کارنه کوم، زمادوه ورونه نوکران دي اوهم په هغې باندې زمونږ د کور ګذاره کیږي، زماکشرروړجاویدکوم چې نوکري کوي هغه هره میاشت دکورنورو ورونو خویندونه په پټه باندې ماته سل روپۍ راکوي، هغه ماته تاکیدکړی دی چې ددې پیسو کور والوته ذکرمه کوه، ځکه چې داپیسې دموردي اودې پیسو باندې د طاقت غذا مثلاً بادام، مغز، غوزان وغیره پابندي سره اخله او مورته یې ورکوه، اوس مسئله داده چې زه پخپله باندې ډیروخت نه بیمار او کمزوری یم، دې وجه باندې زماموراصرارکوي اوهره میاشت په سلو روپوکې څه پیسې ماته راکړي، اویا په هغو سل روپیوباندې اخیستل شوي شي کې ماشریک کړي، کله چې ماخپل وروړ ته دې باره کې وویل نوهغه په دې باندې خفه شوچې زه دهغې نه پیسې ولې اخلم، خوهغه اوس هم ماته دمورله پاره پیسې راکوي او مورماته دهغې نه څه پیسې راکیی یاماپه خپل خوراک کې شریک کړي، آیا زماله پاره هغه خوراک کې شریکیدل یاله هغې نه پیسې اخیستل جائزدي اوکه ناجائز؟ حلال دي اوکه حرام؟

۱] وعن ابي حرة الرقاشي عن عمه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا تظلموا! الا لا يحل مال امريء الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة/ ۱/۲۵۵). "يٰأيها الذين أمنوا لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل الا ان تكون تجارة عن تراض منكم". (النساء: ۲۹). اذ لا يجوز لأحد من المسلمين اخذ مال احد بغير سبب شرعي. (ردالمحتار على الدرالمختار/ ٤/ ٦۱/ باب التعزير/ طبع ايچ ايم سعيد/ كراچی)۔

۲] ایضاً پورتنۍ حواله)۔

جواب: کله چې هغه پیسې تاسو خپلې مورته حواله کړئ. دهغې نه وروسته مور تاسو ته په خپله خوښه څه پیسې درکوي یاهغو پیسو باندې تیارشوي خوراک کې تاسوشریکوي. نوتاسو له پاره هغه پیسې یاخوراک دمورد پیسو په شان روا دی.[1]

آیا مجبورۍ کې غلا جائزده؟

سوال: یوځوورځې زمونږ ورکشاپ کې غلاباندې بحث شروع و. یوصاحب وویل که چېرې څوک غریب وي اوخپل بچي نه شي ساتلی، نوهغه له پاره غلاکول جائزدي. هغه خوقران اوحدیث نوم اخیستلو سره داخبره کړې ده چې دې کې داخبره موجودده. اوس تاسوته خواست چې تاسو مهرباني وکړئ اودقران اوحدیث په رڼا کې ددې وضاحت وکړئ چې آیا داسې څه مسئله شته چې دداسې کس غلاته جائزویل شوي وي؟

جواب: که چېرې یوکس داسې وږی وي چې دهغه له پاره مرداره خوړل جائزوي، نوددې اجازه شته چې دچا مال واخلي اوخپل ځان بچ کړ یاونیت داوکړی چې کله ګنجائش وي، نوده ته به واپس کړم.یوازې دبچیوساتلودپاره غلاپیشه جوړول، ددې اجازه نه شته.[2]

په رنګ شوي دیوال د مالک له اجازې پرته تور رنګ(سیاهي)راښکل

سوال: په رنګ شوي دیوالونو باندې د مالک له اجازې پرته توره سیاهي راښکل. یا د اخباراتو لګولو شرعي حیثیت څه دی؟

جواب: د مالک له اجازې پرته داسې کول ناجائز دي.[3]

ښځه لورلیکل او د واده له پاره یې پیسې اخیستل، او دهغو استعمال

سوال: د سنده ویلفیئر بورډ له طرف نه په فیکټریو کې کار کونکو مزدورانو ته د لور د واده او جهیز دپاره پنځلس زره روپۍ ورکول کیږي،ځینې حضراتو په مجوزه فارم کې د خپلې لور په ځای د خپلې ښځې نوم لیکلی دی او خپل ځان یې پلار جوړ کړی دی، ځکه چې لور خو یې

---

[1] کل یتصرف فی ملکه کیف شاء.(شرح المجلة لسلیم رستم باز/ ١/ ٦٥٤/ رقم المادة: ١١٩٢/ کتاب الشرکة). ایضاً: لأن الملک ما من شانه ان یتصرف فیه، بوصف الاختصاص. (ردالمختار/ ٤/ ٥٠٢/ مطلب فی تعریف المال)۔

[2] (الأکل) للغذاء والشرب للعطش ولو من حرام او میتة او مال غیره وان ضمنه (فرض) ثیاب علیه بحکم الحدیث، ولکن (مقدار ما یدفع) الانسان (الهلاک عن نفسه). قوله ولو من حرام فلو خاف الهلاک عطشا وعنده خمر له شربه قدر ما یدفع العطش ان علم انه یدفعه. . . . الخ. قوله وان ضمنه لأن الاباحة للاضطرار لا تنا فی الضمان. (ردالمحتار علی الدرالمختار/٦/ ٣٣٨/ کتاب الحظر والاباحة/ طبع ایچ ایم سعید، احسن الفتاوي/ ٨/ ٢٠٢)۔

[3] لایجوز لأحد ان یتصرف فی ملک غیره بلا اذنه. (شرح المجلة/ لسلیم رستم باز/ المادة: ٩٦/ ٦٠).

شته نه، خو د پنځلسو زرو په لالچ کې يې خپله بنځه قصدا خپله لور ظاهره کړه. په دې عمل سره يې نکاح متاثر شوه اوکه نه؟ او د دې شرعي حکم څه دی؟ د قرآن او سنت په رڼا کې مو مستفيد کړئ!

جواب: په دې دروغو سره نکاح خو نه متاثره کيږي، خو په داسې طريقې سره پيسې اخيستل حرام دي. او د دې پيسو استعمال هم حرام دی [۱]

که د چا په ملکيتي ځمکه کې معدنيات راووځي نو څوک به يې مالک وي؟

سوال: د يو سړي د ځمکې نه (کومه چې هغه د يو سړي يا د حکومت نه اخيستې ده. د ملکيت مکمل کاغذونه هغه سره موجود دي، او په دې ځمکه باندې د هغه کور دی. يا هغه زرعتي ځمکه ده يا غير آباد پرته ده) د معدنياتو ذخائر. ګيس. کوئله. پټرول. سره او سپين زر راووځي، نو هغه معدنيات به د هغه ذات يملکيت وي که د حکومت؟

جواب: که د يو سړي په مملوکه ځمکه کې د معدنيات ذخائر راووځي. نو که سره او سپين زر وي نو په هغوباندې خمس دی. د ګيس او پټرول وغيره په ذخائرو باندې هيڅ شی نه شته، خو که پاره يا دا دې قسم ذخائر وي نو په هغې باندې خمس دی. د دې امورو تفصيل د فقه په کتابونو کې موجود دی. خو په دې زمانه کې که دا قسم ذخائر راووځي، نو حکومت هغه ځمکه په خپله قبضه کې اخلي. او اصل مالک ته يې نه پريږدي. دا معلومه نه ده چې هغه ته معاوضه ورکول کيږي اوکه نه؟ او که ورکول کيږي، نو څومره ورکول کيږي؟ په هر حال شرعي نقطه نګاه سره په دې ټولو معدنياتو باندې د حکومت قبضه کول صحيح نه دي. [۲]

والله اعلم

---

[۱] قال تعالي: "ولا تأكلوا اموالكم بينكم الباطل" (قوله بالباطل) بالحرام يعنى بالربا والقمار والغصب والسرقة والخيانة ونحوها. (تفسير بغوي/۲/ ۵۰). ايضاً: عن ابى حرة الرقاشى عن عمه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا تظلموا! الا لا يحل مال امريء الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة/ ۲۵۵/ باب الغصب والعارية).

[۲] معدن ذهب او فضة او حديد او رصاص او صفر وجد فى ارض خراج او عشر ففيه الخمس عندنا. (الهداية/ ۱/ ۱۹۹/ طبع شركت علميه). ايضاً: وفى حاشية الهداية: قوله معدن ذهب الخ اعلم ان المستخرج من المعدن ثلاثة انواع، جامد ينطبع كالذهب والفضة والحديد وما ذكره المصنف وجامد لا ينطبع كالجص والنورة والكحل وسائرالاحجار كالياقوت والمزمرد والملح وما ليس بجامد كالماء والقير والنفط ولا يجب الخمس الا فى النوع الاول عندنا، وقوله وجد سواء كان الواجد مسلماً او ذمياً او كتابيا او صبيا او امرأة او عبداً مكاتباً. (هداية /۱/ ۱۹۹/ باب فى المعادن والركاز/ طبع شركت علميه).

د خپلوان کور نه د ټیلفون کولو بیل به د چا په ذمه وي؟

سوال: یو سړې په سفر روان وي، او د خپلې میرمنې څه خپلوان کور کې دیره کړي. څکه چې د هغه ښځه یوازې ده او بیماره هم ده. او هغه خپلوان یې د خپل کار له پاره د هغه سړي د کور نه ټیلیفون کوي، او بیا چې کله بیل راشي، نو هغه وایي چې زه به یې پیسې نه ورکوم. او بیل هم ډیر دی، اوس دا بیل د چا په ذمه دی؟ او د هغه میرمن هغه خپلوان ته وایي چې نیم بیل ته ورکړه. او نیم به زه ورکړم، او زما خاوند باندې ټول بوج مه اچوه. اوس هغه خپلوان نه مني. ما ته یوازې شرعي طور باندې مسئله پکار ده چې دا بیل د چا په ذمه دی؟

جواب: د ښځې خپلوان ته د هغې د خاوند له اجازې پرته ټیلیفون استعمالول جائز نه و. او د بیل اداکول شرعي او اخلاقي طور باندې د هغه خپلوان ذمه ده، چې په امانت کې یې خیانت کړی دی.

د سرکاري افسرانو خدمت کول

سوال: د آډټ محکمه کې کیدو په وجه باندې نورو محکموته تلل او د هغوی اډټ کول وي. هغه خلک مومیلمه ګڼلو سره د چایو او خوراک بندوبست کوي، نه په خوراک باندې خفه کیږي او نه په اډټ کې سستي او مدد کوو، د خوراک یا چایو پیسې هم موږ نه ورکوو، نورو ځایونو ته تلو سره د دې شیانو بندوبست په خپلو پیسو باندې کول مشکل وي، د دغه خوراک په وجه باندې موږ په خپل کار کې څه کوتاهي نه کوو او نه د دې په وجه باندې تقاضا کیږي چې اعتراض معاف کړئ، داسې حالت کې چای یا خوراک قبلول پکار دي او که نه؟ زموږ افسران نه د دې شي نه منع کوی او نه د قبلولو وایي، او که پخپله لاړ شي، نو هغوی یې هم خوري.

جواب: زموږ معاشره کې په سرکاري افسرانو باندې خوراک څښاک کول عامه خبره ده، په دې وجه باندې خلک په دې خبره باندې ضد کوي، که چیرې ممکن وي، نو هغوی ته وو ایئ چې موږ ته سفر کې سرکاري خرچ ملاویږي، په دې وجه باندې به د خوراک څښاک خرچې موږ پخپله باندې برداشت کوو، خو د تیاري انتظامات تاسو وکړئ، که چیرې هغه خلک دې باندې راضي شي نو دا انتظام دې وکړي، که نه، د مجبوري په حالت کې د هغوی ضیافت قبول کړئ، خو د دې ضیافت اثر دې د فرض نه منع کول نه وي.

د خرچ نه زیات بیل وصولول

سوال: کله چې د مقام نه بهر تلل وي، نو د سفر خرچې سرکاري ملاویږي، او د هوټل خرچ هم. مثلاً: یو کس ریل کې په سي کلاس کې سفر کولی شي، خو په څه وجه باندې فرنټ یا سکینډ کلاس کې سفر وکړي، خو د سرکار نه پیسې هم د سي کلاس اخلي. نو آیا دا جائز دی؟ که چیرې اضافي پیسې په غریبانانو کې د ثواب د نیت نه پرته تقسیم کړي نو بیا څنګه ده؟

همدغه شان مثلاً په دوه سوه روپۍ ورځ باندې هوټل کې اوسیدای شي، خو هغه دېنځوسو والاکمره کې اوسیږي، خو د حکومت نه هم دوه سوه روپۍ اخلي، آیا داجائزدي؟ که چېرې اضافي یونیم سل روپۍ غریبانانو کې تقسیم کړي نوداجائزدي؟ کله چې د ثواب د نیت نه پرته وي.

جواب: که دسرکارله طرف نه اجازه وي، نوبیاخوڅه مشکل نه شته، خوکه چېرې اجازه نه وي، نوبیاصورت یې داده چې څومره خرچې شوې وي، هغومره وصول کړل شي. اوکه چېرې داصورت هم ممکن نه وي، نوزیاتې خرچې په څه طریقه باندې دسرکارخزانه کې جمع کول پکاردي، اوکه چېرې داصورت هم ممکن نه وي، نو مسکینانوکې د ثواب د نیت نه پرته صدقه کول پکاردي.



❖ سود ❖

....

د سود د کار ابتدا د قران کریم تلاوت سره کول بدترینه ګناه ده

سوال: زه دیونائیټډ بینک لمټیډ کراچۍ په یومقامي برانچ کې نوکر یم، زمونږ برانچ کې هره ورځ سهار د کارکولوابتدا دقران پاک تلاوت اودټول سټاف په دعاکولوباندې کیږي اودهغوی خیال دی چې دې سره برکت پیداکیږي، کارکې زړه لګیږي اوڅه بده واقعه نه پیښیږي. زه دقران پاک دغه تلاوت اودعاکې نه شریکیږم، خوکله چې دقران کریم تلاوت کیږي، نوخاموشي سره یې اورم، څکه چې قران لوستل اواوریدل واجب دي، زمامسئله داده چې دقران اوحدیث په نزدباندې سود، دسودکاروبار اودهغه ملازمت هم منع دی، قران کې دي چې سودحرام دی اوسودمه اخلئ، تلاوت کولوسره ددې ابتداکول څنګه عمل دی؟دقران اوسنت په رڼاکې بیان کړئ چې داجائزدي اوکه نه؟ که نه دي، نوددې ګناه ګارڅوک دي؟

جواب: دګناه دکارابتدا تلاوت سره کول څنګه جائزکیدای شي؟ دا پوښتنه وکړئ چې ددې له وجې دشرک ویره خونه شته. . . ؟ [1]

---

[1] الکلام منه ما یوجب اجراً کالتسبیح والتحمید وقراء ة القرآن والأحادیث النبویة وعلم الفقه وقد یأثم به اذا فعله فی مجلس الفسق وهو یعلمه لما فیه من الاستهزاء والمخالفة لموجبه. (عالمگیریة/ ۵/ ۳۱۵). ایضاً: قرأ القرآن علی ضرب الدف والقضیب یکفر لاستخفافه وادب القرآن ان لا یقرأ فی مثل هٰذه المجالس، شرب الخمر وقال: بسم الله، او قال ذٰلک عند الزنا او عند اکل الحرام المقطوع بحرمته کفر لأنه استخف باسم الله تعالیٰ. (فتاویٰ بزازیة علی هامش الفتاویٰ الهندیة/ فصل فیما یقال فی القرآن والأذکار/ ۶/ ۳۳۸). ایضاً: وتحرم عند استعمال محرم بل فی البزازیة وغیرها یکفر من بسمل عند مباشرة کل حرام قطعی الحرمة. (ردالمحتار/ ۱/ ۹/ طبع ایچ ایم سعید)۔

د بینک په مونوګرام باندې "بسم الله الرحمن الرحیم" لیکل جائز نه دي

سوال: دا یوه لویه مسئله ده چې د یو بینک په مونوګرام باندې "بسم الله الرحمٰن الرحیم" لیکل شوې ده، دا مونو ګرام د دې بینک په هر سلپ باندې، په هر انټرنیټ باندې تردې چې په هره لفافه باندې موجود دی، روزانه په زرګونو لفافې د استعمال نه وروسته د ردي شیانو ټوکرۍ ته غورځول کیږي او دغه شان ډیره بې ادبي کیږي، ددې جواب به څوک ورکوي؟ د دې بینک اعلی افسران که هر هغه سړی چې دا لفافې په ردي شیانو کې غورځوي ډیر خلک پوهیږي، ځینې نه پوهیږي چې په مونو ګرام باندې څه موجود دي؟ په دې سلسله کې د دې بینک اعلی افسرانو ته هم درخواست دی چې دا کار بند کړي.

جواب: ددې بینک والاوو له پاره دا مونو ګرام استعمالول جائز نه دي، اول خو د هغوی ټول کار حرام دی، ځکه چې د هغه ټول بنیاد په سود باندې دی، بیا ددې له پاره د بسم الله مونوګرام استعمالول ډیر غلط حرکت دی او بیا په دې خطونو او لفافو کې د بسم الله چې کومه بې ادبي کیږي هغه ټوله ګناه ده. [1]

د ګټې اوتاوان اوسنۍ شراکتي کاتې هم سودي دي؟

سوال: څوکاله وړاندې چې دسودنه پرته بینکاري اوګټه تاوان کې شراکت باندې دکاتو دحکومت له طرف نه اعلان وشو، نوزه دخپل بینک منیجرته لاړم اوله هغوی نه مې پوښتنه وکړه چې دبینکونوټول کاروبارپه سودباندې چلیږي، نودګټې اوتاوان کې شراکت والاکاتې څنګه دسودنه پاکې کیدای شي؟ هغه وویل چې حکومت دبینک په ذریعه باندې غنم، وریژې اوکپاس وغیره اخلي اوهغه باندې بینکونوته کمیشن ورکوي، موږ به دغه اخیستل په هغه پیسوباندې کوو، نو کومې چې په ګټه اوتاوان کې دشراکت په کاتوکې جمع شوي وي اودحکومت نه اخیستل شوي کمیشن نه به موږ خپلوکاته داروکې پیسې تقسیموو او ددغې کاتونه به هر رمضان کې دزکات پیسې اخیستل کیږي.

پورته بیان شوي خبرونه وروسته ماخپلې پیسې په ګټه تاوان کې دشراکت کاتې ته واړولې دغه وخت نه تراوسه پورې اته اواته نیموفیصده ګټې اعلان کیږي،خو زماجمع شوي پیسونه هررمضان کې دوه نیم فیصده زکات کټ کیږي زماپه شان نورو بوډاګانو او کونډو ښځوخپلې پیسې دګټې اوتاوان دشراکت په کاته کې جمع کړي دي، دهغه نه هرکال دزکات پیسې کټ کیدونه وروسته څه ګټه ملاویږي اوهغه باندې دهغوی خرچ چلیږي که چیرې دغه ذریعه بنده شي، نودهغوی له پاره به تکلیف پیداشي، یاداچې هغوی دخپل مال نه خرچ کوي تردې پورې

---

[1] كتابة القرآن على مايفترش ويبسط مكروهة. (فتاویٰ عالمگیري/ ۵/ ۳۲۳/ طبع رشیدیه/ کوئته).

چې هغه به څه وخت پیسې ختمې شي او بیا به هغوی ته ډیرزیات تکلیف وي د ډیرو عالمانو په نزد باندې د شراکت دا کاتې دا سکیم حرام دی

موږ مسلمان ملک کې اوسیږو او په موږ د ټولو دا فرض دي چې موږ په اسلامي حکسونو باندې پخپله عمل وکړو او حکومت دې باره کې څه اسلامي حکم نافذ کړي. نو د هغوی سره تعاون وکړو. اوس که چیرې د دې ملک اوسیدونکي مسلمانان د خپل حکومت څه حکم ومني او خپلې پیسې د ګټې تاوان په شراکت والا کاته کې جمع کړي او د حاصلې شوې ګټې او زکات ورکولو کې شریک دي، نو ګناه به حکومت باندې وي که کاته داروباندې؟ عوام د حکومت په کارونو کې اختیار نه لري او څه حد پورې بینک کې پیسې جمع کولو باندې مجبوروي دا سې صورت کې عام خلک څه وکړي؟ وضاحت وکړئ

جواب: د غیرسودي کاتو باره کې یوازې د حکومت یا بینک والو اعلان کول کافي نه دي. بلکې دا کتل پکار دي چې ایا د شرعي اصولو په رڼا کې هغوی په ربښتیا غیرسودي کارکوي او که نه؟ که چیرې ربښتیا غیرسودي کاروبار کوي. نو صحیح ده. که نه. د سود د ګناه نه کاته دارهم محفوظ نه دي[1] ما د اعتماد قابل ماهرانو نه اوریدلي دي چې غیرسودي یوازې نوم دی. د غیر سودي بینکاري کومه خاکه چې جوړه شوې وه هغې باندې اوسه پورې عمل نه دی شوی. ستاسو دا خبره صحیح ده چې حکومت څه اسلامي قانون نافذ کړي. نو هغوی سره تعاون کول پکار دي، خو حکومت دې څه اسلامي حکم جاري خو کړي کنه؟ اوسه پورې زموږ د حکومت دا حال دی چې حکومت یو اسلامي حکم نافذهم کړي، نو هغه باندې د خپلو خواهشاتو پیوندونه ولګوي او ملاوټ پکې وکړي او د هغه اصل شکل خراب کړي.

نو د وعدو کولو باوجود اوسه پورې د سود نظام نه دی ختم شوی او کومې کاتې چې غیر سودي بنا يي هغو کې هم د سود نظام شروع دی. ولعل الله یحدث بعد ذالک امرا.

شپږ شپیتو میاشتو پورې سل روپۍ جمع کول او د مرګ پورې هره میاشت سل روپۍ اخیستل

سوال: ما د پاکستان نیشنل بینک په یوسکیم کې برخه اخیستې وه، چې د هغه طریقه کار دا وو چې تاسو به شپږ شپتو میاشتو پورې سل روپۍ هره میاشت داخلوئ. د شپږ شپیتو میاشتونه وروسته به ستاسو اصل پیسې یعنې (۶۶۰۰) روپۍ هم موجودې وي او تاسو ته به د مرګ پورې هره میاشت سل سل روپۍ ملاویږي (ترڅو پورې چې تاسو (۶۶۰۰) روپۍ ونه باسئ). یو نوکرپیشه انسان ایا ځان دا مدني له پاره دا طریقه اختیارولی شي؟ ځکه چې کوم ځای کې زه نوکر یم هلته پنشن نه ملاویږي؟

---

[1] لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم: آکل الربا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال: وهم سواء (مسلم، مشکوٰة/ ۲۴٤)

جواب: ستاسو اصل پیسې خو بینک کې موجود دي. هرمیاشت چې د مرګ پورې ت سوته کومې سل روپۍ ملاویږي هغه به سود وي [۱]

د جومات په اکاونټ باندې د سود د پیسو کاروبار کول

سوال: ماسره د جومات د چندې پیسې جمع کیږي، دې پیسو کې چې جومات باندې د خرچ کولو نه وروسته کومې پیسې پاتې کیږي هغه پیسې زه بینک کې جمع کوم. تاسو مهرباني وکړئ او دا بیان کړئ چې دې پیسو باندې کومه ګټه ملاویږي هغه باندې څه وکړم؟ هغه جومات کې استعمال کړم یا د ګټې هغه پیسې غریبانو کې تقسیم کړم؟

جواب: تاسو د جومات پیسې په کرنټ اوکانټ کې جمع کوئ. په هغه باندې ګټه نه ملاویږي او کومه ګټه موچې اخیستې ده هغه جومات کې مه خرچ کوئ. بلکې چا غریب او محتاج ته یې ورکړئ. [۲]

د سود د پیسو د کاروبار د برکت له پاره دعا

سوال: سود باندې پیسې اخیستل او په کاروبار کې لګول او بیا د الله تعالی نه د برکت له پاره دعا کول. یا دې کې به برکت وي او که بربادي؟

جواب: سود باندې پیسې اخیستل ګناه ده، دې نه توبه کول پکار دي. د برکت له پاره دعا کول نه. تجربه داده چې کومو خلکو په سود باندې کاروبار له پاره بینک نه پیسې اخیستې دي هغوی د قرض په جال کې داسې ګیرشوي دي چې په یو صورت هم ترې نه خلاصیږي. نو سود باندې اخیستل شویو پیسو کې برکت نه وي، بلکې د هغه انجام خراب وي [۳]

ایا وصول شوی سود به حلال شي کله چې اصل پیسې کمپنۍ وتښتوي؟

سوال: ما د څه دوستانو په وینا باندې خپلې شل زره روپۍ په یوې سرمایه کار کمپنۍ کې جمع کړې وې. هغوی ماته په اتو میاشتو کې اته زره روپۍ ګټه راکړه. بیا له هغه نه وروسته هغې کمپنۍ وتښتیده او س تاسو ته دا عرض کوم چې هغه اته زره روپۍ کومې چې د ګټې یا د سود په شکل کې ماته ملاوشوي وې او اوس د کمپنۍ د تښتیدو له وجې ماته چې د دولس زرو روپیو کوم

۱] الربا هو فضل خال عن عوض مشروط لأحد المتعاقدين فى المعاوضة. (درالمختار/ ٥/ ١٧٠)

۲] لأن سبيل الخبيث التصدق اذا تعذر الرد على صاحبه. (ردالمختار/ ٦/ ٣٨٥/ كتاب الحظر والاباحة فصل فى البيع). ايضاً: والحاصل انه ان علم ارباب الأموال وجب رده عليهم. و الا فان علم عين الحرام لايحل له ويتصدق به بنية صاحبه. (شامي ٥/٩٩/باب البيع الفاسد/مطلب فيمن ورث مالا حراما)

۳] عن ابن مسعود رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ان الربا وان كثر فان عاقبته تصير الى قل. (مشكوٰة/٢٤٦/ باب الرباء طبع قديمى كتب خانه كراچى)۔

نقصان وشو، دهغه نه وروسته دا اته زره روپۍ حلالې دي اوکه نه؟ يعنې که چيرې دغو پيسوباندې څه نيک کار يا خيرات زکات ورکړي، نوهغه به قبول شي اوکه نه؟

جواب: که چيرې تاسوته سود ملاويدو، نوبيا حلالې نه دي، خوشل زره روپۍ ستاسو دهغوی په ذمه وې، هغو کې اته زره روپۍ لکه چې تاسوخپله قرضه واپس اخيستې وي، له دې وجې جائزدي.

د پي ايل ايس (P.L.S) اکاونټ شرعي حکم

سوال: بينک کې چې کوم اکاؤنټ دګټې اوتاوان دشراکت په کاته کې جمع کيږي. بينک دهغو نه زکات اخلي اوشپږ فيصده ګټه هم ورکوي، ايا دقران اوسنت په نزدباندې داجائزدي؟

جواب: حکومت دې ته غيرسودي وايي خوددې چې کوم تفصيلات معلوم شوي دي دهغه نه دا معلوميږي چې دې ته غيرسودي ويل يوازې دنوم ترحده دي اوحقيقت کې داکاته هم سودي ده.

د سود پيسې د صدقې د نيت نه پرته په مدرسه کې خرچ کول

سوال: که دسود پيسې دصدقې دنيت نه پرته يوې ديني مدرسې ته ورکړل شي، نوداجائزدي؟ اوکه داسې مقدس ځايونوکې په ورکولوباندې ثواب نه وي، نوګناه به خوپرې نه وي؟ وضاحت سره جواب راکړئ که دصدقې دنيت نه پرته يوعالم دين ته کتابونه پرې واخيستل شي چې دمناظرې په وخت کې په کار راشي، ياعواموته ترې نه داسې خبرې وښائي چې هغوی دګمراهي نه بچ شي، دا جائزدي؟

جواب: ايا علم اوعالمانو له پاره دحلالې ګټه څخه د ورکولو ګنجائش نه شته؟ يوازې دانجاست دعالمانو له پاره پاتې شوی دی؟

سود بينک کې پريښودل پکاردي

که يې راويستل او غريبانو ته يې ورکړه؟

سوال: موږ دسوداګرانوبچي يو، زموږ پلاربه زياترپيسې په بينک کې جمع کولې اوهغه به کال وروسته په جمع شويو پيسوباندې سودهم ملاويده، موږ پلارته وويل چې تاسوته پته نه شته څه چې سودحرام دی، نوبيايې ولې اخلې؟ هغه وايي چې موږ دسودپيسې غريبانوکې دثواب دنيت نه پرته تقسيم کړو اودغه پيسې هغه حضرات دې له پاره بينک نه اخلي، که چيرې بينک نه يې وانخلي نوبينک والوته ګټه کيږي اوداسې کم نه کم غريبانوته خوفائده وشي، اوس تاسونه پوښتنه داده چې ايا داسې کول صحيح دي اوکه نه؟ اوکه افضل باندې عمل کول اودسودپيسوته بالکل لاس نه دي وړل پکار اوپيسې بينک کې پريښودل پکاردي.

جواب: بینک نه دسودپیسې اخیستل اوضرورت مندوته ورکول پکار دي خودصدقې او خیرات نیت سره نه. بلکې دیونجس شي دخپل ملکیت نه د ویستلونیت کول پکار دي.[1]

کونډه ښځه د بچیو د پالنې له پاره بینک نه سود څنګه واخلي؟

سوال: زه ذځلورلوښوموریم اوتقریباً پنځه میاشتې مخکې زما خاوند مړشوی دی او زما عمر تقریبا شپږویشت کاله دی. زما دخاوند دمرګ نه وروسته ماته تقریباً یولک روپۍ د فنډو وغیره په شکل کې ملاوشوي دي. اوس زمادکوروالواوښولوخلکودامشوره ده چې زه داپیسې بینک کې کیږدم اوهره میاشت دې باندې ملاویدونکې پیسې اخلم اوهغو باندې دخپلو بچیو اوخپله ګذاره کوم. دا خبره څه حدپورې صحیح ده. خوزماپه نزدباندې لومړی خوداپیسې حرامې دي اوبیادې باندې نورې حرام پیسې اخیستوسره خپله اودبچیوخیټه ډکه کړل شي. نو حرام باندې حرام دي اوخلک وایي چې داحرامې نه دي، مجبورۍ کې هرڅه جائزدي اوماته دداسې هیڅ خبرې پته نه شته، زه دې باره کې ډیره زیاته پریشانه یم څه وکړم؟

جواب: الله تعالی دې ستاا وستادلوښو کفالت وکړئ. ستاخاوندته چې ددفترله طرف نه کومې پیسې ملاوشوي دي که چیرې دهغه نوکري جائزوه. نودغه پیسې هم حلالې دي.خودابینک کې کیښودل اودې باندې ګټه اخیستل حلال نه دي، بلکې سود دی. که چیرې تاسوته یو نیک خپلوان ملاوشي اوهغه ستاسودلوښوکفالت کوي. نوهغه سره نکاح کول مناسب دي.که نه، الله تعالی پالونکی دی، خپل محنت مزدوري کوئ اودخپلولوښوکفالت کوئ اودهغوی دنیک نصیبې له پاره دعاکوئ. الله تعالی دې تااوستالوښوله پاره اسانې وکړي. امین

د خاص ډپازټ پیسې مسلمانان څنګه استعمال کړي؟

سوال: سوداودسودي کاروبارحرام دی، پاکستاني خلک په اربونوروپۍ په خاص ډپازټ کې جمع کوي دادمسلمانانودولت دی. دې خلکو کې ډیرخلک بوډاګان وي، دهغوی په سرونو باندې دپیغلو لوښو او بچیوبوج وي خاص طورباندې ریټائرډ(تقاعد)شوي خلک هغوی به د لوښو جهیزهم ورکوي اودعام استعمال له پاره خرچ کول هم. که چیرې دغه په اربونو. روپۍ تجارت، دکرایي کورونو، بسونو اونورو جائز کاروبارونو کې ولګول شي، نوهغو باندې به په اربونوروپۍ ګټه ملاویږي. که چیرې دهغه نه اصل قیمت هم جدا شي اوګټه یې مسلمانانوته ورکړل شي، نودداسې کاروبار ګټه به داصل پیسو مالکانوته ملاویږي داملک به ترقي هم کوي اوهرکوربه خوشاله شي سودي کاروباردې حالت کې ناجائزدی. که پیسې یوغریب ته

---

[1] والحاصل انه ان علم ارباب الأموال وجب رده عليهم و الا فان علم عين الحرام لايحل له ويتصدق به بنية صاحبه.(شامي/٥/٩٩/طبع سعيد).ايضاً:ويتصدق بلانية الثواب وينوی به براء ة الذمة.(قواعد الفقه/ ١١٥)

دضرورت له پاره ورکړل شي او دهغه نه اصل پیسې واخیستل شي. بینک یا خاص ډپازټ والا اداري غریبې نه وي.
دویمه خبره داده چې کورکې اصل پیسې کیښودو سره ډاکوان هرڅه لوټ کړي. موټرې اونورجایدادونه په زوربانديې واخلي، دې حالاتوکې اصل پیسې هم محفوظ نه وي اودغریبې نه هرڅوک مجبوردي، داسلامي قانون مطابق غل اوډاکوته سزانه ملاویږي دې حالاتوکې داصل پیسونه هم انسان خلاصیږي، د اربونو روپیودجائزاوحلال ګټې ذریعه یې جوړه کړي. نودې کې څه بده خبره ده؟
شریعت کې داسې په اربونوروپی، چې دهغه حفاظت هم وي اوپه کارراتلونکې ګټه هم وي. نودې باره کې دشریعت مطابق حکومت یامورږ ته مشوره راکړئ.
جواب: داسوال په خپل ځای باندې ډیرداهیمت قابل دی، دې باره کې دحکومت مشرانوته غورکول پکاردي اوداسې خلکو له پاره داسې کاروباري اداري جوړول پکاردي. چې هغوی دشرعي شراکت په اصولوباندې کارکوي اوګټه په برخه داروکې تقسیموي.

د ډیفینس سیونګ سرټیفکیټ په سود کاروبارکول شرعاً څنګه دي؟

سوال: ما سره د یو لاک روپیو ډیفینس سیونګ سرټیفکیټ پراته و، په څلور کاله پوره کیدو باندې ماته څلور لاکه او شپږ دیرش زره روپۍ ملاو شوې، خپل اصل رقم ما د خپل کور په ضرورتونو کې استعمال کړ او د دزې لکه او شپږ دیرشو زرو روپیو د سود په پیسو باندې ما د مارکیټ نه کیمیکل وغیره اخیستو سره مختلفو مارکیټونو ته سپلائي شروع کړه، د سود دا پیسې مې په خپل ذاتي استعمال کې راوستلې دي، ایا د دې سود په پیسو سره چې کومه سپلائي زه کوم ددې نه حاصلې شوې ګټه خوړل زما له پاره څنګه ده؟
جواب: په خنزیر خوړلو او دې کې څه فرق دی؟ د خنزیر غوښه که تاسو خپله وخورئ یا یې په بل باندې خرڅولو سره پیسې وخورئ، یوه خبره ده.

د نیشنل بینک سیونګ سکیم شرعي حکم

سوال: دحکومت یونیشنل ډیفنس سیونګ اسکیم چلیږي، ماته چا ویلي دي چې دې کې پیسې جمع کول اوبیایې ګټه اخیستل جائز دي، ځکه چې دې پیسوباندې دملک دحفاظت له پاره وسله اخیستل کیږي اودملک په کار راځي، نن چې کومه وسله اخلي که چیرې هماغه وسله څلورپنځه کاله وروسته اخلي، نوحکومت به یې به دوه یادرې چنده ګران قیمت باندې اخلي، نو حکومت ددې سکیم په ذریعه باندې وسله اخلي اودملک حفاظت کوي تاسود قران اوحدیث په رڼاکې وفرمایئ چې دې سکیم کې پیسې لګول اوګټه اخیستل جائزدي اوکه نه؟

جواب: که حکومت دې پیسو باندې ګټه ورکوي، نوسود دی.[۱]

شپیته زره روپۍ ورکول او درې میاشتې وروسته اتیا زره روپۍ اخیستل

سوال: یوسړي په بازارکې کمیټي واچوله، کله چې د هغه کمیټي راووتله (هغه شپیته زره روپۍ وې) نوهغه یودوکان دارته ورکړې، چې ماته به درې میاشتې وروسته اتیازره روپۍ راکوې، نو ایا دا سود دی او که نه؟

جواب: داهم خالص سود دی.[۲]

د فیصدي په حساب ګټه اخیستل

سوال: ځیني خلک د پیسو لین دین دفیصدي په حساب کوي (یعني پنځلس فیصده د میاشتې، لس فیصده دمیاشتې) ځیني خلک دې ته سودوایي او ځیني وایي چې دا سود نه دی، دې باره کې مود یوجومات امام صاحب نه پوښتنه وکړه، نوهغوی ورته جائز وویل، اوس موږ خلک دې پریشاني کې مبتلایوچې څه وکړو؟ نوتاسو دامسئله دقران اوسنت مطابق حل کړئ اوموږ ته ووایئ چې داسې پیسوباندې کومه ګټه ملاویږي، که هغه حرامه وي، نودهغه دحلال کولوله پاره موږ ته څه کول پکاردي؟ چې دهغه له وجې زموږ زړه صفاشي اوموږ دالله تعالی دعذاب نه بچ شو.

جواب: د فیصدي په حساب باندې ګټه اخیستل خالص سود دی[۳]، کوم امام صاحب چې ددې دجائز کیدو فتوا ورکړې ده هغه ته معلومات نه شته، هغه ته په خپلې غلطې فتوا باندې توبه کول پکار دي کوموخلکوچې سوداخیستی دی هغوی ته پکاردي چې هغومره پیسې دصدقې دنیت نه پرته غریبانوته ورکړي.[۴]

۱] الربا هو فضل خال عن عوض بمعيار شرعي مشروط لاحد المتعاقدين فى المعاوضة. (درمختار/۵/۱۷۰). و هوفى الشرع عبارة عن فضل مال لا يقابله عوض فى معاوضة مال بمال(فتاوىٰ عالمگيري/۳/ ۱۱۷/طبع رشيديه)

۲] الربا هو الفضل المستحق لأحد المتعاقدين فى المعاوضة الخالى عن عوض شرط فيه. (الهداية/۳/ ۸۰/ باب الربا). اما فى اصطلاح الفقهاء فهو زيادة احد البدلين المتجانسين من غير ان يقابل هٰذاه الزيادة عوض. (كتاب الفقه على المذاهب الاربعة/ ۲/ ۲۲۷/ مباحث الربا/ طبع بيروت)۔

۳]الربا. . . . . وشرعاً فضل ولو حكماً فدخل ربا النسيئة والبيوع الفاسدة فكلها من الربا خال عن العوض بمعيار شرعي، وهوالكيل والوزن مشروط احد المتعاقدين فى المعاوضة. (الدرالمختار مع ردالمحتار/ ۱٦۸/۵/ باب الربا/ وكذا فى تبيين الحقائق/ ٤/ ٤٤٦/ باب الربا)۔

٤] لأن سبيل الخبيث التصدق اذا تعذر الرد على صاحبه. (ردالمحتار/ ٦/ ۳۸۵/ كتاب الحظر والاباحة/فصل فى البيع). ويتصدق بلانية الثواب وينوى به براء ة الذمة. (قواعد الفقه/ ۱۱۵)۔

د قرآن چاپ کولو له پاره د سود کاروبار

سوال: دیوې کمپنۍ اشتهارونه به په اخبارونوکې، کاروبارکې د شرکت له پاره تاسوهم لیدلي وي، خلکوته ډیرغټ لالچ ورکوي، چې دقران پاک په چاپ کې پیسې ولګوئ اوکورکې ناستې باندې پیسې وګټئ، ایا داسودکې داخل نه دي؟ ایا داکمپنۍ ساده مسلمانانوته دوکې ورکولو سره دهغوی پیسې نه حراموي؟ زماخیال دی چې داسې خودکمپنۍ ټول کاروبارحرام دی، مهرباني وکړئ دشریعت مطابق جواب راکړئ.

جواب: ددې کمپنۍ کوم فارم چې تاسوراليږلی دی، دهغې مطابق داخالص دسودکاروباردی، ځکه چې هغوی په ترتیب باندې پنځلس فیصده اونیم فیصده اوشل فیصده اینبي دی، له دې وجې دې کمپنۍ کې پیسې لګول جائزنه دي.[1]

کمپنۍ کې د ګټې اوتاوان په بنیاد پیسې جمع کول اوګټه حاصلول

سوال: که یوې کمپنۍ کې دبرخې په طورباندې پیسې جمع شي اوهغه کمپنۍ دګټې او تاوان په حساب باندې وي اوهره میاشت هغه په پیسوباندې کاروبارکوي اوموږ ته ګټه راکوي، څه مقرر شوی حدنه شته چې په سل روپیوپیسې څلورروپۍ یادرې روپۍ. څومره چې ګټه یاتاوان وي هغوی به هم هغومره پیسې موږ ته هره میاشت راکوي اوڅومره پیسې موچې جمع کړي دي هغه به هم هغومره وي، کله چې غواړئ پیسې ترې نه واپس اخیستل شئ، ګټه یاسود څو فیصده پورې جائزدی؟ اوڅوفیصده ناجائز؟ تفصیل سره جواب راکړئ، شکریه!

جواب: که دکمپنۍ کاروباردشریعت خلاف نه وي اودشراکت داري په حساب باندې ګټه تقسیموي، څه مقرر شوې ګټه نه وي، نوداګټه جائزده.[2]

د قران مجید په چاپ کونکي اداره کې جمع شوې پیسې

سوال: یوه تجارتي اداره چې هغې دقران پاک دچاپ کولو اوتیارولو اودهغه دهدیه کولو کاروبار کوي، په دې شرطونوباندې خلک ځان سره برخه دارکوي، یوازې دګټې په مختلف شرح باندې، ایا الف ددې تجارتي ادارې ونډې(حصې) اخیستی شي؟ددې ګټه حلاله ده؟ شرطونه دادي:

---

[1] ومنها أن يكون نصيب المضارب من الربح معلوما على وجه لا تنقطع به الشركة فى الربح كذا فى المحيط، فان قال على ان لک من الربح مائة درهم او شرط مع النصف او الثلث عشرة دراهم لا تصح المضاربة كذا فى محيط السرخسى.(عالمگيري/٤/٢٨٧/كتاب المضاربة/ الباب الاول فى تفسيرها وركنها وشراطها وحكمها)

[2] ومن شرطها-ان يكون الربح بينهما مشاعاً لايستحق احدهما منه دراهم مسماة لأن شرط ذلک يقطع الشركة بينهما ولا بد منها كما هى فى عقد الشركة. (الهداية/ كتاب المضاربة/ ٣/ ٢٥٨). ايضاً: وشرطها امور سبعة.....وكون الربح بينهما شائعاً فلو عين قدراً فسدت...الخ. (درمختار/٥ / ٦٤٨/ كتاب المضاربة)۔

۱: پیسې به کم نه کم دریو کلونو له پاره جمع کول وي.
۲: دنوي برخه دارنه به کم نه کم لس زره روپۍ قبلیږي او د زیات نه زیات چې څومره جمع کول غواړي جمع کولی یې شي.
۳: د لس زرونه یو کم پنځوس زره باندې به هرکال پنځلس فیصده ګټه ملاویږي. د پنځوس زرونه د تریو کم سل زرو پورې به اوولس نیم فیصده وي او یو لاک یا د دې نه زیاتو باندې به شل فیصده هرکال ملاویږي.
۴: جمع شوې پیسې به د مقررشوي وخت نه مخکې په هیڅ حالت کې نه شي واپس کیدای. پیسې چې کوم نوم باندې جمع شوي وي، د هغه نوم نه به بل نوم ته نه شي بدلیدای. د چاچې مقررشوي وخت ختم شي هغوی د خپلې خوښې مطابق نور وخت هم مقررولی شي.

جواب: د مقرر شوې شرح سره ګټه او مقررشوي وخت له پاره د خلکو نه پیسې اخیستل ناجائز او حرام دي[1]، د قران او سنت مطابق خالص سود دی او جائز یا ثواب ګڼلو سره پیسې جمع کول د دې نه غټه ګناه ده.

نو داسې تجارتي اداره کې پیسې جمع کول نه دي پکار، موږ داسې ادارو باره کې څوڅو څله لیکلي دي چې داسې طریقه باندې پیسې ورکول جائزنه دي دا خه داسې مسئله نه ده چې د دې کې د چا اختلاف وي، بلکې متفقه طورباندې سود دی، خوکه د جهالت او بې خبري له وجې په کې مبتلا شوي یئ او یا مبتلا کیږئ، نو ځینې د پوهې سره د شرعي حکم نه سترګې پټوي.

لس زره روپۍ نغد ورکولو باندې د پنځلس زرو روپیو رسید اخیستل

سوال: زموږ بازارکې یو سړي ته د پیسو ضرورت و. د هغه خپل مارکیټ دی، هغه کې څلور دوکانونه دي او د یو دوکان کرایه پنځه سوه روپۍ میاشت ده، هغه کس ته د بازار یو دوکان دار لس زره روپۍ ورکړې او د هغه نه یې د پنځلس زرو روپیو رسیدونه واخیستل، یعنې دریش رسیدونه د پنځو پنځو سود کرایې، یعنې پنځه زره روپۍ یې زیاتې واخیستلې، اوس به د غه سړی تقریبا اووه میاشتې د دغه دوکانونو کرایه اخلي او پنځلس زره روپۍ به وصول کړي، دلته بازارکې تقریباً ټول دوکاندارن وایي چې دا سود دی، خو دغه سړی وایي چې دا سود نه دی، دغه سړي حج هم کړی دی، او پنځه وخته لمونځ هم کوي.

جواب: چې هغه سړي د لس زرو روپیو په ځای باندې پنځلس زره روپۍ واخیستلې. نو چې دا سود نه دی، نو نور څه دی؟[2]

۱]واحل الله البيع وحرم الربوا. (البقرة: ۲۷۵). الربا هو فضل خال عن عوض بمعيار شرعى مشروط لاحد المتعاقدين فى المعاوضة. (درمختار/۵/۱۷۰/ باب الربا). وفى الهداية: الربا هو الفضل المستحق لاحد المتعاقدين فى المعاوضة الخالى عن عوض شرط فيه. (هداية / ۳/ ۸۰/ باب الربوٰا)۔

۲] باب الربا هو فضل مال بلا عوض فى معاوضة مال بمال أى فضل احد...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

اے ټي آئی (A.T.I) اکاؤنټ کې پیسې جمع کول

سوال: دڅوکلونو راهیسې بینکونویو پروګرام شروع کړی دی، چې دهغه نوم (اے ټي ای، دی، ددې پروګرام مطابق څه مقررشوې پیسې چې هغه دپنځوسونه کمې نه وي، دشپږشپیته میاشتوله پاره جمع کول وي او دهغه نه وروسته به دهمیشه له پاره دهغه پیسوبرابرګټه هره میاشت حاصلیږي، داپروګرام په خلکوکې ډیرزیات مشهوردی، زه دقران او سنت په رڼاکې تاسونه داپوښتنه کول غواړم چې ایا داپروګرام شرعي طورباندې جائزدی؟ ځکه چې ماته هم دې پروګرام کې دشاملیدو ویل شوي و، خواوسه پورې زه دې کې نه یم شامل شوی.

جواب: دا هم سودي پروګرام دی، له دې وجې اجائزنه دی.[۱]

د تجارتي مال له پاره بینک ته سود ورکول

سوال: تجارتي مال دبهرملکونونه دبینک په ذریعه باندې راغوښتل کیږي او دبینک بنیاد په سودباندې دی، مال رالیږونکي چې کله کاغذونه تیارکړي اوخپل بینک کې یې جمع کړي، نودهغه دلته بینک ته رارسیدوکې تقریبا لس اته ورځې لګیږي، ددې ځای بینکونو والاددې لس اته ورځو سوداخلې اوهغه مجبوراً مال راغوښتونکي ورکوي، تاسومهرباني وکړئ اوددې وضاحت وکړئ چې که چیرې دبینک نه په څه طریقه باندې سودواخیستل شي اوهماغه ددې لس اته ورځوپه سودکې ورکړل شي، نوایاداسې کول جائزدي؟

جواب: دسوداخیستلواو ورکولو دواړو ګناه ده، توبه کول پکاردي.[۲]

په یوه اداره یابینک کې پیسې جمع کول کله جائزدي؟

سوال: اخبارونو(ورځپاڼو)اواشتهارونوکې مختلفې کمپنۍ اواداري اشتهارونه ورکوي چې تاسوموږسره سرمایه کاري(پانګونه) وکړئ، څوک دځلورفیصده اوڅوک دپنځه فیصده ګټې ورکولواقرارکوي، ایا داسې ګټه اخیستل جائزدي؟ بینک کې دګټې اوتاوان کې دشراکت والا

بقیه د تیرمخ]... المتجانسین علی الآخر....... الخ. (البحرالرائق/٦/ ١٣٥/ طبع دارالمعرفة/ بیروت).
ایضاً: وهو فی الشرع عبارة عن فضل مال لا یقابله عوض فی معاوضة مال بمال. (فتاویٰ عالمگیري/٣/ ١١٧/ کتاب البیوع/ الباب التاسع، الفصل السادس)۔

[۱] تیرې شوی دواړه حوالې وګورئ)۔

[۲] عن جابر رضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم: آکل الربا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء. (صحیح مسلم/٢ / ٢٧/ باب الربا). عن عبدالله بن حنظلة غسیل الملائکة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: درهم الربا یاکله الرجل وهو یعلم اشد من ستة وثلاثین زنیة. (مجمع الزوائد/ ٤/ ١١٧/ کتاب البیوع/ باب ما جاء فی الربا). وقال تعالي: افلایتوبون الی الله ویستغفرونه والله غفور رحیم. (المائدة: ٧٤)۔

کاته کې حاصله شوې ګټه (این ډي ایف سي) اونیشنل سیونګ پروګرام نه حاصل شوې ګټه جائزده؟ اوزموږ یوازې پیسې لګیدلي دي محنت نه شته.

جواب: ددې دواړوسوالونوجواب باندې پوهیدوله پاره په یواصل باندې ځان پوه کړئ. هغه دا چې کومې پیسې تاسویوکس، کمپنۍ یا ادارې ته کاروبارله پاره ورکوئ، دهغې ګټه تاسوله پاره په دوه شرطونوباندې حلاله ده اوهغه داچې کاروبارشرعي طورباندې جائزوي، که چیرې یوه اداره ستاسو په پیسوباندې ناجائزکاروبارکوي، نودهغې ګټه تاسوله پاره حلاله نه ده. [۱] دویم شرط دادی چې هغې ادارې تاسوسره دګټې تقسیمولوطریقه مقررکړې وي[۲]، که دګټې دفیصدي په ځای تاسوته داصل پیسوپه فیصدي باندې ګټه درکوي، نودا حلاله نه ده، بلکې شرعي طورباندې سود دی[۳] اوس داصول تاسوپه خپلو سوالونو باندې وګورئ!

پراویډنټ فنډ باندې اضافي پیسې اخیستل

سوال: یوملازم په یوه اداره کې کارکوي، دهغه دتنخوا نه چې کومې پیسې کټ کیږي، نود ریټائرډ(تقاعد) کیدونه وروسته اداره هغه پیسوکې څه نورې پیسې شاملې کړي، نوهغه سود دی اوکه نه؟

جواب: که اداره دتنخوا پیسې په زبردستي باندې کټ کوي اوهغو باندې ګټه ورکوي، نو دا سود نه دی اوکه چیرې ملازم یې ورباندې پخپله کټ کوي، نودې باندې منافع اخیستل جائزنه دي، دا سود دی. [۴]

ملازمینوته چې کومې پیسې پراویډنټ فنډ کې د سود په نوم یوځای کړل شوي ملاویږي هغه جائز دي

سوال: زه په پاکستان استیل میلز کې ملازم یم، په پراویډنټ فنډ کې چې کومې پیسې د ادارې د طرف نه ورکول کیږي، هغه سود ګڼلو سره چې ما کوم درخواست په اداره کې جمع کړی وچې ما دې د سود نه بري الذمة شي او زما په پیسو کې دې سود ګډ نه شي، یعنې ما دا

۱] ما حرم فعله حرم طلبه. (شرح المجلة: ۳٤)۔

۲]وشرطها.......کون الربح بینهما شائعاً. (درمختار/ ٥/ ٦٤٨/ کتاب المضاربة/ طبع سعید). ومن شرطها ان یکون الربح بینهما مشاعاً لا یستحق احدهما دراهم مسماة من الربح لان شرط ذٰلک یقطع الشرکة بینهما ولا بد منها کما هی فی عقد الشرکة. (الهدایة/ کتاب المضاربة/ ۳/ ۳٥۸/ طبع شرکت علمیة ملتان)۔

۳]ومن شروطها کون نصیب المضارب من الربح حتی لو شرط له من رأس المال او منه ومن الربح فسدت. (درمختار/ ٥/ ٦٤٨). وفی جمع العلوم الربا شرعاً عبارة عن عقد فاسد ولم یکن فیه زیادة. . . . . الخ. (بحرالرائق/٦/ ۱۲٥/ باب الربا/ طبع دار المعرفة/بیروت لبنان)۔

٤] اوګورئ: کفایت المفتی/ ۸/ ۹٦/)۔

زياتې پيسې سود وګڼلو. ستاسو په "جنګ" اخبار کې شائع شوې فتوا سره راته د صحيح صورت حال علم وشو. تاسو خپله فتوا دوباره ولیکئ چې هغه په اداره کې وړاندې شي

جواب: په پراويډنټ فنډ باندې د مفتي شفيع رحمه الله يو رساله ده په هغه کې يې ليکلي دي چې د ملازمينو نه چې کوم پراويډنټ فنډ کټ کيږي او د ملازمت نه د فارغ کېدو نه وروسته چې د سود په نوم کوم رقم ورکول کيږي هغه شرعا سود نه دی، خو که ملازم يې خپله کټ کړي، نو په هغه باندې چې زياتې کومې پيسې د سود په نوم باندې ملاويږي هغه خو سود نه دی. خو د سود مشابه دی، د دې نه که ځان وساتل وشي، نو غوره به وي. زما دفتوا په ځای دې هغه رساله اخيستلوسره وړاندې شي.

د پراويډنټ فنډ د پيسو نه سودي قرض اخيستل

سوال: موږ په (پي آئی اے) کې ملازمان يو، زموږ د تنخوا نه هره مياشت څه پيسې د پراويډنټ فنډ په نوم باندې کټ کيږي . د دې پيسو په باره کې دا طريقه کار دی چې هر کال چې څومره روپۍ زموږ د تنخوا نه کټ کيږي هغومره پيسې ورسره د کارپوريشن د خپل طرف نه شاملې کړي او بيا په دې دواړو پيسو باندې سود مفرد لګول کيږي و د ملازمت د ورځې نه واخله تر نن پورې په دې کاته کې جمع شوي پيسو باندې هر کال سود مرکب هم لګول کيږي، دا عمل هر کال وي؟. که په څه موقع باندې موږ د کارپوريشن نه قرض اخلو، نو د دې جمع شويو پيسو نه قرض ورکول کيږي او بيا د اصل پيسو سره سود واپس اخيستل کيږي. چې کله موږ ملازمت پريږدو يا ريټائرډ شو، نو دا پيسې به د سود سره موږ ته ملاو شي. ايا دا طريقه کار د قرآن او سنت په رڼا کې صحيح دی؟

جواب: د پراويډنټ فنډ په نوم سره چې کومې پيسې د کارپوريشن له طرف نه ورکول کيږي هغه خو جائز دي، [۱] خو د دې پيسو نه سودي قرض اخيستل او ورکول جائز نه دي. [۲]

پراويډنټ فنډ کې چې کومې اضافي روپۍ شامليږي هغه جائز دي، خو نه استعمال يې غوره دی

سوال: څو مياشتې مخکې مې د پراويډنټ فنډ د روپيو په سلسله کې د يو سوال په جواب کې ستاسو دا ارشاد د نظر نه تير شوی و، ستاسو جواب په جنګ اخبار کې چاپ شوی و، د

---

[۱] قوله: بالتعجيل او بشرطه او بالاستيفاء او بالتمكن يعنى لا يملك الأجرة الا بواحد من هذه الاربعة، والمراد انه لا يستحقها الموجر الا بذلك. (البحرالرائق/ ۷/ ۵۱۱/ كتاب الاجارة/ طبع رشيديه).

[۲] "و احل الله البيع وحرم الربا" (البقرة: ۲۷۵). كل قرض جر نفعاً فهو حرام. (ردالمحتار/ فصل فى القرض/۵/ ۱۶۶/ طبع سعيد).

پراویډنټ فنډ کومې پیسې چې اجرا خپلو ملازمانو ته د ریټائرمنټ نه وروسته ورکوي، ایا دهغو اخیستل او استعمال جائز دی؟ ستاسو جواب جائز دی.

زه په (۳۱) دسمبر (۱۹۹۴ء) کې د ملازمت نه ریټائرډ (متقاعد) شوی یم. کمپنۍ والو ماته زما د پراویډنټ فنډ تفصیل راکړی دی، کوم چې دې خط سره منسلک کوم. د اطلاع له پاره عرض دی چې کومې پیسې دګټې (Interest) په شکل ورکول کیږي هغه زما او د کمپنۍ (Contributions) دواړه کمپنۍ خپلو ملازمانو ته د فائدې رسولو له پاره خپل کاروبار کې لګولو سره حاصل کړې دی او په دې کې زما د برخې روپۍ لیکل شوې دي. که ممکن وي، نو د دې خط په شا باندې مهرباني کولو سره خپل تفصیلي جواب چې ایا په منسلک شوي کاغذ باندې چې د پراویډنټ فنډ کومې روپۍ لیکل شوي د ي دا زه په خپل مصرف کې راوستلی شم او که نه؟

جواب: په انګریزي خو زه عاجز نه پوهیږم، له دې وجې منسلک کړې پرچه خو زما له پاره بیکاره ده، باقي د پراویډنټ فنډ په باره کې مسئله هماغه ده کومه چې ما لیکلې ده چې په دې کې چې کوم اضافي پیسې شاملې شي د هغو اخیستل جائز دي، خو په دې باندې که د سود پیسې شاملې وي، نو غوره داده چې په خپل استعمال کې رانه وستل شي. بلکې چا مستحق ته پرته د ثواب د نیت نه ورکړل شي. [1] واللہ اعلم!

د ټاکل شوې ګټې کاروبار سود دی

سوال: زه ذاتي طورباندې دسود خلاف یم اوداسې ادارې ته نه ځم په کومې کې چې دسود ویره وي زه یوکمپنۍ دووکې پیسې لګولو سره دبرخه دارپه طورباندې شامليدل غواړم، مثلاً تاج کمپنۍ یا قران کمپنۍ داکمپني دقران کریم اودیني کتابونودچاپ کولونیک کارکوي اوښه ګټه هم ورکوي، ددوی شرطونه دادي چې کم نه کم درې کلونوله پاره چې څومره پیسې ستاسوخوښه وي جمع کړئ، د پیسو مطابق هغوی دمختلف شرحې ګټه مقررکړې ده اوهغوی یې درې میاشتې، شپږمیاشتې یاکال وروسته (چې څنګه خوښه وي) حساب سره رالیږي. اوس زه دې باندې نه پوهیږم که چیرې ددوی کاروبار کې پیسې لګولوسره شراکت وکړم اوڅه مقررشوې شرح باندې (کوم چې هغوی پخپله باندې مقررکړې ده) ګټه اخلم. نوداکاروباربه سودي وي یاشرعي لحاظ سره به دغه ګټه اخیستل جائزوي؟زمایقین دی چې تاسوبه دې کمپنیونه خبریږئ اودې معامله کې به ماته صحیح لاره وښیئ.

---

[1]]والحاصل: انه ان علم ارباب الاموال وجب رده علیهم والا فان علم عین الحرام لایحل له ویتصدق به بنیة صاحبه. (شامي/۵/۹۹/ طبع سعید). ویتصدق بلا نیة الثواب وینوی به براء ة الذمة. (قواعد الفقه/ ۱۱۵).

جواب: کومې کمپنۍ چې مقرره شوې ګټه ورکوي، نو دغه ګټه سود دی[1] دتاج کمپنۍ طریقه کار ما کتلی دی، داخالص دسود کاروبار دی.

د لوټو نو هارا غوستونکي ته د هغه په بدله کې زياتې پيسې ورکول

سوال: زموږ معاشره دواده په نورو رسمونوکې یورسم داهم دی چې د اوښې په واده کې اوښې خپل اوښي ته دلوټو څیره (هار) اچوي اوبیا د واده نه وروسته دواده دهلک پلار دهغې څیرې (هار) په بدله کې دوه چنده پیسې ورکوي، یعنې که چیرې اوښي ورته دپنځوسوو څیره (هار) ورکړي، نو بیاهغه ته زرروپۍ ورکوي اوخلک ددوچنده پیسوپه لالچ کې ګران هاراخلي.
تاسوته خواست دی چې ددې سوال جواب دقران اوحدیث په رڼا کې راکړئ چې داډبل پیسې ورکول جائزې دي اوکه نه؟دې کې به ګناهګاراخیستونکی یاورکونکی وي یادواړه به برابروي؟

جواب: داخوبالکل سودي کاروبار دی اودې کې ډیرې بدي دي.

په ريزګاري کې قرض جائز نه دی

سوال: ایا د ریزګاري ادا کول په یو مجلس کې ضروري دي؟ مثلاً: ریزګاري ورکونکي سړی د سلو روپیو نوټ خو واخیست، خو ریزګاري یې په دویمه ورځ ادا کړه، نو ایا دا صحیح ده؟
جواب: دا شرعا صحیح نه ده، سل روپۍ دې هغه سره امانت پریږدي، چې کله ریزګاري راشي، نو بیا دې معامله وکړي. [2]

د پيسو، پيسو سره بدلول

سوال: ایا دپیسو، پیسوسره بدلول جائزدي اوکه ناجائز؟ اوکه چیرې جائزدي، نو ایا اخیستونکی دهغو په بدله کې پیسې په دویمه ورځ باندې ورکولی شي یاضروري ده چې هماغه وخت کې ورکړل شي؟ اوکه چیرې هغه وخت کې ورکول ضروري دي اوهغه وخت کې چا سره نه وي، نو یادابه حرام وي اوکه حلال؟ مهرباني وکړئ دقران اوحدیث په رڼاکې جواب راکړئ!
جواب: دپیسوبدلون دپیسوسره جائزدی، خودواړوطرفوته دپیسو برابرجائزده، کمښت زیادت نه دی پکار اوددواړوطرفونه معامله نغد پکارده، قرض هم جائزنه دی. [3]

---

[1] ومنها ان يكون نصيب المضارب من الربح معلوما على وجه لا تنقطع به الشركة فى الربح كذا فى المحيط، فان قال على ان لک من الربح مائة درهم او شرط مع النصف او الثلث عشرة دراهم لا تصح المضاربة كذا فى محيط السرخسى. (عالمگيري/ ٤/ ٢٨٧/ كتاب المضاربة/ طبع رشيديه كوئته)۔

[2] قوله وحرم الفضل والنساء بهما أى بالقدروالجنس لوجودالعلة بتمامها(البحرالرائق/٦/ ١٣٩/باب الربوا).

[3] فان وجدا حرم الفضل اى الزيادة و النساء.(الدرالمختار/ كتاب البيوع/ باب الربا/ ٥/ ١٧٢/ طبع سعيد)

سوال: که چیرې چاسره پیسې نه وي، نوداسې څه صورت شته چې د هغه له وجې پیسې اوس واخلي او دهغه بدله کې پیسې بیا وروسته ورکړي.

جواب: پیسې دې قرض واخلي اوبیادې وروسته قرض ورکړي.[۱]

بینک کې پیسې جمع کول جائزدي

سوال: بینک کې پیسې جمع کول څنګه دي؟ که چیرې صحیح دي، نودسودخطره خوبه نه وي؟ کوم زکات چې حکومت کټ کوي، شرعي طورباندې هغه اداکیږي اوکه نه؟

جواب: بینک کې پیسې جمع کولوکې دسودخطره خویقیني ده، خودې زمانه کې د ډیرو پیسو حفاظت دبینک نه پرته نه شي کیدای، ددې مجبوري له وجې جمع کول جائزدي[۲] اوکه چیرې لاکرکې پیسې جمع شي، نوداډیره ښه خبره ده.

موټربینک باندې اخیستل اوپه کټه خرڅول جائزدي

سوال: الف ددیریش زرو روپیو موټر اخیستل غواړي، دیریش زره روپۍ هغه سره نه شته، دموټر دقیمت بیل جوړلونه وروسته الف بینک ته لاړشي، بینک په دیریش زره روپۍ باندې موټر واخلي اوپنځه زره روپۍ کټه یعنې پنځه دیریش زره روپۍ باندې یې په الف باندې خرڅ کړي، الف دموټر قیمت پنځه دیریش زره روپۍ په قسطونوباندې جمع کوي، یعنې پنځه زره روپۍ ایډوانس ورکولو سره الف موټر خپله قبضه کې واخیست. پاتې دیریش زره روپۍ په لس قسطونو کې درې زره روپۍ میاشت اداکوي، ایا دې صورت کې به پنځه زره روپۍ دبینک له پاره سودوي اوکه نه؟ داسې کاروبارکول شرعي طورباندې جائزدي اوکه نه؟ مهرباني وکړئ اوتفصیل سره جواب راکړئ!

جواب: ددې معاملې دوه صورتونه کیدای شي:

لومړی: دادی چې بینک دیریش زره روپۍ باندې موټر واخلي اوپنځه دیریش زره باندې یې خرڅ کړي، یعنې کمپنۍ سره سودابینک وکړي اوموټر اخیستونه وروسته په هغه کس باندې خرڅ کړي، دا صورت خوجائزدی.

دویم: دادی چې موټرخوالف واخیست اودموټر قیمت اداکولوله پاره یې دبینک نه قرض واخیست، بینک دیریش زور باندې پنځه زره روپۍ سود ولګاواوهغه ته یې قرض ورکړ، دا صورت ناجائز دی[۳] تاسوچې کوم صورت لیکلی دی هغه دې دویم صورت سره یوشان دی،

۱] ویجوز القرض فی الفلوس لأنها من العددیات المتقاربة کالجوز والبیض. (بدائع/ ۳/۳۹۵/ طبع سعید).

۲] الضرورات تبیح المحظورات. (الأشباه والنظائر/ ۱/ ۸۵/ طبع ادارة القرآن)۔

۳]کل قرض جر منفعة فهو ربا. (ردالمحتار/ ۵/ ۱۶۶/ مطلب کل قرض جر نفعا حرام)۔

له دې وجې جائز نه دی

د بینک په ذریعه باندې د بهر نه مال راغوښتل

سوال: د بهرنه مال راغوښتلو په صورت کې د بینک په ذریعه باندې کار کول وي. هغه کې د لته بینک کې (ایل سي) خلاصول پکار وي، هغه کې د مال د قیمت څه برخه هم هغه وخت کې ادا کول وي، پیسې بینک پخپله اداکوي، کومې پیسې چې بینک ورکوي. بینک هغو باندې سود اخلي، شرعي طورباندې د دې څه جواز شته؟

جواب: د دې سوال جواب معلومولو له پاره داکتل ضروري دي چې د بینک حیثیت څه دی؟ ایا هغه د مال راغوښتلونکو له پاره دوکیل په حیثت باندې مال راغواړي. یاپخپله داخیستونکي په حیثیت باندې مال را وغواړي اوبیایې هغوی ته ورکوي؟ سوال کې ذکرشوي دي چې پاتې پیسې بینک پخپله اداکوي، د دې نه معلومیږي چې بینک د غه شی پخپله داخیستونکي په حیثیت باندې راغوړي اوهغه باندې ګټه اخیستو سره هغه سړي باندې خرڅوي، که چیرې داصورت وي، نوداشرعي طورباندې جائزدی[1] د نورو عالمانو نه هم د دې پوښتنه وکړئ.

که د بهرپه بینکونو کې اکاونټ وي، نو ایا د هغوی نه سود اخیستل پکار دي؟

سوال: د بهر په بینکونو کې په ډالر اکاونټ کې زموږ پیسې پرتې دي. په هغه باندې (۴) یا (۵) فیصده سود ملاویږي، دا سود د بینک نه اخیستل پکار دي اوکه نه؟ تاسو موږ ته تفصیلي جواب راکړئ، که جواب په اخیستلو کې وي، نو د دې استعمال کوم ځای کول پکار دي؟

جواب: سود اخیستل خو حرام دي، خو که دا خیال وي چې هغوی به دا د بینک پیسې په اسلام ضد وسائلو باندې خرچ کوي، نو د بینک نه راویستلو سره د یو محتاج ته پرته د صدقې د نیت ورکړل شي.[2]

که چا ته په تنخوا اخیستو کې ویره محسوسه شي نو ایا د بینک په ذریعه یې اخیستی شي؟

سوال: په نن سبا حالاتو کې زیاتې پیسې د یو ځای نه بل ځای ته وړل د خطرې نه خالي نه دي.

---

[1] المرابحة نقل ما ملكه بالعقد الاول بالثمن الاول مع زيادة ربح. . . . . والبيعان جائز ان لاستجماع شرائط الجواز والحاجة ماسة. . . . الخ. (هداية/ كتاب البيوع/ باب المرابحة والتولية/ ۳۷/۳).

[2] لان سبيل الخبيث التصدق اذا تعذر الرد على صاحبه. (ردالمحتار/ ۶/ ۳۸۵/ كتاب الحظر والاباحة/ فصل فى البيع). ويتصدق بلانية الثواب وينوى به براء ة الذمة. (قواعد الفقه/ ۱۱۵/ طبع صدف پبلشرز كراچى).

که د یو سړي تنخوا دومره زیاته وي چې د هغه د وړلو راوړلو په وخت ورته ویره محسوسه شي، نو ایا په داسې صورت کې هغه پیسې د بینک په ذریعه حاصلولی شي؟

جواب: د بینک په ذریعه پیسې اخیستل صحیح دي

ایا د غیر مسلمو نه سود اخیستل جائز دي

سوال: زموږ د امام صاحب وینا ده چې د غیر مسلمو نه سود اخیستل صحیح دي. ځکه چې که د هغوی نه دا پیسې وانخیستل شي، نو هغه یو غیر مسلم ته مالي لحاظ سره د مستحکم کیدو وجه جوړیږي، په دې سلسله کې د جناب عالي څه رایه ده؟

جواب: ستاسو د امام صاحب مسئله به هغوی ته معلومه وي، ما ته نه ده معلومه والله اعلم!

د یو ملک پیسې د بل ملک په پیسو بدلول

سوال: اکثر موږ د ملک پیسې (ډالر یا ریال) واخلو او د هغه په بدله کې د بل ملک پیسې (روپۍ) وغیره ورکوو، نو ایا د دې صورت کې هماغه وخت ورکول ضروري دي او که نه؟ که وي، نو د جائز صورت څه کیدای شي؟

جواب: دا معامله په نغدو ضروري ده.

❖ له بینک او داسې نورو ادارو نه سود اخیستل او ورکول ❖

....

د سود حلال ګرځولو باره کې په نام نهاد جدد انه کوشش باندې علمي بحث

سوال: لندن کې یو عیسایي دوست مشوره راکړه چې زه د مسلمانانو په علاقه کې د شرابو یو دوکان خلاص کړم او د هغه نوم مسلم وائن شاپ کیږدم، زه څه وخت له پاره حیران پاتې شوم. خو زر مې هغه ته وویل چې وروره! ما له پاره د شرابو کاروبار کول حرام دی او دې نه پرته ته ما باندې د هغه دوکان نوم مسلم وائن شاپ (د شرابو اسلامي دوکان) ږدې، عیسایي دوست مې طنز سره وویل، که چیرې د سود کاروبار کیدای شي او هغه هم د مسلم کمرشل بینک په نوم باندې، نو دا هم کیدای شي، هغه دوست زه لاجوابه کړم.

دا د یو مسلمان د خط څه برخه ده، کوم چې د اخبار جهان په یوه رساله کې چاپ شوی و. هغه عیسایي ملګري چې د مسلمان په زړه باندې د طنز کوم خنجر خښ کړی و. د هغه سوځیدل به د هر حس لرونکي مسلمان په زړه کې محسوسیږي، خو څه وکړو زموږ بدعملي نه یوازې عقل او پوهه، بلکې د ملک غیرت او حمیت او احساس نور هم خراب کړی دی، د مړکیدو مقام دی چې یو عیسایي، مسلمانانو ته دا فقره د طنز په طور باندې وایي چې د اسلامي بینک په نوم

باندې دسود دوکان خلاصیدای شي، نو داسلامي شراب خانې په نوم باندې دشرابو دوکان ولې نه شي خلاصیدای؟ خو زموږ ددور تعلیم یافته مجتهدین دې باندې دشرمیدو په ځای باندې غیرت سره دسود دحلال کیدو فتوا ورکوي، پاکستان کې وخت په وخت د سود د جواز باره کې تحقیقات کیږي ، کله د یونیورسټیو دانشوران دسود دله پاره څه لار ګوري. نو کله چیرته جج صاحب دسود په قسمونو باندې بحث کوي اوبوخاص قسمه سود جائز ګڼي. د ستاسو دې تحقیقاتو باره کې د یو مفتي او محدث په حیثیت باندې څه خیال دی؟

جواب: تقریبا دسلو کلونو راهیسې کله نه چې په غلام هندوستان باندې دسرمایه داري نظام مسلط شوی دی، زموږ مجتهدین سود په اسلامي سود کې دبدلولو له پاره بې قراره دي او کله ناکله هغوی داسې دخندا دلیلونه وړاندې کړي چې د هغو لوستلو سره داقبال مرحوم دا مصرعه

تم تو وه هو جنهين ديكهـ كے شرمائے يهود!

زما یادشي چې دایوب خان په دورکې جناب ډاکټرفضل الرحمٰن صاحب د سوداسلامي کولو مهم شروع کړی و، چې دهغه نحوست دا شو چې د ډاکټرفضل الرحمٰن صاحب دخپلې تجدد دفلسفې سره دایوب خان اقتدار هم ختم کړ.

اوس نوې حکومت داسلام دمعاشیاتو دنظام طرف ته دتلو اراده کړې ده، اوس دې طرف ته قدم نه و وچت شوی، چې زموږ تعلیم یافته مجتهدینو له طرف نه ,,الامان والحفیظ. . اوازونه شروع شول ددې حضراتو په نزد باندې که چیرې دانګریزانو دکفر نظام مسلط وي. نو هیڅ بده خبره په کې نه شته، دمغرب سرمایه دارانه نظام که دغریب وینې څښي اودهغوی ژوندنه عذاب جوړوي، نو هیڅ پرواه نه شته، دکمیونسټو نظام انسان دڅناورو په صف کې دروي، نو هیڅ بده خبره نه شته، خو داسلام دانصاف نظام که چیرې څوک نوم واخلي، نو دخطرو یو غټ ځنګل دهغوی مخې ته دریږي، لکه چې دهغوی دذهن معده هریو ګند او فساد قبلولی شي، خو که نه یې شي قبلولی، نو بس داسلام انا لله وانا الیه راجعون.

دې موضوع باندې یو ښوورځې مخکې دعالي جناب جسټس (ریټائرډ، قاضي متقاعد) قدیرالدین صاحب یو مضمون په دوه قسطونو کې د (ربا قطعي حرام هے) په نوم باندې دکراچۍ په جنګ اخبار کې چاپ شوی و، پته نه شته چې دجناب جسټس داسلام باره کې مطالعه دکوم حد پورې ده؟ او هغه داوسنې دور کوم اجتهادي مکتب فکر سره تعلق لري؟ او موصوف ته پخپله باندې داجتهاد باندې دسرفرازي شرف کله حاصل شوی دی؟ خو زموږ مجتهدین چې خپله دعوه کومو دلیلو سره دوړاندې کولو کوشش کوي، افسوس چې دموصوف داستدلالونو معیار دهغه نه څه اوچت نه دی، بلکې دې مضمون کې دعلم اوپوهې هغه ټولې غلطې موجود دي، کوم چې زموږ دنوې مجتهدینو نښه ده.

دهغوی تحریر لوستلو سره لوستونکې ته دټولونه کوم غټ مشکل دی هغه دادی چې: ربا قطعي حرام هے: عنوان ورکولو سره جسټس صاحب اخر څه ویل غواړي؟ کله هغوی دا

فرمايي چې زموږ په ژبه کې کوم شي ته سودويل کيږي هغه ربا نه ده. کله دا وايي چې د بينکونو سودته داوسني دورځينې عالمانو حلال اوجائز ويلي دي. کله دسودحرمت تسليم کولو سره دضرورت نظريه ايجاد کوي اوکله داوعظ فرمايي که چيرې مسلمانانو سود پريښودلو غلطي وکړه، نوخداى دې نه کړي چيرته زموږ معيشت تپ نه شي. اوداسې نور.

يوجستس چې هغه څوڅوکلونوپورې دعدالت په اوچته کرسي باندې ناست پاتې شوى وي. چې دهغه ټول عمرماشاء الله د انګريزانو په قانون کې تيرشوى وي اوپه رښتيا اودروغوکې فرق کول دهغه يوه خوبې جوړه شوې وي، ايا دهغه نه دداسې پريشان حالي توقع کيداى شي؟

جستس (قاضي) صاحب دامخکې دښکاره طورباندې ويل پکار و چې هغوى دبينک سود حرام ګڼي که حلال اوپاک؟ که چيرې يې حرام ګڼي، نودهغه داټوله کيسه بکواس کيږي. چې دسود فلانې فلانکې قسمونه. . . . معاذالله. حلال هم ګڼل شوي دي، دې صورت کې دهغه فرض دا و چې موږ ته يې ويلي و چې هغه کوم کوم اضطراري حالتونه دي چې دهغه له وجې هغه دبينک دې حرام خوري ته رخصت ورکوي اوکه چيرې هغه دبينک سودحلال اوپاک ګڼي. نودهغه دضرورت نظرې اورخصت بحث بالکل فضول اوبکواس جوړيږي، دې صورت کې هغه ته ويل پکارو، چې دقران اوسنت هغه کوم کوم دليلونه دي چې دهغو له وجې دبينک دسود تقدس ثابتيږي، اخرددنياکوم عقل لرونکي دي چې هغه ديوپاک اوحلال شي جواز ثابتولوله پاره د اضطرار بحث کوي؟

خلاصه داده چې موصوف مضمون لوستونکي ته په دې باندې پوهيدل ګران شي چې دهغه دعوه څه ده اوهغه څه ثابتول غواړي؟ دغه شان دهغه ټول ديوشک منې دعوې په ثابتولوکې دفکري انتشاريوه نمونه جوړه شوه.

دعوې نه وروسته که په دليلونوباندې نظروکړئ، نوهغه کې هم دافسوس ناک حدپورې غلطي ښکاري، دټولونه مخکې هغه دمقصدکلام په نوم باندې درخصت بحث چيړلى دى او دغه دوران کې هغه دې حدپورې ليکلي دي:

ددين غټوغټوعالمانوته هم ددې حقيقت پته لګيدلې ده اودربايعنې سودپه معامله کې مجبوري، بلکې خاص حالاتوکې رخصت يااجازه تسليموي.

د جستس (قاضي) صاحب دافقره زما له پاره ديوې دريافت حيثيت لري ماته پته نه شته چې هغه کوم غټ غټ عالمان دي چې هغوى خاص حالاتوکې دسوداخيستلوفتوا جاري کړې ده. که جستس (قاضي) صاحب دغه وخت کې دهغه عالمانويوه دوه فتوا وغيره هم نقل کړې واى، نونه به يوازې زموږ په معلوماتوکې اضافه شوې وه، بلکې دهغوى داخطرناکه دعوه به هم يوازې دعوه نه وه پاتې شوې.

د رخصت بحث

درخصت او اضطرار په بحث کې چې زبانزد جج صاحب (متقاعد قاضي) څه لیکلي دي. هغه ته یو نظر کتلو نه وروسته دا معلومیږي چې موصوف، خونه د اضطرار او د رخصت د حقیقت نه خبر دی او نه د رخصت مدارج او نه د هغه جدا جدا حکمونه هغه ته معلوم دي او نه دي له باره هغه د فقهي او اصول ابتدايي کتابونو کتلو زحمت کړی دی. هغه له کوم ځای نه اوریدلي دي چې د مجبوري په حالت کې د حرام خوړلو اجازه هم شته، دې نه وروسته د سود خوړلو د مجبوري تول کیسه هغه پخپله لیکلې ده

د اسلام په نظر کې سود خوړل څومره خطرناک، اخلاقي معاشرتي او معاشي جرم دی، د دې اندازه د دې حقیقت نه کیدای شي چې د زنا او قتل په شان کارونو باندې هم دومره سخته سزانه ده اوروله شوې کومه چې سود خوړلو باندې اوروله شوې ده، قران کریم کې مسلمانانو ته خطاب کې ویل شوي دي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَذَرُوا۟ مَا بَقِىَ مِنَ ٱلرِّبَوٰٓا۟ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٧٨﴾ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا۟ فَأْذَنُوا۟ بِحَرْبٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ﴾ (سوره البقره ۲۷۸، ۲۷۹)

ترجمه: اې د ایمان خاوندانو! د الله تعالی نه ویریږئ او د سود کومه بقایا چې پاتې ده. هغه بالکل پریږدئ، که چیرې تاسو مسلمانان یئ! او که چیرې تاسو داسې نه کوئ. نو د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ له طرف نه د جنګ اعلان واورئ!

د ټولونه بدتر ګناهونه خپلې مخې ته کړئ او وګورئ چې چیرته یو ګناه ګار ته د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ له طرف نه د جنګ اعلان شوی دی؟ او بیا د سوچ وکړئ چې د کوم کم بخت خلاف چې الله تعالی او د هغه رسول ﷺ د جنګ میدان ته راشي د هغه د مقابلې به څه حشروي؟ هغه به د الله تعالی د عذاب د کوړونه څوک بچ کړل شي؟ او داسې بدترین مجرم کوم چې الله تعالی او د هغه رسول ﷺ سره جنګ کوي، کوم عقل مند، د رخصت اصول، اجازه ورکولی شي؟

د لته دا خبره هم یاد ساتل پکار دي چې کوم کس انفرادي ډول باندې د سود خوړلو ګناه کوي هغه انفرادي ډول باندې د الله تعالی او د هغه رسول ﷺ خلاف د جنګ میدان کې دی او که چیرې دا جرم د انفرادي حیثیت نه وځي او اجتماعي جرم جوړشي او مجموعي ډول باندې ټول معاشره په دې جرم کې مبتلا شي. نو د الله تعالی د عذاب کوړه به ټولې معاشره باندې راغورځیږي او د دنیا یو داسې بهادر انسان به هم نه وي چې هغه د دې جرم کیدو باوجود دا معاشره د الله تعالی د عذاب نه بچ کړي

دا بدنصیبه ملک د شروع نه د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ خلاف جنګ ډیرې بهادرۍ سره کوي، د ه باندې د څلورو طرفونه د الله تعالی د قهر او عذاب کوړې راغورځیږي.

(فصب عليهم ربک سوط عذاب) منظرنن هم هريوكس په غرېدلوسترګوباندې ګوري.
ملک داويا اربه روپيوقرضدار شوى دى، لس كم سل زره ځوانان دذليلو هندوانوقيديان جوړشوي دي، دزړونوسكون ختم شوى دى، دشپې خوبونه ختم شوي دي، دهرشي دموجودګي باوجود ډوډى، ډوډى اوازونه له هرطرف نه راځي، خوهاى حسرت اوبدبختي چې اوس هم موږ عبرت نه اخلو، بلكې زموږ اوسنى مجتهدصاحب درخصت اجازه وركوي اودحالاتو ژړاكولوسره دسودحلال ثابتولو له پاره دخپل ذهن نه خبرې دريافت كوي قران كريم الله تعالى او رسول ﷺ سره صلح كول سودپريښودل سره شرط لګوي اوكوم خلک چې دسود پريښودلو اعلان نه كوي،هغه بالكل مسلمان نه ګڼي، خو محترم جسټس (قاضي) صاحب فرمايي چې سودهم خوره، مسلمان هم اوسيږه دسود لين دين ښه كوه اودجنګ په ميدان كې د الله تعالى دعذاب د ايټم بم نه دحفاظت له پاره درخصت اصول دجسټس (قاضي) صاحب نه واخلئ.
جسټس (قاضي) صاحب دا وفرمايئ چې دسودخورخلاف قران كريم دجنګ اعلان كړى دى. دقران كريم هغه كوم يوايت دى، چې هغه كې ويل شوي چې دهغوى پخپله جوړې شوې مجبوريو كې سودسره دالله تعالى اودهغه رسول ﷺ صلح كيداى شي اود حالاتوبانې جوړولوسره الله تعالى اودهغه رسول ﷺ دجنګ دميدان نه واپس كيداى شي؟ هغوى ته دالف. ب، ج د غلطو حوالو وركولوپه ځاى باندې دقران كريم په حواله باندې بيان كول پكار و، چې د جنګ ددې اعلان نه فلانكي فلانكي صورتونه مستثنى دي جسټس (قاضي) صاحب ته داپته لګيدل پكاردي چې سود خور د قرآن په نزدباندې الله تعالى اودهغه رسول ﷺ سره جنګ كوي، كه هغه دامريكې اوسيدونكى وي اوكه دپاكستان، دهغه صلح الله تعالى اودهغه رسول ﷺ سره نه شي كيداى، ترڅوپورې چې هغه ددې بدترين جرم نه توبه نه وي كړې.
ستاسوپه يوازې دنوم حدپورې رخصت هغوى دالله تعالى دعذاب نه شي بچ كولى.
دقران كريم نه وروسته دحضور ﷺ حديث ولولئ حضور ﷺ نه يوازې سودخوړلواو خوړونكي باندې لعنت فرمايلى دى، بلكې ددې په ګواه اوليكونكي باندې هم لعنت فرمايلى او بد دعايې هم ورته كړې ده اوهغوى يې دالله تعالى ددربارګناه ګارښودلي دي يوحديث كې دي:

عن علي رضي الله عنه انه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم لعن اكل الربا وموكله وكاتبه.
(مشكوة شريف ص۲٤۶)

يوبل حديث كې دي چې: **عن عبدالله بن حنظلة غسيل الملائكة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: درهم ربا ياكله الرجل وهو يعلم اشد من ستة وثلاثين زنية.** (مشكوة ص ۲٤۶)

ترجمه: دسود يوه روپۍ خوړل دشپږديرش ځله زنا كولونه هم بدتردي.

اويوبل حديث كې دي: **عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الرباسبعون جزء ايسرهاان ينكح الرجل امه.** (مشكوة ص ۲٤۶)

ترجمه د سود اویا درجې دي او د ټولو نه کمه درجه داده چې یو کس خپلې مور سره بدنام شي.
جسټس (قاضي) صاحب فرمايي! چې د دنيا يو عقل لرونکي کس د مجبوري په بانه باندې لعنت اخيستو، شپږديرش څله زنا کولو او خپلې مور سره بدناميدلو له پاره رخصت ورکولی شي؟ جسټس (قاضي) صاحب ته پته نه شته چې مجبوري څه ته ويل کيږي؟ او د کومې مجبوري له وجې چې د مردارې خوړلو اجازه ورکړل شوې ده. ايا هغه شان مجبوري د پاکستان دیو کس هم شته؟
د دنياتو يو معمولي طالب علم ته هم پته شته چې کومې مجبوري کې د مردارې خوړلو اجازه ورکړل شوې ده، هغه داده چې يو کس د خوورخوراهيسې د لوږې له وجې مرګ ته نزدې شوی وي او هغه ته د الله تعالی په ځمکه باندې څه پاک شی نه ملاويږي چې د هغه له وجې د هغه د تن او بدن رشته قائمه پاتې شي، نو هغه له پاره ډير معمولي مقدار کې حرام شي خوړلو او د خپل ځان بچ کولو اجازه شته، او دې کې قران کريم د (غير باغ و لا عاد) سخت شرط لګولی دی.
دادي هغه د ضرورت اصول، کوم چې جسټس (قاضي) صاحب په ازاد اجتهاد کروړپتيانو له پاره هم صحيح ثابتول غواړي، جسټس (قاضي) صاحب ووايئ چې پاکستاني سودخورو کې څوک داسې دي چې هغه باندې درې ورځې لوږه تيره شوې وي او د ځان بچ کولو له پاره ورته ګيا او ترکاري وغيره موجود نه وي.

د شرکت کاروبار کونکي بينک کې پيسې جمع کول

سوال: د لته بينک کې داسې پيسې هم جمع کيږي کومې چې بينک په تجارت کې لګوي او ښايي هم چې فلانکي تجارت کې مو پيسې لګولي دي او پيسې جمع په ګټه او تاوان دواړو کې شريک ګڼي، که چيرې نقصان وشي، نو د پيسو نه يې پيسې کټ کړي او که ګټه وشي، نو ګټه ورکوي، ايا دا ګټه اخيستل جائز ده او دا د شراکت په حکم کې داخل دی؟
جواب: که چيرې د غه پيسې د شراکت په صحيح اصولو باندې په تجارت کې ولګول شي، نو جائز ده[1] او که يوازې يې نوم وي، نو د نوم بدليدو سره حکمونه نه بدليږي.

د سود نه پرته بينک کې کيښودل شوې پيسې حلالې دي

سوال: بينک کې زموږ په پيسو باندې چې کوم سود ملاويږي که چيرې هغه موږ جدا کړو او غريبانانو او ضرورت مندو ته يې د صدقې يا زکات په نيت نه ، بلکې يوازې د سود د پيسو نه د خلاصي موندلو له پاره ورکړو، نو زموږ کومې پيسې چې بينک کې دي، هغه حلالې دي او که نه؟ يعنې پيسې د سود د شرکت نه صفا شوې او که نه؟

---

[1] او من شرطها ان يكون الربح بينهما مشاعاً لايستحق احدهما منه دراهم مسماة لأن شرط ذلك يقطع الشركة. (هداية /۳/ ۲۵۸/كتاب المضاربة)_

جواب: داطريقه صحيح ده، پاتې پيسې تاسوله پاره حلالې دي.

مقررشوې روپۍ، د مقرر وخت له پاره کمپنۍ ته ورکول او ټاکل شوې ګټه اخيستل

سوال: که چيرې يوه اداره څه پيسې، مقررشوي وخت له پاره دقرض په ډول واخلي اوهرکال دګټې په ډول ټاکل شوې ګټه ورکوي، ترڅوپورې چې هغوی پيسې واپس نه کړي. اوس تاسودقران اوسنت په رڼاکې بيان کړئ چې داګټه په حقيقت کې ګټه ده اوکه سود دی؟ ځينې حضرات دې ته سودوايي اوځينې حضرات ورته ګټه وايي، مهرباني وکړئ ددې حل راته بيان کړئ.

جواب: شرعي ډول باندې داسود دی[1] اوددې نه پرېښودونکي ته دالله تعالی له طرف نه دجنګ اعلان دی[2]، مسلمانانوته ددې نه توبه کول پکاردي اوکوموخلکو چې داسې اداروکې پيسې جمع کړي وي، هغوی ته خپلې پيسې واپس اخيستل پکاردي.

که زه د ګريجويټي پيسې اخيستو سره په بېنک کې کېښودو سره سود واخلم ځکه چې ګورنمنټ هم سود ورکوي؟

سوال: حکومت زما د اصلي تنخوا (۳۵۱۴) روپيو نه (۲۴۴۹) روپۍ اخيستو سره پاتې پيسې د مياشتې پنشن راکوي، د قوانينو مطابق اخيستل شوې د پنشن نه مبلغ (۳۳۲۲۱۲) روپۍ په يو ځل ګريجويټي ادا کيږي، که زه نوره نوکري کوم، نو زما ګريجويټي به د حکومت سره وي او حکومت به په دې پيسو سره په سودي کاروبار کې برخه اخلي او که زه هم دا پيسې (ګريجويټي) په بېنک کې په خپله خوښه جمع کړم، نو ماته به (۴۴۵۵) روپۍ مياشتنی سود هم ملاويږي او پيسې به هم محفوظې وي او د قوانينو مطابق که زه نوره نوکري کوم، نو د عمر د زياتيدو په نتيجه کې به ماته هر کال مبلغ (۱۲۳/۹۹) روپۍ نقصان کيږي. که زه خپل نقصان برداشت کړم او ريټائرمنټ وانخلم، نو زما په پيسو باندې چې کوم سودي کاروبار کوي د هغه ګناه به په ما باندې وي که په حکومت باندې؟

جواب: د حکومت د عمل وبال به په تاسو باندې نه وي، که تاسو دا پيسې په سود باندې ورکړئ، نو ګناه به وي او د سود پيسې به حرامې وي. [3]

---

[1] كل قرض جر نفعاً فهو حرام. (ردالمحتار/ ٥/ ١٦٦/ فصل فى القرض/ طبع سعيد).

[2] يايها الذين آمنوا اتقوالله وذروا ما بقى من الربوا ان كنتم مؤمنين. فان لم تفعلوا فاذنوا بحرب من الله ورسوله". (البقرة/٢٧٨، ٢٧٩).

[3] كل قرض جر منفعة فهو وجه من وجوه الربا. (تكملة فتح الملهم/١ / ٥٧٥). كل قرض جر نفعاً فهو حرام. (ردالمحتار/ ٥/ ١٦٦/ فصل فى القرض/ طبع سعيد).

د کټې په مقرر شوې شرح باندې پیسې ورکول

سوال: زه د دوو کلونو راهیسې په سعودي عرب کې نوکریم، ښه کافي امدن مې ده اودې کال د چوټیانو په دوران کې مې دوه لکه روپۍ په قومي بچت کې جمع کړې اودهغو دکټې شرح کال کې پنځلس فیصده ده، دقران اوسنت په رڼاکې بیان کړئ چې دا کاروبار صحیح دی؟ اود نوکري په دوران کې زه بل څه کارنه شم کولی.

جواب: په مقررشوې شرح باندې پیسې ورکول سود دی، داپه هیڅ صورت باندې هم حلالې نه دي، تاسو خپلې پیسې په څه داسې اداره کې ولګوئ کومه چې جائزکاروبارکوي اوحاصله شوې ګټه تقسیموي. [۱]

د زرضمانت په پیسو(پیشکي) باندې سود اخیستل

سوال: زماملازمت په نغدوپیسوباندې دکارکولودی، دهغه له پاره نغد ضمانت دوه زره روپۍ جمع کول وي، دغه دوه زره روپۍ باندې موږ ته هرکال دوه سوه روپۍ ګټه ملاویږي دغه ګټه جائزده اوکه ناجائز؟ داخبره هم دیادساتلوده چې ترڅوپورې زه نوکریم زماپیسې به دبینک په قبضه کې وي ورکونکي په پیسوورکولوباندې مجبوردی او اخیستونکي یعنې قرض داریه قرض اخیستلو باندې مجبورنه دی، که چیرې همدغه پیسې زه کاروبارکې ولګوم، نوماته ددې نه ډیره ګټه ملاویږي، خوداسې کولونه مجبوریم، ځکه چې پیسې واپس نه شم اخیستلی.

جواب: ذکرشوي صورت کې دغه پیسې اخیستل سود دي اوددې اخیستل حرام دي هرهغه ګټه کومه چې پیسوباندې هسې ورکړل شي هغه سود دی[۲] دفقهي مشهوراصل دی. هرهغه قرض چې هغه باندې څه ګټه حاصله شي، نوهغه ګټه نه سود دی[۳]نوذکرشوې ګټه سود ده اوحرامه ده.

یادساتل پکاردي چې بینک کې کومې پیسې کیښودل شي که هغه خپله خوښه باندې وي اومجبوري سره وي، دبینک له طرف نه هغه باندې مقرر شوې شرح سره ګټه ورکول کیږي او

۱] ومن شرطها ان یکون الربح بینهما مشاعاً لایستحق احدهما منه دراهم مسماة لأن شرط ذلک یقطع الشرکة بینهما ولا بد منها کما هی فی عقد الشرکة. (الهدایة/ کتاب المضاربة/ ۳/ ۲۵۸، وکذا فی البحرالرائق/ ۷ /۲٦٤). وفی جمع العلوم الربا شرعاً عبارة عن عقد فاسد ولم یکن فیه زیادة. . . . . . . الخ. (بحرالرائق/٦/ ۱۲۵/ باب الربا/ طبع دار المعرفة/ بیروت)۔

۲]الربا هو فضل خال عن عوض بمعیار شرعی مشروط لاحد المتعاقدین فی المعاوضة. (قواعد الفقه/ ۳۰۲). وفی الهدایة:الربا هوالفضل المستحق لاحدالمتعاقدین فی المعاوضة الخالی عن عوض شرط فیه.(هدایة /۳/ ۸۰/ باب الربوا)

۳]کل قرض جر نفعاً فهو حرام. (ردالمحتار/ ۵/ ۱٦٦/ فصل فی القرض/ طبع سعید)۔

دغه شرح ورکول عام دي او د ``**المعروف كالمشروط**، ،[۱] باندې چې کومه ګټه ورکول کېږي هغه سود دی، نو ددې اخيستل حرام دي د غريب سړي له پاره قرض ورکول او سود اخيستل جائزنه دي، څنګه چې د مالدار سړي له پاره جائزنه دي.[۲]

سیونګ اکاؤنټ "نیشنل سیونګ سرټیفکیټ" باندې د ګټې شرعي حیثیت

سوال: بینک سیونګ اکاؤنټ والاوو ته د ګټې یا نقصان په بنیاد باندې د میاشتې په جمع شویو پیسو باندې ګټه ورکول کیږي، کومه چې هره میاشت کمیږي او زیاتیږي. ایا دا ګټه سود دی؟ او که د دې اخیستل جائز دي؟

سوال: د نیشنل سیونګ سرټیفکیټ هم څه دغه شان معامله ده، نو ایا دا ګټه به هم جائز وي؟

سوال: د بوډاتوب، ناروغي او د اویا کلونو په عمر کې سړی د کاروبار صلاحیت نه لري، ایا هغه خپلې پیسې د یو بینک په سیونګ اکاؤنټ کې جمع کولو سره یا په سیونګ سرټیفکیټ باندې لګولو سره د هغې نفع د ګټې ذریعه جوړولی شي؟

جواب: د ټولو سوالانو یو جواب دی چې په بینک کې چې کوم پیسې کېښودل شي او په هغو باندې چې کومه ګټه ملاویږي که هغې ته منافع ویل کیږي یا بل څه نوم ورکړل شي هغه صریح سود او حرام دي. [۳]

کریډټ کارډ استعمالول شرعا څنګه دي؟

سوال: کریډټ کارډ (Credit Card) په باره کې معلومات کول و، موږ دا استعمالولی شو اوکه نه؟ زما معلومات دي چې د کریډټ کارډ سالانه فیس (۲۰۰۰) روپۍ دی، کریډټ کارډ که په ملک کې دننه یا د ملک نه بهر استعمال کړل شي او په یو میاشت کې دننه پیسې واپس کړل شي، نو هیڅ سود ورکولو ته ضرورت نه راځي او که یو میاشت وروسته پیسې ورکړل شي، نو په هغې باندې سود ورکول راځي دا په بهر ملک کې په کار راځي، پیسو وړولو ته ضرورت نه وي.

جواب: که په یوه میاشت کې دننه پیسې واپس شوې، نو جائز دي، وروسته په ادا کولو باندې سود ورکول وي له دې وجې جائز نه دي، خو په تحقیق کولو باندې معلومه شوه چې که په وخت پیسې ادا کړل شي، نو بیا هم کریډټ کارډ جاري کونکي بینک کریډټ کارډ اخیستلو سره شیان ورکونکي دکاندار نه خپل کمیشن یا سود په هر حال کې وصولوي، دغه شان

---

[۱] المعروف كالمشروط. (الأشباه والنظائر/ ۱/۱۳۱/ ومثله فى قواعد الفقه/ ۱۲۵)_

[۲] واحل الله البيع وحرم الربوا. (البقرة: ۲۷۵)_

[۳] باب الربا فضل مال بلا عوض فى معاوضة مال بمال أى فضل احد المتجانبين على الآخر. . . . الخ. (البحرالرائق/٦/ ۱۳۵/ طبع بيروت/ باب الربا).

کریډټ کارډ استعمالونکی سړی ګویا خپله خو سود نه اخلي، خو بینک ته د سود ورکولو ذریعه ضرور جوړیږي، لهذا د دې استعمال ناجائز او حرام دی. [١]

بې روزګاره، د ګور نمنټ نه سودي قرض واخلي او که لوږې مړ کیدل قبول کړي

سوال: څه فرمایي علماء دین د دې باره کې چې یو ځوان بې روزګاره دی، د روزګار په لټیون کې یې ښه پوره لاسونه اوپښې ووهلې، خو هیڅ فائده یې ونشوه، په دې دوران کې د حکومت له طرف نه د پنځوس زرو نه تر د دوه لاکو روپیو پورې قرضه داسې کسانو ته د ورکولو اعلان کیږي، خو د بدقسمتي نه په دې قرضه باندې به سود هم ورکول وي، د سود په اویا ګناهونو کې د ټولو نه کمې درجې والا ګناه هم په سائل باندې واضحه ده، خو نه خو روزګار شته او نه د مذکوره صورت قرضې نه پرته د کاروبار د شروع کولو بل څه صورت شته. ایا په داسې صورت کې په سود باندې ورکړل شوې داسې قرضه قبولی شي؟ یا د بې روزګاري لعنت ته په داسې سود والا قرضې باندې ترجیح ورکولو سره وږې مړکیدل قبول کړي؟ که د سختې مجبوري له وجې نه سودي قرضه قبوله شي، نو ایا په دې سلسله کې به د سائل مواخذه خو نه کیږي؟ د شریعت محمدي ﷺ نه د فقه حنفي ارشادات مفصل لیکلو سره ثواب دارین حاصل کړئ.

جواب: زما عاجز تجربه داده چې کوم سړی د سودي قرض په جال کې یوځل ونښت، بیا ترې ټول عمر نه شي وتلای، ټول عمر سود ادا کوي او قرض پرې هماغه شان پاتې وي [٢] د بې روزګاري له پاره ګاډی لګول کیدای شي، ټاټکی وچتولی شي، بل څه ګزارې والا محنت کولی شي. والله اعلم!

د بینک په سرټیفکیټ باندې ملاویدونکو پیسو شرعي حیثیت

سوال: کوم وخت کې چې زما خاوند وفات شو، نو هغه وخت کې زما د دوه کلونو زوی او د پنځو میاشتو انجیلۍ وه، زما خاوند سره د لس زرو روپیو سرټیفکیټ و، د خاوند له وفات نه وروسته ما هغه سرټیفکیټ خپل لیورته ورکړ چې دا زما په نوم کړه، نو بینک والا وویل، د دې پیسو څلور برخه داردې، کونډه، مور، هلک او انجیلۍ، له دې وجې دا د کونډې په نوم نشي کیدای، که چیرې کونډه او مور یې د خپلې برخې پیسې اخیستل غواړي، نو د نابالغه ماشومانو

[١] لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم: آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال: وهم سواء. رواه مسلم. (مشكوٰة/١/ ٢٤٣/باب الربا). ولا تعاونوا على الاثم والعدوان. (المائدة: ٢). ايضاً: ماحرم فعله حرم طلبه. (قواعد الفقه/ ١١٥).

[٢] عن ابن مسعود قال: صلى الله عليه وسلم: ان الربا وان كثر فان عاقبته تصير الى قل. رواهما ابن ماجة والبيهقى فى شعب الايمان. (مشكوٰة/ ٢٤٦/ باب الربا/طبع قديمى).

برخه به دهغوی دبالغ کیدو پورې بینک کې موجوده وي اوکه چیرې موراوکونډه خپله برخه معاف کړي، نوداسرټیفکیټ به په عدالت کې جمع شي اودماشومانوبالغ کیدونه وروسته به هغوی ته حواله شي دې پیسوباندې ګټه ورکول کیږي. نوکله به چې هلک داتلسوکلونوشي. نوداپیسې به یولک شوې وي، زماخواښې چې کله داواوریدل. نوهغې خپله برخه معاف کړه. نوماهم خپله برخه معاف کړه، دادهغه وخت خبره ده کوم وخت کې چې ماته ددین باره کې هیڅ معلومات نه و، ماهم سوچ وکړ چې کله هلک غټ شي. نودلکونوروپیومالک به وي. ماته دسود او ګټې فرق معلوم نه و، اوس کله چې ماته الله تعالی ددین باره کې معلومات راکړل اوماته پته ولګیده چې سوداوګټه څه شی دي اود سودخوړونکوبه څه انجام وي. نوزه دې باره کې تاسونه دیوخوپوښتنې کول غواړم:

سوال: لس زره روپۍ دسرټیفکیټ په شکل کې زمادخاوندپه نوم دي داپیسې به ماته تقریباً شپاړس کاله وروسته ملاویږي، دبچیودبالغ کیدونه وروسته، دې شپاړلسوکلنوکې به داپیسې په بینک کې جمع وي، ایا زه به ددې زکات هم ورکوم اودازمادخاوندپه نوم دي؟

جواب: داپیسې ستاسوبچیوله پاره پریښودل شوي دي، نوستاسوپه ذمه باندې ددې زکات نه شته، اود بالغ کیدوپورې دبچیوپه ذمه باندې هم نه شته، بالغ کیدونه وروسته هغوی باندې زکات واجب دی.[۱]

سوال: زه یوازې اصل پیسې اخیستل غواړم،پاتې پیسې کومې به چې یولک وي. هغه پیسې زه څه فلاحي ادارې ته ورکولی شم؟

جواب: دادسودپیسې دصدقې دنیت نه پرته محتاجانوته ورکړئ.[۲]

سوال: داپیسې کومې چې زماخاوندپه ژوندباندې په خپل لاس باندې دبینک ډپازټ سرټیفکیټ په شکل کې اخیستې وې اواوسه پورې هم دهغه په نوم دي، ایا دې پیسوباندې دسود ملاویدو ګناه به په هغه باندې وي؟

جواب: که چیرې مرحوم ددې پیسوسرټیفکیټ دسوداخیستوپه نیت باندې اخستې وي. نوګناه به دهغه په ذمه هم وي، الله تعالی دې معاف کړي. (آمین)

د سود تعریف

سوال: د سود د شرعي تعریف سره مفصله رڼا واچوئ، یا که تاسو په دې موضوع باندې څه مفصل کتاب لیکلی وي، نو د هغه متعلق ولیکئ، زه یو سرکاري ملازم یم، ریټائرډمنټ

۱] وشرط افتراضها عقل وبلوغ. (درالمختار/ ۲/ ۲۵۸/ كتاب الزكاة/ طبع سعيد)۔

۲] والحاصل انه ان علم ارباب الأموال وجب رده عليهم و الا فان علم عين الحرام لايحل له يتصدق به بنية صاحبه. (شامي/۵/۹۹). ايضاً: ويتصدق بلا نية الثواب وينوى به براء ة الذمة. (قواعد الفقه/۱۱۵)۔

(تقاعدي) اخلم، ايا بينک چې کومه ګټه ورکوي هغه سود دی؟ حال دا چې بينک زکات هم د جمع شويو پيسو نه کټ کوي په بينک کې د پی ايل ايس اکاؤنټ شرعي حيثيت څه دی؟ کوم ته چې فرافټ اينډ لاس اينډ شئير ويل کيږي، که بينک هره مياشت فکس ګټه نه ورکوي، بلکې يوه مياشت کم او بله مياشت زياته، ايا دا هم سود دی؟ د دې مسئلې مفصل حل وليکئ چې زه د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ د احکاماتو مطابق په هيڅ شان هم په دې لعنت کې رانشم.

جواب: کومه ګټه چې د معاوضې نه خالي وي هغه ته سود ويل کيږي [1] مثلاً: د سلو روپيو په بدل کې يوه روپۍ دپاسه سل روپۍ اخيستل، نو د سلو روپيو په بدل کې خو سل روپۍ شوې، زياتې چې دا کومه يوه روپۍ مقرر شوې ده، دا د معاوضې نه خالي ده، ددې نوم سود دی په دې موضوع باندې د حضرت مفتي محمد شفيع رحمه الله (سابق مفتي اعظم پاکستان) (رساله مسئله سود) د کتلو قابله ده. بينک چې کومه ګټه ورکوي هغه سود دی، پي ايل ايس هم سودي کاته ده، اګر چې د دې نوم بدل شوی دی، په موجود دور کې د بينکنګ نظام په سود باندې بناء دی، له دې وجې ددې يوه شعبه هم د سود نه خلاصه نه ده، **الا ماشاء الله!**

❖ د سودي پيسو مصرف ❖

د سود د پيسو نه هديه اخيستل اوورکول جائزدي که ناجائز؟

سوال: (الف) او(ب) دوه ورونه دي، د(الف) دسود کاروباردي او(الف) (ج) ته څه هديه ورکوي، نود (ب) نوکر ته حکم کوي چې دا(ج) ته ورکړه، ايا دا جائزدي اوکه ناجائز؟ دويم صورت کې دهغه نوکر ته حکم نه کوي، بلکې هغه پخپله باندې پوه شي چې (ج) ته هديه ورکول دي، نوددې څه حکم دی؟ (ج) ته دسودپه پيسو اخيستل شوې هديه اخيستل جائز دي اوکه نه؟

جواب: په ذکرشوي صورت کې دسود دکاروبارمفهوم عام دی اوددې ډيرصورتونه کيدای شي:

۱: کوم کس چې سودباندې قرض اخيستوسره کاروبارکوي، نودهغه ټولې پيسې دقرض وي.

۲: دويم کوم کس سره چې څه خپلې پيسې وي اوڅه دبينک په سود باندې يادبل چانه قرض واخلي اوکاروبارکوي.

۳: دريم داچې خلکوته په سودباندې قرض ورکوي اودغه شان خپلې پيسې زياتوي.

۴: داچې دسودپه طريقه باندې شيان اخلي اوخرڅوي اودې نه پرته هم بې شماره صورتونه دي. دې ټولوصورتونوته دسود کاروبارويل کيږي اودټولوحکم برابرنه دی، له دې وجې دسود د کاروبار وضاحت کول پکارو، په هرحال که مجموعي ډول باندې جائزې پيسې زياتې

---

[1] باب الربا، هو فضل مال بلا عوض فى معاوضة مال بمال أى فضل احد المتجانبين على الآخر. . . . . . . الخ. (البحرالرائق/٦/ ١٣٥/ طبع دارالمعرفة/ باب الربا).

اوناجائزې کمې وي، نو هديه قبلول صحيح دي، دغه شان که چيرې ناجائزې اوجائزې پيسې داسې يوځای شوي وي چې د دواړومقدار برابر وي، نوبيا هم د هديې اخيستل اوورکول صحيح دي اوکه چيرې حرامې پيسې زياتې وي، نوهديه قبلول نه دي پکار.[1]

د سود په پيسو باندې د لورجهيز اخيستل جائز نه دي

سوال: که چيرې يوغريب سړی بينک کې خپلې پيسې جمع کړي، نو هغو باندې د سود پيسې شپږ يا اووه سوه جوړيږي، نوايا هغه سړی دغه پيسې په خپل ځان باندې خرچ کولی شي؟ اوکه يې نه شي خرچ کولی، نوبيا هغه دخپلې لورد جهيزد اخيستو له پاره پرې څه شی اخيستی شي؟

جواب: دسود استعمال حرام اوګناه ده، هغه باندې لورته جهيز اخيستل هم جائزنه دي.[2]

خاوند که چيرې ښځې ته د سود پيسې استعمالولو له پاره ورکړي، نوګناه به په چاوي؟

سوال: ديوې ښځې خاوندپه زورباندې خپلې ښځې ته دکورخرچې له پاره د سودپيسې ورکوي او د ښځې دمعاش څه بله ذريعه هم نه وي، نو ددې ګناه به په چاباندې وي؟

جواب: ګناه به په خاوند وي،[3] خوښځه دې انکاروکړي چې زه به محنت کولوسره خپل ځان وساتم، خوحرام به نه خورم.

د سود پيسې ناپيژند غريب ته ورکړئ

سوال: مادڅه مجبوري له وجې دسودڅه پيسې اخيستي دي، دهغو استعمال راته وښايئ، ايا هغه پيسې زه خپلوانو غريبانو (مثلاً: نيا) ته ورکولی شم؟

---

[1] اهديٰ الى رجل شيئاً او اضافه ان كان غالب ماله الحلال فلا بأس به الا ان يعلم بانه حرام، فان كان الغالب هو الحرام ينبغى ان لا يقبل الهدية ولا يأكل الطعام. (فتاويٰ عالمگيري/ ٥/ ٣٤٢/ كتاب الكراهية، الباب الثاني عشر فى الهدايا والضيافات، طبع رشيديه). ايضاً: اذا كان غالب مال المهدى حلالاً فلا بأس بقبول هديته واكل ماله مالم يتبين انه من حرام. (الأشباه والنظائر/ ١٢٥/ طبع ادارة القرآن)۔

[2] لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم: آكل الربا وموكله. (ترمذي/ ١/ ٢٢٩/ باب الربا). ايضاً: عن جابر رضي الله عنه قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم: آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه، وقال هم سواء. رواه مسلم. (مشكوٰة/ ٢٤٤). وعن ابى هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اتيت ليلة اسرى بي على قوم بطونهم كالبيوت فيها الحيات ترى من خارج بطونهم فقلت: من هٰو لاء يا جبريل؟ قال: هٰؤلاء اكلة الربا. رواه احمد وابن ماجة. (مشكوٰة/ ٢٤٦/ باب الربا)۔

[3] وفى الخانية: امرأة زوجها فى ارض الجور ان اكلت من طعامه ولم يكن عين ذالک الطعام غصباً فهى فى سعة من أكله وكذا لو اشترى طعاماً او كسوة من مال اصله ليس بطيب فهى فى سعة من تناوله والاثم على الزوج. (ردالمحتار/ ٥/ ٩٩/ مطلب فيمن ورث مالاً حراماً)۔

جواب: د خپلو خپلوانو په ځای باندې چیرته ناپیژندته چې هغه غریب وي. د صدقې د نیت نه پرته ورکړئ.[۱]

د سود پیسې استعمالول حرام دي، نو غریب ته یې ولې ورکړو؟

سوال: نن سبا د مختلفو کسانونه اوریدل کیږي چې کوم خلک د بینک نه سود اخیستل نه غواړي، هغوی دې کرنټ اکاونټ خلاص کړي د سیونګ اکاونټ له پاره بینک ته هدایت وکړي چې دې پیسو باندې د سود پیسې مه جمع کوئ، یوازې دې ځای پورې خوصحیح دہ. خو ځینې خلک وایي که چیرې بینک والا ستاسو پیسو باندې سود ولګاو، نو هغه پیسې (د سود پیسې) بینک کې مه پریږدئ، بلکې هغه واخلئ او چیرته غریبانو باندې یې صدقه کړئ. زه دې باره کې د دې پوښتنه کول غواړم چې ایا د سود په شان حرامې پیسې صدقه کیدای شي؟ که چیرې داسې ممکن وي، نو بیا د غلا، ډاکې، رشوت وغیره نه حاصل شوې پیسې هم د صدقې په طور باندې ورکول جائز یکار دي حکم خو دادی چې د بل مسلمان ورور له پاره هغه شی خوښ کړئ کوم چې تاسو د خپل ځان له پاره خوښوئ، خو موږ ته داویل کیږي چې کوم حرام مال (سود) تاسو نه شئ استعمالولی هغه بل مسلمان ته ورکړئ، دا خبره د ترکوم حده صحیح دہ؟

جواب: که چیرې خبیث مال د انسان په ملکیت کې راشي، نو هغه د خپل ملکیت نه ویستل ضروري دي، اوس دوه صورتونه ممکن دي. یو داچې مثلاً: سمندر ته غورځولو سره هغه ضائع کړل شي، دویم دا چې د خپل ملکیت نه خارج کولو سره یو محتاج ته یې د صدقې د نیت نه پرته ورکړئ، د دې دواړو صورتونو کې د لومړي صورت اجازه شریعت نه دې ورکړې[۲]، نو د دویم صورت اجازه دہ.[۳]

د تعلیم د ترقي له پاره سودي ذرائع استعمالول

سوال: زموږ په علاقه کې د جینکو د پرائمري سکول نه کېدو له وجې بلوچستان ایجوکیشن

۱] لأن سبيل الخبيث التصدق اذا تعذر الرد على صاحبه. (ردالمحتار/ ٦/ ٣٨٥/ كتاب الحظر والاباحة). ايضاً: ويتصدق بلانية الثواب وينوى به براء ة الذمة. (قواعد الفقه/ ١١٥)۔

۲]عن ابى ذر رضي الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم: الزهادة فى الدنيا ليست بتحريم الحلال ولا اضاعة المال. . . . . . . الخ. (مشكوٰة/ ٤٥٣/ باب التوكل والصبر). وفى المرقاة: قوله ولا اضاعة المال الخ اى بتضييعه وصرفه فى غير محله بان يرميه فى بحر او يعطيه للناس من غير تميز بين غنى وفقير. . . . . . الخ. (مرقاة/ ٥/ ٩٠/ طبع بمبئى)۔

۳] والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده عليهم و الا فان علم عين الحرام لا يحل له ويتصدق به بنية صاحبه. (٥/٩٩). لأن سبيل الكسب الخبيث التصدق اذا تعذر الرد على صاحبه. (ردالمحتار/٦/٣٨٥/ كتاب الحظر والاباحة). ايضاً: ويتصدق بلا نية الثواب وينوى به براءة الذمة. (قواعدالفقه/١١٥)عن على انه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم:لعن آكل الربا ومؤكله وكاتبه.(مشكوٰة/ ٢٤٦)

فاؤنډیشن نومي اداري پرائیویټ سکول پرانستې دی، چې دهغه له پاره امداد پورته ذکر شوې اداره ورکوي، ددې سکول د انتظام له پاره د متعلقه محلي مشرانو کمیټي جوړه کړې ده، دا کمیټي پرته د څه معاضې نه کار کوي، د بلوچستان ایجوکیشن فاؤنډیشن له طرف نه دا شرط ایښودل شوی دی چې کوم امداد موږ تاسو ته درکوو دا به تاسو د بینک په سیونګ اکاؤنټ کې ږدئ، چې په هغه باندې به بینک سود هم درکوي، ددې اکاونټ په پرانستلو باندې چې کوم سود ملاویږي د هغه څه حکم دی؟ بلکه دا چې ایا موږ ټول به ددې کار په کولو باندې ګناه ګار یو؟

جواب: په دې کې شک نه شته چې سود حرام دی او تاسو به په ماشومانو باندې دا سود استعمالوئ، نو لازما به تاسو هم ګناه ګار یئ او ماشومانې چې دا د حرامې پیسې استعمالوي، نو د دې نتیجه به هم غلطه راوځي، څه داسې صورت اختیار کړئ چې تاسو ته د سود د استعمال ضرورت رانه شي. [1]

د سود پیسې د خیرپه کارکې مه لګوئ، بلکې د صدقې له نیت پرته یې غریبانو ته ورکړئ

سوال: زه نوکر یم، دخرچې نه موچې کومې پیسې پاتې شي، هغه بینک کې جمع کوم او یو څو دوستان هم ماسره دامانت په طورباندې پیسې ږدي اوهغه هم زه بینک کې ږدم، ځکه د محفوظ ساتلو بله څه لارنه شته، خوبینک کې دکیښودلوله وجې ماته یوه پریشاني وي، هغه داچې بینک سودورکوي، اوس ځیني خلک وایي چې داحرام ده اوځیني وایي چې حرام نه دي، که حرام دي، نوګټه (سود) بینک والوته پریږدم یادبینک نه یې واخلم او غریبانو ته، یادخیرڅه کار مثلا: جومات یالارې جوړولوکې یې ورکړم؟

جواب: دبینک سودته چې کوم خلک حلال وایي هغه غلط وایي، خو بینک کې دسودپیسې مه پریږدئ، بلکې راوباسئ اوصدقې دنیت نه یې پرته ضرورت مندمحتاج ته ورکوئ، دخیرپه څه کار کې داپیسې لګول جائزنه دي. [2]

د سود پیسې نوکرې ته د تنخوا په طور ورکول

سوال: ماخپلې لس زره روپۍ یودوکاندارسره ایښې وې، هغه ماته هره میاشت په هغې باندې درې سوه روپۍ راکوي، اوس تاسوموږ ته داووایئ چې دا پیسې جائزې دي اوکه نه؟

---

[1] عن علی رضی الله عنه انه سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم لعن آکل الربا ومؤکله وکاتبه. (مشکوٰة ص:۲۴۶)

[2] والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده علیهم و الا فان علم عین الحرام لا یحل له ویتصدق به بنیة صاحبه. (شامي/ ۵/۹۹). لأن سبیل الکسب الخبیث التصدق اذا تعذر الرد علی صاحبه. (ردالمحتار/۶/ ۳۸۵/ کتاب الحظر والاباحة). ایضاً: ویتصدق بلا نیة الثواب وینوی به براء ة الذمة. (قواعد الفقه/۱۱۵)

ما دخپل جومات دامام صاحب نه پوښتنه وکړه، نوهغه ورته سودوویل اودهغه وخت نه زه دغه پیسې خپل کورکې کارکونکې ته ورکوم، هغه ته دا وایم چې دا پیسې دسود دي، یادهغه په پیسوپه بدله کې ورته څه شی یعنې کپړې وغیره ورکړم، هغه په خپله خوښه هغه شیان یاپیسې وغیره اخلي اوهغه ته پته ده چې داپیسې دسود دي، تاسوماته دقران او سنت په رڼا کې دا ووایئ چې دا پیسې کار کونکې ته ورکولو باندې زه خوګناه ګارنه یم؟

جواب: که دوکان دارستاسوپه پیسوباندې تجارت کوي اودهغه نه حاصلې شوې ګټې نه یوه برخه تاسوته مثلاً پنځوس فیصده تاسوته درکوي، نوداجائزدئ اوکه چیرې هغه درې سوه روپۍ تاسوته مقررې کړي دي، نوداسود دی[۱] دسوددپیسواخیستل هم حرام دي اودهغه استعمالول هم حرام دي تاسوچې خپلې نوکرې ته دغه پیسې ورکوئ، نوهغې ته ورکول هم جائزنه دي[۲]اودهغې له پاره اخیستل هم جائزنه دي، دسودپیسې غریبانوته دصدقې له نیت پرته ورکول پکاردي.[۳]

د سود پیسې په رشوت کې خرچ کول دوه چنده ګناه ده

سوال: سودحرام دی اورشوت هم حرام دی، دحراموشی په حراموکې خرچ کول څنګه دي؟ مطلب داچې دسودپیسې په رشوت کې ورکول کیدای شي اوکه نه؟

جواب: دوه چنده ګناه به وي، دسود اخیستلواود رشوت ورکولو.[۴]

۱]المضاربة هی الشركة فی الربح بمال من جانب وعمل من جانب. . . . . . . وشرطها الرابع ان یکون الربح بینهما شائعاً کالنصف والثلث لا سهماً معیناً یقطع الشرکة کمأة درهم. . . . . . الخ. (البحرالرائق/ ۷/ ۲۶۳، ۲۶٤/ کتاب المضاربة)_

۲]عن علی رضی الله عنه انه سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم: آکل الربا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال: وهم سواء. (مسلم/۲ / ۲۷). ما حرم فعله حرم طلبه، ما حرم اخذه حرم اعطاؤه. (قواعد الفقه/۱۱۵)_

۳] ویتصدق بلا نیة الثواب وینوی به براء ة الذمة. (قواعد الفقه/ ۱۱۵)_

٤] لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم: الراشي والمرتشي. (ابوداؤد/ ۲/ ۱٤۸/ کتاب القضاء/ باب فی کراهیة الرشوة).لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم: آکل الربا وموکله وشاهدیه وکاتبه.(ترمذي/۱/۲۳۹)

❖ د بینك نوكري ❖

....

د سود كاروبار كونكي اداروكې د نوكري كولو گناه به چا باندې وي؟

سوال: له يومفتي اوحافظ صاحب نه چاپوښتنه وكړه چې دبينک نوکري کول څنګه دي؟ اودهغه ځای نه ملاويدونكې تنخوا جائزده اوكه نه؟ نوهغوی ورته جواب وركړ دبينک نوکري جائزده، دبينک نوكركه چيرې پوره ديانت داري اومحنت سره خپل فرض اداكوي. نودهغه تنخوا به بالكل جائزوي،خو حكومت اوعواموته دبينک دسودنظام ختمولوله پاره كوشش كول پكاردي اوداځينې عالمان چې دبينک نوكرانوته دغيرمسلم نه قرض اخيستلواودخپلې تنخوا دهغه دقرض اداكولومشوره وركوي، داصحيح نه ده، بلكې دين پورې خنداكول دي. جناب مولاناصاحب! زه يوبينک كې نوكر يم اودې باندې به شرميدم، خاص طورباندې ,,آپ كے مسائل اوران كا حل، ، دې موضوع باندې ستاسوجوابونه لوستو سره، خو اوس دمفتي صاحب دجواب نه وروسته راته لږشان اطمينان وشو چې زما نوكري صحيح ده، پاتې شودبينک دسودكاروباركول، نوهغه دې عوام حكومت پوه شي، ستاسودې مسئلې باره كې څه خيال دی؟ او يادساتل پكاردي چې ددغه مفتي صاحب دفتوا نه وروسته ډيرو خلكو د سودقرضه حلال گڼل اواخيستل شروع كړي دي.

جواب: دې باره كې څوخبرې د ذكركولوقابلې دي:

لومړی: دسودلين دين دقران كريم په نزدباندې بالكل حرام دی[۱] ددې حلال گڼلوولامسلمان نه، بلكې مرتددی[۲] اودسودكاروبارنه پرېنښودونكو خلاف قران كريم كې دالله تعالى اودهغه د رسول ﷺ له طرف نه دجنگ اعلان دی. (البقره ۲۷۹)[۳]

دويم: دصحيح مسلم حديث دی چې رسول الله ﷺ لعنت فرمايلی دی په سوداخيستونكي، سود وركونكي، دسودليكونكي اودسودگواهي وركونكو باندې اوفرمايي چې داټول په گناه كې برابرشريک دي. (مشكوة ص ۲٤٤)[۴]

۱]يٰأيها الذين آمنوا اتقوالله وذروا ما بقى من الربوا ان كنتم مؤمنين. فان لم تفعلوا فاذنوا بحرب من الله ورسوله". (البقرة/۲۷۸، ۲۷۹). وقال تعالي: واحل الله البيع وحرم الربوا. (البقرة: ۲۷۵)_

۲]استحلال المعصية كفر، اذا ثبت كونها معصية بدليل قطعي. (ردالمحتار/ ۲/ ۲۹۲/ باب زكاة الغنم)_

۳] ايضاً پورتنۍ حواله (يٰأيها الذين آمنوا اتقوالله وذروا ما بقى من الربوا. . . الخ)

٤] عن جابررضى الله عنه قال: لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم: آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء،

دريم: دامت عالمانو دجنرل ضياء الحق مرحوم په دورکې دغيرسودي بينکاري مکمل نقشه جوړه کړې وه، خوکوم دماغونوچې ديهوديانو دساهوکاري نظام خونداخيستی دی، هغوی دې باندې عمل ونه کړ اونه دې باندې دعمل کولواراده لري. دې نه زيات عوام څه جدوجهد کولی شي؟

څلورم: کوم سړي سره چې داحرامه پيسه وي، هغه له پاره نه دهغه خوړل جائزدي اونه هغه صدقه کولی شي، نه پرې حج کولی شي، ځکه چې حراموباندې شوی حج اوصدقه دالله تعالی په دربارکې نه قبلیږي[1] دامت فقهاوو دې له پاره تدبيردا ليکلی دی چې هغه دچيرته غيرمسلم نه قرض واخلي اوخرچ دې کړي، ځکه چې هغه قرض دهغه له پاره حلال دی. بيادې حرام مال په قرضه کې اداکړي، ددې دورکولوګناه خوبه وي، خودحرام خوړلونه به بچ شي.[2]

پنځم: دهرسړي فتوا داعتمادکولوقابل نه وي اودکوم کس فتوا چې داعتمادکولوقابل نه وي دهغه نه دمسئلې پوښتنه کول هم ګناه ده، که نه، دنبي کريمﷺ دحديث مطابق :داسې مفتيان به پخپله باندې هم ګمراه وي اونورخلک به هم ګمراه کوي. (مشکوة ص ٣٣)[3]

شپږم: په غيرمعتبره فتوا باندې مطمئن کيدل د بې ديني دليل دی، که نه،کله چې انسان ديوشي په جواز او عدم جوازکې شک شي، نود دين داري اواحتياط نښنه داده چې دهغه شي نه پرهيزوکړي مثلاً: که چيرې تاسوته شک شي چې داغوښه حلاله ده اوکه مرداره؟ اود اعتماد قابل يوسړی وايي چې دا مرداره ده اودويم سړی (چې دهغه اعتمادقابل کيدل هم معلوم نه وي) وايي چې داحلاله ده، نو ايا تاسوبه هغه داطمينان کولونه پرته وخورئ؟ ياکه په يولوښي باندې موشک شي چې دې کې اوبه دي که متيازې؟ داعتمادقابل يو بزرګ سړی درته ووايي چې دې کې زماپه مخکې متيازې کيښنودل شوي دي اودويم وايي چې داسې خبروباندې غورمه کوه اواطمينان سره يې اوبه وګڼه اوويې څښه، نوتاسوته به دهغه سړي په خبره باندې اطمينان راشي؟ غرض داچې دشرعي اوعقل اصول دي چې کوم شي کې شک وي

---

[1] عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: لاتقبل صلوٰة بغيرطهور ولا صدقة من غلول. (ترمذي/١/ ٣). ويجتهد فى تحصيل نفقة حلال فانه لا يقبل بالنفقة الحرام كما ورد فى الحديث. (ردالمحتار/ كتاب الحج/ ٢/ ٤٥٦)

[2] وفى شرح حيل الخصاف لشمس الأئمة الحلوانى رحمه الله ان الشيخ الامام ابا القاسم الحكيم كان ممن يأخذ جائزة السلطان وكان يستقرض بجميع حوائجه وما يأخذ من الجائزة كان يقضى به دينه. (خلاصة الفتاوي/ ٤/ ٣٤٩). ايضاً: واذا اراد ان يحج ولم يكن معه الا مال حرام او فيه شبهة فيستدين للحج من مال حلال ليس فيه شبهة ويحج به ثم يقض دينه فى ماله. (ارشاد الساري/ ٣/ طبع بيروت)۔

[3] عن عبدالله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: ان الله لا يقبض العلم انتزاعاً ينتزعه من الناس ولكن يقبض العلم بقبض العلماء حتى اذا لم يبق عالماً اتخذ الناس رؤساً جهالاً فسئلوا فأفتوا بغير علم، فضلوا وأضلوا. (بخاري/ ١/ ٢٠/ باب كيف يقبض العلم)۔

هغه پرېږدئ[۱] امیدلرم چې ددې خبرودوضاحت نه وروسته به تاسوته دخپل سوال جواب ملاوشوی وي.

دبینک سود حلال ګڼلو له پاره د دلیلو نو جوابونه

سوال: زه یوبینک کې نوکریم، دټولوعالمانوپه شان ستاسوداخیال دی چې بینک کې جمع شویو پیسوباندې چې کومه ګټه ملاوېږي هغه سوددی اوسوداسلام کې حرام دی. سودزماپه نزد باندې هم حرام دی، خوددسودباره کې زه خپل خیال لیکل غواړم. معافي غواړم زماخیال غلط هم کیدای شي، ستاسوخیال به زماله پاره د اهمیت قابل وي. زماپه نزدباندې سودهغه دی، کوم چې یو ضرورت مند سړي ته ورکړل شي اودهغه دمجبوري نه ګټه واخیستل شي او دخپلو ورکړل شویو پیسوپه بدله کې ډېروپیسووعده واخیستل شي اوهغه دضرورت له وجې ډېرو پیسو ورکولو باندې مجبوروي.

دچا دمجبوري نه ناجائزه فائده اخیستل اوزیاتې پیسې اخیستل زماپه نزدباندې سوددی اودا زموږ په مذهب کې سود ګڼل شوی دی، ماسره دزمادخرچ نه پرته څه پیسې زیاتې وې او هغه به یو خپلوان ضرورت مندته ورکولې، خویودوه صاحبانوماته زماپیسې واپس نه کړې او مابه دهغوی نه زیاتې پیسې نه اخیستې اونه به یې دواپسي څه وخت مقرر و، کله به چې هغوی سره پیسې پیداشوې ماته به یې اصلي پیسې واپس کړې، خودیوڅوصاحبانودغلط حرکت له وجې زه اوس چاته هم پیسې نه ورکولوباندې مجبورشوی یم.

ماسره کورکې چې کومې پیسې وې دهغو دغلاویره وه او دویم داکه چیرې هغو پیسوباندې دبنائست څه شیان اخلم، نوزماپه خرچوکې اضافه کیږي اوزماتنخوا ددې بوج نه شي برداشت کولی، دې له پاره مادا بنه وګڼل چې دازه بینک کې جمع کړم. خو د سودلفظ زماذهن کې و. ماډېرسوچ وکړ او اخردې سوچ سره مې بینک کې جمع کړې چې ددې پیسوپه ذریعه باندې به دملک په معیشت کې اضافه وشي اودهغه له وجې به غریب عوام خوشاله شي اوزماپه معاشي مشکلاتوکې به هم کمی راشي، زه دبینک ګټه له دې وجې هم سودنه ګڼم چې دې ذریعه باندې دچادمجبوري نه غلطه فائده نه اخیستل کیږي، چاته نقصان نه رسیږي اوبینک کې جمع شوې پیسې دملک معیشت بنه کولو کې مددورکوي. دغه شان بې روزګاره خلکوته روزګارملاویږي او داچې بینک دخپلې ګټې نه څه ګټه موږته راکوي زماپه نزدباندې داګټه سودله دې وجې نه ده چې داسې دچادضرورت نه فائده نه اخیستل کیږي. ځکه چې کله ناکله چاته قرض ورکړل شوې پیسې دومره زیاتې شي چې داصل پیسو واپس کولوباوجودداصل پیسونه زیات قرض پاتې شي، زماپه نزدباندې یوازې اویوازې داسود دی، دبینک ګټه نه

۱]وفی الحدیث:دع ما یریبک الی مالا یریبک. (مشکوٰة/ ۲۴۲/ کتاب البیو ع/ باب الکسب وطلب الحلال)

دویمه خبره زما د بینک د نوکرۍ ده، د بینک نوکري ته تاسې عالمان حضرات ناجائز وایي، د دې مطلب دا دی چې زه کوم رزق پیدا کوم، هغه هم ناجائز دی، نو آیا زه نوکري پریږدم او مور پلار او بچي وږي پریږدم؟ ځکه چې نوکري حاصلیدل ډیر ګران کار دی او زه دا هم ګڼم چې هر سرکاري ملازم ته چې کومه تنخوا ملاویږي هغې کې د بینک د ګټې څه برخه موجوده وي. داسې خو هر سرکاري نوکر ناجائز رزق پیدا کوي، که تاسو دا وایئ چې هغه کس په محنت مزدوري باندې رزق پیدا کوي، نو موږ ته خو هم بینک پرته د محنت نه تنخوا نه راکوي. موږ چې د بینک نه کومه تنخوا اخلو هغه زموږ د محنت وي، د بینک د خپلې ګټې نه وي او تاسو به د رزق دې ذریعې ته څه وایئ کومه چې یوسړی د یو بینک نوکر ته، رشوت خور، پوډر خرڅونکي، مشرک، ډمې او ډاکوانو کره کارکولو باندې ګټي؟ پورته ذکرشوې خبروکې دې باندې ځان پوهول پکار دي چې هر هغه کس کوم چې هر ځای کې نوکروي، د هغه په تنخوا کې ناجائز پیسې ضرور شامل وي، نو زما د سوالونو تفصیلي جواب بیان کړئ!

جواب: پیسې قرض ورکول او هغه باندې اضافي پیسې اخیستل سود دی[1]. که اخیستونکی د مجبورۍ له وجې قرض اخلي، یا د خپل کاروبار زیاتولو له پاره او څوک چې زیاتې پیسې ورکوي که هغه د مجبورۍ له وجې ورکوي او که خوشالۍ باندې، د هغه له پاره ستاسو دا خیال صحیح نه دی، چې سود یوازې د مجبورۍ په صورت کې دی:

۱: د بینک دا کوم سود چې تاسو ته بې نقصانه ښکاري، د دې نتیجې زموږ مخې ته دي د مالدارو نور هم مالداره کیدل او د غریبانو نور هم غریبان کیدل، ملک کې مختلفې طبقې پیدا کیدل او ملک باندې د کهربونو روپو د نورو ملکونو قرض راتلل، د همدې سودي نظام نتیجه ده، الله تعالی د سود نظام د الله تعالی او د هغه رسول ﷺ خلاف د جنګ اعلان ګڼلی دی. اسلامي معاشره چې الله تعالی او د هغه رسول ﷺ سره جنګ کولو باندې څنګه سوری سوری شوې ده، هغه د ټولو خلکو مخکې ده، زما په علم کې داسې ډیر مثالونه موجود دي چې ځینې خلکو د بینک د سود قرضه واخیستله او بیا د ې لعنت کې داسې ګرفتار شول چې نه مري او نه ژوند تیروي، زموږ د معاشي ماهرانو دا فرض و چې هغوی د بینکاري نظام غیرسودي جوړ کړی وی، خو افسوس چې د نن پورې د سود شکلونه بدلولو سره د هغې د جائزاو حلال کولو نه پرته بل هیڅ قدم نه دی اوچت شوی.

۲: د بینک نوکرانو ته د سود کار (حساب کتاب) هم کول وي او د سود نه هغوی ته تنخواه ملاویږي،

د حضور ﷺ ارشاد مبارک دی: **عن علی رضی اللہ عنہ انه سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم لعن اکل الربا وموکله وکاتبه.** (مشکوة ص ۲٤٦)

---

[1] کل قرض جر نفعاً فهو حرام. (ردالمحتار/ ٥ / ١٦٦ / فصل فی القرض)۔

ترجمه: دالله تعالی لعنت! په سوداخیستونکي ، سودورکونکي. ددې گواهي ورکونکي او ددې لیکونکي باندې.

کوم کارچې پخپله باندې حرام اوملعون وي اودهغه اجرت هم دحرامونه ملاویږي. هغه ته که ناجائزونه ویل شي، نوڅه به ورته ویل کیږي؟فرض کړئ یوسړي دزنااډه جوړه کړه اودزنادکتیې نه هغه دقحبه خانې نوکرانوته تنخوا ورکوي، نوایادهغوی تنخوا حلال کیدای شي؟ اوایادقحبه خانې نوکري حلال کیدای شي؟

ستاسوشک چې ټولوسرکاري نوکرانوته کومه تنخوا ملاویږي، هغې کې دبینک گټه شامله وي، له دې وجې یوه نوکري هم صحیح نه شي کیدای، داشک له دې وجې صحیح نه دی چې نورسرکاري نوکران دسوددلیکلواولوستلوله پاره نه وي، بلکې دحلال اوجائزکارونوله پاره هغوی نوکران وي، له دې وجې دهغوی نوکري جائزده اوحکومت چې هغوی ته کومه تنخوا ورکوي، هغه دسودنه نه، بلکې دحکومت خزانه کې چې کومې پیسې جمع کیږي، له هغو نه یې ورکوي اودبینک نوکران په هغه باندې قیاس کول صحیح نه دي.

ستاسوداویل چې دبینک نوکري پریښودوسره خپل مور پلار اوبچي وږي وساتم؟

دې باره کې هم داعرض کولی شم چې کله دقیامت په ورځ باندې به تاسونه سوال کیږي چې کله مورږ دحلال رزق په زرگونو وسیلې پیداکړې وې، نوتاحرام ولې وگټله اوولې دې پرې وخوړله؟ نو ددې سوال به څه جواب ورکوې؟ اوزه وایم که چیرې تاسودلوږې دویرې دبینک په نوکري کولوباندې مجبوریې اودبینک نوکري نه شئ پریښودلی، نوکم نه کم دخپلې گناه اقرارخودالله تعالی په دربار کې کولی شئ چې اې الله! زه دخپلې ایماني کمزوري له وجې حرام گټم او خپلو بچیوباندې یې خورم، زه مجرم یم، مامعاف کړه، دجرم په اقرارکولوکې خودلوږې اوتندې ویره نه شته.....!

ایا دمجبوري له وجې پیسې په قومي بچت پروگرام کې لگېدای شي؟

سوال: یو ریټائرډ(متقاعد) مشر د خپلې گټې له پاره خپل اخري جمع کړی مال چیرته استعمال کړي حال دا چې:

۱: د هغه څوک زوی نه شته.

۲: د کاروباري تجربې نه کیدو له وجې د پیسو د ډوبیدلو ویره ده.

۳: د دکان چلولو راته صحت اجازه نه راکوي.

۴: په شراکت داري کې سل فیصده د پیسو د ډوبیدو ویره ده.

ایا د دې ټولو مجبوریو په سبب دی خپلې پیسې د قومي بچت په میاشتني پروگرام کې لگولی شي؟ که نه یې شي کولی، نو بیا څه وکړي؟

جواب: یو قابل اعتماد سړی دې وکتل شي چې په صحیح طریقه کاروبار کوي، که نه. پیسې دې په بینک کې کیږدي او د ضرورت مطابق دې ترې استعمالوي.

د سود نه څنګه بچ شو حال دا چې مسلمانان ملکونه هم د دې نظام سره منسلک دي

سوال: بین الاقوامي اقتصادي نظام په سود باندې روان دی، یو ملک د بل ملک نه قرض په سود باندې حاصلوي، په دې دور کې یو ملک هم داسې نه شته چې د دې اقتصادي نظام نه بیل پاتې شي، تردې چې د سعودي عرب په شان مالدار ملک هم په مختلفو طریقو سره د دې اقتصادي نظام سره منسلک دی. یا خو دې د پوره دنیا اقتصادي نظام بالکل بدل شي چې د سود تصور نه وي او یا هر یو ملک مکمل طریقې سره خود کفیل وي چې د بل چا نه د قرضې د اخیستو ضرورت نه راځي د دې دوه صورتونو نه پرته بل یو صورت هم نه شته چې یو ملک ته د دې بین الاقوامي نظام نه بیل وساتي، که نه، چې کوم ملک قرض اخلي ضرور به د هغه ملک نظام په سود باندې روان وي.

جواب: د مغرب یهودي غلامانو دا سودي نظام جوړ کړی، دهمدې له پاره چې هیڅ یو ملک اقتصادي طور سره خود کفیل نه شي، په هر حال سود خو به حرام وي، دې ته حلال ویل خو زموږ په اختیار کې نه دي. [1]

د دوایي والا کمپنۍ په تنخوا کې سود نه وي شامل

سوال: زما خپلوان زما تنخوا په سود کې شاملوي، دا چې کومه تنخوا راته ملاویږي په دې کې سود شامل وي، زه په یو غیر ملکي کمپنۍ کې ملازمت کوم، دا دوایي یوه کمپنۍ ده او هر قسم دوایي په کې جوړیږي، زه ستاسو نه پوښتنه کول غواړم چې دا کومه تنخوا زه اخلم ایا دا به په سود کې شامله وي یا که ماته اصل اجرت ملاویږي؟ زما ټوله تنخوا څلور زره روپۍ ده، نه ماته د بینک نه ملاویږي، کمپنۍ یې ماته راکوي، نه د دې تعلق د بینک سره دی او نه یې د بل ځای سره، موږ اته ګنټې محنت کوو، هم د هغې اجرت موږ ته ملاویږي. خپل خپلوان ماته له دې وجې هم وایي چې دا یو غیر ملکي کمپنۍ ده، هره کمپنۍ خپله پیسه په بینک کې ږدي، د دې هیڅ تعلق نه وي، هغوی خو موږ ته چې مقرر شوی اجرت دی هغه موږ ته ملاویږي، خو خلک وایي چې کومه تنخوا تاسو اخلئ په هغې کې سود شامل دی او وایي چې پوره پاکستان په سود باندې روان دی.

---

[1]] واحل الله البیع وحرم الربٰوا (البقرة: ۲۷۵). یٰایها الذین أمنوا اتقوا الله وذروا ما بقی من الربٰوا ان کنتم مؤمنین. (البقرة: ۲۷۸)

جواب: ستاسو ملازمت او تنخوا صحيح ده، د خلکو قياسونه کول په بې علمي باندې بناء دي، دهغو په خبرو مه پريشانه کيږئ.

يوه محکمه هم د سود نه پاکه نه ده بيا د بينک نوکري ولې حرامه ده؟

سوال: دبينک دنوکري باره کې يوه پوښتنه کول غواړم، اميدلرم چې تاسوبه دهغه جواب راکولو سره زما اود نورو خلکو شک ختم کړئ، زه يوبينک کې نوکريم اودانوکري سودي کاروبار ګڼم، اودا هم ګڼم چې کومه ځمکه دسودپه پيسوباندې اخيستل شوې وي هغه باندې لمونځ هم نه کيږي، يعنې دبينک په ځمکه باندې زماځه دوستان دي خبرې سره اختلاف کوي او وايي چې دې سودکې اوکوم سودچې حرام شوی دی ډيرزيات فرق دی. سوداګر دخلکو د مجبوري نه فائده اخلي او سود زياتولو سره به يې پيسې زياتولې، که چيرې مقررشوي وخت پورې به پيسې ملاونه شوې، نو سود به زيات شو اوبينک ديوې معاهدې په نزدباندې ورکوي اوقرض دارته قرض واپس کولو کې مهلت هم ورکوي، ځينې حالاتوکې سود معاف هم شي بينک دخلکوکومې پيسې چې ځان سره ږدي هغه کاروبارکې لګوي اوپيسې پرې ګټي اوبيايې هم هغو خلکوته دځه ګټې سره واپس کوي، که دبينک جايداد دسودجايداد دي، نو دحکومت هريوجايدادسودي دی، ځکه چې حکومت بينک مجبوروي چې هغوی سودواخلي او ورکړي، حکومت هم دغو پيسوباندې معيشت چلوي، مثلاً: يوهسپتال، سکول يا کوم جايداد چې حکومت اخلي اوجوړوي يې هغو کې دسودپيسې شاملې وي.

جواب: ستاسودوستانوچې دحرام سوداودبينک په سودکې کوم فرق ښودلی دی، هغه باندې زه پوه نه شوم، داخوښکاره خبره ده چې کله دسودلين دين کيږي، نوديوې معاهدې په نزدبه کيږي، هم دغه بينک کوي، په هرحال دبينک ګټه سود دی،نودې باندې به دسود د پيسوټول حکمونه لګيږي.

د غيرسودي بينک نوکري جائزده

سوال: بينک کې نوکري جائزده اوکه نه؟ دې باره کې يوازې تاسونه دامعلومول غواړم چې زما ډيردوستان بينک کې نوکري کوي اوماته هم بينک کې دکارکولوله پاره وايي، خوما هغوی ته دا وويل چې بينک کې دسودکاروبارکيږي، له دې وجې د بينک نوکري صحيح نه ده، ځکه چې ددنياژوندډيرزيات کم دی او د اخرت ژوندډيرزيات دی او نه ختميدونکی دی، له دې وجې هرانسان ته دنياکې دالله تعالی په حکمونواودحضور ﷺ په طريقه باندې ژوند تيرول پکاردي، نو زه دبينک دنوکري باره کې دا معلومول غواړم چې نن سبا بينک ټول کاروبار په سودباندې روان دی، نودې وخت کې دبينک نوکري کول جائزدي اوکه نه؟ اوځنګه چې زموږ ملک کې هم اسلامي نظام نافذکيدو والادی او هغه کې به سودبالکل ختم شي،

دهغه په ځای به اسلامي نظام باندې هرکارکيږي، که دې صورت کې چې بينک کې دسود نظام ختم شي، نوبيابه دبينک نوکري جائزوي اوکه نه؟ مهرباني وکړئ جواب راته بيان کړئ.

جواب: کله چې بينک کې دسود کاروبارنه وي، نوبيا دهغه نوکري پرته له څه شک نه جائزده.

زرعي ترقياتي بينک کې نوکري کول

سوال: ايا زه زرعي ترقياتي بينک کې نوکري کولی شم؟

جواب: زرعي ترقياتي بينک اونوروبينکونوکې هيڅ فرق نه شته.

دبينک تنخوا څنګه ده؟

سوال: زه يوبينک کې نوکريم اودهغه باره کې به کيدای شي تاسوته علم وي چې دا اداره څنګه چليږي، موږ بې شکه محنت ډيرکم کوو، خوزماخپل خيال دی چې زموږ تنخوا حلاله نه ده، دځينې دوستانوخيال دی چې حلاله ده ځکه چې موږ محنت کوو، په هرحال حکومت د سود د کاروبار ختمولو اعلان کړی دی اوڅه کاتې ختميږي هم، خواوسه پورې پوره خلاصی نه دی ملاوشوی،ايا زموږ رزق حلال دی اوکه حرام؟ دقران اوحديث په رڼاکې راته وضاحت وکړئ!

جواب: بينک خپلو نوکرانوته هم دسودنه تنخوا ورکوي، له دې وجې دغه تنخوا حلاله نه ده. ددې مثال داسې دی چې يوې زناکارې دځان له پاره نوکران نيولي دي اوهغه ورته دخپل کاروبارنه تنخوا ورکوي، نودهغونوکرانوله پاره هغه تنخوا حلاله کيدای نه شي . بالکل دغه مثال دبينک دنوکرانوهم دی دې نه پرته څنګه چې په سوداخيستونکي اوورکونکي باندې لعنت شوی دی، همدغه شان ددې په ليکونکي اوګواهانوباندې هم لعنت شوی دی[1] له دې وجې دسودليکل هم حرام دي اوددې اجرت اخيستل هم حرام دي، که انسان حرام پريښودلی نه شي. نوکم نه کم درجه کې دې حرام خوحرام وګڼي کنه.

چې د بينک ملازمت حرام دی، نو نورې تنخوا ګانې ولې جائز دي حال دا چې هغه هم د سود نه ګورنمنټ ادا کوي؟

سوال: عرض دادی چې د بينک ملازمت او د هغه عوض تنخوا ته تاسو حرامه ګڼلې ويلې ده، ځکه چې دا د سود نه ادا کيږي او د نورو ملازمتونو تنخوا ته تاسو د جائز کار اجرت حسابولو سره حلال کړي دي، حال دا چې د نورو ملازمينو ته هم ګورنمنټ د سود دګټې نه تنخوا ورکوي، ګويا د بينک ملازمت خو حرام کار دی او د بينک له طرف نه جمع شوې پيسې وصولول حلال کار دی، حکومت پاکستان هم د سود قرضې اخلي.

۱]واحل الله البيع وحرم الربا. (البقرة: ۲۷۵). يأيها الذين آمنوا اتقوالله وذروا ما بقى من الربوا ان كنتم مؤمنين. (البقرة: ۲۷۸)۔

تاسو به د سيدنا علي رضي الله عنه ارشاد اوريدلی وي چې کله د هغه نه د شرابو د حرمت په باره کې پوښتنه وشوه، نو هغه رضي الله عنه وفرمايل: چې که د شرابو يو څاڅکی د اوبو په يو تالاب کې پريوځي او بيا هغه تالاب وچ شي او په هغه کې ګيا راوخيژي او هغه ګيا يو بيزه يا غوا وخوري، نو د هغه غوا او بيزې پيی، هم حرامې دي.

موږ پاکستانيان چې کومه ګټه هم کوي په هغه کې تنخوا ګانې، تجارت، ډالی، چندې، غلا، لوټ مار هر څه شامل دي، هغه ټول بنيادي طور د سود مال دی، نو بيا زموږ خوراک څښاک کول، جامه، کور، سامان او جايدادونه ټول د سود د ګټې نه موجود دي، تردې چې زموږ مسجدونه او مدرسې او لوی لوی ديني مراکز چې کومه چنده اخلې ټول د سود مال دی، ځوک د مسجد امام يا مدرسې والا هم د چا نه د چندې يا ډالی اخيستو په وخت دا پوښتنه نه کوي چې دا مال تا څنګه ګټلې دي؟ په پاکستان کې چې چيرته هر کار او ګټه د سودي کاروبار په ذريعه کيږي هلته د حلالې ګټې تصور هم نه شته، موږ حج هم په سودي ګټه باندې کوو او بيا حاجيان شو وغيره، که څه ګستاخي يا بې ادبي شوې وي، نو معافي وکړئ، الله پاک معاف کونکي خوښوي.

جواب: ستاسو حيرانتيا په ځای ده، خو په خپل اختيار او ارادې سره حرام خوړل بيله خبره ده او يو سړی جائز کار يا ملازمت کوي، په هغه کې غير اختياري طريقې سره حرام ګډ شي. نو هغه بيله خبره ده. د دواړو حکم يو نه دی.

د بينک د ملازم، پوليس، کسټم، او واپډا والو بچيو ته ټيوشن کول

سوال: زه يو استاذ يم، او د مختلفو طبقاتو سره تعلق لرونکو افرادو بچيو ته ټيوشن کوم، ستاسو نه پوښتنه دا کول وو چې آيا زه د بينک والو، پوليس والو، کسټم والو، واپډا والو او دغه شان د نورو خلکو بچيو ته سبق ښودلو سره د خپل محنت ټيوشن فيس وصولولی شم؟ مهرباني وکړئ د هر يو په باره کې راته بيله بيله مشوره راکړئ!

جواب: د هر يو تفصيل ليکل خو ګران دي، مختصر دا چې د کوم سړي د ګټې غالبه حصه چې د حلالو وی هغه ستاسو دپاره جائز دي، او د چا د ګټې غالبه حصه چې حلال نه وي. د هغې نه ځان ساتل پکار دي او هغوی ته دې وويل شي چې که تاسو په بچيو باندې سبق وايئ نو ماته حلالې پيسې راوړئ. [1]

---

[1]] آکل الربا وكاسب الحرام اهدیٰ اليه او اضافه وغالب ماله حرام لا يقبل ولا يأكل مالم يخبره ان ذٰلک المال اصله حلال. (عالمگيري/٥/ ٣٤٣/ الباب الثانی عشر فی الهدايا والضيافات، كتاب الكراهية). ايضاً: اذا كان غالب مال المهدی حلالاً، فلا بأس بقبول هديته واكل ماله مالم يتبين انه من حرام. (الاشباه والنظائر/١٢٥، طبع ادارة القرآن)

د بینک مختلف د اوبو، بجلۍ او ګیس د تنخوا ګانو د ادا کولو خدمات ادا کونکي تنخوا ولې حرامه ده؟

سوال: د قرضې د ورکولو نه پرته نن سبا بینک د روزمره ژوند لازمي جزء جوړ شوی دی او مختلف خدمات پوره کوي، د اوبو، بجلۍ او ګیس وغیره بیل، ټیکس، د تنخوا ګانو ادائیګي، د یو ملک نه بل ملک ته رمینځه د تاجر حضراتو تجارتي رابطې، د پیسو لیږد او داسې نور... یعنې د بینک د اهمیت نه هم انکار نه شي کیدې، هغه خلک کوم چې دې ادارې سره تړلي دي، هغوی دا خدمات هم پوره کوی آیا د خدمت چې کوم حق هغوی اخلي هغه جائز دی او که ناجائز؟

جواب: هغه خدمات په ځای دي، خو بینک په سودي نظام باندې روان دی، که دا نظام بدل کړل شي، نو بینک ډیر مفید شي دی، که نه، د ټولو نه زیات نقصان ورکونکی شي دی

آیا د تصویر ویستلو په شان د بینک ملازمت هم مجبوري نه ده حال دا چې بل څه ملازمت نه ملاویږي؟

سوال: د بینک په پیشې سره په زرګونو نه بلکې په لکونو خلک تړلي دي، نن سبا د ملازمتونو حال تاسو ته معلوم دی، موږ د نه غوښتلو باوجود د خپلې ښځې، بچیو، مور یا خور ورور وغیره د کفالت له پاره د دې پیشې سره تړلي یو، تاسو په مخکې یو اشاعت کې فرمایلي و چې د بینک د ملازمت کونکي ګټه حرامه ده، نه یې رزق حلال دی او نه یې عبادت قبول دی، تردې چې کوم رشته دار په بینک کې ملازمت کوي، د هغوی د کور نه خوراک څښاک او هغوی سره تعلق ساتل هم صحیح نه دي، زما د دې ټولو خبرو مطلب ستاسو نه رهنمائي حاصلول دي، الحمد لله! مسلمان یم او کوشش کوم چې د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ په بیان کړې لاره باندې لاړ شم، خو مسلسل په ذهني پریشاني کې اخته یم، تاسو د تصویر په باره کې یوځل فرمایلي و چې که قانوني مجبوري وي نو ویستل کیدای شي، چې د هغه عذاب یا جواب ورکول به د حکومت په ذمه وي، نو په دې اقتصادي نظام کې د کوم چې مونږ برخه یو، موږ خلک څومره ذمه دار یو؟

جواب: په دې خو زه هم پوهیږم چې د لکونو خلکو د معاش ذریعه هم دا ده او په دې هم پوهیږم چې زما په وینا څه! د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ په وینا باندې به هم د معاش دا ذریعه نه پریږدي! خو زهر خوړونکو ته دا ویل په هر حال ضروري دي چې تاسو څه خورئ دا زهر دي، د دې فائده به دا وی چې که نور څه نه وي، نو هغوی به خپل ځان ګنهګار ګڼړلو سره استغفار خو کوي، په دې وجه تاسو درې کاره وکړئ: یو دا چې د یو حلال ذریعه معاش په

لهون کې ولګيږئ، او د الله پاک نه دعا هم کوئ. دويم دا چې د الله پاک نه معافي غواړئ، او خپل ځان د الله او رسول مجرم ګڼړئ. دريم دا چې د بنيک نه درته کومه تنخواه ملاويږی هغه په کور کې مه خرچ کوئ مه هغه صدقه او خيرات کوئ او مه پرې حج او عمره کوئ. بلکې د يو غيرمسلم نه قرض اخيستوسره خرچ کوئ. اوپه خپله پوره تنخواه سره د هغه قرض ادا کوئ.[۱]

بينک کې د سودي کاروبارپه وجه نوکري حرامه ده

سوال: اياپاکستان کې دبينک نوکري حلاله ده اوکه حرامه؟ په صفاالفاظو کې، ځکه چې څه حضرات چې هغوی دلمونځ اودس پابندي اوډپنځلس شل کالوڼراهيسې بينک کې نوکران دي، اوخپل اولاديې هم دې کې داخل کړي دي، اوداوايي چې موږمنوچې دسودکاروبارمکمل طورباندې حرام دی، خودبينک نوکري اګرچې بينک کې دسودنظام دی) يوه مزدوري ده، اودهغې موږاجرت اخلو، اصل سود خواره افسران دي، دچاپه لاس کې چې ټول نظام دی، نو موږ خويوازې نوکران يواوموږخوسودنه اخلو او داسې نور....

جواب: ترڅوپورې چې به دبينک نظام په سودباندې چليږی، ددې نوکري حرامه ده، ددې حضراتو دا استدلال چې: موږخونوکران يوپخپله خوسودنه اخلو. دجوازدليل نه دی.

ځکه چې دحضور ﷺ حديث کې دي:

,,رسول الله ﷺ په سودخوړونکي، اوپه بل خوړونکي اوددې په ليکونکي اوددې ګواهي ورکونکي باندې لعنت فرمايلی دی، او فرمايي چې داټول برابردي.،،[۲]

پس کله چې حضور ﷺ ټول ملعون اوګناه کې برابرګڼړلي دي، نودا ويل څنګه صحيح کيدای شي چې: زه خوپخپله باندې سودنه اخلم، زه خوذسودي اداري نوکريم.

له دې نه پرته بينک کې چې کومې تنخواګانې ملاويږی، هغه هم دسودنه ورکول کيږي، اودحرام مال نه تنخواه اخيستل څنګه حلال کيدای شي؟ که چادبدکاري اډه جوړه کړې وي اوهغه يوڅونوکران خپله اداره کې دکارکولوله پاره ساتلي وي، اوهغوی ته ددغې ګنده ګټې نه تنخوا ورکوی، نواياذهغو نوکرانوله پاره دغه نوکري حلال کيدای شي اودهغوی تنخوا صفاکيدای شي؟

---

[۱] وفی شرح حيل الخصاف لشمس الأئمة الحلوانی رحمه الله ان الشيخ الامام ابا القاسم الحكيم كان ممن يأخذ جائزة السلطان وكان يستقرض بجميع حوائجه وما يأخذ من الجائزة كان يضى به دينه. (خلاصة الفتاوي/ ٤/ ٣٤٩). ايضاً: واذا اراد ان يحج ولم يكن معه الا مال حرام او فيه شبهة فيستدين للحج من مال حلال ليس فيه شبهة ويحج به ثم يقض دينه فی ماله. (ارشاد الساري/ ٣/ طبع بيروت).

[۲] عن علی رضی الله عنه انه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم: آكل الربا وموكله وكاتبه وشاهديه وقال هم سواء. (صحيح مسلم/٢ / ٢٧/ باب الربا)۔

کوم خلک چې بینک کې نوکران دي، هغوی ته پکار دی چې ترڅو پورې بینک کې د سود نظام نافذ دی، خپله پیشه ګناه او تنخواه ناپاکه وګڼي او الله تعالی ته استغفار کوي. او د جائز نوکري تلاش دې کوي، کله چې جائز نوکري ورته ملاوشي، نو سمدستي دې د بینک نوکري پریږدي.

د بینک نوکر د ګناه د شدت کمولو له پاره څه وکړي؟

سوال: زه د اتوکلو راهیبسې بینک کې د استهینوپه حیثیت باندې نوکر یم، او دا نوکري د اسلام مطابق حرامه ده، زه د دې دلدل نه وتل غواړم، خو په هیڅ نه پوهیږم چې څنګه ترې نه خان خلاص کړم؟ د کور ذمه داري ډیرې زیاتې دي او د اسې څه روزګار هم راته په نظر نه راځي. اُمید لرم چې څه ښه مشوره به راته راکړئ!

جواب: تاسو د دریو خبرو خیال ساتئ:

١. تاسو خپل ځان ګناهګار ګڼلو سره توبه کوئ، او الله تعالی ته دعا کوئ چې د حلال امدن څه ذریعه درته درکړي.

٢. د حلالې نوکرئ تلاش او کوشش جاري ساتئ، که څه هم هغه کې امدن کم وي، خو د ضرورت او ګذارې مطابق وي.

٣. تاسو د بینک تنخوا کور کې مه استعمالوئ، بلکې هره میاشت د یو غیرمسلم نه قرض اخیستو باندې د کور خرچ چلوئ، او د بینک تنخوا په قرض کې ورکوئ، خو دې شرط سره چې د اسې کول ممکن وي.[١]

د بینک د تنخوا د ضرر کمولو تدبیر

سوال: زه یو بینک کې نوکریم، دې باره کې تاسو ته خواست دی چې ماته د دې سوالونو جوابونه راکړئ:

١. دا پیشه حلاله ده او که نه؟ ځکه چې موږ محنت کوو، او د هغې راته معاوضه ملاویږي.

٢. تاسو فرمایلي وچې تنخوا د یو غیرمسلم نه قرض اخلئ او هغه ته خپله تنخوا اداکوئ. که چیرې غیرمسلم پیژند ګلونه وي، نو د دې بله څه طریقه کیدای شي؟

٣. د حلال رزق د پاره کوشش کوم، خو کامیابي راته نه ملاویږي، آیا د دې پیسو خوړونکي کس دعا قبلیږي او که نه؟ ځکه چې زه دعا کوم، که دعا نه قبلیږي، نو بیا په څه طریقه باندې بله وسیله جوړولی شم؟

١] وفی شرح حیل الخصاف لشمس الأئمة الحلوانی رحمه الله ان الشیخ الامام ابا القاسم الحکیم کان ممن یأخذ جائزة السلطان وکان یستقرض بجمیع حوائجه وما یأخذ من الجائزة کان یقضی به دینه. (خلاصة الفتاوی/ ٤/ ٣٤٩). ایضاً: واذا اراد ان یحج ولم یکن معه الا مال حرام او فیه شبهة فیستدین للحج من مال حلال لیس فیه شبهة ویحج به ثم یقض دینه فی ماله. (ارشاد الساري/ ٣/ طبع بیروت)۔

۴. مادې پیسو باندې بل کاروبار کړی و، خو ماته داووه زرو روپو نقصان وشو، اوس زه د بل کاروبار کولو نه ویریږم، ځکه چې داپیسې کوم ځای هم استعمالوم، هغه کې نقصان کیږي، مهرباني وکړئ او ددې حل راته بیان کړئ که څه کاروبار کول وي نو څه وکړم؟
۵. خلک وایي چې ددې پیسو صدقه او خیرات هم نه قبلیږي، ددې څه طریقه ده؟
۶. مهرباني وکړئ څه داسې طریقه راته وښایئ چې زما دعا ،لمونځ، صدقه او خیرات وغیره قبول شي.

جواب: دبینک ټول نظام په سود باندې چلیږي او د سود نه نوکرانو ته تنخواه ورکول کیږي، په دې وجه باندې داخوجائز نه ده، مادا تدبیر ښودلی و، چې هره میاشت چېرته د غیرمسلم نه قرض اخیستو سره د کور خرچ چلوئ او د بینک تنخواه هغه ته د قرض په اداکولو کې ورکوئ[1] اوس که چېرې تاسو دې تدبیر باندې عمل نه شئ کولي نو توبې او استغفار نه پرته نور څه کیدای شي؟ د حرام مال نه صدقه نه شي کیدای، ددې تدبیر هماغه دی په کوم باندې چې تاسو عمل نه شئ کولی.

د بینک د نوکري په تنخوا څه وکړو؟

سوال: زه چې د کوم وخت نه بینک کې نوکر شوی یم (زما تقریباً پنځه کاله شوي دي) تقریباً هروخت بیماریم، اوس ماته په مرۍ او سینه کې د سهارنه ترماسخوتن پورې تکلیف وي، زه دبینک نوکري پرېښودل غواړم، خو ترڅو پورې چې داتکلیف وي، ماته بله نوکري ملاویدل ګرانه ده، په جنګ اخبار کې "آپ کے مسائل اوران کاحل" کې هم یوځل دې باره کې داجواب راغلی و چې چېرته غیرمسلم نه قرض اخیستو سره خپله تنخوا هغه ته د قرض اداکولو کې ورکړئ، ترڅو پورې چې بله نوکري نه ملاویږي، او دعا او استغفار کوئ. خو زما غیرمسلم سره تعلقات هم نه شته، په دې وجه باندې ماته د هغه نه قرض اخیستل او بیا د خپلې تنخوا په ذریعه هغه ته قرض واپس ورکول ممکن نه دي، تاسو دې سلسله کې مورته لار وښایئ. مادخپل تکلیف علاج د مختلف حکیمانو، ډاکټرانو او روحاني علاج مې هم وکړ، خو اوسه پورې راکې هیڅ فرق نه دی راغلی.

جواب: خپل ځان ګناهګار ګڼلو سره دالله تعالی نه معافي غواړئ او دادعا کوئ چې الله تعالی د خپل رحمت نه درته د حلال رزق لار وښائی او د حرامو نه موبچ کړي.

دچا چې لس کم سل فیصده پیسې د سود وي هغه څنګه توبه وکړي؟

سوال: یو صاحب ټول عمر د بینک نوکري وکړه او د هغه چې څومره امدن و په هغه کې د سود ملاوټ و، او هغه پیسې یې په خپل ځان او خپلو بچیو خرچ کولې، اوس ریټائرډ (متقاعد) شو

[1] ایضاً پورتنئ حواله۔

او بيا يې سودخوري خپله پيشه جوړه کړه، اوس يوازې په سودباندې د هغه گذاره کيږي. خداې دې وکړي که چرې هغه دسودنه توبه وکړي، نودې وخت کې چې هغه سره کومې پيسې دي، په هغو باندې څه وکړي؟ آيا د توبې نه وروسته هغه پيسې حلاليداى شي؟ لس کم سل فيصده پيسې هغه دبينکونونه دسودپه ذريعه باندې گټلي دي.

جواب: توبه کولوباندې پيسې خونه حلاليږي، دحرامو پيسوحکم دادى که چېرې دهغو مالک موجودوي، نوهغه ته دې حواله کړي اوکه په ناجائزطريقه باندې گټل شوې وي. نودصدقې له نيت پرته دې محتاج ته ورکړي[1]، اوکه چېرې هغه سره ناپاکوپيسونه پرته په خپل ځان اوبچيوباندې دخرچ کولودپاره څه نه وي نوددې تدبيردادى چې ديوغيرمسلم نه قرضه واخلي اوهغه دې استعمال کړي اودا ناجائز پيسې دې هغه ته قرض کې اداکړي. په قرض اخيستل شوې پيسې دهغه له پاره حلالې دي[2]، اگرچې دناجائزپيسوپه ذريعه باندې د اداکولو گناه به هغه باندې وي.

بينک کې د نوکر ماما کورکې خوراک کول اوتحفه اخيستل

سوال: زماماما بينک کې نوکري کوي، اوهغه يوه سودي اداره ده، نو آيا موږ دهغه کورکې خوراک کولى شو؟ اوکه چېرې هغه راته تحفې وغيره راکوي، نوهغه استعمالولى شو؟ اودهغه امدن ناجائز اوحرام دى، دهغه په کورکې به زموږلمونځ اوروژه قبليږي اوکه نه؟

جواب: دبينک تنخوا حلاله نه ده، هغوى کره دخوراک کولونه پرهيز کوئ، اوڅه مرچې خوړلي دي هغو باندې استغفاروکړئ. که هغه درته څه تحفه وغيره درکړي نوهغه چېرته محتاجو ته ورکوئ.[3]

---

[1] والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده عليهم و الا فان علم عين الحرام لا يحل له ويتصدق به بنية صاحبه. (ردالمحتار/ ۵/۹۹/مطلب فيمن ورث مالاً حراماً، طبع سعيد). ايضاً: ويتصدق بلا نية الثواب وينوى به براء ة الذمة. (قواعد الفقه/۱۱۵/ طبع صدف پبلشرز کراچی)_

[2] وفي شرح حيل الخصاف لشمس الأئمة الحلوانى رحمه الله ان الشيخ الامام ابا القاسم الحكيم كان ممن يأخذ جائزة السلطان وكان يستقرض بجميع حوائجه وما يأخذ من الجائزة كان يقضى به دينه.(خلاصة الفتاوي/ ۴/ ۳۴۹)

[3] اهدىٰ الى رجل شيئاً او اضافه ان كان غالب ماله الحلال فلا بأس به الا ان يعلم بانه حرام، فان كان الغالب هو الحرام ينبغى ان لا يقبل الهدية ولا يأكل الطعام. (فتاوىٰ عالمگيري/ ۵/ ۳۴۲/ كتاب الكراهية. الباب الثانى عشر في الهدايا والضيافات، طبع رشيديه). ايضاً: اذا كان غالب مال المهدى حلالاً فلا بأس بقبول هديته واكل ماله مالم يتبين انه من حرام. (الأشباه والنظائر/ ۱۲۵/ طبع ادارة القرآن). وفي الفتاوىٰ رجل اهدىٰ الى انسان او اضافه ان كان غالب مال المهدى حراماً لا ينبغي ان يقبل ولا يأكل من طعامه حتى يخبره ان ذالك المال حلال ورثه او استقرضه ولو كان غالب ماله حلالاً لا بأس به مالم يبين انه حرام. (خلاصة الفتاوىٰ/ ۴/ ۳۴۹)_

د بینک ملازم که د جومات له پاره ساعت واخلي نو څه حکم يې دی؟

سوال: اکثر بینک والا د خپل بینک له طرف نه جومات ته ساعت ورکوي، نو آیا دا صحیح ده؟
جواب: که د بینک د تنخوا نه يې ورکوی نو نه دې اخلي.

بینک کې د نوکر خپلوا نو کور کې د خوراک کولو نه ځان ساتئ

سوال: زما يو خپلوان بینک کې نوکر دی، کله چې هغوی کره تلل وي، نو هغوی کره چای وغیره څښل څنګه دي؟ اګرچې زه زړه کې صحیح نه ګڼم خودسخرګني د خپلولي په وجه باندې زمونږ څه نه خوړل په هغوی ډیر بد لګیږي.
جواب: دېچ کیدو کوشش کوئ، او که چېرې مبتلاشئ نو استغفار کوئ[۱]، که ممکن وي. نو هغه خپلوان ته ویل پکار دي چې د بینک تنخوا کورته مه راوړئ، بلکې هره میاشت چېرته د غیرمسلم نه قرض اخلئ او د کور خرچ پرې کوئ، او د بینک تنخوا په قرض کې اداکوئ.[۲]

❖ بیمه کمپنی، انشورنس وغیره ❖

د بیمې او انشورنس شرعي حکم

سوال: بیمه او انشورنس، د اسلامي اصولو له مخې څنګه دي؟ اکثر د بهر ملک نه سامان راغوښتلو له پاره بیمه ضروري وي، ځکه چې د جهاز ډوبیدو او اورلګیدو خطره وي، او داسې صورت کې هغه کس بیمه، یا انشورنس کمپنی باندې دعوه کولو سره ټول قیمت اخیستی شي، داسې صورت کې شریعت څه حکم دی؟
جواب: د بیمې چې کوم اوسني صورتونه چلیږي، هغه شرعي لحاظ سره صحیح نه دي، بلکې د جواري یو ترقي یافته شکل دی، په دې وجه باندې په خپل اختیار باندې بیمه کول جائزنه دي[۳]، او که چېرې د قانوني مجبوري په وجه باندې بیمه کول وي، نو دادا شوي پیسو نه زیاتې پیسې اخیستل جائزنه دي[۴]، چونکې د بیمې کاروبار صحیح نه دی، په دې وجه باندې د بیمې په کمپنی کې نوکري کول هم صحیح نه دي.

---

۱ [ومن يعمل سوءً ا اويظلم نفسه ثم يستغفرالله يجد الله غفوراً رحيماً. (النساء: ۱۱۰)_
۲ [ايضاً پورتنئ حواله)_
۳ [قال تعالي: انما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان. (المائده: ۹۵). ايضاً: ما حرم فعله حرم طلبه. (شرح المجلة لسليم رستم باز/ ۳٤/ المادة: ۳۵)_
٤ [ځکه چه دا زیاتی رقم سود دې. وقال تعالي: واحل الله البيع وحرم الربوا. (البقرة: ۲۷۵)_

د انشورنس د کمپنۍ ملازمت کول

سوال: زه په يوې انشورنس کمپنۍ کې کارکوم، او دلته راتلونه مخکې ماته داپته نه وه چې انشورنس کې کارکول صحيح نه دي، او هغه وخت کې ما يوازې د ژوند انشورنس غلط ګاڼه. دې نوکرۍ کې زه د (١٩٨٥ء) نه يم، زموږ کمپنۍ د ژوند انشورنس نيغ په نيغه نه کوي، بلکې د دې تعلق استيټ لائف سره دی، دا کمپنۍ د ژوند نه پرته پاتې ټولې خطرې اخلي. اصل خبره داده چې زه داغواړم چې هم اوس داپرېږدم، خوکورته چې ګورم نوزماپلارصاحب سرکاري نوکرو، اوس ريټائرډشوی دی، اوکورته يوازې د پلار پنشن راځي.

جواب: تاسوسمدستي دانوکري مه پرېږدئ، البته دجائزنوکري له پاره کوشش کوئ اوالله تعالى نه دعاهم کوئ چې د سود ددې لعنت نه درته خلاصى نصيب کړي، کله چې د معاش څه جائز ذريعه درته ملاؤشي، نوبيايې پرېږدئ، هغه وخت پورې خپل ځان ګناهګارګڼئ اوالله تعالى ته استغفارکوئ! اوکه چېرې داسې صورت وشی چې تاسو دغيرمسلم نه قرض اخلئ اوهغه باندې دکورخرچ چلوئ اوخپله تنخوا هغه ته قرض په اداکولوکې ورکوئ. نوداصورت اختيارول پکاردي.[1]

سوال: ضروري خبره داده چې دکمپنۍ له طرفه دوه وخته چای ملاوېږي، دهغه څښل څنګه دي؟

جواب: مه يې څښئ!

آيا د انشورنس کاروبار جائزدی؟

سوال: زموږ علاقه کې دانشورنس کارکېږي، آيا شرعي لحاظ سره داصحيح دی؟ زماپه نظر کې په دې وجه باندې صحيح دی، که چېرې تاسود يوکورانشورنس وکړئ، اوهغه کورباندې اور ولګېږي، نوتاسوته پيسې ملاؤشي، اوکه چېرې ملاؤنه شي، نوجمع کړل شوې پيسې ضائع شي، په دې وجه باندې دې کې ګټه اوتاوان دواړه شامل دي، په دې وجه باندې داجائزښکاري، خو د ژوند پاليسي کې که چېرې انسان مړشي ياڅه حادثه ورسره ونه شي، نوڅه وخت پس هغه پيسې ډبل شي، آيا ستاسوپه خيال کې دا پروګرام ښه نه دی چې انسان ته حفاظت ملاويدای شي؟ که چېرې يو سړی ياښځه غريب وي اوآخري عمرکې انشورنس وکړي نودابه ښه نه وي؟ بس يوحفاظت شان ورته ملاؤشي، په هرحال ستاسودفتوا انتظاربه وي، اهميت به ستاسودفتوا وي.

---

[1] وفى شرح حيل الخصاف لشمس الأئمة الحلوانى رحمه الله ان الشيخ الامام ابا القاسم الحكيم رحمه الله كان ممن يأخذ جائزة السلطان وكان يستقرض بجميع حوائجه وما يأخذ من الجائزة كان يقضى به دينه.(خلاصة الفتاوي/ ٤/ ٣٤٩)

جواب: دانشورنس کوم صورتونه چي تاسو ليکلي دي، هغه صحيح نه دي، دې معامله کې جواري اوسود دواړوشامل دي[1] پاتې شوه داخبره چې انسان ته حفاظت ملاوشي، ددې جواب قران کريم ورکړی دی:

,,قُلْ فِيهِمَآ إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَـٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا،،

ترجمه: تاسو وفرمايئ چې دې دواړو (استعمال) کې دګناه غټې غټې خبرې هم دي، او خلکو ته (ځيني) فائدې هم دي، اوهغه دګناه خبرې دهغو فائدو نه غټې دي. (ترجمه حضرت تهانوی رحمه الله)

د ميډيکل انشورنس يو جائزصورت

سوال: ميډيکل انشورنس دلته څه داسې طريقه باندې شروع شوچې ديوې ادارې خلک په نمبر نمبر باندې بيمارشول، اودهغه په وجه باندې دخلکومالی حالت ډيرزيات کمزوری شو. له دې وروسته‌يوکس دومره بيمارشوچې هغه سره دعلاج کولودپاره پيسې نه وې، هغه دپاره دهغه خپلوانو او دوستانو څه پيسې جمع کړې اوعلاج يې ورته وکړ، دغه شان دهغه دوستانوکوم چې هغه سره نوکران وو، باقاعده يوفنډقائم کړچې هريوکس به خپلې تنخواه نه څه پيسې دې فنډ کې جمع کوي اوضرورت په وخت کې به هرممبرته دعلاج دپاره مالي امدادورکول کيږي، ددې نه به ممبرانوته دبيمارۍ په وخت کې دعلاج دپاره دفنډنه پيسې ملاويږي.

دغه شان کرار کراردبهرخلکوهم دې فنډکې پيسې جمع کول شروع کړل، اوډيروخلکودې نه فائده اخيستل شروع کړل، اونن په ټوله امريکه کې دارواج عام دی، اوغټې غټې خلک دتنخوا نه بغيردا کاروبارچلوي. دادې ميډيکل انشورنس، تجارتي طورباندې دې نه څوک فائده نه اخلي، که چرې دفنډنه بيمارانوباندې زياتې خرچې وشي، نوممبرانوباندې فيس زيات کړي. اوکه چرې کمه اوشي نو فيس کم کړي، که چېرې داصورت ناجائزدی نوددې جائزصورت څه کيدای شي؟

جواب: دميډيکل انشورنس کوم صورت چې تاسوبيان کړی دی، دهغه په يوه مرحله کې هم سود يا جواري نه شته، اويوکارېکې هم د شريعت خلاف نه شته، په دې وجه باندې خپلوکې امدادکولو دا صورت بغيردڅه کراهت نه جائزبلکې مستحب دی، دعالمانو صاحبانودطرف نه چې دانشورنس اوخپلوکې دامدادکوم جائز صورتونه چې مختلفووختونوکې وړاندې شوي

---

[1] کل قرض جر نفعا فهو حرام، القرض بالشرط حرام والشرط ليس بلازم. (خلاصة الفتاوي/ ٣/ ٥٤).
وحرم لو شرط فيها من الجانبين لأنه يصير قمارا. قال الشامي: وسمى القمار قماراً لأن كل واحد من المقامرين ممن يجوز ان يذهب ماله الى صاحبه ويجوز أن يستفيد مال صاحبه وهوحرام بالنص.(ردالمحتار/ ٦/ ٤٠٣/ كتاب الحظر والاباحة)

دي، هغو کې يوصورت دا هم دی، خوافسوس چې مسلمانانوملکونوکې دې طرف ته هيڅ توجه نه ده ورکړل شوې. کاش! چې دوی ته توفيق اوشی چې دوی اوسنی دورکې دانشورنس حرام صورتونه پريږدي اوجائز صورتونه اختيارکړي. والله اعلم.

بيمه کمپنۍ کې ايجنټ په طورباندې کميشن اخيستل

سوال: دبيمې يوې کمپنۍ اعلان وکړکه څوک دهغوی کمپنۍ سره دايجنټ په طورباندې کارکوي، نوهغوی ته به مناسب کميشن ورکول کيږي، تاسونه دامعلومول غواړم چې آيا داکميشن اخيستل جائزدي؟ اوداهم راته بيان کړئ چې نن سبادديوقسطونودبيمې پاليسي چليږي، چې هغو کې دپاليسي مالک دبيمې دوخت په ختميدو باندې خپلې ادا شوې پيسې دوه چنده حاصلولی شي، تاسووضاحت وفرمايئ چې دا پيسې جائزدي؟

جواب: دبيمې دکمپنواوسنی نظام په سودباندې چليږي، اوسودکې کميشن اخيستل به څنګه وي؟ ددې دبيانولوضرورت نه شته[۱]. دغه شان دوه چنده پيسې اخيستل هم په سودکې داخل دي.

دلس زرو روپو د بيمې شرعي حکم

سوال: حکومت اوس اوس دلس زرورپودبيمې دپروګرام اعلان کړی دی، ددې دجائز کيدو يا ناجائز کيدو باره کې حکم وفرمايئ! داخبره يادساتل پکاردي چې ددې پروګرام په نزدباندې مرحوم استيټ لائف سره هيڅ قسمه معاهده نه وي کړې، اويه همدې وجه باندې هغه قسطونه هم نه اداکوي، يعنی هغه دخپل ژوندسودامخکې نه وي کړې، دمرحوم خپلوان که چېرې هغه پيسې اخيستل غواړي نواخيستلی يې شي، که نه يې اخلي، نودهغوی خپله خوښه ده.

جواب: داخودحکومت دطرف نه امدادي پروګرام دی، ددې په جائز کيدوکې څه شک کيدای شي؟

که بيمه دحکومت د مجبوري په وجه باندې وکړل شي نوڅه حکم يې دی؟

سوال: که بيمه دحکومت له طرف نه لازمي وګرځول شي، نوڅه کول پکاردي؟

جواب: بيمه دسوداوجواري يوقسم دی، اختياري حالاتوکې يې کول ناجائزدي، لازمي کيدو په صورت کې چې قانوني طورباندې څومره کم مقدارکې بيمه کيدای شي، هغومره کول پکاردي.[۲]

---

۱ الحرام ينتقل ای تنتقل حرمته وان تداولته الأيدی وتبدلت الأملاک. (ردالمحتار/۵ / ۹۸). ايضاً: لو رأی المکاس مثلاً يأخذ من احد شيئاً من المکس ثم يعطيه آخر ثم يأخذ من ذالک الآخر آخر فهو حرام اه. (ردالمحتار/ ۵/ ۹۸/ باب البيع الفاسد/ مطلب الحرمة تتعد/ طبع ايچ ايم سعيد کراچی)_

۲] الضرورات تبيح المحظورات...والثانية ما ابيح للضرورة يقدر بقدرها.(الأشباه والنظائر/۱/۴۳/الفن الأول)

بيمه ولې حرامه ده؟ كه څه هم وفات شوي كس د اولاد د پالنې ذريعه وي

سوال: بيمه كول جائز دي او كه نه؟ كه چرې يو غريب سړى يا بل څوک خپله بيمه وكړي او هغه مړشي او د هغه د اولاد د پالنې له پاره څوک نه وي، نو هغوى ته د بيمې پيسې ملاؤشي، او په وجه يې هغوى د خپل كورو الو پالنه كولى شي.

جواب: د بيمې اوسنى نظام په سود باندې چليږي، په دې وجه باندې جائز نه ده[۱]. او د هغه نه اولاد وغيره ته چې كومې پيسې ملاويږي، هغه هم حلاې نه دي.[۲]

❖ جواري (قمار) ❖

....

تاش كول او د هغه د شرط پيسې خوړل

سوال: د مسلمان د پاره تاش كول څنګه دي؟ او كه چرې تاش باندې ګټلې شوې پيسې استعمال شي، نو هغه كوركې خوراک څښاک كول جائز دي او كه نه؟

جواب: تاش كول حرام دي، او دې باندې شرط لګول جواري ده، دې باندې ګټل شوې پيسې د مردار خوړلو په حكم كې دي.[۳]

شرط ايښودو سره جواري كول

سوال: دلته كراچۍ كې خاص طور باندې په اكثر هوټلونو كې د كيرم كلبونه چليږي، او هلته لوبه كونكي حضرات د بوتل يا د چاى شرط لګولو سره لوبه كوي، نو آيا داسې كيرم كول جائز دي او كه ناجائز؟

۱]واحل الله البيع وحرم الربوا. (البقرة: ۲۷۵)_

۲] كوم اصل رقم چه ئې جمع كړې وى دهغې واپس اخستل صحيح دى.)_

۳] يأيها الذين آمنوا انما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون. (المائده: ۹۰). وعن ابي موسيٰ الأشعرى رضي الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم: من لعب بالنرد فقد عصى الله ورسوله. (مشكوٰة/ ۳۸٦). وعن على رضي الله عنه انه كان يقول الشطرنج هو ميسر الأعاجم، وعن ابن شهاب ان ابا الموسى الأشعرى رضي الله عنه قال: لا يلعب بالشطرنج الا خاطى وعنه انه سئل عن لعب الشطرنج فقال: هى من الباطل ولا يحب الله الباطل. (مشكوٰة/ ۳۷۷). وكره تحريماً اللعب بالنرد والشطرنج..........واباحه الشافعى رحمه الله وابو يوسف رحمه الله وهٰذا اذا لم يقامر ولم يداوم ولم يخل بواجب والا فحرام بالاجماع. وفى الشامية: (قوله والشطرنج) انما كره لأن من اشتغل به ذهب عناؤه الدنيوى وجاء ه الغناء الأخروى فهو حرام وكبيرة عندنا وفى اباحته اعانة الشيطان على الاسلام والمسلمين. (ردالمحتار على الدرالمختار/ كتاب الحظر والاباحة/ فصل فى البيع/ ٦/ ۳۹٤)_

جواب: شرط لګولو سره لوبه کول جواري ده، اوجواري حرامه ده. [۱]

چرګان جنګول اوشرط پرې ایښودل

سوال: ډیرو هلکانو دجاهلیت دزمانې رسمونه اوس هم خپل کړي دي، په هغو کې یودارسم هم دی چې چرګان خپلوکې جنګوي، تردې چې یوچرګ بل چرګ وینې کړي اودګټې یاباې فیصله وشي. دې نه پرته درکشواونورو موټرو ریس(رفتار) لګول کیږي، یوازې دا نه، بلکې دچرګانو جنګونکي اواودرکشو ریس لګونکي دې باندې د زرګونو روپیو شرطونه ږدي، دکوم کس چرګ چې جنګ یادرکشه چې وبیلي هغه نورهم ډیرڅه بیلي،آیا اسلامي معاشره کې داکارونه کول جائزدي؟

جواب: شرعی طورباندې داسې مقابلې کول جائزنه دي، اوددې په ذریعه چې کومې پیسې ملاویږي، هغه دجواری اوحرامې پیسې دي. [۲]

دذهني یا علمي مقابلوپه پروګرامونوکې شرکت کول

سوال: څه قسمه ذهني یاعلمي یاتعلیمی مقابلوکې بنیادي طور باندې دمقابلې دحل سره بغیر دڅه واسطې نه(دمنی ارډریاپوسټل ارډر) په شکل کې څه پیسې اخیستل کیږي، لکه جنګ پزل، مشرقي انعامی پزل، نوائے وقت انعامی پزل وغیره. یعنی هریوامیدوارمخکې دمقابلې حل باندې پیسې خرچ کوي، بیادمقابلې په حل باندې قرعه اندازی کیږي اودعمرټکټ یا نور نغد انعامونه وغیره ورکول کیږي، پس تفصیل سره جواب راکړئ چې ددې صورت حال شرعي حیثیت څه دې؟

جواب: داصورت دغائبانه جواری یوقسم اوسودهم دی، کومې پیسې چې دداخلې په صورت وغیره کې ورکول کیږي هغه دډیروپه خواهش او د ډیرواخیستلودپاره ورکول کیږي، په دې وجه باندې سودشو، او ملاویدل یانه ملاویدل یې یقینیي نه دي، په دې وجه باندې جواري شوه. سوداوجواری دواړه حرام دي[۳]. دډیروملاویدوصورت که هغه نغدې ویې اوکه ټکټ په شکل کې، دواړه حرام دي،ددې پروګرامونو اصل مقصددډیرولالچ وي، ذهنی اوعلمي اضافه

۱] وحرم لو شرط فيها من الجانبين لأنه يصير قماراً.......سمي القمار قماراً لأن كل واحد من المقامرين ممن يجوز ان يذهب ماله الىٰ صاحبه ويجوز ان يستفيد مال صاحبه وهوحرام بالنص.(فتاویٰ شامي/۶/۴۰۳/كتاب الحظر والاباحة)

۲] وحرم لو شرط فيها من الجانبين لأنه يصير قماراً. . . . . سمي القمار قماراً لأن كل واحد من المقامرين ممن يجوز ان يذهب ماله الىٰ صاحبه ويجوز ان يستفيد مال صاحبه وهو حرام بالنص. (فتاویٰ شامي/ ۶/ ۴۰۳/ كتاب الحظر والاباحة)_

۳]وأحل الله البيع وحرم الربٰوا. (البقرة: ۲۷۵). يٰأيها الذين آمنوا انما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون. (المائده: ۹۰)_

يې مقصدنه وي، دغه شان دجواري عادت اوحوصله پيداکيږي، دادجواري يوشريفانه قسم دی. والله اعلم.

د جواري باره کې د يو حديث تحقيق

سوال: څه وخت مخکې مايوحديث دې الفاظوکې اوريدلی و چې: رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې چاجواري وکړه، لکه چې هغه زماپه وينه باندې لاسونه رنګ کړل. ماداحديث دضرورت په وخت کې اکثرخلکوته بيان کړی دی، اوس تقريباً څلوينبت کاله پس دچاپه ويناباندې مې دې طرف ته توجه شوه چې آيا داحديث هم دې الفاظوکې دی اوکه نه؟ مادې باره کې کوشش وکړ. خواوسه پورې زماپه نظرباندې داحديث نه دی راغلی، په دې وجه باندې ماسره ويره شوه چې چېرته مادااحديث غلط خونه دی بيان کړی،نوتاسو وفرمايئ چې داحديث صحيح دی اوکه غلط؟ اوکه دې نوپه کوموالفاظوکې دی اوپه کوم کتاب کې دی؟ چې ددماغونه مې بوج ختم شي، الله تعالی به تاسوته جزائے خيردرکړي.

جواب: تاسوچې حديث په کوموالفاظوکې نقل کړې دې هغه خومې چېرې هم په نظرنه دی راغلی، خو صحيح مسلم کې دحضرت بريده بن حصيب اسلمي رضی الله عنه نه روايت دی چې:

عن بريدة رضی الله عنه ان النبی صلی الله عليه وسلم قال: من لعب بالنردشير فکانما صبغ يده فی لحم خنزير ودمه. (رواه مسلم، مشکوة ص۳۸۶)

ترجمه حضور ﷺ فرمايلي دي، چاچې دنردشيرلوبه وکړه نوهغه داسې وکړل لکه چې دخنزيرپه غوښه اووينه باندې لاسونه رنګ کړل.

اودمسنداحمدپه يوحديث کې دي چې: حضور ﷺ فرمايلي دي: کوم کس چې نردلوبه وکړي اوبيا لاړشي لمونځ کوي، نودهغه مثال داسې دی چې يوسړی په پيپ اود خنزيرپه وينه باندې اودس وکړي، اوبيالاړشي لمونځ کوی. (تفسيرابن کثيرج۲ ص۹۲)

عن علی رضی الله عنه انه کان يقول: الشطرنج هوميسرالاعاجم. (مشکوة ص ۳۸۷)[1]

ترجمه دحضرت علی رضی الله عنه ارشاددې چې شطرنج دعجميانوجواري ده.

عن ابن شهاب ان اباموسی الاشعری رضی الله عنه قال: لايلعب بالشطرنج الاخاطی. (مشکوة ص ۳۸۷)

---

[1] وقال الامام احمد: حدثنا مکی بن ابراهيم: حدثنا الجعيد عن موسی بن عبدالرحمٰن الخطمي: انه سمع محمد بن کعب وهو يسأل عبدالرحمٰن يقول: ما سمعت اباک يقول عن رسول الله صلی الله عليه وسلم؟ فقال عبدالرحمٰن: سمعت ابی يقول: سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم: مثل الذی يلعب بالنرد، ثم يقوم فيصلی، مثل الذين يتوضأ بالقيح ودم الخنزير، ثم يقوم فيصلی.(تفسير ابن کثير/ ۲/ ۶۰۲/ طبع مکتبه رشيديه کوئته)

ترجمه د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه ارشاد دی چې د شطرنج لوبه یوازې نافرمان او خطاکار خلک کولی شي.

د قرعه اندازې په ذریعه باندې د بل نه خوراک څښاک کول

سوال: مونږ پنځه دوستان یو او د شپې روزانه په هوټل کې جمع کیږو او بیا خپلو کې قرعه اندازي کوو، د چاچې نوم راووځي هغه په ټولو باندې خوراک څښاک کوي، دې اکثر داسې کیږي چې د یو کس نوم په هفته کې څلور ځله هم راوځي، د چا دوه ځله او د چا بالکل نه راوځي نو دې باره کې شرعي حکم څه دی؟

جواب: دا قرعه اندازی جائزنه ده[1]، خو که چرې داصورت وي چې د چانوم یوځل راووځي، نوبه دویم ځل به د هغه نوم قرعه اندازي کې نه شاملیږي، تردې پورې چې د ټولو ملګرو نمبر اوشي نو بیا جائزده.[2]

قرعه اندازي کول او سره د یو بل نه خوراک کول

سوال: یوڅو کسانو خپلو کې دا فیصله وکړه چې مونږ به قرعه اندازي وکړو، د چانوم چې راوخوت هغه به ټولو کسانو باندې چاې څښنې یا به پرې مټايي خوري. که څه هم د هغه نوم روزانه راوځي، هغه به ضرور په هغوی باندې خوراک څښاک کوي، موږ هغه دې خبرې نه منع کړو، چې دا جائزنه دی چې یو کس باندې روزانه بوج واچول شي، د کوم کس نوم چې یوځل راوخيژي، په دویمه ورځ باندې د هغه نوم پرچوکې مه اچوئ.

جواب: داځنګه چې مقررشوې ده چې د چانوم راوخوت، هغه به دربانديې چاې څښنې، ښکاره طورباندې جواري ده، داجائزنه ده[3] او تاسو چې کوم تجويزوړاندې کړې دی، هغه صحیح دی.

۱]یأیها الذین آمنوا انما الخمر والمیسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشیطان فاجتنبوه لعلکم تفلحون. (المائده: ۹۰). ایضاً: وحرم لو شرط فیها من الجانبین لأنه یصیر قماراً. . . . . سمی القمار قماراً لأن کل واحد من المقامرین ممن یجوز ان یذهب ماله الیٰ صاحبه ویجوز ان یستفید مال صاحبه وهو حرام بالنص. (فتاویٰ شامي/ ٦/ ٤٠٣/ کتاب الحظر والاباحة/ فصل فی البیع/ طبع سعید)_

۲] وذکر الناطفی ان القرعة ثلاثة: الأولیٰ لاثبات حق البعض وابطال حق البعض وانها باطلة. والثانیة لطیبة النفس وانها جائزة کالقرعة بین النساء فی السفر، والثالثة لاثبات حق واحد فی مقابلة مثله فیفرز بها حق کل واحد منهما وهو جائز. (عالمګیري/ ٥/ ٢١٧/ طبع رشیدیه کوئته)_

۳] ایضاً، دغه شان اوګورئ تیره شوې حاشیه(یأیها الذین آمنوا انما الخمر والمیسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشیطان. . . الخ)_

❖ پرائزبانډ، بیسي او انعامي پروګرامونه ❖

....

د پراویډنټ فنډ شرعي حیثیت

سوال: د پراویډنټ فنډ په شریعت کې څه حیثیت دی؟

جواب: د مفتي محمد شفیع رحمه الله فتوا ده چې پراویډنټ فنډ اخیستل جائز دي.

جي پي فنډ اخیستل جائز دي

سوال: د ستاسو کالم چې په جنګ اخبار کې چاپ کیږي په هغه کې تاسو لیکل شوي دي چې د جي پي فنډ کوم رقم زیاتي ۲۰ فیصد سود وي هغه که چیرې یې وا نه خلي، نو بهتره ده او که چیرې وایي اخیست، نو هیڅ حرج نه شته ، جي پي فنډ چې هغه ګورنمنټ د تنخوانه کټ کوي او د ریټائرډ کیدو نه وروسته یې څومره هم چې رقم جوړیږي په دې باندې (۲۰) فیصده سود لګوي او ورکوي یې، براه کرم تاسو موږ ته ووایئ چې موږ دا زیاتي روپۍ (۲۰) فیصده حلال وګڼو او په نیک مقصدونو یا په ذاتي مقصدونو کې لګولی شو او که نه؟

جواب: جي پي فنډ کوم چې ګورنمنټ د ریټائرډ(متقاعد) کیدونکو ملازمینو ته ورکوي، ددې اخیستل جائز دي او په دې باندې چې کومه اضافه د سود په نوم ورکوي ددې اخیستل هم جائز دي، له دې وجې چې مذکوره روپۍ په حقیقت کې د تنخوا برخه ده [1]

د پنشن(تقاعدي) روپۍ اخیستل څنګه دي؟

سوال: ما په ګورنمنټ کې ملازمت کاو اوس ریټائرډ(متقاعد) شوی یم، هره میاشت ماته پنشن راکول کیږي چې هغه د اسټیټ بینک نه اخلم، په شرعي ډول باندې دا جائز دي او که نه؟ ځیني خلک وایي چې په کوم کار باندې محنت نه وي خرچ شوی، نو ددې معاوضه هم ناجائزه ده.

جواب: د پنشن(تقاعدي) روپۍ د معاوضې یوه برخه ده، له دې وجې ددې اخیستل جائز دي.[2]

---

[1] قوله بالتعجيل او بشرطه أو بالاستيفاء او بالتمكن يعنى لا يملك الأجرة الا بواحدة من هٰذه الأربعة، والمراد انه لا يستحقها الموجر الا بذٰلک. (البحرالرائق/ ۷/ ۵۱۱/ كتاب الاجارة طبع رشيديه). وتستحق باحدى معانى ثلاثة: اما بشرط التعجيل اوبالتعجيل من غيرشرط او باستيفاء المعقود عليه. (الهداية، باب الأجر متى يستحق / ۳/ ۲۹۲).

[2] قوله بالتعجيل او بشرط أو بالاستيفاء او بالتمكن يعنى لا يملك ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

پنشن جائز دی ددې حیثیت د عطیې دی

سوال: گورنمنټ ملازمینو ته د ملازمت د ختمیدو نه وروسته پنشن بطور حق ورکوي، د مروجه قانون مطابق پنشن اخیستونکي ته دا حق حاصل دی چې که چیرې هغه غواړي، نو هغه دې خپل نیم پنشن په گورنمنټ باندې خرڅ کړي، یعنې د پنشن ددې روپیو په عوض کې به یوازې نغدې روپې واخلي، دې ته په انگریزي کې کمیوټیشن آف پنشن وایي، ددې له پاره شرط دادی چې پنشن اخیستونکی بالکل تندرست وي او مقامي سول سرجن دده تندرستوالی تسلیم کړي او سرټیفکیټ ورکړي، په بل صورت یې منظوري نه کیږي، په عام ډول باندې چې کله پنشن اخیستونکی تندرست وي، نو د ژوند اخرې اویا کلونه شمیرل کیږي او په دې حساب سره په یوازې روپې د پنشن په عوض کې اداء کیږي او اوس هغه د همیشه له پاره د پنشن ددې برخې نه کوم چې هغه خرڅ کړی وي ددې نه محرومیږي، دا رنګه په ځینې حالاتو کې که چیرې پنشن اخیستونکی زر مړشي، نو گورنمنټ په نقصان کې وي او که چیرې د اویا کلنو نه زیات ژوندی وي، نو په خپله پنشن اخیستونکي په نقصان کې وي، اوس په ملک کې اسلامي قانون نافذ دی، جواري، شراب اوداسې نور... بند دي او زکات وصولیږي، نو ایا دا مروجه قانون د پورته ذکرشوې شکل مطابق جواري یا د شرط ممنوعه حدودو کې شامل نه دي؟ که چیرې جواب په اثبات کې وي، نو په دې حالت کې ایا گورنمنټ ته دې ټولو پنشن اخیستونکو ته چې اویا کاله حد یې پوره کړی دی او اوس هم ژوندي دي ددوی خرڅ کړی پنشن په حال کول نه دي پکار لکه څنګه چې سود (ربا) د حرام کیدو سره د اصل نه سوا د هر قسمه سود وصولول ممنوع کړل شوي دي او عملاً یې معاف کړی دی.

براېې کرم جواب د جنگ په کالم د ، اپ کې مسائل اور ان کا حل، ، کې ذکر کړئ ددې له پاره چې نورو عالمانو ته هم د خپلې رایې موقعه ملاوشي او بل دا چې معامله د وخت د موجوده حکومت سره متعلق ده، له دې وجې په ادب سره عرض دی چې جواب د خدای جل جلاله له پاره د داسې تاویل او توجیه نه پاک وي چې هغه د اصول مسلمه نه خلاف وي، الله تعالی دې جناب ته دخیر بدله ورکړي. امین!

جواب: پنشن د حیثیت په لحاظ سره عطیه ده، له دې وجې چې کومه معامله د پنشن اخیستونکي او د حکومت په مینځ کې مقرره شي هغه صحیح ده، دا جواري نه ده.

بقیه د تیرمخ]... الأجرة الا بواحدة من هٰذه الأربعة، والمراد انه لا یستحقها الموجر الا بذٰلک. (البحرالرائق/ ۷/ ۵۱۱/ کتاب الاجارة طبع رشیدیه کوئته).

کونډې له پاره د خاوند میراث په قومي بچت پروګرام کې جمع کول جائزدي اوکه نه؟

سوال: یوسړی دخپل مرګ نه وروسته یوه کونډه اودوه بچي پريښودل، دهغه ښځه بل واده کول نه غواړي اودخاوندپريښودل شوې پیسې په قومي بچت یابل څه ګټه ورکونکي پروګرام کې لګول غواړي او دهغو په ګټه (چې هغه په نوروالفاظوکې سوددی) خپل او دخپلو بچیو وخت تیرول غواړي، ایا دهغې له پاره داسې کول جائزدي؟ اوپه اسلام کې سودحرام دی. تردې پورې چې هغه بدن به جنت ته نه داخلیږي کوم چې په حرامو باندې غټ شوی وي.

جواب: دکونډې دخپل خاوندپه میراث کې اتمه برخه ده[1]، پاتې اووه برخې دهغې دبچیودي، د سود امدن حرام دی[2]، هغه پیسې چیرته په جائزکاروبارکې لګول پکاردي.

دانټرپرائزز ادارو دپروګرامونو شرعي حیثیت

سوال: دانټرپرائززدادارودپروګرامونو طریقه داده چې هغوی دخپلو ټولو ممبرانونه په قسط باندې پیسې اخلي اوهره میاشت قرعه اندازي کیږي، دچاچې نوم راوځي هغه ته موټرسائیکل یاموټر اوداسې نور... ورکړي اونورې پیسې ترې اخلي، ایا داطریقه جائزده؟ اوهغه شی دهغه له پاره حلال دی اوکه نه؟ اوپاتې ممبران هره میاشت قسط جمع کوي، یوسړي ته خوبه یوقسط باندې موټرسائیکل یا موټر ملاوشي اونوروته د اخره پورې قسط ورکول وي، ددې جواب بیان کړئ چې داپروګرام جائزدی اوکه نه؟

جواب: داصورت ناجائزاو دلاټرۍ په شان دی[3].

د هلال احمردلاټري پروګرام د جواري یوشکل دی

سوال: دنورو ملکونوپه شان پاکستان کې هم یوه اداره دهلال احمر په نوم باندې کارکوي، چې هغوی دغریبانوخلکوپه نوم باندې درې روپۍ باندې انعامي ټکټونه خرڅوي، دهغو ټکټونو دقرعه اندازي هماغه طریقه وي، کومه چې دانعامي بانډونو وي، ددې ادارې له طرف

---

[1]]قال تعالیٰ:فان کان لکم ولد فلهن الثمن.(النساء: ۱۲)یجوز العصبة بنفسه ما ابقت الفرائض وعند الانفراد یجوز جمیع المال ثم العصبات بالقسم اربعة اصناف جزء المیت کالابن ثم ابنه وان سفل. (درمختار/ ۶/ ۷۷۴)_

[2]]واحل الله البیع وحرم الربوا. (البقرة/ ۲۷۵). وعن علی رضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم: آکل الربا وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء. (مسلم/۲ / ۲۷)_

[3]] یٰایها الذین آمنوا انما الخمر والمیسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشیطان. الآیة. قال الشامي: سمی القمار قماراً لأن کل واحد من المقا مرین ممن یجوز ان یذهب ماله الیٰ صاحبه ویجوز ان یستفید مال صاحبه وهو حرام بالنص. (فتاویٰ شامي/ ۶/ ۳۰۴/ کتاب الحظر والاباحة/ فصل فی البیع/ طبع سعید)_

نه هره میاشت د قرعه اندازي په ذريعه باندې انعامونه تقسيميږي، مسئله داده چې تاسو ووايئ چې ددې ادارې له طرف نه دغريبانو خلکو کوم خدمت کيږي ايا هغه جائزدی؟ ځکه چې په کومو پيسو باندې دغه نيک کار کيږي هغه ددې ټکټونوپه ذريعه حاصليږي اوهغو خلکوته دانعام لالچ ورکولو باندې خرڅول کيږي اوکه چيرې ددې ټکټ اخيستونه وروسته دچا انعام راوځي، نوايا هغه به حلال وي اوکه حرام؟ اکثرپه ريډيو باندې ددې ادارې له طرف نه دا اعلان وشي چې دهلال احمر ددريو روپيو والاټکټونه اخيستوسره دغريبانوپه خدمت کې برخه واخلئ اودلکونوروپيوانعامونه حاصل کړئ!

دا ووايئ چې داسې دغريبانانوخلکوخدمت کيدای شي؟ اوکه چيرې موږ داټکټونه واخلو، نو موږ ته به ثواب ملاويږي؟ اوداټکټونه يوازې دانعام په لالچ کې اخيستل کيږي، بيادهغو ټکټونو د اخيستلو ثواب سره څه تعلق دی؟ اوکه چيرې دافرض کړوچې زموږ زړونوکې دانعام لالچ بالکل نه شته، نو ايا ددې ټکټونوپه اخيستوباندې به ثواب ملاويږي؟ زماپه خيال د غريبانو خلکوخدمت داسې هم کيدای شي چې کوم خلک داټکټونه اخلي هغوی دټکټونو اخيستو په ځای باندې دغه پيسې دهلال احمرپه فنډکې ورکولوسره ثواب حاصلولی شي اودا اداره دلکونو روپيوانعامونه هره مياشت تقسيموي، داپيسې هم دغريبانوخلکوپه خدمت کې خرچ کيدای شي، مهرباني وکړئ ددې مسئلې تفصيل سره جواب راکړئ چې زما پريشاني ختمه شي.

جواب: دهلال احمراداره خوډيره ضروري ده اودخلکوخدمت کول دثواب کاردی، خو د پيسوجمع کولوکومه طريقه چې تاسوليکلې ده دا دجوارې(قمار) يوشکل دی اوشرعي ډول باندې دا جائزنه ده.[1]

هره مياشت سل روپۍ جمع کولوسره د پنځوزرو روپيو اخيستو سکيم(پروګرام) جائزنه دی

سوال: يوکس تقريبا شلوکالونه دحيدرابادپه يوه سيمه کې اوسيږي، ډيرزيات شريف او اخلاقي سړی دی، خلک هغه ته عزت په نظر ګوري، دخلکودمسئلونه خبردی، تعليم يافته دی اود خاندان نه هم ښه دی، جامواوشکل اوصورت باندې شرعي ډول سره صحيح دی، د لمونځ او روژو پابنددی، دخپلې محلې په جوماتونو کې اکثرديني جلسوکې خطاب کوي اوکله کله داامام صاحب په غيرموجودګي کې پنځه وخته لمونځ اودجمعې په ورځ تقرير ياد امامتي فرائض هم اداکوي، کله ناکله دنورومحلوپه جوماتونوکې دهغوی داامامانوپه غيرموجودګي

---

[1] قال تعالي: يسئلونک عن الخمر والميسر قل فيهما اثم کبير ومنافع للناس. (البقرة: ۲۱۹). ولا خلاف بين اهل العلم في تحريم القمار وان المخاطرة من القمار قال ابن عباس رضی الله عنهما ان المخاطِرة قمار وقد کان ذٰلک مباحاً الیٰ ان ورد التحريم. (احکام القرآن للجصاص/ ۱/ ۲۹۸/ طبع سهيل اکيدمی/لاهور)_

کې دجمعې لمونځ ورکوي اود تقریرله پاره هغه رابلل کیږي.
هغه یوپروګرام شروع کړی دی اودهغه نګران اوضمانتي هغه پخپله دی، دې سکیم کې دوه نیم سوه ممبران دي، داپروګرام دسلو اودوه سوه روپیو دمیاشتې دی اوددې وخت پنځوس میاشتې دی، دسلوروپیو والا ممبرته پنځه زره اوددوه سوو والا ممبرته لس زره روپۍ هره میاشت دقرعه اندازي په ذریعه باندې ورکوي پنځوس میاشتوکې دقرعه اندازي نه پاتې شویو خلکوته به جمع شوې ټولې پیسې یعنې سل روپیو والاته پنځه زره اودوه سوو والاته لس زره روپۍ په یوځای باندې ورکوي ځکه چې پنځوس میاشتوکې به دهغوی همدغه پیسې جمع شوي وي،خو هره میاشت دقرعه اندازي په ذریعه باندې چې دچانوم راوځي، هغه ممبرته په یوځای پنځه یالس زره روپۍ دامدادپه ډول باندې ورکړل شي اودهغه په ذمه چې کوم قسطونه پاتې شي، هغه ترې نه اخیستل کیږي، دهغه دنوروقسطونواداکولوذمه داري په نګران باندې وي، ځکه چې هریو ممبرته دپیسوورکولونه وروسته چې کومې پیسې پاتې کیږي، هغو له پاره ممبرانوهغه ته داحق ورکړی دی چې دهغوی دې پیسوباندې نګران دپنځوسومیاشتوله پاره څه کاروبارکول غواړي ودې کړي، خو د پنځوسو میاشتونه وروسته پاتې ممبرانوته په مقررشوي وخت باندې ټولې جمع شوې پیسې پرته له څه کټې یاتاوان نه ورکول دهغه ذمه داري ده، نګران نه خودغه پیسې بینک کې جمع سره سود اخلي اونه یې دسودپه څه کاروبارکې لګوي، داخبره هغه الله تعالی حاضراوناظرګڼلو اوخلک ګواه جوړلونه وروسته قسم خوړلوسره کړې ده، هغه داهم ویلي دي چې دادخپل مددپه خپله کونکز پروګرام دی، دې کې دسودهیڅ لین دین نه شته، بلکې اکثرهغه ددې پیسونه ضرورت مندوته قرض هم ورکوي ذکرشوي کس داپروګرام خلکوکې دخپل مددپه خپله باندې دکولوجذبې پیداکولوله پاره اوهغوی کې دبچت کولوعادت پیدا کولو له پاره شروع کړی دی، دې نه دهغه مقصدهیڅ قسمه ناجائزدولت ګټلونه دی، نوداسې حالاتو کې هغه نیک اودین دارکس له پاره دامام په غیرموجودګي کې پنځه وخته لمونځ یادجمعې لمونځ یاخطبه ورکول جائزدي اوکه نه؟ اوهغه کس پسې زموږلمونځونه کیږي اوکه نه؟

جواب: دکوم پروګرام باره کې چې تاسولیکلي دي، شرعي ډول باندې داجواري ده، دې پروګرام کې شرکت کول حرام دي اوکوم کس ته چې دسل روپیوپه بدله کې پنځه زره اوددوه سووپه بدله کې لس زره روپۍ ملاویږي، هغه زیاتې پیسې دهغه له پاره حرامې دي.[۱]

یادونه: کوم نیک کس چې داپروګرام شروع کړی دی، هغه ته ددې نه توبه کول پکاردي، که نه، هغه پسې لمونځ کول جائزنه دي.[۲]

۱] ایضاً پورتنۍ حواله)ـ
۲] ویکره امامة عبد وفاسق واعمٰی. قال الشامي: اما الفاسق فقد عللوا ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

هره میاشت درې سوه ورکول او ۹ زرو کمیټې وصولول او پاتې قسطونه نه ورکول

سوال: د ۹ زرو کمیټی چې په هغه کې هر رکن ته درې سوه روپۍ د میاشتې ورکول وي د چا کمیټي چې خلاصه شي هغه پاتې نورې روپۍ نه ورکوي، یعنې که چیرې یو رکن یوازې نهه زره ملاوشي، سوال دادی چې مذکوره مثال کې ملاویدونکي ته اته زره او سل روپۍ جائز دي یا نه جائز.

جواب: ناجائزدي. [۱]

د پري پیمنټ پروګرام شرعي حیثیت

سوال: ددې دوړ پروګرامونوباره کې ستاسو څه خیال دی:

لومړی : چې هغه کې تقریبا دوه نیم سوونه درې سووپورې ممبران وي، هرممبردرې سوه روپۍ میاشت ورکوي، هره میاشت قرعه اندازي کیږي، قرعه اندازي کې چې دچانوم راوځي، هغه ته پنځلس زره روپۍ یادهغه دمالیت برابرېل څه شی ورکړل شي اوهغه نه پاتې نورقسطونه نه اخلي.

دویم : هغه کې سل ممبران وي اوهره میاشت سل روپۍ ورکوي، هره میاشت قرعه اندازي کې د نوم راوتلوپه صورت کې ددریوزرو روپیوکالي هغه ته ورکول کیږي اودهغه نه پاتې قسطونه نه اخلي دې نه پرته هره میاشت څه کسانوته اضافي انعام هم دقرعه اندازي په ذریعه باندې ورکوي، د لومړي پروګرام ختمیدو وخت پنځوس میاشتې اوددویم پروګرام دیریش میاشتې دی دلومړی او دویم، دواړو پروګرامونو دقانون اوشرطونوپرچې خط سره دي.

جواب: دواړه پروګرامونه دسودیوشکل دی، ځکه چې دواړو کې دټولونه اهم شرط دادی چې دکوم ممبرنوم راوت دهغه نه به نورقسطونه نه اخیستل کیږي اونوم راوتلوباندې به هغه ته یو مقرر شوې پیسې دهغه برابرشي به هغه ته ورکول کیږي بل طرف ته داچې دپیسوجمع کولو مقصد او اراده دډیروپیسوحاصلول وي اودپروګرام دشروع کونکي مقصدهم داوي چې هر یو ممبر قرعه اندازي کې برخه اخیستوسره نوم راوتلوباندې ډیرې پیسې حاصلې کړي، له دې

بقیه د تیرمخ].. کراهة تقدیمه بأنه لا یهتم لأمر دینه وبأن فی تقدیمه للامامة تعظیمه وقد وجب علیهم اهانته شرعاً. . . . . بل مشٰی فی شرح المنیة ان کراهة تقدیمه کراهة تحریم. (ردالمحتار/ ۱/ ۵۶۰/ باب الامامة/ کتاب الصلاة، طبع سعید)_

[۱] لما روی عن رسول الله صلی الله علیه وسلم: انه نهی عن قرض جر نفعاً ولأن الزیادة المشروطة تشبه الربا، لانها فضل لا یقابله عوض، والتحرز عن حقیقة الربا وعن شبهة الربا واجب. (بدائع الصنائع/۷/ ۵۹۷/ کتاب القرض).

وجې دې سوداوجواري دواړه شيان دي اوهغه حرام اوناجائز دي[۱] اوهغه کې مدد کول هم ګناه ده.[۲]

اودلومړې پروګرام داتم شرط مطابق کوم ممبرچې پروګرام جاري نه شي ساتلى دهغه دجمع شوي، پيسونه لس فيصده کټ کول هم ناجائزدي اودهغه پوره پيسې واپس کول پکاردي.[۳]

اوددويم نمبرکې چې ددريوسوو روپيوپه مقابله کې قرعه اندازي کې چې دکوم ممبرنوم نه راوځي هغه ته دپنځلس زرو روپيو اخيستلو اختياردى، هم هلته هغه ته اووه تولوسره زرو اخيستلوهم اختياردى، که هغه سره زر واخلي، نودې اعتبارسره ناجائزدي، ځکه چې کله سره زرياسپين زر د پيسوپه مقابله کې خرڅ شي، نودې کې قبضه په يومجلس کې سمدستي پکارده، يعنې يو طرف ته يې پيسې واخيستلې اوبل طرف ته سره زر ورکړل اودې صورت کې ممبرنه يومياشت مخکې پيسې اخيستل شوې وې اوهغه ته اووه تولې ګينه اوس ورکول کيږي، نودابيع په قرضوباندې وشوه اود سرو يا سپينو زروکې دقرض بيع ناجائزده.[۴]

پورته ذکرشويو اصولوله وجې دواړه ذکرشوي پروګرامونه دشريعت په نزد ناجائزدي، نو دې پروګرامونو کې پيسې لګول هم جائز نه دي.

د بچت سرټيفکيټ ، يونټ وغيره شرعي حيثيت

سوال: دحکومت له طرف نه مختلف قسمه بچت سرټيفکيټونه او يونټې اوداسې نور... جاري شوي دي، هغه شپږکاله وروسته ددوه چنده اولس کاله وروسته ددرې چنده قيمت شي دهغو داپيسې به سودکې شمار وي اوکه ګټه کې؟

جواب: پيسوباندې مقررشوې ګټه شرعي ډول باندې سوددى او حکومت هم داسودګني.[۵]

---

[۱]]واحل الله البيع وحرم الربوا. (البقرة/ ۲۷۵). ولا خلاف بين اهل العلم فى القمار. . . . . الخ.
(احكام القرآن للجصاص الرازي/ ۱/ ۳۹۸/ طبع سهيل اكيدمى)_

[۲]] ولا تعاونوا على الاثم والعدوان. (المائدة: ۲)_

[۳]] قوله لا بأخذ مال فى المذهب قال فى الفتح: وعن ابى يوسف رحمه الله يجوز التعزير للسلطان بأخذ المال وعندهما وباقى الأئمة لايجوز ومثله فى المعراج وظاهره ان ذٰلک رواية ضعيفة عن ابى يوسف رحمه الله قال فى الشرنبلالية: ولا يفتى بهذا لما فيه من تسليط الظلمة على اخذ مال الناس فيأكلونه ومثله فى شرح الوهبانية عن ابن وهبان.(ردالمحتار/ ٤/ ٦١/باب التعزير/مطلب فى التعزيربأخذالمال/طبع ايچ ايم سعيد/كراچى)

[۴]] الصرف هوالبيع اذا كان كل واحد من عوضيه من جنس الأثمان. . . . . اختص بشرائط ثلاثة احدها وجود التقابض من كلا الجانبين. . . . . والثالث ان لا يكون بدل الصرف موجلاً. . . . . . . الخ.
(الجوهرة النيرة/ باب الصرف/ ۱/ ۲۳۳/ دهلى)_

[۵]] هو فضل خال عن عوض بمعيار شرعى مشروط لاحد المتعاقدين فى المعاوضة. (فتاويٰ شامي/٥/١٦٨).
واحل الله البيع وحرم الربوا. (البقرة/ ۲۷۵). كل قرض جرنفعاً فهو حرام. (ردالمحتار/٥/١٦٦)_

دا انجمن ممبرته قرض حسنه ورکولو سره دهغه نه زر روپیو باندې پنځویشت روپۍ ګټه حاصلول

سوال: موږ دفلاحي کارونوله پاره يوانجمن جوړکړی دی اوضرورت مطابق يوممبرته موږ څه پیسې دقرض په ډول ورکوو، خو موږ زر روپیو پسې پنځویشت روپۍ دذکرشوي انجمن له پاره هره میاشت ترې اخلو، اوس انجمن نه چې کوم کس ته پیسې ورکول کیږي هغه کس دانجمن ممبروي تاسود وضاحت وکړئ چې زرروپیو باندې چې کومې پنځویشت روپۍ اخیستل کیږي، هغه سود دی؟ اوکه جائزه ګټه ده؟

جواب: خالص سود دی.[1]

د ممبرانو قسطونه جمع کولو باندې د قرعه اندازي په ذریعه انعام اخیستل

سوال: یوه کمپنۍ دخپلو ممبرانونه هره میاشت قسطونه اخلي اود قرعه اندازي په ذریعه باندې یومقرر شوی شی ورکوي، دکوم ممبرچې نوم راوځي، هغه خپل شی حاصل کړي اوپاتې نورقسطونه نه ورکوي، دمقررشوي وخت پورې څه ممبران پاتې وي، کمپنۍ هغوی ته خپلې پیسې سره دانعامونو واپس کړي، دې صورت کې شراکت جائزدی اوکه نه؟ اوکه جائزنه دی، نوکه چیرې یوممبرپه مینځ کې شراکت ختمول غواړي، نوکمپنۍ دهغه دجمع شویو پیسو نه نیمې پیسې خپل ځان سره کیږدي اونیمې پیسې ممبرته واپس کړي، دې صورت کې ممبرته څه کول پکاردي؟ چې دهغه نیمې پیسې غبن کیږي؟

جواب: دامعامله هم دجواري اوسودیوشکل دی، له دې وجې جائزنه ده[2] اومطالبې کولو باندې دکمپنۍ نیمې پیسې نه واپس کول هم ناجائزدي[3] افسوس دی چې ډیرخلکوداسې کاروبار شروع کړی دی، خونه حکومت په هغوی باندې پابندي لګوي اونه عوام داګوري چې دا صحیح ده اوکه غلط.

قسط (کمیټۍ) اچول جائزدي

سوال: کوم خلک چې دقسط په نوم دوه دیرش روپۍ هریوکس جمعه کوي، میاشت وروسته قرعه اندازي وکړي اودکوم ممبرنوم چې راوځي هغه ته پوره شپږزره روپۍ ورکړي اودهغه جمع

---

[1] ایضاً

[2] واحل الله البیع وحرم الربوا. (البقرة/ ۲۷۵). یٰایها الذین آمنوا انما الخمر والمیسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشیطان فاجتنبوه لعلکم تفلحون. (المائدة: ۹۰)

[3] لا یجوز لأحد من المسلمین اخذ مال احد بغیر سبب شرعی. (فتاويٰ ردالمحتار/٤/ ٦١/مطلب فی التعزیر بأخذ المال/ طبع سعید/ کراچی)

شوې روپۍ خلور کم سل وي، ایا دا جائز دي او که ناجائز؟ د کوم ممبر چې قسط راوځي هغه دوه دیرش روپۍ هره ورځ ور کوي ترڅو پورې چې هغه شپږ زره نه وي پوره کړي.

جواب: د قسط دا طریقه د قرض دلین دین معامله ده، زه خو دا جائز گڼم [1]

د دولسو سړیو سره ملاویدل او کمیټي جوړول

سوال: موږه چې په کومه علاقه کې اوسیږو هلته د دولسو کسانو گروپ یواځې کیدل او کمیټي اچول پکار دي، یعنې چې په هره میاشت کې د یو کس په ذمه باندې دوه زره روپۍ وي او په هره میاشت کې د څلیریشت زره کمیټۍ ورځي دا کمیټي د یو کال وي او د نومونو په ترتیب سره کمیټي ملاویږي، معلوموول دا دي چې دا جائز دي او که نه؟

جواب: ځینې عالمانو ددې د ناجائز کیدو فتوا ورکړې ده، خو زه دیته جائز وایم په دې شرط چې په دې کې یو غلط شرط نه شي کینبودلی، له دې وجې چې دا دیوبل سره د تعاون یو صورت دی.

قسط اچول جائز دي

سوال: ما یو قسط اچولی دی، تیره شوې هفته کې مې دیو صاحب نه واوریدل چې دا قسط اچول کوم چې نن سبا رواج جوړ شوی دی، سراسر سود دی، نومهرباني وکړئ او دا بیان کړئ چې شرعي ډول باندې دا سې کول جائز دي؟

جواب: د قسط اچولو چې کوم عام شکل دی چې یو څو کسان پیسې جمع کړي او بیا د قرعه اندازي په ذریعه باندې یو کس ته هغه پیسې ورکړل شي، دې کې شرعي ډول باندې څه قباحت نه شته، کله چې په نمبر نمبر باندې هغوی ټولو ته خپلې پیسې ملاوشي.

د قسط اچولو مسئله

سوال: نن سبا یو رواج دی چې دولس یا څلویریشت کسان خپلو کې یو کس سره پیسې جمع کړي، مثلاً: هریو کس شپیته روپۍ اود میاشتې په اخري تاریخ باندې پرې قرعه اندازي وکړي، کومې ته چې د نن سبا په اصطلاح کې قسط اچول ویل کیږي، زموږ د ښار عالمان وایي چې دا سود دی، خو ډیر زیات خلک دې کې مبتلا دي او هیڅوک یې هم پرواه نه کوي، بلکې وایي چې دا خو دیو بل سره احسان کول دي، سود څنګه شو؟ نومهرباني وکړئ او د شریعت مطابق ددې بیان وکړئ!

جواب: د قسط مختلف قسمونه عام دي، ځینې د سود او جواري په حکم کې داخل دي او هغه بالکل جائز نه دي او کوم صورت چې په سوال کې ذکر شوی دی، ددې په جواز کې د عالمانو

---

[1] وان لم یکن النفع مشروطاً فی القرض فعلی قول الکرخی رحمه الله لابأس به(ردالمحتار/ ۵ / ۱۶۶/ طبع سعید)

اختلاف دی، ځینې ورته ناجائزوايي اوځينې جائز، له دې وجې پخپله ترې پرهيز کول پکاردي اونوروباندې ډيرزورنه دي کول پکار. [۱]

د ناجائز قسط يوبل صورت

سوال: نن سباخلکويو نوی ډول قسط اچول شروع کړي دي، مثلا: سل روپۍ روزانه قسط اچوي، دهغه قسط ممبران سل وي، دپنځلسو مياشتوقسط وي، هره مياشت يوه قرعه اندازي کيږي، پنځلس مياشتوکې چې دکوم کوم ممبرقسط ووت، که څه هم په لومړۍ مياشت کې وي، دهغه نه وروسته هغه نورقسطونه نه ورکوي يعنې لومړی کس يوازې دری زره روپۍ ورکولوسره پنځه څلويښت زره روپۍ واخلي ديوڅومياشتوپورې هغوی دپنځلسوممبرانوله پاره قسط وباسي، اوهغوی ته دغه شان پنځه څلويښت زره روپۍ ورکړي پنځلس مياشتووروسته به هغوی باقي پنځه اتياممبرانوته پنځه څلويښت زره روپۍ ورکوي، اوس صورتحال څه داسې شی چې دسلو ممبرانوهغوی ته په يومياشت کې پنځويشت نيم زره روپۍ، دپنځه څلويښت زره روپۍ ورکولونه وروسته بچت پاتې کيږي، پنځلس مياشتو پورې هغوی سره ټولې پيسې ۵۰۰، ۳۸۲ روپۍ جمع شي پنځلس مياشتې پوره کيدو سره سل ممبران چې هغو کې پنځلس ممبران هره مياشت دقسط وتونکي هم شامل دي، هغوی ته پوره پيسې ورکول وي، دغه شان پنځلس مياشتې وروسته هغوی ته د ۵۰۰، ۲۷ روپيوتاوان کيږي دې تاوان پوره کولوله پاره هغوی دسيونګ بينک نه ګټه حاصلولوله پاره هره ورځ پيسې جمع کوي، ياهغوی دممبرانوپه هغه پيسوباندې کاروبار کوي او هغه داسې چې مارکيټ کې کوم شی په کم قيمت ملاويږي، هغه جمع کړي اوکله چې مارکيټ کې مال ګران شي ياختم شي، نوهغه خرڅوي، ياانعامي بانډونه ډيرزيات واخلي، هغه کې هم څه نا څه انعام راوځي، دې طريقوباندې هغوی دنقصان پيسې پوره کوي.

اوس دشريعت په نزدباندې داسې قسط اچول جائزدي که ناجائز؟ اوکوم پنځلس ممبران چې لږ پيسې ورکولوسره ډيرې پيسې واخلي، هغوی له پاره هغه پيسې څنګه دي؟ اوقسط اچونکي دتاوان پوره کولوله پاره چې کوم قسمه دګټې والاکاروبارونه کوي، نودهغوی ګټه اوکاروبارجائزاوحلال دی اوکه ناجائز؟

جواب: داسې قسط کې سود اوجواري دواړه شامل دي، له دې وجې ددې په حرام کېدو کې هيڅ شک نه شته. [۲]

---

[۱] وعن الخلاصة وفی الذخيرة وان لم يکن النفع مشروطاً فی القرض فعلی قول الکرخی رحمه الله لا بأس به. (رد المحتار/ ٥ / ١٦٦/ مطلب کل قرض جر نفعاً حرام/طبع ايچ ايم سعيد/ کراچی)_

[۲] واحل الله البيع وحرم الربوا. (البقرة/ ٢٧٥). يٰأيها الذين آمنوا انما الخمر والميسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلکم تفلحون. (المائدة: ٩٠)_

نیلامي (بي سي) قسط جائز نه دی

سوال: زموږ تقریباً دځلوېښتوکسانویوقسط دی، هغه ته (بي سي) ویل کیږي، دانیلامي قسط دی، دې کې هریوممبردمیاشتې پنځلس سوه روپۍ جمع کوي اوټولې پیسې شپېته زره روپۍ جوړیږي دانیلامي کمیټې ده اوهریوممبرددې بولۍ لګوي داشپېته زره روپۍ یوممبر په خپله خوښه باندې په شپاړس زره روپۍ واخلي، یعنې هغه باندې هیڅ دباو او زورنه وي، دې باره کې موږ ته معلومات راکړئ چې دې کې ګناه شته اوکه نه؟ اوداشپاړس زره روپۍ په هرممبرباندې څلورسوه روپۍ سودراځي اودقسط په رجسټرکې پوره پنځلس سوه روپۍ لیکل کیږي، یعنې څلورسوه روپۍ ګټه شوه.

جواب: داجائزنه دی، بلکې سود دی.[1]

دانعامي بانډ د پیسوشرعي حکم

سوال: ماديودوست په مشوره باندې دپنځوستو روپیو بانډ واخیست، فیصله وشوه چې بانډ راوتلو په صورت کې به نیم انعام زمااونیم انعام دهغه وي، اتفاقي ډول باندې یوه ورځ هغه باندې پنځوس زره روپۍ انعام ووت، ما هغه کس سره وعده کړې وه له دې وجې ماهغه ته پنځویشت زره روپۍ ورکړې، خوماته وروسته پته ولګیده چې دبانډانعام دسود نه هم بدتردی، نوماته ډیرزیات افسوس وشو اوماهغه استعمال هم نه کړې اونه یې اوس استعمالول غواړم، خوافسوس! زما مور او پلار وایي: که چیرې ته داپیسې استعمالول نه غواړې، نوموږ ته یې راکړه، زموږخوښه ده چې موږ پرې څه کول غواړو، حالانکه زموږ مالي حالت پوره ښه دی، تاسو ووایئ چې دې پیسوباندې څه وکړو؟ دې باره کې خاص او اهمه خبره دا وکړئ چې داپیسې زه کوم ځای کې استعمال کړم؟

جواب: انعامي بانډباندې چې کوم انعام ورکول کیږي، حقیقت کې دا د سود یوشکل دی د انعامی بانډونو انعام حرام دی اوددې استعمالول جائزنه دي، بینک چې کله دبانډونو یو سیریز جوړوي او دهغه سیریزیه ذریعه باندې چې هغوی دعوامونه کومې پیسې اخلي، هغه پیسې عام ډول باندې بینک چاته دسودپه قرضه باندې ورکړي کوم کس ته چې قرض ورکول کیږي دهغه نه بینک سودواخلي اوهغه سودکې څه پیسې ځان سره کیږدي اوڅه پیسې دقرعه اندازي په ذریعه باندې خلکوکې تقسیم کړي، کوموخلکوچې بانډونه اخیستي وي، نودقرعه اندازي نه وروسته چې خلکوته کومې پیسې ملاویږي، هغه اصل کې دسودپیسې وي دې نه

---

[1] (الذين يأكلون الربٰوا) هو فضل مال خال عن العوض في معاوضة مال بمال. (تفسير نسفي/ ١/٢٢٤/ طبع دار بن كثير/ بيروت). الربا هو لغة: مطلق الزيادة وشرعاً فضل ولو حكما فدخل ربا النسيئة. . . . . . . خال عن عوض. (الدرالمختار مع الرد/٥ / ١٦٨/ باب الربا)_

پرته که چیرې دا فرض شي چې بینک دغه پیسې د سود په قرضه باندې نه ورکوي، بلکې دا په کاروبارکې لګوي او د هغه کاروبار نه چې کومه ګټه حاصله شي، هغه ګټه د قرعه اندازي په ذریعه باندې بانډ اخیستونکوکې تقسیم کړي، بیا هم په دغه بانډونو باندې ملاویدونکې پیسې جائزنه دي، ځکه چې د شراکت په کاروبارکې ګټه او تاوان دواړه وي او د لته د بینک له طرف نه د نقصان هیڅ ذکرنه شته.

دویمه خبره داده چې تجارتي او شرعي اصولو مطابق د شراکت په کاروبارکې کله چې ګټه وي، نو هغه ګټه کې هر شراکت دارته د و مره پیسې ملاویږي څو مره فیصده چې هغه په کاروبار کې لګولې وي[1]، د ګټې تقسیمول د قرعه اندازي په ذریعه باندې کول، دې کې ډیرو کسانو سره بې انصافي کیږي، نو انعامي بانډونو انعام په هر صورت کې ناجائزاو حرام دی او په حقیقت کې دادسود او جواری (قمار) نه جوړدی، اګرچې بینک دې ته انعام وایي زهر وته که چیرې تریاق وویل شي، نو د هغه نه تریاق نه جوړیږي، بلکې زهر په حقیقت کې هم زهروي دا هم هغه زاړه شراب دي کوم چې نوي بوتلوکې بند ولو او نوې لیبل سره خلکوته وړاندې کیږي.

که ستاسو مورپلارچیرې دا وایي چې دا پیسې موږ ته حواله کړه، نو شرعي ډول باندې دې حکم کې د موړپلاراطاعت کول جائزنه دي[2]، څنګه چې تاسو پخپله باندې د حرامو پیسونه ځان بچ غواړئ، دغه شان خپل موروپلاراو نورکوروالاهم د دې حرامو پیسونه محفوظ وساتئ او دا پیسې هغوی ته مه ورکوئ.

پاتې شوه داخبره چې دا پیسې تاسو کوم ځای کې استعمال کړئ؟ نو دې کې یوه خبره داده که چیرې تاسو د بینک د خپل انعام پیسې نه وای اخیستې، نو اوس یې ترې هم مه اخلئ او که چیرې تاسو د انعام پیسې اخیستي دي، نو دا هغو خلکو باندې د ثواب د نیت نه پرته تقسیم کړئ کوم خلک چې د زکات او صدقاتو مستحق دي.[3]

انعامي بانډ خرڅول او د هغه پیسې استعمالول صحیح نه دي

سوال: د انعامونو بانډونو پیسې حرامې دي، که چیرې حرامې دي، نو موږ چې کوم بانډونه اخیستي دي، که چیرې هغه په چا باندې خرڅ کړو، نو د هغه ملاویدونکې پیسې به جائزوي؟

جواب: دانعامي بانډونو پیسې اخیستل جائزنه دي، په څو باندې موچې اخیستي دي هغومره باندې خرڅول یا بینک ته واپس کول صحیح دي.

[1]]المضاربة. . . . . ومن شرطها ان یکون الربح بینهما مشاعاً لایستحق احدهما منه دراهم مسماة. . . . . الخ. (الجوهرة النیرة/ ۱/ ۳۷۵، ۳۷۶/ کتاب المضاربة/ طبع دهلی)_

[2]]عن النواس بن سمعانؓ...........لا طاعة لمخلوق فی معصیة الخالق. (مشکوٰة/ ۳۲۱/ کتاب الامارة)_

[3]] والحاصل انه ان علم عین الحرام لا یحل له ویتصدق به بنیة صاحبه. (ردالمختار/ ۵/ ۹۹). ایضاً: ویتصدق بلا نیة الثواب انما ینوی به براء ة الذمة. (قواعد الفقه/ ۱۱۵)_

دپرائز بونډ دپرچو اخیستل او خرڅول

سوال: د کراچۍ په شمول په ټول ملک کې پرائزبونډ او اوس د پرائز بونډ د پرچو کاروبار عام شوی دی، هر سړی پرچې اخلي او په شپه شپه کې یې د امیر د جوړیدو په چکر کې وي. ایا ددې پرچو په انعام باندې عمره یا څه بل څه نیک کار یا د غریبانو کونډو امداد کولی شي او که نه؟

جواب: ددې پرچو کاروبار جائز نه دی[۱] په دې باندې نه عمره جائزده او نه صدقه او خیرات صحیح دی [۲] دا کاروبار بندول پکار دي او کومې روپۍ چې په دې سلسلې سره حاصلې شي په غریبانو او مسکینانو باندې پرته د ثواب د نیت نه وړکول پکار دي.[۳]

دانعامي بانډونو حکم

سوال: مخکې ورځو په پاکستان کې دټیلي ویژن یوپروګرام کې پروفیسرعلي رضاشاه نقوي دسوال : ایا دانعامي بانډونوپه صورت کې دبانډاخیستونکي پیسې نه ضائع کیږي اود جواري او لاټري په صورت کې یوازې یوکس ته پیسې ملاویږي اود نورو خلکو پیسې ضائع شي، نوانعامي بانډونوباندې ملاویدونکي انعام باندې حج کیدای شي؟ په جواب کې ارشاد وفرمایل: چې انعامي بانډونه دکرنسي یوبل شکل دی اوداملک کې هرځای کې پیسوته بدلیدای شي، که چیرې انعام وځي، نوحلال اوجائزدی اودې باندې حج کیدای شي ایا دشریعت په نزدباندې داجواب صحیح دی؟

جواب: داجواب بالکل غلط دی، سوال دادی چې کوم کس ته دانعام پیسې ملاوشوې هغه ورته په څه حیثیت باندې ملاوشوې؟ اود شریعت دکوم قانون مطابق به دهغه له پاره حلالې وي؟

---

[۱] یأیها الذین آمنوا انما الخمر والمیسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشیطان فاجتنبوه لعلکم تفلحون. (المائده: ۹۰). کل شيء من القمار فهو من المیسر حتی لعب الصبیان بالجو. (تفسیر ابن کثیر/ ۲/ ۹۱)۔

[۲]وتکون النفقة من وجه حلال فان الحج لا یقبل بالنفقة الحرام. . . . . فلایثاب لعدم القبول. (ارشاد الساري/ ۳/ طبع بیروت). ایضاً: عن عبدالله بن مسعود ؓ عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لا یکسب عبد مال حرام فیتصدق منه فیقبل منه ولا ینفق منه فیبارک له فیه ولا یترکه خلف ظهره الا کان زاده الی النار ان الله یمحوا السيء ولکن یمحو السيء بالحسن، ان الخبیث لا یمحوا الخبیث. رواه احمد وکذا في شرح السنة. (مشکوٰة/۲۴۲/ باب الکسب وطلب الحلال)۔

[۳] وما حصل بسبب خبیث فالسبیل رده الی رب المال. (قواعد الفقه/ ۱۱۵). وفي ردالمحتار: ان عرفوهم والا تصدقوا بها لأن سبیل الکسب الخبیث التصدق اذا تعذر الرد علی صاحبها. (شامي/ ٦/ ۳۸۵). ویتصدق بلا نیة الثواب وینوی به براء ة الذمة. (قواعد الفقه/۱۱۵)

بینک او انعامي بانډو څخه ملاوید نکې ګټه سود ده

سوال: زه دامعلومول غواړم چې بینک کې پیسې جمع کولوباندې او انعامي بانډونو او سرټیفکیټونو باندې چې کومه ګټه ملاویږي، ایا دا سوددی؟ زماپه علم کې خودادي چې داسوددی، خویوصاحب فرمایي چې: زموږعقل داسودنه ګڼي، ځکه چې داخوتجارت دی اوکومه ګټه چې ملاویږي هغه سودنه، بلکې خالص ګټه ده اوملایانو ورته هسې بې هیڅه سودویلي دي اوددې هیڅ عقلي دلیل نه شته، نوتاسوته خواست دی چې دقران اوحدیث اوعقلي دلیلونوپه رڼاکې ددې وضاحت وکړئ چې غلط فهمي ختمه شي.

جواب: داهم سوددی[۱] که چیرې دچاعقل یې نه مني، نودبرزګانوپه صحبت کې دې کیناستلو باندې خپله اصلاح وکړي، یادې د قیامت دورځې انتظار وکړي، په هغه ورځ به پته ولګیږي چې ملاصحیح وايي اوکه دمسترصاحب عقل صحیح سوچ کولو.

د پرائزبونډ دانعامي روپیو مصرف

سوال: د پرائز بونډ انعامي روپۍ په کوم مصرف کې لګول کیږي؟ زموږه د یو دوست انعام راوتلی دی ایا دا د مسجد په بیت الخلاء کې لګولی شو؟ یا یو غریب ته د وینا نه پرته یا وینا سره دې ورکړي؟

جواب: یو محتاج مقروض ته د قرض د اداء کولو له پاره دې ورکړل شي او په بل څه مصرف کې یې لګول صحیح نه دي.[۲]

د پرائزبونډ په انعام سره پخپله یا په بل چا عمره کول

سوال: زه په پرائیویټ سکول کې سبق ښیم، سکول والاکه چیرې زما د کارکردګي نه خوشاله وي، نو ماته (۱۵۰۰) روپیو پرائز بونډ راکوي چې په هغه باندې زماانعام هم راوځي، نو ایا ددې پیسو استعمال زما له پاره جائز وي؟ مثلاً: ایا زه په دې پیسو باندې په خپلو والدینو باندې عمره کولی شم؟

جواب: په پرائزبونډ باندې چې کوم انعام راوځي هغه جائز نه دی او نه په دې سره عمره کول جائزدي،[۳] بلکې چاته هغه پیسې ورکول پکار دي. [۴]

---

[۱] هو فضل خال عن عوض بمعيار شرعی مشروط لأحد المتعاقدين فی المعاوضة. (الدرالمختار مع ردالمحتار/ ۱٦۸/۵/ باب الربا/طبع ايچ ايم سعيد)_

[۲] لان سبيل الكسب الخبيث التصدق اذا تعذر الرد على صاحبه. (درمختار، باب الربا/۵/۳۸٦/طبع سعيد).

[۳] و تكون الفقة من وجه حلال فان الحج لا يقبل بالنفقة الحرام. . . . . فلا يثاب لعدم القبول. (ارشاد الساري/ ۳/ طبع دارالفكر/ بيروت).

[۴] لأن سبيل الكسب الخبيث التصدق اذا تعذر الرد على صاحبه. ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د پرائزبونډ انعامي روپۍ په تعليمي اخراجاتو کې خرچ کول

سوال: پرائزبونډ چې د حکومت له طرف نه د عوامو له پاره تحفه ده که چيرې راوځي، نو په دې سره حج ممکن نه وي، خوايا دا روپۍ په خپل تعليمي خرچ يا نورو ضرورياتو کې استعمالولی شي؟ حالانکې پرائزبونډ اوداسې نور... د غريب حضراتو سره وي.

جواب: که د مالدار سره وي او که د غريب سره وي شرعا جائز نه دي، که څوک حرام خوړل غواړي، نو هغه به څوک منع کوي؟ د مرګ نه وروسته به ډکيدل وي.

انعامي پروګرامونو سره شيان خرڅول

سوال: دنن نه څه وخت مخکې پورې پاکستان کې به دماشومانو دټافيانو اوداسې نورو... جوړولو والا به خپل خراب مال زيات نه زيات خرڅولو له پاره مختلف ډول لاټرۍ اوانعامي کوپنو باندې ماشومانو ته دوکه ورکوله، مثلا: که چيرې ماشوم يوخاص قسمه سانجک يا سپاري واخلي، نوبه هرپيکټ کې پانچ ياسات نمبرپورې يونمبر وي، ماشوم ته ويل کيږي که چيرې هغوی داټولې نمبرې پوره کړي، نوهغوی ته به يو ساعت، دګانوکيسټ يابل څه قيمتي شی دانعام په ډول باندې ملاوشي.

معصومان بچي دانعام په لالچ کې خراب اودصحت له پاره نقصان ورکونکي شيان ډيرزيات اخيستل شروع کړي يوطرف ته خودغه ماشومان دخپل موروپلارپيسې ضائع کوي اوبل طرف ته دملک اوقوم امانت يعنې خپل صحت ته نقصان رسوي، ماشومان که هرڅومره خريداري وکړي، خوهغوی هغه نمبرې پوره نه شي جمع کولی، اوسه پورې داسلسله دماشومانوحدپورې وه، خودزمانې ترقي سره سره دانعامي پروګرام دکاروبار داسلسله دوبايي مرض په شان څلورو طرفوته خوره شوې اونن زموږ دوطن غټې غټې کمپنۍ د يوبل نه نمبروړلوله پاره څلوروطرفونه دانعاموجال خوروي، دا انعامي پروګرامونه ددې غريب ملک عوامو سره ډيرلوی ظلم دی، ځکه چې دا پروګرامونه هغوی فضول خرچي اوغيرضروري خريداري طرف ته يوازې اويوازې دانعام دلالچ له وجې راجلبوي اودهغه له وجې ديوعام سړي مالي وسائل نه يوازې ډيرحدپورې متاثره شوي دي، بلکې هغوی له پاره مالي اوذهني طورباندې دپريشانو ذريعه هم جوړ شوي دي، ځکه چې ددې انعامي پروګرامونو شروع کونکو ډيرهوښياري سره داسې طريقې خپلې کړي دي چې اول خوانعام راوځي نه اوکه چيرې راوځي، نوبه لکونو اخيستونکوکې يوازې ديوکس نيم اونتيجه يې يوازې دخفګان نه پرته هيڅ نه وي.

بقيه د تيرمخ]... (درمختار/ ٥/ ٣٨٦) ايضاً: ويتصدق بلا نية الثواب وينوى به براء ة الذمة. (قواعد الفقه/١١٥).

داصورت حال نه یوازې دخفګان، بلکې دشرم باعث هم دی، چې یو اسلامي ملک دهغه حکومت دملک معاشره په اسلامي قانون اوشریعت کې داچولوسخت کوشش کوي. هلته یو څو مفاد پرست دخپلې فائدې له پاره دملک ساده اوغریب عوامو اومعصوم ماشومانو اوځوانانواخلاق تباه کوي، ځکه چې ددې لاټرۍ پروګرامونه ښکاردټولونه زیات ماشومان اوځوانان وي اوهغوی کې د انعام لالچ اودجوارې خوندپیداکیږي اودابیادمعاشرې دتباهي ذریعه جوړیدای شي، دظلم انتها خو داده چې دملک اخبارونه کوم چې موږکې دقومي تشخص اواسلامي فضاء قائمولوذمه داردي، هم ددې وباأوغیراخلاقي مهم کورکورته رسولوکې استعمالیږي همدغه وجه ده پاکستان ټیلي ویژن چې دحکومت یوه قومي اداره ده، دې باندې نن سبا ددې سکیمونواشتهارونه دي.

محترمه! زماسره پخپله داواقعه شوې ده درېډیوپاکستان کراچۍ نه د چای یوې مشهورې کمپنۍ کمرشل ریډیوپروګرام ته د بهترین شعر لیږلو باندې ماته د چای یو پوره کارټن راکولو اعلان په ریډیوباندې وکړ، ډیروخت انتظارکولونه وروسته کله چې ماته انعام ملاونه شو، نوزه د ذکر شوې کمپنۍ دفتر ته لاړم، هلته هغوی ماته جواب راکړ چې موږ ته هیڅ پته نه شته، تاسو د ریډیو والا نه پوښتنه وکړئ دغه شان انعامي چکرونه نن سباهرطرف ته دي، مهرباني وکړئ اود حنفي فقهې په رڼا کې جواب بیان کړئ چې دا انعامي پروګرامونه په اسلام کې جائز او حلال دي؟ که نه دي، نو حکومت ددې غیراخلاقي طوفان کوم چې دڅلوروطرفونه خورشوی دی، څه نوټس ولې نه اخلي؟

جواب: دیوشي انفرادي جواز اوعدم جوازنه پرته دهغه په معاشرې باندې دفائدو او نقصاناتو طرف ته نظرکول پکاردي تاسوچې دانعامي لاټریوکومه نقشه بیان کړه، دادملک اوملت له پاره په هیڅ صورت کې ګټور نه شي کیدای، نوحکومت ته ددې دوکو ختمولو له پاره کوشش کول پکاردي.

ترکوم حده چې دانفرادي جوازتعلق دی، په ښکاره باندې دکمپنۍ له طرف نه دانعامي کوپن اعلان ډیرښائسته او ښه ښکاري، خوکه لږغور وشي، نومعلومه به شي چې کمپنۍ دانعام په شرط باندې خپل شیان خرڅوي اواخیستونکوکې تقریبا هریو اخیستونکي دې شرط باندې شی اخلي چې دا انعام به هغه ته ملاویږي، لکه ددې کاروبارخلاصه: اخیستل اوخرڅول دانعام په شرط دی اوشرعي طورباندې داسې اخیستل اوخرڅول جائزنه دي، په کومې کې چې څه داسې خارجي شرط کیښودل شي چې هغه کې دواړوفریقانوکې دیوګټه وي.[1]

[1]]وکل شرط لا يقتضيه العقد وفيه منفعة لاحد المتعاقدين او للمعقود عليه وهو من اهل الاستحقاق يفسده. (هداية/ ۳/ ۵۹/ كتاب البيوع)_

حدیث شریف کې دي چې حضور ﷺ د داسې اخیستلو او خرڅولو نه منع فرمایلې ده په کوم کې شرط ولګول شي[1] له دې وجې دا انعامي کاروبار کول شرعي ډول باندې جائزنه دی او د معاشرې له پاره خطرناک هم دی، حکومت ته پکار دي چې دې باندې پابندي ولګوي.

انعامي پروګرامونوکې برخه اخیستل څنګه دي؟

سوال: زه اکثر انعامي پروګرامونوکې برخه اخلم. او مختلفې کیسې او نور معلومات انعامي پروګرامونو ته لیږم او هغو باندې ډیر محنت کول وي، که چیرې زما انعام راوخي. نو هغه انعام به زما له پاره صحیح وي؟

جواب: انعامي پروګرامونه د جوارې مهذبه طریقه ده.[2]

د معما بازې د روپیو شرعي حیثیت

سوال: په جنګ اخبار کې د ستاسو د کالم نه د استفادې موقع ملاویږي، تیره شوې ورځ زما یو دوست وایي چې د پرائزبونډ په شان معما بازي هم جائزه ده، ستاسو نه د قرآن او د حدیث په رڼا کې رهنمایي غواړم چې ایا معما بازي کونکې اداره او د ادارې عمله او انعامي رقم حاصلول او دا په کوروالا باندې خرچ کول جائز دي او که حرام ؟ او ایا د پرائزبونډ اطلاق په دې باندې کیږي او که نه؟

جواب: زه خو پرائزبونډ ته هم جائز نه وایم، [3] بلکې خالص حرام وایم او معمابازي هم ددې وړه خور ده له دې وجې دیته څنګه جائز ویل کیدای شي؟

د ډالر والا لاټرۍ دیو قسم حکم

سوال: یوسړی له چانه ددې پروګرام یو کوپن اخلي چې هغه (۱۲۰) ډالر باندې ده ته ملاویږي او ددې تقسیم څه دا رنګ دی:

---

[1]]عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ان رجلاً اتی النبی صلی الله علیه وسلم انه نهی عن بیع وشرط. قوله نهی عن بیع وشرط، اقول: تمسک به ابو حنیفة رحمه الله علی فساد البیع بالشرط. (اعلاء السنن/ باب النهی عن البیع بالشرط/ ۱۴/ ۱۴۰)_

[2]] انما الخمر والمیسر والأنصاب والأزلام رجس من عمل الشیطان فاجتنبوه لعلکم تفلحون. (المائدة: ۹۰). ایضاً: اکد تحریم الخمر والمیسر من وجوه حیث صدر الجملة بانما وقرنها بعبادة الأصنام ومنه الحدیث: شارب الخمر کعابد الوثن، وجعلهما رجسا من عمل الشیطان، ولا یأتی منه الا الشر البحت وامر بالاجتناب وجعل الاجتناب من الفلاح واذا کان الاجتناب فلاحاً کان الارتکاب خسراً. (تفسیر النسفي/ ۱/ ۴۷۳/ طبع دار ابن کثیر/ بیروت)_

[3]] یسئلونک عن الخمر والمیسر قل فیهما اثم کبیر ومنافع للناس. (البقرة: ۲۱۹). ایضاً: والمیسر: القمار، مصدر من یسر. . . . . . واشتقاقه من المیسر لأنه أخذ مال الرجل بیسر وسهولة بلا کد وتعب او من الیسار کأنه سلب یساره. (تفسیر نسفي/ ۱/ ۱۸۲/ طبع دار ابن کثیر/ بیروت).

(۱)- ۴۰ ډالره هغه سړي ته ورکوي له چانه يې چې اخلي او دده نوم په کوپن لسټ کې په نمبر(۵) باندې دی.
(۲)- ۴۰ ډالر په دې لسټ کې نمبر(۱) باندې راتلونکي سړي ته د کمپنۍ په ذريعه باندې ليږل کيږي. (۳)- او ۴۰ ډالر کمپنۍ ته ليږل کيږي.
ددې په بدله کې کمپنۍ ده ته څلور کوپنه ليږي او دې څلورو کوپنو ته په لسټ کې دده نوم اوس په نمبر (۵) باندې راغی اوکوم سړی چې دې کوپن ته مخکې اخيستی وي دده نوم اوس په نمبر (۴) باندې وي دا سړی دې څلورو کوپنو ته ۴۰، ۴۰ ډالرو کې څلور نورو بنده ګانو باندې خرڅوي، دا رنګه ده ته ۱۸۰ ډالرې ملاويږي چې په دې کې ۴۰ډالرې په دې کې ګټه ملاويږي ځکه چې ده ۱۲۰ ډالرې خرچ کړې وې، دا رنګه دا سلسله راروانه وي او هر کوپن اخيستونکي والاته د څلورو کوپنو د حاصليدو نه وروسته دی ته مخکې خرڅوي او ددې سړي نوم د لسټ نمبر چار نه دريم ته او د دريم نه دويم ته او د دويم نه اول نمبر ته رسيږي (که په هر څومره وخت کې ورسيږي)چې کله په اول نمبر باندې راغی، نو څنګه چې دې سړی ۴۰ ډالرلسټ کېږې نمبر ۱ والاته رسولې و همدا رنګه اوس ۱۰۲۴ خلق ده ته ۴۰، ۴۰ ډالرې اوليږي، او ده ته سبا ۴۰۹۶۰ چې په لکونو روپې جوړيږی ګټه ملاوشي، آيا دا طريقه کار په اسلام کې جائزه ده؟

جواب: خالص سود دی، ځکه چې ده ۱۲۰ ډالرې واخيستې او د ستا د وينا مطابق ۴۰۹۶۰ (نه، بلکې ۴۱۰۰۰)ډالرې وګټلې [1]

سوال: که چرې جائز نه وي، نو آيا دا د جوارې په ډله کې راځي که د لاټرۍ وغيره په زمره کې؟

جواب: هو! جواري هم ده، دا سلسله مخکې لاړه نو زياتي روپۍ سود ،که نه، احتمال دی ۱۲۰ ډالرې هم لاړې [2]

د پرائز بونډ انعام سود دی نو بيا جائز ذريعه کومه ده؟

سوال: ما د ستاسو نه پوښتنه کړې وه چې دلته بينک خپل بونډونه خرڅوي او په دې باندې انعام هم لګوي، مطلب دا چې خپله پيسه به يې محفوظه وي، ايا که چيرې بونډ باندې انعام راوځي، نو هغه پيسه استعمالولی شي؟ د ستاسو جواب و چې دا سود دی او ددې حکم هم د دويم سود دی، لږ وضاحت وکړئ چې دا دويم سود څه دی؟ سود خوزما په ذهن کې دا راځي چې ته د اول نه مقرر کړې حالانکې دلته خو دادی چې که چيرته انعام راووت، خو صحيح ده،که نه، ستا روپۍ محفوظې دي، که چيرې دا ټولې ذريعې ناجائز او په سود کې راځي، نو

---

[1] لانها فضل لايقابله عوض،والحترزعن حقيقة الربا وعن شبهة الربا واجب.(بدائع الصنائع/۷/۵۹۷/كتاب القرض)

[2] وحرم لوشرط فيها من الجانبين لأنه يصير قماراً. . . . . سمی القمار قماراً لأن كل واحد من المقامرين ممن يجوز ان يذهب ماله الیٰ صاحبه ويجوز ان يستفيد مال صاحبه وهو حرام بالنص. (فتاویٰ شامي/ ۶/ ۴۰۳/ طبع سعيد).

بیا څه ذریعه جائز وواییږ؟

جواب: د دویم سود نه مراد عام سود دی کوم چې بینک ورکوي او دا انعام هم ددې سود د رقم نه وي، له دې وجې دا هم جائز نه دی[1] که چیرې په کاروبار کې روپۍ ولګول شي، نو ددینه چې کومه ګټه حاصلیږي ددې فیصد اخیستل جائز دي، مثلاً: تا چاته یو اک روپۍ ورکړې چې هغه به په دې کاروبار کوي ددینه چې کومه ګټه وي ددې په باره کې دې مقرر شي چې دومره فیصده به د کار کونکي له پاره وي او دومره به د رب المال له پاره وي دا صحیح ده.[2]

❖ کمیشن ❖

د مخکې پیسو ورکونکي د کمیشن شرعي حیثیت

سوال: زه د کمیشن ایجنټ یم، فروټ مارکیټ کې زمادارت دوکان دی، زمیندارياټیکه دارمال راوړي، نودخرڅولونه وروسته لس فیصده دکمیشن په ډول باندې اخیستونه وروسته پاتې پیسې هغوی ته حواله کړم، اوس دې کې دپریشاني مسئله داده چې زمیندارياټیکه دارته دمال راوړلونه مخکې شل پنځویش زره روپۍ ورکوم چې هغه ماته مال راوړي اوعام دستورهم دادی چې زمینداراوټیکه دارته دمال راوړلونه مخکې دپیسولالچ ورکول کیږي، چې دهغه مال خرڅ شي اوهغه باندې کمیشن واخیستل شي، اوس ددې طریقې په باره کې مختلف قسمه خبرې کیږي، څه خلک ورته سودوايي اوځینې خلک ورته حرام وايي اوزیاترخلک کوم چې دې سره تعلق ساتي هغوی ورته حلال وايي.

جواب: زمیندارانوته داپیسې دپیشکي په ډول ورکول کیږي، یعنې دهغوی مال به راځي اوهغه نه به خپلې پیسې واخیستل شي، له دې وجې صحیح دي، دې کې هیڅ بده خبره نه شته، ددې مثال به داسې وي چې دوکان دارسره څه پیسې مخکې جمع کړي اودهغه سودا بیا وروسته واخیستل شي اواخرکې حساب کتاب وکړي.[3]

---

[1] لما روی عن النبی صلی اللّٰه علیه وسلم انه عن قرض جر نفعاً، ولأن الزیادة المشروطة الربا، لأنها فضل لا یقابله عوض، التحرز عن حقیقة الربا وعن شبهة الربا واجب. (بدائع الصنائع/ کتاب القرض/ ۷/ ۵۹۷).

[2] ومن شرطها ان یکون الربح بینهما مشاعاً لایسحق احدهما دراهم مسماة من الربح لان شرط ذٰلک یقطع الشرکة بینهما. (هدایة/۳/ ۲۵۸/ کتاب المضاربة). وکن الربح بینهما شائعاً فلو عین قدراً فسدت. (الدرالمختار مع ردالمحتار/ ۵/ ۶۴۸/ کتاب المضاربة).

[3] ولا بأس ان یضع الرجل عند الرجل درهماً ثم یأخذ منه بربع او بثلث او کسر معلوم سلعة معلومة. (موطا امام مالک جامع بین الطعام/ ۵۹۰). وفی ردالمحتار: ولو اعطاء الدرهم وجعل یأخذ منه کل یوم خمسة امناء ولم یقل فی الابتداء اشتریت منک یجوز وهٰذا حلال. (ردالمحتار/ ۵۱۶/۴/ کتاب البیوع)۔

زميندارته مخکې پيسې ورکولو سره په اړت باندې کميشن اخيستل

سوال: عام ډول باندې واړه اوغټو زميندارو ته دزرعي ضرورتونوله پاره اړتيانودضرورت په وخت کې څه پيسې قرض اخيستل وي، د فصل راتلوپه وخت کې فصل اړتيانوته حواله شي. دپيسو ورکولو وخت کې اړتي په واجب الاداء پيسوکې شل فيصده پيسې ځان سره پرېږدي اونورې پيسې هغه زميندارته ورکړي، مسئله داده چې ايا داسې پيسې کوموته چې د کميشن نوم ورکول کيږي، دقران اوسنت په نزدباندې اخيستل جائزدي؟ که ناجائز. نودداسې ناجائزپيسواخيستونکي اوورکونکي له پاره څه حکم دی؟

جواب: دلته دوه بيلې بيلې مسئلې دي

يوه مسئله د زميندارانو د اړهتيانونه دپيسواخيستلو او د فصل دراتلوپه وخت کې پيسې ورکول دي ددې دوه صورتونه دي، يو داچې اړتي دهغوی نه فصل دوخت نه مخکې په کم قيمت باندې واخلي، مثلاً دغنمونرخ هغه وخت کې اتياروپۍ دی اړهتي دفصل راتلونه مخکې دهغه نه په شپېته روپۍ باندې واخلي اودفصل وصولولوتاريخ، ځای اوجنس اوداسې نور... مقرر کړي، دا صورت جائز دی[۱] دويم صورت دادی چې په قياس باندې پيسې ورکړل شي او فصل راتلوباندې ترې نه خپل قرض دزياتی پيسوسره واخلي، دا سوددی اوحرام دی.[۲]

دويمه مسئله داړهتي دکميشن ده، يعنې هغه چې د زميندار کوم فصل ياغله وغيره خرڅه کړې ده، هغې باندې هغه دخپل محنت کميشن په شکل کې اخلي (عام ډول باندې اړهت هم دې ته ويل کيږي) داصورت داامام ابوحنيفه رحمه الله دقول مطابق جائزنه دی[۳]، بلکې هغه ته د خپل محنت پيسې بيلې مقررول پکاردي، دکميشن په شکل کې نه، خود صاحبينو او نورو امامانو دقول مطابق جائزدي.[۴]

۱] فالسلم عقد يثبت به الملک فی الثمن عاجلاً وفی الثمن آجلا فبان تقول لآخر اسلمت اليک عشرة دراهم فی کر حنطة او اسلفت ويقول الآخر قبلت وينعقد السلم واما الشروط الذی فی المسلم فيه فاحدها بيان جنس المسلم فيه حنطة او شعيرا والثانی ان يکون المسلم فيه مؤجلا باجل معلوم والثالث بيان مکان الايفاء. . . . . . الخ. (فتاویٰ عالمگيري/ ۳/ ۱۷۸/ کتاب البيوع/ طبع رشيديه)_

۲] وفی الاشباه کل قرض جر نفعاً فهو حرام. (درمختار/ ٦/ ۳۹۵/ طبع سعيد)_

۳] فقال: ومنه کان ابو حنيفة رحمه الله يکره السمسرة وفی التلويح: واکثر العلماء لا يجيزون هٰذا لاڼه. وان کانت اجرة السمسرة لکنها مجهولة وشرط جوازها عند الجمهور ان تکون الأجرة معلومة. (اعلاء السنن/ ۱٦/ ۲۰۷)_

٤] وفی الحادي: سئل محمد بن سلمة عن اجرة السمسار فقال: ارجو انه لا باس به. (درمختار/ ٦/ ٦۳)_

د ایجنټ د کمیشن نه کټ شوې پیسې ملازما نوته نه ورکول

سوال: زموږ په دجاموپه مارکیټ کې یومنل شوی رسم دی، چې ددکان مالک چې کله دایجنټ په ذریعه باندې څه جامه واخلي، نوهغه ته دکمیشن ورکولوپه وخت کې لس پیسې دروپۍ په حساب باندې دهغه نه کټ کوي اودې ته زموږ په نزدباندې « سګهړي » ویل کیږي دامنل شوې خبره ده چې سګهړي ددکان دنوکرانوله پاره وي اودټولې میاشتې جمع شوې سګهړي دمیاشت په اخرکې ټولو نوکرانوباندې تقسیم شي، ددکان څه مالکان داپیسې دایجنټ دکمیشن نه کټ کړي، خوپخپله یې خوري، مطالبه کولوباندې هغوی وایي چې داپیسې زموږ دخپلوانو د کونډو او یتیمانوته ورکول کیږي چې هغوی ډیرزیات غریبان دي. ایا دغریب نوکرحق وهلوسره کونډوته ورکول جائزدي؟

جواب: لس پیسې کټ کولوسره چې کومې پیسې ورکړل شوي وي، د دلال اجرت هم دومره وي اوکومې لس پیسې چې پاتې شوې دهغه د مالک ملکیت دی، که هغه یې چاته ورکوي اوکه خپل ځان سره یې ساتي.[۱]

چنده جمع کونکي ته دچندې د فیصدي په حساب باندې کمیشن ورکول

سوال: دیوې دیني مدرسې له پاره یوسفیرمقرر شي اوهغه سفیر وایي چې زه به دیریش فیصده یادرې دیریش فیصده اخلم اودخلفایي راشدینو په وخت کې به زکات اوصدقات جمع کونکوته دبیت المال نه تنخوا ورکول کیده ده اونن یوسفیرددیني مدرسې له پاره کارکولو باندې دیریش فیصده یادرې دیریش فیصده اخیستل غواړي اویومفتي صاحب دافتوا ورکړې ده چې داکمیشن اخیستل یعنې په فیصدي اخیستل جائزنه دي اوزماخیال دی چې جائزدي، هغه ته تنخوا ورکړل شي اوکه کمیشن؟ تاسوته خواست دی چې دالله تعالی دکتاب اورسول الله ﷺ دسنتونه مکمل او واضح جواب بیان کړئ اومسلمان امت باندې احسان وکړئ!

جواب: دسفیرکمیشن مقررول په دوه وجوهاتوباندې جائزنه دی، یوخو دا اجرت شکي دی، ځکه چې هیڅ پته نه لګیږي چې هغه به میاشت کې څومره چنده جمع کوي؟[۲] دویمه وجه داده چې کارکونکي کوم کار وکړ هغه ته هم دهغه نه اجرت ورکول جائزنه دي[۳]، له دې وجې دسفیرتنخوا مقررول پکاردي.

---

[۱] كل يتصرف فى ملكه كيف يشاء. (شرح المجلة / ١/ ٦٥٤/ رقم المادة: ١١٩٢)_

[۲] ولا يصح حتى تكون المنافع معلومة والأجرة معلومة لان الجهالة فى المعقود عليه وبدله يفضى الى المنازعة. (الجوهرة النيرة٢٦٣/ كتاب الاجارة)_

[۳] لان المنفعة يجوز ان تكون اجرة للمنفعة اذا كانت مختلفة الجنس. . . . . وان اتحد جنسها لا يجوز. . . . . . الخ. (البحر الرائق/ ٧/ ٢٩٨/ كتاب الاجارة/ طبع دار المعرفة/ بيروت)_

د قيمت نه زيات بيل جوړول اود دلالي اجرت اخيستل

سوال: زموږ يو دکان دی، موږ ته چې کله اخيستونکي راشي اوکوم مال چې د پنځوسو روپيو وي، موږ ته وايي چې ددې بيل دپنځه پنځوسو جوړ کړئ، خوموږ داسې نه کوو او اخيستونکی لاړشي، دبل دکان نه په اوچت بيل باندې مال واخلي، داسې کول جائزدي اوکه ناجائز؟

جواب: داخودروغ دي اوکه چيرې دپنځه پنځوسوشی خرڅلوسره پنځه روپۍ پريښودل شي. نوبيا جائزدي، دا رعايت دهغې اداري له پاره دی دکومې ادارې کس چې دمال اخيستلوله پاره راغلی دی، دزياتو پيسو بيل جوړولوسره زياتې پيسې هغه له پاره خپل جيب کې اچول دهغه له پاره حرام دي.[1]

سوال: يوسړی موږ ته راځي، موږ نه دريټ پوښتنه کوي، موږ ورته ريټ وښايو، هغه وايي چې زه اخيستونکی راولم، په هريوشي باندې به پنځه روپۍ کميشن راکوئ، داجائزدي اوکه ناجائز؟

جواب: داکس ددکان له طرفه دلال دی اوددلالي اجرت اخلي اود دلالي اجرت اخيستل جائز دي.[2]

د دلالي اجرت اخيستل

سوال: که چيرې يوکس باندې مشينري، دهغې پارټس وغيره واخلم اود دوکان دارنه کميشن واخلم، نوايادا ګټه به حلاله وي؟ مثلاً: يوکارخانه دار ياکاروباري سړی دځان سره بوزم او ديوغټ دوکان نه ورته دلس شل زرو روپيومال واخلم اوبيادوکان دارنه دمال خرڅلو کميشن په ريټ باندې حاصل کړم، نودابه جائزوي؟

جواب: داددلالي صورت دی[3] اود دلالي اجرت اخيستل جائزدي.[4]

---

[1] الوكيل اذا باع ان يكون اميناً فيما يقبضه من الثمن. (الفقه الحنفى وادلته/ ۲ / ۱۳٤/ ضمان الوكيل).
ايضاً: فان الوكيل ممن لايثبت له حكم تصرفه وهو الملك فان الوكيل بالشرى لايملك المشترى والوكيل بالبيع لايملك الثمن لان الوكيل يملك التصرف من جهة الموكل. (الجوهرة النيرة / ۱ / ۳۰۰/ كتاب الوكالة)_

[2] وفى الحاوي: سئل محمد بن سلمة عن اجرة السمسار، فقال: ارجوا انه لا باس به وان كان فى الاصل فاسداً لكثرة التعامل وكثير من هذا غير جائز فجوزوه لحاجة الناس اليه كدخول الحمام. (ردالمحتار/ ٦/ ٦٣/ كتاب الاجارة/ باب الاجارة الفاسدة/ مطلب فى اجرة الدلال/ طبع سعيد كراچى)_

[3] والسمسار اسم لمن يعمل للغير بالاجرة بيعاً وشراءً. (المبسوط للسرخسي/ ١٤/ ١١٥/ باب السمسار/ طبع دارالمعرفة/ بيروت)_

[4] قال فى التاترخانية: وفى الدلال والسمسار يجب اجرالمثل. . . . . وفى الحاوي: سئل عن محمد بن سلمة رحمه الله عن اجرة السمسار فقال: ارجوا انه لا باس به وان كان فى الأصل فاسداً لكثرة التعامل وكثير من هذا غيرجائز، فجوزوه لحاجة الناس اليه.(ردالمحتار/ ٦/ ٦٣/ كتاب الاجارة الفاسدة/ مطلب فى اجرة الدلال)

د موټر د خرڅولو کميشن اخيستل

سوال: زيد د مختلف ډول موټرونو د اخيستلو او د خرڅولو کار کوي، زيد موټر په خپله نه اخلي، بلکې د دواو سړيو په مينځ کې وکيل جوړيږي او د دوی سودا مقرر کوي او د دواړو سړيو نه خپل کيمشن يا معاوضه چې کومه يې مخکې مقرره کړې وي، اخلي، ايا دا معاوضه يا کميشن اخيستل جائز دي او که نه؟

جواب: جائز دي. [۱]

د يو مال د خرڅولو دلالي کول او بل دا چې د خپل مال په اخيستلو باندې دلالي کول جائز دي؟

سوال: دچا د مال د خرڅولو له پاره دلالي کولی شي چې تقريبا يونيم فيصده وي اوس که چيرې د چا مال په بل چا باندې خرڅ کړي او په خپله يوازې دلالي اخلي د هغه چانه چې د چا مال وي، ځينې وخت مونږ مقرر مال د خپل ځان له پاره اخلو، خود چانه چې مال اخلي د هغه نه هم دلالي اخلو زمونږ پيژنګلوي په ډول د دلال دی، ايا په دې مال باندې دلالي اخيستلی شي کوم چې د خپل ځان له پاره وي. ؟

جواب: که چيرې دده مال په بل چا باندې خرڅوئ، نو دده دلالي اخيستل جائز دي که چيرې په خپله يې ړدي، نو دده دلالي اخيستل جائز نه دي. [۲]

د کمپنۍ کميشن اخيستل جائز دي

سوال: دغتو غتو کمپنيو خلک دهغوی دسامان خرڅولو نه وروسته کميشن ورکوي، زمايو خلې دوو داسې کسانو سره تعلق راغلی دی، چې ماديوې کمپنۍ شی خرڅ کړ او دهغه په بدله کې د کمپنۍ مالکانو ماته کميشن راکړ، تاسو ددې سوال جواب دشرعي قانون مطابق راکړئ چې دا کميشن جائز دی او که ناجائز؟

جواب: جائز دی. [۳]

---

[۱] واما الدلال فان باع العين بنفسه باذن ربها فاجرته على البائع وان سعى بينهما وباع المالک بنفسه يعتبر العرف. وفى الشامية: فتجب الدلالة على البائع اوالمشترى او عليهما بحسب العرف، جامع الفصولين. (ردالمحتار/ ٤/ ٥٦٠/ كتاب البيوع/ مطلب فساد المتضمن يوجب فساد المتضمن).

[۲] واما الدلال فان باع العين بنفسه باذن ربها فاجرته على البائع، وان سعى بينهما وباع المالک بنفسه يعتبر العرف. وفى الشامية: فتجب الدلالة على البائع اوالمشترى او عليهما بحسب العرف. (ردالمحتار/ ٤/ ٥٦٠/ كتاب البيوع).

[۳] اجارة السمسار والمنادى والحمامى والصكاک وما لا يقدر فيه الوقت...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د اداري د مشر په سامان اخيستلو باندې کميشن ورکول

سوال: آپ کے مسائل اوران کاحل: په عنوان باندې د کمپنۍ د کميشن باره کې يوسوال چاپ شوی و، هغه کې داليکل شوي و، چې غتې غتې کمپنۍ دخپل شي په خرڅولوباندې کميشن ورکوي، دهغه په جواب کې تاسوفرمايلي و، چې جائزدي، ستاسودا جواب خودې لحاظ سره صحيح دی که چيرې يوه کمپنۍ دخپل قانون او اصولو مطابق داشرط ږدي ياکميشن باندې خپل ستيور خلاصوي، لکه داوړوډپيووغيره، يادسروس ياباټا بوټانوستوراوداسې نور خودجواب ډير مختصروالي له وجې خلک په غلط فهمي کې مبتلاشي، ځکه که چيرې تاسو غور وکړئ، نوسوال ډيرزيات پيچيده دی اودې سره دوضاحت کولوقابل هم دی، دې سوال کې داسې کميشن هم راځي کوم چې مثلاً ددواپانوکمپنۍ دخپل ايجنټ په ذريعه باندې ډاکټرانوته قيمتي سيمپلې (sample) يعني نمونې دتحفې په ډول ورکوي اومعامله دې حده پورې هغه کې داخل شي چې مخکې ورځوکې دامريکي جاز جوړونکې کمپنۍ دپاکستان با اختيارخلکوباندې دجازونوخرڅولوله پاره شپاړس لکه ډالرې دکميشن په ډول ورکړې، دا عام دستوردی چې سرکاري دفترونو، کالجونو، يونيورسټيو(پوهنتونو) اوسکولونو له پاره چې کوم سامان اخيستل کيږي هغه کې اخيستونکي له پاره کميشن ورکول کيږي اصولي طور باندې دغه کميشن دحکومت ياهغه مدکې لګول پکاردي دکوم شي له پاره چې پيسې لګول کيږي، خوعام ډول باندې اختيارمندکسانودهغه دايجنټانوجيب ته لاړې شي، ديني لحاظ سره ددې جواب ډيرزيات اهم دی اوستاسومقام هم اوچت دی، له دې وجې ويره ده چې بدذهن والاخلک ستاسوفتوا ناجائز ډول باندې استعمال نه کړي، نوزمادناقص خيال مطابق ددې خبرې وضاحت ضروري دی چې عوام الناس ته صحيح صورت حال معلوم شي.

جواب: دخپل سوالونوجواب باندې پوهيدونه مخکې په يواصل باندې ځان پوه کړئ، هغه داچې يوه کمپنۍ مال تياروي اوهغوی دخپل مال خرڅولوله پاره څه خلک وکيلان ياايجنټان مقررکړي، کوم کس چې دهغې کمپنۍ دمال خرڅولوله پاره وکيل ياايجنټ وي دهغې کمپنۍ دمقررشويو شرطونومطابق کميشن اومعاوضې وصول کولوحق دار وي.[1]

ددې په مقابله کې يوبل کس دی، چې هغه ديوې اداري نوکردی اوهغه دخپلې اداري له پاره مال اخيستل غواړي، هغه دخرڅونکې کمپنۍ نمائنده نه دی، بلکې داخيستونکې

بقيه د تيرمخ].. ولا العمل تجوز لما كان للناس به حاجة ويطيب الأجر المأخوذ لو قدر اجر المثل. (شامي/٦/ ٤٧/ باب اجارة الفاسدة). ايضا: واما الدلال فان باع العين بنفسه باذن ربها فاجرته على البائع وان سعى بينهما وباع المالك بنفسه يعتبر العرف. (ردالمحتار/ ٤/ ٥٦٠/ كتاب البيوع) ايضاً:قال فى التاترخانية: وفى الدلال والسمسار يجب اجرالمثل. (ردالمحتار/ ٦/ ٦٣/ مطلب فى اجرة الدلال)_

[1] ايضاً)_

اداري وکيل اونمائنده دی، له دې وجې هغه له پاره دکمپنۍ نه کميشن اخيستل جائزنه دي، بلکې دکمپنۍ له طرف نه چې هغه ته څومره رعايت (دکميشن په شکل) کې ورکول کيږي، هغه دهغې اداري حق دی دکومې اداري چې دی وکيل يانمائنده دی اومال اخيستلوله پاره راغلی دی.

کله چې دې اصل باندې ښه پوه شئ، بياغور وکړئ چې ماکومه مسئله ليکلې وه چې دخرڅونکې کمپنۍ نه کميشن اخيستل جائزدي، دادهغو خلکوباره کې ده کوم چې دکمپنۍ له طرف نه وکيل او نمائنده وي دمال خرڅولوله پاره، هغه لکه ددغې کمپنۍ نوکردی اودهغه له پاره دهغې کمپنۍ نه اجرت اخيستل جائزدي.[1]

ددې په مقابله کې سرکاري نوکران اووزيران اوافسران، د سرکاري ادارو له پاره چې کوم مال اخلي هغوی دخرڅونکې کمپنۍ وکيلان نه وي، بلکې هغوی سرکاري وکيلان اونمائندګان وي، له دې وجې سرکاري نوکران، چې دسرکاري ادارو له پاره کوم سامان اخلي هغه چې دکمپنۍ په کوم قيمت باندې ملاوشي، هغومره قيمت باندې هغه محکمې ته ورکول ضروري دي اودکمپنۍ له طرف نه چې کوم رعايت ياکميشن ورکول کيږي، دهغې دسرکاري نوکرانو اوافسرانو، يا وزيرانو هضمول شرعي ډول باندې غبن اوخيانت دی، له دې وجې دهغوی دخپلوادارو له پاره اخيستل شوي شي باندې کميشن اخيستل اوپخپله باندې هضمول جائزنه دي، بلکې قومي خزانه کې خيانت دی اوحرام دی.[2]

د کميشن له پاره دروغ ويل

سوال: دکميشن کاروبارمثلاً: دجامو اوکورونو دلالي کول څنګه دي؟ يادساتل پکاردي چې دې کې لږ ډيردروغ هم ويل کيږي، ځکه چې دې کې نقص پټول وي اوخوبي ورته دخپل حدنه زيات بيانول وي.

جواب: دلالي جائزده[3] اودروغ اودوکه په يوشي کې هم جائزنه دي اوديوعيب لرونکي شي

---

[1] اجارة السمسار والمنادى والحمامى والصكاک وما لا يقدر فيه الوقت ولا العمل تجوز لما كان للناس به حاجة ويطيب الأجر المأخوذ لو قدر اجر المثل. (ردالمحتار/٦/ ٤٧/ باب الاجارة الفاسدة). ايضاً: فتجب الدلالة على البائع اوالمشترى او عليهما بحسب العرف. (ردالمحتار/ ٤/ ٥٦٠/ كتاب البيوع)_

[2] يٰايها‌الذين آمنوا لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل. بما لم تبحه الشريعة من نحو السرقة، والخيانة، والغصب، والقمار، وعقود الربا. (التفسير النسفي/١/ ٣٥١). ايضاً: الوكيل اذا باع ان يكون اميناً فيما يقبضه من الثمن. (الفقه الحنفى وادلته/٢/١٣٤/ ضمان الوكيل). ايضاً: الوكيل ممن لايثبت له حكم تصرفه وهو الملک فان الوكيل بالشرى لايملک المشترى والوكيل بالبيع لايملک الثمن. . . . . لان الوكيل يملک التصرف من جهة الموكل. (الجوهرة النيرة/ ١ / ٣٠٠/ كتاب الوكالة)_

[3] فتجب الدلالة على البائع اوالمشترى او عليهما بحسب العرف. (ردالمحتار/ ٤/ ٥٦٠/ كتاب البيوع)_

دې ویلو سره خرڅول هم جائزنه دي چې دې کې هیڅ عیب نه شته.[1]

ملک نه بهر پیسو لیږلو باندې کمیشن اخیستل

سوال: که چیرې له یوسړي نه بهرته پیسې لیږلوله پاره شپاړس زره واخیستل شي، اخیستونکی مخکې ایجنټ ته څوارلس زره روپۍ ورکړي اوسړی لاړشي. اوس دوه زره روپۍ په مینځ کې کارکونکي له پاره حلالې دي اوکه نه؟

جواب: که چیرې دغه دوه زره روپۍ هغه دمحنت کولوله وجې اجرت اخیستې وي، نوجائزدي.[2]

استهورکیپر له پاره د مال کمیشن اخیستل جائز نه دي

سوال: زه یوې فیکټري کې دستهورکیپرپه حیث نوکر یم، موږ ته چې کوم مال راځي، یعنې کوم شی چې دفیکټرۍ له پاره راځي دهغه اخیستل اوخرڅول زموږ سیټه یعنې دکمپنۍ مالک کوي، ریټ وغیره دمال سپلائي کونکي سره پخپله باندې مقرروي، زما کاریوازې دا وي چې کله مال فیکټري ته راشي، نوهغه چیک کړم چې صحیح دی اوکه نه؟یاوزن یې کم نه وي؟ زه هغه دچیک کولونه وروسته وصول کړم مال هم صحیح وي اووزن یې هم سهي وي، خومال سپلایي کونکي ماته دیونګ په حساب باندې پنځه روپۍ کمیشن راکوي، هغوی وایي چې موږ ټولوته ورکوو، زه دهغوی نه نه غواړم اوماهغوی ته داخبره هم کړې ده که چیرې دمال وزن کم و یامال خراب و، نوزه به یې واپس کوم اوکه چیرې سیټیانوو ویل چې دهغوی نه مال راوغواړه، نوبیابه تاسونه راغواړم،که نه، نه، که ریټ کې فرق راشي، نوزه به دکمپنۍ مالکانوته خبرورکوم، که هغوی ووایي چې دمال ارډر ورکړه، نو ارډر به ورکوم،که نه، مال به دنورچانه راغواړم، خودفیکټرۍ مالکانوته پته نه شته چې زموږ ستهورکیپر دهغوی نه کمیشن اخلي، عرض دادی چې تاسو ووایئ چې زماله پاره دا جائزدي اوکه حرام؟

جواب: دهغو خلکوتاسره څه خپلولي خونه ده چې تاته تحفه درکړي اونه ته دهغوی پیرزاده یئ چې ستاپه خدمت کې هدیه وړاندې کړي، اوس درشوت نه پرته نورڅه کیدای شي؟ له دې وجې تاله پاره دغه کمیشن اخیستل جائزنه دي.[3]

---

[1]] لا يحل كتمان العيب فى مبيع او ثمن لأن الغش حرام........اذا باع سلعة معيبة عليه البيان. . . . . الخ. (فتاويٰ شامي/٥/ ٤٧/ باب خيار العيب)_

[2]] اجارة السمسار والمنادى والحمامى والصكاك وما لا يقدر فيه الوقت ولا العمل تجوز لما كان للناس به حاجة. (ردالمحتار/٦/ ٤٧/ كتاب الاجارة/ طبع ايچ ايم سعيد)_

[3]] وفى الكشاف المصطلحات الرشوة لغة ما يتوصل به الى الحاجة بالمضايقة...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د کارکولو کمیشن اخیستل

سوال: زمایوه ملګرې چې هغه دخلکوله پاره په جاموباندې کارکوي، کارهغه په نورو خلکو باندې ارزان کوي اوپیسې ډیرې اخلي، په چاباندې چې کارکوي هغوی ته پوره پیسې ورکوي اوپاتې پیسې پخپله واخلي، دوکان داران هم داسې کوي، داپیسې دهغوی له پاره جائزدي او که ناجائز؟

جواب: که چیرې دواړوطرفونه پیسې مقررې شي، نوبیاجائزدي.[۱]

د پان راکوځولو او د نیلام کولو کمیشن اخیستل

سوال: زه د پان په منډۍ کې کار کوم، دموټرو نه پان راکوځول او دې ته په ترتیب سره کینښودل او دا رنګه د هر قسمه خیال کول، نیلام کول، دا ټول په منډۍ کې زموږه زمداري ده، که چیرې د چا مال په منډۍ کې غائب شي، نو ددې زمدار هم موږ یو، د دومره زمدارو د سنبالولو په بدله کې موږ د یو کیلو پان په بدله کې څلور روپۍ مزدوري (کمیشن)اخلو، چې په دې کې د مالک خوشالي هم شامله ده، که چیرې د یو مال لاټ وړوکی وي، نو موږ په دې باندې کمیشن نه اخلو، که چیرې موږ خپله مزدوري نه اخلو، نو بله هیڅ ذریعه نه شته، ما ته هره ورځ زما د کار چې کوم اجرت ملاویږي، نو ایا زما له پاره حلال دی؟

جواب: تاسو ته چې کوم اجرت ملاویږي هغه د ستا د کار معاوضه ده له دې وجې ددې اخیستل د ستا له پاره حلال دي، [۲] خو په مال کې خیانت مه کوه.

ایا د فیکټرې د پرزو په اخیستلو یا جوړولو کې ملازم کمیشن اخیستی شي؟

سوال: زید په یوې فکټرۍ کې ملازمت کوي او په دې فیکټرۍ کې د مشینانو پرزې چې روزانه په ډیر تعداد سره خرابیږي دې ته په مختلف ورکشاپ باندې سمول کیږي یا اخیستل

بقیه دتیرمخ]بان تصنع له شیئاً لیصنع لک شیئاً آخر.(مجموعة قواعد الفقه/۳۰۷/ طبع صدف پبلشرز کراچی)

[۱] اجارة السمسار والمنادی والحمامی والصکاک وما لا یقدر فیه الوقت ولا العمل تجوز لما کان للناس به حاجة ویطیب الأجر المأخوذ لو قدر اجر المثل. (ردالمحتار/٦/ ٤٧/ اول باب الاجارة الفاسدة). ایضاً: والسمسار اسم لمن یعمل للغیر بالاجرة بیعاً وشراءً. (المبسوط للسرخسي/ ١٤/ ١١٥/ باب السمسار). ایضاً: قال فی التاترخانیة: وفی الدلال والسمسار یجب اجر المثل. (ردالمحتار/ ٦/ ٦٣ / مطلب فی اجرة الدلال)

[۲] الاجارة هی تملیک نفع مقصود من العین بعوض. (درمختار/ ٥/ ٢). فان کانت مأجورة عادة کتوکیل المحامین وسماسرة البیع والشراء لزم اجر المثل ویدفعه احد العاقدین بحسب العرف. (الفقه الاسلامی وادلته/ ٤/ ١٥١/ الوکالة بأجر). ایضاً: الاجارة علی الاعمال: هی التی تعقد علی عمل معلوم کبناء وخیاطة قمیص وحمل الیٰ موضع معین وصباغة ثوب واصلاح حذاء ونحوه. (الفقه الاسلامی وادلته/ ٤/ ٧٦٦/ احکام الاجارة علی الاعمال).

کیږي دا ددې زمداري ده، هغه چې د کوم ورکشاپونو باندې سمیږي یا اخیستل کیږي د دوی نه د اخیستلو یا د سمولو کمیشن اخیستل کیږي،ځکه چې د یوشان کار کولو ډیرې کارخانې دي که چیرې هغه کارخانې والاد کمیشن نه انکار کوي، نوهغه شی په یو بلې کارخانې باندې د کمیشن په بنیاد باندې جوړوي، لهذا کارخانې والا پوهیږي چې که چیرې موږ کمیشن نه ورکوو، نو هغه (زید)به یې په بل چا باندې جوړ کړي، لهذا په خوشالي باندې کمیشن ورکوي، بلکې ځینې خو په خپله پیشکش کوي، دا رنګه هغه د خپلې تنخوا نه پرته په زرګونو روپۍ جوړه وي، که چیرې ده ته وویل شي چې کمیشن مه اخله، نو هغه دا دلیل وړاندې کوي چې که چیرې یوه پرزه په مارکیټ کې په ۳ روپۍ باندې ده، نو زه فیکټري والاته یوازې په ۳ روپۍ ورکوم کارخانې والا بل هم د ۳روپیو په حساب سره راکوي، خود رقم په اداء کیدو کې دوه روپۍ او پنځه اویا روپۍ اخلي، رقم هم هغه اداء کوي، د فیکټرې مالک ده ته د کمیشن د اخیستلو هدایت نه دی کړی او که چیرې مالک ته دا معلومه شي، نو هغه کمیشن اخلي. نو هغه به دې د نوکرې نه وباسي، مګر ددې خبرې یقین دی چې مالک ته سل فیصده اندازه ده چې که هغه کمیشن اخلي، خو داسې یې نه نیسي چې ده ته معلوم وي څه هم چې په دې منصب باندې کیږي، دی یې کوي، لهذا دا معلوم دي چې که چیرې زه بل ملازم وساتم، نو هغه به هم دا کار کوي، تاسو د اسلام په خاطر دا ووایئ چې دده دا پیسې حلالې دي یا حرامې؟

جواب: د کارخانې ملازم د کارخانې نمائندہ دی، هغه به کار هم د کارخانې د ملازم و د نمائنده په حیث سره کوي، له دې وجې چې ده ته کوم رعایت ملاویږي هغه هم دده نه دی. بلکې د کارخانې دی له دې وجې د ملازم کمیشن وصولول جائز نه دي، بلکې خیانت او بد دیانتي ده [1] په حق او حلال کټلو کې برکت وي او د حرامو په کټلو کې خو خوشنمائي وي مګر دا هغه زهر دي چې دننه دننه سرایت کوي او اخر ددې سړي دنیا او اخرت دواړه خراب وي.

د ډرائیونګ چالان شوي لائسنس د ازادولو په باره کې دلالي کول

سوال: یو بروکر چالان شوي ډرائیونګ لائسنس د مختلفو کورټو نه راوړي، د ډرائیورانو نه که چیرې هغه اتیا روپۍ اخلي، نو په کورټ کې دیرش ځلویښت روپۍ ورکوي او لائسنس ازاده وي او پاتې دده شوې، ایا دا کاروبار جائز دی او که نه؟

جواب: د حرام ګټلو او د خوړلو چې کومې طریقې کوم ځای جاري دي دا هم د هغه نه دي. هرې محکمې خپل دلالان پریښې وي او هغه د خلکو نه فیس وصول کړي د افسرانو برخه اداء کوي. ترکومې پورې چې د مسئلې تعلق دی، نو که ته یو سړی د کار کولو له پاره وکیل مقرر کړې.

---

[1] المال الذی قبضه الوکیل بالبیع والشراء وایفاء الدینواستیفائه، والمال الذی قبضه الوکیل بقبض العین بحسب وکالته هو فی الحکم الودیعة بیدالوکیل. (شرح المجلة لسلیم رستم باز/ ۷۸۴).

نو ددې اجرت جائز دی.[1]

د سرکاري افسرا نو مقررشوی کمیشن اخیستل

سوال: یوسړی که په سرکاري یا غیرسرکاري اعلی عهدې باندې وي او دده ته مقرره شوې تنخوا هم ملاویږي، خوله دې سره سره د روپیو او د پیسو لین دین په کولو باندې فکس کمیشن هم اخلي چې هغه دده د تنخوانه هم زیاتې وي او په قانون کې داسې قسمه روپۍ اخیستلو څه جواز هم نه وي او ددې محکمې ټول په ټوله افسران دا کمیشن جائز ګڼي او د هر یو افسر دده د عهدې په لحاظ سره د کمیشن رقم هم مقرر کړی دی چې هغه دا سړی مجبورا اخلي او دذې سړي د وینا مطابق ددې سره د اخیستلو نه پرته هیڅ خلاصی نه شته ، نو ایا دا روپۍ دده له پاره حلالې دي یا حرامې؟

او دده چې کوم خاندان دی ددوی له پاره دا مال څنګه دی؟ حالانکې هغه په زړه کې هم بد ګڼي او په ژبې سره هم (په حکمت سره)پوهوي او ددوی د دوې سړي نه پرته بل څه د امدن ذریعه نه وي، بنځه کې دی پریږدي، نو بل خوا نه شي تللی او بچي یې اوس واړه دي او سبق وایي، یعنې لا اوس په خپلو پښو نه دي ولاړ، نو دوی ته د پلار دا مال جائز دی یا ناجائز؟ که چیرې ناجائز وي، نود قرآن او دحدیث په رڼا کې څه داسې حل بیان کړئ چې هغه د کور والو له پاره دعمل قابل وي.

جواب: سرکاري افسران د خپلو تنخواګانو نه پرته کوم کمیشن چې اخلي دا شرعا حرام دی[2] د مرګ نه وروسته به د دوی له پاره دا روپۍ پوره برابرول پکاروي، حالانکې ورسره به هیڅ نه وي، دلته خو د حساب نه وتلی شي، خود الله له طرف نه چې کله حساب وي اوزموږ د ټولو به وي ددینه هیڅوک نه شي بچ کیدلی، پاتې شو دده ښځه او ماشومان نودا روپۍ ددوی له پاره هم حرامې دي، د ښځې کیدو له وجې ، یا د بچیو د وړکوالي په اعتبار سره، یا ددوی د تعلیم حاصلولو په اعتبار سره د چا له پاره حرامې روپۍ نه حلالیږي، د کومو خلکو نه چې کمیشن اخلي ددوی حق خوري او دا به د قبر او د حشر کې په خیټه کېږي د اوور سکروټې جوړیږي [3]

---

[1] تصح الوكالة باجر وبغيراجر،لان النبى صلى الله عليه وسلم كان يبعث عماله لقبض الصدقات، ويجعل لهم عمولة،فاذا تمت الوكالة باجر لزم العقد ويكون للوكيل حكم الاجير(الفقه الاسلامى وادلته/٤/١٥١/تعريف الوكالة)

[2] (يٰأ ايهاالذين آمنوا لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل). بما لم تبحه الشريعة من نحو السرقة، والخيانة، والغصب، والقمار، وعقود الربا. (تفسير نسفي/١/ ٣٥١). وفى الكشاف المصطلحات الرشوة لغة ما يتوصل به الى الحاجة بالمضايقة بان تصنع له شيأً ليصنع لک شيأً آخر. (قواعد الفقه/ ٣٠٧).

[3] ان الذين يأكلون اموال اليتامٰى ظلماً انما يأكلون فى بطونهم ناراً ويصلون سعيراً. (النساء: ١٠). ايضاً: عن جابرؓ قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا يدخل الجنة لحم نبت من السحت، وكل لحم نبت من السحت كانت النار اولى به.رواه احمد والدارمى والبيهقى. (مشكوٰة/٢٤٢/ باب الكسب وطلب الحلال)

الله تعالی دې زموږ سرکاري افسران ددې بلا نه محفوظ کړي، حلال امدني که چیری لږ وي، نو په دې کې به برکت وي او حرامه ګټه که زیاته وي، خو په دې کې برکت نه وي، دنیا خو هم په خپل ځان وبال دی او د اخرت خبره خو مې پاس لیکلې ده.

❖ وراثت ❖

[د وارثانو د تقسیم قانون او عامې مسئلې]

....

وارث د وراثت نه محروmول

سوال: رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې: څوک چې خپل وارث دخپل میراث نه محروم کړي، نو الله تعالی به دقیامت په ورځ هغه دجنت دمیراث نه محروم کړي. (ابن ماجه)
پورته ذکرشوي حدیث کې چې الله تعالی کوم قانون جوړ کړی دی، هغه نه بدلیدونکی دی، اودهغه ماتونکی دکفرکارکوي، موږاکثرداسې مثالونه لیدلي دي چې پلارپه خپل اولاد کې دیونه خفه شي اوهغه دوراثت نه محروم کړي اوس زموږپه ذهن کې دپورته ذکرشوي حدیث مفهوم هم دی او دا خبره هم ده چې ماسره څه دي هغه زماخوښه ده چې چاته یې ورکړم،اوس دالله تعالی ددې نه ختمیدونکې فیصلې نه څه مطلب اخیستل پکاردي؟ دې ناقص عقل لرونکي ته دتشریح سره جواب بیان کړئ!
جواب: یوشرعي وراث محروmول دادي چې وصیت وکړل شی چې زمادمرګ نه وروسته به فلانکی کس وارث نه وي، څه ته چې عام طور باندې عاق نامه ویل کیږي، داسې وصیت حرام اوناجائزدی، او شرعي طورباندې داعتبارقابل نه دی، کوم کس چې عاق کړل شوی وي هغه به بیاهم وارث وي.[1]

نافرمانه اولاد د جایداد نه محروmول یاکمه برخه ورکول

سوال: دیوموږپلاردرې زامن دي، درې واړوکې یوهلک په خپل ژوندکې دموږپلارسره بنه سلوک وکړ اوموږپلاردهغه نه خوشحاله دي،او پاتې دواړوکې یوتعلیم حاصلوي، اوکوم چې

---

[1] قال الله تعالي: "يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين". (النساء/١١) عن انس بن مالك: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من فرض من ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة يوم القيامة. (سنن ابن ماجة/ باب الحيف فى الوصية/ ١٩٤/ باب الوصايا). وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة. (مشكوٰة/ ٢٦٦). وكل من وقف عليٰ جور فى الوصية من جهة الخطاء او العمد ردها الى العدل، كمن اوصٰى بالزيادة على الثلث، او اوصٰى بحرمان احدٍ من الورثة من الميراث وغيره. (احكام القرآن للتهانوي/ ١/ ١٦٢)_

مشردی هغه اوسه پورې خپل مورپلار، مورپلارنه دي ګڼلي، هغوی ټول یوکورکې اوسیږي، پلاراوس جایدادتقسیمول غواړي، مولانا صاحب! تاسودقران اوحدیث په رڼاکې فیصله وکړئ چې آیا پلار هغه هلک ته دجایدادزیاته برخه ورکولی شي کوم چې مورپلارسره ښه سلوک کړی وي؟ آیا هغه داسې کولی شي یایې درې واړوباندې برابرتقسیم کړي؟ تاسودې باره کې فیصله وکړئ، چې زه څه فیصله وکړای شم.

جواب: کوموهلکانوچې مورپلار، خپل مورپلارنه دي ګڼلي، هغوی خپل آخرت خراب کړ اوددې سزابه ورته دې دنیاکې هم ملاویږي[۱] خو مورپلارته دااجازه نه شته چې هغوی خپل اولادکې یو د جایدادنه محروم کړي، ټول برابرساتل پکاردي،که نه، مورپلاربه هم خپل آخرت خراب کړي.[۲]

د نافرمانه زوی سره پلار د خپل جایداد باره کې څه وکړي؟

سوال: محمموددخپل پلاریوزوی دی، اوهغه دخپلوبچیواوښځې سره دډیروخت نه دپلارپه کورکې اوسیږي، محمودپابندي سره لمونځ اوروژې نه نیسي، درمضان شریف روژې له څه شرعي عذر پرته نیسي، ښه کافي تنخوا باندې نوکردی، دپلار هیڅ خدمت هم نه کوي، دپلار او زوی خوراک څښاک جدادی، بلکې څه حدپورې دپلارنه دجداژوندتیرولونظریه لري، کور کې زیاتروخت دټیلي ویژن اوریډیوپه رنګینوکې مصروف وي، بوډاپلارپه خپل کورکې د ګانو بجانو او ناجائز شیانوشوق نه لري، په دې وجه باندې یوبوج جوړ شوی دی، پلاریې ددرې څلورو نورو کورونو مالک دی، هغه سره دافکردی چې دپلارنه وروسته به هم داهلک وارث وي، دمخکې او اوسني حالاتونه ددې خبرې اندازه کیږي چې دپلاروراثت ملاویدونه وروسته د محمود بې دیني، اوحرام کارونه اومشغلې نورې هم زیاتې شي، شرعي طورباندې پلارته څه کول پکاردي، چې په حشرکې ترې نه پوښتنه ونه شي اوخپل آخرت یې هم صحیح شي؟

جواب: څومره چې کیدای شي په خپل ژوندکې دې صدقې اوخیرات کوي، اوکه چېرې هلک ددین لارېږدي، نوپلاربه یې ددې ذمه دارنه وي، ددې ګناه دهغه په خپله مرۍ وي.[۳]

---

[۱] [قال الله تعالیٰ: وقضیٰ ربک الا تعبدوا الا آیاه وباالوالدین احساناً اما یبلغن عندک الکبر احدهما او کلاهما فلا تقلهما اف ولا تنهرهما وقل لهما قولاً کریما. واخفض لهما جناح الذل من الرحمة وقل رب ارحمهما کما ربیٰنی صغیراً. (بنی اسرائیل: ۲۳، ۲۴). عن عبد الرحمٰن بن ابی بکرة عن ابیه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا احدثکم باکبر الکبائر؟ قالوا: بلی یا رسول الله! قال: الأشراک بالله وعقوق الوالدین. الحدیث. (الترمذي/ ۲/ ۱۲)

[۲]] عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من فرض من میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة. (سنن ابن ماجة/ ۱۹۴/ مشکوٰة/ ۲۶۶/ باب الوصایا)_

[۳]] وان لیس للانسان الا ماسعیٰ، وان سعیه سوف یریٰ. (نجم). (ولا تزر وازرة وزر اخریٰ) (نجم)_

د مور پلار يو وارث ته زياته برخه ورکول

سوال: څنګه چې دشريعت دقانون مطابق هلک ددووبرخواوانجيلۍ ديوې برخې حقدار دي، دې نه پرته په خپل جايداد کې نيمه يادريمه برخه يويادوه بچيوته وصيت کولی شي؟

سوال: ۲: آيا دنورو وارثانو، حق دارو او اولاد نه به شهادت اخيستل وي، چې درحلت نه وروسته څه قسمه جنګ جګړه ونه شي؟ څکه چې دهبه ياوصيت اطلاق دمرګ نه وروسته کيږي.

سوال: ۳: آيا اولادته امتيازي حيثيت ورکولوسره دهبې ياوصيت په ذريعه باندې هغه ته زيات حق ورکول جائزدي؟ يادعاق کولواجازه خوشته؟

جواب: ۱: دوارث دپاره وصيت نه وي، که چاوصيت وکړ چې زمااولادکې فلانکي ته دومره برخه ورکړئ، نوداوصيت باطل دی[۱]، اوکه چرې ټول وراثان عاقل اوبالغ وو اوهغوی په خپله خوشحالي باندې دومره برخه زياته ورکول غواړي نوورکول کيږي.[۲]

جواب: ۲: هبه په ژوند کې کيږي، دهبه دمکمل کيدوشرط دادې چې کوم شی هبه شوی وي، هغه موهوب له (چاته چې هبه شوې وي) حواله کړل شي اوهغه دملکيت قبضه ورکړل شي[۳]، ترڅو پورې چې قبضه نه وي ورکړل شوې، هغه شی دهبه کونکي په ملکيت کې وي، اوکه چېرې دغه دوران کې هغه مړشو، نوهغه شی به هم په ميراث کې شامل شي،اوموهوب له ته به نه ملاويږي.[۴]

جواب: ۳: يوبچي ته امتيازي حيثيت ورکولوسره يوشی هبه کول دڅه خاص ضرورت په وجه باندې مثلاً که هغه معذوروي يادېرضرورت منداومحتاج وي، بياجائزدی،که نه، جائزنه دی، څکه ددې په وجه باندې دنوروحق نه اداکيږي[۵]. حديث شريف کې له ظلم او زياتي څخه

---

[۱] عن ابي امامة الباهلي قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول فى خطبة عام حجة الوداع: ان الله تبارک وتعالىٰ قداعطى كل ذى حق حقه،فلا وصية لوارث. الحديث.(جامع الترمذي/ ۲/ ۳۳/ باب ماجاء لا وصية لوارث)

[۲] ولا تجوز الوصية للوارث عندنا الا ان يجيزها الورثة وهم كبار. (فتاويٰ عالمگيرية / ٦/ ۹۰)_

[۳] وفى الهداية: وتصح بالايجاب والقبول والقبض........والقبض لا بد منه لثبوت الملک. (هداية / ۳/ ۲۸۱/ كتاب الهبة). قال فى فتح القدير: لا يملكه الموهوب له الا بالقبول والقبض. (۷/ ٤۸۰) قال فى الشامي: تصح بقبض بلا اذن فى المجلس. (٦/ ٦۹۰/ كتاب الوصايا)_

[٤] ايضاً پورتنۍ حواله)_

[٥] ولو وهب رجل شيئاً لأولاده فى الصحة واراد تفضيل البعض على البعض فى ذالک لا رواية لهٰذا فى الاصل عن اصحابنا وروى عن ابي حنيفة رحمه الله تعالىٰ انه لا بأس به اذاكان المتفضل لزيادة فضل له فى الدين وان كانا سوآء يكره وروى المعلى عن ابي يوسف رحمه الله انه لابأس به اذا لم يقصد به الاضرار وان قصد به الاضرار سوى بينهم يعطى الابنة مثل ما يعطى الابن وعليه الفتويٰ هٰكذا فى فتاويٰ قاضيخان. (الهندية/ ٤/ ۳۹۱/ كتاب الهبة)_

تعبير شوى دى[1] اولاد كې څوک عاق كول شرعي طور باندې عاق كيداى نه شي، بلكې هغه ته به د هغه شرعي برخه ملاويږي [2]

كه چېرې يو وارث ته په ژوند باندې ټول جايداد وركړي نو عدالت ته د تصرف اختيار حاصل دى

سوال: يو مسلمان د جايداد مالک خپل آخري وخت كې خپل لس بچوكې صرف يو بچي ته خپل جايداد خرڅولو نه پس پيسې حواله كړې چې پخپله يې وخوره چې بيا وروسته په كې تقسيم نه وي، هغه اولاد كې كونډې لونه هم شاملې دي، آيا اسلامي عدالت كې د قانون مطابق، اخلاقاً نه، د جايداد اپيسې واپس كيداى شي؟

جواب: كه چرې هغه دا تصرف په خپل ژوند كې كړى و، نو قانوني طور باندې نافذ دى[3].

او عدالت د دې تصرف د ماتولو حق لري. [4]

د مرګ نه وروسته زيات شوى مال به هم تقسيمېږي

سوال: آيا د مرحوم يوازې هغه څاروي به تقسيميږي كوم چې د هغه د وفات په وخت كې موجود وو، يا وروسته چې پكې كومه اضافه شوې ده او د تقسيم په وخت كې چې كوم موجود دي، هغو كې به هم د ټولو برخې وي؟

جواب: د مرحوم په مال كې چې د مرګ نه وروسته كومه اضافه شوې ده، هغه به هم د دستور مطابق تقسيميږي.

د پلار په وراثت كې د لونو برخه هم ده

سوال: مور پلار چې خپل ميراث كې كوم مال پريږدي، هغه كې د ورونو خويندو څه قانوني حق جوړيږي؟ او يو رور د پلار په كور كې اوسيږي، ورونه وايي چې د پلار په وراثت كې د خويندو برخه

---

[1]]عن النعمان بن بشير رضي الله عنه ان اباه اتى به الىٰ رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: انى نحلت ابنى هٰذا غلاماً، فقال: اكل ولدک نحلت مثله؟ قال: لا! قال: فارجعه. . . . . وفى رواية انه قال: لا اشهد على جور. متفق عليه. (مشكوٰة/ ۲٦۰/ كتاب الهبة/ طبع قديمى كتب خانه)_

[2]] من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة. (مشكوٰة/ ۲٦٦). وكل من وقف علىٰ جور فى الوصية من جهة الخطاء او العمد ردها الى العدل، كمن اوصىٰ بالزيادة على الثلث، او اوصىٰ بحرمان احدٍ من الورثة من الميراث وغيره. (احكام القرآن للتهانوي/ ۱/ ۱٦۲)_

[3]]رجل وهب فى صحته كل المال للولد جاز فى القضاء، ويكن آثماً فيما صنع كذا فى فتاويٰ قاضيخان. (فتاويٰ عالمگيري/ ٤/ ۳۹۱/ كتاب الهبة/ الباب السادس/ ايضاً: البحرالرائق/ ۷/ ۲۸۸)_

[4]] ايضاً اوګورئ تيره شوې حواله(من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة. . الخ)_

نه شته. دقران دحکمونواواحادیثوپه حواله باندې جواب راکړئ چې خور د وروڼوخلاف قانوني کاروايي کولی شي؟

جواب: قران کريم کې خود وروڼوسره دخويندوبرخه هم(دوررور په نيمايي) ټاکل شوې ده[1] هغه کوم خلک دي چې هغوی دقران کريم ددې صفا اوښکاره حکم خلاف وايي. چې دپلارپه ميراث کې دخويندو (يعنی دپلاردلوڼو) برخه نه شته؟

بل ملک کې د اوسيدونکې لورهم د پلارپه ميراث کې برخه شته

سوال: زماخسرمړشوی دی، دهغه په وارثانوکې کونډه، درې زامن چې هغوی کې يومړشوی دی، اوشپږلوڼه پريښې دي، هغو کې يوه لورهندوستان کې اوسيږي، دمرحوم جايدادبه څنګه تقسيميږي؟ اياهندوستانۍ انجيلۍ به هم دپاکستاني وراثت حق داره وي؟ اوکه نه وي، نودهغې برخه کټ کيدونه وروسته به څومره برخه جوړيږي؟ يعنې دکونډې، هلکانو او جينکو جدا جدا برخه.

جواب: تاسودانه دي ليکلی چې دمرحوم کوم زوی مړشوی دی، هغه د پلار دمړکيدونه مخکې مړشوی دی اوکه وروسته؟په هرحال که چرې مخکې مړشوی وي، نودمرحوم ميراث به(دقرض اداکولو اود وصيت دنافذکيدونه وروسته) په اتيا(۸۰)برخو تقسيم شي، کومه هندوستانۍ انجيلۍ چې ده، هغه هم دوراثت حق داره ده[2]، اوکوم هلک چې دپلارپه ژوند کې مړشوی وي، هغه حق دارنه دی اوکه چرې هغه هلک دپلاردوفات نه پس مړشوی وي، نو ميراث به په (۹۶)برخو تقسيم شي، دولس برخې دکونډې، څوارلس څوارلس برخې ددرې واړو هلکانو، اواووه اووه برخې دجينکو، دمرحوم هلک برخه به دهغه په وارثانوکې تقسيم شي.

په يوځای اوسيدونکو کې که يوکس مکان جوړکړي، نومکان به د چا وي؟

سوال: زما د والد دوه واړه وروڼه دي، درې وروڼه خو د شروع نه يوځای اوسيدل، زموږ مشر تره د ملک نه بهر د مزدورۍ له پاره لاړ او دهغه خاندان دلته زموږ سره و، د دوی د بچيو د تعليم او د تربيت ذمداري زما په والد صاحب باندې وه، د والد صاحب ټوله تنخوا به په کورکې خرچ کيدله او تره به مې هم د کويټ نه دمياشتې خرچه راليږله د تره په کويټ کې د

---

[1]]قال الله تعالى: "يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين". (النساء/۱۱). "وان كانوا اخوة رجالاً ونساء فللذكر مثل حظ الأنثيين". (النساء: ۱۷۶)_

[2]] وفى الدر المختار: (واختلاف الدارين يمنع الارث) ولكن هٰذا الحكم فى حق اهل الكفر لا فى حق المسلمين. (درمختار/ ۶/ ۷۶۸). ايضاً: اى اختلاف الدار لا يؤثر فى حق المسلمين كما فى عامة الشروح حق ان المسلم التاجر او الأسير لو مات فى دار الحرب ورث منه ورثة الذين فى دار الاسلام. (فتاوىٰ شامي/ ۶/ ۷۶۸)_

کیدو له وجې زموږ مالي حالت بهتره شو او موږ د اوسیدو له پاره مکان هم جوړ کړ، چې په هغه کې لګیدل اکثر سرمایه د تره وه، اوس درې واړه ورونه جدا شوي دي او مشر ورور دا مکان د خپل زوی په نوم باندې کړ او دده دعوه ده چې دا مکان زما دی ددې نه مخکې دا مکان دکشر تره په نوم و، اوس د شریعت په اعتبار سره وایئ چې ددې کور اصل حقدار څوک دی؟

جواب: درې واړه ورونه یو ځای اوسیدلي دي، د درې واړو خرچ او اخراجات هم مشترک و او دا کوم کور چې جوړ شوی دی دا هم مشترک جوړ شوی دی، خود ستا هغه تره کوم چې کویټ ته تللی و، دده دعوه ده چې دا مکان دده دی او دده په پیسو سره جوړ شوی دی له دې وجې دا خبره دهغه صحیح ده، خوهغه ته په دې خبره باندې غور کول پکار دي چې که په شروع کې یې ویلي و چې دا زمادی، نو ایا نورو ورونو به دده د بچیو غور کولو؟ په هر حال دا مکان دده دی، خوده په مکان باندې قبضه وکړه او د اخلاقو او د مروت خلاف یې وکړل، والله اعلم!

خویندو باندې دهغوی د جایداد برخه معاف کول

سوال: زموږ معاشره کې دمیراث باره کې دا رواج شروع شوی دی، چې دپلارله وفات نه وروسته دهغه په اولادکې زامن دخپلوخویندو او مورنه دالیکل واخلي چې هغوی ته په جایدادکې برخه نه ده پکار، خویندې ورونوسره دمینې دجذبې له وجې خپله برخه پرېږدي، دغه شان دپلارټول جایداد زامنوته منتقل شي، ایاشرعي لحاظ سره داسې معامله کول صحیح دي؟ ایاداسې خویندې دخپل اولاد حق غصب کونکې نه شوې؟ که چیرې خویندې خپله برخه معاف کړي، نودهغې اولاد ذکر شوې برخه غوښتلی شي؟

جواب: الله تعالی چې دپلارپه جایدادکې څنګه دزامنوحق ایښی دی دغه شان یې دلوڼوحق هم ایښی دی[1]، خوهندوستاني معاشره کې انجونه دحق نه محرومیږي، نوداسې ذهنونه جوړ شوي دي چې دجینکوپه میراث کې برخه اخیستل لکه چې یو جرم یاعیب وي، نو ترڅو پورې چې انګریزي قانون و، چاخویندونه دخپلې برخې معاف کولوضرورت نه محسوساو اواوس کله نه چې پاکستان کې دمیراث شرعي قانون نافذشوی دی، ورونه دخپلو خویندونه لیکل واخلي چې دهغوی برخه نه ده پکار، داطریقه بالکل غلطه اودالله تعالی دقانون نه منل دي، اخر یو ورور دبل په حق کې ولې خپله برخه نه پرېږدي؟ له دې وجې خویندوته خپله برخه ورکول پکاردي، کال دوه کاله وروسته که چیرې هغه یې خپلوورونوته ورکول غواړي، نودهغې خپله

---

[1] قال الله تعالي: "يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين". (النساء/١١). عن ابى هريرةؓ عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: والذى نفس محمد بيده! ان على الأرض من مؤمن الا وانا اولى الناس به فأيكم ماترک ديناً او ضياعاً فانا مولاه، وايكم ترک مالاً فالى العصبة من كان. (صحيح مسلم/ ٢/ ٣٦). وفى السراجى/ ٢، ٣ قال علمائنا رحمهم الله تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة. . . . . . . ثم يقسم الباقى بين ورثته بالكتاب والسنة واجماع الامة، فيبدأ باصحاب الفروض وهم الذين لهم سهام مقدرة فى كتاب الله)_

خوښه ده،که نه، په اوسني صورتحال کې يې هغه په خپله خوښه باندې نه پرېږدي، بلکې دروا ج نه دمجبور کېدو له وجې يې پرېږدي.

که يوې خورخپله برخه په خوشالي باندې پرېښودله، نو دهغې اولادته دمطالبې کولوحق نه شته، ځکه چې داولادحق دهغوی دموردوفات نه وروسته ثابتېږي، دمورپه ژوندکې دهغوی دمورپه جايدادباندې هيڅ حق نه شته، نوکه چيرې هغه دستبردارشوه، نو اولادهغه نه شي منع کولی.[1]

ايا جهيز د ميراث د برخې قائم مقام کيدای شي؟

سوال: زموږ مرحوم پلارپه ميراث کې يوغټ کور، دبازارپنځه دوکانونه اوتقريبا دڅلور سوو ګزو يو کمرشل پلاټ چې هغه په استعمال کې دي پرېښي دي، ددې ټول جايداد مارکيټ کې قيمت تقريبا څلويښت لکه دی، زموږ ټول ورونه ماشاء الله (په ښو ځايونوکې نوکران دي) کورکې دهيڅ شي کمی نه شته، خو زموږ د واده شويو خويندودکورحالات صحيح نه دي، ډيرپه ګرانه باندې ګذاره کيږي، خوزموږ خويندو ته برخه نه راکوي، هغه وايي: خويندوته جهيز ورکړل شوی دی، پاتې ټول ميراث دهلکانودی اوپه واده کې موږ ته په ګرانه دڅلويښت پنځوس زرو روپيو جهيز راکړل شوی دی، هغه هم زياتردخپلوانو له طرف نه تحفې وې، مهرباني وکړئ او وفرمايئ چې زموږ دمورخبره صحيح ده ياموږ خپله برخه اخيستلوکې صحيح يو اودې سلسله کې موږباندې زور اچول خوبه ګستاخي نه وي؟ يادا چې دې وخت کې زموږ مورته د سرپرست په طورباندې څه ذمه داري اداکول پکاردي؟

جواب: ستاسودمرحوم پلار په ميراث کې دهلکانواوجينکو دواړو برخه ده، ددووجينکوبرخه ديوهلک دبرخې برابرده[2]، ستاسود موردا وينا چې: جينکوته جهيزملاوشوی دی، نواوس به هغوی ته په جايداد کې برخه نه ملاوېږي، ديوڅووجوهاتوله وجې غلطه ده:

۱: که جينکوته جهيزملاوشوی دی، نودهلکانوپه ودونوباندې دهغوی په دوه چنده خرچه شوې ده، اوس خودانصاف مطابق هلکان هم د جايدادنه محروم ساتل پکاردي اويا جينکوته هم دشريعت مطابق برخه ورکول پکاردي.

۲: جينکوته خوجهيزدهغوی دمورپلارپه ژوندباندې ورکړل شوی دی اودميراث دبرخې تعلق خودمرحوم دوفات سره دی، نوکوم شی چې دپلارپه وفات باندې حاصل شو، دهغې نه کټکول دپلارپه ژوند کې څنګه کيدای شي؟

---

[1] (فان قسمه وسلمه صح) ای لو وهب مشاعاً يقسم ثم قسمه وسلمه صح وملکه.(البحرالرائق/ ۷/ ۲۸۶)

[2] قال الله تعالي: "يوصيکم الله فی اولادکم للذکر مثل حظ الانثيين". (النساء/۱۱). واما بنات الصلب. . . . . ومع الابن للذکر مثل حظ الانثيين وهو يعصبهن. (سراجی/ ۸). واذا اختلط البنون والبنات عصب البنون البنات فيکون للابن مثل حظ الأنثيين. (فتاویٰ عالمگيری/ ۶/ ۴۴۸/ کتاب الفرائض)_

۳: د میراث برخه خو مقررشوې وي، چې ټول جایداد د دومره پیسو دی او دې کې د فلانکي وارث دومره برخه ده، خو د جهیز قیمت خو معلوم نه وي. بلکې مورپلار د خپل وس مطابق ورکوي، نو جهیز د میراث قائم مقام څنګه کیدای شي؟

۴: بیا یوشی د بل شي په بدله کې ورکول یوه معامله، یو سودا او یولین دین دی او یوه معامله یا سودا د دووفریقانو نه پرته نه شي کیدای، نو آیا د مورپلار او لوڼو په مینځ کې دا سودا شوې وه، چې دا جهیز تاسو ته ستاسو د میراث په بدله کې درکول کیږي؟

غرض دا چې د مور خبره غلطه ده او ظلم دی، هغه لوڼو ته خپله برخه نه ورکولو باندې د ځان له پاره دوزخ اخلي[1]، هغې ته توبه کول پکار دي.

پاتې شوه دا خبره چې مور باندې زوراچول خو به ګستاخي نه وي؟ د دې جواب دا دی چې یوازې غوښتل ګستاخي نه ده او ګورئ! بندګان د الله تعالی نه څنګه غوښتل کوي، بچي د خپل مور پلار نه څنګه غواړي، دې ته څوک ګستاخي نه وايي او که چیرې لهجه د ګستاخي وي، نو بیا به یقینا ګستاخي وي، نو که چیرې تاسو یې ترې نه التجاء کولو سره غواړئ، نو دا به ګستاخي نه وي او که د حکم په لهجه کې ورسره خبرې وکړئ، نو بیا به ګستاخي وي.[2]

د میراث په ځای انجونو ته جهیز ورکول

سوال: د جهیز د لعنت او وبا نه څوک هم محفوظ نه دي، ځینې خلکو خو دا ویل هم شروع کړي چې مور د جهیز په شکل کې لوڼو ته د خپل میراث پیسې ورکړو، آیا دا ممکن ده چې پلار لوڼو ته په خپل ژوند باندې میراث د جهیز په نوم باندې ورکړي او د دې حق نه خلاص شي؟

جواب: وراثت خو د مورپلار د وفات نه وروسته وي، په ژوند باندې نه[3] او که چیرې یوه انجیلۍ د جهیز په بدله کې برخه پریږدي، نو هغه دا سې کولی شي.

د مور په میراث کې هم د لوڼو برخه شته

سوال: زمونږ د مور د وفات تقریبا اته نیم کاله شوي دي، مونږ څلور خویندې او دوه وروڼه یو، زمونږ د مور په میراث زمونږ پلار او وروڼو قبضه کړې ده، د ټول جایداد او کاروبار نه مو پلار او وروڼه ګټه اخلي، مونږ خویندې چې کله د پلار نه خپله برخه غواړو، نو وايي چې د لوڼو د مور په میراث کې برخه نه وي او دا هر څه زما دي.

---

[1] عن انس بن مالک h: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من فرض من میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة.(سنن ابن ماجة/ باب الحیف فی الوصیة/۱۹٤/باب الحیف فی الوصیة/طبع نورمحمد کراچي)

[2] قال الله تعالي: فلا تقل لهما اف ولا تنهرهما وقل لهما قولاً کریما. (بنی اسرائیل: ۲۳)_

[3] لأن الشرکة فی الاصطلاح ما ترکه المیت من الأموال صافیا عن تعلق حق الغیر بعین من الأموال. (شامی/ ٦/ ۷۵۹/ کتاب الفرائض/ طبع سعید)_

جواب: ستاسو د پلار د وینا غلطه ده، چې د موریه میراث کې د لوڼو برخه نه وي، د لوڼو برخه چې څنګه د پلاریه میراث کې وي دغه شان د موریه میراث کې هم د هغوی برخه وي[1] تاسو چې کوم صورت لیکلی دی، هغه کې به ستاسو د مور میراث په دوه دیریش (۳۲) برخو تقسیمیږي، اته برخې به ستاسو پلار، شپږ، شپږ برخې د دواړو ورونو او درې درې برخې به د څلورو خویندو وي، د تقسیم نقشه داده:

خور	خور	خور	خور	ورور	ورور	پلار
۳	۳	۳	۳	۶	۶	۸

د مرحوم له وفات وروسته د پیدا شوي بچي په میراث کې برخه

سوال: یو سړی وفات شو، هغه نه یوه کونډه، دوه هلکان او یوه انجیلۍ پاتې شوه، د وفات نه وروسته د هغه میراث د شریعت مطابق د هغه په دواړو زامنو، لور او کونډې باندې تقسیم شو، خو د هغه د وفات په وخت کې کونډه د څلورو میاشتو حامله وه او پنځه میاشتې وروسته یوه بله انجیلۍ پیدا شوه پوښتنه دا کول غواړم چې ایا هغه انجیلۍ به د پلاریه میراث کې حق داره وي او که نه؟ او که چیرې ده، نو هغې ته به د هغې حق څنګه ورکول کیږي؟ ځکه چې تقسیم خو مخکې نه شوی دی او هر یو حق دار خپل حق مکمل ډول باندې استعمال کړی دی.

جواب: دا انجیلۍ د خپل مرحوم پلار وارثه ده او د هغې د پیدائښ نه مخکې د میراث تقسیمول جائز نه و، ځکه چې دا پته نه وه چې هلک به پیدا کیږي او که انجیلۍ؟ په هرحال لومړی تقسیم غلط و، نو اوس به بیا تقسیم کیږي او د هغې انجیلۍ برخه به هم په کې واچول شي،[2] د مرحوم ټول میراث به اته څلویښت برخې شي او هغو کې به شپږ برخې د کونډې، څوارلس څوارلس برخې د دواړو هلکانو او اووه اووه برخې به د دواړو جینکو وي.[3] د تقسیم نقشه داسې ده:

لور	لور	زوی	زوی	کونډه ښځه
۷	۷	۱۴	۱۴	۶

---

[1] قال الله تعالي: فان كان لهن ولد فلكم الربع مماتركن من بعد وصية يوصين بها أودين. (النساء: ۱۱). "يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين". (النساء/۱۱). قال فى الخلاصة: وان اختلط الذكور والاناث فالمال بينهم للذكر مثل حظ الأنثيين. (خلاصة الفتاوى/ ٤/ ۲۱۲/ كتاب الفرائض/ طبع رشيديه)_

[2] وروى الخصاف عن ابى يوسف رحمه الله انه يوقف نصيب ابن واحد، او بنت واحدة اليها اكثر هٰذا هو الأصح وعليه الفتوىٰ. (الشريفية مع السراجى/ ۱۳۱/ طبع رشيديه كوئته)_

[3] اما للزوجات: فحالتان الربع للواحدة فصاعدة عند عدم الولد وولد الابن وان سفل، والثمن مع الولد، وولد الابن وان سفل. قال الله تعالي: "يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين". (النساء/۱۱). وقال زيد بن ثابت رضى الله عنه: اذا ترك رجل او امرأة ابنةً فلها النصف فان كانتا اثنتين او اكثر فلهن الثلثان فان كان معهن ذكر بديء بمن شركهم فيعطى فريضته وما بقى فللذكر مثل حظ الأنثيين. (صحيح بخارى/ ۲/ ۹۹۷/ باب ميراث الولد مع ابيه وامه)_

هلک او انجلۍ کې د میراث تقسیم

سوال: که چیرې محروم نه په میراث کې یو لک روپۍ پاتې شوې وي او وارثانوکې یې یو هلک او دوه نجونه پرېښې وي، نود شریعت په نزد به دا یو لک روپۍ څنګه تقسیمیږي؟ ایا زموږ عدالتونه هم د اسلامي قانون مطابق د میراث فیصلې کوي؟

جواب: که بل څوک وارث نه وي، نو د مرحوم د کفن دفن او قرضې اوداسې نور... ادا کولونه وروسته چې کوم مال پاتې شي د وصیت پوره کولونه وروسته (که چیرې هغه وصیت کړې وي)[1] د مرحوم میراث به په څلور برخو تقسیم شي، دوه برخې به د هلک او یوه یوه برخه به د دواړو جینکو وي زموږ عدالتونه هم د دې مطابق فیصله کوي[2]، د تقسیم نقشه داده:

انجلۍ	انجلۍ	هلک
۱	۱	۲

د مور پلار په جایداد کې د ورور او خور برخه

سوال: د هندوستان د تقسیم نه مخکې زموږ مور پلار مړه شوي دي او یو کوریې پرېښی و، چې د هغه موږ دواړه مالکان وو، یعنې زه او زما ناواده شوې خور، د شریعت او سنت په نزد باندې دې جایداد کې زموږ څومره څومره برخه کیږي؟

جواب: د مور پلار پرېښودل شوي جایداد کې تاسو خور او ورور د دوو په نسبت باندې دیوې برخې شریک یئ، یعنې دوه برخې تاسو له پاره او یوه برخه د خور له پاره[3] د تقسیم نقشه داده:

خور	ورور
۱	۲

---

[1] وفی الدرالمختار: (یبدأ من ترکة المیت الخالیة عن تعلق حق الغیر بعینها کالرهن والعبد الجانی) بتجهیزه من غیر تقتیر ولا تبذیر، ثم تقدم دیونه التی لها مطالب من جهة العباد ثم تقدم وصیته من ثلث ما بقی ثم یقسم الباقی بعد ذلک بین ورثته. (درمختار/ ٦/ ٧٥٩، ٧٦٠). تتعلق بترکة المیت حقوق اربعة مرتبة: الاول یبدأ بتکفینه وتجهیزه من غیر تبذیر ولا تقتیر ثم تقضٰی دیونه من جمیع مابقی من ماله، ثم تنفذ وصایاه من ثلث مابقی بعد الدین ثم یقسم الباقی بین ورثته بالکتاب والسنة واجماع الامة فیبدأ باصحاب الفروض وهم الذین لهم سهام مقدرة فی کتاب الله. (سراجی/ ٢، ٣/ طبع مجیدیه ملتان). واما بنات الصلب......ومع الابن للذکر مثل حظ الانثیین وهو یعصبهن. (سراجی/ ٨)۔

[2] قال تعالیٰ: "یوصیکم الله فی اولادکم للذکر مثل حظ الانثیین". (النساء/ ١١). واما بنات الصلب. . . . . ومع الابن للذکر مثل الأنثیین وهو یعصبهن وان اختلط الذکور والاناث فالمال یقسم بینهم للذکر مثل حظ الانثیین. (خلاصة الفتاویٰ/ ٤/ ٢١٢/ کتاب الفرائض/ طبع رشیدیه)۔

[3] ایضاً پورتنۍ حواله)۔

د ورو نو خويندو د وراثت مسئله

سوال: مورِ درې خويندې او يو ورور يو، زمونږ مور او پلار وفات شوي دي او ميراث کې يې مورږ ته يو کور پريښى دى او هغه مورږ په يو نيم لک روپۍ باندې خرڅوو، مسئله داده چې د خويندو به څومره برخه رسيږي او دورور به موڅومره برخه رسيږي؟ مورږ مسلمانان يو او سني عقيدې سره تعلق لرونکي يو؟

جواب: که ستاسو د پلار په ذمه باندې قرض وي، نو دهغه اداکولو نه وروسته او که چيرې څه جائز وصيت يې کړى وي، نو د مال په دريمه برخه کې هغه پوره کولو نه وروسته[1]، دهغه په ملکيت غټې او وړوکې، منقوله او غيرمنقوله چې څومره شيان دي هغه به پنځو برخو کې تقسيم شي، دوه برخې به دورور او يوه يوه برخه به ددرې واړو خويندو شي[2] ددې تقسيم نقشه داده:

ورور	خور	خور	خور
٢	١	١	١

د پلار يا زامنو په موجودګۍ کې ورو نه خويندې وارثان نه وي

سوال: زيد سره خپله تنخوا باندې اخيستل شوي دوه پلاټونه دي او يو کور په کوم کې چې هغه دخپلو بچيو او ښځې سره اوسيږي، کومه اداره کې چې زيد نوکري دهغې له طرف نه دزيد وفات کيدو په صورت به تقريبا اته لکه روپۍ دزيد ښځې ته ملاويږي، دې پيسو کې دپراويډنټ فنډ دوه لکه روپۍ او دګروپ انشورنس شپږ لکه روپۍ دي، چې هغه دنوکرانو د وارثانو د امداد له پاره داداراې طريقه ده او دنوکرانو د تنخوا نه هره مياشت معمولي پيسې دګروپ انشورنس له پاره کټ کيږي دزيد درې ورونه، دوه خويندې او مور پلار ژوندي دي، دزيد څلور زامن او څلور لوڼه دي او ټولو واده نه دى شوى، مهرباني وکړئ، پورته بيان شوي ميراث کې دهريو کس شرعي برخه بيان کړئ.

جواب: دزيد دوفات په وخت کې که چيرې دا ټول وارثان ژوندي وي، نو اتمه برخه به دهغه د کونډې او شپږمه برخه د مور پلار له پاره وي، نوره به دهغه د اولاد وي[3] دهلک برخه به

---

[1]]وفي الدرالمختار: يبدأ من تركة الميت الخالية عن تعلق حق الغير بعينها كالرهن والعبد الجاني بتجهيزه من غير تقتير ولا تبذير، ثم تقدم ديونه التي لها مطالب من جهة العباد، ثم تقدم وصيته من ثلث ما بقي ثم يقسم الباقي بعد ذلک بين ورثته. (درمختار/ ٦/ ٧٦٠/ كتاب الفرائض/ طبع سعيد)_

[2]]قال تعالىٰ: وان كانوا اخوة رجالاً ونساءً فللذكر مثل حظ الانثيين. (النساء/ ١٧٦)_

[3]]قال تعالىٰ: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم من بعد وصية توصون بها اودين. (النساء: ١٢). فللزوجات حالتان: الربع بلا ولد والثمن مع الولد. (درمختار مع ردالمحتار/ ٦/ ٧٧٠/ كتاب الفرائض/ طبع سعيد). وقال الله تعالي: ولابويه لكل واحد منهما السدس مماترک ان كان ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

دجینکونه دوه چنده وي، دمیراث به ټولې دوه سوه اته اتیابرخې وي شپږدیریش برخې به دکونډې، اته څلویښت برخې به دموراو پلار وي، شپږویشت، شپږویشت برخې به دهلکانو او دیارلس دیارلس برخې به دجینکو وي، دپلار یاهلکانوپه موجودګي کې به ورور او خور وارثان نه وي[1]، د تقسیم نقشه داده:

ښځه	پلار	مور	زوی	زوی	زوی	زوی	لور	لور	لور
۳۶	۴۸	۴۸	۲۶	۲۶	۲۶	۲۶	۱۳	۱۳	۱۳

لور
۱۳

د مرحوم د اولاد په موجودیت کې خویندوته برخه نه رسیږي

سوال: زمونږ والدصاحب څلورمیاشتې مخکې وفات شو، مونږ څلور ورونه، درې خویندې اومورموده، دپلارمو هم دوه خویندې دي، دپلارمو موریپلارنه شته، دپلارصاحب جایداد یوکور کې مونږ ټول اوسیږو اودوکان موپه کرایه ورکړی دی، دهغه تقسیم به څنګه وي

جواب: تقسیم به داسې وي:

کونډه	زوی	زوی	زوی	زوی	لور	لور	لور
۱۱	۱۴	۱۴	۱۴	۱۴	۷	۷	۷

یعنې دټول جایداد به اته اتیابرخې جوړې شي، کونډې ته به یوولس برخې، پاتې هریو زوی ته به څوارلس، څوارلس برخې اولونړوته به اووه اووه برخې ملاویږي دمرحوم خویندو ته به هیڅ نه ورکول کیږي.[2]

د مرحوم په وفات د کوراو څارویو تقسیم

سوال: زمونږ اوښی وفات شو، دهغه په جایداد کې یوکور اویوڅو څاروي دي، قرضه اوداسې نور.. پرې نه شته اووارثانو کې یوه کونډه، یوه لورپلاراودوه ورونه دي میراث به څنګه تقسیمیږي؟

بقیه د تیرمخ]... له ولد. (النساء/ ۱۱). وقال تعالي: یوصیکم الله فی اولادکم للذکر مثل حظ الانثیین. (النساء /۱۱)_

[1]]قال فی العالمگیریة: ویسقط بنوالأعیان هم الاخوة لأبوین بالابن وابنه وبالاب. (عالمگیری/ ۶/ ۴۵۳/ کتاب الفرائض). ویسقط بنو الاعیان وهم الاخوة والاخوات لاب وام بثلاثة بالابن وابنه وان سفل. (درمختار/ ۷۸۱/۶/ کتاب الفرائض/ سراجی/ ۱۰/ فصل فی العصبات)_

[2]] قال الله تعالي: فان کان لکم ولد فلهن الثمن مما ترکتم من بعد وصیة توصون بها اودین. (النساء: ۱۲). فللزوجات حالتان: الربع بلا ولد والثمن مع الولد. (درمختار مع ردالمحتار/ ۶/ ۷۷۰/ کتاب الفرائض). وقال تعالي: یوصیکم الله فی اولادکم للذکر مثل حظ الانثیین. (النساء/۱۱). ویسقط بنو الاعیان وهم الاخوة والاخوات لاب وام بثلاثة بالابن وابنه وان سفل. (درمختار/ ۷۸۱/۶/ کتاب الفرائض/ سراجی/ ۱۰/ فصل فی العصبات)_

جواب: د مرحوم د وفات په وخت کې چې کوم شیان ملکیت کې وو، د هغه اتمه برخه د کونډې ده، نیمه د لور او نوره د هغه د پلار ده[1] د میراث به په څلوریشت برخو تقسیم شي، هغه کې د کونډې درې، د لور دولس او د پلار نهه برخې وي د هغه نقشه داسې ده:

پلار	لور	کونډه
۹	۱۲	۳

کونډې، درې زامنو او دوه لوڼو کې د جایداد تقسیم

سوال: زموږ نیکه مرحوم یو انګړ (حویلۍ) اوڅه ځمکه په میراث کې پرېښې ده اوپه وارثانو کې یې یوه کونډه، درې زامن او دوه لوڼه دي، مهرباني وکړئ د قران او سنت مطابق د دې سوالونو جوابونه راکړئ:

۱: د میراث د تقسیم (د حنفي طریقې) مطابق برخې.

۲: د نیکه مرحوم هغه اولاد کوم چې د نیکه په ژوندبانډې مړه شوي دي یا د هغوی وارثان چې اوس هغوی پخپله مالداردي، په پورته ذکرشوي جایداد کې د وراثت حق دارکیدای شي؟

۳: د خاندان کوم کس چې د وراثت په تقسیمولوباندې مشر دی، که د خپلې خوښې مطابق د شریعت نه خلاف تقسیمول غواړي، نودیني او دنیاوي ډول باندې هغه سره د مواخذې کولوڅه حکمونه دي؟

جواب: د مرحوم میراث به د قرض داداکولو او دوصیت پوره کولو نه وروسته په څلورشپیته برخو تقسیم شي[2] هغو کې اته برخې به د کونډې وي، څوارلس څوارلس برخې به د هلکانو او اووه اووه برخې به د جینکو وي[3] د تقسیم نقشه داده:

لور	لور	زوی	زوی	زوی	کونډه
۷	۷	۱۴	۱۴	۱۴	۸

---

[1] قال تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم من بعد وصية توصون بها اودين. (النساء: ۱۲). فللزوجات حالتان......الثمن مع الولد. (درمختار/ ۶/ ۷۷۰/ كتاب الفرائض/ طبع سعيد). ولابويه لكل واحد منهما السدس. (النساء/ ۱۱). يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين. (النساء /۱۱)_

[2] تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة: الاول يبدأ بتكفينه وتجهيزه من غير تبذير ولا تقتير ثم تقضٰى ديونه من جميع مابقى من ماله، ثم تنفذ وصاياه من ثلث مابقى بعد الدين ثم يقسم الباقى بين ورثته بالكتاب والسنة و اجماع الامة فيبدأ باصحاب الفروض وهم الذين لهم سهام مقدرة فى كتاب الله.(سراجى/۲، ۳/طبع مجيديه ملتان)

[3] كما قال الله تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم من بعد وصية توصون بها اودين. (النساء: ۱۲). فللزوجات حالتان الربع بلا ولد والثمن مع الولد. (درمختار مع ردالمحتار/ ۶/ ۷۷۰/ كتاب الفرائض). وقال تعالي: يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين. (النساء /۱۱). واما بنات الصلب فاحوال ثلاث. . . . . . ومع الابن للذكر مثل حظ الانثيين. (سراجى/ ۷، ۸/ باب معرفة الفروض/ طبع المصباح)_

۲: د مرحوم په ژوند کې چې څوک وفات شول دهغوی، یادهغوی د اولاد د مرحوم په جایداد کې هیڅ برخه نه شته.
۳: دنیاکې دهغه خلاف د شریعت فیصله نه نافذ کیږي،اخرت کې به هغه دعذاب مستحق وي.[۱]

کونډې، څلورو زامنو او څلور لونوکې د جایداد تقسیم

سوال: زما اوښی دزړه ددورې له وجې وفات شو، مرحوم په وراثانو کې کونډه، دوه واده شوې جینکۍ، دوه ناواده شوې جینکۍ او څلورهلکان پریښي دي، هغوی کې به دوه لکه روپۍ نغدې څنګه تقسیمیږي؟

جواب: د مرحوم میراث به دقرض اداکولو او دریمه برخه کې د وصیت پوره کولو نه وروسته په دوه سوه اته اتیا برخو کې تقسیم شي.

شپږ دیرش برخې د کونډې، دوه دوه څلویښت برخې د څلورو هلکانو، یویشت یویشت برخې د څلورو جینکو دي[۲].

نقشه یې داسې ده:

کونډه - هلک - هلک - هلک - هلک - جینۍ - جینۍ - جینۍ - جینۍ
۳۲ - ۴۲ - ۴۲ - ۴۲ - ۴۲ - ۲۱ - ۲۱ - ۲۱ - ۲۱

د کونډې، زوی او درې لونو د مرحوم په میراث کې برخه

سوال: زما د میرمنې یو ماما دی، دهغه پلار یوځو میاشتې مخکې وفات شو او په میراث کې یې څه نغدې پیسې پریښې دي، د ماما یې یو زوی دی او دهغه درې خویندې دي او یوه یې مور ده، میراث به څنګه تقسیمیږي؟

جواب: ددې میراث به څلویښت برخې جوړې شي، پنځه برخې به ستاسو د ماما د مور شي، څوارلس برخې به دهغه د زوی شي او اووه اووه برخې به درې واړو خویندوته ورکړل شي[۳] نقشه داده:

---

[۱] قال الله تعالي: ومن يعص الله ورسوله ويتعد حدوده يدخله ناراً خالداً فيها وله عذاب مهين. (النساء: ١٤)

[۲] اوګورئ تیره شوې حواله (تعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة: الاول. . . الخ) او وړیسی حواله(كما قال الله تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن. . . الخ)ـ

[۳] قال تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم من بعد وصية توصون بها اودين. (النساء: ١٢). والثمن للزوجات مع الولد او ولد الابن وهو منصوص فى القرآن. (الجوهرة النيرة/ ٢/ ٤١٠/ كتاب الفروض). وقال تعالي: يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين. (النساء/١١). واذا اختلط البنون والبنات عصب البنون البنات فيكون للابن مثل حظ الانثيين. (عالمگيرى/ ٦/ ٤٤٨/ كتاب الفرائض/ طبع رشيديه/ كوئته)ـ

کونډه (د مرحوم میرمن)	ورور	خور	خور	خور
۵	۱۴	۷	۷	۷

کونډې، لور او دوه زامنوکې به میراث څنګه تقسیمیږي؟

سوال: زما دپلار له وفات نه وروسته مونږ څلور برخه داریو: ۱- زما مور ۲- زما مشر ورور ۳- زما خور ۴- زه دهغه کشرزوی یعنې دوه زامن، یوه لور او یوه کونډه، اوس تاسوته خواست دی چې زمونږ به څومره برخه جوړیږي؟

جواب: دکفن دفن، قرض اداکولواو وصیت پوره کولونه وروسته[۱] به دمرحوم میراث په څلویښت برخو تقسیم شي، هغه کې به پنځه برخې کونډې ته، څوارلس څوارلس برخې هلکانوته او اووه برخې به انجیلۍ ته ورکړل شي.[۲] نقشه داده:

کونډه	زوی	زوی	لور
۵	۱۴	۱۴	۷

پلار، ښځې، یوزوی او دوه لونوکې د جایداد تقسیم

سوال: دزید دوفات په وخت کې دزید پلار، ښځه، یوزوی او دوه لوڼه ژوندي و، دامعلومول غواړم چې دشریعت په نزدباندې دمرحوم په ټول جایدادکې دمرحوم دپلاربرخه شته اوکه نه؟ اوکه شته، نو څومره ده؟ اودهریووارث به څومره برخه وي؟

جواب: په ذکرشوي صورت کې (دقرض اداکولواو وصیت پوره کولونه وروسته) د زید د پلار شپږمه برخه ده، که چیرې دزید جایداد په شپږ نوي(۹۶) برخو تقسیم شي، نودولس برخې دکونډې، پلارته به شپاړس، هریوې لور ته به اوولس اوزوی ته به څلوردیرش برخې ورکول کیږي،[۳] نقشه یې داده:

کونډه	پلار	زوی	لور	لور
۱۲	۱۶	۳۴	۱۷	۱۷

کونډې، یوولس زامنو، پنځه لونو او دوه وروڼوکې به میراث څنګه تقسیمیږي؟

سوال: یوسړی مړشو، دهغه په اولادکې یوولس زامن اوپنځه لوڼې دي اویوه یې ښځه اودوه

---

[۱] قال في الدرالمختار (٦/ ٧٦٠) يبدأ من تركة الميت الخالية عن تعلق حق الغير بعينها كالرهن والعبد الجاني) بتجهيزه من غير تقتير ولا تبذير، ثم تقدم ديونه التي لها مطالب من جهة العباد ثم تقدم وصيته من ثلث ما بقي ثم يقسم الباقي بعد ذلک بين ورثته. (درمختار/ ۲، ۳)_

[۲] اوګورئ تیره شوې حاشیه(قال تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم. . . الخ)_

[۳] ایضاً پورتنئ حواله)_

وروښه پاتې شوي دي، د شریعت مطابق به میراث څنګه تقسیمیږي؟

جواب: اتمه برخه به ښځې ته ورکړل شي[1]، پاتې اووه برخې به د زامنو اولوڼو ترمینځ تقسیم شي د غه شان به د زوی برخه دانجیلۍ نه دوه چنده وي، وروڼوته به هیڅ نه ورکول کیږي، [2] که د مرحوم ترکه دوه سوه شپاړس (۲۱۶) برخو باندې تقسیم شي، نو کونډې ته اوویشت، هرزوی ته څوارلس او هر یوې لور ته به اوه برخه ورکول کیږي د تقسیم نقشه داده

کونډه، زوی، زوی، زوی، زوی، زوی، زوی، زوی، زوی، زوی، زوی، زوی
۲۷، ۱۴، ۱۴، ۱۴، ۱۴، ۱۴، ۱۴، ۱۴، ۱۴، ۱۴، ۱۴، ۱۴

لور، لور، لور، لور، لور
۷، ۷، ۷، ۷، ۷

د مرحوم قرض زامنوادا کړ، نود وارث برخه

سوال: زماپلار وفات شو، پلارمې وارثانوکې یوه کونډه اووه لوڼې اوځلور زامن پرینښي دي پلارمودوفات په وخت کې په دوه نیم سوه ګزه ځمکې باندې نیمه برخه جوړه کړې وه اوددرې سوه دیریش ګزویوپلاټ یې هم و، یوه کارخانه وه چې هغه کې دلرګي فریمونه اونورسامان و اودهغې قیمت پنځلس زره روپۍ وې اوبینک کې پنځه زره روپۍ وې دپلارصاحب دوفات په وخت کې هغه باندې دنوروخلکو دیریش زره روپۍ قرض و، پلارموچې کومه کارخانه پرینښې وه، هغه موږ څه پیسې قرض اخیستوباندې بیاشروع کړه او یوکال کې موږ وروڼومحنت وکړ او دټولونه مخکې مود پلارقرضه ختمه کړه اوموږ وروڼوچې کوم قرض اخیستی و، هغه موهم ختم کړ اونورې پیسې موهم وګټلې، اوس دامعلومول دي چې زموږ پلارکوم میراث پرینښې وې، هغه کې دټولو وارثانوبرخه جوړیږي یاموږ چې څه ګټلي دي، یعنې وروڼو، هغو کې هم دټولو وارثانوبرخه جوړیږي؟ اوکه دټولووارثانوبرخه جوړیږي، نودکوم جایدادکې دچاڅومره برخه جوړیږي؟ دقران اوحدیث په رڼا کې جواب راکړئ اودشکریه اداکولوموقع راکړئ.

جواب: دمرحوم کفن دفن اوقرض اداکولونه وروسته[3] دهغه دمیراث چې څومره قیمت جوړیدو دهغه به یوسل اوشل برخې جوړې شي، هغې کې پنځلس برخې دکونډې، څوارلس

---

[1]]قال الله تعالي: فان كان لهن ولد فلكم الربع مماتركن من بعد وصية توصون بها أودين. (النساء: ۱۱). واما الثمن ففرض الزوجة اوالزوجات اذا كان للميت ولد او ولد الابن. (عالمگيرى/ ٦/ ٤٥٠/ كتاب الفرائض)_

[2]]قال الله تعالي:"يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين".(النساء/۱۱)قال فى الخلاصة:وان اختلط الذكوروالاناث فالمال بينهم للذكرمثل حظ الأنثيين.(خلاصة الفتاوى/٤/٢١٢/كتاب الفرائض/ طبع رشيديه)

[3]] يبدأ من تركة الميت. . . . . . بتجهيزه من غير تقتير ولا تبذير، ثم تقدم ديونه التى لها مطالب من جهة العباد، ثم تقدم وصيته من ثلث ما بقي، ثم يقسم الباقى بين ورثته. . . . . . . الخ. (درمختار/ ٦/ ٧٦٠/ كتاب الفرائض/ طبع سعيد، ايضاً: السراجى فى الميراث/ ٢، ٣/ طبع المصباح)_

برخې د هر یو هلک او اووه برخې د هریوې انجیلۍ دي.[1]

کونډه	زوی	زوی	زوی	زوی		
۱۵	۱۴	۱۴	۱۴	۱۴		
لور	لور	لور	لور	لور	لور	لور
۷	۷	۷	۷	۷	۷	۷

مور، ښځه، زامنو او لونړکې د میراث تقسیم

سوال: زید له دنیا نه رخصت شوی دی، پوښتنه داده چې د اسلامي حنفي سني فقهې مطابق، د زید مرحوم په منقوله او غیرمنقوله جایداد کې د زید مرحوم د مور، کونډې او لور څه برخه شته او که نه؟ ځکه چې زید مرحوم څه لیکل شوې وصیت نامه نه ده پرېښې او که څه برخه شته، نو د هریو وارث سره (د درې زامنو) څومره څومره برخه ده؟

جواب: د زید ټول میراث په یوسل اته شپېتو برخو تقسیم شي، هغه کې به یوویشت برخې د کونډې[2]، اته ویش برخې د مور، څلور دیریش برخې د هریو زوی او اوولس برخې به د انجیلۍ وي[3] د تقسیم نقشه داده:

کونډه	مور	زوی	زوی	زوی	لور
۲۱	۲۸	۳۴	۳۴	۳۴	۱۷

د کونډې، درې زامنو او یوې لور د مرحوم په میراث کې برخه

سوال: زموږ مرحوم پلار په خپل میراث کې یو دکان پرېښی دی، چې د هغه قیمت یونیم لک روپۍ دی، ددې دکان داخلک برخه دار دي، مور، درې زامن او یوه لور، مهرباني وکړئ او دابیان کړئ چې یونیم لک روپۍ کې به زموږ د مور، درې وروڼو او یوې خور څومره څومره برخه رسیږي؟

---

[1] قال الله تبارک وتعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم من بعد وصية توصون بها اودين. (النساء: ۱۲). وقال تعالي: يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين. (النساء/۱۱). وفى السراجي: اما للزوجات فحالتان: الربع للواحد فصاعدةً عند عدم الولد وولد الابن وان سفل، والثمن مع الولد او ولد الابن وان سفل، واما لبنات الصلب فاحوال ثلاث، النصف للواحدة، والثلثان للاثنتين فصاعدةً ومع الابن للذكر مثل حظ الأنثيين وهو يعصبهن. (۷، ۸)_

[2] فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم من بعد وصية توصون بها اودين. (النساء: ۱۲). والثمن للزوجات مع الولد او ولد الابن وهو منصوص فى القرآن. (الجوهرة/ ۲/ ۴۱۰). ولابويه لكل واحد منهما السدس. (النساء/ ۱۱). ميراث الأم......فجعل لها السدس مع الولد. (شرح مختصر الطحاوى/ ۴/ ۸۴)_

[3] "يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين". (النساء/۱۱). واذا اختلط البنون والبنات عصب البنون البنات فيكون للابن مثل حظ الانثيين. (عالمگيرى/ ۶/ ۴۴۸/ كتاب الفرائض/ طبع رشيديه/ كوئته)_

جواب: ستاسو د پلار مرحوم میراث د قرض اداکولو او وصیت پوره کولو نه وروسته[1] به اتو برخوکې تقسیم شي، هغو کې به یوه برخه دستاسو د مور، یوه دخور او دوه دوه برخې به د ورونو وي[2]، د تقسیم نقشه داده:

مور	ورور	ورور	ورور	خور
۱	۲	۲	۲	۱

یو نیم لك روپۍ به داسې تقسیم شي:

مور	هر یو ورور	خور
۱۸،۷۵۰	۳۷،۵۰۰	۱۸،۷۵۰

کونډې، دوه زامنو او څلورلونوکې د میراث تقیسمول

سوال: زمامرحوم پلار په میراث کې یوکور (چې دهغه قیمت تقریبا یولک روپۍ دی) پرینبی دی، مور، دوه ورونه او څلور خویندې او یوه مور یو، دوه خویندې او یو ورور مو واده کړی دی، که چیرې مور دا کور خرڅ کړ، نو دشریعت په نزد باندې ټولې پیسې په وراثانوکې تقسیمول پکاردي، نو دا تقسیم څنګه وکړو؟

جواب: ستاسو د مرحوم پلار میراث په څلورشپیته برخوکې تقسیم شي، اته برخې به ستاسو د مور شي، څوارلس برخې به د دواړو ورونو شي او اووه اووه برخې به د څلورو خویندو شي[3]، نقشه د تقسیم داده:

کونډه	زوی	زوی	لور	لور	لور	لور
۸	۱۴	۱۴	۷	۷	۷	۷

---

[1] قال علمائنا رحمهم الله تعالي: تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة: الاول يبدأ بتكفينه وتجهيزه من غير تبذير ولا تقتير ثم تقضٰى ديونه من جميع مابقى من ماله، ثم تنفذ وصاياه من ثلث مابقى بعد الدين ثم يقسم الباقى بين ورثته بالكتاب والسنة واجماع الامة. (سراجى/ ۲، ۳/ طبع سعيد)_

[2] قال تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم. (النساء: ۱۲). وفى السراجى (ص: ۸) واما للزوجات.... ..والثمن مع الولد، او ولد الابن وان سفل، وقال تعالي: "يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين". (النساء/۱۱). وفى الفتاويٰ الهندية (ج٦/ ٤٤٨) كتاب الفرائض: واذا اختلط البنون والبنات عصب البنون البنات فيكون للابن مثل حظ الانثيين)_

[3] قال تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم. (النساء: ۱۲). وفى السراجى (ص: ۸) واما للزوجات. . . . . . . والثمن مع الولد، او ولد الابن وان سفل، وقال تعالي: "يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين". (النساء/۱۱). قال فى السراجي: ومع الابن للذكر مثل حظ الانثيين. (ص: ۸). ولابويه لكل واحد منهما السدس مماترک ان كان له ولد. (النساء/ ۱۱). ايضاً: فتاويٰ عالمگيرى/ ٤٤٨/٦/ كتاب الفرائض/ طبع مكتبه رشيديه كوئته/ ايضاً: الجوهرة النيرة/ ۲/ ٤١٠/ كتاب الفروض/ طبع حقانيه)_

کونډې، پلار او دوه زامنو کې د میراث تقسیم

سوال: زما والد صاحب وفات شو، د هغه پلار ژوندی دی او هغه خاندان جایداد هم تقسیم کړي دي، زما د پلار وارثان دادي. کونډه، پلار، دوه زامن، د جایداد تقسیمولو صورت راته بیان کړئ!

جواب: د مرحوم ټول میراث د کفن دفن خرچې اداکولو، قرض اداکولو او وصیت پوره کولو نه وروسته (که چیرې یې څه وصیت کړی وي) به په اته څلویښتو برخو کې تقسیم شي، شپږ برخې به کونډې ته، اته برخې به د هغه پلار ته او اوولس اوولس برخې به دواړو زامنو ته ملاوشي.[1]

د مرحوم جایداد په درې زامنو، درې لوڼو او کونډې کې تقسیم

سوال: یو سړی وفات شو، هغه نه میراث کې دوه لکه او څلېرېشت زرو روپۍ جایداد پاتې شو، وارثان یې دادي: ښځه، درې لوڼه، درې زامن، مهرباني وکړئ د هر یو وارث برخه ولیکئ!

جواب: د کونډې برخه اوویشت زره یو کم پنځوس روپۍ او یو کم سل پیسې جوړېږي، د هر یو هلک برخه دوه څلویښت زره اووه سوه پنځه اویا روپۍ او اووه اویا پیسې جوړېږي د هر یوې انجیلۍ برخه یوویشت زره درې سوه اته اتیا روپۍ او اته اتیا پیسې جوړېږي.

کونډه، مور پلار، لور او زامنو کې د میراث تقسیم

سوال: عالمان دې مسئلې باره کې څه فرمایي چې یو سړی وفات شو، هغه نه یوه ښځه، درې زامن، یوه لور، مور او پلار، یو ورور او درې خویندې پاتې شوي دي، پوښتنه دا کول غواړم چې د وفات شوي کس میراث به هغوی کې څنګه تقسیمېږي؟

جواب: د مرحوم ټول میراث به د قرض او وصیت پوره کولو نه وروسته[2] په یو سل اته شپېتو (۱۶۸) برخو تقسیم شي، د کونډې له پاره یوویشت (۲۱) برخې، د مور و پلار له پاره اته ویشت اته ویشت برخې هر یو زوی له پاره شپږویشت او د لور له پاره دیارلس برخې دي[3] او نورو خپلوانو ته به هیڅ نه ملاوېږي.[4]

---

[1] ایضاً پورتنۍ حواله)۔

[2] تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة: الاول يبدأ بتكفينه وتجهيزه من غير تبذير ولا تقتير ثم تقضٰى ديونه من جميع مابقى من ماله، ثم تنفذ وصاياه من ثلث مابقى بعد الدين ثم يقسم الباقى بين ورثته بالكتاب والسنة واجماع الامة. (السراجى فى الميراث/ ۲، ۳)۔

[3] فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم. (النساء: ۱۲). وفى السراجى (ص: ۸) با معرفة الفروض، فصل فى النساء: واما للزوجات فحالتان. . . . . والثمن مع الولد او ولد الابن، وان سفل. قال تعالى: ولابويه لكل واحد منهما السدس مماترک ان كان له ولد. (النساء/ ۱۱). واذا اختلط البنون والبنات عصب البنون البنات فيكون للابن مثل حظ الانثيين. (عالمگيرى/ ٦/ ٤٤٨/ كتاب الفرائض/ طبع رشيديه)۔

[4] وبنوا لاعيان والعلات كلهم يسقطون بالولد وولد الابن.......الخ. (سراجى/ ۱۱/ طبع المصباح لاهور)

لور	زوى	زوى	زوى	پلار	مور	كونډه
۱۳	۲۲	۲۲	۲۲	۲۸	۲۸	۲۱

د مرحومې د ميراث مال به څنګه تقسيمېږي چې وارثان يې خاوند، څلورزامن او درې لونه وي

سوال: يوه ښځه وفات شوه، هغې نه خاوند، څلور زامن اودرې لونه په وارثانوکې پاتې شوي دي، دهريوشرعي برخه وښيئ!

جواب: دمرحومې كفن دفن كولو، قرض اداكولواو وصيت پوره كولونه وروسته[۱]، به دهغې ميراث په دې طريقه باندې تقسيمېږي:

لور	لور	لور	زوى	زوى	زوى	زوى	خاوند
۳	۳	۳	۲	۲	۲	۲	۱۱

يعنې دمرحومې دميراث به څلورڅلويښت برخې جوړې شي، يوولس برخې به خاوندته ملاوشي اوهريو زوى ته به شپږشپږبرخې اوهريوې لور ته درې درې برخې ملاوشي.[۲]

د پلار په موجودګۍ کې ورونه خويندې وارثان نه وي

سوال: دمور، پلار، څلور ورونو (دوه واده شوي) پنځه خويندي (يوه واده شوې) په برخه کې به څومره جايداد راځي؟ ديو وررورڅلوربچي اوديوې خوردوه بچي دي، يعنې ټول خلک اوولس دي.

جواب: دمال شپږمه برخه دمورده اوباقي دپلاردي[۳] دپلارپه موجودګۍ کې ورونه خويندې وارثان نه دي[۴] د ميراث د تقسيم نقشه داده:

ورونه	خويندې	پلار	مور
محروم	محروم	۵	۱

---

[۱] ايضاً اوګورئ تيره شوې حواله(تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة: الاول يبدأ بتكفينه. . الخ)_

[۲] قال الله تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم من بعد وصية توصون بها اودين. الآية. قال ف السراجى (ص: ۷) باب معرفة الفروض: واما للزوج فحالتان. . . . . والربع. . . . . مع الولد او ولد الابن وان سفل. قال الله تعالي: يوصيكم الله ف اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين. (النساء/۱۱). واما لبنات الصلب فاحوال ثلاث........ومع الابن للذكر مثل حظ الأنثيين وهو يعصبهن. (سراجى/ ۸/ باب معرفة الفروض)_

[۳] قال الله تبارک وتعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم من بعد وصية توصون بها اودين. (النساء: ۱۲). واما للام فاحوال ثلاث: السدس مع الولد او ولد الابن. . . . . الخ. (سراجى/ ۱۱/ طبع المصباح). واما الأب فله احوال ثلاث........والتعصيب المحض وذٰلک عند عدم الولد. (سراجى/ ٦/ طبع المصباح)_

[۴] ويسقط بنو الاعيان وهم الاخوة والاخوات لاب وام بثلاثة: بالابن وابنه وان سفل وبالأب اتفاقاً. . . . الخ. (درمختار/ ٦/۷۸۱/ كتاب الفرائض/ طبع ايچ ايم سعيد)_

❖لونه له میراثه محرومول❖

....

میراث کې لونوته برخه ولې نه ورکول کیږي؟

سوال: ستاسو په صفحه باندې مې دمیراث باره کې یوسوال لوستي و، تاسونه داپوښتنه کول دي، څنګه چې زامنو ته میراث ورکول کیږي دغه شان لونوته برخه ولې نه ورکول کیږي؟عام ډول باندې ښځې دوروڼو نه دشرم له وجې په مخامخ خپله برخه نه شي غوښتی اوحقیقت کې هغوی ته ضرورت وي.

جواب: شریعت دخوربرخه دورورنه نیمه اودلوربرخه دزوی نه نیمه مقرره کړې ده[1] اوکوم شی چې شریعت مقررکړی دی، هغه کې د شرمیدو هیڅ خبره نه شته، دلوڼواوخویندوشرعي برخه هغوی ته ضرورورکول پکاردي، کوم خلک چې دالله تعالی ددې حکم خلاف کوي، هغوی به داخرت دسزاحق دار وي اوهغوی به ددې معاوضه دقیامت په ورځ باندې ورکوي. [2]

میراث کې لونه محرومول بدترینه ګناه ده

سوال: دتقسیم نه مخکې به زموږ نیکه دجامو کاروبارکاو، دلته یې په مینځ کې هرڅه کړې وي، خودمړکیدو نه څه وخت مخکې یې بزنس روډ باندې دچایو یودوکان خلاص کړئ و او هغه نه یې بیادمتایي دوکان جوړکړ، دوکان په پټکي باندې و اودمشرزوی په نوم و، وروسته دوکان روان شو او ډیرزیات مشهور شو، مشرزوی په خپلوورونوکې هغه دوکان تقسیم کړ، دغه شان د نیکه دمړکیدو په وخت کې بچیویوازې په ورونوکې جایداد تقسیم کړو اوجینکوته یې هیڅ ورنه کړل، څه وخت وروسته نیاهم مړه شوه، هغې نه چې کومې پیسې پاتې شوې، په هلکانو تقسیم شوې، جینکو ته هیڅ ملاونه شو، اوس مولاناصاحب! تاسوته عرض دی چې دصحیح صورت حال اندازه وکړئ اوجواب بیان کړئ چې دهغو خلکو داسې کارکول صحیح

---

[1] واذا اختلط البنون والبنات عصب البنون البنات فيكون للابن مثل حظ الأنثيين. (فتاوىٰ عالمگيرى/ ٦/ ٤٤٨/ كتاب الفرائض). واما الأخوات لاب وام. . . . . . . ومع الاخ لاب وام للذكر مثل حظ الانثيين يصرن به عصبة. . . . الخ. (سراجي/١٠). قال الله تعالي: يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين. (النساء/١١). وان كانوا اخوة رجالاً ونساء فللذكر مثل حظ الانثيين. (النساء: ١٧٦)_

[2] وقال تعالي: ومن يعص الله ورسوله ويتعد حدوده يدخله ناراً خالداً فيها وله عذاب مهين. (النساء: ١٤). عن انس بن مالک رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من فرض من ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة يوم القيامة.(سن ابن ماجة/١٩٤/باب الحيف فى الوصية/طبع نورمحمد كراچي، مشكوٰة ٢٦٦باب الوصايا/طبع قديمي)

دي؟ ایا له دې وجې دوفات شویو خلکو روحونه بې سکونه نه وي؟ هسې هم مور دخپلو بزرګانو نه اوریدلي دي چې دحق دارحق خورونکي کله هم نه مرېږي.

جواب: لوڼو اوخویندې دمیراث نه محروموول بدترینه ګناه ده. ستاسو نیکه اونیاته به خوددې سزا ملاویږي[1] اوکوم خلک چې اوس دې جایدادباندې ناجائزډول باندې قابض دي هغوی هم ددې سزانه شي بچ کیدای، هلکانوته پکاردي چې دخویندوبرخه هغوی ته ورکړي.

ایا دلوڼوهم په میراث کې برخه شته؟

سوال: مور پنځه ورونه خویندې یو، دوه ورونه اودرې خویندې، ټولو ودونه کړي دي، مور پلار مو ژوندي دي، مور ورونه چې کوم کورکې اوسیږو، هغه زمور ملکیت دی، زمور بنځې یوځای اوسیدل نه غواړي له دې وجې مور ددې کوردخرڅولوفیصله کړې ده، دکورسودا هم شوې ده، اوس حالات داسې دي چې کله خویندوته پته ولګیده چې مورکورخرڅوو، نوهغوی هم کورکې دخپلې برخې مطالبه وکړه، ماهغوی ته وویل چې دپلارپه جایدادکې دلوربرخه نه وي اوخویندې دخپلې برخې له پاره اصرارکوي، مولانا صاحب! تاسوزمور خویندې پوه کړئ چې دپلارپه جایدادکې دلوڼوبرخه نه وي اومولاناصاحب! که چیرې زه په غلطه یم، نوقران اوسنت په رڼا کې راته دابیان کړئ چې ایا زمورخویندې هم جایدادکې دبرخې حق دارې دي؟ اوکه چیرې دي، نودخویندوپه برخه کې به څومره پیسې رسیږي؟ ستاسواحسان مندبه یم.

جواب: داخوتاسوغلط لیکلي دي چې دپلارپه جایدادکې دلوربرخه نه شته، قران کریم دلورنیمه برخه ښودلې ده[2]، له دې وجې دا ویل خودجهالت خبره ده چې دپلارپه جایدادکې دلوڼو برخه نه شته، خو دجایدادبرخې دپلارله وفات نه وروسته معلومیږي، دهغه په ژوندکې نه، په خپل ژوند کې که چیرې پلارورکول غواړي نو ښه خبره داده چې ټولو ته یوبرابر برخې ورکړي، خوکه چیرې دچادضرورت اومحتاجي له وجې یوته ډیره ورکړي، نوګنجائش شته[3] په هرحال تاسوته پکاردي چې خویندوته یې هم ورکړئ، د وروڼو دوه چنده برخه ده اود خویندو

---

[1] وقال تعالي: ومن يعص الله ورسوله ويتعد حدوده يدخله ناراً خالداً فيها وله عذاب مهين. (النساء: ١٤). عن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من فرض من ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة يوم القيامة. (سن ابن ماجة/ ١٩٤/ باب الحيف فى الوصية/ طبع نور محمد كراچي)۔

[2] قال تعالي: يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين. (النساء/١١). ومع الابن للذكر مثل حظ الأنثيين وهو يعصبهن. (سراجى/ ٨/ باب معرفة الفروض/ طبع المصباح)۔

[3] ولو وهب رجل شيئاً لأولاده فى الصحة واراد تفضيل البعض على البعض فى ذالک لا رواية لهذا فى الاصل. . . . . وروى المعلى عن ابى يوسف رحمه الله تعالى انه لابأس به اذا لم يقصد به الاضرار وان قصد به الاضرار سوى بينهم يعطى الابنة مثل ما يعطى الابن وعليه الفتوىٰ. (فتاویٰ عالمگیری/ ٤/ ٣٩١/ كتاب الهبة/ الباب السادس)۔

يوه برخه ده.[۱]

لوڼه له وراثت نه محروموول

سوال: تاسويه :وراثت کې دلوڼومحروموول. په جواب کې فرمايلي و چې: ستاسونيا او نيکه ته خوبه ددې سزاملاويږي، زه په دې نه پوهيږم چې غلطي، خود زامنوده، نوهغه مړوته به څنګه سزا ملاويږي؟ ايا نيا اونيکه ته په خپل ژوندکې جايدادشرعي ډول تقسيمول پکار و؟

جواب: دسوال مطابق نيا او نيکه قصوروارښکاريدل، له دې وجې هغوى هم د سزا مستحق دي، اوکه چيرې هغه معامله کې دهغوى خوښه شامله نه وي، بلکې وروسته وارثانوهغوى دجايداد نه محروم کړي وي، نوهغوى به ددې حديث دوعيدمستحق نه وي.

سوال: يوصاحب جايداد چې دهغه درې لوڼه او يو زوى دى، لوڼه په خپلو خپلو کورونوکې خوشاله دي اومال اودولت ورته دجهيزپه شکل کې ورکړل شوى دى،زوى يې دډاکټرۍ تعليم حاصلوي، د مور پلارخواهش دى چې دټول جايداد مالک هم ډاکټرزوى جوړشي او جايدادتقسيم نه شي، ځکه چې دتقسيم له وجې به څلورواړوته معمولي پيسې ملاوشي، ايا اسلام کې ددې اجازه شته؟

سوال: اسلام کې دجهيزڅه پابندي يا اجازه نه شته اودنن سبامعاشره دمور و پلاردحيثيت نه دزيات خواهش لري، اياجهيزدمورپلارله طرف نه ميراث نه شي تصورکيداى؟

سوال: ايامورپلارته دشريعت په نزدباندې په ژوندکې داحق حاصل دى چې هغوى خپل اولادکې يويادوه کسانوته ټول جايداد وبښي؟

سوال: ايا مورپلاروصيت نامه ليکلوسره په څلوروبچيوکې يوحق دارمقررکولى شي؟

سوال: که چيرې درې واړه بچي په خوشالي باندې کشروروته ورکولوله پاره تياروي، دادرې واړه بالغ هم دي اوخوشاله هم دي، ايالوڼو له پاره به دخپلوخاوندانونه اجازه اخيستل وي؟ ايا مور پلارداسې تقسيم کولى شي؟

سوال: زما اهم سوال دادى که چيرې جهيز ميراث وګڼل شي، موږ د اسلام اوقران د حکمونو پابند يو، د جهيز پابندي معاشره کوي، نوجهيزوراثت وګڼل شي يانيت يې وکړل شي؟کله ناکله خو داسې وشي چې جينکوته جهيزکې دومره څه ورکړل شي چې پاتې اولاد له پاره هيڅ هم پاتې نه شي.

جواب: ميراث دمرګ نه وروسته تقسيميږي[۲]، ژوندکې چې مورپلاربچيوته څه ورکوي،

---

[۱]]قال تعالي: يوصيكم الله في اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين. (النساء/۱۱). ومع الابن للذكر مثل حظ الأنثيين وهو يعصبهن. (سراجى/ ۸/ باب معرفة الفروض/ طبع المصباح)_

[۲]]لأن الشركة فى الاصطلاح ما تركه الميت من الأموال صافيا عن تعلق ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

هغه دهغوی له طرف نه عطیه وي اوهغه وراثت ګڼل صحیح نه دي اووراثانوکې دیووارث محرومولو وصیت کول هم جائزنه دي اوکه چیرې ټول وارثان عقل مند او بالغان وي، نوپه خپله خوشالي باندې ټول وراثت یووارث ته ورکولی شي [۱]، مورپلارچې خپل اولادته کومه عطیه ورکوي، هغې کې دخپل وس مطابق د برابري لحاظ ساتل ضروري دي. چې دچاحق تلفي ونه شي [۲] نوکه چیرې جینکوته ډیر مقدارکې جهیزورکړل شوی دی. نودجینئ د جهیزنه په دوه چندامقدارباندې سامان مور پلار خپلوزامنوته ورکولی شي امیددی چې ستاسو دټولو سوالونوجواب به ملاوشوی وي.

له میراث نه محرومي انجیلۍ ته طلاق ورکولوسره دویم ظلم مه کوئ

سوال: دزیدله وفات نه وروسته دزیدجایداددهغه ښځې خرڅ کړ اود زامنوپه رضامندي یې استعمال کړ اودزیدپه وارثانوکې یوه انجیلۍ هم وه، دغه شان هغوی دشرعي اوحکومت ددواړو قانونو مطابق انجیلۍ دشرعي حق نه محرومه کړه، چې هغه شرعي اوقانوني جرم دی ددې حق وهلوباره کې دانجیلۍ خاوندته څه کول پکاردي؟ ایاانجیلۍ ته طلاق ورکولوسره دانجیلۍ کوروالوته سبق ښودل به جائزوي؟ اودانجیلۍ کوروالاجنګ ته تیاردي اوخپله غلطي نه مني اونه په دې کارباندې پښیمانه دي.

جواب: انجیلۍ محرومولوسره هغوی ظلم وکړ [۳] اوکه چیرې عقل مند خاوندهغې ته طلاق ورکړي، نوهغې باندې به دادویم ظلم شي اودا دعقل اوانصاف خلاف دی.

د والدینو حقوق یا د امیر اطاعت

سوال: زما مشر زوی به د ورکوالي نه د پلار سره مسجد ته تلو، د مسجد نه به یې یو دیني پروګرام اوریدلو. موږه ده ته د همیشه له پاره ده ته په ښائسته ماحول کې د اوسیدلو تعلیم

بقیه د تیرمخ]. . حق الغیر بعین من الأموال. (شامی/ ۶/ ۷۵۹/ کتاب الفرائض)_

[۱]]ولا تجوز لوارثه لقوله علیه السلام ان الله تعالیٰ اعطی کل ذی حق حقه الا لا وصیة للوارث. . . . الا ان یجیزها الورثه. . . . . الخ. (هدایة/ ۴/ ۶۵۲، ۶۵۳/ کتاب الوصایا). وعن ابی امامة الباهلی رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول فی خطبة عام حجة الوداع: ان الله تبارک وتعالیٰ قد اعطی کل ذی حق حقه، فلا وصیة لوارث. الحدیث. (جامع الترمذی/ ۲/ ۳۳/ باب ماجاء لا وصیة لوارث)_

[۲]]ولو وهب رجل شیئاً لأولاده فی الصحة واراد تفضیل البعض علی البعض فی ذالک لا روایة لهٰذا فی الاصل. . . . . وروی المعلی عن ابی یوسف رحمه الله تعالی. . . . . . . ان قصد به الاضرار سوی بینهم یعطی الابنة مثل ما یعطی الابن وعلیه الفتویٰ. (فتاویٰ عالمگیری/ ۴/ ۳۹۱/ کتاب الهبة الباب السادس فی الهبة للصغیر/ طبع رشیدیه)_

[۳]]وعن انس بن مالک رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من فرض میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة. (سنن ابن ماجة/ ۱۹۴/ باب الحیف فی الوصیة/ طبع نور محمد)_

ورکړي و، د ګانو، ګډيدو او د نورو فضولياتو نه مو لرې ساتلي و، له دې وجې هغه د ديني جومات د ماشومانو سره رسالې راوړلې، د دوی سره به يې په ښائسته معلوماتي مقابلو کې برخه اخيستله، کله چې ميټرک کلاس ته لاړ، نو مور ورته وويل چې د سکول کار پوره کړه، په تعليم باندې توجه کوه، خو هغه به ويلو چې زموږه ناظم به فلانکي وخت رابللي يو چې فلانکی کار دی، پلاربه سهار تلو او د شپې به راتلو، ده په تعليم باندې توجه کمه کړله، نتيجه دا روتله چې په ډيرو خرابو نمبرو سره پاس شو، مجبورا مو ټيکنيکل تعليم ورکړ، هلته يې نوکري هم ولګيدله، خود پروګرامونو سلسله زياتيدله زياته پوه به مو ورکوله چې د امير اطاعت لازمي دی د امير اطاعت د خدای پاک د رسول اطاعت دی، نتيجه دا راوتله چې نوکري يې ختمه شوله، تعليم هم ختم شو د کور سره د تعلق يې يوازې دومره حال دی چې خور، بوډا پلار کار کوي، زه د ګنډل کوم، هغه راځي د هوټل پشان خوراک کوي او ځي، په ورڼو خويندو باندې حکم کوي، ده ته احساس نه شته چې څوک ناروغ شي، نو څوک يې هسفتال ته رسوي؟ څنګه خرچه روانه ده، دا خبره يې په ذهن کې ده چې د جومات نه وتل کفر دی او د امير اطاعت د خدای پاک نافرماني ده.

دده ملګري دده ډير تعريف کوي چې په هر کار کې مخکې مخکې کيږي، هرپروګرام کې ښه مخکې برخه اخلي، خوکه حقيقت څوک زموږه د زړه نه پوښتنه وکړي، په دې خراب ماحول کې په جينکو باندې سوداګانې راغواړو، په خپله د بازار نه سامان راوړو، يو ماشوم دی هغه زيات کار کوي، دسبق سره سره کارزموږه حواله کوي، دخدای په فضل سره دلمونځ او د روژې پابند دی، دې دراتلو سره په ده باندې حکم کوي، که د څه کار ورته ويل شي، نو وايي په ده باندې يې وکړئ.

ورو جينکو، مور پلار په ژړا ګانو سره دعاګانې غوښتله يو عارضي نوکري ملاو شوه، په دې کې يې هم دغه حال دی، لس ورځې د پروګرامونو په نظر کې وي، اوس د چا استقبال دی، اوس په يو ځای کې مظاهره ده، د چاد پاره فنډ راجمع کول دي، چاته کتابونه ورکول دي اوداسې نور...

دا يوازې د يو بچي حال نه دی، بلکې په دې کې بی ائې، ايم ائې او د نورتعليم يافته بچی هم شامل دي، چې هغوی ذهنی مريضان جوړ شوي دي والدين او د امير د اطاعت په باره کې ددوی په ذهن کې يو مصيبت راغلی دی، کله کله په دوی باندې ترس هم راشي او غوسه هم.

مولانا صاحب! تاسو ووائې چې زموږه په شان سپين روبي خلک چې د هغوی په جمع پونجی يو مکان وي آيا هغوی په ميراث کې داسې قسمه اولاد حقدار جوړوي؟ آيا په شريعت کې داسې څه قانون شته دی چې مور په خپله ژوند کې دی د مکان د ملکيت نه ختمولی شو؟ ځکه چې زموږه په ژوند کې دده رويه داسې ده نو وورسته به له ورو ورڼو خويندو حق واخلي او خپله مننه به پرې کوي، آيا په اسلام کې داسې څه تصور موجود دی د معاش کوشش نه کوي، د

والدينو او عزيزانو او د خپلوانو حقوق نه اداء کوي. يوازې د امير اطاعت کوي؟ که چرې داسې وي، نو موږه به ضرور صبر کوو، که چرې داسې بچی د وراثت حقدار وي، نو موږه د خدای د رسول نافرماني هرگز نه کوو.

جواب: دنوجوانانو په مزاج کې دعمل جوش وي، تجربه محدوده، ذهن کچه، په طبيعت کې د تازه ځانګې پشان لچک، دوی په نيک يا بد کار کې لګول ورکول ډير آسان وي او کله چې ددوی په ذهن کې د يو قسم تحريک ښه والی کيني يا کينول شي، نو هغه په دې کې د نتيجو او انجامونو نه بې خبره تياريږي، ددې نه خلاف نه د والدينو پروا کوي، نه د چا په نصيحت باندې غوږ لګوي، په دې وجه عام طور باندې د ټولو تحريکونو نتيجه د شور شراب نه پرته هيڅ نه راوځي.

ډير ځوانان ددې تحريکي سرگرميو په وجه د تعليم نه محرومه پاتې کيږي، ډير د روزگار نه وځي،اکثريکې د والدينو باغيان شی دخپلو والدينو رشتدارانو او د والدينو د لاس نه وځي.

په حديث شريف کې فرمايل شوي دي چې ځواني هم دجنون او د ليونتوب يوه شعبه ده[1] تر څو پورې چې دا ځوانان د تحريکاتي جماعتونو سرگرم کارکن وي، تر دې وخته پورې په دوی باندې د ليونتوب دور وي، او کله چې د جنون او د ځواني دور ختم شي او په عمر کې پوخ والی راځي، نو بيا دوی ته پته لګيږي چې دوی څه وکړل او څه يې وموندل، داسې ځوانان د ځواني د دور د ختميدو نه وروسته هميشه د محرومي د احساس ښکار وي.

دمور او د پلار دعاګانې د هميشه له پاره دده د غاړې ښار جوړيږي، دا رنګه ددې دنيا هم تباه کيږي او آخرت هم بربادېږي، زه سياسی قائدينو ته درخواست کوم چې هغوی ساده او ناتجربه کار ځوانان د تحريکاتو د ګرميدلو د پاره خشاک نه جوړوي او دې ځوانانو ته درخواست کوم چې هغوی د والدينو نه د بغاوت لاره اختيارول او د چا بد نه کوي، بلکې په خپله خپل مستقبل خرابوي، د دوی د ليونتوب تحريکي مصروفياتو نه دوی ته څه ملاويږي او نه د دوی والدينو ته او نه معاشرې ته، نن چې څنګه په وطن عزيز کې څنګه بد امني او شر او فساد دی دا ددې تحريکونو ترخه ثمره ده، زموږه کومو ځوانانو ته چې د (کنتم خيرامة) تاج اچول شوی دی د انسانانو خيرخواهي، امن وآمان او اسلامي ورورولي او محبت مبلغ کيدل پکار دي، هغه ددې تحريکونو په نتيجه کې د ډله بازي، تعصب ، نفرت، عداوت بغاوت نشانې جوړې شوې دي، الله تعالی دې په موږه رحم وکړي او دخپل نبي امي (صلی الله عليه وسلم) په برکت سره دې زموږه ځوانانو ته په صحيح دين باندې د تللو توفيق راکړي!

---

[1] الشباب شعبة من الجنون والنساء حبالة الشيطان. ابونعيم فی الحلية عن عبدالرحمٰن بن عابس وابن لال عن ابن مسعود والديلمی عن عبدالله بن عامر فی حديث والتيمی فی ترغيبه عن زيد بن خالد کلهم مرفوعاً به. (المقاصد الحسنة/ ٢٥٨/ رقم الحديث: ٥٨٦/ حرف الشين/ طبع مکتبة الباز).

تاسو چې کوم پوښتنه کړې دې چې ایا دا بچی عاق کړم؟ زما مشوره دا ده چې داسې هیڅ کله هم مه کوئ، ځکه چې اولاد د جائداد نه محرومول شرعاً جائز نه دي[1] له دینه پرته یو سړي ته بله کومه سخته سزا ورکول کیږي چې هغه د خپلو والدینو نافرمان وي (الله تعالی دې هر سړی ددې نافرماني نه محفوظ وساتي)، بیااولاد که هغه هرڅنګه وي والدینو ته دده د پاره خیرغوښتل پکار وي، دعاء کوم چې الله تعالی د ستاسو صاحب زاده ته عقل او ایمان نصیب کړي، الله تعالی چې د والدینو په شکل کې کوم نعمت دوی ته ورکړی دی، ددې د قدر کول توفیق دې ورکړي!

❖ دنابالغ، یتیم، معذور، رضاعي او خولې سره ویلې شوي اولاد په میراث کې برخه ❖

....

د نابالغه ورونوجایداد په خپل نوم کول

سوال: ایامشر ورور یا خورته ددې خبرې حق حاصل دی چې هغه دنابالغه ورونو یا نابالغه خویندو دملکیت حق په خپل نوم کړي، یاخوردخپلو نابالغه ورونوخویندوله طرف نه دهغوی حق دورونوپه نوم کړي؟

جواب: دنابالغه ورونوجایدادپه خپل نوم کول صحیح نه دي، د یتیمانودمال دخوړلو ګناه به وي.[2]

یتیمه وریره له میراثه محرومول

سوال: یو ورور وفات شو، جایدادکې یې دیرڅه پریښودل، یوه یتیمه لوریې هم پریښودله، خوتره هغې ته برخه ورنه کړه، ټول جایداد یې دخپل زوی په نوم اومرشو، زوی یې تعلیم یافته دی اودمسئلونه خبردی، ایاهغه به هم ګناه ګار وي؟ ایاهغه ته دیتیم برخه ورکول پکاردي؟ اسلام دې باره کې څه وایي؟

جواب: ددغې یتیمې اینجلۍ حق اداکول دهغه هلک په ذمه دي،که نه، دی به هم دخپل پلارسره دوزخ ته ځي.[3]

---

[1] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:من قطع میراث وارثه،قطع الله میراثه من الجنة.(مشکوٰة۲۶۶/باب الوصایا).

[2] ان الذین یأکلون اموال الیتامٰی ظلماً انما یأکلون فی بطونهم ناراً ویصلون سعیراً. (النساء: ۱۰)_

[3] وأتواالیتٰمٰی اموالهم ولا تتبدلوا الخبیث بالطیب ولا تأکلوا اموالهم...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

د رضاعي زوی په میراث کې برخه نه شته

سوال: زمادنیکه دوه زامن دي اودپیوخښلوپه رشته کې زه هم دهغه دریم زوی یم، ایازما دنیکه دمرګ نه وروسته دهغه په جایداد کې به زماهم برخه وي اوکه نه؟

جواب: دنیکه په جایداد کې ستاسو هیڅ برخه نه شته.[1]

ایا ساتل شوي ماشوم ته به جایداد کې برخه ورکول کیږي؟

سوال: ایا بې اولاده سړی دخپلو ورونو نه خفه کیدو له وجې دخاندان نه بهردچانه ماشوم اخیستی اوهغه ساتلی شي؟ اودهغه ورونه اوخاندان والاتول دهغه دزړه خوشالوله پاره (کوم ماشوم چې هغه غواړي) ورکولوله پاره تیاردي، چې هغه په هغه باندې بوج هم نه وي، بلکې خدمت یې وکړي اوخپلې خرچې پخپله باندې وکړي، فرض کړئ که چیرې هغه دخپلوانو نه ماشوم وانه خلي اودخاندان نه بهرله چانه ماشوم واخلي، نودهغه کس دمیراث به هغه ماشوم مالک وي اوکه نه؟ اوکه چیرې هغه سړی داسې وصیت هم وکړي چې دی دهرڅه وارث دی.

جواب: شرعي ډول باندې ساتل شوي ماشوم وراث نه وي، که هغه دخپل خاندان وي اوکه د بهروي، دهغه دمرګ نه وروسته به میراث دهغه شرعي وارثانوته ملاویږي، ساتل شوي ته نه.[2]

خولې سره اولاد ویلوله پاره دمیراث حکم

سوال: موږ اته ورونه اوخویندې یو اوزمانه پرته دټولوبچې دي، زما واده دتره زوی سره شوی دی اوتقریبا شپاړس کاله کې زموږ اولاد ونه شو، ما او زماخاوندپه خپله خوښه اواتفاق باندې زما خورځه او زماکشرورورداولادپه شان لوی کړی دی اودا دواړه اوس ځوانان دي، زما دخاوند ورور هم نه شته، یوه خور یې ده، دهغې درې بچي او زموږنه بیل اوسیږي، پوښتنه داکول غواړم چې زموږ دهغه دواړو بچیو یعنې زمادخورځې اوزمادورور موږ سره شرعي ډول باندې څه حیثیت دی؟ اود دواړوپه خپلوکې څه حیثیت دی؟ ایا دا دواړه خپلوکې ورور او خور کیدای شي؟ او ایا زما خاوند دوی سره خپل ولدیت لګولی شي؟ دې نه پرته زموږ په جایداد کې به دهغوی برخه وي؟ اوزموږ دهغوي نه پرته بل هیڅوک نه شته.

بقیه د تیرمخ]... الي اموالکم انه کان حوباً کبیراً. (النساء/ ۲). ان الذین یأکلون اموال الیتامٰی ظلماً انما یأکلون فی بطونهم ناراً ویصلون سعیراً. (النساء: ۱۰)ـ

[1] فیبدأ باصحاب الفرائض.......ثم بالعصبات من جهة النسب......ثم ذوی الأرحام....الخ. (سراجی/ ٤)

[2] ساتلې شوې ماشوم چونکه د وارثانو د دریو قسمونو ذوی الفروض، عصبات او ذوی الارحام نه نه دي، په دې وجه دا شرعاً د وراثت حقدارهم نه دی.)ـ

جواب: ددې دواړو حکم ستاسوپه اولاد کې نه دی اونه دهغوی ولدیت بدلول جائزدي[1]، تاسو هغوی په خپل ژوندکې هغوی دخپل جایداد مالکان جوړکړئ، دوی دواړه خپلوکې ماما او خورځه دي، ورور اوخورنه دي.

ایا ذهني معذوربچیوته هم میراث ورکول ضروري دي؟

سوال: زمادرې بچي دي، دوه هلکان اویوه اینجلۍ اودهغوی په مینځ کې دمیراث معامله صفا ده، یعنې پنځو برخوکې دوه دوه دهلکانو اویوه داینجلۍ ده، خوغیرمعمولي خبره چې هغه حل کول غواړي هغه داده چې زمامشرزوی دماغي ډول باندې کمزوری دی اود دماغو حالت یې غیرمعمولي دی، یعنې نه خبرې کولی شي اونه هغه کې عقل اوشعورشته، ددې غیرمعمولي حالت له وجې هغه مادانګلستان دماشومانوپه یوسکول یاهسپتال کې داخل کړ، چې دهغه ټول خرچ دانګلستان حکومت برداشت کوي، نولکه زما ورسره دوینې دتعلق نه پرته بل څه تعلق نه شته، اوس داسې حالت کې هغه حق دارخوضروردی، خودمیراث استعمال نه هغه کولی شي اونه ورته دهغه ضرورت شته اونه یې هغه غوښتلی شي، دې حالت کې به ایادا مناسب نه وي چې جایداد یوازې دغه دوه بچیوته ورکړل شي، درې برخې کولوسره، یوه برخه اینجلۍ ته اودوه هلک ته؟

جواب: معذوراولاد خو دډیرې همدر دی مستحق وي، دمیراث نه د محروم‌ولو نه، تاسوهغه په خپل ژوندکې محروم‌ولوسره اخرت کې ځان له پاره ددوزخ سودامه کوئ، دهغه برخه محفوظه ساتل پکاردي که هغه ته ضرورت وي اوکه نه اودامکاني وسائلوپه ذریعه باندې یې هغه ته د رسولو کوشش کول پکاردي، په هرحال دمیراث نه محروم‌ول یې جائزنه دي.[2]

د معذوربچي په میراث کې حق

سوال: ۱: ددماغي اوبدني معذوربچي دخپل پلاربه میراث کې هم هغه هومره حق دی څومره چې دصحت مندورونو خویندودی یاکم اوزیات دی؟

سوال: ۲: داهم بیان کړئ که چیرې یوورورد هغه معذرو ورور دپالنې ذمه داري واخلي، نوهغه باندې به خرچه دمعذوردبرخې نه کوي یادخپل طرف نه؟

جواب: ۱: دمعذوربچي هم هغومره حق دی څومره چې دبل حق دی[3] اوکه چیرې دهغه د معذوري له وجې په خپل ژوندکې هغه ته دنورونه زیاته ورکړل شي، نوداجائزدی.

---

[1] وما جعل ادعيآء كم ابنآء كم ذٰلكم قولكم بافوٰهكم والله يقول الحق وهو يهدى السبيل. ادعوهم لأبآئهم هو اقسط عند الله. . . . . الآية. (سورة ٣٣، الأحزاب: ٣، ٤)_

[2] من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة. (ج: ١/ ٢٦٦/ باب الوصايا)_

[3] للرجال نصيب مماترک الوالدان والأقربون وللنساء نصيب. . . . . . . الآية. (النساء: ٧)_

جواب: ۲: کوم ورورچې دمعذور پالنه کوي، هغه دې دمعذورمال نه په هغه باندې خرچ کوي. په دې شرط باندې چې معذور سره خپل مال موجودوي اوکه چیرې هغه سره خپل مال نه وي. نوټول ورونه اوخوېندې دې دمیراث دبرخې مطابق برداشت کوي، دهغې تشریح داده چې کله معذور ورور مړشي اودهغه وروڼوخویندوته دمیراث څومره برخه ملاویږي. هغومره برخه دهغه دخرچوله پاره برداشت کړي. [1]

ډیر مودې پورې د ورک شوي هلک د پلار په میراث کې برخه

سوال: زید راني سره واده وکړ اوبیادحمل په دوران کې دزید او راني طلاق وشو. راني طلاق نامه ولیکله چې ددې حمل نه دپیدا کیدونکي هلک یاانجلۍ دخوراک څښاک یادپالنې ذمه داري به زیدباندې نه وي اونه به زید داولاد مالک وي، نو دمرګ پورې دزید هغه اولاد (هلک) سره تعلق نه و ساتلی، اوس داهلک دزیدپه میراث کې شرعي ډول باندې حق داردی اوکه نه؟ اوکه دی، نوڅومره حق داردی؟

جواب: داهلک دزیددمیراث شرعي ډول باندې حق داردی او د زید د نورو زامنوبرابرحق داردی طلاق نامه کې دالیکل چې ددې حمل نه پیداکیدونکي بچي به زیدسره هیڅ تعلق نه وي شرعي ډول باندې غلط اوباطل دي دپلاراودزوی نسبي تعلق ختمولونه پلارته حق شته اونه مورته.

سوال: دزیددلومړۍ ښځې نه ي زوی اویوه لور ده، لور دزیدپه ژوندکې مړه شوه اودهغې نه دوه لوڼه اویو زوی پاتې شو. دزیددویمې ښځې نه یوزوی چې دزیداودهغه دښځې راني په خپلوکې دحمل په دوران کې طلاق شوی و، څنګه چې پورته تیرشوي سوال نمبر ۱ کې ذکرشوي دي، اوس هغه هلک تقریبا یوکم پنځوس کاله وروسته دزیدپه برخه کې میراث غواړي، که چیرې شرعي ډول باندې هغه حق داردی، نوڅومره حق دار دی؟ فرض کړئ دزیددملکیت قیمت لس لکه روپۍ وي، نودهغه دتقسیم دمحمد ﷺ په شریعت کې څه قانون دی.

الف: که چیرې دزید ددویمې ښځې نه زوی شامل وي.

ب: که چیرې دزید دمړې شوې لوراولاد (دوه لوڼه اویوزوی) هم شامل وي.

جواب: دزید د دویمې ښځې زوی وراث دی، څنګه چې پورته بیان شوي دي اوډیروخت پورې ورکیدو له وجې دهغه دمیراث حق نه باطلیږي. [2]

---

[1]] ویجب ذالک (نفقة) علی مقدار المیراث ویجبر علیه لأن التنصیص علی الوارث تنبیه علی اعتبار المقدار ولأن الغرم بالغنم والجبر لایفاء حق مستحق....... ونفقة الاخ المعسر الاخوات المتفرقات المؤسرات اخماسا علی قدر المیراث. (الهدایة/ کتاب الطلاق/ باب النفقة/ ۲/ ٤٤۷/ طبع مکتبه شرکة علمیة)_

[2]] المفقود حی فی ماله حتی لا یرث منه احد ومیت فی مال غیره حتی...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

دزید لور دپلارپه ژوندکې مړه شوې وه له دې وجې به دهغې اولاد وراثان نه وي، ذکرشوي صورت کې د زیدیوازې دوه وارثان دي، د دویمې ښځې راني زوی کوم چې ډیر وخت پورې ورک و اودلومړۍ ښځې زوی، دادواړه برابر وارثان دي، نوکه چیرې دزیدمیراث لس لکه وي، نودواړوته به پنځه پنځه لکه ملاویږي.[1]

یادونه: که دزیددمرګ په وخت کې دهغه دویمه ښځه ژوندۍ وه، نولس لکوکې به یولک پنځویشت زره دهغې برخه وي، پاتې اته لکه پنځه اویازره به دواړ وروڼوکې برابرتقسیم شي اود کونډې دمرګ نه وروسته به دهغې برخه یوازې دهغې زوی ته ملاویږي.

❖دمیرنیو بچیو دمیراث دتقیسم مسئلې❖

د مرحومې جایداد، زامنو، دویم خاوند، اولاد، پلاراو وروړکې څنګه تقسیم شي؟

سوال: ددین عالمان ددې مسئلې باره کې څه وایي چې مهرالنساء بنت قاري احمدعلي خان صاحب ددویم واده تقریباً یوکال مخکې د ریاض احمدسره شوی و، دمهرالنساء مړ زوی پیداشو اودهغه نه یوه میاشت وروسته مهرالنساء وفات شوه، دمرحومې وارثان اوملکیت دادی، نو عالمانوته خواست دی چې هغوی دبرخې شرح مقرره کړي.

۱: ریاض احمدخان دویم خاوند
۲: ظاهرعلي خان دلومړي خاوند نه پیداشوی زوی.
۳: حامدعلي خان خپل ورور
۴: قاري احمدعلي پلار

منقوله اوغیرمنقوله جایداد: نغدې پیسې، ګینه، فرنیچر، د مرحومې جامې، یوموټرسائیکل چې هغه مرحومې اخیستی و او خاوندته یې ښنلی و، دجاموګنډلومشین، وقف جایداد، دا جایداد په کلکته کې داولاد له پاره وقف دی اومرحومې ته اودهغې وروړته دنیانیکه له طرف

بقیه د تیرمخ]... لا یرث من احد : لثبوت حیاته باستصحاب الحال وهو معتبر فی البقاء ماکان علی ماکان دون اثبات مالم یکن. . . . . . الخ. (شریفیه شرح سراجی/ ۱۵۱). وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله وهو فی حق نفسه حي) مقابله قوله الآتي ومیت فی حق غیره وحاصله ان یعتبر حیاً فی حق الأحکام التی تضره وهی المتوقفة علی ثبوت موته ویعتبر میتاً فیما ینفعه ویضر غیره وهو ما یتوقف علی حیاته لأن الأصل انه حي وانه الی الآن کذالک استصحاباً للحال السابق والاستصحاب حجة ضعیفة تصلح للدفع لا للاثبات ای تصلح لدفع ما لیس بثابت لا لاثباته. (ردالمحتار/ ۴/ ۲۹۳/ کتاب المفقود)_

[1] واقرب العصبة الابن وان سفل، وهو اتفاق اهل العلم. . . . . . وذالک لقول النبی صلی الله علیه وسلم: الحقوا الفرائض باهلها، فما بقی فلأولی عصبة ذکر. (شرح مختصر الطحاوی/ ۴/ ۹۲/ باب العصبة)_

نه ملاو شوی دی، مهر: دویم خاوندریاض سره چې کله دهغې نکاح شوې وه، نویوولس زره روپۍ رائج الوقت پیسې یې مهرتړل شوی و اوهغه ټولې پاتې دي، ایادا به یو یاټولوته ملاویږي؟ اودلومړي خاوند مهرهم دمرحومې ملکیت دی، هغه به هم دې کې شامل وي اوکه نه؟

جواب: دې صورت کې د مهرالنساء ټول مال چې هغې کې د دواړو نکاحونو مهرهم شامل دی. دکفن دفن اوقرض اداکولو او وصیت پوره کولونه وروسته به په وارثانو داسې تقسیمیږي:[۱]

خاوندریاض احمدته به درې، پلارقاري احمدعلي ته به دوه، زوی ظاهرعلي خان ته به اووه برخې ملاویږي اوورورحامدعلي خان به محروم وي، یعنې دمرحومې دمال به ټولې دولس برخې جوړې شي، هغې کې به څلورمه برخه یعنې درې برخې خاوندته ملاوشي اوشپږمه برخه یعنې دولسوکې دوه برخې به پلارته او پاتې اووه برخې به زوی ته ملاوشي او ورورته به هیڅ هم نه ملاویږي اولاد له پاره وقف شوي جایدادکې به یوازې دمرحومې دزوی ظاهرعلي خان حق وي اوخاونداوپلاربه په کې هیڅ برخه نه وي، کوم موټرسائیکل چې مرحومې خپل خاوندته بښلی و، هغه هم په میراث کې شامل نه دی[۲].

د میراث د تقسیم نقشه داده:

خاوند	پلار	زوی	ورور
۳	۲	۷	محروم

د دوه ښځو په اولاد کې به دمرحوم میراث څنګه تقسیمیږي؟

سوال: زموږ خاندان کې داخلک وو، دې کې دخاندان مشرپه (۱۹۵۹ء) کې وفات شوی دی، دکور دمشر دوه ښځې وې، هغوکې لومړۍ ښځه دخاوندپه ژوندکې مړه شوې وه، دهغې نه یوه لور اویوزوی دی لوردپلارله وفات نه وروسته په (۱۹۷۱ء) کې وفات شوه اودهغې یوزوی دی دغه شان دویمه ښځه یې ژوندی ده اودهغې نه دوه زامن اوڅلورلوڼه دي، ددې خلکو به دهر یوپه جایدادکې څومره برخې وي؟ اوجایداد په درې لکه روپۍ باندې خرڅیږي، نو د هر یو په برخه کې به څومره پیسې راځي؟

---

[۱] یبدأ من ترکة المیت......بتجهیزه من غیر تقتیر ولا تبذیر ثم تقدم دیونه التی مطالب من جهة العباد، ثم تقدم وصیة من ثلث مابقی.....ثم یقسم الباقی بین ورثته. (درمختار/٦ / ٧٦٠/ کتاب الفرائض/ طبع سعید کراچي)

[۲] اما للزوج. . . . . . . والربع مع الولد الابن اما الاب فله احوال ثلاث: الفرض المطلق وهوالسدس وذٰلک مع الابن او ابن الابن. . . . . الخ. (سراجی/ ٦، ٧). وبنوالأعیان والعلات کلهم یسقطون بالابن وابن الابن. (سراجی/ ١١). وفی الدرالمختار: (والربع للزوج). . . . . . (مع احدهما) اي: الولد او ولد الابن....(وللأب والجد) ثلاث احوال: الفرض المطلق وهو (السدس) وذٰلک (مع ولد او ولد ابن) اھ. (الدر مع الشامیة/ ٦/ ٧٧٠/ کتاب الفرائض طبع ایچ ایم سعید). وفیه: (ویسقط بنوالأعیان) وهو الاخوة والأخوات.....(بالابن) وابنه وان سفل. (الدر مع الشامیة/٦/ ٧٨١/ کتاب الفرائض/ فصل فی العصبات)

جواب: دکفن دفن، قرض اداکولو او دریمې مال دبرخې نه وصیت پوره کولونه وروسته به دمرحوم ټول مال به اته اتیابرخو تقسیم شي، هغه کې دکونډې له پاره یوولس برخې، دهرهلک له پاره څوارلس برخې اوهریوې اینجلۍ له پاره اووه برخې دي، د تقسیم نقشه داده:

کونډه	زوی	زوی	زوی	لور	لور	لور	لور	لور
۱۱	۱۴	۱۴	۱۴	۷	۷	۷	۷	۷

درې لکه روپۍ چې کله په دې برخوباندې تقسیم شي، نودوراثانوبرخې به داسې جوړېږي:[۱]

کونډې ته اووه دیریش زره پنځه سوه (۵۰۰، ۳۷)

هریو هلک ته اووه څلویښت زره اووه سوه اوویشت روپۍ اواویشت پیسې (۲۷. ۷۲۷، ۴۷)

هریوې اینجلۍ ته درویشت زره اته سوه دری شپیته روپۍ اودری شپیته پیسې (۲۳. ۸۲۳، ۲۳)

یادونه: کومه اینجلۍ چې مړه شوې ده، دهغې برخه به دهغې زوی ته ورکول کیږي اوکه چیرې دهلک پلار ژوندی وي، نودهغه څلورمه برخه به هغه ته ورکول کیږي اودرې برخې به هلک ته.

کونډه، میرنۍ مور، ورونو او زامنوکې د میراث تقسیم

سوال: زماوالدصاحب وفات شوی دی، دخانداني جايداد، څمکه اوسرکاري ډول باندې دتنخوا نه کټ شوې پیسې یې پرېښې دي، دې کې دمیراث دتقسیمولوطریقه وښایئ، دوارثانو تفصیل دادی: میرنۍ مور، پلار، شپږ ورونه، دوه زامن اویوه کونډه.

جواب: دمرحوم ټول جایداد (دهغه قرض اداکولونه وروسته، که دهغه په ذمه باندې څه وي) اودمال په دریمه برخه کې وصیت پوره کولونه وروسته (که چیرې وصیت یې کړی وي) په اته څلویښت برخو به تقسیم شي، هغو کې به شپږبرخې دهغه کونډې ته، اته برخې د هغه پلارته او اولس اولس برخې به دواړو هلکانوته ملاوشي[۲] ذکر شوی صورت داسې دی:

کونډه	پلار	زوی	زوی	ورور
۶	۸	۱۷	۱۷	محروم

---

۱ [وللمرأة من ميراث زوجها الربع. . . . . فان كان له ولد، او ولد ابن وان سفل، فلها الثمن، وذالک لقول الله تعاليٰ: . . . . فان كان لكم ولد فلهن الثمن مماتركتم. . . . . الخ. (شرح مختصر الطحاوی/ ٤/ ٨٣، ٨٤/ باب قسمة المواريث). واذا اختلط البنون والبنات، عصب البنون البنات فيكون للابن مثل حظ الأنثيين. (فتاويٰ عالمگيری/ ٦/ ٤٤٨/ كتاب الفرائض/ طبع رشيديه كوئته)_

۲]وللمرأة من ميراث زوجها الربع. . . . . فان كان له ولد، او ولد ابن وان سفل، فلها الثمن، وذالک لقول الله تعاليٰ: . . . . فان كان لكم ولد فلهن الثمن مماتركتم. . . . . الخ. (شرح مختصر الطحاوی/ ٤/ ٨٣، ٨٤/ باب قسمة المواريث/ طبع بيروت). ولابويه لكل واحد منهما السدس مماترک ان كان له ولد. (النساء/ ١١). واذا اختلط البنون والبنات، عصب البنون البنات فيكون للابن مثل حظ الأنثيين. (فتاويٰ عالمگيری/ ٦/ ٤٤٨/ كتاب الفرائض)_

بل ځای کې واده کونکې مور، میرمنې او درې خویندو کې د میراث تقسیم

سوال: یوسړی وفات شو او دهغه درې خویندې دي او یوه ښځه ده، (اولاد یې نه شته) او موریې بل واده کړی دی، نو میراث به یې دحنفي فقهې په نزدباندې څنګه تقسیمیږي؟ او یوتره یې هم دی او دهغه هم څه طمع شته.

جواب: په ذکرشوي صورت کې دمرحوم ټول میراث (دقرض اداکولو او وصیت پوره کولونه وروسته)[1] به یوکم څلویښت برخې شي، شپږ د مور، نهه دښځې او اته اته برخې ددریو وارو خویندو[2]، تره ته به هیڅ هم نه ملاویږي.
نقشه یې داده:

کونډه	مور	خور	خور	خور
۹	۶	۸	۸	۸

هبه شوی شی په میراث کې نه وي

سوال: ۱: زماخاوند مړشوی دی، هغه په خپل ژوندکې یوکورجوړ کړی و اوهغه یې ماته راکړی و، یعنې زه یې دهغه مالکه کړې وم اودهغه یوه برخه یې په کرایه باندې ورکړې وه اومونږ دواړه به دهغه کورپه دویمه برخه کې اوسیدو اودیوې برخې به مو کرایه حاصلوله، څکه چې هغه په خپل ژوندصحت کې هغه کور زما په نوم کړی و اودهغه کرایه یوازې هم ماته ملاویده اود کور ماته راکولوذکر مرحوم ډیرو خلکوته کړی و اوشرعي ډول باندې دهغه ډیرخلک ګواهان دي او ایا دې کورکې به وراثت وي؟

سوال: ۲: زماخاوندخپل میرني ورور سره کاروبارکې شریک و او زما د خاوند اولادنه و(نه هلکان اونه انجونه) نوروارثان دادي، دمرحوم کونډه یعنې زه پخپله (۲) دمرحوم یوخپل ورور (۳) دمرحوم دوه میرني ورونه (۴) اود مرحوم یوه ناسکه خور(پلارشریک) ددې نه پرته څوک وارثان نه شته دشریعت مطابق به تقسیم څنګه کیږي؟

---

[1] یبدأ من ترکة المیت. . . . . بتجهیزه من غیر تقتیر ولا تبذیر ثم تقدم دیونه التی مطالب من جهة العباد، ثم تقدم وصیة من ثلث مابقی..... ثم یقسم الباقی بین ورثته. (درمختار/۶ / ۷۶۰/ کتاب الفرائض)_

[2] قال تعالي: ولأبویه لکل واحد منهما السدس مماترک ان کان له ولد. (النساء/ ۱۱).: واما للام فاحوال ثلاث السدس مع الولد. . . . . . . او مع الاثنین من الاخوة والأخوات فصاعداً. اما للزوجات فحالتان الربع. . . . . . . عند عدم الولد او ولد الابن. واما الأخوات لاب وام. . . . . الثلثان للاثنین فصاعدة. (سراجی/ ۷، ۸، ۱۱). وللام ثلاث احوال (السدس مع احدهما او مع اثنین من اخوة او من اخوات فصاعداً. . . . . فیفرض للزوجة فصاعداً ثمن مع ولد او ولد ابن. . . . . . . (الثلثان لکل اثنین فصاعداً ممن فرضه النصف) وهو خمسة. . . . والأخت لأبوین. . . . . . . الخ. (الدر مع الشامیة/ ۶/ ۷۷۲، ۷۷۳/ طبع ایچ ایم سعید)_

جواب: زید چې خپل کور ښځې ته ښنلی دی او هغه یې د کورمالکه جوړه کړې ده او قبضه یې هم ښځې سره ده او دې باندې ډیرخلک ګواهان هم دي، نودا ښنل شرعي ډول باندې جائزاو لازم شول، او س دې کورکې میراث نه شي جاري کیدای[1] د کورنه پرته دوفات شوي زید میراث به د هغه په ښځې او حقیقي ورورباندې داسې تقسیم شي، چې د ټول میراث څلورمه برخه د بې اولادي له وجې ښځې ته ملاوشي[2] اوپاتې میراث به حقیقي ورورته ورکړل شي، پلارشریک ورورخوربه محروم وي، هغوی ته به هیڅ نه ملاویږي[3]، صورت به یې داسې وي:

ښځه	حقیقي ورور	پلارشریک ورور اوخور
۱	۳	محروم

د مورسره د راغلي زوی (پرکټې) د پلارپه جایداد کې برخه

سوال: ایا پرکټې ته د پلارپه جایداد کې برخه ملاویدای شي؟ کله چې دواده په وخت کې هغه هلک د مورسره راغلی وي او اوس هغه د خپلوپچیوسره بیل کورکې اوسیږي.

جواب: د دې هلک (پرکټې) د پلارپه میراث کې هیڅ برخه نه شته.

د میرنۍ موراو زوی د میراث مسئله

سوال: زما پلارچې هغه د پاکستان اوسیدونکی و، انډیاکې وفات شو او هلته ښخ شو، د عدت وخت پوره کولو باوجود میرنۍ مور پنځلس ورځې وروسته کراچۍ ته راغله، دلته راتلوسره یې دعدت په دوران کې د انډیانه راوړل شوي شیان خرڅ کړل، زه یې یو اولاد یم، د میرنۍ مور مې اولاد نه شته، دا یادساتل پکاردي چې میرنۍ مورسره دوینې یاڅه خانداني خپلوي نه شته، دراتلونه وروسته هغې دپلار صاحب پریښودل شوې نغدې پیسې اوقیمتي سامان ایخوا دیخواکول شروع کړل، پلار صاحب مې یوپلاټ، یوفلیټ، نغدې پیسې، ګینه، قیمتي سامان، د کاغذکټ کولو مشین اوداسې نور... تقریبا د پنځو لکو روپیوسامان پریښی و، د ټولونه مخکې د کورمالک زمادنیکه دنوم رسید (دپلار صاحب په نوم، زماپه نوم نه) نیغ

---

[1] [وشرائط صحتها في الموهوب ان يکون مقبوضاً غير مشاع مميزاً غير مشغول. . . . . وتتم الهبة بالقبض الکامل. . . . . الخ. (درمختار/ کتاب الهبة/ ۵/ ۶۸۸ تا ۶۹۰/ طبع سعید)_

[2] [اما للزوجات: فحالتان الربع للواحدة فصاعدة عند عدم الولد وولد الابن. (سراجي: ۷). وفي الدرالمختار: والربع لهاعند عدمهما فللزوجات حالتان: الربع بلا ولد والثمن مع الولد. (الدر مع الشامية: ۶/ ۷۷۰/ کتاب الفرائض/ طبع ايچ ايم سعيد). کما قال الله تبارک وتعالی: ولهن الربع مما ترکتم ان لم يکن لکم ولد. (النساء: ۱۲)_

[3] [قال في السراجي: ثم يرجحون بقوة القرابة اعني به ان ذا القرابتين اولی من ذي قرابة واحدة ذکراً کان او انثی لقوله عليه السلام ان اعيان بني الأم يتوارثون دون بني العلات، کالأخ لأب وامٍ او الأخت لأب وام. . . . . . اولی من الأخ لأب والأخت لأب. (سراجی/ ۱۴/ طبع المصباح لاهور)_

په نیغ په زړو تاریخونوکې دمیرنۍ موریه نوم کړ، هغه کور اخیستلو کې مطلب و اوکونډې ورته یواځې ښکاریدوله وجې هغه نه په ارزان قیمت کوراخیستل غوښتل، درسیدبدلیدوله وجې زمادخپلوانو زما میرنۍ مورخوښه شوه، زه نوکر پیشه اوغیرهنرمندیم، په تنخوا مې په ګرانه باندې ګذاره کیږي، په بیل کورکې اوسیږم، (تقریبا لس کالونه) دپلارصاحب سره مې یوازې په میرنۍ مورباندې اختلاف و، هغه به مصلی باندې ناستې وخت کې ویل: زه به دې کور کې اوسیږم یاستازوی دروزانه دجګړونه تنګیدو له وجې اخر ما دپلارله پاره قربانی ورکړه، چې ناروغ پلارمې دخفګان نه بچ شي اود روزانه دا جګړې ختمې شي، پلارسره مې تعلقات ښه و(۱۹۸۰ء) کې حج ته لاړ، نوماته یې تسلي راکړه چې ته به ترځو پورې نوکري کوې، واپس راتلوسره به غټ کورواخلواودوه برخې به یې کړواومعمولي شان کاروبار به شروع کړو، زه کاروبارکوه، اخرته هم ناروغ یې، خومور زه ذلیله کړم اودکورنه یې ویستلم، ویې ویل چې زه ستاشکل لیدل نه غواړم، دکورمالک دموقعې نه فائده واخیسته اوبلډنګ ته داخلیدو باندې یې پابندي ولګوله اوماته یې بانه وکړه چې تاته به ستابرخه درکړم، ستاخوارلسمه برخه ده، ما مورسره دهر قسمه تعاون پیشکش وکړ، خوهغې ماسره داوسیدو له وجې دولت ورکول نه غوښتل، زمایوخپلوان هم زماحمایت کونکی نه و (۱۹۸۰ء) کې دحج فارم کې دوارثانویه نومونو کې هم زمانوم لیکل شوی و، څوځله خلکو ته خبرورکولو باوجود څوک زمادحمایت له پاره راضي نه شول.

دخلوېښتې په موقع کې زماموریه کبرباندې وویل چې څوک خوراک کول غواړي اودې خوري ،که نه، ټوله به یتیم خانې کې ورکړم او وایي چې زه به دیوې پیسې برخه نه درکوم، پلاټ به جومات له پاره ورکړم، ایاماته دې جایدادکې دمیراث حق نه شته؟ څوک چې په کې بندیزاچوي، هغوی له پاره شریعت څه وایي؟ دخاوند دمرګ له وجې هغې ته داهرڅه ملاوشوي دي اوزوی حق وهي، ایا دا صحیح کیږي؟ زه په غلطي یم اوهغوی ټول په حق دي؟ دې مسئلې باره کې تبصره وکړئ!

جواب: ستادپلارپه جایدادکې ستادمیرنۍ موراتمه برخه ده[۱] اودپاتې اووه برخو وارث ته یې[۲] که چیرې هغه داناجائزډول باندې استعمالوي، نوخپل اخرت به تباه کوي تاسوته

---

[۱] قال تعالي: ولأبويه لكل واحد منهما السدس مماترک ان كان له ولد. (النساء/ ۱۱). فيفرض للزوجة فصاعداً الثمن مع الولد او ولد لابن. (الدر مع الشامية/ ۶/ ۷۷۰/ كتاب الفرائض/ طبع ايچ ايم سعيد). قال فى السراجي: اما للزوجات فحالتان. . . . . والثمن مع الولد او ولد الابن وان سفل. (السراجى/ باب معرفة الفروض/ فصل فى النساء: ۸)_

[۲] واقرب العصبة الابن وان سفل، وهو اتفاق اهل العلم. . . . . . وذالک لقول النبى صلى الله عليه وسلم: الحقوا الفرائض باهلها، فما بقى فلأولى عصبة ذكرٍ. (شرح مختصر الطحاوى/ ۴/ ۹۲/ باب العصبة). ايضاً: والعصبات: وهم كل من ليس له سهم مقدر ويأخذ ما بقى من سهام...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

اطمينان ساتل پكاردي كه چيرې تاسو عدالت سره رجوع كولى شئ، نو وكړئ او كه دومره همت دركې نه وي، نو بيابه هم ستاسو شى هم ستاسو وي، كه دلته درته ملاونه شي، نو اخرت كې به درته ملاو شي او ته به هلته ددې ځاى نه زيات محتاج او ضرورت منديې، ته خومه دخپلې ميرنى موربې ادبي كوه او مه بل چاته شكايت كوه، څومره خلك چې تاد پلار دميراث نه محرومولو نه كوشش كولو كې برخه اخلي هغوى ټول دځان له پاره دوزخ اخلي[۱] ديو بزرګ وينا ده، چې دټولو نه غټ احمق هغه دى څوك چې د دنيا له پاره خپل اخرت تباه كوي او دهغه نه هم غټ احمق هغه دى كوم چې دنورو خلكو له پاره خپل اخرت تباه كوي.

د مرحوم په ميراث كې د دوارو ښځو برخه

سوال: زمونږ پلار دوه ودونه كړي و، دلومړۍ ښځې نه مونږ دوه ورونه او دويمې ښځې نه يوه لورده زمونږ دپلار د مرګ تقريبا لس كاله شوي دي او دې دوران كې زمونږ دويمې مور بله نكاح كړې ده او دهغې نه دهغې درې بچې دي، اوس مونږ دپلار منقوله او غير منقوله ميراث تقسيمول غواړو تاسو ووايئ چې مونږكې به هريوته څومره برخه ملاويږي؟اوزمونږ دويمې مورته به څومره برخه ملاويږي كه چيرې شرعي ډول باندې دهغې حق وي؟ لږ تفصيل سره جواب راكړئ، مهرباني به مو وي.

جواب: ستاسو دپلار مرحوم ميراث به دهغه په دواړو ښځو او اولادكې داسې تقسيميږي:

اينجلۍ	هلك	هلك	دويمه ښځه	لومړۍ ښځه
۱۴	۲۸	۲۸	۵	۵

يعنې ټول ميراث به اتيا(۸۰) برخې شي، داتمې برخې په اصولو باندې دواړو ښځوته به لس(۱۰) برخې (هريوې ته به پنځه پنځه برخې ملاوشي او پاتې اويا(۷۰) برخې به اولادكې دوه چند او يوچند په حساب باندې تقسيم شي) دواړو هلكانوته به اته ويشت اته ويشت برخې او اينجلۍ ته به څوارلس برخې ملاوشي. غرض داچې دمرحوم په ميراث كې دويمې ښځې ته هم برخه حاصله ده.[۲]

بقيه د تيرمخ].. ذوى الفروض، واذا انفرد اخذ جميع المال. (فتاوىٰ عالمگيرى/ ٦/ ٤٥١/ طبع رشيديه)_

[۱] من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة يوم القيامة. (مشكوٰة/ ٢٦٦/ باب الوصايا)_

[۲] اما للزوجات. . . . . والثمن مع الولد، وولد الابن. . . . . الخ. واما بنات الصلب. . . . . ومع الابن للذكر مثل حظ الأنثيين وهو يعصبهن. (سراجى/ ٧، ٨). قال تعالى: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم. (النساء: ١٢). فيفرض للزوجة فصاعدا الثمن مع الولد او ولد الابن. . . . . للبنات ست احوال: ثلاث تحقق فى بنات الصلب وبنات الابن وهى النصف للواحدة ولثلثان للأكثر واذا كان معهن ذكر عصبهن. (الدر مع الشامية/ ٦/ ٧٦٩، ٧٧٠/ كتاب الفرائض)_

دوو ښځو او دهغوی په اولاد کې د جايداد تقسيم

سوال: ديوسړي دوه ښځې دي، ديوې نه يوهلک اوددويمې نه درې هلکان دي، هغوی خپل جايداد تقسيمول غواړي، ځينې خلک وايي چې جايدادبه دواړوښځوکې تقسيمېږي اوځينې وايي چې نه په څلور واړو هلکانوکې به تقسيمېږي دشريعت په نزدباندې دا جايداد څنګه تقسيم شي؟

جواب: شرعي ډول باندې ددې جايداداتمه برخه ددواړوښځوپه مينځ کې اوپاتې اووه برخې دڅلوروهلکانوپه مينځ کې برابر تقسيمېږي[1]، نودهغه دجايدادبه دوه ديرېشت برخې شي، هغو کې به دوه دوه برخې ښځوته ملاوشي اوپاتې اته ويشت برخې به څلوروهلکانوکې برابريعنې اووه اووه برخې تقسيم شي.

د مرحومې مورپه جايداد کې د ميرني ورور خور برخه نه شته

سوال: زمونږ مور وفات شوې ده اومونږ دوه ورونه يو اودرې ورونه مو ميرني دي، تاسووواييئ چې دجايداد وارث څوک دي؟

جواب: کوم شيان چې ستاسودمورملکيت و، دهغه وارثان خويوازې دهغې خپل اولاد دي، ميرني ورونه خويندې نه دي،خو ستاسو د پلارپه جايداد کې ستاسو د ميرني ورونو خويندو هم برابربرخه ده[2]. والله اعلم!

د مرحوم ميراث به ناسکه پلار(دمورخاوند)ته نه ورکول کيږي

سوال: زمايو خور دوست چې هغه يوبينک کې نوکرو، په ځواني کې دبجلۍ د کرنټ(شارټ) له وجې مړشو، هغه ته دبينک له طرف نه څه پيسې ملاويدونکې وې اودبينک په قرضه باندې هغه يوکورهم جوړکړی و، کوربندو، پخپله اومورپلارېې په بل ذاتي کورکې اوسيدل مرحوم واده کړی و اودهغه درې بچې هم و، دوه هلکان او يوه اينجلۍ. اوس راځودمسئلې

---

[1] قال تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم. (النساء: ١٢). وفى السراجى (ص: ٧، ٨). اما للزوجات. ....الثمن مع الولد وولد الابن. . . . . الخ. (ايضاً: شرح مختصر الطحاوى/ ٤/ ٩٢). العصبات: وهم كل من ليس له سهم مقدر ويأخذ ما بقى من سهام ذوى الفروض واذا انفرد اخذ جميع المال واذا اجتمع جماعة من العصبة فى درجة واحدة يقسم المال عليهم باعتبار ابدانهم لكل واحد سهم. (هندية/ ٦/ ٤٥١/ طبع رشيديه)_

[2]]قال فى السراجي: ثم بالعصبات من جهة النسب، والعصبة كل من يأخذ ما ابقته اصحاب الفرائض. (ص: ٤). ثم يرجحون بقوة القرابة اعنى به ان ذا القرابتين اولى من ذى قرابة واحدة ذكراً كان او انثى، لقوله عليه السلام: ان اعيان بنى الام يتوارثون دون بنى بنى العلات كالأخ لاب وام. . . . . الخ. (ص: ١٤/ باب العصبات/ طبع مصباح)

طرف ته، هغه داده چې د هغه پلار د هغه سره اوسيدو، هغه يې خپل پلارنه دی، ميرنی پلار دی، دهغه مورد هغه سره نکاح کړې وه او د هغه قوميت هم جدادی، موريې ژوندی ده، ترڅو پورې چې مرحوم ژوندی و، په هغه باندې به دې پلار ډير ظلمونه کول، اوس وايي چې د هغه وارث زه يم، څه چې دي اودا کور زمادي، زماپه نوم باندې کيدل پکاردي اود هغه ښځه وايي چې زه د هغه ښځه يم اود هغه درې واړه بچي دي، څه چې ملاويدل دي هغه دې ماته اوزمابچيوته ملاوشي، ته د هغه خپل پلارنه يې، پلاروايي: داټول زماملکيت دی، د هغه په کورکې چې څومره کسان دي، لس دولس برخه داردي، ښځه يې وايي چې زه اوزمابچي به دربدرشي.

جواب: دمرحوم دميراث نه دې مخکې قرض اداکړل شي[1] اوڅه چې پاتې شي هغې کې شپږمه برخه دمرحوم دمورده، اتمه برخه د هغه د ښځې ده، دميرنې پلارهيڅ برخه نه شته، نه کور کې اونه پيسوکې، پاتې ديواودوه برخوپه حساب باندې دبچيوده.[2]

تفصيل يې دادی چې ټول ميراث به يوسل اوشل برخې شي، کونډې ته به پنځلس برخې، مور ته به شل برخې، هرهلک ته به څلورديرش برخې اواينجلۍ ته اوولس برخې ورکړل شي.

د مرحوم پلار ميراث د ښځوپه اولاد کې تقسيمول

سوال: زمونږ پلارصاحب وفات شوی دی، دپلارصاحب مې دوه ښځې وې، ديوې نه درې اودبلې نه پنځه بچي دي، لومړۍ ښځه وفات شوې ده، دوارثانوتفصيل دادی: پنځه زامن اودرې لوڼه اويوه کونډه اوټول جايداد، دکونډې په قبضه کې دي اوهغه عدت کې ده.

جواب: دمرحوم ټول جايدادبه دقرض اداکولواو وصيت پوره کولونه وروسته په درې سوه اودولس برخو تقسيم شي اوټولو وارثانو ته به دې حساب سره برخې ملاوشي:

کونډه	هلک	هلک	هلک	هلک	هلک	اينجلۍ	اينجلۍ	اينجلۍ
۳۹	۴۲	۴۲	۴۲	۴۲	۴۲	۲۱	۲۱	۲۱

د مرحوم د ښځې په دغه جايداد باندې دخپلې برخې نه په زيات باندې قابض کيدل جائزنه دي.[3]

---

[1]]يبدأ من تركة الميت. . . . . بتجهيزه من غير تقتير ولا تبذير، ثم تقدم ديونه التى لها مطالب من جهة العباد. . . . . . . الخ. (درمختار/ ٦/ ٧٦٠/ كتاب الفرائض)_

[2]] قال تعالي: ولأبويه لكل واحد منهما السدس مماترك ان كان له ولد. (النساء/ ١١). قال تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم. (النساء: ١٢). وقال تعالي: يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين. (النساء/١١). واذا اختلط البنون والبنات، عصب البنوَن البنات فيكون للابن مثل حظ الأنثيين. (فتاويٰ عالمگيرى/ ٦/ ٤٤٨/ كتاب الفرائض/ طبع رشيديه)_

[3]] قال تعالي: ولأبويه لكل واحد منهما السدس مماترك ان كان له ولد. (النساء/ ١١) : وقال تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم. (النساء: ١٢). وقال تعالي: ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

د مرحوم میراث به څنګه تقسیمیږي کله چې پلار، لور او ښځه یې ژوندي وي؟

سوال: زمانوم غزاله شفیق احمددی، زه دخپل پلاریوه لوریم، زما د پیدائښ نه دوه کاله وروسته زماپه موریلارکې جدایي راغله، دهغه نه پنځه کاله وروسته زماپلاردویم واده وکړ، خودهغه نه یې څه اولاد پیدانه شو، اوس مسئله داده چې زماپلار وفات شو او دهغه یوکوراودوکان چې هغه اتیاګزه دی، کوم چې زمانیکه (ماشاء الله اوسه پورې ژوندی دی) اخیستی اوجوړکړی و اودخپل زوی شفیق په نوم یې کړی و اوله دې نه درې کاله وروسته زماپلاروفات شو، اوس زه دهغه یوه لوریم، دهغه دویمه ښځه اومور ژوندۍ دي، مهرباني وکړئ اوداراته ووایئ چې دپلارله وفات نه وروسته زمونږ څومره برخه جوړیږي؟

جواب: ستادپلارټول میراث به (دواجباتوداداکولونه وروسته) څلور ویشت برخې شي، اتمه برخه(درې برخې) ستا دمیرنۍ مور دي، دولس(۱۲)برخې (یعنې دټول میراث نیمه) ستاسو[۱] اوپاتې دنهه(۹) ستاسودنیکه دي[۲]، صورت د مسئلې دادی:

پلار	لور	کونډه
۹	۱۲	۳

اوتاسودانه دي لیکلي چې ستاسونیا ژوندۍ ده اوکه نه؟ که چیرې نیاژوندۍ نه وي، نومسئله هم هغه ده کومه چې پورته بیان شوې ده اوکه نیاژوندۍ وي، نوبیابه میراث شپږمه برخه هغې ته ورکړل کیږي[۳]، دې صورت کې به دمیراث څلیریشت برخې جوړې شي، هغې کې به درې دمرحوم کونډې ته، څلور مور ته، دولس لورته او پنځه پلارته ملاویږي نقشه د تقسیم داده:

بقیه د تیرمخ].. یوصیکم الله فی اولادکم للذکر مثل حظ الانثیین. (النساء/۱۱). واذا اختلط البنون والبنات، عصب البنون البنات فیکون للابن مثل حظ الأنثیین. (فتاویٰ عالمگیری/ ۶/ ۴۴۸/ کتاب الفرائض/ طبع رشیدیه کوئته)_

۱]اما الزوجات.......الثمن مع الولد او ولد الابن وان سفل. واما لبنات الصلب فاحوال ثلاث النصف للواحدة. . . . . الخ. (سراجی/ ۸). وللزوجة الربع عند عدمهما والثمن مع احدهما والزوجات والواحدة یشترکن فی الربع والثمن وعلیه الاجماع. . . . . . . الخ. (عالمگیری/ ۶/ ۴۵۰/ کتاب الفرائض/ الباب الثانی فی ذوی الفروض/ طبع رشیدیه). واما النساء فالأولی البنت ولها النصف اذا انفردت. (هندیة/ ۶/ ۴۴۸/ کتاب الفرائض/ الباب الثاني)_

۲] واما الاب فله احوال ثلاث الفرض المطلق وهوالسدس وذٰلک مع الابن او ابن الابن، الفرض والتعصیب معا وذالک مع الابنة،او ابنة الابن وان سفلت.(السراجی فی المیراث/ ۶/ باب معرفة الفروض/ طبع المصباح)

۳] الثالثة الام ولها ثلاثة احوال السدس مع الولد وولد الابن او اثنین من اخوة والأخوات من ای جهة کانوا. ..الخ.(هندیة/ ۶/ ۴۴۹/کتاب الفرائض/ الباب الثانی فی ذوی الفروض/ طبع رشیدیه). اما للام فاحوال ثلاث السدس مع الولد وولد الابن وان سفل. (سراجی/ ۱۱/ باب معرفة الفروض ومستحقیها، فصل فی النساء)_

پلار	مور	لور	کونډه ښځه
۵	۴	۱۲	۳

د دریو ودو نولرونکي پلار میراث به څنګه تقسیمیږي؟

سوال: مور، درې ورونه او درې خویندې یو، یوازې زه پاکستان کې یم پاتې ټول په هندوستان کې دي، پلار صاحب مې هندوستان کې وفات شوی دی، پلار صاحب مې درې ودونه کړي وو، د لومړۍ مورنه یو ورور او یوه خورده، دویمې مورنه زه یوازې یم او دریمې مورنه یو ورور او دوه خویندې دي یوازې دریمه مور مو ژوندۍ ده، دپلار صاحب د میراث تقسیم چې هغه یو کور او د ځمکې په شکل کې دی د هغه خرڅول به څنګه کیږي؟ وضاحت سره جواب را کړئ!

جواب: ستاسو د پلار مرحوم میراث به «د قرض ادا کولو او دریمې برخې کې د وصیت پوره کولو نه وروسته»[1] دوه اویا برخو کې تقسیم شي، هغو کې به نهه برخې کونډې ته، څوار لس څوار لس برخې هلکانو ته او اووه اووه برخې به اینجلۍ ته ملاویږي، نقشه داده:[2]

کونډه	هلک	هلک	هلک	اینجلۍ	اینجلۍ	اینجلۍ
۹	۱۴	۱۴	۱۴	۷	۷	۷

د دویم واده نه وروسته د لومړۍ ښځې اولاد د میراث نه محروم ول

سوال: د دویم واده نه وروسته څنګه چې د لومړۍ ښځې سره تعلق ختیمیږي، نو ایا د اولاد سره هم تعلق ختمیږي؟ یو کس خپلې ښځې ته د څه له وجې طلاق ورکړ، خو بیا ده د خپلې ښځې د اولاد سره هم تعلق تقریبا ختم کړ چې په هغه کې یوازې اینجلۍ ده او اوس د خپل جایداد نه هم خپلو لونو ته په څه برخه ورکولو باندې راضي نه دی، دده وینا ده چې زما د ټول جایداد وارثان یوازې زما موجوده اولاد دی، ایا دا د عین اسلام مطابق دی؟

جواب: د عین اسلام مطابق نه دی، بلکې د عین اسلام خلاف دی، ددې سړي ټول اولاد په برخه دارۍ کې برابر وارث دي، که د لومړۍ ښځې نه وي او که د دویمې نه، که چیرې د لومړۍ

---

[1] الثالثة الام ولها ثلاثة احوال السدس مع الولد وولد الابن او اثنين من اخوة والأخوات من اى جهة كانوا. . . . . . . الخ. (هندية/ ٦/ ٤٤٩/ كتاب الفرائض/ الباب الثانى فى ذوى الفروض/ طبع رشيديه). اما للام فاحوال ثلاث السدس مع الولد وولد الابن وان سفل. (سراجى/ ١١/ باب معرفة الفروض ومستحقيها، فصل فى النساء)۔

[2] تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة، الأول يبدأ بتكتفينه وتجهيزه من غير تبذير ولا تقتير ثم تقضٰى ديونه من جميع مابقى من ماله، ثم تنفذ وصاياه من ثلث مابقى بعد الدين ثم يقسم الباقى بين ورثته. (ص:٨، باب معرفة الفروض، فصل فى النساء). قال تعالي: "يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين". (النساء/١١). واذا اختلط البنون والبنات، عصب البنون البنات فيكون للابن مثل حظ الأنثيين. (فتاويٰ عالمگيرى/ ٦/ ٤٤٨/ كتاب الفرائض/ الباب الثاني، ايضاً: السراجى/ ص: ٨)۔

بنځې اولاد محروموول غواړي، نو بیا هم نه محرومیږي[1]،خو خپل جائزاولاد محرومه کوي دا سړی د خپل ځان له پاره جهنم ضرور اخلي، په یو حدیث کې راځي چې یو سړی به تر شپیتو کالو پورې نیک عمل کوي، خو په اخروخت کې څه غلط وصیت وکړي وارثانو ته به نقصان رسوي چې د هغه له وجې دده له پاره دوزخ واجبیږي (مشکواة ص: ۲۶۶) [2] او په یو حدیث کې راځي کوم سړی چې خپلو وارثان د میراث نه محروموي، الله تعالی به ده ته د قیامت په ورځ د جنت د میراث نه محروم کړي (ایضاً)[3] د ډیرې بې عقلۍ خبره ده چې سړی د نورو خلکو د دنیا د بربادولو له پاره خپل انجام برباد کړي.

❖میراث کې د ورور، خور، وراره، تره، ترور او د داسې نورو برخه❖

....

د مرحوم په درې ورونو، درې خویندو او دوو لونو کې به میراث څنګه تقسیمیږي؟

سوال: یوکس مړشو، دهغه درې ورونه اودرې خویندې دي اودهغه یوازې دوه لونه دي، جایدادبه یې څنګه تقسیمیږي؟

جواب: دمرحوم جایدادبه ټول اوویشت برخې شي، نهه نهه به دواړو اینجونه ته، دوه دوه به درې واړو ورونو ته اویوه یوه به درې واړو خویندوته ورکړل شي [4]، د تقسیم نقشه داده:

لور	لور	ورور	ورور	ورور	خور	خور	خور
۹	۹	۲	۲	۲	۱	۱	۱

[1] ويستحق الارث باحدیٰ خصال ثلاث: بالنسب وهو القرابة، والسبب وهو الزوجية، والولاءَ. (عالمگیری/ ٦/ ٤٤٧/ کتاب الفرائض/ طبع رشيديه).

[2] وان الرجل ليعمل والمرأة بطاعة الله ستين سنة ثم يحضرهما الموت فيضارّ ان فى الوصية فتجب لهما النار. (مشكوٰة/ ٢٦٦/ كتاب الوصايا).

[3] من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة يوم القيامة. (مشكوٰة/ ٢٦٦/ كتاب الوصايا).

[4] قال تعالي: فان كن نساء فوق اثنتين فلهن ثلثا ماترک. (النساء: ١١). قال فى السراجي (ص: ٨). واما لبنات الصلب فاحوال ثلاث. . . . . . والثلثان الاثنين فصاعدةً. قال الله تعالي: وان كانوا اخوة رجالاً ونساء فللذكر مثل حظ الانثيين. النساء: ١٧٦). وفى السراجي: واما الأخوات لأب وام فاحوال خمس.......ومع الأخ لأب وام للذكر مثل حظ الأنثيين يصرن به عصبة. . . . . . الخ. (السراجى فى الميراث/ باب معرفة الفروض/ فصل فى النساء: ١٠)_

دبې اولاده مرحومې ترور په جايداد کې د وريرې د اولاد برخه

سوال: څومياشتې وړاندې زمادمورمرحومې ترور وفات شوه، د مرحومې بچي نه وو اودهغې نه ډيرجايدادپاتې شوی دی، دهغې په وارثانوکې دهغې وريرونه اووريرې دي، داوارثان ددرې ورونړو بچي دي، هغه درې واړه ورونړه هم وفات شوي دي، دلومړي ورور په اولاد کې دوه هلکان اوڅلوراينجونه دي، هغوی کې يوه اينجلۍ يعنې زماموروفات شوې ده، ددويم وروريه اولاد کې درې هلکان دي، ددريم وروريه اولاد کې دوه اينجلۍ اوڅلورهلکان دي، هغوکې يو هلک مړشوی دی، دادواړه يعنې وريره اووراره دترور په ژوندکې وفات شوي دي، تاسونه داپوښتنه کول غواړم چې ميراث کې دهغې دوريرې اووراره حق هم شته، کوم چې دترورپه ژوندباندې وفات شوي دي؟ځکه چې دهغوی دواړو بچي شته او ايادهغوی حق دهغوی بچيو ته ملاويدل پکاردي اوکه نه؟ ځکه چې ما اوريدلي دي چې دخپلو لمسيو مور پلاردهغوی په ژوندکې وفات شي، نوهغوی ته دميراث حق نه ملاويږي، خوکوم چې درشتې لمسي وي هغوی ته حق ملاويږي، ددې نه پرته دترورصاحبې يوه ميرنۍ خورهم وه، يعنې پلارخو يو و، خوميندې دوه وې، هغه وفات شوې ده، دهغې داولاد په ميراث کې حق شته اوکه نه؟ اوداچې جايدادکې به هغوی بچيوته څومره برخه ملاويږي دکومومورپلارچې دترور په ژوندباندې مړه شوي دي؟

جواب: ستاسودمورمرحومې په جايدادکې نيمه برخه، خود ترور د ميرنۍ خورده[۱] (اودهغې دمرګ نه وروسته دهغې زامنو، لونړواوخاوندته به ملاويږي) پاتې نيمه برخه دتروردهغې وريرونوده، کوم چې د ترور دوفات په وخت کې ژوندي و، هغه ټولووريرونوته به برابربرخه ملاويږي[۲] وريروته (چې هغې کې ستاسومورهم شامل ده) به هيڅ نه ملاويږي[۳]، کوم وريرونه چې دترور دمرګ نه مخکې مړه شوي دي، هغوی ته به هم هيڅ نه ملاويږي.

۱] والأخوات لأب. . . . . النصف للواحدة. (سراجی/ ۱۱/ باب معرفة الفروض)_

۲] اما العصبة بنفسه. . . . . او هم بالميراث جزء الميت. . . . . ثم جزء ابيه ای الاخوة ثم بنوهم. . . . . . . الخ. (سراجی/ ۱۴/ باب العصبات)_

۳] ځکه چه وريرونه عصبه دی او وريرې ذوی الارحام دی، او قانوناً د عصبه په موجودګئ کښې ذوی الارحام محروم وی، باب ذوی الأرحام: ذوا لرحم هو کل قريب ليس بذی سهم ولا عصبة. (سراجی/ ۳۴). باب توريث ذوی الأرحام هوکل قريب ليس بذی سهم ولا عصبة فهو قسم ثالث حينئذ، ولا يرث مع ذی سهم ولا عصبة سوی الزوجين. . . . . . الخ. (الدرالمختار علی هامش الطحاوی/ ۴/ ۳۹۶). والصنف الثالث ينتمی الی ابوی الميت وهم اولاد الأخوات وبنات الاخوة. . . . . . الخ. (سراجی/ ۳۵/ باب ذوی الأرحام)_

د نیکه (دمورد پلار) د میراث حکم

سوال: عرض دادی چې زمانیکه دنن نه تقریبا دوه میاشتې مخکې وفات شوی دی، هغه په میراث کې څه پیسې اویوکورپرېښی دی، پیسې دهغه په کفن دفن باندې خرچ شوې، اوس یوازې کورپاتې دی، زمادنیکه په اولادکې زماموردہ اوهغه ماسره اوسیږي اویوه زما تروردہ، چې هغه په انډیاکې په (۱۹۲۵ء) کې وفات شوې ده اودهغې بچي اوداسې نور... په انډیاکې اوسیږي دهغوی مور سره هیڅ تعلق نه شته، دلته ددې خبرې وضاحت کول هم ضروري ګڼم چې زمور تروړسره څه اختلافات هم نه شته، یوازې ددوارو خاندانونوپه یوځای کې مستقل نه اوسیدو له وجې یوبل سره تعلق پاتې شوی نه دی اونه مور سره دیوبل پته شته، عرض دادی چې زمادمورنه پرته د نیکه بل اولادنه شته، اودمورله طرف نه مور پنځه وروڼه اودرې خویندې یو، معلومول داغواړم چې دهغوی دمیراث پیسوکې مور څوک څوک حق دار یو اوڅه تناسب سره؟ دې نه پرته زمادمور خواهش دی چې ټولې پیسې مور وروڼه اوخویندې په خپلوکې برابر برابرتقسیم کړو، نوایاشرعي ډول باندې داسې کولوکې منع خو نه شته؟ دې نه پرته که چیرې زه دخپلې برخې پیسې نه اخیستل غواړم، یا دچا په حق کې دستبردار شم، نوداسې کولی شم؟ جواب راکولو سره زماپریشاني ختمه کړئ، ډیره مهرباني به وي.

جواب: که چیرې ستاسودنیکه وروڼه یا وریرونه وي، نوهغه تلاش کړئ، که چیرې ورور یادورور بچي یې نه وي، نودهغوی د(نیکه) تره اولاد، که هغه نه وي دپلاردتره اولاد، دنیکه دتره اولاد، علی هذا، دغه شان که په جدي خاندان کې څوک موجودوي، نوهغوی تلاش کړئ، که چیرې (پورته ذکرشوي ترتیب مطابق څوک پیدانه شي) نونیم مال ستاسو د موردی اونیمه برخه دجدي وارثانو[1] اوکه چیرې جدی وارثانوکې هیڅ څوک هم ژوندي نه وي، نوټول کورستاسودموردی اوهغه یې چې څنګه تقسیمول غواړي تقسیمولی یې شي.[2]

د مرحوم د میراث مالکان به وریرونه وي که وریرې؟

سوال: الف، ب، ج، درې واړه وروڼه وفات شول، چې دهغو بچي نه شته، د، ژوندی پاتې شو، دهغه په ژوند کې دهغه ښځه هم وفات شوه، اوس دی هم وفات شو، دده دمرګ په وخت کې یوکور او نغدې پیسې په میراث کې پرېښې اودهغې قیمت رائج الوقت سکې مطابق

---

[1]]اما العصبة بنفسه. . . . . او لهم بالميراث جزء الميت اى البنون ثم بنوهم ثم اصله اى الاب ثم الجد. . . . . ثم جزء ابيه اى الاخوة ثم بنوهم وان سلفوا ثم جزء جده اى الأعمام ثم بنوهم. . . . . . . الخ. (سراجى/ ۱٤/ باب العصبات). واما بنات الصلب فأحوال ثلاث النصف للواحدة. . . . . الخ. (سراجى/ ۸/ باب معرفة الفروض/ فصل فى النساء)_

[2]] ما فضل من المخرج عن فرض ذوى الفروض ولا مستحق له من العصبة يرد ذلک الفاضل على ذوى الفروض بقدر حقوقهم. (الشريفية شرح السراجية/ ۷٤/ باب الرد/ طبع مكتبه حقانيه)_

تقريبا يولک روپۍ جوړيږي، دده درې ورونړو اولادنه بل څوک وارث نه شته، اوس به دا ميراث چاته ملاويږي؟

جواب: شرعي ډول باندې به دهغې وارثان وريرونه وي، وريرې به وارثانې نه وي.[1]

د مرحومې جايداد به څنګه تقسيميږي کله چې نژدې خپلوان څوک يې نه وي؟

سوال: زموږ خاندان کې يوه داسې ښځه مړه شوه، چې دهغې حقيقي وارث څوک هم نه و، خاوند، موروپلار، وروروخور ټول دمرحومې په ژوندکې وفات شوي دي، اوس دهغې ديوخپل ورور او ديوې خور اولاد موجود دی، دمرحومې دوروړيه اولادکې يوزوی اويولور ژوندي دي اود هغې ورور يو لور دمرحومې په ژوندکې وفات شوې ده، خودهغې خاوند او اولاد موجوددي، دغه شان دمرحومې دخور په اولادکې دوه زامن اودرې لونړه ژوندي دي اودهغې يودبچيوپلارزوی د مرحومې په ژوندکې وفات شوي دي، خودهغه اولاد موجوددی، ددغې ښځې جايدادبه شرعي ډول باندې څنګه تقسيميږي؟

جواب: دمرحومې وارث وراره دی، دې نه پرته په سوال کې ذکرشويو خلکوکې څوک وارثان نه دي.[2]

وريرونه په ميراث کې حق داردي

سوال: زيددوفات پورې واده نه و کړی، هغه په ميراث کې يوپلاټ پريښی دی، دوفات په وخت کې دزيد دوه ورونړه اودرې خويندې وې، هغوی ددغه پلاټ قانوني وارثان جوړشول، دغه دوران کې يو ورور بل مړشو، ايا دهغه وروربچي هم کوم چې وروسته مړشوي دي، به دپلاټ قانوني وارثان ګڼل کيږي؟ دزيد موروپلارډيرمخکې وفات شوي دي.

جواب: بالکل! دمرحوم وروردوفات نه وروسته به دهغه اولادبه دهغه د برخې وارثان وي، ځکه چې هغه ورور دزيد دوفات نه وروسته مړشوی دی.[3]

---

[1] ومن لا فرض لها من الاناث واخوها عصبة لا تصير عصبة باخيها كالعم والعمة: كان المال كله للعم دون العمة وكذا الحال فى. . . . . . . ابن الاخ مع بنت الاخ. (شريفية شرح سراجى/ باب العصبات/ ٤٠). وباقى العصبات يتفرد بالميراث ذكورهم دون اخواتهم وهم اربعة ايضاً العم، وابن العم وابن الأخ. . . . . . الخ. (عالمگيرى/ ٦/ ٤٥١)_

[2] وباقى العصبات ينفرد بالميراث ذكورهم دون اخواتهم وهم اربعة ايضاً العم، وابن العم وابن الأخ. . . . . الخ. (عالمگيرى/ ٦/ ٤٥١/ كتاب الفرائض/ الباب الثالث فى العصبات)_

[3] اما العصبة بنفسه. . . . . اولهم بالميراث جزء الميت اى البنون ثم بنوهم. . . . . . . ثم جزء ابيه اى الاخوة ثم بنوهم وان سفلوا. . . . . الخ. (سراجى/ ١٤/ باب العصبات)_

د ناواده کړي مرحوم میراث به ، دتره ، ترور او مورپه مینځ کې څنګه تقسیمیږي؟

سوال: یوکس دواده کولونه مخکې وفات شو، دهغه په وارثانوکې یوه مورده، یوېې حقیقي تره اویوه تروروده، دحنفي فقهې د اصولومطابق ددې وارثانوبرخه مقرره کړئ!

جواب: میراث به درې برخې جوړې شي، دریمه برخه دمور[1] او دوه برخې دتره دي.[2] د تقسیم نقشه داده:

مور	تره	ترور
۱	۲	محرم

خور، وریرونواو خوریونوپه مینځ کې د میراث تقسیم

سوال: محمداسماعیل وفات شو، دمرحوم یوه حقیقي خور، څلور وریرونه، یوه وریره، دوه خوریونه اویوه خورځه ده، موروپلاراو اولاد یې نه شته، نه یې زوی شته اونه لور، نه یې لمسي شته او لمسۍ، یوازې پورته ذکرشوي وارثان دي، نوذکرشوي صورت کې به دمرحوم د وارثانو د تقسیم شرعي طریقه څه وي؟ یوکور و، هغه خرڅ شو، دفترنه کاغذونوجوړولوباندې درې زره روپۍ ولیګدې، تقریبا دولس زره روپۍ قرضه پرې وه، هغه هم ادا شوه، کورپه دیریش زره روپۍ خرڅ شو، هغې کې پنځلس زره روپۍ خرچ شوې، اوس یوازې پنځلس زره روپۍ پاتې شوې، اوس تاسوته خواست دی چې دمرحوم دمیراث دتقسیم شرعي طریقه کاربه څه وي اوکوم کوم وارث ته به څومره برخه ملاویږي؟

جواب: دمرحوم میراث به دقرض اداکولواو وصیت پوره کولونه وروسته په اته برخو تقسیم شي، څلور برخې به خورته[3] اویوه یوه برخه به څلور وریرونوته[4]، وریرې، خوریې اوخورځې ته به هیڅ نه ملاویږي،[5] نقشه یې داده:

---

[1] قال تعالي: فان لم یکن له ولد وورثه ابواه فلأمه الثلث. (النساء: ۱۲). وللام الثلث الکل عند عدم هؤلآء المذکورین ای عند عدم الولد وولد الابن. . . . . . الخ (شریفیة شرح سراجی ص۳۰، باب معرفة الفروض)

[2] فاقرب العصبات الابن......ثم العم لأب وام . . . . . الخ. (فتاويٰ عالمگیری/ ٦/ ٤٥١/ کتاب الفروض)

[3] اما الأخوات لأب وام. . . . . النصف للواحدة لقوله تعالى وله اخت فلها نصف ماترک. (شریفیة شرح سراجی/ ٢٦/ باب معرفة الفروض/ فصل فی النساء)_

[4] اما العصبة بنفسه. . . . . اولهم بالمیراث جزء المیت ای البنون ثم بنوهم. : ثم جزء ابیه ای الاخوة ثم بنوهم وان سفلوا. . . . . الخ. (سراجی/ ١٤/ باب العصبات)_

[5] ځکه چه دا ذوی الارحام دی او د عصبه په موجودګئ کښې ذوی الارحام ته حصه نه ملاویږی. باب ذوی الأرحام، ذو الرحم هو کل قریب لیس بذی سهم ولا عصبة...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

خور - وراره - وراره - وراره - وراره - وريره - خوريې- خورځه
۴ - ۱ - ۱ - ۱ - ۱ - محروم- محروم- محروم- محروم

ښځې، زامنو او لوڼوکې د ميراث تقسيم

سوال: زماعمرتقريبا پنځه شپيته کاله دی، زماښځه ژوندۍ ده، زما دوه لوڼه دي، دواړه واده شوي دي، خپل خاوندانواو اولادونو سره خوشاله دي، دهغوی خاوندان دالله تعالی په فضل باندې مالداره اودښه حيثيت مالکان دي، زمادوه ورونه دي، هغوی هم دبچيو پلاران اودښه حيثيت مالکان دي، زماخورنه شته، موروپلارمې دواړه وفات شوي دي، دکور يا ځمکې په شکل کې زماغيرمنقوله جايدادنه شته، يوازې لږ نغدې پيسې دي، څه ونډې اوبينک کې په (پی ايل ايس) کې پيسې پرتې دي، که پورته ذکرشوي صورت کې زه وفات شم، نوزماميراث به څنګه تقسيميږي؟

جواب: تاسوته څنګه پته کيدای شي چې ستاسودمرګ دوخت پورې به ستاسوکوم کوم وارث ژوندي وي اوترڅوپورې چې ددې پته نه وي، زه دميراث برخې نه شم جوړولی؟ خو داويلی شم که چيرې ستاسو دمرګ په وخت کې داټول وارثان ژوندي وي، نواتمه برخه به دې ښځې ته، دويمه برخه به دواړو لوڼو ته[۱] اوچې څومره پاتې شي، هغه به ورونوته ملاويږي[۲].

د تقسيم نقشه داده:

کونډه	لور	لور	ورور	ورور
۶	۱۶	۱۶	۵	۵

فرض کړئ ديريش زره روپۍ دي، لس لس زره به دواړو لوڼوته ، درې زره اووه سوه پنځوس روپۍ به ښځې ته اوشپږزره دوه سوه پنځوس روپۍ به ستاسودواړوورونوته ملاويږي.

بقيه د تيرمخ].. (سراجی/ ۳۴). باب توريث ذوی الارحام هو کل قريب ليس بذی سهم ولا عصبة فهو قسم ثالث حينئذ، ولا يرث مع ذی سهم ولا عصبة سوی الزوجين. . . . . . الخ. (الدرالمختار عليٰ هامش الطحطاوی/ ٤/ ٣٩٦). والصنف الثالث ينتمی الی ابوی الميت وهم اولاد الأخوات وبنات الاخوة. . . . . الخ. (سراجي: ۳۵)_

[۱] كما قال الله تبارک وتعالیٰ: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم من بعد وصية توصون بها اودين. (النساء: ۱۲). اما الزوجات. . . . . . . والثمن مع الولد او ولد الابن وان سفل. اما بنات الصلب. . . . . والثلثان للاثنين فصاعدةً. (سراجی/۸/ باب معرفة الفروض/ فصل فی النساء)_

[۲] اما العصبة بنفسه فكل ذكر لا تدخل فی نسبته الی الميت انثی وهم اربعة اصناف. . . . . . . الاقرب فالاقرب يرجحون بقرب الدرجة اعنی اولهم بالميراث جزء الميت ای البنون. . . . . . . ثم جزء ابيه ای الاخوة ثم بنوهم وان سفلوا. (سراجی/ ١٤/ باب العصبات). والعصبة كل من يأخذ ما ابقته اصحاب الفرائض وعند الانفراد يهرز جميع المال. (سراجی/ ٤)_

سوال: ۲: که چیرې زمابنځه زمانه مخکې وفات شي، نودې صورت کې به زمادوارثانوپه حق کې څنګه فرق راځي؟

جواب: دې صورت کې به دریوبرخوکې دوه برخې د دوه جینکو او دریمه برخه به د دوارو ورونو وي.[1]

سوال: ۳: ایازمادبنځې اولونو په موجودګي کې زما ورونه یادهغوی اولادهم وارثان دي؟

جواب: هو! دجینکوبه دریوبرخوکې دوه برخې اود بنځې اتمه برخه ورکولونه وروسته چې څه پاتې کیږي، دهغه وارثان ورونه دي اوکه ورونه نه وي، نوبیا وریرونه دي.[2]

کونډې، وروراودرې خویندوکې د میراث تقسیم

سوال: زمایودوست وفات شو، دهغه اولادنه شته، تاسونه پوښتنه داده چې اسلام مطابق دهغه جایداد او مال به څنګه تقسیمیږي؟ دهغه یوه ښځه ده، یویې وروردی، درې یې خویندې اویویې تره دی، په دې کې دهرچاڅومره حق دی؟ اودچاپه کې بالکل حق نه شته؟ اوهغه نه چې کومه ګینه پاتې شوي دي هغه باندې دښځې حق دی یاکه هغه هم مال او جایداد سره تقسیم شي؟

جواب: دقرض اداکولواو وصیت پوره کولونه وروسته به دمرحوم مال په شل برخوکې تقسیم شي، هغې کې پنځه برخې دښځې دي[3]، شپږ د ورور اودرې درې دخویندودي[4] تره ته به هیڅ نه ملاویږي[5]. ګینه که چیرې ښځې ته مهرکې ورکړل شوي وي، نودهغې دي،که نه، په میراث کې به شامل وي، د میراث د تتسیم نقشه داده:

کونډه	ورور	خور	خور	خور
۵	۶	۳	۳	۳

---

[1] "یوصیکم الله فی اولادکم للذکر مثل حظ الانثیین فان کن نساء فوق اثنتین فلهن ثلثا ما ترک". (النساء/۱۱). اما العصبة بنفسه فکل ذکر لا تدخل فی نسبته الی المیت انثی وهم اربعة اصناف. . . . . . . الاقرب فالاقرب یرجحون بقرب الدرجة اعنی اولهم بالمیراث جزء المیت ای البنون........ثم جزء ابیه ای الاخوة ثم بنوهم وان سفلوا. (سراجی/ ۱٤/ باب العصبات). والعصبة کل من یأخذ ما ابقته اصحاب الفرائض. (سراجی/ ٤)_

[2] ایضاً_

[3] اما للزوجات فحالتان الربع للواحدة فصاعدة عند عدم الولد وولد الابن. (سراجي: ۷)_

[4] اما الأخوات لاب وام....ومع الاخ لاب وام للذکر مثل حظ الانثیین یصرن به عصبة..الخ.(سراجی/ ۱۰)

[5] فاقرب العصبات الابن ثم ابن الابن. . . . . . ثم العم. (عالمگیری/ ٦/ ٤٥١/ کتاب الفرائض)_

کونډې، مور، اوورونو خویندوکې د میراث تقسیم

سوال: زموږ مشرورور وفات شوی دی، دمرحوم په وارثانوکې مور، څلور ورونه، څلورواده شوې خویندې، کونډه اویوه واده شوې میرنۍ لور پریښې دي، تاسونه پوښتنه داکول غواړم چې دمرحوم میراث به د شریعت اوقانون مطابق څنګه تقسیمیږي؟ جواب بیان کړئ اومرحوم باندې قرضه هم ده اودجایدادڅه برخه په شراکت کې شامله ده.

جواب: دټولونه مخکې دمرحوم قرض اداکړئ (که دښځې مهریې نه وي اداکړی، نوهغه قرض کې شامل دی اومیراث دتقسیمولونه مخکې دهغه اداکول لازم دي) دې نه وروسته که چیرې مرحوم څه وصیت کړی وي، نودمال ددریمې برخې نه هغه پوره کړئ. دقرض اداکولواو وصیت پوره کولونه وروسته[1] دمرحوم میراث به په یوسل او څلورڅلوېښت برخو تقسیم شي، هغې کې به دکونډې شپیږ دیریش، دمورڅلیریشت، څوارلس څوارلس دڅلورو واړو ورونو او اووه اووه د څلور واړو خویندو شي[2] د تقسیم نقشه داده:

کونډه	مور	ورور	ورور	ورور	ورور	خور	خور	خور	خور
۳۶	۲۴	۱۴	۱۴	۱۴	۱۴	۷	۷	۷	۷

کونډې، مور، څلور خویندو او درې ورونو
کې به د مرحوم میراث څنګه تقسیمیږي؟

سوال: زیدوفات شو، وارثانوکې یې یوه کونډه، یوه مور، څلور خویندې اودرې ورونه دي، هغوی کې به میراث څنګه تقسیمیږي؟

جواب: دکفن دفن دخرچې اودقرض اداکولواودوصیت پوره کولونه وروسته به [3]د مرحوم ټول میراث به یوسل او شل برخو تقسیم شي، هغو کې به شل برخې دمور، دیریش برخې د کونډې، څوارلس څوارلس د ورونو او اووه اووه دخویندو دي[4]د میراث نقشه داده:

کونډه	مور	ورور	ورور	ورور	خور	خور	خور	خور
۳۰	۲۰	۱۴	۱۴	۱۴	۷	۷	۷	۷

---

[1] التركة تتعلق بها حقوق اربعة جهاز الميت ودفنه والدين والوصية. . . . . . . وتنفذ وصاياه من ثلث ما بقي بعد الكفن والدين. (فتاويٰ عالمگیری/ ٦/ ٤٤٧/ كتاب الفرائض)_

[2] اما للزوجات فحالتان الربع للواحدة فصاعدة عند عدم الولد وولد الابن. . . . . . الخ. (سراجی/ ٧/ باب معرفة الفروض). اما الأخوات لاب وام. . . . . ومع الاخ لاب وام للذكر مثل حظ الانثيين يصرن به عصبة. . . . . الخ. (سراجی/ ١٠/ باب معرفة الفروض). قال تعالي: ولأبويه لكل واحد منهما السدس مما ترک ان كان له ولد. (النساء: ١١)_

[3] ایضاً تیره شوې حاشیه(التركة تتعلق بها حقوق اربعة جهاز الميت. . . الخ)_

[4] ایضاً تیره شوې حاشیه(اما للزوجات فحالتان الربع للواحدة فصاعدة. . . الخ)_

د مرحوم جایداد به، دکونډې، مور، یوې خورکې او یو تره په مینځ کې څنګه تقسیمیږي؟

سوال: ګلشن ولد خیرمحمد وفات شوی دی، دهغه دا وارثان دي او هغه څه ځمکه پرېښې ده او وفات شوی دی، یوه کونډه، یوه مور، یوه خور او یو تره، نوتاسو ته خواست دی چې چاته به دځمکې څومره برخه ملاویږي او چاته به نه ملاویږي؟

جواب: دګلشن مرحوم میراث (دقرض اداکولو او که چیرې څه وصیت یې کړی وي، نو دهغه دمال په دریمه برخه کې دپوره کولو نه وروسته)[1] به دولس برخو تقسیم شي، هغې کې درې دکونډې، دوه د مور او شپږ دخور او یوه برخه دتره ده[2]، نقشه یې داسې ده:

تره	خور	مور	کونډه
۱	۶	۲	۳

د مرحوم په میراث کې د کونډې او ورور برخه

سوال: زما دتره دزوی زموږ په شریک کور کې برخه وه، مرحوم په ژوند کې تعلق ختم کړی و، دمرګ نه وروسته حساب وشو، ټولو ته برخې ورکړل شوې، هغه کې درې کاله دهغه د ژوند بقایا د وفات نه وروسته دکرایې پیسې ماسره جمع دي، مرحوم بې اولاده وفات شوی دی، یوه کونډه ده او یو یې ورور دی، دمرحوم ددرې کالو دژوند پیسې ټولې دهغې ښځې ته ورکړم او د ځلورمې برخې پیسې ورکړل شي او که دټولو پیسو څلورمه برخه بې اولاده کونډې ته ورکړل شي او نورې ورورته؟ ځکه چې حساب کتاب دهغه دوفات نه وروسته شوی دی.

جواب: دکوردبرخې او دکوردکرایې اودنورپاتې شوي مال حقداران د مرحوم کونډه او ورور دي، دقرض اداکولو نه وروسته دکرایې په ټولو پیسو کې څلورمه برخه دکونډې او پاتې پیسې به ورورته ملاویږي[3] د میراث د تقسیم نقشه داده:

ورور	کونډه
۳	۱

---

[1] التركة تتعلق بها حقوق اربعة، جهاز الميت ودفنه والدين والوصية وتنفذ وصاياه من ثلث. (هندية/ ٦/ ٤٤٧)_

[2] قال تعالي: ولأبويه لكل واحد منهما السدس مماترک ان كان له ولد. (النساء/ ١١). الثالثة الام ولها ثلاثة احوال السدس مع الولد وولد الابن. (فتاويٰ عالمگيرى/ ٦/ ٤٤٩). وللزوجة الربع عند عدمهما اى الولد وولد الابن. (عالمگيرى/ ٤٥٠). قال تعاليٰ: ولهن الربع مما تركتم ان لم يكن لكم ولد. (النساء:١٢). وفى السراجى (ص: ١٠/ باب معرفة الفروض) واما الأخوات لأب وام فاحوال خمس النصف للواحدة. وفيه ايضا: اما العصبة بنفسه. . ...اولهم بالميراث جزء الميت....ثم جزء جده اى الأعمام ثم بنوهم وان سلفوا. (سراجى/ ١٤/ باب العصبات)

[3] قال علمائنا رحمهم الله تعالي: تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة: ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

خور، وریرونو او وریرو په مینځ کې د میراث تقسیم

سوال: یو کس وفات شو او دهغه نه ډیر منقوله او غیرمنقوله جایداد پاتې شو. دهغه دا خپلوان موجود دي، یوه خپله خور، اته وریرونه، پنځه وریرې، دوه ورونه چې دهغه دوفات نه مخکې مړه شوي دي. اوس شرعي لحاظ سره دهغه جایدادبه دهغه په خپلوانو کې څنګه تقسیمیږي چې مسئله حل شي؟

جواب: دهغه سړي نیم میراث (دقرض اداکولو او وصیت پوره کولو نه وروسته) به خورته ملاویږي او پاتې نیمه برخه کې اتمه برخه به وریرونو کې تقسیم شي، وریرو ته به هیڅ نه ملاویږي. نو میراث به شپاړس برخې شي، اته برخې به خورته او یوه یوه برخه به وریرونو ته ملاوشي[1]

د میراث د تقسیم نقشه داده.

خور	وراره	وراره	وراره	وراره	وراره	وراره	وراره	وراره
۸	۱	۱	۱	۱	۱	۱	۱	۱

د بې اولاده ماما په میراث کې د خوریونو برخه

سوال: زما ماما او مامي مړه شوي دي، دهغوی په نوم باندې جایداد و، خو دهغه په خپله باندې اولاد نه و اونه دهغه مور یلار ژوندي دي، زما دماما مرحوم یوه خور او یو ورور ژوندي و، بیا هغوی هم مړه شول. د جایداد مالک ماما مرحوم په برخه کې د مړشوي ورور او خورد اولاد د شریعت په نزد باندې وارثان دي او که نه؟ او که دي، نو څومره دي؟

جواب: ستاسو د مرحوم ماما په میراث کې به دوه برخې دهغه وروړته ملاویږي او یوه خورته. دهغوی نه وروسته به دهغوی اولاد هم تناسب سره وارثان وي.[2]

بقیه د تیرمخ].. الاول یبدأ بتکفینه وتجهیزه. . . . . ثم تقضٰی دیونه من جمیع مابقی من ماله، ثم تنفذ وصایاه من ثلث مابقي بعد الدین، ثم یقسم الباقی بین ورثته بالکتاب والسنة واجماع الامة. (السراجی فی المیراث/ ۲، ۳). ایضاً: وقال تعالي: ولهن الربع مما ترکتم ان لم یکن لکم ولد. (النساء: ۱۲). اما العصبة بنفسه فکل ذکر لا تدخل فی نسبته الی المیت انثٰی وهم اربعة اصناف. . . . . الأقرب فالأقرب یرجحون بقرب الدرجة اعنی اولهم بالمیراث جزء المیت. . . . . . . ثم جزء ابیه ای الاخوة اه.. (سراجی/ ۱٤/ باب العصبات)_

[1]]قال تعالي: ان امرؤا هلک لیس له ولد وله اخت فلها نصف ماترک. (النساء: ۱۷٦). قال فی السراجي: واما للاخوات لاب وام فاحوال خمس النصف للواحدة. . . . . . . الخ. (ص: ۱۰). : وباقی العصبات ینفرد بالمیراث ذکورهم دون اخواتهم وهم اربعة ایضاً، العم، وابن العم وابن الأخ. . . . . . الخ. (عالمگیری/ ٦/ ٤٥۱/ کتاب الفرائض)_

[2]] قال تعالي: وان کانوا اخوةً رجالاً ونساء فللذکر مثل حظ الأنثیین. (النساء: ۱۷٦)_

د ورور د میراث تقسیم

سوال: یو واده کړي ورور، ناواده شوې خور او کونډې مور، مور درې کسان یو. د کونډې موریوزوی دواده او وصیت نه پرته مړشوی دی او دهغه نه ډېرې پیسې پاتې شوي دي. ایا د نیمو پیسو مور وارثه ده یا ورور؟ ددې ټولو پیسو حق دار څوک دي؟ مهرباني وکړئ ددې تقسیم نه موخبره کړئ؟

جواب: د مرحوم په میراث کې دریمه برخه د مور ده او پاتې دوه ورور او خور ده[1]، نو ټول میراث به نهه برخو باندې تقسیم شي. هغه کې به درې برخې د مور، څلور برخې د ورور او دوه برخې دخوردي نقشه یې داده:

مور	رور	خور
۳	۴	۲

د ناواده شوي سړي د میراث تقسیم

سوال: یو ناواده شوي سړي کورپرېښود او مړشو. هغه وخت کې دهغه سړي مور او پلار ژوندي و، دهغوی نه پرته دهغه دوه ورونه او څلور واده شوې خویندې هم دي، خوموریې څه وخت مخکې وفات شوې ده او هغه کور د مرحوم په نوم دی او دهغه ذیووارث نوم ته هم نه دی منتقل شوی، د مرحوم په جایداد باندې د چاچاڅومره څومره حق دی؟ او دهغه تقسیم به څنګه کیږي؟

جواب: ددې مرحوم میراث به شپږبرخوکې تقسیم شي، یوه برخه دهغه د مور او پاتې پنځه برخې دهغه د پلار دي[2] بیابه د مور برخه په دوه دیریش برخوکې تقسیم شي، هغو کې به اته برخې د پلار، شپږشپږ د دواړو هلکانو او درې درې د څلورو خویندو شي، لکه ټول کور به یوسل

---

[1]]وللأم ثلث الكل عند عدم هؤلآء المذكورين اى عند عدم الولد وولد الابن. (شريفية/ ۳۰). اما الأخوات لأب وام. . . . . ومع الاخ لاب وام للذكر مثل حظ الأنثيين يصرن به عصبة. (سراجي: ۱۰) مور:۳. رور: ۱۰، خور: ۵، . . . واما للام فاحوال ثلاث السدس مع الولد او ولد الابن وان سفل، او مع الاثنين من الاخوة والأخوات فصاعداً من اى جهة كانا. (سراجى/ ۱۱، ۱۲). وفى الحاشية ۲ (من اى جهة كانا). . . . . . . ويتصور فى اثنين احد وعشرون صورة لأنهما اما اخوان او اختان او اخت واخ. . . . . . الخ. (سراجى/ ۱۲/ حاشيه نمبر ۲، طبع قديمي، ايضاً: حاشية الطحطاوى على الدر المختار/ ٤/ ۳۸۱/ كتاب الفرائض/ طبع رشيديه كوئته)_

[2]]كما قال الله تعالي: فان كان له اخوة فلأمه السدس. (النساء: ۱۱). واما للام فاحوال ثلاث، السدس مع الولد او ولد الابن وان سفل، او مع الاثنين من الاخوة والأخوات فصاعدا. (سراجي: ۱۲. . اما الأب فله احوال ثلاث. . . والتعصيب المحض وذلك عند عدم الولد وولد الابن وان سفل. (سراجى/ ٦/ باب معرفة الفروض). قال فى السراجي: واما للزوج فحالتان. . . . . .والربع مع الولد او ولد الابن وان سفل. (ص: ۷/ باب معرفة الفروض). قال الله تعالي: يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين. (النساء: ۱۱)_

اودوه نوي برخې شي، هغې کې به يوسل اواته شپيته برخې دهلک دپلاردي، شپږبرخې دهريوهلک اودرې برخې د هر يوې اينجلۍ دي، صورت د مسئلې دادی.

پلار	زوی	زوی	لور	لور	لور	لور
۱۶۸	۶	۶	۳	۳	۳	۳

❖ د مور و پلار په ژوند کې د وفات شوي اولاد برخه ❖

....

د وراثت په قانون کې د شک ختمول

سوال: شريعت چې دانسان له پاره کوم قوانين جوړ کړي دي، هغه ټول زموږ له پاره خيردي، که هغه زموږ په عقل کې راځي اوکه نه، د اسلام دوراثت قانون هم بې مثاله دی، په يودين يامعاشره کې د وراثت باره کې دحق اوانصاف داسې قانون نه شته، خودوراثت په اسلامي قانون کې يوشق داسې دی چې هغه کې شک کيږي چې دا داسې ولې دی؟ هغه داچې دپلارپه ژوندکې که چيرې روی مړشي، نو لمسي يالمسۍ ته ميراث کې حق نه شته، خيال کول پکار دي چې دا لمسي يتيمان دي، هغوی ته دخو مرحوم پلارپه ميراث کې که زيات نه وي، نوکم نه کم دومره خوملاويدل پکاردي څومره که چيرې مرحوم پلار ژوندی اوملاويدل به.

يوبل سوال دادی چې نورلمسي کوم چې دزوی په ژوندکې موجودوي، هغوی ته ميراث ملاويږي اوکه نه؟

جواب: دلته دوه اصول ذهن کې ساتل پکاردي، يوداچې دميراث تقسيم دنږدې والي په اصولو باندې دی، ديووارث په مالداري يا غريبي يادرحم له وجې نه دی[1] دويم داچې په وراثت کې شرعي اوعقلي ډول باندې دالاقرب فالاقرب اصول جاري کيږي[2]، چې دهغه مطلب دادی چې دکوم کس دمړي سره نږدې خپلوي وي، دهغه په موجودګي کې دلرې خپلوي وارث حق دارنه دی.

دادواړه اصول مخې ته کيښودونه وروسته غوروکړئ که چيرې د يوسړي څلورزامن وي او د هر يو زوی څلور زامن وي، نودهغه جايدادپه زامنوباندې تقسيميږي، په لمسيو باندې نه، دې

---

[1]]ثم يقسم الباقي بين ورثته بالكتاب والسنة واجماع الامة فيبدأ باصحاب الفروض وهم الذين لهم سهام مقدرة فى كتاب الله تعالىٰ ثم بالعصبات من جهة النسب والعصبة كل من يأخذ ما ابقته اصحاب الفرائض وعند الانفراد يحرز جميع المال ثم بالعصبة من جهة النسب وهو مولى العتاقة ثم عصبته على الترتيب ثم الرد على ذوى الفروض النسبية بقدر حقوقهم ثم ذوى الأرحام. (السراجى/ ۳، ٤/ طبع المصباح، ايضاً: طحطاوى على الدر المختار/ ٤/ ۳۸۵/ كتاب الفرائض)_

[2]]اما العصبة. . . . . وهم اربعة اصناف. . . . . الأقرب فالأقرب يرجحون بقرب الدرجة. . . . الخ. (سراجى/ ١٤/ باب العصبات، طبع المصباح)_

مسئله کې به کیدای شی چاته هم اختلاف نه وي، د دې نه معلومېږي چې د زامنو په موجودګي کې لمسي وارثان نه وي.
اوس فرض کړئ په څلورو زامنو کې یو زوی د پلار په موجودګي کې وفات شو، وروسته د هغه اولاد پاتې شو، د هغه اولاد د نیکه له پاره هم هغه حیثیت لري کوم چې د نورو دریو واړو زامنو د اولاد دی، کله چې د نورو زامنو اولاد د نیکه په میراث کې حق دار نه دي. ځکه چې د هغه قریبي وراثان (زامن) موجود دي، نو د مرحوم زوی اولاد به هم وراثان نه وي.
که چیرې دا وویل شي که څلورم زوی د پلار د مرګ په وخت کې ژوندی وي، نو هغه ته به څلورمه برخه ملاویده، اوس هم هغه برخه به د هغه زامنو ته ورکول کیږي، نو دا غلطه ده چې د دې صورت کې هغه هلک ته کوم چې د پلار په ژوند کې وفات شوی دی. د پلار د مرګ نه مخکې وارث جوړ شو، حالانکې د عقل او شریعت په یو قانون کې هم د مرحوم د مرګ نه مخکې وراثت نه جاري کیږي.
غرض دا که چیرې د هغه لمسیو د کومو پلار چې وفات شوی دی، د لمسي کیدو له وجې ورته میراث ورکړل شي، نو دا به له دې وجې غلط وي چې لمسی هغه وخت کې وارث وي کوم وخت کې چې د مرحوم زوی نه وي، که نه، ټولو لمسیو ته میراث ملاویدل پکار دي او که چیرې هغوی ته د مرحوم پلار برخه ورکړل شي، نو دا له دې وجې غلطه ده چې د هغوی مرحوم پلار ته د مرګ نه مخکې خو برخه نه ده ملاوشوې، کومه چې د هغه بچیو ته ورکړل شي.
که چیرې دا وویل شي چې یتیمان لمسي، لمسی د رحم قابل دي، هغوی ته د نیکه د جایداد نه برخه ضرور ملاویدل پکار دي، نو دا جذباتي دلیل لومړی، خو له دې وجې غلط دی چې د میراث په تقسیم کې دا نه کتل کیږي چې څوک د رحم قابل دی او څوک نه؟ بلکې نږدې والي ته کتل کیږي، که نه، د یو مالدار سړي په مرګ باندې به د هغه مالداره بچي کله هم وارثان نه و، بلکې د هغه غریب ګاونډي بچیو ته به میراث ورکول کېده، ځکه چې هغوی د رحم قابل دي.
دې نه پرته که د جایتیمان لمسي د رحم قابل دي، نو شریعت هغوی ته اجازه ورکړې ده چې د هغوی له پاره د مال د دریمې برخې وصیت وکړي، دا سې هغه د هغوی د رحم قابل حالت مدد کولی شي. پورته ذکر شوي حالت کې به د هغوی پلار ته څلورمه برخه ملاویده، خو نیکه د وصیت په ذریعه باندې هغوی د دریمې برخې مالکان جوړ شو او که چیرې نیکه وصیت ونه کړ، نو د هغوی ترونو ته پکار دي چې د ښه سلوک په ذریعه باندې د خپل مرحوم وروربچي هم ځان سره برابرشریک کړي، خو که چیرې نیکه د وصیت کولو خیال نه و راغلی او هوس پرست ترونو کې رحم نه راغي، نو تاسو ووایئ! دې کې د شریعت څه قصور دی، چې یوازې د جذباتي دلیلونو له وجې د شریعت قانون بدل کړل شي؟ که شریعت د دې حکمونو نه وروسته هم هغو خلکو کې په یتیمانو لمسیو باندې رحم نه راغي او هغوی د غه ماشومان بې سهارا لیدل نه غواړي، نو هغوی ته پکار دي چې خپل جایداد د هغوی په نوم کړي، ځکه چې د شریعت له طرف

نه بې سهارا خلکو سره دښه سلوک کولوحکم دی او ددې نه دااندازه هم لګول کیدای شي چې
غه بې سهارا خلکو باندې خلک څومره خفه کیږي

شریعت لمسي د جایداد نه ولې محروم کړي اوهغه د زیات شفقت مستحق دي

سوال: د ۲، جنوري دجنګ اخبارپه اسلامي صفحه باندې (آپ کے مسائل اوران کاحل) کې یوه مسئله وه دمیراث باره و او تاسو دهغې جواب لیکلی و. دهغه مطلب دادی که چیرې یوکس د پلاردمرګ نه مخکې مړشي، نودهغه دپلارله وفات نه وروسته جایداد کې دهغه داولادهیڅ برخه نه شته داخوبې شکه داسلامي شریعت فیصله ده اواسلام هغه واحد مذهب دی په کوم کې چې دانسان دژوند دټولومسئلوحل موجوددی اوکوم ښائست اوخوبي سره اسلام دټولومسئلوحل وړاندې کړی دی. ددنیابل نظام داسې مثال نه شي وړاندې کولی داسلام ټول حکمونه په خپل ځان کې څه نا څه مصلحت لري، چې هغه اکثردعام انسان په عقل کې نه راځي او دصحیح علم دکمي له وجې انسان ته دعقل نه خلاف ښکاري. ذکرشوې مسئله هم داسې ده، چې موږانسانانوته دعقل خلاف ښکاري، اوداخبره په ښکاره باندې انصاف خلاف ښکاري چې دغه بې سهار بچي همدغه شان بې سهارا پاتې شي، هغوی دخپل موروپلار دحق نه محروم شي اوبل طرف ته اسلام دیتیمانودهرقسمه مددکولوترغیب کوي، مهرباني وکړئ اوتفصیل سره ددې مسئلې وضاحت وکړئ چې زماپه شان دنوروډیروخلکوپه ذهن کې داخبره اوړې راوړې چې صفاشي

جواب: دکوم کس چې خپل زامن موجودوي. دهغه میراث به هم دهغه زامنو ته ملاویږي. دزوی په موجودګي کې لمسی شرعي ډول باندې وارث نه دی[۱]. که چیرې دنیکه خپلو لمسیو سره مینه وي اوهغه دا غواړي چې دهغه په جایدادکې دهغه یتیمان لمسي هم شریک شي، نودهغه له پاره شریعت دوه طریقې ښودلې دي

لومړی داچې دمرګ انتظاردې نه کوي، بلکې دصحت په حالت کې دهغوی برخه دهغوی په نوم کړي څومره چې هغوی ته ورکول پکاردي اوپه خپل ژوندکې دې هغوی ته قبضه هم ورکړي[۲]

دویمه طریقه داده چې هغه دې مرګ نه مخکې دخپل یتیمانولمسیوپه حق کې دجایداد ددریمې برخې وصیت وکړي، چې دومره برخه دې دهغه دمرګ نه وروسته هغوی ته ورکړل شي[۳]

---

[۱] فالأقرب العصبات الابن ثم ابن الابن..... الخ. (فتاوي عالمگيرى/٦/ ٤٥١/ كتاب الفرائض/ الباب الثالث)

[۲] الهبة عقد مشروع. ..... وتصح بالايجاب والقبول والقبض. ..... والقبض لا بد منه لثبوت الملك (هداية ۳/ ۲۸۱/ كتاب الهبة)_

[۳] الوصية غير واجبة وهي مستحبة. ..... ولا تجوز بما زاد على الثلث . [بقيه حاشيه په راروانه صفحه

فرض کړئ که چیرې دیوسړي په پنځوزامنوکې یوزوی دهغه په ژوندکې مړشي. نیکه دخپل مرحوم زوی داولاد له پاره په جایدادکې ددریمې برخې وصیت کولی شي اوکه چیرې دهغوی پلار ژوندی وي، نوهغه ته به دخپل پلاریه جایدادکې پنځمه برخه ملاویده. کومه به چې دهغه اولادته منتقل کیده، اوس دوصیت په ذریعه باندې دپنځمې برخې په ځای باندې نیکه هغوی ته دریمه برخه ورکولی شي اوکه نیکه په خپلولمسیوباندې دومره شفقت هم نه شي کولی چې هغه هغوی ته په خپل ژوندکې څه ورکړي یادمرګ نه وروسته دورکولووصیت وکړي. نوانصاف وکړئ! دې کې قصور دچادی؟ دنیکه که دشریعت؟

د مرحوم زوی جایداد به څنګه تقسیمیږي؟ او د لمسیو د پالنې حق د چا دی؟

سوال: زماځوان زوی تقریبا څلویښت کاله عمرکې وفات شوی دی، دحکومت له طرف نه دنوکرۍ تقریبا درې لکه روپۍ ملاوشوې دي، تقریبا داتیا زرو روپیو بانډونه اوتقریبا د پنځلسو زرو روپیو ګینې کومه چې دهلک موردهغه ښځې ته ورکړې و، پاتې نور اخوادیخوا شیان یې پرینښودل، دمړي په وارثانوکې دهغه موروپلار، یوه کونډه اودرې بچې یعنې یوه اینجلۍ اودوه هلکان چې هغوی نابالغه دي اوتعلیم حاصلوي، ددوی نه پرته دمرحوم درې خویندې او څلور وروڼه دمرګ په وخت کې موجودو، کونډه دا اصرارکوي چې هغې ته دپنشن اونوکرۍ وغیره ټولې پیسې اوټول سامان دهغې جهیز اود دواړوطرفوکالوسره ملاوشي اوبچې هم دځان سره ساتل غواړي، وایي چې زه کونډه شوې یم، طلاقه شوې نه یم، مولاناصاحب! زه خپلو لمسیوپسې ډیرخفه یم، خوکه سباچیرې ټول مال اخیستونه وروسته لمسي ماته واپس کړي، نوزه څه کولی شم، اوماسره به څوک وي؟ ماورته ډیر وویل چې ددواړوطرفونه دقوم څه سړي راولئ، دهغوی په مخکې به فیصله وکړو چې بچې به مستقل ډول باندې چاسره وي؟ خونه یې مني اوخپل وروڼه روزانه دجګړې له پاره راولي، مهرباني وکړئ جواب راکړئ چې هغې ته یې هم وښایم.

جواب: ستاسو دمرحوم زوی میراث به په یوسل شل برخو تقسیم شي، هغه کې پنځلس برخې دکونډې دي، شل برخې دموراوشل برخې دپلاردي، شپږویشت شپږویشت برخې ددواړو هلکانو او دیارلس برخې داینجلۍ دي، له دې وجې دمرحوم دکونډې دعوه غلطه ده. چې دمرحوم ټول میراث دې هغې ته حواله شي،[1] د میراث د تقسیم نقشه داده

بقیه د تیرمخ]. لقوله علیه السلام. . . . . . . الثلث والثلث کثیر. (هدایة/ ٤/ ٦٥١/ کتاب الوصایا)_

[1]]واما للزوجات فحالتان. . . . . والثمن مع الولد او ولد الابن وان سفل. (سراجی/٧ / باب معرفة الفروض). اما الاب فله احوال ثلاث. . . . . السدس وذالك مع الابن وابن الابن وان سفل سراجی، باب معرفة الفروض، اما الام فاحوال مع الولد وولد الابن. . . . الخ. (سراجی/ ١١). واما لبنات الصلب. . . . . . . ومع الابن للذکر مثل حظ الانثیین وهو یعصبهن. (سراجی/ ٨)_

کونډه	مور	پلار	زوی	زوی	لور
۱۵	۲۰	۲۰	۲۶	۲۶	۱۳

۲. د ماشومانو د خوراک څښاک ذمه داري د نیکه ده[۱] او د هغوی د مال حفاظت هم د هغه ذمه داري ده. نو د بچیو مال حفاظت به نیکه کوي، د بچیو د مور د ي سره هیڅ حق نه شته.[۲]
۳. هلکان به د اووه کالو پورې مور سره اوسیږي، د اووه کالونه وروسته د هغوی د پالنې ذمه د نیکه ده او انجلۍ به د بیغلتوب پورې مور سره اوسیږي او د هغې نه وروسته به نیکه سره وي.[۳]

د نیکه د وصیت باوجود لمسي له میراثه محروموول

سوال: زما پلار صاحب د پیر مخکې وفات شوی دی او نیکه مې وروسته وفات شوی دی، کومه ځکه چې زما نیکه د مرګ نه مخکې زما پلار ته ورکړې وه، هغه هم هغه ځای او کورکې وفات شو کله چې زما پلار وفات شو، نو یو څو کاله وروسته زما نیکه هم وفات شو، خو نیکه مې د وفات کیدو نه مخکې خپلو زامنو ته ویلي و چې زما لمسیو ته به تاسو ټول انتقال وکړئ او هغوی به هم دې ځای کې اوسیدو ته پرېږدئ او د وی سره ښه سلوک کوئ، دا ټولې خبرې زباني ډول باندې زمانیکه هغوی ته کړې وې او هغه وفات شو. یعنې نیکه، د هغه د مرګ نه وروسته زما ترونو انتقال په خپل نوم باندې وکړ، اوس زما تره زوی زما خلاف په عدالت کې کیس کړی دی چې ستاسو انتقال نه شته او تاسو د دې ځمکې وارثان نه یئ، هغه وایي چې ستاسو پلار مخکې وفات شوی دی او نیکه وروسته، اوس زما تره زامن داسې وایي، نو تاسو ته عرض دی چې ایا زه د دغې ځمکې وارث کیدای شم او که نه؟ زما په نوم باندې د انتقال تقریبا څلیریشت یا پنځویشت کاله شوي دي، اوس زه د دغه ځای کې اوسیدی شم کوم چې زما د نیکه او پلار کور دی.

جواب: کومې خبرې چې تاسو بیان کړي دي که چیرې هغه صحیح وي، نو تاسو د خپل نیکه د جایداد مستحق یئ، ځکه چې نیکه ستاسو په حق کې وصیت کړی دی، ستاسو کیس په عدالت کې دی، نو عدالت به ستاسو د کیس معلومات وکړئ او صحیح فیصله به وکړي.

---

[۱] [ولو وجد معها جد لأب بان كان للفقير ام وجد لاب واخ عصبي. . . . . . كانت النفقة على الجد وحده كما صرح به في الخانية، ووجه ذلك: ان الجد يحجب الأخ. . . . . الخ. (فتاوىٰ شامي/ ۳/ ٦۲۵/ كتاب الطلاق/ باب النفقة مطلب في حصر احكام نفقة الاصول. . . . . . الخ. طبع ايچ ايم سعيد)_

[۲] [ايضاً)_

[۳] [والام والجدة احق بالغلام حتى يستغني وقدر بسبع سنين. . . . . والام والجدة احق بالجارية حتى تحيض. . . . . وبعد ما استغنى الغلام وبلغت الجارية فالعصبة اولىٰ يقدم الاقرب فالأقرب كذا في فتاوىٰ قاضيخان. (الهندية/ ۱/ ۵٤۲/ كتاب الطلاق/ الباب السادس عشر في الحضانة/ طبع رشيديه كوئته)_

کله چې نیکه وصیت کړی وي، لمسي د نیکه د جایداد نه محرومول جائز نه دي

سوال: ایا د نیکه په جایداد کې د لمسي حق نه وي؟ زما دوه ترونه دي، هغوی وایي چې ستاسو پلار، د پلار په ژوند کې مړشوی دی، نو اوس ستاسو په جایداد کې قانوني او شرعي ډول باندې حق نه شته، او زمانیکه په استامپ باندې د دواړو زامنو برابر لمسي ته بخشش لیکلی و، مهرباني وکړئ او تاسو د شریعت په رڼا کې ووایئ چې دا خبره تر کوم حده صحیح ده او د کوم حد پورې غلطه؟

جواب: که چیرې ستاسو نیکه تاسو ته هم د دواړو ترونو برابر درکړې ده، نو د ریمه برخه جایداد شرعي ډول باندې ستاسو دی[1]، ستاسو ترونه غلط وایي.

د نیکه ناجائز جایداد د لمسیو له پاره هم جائز نه دی

سوال: زموږ نیکه چې کوم میراث زموږ له پاره پریښی دی، د امیراث د هغه جائز ملکیت نه و، بلکې د ځمکې یوه برخه یې د یتیمانو ماشومانو نه غصب کړې ده او کومه برخه چې د هغه جائز ملکیت وه هغه یې خرڅه کړې ده، (پیسې اخیستو باندې) هم د دغې خرڅې شوې ځمکې څه برخه د مال د محکمې په کاغذونو کې د مخکې مالک په نوم وه، د اسې خو یا د مال د محکمې د غلطۍ له وجې شوي و یا یې پخپله باندې کړي و، اووه کاله مقدمې کولو باندې دا واپس واخیستل شوه. د ځمکې دا دواړه برخې د زامنو نه وروسته لمسي استعمالوي، ایا د اسلام او شریعت په نزد باندې دا ځمکه زموږ له پاره جائز او حلال ده؟ جواب بیان کړئ.

جواب: د کوم جایداد باره کې یقین دی چې هغه د یتیمانو نه غصب شوی دی، هغه نه ستاسو د نیکه له پاره حلال و، نه د هغه د زامنو له پاره او نه د لمسیو له پاره، د دې جایداد خوړل د قراني الفاظو په نزد باندې خیټې ته اور اچول دي، نو دا جایداد چې د چا دی هغوی ته یې واپس کړئ![2]

---

[1] وعن عامر بن سعد عن ابيه رضى الله عنه قال: مرضت عام الفتح حتى اشفيت على الموت فعادنى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقلت: اى رسول الله ان لى مالاً كثيراً، وليس يرثنى الا ابنة لي، افأتصدق بثلثى مالي؟ قال: لا! قلت: فالشطر؟ قال: لا! قلت: فالثلث؟ قال: الثلث والثلث كثير، ان تذر ورثتك اغنياء خير من ان تذرهم عالة يتكففون الناس. (سنن ابن ماجة، واللفظ له/ ١٩٤/١/ ابواب الوصايا/ سنن ابى داؤد/ ج ٢/ ٣٩٥/ كتاب الوصايا). ولا تجوز الوصية بما زاد على الثلث لقوله عليه السلام. . . . . الثلث والثلث كثير. (هداية/ ٤/ ٦٥١/ كتاب الوصايا)_

[2] قال تعالي: ان الذين يأكلون اموال اليتمٰى ظلماً يأكلون فى بطونهم ناراً وسيصلون سعيراً. (النساء: ١٠)_

د جايداد په تقسيم کې د نياوي قوانين

سوال: زما پلار محمد اسماعيل مرحوم د مربع نمبر (۲۳) د نيمې برخې مالک و. د هغه په اولاد کې موږ دوه خويندې او درې وروڼه يو. يو ورور عبدالرحيم په (۱۹۴۹) کې او بل ورور عبدالمجيد په (۱۹۶۲) کې وفات شو (۱۹۷۲) کې پلار صاحب موهم وفات شو. هغه وخت کې موږ دوه خويندې هاجره بي بي او زبيده بي بي او يوه عبدالرحمن ژوندي وو د مرحوم ورور عبدالمجيد پنځه لوڼه دي. هغوی کې څلور واده شوې دي. د پلار له وفات نه وروسته وارثانو د پورته ذکر شوي جايداد داسې تقسيم کړ چې عبدالرحمن زوی ته په (۵:۹) زبيده بي بي، هاجره بي بي لوڼه (۲۷:۱۰) برخه او پنځه لمسي (۲:۹) او بيا پنځه لمسی (۱:۳) برخه. عبدالمجيد په (۱۹۶۲) کې د پلار په ژوند کې مړ شوی و. له دې وجې جايداد د هغه نوم ته نه و منتقل شوی، ايا جايداد کې د ميراث د اسلامي قانون مطابق لمسي برخه دار کيدای شي؟ که چيرې د نيکه په جايداد کې لمسي د اسلامي قانون مطابق برخه دار کيدای شي. نو صحيح ووايئ چې اوسه پورې زموږ خبره چاولې نه ده اوريدلې؟ ايا متعلقه خلک چې څه کول غواړي هغه دې کوي او څوک پوښتنه کولو والانه شته. دې باره کې د صدر صاحب په خدمت کې يو درخواست وليږو. خو زماتول درخواستونه د ردې ټوکرۍ ته وغورځول شول. دې نه وروسته مو د صدر صاحب په خدمت کې تار وليږلو. خو صدر صاحب هغه هم د څه حيثيت ونه ګڼل د پنجاب د ګورنر په خدمت کې موهم درخواستونه وليږل، د دې هر څه کولو باوجود څوک هم د څه کولوله پاره تيار نه دي، د دومره فرياد کولو نه وروسته هم د اقتدار يو مالک هم د خپل ځای نه حرکت قدرې نه کوي، نو زه داګنم چې د دې ملک کې اسلامي قانون دی او يو عام انسان به ترڅو پورې د بادشاهانو له وجې پريشانه وي. اخر کې د صدر مملکت او چيف مارشل لاء ايډمنسټريټر صاحب په خدمت کې ستاسو د اخبار په ذريعه باندې داخواست کول غواړم که چيرې د ميراث د اسلامي قانون مطابق لمسي په جايداد کې برخه دار کيدای شي. نو ماته کم نه کم جواب خو راکړئ کنه، نو بيا پورته ذکر شوي جايداد په موږ دوه خويندو او يو ورور کې د برابر تقسيمولو حکم راکړئ او د متعلقه کسانو خلاف هم سخته قانوني کاروايي وکړئ، چې بيا چاته هم د اسلامي قانون پورې د خندا کولو جرات ونه شي.

جواب: شرعي ډول باندې به ستاسو د پلار جايداد په څلورو برخو تقسيميږي. دوه برخې به د هلک وي او يوه يوه برخه د دواړو اينجليو[1]. لمسي د خپل نيکه شرعي ډول باندې وارثان نه دي[2] پاکستان کې د ميراث قانون، د شريعت د قانون مطابق نه دی. بلکې د ايوب خان د

---

[1] واما لبنات الصلب فاحوال.........ومع الابن للذكر مثل حظ الأنثيين وهو يعصبهن. (سراجی/ ۸)_

[2] ځکه چه دا ذوی الارحام دی. او د عصبه په موجودګۍ کښې دوی ته حصه نه ملاويږی. باب ذوی الارحام،ذو الرحم هو كل قريب ليس بذى سهم ولا عصبة.(سراجی/ ۳۴)....[بقيه حاشيه په راروانه صفحه

شریعت د قانون مطابق دی، ستاسو د پلار مرحوم د جایداد انتقال هم د دې ایوبې شریعت مطابق شوی دی. د میراث د تقسیم نقشه داده

لور	لور	زوی
۱	۱	۲

که د پلار د میراث تقسیمولو نه مخکې لور وفات شوه، نو هغې ته برخه رسیږي؟

سوال: څلور ورونه خویندې د پلار د میراث وارثان دي. د څلورو وارو ودونه شوي دي. د میراث تقسیم پاتې و. چې یوه خور مړه شوه، مرحومه به د مورو پلار په میراث کې څومره حق داره وي؟

جواب: تاسو دانه دي لیکلي چې څومره ورونه او څومره خویندې یئ، په هر حال د ورور برخه د خور د برخې نه دوه چنده وي.[1]

سوال: د هغې بچي او خاوند د هغې د برخې د جایداد (کینې او نغدو پیسو) جائز وارثان دي او که نه؟

جواب: کومه خور چې د مور پلار د مرګ نه وروسته مړه شوې ده، هغه هم د مور پلار د میراث شرعي ډول باندې وارثه ده او د هغې برخه به د هغې خاوند او اولاد کې تقسیمیږي.

د مرحوم میراث به خور، لونړاو لمسیو کې څنګه تقسیمیږي؟

سوال: زمونږ ماما مرحوم تیر کال وفات شو او د هغه نه ډیر جایداد پاتې شو، یعنې دوه کورونه چې د هغه قیمت تقریبا دوه لکه روپی جوړیږي) دې نه پرته یې یو هوټل یې هم پریښی دی چې د هغه قیمت تقریبا د دولس لکو رپیو نه پنځلس لکه پورې دی. اوس صورت حال دادی چې اوسه پورې ناسي څه تحریري ثبوت نه دی ملاوشوی چې هغه دغه جایداد په خپل اولاد کې تقسیم کړی وي. د هغه څلور لونړه او یو زوی یې و، چې هغه د هغه په ژوند کې مړشوي دي د هغه یو زوی او یو لور ژوندي دي د وارو ودونه کړي دي (یعنې لمسی او لمسۍ) او څلور لونړه. خو اوس دا معلومول دي چې څلور وارو لونړو څه قانوني چکر سره هغه ټول جایداد په خپل نوم کړي دي، ایا داخبره قانوني او شرعي لحاظ سره جائز ده؟ یا داچې دې جایداد کې د نورو وارثانو حق هم جوړیږي؟ او زمونږ مور چې هغه یې خورده او ورسره نژدې رشته ده، نو ټول مړه شوي دي معلومول دادي چې شرعي ډول باندې زمونږ مور یعنې د ماما خورته شریعت څه برخه یا حق

بقیه د تیرمخ]. . باب توریث ذوی الارحام هو کل قریب لیس بذی سهم ولا عصبة فهو قسم ثالث حینئذ، ولا یرث مع ذی سهم ولا عصبة سوی الزوجین. . . . . الخ. (الدرالمختار علی هامش الطحطاوی/ ٤/ ٣٩٦). والصنف الثالث ینتمی الی ابوی المیت وهم اولاد الأخوات وبناة الاخوة. . . . . . الخ. (سراجی/ ٣٥/ باب ذوی الارحام)_

[1] واما لبنات الصلب فاحوال.........ومع الابن للذكر مثل حظ الأنثيين وهو يعصبهن. (سراجی/ ٨)_

ورکوي؟ او ټول جایداد دماما خپل ملکیت و، یعنې هغه ورته وراثت کې نه و ملاوشوي، داسې دلمسي او دلمسۍ څه حق جوړیږي؟اوکه جوړیږي، نوڅومره جوړیږي؟

جواب: ستاسو دماما جایداد به په اتلسو برخوکې تقسیمیږي، درې درې برخې به څلورو واړو لوڼو ته اودرې برخې دخور (یعنې ستاسو دمور) اودوه برخې دلمسي اویوه برخه به لمسۍ ته ملاویږي[1] نقشیه د تقسیم داده:

لور	لور	لور	لور	خور	لمسی	لمسۍ
۳	۳	۳	۳	۳	۲	۱

د پلار له مرګ نه دمخکې مړشوي زوی د پلار په جایداد کې هیڅ برخه نه شته

سوال: موږ څلور وروڼه یو، زموږ مور وپلار ژوندي دي، زمانه دوه مشران وروڼه دي، دټولونه مشر ورورته مو پلار یوکورجوړکړ اودهغه واده یې وکړ، موږ درې وروڼه یوزمانه مشر او یو کشر دپلارپه کور کې اوسیږو، زمانه مشرورور دنن نه لس کاله مخکې وفات شو اودهغه ښځه اوپنځه بچي پنځوکالو پورې موپلار وساتل اودهغه نه وروسته یې دهغې کونډې نکاح دټولونه مشر ورورسره وکړه، دنکاح نه وروسته دمرحوم ورور بچي یې هم ځان سره کورته بوتلل اود مرحوم ټول سامان یې خپل کورته یوړو اودنکاح نه وروسته زموږ دمشرورور دمورو پلار سره خفګان راغلی اوموږ ته یې تلل راتلل بندکړل اودشپږکالو راهیسې هغه زموږ کوریعنې مور وپلار سره ملاویدوته نه دی راغلی اونه د مرحوم ورور بچي، هغوی ځوانان شول، هغوی هم ملاویدوته نه راځي، یعنې بالکل یې تلل راتلل بند کړي دي اوټوله غلطي هم دمشر ورور ده، اوس مشرورور وایي چې موږته دمرحوم ورورپه کور کې برخه راکړئ اوپلارصاحب موژوندی دی هغه دکارکولو قابل نه دی، هغه کور زموږ دوو وروڼو په نوم کړی دی اوموږ دواړو وروڼوهم ودونه کړي دي اومورو پلار موږسره اوسیږي، نو تاسو دقران اوسنت په رڼاکې فیصله وکړئ چې پلارته دې کورکې مشرورورته برخه ورکول پکار دي اوکه نه؟ تاسو دافیصله وکړئ چې زموږ زړه ته سکون ملاوشي.

جواب: ستاسو مشرورورکوم چې دپلارپه ژوندکې مړشوی دی، دهغه دپلارپه جایدادکې هیڅ برخه نه شته.

---

[1] قال تعالى: فان کن نساء فوق اثنتين فلهن ثلثا ماترک. (النساء: ١١). قال فی السراجي: واما للأخوات لأب وام فاحوال خمس. . . . . ولهن الباقي مع البنات او بنات الابن لقوله عليه السلام اجعلوا الأخوات مع الأخوات العصبة. (ص: ١٠، ١١). وبنات الابن کبنات الصلب، ولهن احوال ست......ولا يرثن مع الصلبيتين الا ان يکون بحذائهن او اسفل منهن غلام فيعصبهن والباقي بينهم للذکر مثل حظ الانثيين. (سراجی/ ٨/ باب معرفة الفروض)_

د زامنو، لونړاو لمسيو په مينځ کې د ميراث تقسيم

سوال: زماپلارسره څه ځمکه او يوکوردی، خوزما پلارمړشوی دی. هغه په خپل اولادکې دړې زامن اودرې واده شوې لوڼه پريښې دي اوهغوی ژوندي دي، څلورم زوی پنځه کاله مخکې مړشوی دی، دهغه په اولادکې څلور زامن اويوه لور ده، يعنې زما د ورور اولاد (زما دنيکه لمسي)، مورمودپلارپه ژوندکې مړه شوې وه، اوس به ميراث څنګه تقسيمېږي؟

جواب: که چيرې ستاسوپلارددې لمسيوپه حق کې، دکوموپلارچې مخکې مړشوی و، څه وصيت کړی وي، نوهغه وصيت پوره کړئ[1] او که ستاسوپلارڅه وصيت نه وي کړی، نوداخلاق او مروت تقاضا داده چې تاسودخپل مرحوم وروربچيوته هم برابربرخه ورکړئ[2]. شرعي ډول باندې دا تاسو باندې واجب نه ده، ستاسودپلارجايداد به په نهو برخو باندې تقسيمېږي، دوه برخې دزامنو او يوه يوه برخه دلورانو ده،[3] د ميراث د تقسيم نقشه داده:

زوی	زوی	زوی	لور	لور	لور
۲	۲	۲	۱	۱	۱

د تجهيز، تکفين اوفاتحې خرچې له ترکې نه بيلول

سوال: د تجهيز، تکفين او فاتحې اوداسې نورې.... خرچې د ترکې نه بيلولی شي او که نه؟

جواب: د تجهيز، تکفين خرچې خو به د مړي د مال نه شميرل کيږي او د فاتحې اوداسې نورې... خرچې به هروارث به د خپل مال نه کوي، که چيرې د محروم بچي نابالغه وي، نو ددې د برخې نه خيرات کول هم ناجائز دي او ددې خوراک هم.[4]

د مرحومې جايداد به وارثا نوکې څنګه تقسيمېږي؟

سوال: دمرحومې په اولادکې درې زامن اودرې لوڼه دي، يوزوی دهغې په موجوديت کې وفات شوی و اودبل زوی دهغې دمرګ نه وروسته مړشو، ددواړوکونډې اوبچي موجوددي، دې وخت کې درې واده شوې لوڼه اويوزوی ژوندي دي، دمرحومې جايداد به څنګه تقسيمېږي؟

---

[1]]تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة......ثم تنفذ وصاياه من ثلث ما بقى بعد الدين...الخ. (سراجى/ ۳)

[2]]قال تعالى:واذا حضر القسمة اولوا القربٰى واليتٰمٰى والمسٰكين فارزقوهم منه وقولوا لهم قولاً معروفاً. (النساء: ۸)

[3]]واذا اختلط البنون والبنات عصب البنون البنات فيكون للابن مثل حظ الأنثيين.(فتاوىٰ عالمگيرى/ ٦/ ٤٤٨)

[4]] كفن الوارث او ِقضٰى دينه من مال نفسه فانه يرجع ولا يكون متطوعاً. (الدرالمختار/ ٦/ ٧١٧/ كتاب الوصايا/ طبع سعيد). قال علمائنا رحمهم الله تعالي: تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة: الأول يبدأ بتكفينه وتجهيزه من غير تبذير ولا تقتير، ثم تقضٰى ديونه من جميع ما بقى من ماله، ثم تنفذ وصاياه من ثلث ما بقى بعد الدين، ثم يقسم الباقى بين ورثته. . . . . . الخ. (السراجى فى الميراث: ۲، ۳ / طبع سعيد).

جواب: د مرحومې میراث به د قرض اداکولو او د مال د دریمې برخې پورې د وصیت پوره کولو نه وروسته[1] په اووه برخوکې تقسیم شي، دوه دوه برخې به هغه دوه زامنو وي کوم چې د مور د مرګ په وخت کې ژوندي و او یوه یوه برخه درې واړو لوڼو ته

کوم زوی چې د مرحومې د مرګ نه وروسته مړشوی دی د هغه برخه به د هغه په بچیو او ښځې باندې تقسیمیږي اوکوم زوی چې د مرحومې د مرګ نه مخکې مړشوی دی د هغه د وارثانو له پاره د مرحومې په میراث کې هیڅ برخه نه شته اوکه چیرې مرحومې د هغوی باره کې څه وصیت کړی وي، نوهغوی ته به د وصیت مطابق ورکول کیږي[2] د میراث د تقسیم نقشه داده

زوی	زوی	لور	لور	لور
۲	۲	۱	۱	۱

د مرحومې میراث به لوڼو او لمسیو کې څنګه تقسیمیږي؟

سوال: زامن د مور له مرګ نه څوارلس کاله مخکې مړه شوي دي، خو لمسي او لمسۍ یې ژوندي دي، د مور لوڼه هم شته، ایا مور د مرګ نه وروسته د هغې لوڼه اولمسي د مور د ذاتي ملکیت برابر حق داردي؟ ویل کیږي چې لمسي لمسۍ اسلامي قانون مطابق حق دارنه وي.خو د ایوبي دور مطابق د څه اردي ننس په نزد باندې حق داردي، مهرباني وکړئ د دې وضاحت وکړئ.

جواب: په ذکرشوي صورت کې د مور د میراث دوه برخې به لوڼو ته ملاویږي او دریمه برخه به د هغې لمسي لمسۍ ته، د هلک برخه به د اینجلۍ دوه چنده وي[3] دافقیرخو د الله تعالی په نازل شوي شریعت باندې ایمان لري، د جنرل خان په شریعت باندې نه، څوک چې خپل قبرد اورنه ډکول غواړي او خپل اخرت تباه کول غواړي هغوی دې د ایوب خان په شریعت باندې عمل وکړي.

د مرحوم له مرګ نه دمخکې وفات شوې لوڼو په میراث کې حق نه شته

سوال: یو خاندان کې د مور و پلار د مرګ نه مخکې دوه واده شوې لوڼه وفات شوې او د هغوی بچي هم و، د هغوی د مرګ نه وروسته مور و پلار هم وفات شول او جایداد باقي وارثان وایي چې کوم خلک مخکې مړه شوي دي د هغوی هیڅ حق نه شته، تاسو ته خواست دی چې د قران اوسنت مطابق ووایئ چې شریعت د دې باره کې څه وایي؟ کومې لوڼه چې د مور و پلار له وفات نه مخکې مړې شوې وې د هغوی په میراث کې حق جوړیږي اوکه نه؟

جواب: شرعي ډول باندې یوازې هغه زامن او لوڼه وارثان وي کوم چې د مور و پلار له وفات په

---

[1] تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة......ثم تنفذ وصاياه من ثلث ما بقى بعد الدين...الخ. (سراجى/ ۳)

[2] واذا اختلط البنون والبنات عصب البنون البنات فيكون للابن مثل حظ الأنثيين.(فتاوىٰ عالمگیری/ ۶/ ٤٤٨)

[3] وبنات الابن كبنات الصلب. . . . . . . و لا يرثن مع الصلبيتين الا ان يكون بحذائهن او اسفل منهن غلام فيعصبهن والباقي بينهم للذكر مثل حظ الانثيين. (سراجى/ ۸/ باب معرفة الفروض)_

وخت کې ژوندي وي، کومې لونه چې د موروپلار د مرګ نه مخکې مړې شوې دي هغه وارثانې نه دي او نه د هغوی د اولاد برخه شته [۱]

د پلار نه مخکې مړې شوې لور په میراث کې برخه نه شته

سوال: زما دنیکه درې لونه او پنځه زامن دي، زما مور زما د نیکه په ژوند کې وفات شوې وه. اوس مې نه نیاشته او نه نیکه، د نیکه مې یو کور و، چې هغه تقریبا د درې لکو روپیو دی. زه دخپلې مور یوزوی یم، ایا د نیکه په جایداد کې زما هم برخه شته؟ که شته، نو څومره ده؟ دې وخت کې د میراث حق داران پنځه زامن او دوه لونه دي او زما مور د وخت کې د دنیا کې نه شته

جواب: ستاسو د نیکه دوفات په وخت کې چې کوم وارثان ژوندي وو، یوازې هغوی ته به برخه ملاویږي، ستاسو مور ستاسو د نیکه د مرګ نه مخکې مړه شوې ده، له دې وجې ستاسو د مور برخه نه شته. [۲]

د لمسي او لمسی په میراث کې برخه

سوال: زما د مور د مرګ درې نیمې میاشتې وشوې، هغې سره د سرو زرو دوه کړې او یو د غاړې هار و. هغې په خپل ژوند کې ویلي و چې بټن (کوم چې تقریبا دوه نیمې تولې دی) زما د زوی یعنې ماته دې راکړل شي، زه یو ورور یم او زما څلور خویندې دي هغوی کې دوه زما د مور د مرګ نه مخکې مړې شوې دي، د دوارو یو یو بچی دی، دلاس د کړو باره کې هغې ویلي و، چې څلور وارو کې به برابر تقسیم شي، یعنې د دوارلونو او یو لمسي او لمسی. تاسو د شریعت مطابق ووایئ چې د هغې وصیت هم هغه شان پوره کړم؟ کومې دواړه خویندې چې ژوندی دي، هغوی سره به زیاتی خونه وي، هغوی کې کشری خور طلاقه شوې ده او اوس ماسره اوسیږي

جواب: لمسي او لمسی ستاسو د مرحومې مور په میراث کې وارثان نه دي، نو د هغوی باره کې چې کوم وصیت شوی دی هغه پوره کړئ، یعنې دلاس یوه کړه هغوی دواړو کې تقسیم کړئ. ستا او ستا د خویندو باره کې چې کوم وصیت دی هغه صحیح نه دی، ځکه چې د وارث په حق کې وصیت نه وي، [۳] نو ستاسو مور چې کوم میراث پریښی دی، (که چیرې د هغې په ذمه باندې څه قرض وي، نو د هغه د ادا کولو او کوم وصیت چې هغې کړی و د هغه د پوره کولو نه وروسته) به په څلور برخو تقسیم شي، دوه برخې ستا او یو یوه برخه به د دواړو خویندو شي، بیا که چیرې ورونه خویندې د مور په هدایت باندې خوشالي سره عمل کول غواړي، نو دې کې څه بده خبره

---

[۱] وکان میراثهما ممن بقی من ورثتهما یرث کل واحد منهما ورثته من الأحیاء. (موطا امام مالک: ٦٦٧)_

[۲] ایضاً)_

[۳] ان الله قد اعطی کل ذی حق حقه فلا وصیة لوارث. (ترمذی/ ۲/ ۳۲/ ابواب الوصایا)_

نه شته[۱] د میراث د تقسیم نقشه داده:

زوی	لور	لور
۲	۱	۱

❖ په ژوند کې د جایداد تقسیم ❖

....

د میراث ټکرې ټکرې کېدو له ویرې په ژوند کې د میراث تقسیم

سوال: که چیرې د جایداد یو مالک چې د هغه وارثان د نیم درجن نه زیات وي او هغه کې څه وارثان غریبان او څه مالدار وي او د جایداد مالک خپل ملکیت د ټکرې ټکرې کېدو او ضائع کېدو له ویرې نه د خپل ملکیت پیسې شرعي ډول باندې خپل ژوند کې په ټولو وارثانو باندې تقسیم کړي او بیا هغه ملکیت د غریب یا مستحق نوم ته منتقل کړي، نو دې کې شرعي ډول باندې څه مسئلې پیدا کېدای شي؟

جواب: شریعت برخې مقررې کړې دي، که څوک غریب وي او که مالدار، هغه ته د هغه برخه ملاوېږي[۲]، که د نورو وارثانو په خوشالي باندې یو کس ته ډېر برخه ورکړه، نو دې کې څه بده خبره نه شته او که چیرې وارثان راضي نه وو، نو بیا جائزنه دي، دی به د مرګ نه وروسته پخپله باندې ټکرې ټکرې شي، ده د خپل ځان فکر کول پکار دي د جایداد نه.

بلبل نے آشیانہ چمن سے اٹھا لیا اس کی بلا سے بوم بسے یا ھما رہے!

د اولاد د مور و پلار په ژوند کې د میراث نه خپل حق غوښتل

سوال: اولاد زوی یا لور (خاص ډول باندې) شرعي لحاظ سره د خپل پلار نه د هغه په ژوند کې د هغه ملکیت یا جایداد کې د خپل حق غوښتلو حق داردي او که نه؟

جواب: میراث خو له مرګ نه وروسته تقسیمېږي[۳]، ژوند کې چې مور و پلار خپلو بچیو ته څه

---

[۱] [واذا اختلط البنون والبنات عصب البنون البنات فیکون للابن مثل حظ الأنثیین. (عالمگیری/ ٦/ ٤٤٨/ کتاب الفرائض/ طبع رشیدیه کوئته)_

[۲] [قال تعالي: للرجال نصیب مماترک الوالدان والأقربون وللنساء نصیب مما ترک الوالدان والأقربون مما قل منه او کثر نصیباً مفروضاً. الآیة. (النساء: ٧). ایضاً: معارف القرآن /٢ /٣١٤، وعن ابی امامة الباهلی قال: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول فی خطبة عام حجة الوداع: ان الله قد اعطی کل ذی حق حقه. . . . الخ. (جامع الترمذی / ٢/ ٣٢/ ابواب الوصایا). ایضاً: عن عمرو بن خارجة رضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم. . . . . . . قال: ان الله قسم لکل وارث نصیبه فلا یجوز لوارث وصیة. (ابن ماجة/ ١٩٤/ ابواب الوصایا/ طبع میر محمد)_

[۳] [اما بیان الوقت الذی یجری فیه الارث. . . . . . قال مشائخ بلخ: الارث...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

ورکړي هغه عطیه ده او ښکاره خبره ده چې عطیې ورکولو کې څوک نه شي مجبورولی

خپل ژوند کې چاته جایداد ورکول

سوال: ایا صحت مند سړی خپل جایداد چاته په خپله خوښه ورکولی شي؟

جواب: ورکولی یې شي، خوهغه ته دې قبضه هم ورکړي[1] او که چیرې د وارثانو د محرومولو نیت وي، نو بیا به ګناه ګاروي[2]

ژوند کې د زامنو او لوڼو حق څه تناسب سره ورکول پکاردي؟

سوال: یوسړی په خپل ژوندکې دخپل دولت نه څه برخه ویستله اوهغه دولت بندې څه جایداد خپل زامنو اولوڼوته کوم چې ټول واده شوي دي ورکړل اوهغه جایدادکې دوه برخې دهلکانو او یوه برخه داینجونو مقررکړه اوداییي وویل چې زه په خپل ژوند کې خپل میراث تقسیموم، له دې وجې دې جایدادکې دوه دوه برخې دهلکانو اودانجونو یوه یوه برخه ده. کومه چې دمیراث دتقسیمولو شرعي طریقه ده، کله چې جایداد لوڼو او زامنوته ورکړل شو. نو لوڼو پلارته وویل چې موږ ته معلومه ده، کله چې جایدادپه ژوندکې تقسیم کړل شي. نود هلکانو اوانجونو برخه برابره وي، ددې په جواب کې پلار وویل چې ماخوهرڅه تقسیم کړل. خو د لوڼو اصراردی چې زموږبرخه به هم دزامنوبرابروي،ځکه چې دهغوی مطابق شرعي ډول باندې دابندي ده که چیرې میراث په ژوند کې تقسیم شي، نوهغې کې دلوراودزوی برخه برابروي

جواب: که چیرې یوسړی په خپل ژوندکې خپل جایداد اولادکې تقسیمول غواړي، نودځینې امامانو په نزدهغه ته پکاردي چې دهلکانوبرخه ددوانجونو برابرکیږدي اودځینې امامانوپه نزد باندې مستحب دادي چې ټولوته برابرورکړي، خوکه چیرې هلکانوته یې دوه برخې اوانجونو ته یوه برخه ورکړه، نوبیاهم جائزدي، نوذکر شوي صورت کې دهغه سړي تقسیم

بقیه د تیرمخ].. یثبت بعد موت المورث. (البحر الرائق/ ۹/ ۳۶٤/ کتاب الفرائض/ طبع رشیدیه). وفی الدرالمختار: وهل ارث الحی من الحی ام من المیت ای قبیل الموت فی آخر جزء من اجزاء حیاته؟ المعتمد الثانی (وفی الشامیة) لان الترکة فی الاصطلاح: ما ترکه المیت من الأموال صافیاً عن تعلق حق الغیر بعین من الأحوال. (ردالمختار مع الدرالمختار/ ٦/ ٧٥٨، ٧٥٩)_

[1]]وفی الهندیة (٤: ٣٧٤): ومنها ان یکون الموهوب مقبوضاً حتی لا یثبت الملک للموهوب له قبل القبض. ایضاً: تنعقد الهبة بالایجاب والقبول وتتم بالقبض الکامل، لانها من التبرعات، والتبرع لا یتم الا بالقبض. (شرح المجلة لسلیم رستم باز/ ٤٦٢/ رقم المادة: ٨٣٧/ کتاب الهبة، طبع مکتبه حبیبه کوئته). ایضاً: وتتم الهبة بالقبض الکامل. (درمختار/ ٥/ ٦٩٢)_

[2] [عن انس قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة. (مشکوٰة/ ١/ ٢٦٦/ باب الوصایا/ طبع قدیمی کتب خانه)_

صحيح دى او دانجونو اصرار صحيح نه دى.[1]

په جايداد كې برخه

سوال: عرض دى چې زمونږ دپلارپه نامه يوكوردى، مونږ دوه ورونه او پنځه خويندې يو. درې كاله مخكې زمونږ پلار داكورد كشرى خورپه نامه كړى و، اوس مومشره خورسره دبچيوپه دغه كور كې اوسيږي، كله چې مكان جوړيده، نوپلارمې دمشرى خورنه درې لكه روپۍ قرض اخيستې وې دهغه كوردنيمې برخې كرايه اته زره روپۍ مې خورددووكالوراهيسې اخلې اوهم په هغه كوركې اوسيږي، اوس هغه وايي چې په ۱، ۲، ۱۹۹۹باندې به زما قرضه پوره شي. نوزه به دكورنه لاړه شمه، ټولې خويندې مې داغواړي چې ماته په كوركې برخه ملاونه شي، ځكه چې زه دتيرو پنځوكالوراهيسې په كراچۍ كې بيل اوسيږم، هركله چې زمونږ مكان په حيدرآباد كې دى، پلارمې يوازې دلوښوخبره اوري اومنې اوزمونږ نه اوري زه دپلارنافرمانه نه يم، هركله چې كورهم زماپه سرپرستې كې تيارشوى و، الله تعالى ته پته ده چې څه شوي دي ستاسونه پوښتنه داده چې زه دهغه مشر زوى يم، كه ماته په جايداد كې برخه رانه كړي، نوددې په باره كې څه حكم دى؟

جواب: كه هغوى داكورد خپلې كشرى لورپه نوم كړى وي، نودهغه شى و اوهغه خپلې كشرې لورته وركړ[2]، خو كه پرته دضرورت نه او پرته دڅه وجې نه هغوى داعمل كړى وي، نوهغه به ګناه ګاروي.[3]

---

[1] ولو وهب رجل شيئاً لأولاده فى الصحة واراد تفضيل البعض على البعض فى ذالک لا رواية فى الاصل عن اصحابنا وروى عن ابى حنيفة رحمه الله تعالىٰ انه لا بأس به اذا كان التفضيل لزيادة فضل له فى الدين، وان كانا سواء يكره، وروى المعلى عن ابى يوسف رحمه الله تعالى، انه لابأس به اذا لم يقصد به الاضرار، وان قصد به الاضرار سوى بينهم...الخ. (فتاويٰ عالمگيرى/ ٤ / ٣٩١/ كتاب الهبة/ الباب السادس). ايضاً: الافضل فى هبة الابن والبنت التثليث كالميراث وعند الثانى التنصيف وهو المختار. (الفتاويٰ البزازية على هامش الهندية/ ٦/ ٢٣٧/ كتاب الهبة) قال ابو جعفر: ينبغى للرجل ان يعدل بين اولاده فى العطايا: والعدل فى ذالک فى قول ابى يوسف رحمه الله تعالى التسوية بينهم، وفى قول محمد رحمه الله يجريهم على سبيل مواريثهم لو توفى. (شرح مختصر الطحاوى/ ٤/ ٢٤/ كتاب العطايا)۔

[2] رجل وهب فى صحته كل المال للولد جاز فى القضاء ويكون آثماً فيما صنع. (عالمگيرى/ ٤/ ٣٩١/ كتاب الهبة). الهبة عقد مشروع تصح بالايجاب والقبول والقبض. (هداية/ ٣/ ٦٥٧/ كتاب الهبة)۔

[3] عن انس رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة. (رواه ابن ماجة، مشكوٰة/ ١/ ٢٦٦/ باب الوصايا/ طبع قديمى)۔

که چیرې نیکه له مرګ نه وړاندې خپله برخه لمسیوته ورکړه، او هغوی قبضه هم کړه نو دا به د هغوی شي

سوال: زما د نیکه په اولاد کې دوه زامن دي او زمانیکه په ژوند کې خپله ځمکه په درې برخو باندې تقسيم کړه، يوه برخه يې زما پلار ته ورکړه، يوه برخه يې زما تره او يوه برخه يې د خپل ځان له پاره کينبوده، زما د والد صاحب انتقال وشو، نو زمونږ نیکه خپله برخه هم مونږ ته راکړه، کله چې زمونږ د والد صاحب د انتقال يو کال وشو، نو تره وويل چې په شريعت کې د ستاسو برخه نه جوړيږي او زمونږ نه يې زمونږ برخه هم اوکومه چې نيکه راکړې و هغه هم واخيستله، ياد دې وي چې دا ټول هرڅه زمونږ د نيکه له مرګ نه وروسته وشو، تاسو د قرآن او د حديث په رڼا کې ووايئ چې مونږ د دې جايداد وارثان يو او که نه؟

جواب: د ستاسو نيکه چې کومه برخه د پلار په ژوند کې حواله کړې وه هغه د ستا د پلار شوه، په ديکې د ستا د تره هيڅ حق نه شته. [1]

او د ستا د والد صاحب دانتقال نه وروسته چې کومه برخه نيکه تاسو ته درکړې وه، که چيرې په دې باندې يې تاسو ته قبضه هم درکړې وه، نو هغه هم د ستاسو ده (اګرچې په کاغذونو کې يې د ستاسو په نوم نه وي کړي) او که چيرې قبضه يې نه وي درکړې او يوازې په خولې سره يې ويلي وي چې دا برخه هم د ستاسو ده، نو بيا دا د ستاسو نه ده، بلکې دتره ده. [2] والله اعلم!

د هبې واپس کول صحيح نه دي

سوال: پلار د يو زوی نه پرته خپلو ټولو لوڼو او زامنو ته ودونه کړي وو اوچا ته چې يې واده نه دی کړی، دده له پاره په ټولو بچيو باندې چې کوم رقم خرچ شوي دي ددې نيمې يوه برخه يې دده په حق کې هبه کړو او دده ته يې حواله کړو، ايا دا دده شو؟ د پلار له وفات نه وروسته يې ترې نور وارثان اخيستی شي؟

جواب: چې کله هبه مکمله شوه، نوواپس اخيستل د وارثانو له پاره صحيح نه دي او دا به د هغه(موهوب له) شي [3]

---

[1] وينعقد الهبة بقوله وهبتُ ونحلت واعطيت لان الاول صريح فيه والثانى مستعمل فيه. . . . . . الخ. (الهداية: ۳/ ۲۸۲/ كتاب الهبة).

[2] الهبة عقد مشروع وتصح بالايجاب والقبول والقبض. (الهداية/ ۳/ ۲۸۲/ كتاب الهبة). يملك الموهوب له الموهوب بالقبض. (شرح المجلة/ ۱/ ٤٧۳/ طبع مكتبه حنفيه كوئته).

[3] ولا يتم حكم الهبة الا مقبوضة ويستوى فيه الأجنبى والوالد اذا كان بالغاً هٰكذا : فى المحيط. (عالمگيرى/ ٤/ ۲۷۷). تمليک الموهوب له الموهوب بالقبض. (شرح المجلة/ ۲/ ٤٧۳/ مكتبه حنفيه كوئته).

په ژوند باندې لونو او زامنو کې جایداد برابر تقسیمول

سوال: جناب محترم! زموږ یو پیژند ګلوچې هغه دین دارهم دی، د هغه درې زامن او درې لونه دي او ټول واده شوي دي، د هغه صاحب دا اراده ده چې هغه خپل جایداد په خپل اولاد کې برابر تقسیم کړي، ځکه چې د هغه خیال دی چې د مرګ نه وروسته زه داسې نه شم کولی هغه داسې ځکه کول غواړي چې هغه خپل نالائق اوبې ادبه زامنو ته سزا ورکول غواړي. دې باره کې د شریعت څه حکم دی؟ ایا هغه داسې کولی شي؟

جواب: په خپل ژوند کې جایداد، خپل اولاد کې برابر(که هغه زامن وي او که لونه) برابر تقسیمولی شي [۱]

ژوند کې میراث تقسیمول

سوال: زما اولاد نه شته او ماسره خانداني جاګیرنه شته او نه راته څه پیسې په میراث کې پاتې شوي دي، ما پخپله محنت مزدوري کولو سره خپل وخت تیر کړی دی او اوس ماسره دومره پیسې شته چې زه غواړم چې د خپل کاروبار له پاره ځان سره دومره پیسې وساتم چې هغو باندې زما وخت تیریږي، پاتې پیسې په خپلو وارثانو کې تقسیم کړم، یعنې ژوند کې یې په خپل لاس ورکړم، په وارثانو کې زما یو خپل ورور او دوه خویندې دي، مهرباني وکړئ دا وفرمایئ چې د قران او احادیث په رڼا کې برخې څنګه تقسیم شي؟

جواب: ترڅو پورې چې ته ژوندی یې، خپل مال پخپله استعمالوئ، د خپل اخرت له پاره سرمایه جوړوئ او د الله تعالی په لار کې یې خرچ کوئ، له مرګ نه وروسته چې د چاڅومره برخه کیږي پخپله به یې واخلي او که ستاسو خیال وي چې کیدای شي خلک به د شریعت مطابق تقسیم نه کړي، نو دوه دین دارکسان د هغه ذمه دار جوړکړئ چې هغوی د شرعي برخو مطابق تقسیم وکړي، داخبره ما ستاسو د سوال خلاف لیکلې ده، ستاسو د سوال جواب دادی که چیرې ستاسو د مرګ په وخت کې دا ټول ورونه خویندې ژوندي وي، نو ورونو ته به د دوو خویندو برابر برخه ملاویږي، نو دوه برخې به د ورور وي او یوه یوه برخه به د خویندو [۲] که تاسو غواړئ، نو اوس یې تقسیم کړئ، نقشه د تقسیم داده:

ورور	خور	خور
۲	۱	۱

---

[۱] عن النعمان بن بشير : اتی به الی رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: انی نحلت ابنی هٰذا غلاماً. فقال: اكل ولدک نحلت مثله؟ قال: لا! قال: فارجعه. (صحيح البخاری /۱ / ۳۵۲). وفی الخلاصة: المختار التسوية بين الذكر والأنثى فی الهبة. (البحرالرائق/ ۷/۴۹۰/ كتاب الهبة/ وكذا فی خلاصة الفتاوي/ ٤/ ٤٠٠/ كتاب الهبة طبع رشيديه). تفصيل دپاره اوګورئ: شرح مختصرالطحاوی/٤/ ٢٤ تا ٢٦/كتاب العطايا، طبع بيروت)

[۲] واما الأخوات لاب وام فاحوال خمس ......ومع الاخ لاب وام للذكر مثل حظ الأنثيين. (سراجي: ۱۰)

ژوندکي مال تقسيمول

سوال: زما واده وشو او ښځه مې وفات شوه. اولاد مې نه شته. ماچې څه ګټلي اوکوم دولت ماسره دی، هغه په ماپه خپل لاس ونو ګټلی دی او پلار نيکه ميراث راته نه دی پاتې شوی او نه راته څه دولت په ميراث کې ملاوشوی دی، زه دکرايې په کورکې اوسيږم اويو حقيقي ورور مې دی، دهغه بچي شته، دوه خويندې مې دي دهغوی هم اولادشته، زه په خپل ژوندکې ددې دريو ورونو خويندوته په خپل دولت کې برخه ورکول غواړم، ايادهغوی حق شته؟ که چيرې زه هغوی ته خپله برخه ورکړم اوپاتې چې څومره پاتې شي هغه چې زه چاته څومره ورکول غواړم وصيت نامه به وليکم چې ورروسته څوک مطالبه ونه کړي، نوتاسو دقران اوحديث په رڼاکې وضاحت وکړئ!

الف که چيرې زماورور اودوه خويندې حق داردي، نودخپل کاروبار اودځان دخرچوله پاره موجوده مال کې څومره برخه وساتم؟

ب پاتې مال کې ديوورور اودوه خويندودتقسيم شرعي طريقه څه ده؟

جواب: ترڅو پورې چې ته ژوندی يې هغه مال ستادی، هغه کې جائز ډول باندې څومره استعمالول غواړې هغه ستاسوحق دی[1]. ستادمرګ نه وروسته به چې کوم وارثان هغه وخت کې ژوندي وي هغوی ته به دشريعت مطابق برخه ملاويږي اودمال دريمه برخې پورې ته وصيت ليکل کيږي، چې فلانکي ته دې ورکړل شي ياپه فلانکي ښه کارکې دې ولګول شي[2]

د مرګ نه مخکې جايداد يوزوی ته ښل څنګه دي؟

سوال: زموږ پلار وفات شوی دی، موږ پنځه ورونړه يو اويوه خوراويوه مورده، خوزموږ پلار د وفات نه مخکې خپل جايداد اوکور زموږ يو ورور نوشادعلي خان په نوم کړی دی. ورور مو

---

[1] ولكل واحد منهم ان يتصرف في حصته كيف ما شاء. (شرح المجلة لسليم رستم باز/ ۱/ ۶۴۳/ رقم المادة: ۱۱۶۲/ الفصل الثامن في احكام القسمة). كل يتصرف في ملكه كيف شاء. (ايضاً: لأن الملك ما من شانه ان يتصرف فيه بوصف الاختصاص. (ردالمحتار/ ۴/ ۵۰۲/ مطلب في تعريف المال والملک/ طبع سعيد)_

[2] قال علمائنا رحمهم الله تعالي: تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة. . . . . . . ثم تنفذ وصاياه من ثلث ما بقي بعد الدين، ثم يقسم الباقي بين ورثته بالكتاب والسنة واجماع الامة فيبدأ باصحاب الفروض. . . . . . . الخ. (السراجي في الميراث: ۲، ۳ / طبع المصباح). وعن عامر بن سعد عن ابيه رضي الله عنه قال: مرضت عام الفتح، حتى اشفيت على الموت، فعادني رسول الله صلى الله عليه وسلم فقلت: اى رسول الله! ان: لي مالاً كثيراً، وليس يرثني الا ابنة لي، افأتصدق بثلثي مالي؟ قال: لا! قلت: فالشطر؟ قال: لا! قلت: فالثلث؟ قال: الثلث والثلث كثير، ان تذر ورثتک اغنياء خير من ان تذرهم عالة يتكففون الناس. (سنن ابن ماجة واللفظ له/ ۱/ ۱۹۴/ ابواب الوصايا/ ايضاً سنن ابي داؤد/ ۲/ ۳۹۵/ كتاب الوصايا). (وفي الهندية/ ۶/ ۹۰/ كتاب الوصايا: ولا تجوز بما زاد على الثلث الا ان يجيزها الورثة بعد موته وهم كبار)_

وايي چې ماته داکورسې پلارپه تحفه کې راکړی دی، له دې وجې اوس په دې باندې دچاحق هم نه شته، نوتاسوته خواست چې داسلامي قانون مطابق ووايئ چې اوس دې جايدادا وکورباندې زمونږ حق نه شته؟ اوکه چيرې تقسيميږي به، نوڅنګه به تقسيميږي؟

جواب: دسوال دالفاظونه داسې معلوميږي چې ستاسوپلاردخپل جايداددخپل زوی، نوشادعلي خان په نوم باندې مخکې دناروغي په حالت کې کړی و اوبيادهم هغه ناروغي په حالت کې وفات شو، که چيرې ستاسودسوال په مطلب باندې زه صحيح پوه شوې يم. نوددې جواب دادی چې دمرګ دناروغي اختيارورکول دوصيت برابر وي اووصيت دوارث له پاره جائزنه دي، نوستاسو دپلارجايداد د وارثانودخوښې نه پرته ورکول جائزنه دي[۱] اوداجايداد به ټولو وارثانوباندې دشرعي برخومطابق تقسيميږي.

اوکه چيرې دنوشادعلي خان په نوم باندې جايداد دمرګ دمرض په وخت کې نه، بلکې د صحت اوتندرستي په زمانه کې کړی وي، نودهغه دوه صورتونه دي اوددواړوحکم بيل بيل دی.

يوصورت: دادی چې سرکاري کاغذونوکې يې جايداد دزوی په نوم کړی وي، خوزوی ته يې قبضه نه وي ورکړې اوقبضه دمرګ دوخت پورې دپلار وه، نودا ببنل مکمل نه دي، نو يوازې هغه زوی د جايدادحقدارنه دی، بلکې دټولووارثانوحق دی اودا جايداد به دشرعي برخو مطابق تقسيميږي.[۲]

دويم صورت: دادی چې پلارجايداددزوی په نوم کړي هم دی اوقبضه يې هم ورته ورکړې ده او پخپله ترې نه بې دخله شوی و، که زوی دغه جايدادخرڅوي، ساتي اوکه څاته يې ورکوي، دهغه ورسره هيڅ تعلق نه و، نودې صورت کې دابښل مکمل دي داد جايداد يوازې دهغه زوی

---

[۱] اذا وهب واحد فی مرض موته شيئاً لاحد ورثته، وبعد وفاته لم يجز سائر الورثة، لا تصح تلك الهبة اصلاً، لان الهبة فی مرض الموت وصية ولا وصية لوارث ولكن لو اجاز الورثة هبة المريض بعد موته صحت. . . . . وانما تتوقف الهبة علی اجازة الورثة اذا مات المريض من ذلك المرض، كما قيده فی المتن بقوله بعد وفاته، واما لو بریء المريض، نفذت الهبة ولو لم يجزها الورثة. (شرح المجلة لسليم رستم باز/ ۱/ ٤٨٤/ رقم المادة: ۸۷۹/ كتاب الهبة/ طبع كوئته، ايضاً: عالمگيری/ ٤/ ٤٠٠/ كتاب الهبة). وعن ابی امامة رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول فی خطبته عام حجة الوداع: ان الله تبارک وتعالیٰ قد اعطی كل ذی حق حقه، فلا وصية لوارث (مشكوٰة / ٢٦٥/ باب الوصايا/ طبع قديمی/ ايضاً: عالمگيری/ ٦/ ٩١/ كتاب الوصايا/ طبع رشيديه كوئته)_

[۲] تنعقد الهبة بالايجاب والقبول وتتم بالقبض الكامل، لانها من التبرعات، والتبرع لا يتم الا بالقبض. (شرح المجلة لسليم رستم باز/ ۱/ ٤٦٢/ رقم المادة: ۸۳/ كتاب الهبة). ايضاً: وتتم الهبة بالقبض الكامل ولو الموهوب شاغلاً بملک الواهب لا مشغولاً به. . . . . . . كما يكون للواهب الرجوع فيهما يكون لوارثه بعد موته لكونها مستحقة الرد. (فتاویٰ شامی/ ٥/ ٦٩٢/ كتاب الهبة/ طبع سعيد)_

دی، دپاتې وارثانوپکې هیڅ حق نه شته[1]، خودنورو وارثانو دمحرومولوله وجې ستاسو پلار ظلم کړی دی، چې دهغه سزابه ورته قبرکې ملاویږي[2] که هغه لائق زوی، خپل پلار ددې عذاب نه بچ کول غواړي، نوهغه ته پکار دي چې دجایداد نه دستبردارشي اوشرعي وارثانوته خپله برخه ورکړي.

په خپل ژوندکې اولادباندې جایداد څنګه تقسیم کړل شي؟

سوال: زماشپږبچي دي، دهغوی تفصیل دادی، څلورواده شوې لوڼه یوه واده کړی شوی زوی او یو ناواده کړی زوی، زماځه جایداد په لالوکهیت کې دی، سوال داپیداکیږي چې زه غواړم چې په خپل ژوندکې چې دکوم کوم څومره برخه رسیږي هغه ته خپله برخه ورکړم، معلومول داغواړم چې مخکې دناواده کړي هلک برخه ویستلوسره (یعنې دواده دخرچې له پاره) پاتې پیسې څنګه تقسیمیږي؟ یوه ورځ څلور لوڼه اوزومان موجوددو، ماهغوی ته دامسئله وړاندې کړه، څلور واړه لوڼه مالداره دي، هغوی ټولو په اتفاق وویل چې موږ ته الله تعالی ډیرڅه راکړي دي، موږ څلور واړه خپلې خپلې برخې خپلو وروڼوته ورکول غواړو، اوس تاسو وفرمایئ چې جایدادبه څنګه تقسیمیږي؟

جواب: تاسودخپل ناواده کړي زوی دواده دخرچې له پاره پیسې جداکولواوهغه ته حواله کولونه وروسته خپل جایدادپه ژوندباندې تقسیمولی شئ، خو ددې تقسیم له پاره ضروري دي چې زامنو او لوڼو ته برابره برخه ورکړئ[3] اوکوم جایدادچې هغوی کې تقسیموئ دهغه مکمل قبضه ورته ورکړئ اوکه چیرې تاسو ورته د جایدادقبضه ورنه کړه اویوازې کاغذي ډول باندې موتقسیم وکړ او جایداد موخپله قبضه کې وساتلو، نوستاسودوفات په وخت کې هغه ټول جایداد ستاسو ملکیت اوقبضه کې دی، دهغه تقسیم به دمیراث په اصولوباندې کیږي، یعنې د اینجلۍ یوه برخه اود هلکانودوه برخې، که ستالوڼه خپلې برخې نه دستبرداریږي، نوته خپل ټول جایدادهلکانوته ورکولی شې، خودې صورت کې هم که چیرې تاسوهلکانوکې جایداد تقسیم کړ اوهغوی ته مو قبضه ورکړه، نوستادوفات په وخت کې به لوڼو ته ډې کې د برخې د

---

[1]]وشرائط صحتها فی الموهوب ان یکون مقبوضاً غیر مشاع ممیزاً غیر مشغول. (تنویر الابصار مع الدرمختار/ کتاب الهبة/ ۵/ ۶۸۸). ایضاً: یملک الموهوب له الموهوب بالقبض فالقبض شرط لثبوت الملک لا لصحة القبض. (شرح المجلة لسلیم رستم باز/ ۱/ ۴۷۳/رقم المادة: ۸۶۱). ایضاً: ومنها ان یکون الموهوب مقبوضاً حتی لایثبت الملک للموهوب له قبل القبض. (فتاویٰ عالمگیری/۴/ ۳۷۴/ کتاب الهبة)_

[2]]من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة. (مشکوٰة/ ۱/ ۲۶۶/ باب الوصایا)_

[3]]ولو وهب رجل شیئاً لأولاده فی الصحة واراد تفضیل البعض علی البعض. . . . . . عن ابی یوسف رحمه الله تعالی انه لابأس به اذا لم یقصد به الاضرار وان قصد به الاضرار سوی بینهم یعطی الابنة مثل ما یعطی الابن وعلیه الفتویٰ. (فتاویٰ عالمگیری/ ۴/ ۳۹۱/ کتا ب الهبة/ الباب السادس / طبع رشیدیه کوئته)_

مطالبې حق نه وي او که چيرې قبضه موورنه کړه، نوستا لونه دې جايداد کې د ميراث د اصولو مطابق د خپلې برخې مطالبه کولی شي.[۱]

❖ د ښځې په مرګ باندې د جهيز او مهر حق دار ❖

د ښځې له وفات نه وروسته د مهر وارث څوک دی؟

سوال: د ښځې له وفات نه وروسته د مهر د پيسو (جايداد، ګينې يا نغدو پيسو) په صورت کې، وراث څوک دي؟

جواب: د ښځې له مرګ نه وروسته د هغې مهر هم ميراث کې شامل شي او د هغې په وارثانو کې د برخې مطابق تقسيم شي.[۲]

د بې اولاده مرحومې د مهر وارث څوک دی؟

سوال: د واده نه يو کال وروسته د الله تعالی په حکم باندې اينجلۍ وفات شوه، اولاد يې نه شته، دې صورت کې د جهيز د سامان د واپسي او د مهر د پيسو مطالبه کيدای شي او که نه؟

جواب: د اينجلۍ جهيز او نيم مهر د خاوند دی[۳] او پاتې نيم د هغې د مور و پلار داسې دی چې هغې کې دوه برخې د پلار او يوه برخه د مورده، نو که چيرې د ميراث شپږ برخې جوړې شي، نودرې برخې د خاوند، دوه برخې د پلار او يوه برخه د مور[۴] څومره حق چې د مور و پلار دی د هغه مطالبه کولی شي د ميراث د تقسيم نقشه داده

خاوند	پلار	مور
۳	۲	۱

---

[۱] وتتم الهبة بالقبض الكامل ولو الموهوب شاغلاً بملك الواهب لا مشغولاً به في محوز مقسوم ومشاع لا يبقى منتفعاً به بعد ان يقسم. . . . . . . وفي الشامية: وكما يكون للواهب الرجوع فيهما يكون لوارثه بعد موته لكونها مستحقة الرد. (تنوير الابصار مع الشامية/ ۵/ ۶۹۲/ كتاب الهبة/ طبع ايچ ايم سعيد)_

[۲] لان التركة ما تركه الميت من الاموال صافياً عن تعلق حق الغير بعين من الأموال. (ردالمحتار/ ۶/ ۷۵۹/ كتاب الفرائض)_

[۳] ځکه چه دا دواړه څيزونه د مرحومې ملکيت وو. او د وفات نه پس د هغې ميراث جوړ شو. او په داسې صورت حال کښې چه د مړې اولاد نه وي نو خاوند ته د ټول مال د ميراث نه نيمه ملاويږي.

[۴] قال تعالى: فان لم يكن له ولد وورثه ابواه فلأمه الثلث، اى مما ترك، والمعنى "وورثه ابواه. فحسب. لانه اذا ورثه ابواه مع احد الزوجين كان للام ثلث ما يبقى بعد اخراج نصيب الزوج، لا ثلث ما ترك. . . . . . فان امرأة لو تركت زوجا وابوين، فصار للزوج النصف وللأم الثلث، والباقى للأب. (تفسير النسفى/ ۱/ ۳۳۶/ طبع دار ابن كثير/ بيروت)_

د ښځې له مرګ نه وروسته د هغې د مهر او نورسامان حق دارڅوک دي؟

سوال: مادوه کاله مخکې واده کړی و، الله تعالی راته یوزوی راکړ، هغه دپنځو میاشتودی. خوښځه مې ددې دنیانه رخصت شوې ده (مړه شوې ده) زمادپنځومیاشتوزوی اوسه پورې ژوندی دی اودزوی دپالنې له پاره مادښځې کشرۍ خورسره واده وکړ، یعنې دخپلې ښینې سره، زما دلومړې واده په وخت کې نکاح نامه کې دمهرپیسې پنځوس زره روپۍ لیکل شوې وې، اوس زماسخرماتنګوي او وايي چې دښځې له مرګ نه وروسته د پنځوس زره روپیوحق داریم، دښځې له مرګ نه وروسته دمهرحق ورکول شته؟ اوکه چیرې شته، نودمهرحق دارڅوک دي؟ دویمه خبره داده چې ماسره دلومړۍ ښځې څه ګینه اوجامې هم موجودې دي اودهغې پیسې تقریبا پنځلس زره روپۍ جوړیږي، ددې ټولوحق دارڅوک دي؟

جواب: ستاسودمرحومې ښځې ټول میراث (چې هغې دمهرحق، ګینه، لوښي اوجامې هم شامل دي) به دولس برخې شي، هغه کې درې برخې دستاسو (یعنې دخاوند)، دوه برخې دمرحومې دپلار او پاتې اووه برخې دمرحومې دزوی دي[1] د تقسیم نقشه داده:

زوی	پلار	خاوند
۷	۲	۳

سوال: دلومړۍ ښځې له مرګ نه وروسته ماخپلې کشرۍ ښینې سره واده وکړ اوددویمې ښځې په نکاح نامه کې مادمهرپیسې یولک روپۍ ولیکلې، دواده تقریبا یوکال اوشو، اوس زما سخر وايي چې دمهردپیسې ماته راکړه، جناب! که چیرې ماته داپیسې ورکول وي، نو دومره ډیرې پیسې به زه دکوم ځای نه راوړم؟ داکار زماله پاره ډیرګران دی.

جواب: ددویمې ښځې مهرکوم چې تاسویولک روپۍ اېښی دی، هغه دښځې حق دی، دهغې دپلار نه، هغه ستاسوپه ذمه باندې دښځې قرض دی، که هغه يې اخیستل غواړي، نوتاسوته به يې اداکول وي[2] اوکه چیرې معاف يې کړي، که هغه ټول معاف کړي یايې څه برخه. نوهغې ته اختیار حاصل دی.[3]

د مرحومې جهیز به وارثانوکې څنګه تقسیمیږي؟

سوال: دمسماة پروین واده تقریبا یونیم کال مخکې شوی او دې دوران کې دهغې یوه لور (ګل رخ) پیداشوه، چې دهغې عمرتقریبا اوس شپږمیاشتې دی، مسماة پروین دخپل خاوندپه

---

[1] قال تعالی: فان کان لهن ولد فلکم الربع مماترکن. (النساء: ۱۲)_

[2] علم ان المهر یجب بالعقد. . . . . . ثم یستقر المهر بأحد اشیاء ثلاثة، اما بالدخول او بموت احد الزوجین واما بالخلوة الصحیحة........الخ. (البنایة شرح الهدایة/ باب المهر/ ۶/ ۱۶۳/ طبع حقانیه/ ملتان)_

[3] وان حطت عنه من مهرها صح الحط، لأن المهر حقها والحط بلا قید حالة البقاء، (الهدایة/ مع شرح البنایة/ باب المهر/ ۶/ ۱۷۳/ طبع حقانیه/ ملتان)_

کورکې اباده وه، يوه نيمه مياشت مخکې پروين وفات شوه، دمرحومې پروين دجهيزچې کوم سامان اوداسې نور... دي، شرعي ډول باندې دقران پاک اوحديث په نزدباندې دهغې ملکيت دچادی؟

جواب: دمرحومې ټول ميراث چې هغه کې (دخاوندمهرهم شامل دی، که چيرې هغې وصول کړی نه وي) دقرض دادا کولواو مال دريمې برخې پورې وصيت پوره کولونه وروسته (که چيرې څه وصيت يې کړی وي) نه وروسته به دیارلس برخوکې تقسيم شي، درې برخې د خاوند. شپږد لور، دوه دوه دمورو پلار [1] نقشه يې داسې ده:

پلار	مور	لور	خاوند
۲	۲	۲	۳

د مرحومې جهيز او د مهرحق به وارثانوکې څنګه تقسيميږي؟

سوال: زمابنځه درې مياشتې مخکې دماشوم په پيداکيدو کې وفات شوه، خوماشومه دالله تعالی په فضل اوکرم باندې صحيح ده اوماسره ده، اوس دامسئله معلومول دي چې:

الف: مرحومې چې کوم سامان ځان سره دپلارله کورنه جهيز راوړی و، دهغې له مرګ نه وروسته به دچاوي؟

ب: زماخسرګنۍ دمرحومې دمهردپيسومطالبه کوي، حالانکې مرحومې په خپل ژوندکې زباني ډول باندې پرته له څه دباونه دمهر پيسې معاف کړې وې.

جواب: دمرحومې دجهيزسامان، دمهرحق اونورسامان اوداسې نور... به وارثانوکې په دې طريقې سره تقسيميږي.

دمهر حق معاف کولوپه سلسله که چيرې دمرحومې مورو پلار منکردي اودمهردحق مطالبه کوي اوخاوندسره دې باره کې ګواه نه شته، نودمعافي به هيڅ اعتبارنه وي، له دې وجې دمهر حق به هم په وارثانوباندې تقسيميږي، دمرحومې ټول جايداد ،ګينه اود مهرحق اوداسې نور... به ديارلس برخوکې تقسيم شي، خاوندته به درې برخې،لور ته به شپږاومورو پلارته به دوه دوه

---

[1] قال تعالي: فان كان لهن ولد فلكم الربع مماتركن من بعد وصية يوصين بها أودين. (النساء: ١١). قال فى السراجي: واما للزوج فحالتان النصف عند عدم الولد او ولد الابن وان سفل والربع مع: الولد وولد الابن وان سفل. (ص:٧). قال الله تبارک وتعالي: وان كانت واحدةً فلها النصف. (النساء: ١١). قال فى السراجي: واما لبنات الصلب فاحوال ثلاث النصف للواحدة. (ص: ٨). قال تعالي: ولأبويه لكل واحد منهما السدس مماترک ان كان له ولد. (النساء: ١١). قال فى السراجي: اما الأب فله احوال ثلاث الفرض المطلق وهو السدس وذٰلک مع الابن او ابن الابن وان سفل. . . . . الخ. (ص: ٦) وقال ايضاً: واما للام فاحوال ثلاث السدس مع الولد و ولد الابن وان سفل. (ص: ١١/ باب معرفة الفروض)_

برخې ملاويږي[۱] نقشه د ميراث داده.

خاوند	لور	مور	پلار
۳	۶	۲	۲

که د مهر حق په ژوند کې ادا نه کړي، نو ميراث کې به تقسيمېږي

سوال: يوه ښځه مړه شوه، د هغې مهر خاوند نه دی اداکړی، مهرباني وکړئ حل راته بيان کړئ او زمونږ مشکل اسان کړئ.

۱: مهريې زر روپۍ دی. ۲: د مرحومې مورو پلار ژوندي دي.

۳: د مرحومې خاوند ژوندی دی. ۴: د مرحومې درې زامن او درې لونړه يعنې شپږ بچي دي.

جواب: د مرحومې نور و شيانو سره به مهر هم ميراث کې تقسيمېږي، د مرحومې ميراث به دوه سوه شپاړس برخې شي، هغه کې به اوويشت د خاوند، د پلار اتلس، اتلس د مور، لس لس د زامنو او پنځه پنځه د لونړو وي.[۲] نقشه يې په لاندې ډول ده:

خاوند	پلار	مور	زوی	زوی	زوی	لور	لور	لور
۲۷	۱۸	۱۸	۱۰	۱۰	۱۰	۵	۵	۵

د مرحومې ګينه (کالي) به وراره ته ملاويږي

سوال: زمونږ د نيکه خوربه مونږ سره اوسيده، اوس هغه وفات شوه او هغه کونډه وه، د هغې اولادنه و، د هغې څه ګينه چې د سپينو زرو ده، مونږ سره ده، تاسونه د دې مسئلې پوښتنه کول دي چې په هغې څه وکړو؟ ځکه چې مرحومې په خپل ژوندباندې د ګينې په جومات کې د ورکولو نه انکار کړی و اوبل څوک يې هم د دې وارث نه و ګرځولي، حالانکې د هغې چې کومه ځمکه وه هغه يې په خپل ژوندباندې د خپل وراره په نوم کړې وه، اوس مسئله د ګينې ده، چې دا هغې چاته نه و ورکړې او په ژوند کې چې کله هم هغې ته په جومات کې د ورکولو باره کې ويل شوي و، هغې نه يې هم انکار کړی و، اوس هغه ګينه مونږ سره د هغې له مرګ نه وروسته موجوده ده، تاسو ووايئ چې په هغه مونږ څه وکړو؟

۱] ايضاً پورتنۍ حواله)۔

۲]قال تعالي: فان کان لهن ولد فلکم الربع مماترکن من بعد وصية يوصين بها أودين. (النساء: ۱۲). قال ف السراجي: واما للزوج فحالتان النصف عند عدم الولد او ولد الابن وان سفل والربع مع الولد وولد الابن وان سفل. (ص:۷). قال الله تبارک وتعالي: وان کانت واحدةً فلها النصف. (النساء: ۱۱). قال ف السراجي: واما لبنات الصلب فاحوال ثلاث النصف للواحدة. (ص: ۸). قال تعاليٰ: ولأبويه لکل واحد منهما السدس مماترک ان کان له ولد. (النساء: ۱۱). قال فی السراجي: اما الأب فله احوال ثلاث الفرض المطلق وهو السدس وذٰلک مع الابن او ابن الابن وان سفل. . . . . الخ. (ص: ۶) وقال ايضاً: واما للام فاحوال ثلاث السدس مع الولد و ولد الابن وان سفل. (ص: ۱۱/ باب معرفة الفروض)۔

جواب: ذدې ګينې وارث دمرحومې وراره دی، هغه ته يې ورکړئ[1]

د مورله طرف نه ورکړل شوې ګينه کې د ملکيت حق

سوال: زما مور دوه ودونه کړي وو. دلومړي واده نه يوازې زه اوددويم واده يې يوزوی دی. مورې يوځای غټ شوي يو. هغې سره څه ګينه ده اودغه ګينه هغې ددويم خاوندپه پيسوباندې جوړه کړې ده، نن سباهغه ډيره سخته ناروغه ده. هغې ګينه کې يوزنځير(تقريبا ديوې تولې) په خپله خوشالي باندې ماته راکړ، تاسو ووايئ چې دمورپه شيانوکې زماحق جوړيږي اوکه نه؟ ب اوکه جوړيږي، نوڅومره؟ ج او ايا هغې ته ورور داحق ورکول پکاردي؟ اودې نه پرته هغه دا شی راکولونه وروسته بياغواړي، داسې صورت کې اياهغه دخپل حق نه خلاصه شوه اواوس دهغې ددې کارله وجې دحق دارحق دغصب کولوعذاب به چاباندې وي؟

جواب: کومه ګينه چې ستاسوموراستعمالوي، سوال دادی چې ددې مالک څوک دی؟ ددې مالکه ستاسو مورده؟ يا ستاسوناسکه پلار(دمورخاوند)؟ که چيرې ستاسومورده هغې مالکه ده، نوهغه تاسوته ددې د درکولو حق داره ده اوهغې ته پکاردي چې دومره ګينه هغه بل زوی ته هم ورکړي[2] اوکه چيرې داګينه دهغې ملکيت نه وي، بلکې دخاوند ملکيت وي، نوهغه چاته دورکولوحق نه لري.[3]

لومړي صورت کې تاسوته درکولونه وروسته هغې سره دواپس اخيستلوحق نه شته اودويم صورت کې داګينه تاسوته درکول صحيح نه و، له دې وجې يې تاسوورته واپس کړئ[4]

مهر کې ورکړل شوي کورکې د خاوند دميراث حق

سوال: زمونږ پلارصاحب په خپل ژوندکې زمونږ مورته دمهرپه بدله کې يوکور ورکړی و. مورمويه (۱۹۷۲) کې وفات شوې ده. دښاريه ستي سروے کې پلارمومونږڅلوروروڼه وارثان ښودلي يو، پلارصاحب مويه خپل ژوندکې مشروروروته خپله برخه ورکړه. معلومول دادي چې اياپه کورکې مودپلاربرخه کيږي؟ اوهغه دغه کوردمهرپه حق کې مومورته ورکړی و؟

جواب: کوم کورچې ستاسوپلارستاسومورته مهرکې ورکړی و، هغه د مرحومې ملکيت و اود

---

[1]] اولهم بالميراث.......ثم جزء ابيه ای الاخوة ثم بنوهم وان سفلوا. . . . الخ. (سراجی/ ۱۴/ باب العصبات). والعصبة كل من يأخذ ما ابقته اصحاب الفرائض وعند الانفراد يحرز جميع المال. (سراجی/ ٤)_

[2]]والعطايا ان لم يقصد به الاضرار، وان قصده يسوی بينهم يعطی البنت كالابن عند الثانی وعليه الفتویٰ. ولو وهب فی صحته كل المال للولد جاز وآثم. (درمختار/ كتا ب الهبة/ ٥/ ٦٩٦/ طبع سعيد)_

[3]] واما ما يرجع الی الواهب فهو ان يكون الواهب. . . . . حراً عاقلاً بالغاً مالكاً للموهب حق لو كان عبداً. . . . . . اولا يكون مالكاً لا يصح. (فتاویٰ عالمگيری/ كتاب الهبة/ ٤/ ٣٧٤/ طبع رشيديه)_

[4]] ايضاً)_

مرحومې له وفات نه وروسته ستاسو پلار د مرحومې په میراث کې دڅلورمې برخې وارث و، هغه میراث کې داکورهم شامل و، نو ددې کورڅلورمه برخه هم ستاسوپلار ته منتقل شوه[1]، نودکور په شپاړسو برخوکې به دڅلوروبرخو وارث ستاسوپلارروي اوددریودریوبرخو وارثان به څلور زامن شي، پلارمرحوم چې خپله برخه خپل مشرزوی ته ورکړې ده، نواووه برخې دمشر زوی شوې اوپاتې نهه برخې ددریو واړو ورونوشوې.

د مرحومې د بنګړیو وارث به څوک وي؟

سوال: یوه ښځه وفات شوه، دهغې دلاس بنګړي چې دهغې په دوه برخو باندې دهغې دزوی حق دی اویوه برخه باندې دلور، خولوریې دې ویلوسره چې بنګړي ورته ماجوړکړي دي. ځان سره وساتل داپوښتنه کول دي چې هرقسمه ګینه اوداسې نور...له دمرګ نه وروسته دهغه کس دملکیت له وجې تقسیمیږي یاکه چاورته جوړکړي وي، نوهم هغه ته واپس کیږي، څنګه چې لوردمورته ګینه ځان سره کینښودله؟

جواب: که چیرې لوردغه ګینه مورته یوازې په لاس کولو له پاره ورکړې و، موردهغې ګینې مالکه نه وه اولورسره دهغې ګواهان موجود وي، بیا داګینه هم دلورده،که نه، دمرحومې میراث دی، ټولو وارثانو کې به تقسیمیږي.[2]

د مرحومې پریښودل شوې ګینې باندې د بچیو ودونه کول

سوال: زیداودهغه ښځه دواړه ژوندي وو، هغه وخت کې هغه دخپل حیثیت مطابق د دوولوڼو ودونه،ګینې، جامو اوسامان سره وکړل دزیدښځه وفات شوه، هغې نه دسرو زرو ګینه پاتې شوه، زید هغه خپل ورورسره بازارکې دامانت په ډول کینښوده اوویې ویل چې داګینه به ناواده کړي بچیوته ورکړې، زید دا وعده وکړه دهغې ګینې قیمت کوم چې بازارکې لګیدلی دی، که چیرې وارثانو ته شرعي ډول باندې ورکول وي، نوزه به یې دخپل طرف نه ورکوم، دزیدپه ژوندکې څلوروبچیوکې دوه لوڼه دواده قابلې شوې، نوزیدپه هغه ګینه کې جامې اوسامان اوداسې نور... اخیستلوسره دخپل حیثیت مطابق د دواړو لوڼو ودونه وکړل، اوس زیدوفات شوی دی، دهغه له مرګ نه وروسته دوه بچي ناواده کړي دي، ښکاره خبره ده چې پلار د دوو بچیو واده وکړ اودوه بچي یې محروم دي، اوس پاتې ګینه کوم چې دزید د وصیت مطابق

---

[1] قال تعالی: فان کان لهن ولد فلکم الربع مما ترکن. (النساء: ۱۲). واما للزوج. . . . . . الربع مع الولد و ولد الابن. (سراجی/ ۶/ طبع المصباح)_

[2] قال فی الهدایة: وللمعیر ان یرجع فی العاریة متی شاء لقوله علیه السلام المنحة مردودة والعاریة مؤداة. (هدایة/ ۳/ ۲۷۹). عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: البینة علی المدعی والیمین علی المدعٰی علیه. (مشکوٰة/ ۲/ ۳۶۶/ باب الأقضیة والشهادات/ طبع قدیمي)_

کشر ورور سره ایښې دي او کوم چې پاتې دي، د هغه بچیو دی د کوم چې واده نه دی شوی، پاتې ترې محروم دي، ځکه چې زید د دې ګینې باره کې اقرار کړی و چې د دې په نغدو کې څه قیمت جوړیږي پخپله به ادا کړم، خو هغه ادا نه کړای شو او په دویم صورت کې د کوم بچیو چې اوس ه پورې واده نه دی شوی، شرعي ډول باندې د دې کالونه محرومیږي او دوه ورونه کوم چې بالغ دي هغوی اقرار کوي چې دا ګینه د پلار د وصیت مطابق د دې دواړو بچیو ته ورکړئ د کوم چې واده نه دی شوی او باقي پیسې به موږ د خپل طرف د شریعت مطابق وارثانو ته ادا کړو او تقریبا د لس کالو مخکې د کالو د وزن او قیمت پرچې موجود ده، د باقي کالو قیمت به د اوسني وخت مطابق ادا کول کیږي او که مخکې قیمت به یې ګڼل کیږي، کوم چې د امانت کیښودو او وصیت کولو په وخت کې و؟ جواب راکولو سره د شکریه موقع راکړئ!

جواب: د زید د ښځې له وفات نه وروسته د هغې ټول جایداد، ګینه خه او داسې نور... په میراث کې شامل دي، نو د ې ګینه کې چې څه پاتې شوې ده او کوم چې زید په خپل ژوند کې د زوی او لوږ د نکاح په وخت کې ورکړي دي د هغې حقدار وارثان دي، معلومه شوه چې د زید د ښځې په وارثانو کې څلور لونه او دوه زامن دي او خاوند (زید) هم موجود دی، نو د ښځې میراث به داسې تقسیمیږي:[1]

خاوند	زوی	زوی	لور	لور	لور	لور
۸	۶	۶	۳	۳	۳	۳

یعنې د مرحومې ټول میراث به دوه دیرش برخې شي، اته برخې به زید ته او پاتې نورې څلیریشت برخې به د هغې په اولاد کې تقسیم شي، نو زید چې په خپل ژوند کې کومه ګینه د زوی او لور په واده باندې خرچ کړل که چیرې هغه د څلورمې برخې نه زیات و، نو د زید په ذمه باندې د وارثانو قرض دی، له دې وجې د زید له مرګ نه وروسته د ټولونه مخکې د زید قرض ادا کړئ د هغې نه وروسته د زید میراث تقسیم کړئ.[2]

❖ د جایداد په تقسیم کې د وارثانو جګړه ❖

که د مرحوم وریرونه، وریرې او د هغوی اولاد وي، نو د میراث تقسیم

سوال: زما د دوست تره لس ورځې مخکې وفات شوی و، د مرحوم اولاد نه و، نو جایداد یې د فساد ذریعه جوړه شوه، څه خلک وایي چې جومات یا مدرسې ته یې ورکړئ او څه خلک وایي چې د کومو خلکو حق جوړیږي هغوی ته یې ورکړئ، وارثان یې داسې دي د مرحوم د مشر ورور

[1] واما للزوج. . . . . . . الربع مع الولد. . . . . الخ. واما لبنات الصلب. . . . . ومع الابن للذكر مثل حظ الأنثيين وهو يعصبهن. (سراجی/ ۷، ۸/ باب معرفة الفروض/ طبع المصباح)۔

[2] تتعلق تركة الميت حقوق اربعة . . . . . . ثم تقضٰى ديونه من جميع ما بقى من ماله....الخ. (سراجی/ ۳)۔

ځلورزامن دي، خور يې نه شته. هغوکې درې زامن مخکې مړه شوي دي. اوس يې يوزوی ژوندی دی، يادساتل پکاردی چې ددې مړو شويوزامنواولادشته. يعنې چې هغه دمرحوم لمسيان کيږي، دويم نمبر باندې دمرحوم دکشرورور په اولادکې درې ځامن اودوه لونه دي. څه خلک وايي چې جايداد دوه برخې کړئ، نيم جايداد دې دمشورورور بچي واخلي اونيم جايداد دې دکشر ورواولاد واخلي، خويندو ته برخه مه ورکوئ اودواړه خويندې دمرحوم خپلې وريرې دي اووريرونه اولمسيان يې حقدار جوړيږي، اوس تاسو ووايئ چې دقران اوسنت مطابق دمرحوم دجايداد باره کې شرعي څه حکم دی؟ څوک څوک يې حق داردي اوځنګه دي؟ ايادمرحوم دواړه خپلې وريرې حق دارې دي اوکه نه؟ اوکه چيرې څوک دچاحق وهي. نو دهغه سزادالله تعالی په نزدباندې څه ده؟

جواب: د سوال مطابق دمرحوم ځلور وريرونه (يودمشرورور زوی، اودرې دکشرورورزامن) کوم چې ژوندي دي، هغه دمرحوم وارثان دي، له دې وجې به دمرحوم جايدادبه دې ځلورو وارثانو کې برابرتقسيم شي[1]، کوم وريرونه چې دمرحوم په ژوندکې وفات شوي دي دهغوی اولاد ته به هيڅ نه ملاويږي، دغه شان چې کومې وريرې ژوندی دي هغوی هم وارثانې نه دي. هغوی ته به هم هيڅ نه ملاويږي[2] يوازې ځلورووريرونه کوم چې ژوندي دي. هغوی ته به جايداد ملاويږي.

دخاوند کورد ښځې په نوم کول اود خسر په دوکه باندې په خپل نوم کول

سوال: زمادخاوندکورکوم چې هغه دخپل مرګ نه مخکې زمايه نوم کړی و. زما خسر زما دخاوند له مرګ نه وروسته په دوکه باندې په خپل نوم کړ اوددې پته زمادخسرله مرګ نه وروسته ولګيده، تاسونه دا معلومول دي چې اياداشرعي ډول باندې صحيح دي؟ اوکه نه دي، نوددې حل څه دی؟

---

[1] اما العصبة بنفسه. . . . . اولهم بالميراث جزء الميت اى البنون ثم بنوهم. . . . . ثم جزء ابيه اى الاخوة ثم بنوهم وان سفلوا. . . . . الخ. (سراجى/ ١٤). وفى الهندية: وهم (اى العصبة) كل من ليس له سهم مقدر ويأخذ ما بقى من سهام ذوى الفروض، واذا انفرد اخذ جميع المال. . . . . فاقرب العصبات الابن ثم ابن الابن، وان سفل، ثم الأب ثم الجد اب الأب وان علا، ثم. . . . . ابن الأخ لأب وام. (عالمگيرى/ ٦/ ٤٥١/ كتاب الفرائض/ الباب الثالث فى العصبات)_

[2] ځکه چه دا ذوی الارحام دی او وريرونه عصبه دی، اود عصبه په موجودګۍ کښې ذوی الارحام ته حصه نه ملاويږي. باب ذوى الأرحام، ذو الرحم هو كل قريب ليس بذى سهم ولا عصبة. (سراجى/ ٣٤). باب توريث ذوى الأرحام، هو كل قريب ليس بذى سهم ولا عصبة فهو قسم ثالث حينئذ، ولا يرث مع ذى سهل ولا عصبة سوى الزوجين. . . . . . الخ. (الدرالمختار عليٰ هامش الطحاوى/ ٤/ ٣٩٦). والصنف الثالث ينتمى الى ابوى الميت وهم اولاد الأخوات وبنات الاخوة. (سراجي: ٣٥)_

جواب: که چیرې خاوند هغه کوز ستاسو په نوم کړی و او قبضه هم ستاسو وه. نو شرعي ډول باندې هغه کورهم ستاسو دی[1]، خسر مو غلط کار کړی دی او د هغه له مرګ نه وروسته چې کومو خلکوچې دغه کورخپل وګانه هغوی هم ګناه ګاردي، هغوی ته پکار دي چې دا کور تاسو ته درکړي.[2]

که چیرې د مرحوم قرضه په چا باندې وي، نو یو وارث یې معاف کولی شي؟

سوال: زما د پلار صاحب نه یو سړي څه پیسې قرض اخیستې وې، د هغه په بدله کې یې څه قیمتي سامان د ضمانت په ډول ایښي و، مقرر شوي وخت پورې چې هغه سړی رانغی. نو پلار صاحب مې ماته وویل چې فلانکي سړي سره ملاو شه او هغه نه د پیسو تقاضا وکړه او هغه ته خپل امانت وریادکړه، څو ځله هغه سړی ماسره ملاو شو، ما ورته د پلار د مرګ وویل او د پیسو مطالبه مې ترې وکړه، هغه سړي وویل چې زه پیسې نه شم درکولی، هغه راته معاف کړئ او ماته خپل امانت واپس کړئ، د خپل مرګ او د هغه د امانت د حفاظت څه ګارنټي نه کېدو له وجې ما د هغه امانت هغه ته واپس کړو.

۱: ایا ما دا صحیح وکړل؟ ۲: ایا زه د پلار صاحب له طرف نه هغه ته قرض معاف کولی شم؟
۳: یا که بله څه طریقه وي، نو هغه راته بیان کړئ.

جواب: ستاسو د پلار له وفات نه وروسته د هغه پیسې وراثانو ته منتقل شوې، که چیرې ته د خپل پلار یوازې وارث یې او بل څوک وارث نه شته، نو ته یې معاف کولی شې او که چیرې نور وارثان هم دي، نو د خپلې برخې پیسې ته پخپله معاف کولی شې او د نورو وارثانو سره د معاف کولو خبره کولی شې (دې شرط سره چې هغوی ټول عقل مند او بالغ وي.)[3]

د پلار له لوري لور ته مکان د هبې په نوم کولو کې د زوی ګواهي شرعاً صحیح نه ده

سوال: دوه کاله مخکې زما نیکه وفات شو، د نیکه رهائش ګاه په ملیر کې د خپل ذاتي کور

---

[1] [قال فی الهندیة: لو قال منحتک هٰذه الأرض او هٰذه الدار او هٰذه الجاریة فهی اعارة الا اذا نوی الهبة. (عالمگیری/ ٤/ ٣٧٦/ کتاب الهبة). اما الأول فکقوله وهبت هٰذا الشيء لک او ملکته منک او جعلته لک او هٰذا لک او اعطیتک او نحلتک هٰذا فهٰذا کله هبة. (عالمگیری/ ٤/ ٣٧٥). وتتم الهبة بالقبض الکامل لأنها من التبرعات، والتبرع لا یتم الا بالقبض. (شرح المجلة/ ١/ ٤٦٢/ المادة: ٨٣٧/ طبع کوئته)_

[2] [الا لا تظلموا! الا لایحل مال امریء الا بطیب نفس منه. (مشکوٰة/ ١ / ٢٥٥/ باب الغصب والعاریة)_

[3] [وکل ما جاز باجازة الوارث فانه یملکه المجازلة من قبل الموصی عندنا. . . . وفی کل موضع یحتاج الی الاجازة انما یجوز اذا کان المجیز من اهل الاجازة نحو ما اذا أجازه وهو عاقل بالغ. (فتاویٰ عالمگیریه/ ٦/ ٩١/ کتاب الوصایا)_

کې و چې دا د هغه یو جایداد دی، دنیکه یوازې دوه لونه دي، یوه زما مور او بله ددې مشره خوریعنې زما ترور، نیکه زما له مورسره دخاندان نورو کسانوته ویلوچې د جایداد برابر تقسیم کوو. بیاهم په تیرشوې روځ چې کله ما دنیکه د وصیت په حوالې سره د خپلې خاله (چې کوم تیرشوي شل کاله دنیکه په کور کې دخپل خاندان او بچیو سره اوسیدو) سره یې رابطه وکړه، نو ماته یې وویل شو چې د نیکه د جایداد سره زموږ هیڅ تعلق نه شته . ځکه دوه کاله مخکې هغه خپل مکان د خاله په نوم هبه کړی دی او د هغې د خدمت په بدله کې مکان ددې په نوم کړی دی، کله چې دهبې یا ګفټ استهام مې ولوست، نو په دې کې ځینې جملې مشروطې وې، مثلاً: ما د خپلو وارثانو د عدم اعتراض او د خاندان د نورو کسانو په موجودیت کې مذکوره جایداد د خپلې لور په نوم کوم او زما په دې فیصلې باندې د هیچا اعتراض نه شته.

د مذکوره وصیت نه زما والده او نه د خاندان یو کس خبردار و، د استهام په اخر کې په ګواهانو کې زما د خاله د مشر او کشرزوی نومونه هم شامل و، چې هغوی د خپل رهائش ګاه له پاره پتې هم فرضي لیکلي وې، ددې نه پرته د خاندان هیڅ یو کس یې ددې فیصلې نه و خبر کړې، کله چې ما دخپلې خاله له زامنو پوښتنه وکړه، نو هغوی وایي چې د نیکه په ژوند کې یې موږ ددې خبرې نه ولې بې خبره پاتې کړي وو؟ هغوی جواب وکړ چې هغوی داسې دنیکه په هدایت باندې کړي و، ایا والد د خپل نور اولاد ناخبره پریښودل او خپل ټول ملکیت هبه کولی شي؟ او ایا د ګواهانو په حوالې سره (زما د خاله حقیقي زامن) د خاله زاد ورونو ګواهي قابل قبول وي؟ ایا دوی سره په جبر یا دباو سره کاروایي کولی شي؟

جواب: ستا دنیکه په ژوند کې خپل جایداد باندې دا حق حاصل و چې هغه چاته غوښتل او څومره یې غوښتل ورکولی یې شو، خود نورو وارثانو دمحرومه کولو په نیت دده داسې کول ناجائز او ګناه کبیره ده [۱] په موجود صورت کې د ستا د خاله خپل نوم ګفټ نامه وړاندې کول او په دې باندې د ګواهانو په ځای ددوی د زامنو دستخط کیدل دشرعي اوصولو په اعتبار سره صحیح نه دي، ځکه چې د زوی د خپلې مور په حق کې ګواهي ورکول جائز نه دي،[۲] په هر حال که چیرې هغه مکان والد صاحب په خپل ژوند کې دوی ته حواله کړی و او ثقه ګواهانو سره ثابت شي چې دا هبه نامه هم دوی په هوش سره پرته دځه جبر لیکلي وي، نو دا مکان اوس ددوی دی، که نه، بیا د ستا والده هم په دیکې برابره شریکه کیدلی شي، په هر حال حقیقت الله

---

[۱] ولو وهب رجل لأولاده فى الصحة وأراد تفضيل البعض على البعض. . . . . . . عن ابى حنيفة رحمه الله تعالي: لا بأس به اذا كان التفضيل لزيادة فضل له فى الدين. . . . . وعن ابى يوسف رحمه الله تعالي: انه لا بأس به اذا لم يقصد به الاضرار، وان قصد به الاضرار، سوى بينهم. (عالمگيري، كتاب الهبة/ ٤/ ٣٩١/ طبع رشيديه).

[۲] قوله عليه السلام: لا يقبل شهادة الولد لوالده ولا الوالد لولده ولا المرأة لزوجها ولا الزوج لامرأته. . . الخ. (الهداية، كتاب الشهادة/ ٣/ ١٦٠/ طبع شركت علميه، ملتان)

تعالی ته معلوم دی، یاخویې تاسو حضرات پریږدئ یا بیا د ستاسو خاله دې د خپل والد صاحب قبر ښائسته کړي او خپل انجام دې خراب نه کړي او تاسو حضراتو ته دې شرعي برخه درکړي.

د ورونو د پلار په ژوند کې جایداد باندې قبضه

سوال: زموږ پلارصاحب دوه ودونه کړي وو اودهغه نه موږ درې ورونه خویندې یو، دوه ورونه او زه، یوه خور، زما مورهم او زما دوروڼو مور وفات شوې ده، پلارصاحب موژوندی دی، زما دپلار صاحب ځمکه ده، هغې باندې زمادوو ورونو قبضه کړې ده اودوه جداشوي دي اوخپلوکې یې ځمکه تقسیم کړې ده، خوزه دپلارد ځمکې نه خپله برخه اخیستل غواړم، دمحمد ﷺ دشریعت مطابق ماته زمادپلارپه ځمکه کې څومره برخه ملاویږي؟ ځکه چې زماپلاردځامنوپه طرف دی، دپلارپه جایدادکې زماڅومره برخه ده؟ اوزما مور جایداد، دهغې څومره برخه ده؟

جواب: ستامورا وستادوروڼو مور دواړه وفات شوي دي،نودهغوی برخه خوختمه شوه، چې دوه ورونه اویوه خور وي، نودخورپنځمه برخه جوړیږي، یعنې پنځه برخې شي، دوه دوه برخې به ورونو اویوه برخه به ستا[1] ستادوروڼو دپلار په ژوندکې جایدادباندې قبضه کول اوستا محرومول جائزنه دي، ستاپه ورونوباندې شرعي ډول باندې فرض دي چې هغوی تاته خپله برخه درکړي[2] نقشه د تقسیم داده:

ورور	ورور	خور
۲	۲	۱

دورونو خویندو شرعي میراث باندې جګړه

سوال: دیوکس دمیراث دتقسیم مسئله ده، ددریم ګړو (فیصله کونکو) دوه ډلې جوړې شوي دي، **یوطرف** ته هغه خلک دي کوم چې دین داردي اوبل طرف ته هغه خلک دي کوم چې دنیادار دي، دین دار خلک وایي چې دټول جایداد حساب کتاب کولونه وروسته دخویندو برخه دوروڼو په نوم کړئ او ورونه دې دضرورت مطابق دخویندوخرچې برداشت کړي اوکله چې د ورکولووخت راشي، نوهغوی ته دې ورکړي، دغه شان که چیرې ائنده کې دخویندو دملکیت حق ونه ساتل شي، نو مسئلې به نه پیدا کیږي،که نه، جایدادخویندوته ورکولو له وجې دهغې خاوندانو او بچیوته مسئلې پیدا کیږي.

---

[1]]واذا اختلط البنون والبنات عصب البنون البنات فيكون للابن مثل حظ الأنثيين. (الفتاوىٰ عالمگیری/ ٦/ ٤٤٨/ كتاب الفرائض)_

[2]] من قطع ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة. (مشكوٰة/ ٢٦٦/ باب الوصايا)_

دویم طرف ته دنیادار خلک دي، هغوی وایي چې دټول جایدادنه دومره امدن دی چې هغه د خویندو د خرچې دپاره کافي دي اوددغې ګټې څه برخه به دخویندودخرچې نه وروسته هم پاتې کیږي، نو دا طریقه مه نقل کوئ، بلکې دشرعي طریقې مطابق دملکیت حق پریږدئ. دغه شان به خویندوته د جایداد په راتلونکې ګټه کې برخه ملاویږي اوکوم وخت کې چې ضرورت وي هغه دخویندو په خوشالي باندې خرڅ کړئ، دامسئله حل کړئ اوشرعي اواخلاقي دواړو باندې هم څه طریقه وښیئ

جواب: دشرعي برخومطابق جایدادتقسیمولوسره خویندوته د جایدادخپله برخه حواله کړئ او که چیرې هغه واده شوې نه وي، نو وروڼه دې احتیاط سره دهغوی برخه جداکړي اوهغوی باندې دې خرچ کړي، کله چې دهغوی واده وشي، نودجایداد اوګټې برخه دې هغوی ته حواله کړي.[1]

موروثي کورباندې قبضې له پاره د وروراو خورجګړه

سوال: عرض دادی چې موږدوه ورور او خوریو (یووروراویوه خور) مور و پلار مو وفات شوي دي، په میراث کې یوکوردی، په کوم کې چې موږ اوسیږو، زماخوریوکورواخیست اوزه یې هغې ته اولیږلم، تقریبا څلور نیم کاله وروسته زماخورهغه کورخرڅ کړ، بیایې زه هغه کورته (کوم چې زموږ دمورو پلار و، نه پرینبودم، مادکرایې په کورکې اوسیدل شروع کړل) دکرایې په کورکې زماتقریبا اتلس کاله وشو اوپه کرایې کې ماتقریبا(۴۲۲۰۰) روپۍ ورکړي دي ماخپلوانوته درخواست وکړ، نو جرګې والا زما خور راوغوښته اوزمادرخواست یې ورته بیان کړ، په دې باندې زما خور دڅلورنیم کالوکرایه دوه سوه روپۍ میاشت په حساب باندې (۱۰۸۰۰) روپۍ په زمادمه ولګولې، دې نه پرته زما خورپه ماباندې (۲۰۰۰) قرض وښوده، اوکلمه یې اولوسته چې دازمادي، دې نه پرته (دمورو پلار په کورکې کوم چې میراث کې پاتې شوی دی) کې بجلي ولګوله: (۴۰۰) روپۍ، داوبونلکه مې ولګوله(۳۰۰) روپۍ، ګیس مې ولګولو (۵۰۰) روپۍ، دکور مرمت مې وکړ(۵۰۰۰) روپۍ، دغه شان ټول رقم، (۱۹۰۰۰) روپۍ شوې، جرګې والابیا زما حساب وکړ چې دمیراث په کورکې د(۱۹۵۹ء) نه اوسیږي اودا کور زمادخورنه (په کوم کې چې زه څلورنیم کاله اوسیدلی وم) نه غټ دی، نوددې کرایه کم نه کم دوه سوه روپۍ میاشت ولګوئ، تقریبا اته ویشت کاله وشوچې دهغه کرایه (۲۷۲۰۰) روپۍ جوړیږي او(۱۶۰۰) روپۍ نغدې دي، ټولې پیسې (۶۸۸۰۰) روپۍ شوې، دشریعت مطابق ووایئ چې داپیسې به وروراوخورکې څنګه تقسیمیږي اوکوربه څنګه تقسیمیږي؟ مهرباني وکړئ دوروربرخه بیله او دخوربرخه وښایئ چې معامله ختمه شي

[1] ان الله يأمركم ان تؤدوا الأمانات الى اهلها. (النساء: ۵۸)_

جواب: موریلارچې کوم کورپریښی دی، په هغه کې دوه برخې د ورورډي اویوه برخه دخور ده،نو دا کورډې درې برخې شي، دوه دې ورورته ورکړل شي اویوه خورته[۱].

د تقسیم صورت دادی

خور	ورور
۱	۲

۲: خورچې ورورباندې څومره قرضه ښیي، که دهغې ګواهان موجود وي، نودډې قرض اقرار کوي، نودورورنه به هغه قرضه اخیستل کیږي،که نه، دخوردعوه غلطه ده، که هغه هرڅومره خله کلمه لوستلوسره دیقین ورکولوکوشش وکړي.[۲]

۳: خورچې ورورکوم کورکې ساتلی و، که دهغې کرایه یې مقرر کړې وه، نوصحیح ده،که نه، شرعي ډول باندې هغه دکرایې اخیستو حق نه لري.[۳]

۴: دورور په کورکې چې هغه کومه اته ویشت کاله اوسیده، نودا قبضه په زورباندې وه، له دې وجې ددې کرایه په هغې باندې لازم ده.[۴]

۵: خورچې په دې کورکې چې بجلي، اوبو او ګیس باندې کومه خرچې کړې ده، یادکورپه مرمت باندې، نوداد ورور اجازې نه پرته اوپخپله خوښه باندې کړې ده، له دې وجې شرعي ډول باندې هغه دورورنه دااخیستلوحق نه لري.[۵]

خلاصه داده چې دخورپه ذمه باندې دورور(۶۷۲۰۰) روپۍ جوړیږي اودشرعي مسئلې په نزدباندې دخورپه ورورباندې یوه پیسه هم نه شته، نوکه چیرې فیصله کونکي دصلح کولوله پاره دوروړپه ذمه باندې هم څه اچول غواړي، نودهغوی خوښه ده.

یادونه: که دې مسئلوباندې پوه نه شوئ، نودوه پوه سړي ذې راشي اومانه دې زبانې دې مسئله باندې ځان پوه کړي.

---

[۱] کما قال الله تبارک وتعالي: یوصیکم الله فی اولادکم للذکر مثل حظ الأنثیین. (النساء: ۱۱)۔

[۲] عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: البینة علی المدعی والیمین علی المدعٰی علیه. رواه الترمذی. (مشکوٰة/ ۲/ ۳۲۷/ باب الأقضیة والشهادات/ طبع قدیمی کتب خانه)۔

[۳] قال فی العالمگیریه: ولو قال آجرتک منفعة هٰذه الدار شهراً بکذا یجوز علی الأصح. کذا فی خزانة المفتین. (ج۴/ ۴۰۹). فان عرض فی المدة ما یمنع الامتناع کما اذا غصبت الدار من المستأجر او غرقت الارض المستأجرة او انقطع عنها الشرب اومرض العبداو ابق سقطت الأجرة بقدر ذٰلک،کذا فی محیط السرخسی. (عالمگیری/ ۴/ ۴۱۳)

[۴] لو استعمله کله احدهم بالغلبة بلا اذن الآخر لزمه اجر حصة شریکه لأنه لما استعمله بالغلبة صار غاصباً. (درالمختار مع ردالمحتار/ ۴/ ۳۵۵)۔

[۵] ولو عمر لنفسه بلا اذنها فالعمارة له ویکون غاصباً للعرصة فیأمر بالتفریغ بطلبها ذٰلک ولو لها بلا اذنها فالعمارة لها وهو متطوع فی البناء فلارجوع له.(الدرالمختار/ ۷۴۷/۶/ مسائل شتٰی کتاب الخنثٰي، طبع سعید)

د ورونو خویندو برخه غصب کولو سره د یوورور په جایداد باندې قبضه کول

سوال: ۱: زموږ پلار صاحب کور کوم چې تقریبا دیوویشتو کلونو نه مشر ورور قبضه کړې دی اودې کور کې په خپله خوښه باندې بجلی، ګیس او اوبه لګولې دي او کوریې هم جوړ کړی دی، خو زموږ اجازه نه وه، پلار مو ژوندی و، خود هغه نه یې هم اجازه نه دې اخیستې، بلکې پلاریې د کورنه ویستلواویوه کډې وه هغه یې هم ختمه کړه، د پلار د مرګ مو تقریبا لس کاله شوي دي، موږ درې ورونه او څلور خویندې اویوه مور یو، دې وخت کې د کور قیمت یولک اوپنځه اویا زره روپۍ دی، ددې حساب کتاب وکړئ چې دورونو، خور او مور څومره جوړیږي؟

سوال: ۲: دویم داچې ورورچې کومې پیسې د کورپه جوړولو، ګیس او اوبه لګول خرچ کړي دي، هم دې کې به کټ کیږي اوکه کور باندې دیوویشتو کالو د قبضې له وجې به دا کرایه په صورت کې برابرشي؟

جواب: ۱: ستاسو د پلار مرحوم کور به اتیا برخو تقسیم شي، لس برخې به ستاسو مور، څوارلس څوارلس برخې د دریو وارو ورونو او اووه اووه برخې به د څلورو وارو خویندو شي.

نقشه یې په لاندې ډول داده:

مور(کونډه مرحومه)	زوی	زوی	زوی	لور	لور	لور	لور
۱۰	۱۴	۱۴	۱۴	۷	۷	۷	۷

یولک پنځه اویازره روپیو کې دابرخې جوړیږي: [1]

دموربرخه: (۲۱، ۸۷۵)

دهریوورور برخه: (۳۰، ۲۲۵)

دهریوې خوربرخه: (۱۵، ۳۱۲/۵۰)

جواب: ۲: مشرورور چې کورباندې کومه خرچه کړې ده، هغه یې دنوروبرخه دارو له اجازې پرته کړې ده، له دې وجې د قانون په نزد هغې د معاوضې اخیستو حق دارنه دی، خودې کې هغه سره دارعایت کیدای شي چې دیوویشتو کلونو په کرایه کې د پیسې اخیستو نه وروسته چې د هغه څومره پیسې پاتې کیږي هغه ته یې ورکړئ.

---

[1] کما قال الله تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم. (النساء: ۱۲). قال الله تعالي: يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين. (النساء/۱۱). وفى السراجي: اما لبنا الصلب. . . . . ومع الابن للذكر مثل حظ الأنثيين. (سراجى/ ۸/ باب معرفة الفروض)۔

د مور و پلار له جايداد نه خويندو ته کمه برخه ورکول

سوال: مونږ الحمد لله ځلور خويندې او دوه ورونه يو، د محترم والد صاحب دوفات په وخت زمونږ تره صاحب د ترکې لويه برخه په کاروبار، جايداد د ورونو نوم ته منتقل کړې وه او خويندو ته يې د عادت له پاره څه لږ ډيره ورکړې وه چې کله د دوی نه د ترکې د تقسيم په بنياد د پوښتنه جسارت وکړ، نو دوی وايي چې د پلار د نوم پرينښودو له پاره د مصلحت دغه غوښتنه وه، محترمه والده صاحبه الحمد لله ژوندی ده او ډيره کمزورې ده، ددې په نوم په لکونو روپيو جايداد دی، دغه تره د والدې صاحبې دغه جايداد خرڅ کړ او په لکونو روپۍ يې په دواړو ورونو تقسيم کړې اويوازې يو څو زره روپې والدې صاحبې ورکړې، الحمد لله دواړه ورونه د اول نه کرو پتيان دي او محترم تره دوی ته ډيرې ورکول غواړې، برايې مهرباني د شريعت خاطر وکړئ چې د روپيو په اولاد کې داسې تقسيم جائز دی؟ او د تره دا طريقه د شريعت مطابق صحيح ده؟

جواب: د ستاسو د والد مرحوم دا ترکه (د قرض د اداء کولو او د وصيت د نافذ کولو نه وروسته که چيرې څه وصيت يې کړی وی) (۶۴) برخو باندې تقسيمېږي، اته برخې به د ستا د والدې صاحبې وي (۱۴، ۱۴) برخې به د ورونو او (۷، ۷) برخې به د ځلورو خويندو وي [۱] الله تعالی چا چې دا برخې مقررې کړې دي د ستا د تره نه زيات د خپلو بنده ګانو مصلحت باندې پوهيږي، له دې وجې د ستا د تره د الله تعالی د حکم نه انحراف کول ګناه ده چې د هغه نه د ستا د تره ته توبه کول پکار دي او د نورو د دنيا په خاطر خپل اخرت برباد ول نه دي پکار، د خويندو چې کومه برخه ورونو اخيستې وي هغه د دوی له پاره حلاله نه ده او دوی باندې لازم دي چې خويندو ته يې واپس کړي، که نه، ټول عمر به د حرام خوړلو وبال په دوی باندې وي او د قيامت په ورځ به دوی باندې پوره کول وي. والله اعلم! [۲] د ميراث د تقسيم نقشه داده:

لور	لور	لور	لور	زوی	زوی	زوجه
۷	۷	۷	۷	۱۴	۱۴	۸

[۱] كما قال الله تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم. (النساء: ۱۲). قال الله تعالي: يوصيكم الله في اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين. (النساء/۱۱).

[۲] وعن انس رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من قطع ميراث وارثه، قطع الله ميراثه من الجنة يوم القيامة. (مشكوٰة / ۲۶۶/ باب الوصايا). عن عمرو بن يثربي قال: خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: لا يحل لامريء من مال اخيه شيء الا بطيب نفس منه. (شرح معانى الآثار للطحاوى/ ۲/ ۳۱٤/ كتاب الكراهة، طبع مكتبه حقانيه ملتان)_

جایداد کې د لوڼو او خور برخه

سوال: مسئله داده چې زموږ د مور وپلار طلاق زموږ په ماشوموالي کې شوی دی، مور درې اینجلۍ یو اوهغه وخت کې زموږ عمرونه یوه، دوه او څلور کاله و، پلار موږ ته کله هم خرچه نه ده راکړې مولاناصاحب! زموږ ملاقات خپل پلارسره څلېریشت کاله وروسته وشو، دې وخت پورې د دوه خویندو واده شوی و، یوه میاشت مخکې زموږ پلار وفات شو، پلارمو یودوکان اویو کورپرېښی دی، کوم چې هغه زموږ د ترور په نوم کړی دی، هغو کې پنځوس تولې ګینه اونغدې پیسې هم شاملې دي مولاناصاحب! زموږ ترور وایي چې ستاسوخویندودهغه په ټول میراث کې هیڅ حق نه شته، هغې موږ ته دخپل پلار په جایداد کې هیڅ هم رانه کړل، زموږ ترور په شارجه کې اوسیږي اودخپل خاونداوبچیوسره ښه خوشاله ژوندتیروي، مولاناصاحب! زه ډیره پریشانه یم، ټول عمر کې زموږ پلارموږ ته هیڅ هم نه دي راکړي، زموږ ترور وایي چې ټول جایداد زما په نوم دی او هغه کې زموږ خویندوهیڅ برخه نه شته، مولانا صاحب! تاسو ووایئ چې دقیامت په ورځ باندې دداسې پلارله پاره څه حکم دی کوم چې دنیاکې خپل اولاددربدرکړي اودمرګ نه مخکې هغوی ته خپل حق نه ورکوي، دداسې خلکوله پاره څه حکم دی چې هغوی ته دهرڅه پته لګیدوباوجوددنوروپه حق باندې قبضه کوي ؟

جواب: ستاسو دپلار په میراث کې دوه برخې ستاسو د خویندو ده او دریمه برخ ستاسو دترور ده[۱] ستاسو دترورباندې فرض دي چې ټول جایداد کې نیمه برخه لوڼوته ورکړي، که چیرې هغه داسې نه کوي، نو دهغې دنیا او اخرت دواړه به تباه اوبربادشول اودالله تعالی له طرف نه به داسې رسوا شي چې کتونکوته به پرې رحم راځي. [۲]

دولس کاله مخکې د خویندو قبضه شوې برخې قیمت څنګه ولګول شي؟

سوال: وروڼو دپلار له وفات نه وروسته دخویندوله اجازې اوخوښې پرته ټول جایدادپه خپل نوم کړ اود خویندوبرخې یې په کاغذي کتاب کې ولیکلې، دکاغذي قیمت په شکل کې، دغه

---

[۱] کما قال الله تعالي: فان كن نساء فوق اثنتين فلهن ثلثا ما ترک. (النساء: ۱۱). قال فی السراجي: واما لبنات الصلب فاحوال ثلاث النصف للواحدة والثلثان للاثنتين. (ص: ۸). واما للاخوات وام فاحوال خمس. . . . . ولهن الباقی مع البنات او بنات الابن لقوله عليه السلام اجعلوا الأخوات مع البنات عصبةً. (السراجی/ ۱۱/ باب معرفة الفروض)_

[۲] قال تعالي: يايها الذين أمنوا لاتأكلوا اموالكم بينكم بالباطل. (البقرة: ۱۸۸). وفی معالم التنزيل: بالباطل يعنی بالربا والقمار والغصب. (ج۲/ ۵۰). وعن ابی حرة الرقاشي عن عمه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا تظلموا! الا لا يحل مال امريء الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة/ ۲۵۵/ باب الغصب والعارية)_

شان خوېندې نه يوازې د ټول جايداد د ګټې نه محرومې کړي، کومه چې د هغې نه حاصليده، بلکې د هغې اضافي نه يې هم محرومې کړې کومه چې مارکيټ کې د هغې د قيمت له وجې شوې ده او د هغې د جايداد خويندو ګټې برخه دومره وه چې د هغې د خرچې بوج په ورونړباندې نه راتلو، که قيمت يې لګولی هم و، نو يوازې هغه يې کاغذي حدپورې ساتلې و او هغه پيسې يې په څه کاروبار کې نه وي لګولې، د غه شان د زروپه قيمت کې د کمي ذريعه جوړه شوه، نو خويندې د دولسو کالو مخکې يوه روپۍ چې د هغې قيمت نن شل روپۍ دې نه قبلوي، بلکې ورونړته وايي چې هغوی دې جايداد مورته راکړي اوځومره پيسې چې مونږ ته راکوي هغوی دې پخپله واخلي، دويمه خبره داده چې مخکې کله خويندو غوښتنه وکړه، نو خالي جيب به يې ورته وښودلو او ورونړو د ځان له پاره نور جايداد هم اخيستلو.

جواب: د خويندو دا مطالبه صحيح ده، چې هغوی ته قيمت نه، بلکې د جايداد برخه پکار ده[۱] او که چيرې خويندو په خپله خوشالي او خوښې باندې خپله برخه په ورونړباندې خرڅه کړې وي، نو هغوی قيمت اخيستی شي، خو لس کالو پورې قيمت نه ادا کول هم ښکاره ظلم دی.[۲]

د جايداد نه عاق شوي زوی باندې د پلار قرضه ورکول

سوال: پلار خپل زوی د جايداد ملکيت نه محروم کړی دی او هغه يې له کورنه ويستلی دی، د هغه وجه داده چې پلار زوی ته وايي چې ته خپلې ښځې ته طلاق ورکړه او ښځه د زوی سره صحيح ده، هغه کې څه عيب وغيره نه ښکاري، اوس پلار دا وايي چې ملکيت باندې څه قرضه ده ته هغه اداکړه او زوی يې د هريوشي نه محروم دی، نو ايا د قرضه په زوی باندې ده؟

جواب: که چيرې د ښځې قصور نه وي، نو د مور وپلار دا مطالبه کول چې ښځې ته طلاق ورکړه، جائزنه ده[۳]

۲: اولاد د ميراث نه محرومول حرام دي او د محروم کولو باوجود هغه نه محروميږي، بلکې د نورو وارثانو په شان به عاق شوي ته هم برخه ملاويږي.[۴]

---

[۱]]وعلى الغاصب رد العين المغصوبة الى المغصوب معناه ما دام قائماً لقوله عليه السلام على اليد ما أخذت حتى ترد وقال عليه السلام لا يحل لأحد ان يأخذ متاع اخيه لاعباً ولا جاداً فان اخذه فليرده عليه. (هداية، كتاب الغصب/ ۳/ ۳۷۱)_

[۲]] قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: مطل الغنى ظلم. (مشكوٰة/ ۱/ ۲۵۱). لا يجوز لأحد من المسلمين اخذ مال احد بغير سبب شرعي، كذا فى البحر الرائق. (عالمگيرى/ ۲/ ۱۶۷/ طبع رشيديه كوئته)_

[۳]]عن النواس بن سمعانؓ قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لا طاعة لمخلوق فى معصية الخالق. رواه فى شرح السنة. (مشكوٰة/ ۳۲۱/ كتاب الامارة، طبع قديمى كراچى)_

[۴]] عن انس بن مالكؓ قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:من فرض من: ميراث وارثه قطع الله ميراثه من الجنة يوم القيامة. (سنن ابن ماجة/ ۱۹۴/ باب الوصايا/ باب الحيف فى الوصايا، طبع نور محمد كراچى)_

۳: د پلار په ذمه چې کومه قرضه ده که چیرې پلار غریب وي او بچیو سره گنجائش وي، نود پلار قرض ضرور اداکول پکاردي، خوکه چیرې پلار مالداره وي او قرضه اداکولی شي، یا اولاد سره گنجائش نه وي، نو قرضه پلار ته اداکول پکاردي، خوکه چیرې پلار ادا نه کړه، نوله مرګ نه وروسته دهغه دجایدادنه به دټولو مخکې قرضه اداکړل شي، دهغه نه وروسته به جایداد تقسیمیږي.[۱]

د پلار صاحب په جایداد باندې د زوی قبضه کول

سوال: زید مشر ورور دی، نوکري کولو سره خپل بچي ساتي، دخالد له وفات نه وروسته بل وروریې دوکان خلاص کړ، زید وایي چې دې کې زما هم حق شته، خودویم ورور یې وایي چې دا زما خپل دی دغه شان دپلار صاحب په ملکیت کې چې کومه غله پیداکیږي هغې کې هم زید ته برخه نه ورکوي او وایي چې ټوله خرچې زه کوم، یادساتل پکاردي چې دزید دوو ورونو واده کړی دی، دریم ورور هم دهغه سره اوسیږي، ټول په یو کور کې اوسیږي، شرعي حکم بیان کړئ.

جواب: دپلار میراث خو ټولو شرعي وارثانو کې دشرعي برخو مطابق تقسیمیدل پکاردي، دې باندې دیو ورور قبضه کول غصب او ظلم دی[۲] نور چې څومره ورونه ګټه کونکي دي دهغوی په ذمه باندې دمور او کشرورورخرچه ده، دوکان که چیرې ورورخپلې پیسې اچولې وي، نو دوکان دهغه دی او که چیرې دپلار جایداد وي، نوهغه به هم تقسیمیږي.

د مور و پلار د میراث نه د یو ورور محرومونکو ورونو شرعي سزا

سوال: زما مسئله داده چې کوم سامان او داسې نور .. د میراث شیان وي، یعنې دمور و پلار د استعمال سامان چې هغه کافي مقدار کې وي او د دشمني او مخالفت له وجې دوه ورونه خپلو کې تقسیم کړي او دریم ورور ته پته هم نه وي چې دمیراث مال تقسیم شوی دی، یوازې د دشمني او مخالفت له وجې دریم ورور ته هیڅ هم ورنه کړي. حالانکې دړې واړه خپل ورونه دي او دیو ورور حق ووهي، نو محترم! دداسې ورونو او د داسې میراث تقسیم دالله تعالی په نزد او داحادیثو په رڼا کې څه حکم دی؟ ایا داسې انسان نه ګناه ګاریږي؟ او اخرت کې به یې څه انجام وي؟

جواب: دمور و پلار په میراث کې ټول اولاد دخپلې خپلې برخې مطابق برابر شریک دي[۳]، نود دوو ورونو میراث تقسیمول او دریم ورور محرومول ډیره سخته ګناه ده، اخرت کې به دهغوی

---

[۱] ثم تقضٰی دیونه من جمیع مابقی من ماله. . . . . . ثم یقسم الباقی بین ورثته. . . . الخ. (سراجی/ ۳)_

[۲] للرجال نصیب ممالترک الوالدان والأقربون وللنساء نصیب مما ترک الوالدان والأقربون مما قل منه او کثر نصیباً مفروضاً. (النساء: ۷). عن ابی حرة الرقاشی. . . . . قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الا لا تظلموا! الالا یحل مال امریء الا بطیب نفس منه. (مشکوٰة/۱ / ۳۶۶/ باب الغصب والعاریة)_

[۳] قال تعالی: للرجال نصیب ممالترک الوالدان والأقربون وللنساء نصیب مما ترک الوالدان والأقربون مما قل منه او کثر نصیباً مفروضاً. (النساء: ۷)_

انجام دا وي چې هغوی به دساماں په بدله کې خپلې نیکۍ ورکوي[1]. له دې وجې ټولو مسلمانانو ته دا ښې ګناهونو نه توبه کول پکاردي او دداسې ظلم او غصب نه دې پرهیز وکړي.

برخه دارو ته دبرخې ورکولو سره د کور نه بې دخله کول

سوال: زماکور، په کوم کې چې زه دخپلو اتو بچیو سره، هغوکې یو زوی واده کړی دی، اوسیږم، کور زما د مرحومې ښځې په نوم دی، دحکومت په کاغذونوکې دښځې نوم سره زمانوم هم لیکل شوی دی، داکور زما ښځې ته خپل پلار ورکړی و، دقران او سنت په رڼا کې ووایئ چې دې کورباندې زما حق شته او که نه؟ او ایا ماته ددې خبرې حق شته که چیرې یو زوی یا د زوی ښځه فساد کوي، نو هغوی د کورنه وباسم؟

جواب: کور ستاسو د مرحومې ښځې و، دهغې له مرګ نه وروسته څلورمه برخه ستاسو ده او پاتې درې برخې دمرحومې د اولاد دی، د هلکانو برخه دجینکونه دوه چنده ده[2] تاسو برخه دار دخپلو برخو نه شئ محروم ولی، دهغوی برخه اداکولو سره هغوی ویستلی شئ.

د مرحوم په کورباندې ددعوې حقیقت

سوال: یو کور د مرحوم (الف) دی او اوسه پورې ټول سرکاري دفترونو کې هم دهغه په نوم دی دمرحوم یوه لور مسماة (ر) ټول سرکاري واجبات اداکوي، هغه یو کس (م) ته داکور په دسمبر (۱۹۷۵ء) کې په کرایه ورکړی و (دشپږمیاشتو له پاره) دامعامله زباني ډول باندې شوې وه څکه چې دکرایه دارخپل کورجوړیدونکی و، څومیاشتې وروسته کرایه دار (م) دمرحوم (الف) یو وارث (خ) سره مئی (۱۹۷۲ء) کې ددې کور داخیستلو سودا بهرپه بهر وکړه او دکرایه دارد وینامطابق هغه دې باره کې پنځلس زره روپۍ ایډوانس هم ورکړی دی، ددې معاملې څوک غیرجانبدار ګواه هم نه شته، بدقسمتي سره کوم وارث (خ) چې داسوداکړې وه هغه هم په فروري (۱۹۸۸ء) کې وفات شو، یادساتل پکاردي چې دې سوداکې دمرحوم(الف) دنورو وارثانو هیڅ عمل دخل نه و او نه ددې سودا په اخبارکې اشتهار ورکړل شوی و او نه په څه

---

[1] [عن ابي هريرة قال: ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: اتدرون من المفلس؟ قالوا: المفلس فينا من لا درهم له ولا متاع. قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: المفلس من امتى من يأتى يوم القيامة بصلوٰة وصيام وزكوٰة، ويأتى قد شتم هٰذا وقذف هٰذا وأكل مال هٰذا وسفک دم هٰذا وضرب هٰذا فيقعد فيقتص هٰذا من حسناته وهٰذا من حسناته فان فنيت حسناته قبل ان يقتص ما عليه من الخطايا اخذ من خطاياهم فطرح عليه ثم طرح فى النار. هٰذا حديث حسن صحيح. (سنن جامع الترمذى /۲ /۶۷، ابواب صفة القيامة/ طبع قديمى)_

[2] [قال تعالي: فان كان لهن ولد فلكم الربع مما تركن من بعد وصية يوصين بها أودين. (النساء: ۱۲). قال فى السراجي: واما للزوج فحالتان، النصف عند عدم الولد او ولد الابن وان سفل والربع مع الولد. . . . الخ. (ص:۷). قال الله تبارک وتعالي: "يوصيكم الله فى اولادكم للذكر مثل حظ الأنثيين". (النساء/۱۱)_

سرکاري اداره کې ددې رجستریشن شوی دی، دمئی (۱۹۷۲ء) نه وروسته کرایه دار اوسه پورې کرایه هم نه ده ورکړې، دهغه مسلسل خاموشي هم معاهده شکني جوړه کړې ده او د مرحوم لور (ر) په حق کې نورو وارثان چې هغوی کې مرحوم وارث (خ) هم په (۱۹۷۲ء کې دستبردارشوی دی (دهغې خبرپه اشتهارکې ورکړل شوی دی) اوس کرایه داردا خبره کوي چې دمرحوم (خ) سره داخیستلو معاهدې باندې عمل وکړئ اوماته دملکیت حق منتقل کړئ اودمرحوم (الف) باقي وراثان وایي چې نه مونږ کرایه دار (م) سره څه معاهده کړې ده اونه مونږ دهغه نه څه ایډوانس پیسې اخیستې دي اوسوال دادی چې دمرحوم (الف) جایداددوارثانوپه نوم منتقل شوی نه دی، نودبل چانوم ته څنګه منتقل کیدای شي؟

الف: ایا د مرحوم (الف) ژوندي وارثان دمرحوم (الف) دیو وراث (خ) چې هغه اوس پخپله باندې هم مرحوم شوی دی، دهغه دشکي معاهدې پابندي دي اوکه نه؟

ب: دمرحوم (الف) لور (ر) اوس کونډه شوې ده اودهغې دوه یتیماني لونه دي اوهغوی دمجبوري له وجې رشته داروکره اوسیږي اوکرایه دارهغوی ته کرایه هم نه ورکوي. حالانکې هغه د کونډې کېدو باوجودسرکاري واجبات اداکوي.

ج: اوس کرایه دارکرایه هم نه ورکوي، نوهغه ناجائزقبضه کونکی یاغصب کونکی دی اوکه نه؟ اودغصب کونکي له پاره شرعي څه حکم دی؟

د: سرکاري خلک دغاصب نه پردي حق نه اخیستلوباندې دڅه شرعي سزامستحق دي اوکه نه؟

ه: هغه پیسې کومې چې د (۱۹۷۲ء نه د۱۹۸۸ء پورې) دکرایي له وجې جمع شوي، هغو باندې زکات واجب دی اوکه نه؟

جواب: دالف مرحوم له مرګ نه وروسته کوردهغه دوارثانودی اودهغوی شریک ملکیت دی، کوم شي کې چې ډیرخلک شریک وي دهغه خرڅول دنوروشریکانودخوښې نه پرته نه شي کیدای، نو دکرایه دار دقول مطابق چې (خ) په هغه باندې کورخرڅ کړی دی، داسودا صحیح نه ده[1] اوددې په بیناد باندې دهغه کس دادعوه کول چې مادا کور اخیستی دی. غلطه ده اودهغه له پاره قبضه ساتل حرام دي اود (الف) ټول وارثان دمرحوم دلورپه حق کې دستبردار شوي دي، له دې وجې ددې کور یوازې مالکه اوس دمرحوم لورده، دیوې کونډې په کورباندې ناجائزقبضه کول اوکرایه نه کول بدترین غصب اوظلم دی اوددې له وجې به ددې غصب کونکي دنیا او اخرت دواړه تباه شي.

---

[1] قال فی البحرالرائق (ج: ٥/ ١٦٧): (قوله وکل اجنبی فی قسط صاحبه) ای وکل واحد من الشریکین ممنوع من التصرف فی نصیب صاحبه لغیر الشریک الا باذنه_

سرکاري خلکو، بلکې دهر مسلمان فرض دي چې دکونډې اودهغې ديتيمانو بچيو مدد وکړي اودغصب کونکي نه ورته خلاصي ورکړي، کوم خلک چې دطاقت باوجودداسې نه کوي هغوی به هم دې ګناه کې شريک وي[1] دکرايې پيسې چې ترڅوپورې وصول نه شي هغو باندې زکات نه شته [2]

د دې پلاټ مالک څوک دی؟

سوال: ما (غلام محمدولدغلام نبي) خپل وروږغلام صابرولدغلام نبي دګورنمنټ هاؤسنګ سکيم سوسائټي پلاټ حاصلولوله پاره په خپله خرچې باندې ممبرکړ، زماوروردحکومت ملازم و، له دې وجې هم هغه ممبرجوړيدای شو. سوسائټي دممبرشپ رسيدماته راکړ او زماوروږغلام صابر زه دهغه وارث مقررکړم اودسوسائټي دفترته يې خط وليکلو. په (۱۹۷۱ء) کې سوسائټي زماوروږغلام صابرته خط راوليږه چې دقرعه اندازي په ذريعه باندې دځمکې دالاټمنټ بندوبست شوی دی، زماوروږصاحب ماته خط وليکه چې زماڅومره ځمکه پکاروي دهغې مناسب په سوسائټي دفترکې پيسې داخل کړم، ماددرې سوو ګزوپلاټ له پاره سوسائټي دفترکې دبينک ډرافټ په ذريعه باندې پيسې داخلې کړې، خويوکال وروسته سوسائټي والا زماپه نوم باندې بينک ډارفټ واپس کړ اوويې ويل چې کله بيا الاټمنټ کيږي موږ به تاسوته خبرکړو، څوکاله وروسته زمادکراچۍ په پته باندې زمادوروږغلام صابرپه نوم باندې دسوسائټي ددفترنه خط راغی چې پلاټ ستاسوپه نوم شوی دی، ماسمدستي دهغه پلاټ قيمت اداکړ اودهغه پلاټ جنرل پاورآف اتارټي مې دوروږغلام صابرنه پنډۍ کې حاصل کړه، دهغه نه وروسته مې وروږ وفات شو، ټولې خرچې ماد خپل طرف نه وکړې، ټوله کاروايي پوره کولونه وروسته کله چې پلاټ باندې دقبضې اخيستو وخت راغی، نوسوسائټي افس والا وويل چې ستاوروږ وفات شوی دی، له دې وجې جنرل پاورآف اتارټي اوميراث هرڅه ختم شوي دي، اوس وارثان يوازې دهغه ښځه اوبچي دي، ماټول حالات ستاسوپه خدمت کې وړاندې کړل، تاسو مهرباني وکړئ اودقران اوحديث په رڼاکې ماته جواب راکړئ چې ددې پلاټ ملکيت زمادی اوکه نه؟ ماچې کوم حالات بيان کړی ددې ټول دستاويزي ثبوتونه موجوددي.

جواب: تاسوچې دحالاتوکوم تفصيل ددستاويزي ثبوتونوسره ليکلی دی، دهغه نه معلوميږي چې کوم پلاټ ستاسومرحوم وروږغلام صابر په نوم باندې اخيستل شوی دی، هغه په حقيقت کې ستاسو ملکيت دی، دمرحوم وروږيوازې نوم استعمال شوی دی، که نه، داد هغه ملکيت نه و، بلکې ددې ملکيت ستاسودی، نودمرحوم له مرګ نه وروسته هم ته دپلاټ شرعي مالک

---

[1] من رأى منكم منكراً فليغيره بيده فان لم يستطع فبلسانه......الخ. (مشكوٰة/ ۴۳۶/ باب الأمر بالمعروف)

[2] قال رحمه الله الزكوٰة واجبة. . . . . اذا ملک نصاباً ملكاً تاماً يحترز من ملک المكاتب والمديون والمبيع قبل القبض لأن الملک التام هو ما اجتمع فيه الملک واليد. (الجوهرة النيرة/ ۱۱۶/ كتاب الزكوٰة)_

يئ، دې نه پرته په مختارنامه کې مرحوم ته وارث مقرر کړې يئ او متعلقه ادارې ته يې قانوني ډول باندې خبر هم ورکړى دى. نو که چيرې د پلاټ د مرحوم ملکيت هم وي. نو د مرحوم وصيت ستاسو په حق کې دى. له دې وجې به دا پلاټ تاسو ته ملاويږي[1] په هر حال شرعي ډول باندې د دې پلاټ هم ته مالک يې او دا خپل نوم ته منتقل کولى شې. والله اعلم!

د مرحوم په خپل ژوند کې کور خور ته ورکولو باندې د ښځې دعوه

سوال: يو کس په (۱۹۷۰ء) کې وفات شوى دى او هغه په لاهور او حيدراباد سند کې کافي جايداد پريښى و. مرحوم خپله خور په (۱۹۴۸ء) کې د هندوستان نه راوغوښتله او هغې ته يې د اوسيدو له پاره په حيدراباد سنده کې کور ورکړ. په کوم کې چې هغه اوسيده. مرحوم به په خپله باندې لاهور کې د خپلو دوه ښځو او لوڼوسره اوسيده. دوفات نه وروسته يې نور جايداد ښځو خرڅ کړ، هغې کې يوه کونډه دمرحوم نه يو څو کاله وروسته وفات شوه. دمړې شوې کونډې اولادنه و. دکونډې له مرګ نه وروسته دويمې کونډې دخپلو دوه لوڼوسره دحيدراباد سنده هغه کورکې اوسيدل شروع کړل، چې مرحوم په خپل ژوند کې خپلې خورته ورکړى و. اوس دې وخت کې دحيدراباد سند په جايدادکې دمرحوم خور، د مرحوم کونډه ښځه اودوه لوڼه اوسيږي او کونډه دا کور خرڅول غواړي، کوم کورچې مرحوم خپلې خورته ورکړى و اود مرحوم خور د(۱۹۴۸ء) نه وروسته دحيدراباد سند والاکورکې اوسيږي، اوس سوال دادى چې دخوردوروړ په جايدادکې برخه شته اوکه نه؟ اوکه چيرې شته، نوټول جايدادکې ده يا يوازې هغه کورکې کوم کې چې دا اوسيږي؟ اوکه حق شته ،نوڅومره دى؟ دچاچاحق اوبرخه شته؟

جواب: که ذمرحوم زامن نه وي، نو دمرحوم ټول جايداد به (دقرض اداکولو او دمال په دريمه برخه کې دوصيت پوره کولو نه وروسته) په اته څلويښت(۴۸) برخو تقسيم شي، درې درې برخې به کونډو ته، شپاړس شپاړس برخې به دواړو لوڼو ته او پاتې لس(۱۰) برخې به دهغه خورته ملاويږي، دې نه معلومه شوه چې خور، دمرحوم دټول جايداد په اته څلويښت برخوکې دلسو برخو مالکه ده[2] د تقسيم نقشه داده:

کونډه	کونډه	لور	لور	خور
۳	۳	۱۶	۱۶	۱۰

[1] قال في العالمگيرية: والموصٰى به يملک بالقبول فان قبل الموصٰى له الوصية بعد موت الموصى يثبت الملک له في الموصٰى به قبضه او لم يقبضه. (ج:٦/ ٩٠/ كتاب الوصايا/ طبع رشيديه)_

[2] كما قال الله تعالي: فان كان لكم ولد فلهن الثمن مما تركتم من بعد وصية توصون بها اودين. (النساء: ١٢). اما للزوجات. . . . . . الثمن مع الولد او ولد الابن وان سفل. (سراجى/ ٧/ باب معرفة الفروض). قال الله تعالي: فان كن نساء فوق اثنتين فلهن ثلثا ماترک. (النساء: ١١). واما لبنات الصلب.....الثلثان للاثنين فصاعدة. (سراجي: ٨/ باب معرفة الفروض). واما للاخوات لاب وام فاحوال خمس. . . . . . الخ. ولهن الباقى مع البنات او بنات الابن لقوله عليه السلام: اجعلوا الأخوات مع البنات عصبة. (ص: ١١)_

دچا په ځای جوړشوي کور با ندې د جګړې فیصله به څنګه کیږي؟

سوال: زمایو ناواده شوې لورده چې دهغې عمردرې ځلوېښت کاله دی. زمایه ناظم ابادنمبر(۳)کې د(۳۷۴) اوياګزو يو پلاټ و او اوس هم شته، هغه باندې دغريبي له وجې يوازې دوه کمرې جوړې شوې دي، زمادې لوردبرطانيې نه دايم ايس سي ډګري اخيستې ده اوپه سعودي عرب کې په مدينه منوره کې نوکرۍ کوي. مانه غوښتل چې زماداکورجوړشي خوهغې اوزماځه ورونو په ماباندې زور راوړو چې جوړشي، ما ومنله، هغې پيسې راليږلې اوما کور جوړولو، څه ورځې مې حساب اوساتلو، بيادې سوچ سره چې پيسې زما استعمال ته راغلې، نوداولاد پيسې دپلار له پاره جائزدي، نوحساب کول مې پريښودل اوکورپه (۱۹۷۸) کې پوره شو اودوکانونه او لومړی منزل مې په کرايې باندې ورکړ اوپه پورته منزل کې دخپلوبچيواوښځې سره اوسيدم.

اوس هغه اينجلۍ وايي چې په کورباندې پيسې ډيرې کمې لګيدلې دي اوپيسې خوړل شوي دي اوزماکرايه موټوله خوړلې ده، حساب مونه دی ساتلی اودحساب نه ساتلوبنيادي الزام دبد ديانتي اوغبن دی اوماته يې غلطې غلطې خبرې اوکنځل په خطونوکې وليکلې، اوزمادبدناموکوشش کوي، کورزماپه نوم دی، هغه وايي چې زمادکورنه وځه اوکور زما په نوم کړه، زه ورته وايم چې لاندينی منزل اودوکانونه ته واخله اوپورته منزل موږ ته داوسيدو له پاره پريږده، خوهغه يې نه مني زه وايم چې ستاپيسه ضرورلګيدلې ده، ځومره پيسې چې دې لګيدلې دي دهغې نه دزيات قيمت برخه واخله،خوهغه کورپه شراکت باندې ساتل نه غواړي.

پوښتنه داده چې دهغې کومې پيسې زما په استعمال کې راغلې دي ايا هغه حقوق العباد دي؟ اوعندالله زه دين داريم؟ اوما دکور جوړولو او منډو تړړو هيڅ معاوضه نه ده اخيستې، دادتعليم يافته خاندان حال دی، ماته داسې خطونه ليکي کوم چې دکانې زړه والا انسان يې هم خپل پلارته نه شي ليکلی، وايي چې دکورنه وځئ کوم ځای چې غواړئ هلته اوسيږئ، په سرک باندې اوسيږئ اوددريوکالوپه دوه زره روپۍ په حساب باندې کرايه هم اداکړئ. هيڅ نه پوهيږم چې څه اوکړم؟ مهرباني وکړئ اوشرعي لحاظ سره راته څه فيصله وکړئ!

جواب: دلورپيسې راتلې اوتاسوخپلې (داولادپيسې ګڼلو) له وجې خرچ کولې، تاسو باندې ددې هيڅ معاوضه نه شته[1] دکور عمارت ستاسودلوردی اوځمکه ستاسوده، ددې شرعي حکم دادی که چيرې مصالحت باندې خبره حل شي، نودهغه مطابق عمل وکړئ، که نه، تاسو ورته داسې ويلی شئ چې خپل کوردې اوچت کړی اوستاسوځای دې خالي کړي اوشرعي

---

[1] [عن جابر رضی الله عنه ان رجلاً قال: يا رسول الله! ان لی مالاً وولداً وان ابی يريد ان يحتاج مالی قال: انت و مالک لأبيک. (هداية/ ۲/ ۵۱۵)_

ډول باندې هغې باندې ستاسو ځای خالي کول لازمي دي.[۱]

تاسوچې دتعلیم یافته خاندان کوم شکایت کړی دی. هغه فضول دی. داداوسني تعلیم اثردی، داغزو ونې کرلوسره چې څوک د امونو طمع کوي. هغه احمق دی.

د مرحومې میراث په خاوند، موروپلاراو زوی باندې څنګه تقسیمیږي؟

سوال: عرض دادی چې زماواده په شپږ ویشتم جون (۱۹۹۲ع) کې وشو. دواده په یوولسمه میاشت باندې دمئی اتلسم اونولسم تاریخ باندې تقریبا درې بجې زمازوی وشو اودبچې کیدونه تقریبا شپږنیمې ګنټې وروسته یعنې دمئی (۱۹۹۳ء) په نولسم تاریخ باندې دسهارتقریبا نهه نیمې بجې زماښځه خپل حقیقي مالک سره ملاوشوه، زوی مې ژوندی دی. زماد ښځې دمرګ نه تقریباً درې نیمې میاشتې وروسته زماد ښځې پلار او وروڼه راغلل اودجهیزواپس کولومطالبه یې وکړه، ماته جهیز واپس کول پکاردي اوکه نه؟ اوزما زوی اوموروپلارژوندي دي، زماد ښځې موروپلارهم ژوندي دي، پورته بیان شوي صورت کې ماته څه کول پکاردي؟ دقران اوسنت په رڼاکې جواب را کړئ!

جواب: دمرحومې جهیزاومیراث به په دولس برخو تقسیم شي، هغو کې درې برخې د خاوند[۲]، دوه دوه برخې دموروپلاراوپاتې پنځه برخې دماشوم دي.[۳] د تقسیم نقشه داده:

خاوند	مور	پلار	زوی
۳	۲	۲	۵

دمرحومې دموروپلاردجهیز واپس کولومطالبه غلطه ده، مور پلاردواړوته دټول میراث دریمه برخه رسیږي، که هغه اخیستل غواړي، نو وادې خلي اوکه ماشوم ته یې پریښودل غواړي پرېږدي.

د نیکه په جایداد کې د تروربرخه ده

سوال: زما یوه سکه ترور ده هغه غواړي چې نیمه ځمکه په برخه کې واخلي، حالانکې مخکې یې د عدالت او پټواري په کاغذونو کې خپل نوم نه دی لیکلی، اوس ترور زمانه په ځمکه کې برخه اخیستل غواړي، مفتي صاحب! په شریعت کې څومره برخه د ترور کیږي؟

---

[۱] قال فی البحر الرائق (او یرضٰی بترکه فیکون البناء والغرس لھٰذا والأرض لھٰذا) یعنی اذا رضی المؤجر بترک البناء والغرس لا یلزم المستأجر القلع. (ج:۷ / ۳۰۶). وقال ایضاً: (فان مضت المدة قلعها وسلمها فارغةً) لأنه لا نهاية لهما ففی ابقائهما اضرار بصاحب الأرض فوجب القلع. (ج:۷/ ۳۰۵)_

[۲] واما للزوج. . . . . الربع مع الولد او ولد الابن وان سفل. (سراجی/ ۷/ باب معرفة الفروض)_

[۳] ولابویه لکل واحد منهما السدسُ مماترک ان کان له ولد. (النساء/ ۱۱). والعصبة کل من یأخذ ما ابقته اصحاب الفرائض. (سراجی/ ٤، / باب معرفة الفروض/ طبع المصباح)_

جواب: ستا دنیکه په جایداد کې ستا د ترورحق ستا دپلار محترم نه نیم دی یعنې د نیکه جایداد به درې برخې کیږي دوه برخې ستا شوې اویوه برخه ستا د ترور. دنیکه د جایداد دریمه برخه خپلې ترور ته ورکړئ[1]

د نیکه په میراث کې د نیا د تره د زوی برخه

سوال: دازادکشمیرپه یوکلي کې زمادنیکه تقریبا شپیته کناله جایداد و، څه خومالس کاله مخکې خرڅ کړی و اوڅه پاتې دی، دنن نه تقریبا دڅلویښت پنځوسوکالومخکې خبره ده، زماخپله نیامړه شوه، نوزمانیکه دویم واده وکړ او بیاڅو کاله وروسته زمانیکه مړشو اوبیاڅو کاله وروسته زماپلارهم مړشو اوبیا زما میرنۍ نیا چې کونډه شوې وه زماپه موجودیت کې تقریبا پنځویشت کاله وروسته مړه شوه، زمادمیرنۍ نیا اولاد نه و،دهغې نیا مې یوخپل ورور و چې هغه پنځه کاله مخکې مړشو اودهغه زامن هم شته اوننه پورې هغوی ماسره دمیرنۍ نیادبرخې خبره نه ده کړې، خودمیرنۍ نیاد تره یو زوی دی، هغه دعدالت اوپټواري په کاغذونوکې زمادمیرنۍ نیابرخه یعنې نیم جایداد په خپل نوم کړی دی اواوس دومره کاله یې هغه مانه اخیستل غواړي اوزماامورهم شته چې هغه نن سباپه دریمه نکاح کې ده اوزما ښځه اوبچي هم شته، مولاناصاحب شریعت کې دمیرنۍ نیا دتره زوی ته څومره برخه ملاویږي؟

جواب: دمسئلې کوم صورت چې تاسولیکلی دی هغه کې ستاسو د میرنۍ نیادتره دزوی هیڅ حق نه جوړیږي، ستاسودنیا مرحومې وارث دهغې خپل ورور و، دهغه په موجودیت کې دتره زوی وارث نه دی[2] هغه چې کاغذونوکې کوم نیم جایدادپه خپل نوم کړی دی داشرعي ډول باندې ناجائز اوحرام دی اودهغه فرض دي چې ددې جایداد نه دستبردارشي. که نه، خپل اخرت اوقبربه ګنده کوي.

ستاسودنیکه په جایدادکې اتمه برخه ستاسودمیرنۍ نیا حق و[3] اودهغې له مرګ نه وروسته دهغې ورورد هغې دبرخې وارث و، اوس که چیرې وروربرخه وانخلي ، نودتره زوی ته دبرخې اخیستو حق نه شته.

---

[1] واما لبنات الصلب فاحوال ثلث ثلاث النصف للواحدة. . . . . والعصبة كل من ياخذ ما ابقته اصحاب الفرائض. (سراجی ص۴_ ۸، باب معرفة الفروض، طبع المصباح)_

[2] اما العصبة بنفسه فكل ذكر لا تدخل فى نسبته الى الميت انثي، وهم اربعة اصناف جزء الميت واصله، وجزء ابيه، وجزء جده، الأقرب فالأقرب يرجحون بقرب الدرجة، اعنى اولهم بالميراث. . . . . . . ثم جزء ابيه اى الاخوة ثم بنوهم وان سفلوا ثم جزء جده اى الأعمام. . . . . . الخ. (سراجی/ ۱٤/ باب العصبات)_

[3] وللمرأة من ميراث زوجها الربع اذا لم يكن له ولد، ولا ولد ابن، وان سفل فلها الثمن، وذالک لقول الله تعالي: ولهن الربع مماتركتم. (شرح مختصر الطحاوی/ ٤/ ٨٤/ باب قسمة المواريث/ طبع دار البشائر الاسلامية، بيروت)_

د مرحوم میراث به څنګه تقسیمیږي؟ وراثان یې کونډه، لوراو دوه خویندې دي

سوال: زما واده په (۱۹۸۰ع) کې دبدل(مخی) په ذریعه وشو. زماخاوندپه (۱۹۸۲ع) کې سعودي عرب کې ایکسیډنټ (دموټر ټکر) کې وفات شو. زما دنهو کالویوه لورده. زما د خاوند په بینک(پنجاب) کې تقریبا پنځلس زره روپۍ جمع دي، زماخواښې اوخسر وفات شوي دي، لیورمې هم نه شته. څلور ایندروریانې دي، هغوی کې دوه کونډې دي اودهغوی د بچیوهم ودونه شوي دي. زما خاوند کور کې ترټولوکشر و، د ایکسیډنټ (دموټر دټکر) دپیسو باره کې دسعودي عرب حکومت سره خبرې اترې شروع دي، دهغوی ټولې مطالبې موپوره کړي دي، خواوسه پورې پیسې نه دی ملاو شوې، دې نه پرته دمهرحق کې دواده پرمهال زما خاوند زماپه نوم کورلیکلی و، دې نه پرته به زمادسخرکورکوم کې چې زمایوه کونډا ایندرور اوسیږی دهغه کورتقسیم به څنګه کیږي؟ زمادخاوند دمرګ نه وروسته زه اوس خپلې مورکره اوسیږم، ځکه چې هغوی سره مې تعلقات ښه نه دي، اوتقریباً دلسوکالوراهیسې موهغوی سره خبرې اترې نه شته، اوهغوی پنجاب کې اوسیږی، دخاوند مرګ نه وروسته ماواده نه دی کړی.

۱. پنجاب کې یوبینک کې دپنځلس زرورویپوتقسیم.

۲. دایکسیډنټ په پیسوکې دچاچا برخه کیږي؟

۳. دمهرحق کې چې کوم کورلیکل شوی دی، هغه کې دچا چا برخه ده اوڅومره څومره؟

۴. دخسرپه کورکې زماڅومره برخه ده؟

جایدادپه اسانې سره ماته څنګه ملاوشي؟ چې زه عدالت ته لاړه نه شم. اسان حل راته بیان کړئ!

جواب: ستاسوخاوندچې ستاسودمهرپه حق کې کوم کورلیکلی و، هغه څوستاسودی، هغه کې به تقسیم نه کیږي[1]. دې کورنه پرته به دخاوندمرحوم ټول میراث په دوه دیرش(۳۲) برخو تقسیم شي، هغو کې څلور(۴)برخې ستاسو، شپاړس(۱۶) برخې ستاسودلور، او درې درې برخې د څلور واړو خویندو دي، پنځلس زره روپیوکې ستاسو برخه یوزررراته سوه اوپنځه اویاروپۍ ده، (۱۸۷۵) ستاسولور ته اووه زره اوپنځه سوه روپۍ(۷.۵۰۰) اودمرحوم هریوې خور ته درې سوه یوپنځوس روپۍ اوشپړپنځوس پیسې(۳۵۱.۵۲)رسیږي .د سعودی عرب دحکومت له طرف نه به چې کومې پیسې ستاسو د مرحوم خاوندپه سلسله کې ملاویږي، دهغو تقسیم به هم دپورته بیان شویو اصولو مطابق تقسیمیږي، یعنې هغو کې به اتمه برخه

[1] اعلم ان المهر يجب بالعقد. . . . . ثم يستقر المهر بأحد اشياء ثلاثة، اما بالدخول او بموت احد الزوجين واما بالخلوة الصحيحة...الخ.(البناية شرح الهداية/ ٦/ ١٦٣/ كتاب النكاح/باب المهر/ طبع حقانيه)

ستاسو، نیمه برخه دلور، او پاتې دمرحوم په خویندوباندې تقسیمیږی[1]. د تقسیم نقشه داده:

خور	خور	خور	خور	لور	کونډه
۳	۳	۳	۳	۱۶	۴

که چېرې ستاسو خاوند ستاسو دخسرپه ژوندکې مړشوی وي، نود خسرپه کور کې ستا او ستا دلورهیڅ حق نه شته، هغه کوربه ستاایندرورا نوته ملاویږي، اوکه چېرې خسرمودخاوندنه مخکې مړشوی وي، نود کورد قیمت به(۹۶)برخو باندې وویشل شي، هغو کې ستا (۴)برخې، ستا د لور(۱۶) برخې او ستا دهریوې ایندرور (۱۹) برخې دي، د میراث د تقسیم نقشه داده:

خور	خور	خور	خور	لور	کونډه
۱۹	۱۹	۱۹	۱۹	۱۶	۴

د مړي له مال نه مخکې قرض اداکول

سوال: زما دورور واده په نولسم ستمبر(۱۹۸۰ء) باندې شوی و، اودوه میاشتې وروسته په اته ویشتم(۲۸) نومبرباندې هغه وفات شو، زما ورورچې دمرګ نه مخکې کوم ځوارلس تولې ګینه جوړه کړې وه، دهغې څه پیسې قرض وې، زماروررسره ددوومیاشتوو عده کړې وه، خو له قرض اداکولو نه مخکې هغه خپل حقیقي مالک سره ملاوشو، تاسو دقران اوسنت دربامطابق جواب راکړئ چې پیسې به دهلک مور وپلار ورکوي اوکه دهغه له جوړې شوې ګینې څخه به هغه پیسې اداکیږي ؟

جواب: که چېرې ستاسودمرحوم ورورپه ذمه باندې قرض دی، نوکومه ګینه چې هغه جوړه کړې وه ،دهغې خرڅول اوقرض اداکول ضروري دي[2]، دمورو پلارپه ذمه نه دي، هغه ګینه چې چاسره وي دهغه قرض نه اداکولوپه صورت کې ګناهګاردی، دمړي په مال باندې ناجائز قبضه کول ډیره بده خبره ده، دمرحوم دملکیت په شیانوکې (دقرض اداکولونه وروسته) وراثت جاری کیږي، اودمرحوم دبچی د پیداکیدو پورې به میراث نه تقسیمیږی، که چرې هلک پیداشو، نو د مرحوم ټول میراث به په څلیرویشتو(۲۴) برخو تقسیمیږی، څلور څلوربرخې به دمور وپلار، درې برخې دکونډې اوپاتې دیارلس برخې به دهلک وي، اوکه چېرې انجیلۍ

---

[1]]اما للزوجات. . . . . . . الثمن مع الولد او ولد الابن وان سفل، واما لبنات الصلب فاحوال ثلاث النصف للواحد. واما الأخوات لاب وام فاحوال خمس. . . . . ولهن الباقي مع البنات او بنات الابن. . . . . . الخ. لقوله عليه السلام: اجعلوا الأخوات مع البنات عصبة. (سراجی/ ۷، ۱۰/ باب معرفة الفروض/ فصل في النساء)_

[2]] قال علمائنا رحمهم الله تعالي: تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة: الأول يبدأ بتكفينه وتجهيزه من غير تبذير ولا تقتير، ثم تقضى ديونه من جميع ما بقى من ماله، ثم تنفذ وصاياه من ثلث ما بقى بعد الدين. . . . .

پيداشوه نودولس برخې به دانجيلۍ، درې دكونډې، څلوردموراوپنځه برخې به دپلاروي[1] د ميراث د تقسيم د دواړو صورتونو نقشه داده

كونډه	پلار	مور	زوی (حمل)	ورور
٣	۴	۴	١٣	محروم

دويم صورت:

كونډه	پلار	مور	لور (حمل)	ورور
٣	۵	۴	١٢	محروم

د زوی په مال کې د پلار خيانت

سوال: زما ورورد كراچۍ نه يورپ ته تلونه مخكې ماسره كاغذونه امانت ايښي وو، پلار مود لاهور نه راغلی و، هغه ته پته ولګيده نوهغه، هغه كاغذونه زمانه واخيستل، ماويل چې دكتلو دپاره به يې اخيستي وي، بيرته به يې راكړي، خوهغه انكار وكړ، ځكه چې دهغه مې په وروربانډې پيسې وې، وايي چې ترڅوپورې پيسې رانه كړي كاغذونه به نه دركوم، دې نه پرته يې وويل چې پلارته داحق حاصل دی چې داولاد له اجازې پرته دهغه څه شی استعمال يا خرڅ كړي، كله چې ورورديورپ نه راغی نوهغه ماسره امانت ايښودل شوي كاغذونه وغوښتل، ما ورورته ټول حالات بيان كړل، هغه وويل كه چېرې دپلارمې ماباندې پيسې دي، نوهغه دې ماسره مخامخ خبره وكړي، اوكاغذونه ماتاسره امانت ايښي وو، دهغو واپس كول ستاپه ذمه دي، واپس يې كړه، اوس سوال دادی چې پلارته داحق حاصل دی چې دزوی په امانت كې (كه هغه امانت دبل زوی وي) خيانت وكړي؟ دشريعت مطابق په امانت كې كوم حالاتو كې خيانت كيدای شي؟ آياداسې پلاردحسن سلوك مستحق دی؟ مهرباني وكړئ مورته بيان كړئ چې موږ هغه سره څنګه رويه اختيار كړو؟

جواب: پلارته داحق نه وحاصل چې د ورور كاغذونه كوم چې هغه بل رورسره امانت ايښي وو، واخلي، او وو ايي چې چونكې په دې هلک باندې زماقرض دی، په دې وجه باندې زه داكاغذونه اخلم، پلارته پكاردي چې خپل قرض دزوی نه واخلي اوكاغذونه هغه زوی ته واپس كړي، دكوم نه يې چې اخيستي وو، چې هغه امانت واپس كړي، پلاردامسئله هم غلطه بيان كړې ده چې پلارته دزويی دمال داخيستلواوخرڅولوحق حاصل دی،[2] صحيح مسئله داده كه پلارچېرې ضرورت منداوحاجت مندوي اوهغه سره مال نه وي، دې صورت كې دزوی مال

---

[1] قال فى العالمگيرية: يوقف جميع التركة الى ان تلد لجواز ان يكون الحمل ابناً.(ج:٦/٤٥٦/ كتاب الفرائض)

[2] قال فى البحرالرائق: ويجب رد عينه فى مكان غصبه لقوله عليه الصلوٰة والسلام: على اليد ما أخذت حتى ترد اى على صاحب اليد. (ج: ٨/ ١٢٤/ كتاب الغصب/ طبع دار معرفة/ بيروت)_

اخيستی شي، چې وخت پرې تير کړي، په هرصورت پلارته داحق حاصل نه دی.[1]

د کونډې کورنه خالي کولو دليل

سوال: يوسړی وفات شو، دمرحوم په کورباندې دهغه دکونډې قبضه ده، اودمرحوم په نوم باندې بينک کې پيسې هم دي، کورکې د استعمال سامان هم دی، دمرحوم يوزوی اودوه لوڼه دي، اود مرحوم مور، درې خويندې اوڅلوروروڼه هم ژوندي دي، اواوس دمرحوم ښځه وايي چې زه داکورپه هيڅ صورت کې نه خالي کوم، اونغدې پيسې اودکورقيمت يوځای کولونه وروسته شرعي طورباندې تقسيم وکړئ او کومې پيسې چې زمااوزمادبچيوبرخه کې رسيږي هغه دکوردقيمت نه کټ کړئ اوتاسومور، وروڼه اوخويندې يې خپلوکې تقسيم کړئ؛ آيادمرحوم دکونډې داخبره صحيح ده؟ يادساتل پکاردي چې دنغدو پيسوټول معلومات چې څومره دي اوکوم کوم بينک کې دي، يوازې دمرحوم ورورا وخورته معلوم دي.

جواب: دمرحوم ټول ميراث به په (۹۶) برخو تقسيميږي. هغو کې به شپاړس(۱۶) برخې دمرحوم مورته(شپږمه برخه) دولس برخې به دمرحوم کونډې ته(اتمه برخه) اوولس اوولس برخې به دواړو لوڼو، اوڅلوردېريش(۳۴) برخې به زوی ته ملاويږي، دمرحوم وروڼو خويندو ته به هيڅ نه ملاويږي.[2]

دکونډې داموقف خبره صحيح ده چې مورته دې خپله برخه په نغدوپيسوکې ورکړل شي، اوهغې اودهغې بچيوباندې کورخالی کول نه دي ضروري،[3] د ميراث د تقسيم نقشه داده:

کونډه	مور	لور	لور	زوی
۱۲	۱۶	۱۷	۱۷	۳۴

ترکې نه دواده اخراجات ويستل

سوال: زموږ دپلار لومړی ښځې نه دوه لوڼه اويوزوی دی، دلومړی ښځې دوفات نه وروسته ددويمې ښځې نه يې اووه لوڼه اويوزوی دی، ددريولوڼواويوزوی واده پاتې دی، په دسمبر ۱۹۹۳کې دوالدصاحب له وفات نه وروسته دمورصاحبې ويناده چې دپلارنه مې څه پاتې شوې دي په هغو به دغيرشادي شده اولاد ودونه کيږي، اوله دې نه وروسته به ميراث

[1]] ويجب على الرجل المؤسر. . . . . ان ينفق على ابويه. . . . . اذا كانوا فقراء ولو قادرين على الكسب. . . . . . . وقال عليه الصلاة والسلام: انت ومالك لابيك ....(الفقه الحنفى وادلته ، ج۲، ص۲۸۵، كتاب النفقات)_

[2]] واما للام فاحوال ثلاث السدس مع الولد و ولد الابن وان سفل، واما للزوجات. . . . . الثمن مع الولد.....الخ. واما لبنات الصلب......ومع الابن للذكر مثل حظ الأنثيين. . . . . الخ. (سراجي: ۸، ۱۱)

[3]]ولو أخرجت الورثه احدهم عن عرض او عقار بمال او عن ذهب بفضة او على العكس صح قل او كثر، حملاً على المبادلة.(البحرالرائق/ ۷/ ۲٦۰/ باب الصلح فى الدين، فصل فى صلح الورثة، طبع دار المعرفة/ بيروت) .

تقسیمیږي. ۱: میراث کله تقسیمول پکار دي؟

۲: ایا له میراث نه دبې واده اولاد اخراجات ویستل کیدای شي؟

جواب: ستاسو دوالدصاحب دوفات سره دهروارث په نوم باندې دهغه برخه منتقل شوې ده، خوښه موخپله ده چې تقسیم هرکله کوئ.[۱]

جواب: ۲ چونکې والدینو په نورو ورونو خویندو باندې دودونو خرچې کړې دي. له دې وجې نه زموږ ځایونو کې همدغه رواج دی چې دبې واده ورونو خویندو اخراجات ترې وویستل شي اوبیا پاتې مال تقسیمیږي.

که نور ورونه خویندې دمور خواهش پوره کولو باندې راضي وي، نو د ودونو اخراجات دې ترې وویستل شي اوتقسیم دې وکړل شي اوکه راضي نه وی نو پوره ترکه دې تقسیم کړل شي،[۲] خو دودونو خرچې به ټولو ورونو خویندو باندې دبرخو مطابق برداشت کول وي.

دغیرمسلمو له طرف نه دپلارپه وفات باندې دورکړل شویو پیسو تقسیم

سوال: زماوالدصاحب دیوسمندري جهاز په حادثه کې وفات شوی و، هغه دیوغیرمسلم او غیرملکي کمپنۍ جهازکې نوکر و، هغې کمپنۍ دمرګ په بدله کې څه پیسې رالیږلي دي، کومې چې موږته دپاکستاني عدالت په ذریعه باندې په شرعي طریقه باندې ملاوشوي دي، زموږ خاندان دري ورونو، څلورخویندواویوې مورباندې مشتمل دی، کمپنۍ داپیسې دکمپنۍ دقانون مطابق رالیږلي دي، چې دهغه مطابق دموراودټولونه کشری کوم چې نابالغ دی دهغه برخه دټولونه زیاته وي، اودهریونوم سره یې دهغه برخه ښکاره طورباندې ښودلې ده، اوعدالت داپیسې موږته دشریعت مطابق راکوي، سوال دادی چې ددې پیسوتقسیم دکمپنۍ دښودل شوې طریقې مطابق پکاردی اوکه داسلامي شریعت مطابق؟

جواب: داسلامي شریعت مطابق پکاردی.

آیا د میراث کورد خویندو له اجازې پرته ورونه خرڅولی شي؟

سوال: عالمان څه فرمایي دمیراث دې مسئلې باره چې موږ شپږ خویندې او یو ورور یو، مور پلار په میراث کې یودوه پوړیز (دوه چته) کور پریښی دی، مورو پلارمودواړه وفات شوي دي، دکوراصل مالکه زموږ مور وه، زموږ دڅلوروخویندو ودونه شوي دي، اودوه خویندې ناواده دي، ورور مو هم واده کړی دی، کورمو ورورپه کرایه ورکړ دز، آیاهغه زموږ خویندو له خوښې پرته کور خرڅولی شي اوکه نه؟ کورکې زموږ دخویندو دشریعت مطابق څومره برخه ده؟ اوددې

---

[۱] والارث فی اللغة البقاء وفی الشرع انتقال مال الغیر الی الغیر علی سبیل الخلافة. (عالمگیری/ ۶/ ۴۴۷)۔

[۲] ثم تنفذ وصایاه من ثلث مایبقی بعد الکفن الدین الا ان یجیز الورثة اکثر من الثلث ثم یقسم الباقی بین الورثة علی سهام المیراث. (عالمگیری/ ۶/ ۴۴۷/ کتاب الفرائض/ ردالمحتار/ ۶/ ۷۶۲/ کتاب الفرائض)۔

نه پرته دکور په کرایه کې زموږ خویندوبرخه شته اوکه نه؟ دقران اوحدیث په رڼاکې زموږ دټولو جداجدا برخه وښایئ!

جواب: دا کوربه اته(۸) برخې شي، یوه یوه برخه دخویندو، اودوه برخې د ورور، دکورچې کومه کرایه راځي دهغې به هم دغه اته برخې جوړې کړل شي،[۱] دوروړپه ذمه باندې شرعي فرض دي چې هغه خویندوته خپله برخه ورکړي، اوچونکې هغه دکوردربع (څلورمې برخې) مالک دی، درې ربع (څلورمې برخې) دخویندودي په دې وجه باندې هغه یوازې کورنه شي خرڅولی[۲]. د میراث د تقسیم نقشه داده:

ورور	خور	خور	خور	خور	خور	خور
۲	۱	۱	۱	۱	۱	۱

❖ د میراث متفرقې مسئلې ❖

د مقتول په وارثانو کې د صلح کولو مجاز ورور، مور یا زوی دی؟

سوال: په عمري بند قیدي بکردخپلې قتل شوې ښځې وارثانوسره صلح کول غواړي، خویوکس وایي چې اصل وارث زه یم، بل سره خبره مه کوه! دقتل شوې ورور، موراو زوی ژوندي دي، خوپلارېې وفات شوی دی، اوس دې دریوواړوکې شرعي، جائز، حقیقي اومشر وارث څوک دی؟

جواب: پورته بیان شوي صورت کې دقتل شوې زوی دصلح کولو مجازدی، د زوی په موجودیت کې ورونه وارثان نه دي[۳]

آیا د اولاد په نوم باندې جایداد وقف کول جائزدی؟

سوال: آیااسلام کې داولاد دپاره دوقف قانون جائزدی؟ یعنې آیا اسلام چاته داسې اجازه ورکوي چې هغه ددې قانون په ذریعه خپل جائز وارثان یعنې زامنو، لوڼو، لمسیانوپه موجودیت کې هغوی له څه جوازپرته دمیراث (یعنې ملکیت، ګاڼه کولو، یا خرڅولو) نه

---

[۱] [قال فی العالمگیریة: واذا اختلط البنون والبنات عصب البنون البنات فیکون للابن مثل حظ الأنثیین. (فتاوی عالمگیری/ ٦/ ٤٤٨/ کتاب الفرائض/ طبع رشیدیه)_

[۲] [فشرکة الأملاک العین یرثها الرجلان. . . . . وکذا ما وهب لهما. . . . . ولا یجوز لاحدهما ان یتصرف فی نصیب الآخر الا باذنه وکل واحد منهما فی نصیب صاحبه کالأجنبی لأن تصرف الانسان فی مال غیره لا یجوز الا باذنه او ولایته. (الجوهرة النیرة/ ١/ ٢٨٧/ کتاب الشرکة/ هدایة/ ٦٢٤/ کتاب الشرکة)_

[۳] [قال فی السراجي: الاقرب فالاقرب یرجحون بقرب الدرجة اعنی اولهم بالمیراث جزء المیت ای البنون ثم بنوهم وان سفلوا. (سراجی/ ١٤/ باب العصبات)_

محروم کړي؟

جواب: داولاد د وقف قانون په مطلب باندې ستاسو دتشريح مطابق پوه نه شوم، که چرې دا مطلب وي چې هغه خپل جايداد داولاد په حق کې وقف کړي، نو دصحت په حالت کې جائزدی، دمرګ په مرض کې صحيح نه دی[1].که چېرې دسوال مطلب بل څه وي نو ددې وضاحت وکړئ!

د شريک کور د قيمت اعتبار په د کله نه وي؟

سوال: دې وخت زمونږ کورکې يوه مور، کونډه خور، اومونږ دوه ورونه اوسيږو، دوه واده شوې خويندې مو جدا اوسيږي. دپلارپه ژوندکې مو (۱۹۷۴ء) کې ددې کور راته اتيازره روپۍ ملاويدې، زمونږ دواړو دجوړولوپه وجه باندې اوس داکورپه درې لکه باندې خرڅيږي، زمونږ دواړو واده شوې اودوه ناواده شوې خويندوسره د اتيا زروپه تقسيم باندې تيا ريو، خوهغوی ددې په ځای باندې په درې لکه باندې اصرارکوي، که چېرې کورخرڅ نه کړو، نوبيابه هم مونږ پيسې ورکوو اوکه نه؟ مولاناصاحب! تاسوته خواست دی چې دبرخو ليکلوپه ځای باندې دپيسوپه اسانه طريقه باندې دتقسيمولو شرعی طريقه بيان کړئ! هريوکس دخپلې ښودل شوې برخې تسليم کولوله پاره تيار دی.

جواب: دپلاردوفات په وخت کې چې دکورکوم حيثيت و، اندازه وکړئ چې نن دهغه حيثيت دکور څه قيمت کيدای شي، هغه قيمت په اته(۸) برخو تقسيم کړئ[2]، يوه برخه ستاسو د کونډې مور، دوه دوه برخې ددواړو ورونړاويوه يوه برخه ددريوواړو خويندو ده[3]. کومه اضافه چې تاسو دپلارنه پس کړې ده، او په وجه يې چې دکورپه قيمت کې اضافه شوې ده، هغه ستاسو د دواړو ورونړوده. نقشه يې داسې ده:

کونډه مور	ورور	ورور	خور	خور	خور
۱	۲	۲	۱	۱	۱

---

[1]]مريض وقف داراً فی مرض موته فهو جائز اذا كان يخرج من ثلث المال، وان كان لم يخرج فأجازت الورثه فكذٰلک وان لم يجيز وابطل فی مازاد علی الثلث. (عالمگيری/ ٦/ ٤٥١/ كتاب الفرائض)_

[2]]واذا كان ارض وبناء فعن ابی يوسف رحمه الله تعالی انه يقسم كل ذٰلک علی اعتبار القيمة لانه لا يمكن اعتبار المعادلة الا لتقويم. (هداية/ كتاب القسمة/ ٤/ ٤١٤)_

[3]]كما قال الله تبارک وتعالي: فان كان لكم ولدفلهن الثمن مماتركتم.(النساء:١٢).قال فی السراجي: اما للزوجات فحالتان الربع للواحدة فصاعدة عند عدم الولد وولد الابن وان سفل، والثمن مع الولد، وولد الابن وان سفل. (ص: ٧، ٨) قال الله تبارک وتعالي: يوصيكم الله فی اولادكم للذكر مثل حظ الانثيين. (النساء/١١). واذا اختلط البنون والبنات عصب البنون البنات فيكون للابن مثل حظ الأنثيين. (فتاويٰ عالمگيری/ ٦/ ٤٤٨/ كتاب الفرائض)_

د میراث کور څنګه تقسیم کړل شي کله چې د مرحوم نه وروسته هغه باندې نور تعمیر شوی وي

سوال: یوصاحب وفات شو، هغه په خپل میراث کې یوکور پریښې و، هغه نیم جوړشوی و، دهغه قیمت دوه نیم لکه روپۍ و، د مرحوم دمرګ نه وروسته دهغه زامنوپه خپلوپیسوباندې هغه کورپوره جوړکړواوپه څلورلکه اوشل زره روپۍ باندې یې خرڅ کړ، اوس تاسو وفرمایئ چې پورته ذکرشوې مسئلې په صورت کې به میراث څنګه تقسیمیږي؟ وارثانوکې مرحوم یوه کونډه، څلور زامن، دوه واده شوې اودوه ناواده لوڼه پریښې دي.

جواب: داکتل پکاردي که چېرې دا کورنه وی جوړ شوی، نو دهغه قیمت به څومره و؟ دڅلور لکو او شل زره روپیونه هغومره پیسې جداکړئ اوهغه (۹۶) برخې کړئ، دولس برخې دکونډې، څوارلس څوارلس برخې دڅلوروزامنو، اواووه اووه برخې دڅلورو واړولوڼو،[1] د تقسیم نقشه داسې ده:

کونډه	زوی	زوی	زوی	زوی	لور	لور	لور	لور
۱۲	۱۴	۱۴	۱۴	۱۴	۷	۷	۷	۷

د خپلو پیسو د پاره د خور نوم خودونکی میراث به څنګه تقسیمیږی؟

سوال: زما ترټولو کشرروړعبدالخالق مرحوم (پی ائي اے) کې د انجنئرنګ افسرپه عهده باندې و، واده یې نه وکړی اودوه میاشتې مخکې ناواده کړی وفات شو، دمرحوم درې وروڼه اوڅلور خویندې دي اوټول یې سکني دي، مرحوم دمرګ نه مخکې دپیسو له پاره دخپلې مشرې خورنوم اخیستی و، ددې وجه داوه چې مرحوم به خپلې دغې خورکره اوسیده. دخوراک څښاک پیسې به یې هم هره میاشت خپلې خورته ورکولې، خور به مرحوم نه کرایه وغیره نه اخیستله. دااووایئ چې شرعي لحاظ باندې دغه خوردهغه دمیراث دکوم حدپورې وارثه ده؟ اودهغه نورخپلوان هم شته څنګه چې مابیان کړي دي، اوکه چېرې دهغې خورنه پرته نورهم حق دارشته نودمیراث تقسیم څنګه پکاردی؟ داهم ووایئ چې دهغه ورورحج بدل کیدای شي اوڅوک یې کولی شي؟ اوهغه دې باره کې څه وصیت نه وکړی، آخرکې دامعلومول غواړم چې هغه باندې کوم قرض وهغه به څنګه اداکیږي؟

جواب: د مرحوم دمیراث نه به له ټولونه مخکې دهغه قرض اداکول فرض دي، دقرض اداکولو نه وروسته چې څه پاتې کیږي، دهغه په دریمه برخه کې دهغه وصیت پوره کړئ، که هغه څه

---

[1] ایضاً۔

وصيت کړی وي، که نه، پاتې ميراث په لسو (۱۰) برخو تقسيم کړئ[1]. دوه دوه برخې ددريو وارو ورونو، او يوه يوه برخه دځلورو وارو خويندو ده، دمرحوم خپل ميراث دپاره دمشرې خورنوم اخيستل څه شرعي حيثيت نه لري،[2] دمرحوم وراثان که غواړي، نو دهغه له طرف نه حج کولی شئ؛ د تقسيم نقشه داسې ده:

ورور	ورور	ورور	خور	خور	خور	خور
۲	۲	۲	۱	۱	۱	۱

د پلار خرڅ شوي کورباندې د زوی دعوی

سوال: پلارپه شل زره روپۍ باندې کورخرڅ کړ، اوزوی يې په اوږد سفرکې و، دسفرنه واپسي باندې زوی وويل چې زه به کوروااپس کوم، پلارپه خپله وعده باندې قائم دی اوچاچې کوراخيستی دی، هغه هم کورنه واپس کوي، دهغه سړي دزوی اودکوردمالک جګړه ده. پلاردکوردمالک په طرف دی، نوشرعي طورباندې زوی په حقه دی اوکه دکورمالک؟ اودابيع څنګه ده؟

جواب: کورکې چېرې دپلارملکيت وي، نوزوی ته دهغه دمنع کولو هيڅ حق نه شته، اوکه چېرې دزوی وي، نوپلارته يې دخرڅولوحق نه شته.[3]

داولاد په مال کې د مورو پلار تصرف ترکوم حدپورې جائزدی؟

سوال: ماپه خپل لاس باندې ګټل شوې ډيرې پيسې څه وخت مخکې يوخپلوان سره دامانت په طورباندې اېښې وې، څه ورځې مخکې ماته پته ولګېده ده چې هغه پيسې مې موردهغه خپلوان نه اخيستې دي اوبل چاته يې قرض کې ورکړې دي، ماته دې اوريدو سره ډېرسخت تکليف ورسيده، ځکه چې زماحالات نن سبا خراب دی اوماته دپيسوضرورت دی، خودالله تعالی دويرې په وجه باندې ما مورنه پوښتنه ونه کړله، تاسونه دامعلومول غواړم چې مور دخپل اولاد داجازه نه بغيردهغوی مال دکوم حدپورې استعمالولی شي؟ آياالله تعالی مور ته

---

[1]]قال علمائنا رحمهم الله تعالي: تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة، الاول يبدأ بتكفينه وتجهيزه من غير تبذير ولا تقتير ثم تقضٰى ديونه من جميع مابقى من ماله، ثم تنفذ وصاياه من ثلث مابقى بعد الدين ثم يقسم الباقي بين ورثته بالكتاب والسنة واجماع الامة. (سراجي/ ۲، ۳)_

[2]]واما الأخوات لاب وام. . . . . ومع الاخ لاب وام للذكر مثل حظ الانثيين يصرن به عصبة. (سراجي/ ۱۰)_

[3]] عن ابي حرة الرقاشي عن عمه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الا لا تظلموا! الا لا يحل مال امرئ الا بطيب نفس منه. (مشكوٰة المصابيح/ ۲۵۵/ باب الغصب والعارية). لا يجوز لاحد ان يتصرف فى ملك غيره بلا اذنه، او وكالة منه او ولاية عليه، وان فعل كان ضامناً. (شرح المجلة/ ٦۱/ المادة: ۹٦/ طبع حبيبيه كونته)_

دومره حق ورکړی دی چې هغه داولادنه دپوښتنه کولوبغیردهغوی مال چې کوم ځای غواړي خرچ کړي؟

جواب: تاسوچې کوم خپلوان سره پیسې امانت ایښې وې، دهغه ستاسو مورته پیسې ورکول خیانت و، دادهغه فرض دي چې هغه ستا دمورنه واپس پیسې واخلي اوتاته یې حواله کړي [۱]

موریلارکه چرې محتاج وي، نودخپل ضرورت مطابق دخپل اولاد مال اخیستی شي [۲]، خودموریلارداسې استعمالول جائزنه دي، څنګه چې ستاسو مورکړي دي.

له مخکې نه بیل شوي زوی د پلار د وفات نه وروسته په میراث کې برخه

سوال: ۱ زمادنیکه پنځه زامن دي، زمانیکه له مرګ نه مخکې وصیت کې لیکلي و چې زما دمشرزوی، مشري زوی ته، (دهغه مشر لمسي) ته دې پنځه زره روپۍ ورکړل شي اوزوی ته مې دې هیڅ ورنه کړل شي، کیدای شي چې تاسوسوچ وکړئ چې هغه به یې عاق کړی وي، داسې خبره نه ده، بلکې زماپلاربه زمادنیکه په ژوندکې جدا اوسیده، دې ته کتلوپه وجه باندې هغه دوصیت په ذریعه باندې یوازې لمسي ته فائده ورکړه، اوس زموږپه څلورو ترونوکې یووفات شوی دی، پاتې درې ترونه اودڅلورم اولادزموږدنیکه په بې انتهادولت باندې خوشحاله ژوندتیروي، دوه کاله مخکې موږدې مسئله باندې دمفتي صاحب نه فتوا اخیستې وه، هغوی فرمایلي ووچې عقل منداانسان ته شریعت دا اجازه نه ورکوي، چې هغه خپل اولاد له میراث نه محروم کړي، هغه وخت کې مشرتره ژوندی و.

سوال: ۲: اوس مسئله داده چې زموږترونه وایي چې موږدخپل ورور برخه دهغه زوی ته ورکړه. دهغوی داوینا ترکومه حده صحیح ده؟ آیازموږدپلارجائزبرخه هغوی سره اوسه پورې شته اوکه نه؟ که هغوی راکوي اوکه نه دادروسته خبره ده، که چېرې شته نوڅومره ده؟ آیالمسي ته ورکړې شوې پیسې به هم دې برخه کې شامل وي؟ او که چرې نیکه دمرګ په وخت کې یعنی په (۱۹۲۰ء) کې ټول جایداد دیولک روپوپریښې و اوس هماغه جایداددترونوپه محنت باندې پنځویش دیریش لکوروپیوشوی دی، نوبرخه به دکوم حساب مطابق وي؟ یعنی دیولک که داوسني قیمت؟ که چېرې دیو لک وي ،نوهغه وخت کې سره زرپه شل روپۍ توله

---

[۱] قال فى العالمگیریة: واما حکمها فوجوب الحفظ علی المودع وصیرورة المال امانةً فی یده ووجوب ادائه عند طلب مالکه. کذا فی الثمني: والودیعة لا تودع ولا تعار ولا تؤاجر ولا ترهن وان فعل شیئاً منها ضمن، کذا فی البحر الرائق.(عالمگیری/ ٤/ ٣٣٨/ کتاب الودیعة). قال تعالي: ان الله یأمرکم ان تؤدوا الأمٰنٰت الی اهلها. (النساء: ٥٨)

[۲] ویجب علی الرجل الموسر........ان ینفق علی ابویه....قال تعالي: فلا تقل لهما اف ولا تنهرهما، نهاه عن الاضرار بهما بهٰذا القدر،وترک الانفاق علیهما عند حاجتهما اکثرضرراًمن ذالک (الفقه الحنفی/ ٢/ ٢٨٥/ باب النفقات)

وو، او اوس په درې زره او څلورسوه باندې دي، مهرباني وکړئ د کتاب او سنت په رڼا کې ووايئ چې زموږ د پلار په میراث کې برخه شته او که نه؟

جواب: ۱: ستاسو مرحوم نیکه د خپل لمسي په حق کې د وصیت کولو حق خو و، خو د خپل زوی د میراث نه د محروم کولو حق ورته نه و. د وصیت مطابق لمسی د پنځو زرو حق دار دی، او هغه ته پنځه زره ورکول لازم دي[۱]، او پاتې میراث به پنځو برخو تقسیمول لازمي دي، یعنې د پلار د وصیت باوجود مشر ورور د خپلو ورونو برابر وارث دی[۲]، که چېرې ورونه هغه ته داحق نه ورکوي، نو د قیامت په ورځ به یې ورکوي[۳] ستاسو د ترونو داویل غلط دي چې موږ د رور برخه د هغه مشر زوی ته ورکړه.

جواب: ۲: کوم جایداد چې (۱۹۷۰ء) کې دیولک روپیوو او هغه په (۱۹۹۱ء) کې د دیرشو لکو شوی دی، نو دیرېش لکه به تقسیمېږي، یعنې د مشر ورور اولاد ته به دیرېش لکو کې پنځمه برخه ورکول وي.

ستاسو د ترونو د محنت په وجه باندې چې جایداد کې کومه اضافه شوې ده، هغې کې د حق او انصاف په نزد باندې لسمه برخه ستاسو د پلار ده.

د کونډې ښځې د جایداد نه به د بچیو برخه پلار سره وي

سوال: که چرې د ښځې پاتې شوی جایداد وي، نو په اسلام کې د بچیو ښه تربیت او ضرورت باندې د پلار حق نه شته، چې هغه پیسې استعمال کړي؟ حالانکې حکم دادی چې پیسې په څه قانوني طریقه باندې د ماشومانو د بالغ کېدو پورې اداکړل شي.

جواب: د ښځې نه پاتې شوې دولت کې چې د بچیو کومه برخه ده، هغه به د پلار په قبضه کې وي، او هماغه به یې د هغوی په ضرورتونو باندې خرچ کوي. [۴]

---

[۱] قال فى العالمگيرية: والموصٰى به يملک بالقبول فان قبل الموصٰى له الوصية بعد موت الموصى يثبت الملك له فى الموصٰى به قبضه او لم يقبضه. (ج:٦/ ٩٠/ كتاب الوصايا)_

[۲] قال تعالٰي: للرجال نصيب مماترک الوالدان والأقربون. الآية. (النساء: ٧). العصبات: وهم كل من ليس له سهم مقدر ويأخذ ما بقى من سهام ذوى الفروض، واذا انفرد اخذ جميع المال، واذا اجتمع جماعة من العصبة فى درجة واحدة،يقسم المال عليهم باعتبار ابدانهم لكل واحدسهم.(فتاويٰ عالمگيرى/٦/٤٥١/كتاب الفرائض)

[۳] وعن ابى هريرةؓ قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من كانت له مظلمة لأخيه من عرضه او شيء الى امر آخر كاخذ ماله او المنع من الانتفاع به او هو تعميم بعد تخصيص، فليتحلله منه اليوم قبل ان لا يكون دينار ولا درهم، ان كان له عمل صالح اخذ منه بقدر مظلمته.(مرقاة/ ٨/ ٨٤٩/ كتاب الآداب/ باب الظلم)

[۴] الولاية فى مال الصغيرللأب ثم وصيه. (فتاويٰ شامى/ ٦/ ٧١٤/ قبيل فصل فى شهادة الأوصياء). قال فى العالمگيرية: نفقة الأولاد الصغار على الاب لا يشاركه فيها احد. (كذا فى الجوهرة النيرة/ ١/ ٥٦٠)_

د مرحوم خاوند په میراث کې جدا اوسیدونکې ښځې ته څومره برخه رسیږي؟ او عدت به څومره وي؟

سوال: زما خاوند وفات شوی دی، موږ د یروخت پورې دیوبل نه جدا و، خاوند به خپل مورپلار سره اوسیده، او زه به خپلې بوډۍ مور سره، د وفات په وخت کې د هغه کورته لاړم او بیا مې د مور په کور کې څلوېښت ورځې عدت تیر کړې، زما د معاش ذریعه نوکري ده، او رخصتي مې اخیستې وه، آیا عدت پوره شو؟

جواب: د خاوند د مرګ عدت څلور میاشتې او لس ورځې دی[1]، او دا عدت د هغې ښځې له پاره هم لازم دی، کومه چې د خاوند نه جدا اوسیږي، تا باندې د څلورومیاشتو او لس ورځې عدت لازم دی.

سوال: د مرحوم وروړما باندې د دویم واده الزام لګولی دی، کوم چې شرعي او قانوني لحاظ باندې غلط دی، او د مرحوم جایداد او پیسې په کونډې (ما) او رونړو خویندو باندې تقسیمول غواړي، خو څومره پیسې دي دانه وایي، او دا یې هم لیکلي دي چې یوه کمپنۍ کې د مرحوم پیسې دي، هغې ته حرام او ناجائز هم وایي. خو زما په نزد کله چې ښځه موجوده وي بل چاته میراث نه شي ملاویدای، او ښځه د جایداد او پیسو وارثه ده.

جواب: مرحوم که چرې بې اولاده وفات شوی وي، نو د هغه په ټول جایداد کې د ښځې څلورمه برخه ده[2]، او پاتې درې برخې به ورونړو او خویندو کې تقسیمیږي. د وروور برخه د خور په دوه چنده[3]. د یو وارث له پاره دا حلال نه دي چې د بل وارث برخه باندې قبضه وکړي.[4]

د تره د لور په میراث کې برخه

سوال: زموږ پلار صاحب چې هغه اوس وفات شوی دی، د هغه یوه د تره لور او سه پورې ژوندۍ ده، زموږ د پلار صاحب دوه ورونړه وو، زموږ د باغ څه برخه چې هغې کې د کجورو ونې دي، او هغه د شریکې وو، زموږ پلار صاحب په ژوندکې د تره لورته څلور ونې په دې وجه باندې ورکړې وې چې ترڅو پورې ته ژوندۍ یې، د دې میوه خوره، اوس چونکې زموږ پلار صاحب او تره وفات شوي دي ، اوس وایي چې ماته د دې ونو ځمکه هم راکړئ. اوس دا خبره موږ ته هم صحیح معلومه نه ده چې ځمکه زموږ مشرانو تقسیم کړې وه او که نه؟ او زموږ پلار تره خپل

---

[1] قال تعالي: والذین یتوفون منکم ویذرون ازواجاً یتربصن بانفسهن اربعة اشهر وعشراً. (البقرة: ۳۴)_
[2] قال تعالي: ولهن الربع مما ترکتم ان لم یکن لکم ولد. (النساء: ۱۲) وقال تعالي: وان کانوا اخوة رجالاً ونساء فللذکر مثل حظ الانثیین. (النساء: ۱۷۶)_
[3] قال تعالي: للذکر مثل حظ الانثیین. (النساء: ۱۱)_
[4] عن ابی حرة الرقاشی. . . . . . الا لا یحل مال امریء مسلم الا بطیب نفس منه. (مشکوٰة/ ۱/ ۲۶۶)_

جایداد تقسیم کړی دی، خو دا برخه د شریکې وه، اوس دې کې مورډ پلار د تره لورته څومره برخه ورکړو؟ د هغوی یوه خوربله وه، دهغې واده شوی و او تقریباً شل کاله مخکې مړه شوې ده. دهغې بچي شته او زمونږ د پلار صاحب یو دریم ورورهم و، چې دهغه دژوند او مرګ هیڅ پته نه لګیږي، هغه دډیروخت نه د کورنه وتلی دی.

جواب: که چرې ستاسو یقین وي چې دې باغ کې د پلار د تره برخه هم شته او هغه برخه هغه نه ده وصول کړې نو د پلار د ترهٔ د لور حق جوړیږي، هغې ته ملاوید ل پکار دي. تاسو پوره تفصیل نه دی بیان کړی چې د پلار د ترهٔ څومره ورونه وو؟ او ستاسو د پلار څومره ورونه وو؟ که چرې ستاسو د پلار صاحب د تره دوه ورونه وو، یو ستاسو نیکه او دویم دهغه ورور (د پلار تره) نو د پلار د تره دې کې نیمه برخه شوه، او که چرې د پلار د تره د دغې لورنه پرته بل اولاد نه و، نو دهغې انجیلی د پلار په برخه کې نیمه برخه شوه[1]، دغه شان ستاسو د پلار د تره د لور په دې باغ کې څلورمه برخه ده، اوس که هغه په هر څومره وُونو باندې راضي کړل شي صحیح ده.

په یو شریک بلډنګ جګړه څنګه حل شي؟

سوال: مسئله داده چې د یو بلډنګ ملکیت کې دوه کسان شریک دي، د الف: د ملکیت حق روپۍ کې څلورانې دی، او د ب: حق روپۍ کې دولس انې دی، د بلډنګ لاندیني منزل (ګراونډ فلور)، لومړي منزل، او دویم منزل (چت) هر یو باندې د دواړو برابره برخه ده.

الف سره دلومړي منزل یوه پوره برخه ده، او په دویم منزل (چت) هم یوه مکمل برخه دهغه سره ده، هغې باندې هغه تعمیر هم کړی دی، او هغه یې استعمالوي هم.

ب سره دلاندیني منزل (ګراونډ فلور) دوه مکمل برخې او لومړي منزل او دویم منزل (چت) یوه یوه مکمل برخه ده.

دشریعت مطابق وفرمایئ چې د الف په لومړي چت په خلاصه برخه (یعنې دجوړو شویو دوه برخونه پرته) څه حق جوړیږي او که نه؟ او د الف خیال دی چې دلاندیني منزل خلاصه حصه هم دهغه ملکیت دی.

جواب: ددې دپاره د انصاف صورت دا دی چې د دریو واړو منزلو قیمت دې د ماهرانو نه معلوم کړل شي او بیا دې دا وکتل شي چې د الف: او ب: دې قیمت کې څومره څومره برخه جوړیږي؟ او بیا دې دا وکتل شي چې د دواړو په څومره څومره برخه باندې قبضه ده، او هغه د هغوی د برخې د قیمت برابر ده او که نه؟ که هر یو سره د خپل برابر برخه وي، نو بیا خو صحیح ده، که نه،

---

[1] [قال الله تعالي: وان كانت واحدة فلها النصف. (النساء: ١١) العصبات: وهم كل من ليس له سهم مقدر ويأخذ ما بقى من سهام ذوى الفروض واذا انفرد اخذ جميع المال واذا اجتمع جماعة من العصبة فى درجة واحدة يقسم المال عليهم باعتبار ابدانهم لكل واحد سهم. (فتاويٰ عالمگيريه/ ٢/ ٤٥١/ كتاب الفرائض)_

کوم يوسره چې کومه وي هغه ته دې ورکړل شي، اوکوم يوسره چې زياته وي، دهغه نه دې زياتي برخه واخيستل شي[1] اوکه چېرې ددواړوپه مينځ کې جګړه په دې خبره باندې وي چې هريوکس غواړي چې ماته دې فلانکۍ برخه ملاوشي، نودې فيصله دې دقرعه اندازي په ذريعه باندې وکړي، دکوردې وخت کې شپږبرخې دي، دهغې دې دولس برخې جوړې کړل شي، دلومړي اومينځني دې درې درې برخې جوړې کړل شي اودريمې برخې والاته دې ورکړې شي، اودويمه برخه کې دې دولس حصه کې په دويم ځل باندې دې قرعه اندازي وکړل شي اونيم دې يوته اونيم بل ته ورکړل شي[2] دټولونه اهم شی دادی چې هريوفريق ته داخيال ساتل پکاردي چې زماحق دې دبل طرف ته لاړشي، خودبل حق دې زماطرف ته رانه شی، چې سبايې ورته زه دقيامت په ورځ باندې ورکوم.

مرحوم ته د خسرګنۍ له طرف نه ورکړل شوي جايداد کې د ورونو برخه

سوال: زماپلارصاحب واده په بل کلي کې کړی و، دهغه سخرګنۍ هغه ته يوکور ورکړی و، اوځمکه يې هم ورکړې وه، اوهغې باندې به زماپلارخپل وخت تيرولو، اوس له مرګ نه وروسته دهغه ورونه په دغه جايدادکې برخه غواړي، حالانکې داځمکه زمادپلارذاتي نه وه، دپلاردطرف هغه ته نه وه ملاوشوې اوس شرعي طورباندې زامن وارثان دي اوکه ورونه؟

جواب: که داځمکه چېرې ستاسوپلارته وربښل شوې وه، نودې کې دهغه د ورونوهيڅ حق نه شته، بلکې يوازې اولادېې وارثان دي.[3]

په خپله خوښه دواده کوونکولونود پلارپه ميراث کې برخه

سوال: زماديوخپلوان درې زامن اوڅلورلونه دي، لونوکې يوې لور دپلارپه ژوندکې په خپله خوښه واده وکړ، اويوې دپلار دمرګ نه وروسته په خپله خوښه واده وکړ، پلار چونکې اوس مړ

---

[1]]واذا كان ارض وبناء فعن ابي يوسف رحمه الله تعالى انه يقسم كل ذلک على اعتبار القيمة لانه لا يمكن اعتبار المعادلة الا بالتقويم. (هداية/ كتاب القسمة/فصل فی كيفية القسمة/ ٤/ ٤١٤). (دور مشتركة او دار وضيعة او دار وحانوت قسم كل واحدا) منفردةً مطلقاً ولو متلازقةً او فی محلتين او مصرين) مسكين (اذا كانت كلها مصر واحد اولا) وقالا: ان الكل فی مصر واحد فالرأی فيه للقاضي، وان فی مصرين فقولهما كقوله (ويصور القاسم ما يقسمه على قرطاس) ويعدله على سهام القسمة ويذرعه، ويقوم البناء ويفرز كل نصيب بطريقه وشربه، ويقلب الأنصباء بالاول والثانی والثالث) وهلم جرا، ويكتب اساميهم ويقرع) لتطييب القلوب. (الدر المختار مع ردالمحتار/ ٦/ ٢٦٢/ كتاب القسمة، طبع سعيد)_

[2]]ثم يخرج القرعة فمن خرج اسمه اولاً فله السهم الاول ومن خرج ثانياً فله السهم الثانی. . . . . والقرعة لتطيب القلوب وازحة تهمة الميل. (هداية/ ٤/ ٤١٤/ كتاب القسمة)_

[3]] فيبدأ باصحاب الفرائض وهم الذين لهم سهام مقدرة فی كتاب الله ثم بالعصبات من جهة النسب. . . . . . الخ. (سراجي: ٤). من اعمر عمريٰ فهی لمعمره فی حياته وموته لا ترقبوا فمن ارقب شيئاً فهو سبيل الميراث. (درالمختار على هامش ردالمحتار/ ٦/ ٧٠٧)_

شوی دی او ورونړکې مشری وروردجایدادوارث جوړشوی دی، هغه وایي چې کومو دوه خویندوپه خپله خوښه واده کړی دی، دهغوی دپلارپه جایدادکې هیڅ برخه نه شته. کومودوو لوڼوچې خپله خوښه واده کړی دی اوهغه دواړه دپلارخپلې حقیقي لوڼه دي. آیادهغوی دپلارپه جایدادکې برخه داسلام په نزدباندې شته اوکه نه؟

جواب: کومولوڼوچې په خپله خوښه واده کړی دی دهغوی هم دپلارپه جایدادکې د نورو خویندو غوندې برابره برخه ده[۱]، دمشرروریه جایداد باندې قبضه کول حرام اوناجائزدي[۲] هغه ته پکار دي چې دخپل پلارجایدادپه لسو(۱۰) برخو تقسیم کړي، دوه دوه برخې ورونړوته اویوه یوه دې خویندو ته ورکړي[۳]. والله اعلم. د تقسیم نقشه داده:

ورور	ورور	ورور	خور	خور	خور	خور
۲	۲	۲	۱	۱	۱	۱

د وارثانوله اجازې پرته د میراث پیسې خرچ کول

سوال: میراث کې دوارثانوله اجازې اوخوښې پرته څه قسمه دخیر کارله پاره پیسې خرچ کیدای شي؟

جواب: دوارثانوله اجازې پرته نه شي خرچ کیدای.[۴]

سوال: څه پیسې دوارثانویعنې حقیقي تره اوترور له اجازې پرته جومات ته ورکړل شي، آیادا پیسې دجومات له پاره جائزدي؟

جواب: که چېرې وارثان اجازه ورکړي، نوصحیح دي،که نه، واپس دې کړل شي.[۵]

د مرحوم پیسې دې وارثانو ته ورکړل شي

سوال: دیوصاحب په کارخانه کې مادځه شیانوجوړولوډپاره اړډر ورکړی و، دغه شیان ما مخکې چرته لیږل. کارخانه دارپه مقرر شوي وخت باندې شیان تیارنه کړل اوزه یې ډیرزیات پریشانه کړم، زه یې ډیر وویرولم دهغه نه وروسته یې راته شیان تیارکړل، چونکې هغه کارخانه دار زموږمحله کې اوسیده په دې وجه باندې ماهغه ته هم هغه وخت کې پیسې ادانه کړې او پیسو مې ورسره دبیا اداکولو وعده وکړه، هغه زه ډیرتنګ کړی ووم په دې وجه باندې

[۱] قال تعالي: یوصیکم الله فی اولادکم للذکرمثل حظ الانثیین. (النساء: ۱۱)_

[۲] عن انس رض. . . . . . . من قطع میراث وارثه قطع الله میراثه من الجنة یوم القیامة. (مشکوٰة: ۲۶۶)_

[۳] یوصیکم الله فی اولادکم للذکرمثل حظ الانثیین. (النساء: ۱۱)_

[۴] لایجوز لأحد أن یتصرف فی ملک غیره بلا اذنه او وکالة منه او ولایة علیه، وان فعل کان ضامناً. (شرح المجلة لسلیم رستم باز/۶۱/رقم المادة:۹۶/طبع حبیبیه/کوئته)_

[۵] ایضاً)_

زماهم اراده وه چې هغه دپیسوباره کې تنګ کړم، دې دوران کې زه بلې محلې ته لاړم اوهغه سړی وفات شو.

اوس زه ډیرزیات خفه یم چې ماهغه کس ته پیسې ولې ادانه کړې، اوس دهغه ښځه اوبچي موجود دي، آیاشرعي طورباندې زه څه کولی شم یامعامله دقیامت ورځې ته پریږدم.

جواب: دمرحوم چې څومره پیسې تاسوباندې لازمې دي، دهغه وارثانو یعنې (ښځې اوبچیوته) یې اداکړئ.[1]

د خواښې اولیور نه غلا شوې پیسې چاته ورکړل شي؟ کله چې دواړه وفات شوي وي

سوال: زماخاوند ماته کله هم دخرچ له پاره پیسې نه دي راکړې، ماته به چې کله هم ضرورت و مابه دهغه دسیف نه واخیستې، هغه ته به پته هم نه لګیده. یوځل داسې چل اوشوچې ماته دپیسو ضرورت و، اوماته پیسې ملاونه شوې نومادخپل لیوردپرس نه دوه سوه روپۍ واخیستلې، دا یوه غلاشوه. دویمه غلاچې کله مااوکړه، زماخاوندوفات شو، ماته دپیسوډیر سخت ضرورت وونومایڼځه سوه روپۍ دخواښې دپرس نه واخیستې. ماخپل ژوند کې دوه ځله غلا کړې ده، اوس ماته ډیرسخت خفګان دی چې داکبیره ګناه ده، ځکه چې نه مې خواښې ژوندۍ ده اونه مې لیور. تاسو ووایئ چې د زړه دا خطره څنګه ختمه کړم چې الله تعالی راضي شي؟

جواب: دخواښې اولیوردمرګ نه پس دهغوی میراث دهغوی د وارثانو حق دی[2]، ستاسو دخواښې اولیورچې کوم وراثان دي، هغه کې چې دهریوڅومره شرعي برخه جوړیږي، هغه په ذریعه مثلاً دتحفې په نوم باندې هغوی ته ورکړئ![3]

ښځه مالکه نه وه په دې وجه باندې د هغې د وارثانوحق نه شته

سوال: زید یوپلاټ تقریباً دیریش کاله مخکې د ورورپه نوم کړ، اوهغه ته یې وویل چې دازه دخپل ځان له پاره اخلم، دپلاټ ملاویدونه وروسته زیدخپل رورته وویل چې داپلاټ اوس زماپه ځای باندې زمادښځې نوم ته منتقل کړه، اودغه شان پلاټ دزیددښځې نوم ته منتقل شو، دې نه وروسته زید په خپلوپیسوباندې هغه پلاټ باندې دوکان جوړکړ اوبیایې هغه په کرایه ورکړ، کرایه داربه زیدته کرایه ورکوله، اوزیدبه درسیدباندې خپل دستخط کاو، د زید دهمیشه نه دا اصول ووچې خپله ټوله ګټه به یې خپلې ښځې ته ورکوله، ددوکان نه به چې کومه کرایه ملاویده هغه به هم زیددخپل اصولو مطابق ښځې ته ورکوله.

---

[1] فان مات الطالب صار الدين للورثة فان قضاه الدين فقد برء من الدين. (عالمگیری/ ٦/ ٣٦٦)_

[2] ایضاً پورتنۍ حواله)_

[3] ایضاً پورتنۍ حواله)_

ددوکان دار زیدسره نااتفاقي پیداشوه اودوکان داردمارچ (۱۹۸۰ء) نه د(۱۹۸۵ء) پورې د شپیتو میاشتوکرایه په عدالت کې جمع کړه، دستمبر(۱۹۸۴ء) یعنی شپږمیاشتوکرایه خوزیدته ملاویدل پکار ووځکه چې دوکان دهغه په نوم شوی و. دهغه وخت کرایه کوم وخت کې چې دوکان دښځې په نوم شوې وچاته ملاویدل پکاردي. زیدته یا وارثانوته؟ اوماپورته لیکلي دی چې یوازې دښځې د خوشحالولو دپاره پلاټ دهغې په نوم شوی و. کرایې سره د ښځې څه مطلب نه و، ځکه چې زید خوبه خپلې ټولې پیسې ښځې ته حواله کولې. اودغه شان به یې د کراې پیسې هم ښځې ته ورکولې.

جواب: دتحریرمطابق دادوکان هم دزید و، په دې وجه باندې په کرایه هم دهغه حق دی، دښځې دوارثانونه، ځکه چې پخپله دښځې پرې هم حق نه و. [۱]

غیر مسلم د مسلمان وارث کیدای نه شي

سوال: مورې څلور ورونه وو، درې ورونه وفات شوي دي، زه د ټولو نه کشر یم، دڅلورو ورونو اولاد دی، ټول جدا اوسیږي، زما نه مشر ورور تقریباً (۳۵) کلو نه په لندن کې اوسیده او هلته یې د یوې عیسایي ښځې سره نکاح کړې وه چې دهغې نه دده دوه بچي پیدا شو او په لندن کې اوسیږي، د مشر ورور دمرګ درې کاله وشو، ددې په مینځ کې د مرحوم ښځه دوه ځله کراچۍ ته راغله او بیرته لاړه، دمرحوم ورور عیسائی ښځه او عیسائي زوی دده وارث کیدلی شي؟او بل دا چې د نورو مرحومو ورڼو اولاد د خپل تره یعنې زما د لندن والادورور وارث کیدلی شي؟

جواب: غیر مسلم، د مسلمان وارث نه دی [۲] په دې وجه د ستا د مرحوم ورور عیسایي زوی او ښځه په جایداد کې وارثان نه دي، او د ورور په موجودګۍ کې د نورو ورڼو اولاد هم وارثان نه دي، په دې وجه د مرحوم ورور جایداد به ژوندي ورور ته ملاویږي، والله اعلم!

د لومړي خاوند په میراث کې د ښځې حق

سوال: زما ورور وفات شو او زما وریندار ته مور ویل او خپل ټول سامان مې هغې ته حواله کړو ځکه چې څما مشره وریندار زما . . سالي . . هم ده، د ورور اولاد نشته، دوی زما بچي پاللي دي، ما ددې پنشن، د انشورنس کاغذونه جوړ کړل، کوم رقم چې ملاو شو، هغې په بینک کې په خپل نوم جمع کړ، ورور یو مکان جوړ کړی و هغه یې هم ددې په نوم کړی و، اوس وریندار بله نکاح کړې ده، تاسو اوائې چې د واده نه وروسته د میراث د کور، پیسې، فرج، ټي

---

[۱] فللمو أجر أجر. (النتف فی الفتاوی) وقال ایضاً: وله ای للمالک اجر. (ص: ۳۴۲)_

[۲] واختلاف الدین ایضاً یمنع الارث والمراد به الاختلاف بین الاسلام والکفر. . . . . . . الخ. (الهندیة / ۴۵۴/۶/ کتاب الفرائض/ طبع بلوچستان/ بک دپو)

وي، پنشن او انشورنس چې په هغې کې دا وارثه ګرځولې ده وغیره دا د چاد پاره حلال او د چا د پاره حرام دی؟ د کور په یوې کمره کې زما خسر قبضه کړې ده.

جواب: کوم مکان چې ستا مرحوم وررور د خپلې ښځې په نوم کړی و، هغه د هغې دی، ددینه پرته پاتې ترکه کومه چې د ستا د مرحوم وررور وه شرعاً په دې کې څلورمه برخه د ښځې ده [1] او پاتې درې برخې د مرحوم د وررور دي (که چرې والدین یې نه وي) ستا ورېنداره که چېرې نکاح وکړه، نو ډیر ښه یې کړي دي، دویمه نکاح هم داسې ده لکه لومړۍ نکاح ، کوم شیان چې د دې د مرحوم خاوند نه په میراث کې ددې برخې ته راغلي وي هغه ددې دي، اګر چې دې بله نکاح کړې ده او څومره برخه چې د ستا ده، هغه ته وصولولی شې.

د ستا دا خیال چې ښځه بچي پرېږدي او لاړه شي، د اسلامي نقطه نظر سره ډیره بد دی، که چرې ته داسې کوې نو د دنیااو د آخرت نقصان به اوچتوې.

د مال د څښتن له فات نه وروسته ژوند کې له هغه نه دغلاشوي مال سره څه وشي؟

سوال: یوکس په غلاه سره د بل کس مال وخوري، د صاحب مال د وفات نه وروسته اوس هغه ته خیال راغی چې څنګه زما نه بوج ختم شي، د مرحوم صحیح وارثانو ته پته نشته، کومو وارثانو ته چې پته ده د دوی نه مرحوم په ژوند کې متنفر و، اوس ددې روپیو نه مسجد یا مدرسې په تعمیر یا قرآن شریف اخیستل او په مسجدونو کې کېښودول یاخیرات کول بهتر دي چې د هغه ثواب مرحوم ته وښښل شي یا دې ناجائزه او جبري وارثانو ته یې ورکړی؟ دده د روپیو صحیح مصرف کوم یو دی؟

جواب: د ټولو نه مخکې دې د مرحوم د ټولو شرعی وارثانو تحقیق و شي، له دې وروسته دې له عالمانو پوښتنه وشي چې دچا څومره برخه ده؟ اوبیا دې هریوته د هغه برخه ورسول شي.[2]

د زوی او پلار په مینځ کې د مشترک مکان په باره کې د خسر د تقسیم مطالبه کول صحیح نه ده

سوال: ما او زما مشر زوی په شریکه یو مکان جوړ کړی و چې په هغه کې یوازې موږ دواړو روپۍ خرچ کړې وې، زما د زوی واده زما دخور د لور سره وشو، زما د خورخاوند چې هغه زما د تره زوی او زما خینښ هم دی د واده نه وروسته د مکان د تقسیم په باره کې خبره کوي او په اشاره او کنایه کې اکثر دا وایي چې زما ښځه د مکان د موجوده قیمت ۶/۱ برخه دې واخلي او

---

[1] قال تعالی: ولهن الربع مماترکتم ان لم یکن لکم ولد. (النساء: ۱۲)

[2] ان علم ارباب الأموال وجب رده علیهم والا.........یتصدق بنیة صاحبه. (فتاوی شامي: ۵/ ۹۹)

جدا دې شي، زما زوی دخپل اهل و عیال سره زما سره مقیم دې په دې صورت حال کښې د خینبر مطالبه کول تر کومه درسته ده؟ آیا ددې دا مطالبه د فتنې مترادف نه ده؟

جواب: چونکې په مکان کې روپۍ د دواړو زوی او د پلار لګیدلې دي په دې وجه د ټولو نه اول به کتل کیږي چې د چا روپۍ زیاتې لګیدلې دي؟ له دې وروسته زوی د پلار فرمانبردار دی، په دې وجه دې ده ته دا مشوره ورکړل شي چې د پلار سره اوسیږه .خو د مکان یوه برخه د زوی د رهائش د پاره مقرره کړل شي، د ستا د وفات نه پس به زوی چپله برخه جدا کړې. او د ستاسو په جایداد کې چې کومه برخه وي هغه به جدا وصول کړي د ستا د زوی د خسر په دې معامله کې مداخلت کول شرعاً ناجائز او په کور کې د فساد خورول دي، د ستا زوی ته پکار دي چې د خپلو والدینو خوښې مقدمه وګڼي.

❖ وصیت ❖

....

د وصیت تعریف او وصیت چاته کیدای شي؟

سوال: دوصیت شرعي حیثیت څه دی؟ آیاوصیت کونکی وصیت هرچاته کولی شي، کوم چې دخاندان کس وي اودوصیت کونکي په وصیت باندې عمل کیږي؟ یاوصیت صرف اولادته کیدای شي؟

جواب: وصي هرهغه کس جوړیدای شي، کوم چې نیک، دیانت دار اودشرعي مسئلونه خبروي، که دخاندان کس وي اوکه نه.[1]

سوال: دیوسرپرست شرعي حیثیت څه دی؟ دمثال په طورباندې زید یوې طلاقې شوې ښځې سره واده وکړي اوهغه ښځه ځان دمخکې خاونددیویونیم کال زوی هم ځان سره راولي، نودداسې بچي شرعي حیثیت به څه وي؟ آیادغه ماشوم په خپل ولدیت کې دخپل اصلي پلارپه ځای باندې ددې سرپرست نوم استعمالولی شي؟ جواب بیان کړئ!

جواب: ناسکه پلار(دمورخاوند) د اعزاز او اکرام مستحق دی، اوماشوم باندې شفقت هم دپلارپه شان کول پکاردي[2]، خودنسب نسبت دحقیقي پلارپه ځای باندې دهغه طرف ته کول صحیح نه دي.[3]

---

[1] قال فى العالمگيرية: ثم تصح الوصية لأجنبى من غير اجازة الورثة، كذا فى التبيين. (عالمگيرى/ ٦/ ٩٠)_

[2] عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ليس منا من لم يرحم صغيرنا ولم يؤقر كبيرنا ويأمر بالمعروف وينهى عن المنكر.رواه الترمذى.(مشكوٰة/١/٤٢٣/باب الشفقة والرحمة على الخلق)

[3] عن سعدؓ قال: سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول: من ادعى...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

وصیت څنګه کول پکار دي او د څومره مال؟

سوال: زما اراده ده چې زه د سنت مطابق د خپل جایداد وصیت وکړم، زما یو وازې یوه لورده، نور څه اولاد مې نه شته، او مور، څلور ورونه يو، او پنځه خويندې دي، ټول واده کړي دي، زمور د څلور و وارو رونو ګټه جدا جدا ده، او د پلار مرحوم میراث موصرف باراني ځمکه ده. او سه پورې تقسیم نه دی شوی ،پاتې هر يو کس په خپلو پیسو باندې دوکان، او کوراخیستی دی. او د هر يو په خپل خپل نوم باندې دی، او زما په ګټه باندې دوه دوکانونه او دا وسید و کورونه دي، يو کې زه پخپله اوسيږم او بل مې په کرایه ورکړی دی، اويوه مې د اوړو ژرنده. ده چې د هغې قیمت تقریباً يو لک شل زره روپۍ دی، اوس زما خیال دی چې زه يو دوکان د لور او ښځې په نوم کړم او دويم دوکان اوژرنده او کوم کورمې چې په کرایه باندې ورکړی دی، د هغو باره کې د الله تعالی په نوم باندې وصیت وکړم، يعنې چېرته جومات یا دیني مدرسې ته د هغو د قیمت پیسې ورکړم، او په پاتې ځمکه کې برخه زما ورونو خويندو ته ملاوشي، او چونکې زما زوی نه شته چې هغه بیا زما د پاره فاتحه وکړي، په دې وجه باندې اوس زما زړه کې دي چې زه د خپل ټول جایداد وصیت کولونه پس دنیانه لاړشم، او ټول جایداد د الله تعالی د دين له پاره وقف کړم، چې هغه صدقه جاریه شي. مايو عالم دين نه د وصيت د مسئلې باره کې پوښتنه وکړه، هغه او ويل چې ته په خپل ژوند باندې خپل جایداد خرچ کړه او د هغې قيمت چرته ديني مدرسې ته ورکړه، ځکه چې نن سبا ورنه وصیت نه پوره کوي، په دې وجه باندې ته په خپل ژوند کې دا کار وکړه. خو مولانا صاحب! نن سبا حالات د دې اجازه نه ورکوي، ځکه چې زما په لس کالو کې ګټلې شوې شیان دي، او بله څه ذريعه مې نه شته چې خپل ژوند پرې تیر کړم، او زه مزدوري هم نه شم کولی، ځمکه وغیره مې باراني ده، په هغې باندې هيڅ باور نه شته. که چرې زه جایداد خرڅ کړم او صدقه يې کړم نو د محتاجه کيدو ويره ده، او اوس زما عمر څلویښت یا دوه څلویښت کاله دی. مهرباني وکړئ تاسو زما راهنمائی او کړئ چې څه او کړم؟ او زما ورونه وغیره ټول الحمدلله په ښه حال کې دي، غريبان نه دي، مالداره دي، که چېرې زه څوک خپل وکيل جوړ کړم چې ته زما د مرګ نه پس دا خرڅ کړه او ديني کار کې يې اولګوه یا څوک عالم دين خپل وکيل جوړ کړم نو دا به څنګه وي؟ ځکه چې وارثانو باندې باور نه شته، هغوی به خپل لالچ کې وصیت پوره نه کړي، په دې وجه باندې تاسو زما د جایداد تقسیم وکړئ او د وصیت باره کې راته مشوره راکړئ! زما وراثان دا دي: څلور ورونه، پنځه خويندې، يوه لور، ميرمن او زما مور.

جواب: ستاسو د خط په جواب کې يو څو ضروري مسئلې ذکر کوم:

١. که چېرې تاسو د خپل صحت په زمانه کې دوکان یا کور خپلې ښځې یا لورته وبښئ نو دا

بقیه د تیر مخ]... الى غير ابيه وهو يعلم انه غير ابيه فالجنة عليه حرام. (صحيح البخاري/ ٢/ ١٠٠١/ باب من ادعى الى غير ابيه/ طبع نور محمد كراچي)۔

شرعي طور باندې جائز دی، کوريادوکان د هغوی په نوم کولو باندې هغوی ته حواله کړئ؛[1]

۲. داوصيت کول جائز دي چې زمادمرګ نه وروسته دومره مال جماتونو يامدرسووغيره ته ورکړئ.[2]

۳. وصيت يوازې د مال په دريمه برخه کې جائز دی، دهغې نه د زيات وصيت دوارثانو داجازې نه پرته صحيح نه دی، که چادد ريمې برخې نه زيات مال کې وصيت وکړ، نوهغه کې به د دريمې برخې پورې وصيت صحيح وي، او دهغې نه زياته برخه کې به وصيت دوارثانوله اجازې پرته صحيح نه وي.[3]

۴. که چاته داويره وي چې وارثان به دهغه وصيت پوره نه کړي، نوهغه ته پکاردي چې يودوه داسې متقيان کسان کوم چې پرهيزګاروي اوپه مسئلو باندې پوهيږي، هغوی دې دوصيت پوره کولوذمه دارجوړ کړي، اووصيت دې وليکي اودهغې ګواهان دې جوړکړي، اود ګواهانوپه مخکې دې وصيت هغوی ته حواله کړي.[4]

۵. دوفات په وخت کې چې ته دخومره جايداد مالک وې، دهغه په دريمه برخه کې به وصيت صحيح وي[5]، اوپاتې مال به داسې تقسيميږي:

دښځې اتمه برخه، دمورشپږمه برخه، دلورنيمه برخه، پاتې به ورونړاوخويندوکې داسې تقسيميږي چې دوروڼوبرخه به دخويندو نه دوه چنده وي.

سټامپ پاندې دليکل شوې وصيت نامې شرعي حيثيت

سوال: زموږ والد ددې مياشتې په اووم تاريخ وفات شو ، هغه په خپل ژوندکې يوه وصيت نامه په اسټامپ پيپر(کاغذ) باندې دخپل اولاد له پاره پريښودله، چې دهغې په نزدباندې به يوکور موږ دوه وروڼوکې تقسيم شي، اودغه شان به دويم کورپه دواړو خويندوباندې برابر تقسيم کړل شي، دځينې خلقوخيال دی چې د وصيت نامې هيڅ اهميت نه شته. پلار صاحب که چېرې په ژوند باندې خپل جايدادتقسيم کړی وی نوسمه وه، زموږمورصاحبه دالله تعالى په فضل باندې ژوندۍ ده، اودهغې يوه خورهم ژوندۍ ده، اوهغه واده شوې ده، دوصيت مطابق

---

[1] رجل وهب فى صحته كل المال للولد جاز فى القضاء. (عالمگيرى/ ٤/ ٣٩١/ كتاب الهبة). الهبة عقد مشروع تصح بالايجاب والقبول والقبض. (هداية/ ٣/ ٢٨١/ كتاب الهبة)_

[2] الايصاء فى الشرع تمليک مضاف الى ما بعد الموت يعنى بطريق التبرع سواء كان عيناً او منفعة. (عالمگيرى/ ٦/ ٩٠/ كتاب الوصايا/ طبع رشيديه). هى تمليک مضاف الى ما بعد الموت عيناً كان او ديناً.....سببها ما هو سبب التبرعات. (شامى/ ٦/ ٦٤٨/ كتاب الوصايا/ طبع ايچ ايم سعيد)

[3] ولا تجوز بما زاد على الثلث الا ان يجيزها الورثة بعد موته. (عالمگيرى/ ٦/ ٩٠/ طبع رشيديه)_

[4] يٰأيها الذين أمنوا اذا تداينتم بدين الى اجل مسمى فاكتبوه وليكتب بينكم كاتب بالعدل. . . . . . . واستشهدوا شهيدين من رجالكم. (البقرة: ٢٨٢)_

[5] ولا تجوز بما زاد على الثلث الا ان يجيزها الورثة بعد موته. (عالمگيرى/ ٦/ ٩٠/ طبع رشيديه)_

خویندو ته د هغې اولاد جائز حق دار کیدای شي، مهرباني وکړئ او وواییئ چې د اسلام په نزد باندې د استهامپ پیپر (کاغذ) وصیت نامه څه حیثیت لري؟

جواب: ددې وصیت نامې حیثیت یوازې د یو مصالحتي تجویز په شان دی، که چېرې ټول وارثان خوښ وي، نو صحیح ده[۱]، که نه، جایداد به د شریعت مطابق تقسیم کړل شي او ستاسو دنیا به هم برخه پکې وي.[۲]

آیا د مور له مرګ نه وروسته به د هغې وصیت کړل شوی جایداد زوی ته ورکول کیږي؟

سوال: یوه مور د خپل مرحوم زوی د ملکیت نه د خپلې برخې وصیت لیکي چې زما برخه دې زما فلانکي زوی(ع) ته ورکړل شي، نو آیا د مور له مرګ نه وروسته به هغه وصیت د عمل کولو قابل وي؟ او آیا هغه زوی به د مور برخه اخیستلو شرعي او قانوني طور باندې حق دار دی او که نه؟ او مرحوم زوی د کونډې له پاره هغه برخه ورکول شرعي او قانوني طور باندې لازم دی او که نه؟ مهرباني وکړئ او جواب راکړئ!

جواب: زوی د مور وارث دی، او د وارث له پاره وصیت باطل دی[۳]، څنګه چې د مور نور میراث به د شرعي برخو مطابق نورو بچیو ته ملاویږي، د غه شان به د مرحوم زوی کومه برخه چې هغې ته ملاویږي هغه به هم په شرعي برخو تقسیم شي او د هغې ټول اولاد ته به ورکړل شي.[۴]

له وارثانو پرته د نورو خپلوانو په حق کې وصیت کول جائز دي

سوال: زما یو نابالغه زوز دز، ښځه مې وفات شوې ده، میرنی مور او دوه میرني وروڼه مې دي، د حنفي فقهې په نزد باندې زما وارثان څوک کیدای شي؟ زه د خپل اولاد له پاره خو وصیت

---

[۱] ولا تجوز الوصية للوارث عندنا الا ان يجيزها الورثة وهم كبار. (فتاويٰ عالمگيرية / ٦/ ٩٠) عن عمر بن خارجة رضى الله عنه ان النبى صلى الله عليه وسلم: خطب على ناقته وانا تحت جرانها وهى تقصع بجرتها وان لعابها يسيل بين كتفي فسمعته يقول: ان الله عزوجل اعطى كل ذى حق حقه فلا وصية لوارث. (الترمذى/ ٢/ ٣٣/ ابواب الوصايا)_

[۲] قال علمائنا رحمهم الله تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة.....ثم يقسم الباقى بين ورثته بالكتاب والسنة واجماع الامة، فيبدأ باصحاب الفروض وهم الذين لهم سهام مقدرة فى كتاب الله. (سراجى/ ٣، ٤/ طبع المصباح)_

[۳] ولا تجوز لوارثه لقوله عليه السلام: ان الله تعالىٰ اعطى كل ذى حق حقه الا لا وصية للوارث. ولأنه يتأذى البعض بايثار البعض ففى تجويزه قطيعة الرحم، ولأنه حيف بالحديث الذى روينا.(هداية/ ٤/ ٦٢٥/ كتاب الوصايا)

[۴] قال علمائنا رحمهم الله تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة.....ثم يقسم الباقى بين ورثته بالكتاب والسنة واجماع الامة، فيبدأ باصحاب الفروض وهم الذين لهم سهام مقدرة فى كتاب الله. (سراجى/ ٣، ٤/ طبع المصباح)_

نه شم کولی، خو ایا دڅه خاص کسانو له پاره وصیت کولی شم دچاچې ما باندې احسانونه وي. (پلار شریک ته علاتي ویل کیږي)

جواب: زوی ستاسو وارث دی، او دزوی په موجودیت کې ورور او میرنی ورور وارثه نه شي کیدای[۱]، څوک چې ستاسو وارثان نه دي، د هغوی په حق کې د مال په دریمه برخه کې وصیت کولی شئ.[۲]

د مرحوم وصیت د مال په دریمه برخه کې پوره کول ضروري دي

سوال: زما پلار له مړکیدو نه څومیاشتې مخکې وصیت کړی وچې زما جایداد کې دریمه برخه دوه لکه روپۍ جوړیږي، دغه دریمه برخه داسې تقسیم کړئ چې دوه حج بدل وکړئ. یو زما د پلار له پاره، دویم زما له پاره، پاتې پیسې مدرسوته ورکړئ! اوس موږ ددې مسئلې پوښتنه کووچې داکومه دریمه برخه چې دمرګ نه وروسته زموږ دپلار میراث دی هغې کې موږ خان ته څه پرینښودی شوا وکه نه؟

جواب: مړشوی کس که د مال دریمې برخې پورې وصیت وکړي، نو د وارثانو په ذمه باندې دهغه پوره کول فرض شي. ستاسو پلار چې کوم میراث پرینښی دی، دهغه په دریمه برخه کې دننه دهغه وصیت پوره کول تاسو باندې لازم دي[۳]، او مرحوم چې څنګه وصیت کړی دی هماغه شان یې پوره کول ضروري دي، یعنې دهغه دطرف نه او دهغه دپلار دطرف نه حج بدل کول[۴]، او د مال په دریمه برخه کې چې څه پاتې شي هغه مدرسوته ورکول.

وصیت شوی شی بیرته اخیستل

سوال: زما نیا اونیکه حج ته تللو وخت کې خپل کور او دوه ټیکسیان زما په نوم میراث کې لیکلي وو، او څه ګینه یې زماموړته ورکړې وه، زما دنیکه دوه بچي دي، یعنی یوه زما واده شوې ترورچې هغه اوس امریکه کې اوسیږي، او دویم زما پلار چې دهغه زه یوزوی یم، او دحج نه بیرته راتلو سره زما نیکه میراث نامه بیرته واخیستله او کوریې په کرایه ورکړ، او اوس هغه دکور او ټیکسیانو کرایه پخپله باندې اخلي، او هرڅه یې په خپل اختیار او استعمال کې دي، مهرباني وکړئ ددې مسئلې باره کې خپل خیال وړاندې کړئ!

جواب: ستاسو نیکه به ستاسو په حق کې وصیت کړی وي او وصیت د مرګ نه مخکې بیرته

---

[۱] اما العصبة بنفسه.........اولهم بالميراث جزء الميت اى البنون ثم بنوهم وان سلفوا. (سراجی/ ١٤)_

[۲] وتجوز بالثلث للأجنبی. (درمختار علی هامش ردالمحتار/ ٦/ ٦٥٠)_

[۳] وتنفذ وصاياه من ثلث ما يبقى بعد الكفن والدين. (فتاویٰ عالمگيری/ ٦/ ٤٤٧/ كتاب الفرائض) ايضاً: تنفذ وصاياه من ثلث ما بقى بعد الدين. (السراجی/ ٢. ٣)_

[۴] وان مات حاج فى طريقه واوصٰى بالحج عنه يحج من بلده راكباً. (ردالمحتار/ ٦/ ٣٦٣)_

اخیستل کیدای شي، په دې وجه باندې به ستاسو دنیکه هغه وصیت منسوخ ګڼل کیږي.[1]

د ورور په وصیت شویو پیسو او مال څه وکړو؟

سوال: زما ورور په پی ائی اے کې نوکرو، زما د ورور ټولې خرچې ما برداشت کړې وې. دې نه پرته داچې هغه به ماسره اوسیده، پی ائی اے هرکال یوفارم ډکوي، هغه کې دنوکرنه پوښتنه کیږي چې د نوکري په دوران کې د مړکیدو په صورت کې به هغه ته د ملاویدونکو پیسو حق دار څوک وي؟ هغه کې ددوه کسانو ګواهي هم وي، دغه شان به مرحوم هرکال زمانوم اچولو، او مرحوم دبیماري په دوران کې دخپل قرض ذکرهم کولو چې زما دمرګ نه وروسته ددې دې خلکو زه قرض داریم، کله چې دپی ائی اے نه پیسې ملاؤشي، نودې خلکوته پیسې ورکړه، دمرحوم دمرګ نه څو میاشتې وروسته پی ائی اے سره مو رابطه وکړه اوټولې پیسې مو خپل اکاونټ ته راواړولې، دې دوران کې مونږته دپی ائی اے دطرف نه خطونه ملاؤشول چې هغو کې دپیسو تفصیل دادی:

١. **فنډ**: دملازمت په دوران کې محکمه څه پیسې دملازم نه اخلي، اودمرګ په صورت کې یا د ریټائرډمنټ(تقاعدي) په صورت کې چې څومره پیسې وي، هغومره ورسره نورې ورکړي.

٢. **پنشن**: دهرې میاشتې پنشن یې مقررکړې دی، چې هغه به هره میاشت پی ائی اے اداکوي. دمرحوم نور وروڼه او خویندې هم شته، دمرحوم دمرګ نه وروسته ماوروڼو ته وویل چې دهغه سامان وغیره یوسئ، ټولووویل چې ستادی، ته یې چې چاته ورکول غواړې ور یې کړه.

دبیان شوې مسئلې په رڼاکې ووایئ چې ددې پیسو حق دار به ښودل شوی کس وي اوکه ټول خلک؟ اوداهم ووایئ چې دبینک دپیسو حق داربه څوک وي؟

جواب: ستاسو ورورچې دپی ائی اے په فارم کې ستاسونوم ښودلی و، دهغه حیثیت د وصیت دی، اودشرعي اصولو مطابق دوارث دپاره وصیت صحیح نه دی، اوکه چرې وکړل شي نوهغه صحیح نه نافذ کیږي، ذکرشوي صورت کې به ستاسو دمرحوم ورورباندې چې دپی ائی اے اودبینک نه کومې پیسې ملاویږي، دټولونه مخکې خودهغو پیسونه دمرحوم قرض ادا کړئ، له دې وروسته چې کومې پیسې پاتې شي دهغو حیثیت دمیراث دی، اوهغه په وارثانو کې تقسیمیدل پکاردي، خوکه چیرې ستاسوځلور واړه وروڼه اوخویندې دمرحوم وصیت برقرار ساتلوسره وایي چې :مونږدمرحوم ورور پیسې تاته وبښلې، نوبیاتاته دټولو پیسو

---

[1] ویجوز للموصی ان یرجع عن الوصیة....الخ.(النتف فی الفتاوی/ ٥٠٤) وفی الهدایة: ویجوز للموصی الرجوع عن الوصیة، واذا صرح بالرجوع او فعل ما یدل علی الرجوع کان مرجوعاً. (هدایة / ٤/ ٦٤٤) وفی الهندیة (ج:٦/ ٩٢) کتاب الوصایا، الباب الاول:ویصح للموصی الرجوع عن الوصیة ثم الرجوع قدیثبت صریحاً وقد یثبت دلالةً.

اخیستلو حق دی اوکه وارثانوکې کوم وارثان مطالبه کوي، دهغوی په مینځ کې به دمال تقسیم دمیراث داصولومطابق کیږي.[1]

د خویندو په موجودیت کې یوازې د ورورله پاره وصیت کول جائز نه دي

سوال: یونیک سړی چې هغه دګورنمنټ نوکرو.دنهه میاشتې ناروغی نه وروسته وفات شو. هغه واده نه وکړی اومور و پلاریې وفات شوي وو، دهغه یوازې یو وروراوشلورخویندې دي. هغوی کې درې خویندې واده شوې دي اویوه خورېې نه ده واده شوې، دمرګ نه مخکې هغه سړی دخپلې څمکې اودفترنه دواجباتوله پاره دخپل ورورنوم اخیستی و، دخویندویه مخکې یې زباني هم وویل اوویې هم لیکل چې :زمادهریوشي مالک زماکشر ورور دی، اوس تاسونه د فقهې په رڼاکې پوښتنه کوو چې:که چېرې دحکومت له لوري مړشوي کس ته پنشن او نور واجبات ملاوشي، نویوازې وروربه یې حق دار وي اوکه خویندوته به هم برخه ورکول کیږي، او مرحوم یوازې دورورنوم ښودلی دی، اوویلي یې دي چې :زمادهریوشي مالک زما ورور دی.

جواب: دمرحوم وصیت غلط دی، خویندې به هم برخه دارې وي[2]، د مرحوم میراث به(چې هغه کې واجبات وغیره هم شامل دي) شپږ برخې شي، دوه برخې به وروته اویوه یوه برخه به څلورو واړه خویندوته ورکړل شي.[3]

سوال: دفقهې په رڼا کې حکومت اودمرحوم دفتروالوته دهغه دپنشن او نورواجبات کوم چې تقریباً یونیم لاک جوړیږي، دهغه ښودل شوي ورورياخویندوته اداکول پکاردي، چې دهغه ښځه اوبچي نه شته، او مور پلاریې هم نه شته، یاداپیسې دې دفتروالا له ځان سره کیږدي، ځکه چې دفتر والودې پیسواداکولوپاره دهغه دورورا وخویندو نه انکارکړی دی، چې دمرحوم ښځه اوبچي نه شته اومور پلار یې هم نه شته. اودفقهې په رڼاکې که حقیقي ورور او خور موجود نه وي، نوحق دار او وارثان وریرونه اووریرې وي.

---

[1] ولا تجوز الوصية لوارثه، لقوله عليه الصلوٰة والسلام: ان الله اعطى كل ذى حق حقه، الا لا وصية لوارث ولأنه يتأذى البعض بايثار البعض ففى تجويزه قطيعة الرحم، ولأنه حيف بالحديث الذى رويناه. (الهداية/ ٤/ ٦٢٥) قال فى العالمگيرية: لا تجوز الوصية لوارث الا ان تجيزها الورثة. (فتاوىٰ عالمگيرية/ ٦/ ٩٠). قال فى السراجي: قال علمائنا رحمهم الله تعالي: تتعلق بتركة الميت حقوق اربعة مرتبة: الاول يبدأ بت-نه وتجهيزه من غير تبذير ولا تقتير ثم تقضىٰ ديونه من جميع مابقى من ماله، ثم تنفذ وصاياه من ثلث مابقى بعد الدين ثم يقسم الباقى بين ورثته بالكتاب والسنة واجماع الامة. (سراجى/ ٢، ٣)۔

[2] عن ابى امامة الباهلى قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول فى خطبة عام حجة الوداع: ان الله تبارک وتعالىٰ قد اعطى كل ذى حق حقه، فلا وصية لوارث. (جامع الترمذى/ ٢/ ٣٢/ ابواب الوصايا). وفى سنن نسائي: ٢/ ١٣١/ عن عمرو بن خارجة خطب رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: ان الله قد اعطى كل ذى حق حقه الا لا وصية لوارث)۔

[3] قال الله تعالي: وان كانوا اخوة رجالاً ونساء فللذكر مثل حظ الانثيين. (النساء: ١٧٦)۔

جواب: پنشن اونورو واجباتوکې دحکومت دقانون اعتباردی، که قانون هم داوي چې کله دمرحوم مورپلاراوښځه بچي نه وي، نوبل خپلوان ته هغه واجبات نه شي اداکيدای، نو ددفتروالوخبره صحيح ده، که نه، غلطه ده.

له وصيت کولو پرته د مرحوم د ميراث تقسيم کله چې وارثان يې هم معلوم نه وي

سوال: يوافغانی سړی په بل ملک مثلاً پاکستان کې وفات شي، دهغه ميراث دلته پاتې شي اودهغه څوک وارث معلوم نه وي اونه يې څه وصيت کړی وي، نوايادهغه ميراث دلته غريبانو، ،جومات ، مدرسې يادينې کتابونوباندې خرچ کول جائزدي اوکه نه؟

جواب: دهغه وفات شوي سړي ميراث افغانستان ته وليږئ، چې دهغه ځای حکومت يې تحقيق کولونه وروسته دهغه په وارثانو تقسيم کړي، دلته دهغه دميراث داستعمالولواجازه نه شته.[1]

❖ د ذوي الارحام ميراث ❖

يادونه: ذوي الارحام هغو وارثانوته ويل کيږي چې دهغوی او مړي په مينځ کې د ښځې واسطه وي، مثلاً دلوراولاد يا لمسی اولاد.

سوال: يوسړی وفات شو، دهغه په شپږم پشت کې دهغه په اولادکې يوازې ذوي الارحام دي، چې تفصيل يې ددې نقشې نه معلوميږي، دهغه سړی ميراث به شپږم پشت کې ذوي الارحامو باندې څنګه تقسيميږي؟

١ زوی زوی زوی زوی لور لور لور لور
٢ زوی زوی زوی زوی لور ځوې لور لور
٣ لور لور زوی زوی لور لور زوی لور
۴ زوی لور لور لور لور لور زوی زوی زوی لور
۵ زوی زوی لور زوی لور زوی لور زوی لور لور
٦ زوی، زوی لور، لور زوی زوی، زوی لور زوی لور، زوی لور زوی لور لور

جواب: دشپږو پښتونوله پاره دوه صدۍ(پيړۍ) پکاروي، اودومره زمانه کې دعادت مطابق داممکن نه ده چې يوکس مړشي اودهغه په شپږم پشت کې يوازې لمسی اولمسي پاتې شي، په دې وجه باندې ستاسوداسوال يوازې زمادامتحان اخيستلودپاره دی، اودامتحان صحيح

[1] عن ابن عباس رضى الله عنهما عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: الحقو الفرائض باهلها. الحديث. (صحيح البخارى/ ٢/ ٩٩٧)۔

وخت دطالب علمي ياڅواني و، اوس ددې غريب بوډاامتحان اخيستلو باندې به تاسوڅه وکړئ؟ په دې وجه باندې مې زړه نه غوښتل چې ددې سوال جواب وليکم،
بيا راته خيال راغی چې دنن پورې چاد ذوی الارحام دميراث دمسئلې پوښتنه نه ده کړې، دجواب ليکلواراده مې وکړه.

لومړی دا اصول معلومول پکاردي، کله چې دلومړي پښت نه وروسته ذوي الارحام (دلوراولاد) وي نوامام يوسف رحمه الله د آخری پښت له پاره **للذکر مثل حظ الانثيين** په قاعده باندې تقسيموي، مخکې پښت ته دکتلوضرورت نه کيږي.

مثلاً ستاسوپه مسئله کې په شپږم پښت کې اته هلکان دي، يعنې ۱، ۳، ۵، ۶، ۷، ۹، ۱۱، ۱۳ اواووه جينکۍ دي، يعنی ۲، ۴، ۸، ۱۰، ۱۲، ۱۴، ۱۵

دامام ابويوسف رحمه الله په نزدباندې به داميراث په ديرشو برخو تقسيم شي، دوه دوه برخې به هلکانواويوه يوه برخه به جينکوته ورکړل شي.

اوامام محمد رحمه الله دټولونه لومړي پښت نه، چې کوم کې اختلاف شوی دی، دې پښت کې هلکان اوانجونه دواړه موجود دې، **للذکرمثل حظ الانثيين** (يعنی دهلک برخه ددووجينکو برابر) په قاعده باندې تقسيموي.
دهغوی په نزدباندې دويمه قاعده داده چې کوم ځای کې هلکان اوجينکۍ موجودوي، هلته دجينکواوهلکانوبرخه جدا کړي، اوداقاعده په هرپښت کې جاري ساتي.
دريمه قاعده دهغوی داده چې دپورته نه دتقسيم کولوپه وخت کې هرهلک اوانجيلۍ دهغوی د فروع په لحاظ سره متعدد کيږي.

اوس دقاعدوپه رڼاکې په خپله مسئله باندې غوروکړئ، دې کې چې دلومړي پښت نه کوم اختلاف شروع شوی دی هغه د آخری پښت پورې موجود دی، په دې وجه باندې به دلته دلومړي پښت نه تقسيم شروع کيږي.

لومړی پښت

لومړي پښت کې څلورزامن اوڅلورلوڼه دي، خوداول زوی لاندې څلور فروع دي، هغه به د څلوروقائم مقام وي، اوددريم زوی لاندې دوه فروع دي، هغه به د دوه زامنوقائم مقام وي. هلکان به دڅلوروپه ځای حکماً اته وي، اوجينکوکې د دويمې انجيلۍ لاندې دوه فروع او د څلورمې لاندې درې فروع دی،دلته څلورجينې حکما اووه شوې اواته هلکان دشپاړسو جينکوقائم مقام وي،په دې وجه باندې به مسئله ددیرشونه بهرشي،شپاړس د هلکانو او اووه دجينکو

دویم پشت

دویم پشت کې په تقسیم کولو کې مورِ د هلکانو او جینکو برخې جدا جدا کړي، د هلکانو لاندې دې پشت کې درې هلکان او یوه انجیلۍ ده، خو لومړی هلک د څلورو برابر دی، او دریم د دوو، حکما اووه هلکان او یوه انجیلۍ شوه، او د دوی پنځلس برخې جوړې شوې، دوی سره شپاړس برخې وې چې هغه دوی باندې نه تقسیمېږي او د دوی په رؤوس او حصو کې تباین دی، اصل مسئلې ته پنځلسو کې ضرب ورکولو ضرورت دی، دلته د جینکو په خانه کې یو هلک او درې جینکۍ دی، لومړۍ انجیلۍ د دوو جینکو برابر ده، او دریمه انجیلۍ د دریو جینکو برابر ده، حکما شپږ جینکۍ شوې، او هلک د دوو جینکو برابروي، د دوی مسئله د اتو نه بهرشوه، او دوی سره اووه برخې دي، چې هغه دوی باندې نه تقسیمېږي، او د دوی په مینځ کې په رؤوس کې تباین دی، د هلکانو د فریق رؤوس (کوم چې پنځلس وو) د مخکې جینکو د رؤوس سره (کوم چې اته دي) ضرب ورکړئ، جواب یې ۱۲۰ راځي، بیا ۱۲۰ ته اصل یعنی ۲۳ کې ضرب ورکړئ، داشو (۲۷۲۰) اوس د هلکانو برخې (۱۲) ته (۱۲۰) کې ضرب ورکړئ نو د هلکانو د فریق برخه (۱۹۲۰) راغله، او هغه په پنځلسو باندې تقسیم کړه نو د نجونو حصه (۱۲۸) او د هلکانو (۷۹۲) شوه، دلته د جینکو اووه حصو ته (۱۲۰) سره ضرب ورکړئ، نو (۸۴۰) حصه راغله، هغه په اتو باندې تقسیم شوه نو د زوی حصه (۲۱۰) او د لوڼو حصه (۲۳۰) شوه.

دریم پشت

دریم پشت کې د دویم پشت هلکان او جینکۍ بیا په جدا جدا خانو کې کېښودل شول، لومړي فریق کې اووه هلکان جدا او یوه انجیلۍ جدا کړی شوه، او د هغې انجیلۍ لاندې د شپږم پشت پورې هیڅ اختلاف نه شته، د هغې حصه آخري پشت ته منتقل شوه، د غه شان په دویم فریق کې زوی جدا او شپږ لوڼه جدا کړی شوې، او چونکې د هلک لاندې د آخره پورې اختلاف نه شته، په دې وجه باندې د هغه حصه د شپږم پشت وارث ته ورکړل شوه، اوس لومړي فریق کې د دریو زامنو لاندې یوه لورده چې هغه د څلورو برابرده او یو زوی دی چې هغه د دوو جینکو برابردی، او یوه لوریوازې ده، د دوی مسئله د نهو نه بهرشوه، خو د هغوی حصې (۱۷۹۲) په ۹ باندې نه تقسیمېږي، په دې وجه باندې اصل مسئلې ته ۹ کې ضرب ورکړئ، جواب یې (۲۴۸۴۰) شو، بیا د لومړي فریق حصه (۱۷۹۲) ته ۹ کې ضرب ورکړئ نو (۱۶۱۲۸) شوې، هغوی کې د زوی برخه (چې هغه د دوو لوڼو یعنې د څلورو جینکو برابرو) (۷۱۲۸) ووتله. او د پنځو لوڼو حصه ۸۹۲۰ شوه، دلته دویم فریق سره (۲۳۰) برخې وې، هغو ته ۹ کې ضرب ورکړل شو، نو د هغوی برخې ۵۲۷۰ جوړې شوې، د دې فریق رؤوس ۷ دی پنځه لوڼه او یو زوی، کله چې ۵۲۷۰ په ۷ باندې تقسیم شو، نو د زوی برخه (۱۲۲۰) او د پنځو لوڼو برخه (۴۰۵۰) شوه، اوس د دواړو فریقانو د زامنو برخه جدا او د جینکو برخه جدا شوه.

ځلورم پشت

ځلورم پشت کې دلومړي فريق دلوڼو لاندې ځلوروارثان دي، زوی لور (کوم چې دوؤبرابردی) لور، لورددوی مسئله دشپږونه ووتله. اوددوی حاصل شوې برخې ۸۹۲۰ په ۲ باندې نه تقسيميږي ، اصل مسئلې ته به ۲ کې دضرب ورکولوضرورت دی، دلته په دويم فريق کې يوهلک ددووجينکوبرابردی، اويوه لور ددريو جينکوبرابره ده، ددوی مسئله د۷ نه ووتله، اوددوی برخې ۴۰۵۰ په ۷ باندې نه تقسيميږي، ۷ ته به هم اصل مسئلې کې دضرب ورکولوضرورت وي. دلومړي فريق رؤوس ۲ ته ددويم فريق رؤوس ۷ سره ضرب ورکړی شو. حاصل يې ۴۲ راغی، بيادې جواب ته اصل مسئلې (۲۴۸۴۰) سره ضرب ورکړل شو.نوجواب يې (۱۰۴۳۲۸۰) راغی. هم دې نه به ټولې پيسې تقسيميږي، دلومړي فريق (۸۹۲۰)حصوته به (۴۲) کې ضرب ورکړل شي نودهغې نه (۳۷۲۳۲۰) جوړې شوې، هغه چې په ۲ باندې تقسيم شي، نودهلک حصه ۱۲۵۴۴۰ راغله اودځلوروجينکو ۲۵۰۸۸۰ راغله، دلته ددويم فريق (۴۰۵۰) حصوته (۴۲) کې ضرب ورکولوسره دهغې نه (۱۷۰۱۰۰) حصې جوړې شوې، هغه په ۷ باندې تقسيم کړی شوه، نو دزوی (چې هغه ددوولوڼوبرابر دی) حصه (۹۷۲۰۰) شوه، اودلورچې هغه ددريولوڼوبرابرده، حصه ۷۲۹۰۰شوه، اوس مورږد دوو فريقو لوڼو اوزامنو بياجداکړل.

پنځم پشت

پنځم پشت کې لومړی فريق کې ددريوهلکانولاندې درې وارثان دي، يوزوئ چې هغه ددووبرابردی، اويوه لور، او يوزوی، ددوی مسئله د۷نه بهرشوه، ددوی حاصل شوې حصې (۲۵۰۸۸۰) په ۷ باندې تقسيم شوې نودلورحصه (۳۵۸۴۰) شوه، اود دريو زامنو حصه (۲۱۵۰۴۰) شوه اودويم فريق کې دزوی لاندې زوی اود لور لاندې لورد ، دهغوی دواړوحصه بغيرد کميدويازياتيدونه وارثانوته منتقل شوه.

شپږم پشت

شپږم پشت کې لومړي نمبردخپل نيکه يووارث دی، په دې وجه باندې دهغه حصې ۱۲۵۴۴۰ هغه ته منتقل شوې، نمبر۲ ، نمبر۳، اوپنځم نمبرته ددووهلکانو ميراث ملاوشو، کوم چې د دريو برابردی، اودهغوی حصې ۲۱۵۰۴۰ **للذکر مثل حظ الانثيين** په اصول باندې هغوی ته ورکړل شوې، نودنمبر۲ حصه ۴۳۰۰۸، د نمبر۳ حصه ۸۶۰۱۲ اودنمبر۵ حصه ۸۶۰۱۲ شوه، نمبر۴ دخپلې مور يووارث دی، دهغه حصه ۳۵۸۴۰ هغه ته ملاوشوه. نمبر۶ او نمبر۷ دخپل نيکه وارث دی، دهغه حصه ۳۰۱۰۵۲ دواړوته برابرورکړل شوه نودهريوحصه ۱۵۰۵۲۸ شوه. اتم نمبرانجيلۍ دخپلې نيايوه وارثه ده، په دې وجه باندې دهغې حصه

۴۸۳۸۴ هغې ته ملاؤشوه. نمبر۹ دخپل نیکه دنیکه یووارث دی، دهغه حصه ۷۹۳۸۰ هغه ته ملاؤشوه. نمبر۱۰ اونمبر۱۱ باندې دهغوی دنیکه ۹۷۲۰۰ حصې **للذکرمثل حظ الانثیین** په قاعده باندې تقسیم کړې شوې نودنمبر۱۰ حصه ۳۲۴۰۰ او دنمبر۱۱ حصه ۶۴۸۰۰ شوه. نمبر۱۲ دخپلې موردنیادرې وارثان دی. دهغوی حصه ۷۲۹۰۰ **للذکرمثل حظ الانثیین** په قاعده باندې تقسیم شوه نونمبر۱۳ ته ۳۶۴۵۰، نمبر۱۴ ته ۱۸۲۲۵ اونمبر۱۵ ته هم ۱۸۲۲۵ ملاؤ شوې. یوجدا کاغذباندې نقشه هم درلیږم، څکه چې تاسوپه سوال کې خانې وړې ساتلې وې، هغوکې دحصو لیکل مشکل دي.

۱۰۴۳۲۸۰=۴۲×۲۴۸۴۰=۹×۲۷۶۰=۱۲۰×۲۳

	۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰	۱۱	۱۲	۱۳	۱۴	۱۵
۱	بیټا ۱۵				بیټا ۱۶ =۱۹۲۰÷۱۵=۱۲۸ ۱۶×۱۲۰	بیټا		بیټا	بیټی	بیټی		بیټی	بیټی =۸۴۰÷۸=۱۰۵ ۷×۱۲۰		
۲	بیټا ۹				بیټا ۱۷۹۲ ×۹=۱۶۱۲۸ ۱۷۹۲	بیټا		۱۱۵۲=۹×۱۲۸ ۴۸۳۸۴=۴۲×	بیټا =۴۲×۱۸۹۰=۹×۲۱۰ ۷۹۳۸۰	بیټی ۷		بیټی ۶۳۰	بیټی ×۹=۵۶۷۰÷۷=۸۱۰ ۶۳۰		
۳	بیټی ۶ =۶÷۳۷۶۳۲۰=۴۲×۸۹۶۰ ۶۲۷۲۰		۸۹۶۰		بیټی	بیټا =۴۲×۷۱۶۸ ۳۰۱۰۵۶		بیټا	بیټی	بیټی		بیټا =۴۲×۱۶۲۰ ۶۸۰۴۰	بیټی ۴۰۵۰ ÷۷=۲۴۳۰۰ ۱۷۰۱۰۰ ×۴۲=۱۷۰۱۰۰ ۴۰۵۰		
۴	بیټا ۱۲۵۴۴۰	بیټی ۷	۲۵۰۸۸۰	بیټی ÷۷=۳۵۸۴۰ ۲۵۰۸۸۰	بیټی	بیټی		بیټی	بیټا	بیټا ۹۷۲۰۰		بیټا	بیټی ۷۲۹۰		
۵	بیټا	بیټا ۵	۲۱۵۰۴۰	بیټی ۳۵۸۴۰	بیټا	بیټی		بیټا	بیټی	بیټا		بیټی	بیټی		
۶	بیټا ۱۲۵۴۴۰	بیټی ۴۳۰۰۸	بیټا ۸۶۰۱۶	بیټی ۳۵۸۴۰	بیټا ۸۶۰۱۲	بیټا ۱۵۰۵۲۸	بیټا ۱۵۰۵۲۸	بیټی ۴۸۳۸۴	بیټا ۷۹۳۸۰	بیټی ۳۲۴۰۰	بیټا ۶۴۸۰۰	بیټی ۶۸۰۴۰	بیټا ۳۶۴۵۰	بیټی ۱۸۲۲۵	بیټی ۱۸۲۲۵
	۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰	۱۱	۱۲	۱۳	۱۴	۱۵

❖ د جهاد او شهید حکمونه ❖

....

اسلام کې د جهاد في سبیل الله مقام

سوال: اسلام کې دجهاداوشهادت څه مرتبه اومقام دی؟ زموږ په علاقه کې نن سبادې موضوع باندې بحث دی، تفصیل سره یې بیان کړئ!

جواب: په دې عنوان دنویولیکولوپه ځای به مناسب دا وي چې دحضرت مولانامحمدیوسف بنوري رحمة الله دمقالې ترجمه وړاندې کړم کومه چې ما څوکاله مخکې کړې وه، حضرت بنوري رحمة الله د(۱۹۷۱ء) دمارچ په اخر کې (**مجمع البحوث الاسلامیه مصر**) ته په شپږم کانفرس کې دشرکت له پاره قاهرې ته تشریف وړی و، تقریبا دیریش دوه دیریشوعنوانونوکې یې په پورته بیان شوي عنوان باندې مقاله لیکلې او لوستلې وه، دهغې پښتو ترجمه داده:

الحمدلله رب العالمین والعاقبة للمتقین، ولاعدوان الاعلی الظالمین، والصلوة والسلام علی سیدالانبیاء والمرسلین وخاتم النبین محمدوعلی اله وصحبه وتابعیهم اجمعین، امابعد!

محترمو! اسلام کې جهادفي سبیل الله ته هغه مقام حاصل دی چې (دنبوت اوصدیقیت نه وروسته) دغې نه غټ عمل داحیثیت نه شي حاصلولی، داسلام په مثالي دورکې اسلام او مسلمانانو ته چې کومه ترقي نصیب شوې وه، هغه دهغه شهیدانودځان قربانولو او بهادري له وجې وه، کوموچې دالله تعالی دخوشالي اوداسلام دکلمې داوچتولوله پاره دخپلې وینې په ذریعه داسلام شین چمن ته اوبه ورکړې، دشهادت په ذریعه یوداسې ژوند ملاوېږي چې دهغه نه ورانیدونکی نقش په ټول جهان باندې وي، چې هغه دسوونوکلونو دوړې هم نه شي خرابولی اوچې دهغه نتیجې اوفائدې په انساني معاشره کې دهمیشه له پاره قائمې اودائمې وي، دالله تعالی په کتاب اودرسول الله ﷺ په احادیثوکې دشهادت اودشهیددومره فضیلتونه بیان شوي دي چې عقل حیران پاتې شي اودشک ادنی نه ادنی ګنجائش هم نه پاتې کیږي. دالله تعالی ارشاد دی: ﴿ اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰی مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُوْنَ وَ يُقْتَلُوْنَ ۫ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرٰىةِ وَ الْاِنْجِيْلِ وَ الْقُرْاٰنِ ؕ وَ مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ بَايَعْتُمْ بِهٖ ؕ وَ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴾ (سورة التوبه ۱۱۱)؟؟؟

ترجمه: بې شکه الله تعالی دمسلمانانوځانونه اودهغوی مال اودولت ددې خبرې په بدله کې اخیستی دی چې هغوی ته به جنت ورکول کیږي، هغوی دالله تعالی په لارکې جنګ کوي اوهغوی کې قتل کوي اوقتل کیږي، دې باندې رښتونې وعده شوې ده، په تورات کې انجیل

کې اوقران کې اوالله تعالی نه به زيات دخپلې وعدې پوره کونکی څوک وي؟ تاسو په دې بيع باندې دکومې چې تاسو معامله کړې ده خوشالې وکړئ او همدا غټه کاميابي ده.

سبحان الله! دشهادت اوجهاد به ددې نه ښه ترغيب بل څه کيدای شي؟ الله رب العزت پخپله دبندګانو دمال اوځان اخيستونکی دی، چې هغه پخپله مالک او رازق دی، دهغه قيمت يې څومره ډيراوګران ايښی دی؟ جنت... ! بيايې فرمايلي دي چې دا سودا کچه نه ده چې ددې دختميدو ويره وي، بلکې دومره پخه اوصحيح ده چې تورات اوانجيل اوقران اوټول اسماني صحيفو اوخدای دستاويزاتوکې ددې بيع ليکلې شوې ده اودې باندې دټولوانبياء او رسولانو او دهغوی دعظيم الشان امتونوګواهي موجوده ده، بياددې مضمون نورومضبوطولو له پاره چې دالله تعالی په وعده کې دوعده خلافي هيڅ شک نه شته، فرمايل شوي دي،

ومن اوفى بعهده من الله، يعنې دالله تعالی نه به زيات دخپلې وعدې او عهدخيال ساتونکی بل څوک کيدای شي؟ ايامخلوق کې داسې څوک شته چې هغه دالله تعالی دوعدې مقابله وکړای شي؟ نه! بالکل نه! دشهادت دمرتبې او اوچت والي اودشهيددفضيلت باره کې دقران کريم يوازې همدايو ايت کافي دی، امام طبري رحمه الله، عبدبن حميد اوابن ابي حاتم دحضرت جابر رضي الله عنه نه روايت کړی دی چې کله دا ايت نازل شو، نوخلکوپه جومات کې دالله اکبرنعره ولګوله اويوانصاري صحابی وويل، واه واه، څومره ښه بيع اوڅومره ښه سودا ده، والله موږ به داکله هم نه ختمو، نه به يې ختميدو ته پريږدو.[1]

اوالله تعالی ارشاد دی: ﴿ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّـٰلِحِينَ ۚ وَحَسُنَ أُو۟لَـٰٓئِكَ رَفِيقًا ﴿٦٩﴾ ﴾ (النساء: ٦٩)

ترجمه: کوم کس چې دالله تعالی اودهغه درسول صلی الله عليه وسلم خبره ومنې، نوداسې کسان به هم دهغوی سره وي کومو باندې چې الله تعالی انعام کړی دی، يعنې انبياء اوصديقين اوشهيدان اوصالحين اوداحضرات ډيرښه ملګري دي.

دې ايت شريف کې دالله تعالی په لارکې ځان قربانونکي شهيدانوته دانبياء اوصديقين نه وروسته دريمه درجه ورکړل شوې ده.

---

[1] واخرج ابن ابي حاتم وابن مردويه عن جابر بن عبدالله رضى الله عنهما قال: نزلت هذه الآية على رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو فى المسجد ان الله اشترى من المؤمنين انفسهم........ الآية فكبر الناس فى المسجد فاقبل رجل من الأنصار ثانيا طرفى ردائه على عاتقه فقال: يا رسول الله صلى الله عليه وسلم! انزلت هذه الآية؟ قال: نعم! فقال الأنصاري: بيع ربيح لا نقيل ولا نستقيل. (تفسير الدر المنثور/ ٣/ ٢٨٠/ طبع ايران/ سورة التوبة: ١١١، ايضاً: تفسير روح المعانى/ ١١/ ٢٦/ طبع احياء التراث العربى)۔

اوالله تعالی ارشاد دی. ﴿ وَلَا تَقُولُوا۟ لِمَن يُقْتَلُ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتٌۢ ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ وَلَٰكِن لَّا تَشْعُرُونَ ﴿١٥٤﴾ ﴾ (سورة البقره: ١٥۴)

ترجمه: اوکوم خلک چې دالله تعالی په لارکې ووژل(قتل) شي هغوی ته مړه مه وایئ، بلکې هغوی ژوندي دي، خوتاسوته پته نه شته.

دالله تعالی ارشاد دی: ﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُوا۟ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًۢا ۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا۟ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلَّا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿١٧٠﴾ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٧١﴾ ﴾ (سورة آل عمران ١٢٠-١٧١)

ترجمه: اوکوم خلک چې دالله تعالی په لارکې قتل شول هغوی مړه مه ګڼئ، بلکې هغوی ژوندي دي، دخپل پروردګارپه دربار کې هغوی ته رزق ملاویږي، هغوی په دې شي باندې خوشاله دي کوم چې هغوی ته الله تعالی په خپل فضل اوکرم باندې ورکړی دی اوکوم خلک چې هغوی ته نه دي رسیدلي، دهغوی نه وروسته پاتې شوي دي دهغوی هم په هغه حالت باندې خوشاله دي چې هغوی باندې هیڅ ویره نه شته، نه به هغوی خفه کیږي، هغوی خوشالیږي دالله تعالی دنعمتونواوفضل له وجې او له دې وجې چې الله تعالی دایمان دارواجر نه ضائع کوي. (ترجمه حکیم الامت تهانوی رحمه الله)

دې دواړو ایتونوکې اعلان شوی دی چې د شهیدانومرګ دعامو مسلمانو دمرګ په شان ګڼل غلط دي، شهیدان مري نه، بلکې مرګ نه وروسته ژوندي وي، دشهادت نه وروسته هغوی ته یوخاص قسمه برزخي ژوندورکړل شي.

کشتګان خنجر تسلیم را هرزمان ازغیب جانے دیګراست

داشهیدان دالله تعالی په دربارکې دخپلوځانونوقرباني وړاندې کوي اوددې په بدله کې دالله تعالی له طرف نه دهغوی دعزت اواکرام اوقدراومنزل اظهارداسې کیږي چې دهغوی روحونوته دشنو مرغانوپه شکل کې سورلۍ ورکړل شي، دعرش سره لګیدلي فانوسونه دهغوی داوسیدو ځایونه وي اوهغوی ته عامه اجازه وي چې جنت کې کوم ځای ته تلل غواړئ، کوم ځای کې چې سیل کول غواړي اودجنت دکوم نعمت نه چې فائده اخیستل غواړي وادې خلي[1] دشهیداوشهادت فضیلت ډیر زیات په احادیثوکې راغلی دی، ددې سمندر یوڅو

---

[1] ارواحهم فی جوف طیر خضر لها قنادیل معلقة بالعرش تسرح من الجنة حیث شاءت، ثم تأوی الی تلک القنادیل. (مسلم/ ٢/ ١٣٥/ باب فی بیان ان ارواح الشهداء فی الجنة، وانهم احیاء عند ربهم)۔

قطرې دلته ستاسو خدمت کې وړاندې کوم:

لومړی حدیث: دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

لولاان اشق علي امتي، ماقعدت خلف سرية، ولوددت انی اقتل ثم احيی ثم اقتل ثم احيی ثم اقتل، (اخرجه البخاری فی عدة ابواب من کتاب الايمان والجهادوغيرها فی حديث طويل)

ترجمه: که چیرې دا ویره نه وای چې زما امت ته به تکلیف وي، نوزه به دمجاهدینو دیوې ډلې(دستې) نه هم وروسته نه پاتې کیدم اوزما دزړه ارزو ده چې زه دالله تعالی په لارکې قتل شم اوبیا ژوندی شم، بیاقتل شم اوبیاژوندی شم اوبیاقتل شم.

غور وکړئ! نبوت اوبیادختمِ نبوت لوړه مرتبه چې عقل او پوهه اوسوچ ددې لوړې مرتبې حدونوته نه شي رسیدای اودا د انساني شرف اومجدد لوړوالي هغه اخري نقطه اوغاية الغايات ده چې دهغه نه پورته دڅه مرتبې اومنزل تصورهم نه شي کیدای، خو دالله شان ته وګورئ چې شهادت ته یې داسې مرتبه او درجه ورکړې ده چې حضرت خاتم النبیین ﷺ نه یوازې دشهادت خواهش لري، بلکې باربار دنیاته تشریف راوړو اوهرځل حقیقي محبوب له پاره دشهید کیدو خواهش کوي.

بنا کردند خوش رسمے بخاک وخون غلطیدن
خدا رحمت کند این عاشقان پاک طینت را

یوازې دهمدې یوحدیث نه معلومیدای شي چې دشهادت دمرتبې څومره لوړ اواعلی مقام دی.

دوهم حدیث: حضرت انس رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

مامن أحديدخل الجنة يحب أن يرجع إلى الدنياوله مافي الارض من شئ إلا الشهيد يتمنى أن يرجع إلى الدنيافيقتل عشرمرات لمايرى من الكرامة. [1]

(أخرجه البخاری فی باب تمنی المجاهدان يرجع إلى الدنيا ومسلم)

ترجمه: کوم کس چې جنت ته داخل شي، دانه غواړي چې دنیاته واپس لاړشي اوهغه ته دځمکې ترټولوغټ نعمت حاصل شي،خو شهیدداخواهش کوي چې هغه لس ځله دنیاته لاړشي اوبیادالله تعالی په لارکې شهیدشي، ځکه چې هغه په شهادت باندې ملاویدونکي انعامونه اواکرامونه لیدلي وي.

دریم حدیث: دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چې حضور ﷺ فرمایلي دي:

(زه کله ناکله جهادته له دې وجې نه ځم چې دځینو غریبانو او مخلصو مسلمانانوزړه په دې خبره باندې راضي نه وي چې(زه خو پخپله باندې جهادته لاړشم) اوهغوی زمانه وروسته پاتې

[1] بخاري:۱/ ۳۹۵، طبع نور محمد، مسلم:۱/ ۱۳٤، باب فضل الشهادة في سبيل الله)_

شي (خو هغوی سره دجهادله پاره سورلی اوسامان نه وي) اوماسره هم سورلی نه وي چې هغوی دجهادله پاره تیارکړم، که چیرې داعذرنه وی، نوپه هغه ذات مې دې قسم وي دکوم په قبضه کې چې زماساه ده، زه به دمجاهدینودیوې ډلې نه هم (چې جهادفي سبیل الله کوي) وروسته نه پاتې کیدم اوپه هغه ذات مې دې قسم وي دکوم په قبضه کې چې زماساه وي، زمادا خواهش دی چې زه دالله تعالی په لار کې قتل شم اوبیاژوندی شم. بیاقتل شم اوبیا ژوندی شم اوبیاقتل شم.(بخاری ومسلم)[1]

څلورم حدیث: دحضرت عبدالله بن ابي اوفی رضي الله عنه نه روایت دی چې حضور ﷺ فرمایلي دي:

واعلموا أن الجنة تحت ظلال السيوف. (بخاری)[2]

ترجمه: پوهه شئ! چې جنت د تورو تر سیوري لاندې دی.

پنځم حدیث: حضرت مسروق تابعي رحمه الله فرمایي چې موږ دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه ددې ایت دتفسیر پوښتنه وکړه:

﴿ وَلَا تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَٰتًاۚ بَلْ أَحْيَآءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ (١٦٩) ﴾

ترجمه: کوم خلک چې دالله تعالی په لارکې قتل شول هغوی مړه مه ګڼئ، بلکې هغوی ژوندي دي، خپل پروردګارته نژدې دي او رزق ورکول کیږي.

نوهغه وفرمایل چې: موږ درسول الله ﷺ نه ددې تفسیر وپوښت، نوحضور ﷺ وفرمایل:

أرواحهم في جوف طير خضر لها قناديل معلقة بالعرش تسرح من الجنة حيث شاءت ثم تأوى إلى تلك القناديل فاطلع اليهم ربهم اطلاعة فقال: هل تشتهون شيئا؟ قالوا: أي شيء نشتهي ونحن نسرح من الجنة حيث شئنا؟ ففعل ذالك بهم ثلاث مرات. فلما راؤا أنهم لن يتركوا من ان يسألو. قالوا: يارب! نريد أن ترد أرواحنا في أجسادنا حتى نقتل في سبيلك. فلما راى أن ليس لهم حاجة تركوا:(رواه مسلم)[3]

---

[1] ان ابا هريرة رضى الله عنه قال: سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول: والذى نفسى بيده! لو لا ان رجالاً من المؤمنين لا تطيب انفسهم ان يتخلفوا عنى ولا احد ما احملهم عليه ما تخلفت عن سرية تغزو فى سبيل الله، والذى نفسى بيده! لوددت انى اقتل فى سبيل الله ثم احيى، ثم اقتل، ثم احيي، ثم اقتل. (بخارى/ ١/ ٣٩٢/ كتاب الجهاد/ باب تمنى الشهادة / طبع نور محمد كتب خانه كراچى)۔

[2] بخارى/ ١/ ٣٩٥/ طبع ايضاً.)۔

[3] مسلم شريف/ ١٣٥/٢/باب فى بيان ان ارواح الشهداء فى الجنة وانهم احياء عند ربهم يرزقون (طبع ايضاً)

ترجمه: د شهیدانو روحونه د شنو مرغیو په خیټو (ججرو) کې سوارلي کوي، د هغوی داوسیدو ځایونه لوړ لوړ فانوسونه دي چې عرش کې ځوړند وي، هغوی چې جنت کې کوم ځای ته تلل غواړي سیل کوي، بیا واپس راشي او هماغه فانوسونوکې ارام کوي، یوځل الله تعالی هغوی ته په مخامخ باندې خطاب وفرمایل: ایا تاسو د څه شي خواهش لرئ؟ عرض یې وکړ ټول جنت زموږ له پاره مباح ګرځول شوی دی، موږ چې کوم ځای ته غواړو ځو راځو، دديې نه وروسته به زموږ څه خواهش وي؟ الله تعالی درې ځله اصرار وکړي (که چیرې ستاسو څه خواهش وي. نو ضروریې بیان کړئ) کله چې هغوی ولیدل چې یوخواهش به ضرور عرض کول وي، نوعرض یې وکړ: اې الله! موږ دا غواړو چې زموږ روحونه زموږ بدنونو ته واپس شي اوموږ دې ستاپه لارکې یوځل بیا شهیدان شو، د الله تعالی مقصد دامعلومول و، چې اوس د هغوی څه خواهش پاتې نه شو، کله چې ظاهره شوه، نوهغوی یې پرېښودل.

شپږم حدیث: د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "لا یکلم أحد فی سبیل الله والله أعلم بمن یکلم فی سبیله. إلا جاء یوم القیامة وجرحه یثعب دما، اللون لون الدم والریح ریح المسک". (رواه بخاری ومسلم)[1]

ترجمه: کوم کس چې د الله تعالی په لارکې زخمي شي او الله تعالی ته پته ده چې دهغه په لارکې څوک زخمي کیږي هغه به دقیامت په ورځ داسې حالت کې راځي چې دهغه د زخم نه به دوینې فواره بهیږي، رنګ به یې دوینې او خوشبویي به یې د مشکو وي.

اووم حدیث: د حضرت مقدام بن معدیکرب رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: للشهید عند الله ست خصال: یغفر له فی أول دفعة ویری مقعده من الجنة ویجار من عذاب القبر ویامن من الفزع الأکبر ویوضع علی راسه تاج الوقار، الیاقوتة منها خیر من الدنیا ومافیها، ویزوج ثنتین وسبعین زوجة من الحور العین، ویشفع فی سبعین من أقربائه.
(رواه الترمذی وابن ماجه ومثله عنداحمد والطبرانی من حدیث عبادة بن الصامت)[2]

ترجمه: د الله تعالی په نزد د شهیدانو له پاره شپږ انعامونه دي:
(۱) هغه وبښل شي.
(۲) (دمرګ په وخت) جنت کې خپل ځای (مقام) ویني.
(۳) د قبر د عذاب نه محفوظ وي او د قیامت د فزع اکبر (غټې ویرې) نه حفاظت کې وي.

---

[1] صحیح بخاری/ ۱/ ۳۹۳/ باب من یخرج فی سبیل الله، صحیح مسلم/ ۲/ ۱۲۳/ باب فضل الجهاد الخروج فی سبیل الله۔
[2] ترمذی/ ۱/ ۱۹۹/ باب ای الناس افضل. طبع کتب خانه رشیدیه دهلی۔

(۴) دهغه په سربانديږ دعزت تاج كيښودل شي اودهغه ديوغمى ددنيا اوپه دنياكې دټولو شيانونه بهتردى. (۵) دجنت دوه اوياحوروسره دهغه نكاح وشي.
(۶) اودهغه داوياوو (۷۰) خپلوانوپه حق كې دهغه شفاعت قبليږي.

اتم حديث: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې حضور صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

الشهيد لايجد الم القتل كمايجداحدكم القرصه. (رواه الترمذى والنسائى والدارمى)[1]

ترجمه: شهيدته دقتليدودومره تكليف هم نه وي څومره چې تاسوته دميږي دچك لګولوله وجې تكليف وي.

نهم حديث: دحضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دى چې حضور صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

إذا وقف العباد للحساب، جاء قوم واضعي سيوفهم على رقابهم تقطردماً، فازدحموا على باب الجنة، فقيل: من هٰولاء؟ قيل: الشهداء كانوا أحياء مرزوقين. (رواه الطبرانى)[2]

ترجمه: كله چې خلک دحساب كتاب له پاره ودرول شي، نوځو خلكوبه په خپلوڅټونوباندې توريږ ايښې وي او راروان به وي اودهغوى نه به وينه روانه وي، دغه خلک به دجنت په دروازه كې جمع شي، خلک به پوښتنه وكړي داكوم خلک دي (چې ددوى حساب كتاب هم نه شته اونيغ جنت ته راغلل)؟ هغوى ته به وويل شي چې داشهيدان دي كوم چې ژوندي وو اوهغوى ته رزق ملاويده.

لسم حديث: دحضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

مامن نفس تموت لهاعندالله خيريسرها أن ترجع إلى الدنيا إلاالشهيد، فانه يسره أن يرجع إلى الدنيافيقتل مرة أخرى لمايرى من فضل الشهادة. (رواه مسلم)[3]

ترجمه: دكوم كس له پاره چې دالله تعالى په نزد خيروي، هغه چې كله مرشي. نوبيادنياته واپس راتلل نه غواړي، خو شهيدله دېنه مستثنى دى، ځكه چې دهغه بهترين خواهش دا وي چې هغه دنياته واپس راوليږل شي اويوځل بياشهيدشي، ځكه چې هغه دشهادت د فضيلت مرتبه ليدلې وي.

---

[1] ما يجد الشهيد من مس القتل الا كما يجد احدكم من مس القرصة. ايضاً: مشكوٰة /۳۳۳/ كتاب الجهاد/ الفصل الثاني، طبع قديمى)۔

[2] مجمع الزوائد/ ۵/ ۳۸۳/ باب ماجاء فى الشهادة وفضلها/ حديث رقم: ۹۵۳۰/ طبع دار المعرفة، بيروت)

[3] مسلم/ باب فضل الشهادة فى سبيل الله/ ۲/ ۱۳٤/ طبع نور محمد كتب خانه)۔

يوولسم حديث: ابن منده رحمه الله د حضرت طلحه بن عبيدالله رضي الله عنه نه روايت کړی هغه وايي چې: زه د خپل مال د حفاظت کولو له پاره غابه ته لاړم، هلته ما باندې شپه راغله، زه د عبدالله بن عمرو بن حرام رضي الله عنه د قبر خواکې (هغه شهيد شوی و) څملاستم، ما د قبر نه داسې قرات واوريده چې د هغه نه ښه قرات مې مخکې چيرته نه و اوريدلی، زه د حضور صلی الله عليه وسلم خدمت کې حاضر شوم او د دې ذکر مې وکړ، حضور صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې دا قاري عبدالله (شهيد) و، تا ته پته نه شته؟ الله تعالی د هغوی روحونه قبض کولو سره د ياقوتو او زبرجدو په فانوسونو کې کيږدي او هغه د جنت په مينځ کې (عرش باندې) اويزان کړي، د شپې وخت وي، نو هغوی روحونه د هغوی بدنونو ته واپس راشي او کله چې سهار شي، نو هغوی بيا فانوسونو ته لاړ شي.

دا حديث حضرت قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله په تفسير مظهري کې ذکر کړی دی، د دې حديث نه معلوميږي چې د وفات نه وروسته هم د شهيدانو له پاره د اطاعت درجې ليکل کيږي.[1]

دولسم: حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي کله چې حضرت معاويه رضي الله عنه دا حد په خواکې نهر ويستلو، نو هلته د احد د شهيدانو د لرې کولو ضرورت راغی، مونږ هغوی راوايستل، نو د هغوی بدنونه بالکل تازه وو، د محمد بن عمرو استاذان وايي چې د حضرت جابر رضي الله عنه پلار حضرت عبدالله رضي الله عنه کوم چې په احد کې شهيد شوی و راوايستل شو، نو د هغه لاس په زخم باندې پروت و، لاس يې چې د هغه ځای نه لرې شو، نو وينه يې له هغه ځای نه راوتل شروع شو، زخم باندې يې لاس بيا کيښودل شو، نو وينه بنده شوه، حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي ما خپل پلار په قبر کې وليد، نو داسې راته ښکاره شو لکه چې ويده وي، کوم څادرنه چې هغه ته کفن ورکړل شوی وهغه هم هغه حالت کې و او په پښو باندې يې واښه اېښودل شوي وو، هغه هم په خپل اصلي حالت کې و، دغه وخت کې د هغه د شهادت شپږ څلويښت کاله شوي وو، حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه فرمايي: د دې واقعې ليدلو نه وروسته د انکار هيڅ ګنجائش نه و چې د شهيدانو قبرونه کله وکنستل شول، نو چې لږه شان خاوره به لرې شوه، نو د مشک په شان خوشبويي به راتله.[2]

---

[1] روی ابن مندة عن طلحة بن عبدالله رضی الله عنه قال: اردت مالی بالغابة فأدر کنی اللیل فاویت الی قبر عبدالله بن عمرو بن حرام رضی الله عنهمافسمعت قراء ة من القبر ما سمعت احسن منها، فجئت الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فذکرت ذالک له، فقال: ذاک عبدالله الم تعلم ان الله قبض ارواحهم فجعلها فی قنادیل من زبرجد ویاقوت ثم علقها وسط الجنة فاذا کان اللیل ردت الیهم ارواحهم فلا تزال کذالک حتی اذا طلع الفجر ردت ارواحهم الی مکانها التی کانت فیها، وعلی هٰذا القول یکتسب الشهید الدرجات وثواب الطاعات بعد الموت ایضاً. (تفسیرمظهری/ ۲/ ۱۷۲/ سورة آل عمران/ ۱۶۹، ۱۷۱/ طبع رشیدیه کوئته)

[2] روی البیهقی من طرقه عن جابر بن عبدالله رضی الله عنهما، وابن سعد، والبیهقی من طرق آخر عنه، ومحمد بن عمرو عن شیوخه عن جابر رضی الله عنه قال: استصر خنا الی قتلانا یوم احد حین اجریٰ معاویة العین فأتیناهم فأخرجنهاهم رطاباً تتثنی اطرافهم، قال شیوخ محمد بن عمرو: وجدوا والد جابر رضي الله عنه ویده علی جرحه فامیطت یده عن جرحه فانبعث الدم فردت الی مکانها فکسن الدم،...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه..

داواقعه امام بيهقي رحمه الله د ډيروسندونو سره اوابن سعد رحمه الله ذکرکړې ده، څنګه چې تفسير مظهري کې نقل شوې ده، دپورته بيان شوي جواهراتوخلاصه داده:

لومړی: شهادت داسې لوړه اواعلى مرتبه ده چې انبياء عليهم السلام به هم ددې خواهش (ارزو) کاو.

دويم: مړشوي کس ته که څيرې له مرګ نه وروسته عزت اواکرام اوراحت اوسکون نصيب وي، نوهغه به دنياته دواپس راتلوخواهش کله هم ونه کړي،خو دشهيد مخکې چې کله دشهادت فضيلتونه اوفضائل اوانعامونه ښکاره شي، نودهغه خواهش وي چې باربار دنيا ته راشي اودالله تعالى په لارکې شهيدشي.

دريم: الله تعالى شهيدته يوخاص برزخي ژوندنصيب کړی، دشهيدانو روحونه په جنت کې سيل کوي اوهغوی ته عامه اجازه وي چې کوم ځای ته تلل غواړي لاړشي، په هغوی باندې هيڅ بنديز نه شته اوسهاروماښام ورته رزق ورکول کيږي.

څلورم: الله تعالى چې څنګه هغوی ته برزخي ژوندنصيب کړی دی، دغه شان دهغوی بدنونه هم محفوظ دي، نودهغوی روح ته بدني حيثيت اوبدن ته روحاني حيثيت حاصل وي.

پنځم: دمرګ له وجې دشهيدعملونه نه ختميږي اونه دهغه ددرجوپه ترقي کې څه فرق راځي، بلکې له مرګ نه وروسته د قيامت پورې دهغه درجې متواترلوړيږي.

شپږم: الله تعالى روحونوته داوسيدوله پاره خاص ځای ورکوي، کوم چې دياقوت او زبرجدو اود سرو زرو د فانوسونوپه شکل کې عرش پورې اويزان شوي وي اوجنت کې دپرڅيدونکو ستوروپه شان وي.

ډيرعارفين چې هغوی کې عارف بالله حضرت شيخ مظهرجان جانان رحمه الله هم شامل دی، ذکرکړي دي چې شهيد دخپل نفس، خپل ځان اوخپل شخصيت دقرباني دالله تعالى په دربار کې وړاندې کوي، له دې وجې دهغه جزا اوبدله دالله تعالى دذات په صورت کې ورکړل شي اودهغه په مقابله کې ددنياهريونعمت بې کاره دی.

محترمو! شهادت دجهاد نتيجه ده اوموږ دالله تعالى دکتاب اوداحاديثونه تعرض نه دی کړی کوم چې دجهادپه سلسله کې راغلي دي، نوصحيح بخاري اوصحيح مسلم کې دډيرو صحابه کرامو، حضرات عبدالله بن رواحه اوسهل بن سعد وغيرهما رضي الله عنهم نه روايت دی چې حضور صلى الله عليه وسلم

بقيه د تيرمخ].. قال جابر رضي الله عنه: فرأيت ابي فی حفرته كأنه نائم والنمرة التی كفن فيها كما هی علی رجليه علی هيئته وبين ذالک ست واربعون سنة. . . . . قال ابو سعيد الخدري رضي الله عنه: لا ينكر بعد هذا منكر ولقد كانوا يحفرون التراب فكلما حفروا نثرة من التراب فاح عليهم ريح المسک. (تفسير مظهری/٢ / ١٧٢/ سورة آل عمران: ١٦٩، ١٧١/ طبع رشيديه كوئته)۔

فرمايلي دي، د الله تعالى په لارکې يو سهاريا يو مابنام د جهاد له پاره وتل د ټولې دنيا او د دنيا د ټولو نعمتونونه بهتر دي.[1]

او د حضور ﷺ وينا ده، د مجاهد في سبيل الله مثال داسې دی چې يو کس ټول عمر قيام وکړي او ورځې روژه ونيسي، د جهاد في سبيل الله په شان يوه نيکي هم نه شته.[2]

ددې نه پرته نور هم ډير احاديث دي.

محترمو! د شهيد ډيرقسمونه دي، شهيدانوکې د ټولو نه اعلى مرتبې والا هغه شهيد دی کوم چې د الله تعالى د رضا له پاره او د الله تعالى د حکم د لوړولو له پاره د جنگ په ميدان کې د کافرانو په لاس باندې قتل شي، دې نه پرته د خپل دين د حفاظت کولو کې چې څوک قتل شي هغه هم شهيد دی، کوم کس چې د خپل ځان په حفاظت کولو کې قتل شي هغه هم شهيد دی او کوم کس چې د خپل مال په حفاظت کې قتل شي هغه هم شهيد دی، څنگه چې د حضرت سعيد بن زيد رضی الله عنه روايت په نسائي، ابوداؤد او ترمذي په حديث کې موجود دی.[3]

امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله د حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه نقل کړي دي چې حضور ﷺ فرمايلي دي: پنځه کسان شهيدان دي: چې د طاعون په مرض مړشي، د خيټې د ناروغي له وجې مړشي، په اوبوکې ډوب شي، د کور راپريوتلو له وجې مړشي او کوم چې د الله تعالى په لارکې شهيد شي.[4]

---

[1] عن سهل بن سعد الساعدى رضی الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: والغدوة يغدوها العبد فى سبيل الله خير من الدنيا وما فيها. وعن ابى حازم عن سهل بن سعد رضی الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: غدوة او راحة فى سبيل الله خير من الدنيا وما فيها. (صحيح مسلم/ ٢/ ١٣٤/ باب فضل الغدوة والروحة فى سبيل الله). وفى البخارى (ج: ١/ ٣٩٢) كتاب الجهاد: عن سهل بن سعد رضی الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال: الروحة والغدوة فى سبيل الله افضل من الدنيا وما فيها)۔

[2] عن ابى هريرة رضی الله عنه قال: قيل: يا رسول الله ﷺ! ما يعدل الجهاد؟ قال. . . . . مثل المجاهد فى سبيل الله مثل الصائم القائم الذى لايفتر من صلوة ولا صيام حتى يرجع المجاهد فى سبيل الله. (جامع الترمذى ج١ ص١٩٥، باب فضل الجهاد) ايضاً جاء رجل الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال: دلنى على عمل يعدل الجهاد، قال: لا اجده. (بخاري: ١/ ٣٩١/ كتاب الجهاد)۔

[3] عن سعيد بن زيد رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من قتل دون ماله فهو شهيد، ومن قتل دون اهله فهو شهيد، ومن قتل دون دينه فهو شهيد، ومن قتل دون دمه فهو شهيد. (نسائى/ ٢/ ١٧٢/ باب من قتل دون ماله، طبع قديمى)۔

[4] عن ابى هريرة رضی الله عنه رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: بينما رجل يمشى بطريق وجد غصن شوک على الطريق فأخره فشكر الله له، فغفر له وقال الشهداء خمسة: المطعون والمبطون والغرق وصاحب الهدم والشهيد فى سبيل الله. (مسلم/٢/ ١٤٢/ باب بيان الشهداء/ طبع قديمى). وفى البخارى/١/ ٣٩٧/ كتاب الجهاد: عن ابى هريرة رضی الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: الشهداء خمس: المطعون، والمبطون، والغرق، وصاحب الهدم، وشهيد فى سبيل الله۔

دحضرت جابربن عتیک رضی الله عنه روایت دی چې حضور ﷺ فرمایلي دي چې: دالله تعالی په لارکې دقتل کیدو نه پرته اووه قسمه مرګونه شهادت دی. دطاعون له وجې مرګ، په اوبوکې د ډوبیدوله وجې مړ شوی شهیددی، دنمونیه دمرض له وجې مړشوی شهیددی. دخیټې دناروغي له وجې مړشوی شهیددی، دسوځیدو له وجې مړشوی شهیددی، د دیوال لاندې ګیریدو له وجې مړشوی شهیددی، کومه ښځه چې داولادپیداکیدو په وخت مړه شي هغه شهیده ده. (داحدیث دامام مالک رحمه الله، ابوداود او نسایي رحمه الله نه روایت دی.)[1]

ابوداودکې دحضرت أُم حرام رضی الله عنها نه روایت دی چې حضور ﷺ فرمایلي دي "سمندر کې دسرګرځیدو له وجې چې چاته قی ورځي دهغه له پاره دشهادت ثواب دی.[2]

نسایي شریف کې دحضرت صفوان رضی الله عنه نه روایت دی چې حضور ﷺ فرمایلي دي "نفاس کې(دماشوم پیداکیدونه وروسته) مړه کیدونکې ښځې له پاره دشهادت اجر دی.[3]

نسایي شریف کې دحضرت سویدبن مقرن رضی الله عنه نه روایت دی چې حضور ﷺ فرمایلي دي "کوم کس چې دظلم خلاف مقابله کولوکې مړ شي هغه شهیددی.[4]

ترمذي شریف کې دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه نه روایت دی، حضرت عمر رضی الله عنه فرمایي چې ما درسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چې "شهیدان څلورقسمه دي: یوهغه کس دکوم ایمان چې ډیر مضبوط او ښه وي، دهغه دښمن سره مقابله وي، هغه دالله تعالی دوعدو تصدیق کولوسره په

---

[1] جابر بن عتیک عن عتیک بن الحارث بن عتیک وهو جد عبدالله ابن عبدالله ابو امه انه اخبره ان عمه جابر بن عتیک رضی الله عنه اخبره ان رسول الله صلی الله علیه وسلم جاء یعود عبدالله بن ثابت فوجده قد غلب فصاح به رسول الله صلی الله علیه وسلم فلم یجبه فاسترجع رسول الله صلی الله علیه وسلم وقال: غلبنا علیک یا ابا الربیع، فصاح النسوة ویبکن فجعل ابن عتیک یکستهن فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: دعهن فاذا وجب فلا تبکین باکیة وقالوا وما الوجوب یا رسول الله؟ قال: الموت، قالت ابنته: والله ان کنت لأرجوا ان تکون شهیدا فانک قد کنت قضیت جهازک، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ان الله عزوجل قد اوقع اجره علی قدر نیته وما تعدون الشهادة؟ قالوا: القتل فی سبیل الله تعالی! قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: الشهادة سبع سوی القتل فی سبیل الله، المطعون شهید،والغرق شهید، وصاحب ذات الجنب شهید، المبطون شهید، وصاحب الحریق شهید، والذی یموت تحت الهدم شهید، والمرأة تموت بجمع شهید. (ابوداؤد/ ۲/ ۸۷/ باب فی فضل من مات بالطاعون/ طبع ایچ ایم سعید)۔

[2] عن ام حرام رضی الله عنها عن النبی صلی الله علیه وسلم المائد فی البحر الذی یصیبه القيء له اجر شهید والغرق له اجر شهیدین. (ابوداؤد/ ۳۳۷/۱/ باب فی رکوب البحر والغزو/ طبع ایچ ایم سعید)۔

[3] عن عقبة بن عامر رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: خمس من قبض فی شيء منهن فهو شهید، المقتول فی سبیل الله شهید، والغرق فی سبیل الله شهید، والمبطون فی سبیل الله شهید، والمطعون فی سبیل الله شهید، والنفساء فی سبیل الله شهید. (نسائی/ ۲/ ۶۱/ مسألة الشهادة)۔

[4] عن ابی جعفر قال: کنت جالساً عند سوید بن مقرن رضی الله عنه فقال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من قتل دون مظلمته فهو شهید. (نسائی/ ۱۷۳/۲/ باب من قاتل دون اهله/ طبع قدیمی)۔

زړوتیا سره مقابله وکړه اوقتل شو، داکس به دومره لوړه مرتبه باندې وي چې دقیامت په ورځ به خلک هغه ته داسې پورته ګوري، دې وخت کې حضور ﷺ خپل سراوچت کړ اوټوپۍ (خولۍ) یې دسرمبارک نه وغورځیده، (روایت کونکی وایي) چې ماته پته نه شته چې هغه وخت کې دحضرت عمر رضي الله عنه ټوپۍ مراد ده اوکه دحضور ﷺ وفرمایل دویم هغه مومن دی چې دهغه ایمان ډیرمضبوط وي اودښمن سره یې مقابله شوه، خوحوصله یې کمزورې وه، هغه سره د مقابلې کولووخت کې هغه ته داسې محسوسه شوه لکه چې ازغي دهغه بدن کې ننوتل (یعنی زړه یې ویرید اوبدن یې وتخنید) اودیونامعلوم له طرف نه غشی راغی اودهغه بدن کې ننوت اوهغه شهیدشو، دابه دویمه مرتبه باندې وي، دریم هغه مومن دی چې دهغه په ښو عملونو کې څه بدعملونه هم شامل وي، دښمن سره دهغه مقابله شوه اوهغه دایمان اویقین سره ښه مقابله وکړه اوقتل شو، دې به دریمه درجه باندې وي څلورم هغه مومن دی کوم چې په خپل نفس باندې دګناهونوله وجې زیاتی کړی وي (یعنې نیکي کمې اوګناهونه یې زیات وي) دښمن سره دهغه مقابله شوه او هغه مقابله وکړه تردې چې هغه قتل شو، دده به څلورمه درجه وي.[1]

مسنددارمي کې دحضرت عتبه بن عبدالسلمي رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: دالله تعالی په لارکې قتل کیدونکي خلک درې قسمه دي، یوهغه مومن کوم چې پخپله اودخپل مال په ذریعه باندې جهاد وکړي، ددښمن مقابله یې وکړه، ښه جنګ یې وکړ، تردې چې شهیدشو، حضور ﷺ وفرمایل چې دی شهید دی اودده زړه الله تعالی دتقوا له پاره منتخب کړ، دی به دالله تعالی دعرش نه لاندې دالله تعالی جوړې شویو خیمو کې اوسیږي، نبیانوته به ده باندې فضیلت یوازې دنبوت له وجې وي، دویم هغه مومن کوم چې څه نیک عملونه کړي وي اوڅه بدعملونه، هغه پخپله اودخپل مال په ذریعه باندې دالله تعالی په لارکې جهاد وکړ اوددښمن مقابله یې وکړه تردې چې شهید شو، حضور ﷺ دده باره کې فرمایلي دي: ختمونکې (تورې) دهغه غلطیانې اوګناهونه ختم کړل، بې شکه توره ګناهونه ختموي اودې شهیدته اجازه ورکړل شوه، چې هغه په کومه دروازه تلل غواړي جنت ته دې داخل شي، دریم منافق، چې هغه پخپله اودخپل مال په ذریعه باندې جهادوکړ، مړشو، دی به دوزخ ته

[1] سمعت عمر بن الخطاب رضي الله عنه يقول: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: الشهداء اربعة: رجل مؤمن جيد الايمان لقى العدو فصدق الله حتى قتل فذالک الذى يرفع الناس اليه اعينهم يوم القيامة هٰكذا، ورفع رأسه حتى وقعت قلنسوته، فلا ادرى قلنسوة عمر رضي الله عنه اراد ام قلنسوة النبى صلى الله عليه وسلم، قال: ورجل مؤمن جيد الايمان لقى العدو فكأنما ضرب جلده بشوک طلح من الجبن اتاه سهم غرب فقتله فهو فى الدرجة الثانية، ورجل مؤمن خلط عملاً صالحاً وآخر سيئاً لقى العدو فصدق الله حتى قتل فذاک فى الدرجة الثالثة، ورجل مؤمن اسرف على نفسه لقى العدو فصدق الله حتى قتل فذالک فى الدرجة الرابعة. (ترمذى/١/ ٢٩٣/ باب ماجاء فى فضل الشهداء عندالله/ طبع قديمى)۔

خي، ځکه چې توره (ګناهونه خوختموي) خونفاق (زړه کې موجود کفر) نه ختموي. [1]
خلاصه دا چې دې داټول احاديث، کوموکې چې دشهادت مرګ بیل بیل بیان شوی دی، جمع شي، نود شهیدانو فهرست ډیراوګدیږي اوټولوته پته ده چې کوم خلک دمخالف مفهوم قائل دي، دهغوی په نزدباندې هم په عددکې دمخالف اعتبارنه شته. ډیربه بیړه مې دایو څو احادیث وړاندې کړل، که نه، که چیرې ددې موضوع دټولو احادیثوقصد شوی وای. نود شهیدانو تعدادبه ډیرزیات شوی و. [2]
بیا دقیاس اواجتهادپه ذریعه باندې داسې شهیدان هم دې سره شاملیدای شي کوم چې ښکاره ډول باندې په حدیث کې نه دي راغلي، خودحدیث د اشاراتو له وجې شاملیدای شي.
مثلاً: فرمایل شوي دي کوم چې دخپل حق له پاره جنګ کولوکې مړشي، هغه شهیددی، اوس داعام دی اودې کې ټول حقوق شامل دي، نوکوم کس چې دوطن په حفاظت کولوکې مړشي، هغه شهیددی، څوک چې دظلم اودستم مقابله کولوکې مړشي، هغه شهیددی، غرض داچې کوم مسلمان دخپل ځان، دخپل کور والاوو، دخپل عزت، دخپل مال، دخپل وطن، داسلام دعزت اود مسلمانانو دعزت اوقوت په حفاظت کولوکې مړشي، هغه به دخپلې حیثیت مطابق شهیدوي، په دې شرط چې دهغه مقابله کول دالله تعالی درضاله پاره وي، یوازې دجهالت، دقومیت اودجهالت دغیرت له وجې نه وي.
چاته پته نه شته چې «وطن» دخپل ذات نه څه مقدس شی نه دی، ددې عزت اوحرمت یوازې له دې وجې دی چې داداسلام دعزت اوسربلندۍ ذریعه ده اوقومي استیټ کې ددې نه پرته ددې دتقدس بله څه وجه نه شته، چې داداسلامي قوت مرکز اود مسلمانانو دعزت اوشان او شوکت ښنبه وي، نن چې په مشرق او مغرب کې داسلام دښمن قوتونه دعرب اوعجم مسلمانانو خلاف یوځای شوي دي اودوی په خپلوعلاقوکې په مختلف طریقو باندې ذلیل او خوار وي، ددې یوازې هم داوجه ده چې موږ دجهاد دا فریضه پریښې ده اودشهادت حاصلولوجذبه ختمیږي، د جهادنه دغفلت وجه دانه ده چې موږ سره دمال، دولت اووسایلوکمی دی، یاداچې د

---

[1] عن عتبة بن عبدالسلمي، قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: القتلى ثلاثة: مؤمن جاهد بنفسه وماله فى سبيل الله اذا لقى العدو قاتل حتى يقتل، قال النبى صلى الله عليه وسلم فيه: فذالک الشهيد الممتحن فى خيمة الله تحت عرشه، لا يفضله النبيون الا بدرجة النبوة ومن خلط عملاً صالحاً وآخر سيئاً، جاهد بنفسه وماله فى سبيل الله اذا لقى العدو، قاتل حتى يقتل، قال النبى صلى الله عليه وسلم فيه: مصمصمةً محت ذنوبه وخطاياه ان السيف محاء للخطايا، وادخل من اى ابواب الجنة شائ، ومنافق جاهد بنفسه وماله، فاذا لقى العدو قاتل حتى يقتل فذاک فى النار، ان السيف لا يمحو النفاق. (سنن دارمی/ ٢/ ١٢٦/ باب فى صفة القتلى فى سبيل الله/ طبع نشر السنة/ ملتان)

[2] مظاهرحق شرح مشکوة کښې دمرقاة اوطوالع الانوارحاشیه ددرمختار، ، په حوالې سره، اوشامی په ردالمختارکښې دشهیدانوفهرست ورکړې دې چه هغه کم اوبیش شپیتهٔ دی. (مترجم)

مسلمانانو تعداد کم دی، الله تعالی اسلامي عرب ملکونو ته د مال او دولت هغه اسباب ورکړي دي کوم چې دچا په خیال کې هم نه شي راتلای، یوازې هم دانه، بلکې په دې وسائلو کې داسلام دښمنان قوتونه دمسلمانانو او د عرب ملکونو محتاج دي، غرض داچې نن د مسلمانانو دذلت وجه دوسائلو کمی نه دی، بلکې ددې اصل وجه زموږ خپلو کې نا اتفاقي او نفاق دی، موږ داجتماعي ضروریاتو په ځای باندې شخصي مقصد مخکې کړی دی، انفرادي ضروریاتو ته مودقومي ضروریاتونه زیات اهمیت ورکړی دی، دارام اوسکون عادت شو، دجهادروح موختم کړی دی او د اخرت اوجنت په بدله کې موده ځان اومال دقرباني جذبه ختمه شوې ده، داهغه وجوهات دي دکوموله وجې چې مسلمان قوم دلوړوالي نه دذلت اوحقارت کندې ته پریوت.

دحضرت ثوبان رضی الله عنه حدیث چې امام ابوداود رحمه الله اوداسې نورو... روایت کړی دی اودعالمانو په ډله کې ډیرزیات مشهوردی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: هغه زمانه نژدې ده چې کله به داسلام ټول دښمن قوتونه ستاسو په مقابله کې یوبل ته د میلمستیا دعوت ورکوي، یوصاحب عرض وکړ: یارسول الله ﷺ! ایا له دې وجې به هغه ورځو کې زموږ تعداد کم شي؟ حضور ﷺ وفرمایل نه! بلکې ستاسو تعداد به ډیرزیات وي، خو تاسو به دسیلاب دځګ په شان شئ، الله تعالی به د دښمنانو دزړه نه ستاسو رعب وباسي او ستاسو زړونه به کمزوري او بې همته کړي، یوصاحب عرض وکړ یارسول الله ﷺ دبې همتې نه څه مراددی؟ حضور ﷺ وفرمایل: ددنیا مینه اوله مرګ نه ویره.[۱]

په هرحال کله چې موږ دمسلمانانو ددې اوسني بدحال جائزه اخلو، نو زموږ مخې ته یوڅو شیان راځي، دهغه طرف ته به ډیر اختصار سره یوڅو ته اشاره کوم:

لومړی: داسلام په دښمنانو باندې اعتماد او باورکول. (که هغه وروس وي، که امریکه وي اوکه مغربي ملکونه) ښکاره خبره ده چې کفر دخپل اختلافاتو باوجود یوملت دی اوالله تعالی باندې اعتماد، توکل اوباور نه کول، اوټولو مسلمانانو ته داحکم دی چې:

﴿وَعَلَى اللهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾

ترجمه: مسلمانانو ته یوازې په الله تعالی باندې باور کول پکاردي.

دې ایت کې په ډیر تاکید سره فرمایلي شوي دي چې مسلمانانو ته دالله تعالی دشخصیت نه

[۱] عن ثوبان قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: يوشک الأمم ان تداعى عليكم كما تداعى الأكلة الى قصعتها، فقال قائل: ومن قلة نحن يومئذ؟ قال: بل انتم يومئذ كثير، ولكنكم غثاء كغثاء السيل ولينزعن الله من صدور عدوكم المهابة منكم وليقذفن الله فى قلوبكم الوهن، فقال قائل: يا رسول الله! وما الوهن؟ قال: حب الدنيا وكراهة الموت. (سنن ابى داؤد/ ٢/ ٢٣٤/ باب فى تداعى الامم على الاسلام، كتاب الملاحم، طبع ايچ ايم سعيد)۔

پرته په بل چا باندې اعتماد او باور کول نه دي پکار. (حيث قدم قوله: وعلى الله)

دويم: دمسلمانانوخپلوکې اختلاف، انتشار اوکورنۍ شخړې چې دهغه داعالم دی که چيرې په خپلوکې کيني اود روغې خبره وکړي، نوبياهم دهغوی داحال وي.

﴿وَتَحۡسَبُهُمۡ جَمِيعٗا وَقُلُوبُهُمۡ شَتَّىٰ﴾

ترجمه: په ښکاره به تاسوهغوی په يو ډله کې وينئ، خو دهغوی زړونه به شيندلي (يوله بل سره مخالف) وي.

دريم: الله تعالى باندې توکل کولونه زيات په مادي اوعادي اسبابو باندې اعتمادکول. بې شکه الله تعالى موږ ته ددې اسبابو او وسائلو دفراهم کولوحکم کړی دی، کوم چې زموږ په وس کې وي اود کومو په ذريعه باندې چې دښمن ويرول کيدای شي، خوافسوس دی چې يو طرف ته خوموږ دمادي اسبابوجوړولوکې کوتاهي کوو اوبل طرف ته چې کاميابي کوم اصل ذريعه ده له هغه نه غافل يو. دالله تعالى ارشاد دی: ﴿وَمَا ٱلنَّصۡرُ إِلَّا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ﴾

ترجمه: فتح اوکاميابي يوازې دالله تعالى سره ده او دهغه له طرف نه ملاويږي.

دتاريخ په سوونو نه، بلکې په زرګونوواقعات ددې ګواهي کوي چې دکافرانوپه مقابله کې دکم سامان اوکم تعداد باوجود فتح اوکاميابي دمسلمانانو پښې ښکل کړي دي.

څلورم: دنيا سره ډيره زياته مينه، عيش او ارام، داخرت په مقابله کې دنيااختيارول، قومي اوملي غوښتنو باندې خپلو غوښتنو ته اهميت ورکول اودجهاد روح ختميدل، ددې تفصيل ډيرزيات دی، دقران کريم په سورة ال عمران اوسورة توبه کې ډيرعبرتونه وړاندې شوي دي، په امت فرض دي چې دا روښانه مينار هميشه خپلې مخې ته وساتي.

په هرحال! دالله تعالى په لارکې داسلام دکلمې لوړولو له پاره دښمنانوسره مقابله کول. دالله تعالى په لارکې جهادکول اوداسلام له پاره خپل ځان قربانول دډير لوړ قيمت والا لعلونه دي، قران کريم اورسول الله ﷺ ددې دنيوي اوداخرت ګټې روښانه کړي دي اوددې له وجې چې دمحمد ﷺ په امت باندې کوم انعامونه نازليږي دهغو يې ډيرفصاحت او بلاغت سره وضاحت کړی دی.

محترمو! دايومختصرشان تقريردی، کوم چې ډيرو مصروفياتو سره اوکم وخت کې ليکل شوی دی، له دې وجې دبحث ډيرشيان پاتې شول، دهغو له پاره دمعافي درخواست کوم، اخر کې موږ دالله تعالى نه دعا غواړو چې زموږ دغلطيواصلاح وکړي، زموږ په مينځ کې د زړه نه اتحاد پيداکړي. دکافرانوپه مقابله کې مو مدد اونصرت وکړي اوموږ دصبر، عزيمت، مسلسل محنت اوتقوا صفات نصيب کولوسره موږ کامياب کړي. امين!

جهاد کله فرض عین وي؟ او کله فرض کفایي؟

سوال: جهاد (قتال) په دې وخت کې په موږ باندې فرض عین دی او که فرض کفایي؟

جواب: دفاعي جهاد یوازې په هغه صورت کې فرض عین کیږي چې کله د امام المسلمین له طرف نه نفیر عام ته حکم وشي چې ټول د جهاد له پاره ووځی، په دغه وخت کې به ښځه د خاوند له اجازې پرته، غلام د مولی له اجازې پرته او زوی د پلار له اجازې پرته ځي.
ترڅو پورې چې نفیر عام نه وي جهاد به فرض کفایه وي[1] لکه څنګه چې د دین نورې شعبې درس و افتاء، دعوت اوتبلیغ فرض کفایه دي.

په جهاد في سبیل الله او قتال في سبیل الله کې فرض عین او فرض کفایه کوم یو دی؟

سوال: جهاد في سبیل الله او قتال في سبیل الله کې کوم یو فرض عین او فرض کفایه دی؟

جواب: د جهاد او قتال دواړو حکم یو دی، خو په ځینې وختونو کې جهاد فرض عین وي او په ځینې وختونوکې جهاد فرض کفایه وي[2] ددې تعیین علماء کرام او مفتیان عظام د جهاد اهمیت او ضرورت مخې ته ږدي، دارنګه د افرادو په اعتبار سره هم د جهاد د فرضیت تعین کیږي.

د جهاد د ټریننګ له پاره افغانستان یا کشمیر ته تلل ضروري دي؟

سوال: که څوک د جهاد د ټریننګ په غرض همیشه په کور کې ورزش کوي یا منډې وهي، نو دا دده له پاره کافي دي یا ده ته افغانستان یا کشمیر ته تلل د جدید اسلحې ټریننګ اخیستل ضروري دي؟ ځکه چې اوریدلي مو دي چې دټریننګ کولو حکم دی؟

جواب: که چیرې جهاد فرض عین وي، نو ددې ټریننګ حاصلول هم فرض عین وي، که نه، نه دي.[3]

ایا جهاد داسلام په پنځو ارکانو شامل دی؟

سوال: په اسلام کې چې کوم پنځه ارکان دي هغه موږ د خپلې اسانۍ له پاره جوړ کړي دي یا د الله پاک له طرف نه حکم دی؟ او جهاد په دې کې شامل دی او که نه؟

---

[1] الجها فرض الكفاية.....الا ان يكون النفيرعاماً....فان هجم العدو على بلد وجب على جميع الناس الدفع، تخرج المرأة بغير اذن زوجها والعبد بغير اذن المولى لأنه صار فرض عين..الخ. (هداية /٢/ ٥٥٩/ كتاب السير)

[2] ايضاً_

[3] عن عقبة بن عامرقال:سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو على المنبر يقول: واعدوا لهم ما استطعتم من قوة،الا ان القوة الرمي! الا ان القوة الرمي الا ان القوة الرمي! رواه مسلم. (مشكوٰة/ ٣٣٦/ باب اعداد آلة الجهاد)

جواب: دا پنځه ارکان رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي[۱] جهاد د اسلام ډیر لوی حکم دی، خو په ارکان خمسه کې شامل نه دی.

له جهاد پرته د نیکواعمالو قبولیت

سوال: ایا زموږ ذاتي نیک اعمال به د الله رب العزت په دربار کې قبول شي، حالانکې هر طرف ته د منکراتو بازار گرم دی، فحاشي عامه ده او علی الاعلان د الله او د هغه درسول استهزاء کیږي؟ ایا یوازې په لمونځ کولو او روژې نیولو نه وروسته زموږ ذمداري ختمیږي؟ او خلیفة الله کار به مکمل شي؟ ایا په موږ باندې جهاد فرض شوی نه دی؟ که چیرې وي، نو بیا کله به پورته کیږو او موږ به څوک اوچتوي؟

جواب: د جهاد نه مخکې دعوت لازم دی، دعوت الی الله، امر بالمعروف او نهی عن المنکر فریضه به اداء شي او بیا که یو طاقت ددې دعوت په لاره کې حائل شي، نو ددې خلاف جهاد واجب دی[۲] او چې کله د حالاتو نقشه هغه وي کومه چې تاسو راښکلې ده او موږ ددې نه وروسته د دعوت کار ته متوجه نه شو، امر بالمعروف او نهی عن المنکر فریضه اداء نه کړو، نو یقینا چې نیول کیږو به. [۳]

په موجوده وخت کې څنګه په جهاد کې شریکیدلی شو؟

سوال: په موجوده درو کې څنګه په جهاد کې شریکیدلی شو؟

جواب: افغانستان، کشمیر، برما او نورو علاقو کې مثلا: بوسنیااو کوسوو کې مسلمانان جهاد کوي، په دې کې شرکت کولی شئ.

ایا د اسرائیلو خلاف جنګ کول جهاد دی؟

سوال: داسرائیلو خلاف دبیت المقدس اوفلسطین دابادي له پاره د فلسطین دازادي تنظیم (پی ایل او) (P. L. O) چې کوم مزاحمت کوي، هغه داسلام په نزد جهادکې داخل دی اوکه نه؟

جواب: دمسلمانانوکوم جنګ چې کافرانوسره دالله تعالی درضا له پاره وي اوداسلام دکلمې د

---

[۱] عن ابن عمر رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: بنی الاسلام علی خمس: شهادة ان لا اله الا الله وان محمد رسول الله، واقام الصلوٰة، وایتاء الزکوٰة، والحج وصوم رمضان. متفق علیه. (مشکوٰة/ ۱۲/ کتاب الایمان).

[۲] ولا یجوز ان یقاتل من لم تبلغه الدعوة الی الاسلام الا ان یدعوه. . . . . فان ابوا ذالک استعانوا بالله علیهم وحاربوهم. . . . . . الخ. (هدایة/ ۲/ ۵۶۰/ باب کیفیة القتال)

[۳] عن حذیفة ان النبی صلی الله علیه وسلم قال: والذی نفسی بیده! لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنکر او لیوشکن الله ان یبعث علیکم عذاباً من عنده ثم لتدعنه ولا یستجاب لکم. رواه الترمذی. (مشکوٰة/ ۴۳۶/ باب الأمر بالمعروف)

لوړوالي له پاره وي، هغه بې شکه جهاد دی، دا اصول تاسو د فلسطین دازادي تنظیم باندې پخپله وګورئ.[1]

سوال: دفلسطین دازادۍ دتنظیم له طرف نه که یوغیرفلسطیني مسلمان، داسرائیلو خلاف جنګ کې مړشي، نوهغه ته به دشهادت درجه حاصلیږي؟

جواب: دې کې څه شک دی؟

سوال: زموږ عالمان ځوانانوته داسرائیلو خلاف دجهاد کولوترغیب ولې نه ورکوي؟

جواب: که اسلامي ملکونه، داسرائیلو خلاف دجهاد اعلان وکړي، نو عالمان به ضرور مسلمانانو ته دجهاد ترغیب ورکوي.

دشهید تعریف او ژبنیو (نژادي) فسادونو کې مړشوي ته شهید ویل

سوال: دا ووایئ چې شهید څه ته وایي؟ ځکه چې د سند په موجوده حالاتو کې کوم ځای کې چې وي د دواو ډلو په مینځ کې د ژبې جګړه کیږي او په دې تصادم کې د یوې ډلې یو سړی ووژل شي، نو هغه ډله خپل مړي شوي کس ته شهید وایي، دا رنګه د عام سړي په زړه کې دا سوال پیدا کیږي چې ایا یو مسلمان د بل مسلمان له لاسه پرته له څه وجې ،یوازې د ژبې د تعصب له وجې قتل شي، نو ایا هغه به شهید وي؟ حالاتکې مړی که چیرې په خپله نه قتل کیدو، نو هغه مخالف قتل کولو، مهرباني وکړئ! ددې وضاحت وکړئ!

جواب: د صحیح مسلم په حدیث کې دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې: دنیا تر هغه وخته نه ختمیږي چې په خلکو باندې به یو وخت راشي قاتل ته به دا پته نه وي چې ده ولې قتل وکړ اومقتول ته به پته نه وي چې دی ولې قتل شو؟ عرض وشو چې داسې به ولې وي؟ ویې فرمایل: چې فتنه او فساد به وي، قاتل او مقتول دواړه به جهنم ته ځي (مشکواة ص: ۴۶۲)[2]

او د صحیحینو په حدیث کې دي چې کله دوه مسلمانان تورې راوباسي او په مقابله باندې ورشي، نو قاتل اومقتول دواړه به دوزخ کې وي، صحابه کرامو عرض وکړ چې قاتل خیر چې

---

[1] وعن ابی موسٰی رضی الله عنه قال: جاء رجل الی النبی صلی الله علیه وسلم فقال الرجل یقاتل للمغنم والرجل یقاتل للذکر والرجل یقاتل لیریٰ مکانه فمن فی سبیل الله؟ قال: من قاتل لتکون کلمة الله هی العلیا فهو فی سبیل الله. متفق علیه. (مشکوٰة/ کتاب الجهاد/ الفصل الاول /۲/ ۳۳۱/ طبع قدیمی). وفی عرف الشرع یستعمل فی بذل الوسع والطاقة بالقتال فی سبیل الله عزوجل بالنفس والمال واللسان او غیر ذالک او المبالغة فی ذالک. (بدائع الصنائع/ ۷/ ۹۷/ کتاب السیر)۔

[2] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: والذی نفسی بیده! لا تذهب الدنیا حتی یأتی علی الناس یوم لا یدری القاتل فیم قتل ولا المقتول فیم قتل، فیقول کیف یکون ذالک؟ قال: الهرج! القاتل والمقتول فی النار. رواه مسلم. (مشکوٰة/ ۴۶۲/ کتاب الفتن/ الفصل الاول/ طبع قدیمی).

جهنمي شو، خو مقتول ولې جهنمي شو؟ ويې فرمايل چې هغه هم د خپل مقابل د قتل کيدو حريص و. (مشکواة ص: ٣٠٧). [1]

ددې حديثونو نه معلومه شوه چې کوم خلک د يو بل خلاف اسلحه را پورته کوي دا خو که قاتل وي او که مقتول وي په دواړو صورتونو کې في النار والسقر دي. دوی ته شهيد ويل د شهيد دلفظ غلط استعمال دی، همدا رنګه کوم سړي ته عدالت د مرګ سزاء ورکړې وي، نو ده ته شهيد ويل هم د شهيدانو د وينو بې حرمتي ده.

د اسلامي نقطه نظر سره شهيد هغه عاقل او بالغ مسلمان ته ويل کيږي چې هغه:

(۱): کافرانو قتل کړی وي.

(۲): په ميدان جهاد کې مقتول وموندل شي.

(۳): يا غلو، ډاکوانو او باغيانو قتل کړی وي.

(۴): يا هغه د خپل ځان، مال، عزت او ابرو مدافعت کولو کې مړ شي.

(۵): يا هغه بې ګناه مسلمان چې هغه بل مسلمان په اله جارحې سره عمدا قتل کړی وي. [2]

په دې ټولو صورتونو کې که چيرې په دې سړي کې دوه شرطونه وموندل شي، نو د دنياوي حکم په لحاظ سره هم شهيد دی، يعنې ده ته به غسل نه ورکول کيږي، بلکې د وينو په ککړو شويو جامو کې کفن ورکول کيږي او د جنازې لمونځ به پرې کيږي. [3]

لومړی شرط دادی چې د مقتول کيدو نه مخکې په ده باندې غسل فرض نه وي که چيرې په ده باندې غسل فرض و مثلاً: د جنابت په حالت کې وژل شوی و يا ښځه د حيض او د نفاس په حالت کې وژل شوې وه، نو غسل به ورکول کيږي او دشهيد دنياوي حکم به په ده باندې نه جاري کيږي. [4]

دويم شرط دادی چې ياخو په موقعه باندې مړشوی وي يا د زخمي کيدو نه وروسته ده د څه خوراک څښاک يا علاج معالجې مهلت نه وي ملاوشوی اوکه دزخمي کيدو نه وروسته يې څه خوراک څښاک وکړ يا دده مرحم پټي وشوه يا د هوش په حالت کې په ده باندې د لمونځ وخت

---

[1] عن ابي بکرة عن النبي صلى الله عليه وسلم: اذا التقى المسلمان حمل احدهما على اخيه السلاح فهما فى جرف جهنم، فاذا قتل احدهما صاحبه دخلاها جميعا. وفى رواية عنه قال: اذا التقى المسلمان بسيفهما فالقاتل والمقتول فى النار. قلت: هٰذا القاتل فما بال المقتول؟ قال: انه كان حريصاً على قتل صاحبه. متفق عليه. (مشکوٰة/ ٣٠٧/ باب قتل اهل الردة: الفصل الاول/ طبع قديمى).

[2] الشهيد من قتله المشركون. . . . . او وجد فى المعركة وبه اثر....... او قتله المسلمون ظلما. . . . . ولم يجب بقتله دية. (الجوهرة النيرة/ ١/ ١١٣/ كتاب الصلاة)

[3] فيكفن اى يلف فى ثيابه ويصل عليه......ولا يغسل عن الشهيد دمه.........ولا تنزع عنه ثيابه. (الجوهرة النيرة/ ١/ ١١٣/ باب الشهيد/ كتاب الصلاة)

[4] ويغتسل ان قتل جنباً......وكذا تغسل ان قتلت حائضاً او نفساء.........الخ. (عالمگيرى/ ١/ ١٦٨)

تیر شو بیابه هم په ده باندې د شهید دنیاوي حکم نه جاري کیږي یعني ده ته به غسل ورکول کیږي، خو په اخرت کې به دا سړی په شهیدانو کې پورته کیږي. [1]

د شهید مفهوم او د هغه اقسام

سوال: اکثرداسې کیږي چې د بس یاد ریل د لاندې راشي یا دپاکستان هندوستان په جنګ کې قتل شي، ایاهغه ته شهید ویل کیږي، حالانکې شهید هغه وي کوم چې د الله په لاره کې ووژل شي اوپه ده کې هغه ټول صفتونه موجودوي کوم چې په یومسلمان کې کیدل پکاروي، لمونځ، روژه، زکات اوداسې دنورو... پابندوي اودنیاوي لالچ، حرص او د طمعې په خاطر نه جنګیږي، خودلته داسې نه وي، نو بیا ولې موږ د شهیدانو درجې مسخه کوو ایا دا به خیانت نه وي؟

جواب: د شهیدانو دوه قسمونه دي: یو حقیقي شهید او بل معنوي شهید، حقیقي شهید هغه دی چې هغه ته د غسل او د کفن ورکولو نه پرته ددفن کولو حکم دی، هغه مسلمان دی چې هغه په معرکه(دجنګ په میدان) کې د کافرانو له لاسه ووژل شي یا یو مسلمان په ظلم سره قتل کړی وي او دده د قتل نه دیت واجب نه وي. [2]

معنوي شهید هغه دی چې هغه ته د دنیاوي احکامو په اعتبار سره شهید نه شي ویل کیدای، بلکې دعامو مسلمانانو په شان دده غسل او کفن هم کیدلی شي مګر د اخرت په اعتبار سره شهید ورته ویل کیدای شي، په حدیث کې ډیروخلکوته داسې قسمه شهید ویل شوي، مثلاً: چې څوک په طاعون کې مړ شي، د خیټې د مرض نه مړشي، ښځه د نفاس په حالت کې مړه شي، یو سړی په حادثه کې مړ شي[3] ترڅو پورې چې د چا د نیک کیدو تعلق دی، نو دا معامله به نیغ په نیغه دالله په حواله وي، موږ به په ظاهري حالت باندې حکم لګوو، نوکوم سړی چې نیک او صالح و او هغه ته ظاهري یا معنوي مرګ نصیب شي، د هغه په باره کې د شهادت بشارت قوي دی او کوم سړی چې په ظاهره نیک نه وي، نود هغه معامله د الله په حواله ده. والله اعلم!

---

[1] ویغسل من ارتث وهو من صار خلقا فی حکم الشهادة النیل مرافق الحیاة وهو ان یأکل او یشرب او ینام او یداوی. . . . الخ. (عالمگیری/ ۱/ ۱۶۸/ الباب الحادی والعشرون فی الجنائز/ الفصل السابع فی الشهید)

[2] الشهید من قتله المشرکون......او وجد فی المعرکة وبه اثر........او قتله المسلمون ظلماً........ولم یجب بقتله دیة.........فیکفن ای یلف فی ثیابه ویصل علیه...........ولا یغسل عن الشهید دمه........ولا تنزع عنه ثیابه وینزع عنه الفرو والحشو. . . . الخ. (الجوهرة النیرة/ ۱/ ۱۱۳/ باب الشهید/ کتاب الصلاة)

[3] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ما تعدون الشهید فیکم؟ قالوا: یا رسول الله! من قتل فی سبیل الله فهو شهید. قال: ان شهداء امتی اذا لقلیل، من قتل فی سبیل الله فهو شهید، ومن مات فی سبیل الله فهو شهید، ومن مات فی الطاعون فهو شهید، ومن مات فی البطن فهو شهید. رواه مسلم. (مشکوٰة/ ۳۳۱/ کتاب الجهاد/ الفصل الاول).

شهيد څوک دې، مړ کړې شوې يا په سزاء کښې کړې شوې؟

سوال: په پوهنتون(يونيورسټي) کې د يو تنظيم ځينې افراد يو زده کونکی قتل کړي او قاتلانو د ګرفتارولو نه وروسته د عدالت په ذريعه د پانسي(اعدام) سزاء ورکړل شي، نو تنظيم والا وايي چې چاته پانسي ورکړل شوه هغه شهيد دی حالانکې دويمه پارټي وايي چې څوک قتل شو، هغه شهيد دی، اصل شهيد څوک دی؟

جواب: کوم مسلمان چې په ظلم سره قتل شي هغه شهيد دی او کوم چې دخپل جرم په سزاء کې مړشي، نوهغه شهيد نه دی.[1]

په خپله دفاع يا د مال په حفاظت کې مړشوی شهيد دی

سوال: دزيد په کور غل د ډاکه اچولو په نيت يا څوک لفنګ د بد کار نه د منع کولو يا دبدلې اخيستلو، ډاکه اچولو، د غلا کولو له پاره راشي او په زيد باندې حمله وکړي، زيد خپل ځان د بچ کولو له پاره غل، ډاکو، لفنګ باندې ګولۍ وچلوي او هغه مړ شي، نو په دې صورت کې د خدای په نزد به زيد خون خوار وي اوکه نه؟

جواب: که په خپله دفاع کې مړ شي، نو شهيد دی [2] او که حمله کونکي قتل کړي، نو بری الذمه دی.[3]

ايا په ظلم سره دمسلمان له لاسه وژل شوی به هم جنت ته ځي؟

سوال: که يو مسلمان د بل مسلمان له لاسه مړشي، نوايا هغه به جنت ته ځي که چيرې د جمعې ورځ وي؟

جواب: که چيرې چا په ظلم سره قتل کړی وي، نو هغه شهيد دی په دې شرط چې مسلمان وي او د لمونځ او روژې قائل وي.[4]

---

[1] الشهيد من قتله المشركون. . . . . . . او قتله المسلمون ظلماً قيد بالظلم احترازاً عن الرجم فى الزنا والقصاص. . . . . . الخ. (الجوهرة النيرة/ ١/١١٣/ باب الشهيد/ كتاب الصلاة). ومن قتل فى حد او قصاص غسل وصلي عليه لأنه لم يقتل ظلماً. (الجوهره النيرة/ ١/ ١١٤/ باب الشهيد، كتاب الصلاة)

[2] ومن قتل مدافعاً عن نفسه او ماله او عن المسلمين او اهل الذمة بأى آلة قتل بحديد او حجر او خشب فهو شهيد كذافى محيط السرخسى.(عالمگيرى/ ١/ ١٦٨/ الفصل السابع فى الشهيد)ايضاً:عن عبدالله بن عمروقال:سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: من قتل دونه ماله فهو شهيد. متفق عليه. (مشكوٰة/ ٣٠٥/ باب مالا يضمن.....الخ)

[3] عن ابى هريرة رضي الله عنه قال: جاء رجل فقال: يا رسول الله! ارأيت ان جاء رجل يريد اخذ مالي؟ قال: فلا تعطه مالك! قال: ارأيت ان قاتلني؟ قال: قاتله! قال: ارأيت ان قتلني؟ قال: فانت شهيد! قال: ارأيت ان قتلته؟ قال: هو فى النار! رواه مسلم. (مشكوٰة/ ٣٠٥/ باب ما لا يضمن من الجنايات)

[4] الشهيد من قتله.......المسلمون ظلما.....الخ. (الجوهرة النيرة/ ١/ ١١٣/ باب الشهيد/ كتاب الصلاة)

ایا بې ګناه قتل شوی سړی هم شهید دی؟

سوال: که چیرې یو سړی بې ګناه قتل شي، نو ایا هغه هم شهید دی؟

جواب: د شهید دوه قسمونه دي: یو د دنیاوي احکامو په اعتبار سره شهید. دویم هغه دی چې هغه کافرانو، باغیانو، تخریب کارانو او یاډاکوانو قتل کړی وي، کوم چې په میدان جهاد کې مقتول وموندل شو، یا یو مسلمان دی په ناحقه مړکړی وي[1] داسې شهید ته غسل او کفن نه ورکول کیږي، بلکې د خپلو وینو په جامو کې به دی دفن کیږي [2] او معنوي شهید هغه دی کوم چې په طاعون باندې مړ شي، د خیټې د مرض نه مړ شي، ناڅاپه ډوب شي یا په اوورکې وسوځي یا یو دیوال د لاندې راشي او مړ شي اوداسې نور... دا داخرت په اعتبار سره شهید دی، په دنیاوي اعتبار سره شهید نه دی.[3]

ایا د دوو ملکونو په جنګ، بمې چاودنو او د تخریب کارې په واقعاتو کې وژل شوي به هم شهیدان وي؟

سوال: شهید چا ته ویل کیږي؟

(۲): ایا د شهیدانو هم درجې وي.

(۳): په بمې چاودنو یا دتخریب کارو په نورو واقعاتو کې چې کوم خلک هلاک شي. هغوی ته هم شهیدان ویل کیږي؟

(۴): ددوه ملکونو د کومو په مینځ کې چې جنګ جوړیږي او د یو بل شهري یا کلي والو سیمو باندې حمله کوي اودبمباري په نتیجه کې چې کوم خلک ووژل شي، نوهغوی ته به هم شهیدان ویل کیږي؟ او که چیرې دواړه ملکونه مسلمانان وي، نو بیابه ورته هم شهیدان ویل کیږي؟

(۵) یو سړی کوم چې د نورو خلکو د جنګ له وجې بې ګناه په غلطي سره ووژل شي. نو هغه به هم شهید وي؟

---

[1] الشهید من قتله المشرکون. . . . . او وجد فی المعرکة وبه اثر. . . . . . . او قتله المسلمون ظلماً. (الجوهرة النیرة/ ۱/ ۱۱۳/ باب الشهید/ کتاب الصلاة)

[2] فیکفن ای یلف فی ثیابه ویصل علیه. . . . . ولا یغسل عن الشهید دمه. (الجوهرة النیرة/ ۱/ ۱۱۳)

[3] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ما تعدون الشهید فیکم؟. . . . . من قتل فی سبیل الله فهو شهید، ومن مات فی الطاعون فهو شهید، ومن مات فی البطن فهو شهید. رواه مسلم. (مشکوٰة/ ۳۳۱). ایضاً: عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: بینما رجل یمشی بطریق وجد غصن شوک علی الطریق فأخره فشکر الله له فغفر له وقال الشهداء خمسة المطعون والمبطون والغرق وصاحب الهدم والشهید فی سبیل الله. (مسلم/۲/ ۱٤۲/ باب بیان الشهداء/ طبع قدیمی).

(۶) او بل دا چې د علماء کرامو نه مې اوریدلي دي چې د الله تعالی ارشاد دی چې شهید ته مړ مه وایئ، بلکې هغه ژوندی دی او ده ته د جنت خوراک ملاویږي، نو ایا هغه سړی چې د مثال په ډول قاتل وي، مقروض وي، یا د چا غلا یې کړې وي، نو دده د پاره به څه حکم وي؟ نو ایا ده سره به د حقوق الله یا د حقوق العبادو محسابه نه کیږي؟

جواب: کوم عاقل، بالغ، مسلمان چې کافر، باغي یا ډاکو قتل کړی وي، یا د یو مسلمان په اله جارحې سره قتل شوی وي، هغه شهید دی.[1]

(۲): د شهیدانو درجې هم ددوی د اخلاص او د مظلومیت مطابق وي.

(۳): کوم مسلمانان چې په بمي چاودنو یا د تخریب کاري په واقعاتو کې ووژل شي. هغه له شک پرته شهید دی، له دې وجې که چاودنه کونکي او نور تخریب کار کافران نه وي. نو د دوی باغي او مفسد او د قاطع الطریق (ډاکو)کیدو کې، خو هیڅ شک نه شته.

(۴): په دې کې چې کوم مسلمانان په ظلم سره وژل شوي دي هغوی به شهیدان وي. د هریو فردا فردا تفصیل الله تعالی ته معلوم دی.

د بدمعاشانو سره مقابله کې وژل شوی پولیس شهید دی؟

او بل دا چې د لوړو افسرانو په حفاظت کې د مړشویو اهلکارو شرعي حکم

سوال: که د پولیس یو کس د بدمعاشانو مقابله کولو کې یا د باغیانو خلکو د سرکاري یا عام ملکیتونو ته چې نقصان رسوي یا د حکومت لوی افسران مثلاً: د مملکت سربراه یا وزیران او داسې نور... حفاظت کولو کې او دخپلې دندې فرض ګڼونکی وی او د حمله کوونکو مقابله وکړي او مړ شي، نو هغه به شهید وي؟ که چیرې شهید ګڼل کیږي ، نو څنګه دی؟ که چیرې نه، نو ولې؟ د قرآن او د حدیث په رڼا کې وضاحت وکړئ!

جواب: اصول دادي چې کوم مسلمان ظلم سره قتل شي هغه شهید دی ددې اصولو مطابق که پولیس خپله دنده اداکوي او مړشي ،خوپه دې شرط چې مسلمان وي. نو یقینا شهیدبه وي [2]

کله چې شهید ژوندی وي، نو بیا دده جنازه

ولې کیږي او ښځه یې بله نکاح ولې کوي؟

سوال: کله چې شهید ته ژوندی وویل شي، نو بیا دده د جنازې لمونځ ولې کیږي؟ دده ښځه بله نکاح څنګه کولی شي؟ دده میراث ولې تقسیمیږي؟

---

[1] هو كل مكلم مسلم طاهر. . . . . . قتل ظلماً بغير حق بجارحة اى بما يوجب القصاص وكذا يكون شهيداً لو قتله باغ او حربي او قاطع طريق. . . . . . . الخ. (الدرالمختار مع الرد/ ۲/ ۲۴۷/ باب الشهيد)

[2] ايضا پورتنۍ حواله.

جواب: دنیاوي ژوند خو د شهید هم پوره شو، دده د جنازې لمونځ کول، د میراث تقسیمول، د ښځې دویمه نکاح، د دنیاوي ژوند د خاتمې لوازمات دي او قرآن کریم چې د شهیدانو له پاره د کوم ژوند اثبات کړی دی هغه د بل جهان ژوند دی کوم چې زموږ د شعور او د ادراک نه لوړ دی، حالانکې شهید ددې دنیا نه رخصت شوی دی، خوددې باوجود الله تعالی دوی ته د مړ ویلو نه منع کړې ده، ځکه چې دوی ته په بل جهان کې قوي حیات حاصل دی او د دې ژوند سره سره دوی ته مړ ویل جائز نه دي.[1]

مشرکانو باندې په عذاب هم هلته تصور کیږي چې کله په دوی کې یو قسم حیات ومنل شي اګرچې موږ خلک ددې ادراک نه شو کولی، که نه، یوازې جماد ته خو عذاب نه شي ورکول کیدای، ددې نه ثابت شو چې د دویم جهان ژوند برحق دی او هر سړي ته دا ژوند حاصلیږي چې په هغه سره هغه د ثواب او د عذاب ادراک کولی شي او د شهیدانو ژوند خو دومره طاقتور وي چې دوی ته د مړ ویلو هم ممانعت شوی دی او ظاهره ده چې انبیاء کرام علیهم السلام او د صدیقینو مرتبه د شهیدانو نه هم لوړه ده له دې وجې ددوی د بل جهان والاژوند د شهیدانو نه زیات طاقتوروي او کله چې شهیدانو ته د مړ ویلو ممانعت دی، نو انبیاء او صدیقینو ته مړه ویل ددې نه زیاته د بې ادبي او د ګستاخي خبره ده.

دشهیدانو په شان انبیاوو او صدیقونو ته د مړیو ممانعت ولې دی؟

سوال: په دې وخت کې د خط دلیکلو وجه دا ده چې ما دجمعې په اخبارکې، . آپ کے مسائل اور ان کا حل، ، ولوستې په دې کې تاسو د بل جهان د ژوند په حوالې سره لیکلي و چې کله، ، شهید ته دمړ ویلو ممانعت دی، نوانبیاوو او صدیقیونو ته مړه ویل ددې نه هم زیاته د بې ادبي او ګستاخي خبره ده، ، ددې په جواب کې ما ته دا عرض کول و چې د شهیدانو د ژوند په باره کې په خپله الله تعالی په قرآن کې فرمایلي دي، حالانکې د نبي یا د صدیق له پاره داسې څه حکم نه شته.

جواب: قرآن کریم والدینو ته د، ، اف. . ویلو نه منع فرمایلې ده، خود دوی د وهلو یا ګنځلو کولونه یې منع نه ده فرمایلې، خوهر عاقل په دې پوهیږي چې د اف ویلو ممانعت یې فرمایلی دی، نوددې نه د زیات ممانعت باندې په خپله پوه شو، دارنګه پوه شی چې کله شهیدته یې د

[1] وقال الشيخ عز الدين ابن عبد السلام فى اما ليه فى قوله تعالي: ''ولا تحسبن الذين قتلوا فى سبيل الله امواتاً بل احياىٔ'' فان قيل: الاموات كلهم كذالک، فكيف خصص هؤلآئ؟ فالجواب ان الكل ليس كذالک، لان الموت عبارة عن ان تنزع الروح عن الأجساد لقوله تعالي: ''الله يتوفى الأنفس حين موتها'' اي: ياخذها وافية من الاجساد، والمجاهد تنقل روحه الى طير خضر، فقد التقل من جسد الى آخر بخلاف غيره، فان ارواحهم تنفى من الأجساد. (شرح الصدور/ ٢٤٦/ للسيوطى)

مړي ويلو نه منع وکړه، نودديې نه د لويوخلکوته د مړي ويلو ممانعت په خپله پېژندل کيږي.[1]

ايا هنګاموکې مړه کيدونکي خلک شهيدان دي؟

سوال: حيدراباد او کراچۍ کې چې دهنګامو له وجې کوم بې ګناه خلک مري، اياموږ دوی ته شهيدان ويلى شو؟ که ويلى شو، نوولې؟ اوکه نه يې شو ويلى، نوولې؟ دقران اوسنت په رڼاکې وضاحت وکړئ!

جواب: دشهيددنياوي حکم دادى چې هغوى ته غسل نه ورکول کيږي اونه دهغوى نه جامې ويستل کيږي، بلکې دغسل نه پرته دوينو په جامو کې هغه ته کفن ورکولوسره دجنازې دلمونځ نه وروسته خښ شي.

دشهادت داحکم دهغه کس له پاره دى کوم چې (۱) مسلمان وي، (۲) عقل لرونکى وي(۳) بالغ وي۔

(۴) هغه دکافرانو له وجې مړى شوى وي يادجنګ ميدان کې مړشوى وي اودهغه په بدن باندې دقتل نښې وي ياډاکوانوياغلوقتل کړى وي، ياهغه دخپل ځان دحفاظت کولوله وجې مړ شوى وي، يايومسلمان هغه په ظلم باندې قتل کړى وي.[2]

(۵) داکس که چيرې پورته بيان شويو صورتونوکې په موقع هلاک شوى وي اوهغه ته دڅه خوراک څښاک، ياعلاج اوداسې نور...، ياوصيت کولومهلت نه وي ملاوشوى، يادهوش په حالت کې هغه باندې دلمونځ وخت نه وي تيرشوى.[3] ـ (۶). هغه باندې دمخکې نه غسل واجب نه وي.[4]

که چيرې يومسلمان قتل شي، خود پورته بيان شويو پنځو شرطونوکې يوشرط هغه کې نه وي، نوهغه ته به غسل ورکول کيږي اوددنياوي حکمونوپه اعتبارباندې به هغه ته شهيدنه شي ويل کيداى،خو اخرت کې به شهيدانوکې شميرل کيږي.

---

[1] الدال بدلالة النص وهو اللفظ الدال على ان حكم المنطوق به ثابت لمسكوت عنه لفهم علة ذالک الحکم بمجرد العلم باللغة كقوله تعالى: فلا تقل لهما اف فانه يدل على ان حكم المنطوق به الذى هو تحريم خطاب الولد لوالديه بكلمة اف الموجوعة متضجر ثابت لضربهما وستمهما وقتلهما وهٰذه الثلاثة مسكوت عنها لان النص لم يتناولها لفظاً. (تيسير الوصول/ ۱۰۲/ مبحث الدال بدلالته/ طبع ادارة الصديق/ ملتان)

[2] الشهيد من قتله المشركون او وجد فى المعركة وبه اثر او قتله المسلمون ظلماً. . . . . ومن قتله اهل الحرب او اهل البغى او قطاع الطريق فبأى شيء قتلوه لم يغسل. . . . . ولا يغسل عن شهيد دمه ولا ينزع ثيابه. . . . . الخ. (هداية / ۱/ ۱۸۳، ۱۸٤/ باب الشهيد/ كتاب الصلاة)_

[3] من ارتث غسل الارتثات ان يأكل او يشرب او ينام او يداوى او ينقل من المعركة. (هداية /۱ / ۱۸٤/ باب الشهيد/ كتاب الصلاة/ طبع شركت علميه ملتان)_

[4] اذا استشهد الجنب غسل عند ابى حنيفة رحمه الله. (هداية: ۱/ ۱۸۳/ باب الشهيد/ كتاب الصلاة) ويغسل ان قتل جنباً . . . الخ. (عالمگيرى/ ۱/ ۱٦۸/ الباب الحادى والعشرون فى الجنائز/ الفصل السابع فى الشهيد)

د افغانستان د مجاهدینو امداد کول

سوال: افغانستان کې دوروس دظلم خلاف ټول مجاهدین جهاد کوي اودمجاهدینوسره وسله، دخوراک څښاک سامان اودهغوی دبچیودکفالت له پاره دسخت اوسمدلاسه امداد ضرورت دی، دې حالاتو کې داسلامي ملکونوباندې دشریعت په نزدباندې څه فرائض دي. دقران اوسنت په رڼاکې وضاحت وکړئ!

جواب: دهغوی هرقسمه مدد فرض دی، مالي، فوځي اواخلاقي.[1]

د کشمیري مسلمانانو مرسته

سوال: که چیرې کافران یوملک باندې حمله وکړي، نوایاجهاد نه فرض کیږي؟ اوکه چیرې جنګ کونکي کافي نه وي، نونژدې اسلامي ملک والوباندې هم جهادفرض عین شي. ددې قانون په نزد باندې دې وخت کې دکشمیر له وجې دپاکستان په خلکوجهاد فرض عین دی. خو مسئله داده چې دجهادله پاره خویوامام ضروري دی اودې وخت کې زموږ یوامام نه شته اوزموږ په حکمرانانو کې دومره حوصله نه شته چې هغوی دهندوستان(انډیا)خلاف دجنګ اعلان وکړي، دوی خویوازې داقوام متحده نه مطالبې کونکي خلک دي، نو داسې حالت کې به موږ ته دځپلوکشمیریانو خویندو او میندو دعزت سره لوبې کونکیو هندوانوخلاف څه کول وي؟ ایاموږ هغمدغه شان په کلار کینو او هندوان دې موږکمزوري ګڼلوسره زموږ دخویندو عزت اخلي؟

سوال: ۲: داخو خیرد کشمیرمسئله وه، خوکه چیرې څوک پاکستان باندې حمله وکړي، نوایا موږ دهغوی خلاف جهاد ونه کړو؟ ځکه چې دجهادله پاره دامام موجودګي شرط ده.

سوال۳ : اودې نه پرته دې وخت کې چې کوم پاکستاني تنظیمونه په کشمیرکې جهادکوي. دهغوی جهاد دشریعت په نزدباندې صحیح دی اوکه نه؟ ځکه چې امام خوزموږڅوک نه شته اونه موږ دجنګ اعلان کړی دی، نوبیاددې خلکوجهادپه کومه کاته کې دی؟

جواب: ۱: دکشمیري مسلمانانومرسته ضرورکول پکاردي.

جواب: ۲: خدای دې نه کړي چې داسې وخت راشي اوهغه وخت به بیا دحمله کونکي مقابله کول ضروري وي.[2]

---

[1] (فلا باس بأن يقوى بعضهم بعضا) لأن اعانة البر وجهاد بالمال وكلاهما منصوصان واحوال الناس فى الجهاد تفاوت فمنهم من يقدر عليه بالنفس والمال لقدرته عليها ومنهم بقدر نفس لقدرته دون المال لفقره ومنهم من يقدر بالمال لغناه دون النفس لعجزه فيجهز الغنى بماله لفقير القادر........الخ. (فتح القدير/ ٥/ ١٩٥)۔

[2] واما بيان كيفية فرضية الجهاد فالامر فيه لا يخلو من احد وجهين ...[بقيه حاشيه په راروانه صفحه..

جواب: ۳ دا سوال د هغه تنظ... ... نولودي زما د خيال مطابق د کشمير ټول مسلمانان دي يو کس خپل امام جوړ کړي او د هغه په امامت کې دې جهاد کوي او د شرعي جهاد د ټولو حکمونو خيال دې ساتي، دا نه چې اول د کافرانو سره جنګ وکړي او بيا به خپل مينځ کې جهاد شروع کړي [۱]

جهاد کې برخه ضرور اخيستل پکار دي

سوال: اسلامي جهاد څه شی دی؟ نن سبا افغانستان، بوسنيا، کشمير او فلسطين ته د جهاد کولو له پاره تلل څنګه دي؟ او ايا جهاد ته تللو له پاره د مور و پلار نه اجازه اخيستل لازم دي؟ او که چيرې مور و پلار غير مسلم وي يا هغوی کې يو کس غير مسلم وي، نو آيا د هغوی نه هم اجازه اخيستل ضروري دي؟

جواب: ۱ د الله تعالی د رضا له پاره د الله تعالی په لار کې د کفر و خلاف جنګ ته جهاد ويل کيږي

جواب: ۲ کوم ځای کې چې شرعي جهاد کيږي، هلته ضرور تلل پکار دي

جواب: ۳ جهاد که چيرې فرض کفايه وي، نو د مور و پلار له اجازې پرته تلل جائز نه دي [۲]

جواب: ۴ د غير مسلم مور و پلار اجازه ضروري نه ده، خو که چيرې هغوی د خدمت محتاج وي. نو د هغوی خدمت کول پکار دي.

سوال: د جنګ په ميدان کې که چيرې داسې وخت راشي چې د انسان د دښمن ته په لاس بندي دو رتلو ويره وي او د تکليف رسيدو وغيره ويره وي، نو داسې صورت کې خودکشي کول جائز دي؟

جواب: خودکشي کول جائز نه دي [۳] او کافرانو د وژلو دوران کې دې مړ شي

بقيه د تيرمخ].. اما ان كان النفير عاماً واما ان لم يكن، فان لم يكن النفير عاماً فهو فرض كفاية ومعناه ان يفترض على جميع من هو من اهل الجهاد لكن اذا قام به البعض سقط عن الباقين. الخ. (بدائع الصنائع/ ۷/ ۹۸، (فصل) واما بيان كيفية فرضية الجهاد)۔

[۱] عن مكحول عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الجهاد واجب عليكم مع كل امير براً كان او فاجراً. . . . . الخ. قال المحدث ظفر احمد عثماني رحمه الله: وفى الحديث دلالة على اشتراط الأمير للجهاد وانه لا يصح بدونه لقوله صلى الله عليه وسلم الجهاد واجب عليكم مع كل امير. . . . الخ. اذ لم يكن للمسلمين امام فلا جهاد نعم يجب على المسلمين ان يلتمسوا هم اميراً ويدل على ان الجهاد لا يصح لا بامير. . . . . . . الخ. (اعلاء السنن/ ۱۲/ ۲/ كتاب السير)۔

[۲] عن عبدالله بن عمرو قال: جاء رجل الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فاستأذنه فى الجهاد. فقال: أحي والداک؟ قال: نعم قال: ففيهما فجاهد. متفق عليه. وفى رواية: فارجع الى والدين فاحسن صحبتهما (مشكوٰة/ ۲/ ۳۳۱)

[۳] عن ابي هريرة رضي الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ... [بقيه حاشيه په راروان صفحه

د والدینو له اجازې پرته جهاد ته تلل

سوال: د والدینو نه د پوښتنه کولو نه پرته جهاد ته تلل څنګه دي؟ که چیرې لاړ شي، نو ګناه ګار به وي یا د ثواب مستحق به وي؟

جواب: جهاد فرض کفایه دی، د والدینو د اجازې نه پرته جائز نه دی، یو ځوان نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه د جهاد اجازه وغوښته، ویې فرمایل چې د ستا والدین ژوندي دي؟ عرض یې وکړ هو! ویې فرمایل چې لاړشه او په دوی کې جهاد وکړه. (مشکواة)[1]

د والدینو نافرماني کول او جهاد ته تلل

سوال: زمازوی چې دهغه عمر (۱۷) کاله دی، هغه اوس تعلیم حاصلوي، د کور والو مالي معاونت هم کوي، خوناڅاپه هغه ته دجهاد شوق راغی، ورسره یې د اخلاقو خرابي هم شروع شوه، تردې پورې چې په کور والاو باندې یعنې په پلار باندې یې لاس هم پورته کړ او د کور د ټولو افرادو سره یې بداخلاقی شروع کړه، اوس په پته د جهاد ټریننګ له پاره په سفر باندې روان شوی دی، پوښتنه دا ده چې ایا په موجوده وخت کې جهاد فرض عین دی؟ او بل دا چې په پاکستان والاوو باندې فرض عین دی یا فرض کفایه؟ دویم سوال دادی چې ایا داسې بد اخلاقي سره جهاد کې پرته د مور و پلار د اجازې نه تلل صحیح دي؟ او الله تعالی به په دې طریقه باندې راضي شي او که ناراضه؟

جواب: مجاهد بداخلاقي او د مور و پلار د نافرماني تصور هم نه شي کولی، اوس په پاکستان والا باندې جهاد فرض عین نه دی چې د مور و پلار د اجازې نه پرته د جهاد له پاره لاړ شي [2] الله تعالی دې د ستاسو زوی ته عقل سلیم ورکړي.

د جهاد له پاره د والدینو اجازه

سوال: د جهادله پاره د والدینونه پرته د موجوده حکومت نه اجازه غوښتل ضروري دي او که نه؟

جواب: که چیرې د جنګ په محاذ باندې د مجاهدین دومره تعداد وي، نو چې هغوی په ښې

بقیه د تیرمخ].. من تردی من جبل فقتل نفسه فهو فی نار جهنم خالداً مخلداً فیها ابداً، ومن تحسی سماً فقتل نفسه فسمه فی یده یتحساه فی نار جهنم.....الخ. (مشکوٰة/ ۲۹۹)

[1] عن عبدالله بن عمرو قال: جاء رجل الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فاستأذنه فی الجهاد، فقال: احی والداک؟ قال: نعم! قال: ففیها فجاهد. متفق علیه. وفی روایة: فارجع الی والدین فاحسن صحبتهما. (مشکوٰة/ ۲/ ۳۳۱/ الجهاد، طبع قدیمی کتب خانه)

[2] عن عبدالله بن عمرو قال: جاء رجل الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فاستأذنه فی الجهاد، فقال: احی والداک؟ قال: نعم! قال: ففیها فجاهد. متفق علیه. وفی روایة: فارجع الی والدین فاحسن صحبتهما. (مشکوٰة/ ۲/ ۳۳۱/ الجهاد، الفصل الاول، طبع قدیمی)

طریقې سره د مخالفینو سره جنګ کولی شي، نو په دې صورت کې به د مور و د پلار نه اجازه اخیستل ضروري دي او که چیرې دومره تعداد نه وي او د امام له طرف نه د نفیر عام حکم وشي، نو اولاد له پاره د مورو پلار له اجازې پرته او ښځې له پاره د خاوند له اجازې پرته د جهاد له پاره تلل لازم دي.[1]

د والدینو له اجازې پرته دجهاد له پاره تلل

سوال: زه جهاد ته تلل غواړم، خوزما والدین ددې اجازه نه راکوي، که چیرې زه ددوی حکم ومنم او جهاد ته لاړ نه شم، نوایا ماته به دجهاد ته د تلو، د والدینو د حکم منلو او ده دوی د فرمانبراري دوچنده اجر ملاوشي؟ یعنې جهاد ته د تلو د نیت کولو او د والدینو د فرمانبرداري هم؟

جواب: د والدینو له اجازې پرته تاته د جهاد له پاره تلل نه دي پکار، ددوی خدمت کوه، په دې باندې به تاته د جهاد اجرملاویږي. [2]

افغانستان، بوسنیا، کشمیراو فلسطین ته د جهاد له پاره تلل په تبلیغ کې دوتلو حیثیت څه دی؟

سوال: اسلامي جهادڅه شی دی؟ نن سبا افغانستان،بوسنیا، کشمیراوفلسطین ته دجهاد کولوله پاره تلل څنګه دي؟ او ایا جهادته تلوله پاره دموروپلار نه اجازه اخیستل پکاردي؟ اوکه چیرې مور وپلارغیرمسلم وي یاهغوی کې یوکس غیرمسلم وي، نوایا دهغوی نه هم اجازه اخیستل ضروري دي؟

جواب: ۱: دالله تعالی درضاله پاره دالله تعالی په لارکې دکافروخلاف جنګ ته جهادویل کیږي.

جواب: ۲: کوم ځای کې چې شرعي جهاد کیږي، هلته ضرورتلل پکاردي.

جواب: ۳: جهادکه چیرې فرض کفایه وي، نودموروپلارله اجازې پرته تلل جائز نه دي.[3]

جواب: ۴: دغیرمسلم موروپلاراجازه ضروري نه ده، خوکه چیرې هغوی دخدمت محتاج وي، نو دهغوی خدمت کول پکاردي.

---

[1] وفرض عین ان هجم العدو فیخرج الکل ولو بلا اذن..الخ.(الدرالمختار مع الرد/ ٤/ ١٢٦/کتاب الجهاد)

[2] ایضاً_

[3] عن عبدالله بن عمرو ؓ قال: جاء رجل الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فاستأذنه فی الجهاد، فقال: احی والداک؟ قال:نعم قال:ففیها فجاهد.متفق علیه. وفی روایة: فارجع الی والدین فاحسن صحبتهما. (مشکوٰة/۲/۳۳۱)

په تبليغ کې د وتلو حيثيت

سوال: ځينې حضرات سه روزه، عشره، څلور مياشتې يا د کال له پاره اکثر کور پرېږدي د علاقې يا د ښار نه بهر ووځي ددې له پاره چې د دين خبرې زده کړي او نورو ته يې وښائي اکثر خلک دې ته سنت او څوک دې ته د فرض درجه ورکوي، يو عالم صاحب وويل چې سنت دی، بلکې دا د بزرګانو طريقه ده ددې له پاره چې عام خلک د دين په خبرو پوه شي او په دې باندې عمل وکړي، ددې حيثيت واضح کړئ!

جواب: په دعوت او تبليغ کې د وتلونو نه مقصود خپله اصلاح او عمل صحيح کول دي او دايمان زده کول فرض دي. نو ددې طريقه به هم فرض وي، خو که چيرې چا ايمان صحيح کړی وي، او په ضروری اعمالو کې هم کمی نه کوي دده له پاره به د فرض درجه نه وي

ايا په تبليغ کې وتل هم جهاد دی؟

سوال: ځينې خلک يعنې تبليغيان که چيرې دهغوی سره د جهاد خبره وشي، نو دا خلک وايي چې اول ايمان جوړ کړئ، د ايمان نه څه مراد دی؟ او دا ايمان تر کوم وخته پورې جوړيږي؟ او دا خلک څنګه ايمان غواړي؟ او بيا دا خلک د ټال متول نه هم کار اخلي، ايا تبليغ کول فرض عين دی؟

جواب: په تبليغ کې وتل هم جهاد دی.

کورنی ته د خرچې ورکولو نه پرته په تبليغ کې د تلونکي شرعي حکم

سوال: په تبليغ کې د تلونکو حضراتو د کور والو د خيال ساتلو نه پرته ځي چې په دې سره دده بچي او داسې نورو... ته معاشي پريشانې وي او د دوی بيا قرضې اخلي.

جواب: دوی ته پکار دي چې د غير حاضرې د ورځو بندوبست وکړي او لاړ شي که قرض اخلي، نو هم خو چې بچي يې پريشانه نه شي.

د دين غلبه څنګه راځي؟

سوال: د دين ډيرې شعبې دي، ټولې په حق دي، تدريس، تصنيف، تصوف، تبليغ، جهاد او داسې نورې... په دې کې د دين غلبه څنګه راځي؟

جواب: الله تعالی د خپل دين ټولې شعبې چلول دي، کوم سړی چې د کومې شعبې اهل وي دده له پاره هغه بهتره (غوره) ده.

تبليغي جماعت او جهاد

سوال: تبليغ کونکي حضرات جهاد ولې نه کوي؟ يا د جهاد له پاره خلک ولې نه تياروي؟

داسې ښکاري لکه چې په دې خلکو باندې جهاد فرض نه دی، حالانکې په امت باندې په دې وخت کې جهاد فرض دی.

جواب: د پورتني جواب نه دا هم معلومه شوه چې تبليغ يو فرض کفايه مشغله ده او مجاهدين په بلې فرض کفايه کې مصروف دي، کوم حضرات چې د دين د نورو شعبو سره تعلق لري، هغوی په خپل ځای کې په فرض کفايه کې مشغول دي، دا خو په هيڅ يو کتاب کې نه دي ليکل شوي چې د دين ټولې شعبې بندې کړئ او ټول د فرض کفايې جهاد له پاره لاړ شئ، بلکې ددې برعکس قرآن کريم خو دا ارشاد فرمايلی دی: او مسلمانانو ته دا نه دي کول ښکار چې ټول ووځي داسې ولې نه کوي چې د دوی د هر لوی جماعت نه يو وړوکی جماعت (جهاد) ته لاړ شي، ددې له پاره چې باقي خلک د دين پوهه حاصله کړي او ددې له پاره چې خپل قوم ته کله چې دوی واپس راشي ويې ويروي، ددې له پاره چې هغوی له دو کارونو ځانونه بچ کړي (ترجمه: مولانا اشرف علي تهانوي. سورت توبه: ١٢٢)[١]

په تبليغ کې وتل غوره دي که په جهاد کې

سوال: ما د الله تعالی په فضل سره څلور مياشتې لګولې دي او د الله تعالی په فضل سره مې ډيره هم پرينښې ده او خولې هم پسرکوم، لمونځ هم کوم، اول به مې هيڅ هم نه کول، اوس بيا د ګناهونو طرف ته روان يم، خوبيااحساس ندامت راځي، نو ددې غفور او رحيم نه معافي غواړم، خود لږې مودې نه وروسته بيا په ګناهونو کې مبتلاء کيږم، نو بيا سوچ کوم چې يو ځل کار وشي، يعنې د جهاد له پاره لاړ شم او شهيد شم ځکه چې ما اوريدلي دي شهيد به نيغ جنت ته ځي، له دې وجې د ستاسو نه دا معلومول ښکار دي چې نن سبا چې د کشمير وغيره کې شرعي جهاد شروع دی، دا صحيح او شرعي جهاد دی؟ او که څوک دې ته لاړ شي او وژل شي، نو د شهادت مرتبه به ورته ملاو شي؟

جواب: د هغه ځای دحالاتو ما ته تحقيق نه شته چې د جهاد اعلان چا کړی دی؟ د جهاد امير او امام څوک دی؟ په هر حال که دلته د جهاد ټول شرطونه وموندل شي بيا هم فرض کفايه دی، که ته شريک شوې او شهيد شوې، نو د نيت د اخلاص په شرط به نيغ جنت ته داخل شې او که ته تبليغ کې لاړې او د خپل ځان او د خپلو ورونړو فکر وکړې، نو يوازې ته نه، بلکې ډير زيات خلک به د ځان سره بوځې. اوس تاته اختيار دی چې کومه لاره اختياروې؟ او د والدينو اجازه د دواړو له پاره ضروري ده.

---

[١] "وماكان المؤمنو لينفروا كافة فلو لا نفر من كل فرقةٍ منهم طائفة ليتفقهوا فى الدين ولينذروا قومهم اذا رجعوا اليهم لعلهم يحذرون". (التوبة: ١٢٢)

تبليغ او جهاد

سوال: يو صاحب وايي چې تبليغيان جهاد نه کوي، ماهغه ته وويل چې هغوی د جهاد نه منع هم نه کوي او د دين مختلفې برخې دي، هغوی تبليغ اختيار کړی دی، دې باندې هغه وويل چې ټول دين باندې عمل کول پکار دي او حضور ﷺ هم حکومت کړی دی او يو تبليغي حضرت فرمايي چې تاسو خلک جهاد نه کوئ، جنګ او جهاد کې فرق دی، تاسو ته خواست دی چې کوم کس صحيح خبره کوي؟

جواب: زه ستاسو خبرې سره اتفاق لرم.[1]

تقوا او جهاد

سوال: خواست دادی چې زموږ د جومات يو مولانا صاحب هميشه دا وايي چې متقي (د فرائضو پابند، حلال رزق ګټونکی، د بدعت او ګناهونو نه ځان ساتونکی، خوش اخلاق او خوش لباس) انسان به بې شکه جنت ته ځي، هغه له پاره د حورو او بنګلو وعده ده، خود هغه له پاره د نصرت وعده نه شته، د نصرت وعده خو يوازې د جهاد کونکي کس له پاره ده.

د دغه ملا صاحب د دې بيان له وجې زموږ ذهنونو ته پريشاني راځي اميد دی چې تاسو به د دې سوالونو جواب راکړئ چې موږ ته صحيح خبره معلومه شي:

١: ايا د قبر د عذاب او د دوزخ نه خلاصي او د جنت حاصليدل "نصرت" نه دی؟ که چيرې دا نصرت نه دی، نو بيا هغه کوم خاص شی دی کوم ته چې نصرت ويل کيږي؟

٢: ايا د فتنو په دې دور کې متقي او سيدل پخپله باندې يو قسمه جهاد نه دی؟

د کوم حد پورې چې موږ (زه او زما ملګري) پوهيږو، د فرائضو پابندي، د بدعت او ګناه نه ځان ساتل، حلال رزق ګټل، شرعي جامې اغوستل، خوش اخلاقي او د نورو شرعي حکمونو پابندي کول، تقوا ده او داسې متقي کس عملي ډول باندې ټوله معاشره کې لوړ مقام والا وي او هغه شيطان او د خپل نفس سره جهاد کوي، ايا داسې متقي کس (که هغه د جهاد له پاره وتلای وي او که نه وي) يعنې د متقي او سيدو سره سره يوازې د خپل خاندان کفالت کولو کې خپل ژوند تيروي، هغه ته به مجاهد نه شي ويل کيدای؟

قرآن کريم کې ځای په ځای راغلي دي، الله تقوا خوښوي الله تعالی د متقيانو خلکو دوست او ولي دی، د ولي او دوست کيدو باوجود د الله تعالی خپل متقي بندګانو ته (تر څو پورې چې هغوی جهاد نه وي کړی) د نصرت نه ورکول موږ په عقل کې نه راتلونکې خبره ده.

---

[1] وعن ابي هريرة رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: الايمان بضع وسبعون شعبة فافضلها قول لا اله الا الله وادناها اماطة الأذیٰ عن الطريق،والحياء شعبة من الايمان.متفق عليه.(مشكوٰة:١/١٢ كتاب الايمان)

یاخوزموږ مولانا صاحب غلطه خبره کوي اویاموږغلط پوهیږو. تفصیل سره دې مسئلې باندې رڼاواچوئ!

جواب: ملایان صاحبان چې څه فرمایي دهغوی نه خاص "نصرت" مراد دی. یعنې دکافرانو په مقابله کې اودادجهادسره خاص دی "ان تنصرو الله ینصرکم." اوددې نصرت تعلق دخلکوسره نه، بلکې دټول ملت سره دی.[1]

تاسوچې کوم کارونه ذکرکړي دي، دهغو تعلق دخلکوسره دی. له دې وجې دواړه په خپل خپل ځای باندې صحیح وایي، بې شکه دې دورکې تقوا اختیارول هم "جهاد" دی. خو د جهاد لفظ چې کله مطلق وویل شي، دهغه نه د اسلام ددشمنانو مقابله کې جهاد مراد وي. امید دی چې دې مختصرو الفاظوباندې به ستاسوتسلي شوې وي.

تبلیغ او جهاد کې ترجیح کوم ته ورکول پکاردي

سوال: تبلیغ او جهاد دواړه فرض دي،ترجیح کوم ته ورکړل شي؟ وضاحت وکړئ!

جواب: چیرته چې په صحیح شرطونوسره جهادکیږي، هلته جهادهم فرض کفایه دی اود دعوت اوتبلیغ کارپه خپل ځای ډیر اهم دی،که دمسلمان ایمان محفوظ کړل شي، نوجهادبه هم په صحیح طریقې سره وکړل شي، نوځکه عامو مسلمانانوته خوبه دتبلیغ دکار مشوره ورکړل شي، هو! چیرته چیرته چې بالسیف (په تورې) ضرورت وي، هلته جهادضروري دی.

په اسلام کې د مینځې تصور

سوال: په اسلام کې د مینځې ساتلو څه تصور دی؟ په پخوا زمانه کې به د عربو خلکو د اخیستلو له پاره مینځې ساتلې، د نکاح نه پرته یې ورځخه کار اخیست، اشاره کافي ده او د دوی نه چې کوم اولاد پیدا کیده ایا هغه جائز دی؟ ایا هغوی په میراث کې برابر حقدار دي؟ دا خو د پخوا زمانې خبره وه او دنن سبا په جدید دور کې هم په عربي ملکونو کې داسې کیږي، یعنې چې کوم سړی غواړي، نو د اخیستلو له پاره مینځه ساتلی شي، ایا موږ پاکستانیان هم مینځې ساتلی شو؟ ددې په باره کې زموږ ددوستانو په مینځ کې کافي ګرم بحث وشو،خبره لاس اچولو پورې ورسېده، خوبیا وروسته فیصله وشوه چې (جنګ)ورځپاڼې ته خط ولیکو او ددې مسئلې حل معلوم کړای شي.

جواب: په پخوا زمانه کې د شرعي مینځو د ساتلو وجود وو او ددینه پیدا کیدونکي اولاد به د صحیح نسب والا منل کیدل [2] خواوس د یوې زمانې نه د مینځو وجود نه دی پاتې شوی،

---

[1] (یاَیها الذی أمنوا ان تنصروالله) ای تنصروا دینه ورسوله، (ینصرکم) علی عدوکم (ویثبت اقدامکم) ف القیام بحقوق الاسلام والمجاهدة مع الکفار(سورة محمد/ تفسیرالمظهری/ ۸/ ٤٢٥/ طبع اشاعت العلوم دهلی)

[2] ام الولد والحکمفیها ان یثبت النسب من غیر دعوة وینتفی بمجرد النفی...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

بلکې د يو ځای او د بل ځای نه ښځې اغواء کوي او خرڅوې يې، ددوی اخيستل او خرڅول قطعي حرام دي[1] او د دوی نه پرته د نکاح انساني خواهش پورا کول خالص زنا ده.

په اسلام کې د مينځې حيثيت

سوال: په اسلام کې د مينځې څه تصور دی؟ ايا اوس هم جينکۍ اخيستل کيدای شي ،چې د مينځې په طور وساتل شي؟

جواب: نن سبا شرعي مينځې نه شته او ازادې ښځې نيول او خرڅول بد ترين جرم دی. په دې باندې د شرعي مينځو حکمونه نه جاري کيږي. [2]

ايا اوس هم د غلامانو او د مينځو د ساتلو له پاره اجازه شته اوکه دا حکم منسوخ شوی دی

سوال: د غلامانو يا د مينځو دساتلو اجازه اوس هم شته اوکه نه؟ که چيرې نه وي. نو ولې؟ په قرآن کريم کې، خو دا حکم نه دی منسوخ شوی او قسم وغيره د ماتولو کې هم دا فتوا ورکول کيږي چې يو غلام ازاد کړئ. يا دومره بې وزلو ته ډوډۍ ورکړئ، يا دومره روژې ونيسئ، وغيره، خو غلام او مينځې خو اوس نه شته، دا رواج څنګه ختم شو؟

جواب: کله چې شرعي غلام او مينځې پاتې نه شوې، نو رواج په خپله ختم شو او که څه وخت بيا ددی وجود وي، نو بيا به د غلامانو او د مينځو احکام جاري شي، له دې وجې حکم منسوخ نه شو، ددې مثال داسې دی لکه چې زکات په يو خاص نصاب باندې لازميږي فرض کړه چې که په پوره ملک کې يو هم د نصاب مالک نه وي (لکه چې کميونسټ ملکونو کې دا صورت پيدا کيږي) نو د زکات نوم به هم په دوی باندې نه جاري کيږي.

د مينځو حکم

سوال: ستاسو توجه داسلام په ابتدايي دورکې دومينځو طرف ته راړول غواړم. څنګه چې د المؤمنون په سورت کې دالله تعالى ارشاد دی: "کوم چې دخپلو شرمګاوو حفاظت کوي خود خپلو ښځو يا وينځوکومې چې دهغوی په ملکيت کې وي"، اسلام کې اوس دوينځې اجازه

بقيه د تيرمخ].. كذا فى الظهيرية قالوا وانما يثبت نسب ولد ام الولد بدون الدعوة ان كان يحل للمولى وطؤها اما اذا كان لايحل فلا يثبت النسب بدون الدعوة. . . . . الخ. (عالمگيرى/ ١/ ٥٣٦/ كتاب الطلاق/ الباب الخامس عشر فى ثبوت النسب)

[1] اذا كان احد العوضين محرما او كلاهما فالبيع فاسد أى باطل كالبيع بالميتة او بالدم. . . . . وكذالك اذا كان غير مملوک كالحر. . . . . يعنى انه باطل لانه لا يدخل تحت العقد ولا يقدر على تسليمه. (الجوهرة النيرة/ ١/ ٢٠٣/ باب البيع الفاسد/ طبع دهلي، ايضاً فى الدرالمختار/ ٥/ ٥٢/ باب البيع الفاسد)

[2] ايضاً، تيره شوى حواله.

شته او که نه؟ او د خلفاء راشدینو په دورکې دوینځو ساتلو اجازه وه او که نه؟

جواب: اسلامي جهاد کې به چې کوم سړي اوښځې قیدیان شول. یا خو به هغوی نه فدیه اخیستلو سره ازاد شول یا به هغوی د مسلمانانو قیدیانو په بدله کې ورکړل شول. یا به د هغوی نه غلامان او وینځې جوړ شول

دغه شان وینځوته به (په دې شرط سره چې مسلمانانې وي) له نکاح پرته د ښځې حقونه حاصل وي، ځکه چې هغه د هغه سړي ملکیت شي. دقران کریم په ,,**وماملکت ایمانکم**،، الفاظو کې هم د دې غلامانو او وینځو ذکر دی.[۱]

اوس د دېروخت نه اسلامي جهادنه کیږي، له دې وجې د شرعي مینځو وجود هم نه شته، ازاده ښځه نیول او خرڅول جائزنه دي ،نو ازاده ښځه مینځه نه جوړیږي.

دې دورکې د شرعي مینځې تصور

سوال: د شرعي مینځو څه تصوردی؟ ایا قران کریم کې د مینځو باره کې څه ویل شوي دي؟ ما اوریدلي دي چې دقران کریم حکم دی چې مسلمان د څلورو ښځونه پرته یوه وینځه هم ساتلی شي او د وینځې سره هم خپل بدني خواهش پوره کولی شي، که چیرې پخوانۍ زمانه کې مینځه ساتل جائزو، څنګه چې به ساتل کیده، نو اوس دا جائز ولې نه ده؟ مخکې زمانه کې به مینځه د کوم ځای نه او څنګه حاصلیده؟ ترکوم حدپورې چې ما اوریدلي دي پخوانۍ زمانه کې به مینځې خرڅیدې او دا ولې ناجائزدي؟

جواب: د جهاد دوران کې به چې کوم خلک د مسلمانانو په قید کې راغلل، د هغوی باره کې به درې خبرې اختیار شوې، یا خو به د هغوی نه پیسې اخیستلو سره پریښودل شول. دویم دا چې د پیسو نه پرته به یې پریښودل او دریم دا چې د هغوی نه به یې مینځې او غلامان جوړ کړل.[۲] داسې ښځې او سړي به غلامان جوړل شول او هغوی به خرڅیدل، داسې ښځوته به شرعي مینځې ویل کیدې او که چیرې هغه اهل کتاب وي یا بیا مسلمانه شوې وي. نو مالک ته به

---

[۱] والمحصنٰت من النساء الا ما ملکت ایمانکم والصحیح ماروىٰ مسلم و أبوداؤد والترمذی والنسائی عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه قال: او طاس لهن ازواج فکرهنا ان نقع علیهن ولهن ازواج فسألنا النبی صلی الله علیه وسلم فنزلت والمحصنٰت من النساء الا ما ملکت ایمانکم یقول الا ما افاء الله علیکم فاستحللتم بها فروجهن. (سورة النساء: ٣٥/ تفسیر المظهری/٢ / ٦٤/ طبع رشیدیه کوئته)۔

[۲] "فاذا لقیتم الذین کفروا فضرب الرقاب حتی اذا اثخنتموهم فشدوا الوثاق فاما منا بعد واما فداء حتی تضع الحرب اوزارها" (محمد: ٣). ایضاً: واما الرقاب فالامام فیها بین خیارات ثلاث ان شاء قتل الاساریٰ منهم. . . . . وان شاء استرق الکل فخمسهم وقسمهم. . . . . وان شاء من علیهم وترکهم احرارا بالذمة. . . . . . الخ. (بدائع الصنائع/ ٧/ ١١٩)۔

هغې سره د بدني خواهش پوره کول جائز و[1] او مالک له پاره د نکاح کولو ضرورت نه و، او س شرعي جهاد نه شته، له دې وجې مينځو او غلامانو وجود ختم شو.

مينځو باندې پابندي حضرت عمر رضی الله عنه لګولې وه

سوال: مينځه ساتل صحيح دي او که نه؟ او هغې سره د نکاح نه پرته د ښځې خاوند تعلق ساتل صحيح دي او که نه؟ شيعه حضرات وايي چې حضرت عمر رضی الله عنه په مينځو باندې پابندي لګولې وه حالانکې دې نه مخکې به حضور ﷺ او د حضرات حسنين رضی الله عنهما په کورونو کې مينځې وې. کومې به چې جنګ کې د غنيمت په ډول ملاويدې.

جواب: شرعي ډول باندې مينځو نه مراد هغه ښځې دي کومې چې جهاد کې د غنيمت د مال په ډول مسلمانانو ته ملاوشي[2]، که چيرې هغوی مسلمانانې شوې، نو هغوی سره د جنسي تعلق جائز دی[3] شيعه ګان دروغ وايي چې حضرت عمر رضی الله عنه په مينځو باندې پابندي لګولې وه، بلکې که چيرې تاسو غور وکړئ، نو د شيعه ګانو د اصولو مطابق نه دوينځو ساتلو اجازه شته او نه د سيدانو نسب نامه ثابتيږي، ځنګه چې پورته ليکل شوي دي چې مينځه هغه ده کومه چې د جهاد په ذريعه باندې حاصلې شوې وي او جهاد د مسلمان انصاف کونکي په بادشاهت کې کيدای شي، د خلافت راشده دور چې شيعه ګان په کوموالفاظوکې يادوي هغه تاسوته معلوم دي، کله چې د دريو خليفه ګانو خلافت صحيح نه و، نو د هغوی په دورکې شوي جنګونه هم شرعي جهاد نه دی او کله چې هغه شرعي جهاد نه و، نو کومې مينځې چې راغلې وې د هغوی سره تمتع هم شرعي ډول باندې جائز نه دي، او س سوال دادی چې د حضرت علي رضی الله عنه او حضرت حسن رضی الله عنه سره مينځې له کوم طرف نه راغلې؟ د حضرت علي او حضرت حسن رضی الله عنهما په پنځه کاله دورکې د کافرو سره جهاد نه دی شوی او نه مينځې راغلې دي، ټول سيدان کوم چې د "حسن بانو"، د نسل نه دي دا نسل هغه وخت کې صحيح ګڼل کيدای شي چې دا شرعي ډول باندې مينځه وي او شرعي منځه هغه وخت کې کيدای شي چې شرعي جهاد شوی وي او شرعي جهاد هغه وخت کې کيدای شي چې حکومت شرعي وي، نو معلومه شوه چې شيعه ګان دې يا خود حضرت عمر رضی الله عنه حکومت شرعي ومني يا د سيدانو د نسب نه انکار وکړي.

---

[1] "ومن لم يستطع منکم طولاً ان ينکح المحصنٰت المؤمنٰت فمن ما ملکت ايمٰنکم من فتيٰتکم المؤمنٰت" (النساء: ٢٥)

[2] ايضاً او ګورئ تيره شوې حواله "فاذا لقيتم الذين کفروا فضرب الرقاب. . . الخ"۔

[3] ايضاً او ګورئ تيره شوې حواله "ومن لم يستطع منکم طولاً ان ينکح المحصنٰت المؤمنٰت. . . الخ"۔

❖ سياست ❖

....

ايا ټاکنې (ووټونه) د سهي انقلاب ذريعه ده؟

سوال: پاکستان کې ووټونه (ټاکنې) کيدونکې دي او بار بار دا عمل کيږي. په دې لکونو روپۍ خرچ کيږي. د مختلفو پارټيو مشران خپل خپل خيالات بيانوي. ايا حکومت کې د راتللو دا طريقه صحيح ده؟ ايا ووټونه د صحيح انقلاب ذريعه ده؟

جواب: په پاکستان کې به ووټونه (ټاکنې) کيږي او که نه؟ دا به څنګه طريقې سره کيږي؟ د دې له پاره به څه طريقه اختيارول کيږي؟ او د ووټونو نيتجه به څه وي؟ دا هغه سوالونه دي په کومو باندې چې خبرې کيږي او هر يو کس د خپل ذهن او فکر مطابق دې باندې د خپلو خيالاتو اظهار کوي.
د حکومت له طرف نه د ووټونو (ټاکنو) د تاريخ اعلان نه دی شوی، خو د خلکو له طرف نه ډير په اعتبار دا ويل کيږي چې راتلونکي کال به د ووټونو کال وي. اګرچې د سرحدونو حالات صحيح نه دي. افغاني جازونه د پاکستان د سرحدونو خلاف ورزي کوي. د وروس فوج د پاکستان په سرحد باندې جمع شوی دی او د وروس له طرف نه پاکستان ته په پټ او ښکاره الفاظو کې د همکيانې ورکول کيږي. بل طرف د هندوستان فوجيان د پاکستان په سرحدونو باندې جمع شوي دي. د هند د فوجيانو له طرف نه د پاکستان په سرحد باندې د ګوله بارۍ خبرونه هم راځي او د پاکستان دامن والا ايټم ختمولو منصوبې تياريږي. مختصر الفاظو کې دا چې د پاکستان د سرحدونو حالات تشويشناک دي او د دې باوجود پاکستان د صدر وينا ده چې سرحدباندې د دباو له وجې به د ووټونو عمل نه متاثريږي. موږ د جنګ اميد نه کوو. خو که چيرې زموږ د خواهشاتو او کوششونو باوجود څه خراب حالات جوړشول. نو د ووټونو د پروګرام به جائزه اخيستل کيږي. (روزنامه جنګ کراچی ٤ ستمبر ١٩٨٤)
ښکاره خبره ده خدای دې نه کړي که چيرې سرحدونو باندې حالات خراب شول. نو د وطن حفاظت کول زموږ د ټولو فرض دی او دې صورت کې به ووټونه ضرور وروسته کيږي. نو د حکومت په اعلان باندې د مکمل اعلان باوجود دا ويل مشکل دي چې راتلونکي وخت کې به ووټونه کيږي او که نه؟
پاتې شو دويم سوال دا چې ووټونه (ټاکنې) به څنګه وي او د دې له پاره کومه طريقه خپلول پکار ده؟ دې باره کې تجزيه کاران تجزيې وړاندې کوي. خو افسوس چې او سه پورې يوه اندازه هم صحيح نه ده لګيدلې او نه دې باره کې د حکومت له طرف نه څه واضحه فيصله راغلې ده،

نومسئله تراوسه پورې دحکومت اوسیاستدانانوپه مینځ کې حل نه ده چې ووټونه به دجماعتونوپه بنیادباندې کیږي اوکه غیر جماعتي ډول باندې. دغه شان دوټونوحکمت عملي اودا طریقه کار هم اوسه پورې پټ ساتل شوی دی.خو دصدراودهغه د حکومت داکوشش دی چې ښه سړی منتخب شي اومخې ته راشي. خودا سوال بیاهم پاتې کیږي چې دښه سړي معیاربه څه وي؟ هغه به دکومو صفاتوپه تله باندې تلل کیږي؟ اوداچې خرابه شوې معاشره کې به ښه سړی دکوم ځای نه پیداشي؟ اودهغوی پیدا کولوکې به موږ کامیاب هم شو. نوهغه کې به د ووټونوپه میدان کې به د(**هل من مبارز؟**) ویلوصلاحیت څنګه پیداشي؟ او هغوی به ددولت او زرومقابله څنګه کوي؟ ایازموږ سیاسي ماحول کې داصلاحیت موجوددی چې یوښه سړی یوازې دخپل ښه والي له وجې ووټونه وګټي؟ ددې سوالونوصحیح جواب ورکول ګران دي.

اوس پاتې شواخري سوال چې ملک اودین اومذهب باندې به دا ووټونوکوم حدپورې ښه اثر وغورځوي؟ ددې فیصله خوبه مستقبل کوي، خوکه چیرې په تیروشویو تجربو اواوسنیو حالاتو باندې نظر وشي. نوداسې محسوسیږي چې دې ووټونوکې به (یوازې داقتدار د بدلیدو نه پرته) نورڅه امیدونه ساتل نه دي پکار، که چیرې دوټونه دصالح انقلاب ذریعه جوړول وي، نودې له پاره لومړی شرط دادی چې ټولې دین دارې حلقې، جماعتي اوخپلومفاداتونه اوچت سوچ کولو او یو متفقه طریقه داسې وړاندې کړي اوخپل ټول وزن دوټونوپه تله کې واچوي، بیاامید کیدای شي چې پاکستان کې به بې دینه قوتونه ښکته شي اوملک کې به دخیراوفلاح جنډه پورته شي، خو افسوس دی چې صورتحال بالکل ددې خلاف دی، کوم خلک چې دې ملک کې ددین اقتدار اوچتول غواړي اوله چانه چې دا امید کیدای شي چې هغوی به بې دیني ته دیوال جوړشي، هغوی څه داسې طریقې باندې تقسیم شوي دي چې بس معجزه هغوی یوځای کولی شي، پته نه شته چې داحضرات دحالاتو او واقعاتودصحیح اندازې کولونه ولې محروم دي، یا د مسلمانانو بدقسمتي هغوی دداسې کولو نه محروم کړي دي، څومره دافسوس اودماتم کولومنظردی چې دکومو حضراتو په اوږوباندې دملک دقیادت اوراهنمایي بوج دی دهغوی دنظرونونه لار، رواج اومنزل خطا شوی دی اوهغوی د جماعتونو اوفرقوپه لاروکې ورک شوي دي، دې تریخوالي باندې معذرت غواړم، خود زړه د درد اظهارکولونه پرته نه شم پاتې کیدای.

مرا دردے ست اندر دل اگر گویم زبان سوزد
وگر پنهان کنم ترسم که مغز استخوان سوزد

دحالاتو سختې مجبورووي چې پرته دڅه اخوادیخواکولونه صفا صفا عرض وشي چې:

نوا را تلخ تر می زن چوں ذوق نغمه کم یابی
حدی را تیز تر می خوان چوں محمل راگران بینی

دملک سیاسي ماحول دمارشلا له وجې راغونډشوی دی. ددې ظاهري طرف باندې دسکون له وجې چاته هم دا اندازه نه شته چې ددې په ددننې طرف کې څنګه څنګه لاوې پخیږي؟ دملک اوملت خلاف څنګه سازشونه کیږي؟ بې دينه قوتونه ..الکفر ملة واحدة. ، په اصول باندې، متفق اومتحددي، هغوی سره په اربونو روپۍ دي اودبهري طاقتونوحمايت اوراهنمايي ورته حاصله ده. هغوی دې له پاره کوشش کوي چې دې ملک نه ددین اودیندارو اواز ختم شي (اويادې ملک وجودپه خطره کې واچوي) دهغوی په مقابله کې دين داروسره نه سرمايه شته، نه قوت، نه اجتماعي سوچ. دهغوی ټول صلاحيتونه خپلوکې اختلافاتو ته هوا ورکولو باندې استعماليږي. ديوبندي، بريلوي (دخپلو اختلافاتو باوجود) ديني محاذباندې به يوځاى كيدل اودهغوی دااتحادبه دبې دينه طبقې له پاره يوچلينج وو خواوسني صورتحال دهرچا ورانديې دی، دغه شان دټولوديني جماعتونو بنياد داسې بربادشوی دی چې هغوی کې په څه اهم مقصدباندې داتفاق او اتحادسوال هم نه شي کيدای ددې ټول صورتحال انجام به څه وي؟ دملک مشرانوته ددې احساس شته؟

د ښځې په حکمراني علماء او پوهان ولې خاموش دي؟

سوال: یو ښځه په اسلامي ملک کې برسراقتدار ده، ډیر خلک د هغې په حق کې کیناستل، پوښتنه دا ده چې که رسول الله ﷺ ته دښځې اقتدار کول منظور وی یا الله پاک دا خوښولای. نو بیا فاطمه رضي الله عنها د جنت سرداره او سیده عائشه رضي الله عنها د رسول الله ﷺ محبوبه بي بي په علم فضل کې بې مثله، که هغې ته خلافت ورکړل شوی وای، نو څه باک و؟ یا رسول الله ﷺ هغه په مصلی باندې درولې وای، نو ټولې مسئلې به حل شوې وې. ایا علماء اسلام دومره غافل شو چې هغوی ته د الله پاک د احکاماتو خلاف ورزي په نظر نه راځي؟ مهرباني وکړئ او وضاحت وکړئ چې ایا جنرل ضیاء الحق سره خلکو څکه دشمني وکړه چې هغه ته امر ویل کیږي، د هغوی قصور دا و چې هغه داسې بدمعاشي نه خوښوله. هغوی د جهاد لارې پرانستې وې، هغوی د امریکې له پاره بهادران وو، پوهې طبقې د مشرانو طرف ته نظر ونکړ. بس خوراک ته یې کار وویل، علامه ! لږه په دې مسئله باندې رهنمايي وکړئ چې نن موږ د کوم اسلام پرچار کوو؟ د ګنده جمهوریت، ګنده سیاست د خاطره اسلام بدناموو. د دوی له پاره هم څه سزا شته یا که د دوی عتاب یوازې په نواز شریف باندې دی؟ لږ قرآن ولولئ ! حدیث ولولئ او د ګستاخ لور پوه کړئ د الله پاک له پاره څه خو بیان کړئ...! که د مسلمانې ښځې تذلیل کول وي، نو بیا بله څه لاره راوباسئ والله ! موږ په تیارو کې مه پریږدئ.

جواب: لورې ! ستا خط ډیر جذباتي دی او غوسه دې د دې عاجز له غوسې هم زیاته معلومیږي. د الله پاک طریقه داده چې څنګه د یو قوم اعمال پورته ځي. هماغه شان فیصله د اسمان نه په ځمکه باندې نازلیږي. مجموعي ډول سره زموږ اعمال الله پاک ناراض کونکي

دي او هم دې بدو اعمالو د "بينظيرۍ" شکل اختيار کړی دی، امام ابن المبارک رحمه الله په (کتاب الزهد والرقاق) کې يو حديث نقل کړی دی، کوم چې ما عاجز په خپله رساله " عصر حاضر حديث نبوی کے آئينے مين" کې هم نقل کړی دی، د هغه ترجمه دا ده :

سيدنا انس رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد نقل کوي چې : په خلکو باندې به يو داسې زمانه راشي چې مومن بنده به د مسلمانانو د جماعت له پاره دعا کوي، خو هغه به نه قبليږي الله پاک به فرمايي چې : ته د خپل ذات له پاره او خاص د خپلو ضروورياتو له پاره غواړه زه يې قبلوم، خو د عامو خلکو له پاره نه! ځکه چې هغوی زه ناراض کړی يم او په يو روايت کې دي چې ځکه چې زه د هغوی نه ناراض يم او په هغوی باندې غوسه يم. [1] (کتاب الرقائق ص ۱۵۵، ۳۸٤، عصر حاضر ص ٤۳)

چې کله الله پاک د يو قوم نه راضي وي، نو د فتوا خاوندانو او - قوم اهل رايي او پوهانو ته د صحيح فيصلې توفيق ورکوي او کله چې الله پاک د يو قوم نه ناراضه شي، نو د قوم د عقل مندو او پوهانو نه شته عقل هم وتښتي او قوم د خپلې تباهي او بربادي کندې ځان ته په خپل لاس باندې کني او په هغو کې پريوتلو سره هلاک شي.

په دې دروغژن جمهوريت او اليکشن کې چې قوم په ډيره نازکه موقع باندې د خپل هلاکت له پاره ځنګه کنده کنستې ده او د قوم اهل علم وفهم او ارباب عقل و فهم نه چې ځنګه عقل تښتيدلی دی، هغه د څه تشريح او وضاحت محتاج نه دی، يو طرف ته د کشمير فيصله ده، د پاکستان دبقاء اوحيات سوال دی دمسلمانانو بين الاقوامي مسائل دي.دبوسنيا د مسلمانانو فريادونه دي د صوماليه د مسلمانانو دردونکې کيسې دي، په اذر بائيجان کې د مسلمانانو بربادي ده، وغيره وغيره، دلته زموږ د اقتدار واګې د داسې خلک په لاس کې ورکړل شوي چې هغه د يو ښار څه د يو کور نظام هم په صحيح طريقې سره د چلولو صلاحيت نه لري، اوس چې دې ته د الله پاک د ناراضتيا او غوسې مظهر ونه وبل شي، نو څه به ورته ويل کيږي؟

تاسو په علماء کرامو د غم او غوسې اظهار کړی دی، خو د رد عمل د اظهار سره زما اختلاف دی، ځکه چې پورته مې عرض کړی دی چې که علماء وي او که نور پوهان، دا ټول د الله پاک په اراده باندې چليږي، که الله پاک زموږ نه راضي وي او که اسمان ته تلونکي زموږ عملونه د الله پاک رضا راښکونکي وي. نو علماء کرامو ته هم د صحيح فيصلو توفيق اسان شي او نورو پوهانو ته هم.

[1] عن انس بن مالک رضی الله عنه اراه مرفوعاً: يأتي على الناس زمان يدعو المؤمن للجماعة فلا يستجاب له، يقول الله: ادعنی لنفسک ولما يحزبک من خاصة امرک،فاجيبک، واما الجماعة فلا، انهم اغضبوني. وفي رواية: فاني عليهم غضبان. (کتاب الرقاق/ ۱۵۵، ۳۸٤)

د ام المومنین سیده زینب بنت جحش رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله ﷺ ته عرض و شو چې یا رسول الله ﷺ ایا موږ په داسې حالت کې هم هلاکیدلی شو چې کله زموږ په مینځ کې نیکان خلک موجود وي؟

ویې فرمایل: هو! چې کله (د ګناهونو) ګندګي زیاته شي (نو په قوم باندې به هلاکت او تباهي نازلیږي او د نیکانو خلکو د وجود لحاظ به هم نه شي ساتل کیدای.)[1] (عصر حاضر ص ۱۱)

الله پاک دې په موږ رحم وکړي، زموږ ناداني او ناپوهي دې معاف کړي او زموږ اجتماعي ګناهونه معاف کولو سره دې د دې لعنت نه کوم چې د قوم عوامو، علماء کرامو او پوهانو خپله په خپل سر باندې مسلط کړی دی هغه نه دې موږ ته خلاصی رانصیب کړي

د ښځې مشري

سوال: ایا د یو اسلامي ملک مشره یوه ښځه جوړیدای شي؟ یو مولوي صاحب په جنګ اخبار کې ډیر په زور دار دلائلو سره د ثابتولو کوشش کوي چې ښځه د ملک مشره جوړیدلی شي.

جواب: الله پاک خپل مخلوقات مختلفو طاقتونو او صلاحیتونه ورکولو سره د مختلفو مقاصدو له پاره پیدا کړي دي او د کوم مقصد له پاره چې د مخلوق تخلیق شوی دی، هم د هغه مناسب یې هغه ته صلاحیتونه هم ورکړي دي، په یو حدیث کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

﴿ بَيْنَمَا رَجُلٌ يَسُوقُ بَقَرَةً لَهُ قَدْ حَمَلَ (وفی روایة : اذا رکبها فضربها) عَلَيْهَا الْتَفَتَتْ إِلَيْهِ الْبَقَرَةُ فَقَالَتْ إِنِّي لَمْ أُخْلَقْ لِهَذَا وَلَكِنِّي إِنَّمَا خُلِقْتُ لِلْحَرْثِ فَقَالَ النَّاسُ سُبْحَانَ اللَّهِ. تَعَجُّبًا وَفَزَعًا. أَبَقَرَةٌ تَكَلَّمُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَإِنِّي أُومِنُ بِهِ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَمَا هُمَا ثَمَّ ﴾ (صحيح البخاري ج ١ ص ٣١٢، صحيح مسلم ج ٢ ص ٢٧٤ واللفظ لمسلم)

ترجمه: یو سړي غوایي بوج اچولو سره روان کړی و چې غوایي هغه طرف ته متوجه کیدو سره وفرمایل چې: موږ د دې کار له پاره نه یو پیدا شوي، موږ د کروندې له پاره پیدا شوي یو، خلکو په دې باندې تعجب وکړ چې: ایا غوایی هم خبرې کوي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: په دې باندې زه ایمان لرم او ابوبکر او عمر رضي الله عنهما هم ایمان لري، راوي وایي چې هغه دواړه په دې مجلس کې موجود نه وو.

ګویا د غوایي تخلیق د سورلۍ یا د بار وړلو له پاره نه دی، بلکې د کروندې له پاره دی او د هغه نه د سورلۍ یا د بار وړلو کار اخیستل د هغه مقصد خلاف دي د کوم له پاره چې الله پاک دا پیدا کړي دي او کوم صلاحیتونه یې چې هغه ته ورکړي دي

---

[1] عن زينب بنت جحش رضى الله عنها قالت......قيل (وفى رواية: قلت) اهلك وفينا الصالحون؟ قال: نعم اذا كثر الخبث. (بخارى/٢ / ١٠٤٦/ باب قول النبى صلى الله عليه وسلم ويل للعرب من شر قد اقترب).

د سړي او ښځې په صلاحيتونو کې فرق

د نور مخلوق په شان الله پاک سړي او ښځې ته هم بيل بيل صلاحيتونه ورکړي دي او دواړه يې د بيل مقصد له پاره پيدا کړي دي، د دواړو په ساخت کې يې داسې بنيادي فرق ايښي دی کوم چې د دواړو د يو يو ادا نه ښکاره کيږي، د دواړو چال چلن، د ناستې ولاړې انداز، لب او لهجه، اخلاق او عادات، معاشرتي اداب، خيالات، احساسات او ميلانات او رجحانات بالکل مخالف دي، د حکيم الامت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله په نزد د دواړو بيل بيل فطري او طبعي خصوصيات د کورني ژوند بنياد برابروي، شاه صاحب رحمه الله ليکي:

"بيا چې هر کله بالطبع ښځې ته د اولاد د پالنې ښه طريقې معلومې وې، هغوی په عقل کې کمې، د محنت له کارونو سترګې پټونکې، زياتې حيادارې او په کور کې اوسيدو طرف ته مائلې، په ادنی ادنی امورو کې ښې کوشش کونکې او فرمانبردار وې، او سړي د ښځو په نسبت عقلمند، غيرت مند، باهمت، زورور او مقابله کونکي وو، له دې وجې د ښځې ژوند له سړي پرته ناپوره و او سړي ته د ښځې حاجت و. (اردو ترجمه حجة الله البالغة ج ۱ ص ۸)

د دواړو ژوند د يو بل د صنفي خصوصياتو نه پرته ناپوره او نامکمل و. له دې وجې فطرت دواړه خپل مينځ د مينې او تعاون په معاهده باندې مجبور کړل، دغه شان د انسانانو کورني ژوند ته تشکيل ورکړل شو او دا په انسانيت باندې د الله پاک عظيم احسان دی، نوارشاد دی:

﴿ وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴾ (الروم: ۲۱)

ترجمه: او د هغه د قدرت له نښو نه داده چې هغه ستاسو له پاره ستاسو د جنس نه ښځې پيدا کړې چې تاسو ته هغوی سره ارام ملاو شي او په تاسو ښځه او خاوند کې يې همدردي پيدا کړه. په دې کې د هغو خلکو له پاره نښې دي چې د فکر نه کار اخلي. (ترجمه حضرت تهانوی)

سړي او ښځې دواړو د محبت او تعاون په معاهده کې منسلک کيدو سره د معاشرت سفر شروع کړ. نو ضرورت راغی چې د دواړو له پاره د ښه ژوند دستور(قانون) وضع شي. چې په هغه کې د دواړو حقوق او فرائض او د مرتبې او د مقام تعين شوی وي، نوپه قرآن او حديث کې ډير په تفصيل سره د دې امورو تشريح فرمايل شوې ده او د ټولو خلاصه د لاندې ايت کريمه په مختصر او معجز الفاظو کې راټوله شوې ده:

﴿ وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾ (البقرة: ۲۲۸)

ترجمه: او د ښځو له پاره داسې حق دی، لکه څنګه چې د سړيو په هغوی باندې حق دی د دستور موافق او سړيو ته په ښځو فضيلت دی او الله پاک غالب او مدبر دی. (ترجمة شيخ الهند مولانا محمود الحسن)

بل ځای کې دهمدې نور وضاحت او صراحت داسې فرمايل شوي دي

﴿ الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيرًا ﴾ (سورة النساء : ٣٤)

ترجمه سړي حاکمان دي په ښځو باندې، له دې وجې الله پاک ځينو ته په ځينو باندې فضيلت ورکړی دی او له دې وجې چې سړيوخپل مالونه خرچ کړي دي. نوچې کومې ښځې نيکې دي، اطاعت کوي، د سړي په نه موجوديت کې، دالهي حدودوحفاظت سره ځان ساتي او کومې ښځې چې داسې دي چې تاسو ته د هغوی د بد اخلاقۍ وېره وي، نو هغوی ته په نرمه باندې نصيحت وکړئ او هغوی د هغوی د ملاستې په ځايونو کې يوازې پرېږدئ او هغوی ووهئ، بيا که هغوی ستاسو اطاعت شروع کړي، نو د هغوی له پاره بهانه مه لټوئ. بېشکه الله پاک ډېر لوړ او لوی دی. (ترجمه حضرت تهانوی)

په دې ايت کريمه کې په ښځې باندې د سړي د فضيلت اعلان کولو سره سړيو ته قوام، نګران او حاکم ويل شوي دي او دښځې صلاح او فلاح د هغې په اطاعت کولو او د خپل عصمت په خيال ساتلو کې مضمر ښودلې ده، نود ايت کريمه په رڼا کې به هغه معاشره په صحيح فطرت باندې وي چې په هغه کې سړی حاکم اوښځه اطاعت کونکې وي، د دې برعکس چې په کومه معاشره کې حاکمه ښځه جوړه شي هغه د فطرت نه منحرف او د انسانيت نه بې لارې معاشره ده په دې ايت کريمه کې الله پاک د سړي د حاکميت دوه اسباب بيان کړي دي. يو دا چې الله پاک سړي ته په ښځې باندې فضيلت ورکړی دی. دويم دا چې د ښځې مهر او د ډوډۍ جامې ذمه داري يې په سړي باندې اچولې ده، امام رازي رحمه الله د دې تشريح کولو سره ليکي

﴿ ثم انه تعالى لما أثبت للرجال سلطنة على النساء ونفاذ أمر عليهن بين أن ذلك معلل بأمرين، أحدهما : قوله تعالى : بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ (النساء : ٣٤) واعلم أن فضل الرجل على النساء حاصل من وجوه كثيرة، بعضها صفات حقيقية، وبعضها أحكام شرعية. أما الصفات الحقيقية فاعلم أن الفضائل الحقيقية يرجع حاصلها إلى أمرين : إلى العلم، وإلى القدرة. ولا شك أن عقول الرجال وعلومهم أكثر، ولا شك أن قدرتهم على الأعمال الشاقة أكمل. فلهذين السببين حصلت الفضيلة للرجال على النساء في العقل والحزم والقوة، والكتابة في الغالب والفروسية والرمي، وان منهم الأنبياء والعلماء، وفيهم الامامة الكبرى والصغرى والجهاد والأذان والخطبة والاعتكاف والشهادة في الحدود والقصاص بالاتفاق، وفي الأنكحة عند الشافعي رضي الله عنه، وزيادة النصيب في الميراث والتعصيب في الميراث، وفي تحمل الدية في القتل

والخطأ، وفي القسامة والولاية في النكاح والطلاق والرجعة وعدد الأزواج، وإليهم الانتساب، فكل ذلك يدل على فضل الرجال على النساء.

والسبب الثاني: لحصول هذه الفضيلة: قوله تعالى: وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوالِهِمْ يعني الرجل أفضل من المرأة لأنه يعطيها المهر وينفق عليها ﴾ (تفسير كبير ج ١٠ ص ٨٨)

ترجمه: بیا چې هر کله الله پاک ثابته کړه چې سړیو ته په ښځو باندې مشري حاصله ده او دا چې د هغوی حکم په هغوی باندې نافذ دی، نو د دې نه وروسته یې دا بیان وکړ چې د سړیو په ښځو باندې د حاکمیت دوه وجې دي: اوله وجه یې په دې ارشاد کې بیان کړه چې: الله پاک ځینو (سړیو) ته په ځینو (ښځو) باندې فضیلت ورکړی دی، ځان پوه کړه چې سړیو ته د ډیرو وجوهاتو په بناء باندې فضیلت حاصل دی، په هغو کې ځینې صفات حقیقي دي او ځینې احکام شرعي دي، هر چې د صفات حقیقي تعلق دی، نو دادې واضحه وي چې د فضائل حقیقیه مرجع دوه شیان دي، یو علم، دویم قدرت او په دې کې شک نه شته چې سړی په عقل او علم کې زیات دی او په دې کې هم شک نه شته چې په شاقة اعمالو باندې د سړیو قدرت ډیر زیات کامل دی، نو ددې دوه اسبابو په بناء باندې سړیو ته په ښځو باندې فضیلت حاصل دی، په عقل، اراده او طاقت کې عام ډول سره په کتابت کې او دا امور بالاتفاق د سړیو سره خاص دي امامت کبری، صغری، جهاد، اذان، خطبه، اعتکاف او حدود او قصاص کې شهادت، د امام شافعي رحمه الله په نزد د نکاح ولایت هم د سړیو سره مخصوص دی، د دې نه پرته په میراث کې د سړیوبرخه زیاته تاکل شوې ده او په میراث کې عصبه یوازې سړي وي، په قتل خطاء کې دیت او قسامت یوازې په سړیو باندې اچول شوی دی، د نکاح ولایت، طلاق، رجعت او تعدد ازواج اختیار یوازې سړیو ته حاصل دی، د ماشومانو نسب هم د سړیو نه جاري دی دا ټول اموردلالت کوي چې سړیو ته په ښځو باندې فضیلت ورکړل شوی دی او د فضیلت دویمه وجه الله پاک په دې ارشاد کې بیان کړې ده: او په دې سبب چې سړیو خپل مال خرچ کړی دی، یعني سړی د ښځې نه افضل دی، ځکه چې هغه ښځې ته مهر ورکوي او د ښځې خرچه د سړي په ذمه ده.

حافظ ابن کثیر رحمه الله ددې ایت کریمه په تفسیر کې لیکي:

﴿ يقول تعالى: { الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ } أي: الرجل قَيِّم على المرأة، أي هو رئيسها وكبيرها والحاكم عليها ومؤدبها إذا اعوجّت { بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ } أي: لأن الرجال أفضل من النساء، والرجل خير من المرأة؛ ولهذا كانت النبوة مختصة بالرجال وكذلك المُلْك الأعظم؛ لقوله صلى الله عليه وسلم: "لن يُفلِح قومٌ وَلَّوا أَمْرَهُم امرأة" رواه البخاري ﴾ (تفسير ابن كثير ج ١ ص ٥٢٠، مطبوعة مكتبة النهيضة الحديثة طبعة الاولى، ١٣٨٤هـ)

ترجمه الله پاک فرمايي چې: سړي په ښځو باندې حاکمان دي، يعنې سړی په ښځې باندې نګران دی، د هغې رئيس دی، د هغې مشر دی، په هغې باندې حاکم دی او کله چې ښځه کږه شي، نو هغې ته ادب ورکونکی دی، دهمدې له وجې چې الله پاک ځينو ته په ځينو فضيلت ورکړی دی، يعنې ددې له وجې چې سړي، د ښځو نه افضل دي او سړي د ښځو نه غوره دي، همدا وجه ده چې نبوت د سړيو له پاره مختص دی، همدغه شان بادشاهي هم، نود رسول الله ﷺ ارشاد دی: هغه قوم به هيڅکله کامياب نه شي چا چې د بادشاهي کار ښځو ته وسپاره د دې ايت کريمه په تفسير کې د روح المعاني مصنف ليکي:

﴿ ولذا خصوا بالرسالة والنبوة على الأشهر، وبالإمامة الكبرى والصغرى، وإقامة الشعائر كالأذان والإقامة والخطبة والجمعة...... الخ ﴾ (روح المعانی ج ۵ ص ۲۳)

ترجمه: دهمدې له وجې سړی، په رسالت او نبوت، په امامت کبرٰی او صغرٰی اوپه اسلامي شعائرو سره مخصوص شو مثلاً: اذان، اقامت او د جمعې خطبه الخ.

دا قسم تصريحات ددې ايت کريمه په تفسير کې نورو مفسرينو هم فرمايلي دي.

الغرض د سړيو او د ښځو د درجاتو تعين کولو سره قرآن کريم د سړي د حاکميت واضح اعلان کړی دی، ځنګه چې د خپل فطري خصوصياتو په بناء باندې ښځه نبي او رسول نه شي کېدای، په لمانځه کې د سړيو امامت نه شي کولی، په مسجد کې اذان او اقامت کول، خطبه ورکول او د جمعې او د اخترونو قائمول دهغې له پاره جائز نه دي، همدغه شان امامت کبرٰی (د ملک د مشرۍ) فرائض پوره کول هم د هغې د فطري او خلقي بنياد منافي دي.

همدا وجه ده چې رسول الله ﷺ ته خبر ورکړای شو چې ايرانيانو د کسرٰی لور خپله مشره جوړه کړې ده، نو رسول الله ﷺ وفرمايل:

﴿ لن يُفلِح قومٌ وَلّوا أمْرَهُم امرأة ﴾ (صحيح بخاری ج ۱ ص ۶۳۶)

ترجمه هغه قوم به هيڅکله هم کامياب نه شي چا چې د خپل حکومت واګې ښځې ته وسپارلې.

په دې حديث کې رسول الله ﷺ د هغه قوم نه د فلاح نفې کړې ده چې د هغوی حکمرانه ښځه وي، د فلاح تشريح کولو سره امام راغب اصفهاني رحمه الله ليکي:

﴿ والفَلَاحُ: الظَّفَرُ وإدراك بغية، وذلك ضربان: دنيويّ وأُخرويّ، فالدّنيويّ: الظّفر بالسّعادات التي تطيب بها حياة الدّنيا، وهو البقاء والغنى والعزّ وفَلَاحٌ أُخرويّ، وذلك أربعة أشياء: بقاء بلا فناء، وغنى بلا فقر، وعزّ بلا ذلّ، وعلم بلا جهل ﴾ (مفردات القرآن ج ۲ ص ۳۵۸، مطبع خير کثير کراچی)

ترجمه: د فلاح معنا کاميابي او مقصود ته رسيدل دي او د دې دوه قسمونه دي:

(۱) دنيوي. (۲) اخروي.

نو دنيوي فلاح د هغو سعادتونو او نيک بختيو سره کاميابيدل دي چې د هغه په ذريعه يې دنيوي ژوند ښکلی کيږي او هغه درې شيان دي:
(۱): بقاء. (۲): مالداري. (۳): عزت.
او يو فلاح اخروي ده او دا څلور شيان دي:
(۱): داسې بقاء چې له هغه نه وروسته فناء نه وي.
(۲): داسې مالداري چې له هغه نه وروسته فقري نه وي.
(۳): داسې عزت چې له هغه نه وروسته ذلت نه وي.
(۴): داسې علم چې له هغه نه وروسته دجهل ويره نه وي.
د "فلاح" د پورته ذکر شوي تشريح په رڼا کې د حديث مفهوم دا شو چې په کوم قوم باندې ښځه حکمرانه وي هغوی د نصيب نه محروم دي، هغوی به نه يوازې دا چې د اخروي سعادتونو نه محروم وي، بلکې د دنياوي سعادتونو او برکتونو نه به هم محروم وي، نه به هغوی ته بقاء نصيب کيږي، نه مالداري، نه عزت او نه به ورته د ژوند خوند نصيب کيږي، بلکې د داسې بدقسمت قوم ژوند به د مرګ نه بدتر وي، همدا مضمون رسول الله ﷺ په يو بل حديث کې ددې نه هم زيات په وضاحت او صراحت سره فرمايلی دی:
﴿ إِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ خِيَارَكُمْ وَأَغْنِيَاؤُكُمْ سُمَحَاءَكُمْ وَأُمُورُكُمْ شُورَى بَيْنَكُمْ فَظَهْرُ الأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ بَطْنِهَا وَإِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ شِرَارَكُمْ وَأَغْنِيَاؤُكُمْ بُخَلاَءَكُمْ وَأُمُورُكُمْ إِلَى نِسَائِكُمْ فَبَطْنُ الأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ ظَهْرِهَا ﴾ (ترمذی ج ۲ ص ۵۱، مشکاة ص ٤٥٩)
ترجمه : چې هر کله په تاسو کې ستاسو حاکمان ستاسو د ټولو نه غوره وي، ستاسو مالدار سخيان وي او ستاسو معاملات ستاسو په مشوره باندې فيصله کيږي، نو ستاسو له پاره د ځمکې شا د ځمکې د خيټې نه غوره ده او کله چې ستاسو حاکمان بد خلک وي، ستاسو مالداران بخيلان شي او ستاسو معاملات ښځو ته وسپارل شي، نو د ځمکې خيټه ستاسو له پاره د ځمکې د شا نه غوره ده.
په دې حديث کې چې دا خبره فرمايل شوې ده چې : ستاسو له پاره د ځمکې خيټه د هغې د شا نه غوره ده، مطلب دادی چې د داسې ژوند نه مرګ ډير غوره دی او همدغه شان محاوره ده لکه چې زمونږ په ژبه کې ويل کيږي چې : د دې نه خو په اوبو کې ډوبيدل غوره دي، په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چې کله انساني حقوق ګډوډ شي چې خپله د کمال قدرت باوجود ښځه حکمرانه ومنئ، نو هغوی د ژوندي انسانانو بللو مستحق نه دي، بلکې د انسانانو ګرځيدونکي مړه بدنونه دي.

په دې خبره چې (ښځه حکمرانه نه شي جوړېداى) د علماوو تصريحات

الغرض د قرآن کريم او نبوي احاديثو نه واضحه ده چې د ښځه حکمرانه جوړېدل نه يوازې دا چې د ښځې د فطرت نه بغاوت دى، بلکې دا د انساني فطرت له پاره د مرګ زيرى دى. د قرآن او حديث د دې تشريحاتو له وجې نه فقهاء امت او علماء ملت په دې باندې متفق دي چې ښځې د حکومت مشره نه شي جوړېداى، په دې مسئله باندې داهل علم دېبې شماره تصريحاتونه څوحوالې دلته وړاندې کيږي.

امام محي السنة بغوي رحمه الله په شرح السنة کې د رسول الله ﷺ ارشاد: **لن يُفلِح قومٌ وَلَّوا أمْرَهُم امرأة** په خپل سند سره د روايت کولو نه وروسته ددې په تشريح کې فرمايي:

﴿ قال الإمام : اتفقوا على أن المرأة لا تصلح أن تكون إماماً ولا قاضياً، لأن الإمام يحتاج إلى الخروج لإقامة أمر الجهاد، والقيام بأمور المسلمين، والقاضي يحتاج إلى البروز لفصل الخصومات، والمرأة عورة لا تصلح للبروز، وتعجز لضعفها عند القيام بأكثر الأمور، ولأن المرأة ناقصة، والإمامة والقضاء من كمال الولايات، فلا يصلح لها إلا الكامل من الرجال ﴾

(شرح السنة ج ١٠ ص ٧٧ طبع بيروت)

ترجمه : دعلماوو اتفاق دى چې ښځه د امام او قاضي د جوړېدو صلاحيت نه لري. ځکه چې امام ته ضرورت دى د جهاد د امر قائمولو او د مسلمانانو د مصالحت د اهتمام کولو له پاره د بهر وتلو او د قاضي له پاره د مقدماتو د فيصلې کولو له پاره د خلکو مخکې راتلل ضروري دي اوښځه ټوله قابل ستر ده، هغه عامو مجلسونوته د وتلو صلاحيت نه لري او هغه د خپل ضعف له وجې د اکثرو امورو د پوره کولو نه قاصره وي او له دې وجې هم چې ښځه (په ولايت کې) ناقصه ده او امامت او قضاء د کامل ولايتونو نه دى، نود هغه له پاره کامل سړى صلاحيت لري.

امام قرطبي رحمه الله د دې ايت کريمه **﴿ انى جاعل فى الارض خليفة ﴾** لاندې د خليفه شرطونه ذکر کولو سره ليکي: **﴿ السابع : ان يكون ذكرا . . . واجمعوا على ان المراة لا يجوز ان تكون اماما وان اختلفوا فى جواز كونها قاضية فيما تجوز شهادتها فيه ﴾** (القرطبى : الجامع لاحكام القرآن ج ١ ص ٢٧٠)

ترجمه : اووم شرط دادى چې خليفه به سړى وي او د اهل علم اجماع ده چې ښځه امامه (د حکومت مشره) نه شي جوړېداى، خو په دې کې اختلاف دى چې په کومو امورو کې د هغې ګواهي جائز ده، په هغو کې قاضي جوړېداى شي اوکه نه؟

په شرح عقائد نسفي کې دي:

﴿ ويشترط ان يكون من اهل الولاية المطلقة الكاملة اى مسلما، حرا، ذكرا، عاقلا، بالغا. . . . الى

قوله... والنساء ناقصات عقل ودين ﴾ (شرح عقائد ص ١٥٨، مطبوعه مكتبة خير كثير كراچى)

ترجمه: د امام (حکمران اعلی) له پاره شرط دادی چې هغه د کامل او مطلق د ولایت اهل وي، یعنې مسلمان، ازاد، عاقل او بالغ وي، (له دې نه وروسته د هر شرط د ضروري کیدو وجه ذکر کولو سره لیکي چې: ښځه له دې وجې حاکمه نه شي جوړیدای چې: ښځه په دین او عقل کې ناقصه ده.

علامه عبدالعزیز فرهاروي رحمه الله د دې په شرح کې لیکي:

﴿ **والاوضح الاستدلال بالحديث عن ابي بكرة الثقفي قال: لما بلغ رسول الله ﷺ ان اهل فارس ملكوا عليهم بنت كسرى قال: لن يفلح قوم ولوا عليهم امراة رواه البخاري، وايضا هي مامورة بالتستر وترك الخروج الى مجامع الرجال، وايضا قد اجمع الامة على عدم نصبها حتى في الامامة الصغرى** ﴾ (نبراس شرح شرح عقائد ص ٣٢١، امداديه ملتان)

ترجمه: (د ښځې په حاکمې نه جوړیدو باندې) زیات واضح استدلال د هغه حدیث نه دی کوم چې په صحیح بخاري کې د ابي بکره ثقفي رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ ته کله دا خبر راورسید چې اهل فارس د کسری لور خپله حاکمه جوړه کړې ده، نو ویې فرمایل: هغه قوم هیڅکله هم نه شي کامیابیدای چا چې په خپل ځان باندې ښځه حاکمه کړه، بله دا چې ښځې ته د پردې حکم دی او دا چې د سړیو مجلس ته به نه ځي، بله دا چې د امت اجماع ده چې ښځه امامه جوړول صحیح نه دي، تردې چې په امامت صغری کې هم.

شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله په (ازالة الخفاء) کې د خلافت د شرطونو ذکر کولو سره لیکي:

ازان جمله آنست که ذکر باشد نه امرأة زیراکه در حدیث بخاری آمده (**ما افلح قوم ولوا امرهم امرآة**) چون بسمع مبارک انحضرت صلی الله علیه وسلم رسید که اهل فارس دختر کسری راباد شاهی برداشته اند، فرموده: رستگار نشد قومی که والی امر بادشاهی خود ساختند زنی را، وزیرا که امرأة ناقص العقل والدین است، ودر جنگ و پیکار بیکار، وقابل حضور محافل ومجالس نی، پس ازوی کارهای مطلوب نه بر آید. (ازالة الخفاء ج ١ ص ٤٠)

ترجمه: او د امامت له شرطونو یو دادی چې امام به سړی وي، ځکه چې د صحیح بخاري په حدیث کې دي چې: کله د رسول الله ﷺ غوږ مبارک ته دا خبر ورسیدو چې اهل فارس د کسری لور خپله بادشاه جوړه کړې ده، نو ویې فرمایل: هغه قوم هیڅکله هم نه شي کامیابیدای چا چې حکومت یوې ښځې ته وسپاره او له دې وجې هم چې ښځه د عقل او دین په لحاظ سره ناقصه ده او په جنګ او مقابله کې بې کاره او په عام محفلونو او مجالسو کې د

حاضري قابله نه ده، له دې وجې د حکومت مقاصد سر ته نه شي رسولی.
د فقه حنفي معروف کتاب ''درمختار'' کې دي

﴿ويشترط كونه مسلماً، حرا، ذكرا، عاقلا، بالغا، قادرا﴾ (در مختار ج ۱ ص ۵۴۸)

ترجمه: او د امامت کبری (د ملک په حکمراني) کې د امام مسلمان، ازاد، سړی، عاقل، بالغ او قادر کیدل شرط دي.

د فقه مالکي په مستند کتاب، **مخ الجليل شرح مختصل الخليل** کې دي:

﴿ (الْإِمَامِ الْأَعْظَمِ) الْخَلِيفَةِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي إِمَامَةِ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ وَالْجُمُعَةِ وَالْعِيدَيْنِ وَالْحُكْمِ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ وَحِفْظِ الْإِسْلَامِ وَإِقَامَةِ حُدُودِهِ وَجِهَادِ الْكُفَّارِ وَالْأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيِ عَنْ الْمُنْكَرِ . فَيُشْتَرَطُ فِيهِ الْعَدَالَةُ وَالذُّكُورَةُ وَالْفِطْنَةُ وَالْعِلْمُ﴾

(مخ الجليل ج ۸ ص ۲۶۳)

ترجمه: لوی امام (د ملک سربراه) د رسول الله ﷺ نائب دی، په پنځه وخته لمانځه او د جمعې او اخترونو په امامت، د مسلمانانو ترمینځه په فیصله، د اسلام خیال ساتل او د حدود قائمول، کفارو سره په جهاد کولو او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په فریضه پوره کولو کې، له دې وجې په هغه کې د لاندې صفتونو موجودیت شرط دی: چې عادل وي، سړی وي، پوه او عالم وي.
د فقه شافعي په کتاب (مجموع شرح مهذب) کې دي:

﴿ولا يجوز أن يكون امرأة لقوله صلى الله عليه وسلم: ما أفلح قوم أسندوا أمرهم إلى امرأة، ولانه لا بد للقاضي من مجالسة الرجل من الفقهاء والشهود والخصوم والمرأة ممنوعة من مجالسة الرجل لما يخاف عليهم من الافتتان بها﴾ (تكملة، مجموع شرح مهذب ج ۲۰ ص ۱۲۷)

ترجمه: ښځه قاضي ټاکل جائز نه دي، ځکه چې د رسول الله ﷺ ارشاد دی چې: هغه قوم به هیڅکله هم کامیابي ونه مومي چا چې حکومت ښځې ته وسپاره اوله دې وجې هم چې د قاضي له پاره د سړیو سره یوځای کیدل لازم دي، د فقهاء کرامو، د ګواهانو او د مقدسې د فریقینو سره او د ښځې له پاره د سړیو مجلس ته راتلل منع دي ځکه چې د هغې په حق کې د فتنې ویره ده.
د فقه حنبلي په کتاب المغني کې دي:

﴿وجملته أنه يشترط في القاضي ثلاثة شروط أحدها: الكمال وهو نوعان كمال الأحكام وكمال الخلقة أما كمال الأحكام فيعتبر في أربعة أشياء أن يكون بالغا عاقلا حرا ذكرا وحكي عن ابن

جرير أنه لا تشترط الذكورية لأن المرأة يجوز أن تكون مفتية فيجوز أن تكون قاضية وقال أبو حنيفة يجوز أن تكون قاضية في غير الحدود لأنه يجوز أن تكون شاهدة فيه.
ولنا قول النبي صلى الله عليه و سلم : [ما أفلح قوم ولو أمرهم امرأة] ولأن القاضي يحضر محافل الخصوم والرجال ويحتاج فيه إلى كمال الرأي وتمام العقل والفطنة والمرأة ناقصة العقل قليلة الرأي ليست أهلا للحضور في محافل الرجال ولا تقبل شهادتها ولو كان معها ألف امرأة مثلها ما لم يكن معهن رجل وقد نبه الله تعالى على ضلالهن ونسيانهن بقوله تعالى : { أن تضل إحداهما فتذكر إحداهما الأخرى } ولا تصلح للإمامة العظمى ولا لتولية البلدان ولهذا لم يول النبي صلى الله عليه و سلم ولا أحد من خلفائه ولا من بعدهم امرأة قضاء ولا ولاية بلد فيما بلغنا ولو جاز ذلك لم يخل منه جميع الزمان غالبا ﴾ (المغنى ج ١١ ص ٣٨٠)

ترجمه : لنډه دا چې د قاضي له پاره درې شرطونه دي : يو كمال، ددې دوه قسمونه دي : يو كمال احكام او دويم كمال خلقت او كمال احكام په څلورو شيانو كې معتبر دی، هغه دا چې بالغ وي، عاقل وي، ازاد وي، سړی وي، د ابن جرير نه نقل شوي دي چې د قاضي سړي كيدل شرط نه دي، ځكه چې ښځه مفتي كيدای شي، نو قاضي كيدای هم شي او د امام ابوحنيفه رحمه الله قول دی چې ښځه د حدود او قصاص نه پرته په نورو كارونو كې قاضي جوړيدای شي، ځكه چې په دې امورو كې هغه ګواه هم جوړيدای شي.
زمونږ دليل د رسول الله ﷺ قول مبارک دی : هغه قوم هيڅكله هم نه شي كاميابيدای چا چې د حكومت كار ښځې ته وسپاره او له دې وجې هم چې قاضي سره د مقدمې د ډلو او د سړيو رش وي او هغه په فيصله كې كمال رايې، پوره عقل او هوښيارتيا ته محتاج دی او ښځه ناقص العقل او قليل الرايه ده، د سړيو محفلونو ته د حاضري لائق نه ده او ترڅو پورې چې ورسره سړي نه وي، نو يوازې د ښځې ګواهي قبوله نه ده، كه څه هم په زرګونو ښځې ګواهي وركوي او الله پاک د هغوی په هيريدو باندې په دې ايت كريمه كې تنبيه فرمايلې ده چې : كه په هغوی كې د يوې نه هيره وشي، نو بله ته دې وريادكړي، ښځه د امامت عظمی (د حكومت د مشري) ،دولايتونو(صوبو) او د ښارونو دولايت(ګورنري) صلاحيت نه لري، هم دا وجه ده چې ترڅو پورې مونږ ته معلومه ده، نو رسول الله ﷺ، خلفاء راشدين او د هغوی نه وروسته نورو بادشاهانو كله هم ښځه د قضا په عهدې نه ده ټاكلې، نه د يو ښار په حكومت باندې او كه دا جائز وی، نو پوره زمانه به غالبًا ددې نه خالي نه وه.
د اهل الظاهر امام حافظ ابن حزم الاندلسي رحمه الله په (المحلى) كې ليكي :

﴿ واما من لم يبلغ والمراة فلقول النبى ﷺ : رفع القلم عن ثلاث، وذكر الصبى حتى يبلغ، ولان

عقود الاسلام الى الخليفة، ولا عقد لغلام لم يبلغ ولا عقد عليه، وعن ابى بكرة رضى الله تعالى عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: لن يفلح قوم اسندوا امرهم الى امراة﴾ (المحلّى ج ۹ ص ۳۶۰)

ترجمه: د نابالغ او ښځې خليفه (مشره) جوړول صحيح نه دي، ځکه چې د رسول الله ﷺ ارشاد دى چې: د درې کسانو نه قلم پورته دى، په هغو دريو کسانو کې يې د ماشوم ذکر فرمايلى دى ترڅو چې هغه بالغ نه شي او له دې وجې هم چې د اسلام عقدونه خليفه ته سپارل شوى دى او د نابالغ ماشوم هيڅ عقد صحيح نه دى او د ابوبکرة رضی الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه قوم به هيڅکله هم فلاح بيا نه مومي چا چې حکومت ښځې ته حواله کړ. (لهذا دښځې خلافت هم صحيح نه دى).

د دې حوالو نه واضحه ده چې ټول عالمان او مذاهب په دې باندې متفق دي چې د حکومت او ملک د مشرې له پاره سړي کيدل شرط دي، لهذا د حکومت واګې د يوې ښځې په لاس کې ورکول جائز نه دي، پاتې شو دا سوال چې د ښځې د حکومت سربراه کيدل جائز نه دي، خو که هغه په دې منصب باندې فائز شي، نو ايا هغه به سربراه جوړه شي اوکه نه؟ او شرعا به د هغې حکم نافذ وي اوکه نه؟ علامه شامي د امام ابوالسعود په حوالې سره ليکي چې په ښځې کې بالکل د دې اهليت نه شته، له دې وجې به شرعا د هغې امامت منعقد نه وي، د علامه شامي عبارت لاندې ليکل شوى دى:

﴿تنبيه وأما تقريرها في نحو وظيفة الإمام فلا شك في عدم صحته لعدم أهليتها خلافا لما زعمه بعض الجهلة إنه يصح وتستنيب لأن صحة التقرير يعتمد وجود الأهلية وجواز الاستنابة فرع صحة التقرير اهـ أبو السعود﴾ (فتاوى شامى ج ۵ ص ٤٤٠)

ترجمه: **تنبيه**: پاتې شو د امام منصب او د هغه په شان نور منصبونو باندې د ښځې ټاکنه، نو د هغې په نه صحيح کيدو کې هيڅ شک نه شته ځکه هغه د دې اهليت نه لري په خلاف د دې چې ځينې جاهلانو دا ګڼلې ده چې د حاکم په منصب باندې د هغې تقرر صحيح خو دى، خو هغه يو سړى خپل نائب کړي او کار دې چلوي (دا د جاهليت خبره غلطه ده) ځکه چې د نائب کيدو خبره خو دې هله وشي چې اول دښځې تقرر صحيح شي او د تقرر صحيح کيدل موقوف دي د اهليت په موندل کيدو باندې، نوچې کله په ښځې کې اهليت نه شته، نو د هغې تقرر صحيح نه شو او چې کله يې تقرر صحيح نه شو، نو د نائب جوړولو خبره هم غلطه شوه.

دلته دا ذکر کول هم ضروري دي چې د ملک د مشرې له پاره د سړي شرط کيدل او دښځې د حکومت د مشرې له پاره نه اهل کيدل، يوازې د اهل اسلام اجماعي مسئله نه ده، بلکې د ټولو عاقلانو متفق عليه فيصله ده، نود اسلام لوى فيلسوف شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله په (حجة الله البالغة) کې په باب (سيرت الملوک) کې ليکي:

"د بادشاه له پاره ضروري ده چې په هغه کې غوره اخلاق وي، که نه، هغه ښار به برباد شي، که هغه بهادر نه وي، نو د خپلو مخالفينو سره به صحيح مقابله ونکړای شي. قوم به ورته په سپک نظر ګوري، که هغه صبر کونکی نه وي، نو په خپله تيزي باندې به خلک برباد کړي او که صاحب حکمت نه وي، نو له ګټور تدبير نه به عاجز وي او د بادشاه له پاره ضروري دي چې عقل مند، بالغ، ازاد او سړی وي، درايې خاوند، ليدونکی، اوريدونکی، او ويونکی به وي، خلک د هغه شرف او د هغه د خاندان اعزاز تسليموي د هغه او د هغه د پلار نيکونو فضائل خلکو ليدلی وي او ښه پوهيږي چې بادشاه د ملک مصلحتونو په ساتلو کې هيڅ قسم کوتاهي نه کوي، دا ټول امور د عقل په ذريعه معلوميږي او ټول انسانان په دې باندې متفق دي، که څه هم د هغوی په ښارونو کې هر څومره لرې والی وي او هغوی د هر مذهب سره تعلق ساتونکي وي، ځکه چې هغوی ته معلومه ده چې د بادشاه په مقرر کولو کې چې کوم مصلحت مقصود دی، هغه پرته له ذکر شويو امورو نه نه شي مکمل کيدای، که بادشاه په هغه امورو کې کوتاهي کوي، نو خلک به هغه خلاف مقصود ګڼي او د هغوی زړونه به د هغه نه بيزاره شي او که خاموش هم اوسيږي، نو په پرده کې به په غوسه کې وي".(حجة الله البالغة ج ۱ ص ۹۲)

او د خلافت د عنوان لاندې شاه صاحب رحمه الله ليکي:

"واضحه دې وي چې په خليفه کې عقل، بلوغ، حريت، ذکورت(سړيتوب)، بهادري، صاحب رايه، اوريدل، کتل او ويل شرط دي او د هغه داسې سړی کيدل چې خلک د هغه او د هغه د نسب شرافت تسليموي او د هغه د فرمانبرداري نه شرم نه کوي او ددې نه دا خبره معلوميږي چې هغه به په سياسِت مدنيه کې د حق اتباع کوي دا ټولې خبرې داسې دي چې په هغې باندې عقل دلالت کوي او سره د ملکونو او د دينونو د اختلاف د ټولو انسانانو په نزد په خليفه کې د دې شرطونو موجود کيدو باندې اتفاق دی، ځکه چې ټول خلک پوهيږي چې د خليفه په مقرر کولو سره چې کوم مصلحت مقصود دی، هغه پرته د دې امورو نه نه شي ترلاسه کيدای او په دې امورو کې چې کله يو امر پاتې شوی دی، نو هغوی هغه نامناسب خيال کړی دی او د هغه خليفه کيدل د هغوی په زړونو بد لګيدلی دی او د غوسې په حالت کې يې په ظاهره سکوت کړی دی، نوچې کله اهل فارس يوه ښځه خپله حکمرانه جوړه کړه، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کوم قوم چې ښځه په ځان باندې حاکمه کړه هغوی به هيڅکله کاميابه نه شي او ملت مصطفويه د نبي په خليفه کيدو کې او د دې امورو نه پرته نورې خبرې هم معتبر کړې دي، د دې نه پرته اسلام او علم او عدالت دی. (حجة الله البالغة ج ۲ ص ۴۲۵)

د شاه صاحب رحمه الله ددې دواړو عبارتونو نه معلومه شوه چې د پوره دنيا اهل عقل، که مومن وي او که کافر، په هره زمانه کې په دې باندې متفق پاتې شوي دي چې ښځه د حکومت د کارونو د پوره کولو له پاره مناسبه نه ده، ددې باوجود که د عالم په تاريخ کې د څو داسې ښځو نمونه راځي چې هغوی د حکومت واګې په لاس کې واخيستلې، نو اول خو دا شاذ او

نادر مثالونه دي، بالکل همدغه شان لکه چې څنګه ځینې وخت دانسانانو په کورونو کې عجیب الخلقت ماشومان پیدا کیږي، داسې شاذ مثالونه کله هم د سند درجه نه لري، نه عقلا او شرعا ددې نه څه خبره ثابتیدلی شي ددې نه پرته په صحت مند بدن باندې د دانو وغیره راختل هم یو معمول دی، خو اهل عقل دا د پسخیدو قابل نه ګڼي، بلکې د وینې د فساد علامه ګڼلو سره د هغې د علاج طرف ته متوجه شي، بالکل هم دغه شان په یوه معاشره کې د ښځې حکمرانه کیدل هم د پسخیدو لائق یا د تقلید لائق نه دي، بلکې اهل عقل دا د معاشرې د فساد علامت ګڼي او دا چې که ددې فساد طرف ته توجه ونکړای شوه، نو د دې انجام هماغه کیدای شي کوم چې حکیم انسانیت په ﴿ بطن الارض خیر لکم من ظهرها ﴾ (ستاسو له پاره د ځمکې خیټه د هغې د شا نه غوره ده) کې بیان کړی دی. (نعوذ بالله من الحور بعد الکور!

د څو شبهاتو جواب

په مخکې صفحاتو کې موږ د قرآن او حدیث او د ائمه دین په حوالو سره واضحه کړه چې ښځه د ملک د بادشاهي صلاحیت نه لري، دځینو حضراتو په تحریرونو کې په دې سلسله کې د څو شبهاتو اظهار شوی دی، مناسب ده چې په علمي انداز په هغو باندې هم غور وشي.

په ﴿ الرجال قوامون علی النساء ﴾ باندې شبه

ځینې حضراتو ایت کریمه ﴿ الرجال قوامون علی النساء ﴾ (النساء : ۲۴) په باره کې فرمایلي دي چې دا ایت کریمه یوازې د ازدواجي ژوند او تدبیر منزل په باره کې دی، د امور مملکت ددې سره هیڅ تعلق نه شته، د ایت کریمه مطلب دادی چې د ښځې د اخرجاتو ذمه داري د هغې په خاوند باندې ده، د سړي د اخراجاتو ذمه داري په ښځې باندې نه شته، له دې وجې ښځې ته د سړي سره وفادار اوسیدل پکار دي.

دې حضراتو په دې باندې غور ونکړ چې هر کله ازدواجي ژوند او تدبیر منزل کې قرآن کریم سړی نګران او حاکم اوښځه د هغه تابع او مطیع کړې ده، نو امور مملکت کې قرآن کریم ښځه څنګه حاکم او سړی د هغې مطیع او فرمانبردار کولی شي؟ د دې نکتې وضاحت دادی چې سړی او ښځه، د شریعت د مقرر کړي دستور مطابق په ازدواجي خپلوي کې منسلک شي، نو ددې نه یو کور په وجود کې راځي، دا دانساني تمدن اول پوړ (مرحله) ده، له همدې ځایه د تدبیر منزل (کورني مسائل) شروع کیږي بیا د څو کورونو نه کلي ابادیږي او ددې ځای نه سیاست مدني شروع کیږي، دا د انساني تمدن ګویا دویم پوړ (مرحله) ده، بیا د څو ښارونو په مجموعي سره یو ملک په وجود کې راځي اوله هغه نه د امورو مملکت بنیاد قائمیږي، دا د انساني تمدن دریم پوړ (مرحله) دی.

اوس موږ گورو چې د انساني تمدن په اول قدم او اوله مرحله کې قرآن کریم اعلان کوي چې ﴿الرجال قوامون علی النساء﴾ گویا د قرآن کریم په نظر کې د انساني تمدن د اولې مرحلې فطري نظام دادی چې سړی به حاکم او ښځه به د هغه مطیعه او فرمانبرداره وي. ددې برعکس که ښځه حاکمه او سړی د هغې مطیع او فرمانبردار وي، نو دا نظام د قرآن کریم په نظر کې غیر صالح او خلاف فطرت دی، اوس غور وکړئ چې هر کله د تمدن لومړي پوړ او لومړي قدم باندې ښځه د حاکمیت صلاحیت نه لري، نو د تمدن په اخري پوړ (ملکي سیاست) کې به دښځې حاکمیت د قرآن کریم په نظر کې څه وي؟ تاسو ددې نه په مختصر الفاظو داسې تعبیر وکړئ چې قرآن کریم چې کله په وړوکي شان کور کې (چې د هغه ابتدایي تشکیل یوازې په دوه کسانو باندی وي) دښځې حاکمیت نه مني، نو د کروړونو انسانانو د ابادي والا ملک کې د ښځې حاکمیت څنگه تسلیمولی شي؟

او بیا دې حضراتو په دې باندې هم غور ونکړ چې په کورني ژوند کې د سړي د حاکمیت اعلان کولو سره قرآن کریم د دې اوله وجه د سړي فضیلت بیان کړې ده، ﴿بما فضل الله بعضهم علی بعض﴾ په دې توجیه او تعلیل کې صراحت شوی دی چې د سړي د حاکمیت اصل سبب د هغه فضیلت دی، لهذا چې کومه معاشره د سړیو او ښځو په مجموعه باندې مشتمله وي (چې د هغه بالکل ابتدایي شکل تدبیر منزل دی او د هغه اخري شکل ملکي سیاست دی په دې کې به سړی دخپل فضیلت له وجې حاکم وي اوښځه به د هغه تابع وي. ﴿فالصالحات قانتات الخ﴾ او د سړي د حاکمیت دویم سبب دا بیان شوی دی چې په سړیو باندې د ښځو مهر او د خرچې ذمه داري ده، په ښځو باندې د سړیو د خرچې ذمه داري به څه وي خپله د هغې د خرچې ذمه داري هم په هغې باندې نه ده اچول شوې. داسې ولې وشو؟ ځکه چې درزق گټلو له پاره د کور نه بهر تللو او ازاد گرځیدو ته ضرورت دی، دا صلاحیت یوازې سړی لري، ښځه د خپلو صنفي خصوصیاتو په بناء دا صلاحیت نه لري، له دې وجې قرآن کریم دهغوی دخرچې ذمه داري د سړیو په اوږو باندې اچولو سره خپله په هغوی باندې کور کې د اوسېدو او حجاب او ستر اختیارولو پابندي عائدوي.

﴿وقرن فی بیوتکن ولا تبرجن تبرج الجاهلیة الاولی﴾ (الاحزاب : ٣٣) **ترجمه** : او تاسو په خپلو کورونو کې کېنئ او د جاهلیت د پخواني دستور مطابق مه گرځئ. (ترجمه حضرت تهانوی)

اوس انصاف وکړئ چې قرآن کریم په کور کې ښځه حکمرانه نه تسلیموي، چې د سړي د فضیلت حواله ورکوي د هغه د حاکمیت اعلان کوي، کوم چې دښځو د خرچې بوج په ښځو باندې اچولو سره په ښځو باندې حجاب او ستر او کور کې د قرار نیولو پابندي لگوي، ایا دا به د عقل او پوهې خبره وي چې هماغه قرآن کریم دې ښځه د ملک حاکم اعلی جوړولو سره بې حجابه د گرځیدو او د ټولې دنیا خلکو سره د ملاقاتونو اجازه ورکړي؟

الغرض ایت کریمه د سړي د قوامیت اعلان کولو سره د ښځې د حکومت او ولایت نفي کوي، د امت اکابرینو د ایت کریمه هم دا مفهوم اخیستی دی. لکه چې د ډیر اکابر مفسرینو حوالې مخکې ذکر شوې دي.

دلته د مولانا ظفر احمد تهانوي رحمه الله د کتاب(احکام القرآن) حواله وړاندې کیږي. هغه لیکي

﴿ القوم والقیم واحد، والقوام ابلغ، وهو القائم بالمصالح، والتدبیر، والتادیب. وعلل ذلک بامرین : وهبی وکسبی فقال : بما فضل الله بعضهم علی بعض. یعنی فضل الرجال علی النساء فی اصل الخلقة، وکمال العقل، وحسن التدبیر، وبسطة فی العلم والجسم، ومزید القوة فی الاعمال، وعلو الاستعداد، ولذلک خصوا بالنبوة، والامامة، والقضاء، والشهادة فی الحدود والقصاص وغیرها، ووجوب الجهاد، والجمعة، والعیدین، والاذان، والخطبة، والجماعة، وزیادة السهم فی الارث، ومالکیة النکاح، وتعدد المنکوحات، والاستبداد بالطلاق، وکمال الصوم والصلاة من غیر فتور، وغیر ذلک، وهذا امر وهبی، ثم قال : وبما انفقوا من اموالهم فی نکاحهن من المهور والنفقات الراتبة، هذا امر کسبی ﴾(احکام القرآن ج ۲ ص ۱۷۵، ۱۷۶)

ترجمه : د قوام او قیم یوه معنا ده او قوام زیات بلیغ دی، قوام هغه دی چې د چا دمصالحو، تدبیر او تادیب ذمه دار وي، سړي د ښځو قوام دي، ددې یې دوه وجې ذکرکړي دي، یوه وهبي او دویمه کسبي، نوفرمایي: له دې وجې چې الله پاک ځینو ته په ځینو فضیلت ورکړی دی، یعنې الله پاک سړیو ته فضیلت ورکړی دی په اصل خلقت، کمال عقل ، حسن تدبیر کې، د علم او بدن په فراخي ، د اعمالو په مزید طاقت کې او د استعداد په اوچت والي کې، په همدې بناء باندې لاندې ذکر شوي امور سړیو سره خاص دي: نبوت، امامت، قضاء، حدود و قصاص اوداسې نورو... باندې شهادت ورکول، وجوب جهاد ، جمعه، عیدین، اذان، خطبه. جماعت، وراثت کې زیاته برخه ملاویدل، د نکاح مالک کیدل، د یو نه زیات نکاحونه کول. د طلاق ورکولو اختیار، پرته د وقفې نه د لمونځ او روژو پوره کول اوداسې نور... او دا امر وهبي دی، بیایې وفرمایل : له دې وجې چې سړیو خپل مالونه خرچ کړي دي، یعنې په نکاح کې مهر او خرچه په سړیو باندې لازمه ده او دا کسبي امر دی.

که څوک قرآن کریم ته د خپلو خود ساخته معنا او مفهوم په اخیستلو کې او خپل خپل ذهني خیالات دقرآن کریم نه په راویستلو باندې ضد کوي، نو دهغه علاج نه شته،که نه، د قرآن کریم ساده مفهوم مخې ته کیږدئ او بیا وښایئ چې ایا قرآن کریم په سړیو باندې د ښځو د حاکمیت اعلان کوي یا که د دې برعکس د قرآن کریم اعلان دادی چې : سړي په ښځو حاکمان دي؟

حقیقت دادی چې قرآن کریم په معاشره کې چې د سړي او ښځې د مقام او منصب چې کوم تعین کړی دی او دښځو په باره کې یې چې د نکاح، طلاق، عدت او ستر او پردې کوم

تفصيلي احکام بیان کړي دي، که یو سړی له هغه نه خبر هم دی او په هغه باندې ایمان هم لري، نو هغه به دا مني چې د قرآن کریم د خصوصي هدایاتو په رڼا کې د ښځې د ملک د سربراه جوړېدو ګنجائش نه شته ، هو ! کوم سړی چې د احکامو او هدایاتو نه خبر نه وي، نو هغه غریب د خپل جهالت له وجې معذور دی.

په ﴿لن يُفلِح قومٌ وَلّوا أمْرَهُم امرأة﴾ باندې شبهات

۱: ایا دا حدیث موضوعي دی؟

ځینو حضراتو دې نبوي حدیث: "هغه قوم به هرګز کامیاب نه شي چا چې حکومت ښځې ته وسپاره" ته د موضوع ویلو کوشش کړی دی، په دې حضراتو باندې د هغه حبشي حکایت صادقیږي چاته چې په لاره کې یو آئینه ملاو شوه، چې هغه یې پورته کړه او خپل بد شکل ورته ښکاره شو، نو هغه یې په کاڼي ویشتله او ماته یې کړه او ویې ویل چې: ته داسې بدشکله وې ځکه خو چا دلته غوځولې یې ، دې حضراتو ته هم د حدیث نبوي ﷺ په آئینه کې خپل شکل بدرنګ ښکاره شو، له دې وجې یې ددې حدیث د مجروح کولو کوشش وکړ دا حدیث نه موضوعي دی نه ضعیف، بلکې د اعلی درجې صحیح دی، د دې حدیث له پاره دا کتابونه وګورئ!

- : صحیح بخاری (ج ۱ ص ٦٣٧، باب کتاب النبي الی کسری وقیصر، ج ۲ ص ۱۰۵۲، باب الفتنة تموج کموج البحر).
- : نسايي (ج ۲ ص ۳۰٤ باب النهی عن استعمال النساء فی الحکم)
- : ترمذي (ج ۲ ص ٥۱ قبیل ابواب الرؤیا)
- : مستدرکِ حاکم (ج ۳ ص ۱۱۹)
- : سنن کبری للبیهقي (ج ۳ ص ۹۰، باب لا یاتم رجلَ بامراة، ج ۱۰ ص ۱۱۸ باب لا یولی الوالی امراة الخ)
- : مسند احمد (ج ٥ ص ۳۸، ٤۳، ٤۷، ٥۱)

ددې حدیث په صحیح بخاري کې وجود ددې د صحت د کافي کیدو ضامن دی. امام حاکم رحمه الله د دې د نقل کولو نه وروسته **صحیح علی شرط الشیخین** فرمایي او امام ذهبي رحمه الله په تلخیص المستدرک کې دا **صحیح علی شرط الشیخین** مني.

ددې نه پرته دا حدیث بې شمیره ائمه حدیث او فقهاء امت نقل کړی دی، ددې نه یې د اهم ترین مسائلو استخراج کړی دی، خو چا کله هم دا بحث نه دی کړی چې دا حدیث صحیح دی او که نه ؟ نن سبا د دې حدیث د صحت په باره کې هغه خلک د شک او شبهې اظهار کوي کوم چې

د ابوبکر او ابوبکرة په مینځ کې فرق نه شي کولی، دا یوازې له دې وجې چې ارشاد رسول ﷺ د هغوی د نفس خلاف دی، د همدې مضمون دوېم حدیث په مستدرک حاکم ج ۲ ص ۲۹۱ کې دی

﴿ عن ابي بكرة رضي الله عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم أَتَاهُ بَشِيرٌ يُبَشِّرُهُ بِظَفَرِ خَيْلٍ لَهُ وَرَأْسُهُ فِي حِجْرِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَقَامَ فَخَرَّ لِلّٰهِ تَعَالَى سَاجِدًا فَلَمَّا انْصَرَفَ أَنْشَأَ يَسْأَلُ الرَّسُولَ فَحَدَّثَهُ فَكَانَ فِيمَا حَدَّثَهُ مِنْ أَمْرِ الْعَدُوِّ وَكَانَتْ تَلِيهِمُ امْرَأَةٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : هَلَكَتِ الرِّجَالُ حِينَ أَطَاعَتِ النِّسَاءَ ﴾ (قال الحاكم : هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجاه. واقره الذهبي) (مستدرک حاکم ج ٤ ص ۲۹۱)

ترجمه سیدنا ابوبکرة رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ ته یو قاصد د هغه لښکر د کامیابۍ د زیرې سره راغی ، هغه مهال د رسول الله ﷺ سر مبارک د عائشې رضی الله عنها په غیږ کې و. رسول الله ﷺ پورته شو او د زیری اوریدلو سره یې سجده شکر ادا کړه. چې د سجدې نه پورته شو. نو د قاصد نه یې حالات وپوښتل هغه ورته د دشمن حالات بیانولو سره دا هم اوئیل چې د هغوی حکمرانه یو زنانه وه، په دې اوریدلو باندې رسول الله ﷺ وفرمایل هلاک شو هغه سړي چې کله هغوی د میرمنو ماتحتي قبوله کړه.

امام حاکم رحمه الله د دې حدیث د تخریج نه وروسته فرمایي چې دا حدیث صحیح الاسناد دی امام ذهبي رحمه الله د حاکم تصدیق کولو سره لیکي چې دا حدیث صحیح دی.

۲: ایا ابوبکر ابن العربي رحمه الله دې حدیث ته موضوعي ویلي دي؟

یو صاحب خو د دې حدیث د موضوعي ثابتولو له پاره د یو ډیر لوی فقیه او محدث قاضي ابوبکر بن العربي رحمه الله حواله هم ورکړه هغه لیکي :

"علامه ابوبکر ابن العربي رحمه الله په خپل کتاب (عواصم القواصم) کې په دې حدیث باندې بحث کولو سره لیکلي دي چې د سیده عائشه صدیقه رضی الله عنها احتجاجي مهم ته د هغې فیصله غلطه ثابتولو له پاره دا حدیث وضع شوی دی." (روزنامه جنگ کراچی ص ۲٤/۷ دسمبر ۱۹۸۸)

کومو حضراتو چې د قاضي ابوبکر ابن العربي رحمه الله (المتوفی ۵٤۳ هجری) د (العواصم من القواصم) مطالعه کړې وي، هغوی ته به معلومه وي چې په دې پوره کتاب کې د دې حدیث بالکل ذکر هم نه دی راغلی او د کوم حدیث چې په کتاب کې ذکر نه وي راغلی په هغه باندې د کلام کولو یا موضوع او مجروح ویلو څه سوال پیدا کیږي؟ د عائشې رضی الله عنها د کیسې په باره کې قاضي ابوبکر ابن العربي رحمه الله د حدیث الحوأب (چې د یوې علاقې نوم دی) د ذکر کولو نه وروسته د هغې په باره کې لیکلي دي.

﴿ وأما الذي ذكرتم من الشهادة على ماء الحوأب، فقد بؤتم في ذكرها بأعظم حوب، ما كان قط شيء مما ذكرتم، ولا قال النبي صلى الله عليه وسلم ﴾ (العواصم من القواصم ص ١٦١)

ترجمه: او دا چې تاسو په ماء حوأب باندې د شهادت ذكر كړى دى، نو د هغې په ذكر كولو سره تاسو د ډيرې لوى گناه (دروغژن شهادت) ارتكاب كړى دى، كومه واقعه چې تاسو ذكر كړې ده، هغه بالكل شوې هم نه ده او نه رسول الله ﷺ كله دا حديث فرمايلى دى.

د حديث حوأب په باره كې هم دا دقاضي ابوبكر ابن العربي رحمه الله ذاتي رايه ده. دا حديث په مستدرک حاكم (ج ٣ ص ١٢٠) صحيح ابن حبان، الاحسان بترتيب ابن حبان، ج ٩ ص ٢٥٩، حديث ٦٦٩٧)، موارد الظمآن (ص ٤٥٣، حديث ١٨٣١) كې دى.

حافظ ابن حجر رحمه الله ليكي: **اخرج هذا احمد وابويعلى والبزار والحاكم وسنده على شرط الصحيح**. (فتح البارى ج ١٣ ص ٥٥)

حافظ ابن كثير رحمه الله ليكي: **هذا اسناد على شرط الصحيحين ولم يخرجوه**، (البداية والنهاية ج ٦ ص ٢١٢)

حافظ شمس الدين الذهبي رحمه الله فرمايي: **هذا حديث صحيح الاسناد ولم يخرجوه**. (سير اعلام النبلاء ج ٢ ص ١٧٨)

حافظ نور الدين هيثمي رحمه الله فرمايي: **رواه احمد وابويعلى والبزار ورجال احمد رجال الصحيح** (مجمع الزوائد ج ٧ ص ٢٢٤)

د مضمون نگار ددې خيانت او بدديانتي داد وركړئ چې يوازې دروغژنه او صريح غلطه حواله وركولو سره يې د يو صحيح حديث نعوذ بالله د موضوع ثابتولو كوشش كوي؟ مضمون نگار چې د صحيح حديث د رد كولو له پاره په قاضي ابوبكر بن العربي رحمه الله باندې كوم بهتان تړلى دى د هغه د ترديد له پاره خپله د قاضي ابوبكر رحمه الله خپل تصريحات كافي دي، قاضي ابوبكر ابن العربي رحمه الله په خپل كتاب احكام القرآن كې د سورة النمل د آيت ٢٣ د لاندې ليكي:

﴿ **فِيهَا ثَلَاثُ مَسَائِلَ. . . . . . . الْمَسْأَلَةُ الثَّالِثَةُ: رُوِيَ فِي الصَّحِيحِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حِينَ بَلَغَهُ أَنَّ كِسْرَى لَمَّا مَاتَ وَلَّى قَوْمُهُ بِنْتَهُ: لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ امْرَأَةً وَهَذَا نَصٌّ فِي أَنَّ الْمَرْأَةَ لَا تَكُونُ خَلِيفَةً، وَلَا خِلَافَ فِيهِ** ﴾ (احكام القرآن ج ٣ ص ١٤٥٧)

ترجمه: په دې كې درې مسئلې دي. . . . . . **دريمه مسئله**: په صحيح بخاري كې روايت دى چې كله رسول الله ﷺ ته دا خبر راورسيدو چې د كسرى په مرگ باندې د هغه قوم د هغه لور ته حكومت حواله كړى دى، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه قوم به كله هم كامياب نه شي چا چې حكومت ښځو ته وسپاره او دا ارشاد نبوي ﷺ په دې مسئله كې نص صريح دى چې ښځه خليفه نه شي كيداى او په دې مسئله كې د چا هم اختلاف نه شته.

او په شرح ترمذي کې قاضي ابوبکر ابن العربي رحمه الله ليکي:

﴿ ذكر عن ابي بكرة قول النبي ﷺ : لن يفلح قوم ولوا امرهم امراة. (العارضة) هذا يدل على ان الولاية للرجال، ليس فيها مدخل بالا جماع ﴾(عارضة الاحوذي بشرح صحيح الترمذي ج ۹ ص ۱۱۹)

ترجمه : امام ترمذي رحمه الله د ابوبکرة رضي الله عنه په روايت سره د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کړی دی چې : هغه قوم به کله هم فلاح بيا نه مومي چا چې حکومت ښځې ته وسپاره، دا ارشاد نبوي ﷺ ددې اجماعي مسئلې دليل دی چې حکومت د سړيو سره خاص دی، د ښځو په دې کې هيڅ برخه نه شته.

تاسو ګورئ چې په دواړو کتابونو کې قاضي ابوبکر ابن العربي رحمه الله په دې مسئلې باندې اجماع نقل کوي چې ښځه، د حکومت سربراه نه شي جوړيدای او د رسول الله ﷺ مذکور الصدر ارشاد ته ددې دليل او نص صريح وايي.

۳: ايا دا حديث عمومي حکم نه لري؟

همدې مضمون ليکونکي دا هم فرمايلي دي : "د دې نه پرته دا حديث د يوې خاصې واقعې سره تعلق لري، ددې نه عمومي حکم ثابتول ډير ګران دي".

د کوم آيت کريمه او کوم حديث نه حکم ثابتيږي او د کوم نه ؟ په هغه باندې ائمة مجتهدين او فقهاء امت ښه پوهيږي زموږ په شان خلک چې د قاضي ابوبکر ابن العربي رحمه الله د کتاب املاء هم صحيح نه شي ليکلی د **العواصم من القواصم** په ځای **عواصم القواصم** ليکي:

او کوم خلک چې د ''ابن عربي،، او ''ابن العربي،، په مينځ کې په فرق باندې نه پوهيږي هغه د ايت کريمه د عموم او خصوص د فيصلې کولو مجاز نه دي او که موږ په خپل ذاتي خواهش باندې داسې فيصلې کوو، نو زموږ د علم او فهم او زموږ د ديانت او امانت په مخکې به د داسې فيصلو څه قيمت وي؟ اهل علم د هغه نه ښه خبر دي، تعجب دی چې کوم سړی يوه حواله هم صحيح نه نقل کوي او څوک چې د کتاب او د مصنف د نوم هم غلط ليکي هغه (د ټولو فقهاء کرامو په خلاف) په حديث نبوي کې اجتهاد کولو سره ليکي چې : دا حکم عام نه دی، بلکې د يوې خاصې واقعې سره متعلق دی.

حال دا چې يوه غټه شان خبره ده چې که رسول الله ﷺ په دې حديث کې يوازې د اهل ايران عدم فلاح بيانولی، نو دهغه له پاره يو لفظ کافي و، يعنې ﴿ **لن يفلحوا** ﴾ چې دا خلک به کله هم کامياب نه شي د دې دومره وړوکي مضمون له پاره به هرګز دومره اوږده جمله نه فرمايل کيده.

اهل علم پوهيږي چې په دې حديث کې د قوم لفظ نکره دی، چې په سياق د نفي کې واقع ده او دا قطعي د عموم فائده ورکوي، همدا وجه ده چې د اول نه تر اخره پورې اهل علم د دې حديث نه بالاجماع دا ګڼلې ده چې دا حکم عام دی او دا چې د دې ارشاد نبوي ﷺ په رڼا کې دا

فیصله شوی امر دی چې ښځه د حکومت سربراه نه شي جوړیدای، ددې نه وروسته دا ویل چې: چې په دې کې عمومي حکم نه شته، بلکې د یوې خاصې واقعې سره متعلق دی. ارشاد نبوي ﷺ د خپل خواهش مطابق کولو کوشش دی، کوم ته چې په یو طریقه هم مستحسن نه شي ویل کیدای.

٤: ایا خبر واحد په حلال او حرام کې حجت نه دی؟

دا صاحب په خپل مضمون کې دا هم لیکي چې:

ددې نه پرته دا حدیث خبر واحد دی متواتر یا مشهور حدیث نه دی، د خبر واحد نه د حلال او حرام هیڅ مسئله نه شي ثابتیدای، زیات نه زیات د یو عمل کراهت ترې ثابتیدای شي، خو مکروه او جائز یو بل ته نژدې دي.

په دې عبارت کې درې دعوې دي او درې واړه غلطې دي، د موصوف دا دعوه چې: دا حدیث خبر واحد دی متواتر یا مشهور حدیث نه دی له دې وجې غلطه ده چې ددې حدیث په مضمون باندې د امت اجماع ده، لکه چې امام قرطبي، ابوبکر ابن العربي، علامه عبدالعزیز فرهاروي رحمهم الله او د نورو اکابرینو د تصریحاتو نه معلومه شوه او په کوم حدیث چې د امت اجماع وي او امت هغه بالاتفاق قبول کړې وي هغه حدیث حجت قطعیه جوړیږي او هغه ته د متواتر معنوي درجه حاصلیږي، نو امام ابوبکر جصاص رحمه الله په خپل بې مثال کتاب (احکام القرآن) کې په یو حدیث باندې بحث کولو سره لیکي:

﴿ وقد استعملت الأمة هذين الحديثين في نقصان العدة وإن كان وروده من طريق الآحاد فصار في حيز التواتر لأن ما تلقاه الناس بالقبول من أخبار الآحاد فهو عندنا في معنى المتواتر لما بيناه في مواضع ﴾ (احکام القرآن ج ۱ ص ۳۸۶)

ترجمه: امت د نقصان عدت په مسئله کې ددې دواړو احادیثو نه استدلال کړی دی، اګر چې دا حدیثونه د خبر واحد په طریقې سره وارد شوي دي، خو دا د متواتر په درجه کې دي، ځکه چې کوم خبر واحد ټولو خلکو قبول کړی وي هغه زموږ په نزد د متواتر په حکم کې دی چې د هغه وجه موږ په ډیرو ځایونو کې بیان کړې ده.

داصولو عالمانو تصریح کړې ده چې کله د خبر واحد په حکم باندې اجماع راشي، نو هغه حکم قطعي شي او د هغه حدیث د ثبوت او عدم ثبوت بحث ختم شي، مولانا عبدالحکیم لکنوي رحمه الله د نور الانوار په حاشیه کې لیکي: **﴿ وفائدة الاجماع بعد وجود السند سقوط البحث وصيرورة الحكم قطعيا ﴾** (حاشية نور الانوار ص ۲۲۲)

ترجمه: او د سند له وجود نه وروسته د اجماع فائده داده چې بحث ختم شي او هغه حکم قطعي شي.

شيخ يحيى هارون مصري رحمه الله د "شرح منار لابن ملک" په حاشيه باندې ليکي

﴿ **وفائدة الاجماع بعد وجود السند سقوط البحث عن الدليل، وحرمة المخالفة وضرورة كون الحكم قطعياً** ﴾ (شرح المنار وحواشيه من الاصول ج ۲ ص ٧٤٥)

ترجمه: او دسندله وجود نه وروسته د اجماع فائده داده چې د دليل په باره کې بحث ختم شي د هغه مخالفت حرام شي او حکم بديهي ډول سره قطعي شي

پورته تير شوي دي چې حديث نبوي ﷺ ﴿ **لن يفلح قوم ولوا امرهم امراة** ﴾ دامت ټولو علماوو او ددين امامانو قبول کړی دی او د هغه نه يې استدلال کولو سره بالاتفاق دا فيصله کړې ده چې ښځه د حکومت سربراه نه شي جوړيدای، څنګه چې په لمانځه کې د سړيو امام نه شي جوړيدای، نوچې کله دا حديث د ټولو عالمانو او ددين دامامانو د اجماع سند دی، نو دې ته خبر واحد ويلو سره ردول، يو طرف ته د رسول الله ﷺ د ارشاد سره ناروا ګستاخي ده او بل طرف ته د ائمه دين اجماع ته باطل ويل دي، امام فخر الاسلام بزدوي رحمه الله فرمايي

﴿ **ومن انكر الاجماع فقد ابطل الدين كله، لان مدار اصول الدين كلها مرجعها الى اجماع المسلمين** ﴾ (اصول بزدوى ص ٢٤٧)

ترجمه: او کوم سړی چې له اجماع نه انکار وکړي، هغه پوره دين باطل کړ، ځکه چې ددين دټولو اصولو بنياد او مرجع د مسلمانانو په اجماع باندې ده.

د مضمون نګار دا دعوه چې: په خبر واحد سره د حلال او حرام هيڅ مسئله نه شي ثابتيدای، دا قطعا غلطه او مهمله ده کوم انسان ته چې د دين معمولي فهم هم وي هغه پوهيږي چې ددين اسلام بيشميره مسائل د اخبار احاد نه اخيستل شوي دي، د موصوف په نظريه باندې به دا ټول مسائل باطل وي، د امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله په قول:

این اعتقاد نکند مگر جاهلی که از جهل خود بی خبر است، یا زندیقی که مقصودش ابطال شطر دین است. (مکتوبات دفتر دوم مکتوب:۵۵)

د خبر واحد په جائز او ناجائز او حلال او حرام کې حجت کيدل، د اهل حق او ائمة الهدى مسلم اصول دي، د علم اصول مبتدي ته به هم دا فقره ياد وي چې:

﴿ **خبر الواحد يوجب العمل لا العلم** ﴾

ترجمه: خبر واحد عمل واجبوي او د يقين فائده نه ورکوي.

د مضمون نګار تعلق که د منکرين حديث سره نه وي، نو هغه ته غلط اصول جوړولو سره د رسول الله ﷺ دارشاداتو د رد کولو جرأت نه و پکار.

د موصوف دريمه دعوه داده چې : مکروه او جائز يو بل ته نژدې دي، دا هم غلطه او مغالطه ورکونکې خبره ده، ځکه چې د مکروه لفظ کله د حرام له پاره ويل کيږي، کله د مکروه تحريمي له پاره او کله د مکروه تنزيهي له پاره، مکروه تحريمي حرام ته نژدې وي او مکروه تنزيهي جائز ته نژدې دی، علامه شامي د اوداسه د مکروهاتو لاندې ليکي :

﴿ (ومکروهه) هو ضد المحبوب قد يطلق على الحرام كقول القدوري في مختصره ومن صلى الظهر في منزله يوم الجمعة قبل صلاة الإمام ولا عذر له كره له ذلك وعلى المكروه تحريما وهو ما كان إلى الحرام أقرب ويسميه محمد حراما ظنيا وعلى المكروه تنزيها وهو ما كان تركه أولى من فعله ويرادف خلاف الأولى كما قدمناه ﴾ (رد المحتار ج ۱ ص ۱۳۱)

ترجمه : د مکروه لفظ د محبوب ضد دی، کله يې په حرام باندې اطلاق کيږي، کله په مکروه تحريمي باندې او مکروه تحريمي هغه دی کوم چې حرام ته نژدې وي، امام محمد رحمه الله هم دې ته حرام ظني وايي او کله مکروه تنزيهي ته ويل کيږي او مکروه تنزيهي هغه دي چې د هغه پريښودل د هغه د کولو نه غوره وي، همدې ته خلاف اولی هم ويل کيږي.

او مکروه چې کله د جائز او ناجائز په باب کې مطلق وويل شي، نوله هغه نه مراد مکروه تحريمي وي، لکه چې علامه شامي په (کتاب الحظر والاباحة) کې تصريح کړې ده. (ج ۶ ص ۳۳۷)

له دې وجې د موصوف مطلقا دا ويل چې : مکروه او جائز يو بل ته نژدې دي، نه يوازې مغالطه ده، بلکې خلکوته په مکروهات شرعيه باندې جرات ورکول هم دي.

۵: د ملکه سبا د کيسې نه استدلال

ځينې حضراتو د ملکه سبا د کيسې نه کومه چې په قرآن کريم کې ذکر ده، دا استدلال کړی دی چې ښځه د حکومت سربراه جوړيدای شي، خو د دې کيسې نه استدلال ډير عجيب دی، ځکه چې هغه د يو مشرک قوم ملکه وه، چې د هغوی په باره کې په قرآن کريم فرمايلي دي : **﴿ فهم لا يهتدون ﴾**

د سيدنا سليمان عليه السلام په دعوت باندې هغه د سليمان عليه السلام فرمانبرداره شوه او په يو صحيح روايت کې هم دا نه دي راغلي چې د هغې د اسلام راوړلو نه وروسته سليمان عليه السلام هغه په حکومت باندې برقرار وساتله، امام قرطبي رحمه الله په دې سلسله کې د اسرائيلي کيسو ذکر کولو نه وروسته ليکلي دي: **(لم يرد فيه خبر صحيح لا فی انه تزوجها ولا فی انه زوجها.** (قرطبی : الجامع لاحکام القرآن ج ۱۳ ص ۲۱۰، ۲۱۱))

ترجمه : په دې باره کې هيڅ صحيح روايت نه دې راغلی چې سيدنا سليمان عليه السلام هغې سره خپله واده کړی و او نه دا چې بل چا سره يې ورته واده کړی و.

ترڅو پورې چې د يو صحيح روايت نه دا ثابته نه شي چې سيدنا سليمان عليه السلام هغه په حکومت باندې برقراره وساتله ترهغې پورې دا هم نه شي ثابتدلی چې کم نه کم د سيدنا سليمان عليه السلام په شريعت کې ښځه د حکومت سربراه جوړول ناجائز و.

د دې نه پرته د انبياء سابقين عليهم السلام د واقعاتو نه استدلال هغه وخت صحيح دی چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته دې باره کې د هغه نه مختلف څه هدايت نه وي فرمايلی. په دې مسئله کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صفا هدايت موجود دی چې ښځه د حکومت سربراه نه شي جوړيدای او هم په دې باندې د امت محمديه صلی الله علیه وسلم اجماع ده، لکه چې پورته معلومه شوه. اوس که د يو قطعي دليل نه دا هم ثابته شي چې سيدنا سليمان عليه السلام ملکه سبا په حکومت باندې برقرار ساتلې وه. نو د هدايت نبوي او د اجماع نه وروسته به د هغه نه استدلال کول ښکاره غلط وي.

حضرت مولانا مفتي محمد شفيع ديوبندي رحمه الله (سابق مفتي اعظم پاکستان) په احکام القرآن کې په دې آيت کريمه باندې ډير نفيس کلام فرمايلی دی کوم چې په ډيرو فوائدو باندې مشتمل دی، دلته د هغې ضروري اقتباس راوړل کيږي:

﴿المراة لا تصلح تكون ملكة او اماما﴾

﴿ فعلم ان المراة لا تصلح ان تكون ملكة فى شريعة محمد صلی الله علیه وسلم، وكان واقعة بلقيس من عمل الكفرة فلا يحتج به على ما قاله الآلوسى، وان قيل ان اسلوب القرآن الحكيم فى عامة مواضعه انه اذا ذكر فعلا منكرا من الكفار صرح عليه بالانكار، فعدم الانكار عليه فى هذه الاية لعله كان مشيرا الى الجواز، قلنا: اولا لا يعلم عموم ما قيل، وثانيا: لا يلزم ان يكون التصريح بالانكار فى ذلك الموضع بل يكفى الانكار عليه فى شئ من آياته ولو فى موضع اخر، بل فى حجة من حجج الشرعية اذا ورد الانكار عليه فى حديث البخارى كفى لبيان كونه منكرا، كما يرشدك النظر فى امثال هذه المواضع افاده شيخنا دامت عوارفه. ويؤيد حديث البخارى ما رواه الذهبى فى تلخيص المستدرك عن ابى بكرة ان النبى صلی الله علیه وسلم أَتَاهُ بَشِيرٌ يُبَشِّرُهُ بِظَفَرِ خَيْلٍ لَهُ وَرَأْسُهُ فِي حِجْرِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَقَامَ فَخَرَّ لِلّٰهِ تَعَالَى سَاجِدًا فَلَمَّا انْصَرَفَ أَنْشَأَ يَسْأَلُ الرَّسُولَ فَحَدَّثَهُ فَكَانَ فِيمَا حَدَّثَهُ مِنْ أَمْرِ الْعَدُوِّ وَكَانَتْ تَلِيهِمُ امْرَأَةٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: هَلَكَتِ الرِّجَالُ حِينَ أَطَاعَتِ النِّسَاءَ، قال الذهبى صحيح.

(مستدرک ج ٤ ص ١٩١) (مفتی محمد شفيع، احکام القرآن ج ٥ ص ١٨)

ښځه د ملکه يا امام جوړيدو صلاحيت نه لري

ترجمه: (د روح المعاني او د درمختار د عبارت نقل کولو نه وروسته ليکي) معلومه شوه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شريعت کې ښځه دملکه جوړيدو صلاحيت نه لري، د بلقيس واقعه د

کافرانو عمل دی، لهذا د هغه نه استدلال نه شي کیدای، لکه چې علامه الوسي رحمه الله ویلي دي او که وویل شي چې د قرآن کریم عام انداز په عام مقاماتو کې دادی چې کله هغه د کفارو د یو منکر فعل ذکر کوي، نو په هغه باندې صراحتا انکار کوي، په دې ایت کریمه کې په دې باندې انکار نه کول کیدای شي د جواز طرف ته اشاره وي، مونږ وایو چې اول خو چې دقرآن کریم کوم اسلوب مخکې ذکر شوی دی، د هغه عموم معلوم نه دی، ددې نه پرته دا ضروري نه ده چې د انکار تصریح دې هم په هغه موقع باندې وشي، بلکې د قرآن په یو ایت کې د انکار بیا موندل کافي دي، اګر که په بل ځای کې وي، بلکې په دلائل شرعیه کې د انکار بیاموندل هم کافي دي، نوچې هر کله په صحیح بخاري کې د ښځې په حکمراني باندې نکیر راغلی دی، نو ددې فعل د منکر کیدو د بیان له پاره کافي ده، لکه چې په دې قسم مواقع کې نظر کول به ستاسو رهنمایي کوي، دا زمونږ د شیخ (حکیم الامت مولانا محمد اشرف علي تهانوي رحمه الله) دامت عوارفه افاده ده، د صحیح بخاري د حدیث تائید د تلخیص مستدرک ددې حدیث نه هم کیږي کوم چې د سیدنا ابوبکره رضي الله عنه نه روایت شوی دی. (دا حدیث پورته تیر شوی دی)

٦: د حضرت عائشې رضي الله عنها له واقعې نه استدلال

ځینوحضراتو دښځې د مشرۍ په مسئله کې دحضرت عائشې رضي الله عنها د جنګ جمل له واقعې نه استدلال کړی دی چې حضرت عائشه رضي الله عنها په جنګ جمل کې قیادت کړی و او د طلحه او زبیر رضي الله عنهما په شان جلیل القدر صحابه کرامو رضي الله عنهم د هغې قیادت تسلیم کړی و.

واقعه داده چې حضرت ام المومنین رضي الله عنها ته نه په دې موقع باندې د خلافت او امارت دعوه وه او نه هغې د یو مهم چلولو له پاره چا امیره جوړه کړې وه، نه د هغې سیاسي مقاصد وو او نه هغه جنګ جمل ته د قتال له پاره وتلې وه، د سیدنا عثمان رضي الله عنه د مظلومانه شهادت په موقع هغه د نورو امهات المومنین رضي الله عنهن سره حج ته تللې وه، اکابرین صحابه کرام رضي الله عنهم هلته جمع شو او هغوی اصرار وکړ چې د مهربانه مور په حیثیت هغې ته د امت د بې اتفاقي نه وروسته د هغوی د اتفاق راوستلو او ددې خطرناک صورت حال په اصلاح کې خپل کردار ادا کول پکار دي، ځکه چې د هغې لائق صد احترام شخصیت ددې فتنې په ختمولو کې موثر کردار ادا کولی شي، هغه وخت نه د ام المومنین رضي الله عنها امارت د چا په ذهن کې و او نه د چا خیال وچې دهغې به د امیر المومنین علی رضي الله عنه سره جنګ کیږي، نوبصرې ته د رسیدو نه وروسته چې کله قعقاع بن حکیم رضي الله عنه د هغې نه د تشریف راوړلو سبب وپوښت، نو هغې وفرمایل: (ای بنی! لإصلاح بين الناس)

ترجمه: زویه! زما د راتلو مقصد د خلکو ترمینځ اصلاح کول دي.

او د سیدنا طلحه او سیدنا زبیر رضي الله عنهما سره د امیر المومنین سیدنا علي رضي الله عنه مصالحتي خبرو اترو کې د اصلاح بین الناس نقشه هم مرتب کړې وه، خو مفسدو اشخاصو ته په دې کې خپل

مرګ ښکاره شو او هغوی د یو جوړ کړي سازش په ذریعه د شپې په تیاره کې حمله وکړه او دغه شان د اخلاص مخلصانه کوشش په ''جنګ جمل'' بدل شو. شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیهرحمه الله لیکي

﴿ **فإن عائشة لم تقاتل ولم تخرج لقتال وإنما خرجت بقصد الإصلاح بين المسلمين وظنت أن في خروجها مصلحة للمسلمين. . . ولم يكن يوم الجمل لهؤلاء قصد في القتال ولكن وقع الاقتتال بغير اختيارهم فإنه لما تراسل علي وطلحة والزبير وقصدوا الاتفاق على المصلحة وأنهم إذا تمكنوا طلبوا قتلة عثمان أهل الفتنة. . . . فخشي القتله أن يتفق علي معهم على إمساك القتلة فحملوا على عسكر طلحة والزبير فظن طلحة والزبير أن عليا حمل عليهم فحملوا دفعا عن أنفسهم فظن علي أنهم حملوا عليه فحمل دفعا عن نفسه فوقعت الفتنة بغير اختيارهم وعائشة رضي الله عنها راكبة لا قاتلت ولا أمرت بالقتال هكذا ذكره غير واحد من أهل المعرفة بالأخبار** (منهاج السنة ج ۲ ص ۱۸۵)

ترجمه : حضرت عائشې رضي الله عنها نه قتال وکړ او نه د قتال له پاره وتلې وه، هغې خو د اصلاح بین المسلمین په اراده سره تشریف راوړی و او د هغې خیال و چې د هغې تشریف راوړلو کې د مسلمانانو مصلحت دی. . . . او د جنګ جمل په ورځ د هغوحضراتو د قتال قصد نه و، خو د هغوی د اختیار نه پرته جنګ ته خبره ورسیده، قصدا دا وشو چې کله د سیدنا علي، سیدنا طلحه او سیدنا زبیر رضي الله عنهم ترمینځه مراسلت وشو او هغوی په مصالحت باندې د اتفاق کولو کلکه اراده وکړه اودا فیصله وشوه چې کله قدرت وشي، نو د سیدنا عثمان رضي الله عنه قاتلین (اهل فتنه) به مواخذه شي، د قاتلین عثمان له پاره دا د ویرې خبرې وې چې سیدنا علي رضي الله عنه به په قاتلین عثمان رضي الله عنه باندې د مواخذې کولو له پاره ددې حضراتو سره متفق شي. نوهغوی د طلحه او زبیر رضي الله عنهما په کیمپ باندې د شپې حمله وکړه طلحه او زبیر رضي الله عنهما دا وګڼله چې سیدنا علي رضي الله عنه په هغوی باندې حمله وکړه، هغوی مدافعانه حمله وکړه، سیدنا علي رضي الله عنه دا وګڼله چې هغوی حمله کړې ده، هغوی په خپل مدافعت کې جنګ شروع کړ، دغه شان د هغوی د اختیار نه پرته دا فتنه راغله، حضرت عائشه رضي الله عنها په خپله کیجاوه کې ناسته وه. نه هغې جنګ کړی دی او نه یې د جنګ کولو حکم کړی دی، ډیرو مورخینو داسې ذکر کړي دي.

مسند الهند شاه عبدالعزیز محدث دهلويرحمه الله په (تحفة اثناء عشریة) کې دا مفصل لیکلي دي، په حضرت عائشې رضي الله عنها باندې د مشرانو صحابه کرامو رضي الله عنهم اصرار بیانولو سره شاه صاحب لیکي : "**وعائشه رانیز باعث شدند که تا رفع فتنه حصول امن ودرستی امور خلافت وملاقات ما با خلیفه وقت همراه ماباش، تاپاس ادب تو که مادر مسلمانان وحرم محترم رسول صلی الله علیه وسلم واز جمله ازواج محبوب ترومقبول بوده، این اشقیا قصد ما**

نكنند ومارا تلف نه سازند، ناچار عائشه رضي الله عنها بقصد اصلاح وانتظام امور امت وحفظ جان چندی از كبراء صحابه رسول كه هم اقارب او بودند بسمت بصره حركت فرمود. (تحفة اثناء عشريه ص ٣٤٤، مطبوعه سهيل اكيدمی لاهور)

ترجمه: دې حضراتو حضرت عائشې رضي الله عنها ته دا اصرار هم وكړ چې ترڅو پورې فتنه نه وي ختمه شوې او كامل امن نه وي راغلی امور خلافت نه شي برابريدای او د خليفه وخت سره زموږ ملاقات نه وي شوی، تاسو هم موږ سره اوسيږئ، ځكه چې تاسو د مسلمانانو مهربانه مور يئ، د رسول الله ﷺ ډيره قابل احترام بي بي يئ او په ازواج مطهرات رضي الله عنهن كې رسول الله ﷺ ته ډېر محبوبه او مقبوله يئ، له دې وجې به ستاسو د ادب له وجې نه دا بدبختنه خلك زموږ قصد نه كوي موږ به نه ضائع كوي، لهذا حضرت عائشې رضي الله عنها د خلكو ترمينځه د صلح كولو، مور امت ته په نظم كې د راوستلو او د ځو اكابرو صحابه كرامو رضي الله عنهم كوم چې د هغوی عزيزان هم وو، د هغوی حفاظت په خاطر بصرې ته روانه شوه.

الغرض ام المومنين رضي الله عنها نه ددې لښكر اميره وه او نه سپه سالاره او نه د هغې سياسي مقاصد وو او نه د امير المومنين سيدنا علي رضي الله عنه سره مقابله او مقاتله د هغې مقصود و، هغه مشرانو صحابه كرامو رضي الله عنهم د خپلې مهربانې مور په حيثيت خپل ځان سره په اوسيدو باندې مجبوره كړې وه، چې د هغوی د ډير احترام لائق شخصيت له وجې په اصلاح احوال كې سهولت وي.

ددې باوجود ام المومنين رضي الله عنها ته په خپل فعل باندې پښيمانتيا وشوه، په لاره كې چې كله يو مقام حوأب ته ورسيده، نو د واپسئ اراده يې وكړه خو په دې كې كاميابه نه شوه!

د قيس بن ابي حازم البجلي رحمه الله بيان دی:

﴿ لَمَّا أَقْبَلَتْ عَائِشَةُ. فَلَمَّا بَلَغَتْ مِيَاهَ بَنِي عَامِرٍ لَيْلاً نَبَحَتِ الكِلاَبُ فَقَالَتْ: أَيُّ مَاءٍ هَذَا؟ قَالُوا: مَاءُ الحَوْأَبِ قَالَتْ: مَا أَظُنُّنِي إِلاَّ أَنَّنِي رَاجِعَةٌ. قَالَ بَعْضُ مَنْ كَانَ مَعَهَا: بَلْ تَقْدَمِيْنَ. فَيَرَاكِ المُسْلِمُوْنَ. فَيُصْلِحُ اللهُ ذَاتَ بَيْنِهِمْ. قَالَتْ: إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ: (كَيْفَ بِإِحْدَاكُنَّ تَنْبُحُ عَلَيْهَا كِلاَبُ الحَوْأَبِ)﴾ (سير اعلام النبلاء ج ٢ ص ١٧٧)

ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها چې كله دمكې نه بصرې ته روانه شوه، د سفر په دوران كې چې كله د شپې په وخت د بنو عامر ابادې ته ورسيدل، نو سپيو وغپل، پوښتنه يې وكړه: چې دا كوم ځای دی؟ عرض وشو: چې دا حوأب علاقه ده! ويې فرمايل: زما خيال دی چې ماته هم ددې ځای نه واپس كيدل پكار دي! د هغې د لارې ځينو ملګرو وويل: نه! تاسو ته وړاندې تلل پكار دي، ستاسو په ليدو باندې به مسلمانان متفق شي، دغه شان به ستاسو په بركت سره الله پاك دمسلمانانو دحال اصلاح وكړي، ويې فرمايل: رسول الله ﷺ يوه ورځ فرمايلي و: ستاسو (ازواج مطهرات رضي الله عنهن) كې به د هغه يوې څه حال وي؟ چې كله په هغې باندې د حوأب سپي وغاپي!

شاه عبدالعزیز محدث دهلوي رحمه الله لیکي:

"حضرت عائشه درین اصرار معذور بود وزیرا که وقت خروج از مکه نمید انست که درین را چشمه حواب نام واقع خواهد شد برآن گزشتن لازم خواهد آمد، وچون برآن آب رسید ودانست اراده رجوع مصمم کرد، لیکن میسرش نشد، زیراکه کسے از اهل لشکر همراه او رفاقت در رجوع نه کرد، ودر حدیث نیز بعد از وقوع واقع هیچ ارشاد نه فرموده اند که چې باید ناچار بقصد اصلاح ذات البین که بلاشبه مامور به است پیشتر روانه شد پس حالت حضرت عائشه درین مرور حالت شخصی است که طفلی را از دور دید که میخواهد در چاهے بیفتد بی اختیار برائی خلاص کردن او دوید ودر اثنائی دویدن بی خبری محاذی نماز گزارنده مرور واقع شده او را در وقت محاذات اطلاع دست داد که من محاذی نماز گزارنده ام پس اگر برعقب میگردد آن طفل درچاه می افتد این مرور واقع شده را تدارک نمیتواند شد ناچار قصد خلاصی طفل خواهد کرد واین مرور را در حق خود معفو خواهد شناخت.(تخفه اثناء عشریة ص ۳۳۲)

ترجمه: حضرت عائشه رضي الله عنها په دې اصرار کې معذور وه چې د مکې نه د وتلو په وخت هغې ته معلومه نه وه چې په دې لاره کې به حوأب نومې چینه راځي او په هغې باندې به تیریدل وي کله چې هغې ته ورسیده علم ورته وشو، نو دبیرته تګ یې کلکه اراده وکړه، خودبیرته تګ ورته میسر نه شوه، ځکه چې په لښکر والاو کې چا هم په رجوع کولوکې هغې سره ملګرتیا ونکړه او په حدیث حوأب کې هم څه ارشاد نه دی فرمایل شوی چې د واقعې د وقوع نه وروسته څه کول پکار دي؟ له دې وجې د مجبوري نه د اصلاح ذات البین په غرض سره چې بیشکه مامور به دی، وړاندې روانه شوه، نوپه دې تیریدو کې د عائشې رضي الله عنها حالت د هغه چا سره مشابه دی چې چا دلرې نه یو ماشوم ولیدو چې کوهي ته غورځیږي، د لیدو سره د هغه د بچ کولو له پاره منډه کړي او په منډه وهلو کې په بې خبرۍ سره د یو لمونځ کونکي مخکې تیر شي او دا سړی چې د لمونځ کونکي مخې ته تیر شوی دی ددې نقصان نه شي پوره کیدای، د مجبورۍ له وجې نه هغه د ماشوم د بچ کولو قصد وکړ او دا تیریدل یې په خپل حق کې لائق د معافي وګڼل.

وروسته به هم چې کله هغې ته د جنګ جمل واقعه رایاده شوه، نو ډیر افسوس به یې کولو، حضرت شاه عبدالعزیز محدث دهلوي رحمه الله لیکي:

"هرگاه یوم الجمل رایاد می فرمود آن قدر میگریست که معجر مبارکش باشک رمی گشت بسبب آنکه در خروج عجلت فرموده ترک تامل نمود واز پیشتر تحقیق نه فرمود که آب حواب در راه واقع است یا نه تا آنکه این قسم واقعه عظمی روداد. (تحفه اثناء عشریه ص ۳۳۵)

ترجمه : حضرت عائشي رضي الله عنها چې به کله یوم الجمل یادوه، نو دومره به یې ژړل چې لوپټه مبارکه به یې په اوښکو لنده شوه، ځکه چې د هغې سبب دا و چې په خروج کې یې بیړه وکړه، تامل یې ونکړای شو او د مخکې نه یې تحقیق ونه کړ چې د حوأب چینه په لاره کې واقع ده او که نه؟ تردې چې دومره لویه واقعه واقع شوه.

شیخ الاسلام حافظ ابن تیمیه رحمه الله لیکي:

﴿ ثم تبين لها فيما بعد أن ترك الخروج كان أولى فكانت إذا ذكرت خروجها تبكي حتى تبل خمارها ﴾(منهاج السنة ج ۲ ص ۱۸۵)

ترجمه : بیا وروسته هغې ته ښکاره شوه چې ترک خروج غوره و، کله به یې چې خپل خروج یادوه، نو دومره به یې ژړل چې لوپټه به یې لنده شوه.

علامه ذهبي رحمه الله لیکي: **﴿ وَلاَ رَيْبَ أَنَّ عَائِشَةَ نَدِمَتْ نَدَامَةً كُلِّيَّةً عَلَى مَسِيْرِهَا إِلَى البَصْرَةِ، وَحُضُوْرِهَا يَوْمَ الجَمَلِ، وَمَا ظَنَّتْ أَنَّ الأَمْرَ يَبْلُغُ مَا بَلَغَ ﴾**(سیر اعلام النبلاء ج ۲ ص ۱۷۷)

ترجمه : په دې کې شک نه شته چې حضرت عائشه رضي الله عنها بصره ته په تلو او هلته په موجود کیدو باندې په کلي ډول پښیمانه شوه، د هغې وهم او خیال هم نه و چې معامله به دې حد ته ورسیږي.

د اظهار ندامت په ډول به یې فرمایل: **﴿ وَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ ثَكِلْتُ عَشْرَةً مِثْلَ الحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، وَأَنِّي لَمْ أَسِرْ مَسِيرِي مَعَ ابْنِ الزُّبَيْرِ ﴾**(مستدرک حاکم ج ۳ ص ۱۱۹)

ترجمه : زه غواړم چې زما د حارث بن هشام په شان لس لائق ځامن پیدا کیدو سره مړه شوي وای او زه ابن الزبیر رضي الله عنه سره (بصرې) ته نه وای تللې.

کله به یې فرمایل: **﴿ وددت اني جلست كما جلس غيري فكان احب الي من ان اكون ولدت من رسول الله صلى الله عليه وسلم عشرة كلهم مثل عبد الرحمن بن الحارث بن هشام وفي سنده أبو معشر نجيح المدني وفيه ضعف وقال الهيثمي : رواه الطبراني وفيه أبو معشر نجيح وهو ضعيف يكتب حديثه وبقية رجاله ثقات ﴾**(مجمع الزوائد ج ۷ ص ۲۳۸)

ترجمه : زه غواړم چې زه په کور کې ناسته وای لکه څنګه چې نورې ازواج مطهرات رضي الله عنهن ناستې دي. نودا خبره ماته ددې نه زیاته محبوبه وه چې زما نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم لس زامن پیدا شوي وای او هغه ټول د عبدالرحمن بن الحارث په شان زامن وای.

او کله به یې فرمایل: **﴿ وددت اني كنت غصناً رطباً ولم اسر مسيري هذا ﴾**

(ازالة الخفاء ج ۲ ص ۲۸۰، مطبوعه سهیل اکیدمی لاهور)

ترجمه: ارمان چې زه یو شنه څانګه وای او په دې سفر نه وای تللې
دغه شان ډیرو صحابه کرامو رضي الله عنهم هم د هغې په وتلو باندې نکیر وکړ (چې د هغه تفصیل دلته غیر ضروري دی)
اوس تاسو انصاف وکړئ چې په کومه واقعه کې د ام المومنین او د هغې د ملګرو رضي الله عنهم په ذهن کې د حکومت او امارت بالکل تصور هم نه و، بلکې ام المومنین د امت د مور په حیثیت د امت ترمینځه د جوړ پیدا کولو له پاره وتلې وه، په کومه واقعه باندې چې مشرانو صحابه کرامو رضي الله عنهم نکیر وکړ او په کوم باندې چې خپله ام المومنین حضرت عائشه رضي الله عنها هم افسوس او پښیمانتیا ښکاره کړه، ایا هغه واقعه د حکومت له پاره د ښځې د سربراهي د جواز دلیل جوړول صحیح دي؟
او دا هم هیرول نه دي پکار چې په دې پوره سفر کې ام المومنین حضرت عائشه رضي الله عنها په خپله کیجاوه (باندې جوړه شوې ډولۍ) کې پرده کونکې وه او د هغې محارم هغې سره و، حافظ ابن کثیر رحمه الله په دې سلسله کې یو عجیبه واقعه لیکلې ده چې د جنګ جمل د اختتام نه وروسته اعیان او اشراف د ام المومنین عائشې رضي الله عنها په خدمت کې د سلام له پاره حاضریدل. یو سړي په هغه کیجاوه کې وکتل. ام المومنین عائشې رضي الله عنها ارشاد وفرمایه!

﴿ اليک لعنة الله ! هتک الله سترک، وقطع يدک وابدی عورتک ﴾

ترجمه: ورک شه الله دې په تا لعنت وکړي، ستا پرده دې واخلي، ستا لاس دې پرې کړي او ستا ستر دې ښکاره کړي.
دا سړی په بصره کې قتل شو او ددې نه وروسته د هغه لاسونه پرې شو او د هغه بربنډ بدن په بیابان کې وغورځول شو. (البداية والنهاية ج ٧ ص ٢٤٥)
تاسو ګورئ چې د ام المومنین رضي الله عنها دا پوره سفر د خپلو محارمو په معیت کې په ډولۍ کې دننه وشو او په دې خطرناک جنګ کې هم په خپله ډولۍ کې په پرده کې وه، چا به د هغې ډولۍ ته د کتلو جرأت نه شو کولی او دا هم په ذهن کې ساتل پکار دي چې له هغې نه ګیرچاپیره ټولې مجمعې هغوی خپله مور ګڼله (که موافق و او که مخالف و) هغه یې د هم هغه احترام او تقدس مستحق ګڼله کوم چې د نیک اولاد په زړه کې د سکه مور له پاره و.
یو طرف ته دا پوره وروسته منظر په ذهن کې وساتئ، دویم طرف ددې دور د هغو ښځو په حالاتو باندې غور وکړئ چې د هغوی تعلیم او تربیت او ذهني تخلیق د مغربي یونیورسټیانو په ازادو ماحولونو کې کیږي، چې د هیڅ قسم پردې قائل نه دي، کومې چې د کور چاردیواري ته جیل سره تشبیه ورکوي او څادر او لوپټه طوق اوسلاسل تصور کوي، د چا په نزد چې د محرم او نامحرم امتیاز د دقیانوسیت نښه ده او په جلوت او خلوت کې د سړیو سره اوږه په اوږه تلل غواړي، ایا د دې ښځو له پاره د ام المومنین عائشې رضي الله عنها مثال وړاندې کول د عقل او

پوهې او د حق او انصاف تقاضې پوره کوي؟

۷: رضیه سلطانه، چاند بي بي او د بهوپال بیګمات

ځینې حضرات دښځې مشري د جواز ورانديې کولو له پاره د التمش د لور رضیه سلطانه، د بیجاپور د حکمران کونډه چاند بي بي او د بیګمات بهوپال مثالونه ورانديې کوي. خو په اهل فهم باندې واضحه ده چې د کتاب و سنت اود اجماع امت په مقابله کې د دې مثالونو څه قیمت او حیثیت دی؟ په مسلمانانو کې د دین اسلام خلاف په سوونو منکرات او بدعات رواج دي، زنا، غلا، شراب څښل، سود، جواري او رشوت په شان کبائرو کې خلک اخته دي. خو په مسلمانانو کې د دې شیانو په رواج کیدو کې د دې جواز او اباحت د دلیل په ډول نه شي وراندې کولی. همدغه شان که دښځې د مشرې شاذ و نادر واقعات پیښ شوي دي، نو هغو ته به د قرآن او سنت او د اجماع امت د خلاف کیدو له وجې نه بدعت سیئه ویل کیږي او د دې واقعاتو د ښځو د حکمرانۍ په جواز کې وراندې کول د عقلمندو او پوهانو نه ډیر بعید دي.

دښځې مشري د انسان او د ښځې د فطرت خلاف دي له دې وجې ما دې واقعاتو ته د هغه عجیب الخلقت ماشومانو سره تشبیه ورکړې وه چې کله د ماده فطرت د نقص له وجې نه پیدا شي، یا دهغه مثال دهغو دانو په شان دی کومې چې د وینې دفساد دعلامت په ډول ښکاره کیږي.

په دې واقعاتو باندې غور کولو سره اهل فهم ته دا نکته هم هیروَل نه دي پکار چې د ښځو د حکمرانۍ دا واقعات د شهنشاهیت کارنامې دي، مثلا: وویل شي چې د سلطان التمش زوی فیروز نالائق و او د هغه لور رضیه ډیره لائقه او فائقه وه، له دې وجې سلطان د خپل زوی په ځای لور دتخت وارثه جوړه کړه، هم دا صورت د بیجاپور اود بهوپال په ریاستونو کې هم پیښ شوی و چې د تخت وارث څوک سړی نه و، له دې وجې هغه ښځود وراثت ذمه داري قبوله کړه.

ایا دا عجیبه خبره نه ده چې یو طرف ته د جمهوریت عبادت کونکي په ناسته ولاړه کې د شهنشاهیت د بدو ردو وظیفه لولي، بل طرف ته هم د دغه شهنشاهیت ډیر مکروه او خراب شکل په ډول د معیارورانديې کولو سره د هغو نه دښځود حکمرانۍ په جواز باندې استدلال کولی شي.

اوس وګورئ چې د التمش د تخت وارث نالائق و، د مجبوري له وجې هغه خپله لور د تخت وارثه جوړه کړه، ایا د پاکستان په حالاتو باندې دې واقعې منطبق کولو سره موږ دنیا ته دا ښودل غواړو چې د پاکستان ټول سړي نالائق دي، له دې وجې د شهنشاه پاکستان لور د پاکستان د تخت وارثه جوړه شوه. ؟

د بیجاپور او بهوپال په شاهي خاندانونو کې یو سړی هم باقي نه و پاتې شوی، مجبورا ښځو غریبو د ریاست واږې په لاس کې ونیولې، ایا د پاکستان په حالاتو باندې د هغوی د مثال منطبق کولو دا معنا نه ده چې د دې ملک ټول سړي مړه شوي دي، له دې وجې د دختر پاکستان د حکومت په ګدئی باندې د کیناستو نه پرته بله څه لاره نه وه؟ وویل شي چې: غرض

د انسان بصیرت ختموي، کوم حضرات چې د ښځې د حکمراني جواز په دې قسم واقعاتو کې لټوي، په هغوی باندې دا مثال پوره طریقې سره صادق کیږي.

۸: مس فاطمه جناح

ځینې حضرات د ښځې په مشرۍ باندې دا استدلال کوي چې د صدر ایوب خان په مقابله فاطمه جناح د صدارت له پاره نامزد شوې وه او لوی لوی علماء کرامو د دې تائید کړی و، هغه وخت دا فتوا چیرته تللې وه؟

خو دا صریح مغالطه ده، ځکه چې علماء امت او اهل فتوا هغه وخت هم مکمل مخالفت کړی و، د یو مفتي فتوا هم نه شي وړاندې کیدلی چې هغه د جواز فتوه ورکړې وي او کوم سړی چې د اجماع خلاف د فتوا ورکولو جرأت وکړي هغه ته مفتي ویل غلط دي، نو مولانا مفتي محمود رحمه الله هم په دې بناء نه د ایوب خان په حق کې ووټ ورکړ او نه د فاطمه جناح. هغوی خپل ووټ استعمال هم نه کړ او کومو سیاسي یا نیم مذهبي او نیم سیاسي تنظیمونو چې یوازې د سیاسي مصلحتونو له وجې ددې منصب له پاره د مس فاطمه جناح انتخاب کړی و هغه هم د هغوی سیاسي مجبوري وه، د هغوی په خیال کې هغه په پاکستان کې واحد شخصیت و چې د ایوب خان مقابله یې کولی شوه او مس فاطمه جناح هغو خلکو ته صفا ویلي و چې د ایوب خان د لرې کیدو نه وروسته به په درې میاشتو کې هغوی خپل څوک دویم صدر منتخب کوي. الغرض د اهل فتوا په نزد خو د مس فاطمه نامزدګي هم خلاف شرع او ناجائز وه او د اهل سیاست په نزد هم دا دغه شان اضطراري کیفیت و څنګه اضطراري کیفیت چې د پورته ذکر شوي خاندانونو ښځو ته پیښ شوی و.

۹: د حضرت تهانوي رحمه الله فتوا

ځینې حضرات، د مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د یوې فتوا حواله ورکوي کومه چې په امداد الفتاوی ج ۵ ص ۹۹، ۱۰۰ کې شامله ده، ددې فتوا نه د هغه حضراتو استدلال کوم ځای پورې صحیح دی؟ په هغې باندې د غور کولو له پاره د څو شیانو په ذهن کې ساتل ضروري دي.

اول: دا چې حضرت تهانوي رحمه الله د امت ددې اجماعي فیصلې سره بالکل متفق دی چې په اسلام کې ښځه د حکومت سربراه جوړول جائز نه دي، نو په تفسیر بیان القرآن کې لیکي:

۱: او زموږ په شریعت کې د ښځې د بادشاه جوړولو ممانعت دی، نو د بلقیس په کیسې سره دې څوک شبه نه کوي، اول خو دا فعل د مشرکینو و، دویم دا چې که شریعت سلیمانیه **علی صاحبها الصلاة والسلام** د دې تقریر هم کړی وای، نو شرع محمدي صلی الله علیه وسلم کې ددې د خلاف کیدو له وجې نه هغه حجت نه دی.

۲: پورته د مولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله د کتاب **احکام القرآن** حواله راغلې ده. کوم چې د حکيم الامت اشرف علي تهانوي رحمه الله په نګراني کې ليکل شوي و او په کوم کې چې خپله د حضرت په حوالې سره ليکل شوي دي چې ښځه د ملک سربراه جوړول جائز نه دي او د بلقيس د کيسې په هغې باندې استدلال کول غلط دي.

۳: او خپله هم په هغه فتوا کې کومه چې د ښځې د مشرې له پاره وړاندې کيږي. تهانوي رحمه الله فرمايي "حضرات فقهاء په امامت کبرى کې سړيتوب (سړي کيدل) د صحت شرط او په قضاء کې اګر چې د صحت شرط نه دی، خو د ګناه نه د بچ کيدو شرط مقرر کړی دی.

(امداد الفتاوی ج ۵، ص ۱۰۰)

۴: پورته د شيخ الاسلام مولانا ظفر احمد عثماني رحمه الله د کتاب احکام القرآن حواله هم تيره شوې ده، چې په هغه کې يې امامت کبرى او صغرى ته د سړي خصوصيت ويلی دی. د احکام القرآن دا برخه هم د حضرت حکيم الامت په نګراني کې مرتب شوه.

د دې حوالو نه واضحه ده چې د حکيم الامت په نزد دا مسلم اصول دي چې په يو اسلامي ملک کې د حکومت سربراه ښځه نه شي کيدای.

دويم: حضرت تهانوي رحمه الله چې د کوم سوال په جواب کې دا فتوا ليکلې ده، له هغه وروسته منظر په ذهن کې ساتل ضروري دي، صورت حال دا و چې د انګريزانو په هندوستان باندې د تسلط نه وروسته ځينې موروثي رياستونو برقرار وساتل شو او د هغې حيثيت د نيم خود مختار رياستونو و. په هغې کې ځينې نيم خود مختار رياستونه داسې و چې په هغې باندې د پرده دارو ښځونه پرته باقي يو وارث هم نه و پاتې شوی. اوس دوه صورتونه ممکن و يو دا چې په هغې باندې پرده دارې ښځه (چې کومې په انګريزي قانونو کې د رياست قانوني وارث ګڼل کيده) د رياست والي نه وي تسليم کړي. په دې صورت کې به د هغو رياستونو نيم ازادانه حيثيت ختم شوی و او دا به د انګريزانو په حکومت کې مدغم شوی وي، ظاهره ده چې دا غټ ضرر و او دويم صورت يې داو چې يوازې د مشير په حيثيت سره دا ښځه درياست والي منل شوې وی او د رياست انتظام او انصرام د دې ښځې په مشورې سره د سړيو په لاس کې ورکړل شوې وي. په دې رياستونو کې عملا هم دا صورت اختيار شوی و او سوال کونکي هم د دې صورت په باره کې سوال کړی و چې ايا دا رياستونه د دې حديث مصداق دي او که نه؟

دريم: دې وروسته منظر ذهن کې ساتلو سره د تهانوي رحمه الله په فتوا باندې غور وکړئ. هغه ليکي:

"**د حکومت درې قسمونه دي: يو قسم** هغه چې تام هم وي او عام هم وي. د تام نه مراد چې حاکم يې بانفراده خود مختار وي. يعنې د هغه حکومت شخصي وي او د هغه په حکم کې د يو حاکم د منظورې ضرورت نه وي، اګر چې د هغه حاکم کيدل په دې باندې موقوف وي او عام دا چې د هغه محکوم څه محدود او قليل جماعت نه وي.

دويم قسم : هغه دی چې تام وي خو عام نه وي.

دريم قسم : چې عام وي خو تام نه وي.

د اول مثال : د يوې ښځې بادشاهي يا رياست بطرز مذکور شخصي وي.

د دويم مثال : يوه ښځه د يو مختصر جماعت منتظم پرته د شرکت نه وي

د دريم مثال : د يوې ښځې سلطنت جمهوري وي چې په هغې کې والي صوري په حقيقت کې والي نه وي، بلکې د مشورې يو رکن وي او والي حقيقي د مشيرانو مجموعه ده. د حديث په الفاظو کې غور کولو نه معلوميږي چې مراد په حديث کې اول قسم دی. (امداد الفتاوی ج ۵ ص ۹۹)

د حضرت ددې تحرير نه واضحه ده چې يوازې داسې رياستونه د حديث مذکور د وعيد نه مستثنی دی چې په هغه کې د رياست د والي ښځو حيثيت يوازې د يو مشير يا رکن مشوره وي او د نفاذ اختيارات د هغوی په لاسونو کې نه وي، نودهغه وجه ذکر کولو سره حضرت فرمايي : او راز په دې کې دادی چې حقيقت د دې حکومت يوازې مشوره ده او ښځه د مشورې اهل ده. (ص ۱۰۰)

اوس دا کتل دي چې په پاکستان کې د وزارت عظمي جليل القدر منصب يوازې د مشير يا د رکن مشوره حيثيت لري؟ که د دې جواب په نفي کې وي (او يقينا په نفي کې دی)، نو د حضرت د ليکلو نه استدلال کونکي حضرات دې خپله انصاف وکړي چې د هغه استدلال څومره صحيح دی. ؟

په پاکستان کې چې کوم پارليماني نظام نافذ دی، په دې کې د وزير اعظم منصب بې اختياره قسم يوازې علامتي منصب نه دی، بلکې وزير اعظم د ملک د حکومت او انتظاميه بااقتدار او خود مختار سربراه دی د آئين او قانون په دائره کې اوسيدو سره ورته په ملکي نظم او نسق باندې مکمل کنټرول حاصل دی، هغه د خپلې کابينه په تشکيل کې ازاد او خود مختار دی او د ټولو شعبو او وزارتونو د کارکردګي ذمه دار دی، هغه د خپلې کابينه سره مشوره ضرور کوي، خو د څه مشورې پابند نه دی، هغه چې کوم وزير يا مشير څه وخت غواړي د هغه د منصب نه فارغ کولی شي، له دې وجې د هغه ټول وزيران او مشيران د هغه د رايې او خواهش خلاف هيڅ فيصله نه شي کولی، بلکې په خپل هر حرکت او عمل کې د وزيراعظم د سترګو او ورځو په اشارو باندې نظر کوي او د يو داسې اقدام جرأت نه شي کولی چې د وزيراعظم په نازک طبيعت باندې الله پاک مه کړه بوج شي همدا وجه ده چې په عرف عام کې هم دا ګڼل کيږي چې په ملک کې د وزير اعظم حکومت دې وويل شي چې د فلاني وزيراعظم په دور حکومت کې داسې وشو.

هر چې د قانون سازي تعلق دی، ټول پوهیږي چې وزیراعظم ته په قانون ساز ادارو کې د اکثریتي پارټۍ لیډر او قائد ایوان ویل کیږي، هغه ډیر په اساني سره خپلې رایې او خواهش ته د قانون شکل ورکولو سره په قانون ساز اداره باندې منظوروي، د خپلې پارټۍ په افرادو او ارکانو باندې د هغه اعتماد وي چې هغوی به د هغه مخالفت نه کوي، خو که څه وخت داسې قسم ویره پیدا شي، نو د خپلې پارټۍ په نوم باندې خاص هدایت (حکم) جاري کولی شي او د هغه هدایت د جاري کولو نه وروسته د پارټۍ یو رکن ته هم د وزیراعظم د خواهش خلاف د خبرې کولو ګنجائش باقي نه پاتې کیږي.

په دې سلسله کې یو ښکلی مثال په هندوستان کې د مسلم پرسنل لاء (د مسلمانانو عائلي قوانین) په معامله کې پیښ شو، د هغه تفصیلات د مولانا ابو الحسن علي ندوی رحمه الله خپله لیکلي د ژوند حالات "کاروان زندګي" حصه سوم، باب چارم کې کتل کیدای شي. مختصر دا چې د مسلمانانو د تحریک او د سخت کوشش او محنت په نتیجه کې وزیراعظم راجیوګاندي دې ته تیار شو چې حکومت به دا قوانین د بل په شکل کې په اسمبلۍ کې منظوروي، چې په اسمبلۍ کې د بل دوراندې کیدو مرحله راغله، نو د هندوستان متعصب پریس د دې بل خلاف زهر خورول او په اسمبلۍ کې هم د مسلمانانو خلاف د تعصب فضاء وه له دې وجې سخته خطره وه چې هندوان او تش په نوم مسلمانان به د دې بل مخالفت وکړي.

مولانا ابوالحسن ندوي رحمه الله لیکي : وزیراعظم حکم جاري کړ چې د پارټۍ هر ممبر ته ددې تائید کول دي، د مخالفت په صورت کې به هغه د پارټۍ نه ویستل کیږي، که پرته د عذر نه یو ممبر په اجلاس کې شریک نه شو، نو هغه به هم خارجیږي. (کاروان زندګی ج ٣ ص ١٤١)

د وزیراعظم ددې حکم نتیجه دا شوه چې په بل باندې د بحث کولو نه وروسته :

د شپې درې بجې ووټونه وشو او د بل په مخالفت کې د څلور پنځوس ووټونو په مقابله کې د بل په حمایت کې ٣٧٢ ووټونه راغلل، د بل په کامیابي باندې سترې شویو کانګریسي ممبران پارلیمنټ د خپلې خوشالي اظهار وکړ، بل طرف ته د اپوزیشن یعنې بل مخالف ممبران سترې د هال نه بهر روان و. (ایضا ص ١٤٧)

دا صحیح ده چې په اسمبلۍ کې حزب اختلاف هم موجود وي او هغه د اقتدار مست هاتهي په قابو ساتلو کې موثر کردار ادا کوي، خو اکثر او بیشتر دا وي چې د حزب اختلاف د سختو تقریرونو او د ټولې شور او غوغا باوجود وزیراعظم د خپل اکثریت په نشه کې حزب اختلاف په خاطر کې هم نه راولي او هغه د خپل اکثریت له وجې چې څه قانون غواړي منظوروي لړې ولې خي؟ د حزب اختلاف لائق صد احترام قائد د ایوان نه بهر غورځولو سره د خپلې خوښې د قانون منظورلو تماشه خو خپله زمونږ په ملک کې ښودل شوې ده.

خلاصه دا چې په جمهوري حکومت کې وزیراعظم څه بې اختیاره نمائشي بت نه وي، بلکې بااختیار صاحب حکومت، د انتظامیه حاکم اعلی او د پوره ملک بادشاه شمارل کیږي او د

قانون سازي په دائره کې هم هغه تقریبا خود مختار وي، د اکثریتي پارټۍ د لیډر کیدو له وجې نه چې څه قانون غواړي نافذ کولی یې شي او که هغه ته په ایوان کې د ۳/۲ اکثریت حمایت حاصل وي، نو ائین کې هم تبدیلي کولی شي.
ددې حقائقو مخې ته د کینښودو نه وروسته ثوک ویلی شي چې د وزیراعظم منصب یوازې د والي صوري منصب دی، له دې وجې د حضرت تهانوي رحمه الله ددې فتوا اطلاق په دې باندې هم کیږي، چې په هغه کې ویل شوي دي چې:
"والي صوري په حقیقت کې یو والی نه دی، بلکې د مشورې رکن دی."
"راز په دې کې دادی چې حقیقت ددې حکومت یوازې د مشورې دې او ښځه د مشورې اهل ده."
کومو حضراتو چې د ښځې د وزارت عظمی له پاره د حضرت تهانوي رحمه الله ددې فتوا نه د استدلال کولو کوشش کړی دی، د هغوی په خدمت کې ددې نه پرته څه ویل کیدای شي چې:
"سخن شناس نه دلبرا خطا اینجا است"

۱۰: ایا ښځه قاضي جوړیدای شي؟

ځیني حضراتو دا استدلال کړی دی چې د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد ښځه قاضي جوړیدای شي، نو وزیراعظم ولې نه شي جوړیدای؟
د دې حضراتو په خدمت کې عرض دی چې د هغوی په استدلال کې دوه غلطیانې دي:
اول: دا چې د امام ابوحنیفه رحمه الله نه نقل دي چې د حدود او قصاص نه پرته په باقي امورو کې دښځې قاضي جوړیدل صحیح دي، ددې دا معنا نه ده چې ښځه په عهده قضاء باندې مقررول هم جائز دي. بلکې مطلب دادی چې ښځه د شهادت اهل ده او هغې ته في الجملة ولایت حاصل دی، له دې وجې که هغه بالفرض قاضي جوړه شي یا یې دوه ډلې په یوه فیصله کې حکم ومني، نو د حدود او قصاص نه پرته په نورو امورو کې به د هغې فیصله نافذه وي، په دې شرط چې هغه فیصله د شریعت مطابق وي، دا مطلب نه دی چې دښځه قاضي جوړول هم صحیح دي، نه! بلکې که د یو ښځې نه قاضي جوړه شي، نو جوړونکي به هم گناه گار وي او منصب قضاء قبلونکي به هم گناه گاره وي، نود حکیم الامت حضرت تهانوي رحمه الله عبارت پورته تیر شوی دی چې:
"حضرات فقهاء په امامت کبری کې سړیتوب (سړي کیدل) د صحت شرط او په قضاء کې اګر چې دصحت شرط نه دی، خو د گناه نه د بچ کیدو شرط یې مقرر فرمایلی دی. (امداد الفتاوی ج ۵، ص ۱۰۰)
د حضرت حکیم الامت ددې الفاظو نه معلومه شوه چې ښځه قاضي جوړول د فقهاء احناف په نزد هم گناه ده، خود هغې د قاضي جوړیدو نه وروسته به د هغې فیصله پرته د حدود او قصاص نه نافذه وي، ابوبکربن العربي رحمه الله هم دامام صاحب رحمه الله دقول همدا توجیه کړې ده. هغه لیکي:

﴿ وَنُقِلَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَرِيرٍ الطَّبَرِيِّ إمَامِ الدِّينِ أَنَّهُ يَجُوزُ أَنْ تَكُونَ الْمَرْأَةُ قَاضِيَةً ؛ وَلَمْ يَصِحَّ ذَلِكَ عَنْهُ ؛ وَلَعَلَّهُ كَمَا نُقِلَ عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ أَنَّهَا [إنَّمَا] تَقْضِي فِيمَا تَشْهَدُ فِيهِ، وَلَيْسَ بِأَنْ تَكُونَ قَاضِيَةً عَلَى الْإِطْلَاقِ، وَلَا بِأَنْ يُكْتَبَ لَهَا مَنْشُورٌ بِأَنَّ فُلَانَةَ مُقَدَّمَةٌ عَلَى الْحُكْمِ، إلَّا فِي الدِّمَاءِ وَالنِّكَاحِ، وَإِنَّمَا ذَلِكَ كَسَبِيلِ التَّحْكِيمِ أَوْ الِاسْتِبَانَةِ فِي الْقَضِيَّةِ الْوَاحِدَةِ، بِدَلِيلِ قَوْلِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : { لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ امْرَأَةً } وَهَذَا هُوَ الظَّنُّ بِأَبِي حَنِيفَةَ وَابْنِ جَرِيرٍ ﴾

(احكام القرآن ج ۳ ص ۱۴۵۷)

ترجمه د امام محمد بن جرير طبري رحمه الله نه نقل شوي دي چې د ښځې قاضي كيدل صحيح دي، خو دا نقل صحيح نه دی، كيدای شي دا هم داسې وي لكه چې د امام ابوحنيفه رحمه الله نه نقل شوي دي چې ښځه په كومو امورو كې شهادت وركولی شي، په هغو كې فيصله هم كولی شي، ددې مطلب دا نه دی چې هغه دې على الاطلاق قاضي جوړه شي، يا دا چې د هغې په نوم باندې اجازه نامه جاري شي چې فلانۍ ښځه پرته د حدود او نكاح نه په منصب د عدالت باندې تاكل كيدای شي، دښځې د فيصلې د صحيح كيدو بس هم دا صورت كيدای شي چې په يو معامله كې دواړه ډلې هغه (حكم) دريم كړې جوړه كړي، يا كله په څه قضيه كې هغه نائب جوړه شي ځكه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد دی چې : هغه قوم به كله هم فلاح بيا نه مومي چا چې د حكومت امر ښځې ته وسپاره د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام ابن جرير رحمه الله په باره كې هم دا گمان كيدلی شي.

د امام صاحب رحمه الله د قول تقريبا هم دا توجيه شيخ ابوحيان رحمه الله په البحر المحيط (ج ۷ ص ۶۷) كې كړې ده، كومه چې صاحب د روح المعاني هم نقل كړې ده. (روح المعانى ج ۱۹ ص ۱۸۹. ۱۹۰)

په درمختار كې دي : ﴿ والمراة تقضى فى غير حد وقود وان اثم المولى لها، لخبر البخارى : لن يفلح قوم ولوا امرهم امراة ﴾ (رد المحتار ج ۵ ص ۴۴۰)

ترجمه او ښځه پرته د حدود او قصاص نه فيصله كولی شي، اگر چې ښځه قاضي جوړونكي به گناه گار وي ځكه چې د بخاري په حديث كې دي، هغه قوم به كله هم كامياب نه شي چا چې ښځې ته خپل معاملات وسپارل

علامه ابن الهمام په فتح القدير كې ليكي :

﴿ (قَوْلُهُ وَيَجُوزُ قَضَاءُ الْمَرْأَةِ فِي كُلِّ شَيْءٍ إلَّا فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ) وَقَالَ الْأَئِمَّةُ الثَّلَاثَةُ : لَا يَجُوزُ لِأَنَّ الْمَرْأَةَ نَاقِصَةُ الْعَقْلِ لَيْسَتْ أَهْلًا لِلْخُصُومَةِ مَعَ الرِّجَالِ فِي مَحَافِلِ الْخُصُومِ. قَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ { لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ امْرَأَةً } رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَالْجَوَابُ أَنَّ مَا ذَكَرَ غَايَةُ مَا يُفِيدُ مَنْعَ أَنْ تَسْتَقْضِيَ وَعَدَمُ حِلِّهِ، وَالْكَلَامُ فِيمَا لَوْ وُلِّيَتْ وَأَثِمَ الْمُقَلِّدُ بِذَلِكَ أَوْ حَكَّمَهَا خَصْمَانِ فَقَضَتْ قَضَاءً

مُوَافِقًا لِدِينِ اللّٰهِ أَكَانَ يَنْفُذُ أَمْ لَا؟ لَمْ يَنْتَهِضِ الدَّلِيلُ عَلَى نَفْيِهِ بَعْدَ مُوَافَقَتِهِ مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ اِلَّا أَنْ يَثْبُتَ شَرْعًا سَلْبُ أَهْلِيَّتِهَا. وَلَيْسَ فِي الشَّرْعِ سِوَى نُقْصَانِ عَقْلِهَا. وَمَعْلُومٌ أَنَّهُ لَمْ يَصِلْ إِلَى حَدِّ سَلْبِ وِلَايَتِهَا بِالْكُلِّيَّةِ ؛ أَلَا تَرَى أَنَّهَا تَصْلُحُ شَاهِدَةً وَنَاظِرَةً فِي الْأَوْقَافِ وَوَصِيَّةً عَلَى الْيَتَامَى وَذٰلِكَ النُّقْصَانُ بِالنِّسْبَةِ وَالْإِضَافَةِ. ثُمَّ هُوَ مَنْسُوبٌ إِلَى الْجِنْسِ فَجَازَ فِي الْفَرْدِ خِلَافُهُ ؛ أَلَا تَرَى إِلَى تَصْرِيحِهِمْ بِصِدْقِ قَوْلِنَا : الرَّجُلُ خَيْرٌ مِنَ الْمَرْأَةِ مَعَ جَوَازِ كَوْنِ بَعْضِ أَفْرَادِ النِّسَاءِ خَيْرًا مِنْ بَعْضِ أَفْرَادِ الرِّجَالِ. وَلِذٰلِكَ النَّقْصِ الْغَرِيزِيِّ نَسَبَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَنْ يُوَلِّيهِنَّ عَدَمَ الْفَلَاحِ. فَكَانَ الْحَدِيثُ مُتَعَرِّضًا لِلْمُوَلِّينَ وَلَهُنَّ بِنَقْصِ الْحَالِ. وَهٰذَا حَقٌّ لٰكِنَّ الْكَلَامَ فِيمَا لَوْ وُلِّيَتْ فَقَضَتْ بِالْحَقِّ لِمَاذَا يَبْطُلُ ذٰلِكَ الْحَقُّ ﴾

ترجمه : مصنف رحمه الله فرمايي چې دښځې قضاء په هر شي کې صحيح ده، خو په حدود او قصاص کې نه او ائمة ثلاثه (امام مالک، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله) فرمايي چې صحيح نه ده، ځکه چې ښځه ناقص العقل ده، هغه د جګړو په محفلونو کې د سړيو د جګړو اهل نه ده، د رسول الله ﷺ ارشاد دی: هغه قوم به هرګز کامياب نه شي چا چې خپل معاملات ښځو ته وسپارل. (صحيح بخاری) او جواب دادی چې کوم دلائل ذکر شوي دي د هغه نه چې زيات نه زيات کوم شی ثابتيږي هغه دا چې د ښځه قاضي جوړول منع دي حلال نه دي او زموږ خبره په هغه صورت کې ده چې ښځه قاضي جوړه شوه او د جوړولو والا به ګناه ګار شوې وي او دوه ډلو دهغې نه حکم دريم ګړې، جوړه کړه او ښځې داسې فيصله وکړه کومه چې د ``ما انزل الله،، عين مطابق هم ده، نوايا دا فيصله به نافذه وي اوکه نه؟ ددې په نفي باندې هيڅ دليل نه دی قائم شوی، حال دا چې دا فيصله د ما انزل الله موافق هم ده او دا د فيصلې عدم نفاذ ددې نه پرته نه شي کيدای چې ثابته شي چې شرعا د هغې اهليت مسلوب دی او په شرع کې يوازې د ښځې ناقص العقل کيدل ثابت دي او ټول پوهيږي چې د هغې د عقل نقصان دومره نه دی چې د هغې ولايت په کلي ډول سلب کړي، ګورئ نه چې ښځه ګواه جوړيدای شي. د اوقاف نګران جوړيدای شي او د يتيم وصي جوړيدای شي دښځو ناقص العقل کيدل د سړيو په نسبت دي، بيا دا د عقل نقصان منسوب دی د جنس طرف ته، لهذا په يو فرد کې ددې خلاف هم کيدای شي، ايا ګورئ نه چې دا مقوله بالکل رښتينې ګڼلې شوې ده چې سړی د ښځې نه غوره دی، حال دا چې ځينې ښځې دځينو سړيو نه غوره کيدای شي او د ښځو ددې فطري او خلقي نقص په بناء رسول الله ﷺ عدم فلاح هغو خلکو طرف ته منسوب کړی دی ځوک چې د هغې نه والي جوړه کړي، نو حديث د هغې والي جوړونکو په حق کې د عدم فلاح او د ښځو په حق کې د نقص حال فيصله فرمايلې ده او دا فيصله برحق ده، خو زموږ خبره په دې کې نه ده. بلکې خبره په هغه صورت کې ده چې ښځې نه قاضي جوړه شوې وي، بيا هغه د حق مطابق فيصله وکړي،

نو دا حق به باطل ولې شي؟

د اکابرینو ددې تصریحاتو نه معلومه شوه چې د امام ابوحنیفهرحمه الله په نزد د هرې یوې ښځې نه قاضي جوړول جائز نه دي، بلکې حرام دي او داسې کونکي ګناه ګار دي. خوښځه اهل شهادت ده، له دې وجې که هغې فیصله وکړه، په دې شرط چې هغه فیصله د شریعت مطابق وي، نو هغه به نافذه شي.

دویم: ددې حضراتو په استدلال کې دویمه غلطي داده چې هغوی قیاس وکړ چې ښځه هر کله قاضي جوړیدای شي، نو حکمرانه هم جوړیدای شي، حال دا چې اول خو دا قیاس د قرآن او سنت او اجماع د خلاف کیدو له وجې نه مردود دی ددې نه پرته د ملک د حکمراني له پاره ولایت مطلقه شرط دی، کوم چې په ښځې کې د نقصان عقل او نقصان دین له وجې نه موندل کیږي، حال دا چې د قضاء له پاره یوازې اهل شهادت کیدل شرط دي، له دې وجې امامت کبری په قضاء باندې قیاس کول غلط دي، خلاصه دا چې ښځه د وزیراعظم په منصب باندې فائز کول صحیح نه دي، بلکې د هغې عزل واجب دی.

مار تیر شوی دی د پټي ورانولو څه فائده!

ځینې حضرات فرمایي چې:

"مار تیر شوی دی اوس د پټې ورانولو کې څه فائده ده؟ چې څه کیدل هغسې وشو، که ښه وي او که بد، اوس د علماء کرامو واویلا کول د وخت نه وروسته ده.

د هغوی په خدمت کې عرض دی چې په اهل علم باندې فرض دي چې هغوی د الله پاک ددین صحیح مسئله خلکو ته بیانوي او که څه غلط یا منکر رواج وومومي، نو د خپل طاقت د حده پورې دې د هغه خلاف جهاد کوي او قوم دې د اصلاح طرف متوجه کړي، یو منکر لیدو سره په هغه باندې سکوت اختیارول د هغوی له پاره جائز نه دي، بلکې اصول دادي چې کله د دین د یو منل شوي روایت نه خلاف کیږي، نو په اهل علم باندې څه فرض راځي؟ شاه ولي الله محدث دهلويرحمه الله په حجة الله البالغة کې د غلطو رسمونو د رائج کیدو په اسبابو باندې خبره کولو سره لیکلي دي:

"او د بدو رسمونو د پیدا کیدو وجه دا وي چې کله هغه خلک سرداران وي چې په چا باندې جزیي رایې غالب وي او د مصالح کلیه نه لرې وي، نو هغوی د درندګانو په شان کارونه شروع کړي...... د هغوی د وجاهت او دبدبې له وجې نه څوک هم هغوی ته بد نه شي ویلی، ددې نه وروسته فاسقان فاجران خلک پیدا شي، هغه د هغوی تابعداري کوي او د هغوی مدد کوي او د هغوی په اعمالو خوږولو کې ډیر لوی کوشش کوي اوبیا یوقوم داسې راځي چې دهغوی په زړونوکې نه داعمال صالحه قوی میلان وي، نه د اعمال فاسده، نود خپلو رئیسانو حالت لیدو لیدو سره په هغوی کې هم د هغه امورو کول پیدا شي او کله هغوی ته د نیکو خبرو پته هم نه لګیږي او د داسې خاندانونو په اخر کې داسې خلک باقي پاتې شي چې د هغوی

فطرتونه برابر وي او هغوی دوی سره تعلق نه ساتي او د غوسې په حالت کې خاموش اوسيږي، نود هغوی په خاموشي سره بد رسمونه قائم او مستحکم شي، په کامل العقل خلکو فرض دي چې په حق خورولو اوجاري ساتلوکې اود باطل په نابود کولو کې پوره کوشش وکړي او ډير کرت دا خبره پرته د جګړې او جنګونو نه ممکن نه وي، نودا جنګ جنګ جګړې به د ټولو نيکو کارونو نه افضل شمارل کيږي. (حجة الله البالغة مترجم ج ۱ ص ۱۰۰)

د يوې ښځې په اسلامي حکومت کې سربراه کيدل هم يو بد رسم دی، خو کوم خلک چې د حضرت شاه صاحب رحمه الله په قول د مصالح کليه نه بعيد دي، هغوی په دې باندې فخر کوي چې پاکستان اولنی اسلامي ملک دی چا چې په تاريخ کې يوې ښځې ته د وزيراعظم جوړولو شرف ورکړ، که د دې حضراتو نظر ژور وي، نو هغوی ته به صفا ښکاريده چې دا امر د پاکستان له پاره لائق فخر نه دی، بلکې لائق شرم دی چې هغه د قرآن او حديث د تصريحاتو خلاف او د امت اسلاميه د اجماعي فيصلې علی الرغم د تاريخ د يو مسلمه روايت د ماتولو جرأت کړی دی، په پاکستان ددې بدعت سيئه اختراع او منکر او بد رسم اجراء د امت اسلاميه سر د شرم نه د ښکته کولو له پاره کافي دي، ددې بدعت جاري کونکي ګناه ګار دي، د دې بدي زائله کول د امت اسلاميه فرض دي او ددې بدی خلاف جهاد د حضرت شاه صاحب په قول افضل ترين عبادت دی.

د شجرة الدر حکومت

ځينو خلکو د شجرة الدر د حکومت حواله هم وړاندې کړې ده، په دې سلسله کې د مولوي محمد عمران اشرف عثماني يو مضمون په البلاغ کې شائع شوی دی کوم چې د ضميمه په ډول دلته نقل کيږي:

دښځې د مشري د جواز متعلق په حال کې د ځينو حضراتو څو بيانات شائع شوي و او په دې سلسله کې يو دليل دا هم ورکړل شوی و چې : "شجرة الدر نومې يوه ښځه د مصر حاکمه جوړه شوې وه، کوم چې د مسلمانانو مشهور ملک دی او چا هم په هغې باندې تنقيد ونکړ او هغه ښه په ښکلي انداز باندې د ملک د چلولو فرائض پوره کړل.

لاندې موږ د شجرة الدر حالات وړاندې کوو چې دا فيصله وشي چې ايا دا قسم حکمرانه ښځه (يعنې شجرة الدر) په منصب حکومت باندې د فائز کيدو نه څه شرعي استدلال کيدای شي اوکه نه؟

شجرة الدر په شروع کې يو ښکلې مينځه وه، چا سره چې وروسته د مصر د بني ايوب خاندان اتم بادشاه ملک صالح (نجم الدين ايوب ابن الکامل بن محمد بن العادل الکبير) نکاح کړې وه، د هغې نه يو ماشوم پيدا شو چې د هغه نوم خليل کينبودل شو، هم له دې وجې شجرة الدر ته ام خليل وايي، څه موده وروسته ملک صالح وفات شو.

شجرة الدر فطرتا يوه ذهينه ښځه وه، د بادشاه مرګ هغې د عام خلکو نه پټ کړ او د سلطنت مشران يې راجمع کړل او هغوی ته يې وويل چې هغه وفات شوی دی او هغه خپل خليفه خپل زوی توارن شاه نامزد کړی دی او توارن شاه چې لا اوس په سفر دی زه هغه راغواړم. تاسو د هغه د اطاعت حلف اوچت کړئ، بل طرف ته يې د توارن شاه د راوستلو له پاره يو غلام وليږه، چې کله هغه منصوره ته ورسيد، نو شجرة الدر د خپل ځينې بحري کارکونکو په ذريعه توارن شاه قتل او قتل يې هم داسې په بې دردي کړ چې په اول ګزار باندې د هغه ګوتې پرې شوې، بيا په هغه باندې ګرم تيل واچول شو او هغه چغې وهلې چې زما بادشاهي او سلطنت نه دی پکار. (فواة الوفياة لابن شاكر الكتبي ج ۱ ص ۲۶۴)

د توارن شاه د قتل ددې سازش چاته هم علم ونه شو او په شجرة الدر باندې د دې سازش ددې له وجې شبه ونه شوه چې هغې په ظاهره خو د هغه د بادشاهي له پاره کوششونه کړي وو.

د توارن شاه د قتل واقعه په محرم (۶۴۸) هجري کې پيښه شوه او له هغه نه وروسته په ۲ صفر (۶۴۸) هجري کې شجرة الدر بادشاه جوړه شوه، دا په مملکت مصر کې د بني ايوب خاندان نهمه حکمرانه وه، شجرة الدر بادشاهي سنبهالولو نه وروسته عز الدين ايبک سپه سالار مقرر کړ. هغې د اميرانو او عوامو د خوشالولو له پاره لوی لوی وظائف مقرر کړل او د لويو لويو ځمکو جاګيرونه يې ورکړل او په هغوی باندې يې د دولت باران وکړ، په دې طريقه د خلکو خولې بندې شوې. (اعلام النساء ج ۲ ص ۲۸۸)

چې کله د وخت خليفه ابوجعفر مستنصر بالله کوم چې په بغداد کې و ته دا خبر ورسيدو چې اهل مصر بادشاهي يوې ښځې ته سپارلې ده، نو هغه د مصر د اميرانو په نوم يو پيغام وليږه

﴿ اعلمونا ان كان بقى عندكم فى مصر من الرجال من يصلح للسلطنة فنحن نرسل لكم من يصلح لها. اما سمعتم فى الحديث عن رسول الله صلى الله عليه وسلم انه قال: لا افلح القوم ولوا امرهم امراة ﴾

ترجمه: اې اهل مصر! موږ ته وښايئ چې ايا تاسو سره داسې سړي باقي نه دي پاتې شوي چې بادشاهي د سنبهالولو اهليت لري؟ که داسې وي، نو موږ يو داسې سړی درلېږو چې د بادشاهي د سنبهالولو اهليت لري، ايا تاسو حديث نبوي ﷺ نه دې اوريدلی چې رسول الله ﷺ فرمايي: **﴿ لا افلح القوم الخ ﴾** يعنې هغه قوم کله هم نه شي کاميابيدای چا چې خپل معاملات يوې ښځې ته وسپارل.

مورخين د دې خط د نقل کولو نه وروسته ليکي:

﴿ وانكر عليهم انكارا عظيما وهددهم وحضهم على الرجوع عن توليتها مصر ﴾

ترجمه: او مستنصر بالله په هغوی باندې سخت نکير وکړ او هغوی يې وويرول او د دې خبرې

ترغیب یې ورکړ چې هغوی دې د مصر مشري له ښځې نه واپس واخلي
چې کله د دې پیغام خبر شجرة الدر ته ورسید، نو هغې په خوشالي باندې خپل خان معزول کړ او امیرانو او قاضیانو ته یې حکم وکړ چې عز الدین ایبک کوم چې مخکې سپه سالار و هغه دې زما په ځای بادشاه شي او ورسره یې ددې خواهش هم اظهار وکړ چې هغه د عز الدین ایبک سره نکاح کول غواړي، نوعز الدین حاکم شو او هغه د شجرة الدر سره نکاح هم وکړه.
شجرة الدر چې کوم وخت معزوله شوه هغه وخت د هغوی حکومت قائم شوی لا اوسه پورې درې میاشتې هم نه وې شوې، ګویا د بني ایوب خاندان ددې ښځې حاکم تول حکومت د درې میاشتو نه هم کم و، ددې نه وروسته عز الدین ایبک د مصر په ترکي حکمرانانو کې اول حکمران و کوم چې په اخر د ربیع الاول (٦۴٨هـ) کې برسراقتدار راغی. د هغه لقب ملک عزیز و، خو د هغه حکمراني هم په څو ورځو باندې محیط وه، ځکه چې هغه قتل شو او د هغه قاتل هم د هغه ښځه شجرة الدر وه، ځکه چې هغې ته څه داسې خبر رسیدلی و چې د هغې خاوند د موصل د والي ملک الرحیم (بدر الدین لؤلؤ) د لور سره نکاح کول غواړي. ددې شبهې له وجې نه هغې د خپل خاوند د قتل سازش ډیر په خفیه طریقې سره تیار کړ، په داسې طریقه چې اول هغه خپل خصوصي معتمد صفي الدین ابراهیم بن مرزوق راطلب کړ او په هغه باندې یې د مال او دولت د ورکړې وعده وکړه، هغه ددې حکم د تعمیل وعده وکړه او منصوبه تیاره شوه، نود سې شنبې په ورځ په (٢٣) ربیع الاول (٦۴٨) هجري کې چې عز الدین ماښام د غونډسکي لوبولو نه بیرته قلعه ته راغلو او د غسل په غرض حمام ته ننوت. نو په هغه باندې څه افراد ورغلل او هغه یې دهغه د مرۍ خفه کولو سره قتل کړ.
د قتل نه وروسته شجرة الدر ابن مرزوق راطلب کړ او هغه ته یې د قتل خبر ورکړ. نو هغه سخت غوسه شو او هغه وویل چې ما خو ته ډیر مخکې ددې نه منع کړې وې اوس زه هیڅ نه شم کولی، نو شجرة پریشانه کیدو سره خپل دوه معتمد امیر جمال الدین بن ایدغدي بن عبدالله عزیزي او عز الدین ایبک حلبي راطلب کړل او هغوی ته یې بادشاهي وړاندې کړه، هغوی هم انکار وکړ، دغه شان دا پوره هفته په دې پریشاني کې تیره شوه، د بلې دوشنبې په ورځ په (٢٩) ربیع الاول (٦۴٨) هجري کې هغې خپل ځان د عز الدین وارثانو ته حواله کولو سره تاج او تخت هم هغوی ته حواله کړ او شجرة الدر ګرفتاره شوه، دغه شان هغه د دار السلطنت نه په برج احمر کې قید شوه، په دې دوران کې د مملکت حاکم منصور جوړ شو، کوم چې د ملک معز الدین (هغه ته عز الدین او معز الدین دواړه ویل کیږي) زوی و
بل طرف ته د معز الدین ایبک د خپلوانو او عوامولـه طرف نه مطالبات شروع شو چې شجرة الدرر او قاتلین معز دې قتل شي او د هغوی نه دې قصاص واخیستل شي. خو شجرة د صالحي خاندان یو فرد و، له دې وجې صالحي خاندان (کوم چې مخکې د ملک مصر حاکمان پاتې شوي و) د شجرة الدر حمایت وکړ او هغه یې د قتل کولو نه بچ کړه او د هغې مخالف

اميرانو نه يې قسم واخيست چې شجرة سره به هيڅ کار نه لري، خو دې حمايت ډير کار ونکړ، او دهفتې په ورځ په (۱۱) ربيع الثاني باندې شجرة الدر د قلعه نه بهر قتل شوې پيدا شوه. د قتل نه مخکې شجرة خپل ټول مال او متاع او قيمتي جواهر د دې ويرې له وجې نه اوسيزل چې ملک منصور بن معز او د هغه مور په دې باندې قابض نه شي ځکه چې د هغې ددې دواړو نه نفرت و.

شجرة الدر هم په هغه مقبره کې دفن شوه کومه چې هغې په خپل عهد حکومت کې د ځان له پاره جوړه کړې وه او دا مقبره په مصر (قاهره) کې د سيده نفيسه (کوم چې د سيدنا حسن رضي الله عنه لمسۍ يا کړوسۍ ده) د مقبرې په خوا کې واقع ده.

(د تفصيل له پاره وګورئ: **اعلام النساء ج ۲ ص ۲۸۶، مراة الجنان لليافعي ج ٤ ص ۱۲۷، فواة الوفيات لابن شاكر الكتبي ج۱ ص ۲٦٤**)

د دې واقعې نه واضحه شوه چې:

۱: شجرة الدر د سازش په ذريعه د وفات شده بادشاه زوی قتل کولو سره په ناجائز طريقې برسراقتدار راغله.

۲: خليفه وخت د ښځې په حکمراني باندې سخت اعتراض وکړ او د حديث نبوي ﷺ په حوالې سره يې د دې ناجائز اقدام نه د منع کيدو تاکيد وکړ.

۳: د خليفه وخت دلائل دومره مضبوط و چې خپله شجرة الدر استعفا ورکړه.

۴: اخر هغې خپل سپه سالار ته بادشاهي وسپارله او د بادشاه کيدو په ځای يې د بادشاه ښځه کيدو ته ترجيح ورکړه او وروسته يې هغه هم قتل کړ، چې د هغې په نتيجه کې خپله هم قتل شوه.

ايا د واقعې د دې تفصيلاتو نه وروسته به څوک پوه انسان ددې واقعې نه د قرآن او سنت د صريح احکاماتو خلاف د ښځې د حکمراني په جواز باندې استدلال وکړای شي؟

ونعوذ بالله من الحور بعد الكور ومن امارة السفهاء والنساء والغلمان!

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد النبي الامي واله وصحبه واتباعه وبارک وسلم

د ميرمنې مشرې د جناب کوثر نيازي په جواب کې

سوال: مکرم و محترم جناب حضرت مولانا محمد يوسف لدهيانوي صاحب مد ظله العالی. السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

ما ستاسو رساله "د ښځې مشري" لوستلې وه، چې په هغه سره مې ددې موضوع متعلق شبهات ختم شو، خو نن په جنګ اخبار (۲۵ اکتوبر ۱۹۹۳ء) کې مولانا کوثر نيازي صاحب په دې موضوع باندې يو مضمون ليکلی دی، چې د هغه په لوست سره مې بيا لږ پريشاني پيدا شوه. مولانا کوثر نيازي چې کوم مثالونه د ښځو د حکمراني رضيه سلطانه، چاند بي بي او د

شجرة الدر ورکړي دي، هغه ښځې غریبانانې ډیرې ناکامې او د مختصر مودې له پاره مشرانې وې، د هغوی رقابتونه او اخلاقي کمزوري د تاریخ لوستونکو له پاره ډیر د غم دی. د شیکسپیر قول په هغوی باندې صادق راځي "Frailty! Thy name is Woman"
"اې کمزورئ! ستا نوم ښځه دی" درې واړه په بده طریقه قتل شوې. د مولانا کوثر نیازي زیاتر مثالونه د اهل کفر د ښځو دي چې د هغوی په مسلمان معاشرې باندې تطبیق صحیح نه دی.
اهل علم حضرات خو که د هغوی تعلق د علم دین سره وي او که د هغوی مطالعه او مشاهده د سوونو ملکونو په زرګونو کاله تاریخ باندې محیطه وي، د مولانا کوثر نیازي مثالونو ته به د شمیر د هغې څو مستثنیاتو درجه ورکوي، خو زموږ عام مسلمانان، د موصوف د تفسیر او حدیث په شرح سره ضرور د شبهاتو ښکار کیدلی شي، له دې وجې به د جناب عالي په عوامو باندې ډیر احسان وي که تاسو د مولانا کوثر نیازي صاحب د فقهي ارشاداتو تصحیح وفرمایئ. **جزاکم الله احسن الجزاء.**

ډاکټر شهیر الدین علوي، کراچي

جواب: ددې مضمون مختصر جواب مې په جنګ ورځپاڼه (۲) نومبر ۱۹۹۳ء کې لیکلی دی، مفصل جواب په لاندې ډول دی:
ددې مسئلې اهم ترین اړخونه دې عاجز په خپله رساله "د ښځې مشري" کې لیکلي دي. د هغه مطالعه په غور او تدبر سره یو کرت وکړئ، ان شاء الله د شکوکو او شبهاتو پیرى به مو خوا ته هم نه راځي او د همیشه له پاره به درته د دغه پیري نه خلاصون ملاو شي، خو د جناب عالي د خط په حوالې سره د مولانا کوثر نیازي په مضمون باندې د خبرو کولو نه مخکې د څو امورو په ډول د ''اصول موضوعه، ، په ذهن کې ساتل ضروري دي:

لومړی اصل:

څومره چې د رسول اللهﷺ د زمانې نه لرې والی راځي او قیامت رانږدې کیږي، هم په دغه رفتار سره د فتنو باران هم تیزیږي، ددې فتنو په سخت طوفان کې د خلاصون لاره بس یوازې یو شی دی او هغه دا چې د سلف صالحین د تشریحاتو مطابق د کتاب او سنت لمن په مضبوطیا سره ونیول شي او دې باره کې د داسې اولو العزمی او د ایمان د کلک والي مظاهره وشي چې د فتنو په زرګونو طوفانونه هم زموږ ایمان او یقین متزلزل نه کړل شي او د سلف صالحین لمن زموږ د لاسونه ونه وځي. **علیکم بدین العجائز.**

دویم اصل:

دامت ټول فقهاء چې د کتاب او سنت په فهم کې د حجت او سند درجه لري، په دې باندې متفق دي چې یوه ښځه دحکومت مشره جوړول حرام دي، ځکه چې شرعا هغه څنګه د لمونځ د امامت اهلیت نه لري کوم ته چې امامت صغری ویل کیږي، همدغه شان هغه د امامت کبری

يعني د ملک د سربراهي صلاحيت هم نه لري، که يو سړی، د ښځې په اقتداء کې لمونځ ادا کړي، نو د هغه لمونځ نه کيږي، دغه شان که ښځه حاکم اعلی جوړه شي، نو شرعا به د هغې حکومت د منلو قابل نه وي، په دې سلسله کې دې عاجز په خپله رساله کې د اکابرين امت حوالې نقل کړې دي، هغه يو کرت بيا وګورئ.

دريم اصل:

د رسول الله ﷺ فرمان واجب الاذعان برحق دی چې: هغه قوم به هيڅ کله کامياب نه شي چاچې د حکومت واګې يوې ښځه ته وسپارلې، دا حديث دامت ټولو فقهاوو او اکابر ملت قبول کړی دی، د امامت او قضاء په مسائلو کې يې د هغه نه استناد کړی ده او هم په دې باندې يې د خپلې اجماع او اتفاق بنياد ايښی دی او اصول دادي چې کوم حديث د ټول امت فقهاء کرام رحمهم الله قبول کړی وي او په کوم باندې چې د اجماع امت مهر ثبت وي هغه حجت قاطعه جوړيږي او داسې حديث ته د حديث متواتر درجه حاصله وي، امام ابوبکر جصاص رازي په احکام القرآن ج ١ ص ٣٨٦ کې ليکي:

﴿ لان ما تلقاه الناس بالقبول من اخبار الآحاد فهو عندنا فى معنى المتواتر ﴾

کوم خبر واحد چې ټولو خلکو قبول کړی وي هغه زموږ په نزد د متواتر په حکم کې دی، چې هغه له وجې موږ په ډيرو ځايونو کې بيان کړي دي.

نويو داسې حديث چې د ټولو په نزد مسلم الثبوت وي له هغه د انکار هيڅ ګنجائش نه پاتې کيږي او نه د امت مسلم الثبوت مفهوم ته د بدلولو.

څلورم اصل:

په ديني مسائلو کې اجماع امت مستقل حجت شرعيه دی، اګر که ''سند اجماع، ، (يعني د قرآن او حديث نه ددې اجماعي مسئلې ثبوت) موږ ته معلوم نه وي، ځکه چې د رسول الله ﷺ امت په ګمراهي باندې نه شي راجمع کيدلی، نواجماعي مسائل ''سبيل المؤمنين، ، ده او د مسلمانانو لاره پريښودو سره د بلې لارې د خپلولو ګنجائش نه شته، د الله پاک ارشاد دی:

﴿ وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴾ (النساء ١١٥).

او کوم انسان چې د رسول الله ﷺ مخالفت وکړي له هغه نه وروسته چې هغه ته حق واضح شوی دی او د مسلمانانو لار پريښودو سره په بله لاره باندې روان شو، نو موږ به هغه ته چې څه هغه کوي کولو ته پريږدو او هغه به جهنم کې داخل کړو او هغه د ورتلو بد ځای دی.

نوکوم انسان چې د اجماع امت خلاف يو نظريه وړاندې کوي، د هغه نظريه د التفات قابله نه ده، هر سړي ته دداسې نظرياتو نه پناه غوښتل پکار دي چې د هغه نتيجه په دنيا کې د اهل

ايمان د لارې خلاف ورزي او په اخرت کې جهنم وي

پنځم اصل:

د شريعت دلائل، چې د هغو نه د شرعي مسائلو ثبوت وړاندې کيږي، څلور دي.
(۱) کتاب الله. (۲) سنت رسول ﷺ (۳) اجماع امت (۴) د ائمه مجتهدين اجتهاد او استنباط (يعنې قياس)
ددې څلوروشيانو پريښودو سره دبل شي نه شرعي مسائلو باندې استدلال کول صحيح نه دي.

شپږم اصل:

الله پاک ددين قيم د حفاظت وعده کړې ده او د الله پاک د وعدې مطابق دا دين اصولاً او فروعاً الحمد الله ! تر نن وخته پورې محفوظ دی او ان شاء الله تر قيامته پورې به محفوظ وي. په مختلفو زمانو کې د ابوالفضل او فيضي په شان خلکو ددين په مسلمه مسائلو کې د نوې لارو جوړولو کوششونه وکړل، خو الحمد لله! د هغوی کوششونه ناکام شو، که نه، تر نن پورې به دا دين مسخ شوی و. څنګه چې مخکې قومونو خپل دين مسخ کړی و، نن هم چې کوم خلک ددين مسلمه اجماعي مسائل بدلول غواړي اطمينان ساتئ چې د هغوی کوششونه به هم ناکام کيږي او د الله پاک دين به ان شاء الله همدغه شان (په خپل اصل) باندې محفوظ وي.

اووم اصل:

د مومن کار دادی چې که هغه د ګناه نه نه شي بچ کيدلی، نو هغه دې کم نه کم ګناه خو ګناه ګڼي او که د يوې بدي خلاف جهاد نه شي کولی، نو بدي دې بدي وګڼي، دا د ايمان کم نه کم درجه ده. يو ګناه ګناه ګڼلو او يوې بدي د بدي ګڼلو په ځای د هغه د نيکي ثابتولو کوشش کول د ايمان د تقاضې خلاف ده او دا ډير خطرناک حالت دی.

اتم اصل:

کوم سړی چې په يوه غلطي کې اخته وي د هغه وجه يا خو بې خبري او غلط فهمي وي او کله د هغې وجه جهل مرکب وي چې انسان يوه خبره باندې صحيح نه پوهيږي. خو په دې خوش فهمي کې اخته وي چې هغه په دې مسئله باندې پوهيږي، بل څوک پرې نه پوهيږي. په دې دواړو حالتونو کې د څو وجو نه فرق دی:

اول : دا چې ناخبره انسان د حقيقت په تلاش او لټون کې وي او کوم انسان چې په جهل مرکب کې اخته وي هغه باطل حق ګڼلو سره د حق د لټون نه بې پرواه شي.

دويم : دا چې ناخبره انسان ته که صحيح مسئله بيان شي، نو په ډيره شکر سره يې قبلوي، خو دجهل مرکب ناروغ په خپل زړه کې د قبول حق داستعداد دصلاحيت نه لري، له دې وجې هغه په خپله غلطي باندې خبردار کيدو سره دخپلې اصلاح په ځای له غلطي ښکاره کونکو خفه کيږي.

دريم: جهل بسيط يعنې د بې علمي علاج شته او هغه دى اهل علم ته رجوع كول او د هغوى نه صحيح مسئله معلومول لكه چې په قرآن كريم كې دي.

﴿ **فاسئلوا اهل الذكر ان كنتم لا تعلمون** ﴾(النحل : ٤٣)

ترجمه: نوپوښتنه وكړئ دعلم له خاوندانو كه تاسو ته علم نه وي.
او رسول الله ﷺ په يو موقع باندې فرمايلي و:

﴿ **الا سالوا اذا لم يعلموا، فانما شفاء العي السوال** ﴾(ابوداؤد ج ١ ص ٤٩)

ترجمه: چې هغوى ته علم نه و، نو هغوى د چا نه پوښتنه ولې ونه كړه، ځكه چې د جهالت د ناروغۍ علاج خو پوښتنه كول دي.
خو جهل مركب يو لا علاجه ناروغي ده، ددې علاج نه لقمان حكيم سره دى او نه سقراط او بقراط سره، د دنيا ټول علماء فضلاء، غوث او قطب او نبي او ولي د هغه د علاج نه عاجز دي، ددې وجه دا ده چې د ناخبري او لا علمي وجه غفلت ده دويده رابيدارول او د بې علمه خبرول ممكن دي او د جهل مركب وجه تكبر دى، كوم سړى چې په جهل مركب كې اخته وي هغه ته د ﴿ **انا ولا غيرى** ﴾ ناروغي لګيدلې وي او خپل عقل پوره ګڼي او د خپلې رايې په مقابله كې د دنيا د ټولو علماء او عقلاء رايې بيكاره ګڼي، داسې سړى به په څه دليل او كوم منطق باندې پوه شي؟ او په كوم تدبير باندې حق ته راوستلى شي؟
د صحيح مسلم په حديث كې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

﴿ **عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ « لاَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ ». قَالَ رَجُلٌ إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَناً. قَالَ « إِنَّ اللَّهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ »** ﴾ (رواه مسلم) (مشكاة ص ٤٣٣)

ترجمه: داسې سړى به جنت ته داخل نه شي چې د هغه په زړه كې د اورى د دانې برابر تكبر وي، عرض وشو چې يا رسول الله ﷺ يو سړى داخوښوي چې د هغه جامه دې ښه وي او د هغه پيزار دې ښه وي، ايا دا هم تكبر دى؟ ويې فرمايل: نه! دا خو جمال دى، الله پاك خپله د جمال خاوند دى او جمال خوښوي، تكبر دادى چې انسان د حق خبرې د قبلولو نه سركشي وكړي او نورو ته په سپك نظر باندې ګوري.
الغرض د يو انسان په يو شرعي مسئله كې د بې علمي له وجې نه خطاء كيدل څه د شرم خبره نه ده، په دې شرط چې دا جذبه يې په زړه كې موجوده وي چې كه صحيح مسئله د هغه مخې ته راغله، نو هغه به فورا ومني او د هغه د قبولو نه به عار نه كوي او كوم سړى چې د حق ښكاره كيدو باوجود د هغه د قبولو نه عار كوي هغه په جهل مركب كې اخته دى او د هغه ناروغي لاعلاجه ده، الله پاك دې هر مومن ته د دې نه پناه وركړي.

د دې اصول موضوعه نه وروسته عرض دی چې مولانا کوثر نیازي نه د دې مسئلې د نوعیت په پوهه کې ډېرې غلط فهمیانې شوې دي او موصوف د پورته ذکر شوي اصول موضوعه په رڼا کې په مسئلې باندې غور نه دی فرمایلی او نه یې د مسئلې په **ماله وما علیه** باندې د سرسري نظر اچولو زحمت کړی دی، که موصوف د سلامتي فکر کولو سره د دې مسئلې په ژور والي کې کوزیدو سره غور او فکر کړی وای، نو زما توقع وه چې د هغه نه به دا غلط فهمي نه وه شوې.

د دې عاجز دا منصب نه دی چې د هغه په خدمت کې د څه عرض کولو ګستاخي وکړي او د هغه په اوچت دربار کې هغه واوریدل شي، ځکه چې هغه د اقتدار د کور اوسیدونکی. د وزیراعظم ملګری او مشیر او د ښکلي خبرو مالک دی او بل طرف ته دا عاجز او فقیر، د فقیري د درګدا او د نارسا فریاد خاوند دی:

کب وه سنتا هے کهانی میری؟ اور پهر وه بهی زبانی میری

خو د بزرګانو ارشاد دی چې:

ګاه باشد که کودک نادان به غلط بر هدف زند تیرے

له دې وجې د خپل نارسا فهم مطابق څه عرض کوم که د صاحب موصوف په درباره کې قبول شي، خو ډېره نیک بختي ده، که نه!

حافظ وظیفه تو دعا گفتن است وبس در بند آن مباش که نشنید یا شنید

په هر حال مولانا موصوف ته د مسئلې د صحیح نوعیت په پوهه کې چې کومې مغالطې شوې دي دا عاجز یو یو کولو سره ذکر کوي او د نتائج فیصله خپله هم د هغه د انصاف په فهم باندې پرېږدي او که هغه د انصاف داد ورنکړي، نو د الله پاک په عدالت باندې یې پرېږدي.

مولانا موصوف د خپل مضمون تمهید اوچتولو سره لیکي!

"په ۱۹۶۴ء صدر ایوب خان او د محترمه فاطمه جناح ترمینځه د صدارتي انتخاب معرکه جوړه شوه، نو د صدر ایوب خان حمایت کونکو ډېر علماء کرامو دا فتوا جاري کړه چې ښځه دصدر مملکت کیدل حرام دي، له دې وجې محترمه فاطمه جناح ته ووټ ورکول جائز نه دي، په دې باندې ما په جامع مسجد شاه عالم مارکیټ لاهور کې خطبه ورکولو سره په دې موضوع باندې ښه پوره بحث وکړ، کوم چې وروسته په هفت روزه شهاب لاهور کې د شائع کیدو نه پرته د یوې کتابچې په صورت کې چاپ شوی و، وروسته په پښتو او سندهي ژبو کې هم د هغې ترجمې وشوې او دا کتابچه د لکونو په تعداد کې په ملک کې خوره شوه. ما په دې خپله خطبه کې د قرآن او حدیث او د تاریخ په حوالو سره د علماء کرامو د ذکر شوې فتوا مدلل تردید کړی و".

اوله مغالطه:

موصوف دا ګنلې ده چې علماء کرامو دا فتوا چې د ښځې حکمراني حرامه ده. د ایوب خان په حمایت کې جاري کړې وه او د دې مقصد د ایوب خان د اقتدار حمایت او حفاظت دی. ممکنه

ده چې د موصوف د داسې علماء سوء سره مخامخ شوی وي چې د هغوی مقصد یوازې د ایوب خان اقتدار ته ادامه ورکول وي، خو زه حلفا شهادت ورکولی شم چې د اقتدار د حفاظت له پاره فتوا ورکول د علماء رباني عادت کله هم نه دی پاتې شوی، اقتدار که د ایوب خان وي او که د بل چا وي، د هغو علماء حقاني او علماء رباني په نظر کې هیڅ حیثیت نه لري. د هغه د حفاظت کولو څه سوال دی؟ او د هغه له پاره د فتوا جاري کولو څه معنا ده؟ یوازې د اقتدار دحمایت له پاره د وقتي مصلحت فتوا جاری کول د دروغژنو علماء سوء کردار خو کیدای شي د علماء رباني لمن د دې نه بالکل پاکه ده، الحمد لله! نن هم داسې خدای پرست حقاني علماء موجود دي چې د هغوی په نزد د پاکستان حکومت خو څه؟ د امریکې حکومت او بادشاهي هم د مرخر د وجود برابر قیمت نه لري، د اقتدار په باره کې دحقاني علماوو ذوق هغه دی چې د هغه ترجماني حضرت پیران پیر رحمة الله علیه فرمایلې ده چې: ما ملک نیم روز ابیک جونمی خریم اوخاقاني رحمة الله علیه فرمایلي دي چې:

پس ازسی سال این معنی محقق شد به خاقانی

که یک دم با خدا بودن به از ملک سلیماني

دې عاجز ته ذاتي ډول دا داسې حقاني علماوو علم دی کوم چې د ایوب خان دشمنان وو او هغه ته به یې د قبولیت په وختونو کې ښیرې کولې، ځکه چې هغه د دین په صریح مسائلو کې تحریفات وکړل او د ''مسلمانون عائلی قانون، ، په نوم باندې یې داسې قوانین په ملک باندې مسلط کړل کوم چې د کتاب او سنت خلاف دي او د هغو تحریفاتو وبال نن هم د هغه قبر ته رسیږي، الغرض حقاني علماء د ایوب خان د تحریفاتو له وجې نه د هغه سخت ترین مخالفین وو، د هغه باوجود د ۱۹۶۴ء په صدارتي انتخاب کې د هغوی فتوا همدا وه چې: په اسلام کې د ښځو حکمراني حرامه ده او داسې کولو والا ګناه ګار دی، که د هغه وخت حزب اختلاف د عقل نه کار اخیستی وي اود مس فاطمه جناح په ځای یې یو سړی د ایوب خان مقابلې ته نامزد کړی وای، نو د هغه علماء حقاني د حمایت ټول وزن به د هغوی په پله کې و، الغرض په علماء حقاني باندې د ایوب خان د حمایت د فتوا جاري کولو تهمت بې ځایه دی، خو مولانا کوثر نیازي په دې معامله کې معذور ګڼل پکار دي، ځکه چې هغه به داسې علماء لیدلي وي.

د دې نه پرته هر سړی د خپل ذهني سطح مطابق سوچ کوي او د خپل ذهني تصورات او خیالات په ائینه کې د نوروخلکو د مخونو دعکس لیدوعادت دی، ماته دبهرملک نه یوصاحب «دیوې فرقې خلاف د مضمون په باره کې» ولیکل چې: دا ټول هر څه د امریکې ډالرو نتیجه ده کوم چې په سعودي تهیلو«خلتو» کې تاسوته ملاویږي، دې عاجزهغه ته په جواب کې ولیکل چې تاسودخپل ذهني سطح مطابق صحیح وفرمایل چې په دې دورکې داخبره دچاپه ذهن کې راتلای شي چې یو سړی د دنیاوي لالچ نه پرته یوازې د الله پاک د رضا له پاره هم مسئلې لیکلی شي؟

دویمه مغالطه:

مولانا کوثر نیازي ته دویمه غلط فهمي دا وشوه چې هغه څنګه په قرآن او حدیث کې اجتهاد کولو سره دښځې حکمراني ته جائز وایي، علماء کرامو به هم کیدای شي چې د خپل اجتهاد په بنیاد باندې دا فتوا جاري کوي، حال دا چې علماء کرامو په خپله رایې باندې دا فتوا نه جاري کولې، بلکې هغوی د ائمه متبوعین فتوا نقل کولې او هغوی د ائمه مجتهدینو د مذاهبو حواله ورکړې وه مولانا موصوف ته که د خپلو مخالفینو حواله ورکول و. نو هغوی علماء کرام نه وو، بلکې ائمه اجتهاد، امام ابوحنیفه، امام شافعي، امام مالک، امام احمد او نور ائمه دین ﷺ وو. د موصوف د خپل موقف په مخالفت کې د علماء کرامو حواله ورکول به یقینا غلطي شمارل کیږي.

دریمه مغالطه:

پورته مې په اصول موضوعه کې بیان کړي دي چې د ټولو ائمه مجتهدینو متفقه فیصله ده چې د ښځې حکمراني باطله او حرامه ده او هغه حکمرانه جوړونکي ګناه ګار دي. مولانا کوثر نیازي ته علم دی چې دا ائمه مجتهدین څوک دي؟ امام رازي، امام غزالي، امام رباني مجدد الف ثاني او امام الهند شاه ولي الله محدث دهلوي ﷺ په شان د علم د غرونو سرونه چې د کومو وړاندې ښکته دي. قطب الارشاد والتکوین محبوب سبحاني شاه عبدالقادرجیلاني، شیخ شهاب الدین سهروردي، قطب الاقطاب خواجه معین الدین چشتي او خواجه خواجګان بهاء الدین نقشبندي، خواجه علی هجویري ګنج بخش او بابا فرید الدین ګنج شکر ﷺ وغیره وغیره، په لکونو اولیاء الله چې دچا مقتدیان دي، حافظ الدنیا ابن حجر عسقلاني، شیخ الاسلام ابن تیمیة، ابن قیم او شیخ جلال الدین سیوطي په شان د امت مشران او حفاظ حدیث چې د چا مقلدین دي او ! دا هم هغه ائمه مجتهدین دي چې د هغوی مخکې د وروسته پیړیو لوی لوی ائمه دین، محدثین، مفسرین او مجددین (امام رباني مجدد الف ثاني په الفاظو کې) ``در رنګ طفلان، ، ښکاره کیږي، نن مولانا کوثر نیازي د جمعې په خطبه کې د هغه ائمة مجتهدینو د مدلل تردید کړی دی او هغه هم د قرآن او حدیث په حوالې سره.... !

بسوخت عقل زحیرت که این چې بو العجبی ست

اصل کې مولانا کوثر نیازي ته د خپلې مرتبې او مقام په باره کې غلط فهمي پیدا شوه. هغه به خیال کړي وي چې نن به د هغوی نه لوی مجتهد اعظم څوک وي؟ هم دې غلط فهمي د هغه (د خولې) نه دا ګستاخانه الفاظ وویستل چې هغه د پورته ذکر شوې فتوا مدلل تردید وکړ. که الله پاک موصوف ته نظر مردم شناس ورکړی وای که هغه ته د امت د دې مشرانو او حافظان دین و شریعت د مرتبې علم وای او که د دې اکابرین ائمه په مقابله کې موصوف ته د خپل علم او فهم حدود اربعه معلوم وای، نو هغه ته به د دې اکابرینو مخکې خپل قدوقامت هیڅ نه ښکاره کیده.

بھرم کھل جائے تیرے قامت کی درازی کا
اگر اس طرہ پر پیچ وخم کے پیچ وخم نکلے!

د بزرګانو نصیحت دی چې سړي ته د خپل څادر سره پښې غځول پکار دي او د دنیا د ټولو نه زیات عقل مند سړی هغه دی چې د انسانانو د درجاتو د مرتبو پېژندلو نه محروم نه وي. دې عاجز ته د مولانا کوثر نیازي د مقام او مرتبې نه انکار نه شته، هغه به زما نالائق او ګناه ګار نه په زرچنده غوره وي، خبره په دې کې ده چې د ائمه دین په مقابله کې مولانا کوثر نیازي څه ته وایي چې د هغه اکابرین مقابله کې ودرېږي او د هغه په قول: د هغه اکابرینو د مدلل فتوا تردید وکړي؟ ایا مولانا ته هغه وخت چا دا مشوره ورنه کړه چې: آیاز ! قدر خویش شناس!

څلورمه مغالطه:

د ښځې حکمراني باطله او حرامه ده، که دا مسئله د ائمة مجتهدین ترمینځه مختلف فیه وي، مثلاً د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه قول داوي چې: د ښځې حکمراني جائز نه ده او د امام شافعي رحمة الله علیه ارشاد وي چې: جائز ده او مولانا کوثر نیازي د خپل امام قول پرېښودو سره د بل امام قول اخیستی وي، نو اګر چې اصولي ډول به دا هم غلط وي. (د دې د تفصیل دا موقع نه ده) نو په داسې صورت کې به موږ د مسامحت (سترګو پټولو) نه کار اخیستی وي او داسې به مو ګڼلي وي چې د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په جلیل القدر شاګردانو د امام ابویوسف او امام محمد بن حسن شیباني رحمهما الله په شان زموږ مولانا کوثر نیازي هم د مجتهد مطلق په منصب باندې فائز دی. څنګه چې هغه دواړو بزرګانو ته د خپل استاذ محترم قول پرېښودو سره د نورو په اقوالو باندې د فتوا ورکولو حق دی، زموږ مجتهد مطلق امام کوثر نیازي ته هم حق حاصلیدل پکار دي، ګرانه خو داده چې دا مسئله د ائمه مجتهدین ترمینځه مختلف فیه بالکل نه ده. بلکې څنګه چې مې په اصول موضوعه کې عرض کړی دی چې دا مسئله د ټولو ائمه مجتهدینو ترمینځه متفق علیه ده چې "د ښځو سربراهي باطله او حرامه ده" او د صدر اول نه تر نن پورې د علماء امت په دې باندې اجماع مسلسل راروانه ده. په داسې مسئله کې خو اختلاف کونکي خو د سبیل المومنین نه منحرف دي، ایا د مولانا کوثر نیازي ددې نکتې طرف ته نظر نه دی تللی چې هغه د دې مسئلې مدلل تردید کولو سره په حقیقت کې د اجماع امت د مضبوط دیوال سره ټکر وهي؟ په یوه دیني مسئله باندې د غور کونکي لومړی فرض دادی چې هغه په دې مسئله کې د سلف صالحین رایه معلومه کړي او دا وګوري چې دا مسئله اجتهادي یا اجماعي؟ که اجماعي وي، نو موږ ته د هغې د منلو نه پرته خلاصون نه شته او موږ ته په هغه باندې د رایې ورکولو او قیاسونو کولو اجازه نه شته، یوې اجماعي مسئلې ته غلط ویل په خپل ګمان د هغه د مدلل تردید له پاره دریدل ګویا د پوره امت اسلامیه تکذیب دی او کوم سړی چې په امت اسلامیه باندې بد اعتمادي کولو سره د اسلام متواتر او اجماعي مسائلو ته

هم غلط وايي، د هغه په نزد ګويا پوره دين اسلام مشکوک دی. هغه ته نه په قرآن کريم باندې صحيح ايمان نصيب کيدای شي او نه په لمونځ روژه اوداسې نور ارکان اسلام باندې. له دې وجې که دا فرض شي چې امت اسلاميه نعوذ بالله ! يو غلط او باطل مسئله باندې متفق کيدای شي، نو د دين باقي مسائلو باندې يقين او ايمان څنګه حاصليدای شي؟

پنځمه مغالطه:

د يوې اجماعي مسئلې مدلل ترديد کولو سره غالبا مولانا کوثر نيازي ته دا غلط فهمي وشوه چې قرآن او حديث کوم چې د څوارلس سوه کلونو نه چيرته په خلا کې تاويدل. په اول کرت د هغه لاس ته راغلي دي، د څوارلس پيړيو ائمه دين، مجددين او اکابر امت ته کيدای شي چې د هغوی زيارت هم نه وي نصيب شوی، د غور او تدبر سره د هغه د مطالعې موقع هغه ته کوم ځای نصيب کيده؟ يا موصوف ته دا غلط فهمي وشوه چې مخکې علماء او صلحاء سره قرآن او حديث خو موجود و، خو هغوی ټول د دې د فهم او ادراک نه قاصر وو، په اول کرت مولانا موصوف ته د قرآن او حديث د صحيح فهم توفيق ملاو شوی دی، له دې وجې هغه د قرآن او حديث په حوالې د علماء کرامو مدلل ترديد وکړ، ايا دا د تعجب خبره نه ده چې زما په شان يو سړی چې د هغه علم او فهم ديانت او تقوا او د چا صورت او سيرت پورې چې غير معياري دی، هغه د قرآن او حديث په حوالې د ټولو اکابر امت تجهيل اوتحميق شروع کړي. **نعوذ بالله!**

شپږمه مغالطه:

پورته په اصول موضوعه کې ما بيان کړي دي چې د شريعت دلائل څلور دي، کتاب الله، سنت رسول الله ﷺ، اجماع امت او د ائمه مجتهدين قياس او استنباط. خو مولانا کوثر نيازي د اجماع امت او د ائمه مجتهدين د قياس طرف ته خو التفات ونه کړ او د هغه په ځای د يو نوي دليل شرعي اضافه فرمايي او هغه تاريخ دی، دا خبره راته په ژوند کې اول کرت د مولانا نيازي د ليکلو نه معلومه شوه چې يو سړی د مسلمانانو او غير مسلمو تاريخ ته هم د شرعي دلائلو په صف کې د ځای ورکولو حوصله کولی شي او د هغه په ذريعه نه يوازې دا چې شرعي مسئله ثابتيدای شي، بلکې د امت د مسلمه شرعي مسائلو ترديد هم کيدای شي

اين کار از تو آيد ومردان چنين کنند

اوومه مغالطه:

ديرش کاله وړاندې چې مولانا موصوف د علماء کرامو د فتوا ترديدکړی و، موصوف ته غلط فهمي ده چې د هغه ډيره لائق شکر کارنامه وه، نو ليکي: "او د الله پاک شکر دی چې نن ديرش کاله تيريدو نه وروسته هم زما په نظريه کې څه تبديلي نه ده راغلې".

شکر په نعمت باندې ویستل کیږي، ګویا دیرش کاله مخکې چې موصوف کوم موقف په دې مسئله کې اختیار کړی و هغه ته د الله پاک نعمت ګڼلو سره د هغه شکر ادا کوي. هسې خو د دنیا دا عجائب خانه د قسم قسم نظریاتو طلسم خانه ده، خو ډیره عجیبه خبره داده چې هر سړی په خپلو نظریاتو باندې فخر کوي، یهودي، عیسایي، مجوسي، هندو، مرزایي، بهایي، ذکري، مهدوي، پرویزي، چکړالوي اوداسې نور.... څوک به وي چې د هغه په خپلو نظریاتو باندې یقین او اذعان نه وي؟ په هغه باندې خوشاله نه وي؟ او په هغه باندې کلمه د شکر نه ادا کوي؟) **کل حزب بما لدیهم فرحون** (او د دې نه زیاته د تعجب خبره داده چې څومره فرقې او ډلې خپل نسبت د اسلام طرف ته کوي هغوی قرآن او حدیث خپل طرف ته راکاږي او د قرآن او حدیث نه خپل سند راوړي، ددې اختلافاتو عملي فیصله خو به د قیامت په ورځ کیږي، خو سوال دادی چې که موږ دا معلومات کول غواړو چې حق څه دی او باطل څه دی؟ صحیح څه دي او غلط څه دي؟ نو د هغه له پاره څه طریقه اختیار شي؟ دې عاجز پورته په اصول موضوعه کې دې طرف ته اشاره کړې ده، یعنې د قرآن او حدیث مطالعه دې د اکابر سلف صالحین د تشریحاتو په رڼا کې وشي. په هغو اکابرینو دې اعتماد و شي، د هغوی لمن دې په مضبوطیا سره ونیول شي او د خپلو خواهشاتو په ځای دې د سلف صالحین اقتداء او اتباع ته ترجیح ورکړل شي، داده هغه د نجات کشتۍ! چې په هغه کې پناه اخیستل د نظریاتو او د فتنو د طوفان نوح نه بچ کولی شي ( ) **لا عاصم الیوم من امر الله الا من رحم** (جناب مولانا کوثر نیازي که دې نکتې طرف ته توجه کړې وای، نو هغه ته به صفا ښکاره شوې وه چې دا نظریه کومه چې هغه د سلف صالحین په مقابله کې اختراع کړې ده، څه داسې کارنامه نه ده چې په هغه باندې شکر ادا شي. بلکې داسې بدعت دی چې په هغه باندې سل کرته استغفار کول پکار دي

بیا دیرش کاله مخکې به د هغه په علم او تحقیق، عقل او پوهه او د نظر ژور والي کې هغه پوخ والی نه و پیدا شوی کوم چې دیرش کاله وروسته پیدا شو، غالبا په دې اوږده موده کې نه خو مولانا موصوف رابیدار شو او نه یو عالم هغه د خپلې غلطۍ نه خبر کړ، له دې وجې د عقل او پوهې د پوخ والي او د علم او تحقیق د دیرش کاله ترقي باوجود هغه ته د خپلې اصلاح موقع ملاو نه شوه، بلکې هغه تر نن پورې په دې باندې اصرار کوي او په غلطۍ باندې مسلسل دیرش کاله اصرار هم د شکر لائق نه دی، بلکې موجب استغفار دی.

یو د علم او تحقیق خاوند که د هغه په غلطۍ باندې خبردار شي، نو د الله پاک شکر ورته ادا کول پکار دي چې د مرګ نه مخکې مې د غلطۍ اصلاح وشوه او د اخرت د حساب نه بچ شوم، ما د خپلو اکابرو نه د امام العصر حافظ الدنیا امیر المومنین في الحدیث مولانا محمد انور شاه کشمیري رحمه الله ارشاد اوریدلی و هغه رحمه الله به فرمایل چې:

"مولوي صاحب! دیرش دیرش کاله په غلطۍ کې د اوسیدو نه وروسته په خپله غلطۍ پوه شو"

يوه ورځ زمونږ حضرت ډاکټر عبدالحی عارفي رحمه الله فرمايل چې "ګوره ! مولانا بنوري رحمه الله لوی سړی و يو کرت هغه په "بينات" کې څه ليکلي و، چې ماته راغلل. نو ما هغه ته وويل چې دا ليکل ستاسو شايان شان نه دی، ويې فرمايل معاف کړئ! بيا به داسې نه کيږي. ګوره ! مولانا بنوري رحمه الله لوی سړی و.

حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله خو د ترجيح الراجح په نوم باندې مستقله رساله شروع کړې وه چې يو عالم د هغه په غلطي باندې هغه خبردار کړي. حضرت به هغه په دې سلسله کې شائع کوله، که حضرت ته به اطمينان حاصل شو چې واقعي د مسئلې په ليکلو کې غلطي شوې ده، نو د هغو به يې صفا اعلان کولو، که نه، د هغه صاحب علم تحقيق نقل کولو نه وروسته به يې وليکل چې زما تحقيق دادی، اهل علم دې په دواړو قولونو کې غور فرمايلو سره چې څه ورته راجح معلوميږي هغه اختيار وفرمايئ.

دا عاجز خو د سر نه پښو پورې جهل دی. په اخبار کې چې د "ستاسو مسائل او د هغو حل" کومه سلسله جاري ده (او اوس په کتابي شکل کې هم شائع شوې ده) ددې په باره کې مې اهل علم حضراتو ته درخواست کړی دی چې يو صاحب علم په څه مسئله کې په غلطي باندې خبر کړم، نو شکرګزار به يم، نوچې څينو حضراتو راته غلطي وښودلې، نو هغه مو په اخبار کې شائع کړه او صفا مو وليکل چې زما نه د مسئلې په ليکلو کې غلطي شوې ده او حقيقت هم دادی چې کوم صاحب علم راته خپله غلطي په ګوته کوي، نو دومره خوشاليږم لکه چې يو لويه خزانه په لاس راغلې وي. الغرض ! د مرګ نه مخکې که د غلطۍ اصلاح وشي نو لائق شکر دی.

اتمه مغالطه:

په همدې تمهيد کې مولانا کوثر نيازي مولانا مودودي مرحوم سره د خپل اختلاف وجه بيانولو سره ليکي : " هم په دې ورځو کې مولانا سيد ابو الاعلی مودودي مرحوم د جيل خانې نه د جماعت اسلامي د مجلس شوری له پاره د محترمه فاطمه جناح په تائيد کې چې کوم قرارداد ليکلو سره وليکه زما له هغه سره اختلاف و او د صدارتي مهم د ختميدو نه وروسته مې د مولانا سره د څو نورو ديني اختلافاتو ددې اختلاف اظهار هم وکړ، مولانا په قرارداد کې دا ليکلي و چې يو حرام ابدي يعنې د هميشه له پاره وي او يو غير ابدي يعنې د هميشه له پاره نه وي. ظاهره ده دا يو خطرناکه نظريه ده چې په هغه سره ټول حرام شيان په دوه قسمونو کې تقسيمدلی شي او دغه شان به د شريعت نه يوه ټوکه جوړه شوې وه، اصل کې مولانا ته د دې تاويل کولو ضرورت له دې وجې راغی چې ددې نه مخکې هغه دښځې په اسمبلۍ کې رکنيت، بلکې هغې ته د ووټ حق ورکولو ته هم حرام ويلي و (وګورئ ماهنامه ترجمان القرآن سمتبر ۱۹۵۲ء) او اوس هغه ته ناڅاپه د يوې ښځې د صدر کيدو تائيد کول و، زما وينا داوه چې مولانا ددې له پاره د سياسي او جمهوري ضرورت په حوالې سره خبره کولی شي. ددې له پاره هغه ته د يوې نوې نظريې ايجاد کولو ضرورت نه شته.

دا د مولانا کوثر نیازي حق پرستي ده چې هغه ته د مولانا مودودي نظریه غلطه ښکاره شوه، نو هغه نه یوازې دا چې له هغه سره ښکاره اختلاف وکړ، بلکې د جماعت اسلامي نه یې هم بیلتون اختیار کړ، خو دلته هم مولانا کوثر نیازي د غلط فهمي نه محفوظ پاتې نه شو.
شرح ددې داده چې مولانا مودودي د ښځې حکمراني حرامه ګڼله، خو د مس فاطمه جناح د صدرات په معامله کې په هغه باندې داسې اضطراري کیفیت راغی چې ددې خاص موقعې له پاره هغه ددې حرام د جائز کیدو فتوا ورکړه او ددې له پاره هغه د حرام ابدي او حرام وقتي نظریه جوړه کړه، چې د هغه په باره کې مولانا کوثر نیازي فرمایي او صحیح فرمایي چې:
" ظاهره ده دا یو خطرناکه نظریه ده چې په هغه سره ټول حرام شیان په دوه قسمونو کې تقسیمدلی شي او دغه شان به د شریعت نه یوه ټوکه جوړه شوې وه"
خو مولانا کوثري ددې نظریې علاج دا وکړ چې مولانا مودودي چې کوم شي ته د حرام وقتي په خانه کې ځای ورکړی و، مولانا کوثر نیازي هغه ته حلال ابدي وویل.
مولانا موصوف ته غور کول پکار و چې یوازې په خپل خواهش سره یو شي ته حرام وقتي ویلو باندې که یو شریعت نه ټوکه جوړیږي، نو ایا یوازې په خپلې رایې باندې هماغه شي ته حلال ابدي ویلو باندې شریعت د هغه نه زیات ټوکه نه جوړیږي؟ بار بار غور وکړئ چې کوم شي د ټولو ائمه دین او د ټولو اکابرین امت په نزد حرام او باطل دي هغه ته حرام وقتي ویل که په شریعت پورې ټوکې دي، نو هغه ته حلال ابدي ویل به په شریعت پورې څومره لویه ټوکه وي؟
ایا دا د الله پاک دین به زمونږ په لاسو کې د لوبو شی پاتې نه شي. (ان فی ذلک لعبرة لاولی الالباب)

نهمه مغالطه:

د تمهیدي نکاتو په اخر کې کوثر نیازي صاحب لیکي چې:
"اوس څو ورځې مخکې د محترمې بې نظیر بهټو او میانواز شریف ترمینځه د وزارت عظمي له پاره انتخاب وشو، نو د عین انتخاب په ورځ زما یو مهربان اخبار نویس د مولانا مودودي په نوم زما ددې خط یوې ټکړې راویستلو سره ددې تاثر ورکولو کوشش کړی دی چې زه هم د ښځې د مشرۍ په مسئله کې د عامو علماء کرامو په شان قول کوم، ددې وسوسې پیدا کولو او مغالطې جوړولو له وجې ضروري معلومیږي چې یو کرت بیا د خپلې دیرش کاله مخکې رسالې "ایا ښځه صدر مملکت جوړیدای شي؟" خلاصه د لوستونکو مخکې وړاندې کړم. چې په دې سلسله کې څه ابهام پاتې نه شي"
جناب کوثر نیازي صاحب چې په دې اقتباس کې د مولانا مودودي په نوم د خپل کوم خط حواله ورکړې ده هغه ډیر اورږد دی، دا خط په ۱۲ فروري ۱۹۲۵ء کې ولیکل شو، اول د هغه په هفت روزه شهاب لاهور، (شماره ۸، جلد ۱۱، ۲۸ فروري ۱۹۲۵ء) کې شائع شوی و، له دې نه وروسته د موصوف په کتاب جماعت اسلامي د عوامو په عدالت کې شامل شو. د کوثر

نيازي صاحب د صحيح موقف د فهم له پاره د هغه ضروري اقتباس د پورته ذكر شوي كتاب په حوالې سره لاندې نقل كوم

"محترم مولانا! دې وخت كې زموږ حالت دادی چې د ډيرو نورو اصولي غلطيو نه پرته موږ چې د ښځې د صدارت په مسئله كې كومه لاره اختيار كړې ده، د الله پاک په نزد چې به د هغه كومه سزا ملاويږي د هغه مسئله خو بيله ده، په دې دنيا كې هم په بهرنيو ملكونو او خپل ملک كې زموږ ديني حيثيت ختم شوی دی. كه موږ د صدر ايوب مخالفت كولو او د محترمه فاطمه جناح ملګرتيا مو كوله، نو د سياسي او جمهوري ضرورتونو اظهار كولو سره داسې كيدلی شوه، خو د هغه له پاره چې موږ په غريب اسلام باندې كوم احسان كړی دی او د حرمتونو د ابدي او غير ابدي حرمتونو د تقسيم چې كومه نظريه مو وړاندې كړې ده. له هغه نه وروسته ديني حلقې يو طرف ته شوې، نور غير جانب دار عناصر تردې چې د اپوزيشن پورې څينې مشهورو افرادو موږ ابن الوقت او د سياست له پاره په دين كې ترميم او تحريف كولو والاګڼل شروع كړل. (ص ۲۲)

زه ستاسو مخكې ډير په پښيمانتيا سره دخپل ځان په باره كې دا اظهار ضروري ګڼم چې د خپل حقير شان علم او مطالعې په بناء باندې زما رايه هم داوه چې د موجوده سياسي او جمهوري رواياتو خبره بيله ده، خو شرعا ښځه په هيڅ صورت كې هم صدر مملكت نه شي جوړيدلی او د هغې خو هيڅ تصور ما په خپل ذهن كې نه ساته چې كله موږ د اسلام په نوم باندې داسې تحريک چلولی شو، نوما په خپل مسجد كې د سوالاتو جوابات وركولو سره د سوونو كسانو مخكې د قرآن او حديث د دلائلو نه ددې خپلې عقيدې وضاحت وكړ او وروسته مې د اخباري نمائندګانو په خواهش باندې د دې خطبې خلاصه اخباراتو ته هم وليږله. خو هم په دې دوران كې په ما باندې انكشاف وشو چې جماعت ددې نه په بيل نقطه نظر باندې سوچ كوي او غالب امكان دادی چې د مس فاطمه جناح د حمايت فيصله به كيږي زه په دې انكشاف باندې پريشانه شوم او د جماعت د فيصلې په انتظار كې مې دا بيان واپس واخيست.

زه په دې معلومات باندې ډير خوشاله شوم چې تاسو د جيل نه د جماعت مركز ته دا هدايت راليږلی دی چې په دې مسئله باندې دې هرګز د متحده حزب اختلاف ملګرتيا ونكړل شي. ستاسو د مخكې ليكلو په رڼا كې اميد هم ددې خبرې و، خو چې كله په مجلس مشاورت كې د جيل نه راغلی ستاسو هغه خط واورول شو (چې هغه ددې نه وروسته لفظ په لفظ د مجلس مشاورت د قرارداد په صورت كې اخباراتو ته وليږل شو) نو زما ښه ګمان ته ډير نقصان ورسيد، كيدای شي چې تاسو ته معلومه نه وي، زه به دلته هم وضاحت وكړم چې د مجلس مشاورت په كوم اجلاس كې چې د محترمې د حمايت فيصله كولو سره دا قرارداد منظور شو، زه په هغه كې د غلط فهمي (يا د وخت په باره كې د غلط خبر) له وجې شريک نه شوم. چې كله زه ورسيدم، نو دا قرارداد اخبارونو ته ليږل شوی و، كاش چې زه هغه وخت موجود وای او په

دې غلطه نظريه باندې مې اهل مجلس خبرولو سره کم نه کم د قرارداد الفاظ بدل کړي وای. ظاهره ده چې چې ددې نه وروسته "غشي د ليندې نه لاړ" والا معامله وه. اوس د جماعتي دستور په رڼا کې د دې فيصلې په تائيد باندې مجبور وم او کومه رايه چې ما د دلائلو په رڼا کې مرجوح، بلکې غلطه ګڼله. اوس يوازې له دې وجې چې هغه په ډول د قرارداد منظور شوی ده، د جماعت او د مجلس مشاورت د کارکن کيدو له وجې ما د تقرير او تحرير په ذريعه د هغه توثيق شروع کړ.

مولانا! زه ډير ګناه ګار سړی يم، خو زما د ټول ژوند ګناه يو طرف ته او دا ګناه بل طرف ته: "بله دا چې کومه خبره ما شرعا صحيح نه وه ګڼله يوازې د جماعتي قواعدو او ضوابطو له وجې په هغه معصيت باندې مجبور شوم چې اوس د هغه نمائندګي وکړم! الله پاک دې زما دا جرم معاف کړي چې چيرته د دې جرم په سزا کې د ايمان نه محروم نه شم. **نعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سيئات اعمالنا!** (ص ٢٦ تا ٢٨)

د جناب کوثر صاحب دا خط په خپل مفهوم او د مدعا په اظهار کې بالکل واضح دی. د څه تشريح يا حاشيې لګولو محتاج نه دی، بلکې دې ته د رښتيا ويلو او زړه ځيرې کولو سره د مخامخ کيښودو اعلی نمونه ويل کيږي، بيا هم په دې ضمن کې د صاحب موصوف له پاره څو امور لائق توجه دي:

اول: ددې خط نه واضحه کيږي چې د ښځې د مشرې په مسئله کې تاسو درې رنګونه بدل کړي دي.

١: ترڅو چې جماعت اسلامي د ګوم چې تاسو ضلعي صدر وی ... د مس فاطمه جناح د حمايت فيصله نه وه کړې تر هغه وخته پورې د خپل علم او مطالعې په بنياد ستاسو عقيده داوه چې شرعا د ښځې حکمراني جائز نه ده، نوتاسو په خپل مسجد کې د سوالاتو په جواباتو کې د سوونو خلکو مخکې د قرآن او حديث په دلائلو سره دا خپله عقيده واضح کړه او د ځينې اخباري نمائندګانو په خواهش باندې تاسو د دې خطبې خلاصه اخباراتو ته هم وليږله، چې هغه وروسته واپس واخيستل شوه او د هغه د چاپ کيدو ضرورت رانغی... دا هغه دور و چې کله ستاسو زړه او قلم يوشان و کومه عقيده چې ستاسو په زړه کې وه هماغه مو د قلم نه هم راوتله

٢: بيا چې کله د (١٩٦٤ء) د صدارتي انتخاب معرکه شروع شوه، پوره قوم په انتخابي تبه باندې اخته شو او ستاسو جماعت اسلامي هم ددې تبې په بحراني کيفيت کې د مس فاطمه جناح د حمايت فيصله وکړه، نو دا فيصله اګر چې ستاسو د عقيدې او ضمير خلاف وه، خو د جماعتي قواعد او ضوابطو په بناء تاسو د دې غلط فيصلې په حمايت باندې مجبور شوی، ددې ځای نه ستاسو د زړه او د ژبې او قلم لاره بيله بيله شوه، ستاسو عقيده خو داوه چې د ښځې مشري شرعا جائز نه ده، خو د جماعتي فيصلې د مجبوري له وجې نه ستاسو ژبه او قلم

ستاسو د عقيدې او ضمير خلاف. د قرآن او حديث د دلائلو انبار لګول شروع کړل چې د ښځې سربراهي شرعا جائز ده. همدا دور دی چې کله ستاسو په قول تاسو په شاه عالم مارکيټ کې خطبه ورکولو سره په دې موضوع باندې ښه پوره بحث وکړ او د قرآن او حديث او تاريخي حوالو سره مو د علماء کرامو د ذکر شوې فتوا چې د ښځې حکمراني حرامه ده مدلل ترديد کړه، بيا دا خطبه د رسالې په شکل چاپ کولو سره د پښتو او سندهي په تراجم سره د لکونو په تعداد کې خوره کړل شوه.

۳ بيا چې کله د اليکشن تبه سړه شوه، مس فاطمه جناح اليکشن بايللو. نو د بايللې جوارې په شان تاسو دا وکتل چې په دې جوارې کې موږ څه وګټل او څه مو وبايلل؟ بيا تاسو ته احساس وشو چې د اليکشن په دوران کې ستاسو د ژبې او قلم نه چې څه ووتل هغه په علم او تحقيق باندې مبني نه و. د الله پاک او د رسولﷺ د خوښې مطابق نه و. د خپل ايمان او عقيدې موافق نه و، بلکې دا ټول د انتخابي تبې اثر و. په دې باندې تاسو پښيمانه شوئ او دا احساس ندامت دومره سخت و چې په دې سره تاسو ته د ايمان د ضائع کيدو خطره پيدا شوه، نو هم دې د پښيمانتيا احساس په تاسو باندې د مودودي صاحب په نوم هغه خط وليکه چې د هغه اقتباس ما اوس نقل کړی دی، الغرض تاسو د الله پاک په دربار کې توبه نصوح وکړه او د خپل موقف نه مو د توبې او براءت اظهار کولو سره اول موقف طرف ته رجوع وکړه.

دا ستاسو د درې رنګونو بدلولو هغه کيسه ده کوم چې خپله ستاسو د قلم مرتب کړې ده. ستاسو دا درې رنګو والاتصوير کتلو سره هر سړي ته د سر په سترګو باندې ښکاره کيږي چې د علم او تحقيق او د مطالعې په رڼا کې هميشه ستاسو يوه نظريه او يوه عقيده پاتې شوې ده چې شرعا د ښځې حکمران کيدل جائز نه دي، په اليکشن (۱۹۶۴ء) کې چې تاسو کوم موقف اختيار کړی و هغه يوازې زباني جمع خرچ و، چې له هغه نه تاسو د توبې اعلان کړی و. قلبي عقيده ستاسو هغه وخت هم هغه وه چې شرعا ښځه د ملک مشره نه شي جوړيدای. ګويا موږ دا ويلی شو چې د عقيدې او د نظريې د حده پورې تاسو يوه ورځ هم د دې قائل نه وای چې د ښځې مشري شرعا جائز ده.

خو ددې درې رنګونو نه وروسته چې کله ستاسو څلورم رنګ رامخامخ شي. نو عقل او فهم حيران شي چې يا الله! دا څه کيسه ده؟ نواوس تاسو په خپل تازه بيان (روزنامه جنګ کراچي ۲۵ اکتوبر ۱۹۹۳ء) کې فرمايلي دي چې د فاطمه جناح په حمايت کې چې کومه خطبه تاسو فرمايلې وه:

"ما په دې خپله خطبه کې د قرآن او حديث او د تاريخ په حوالو سره د علماء کرامو د پورته ذکر شوې فتوا (چې د ښځه د ملک مشري شرعا جائز نه ده) مدلل ترديد کړې وه او د الله پاک شکر دی چې نن د ديرشو کلونو تيريدو نه وروسته هم زما په دې نظريې کې څه تبديلي نه ده راغلې

ایا که څوک ستاسو نه پوښتنه وکړي چې که ستاسو په نظریې کې څه تبدیلي نه ده راغلې، نو د ۱۲ فروري ۱۹۲۵ء په خط کې تاسو توبه او استغفار په څه خبره باندې کړې و؟ او د ایمان د سلب کیدو اظهار تاسو په کوم شي باندې فرمایلې دی؟ تاسو دا خط یو کرت بیا ولولئ او بیا انصاف وکړئ چې ستاسو په دې قول کې چې: "ما په دې خپله خطبه کې د قرآن او حدیث او د تاریخ په حوالو سره د علماء کرامو د ذکر شوې فتوا مدلل تردید کړی و" کې د صداقت ماده څومره ده؟

د جناب عالي په خدمت کې به د حافظ شیرازي دا مصرعه په دویم ځل ویل، خو بې ادبي وي چې چې دلاور است وزدے که بکف چراغ دارد

خو د حافظ رحمۃ اللہ علیہ د دې لطیف شعر د وړاندې کولو اجازه خو راکړئ چې:

حالے درون پرده بسے فتنه می رود نا آن زمان که پرده برا افتد چہا کنند

دویم: د مودودي صاحب په نوم خط کې د خپل الیکشن والا موقف نه توبه او انابت اختیارولو سره چې کله تاسو لیکلي و:

"الله پاک دې زما دا جرم معاف کړي چې چیرته د دې جرم په سزا کې د دې پاتې ایمان نه محروم نه شم"

خو د دې جملې په لوست باندې مې په ذهن کې ستاسو د عظمت دومره لوړ مینار قائم شو چې په خپل لوړوالي سره آسمان ته ورسید، ذهن مې ویل چې دا دومره لوړ انسان دی چې دا دومره لوړانسان دی، چې د الیکشن په دوران کې د مسئلې د غلط تعبیر په سلسله کې د هغه د ژبې او قلم نه چې څه ووتل له هغه نه یې ښکاره د توبې اعلان وکړ او خپلو ټولو بیاناتو ته یې هفوات او هذیاتو ویلو سره له هغه نه رجوع وکړه، د اخلاقي جرأت او د کردار د لوړوالي داسې مثالونه زمونږ په دور کې ډیر زیات کم دي، بلکې نه ملاویږي، خو د ۲۵ اکتوبر ۱۹۹۳ء والا اخباري بیان لوستو سره هغه تصوراتي مینار ناڅاپه په ځمکه راګزار شو، ذهن مې وویل چې په ۱۲ فروري ۱۹۲۵ء کې چې دې سړي خپل کوم موقف ته غلط او موجب د سلب ایمان ویلو او په کوم سره یې چې د الله پاک په دربار کې پوزه راښکلو سره د توبې او پښیمانتیا اظهار کولو. نن هم هغه خطبه او هم هغه رساله په فخریه انداز کې وړاندې کوي، پرون چې کوم شی د ایمان د سلب کیدو موجب و نن هم هغه د فخر لائق دی، پرون یې چې په کوم باندې توبه او معذرت کولو نن هم په هغه باندې تکبر کوي، پرون چې په کوم شي باندې د پښیمانتیا په اوښکو کې غرقیده، نو هم هغه د فضیلت سبب ګڼي.

جناب کوثرنیازي صاحب! غور وکړئ چې تاسو د ۱۲ فروري ۱۹۲۵ء په خط کې د مولانا مودودي په نوم باندې اظهار توبه او ندامت کولو سره د الیکشن د دور خپل ټول لیکلونه چې د دې موضوع د بحث سره متعلق و، منسوخ کړي وو او که نه؟ که کړي مو و، نو نن د هغه په حوالې سره د دې ویلو څه معنا ده، چې د دیرشو کلونو نه زما عقیده نه ده بدله شوې؟ او که

هغه مو نه و منسوخ کړي، نو له هغه نه د توبې او استغفار څه معنا وه؟ ایا دا توبه او استغفار هم یوازې نمایشي و؟ د حافظ شیرازي په قول باندې:

گوئیا باور نمی داند روز داوری   کاین همه قلب ودغل درکار داور می کند

دریم: له کومې گناه نه چې تاسو په (۱۲) فروري (۱۹۷۵ء) کې توبه کړې وه، نن په (۲۵) اکتوبر ۱۹۹۳ء چې (۲۹) کاله وروسته تاسو بیرته کیدو سره هم هغه نظریې ته ورسیږئ، تاسو ته په دې باندې غور کول پکار دي چې ایا ددې بیرته تلو سبب دا خو نه دی چې د مس فاطمه جناح په حمایت کې چې کوم طرز عمل تاسو اختیار کړئ و د هغه له وجې تاسو د ﴿ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ﴾ په سزا کې اخته شوي یئ؟ ځکه چې تاسو د علم او تحقیق په بناء دا عقیده ساتله چې شرعاښځه حکمرانه نه شي جوړیدای او تاسو د سوونو کسانو مخکې د قرآن او حدیث نه په دې عقیده باندې دلائل هم قائم کړي وو، ددې باوجود تاسو ښکاره د رسول اللهﷺ مخالفت وکړ، د سبیل المومنین پریښودلو سره مو بله لار خپله کړه، نوایا د قرآن کریم دا پیشگوئي په تاسو ددې پوره صادقه نه راځي؟ ﴿ وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴾(النساء ۱۱۵)

اوکوم انسان چې دهدایت ښکاره کیدونه وروسته درسول اللهﷺ مخالفت وکړي او د مسلمانانو لاره پریښودو سره په بله لاره روان شي ، نو موږ به هغه چې هغه څه کوي هغه کولو ته پریږدو او هغه به جهنم کې داخل کړو او هغه د ورتلو بد ځای دی. (ترجمه حضرت تهانوی رحمه الله)

څلورم: بیا تاسو په دې مسئله کې درسولﷺ په مخالفت هم اکتفاء نه ده کړې، بلکې د ارشاد رسولﷺ تکذیب مو کړی دی او په هغه پورې مو ټوکې هم کړې دي، لکه چې په وروسته صفحاتو کې به ښکاره شي، حال دا چې تاسو خپله اقرار کړی دی چې په کومه عقیده پورې تاسو ټوکې کوئ هغه د قرآن او حدیث نه ثابته ده او په هغه پورې د ټوکو کولو له پاره مو د فاسق او فاجر او دکافروښځو پورې کیسې بیان کړې، تاسو ته سوچ کول پکار دي چې په تاسو باندې د الله پاک دا ارشاد، خو صادق نه راځي؟ : ﴿ قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ(۶۵) لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ ﴾(توبه ۶۵، ۶۶)

ترجمه: تاسو ووایئ چې : ایا تاسو په الله پاک ، د هغه په ایتونو او د هغه په رسول پورې ټوکې کولې؟ اوس تاسو عذر مه کوئ، تاسو ځان ته مومن ویلو سره کفر وکړو".

(ترجمه حضرت تهانوی رحمه الله)

پنځم: تر اوسه پورې په دې مسئله کې ستاسو څلور رنگونه مخې ته راغلي دي:

(۱): تاسو د دې حق عقیدې اقرار کړی دی چې د قرآن او حدیث په رڼا کې د ښځې مشري شرعاً جائز نه ده.
(۲): د مس فاطمه جناح په حمایت کې تاسو د دې حق عقیدې نه منحرف شوئ.
(۳): د ۱۲ فروري ۱۹۲۵ء په خط کې د مودودي صاحب په نوم باندې مو د دې حق عقیدې بیا اقرار وکړ.
(۴) په ۲۵ اکتوبر ۱۹۹۳ء کې تاسو د بیګم بینظیر په حمایت کې د حق عقیدې د اقرار نه منحرف شوئ.
اوس ستاسو پنځم حالت باقي دی چې تاسو د دې انحراف نه وروسته توبه کوئ او هم په دې توبه باندې ستاسو خاتمه بالخیر کیږي یا د دې نه د توبې کولو په ځای تاسو د حق عقیدې په انکار باندې د دنیا نه ځئ او هم په دې باندې ستاسو خاتمه وي؟ او که الله پاک مه کړه اوس هم تاسو ته د ربښتیني توبې توفیق ملاو نه شو، نو ستاسو به هم دا کیفیت وي کوم چې قرآن کریم په دې الفاظو کې بیان شوی دی: ﴿اِنَّ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ کَفَرُوْا ثُمَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ کَفَرُوْا ثُمَّ ازْدَادُوْا کُفْرًا لَّمْ یَکُنِ اللّٰهُ لِیَغْفِرَ لَهُمْ وَ لَا لِیَهْدِیَهُمْ سَبِیْلًا (۱۳۷) بَشِّرِ الْمُنٰفِقِیْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِیْمًا (۱۳۸) الَّذِیْنَ یَتَّخِذُوْنَ الْکٰفِرِیْنَ اَوْلِیَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِیْنَ اَیَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِیْعًا (۱۳۹)﴾ (النساء: ۱۳۷ تر ۱۳۹)

ترجمه: بیشکه هغه خلک کومو چې ایمان راوړ، بیا کافران شول، بیا یې ایمان یې راوړ، بیا کافران شول، بیا په کفر کې زیات وړاندې لاړل، الله پاک به داسې خلک بالکل ونه بښي او نه به هغوی ته نیغه لاره وښیي، منافقانو ته زیری ورکړئ د دې خبرې چې د هغوی له پاره ډیر دردناک عذاب دی، هغه منافقین چې مسلمانان یې پریښي دي او له کافرانو سره یې دوستي جوړه کړې ده، ایا دوی عزت له کافرانو نه غواړي، نو بیشکه هر قسم عزت خود الله تعالی په لاس کې دی. (ترجمه حضرت تهانوی رحمۃ اللہ علیہ)

ستاسو اقرار، بیا انکار، بیا اقرار، بیا انکار په څلورو درو باندې تیر شوي یئ. د دې عاجز مخلصانه مشوره داده چې اوس په انکار باندې د اصرار کولو په دره باندې لاړ نه شئ. بلکې د ۱۲ فروري ۱۹۲۵ء په شان اوس بیا توبه وکړئ او تر مرګه پورې په دې باندې قائم پاتې شئ.

شپږم: کوم اخبار نویس چې ستاسو د مودودي صاحب په نوم د خط اقتباس نقل کولو سره د دې تاثر ورکولو کوشش کړی و چې تاسو هم د ښځې د مشري په مسئله کې د نورو علماء کرامو سره یئ، تاسو د هغه دا حرکت "وسوسه اندازي او مغالطه طرازي" سره تعبیر کړی دی، د دې عاجز په نظر کې دا ستاسو په هغه غریب اخبار نویس باندې زیاتی دی. ځکه چې د ۱۲ فروري ۱۹۲۵ء د توبه نامې نه وروسته ستاسو له طرف نه کله هم داسې اظهار یا اعلان نه و

شوي چې له هغه نه دا فهم شي چې تاسو د دې توبې نه توبه کړې ده. له دې وجې چې کوم سړی د هغه توبه نامې په رڼا کې، دا وګڼله چې تاسو هم د علماء کرامو سره متفق یئ. هغه هیڅ غلطي نه ده کړې. په دې نکتې باندې بیا غور وکړئ چې هغه غریب ته د وسوسه اندازۍ او د مغالطې خورولو پیغور ورکول څومره پورې صحیح دي؟

لسمه مغالطه:

اول دا چې هغه په خپل پورتني خط (د مودودي په نوم) کې خپله منلې ده. چې هغه دا عقیدې لري چې "شرعا دښځې حکومت باطل دی" د قرآن او حدیث نه ثابت کړې ده. د دې اقرار نه وروسته د انکار څه معنا؟ او که بالفرض ومنل شي چې د موصوف په نظر کې د قرآن کریم یو آیت کریمه داسې نه شته چې په هغه کې دښځې د حکمرانۍ ممانعت وي، نو بیا هم په دې مسئله کې د ائمه اجتهاد اجماع او اتفاق دی او په علم اصول کې به موصوف لوستلي وي چې اجماع امت مستقل حجت شرعیه دی، له دې وجې موصوف ته د دې زحمت کولو ضرورت نه و چې دا مسئله په قرآن کریم کې ولټوي. ځکه چې د ائمه اجتهاد اجماع پرته د سند اجماع نه نه منعقد کیږي، لهذا اهل اجماع چې کله په دې مسئله باندې اجماع وکړه، نو د هغه مخکې به د قرآن کریم او حدیث څه سند ضروري وي چې په هغه باندې د هغوی اجماع منعقد شوه. بیا دا ''سند اجماع، ، کله خو بالکل واضح او ظاهر وي چې د هغه ادراک هر صاحب علم ته کیدای شي او کله دا ''سند اجماع، ، خفي وي چې وروسته اهل علمو ته د هغه ادراک نه کیږي، الغرض په یو مسئله باندې د ائمه اجتهاد اتفاق او اجماع خپله دومره لوی دلیل دی چې د دې نه وروسته د قرآن او حدیث نه د مسئلې د ثبوت لټولو ضرورت نه پاتې کیږي.

یولسمه مغالطه:

موصوف فرمایي چې د سورة النساء په دوه ایتونو کې فرمایل شوي دي چې سړی د ښځو قوام دی، د دې نه پرته په قرآن کریم کې د دې مسئلې هیڅ دلیل نه شته. دا هم د هغه غلط فهمي ده، ځکه چې دقرآن کریم په ډیرو ایتونو کې د ښځو د حیثیت او مرتبې تعین فرمایل شوی دی، له کومو نه چې ائمه اجتهاد دا مسئله اخذ کړې ده چې ښځه د امامت صغری او کبری اهلیت او صلاحیت نه لري. مثلاً:

١ په قرآن کریم کې تصریح فرمایل شوې ده چې الله پاک سړیو ته په ښځو باندې فضیلت ورکړی دی ﴿بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ﴾ د دې فضیلت یو صورت دا دی چې الله پاک سړیو ته فطري ډول باندې ځینې اوصاف او کمالات داسې ورکړي دي کوم چې د ښځو له فطرت سره مناسب نه و، چې د هغه له وجې نه سړي نبي کیدای شي. ښځې نه شي کیدای. په سړیو باندې جمعه او جماعت لازم شوي دي، په ښځو باندې نه. سړی په لمانځه کې امام جوړیدای شي.

ښځه نه، سړیو ته د جهاد حکم دی، ښځو ته نه دی، سړی حکمران کیدای شي، ښځه نه،
(وګورئ! تفسیر کبیر او داسې نور...)
۲: په دې خلقي اوصافو او کمالاتو کې چې سړیو ته کوم فضیلت ورکړل شوی دی، ښځې د هغه له غوښتلو نه هم منع شوې دي، ارشاد دی:
﴿ وَلَا تَتَمَنَّوۡا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعۡضَكُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ ﴾ (النساء : ۳۲)

ترجمه: تاسې دیو داسې شي تمنا مه کوئ چې په هغوکې الله پاک ځینو ته په ځینو باندې فوقیت ورکړی دی. (ترجمه حضرت تهانوی رحمه الله)
۳: سړی یې ناکح او ښځه یې منکوحه جوړه کړې ده او نکاح هم یو نوع ملکیت دی او د مملوک مملوک کیدل د هغه د حاکمیت منافي دي.
۴: ﴿ بیده عقدة النکاح ﴾ فرمایلو سره یې بیان کړل چې د نکاح حل او عقد د سړي په لاس کې دی، د ښځې په لاس کې نه دی، د نکاح حل او عقد هم چې د چا په لاس کې نه وي ورکړل شوی د حکومت حل او عقد د هغه په لاس کې څنګه ورکول کیدای شي؟
۵: د ښځې شهادت د سړي د شهادت په مقابله کې نیم شوی دی، چې د هغه سبب د حدیث په نص سره ناقص العقل کیدل دي، نو داسې ناقص العقل چې د شهادت کامله اهل هم نه وي هغه د پوره ملک د حکمرانۍ اهل څنګه کیدای شي؟
۶: بیا د دوه ښځو شهادت تر هغه وخته پورې قابل اعتبار نه دی تر څو پورې چې یو سړی هغوی سره ګواهي ورکولو والا نه وي او شهادت فرع د قضاء ده او قضاء فرع ده د حکومت، نو څوک چې د یوې فرع د فرع اهل هم نه وي هغه د اصل الاصل اهل څنګه کیدای شي؟
۷: ښځو ته په کور کې د کیناستلو حکم شوی دی او بهر وتلو سره د ډول د اظهار نه ممانعت فرمایل شوی دی، نو هغه د حکومت د طلب کولو له پاره څنګه بهر وتلای شي؟
۸: په ښځو باندې د ستر او حجاب پابندي لګول شوې ده او هغوی د غیر محارم سره د خلوت او اختلاط نه منع شوې دي، نو هغه حکمرانه جوړیدو سره د غیر محرمو، بلکې د کفارو سره خلوت او اختلاط څنګه کولی شي؟
۹: سړي ته د کور حاکم جوړولو سره هغه ته د عدل او خوش اخلاقي او ښځې ته د اطاعت او وفاداري حکم شوی دی: ﴿ فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلۡغَيۡبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ﴾ نو چې کله د یو کور حکومت هم ښځې ته نه دی سپارل شوی، نو د پوره ملک حکومت هغې ته څنګه سپارل کیدای شي.
۱۰: د قرآن کریم په خطاباتو کې سړي اصل او ښځې د هغوی تابع شوې دي، نو تابع متبوع جوړول قلب موضوع ده.

دا عشرة كامله(پوره لس) په بيړه د قلم په ژبه باندې راغلل. كه نه، ددې نه پرته هم ډير نصوص دي چې له هغونه دښځې د حيثيت او مرتبې تعين كيږي. چې د هغه خلاصه داده چې په ښځې كې فطري نزاكت او ضعف دی او د جرأت او همت. صبر او بردباري. حوصلې او اولواالعزم او بهاردې په شان مردانه صفتونو نه د هغې ښځې كيدل مانع دي. له دې وجې خالق فطرت داسې امور كوم چې د هغه د نزاكت او نسوانيت سره مناسب نه و، د هغه درووند بار يې د هغې په نازكو او كمزورو اوږو باندې نه دی اېښی، داد هغه حكيم مطلق دښځو سره شفقت او مهرباني ده چې د هغوی د ضعف او ناتواني رعايت يې وكړ، كه نن دا خبره دښځو حق ضائع كول ګڼل كيږي، نو دا د فطرت مسخ كولو علامت دی.

دولسمه مغالطه:

كوثر نيازي صاحب فرمايي چې: د "قوام" ترجمه عام ډول سره حاكم كيږي، خو هغه يې د "لسان، ، او "تاج، ، په حوالې سره بيانوي چې دا ترجمه صحيح نه ده. بلكې ددې معنا ده د روزي كفالت كونكی، روزی برابرونكي". موصوف ته د قوام په مفهوم باندې پوهه كې مغالطه شوې ده، د قوام او قيم دواړو يوه معنا ده، يعني رئيس، سردار، منتظم، د چا د معاملاتو كفيل او احكام نافذ كونكی، په تاج العروس او لسان العرب كې دي:

﴿ وقد يجئ القيام بمعنى المحافظة والاصلاح ومنه قوله تعالى: الرجال قوامون على النساء ﴾
(تاج العروس ج ۹ ص ۳۷)

ترجمه: د قيام لفظ كله د محافظت، نګراني او اصلاح له پاره راځي او دهمدې نه د الله پاك دا قول دی چې: سړي قوام دي په ښځو باندې (دهغوی محافظ، نګران او د هغوی اصلاح كونكي دي).

﴿ والقيم السيد وسائس الامر وقيم القوم الذى يقومهم ويسوس امرهم ﴾ (لسان العرب ج ۱۲ ص ۵۰۲) **ترجمه**: د قيم معنا ده سردار، د يوې معاملې تدبير كولو والا، د يو قوم قيم هغه سړي دي كوم چې هغوی برابر ساتي او د هغوی د معاملاتو تدبير كوي.

﴿ وفى تنزيل العزيز: الرجال قوامون على النسآء، فكانه والله اعلم، الرجال متكفلون بأمور النآس ومعنيون بشؤونهن ﴾ (لسان العرب ج ۱۲ ص ۵۰۳)

ترجمه: په قرآن كريم كې دي چې: سړي قوام دي په ښځو، ددې نه مراد (والله اعلم) دادی چې سړي د ښځو د ټولو امورو كفيل او ذمه دار دي، د هغوی د معاملاتو ذمه داري اوچتونكي او د هغې اهتمام كونكي دي.

﴿ والقيم السيد وسائس الامر، والقوم المتكفل بالامر ﴾ (تاج العروس ج ۹ ص ۳۷)

ترجمه : د قیم معنا سردار ده او د یوې معاملې تدبیر کونکی او د قوام معنا ده هغه سړی چې د یوې معاملې متکفل او ذمه دار وي.
له دې عبارتونو نه معلومه شوه چې تاج العروس او لسان العرب کې هم د قوام هم هغه معنابیان شوې ده، کومه چې عام ډول سره علماء امت بیان کړې دی، یعنې رئیس، حاکم، سردار، منتظم، مدبر، مصلح، د چا د معاملاتو ذمه دار او احکام نافذ کونکی. معلومیږي چې موصوف د تاج او د لسان د عبارتونو په مطلب نه دې پوه شوی.
دلغت نه وروسته اوس تفاسیر وګورئ!

الف : ﴿ **الرجال قوامون على النساء، نافذي الامر عليهن فيما جعل الله اليهم في امورهن** ﴾ (ابن جریر ج ٤ ص ٥٧)

ترجمه : سړي په ښځو باندې قوام دي چې د هغوی حکم په ښځو باندې نافذ دی، دښځو په هغه امورو کې کوم چې الله پاک سړیو ته سپارلي دي.

ب : ﴿ **الرجال قوامون على النسآء اي مسلطون على ادبهن والاخذ فوق ايديهن، فكانه تعالى جعله اميرا عليها ونافذ الحكم في حقها** ﴾ (تفسیر کبیر ج ۱۰ ص ۸۸)

ترجمه : سړي مسلط شوي دي په ښځو، هغوی ته د ادب ښودو او د هغوی د لاس نیولو له پاره، نو ګویا الله پاک سړي په ښځو باندې حاکمان کړي دي چې د هغې په حق کې د سړي حکم نافذ دی.

ج : ﴿ **الرجال قوامون على النساء، قيامهم عليهن بالتاديب والتدبير والحفظ والصيانة** ﴾ (احکام القرآن جصاص ج۲ ص۱۸۸)

ترجمه : د قوام نه مراد دادی چې سړي په ښځو باندې مسلط دي، هغوی ته د ادب ښودو او د هغوی د تدبیر کولو او د هغوی د حفظ او صیانت په ذریعه.

د : ﴿ **الرجال قوامون على النساء، يقومون عليهن آمرين ناهين، كما يقوم الولاة على الرعايا** ﴾ (کشاف : ج ۱ ص ۵۰۵)

ترجمه : سړي په ښځو باندې مسلط دي چې هغوی ته امر او نهي کوي، لکه چې حکام په رعایا باندې مسلط وي له همدې وجې هغوی ته قوام ویل شوي دي.
هم دا قسم الفاظ په ټولو تفاسیرو کې ذکر شوي دي، چې له هغو نه واضح کیږي چې سړی دښځې له پاره یوازې معاشي کفیل نه دی، بلکې د هغوی د اخلاقي، دیني اصلاح او تادیب ذمه داري هم په سړیو باندې اچول شوې ده او هغه د کور د حکومت نګران اعلی جوړ شوی دی.
هر چې د اردو تراجم تعلق دی، د حضرت شاه عبدالقادر محدث دهلوي رحمه الله د "الهامي ترجمې"، نه واخله تر د حکیم الامت تهانوي رحمه الله پورې ټولو اکابرین ددې ترجمه د حاکم یا

ددي په هم معنا الفاظو کې کړې ده، لهذا د کوثر نيازي صاحب دا ګڼل چې ددي معنا د حاکم نه ده. بلکې يوازې د معاشي کفيل ده صحيح نه ده، اصل کې موصوف د کفالت اردو محاوره په ذهن کې ساتلو سره دا ګڼلې ده چې ددې معنا يوازې د معاشي ذمه دارو اوچتولو پورې محدوده ده.

موصوف ته دې معلومه وي چې ائمه اجتهاد هم ددې آيت کريمه نه استدلال کولو سره دا فيصله کړې ده، چې ښځه د امامتِ صغرى او امامت کبرى دواړو صلاحيت نه لري. په دې باندې د تفاسير نه پرته د فقهاء اربعه د مذاهب حوالې ما په خپله رساله "د ښځې مشري" کې نقل کړي دي، يو نوې حواله د امام شافعي رحمه الله د کتاب الام نه نقل کوم:

﴿ قَالَ الشَّافِعِيُّ : رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالَى وإذا صَلَّتُ الْمَرْأَةُ بِرِجَالٍ وَنِسَاءٍ وَصِبْيَانٍ ذُكُورٍ فَصَلاَةُ النِّسَاءِ مُجْزِئَةٌ وَصَلاَةُ الرِّجَالِ وَالصِّبْيَانِ الذُّكُورِ غَيْرُ مُجْزِئَةٍ لأَنَّ اللّٰهَ عز وجل جَعَلَ الرِّجَالَ قَوَّامِينَ على النِّسَاءِ وَقَصَرَهُنَّ عن أَنْ يَكُنَّ أَوْلِيَاءَ وَغَيْرَ ذلك ﴾ (كتاب الام ج ١ ص ١٩١)

ترجمه: امام شافعي رحمه الله فرمايي چې کله يوې ښځې سړيو، ښځو او هلکانو ته لمونځ ورکړ، نو د ښځو لمونځ وشو، خو د سړيو او ماشومانو لمونځ نه کيږي، ځکه چې الله پاک سړي په ښځو باندې قوام جوړ کړي دي او ښځې يې ددې نه قاصرې کړې دي چې هغوى ته دې څه ولايت وغيره حاصل شي.

که موصوف د ائمه مجتهدين په اشاراتو باندې د پوهې صلاحيت لري، نو هغه ته به د امام شافعي رحمه الله د پورته ذکر شوي عبارت نه معلومه شوي وي چې سړيو ته په ښځو باندې د قوام جوړولو معنا داده چې ښځې په چا باندې د ولايت او اختيار صلاحيت نه لري، نود هغوى حاکم جوړيدل د د فطرت د وضع خلاف ده.

دیارلسمه مغالطه:

جناب کوثر نيازي صاحب د الله پاک د ارشاد: ﴿ وَبِمَآ أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ ﴾ په مدعا باندې د پوهيدونه هم قاصرپاتې شوى دى، لهذا په مختصر الفاظو کې د هغه وضاحت هم مناسب دى.

الله پاک په دې آيت کريمه کې د تدبير منزل صالح او فطري نظام ارشاد فرمايلى دى او هغه دا چې کور په سړي او ښځې باندې تشکيل مومي او ددې تشکيل فطري وضع داده چې په کور کې سړى حاکم وي اوښځه دهغه د حکم لاندې وي، په ﴿ الرجال قوامون على النساء ﴾ کې هم دې طرف ته اشاره شوې ده. بيا يې د سړيو د حاکميت او قواميت دوه اسباب ذکر کړي دي، يو خلقي او بل فطري سبب، کوم چې يې په ﴿ بما فضل الله بعضهم على بعض ﴾ سره ذکر کړي دي، يعنې الله پاک په ځينو فطري اوصافو او کمالاتو کې سړيو ته په ښځو باندې فضيلت ورکړى

دی، چې د هغه مقتضاء داده چې سړي په ښځو باندې قوام وي اوښځې د هغوی د حکم لاندې وي.
دويم سبب کسبي دی کوم چې يې په ﴿ وبما انفقوا من اموالهم ﴾ سره بياني دی، يعنې سړي د کور دابادولو له پاره ښځو ته مهر ادا کړی دی او د هغوی د خرچې او معاشي ضروریاتو بوج يې پورته کړی دی، له دې وجې هم سړيو ته په ښځو باندې فوقيت دی او هغوی د کور حاکمان او اعلی افسران دي، بيا د سړيو د حاکميت ددې دوه اسبابو د ذکر کولو نه وروسته ددې حاکميت نتيجه په دې الفاظو کې ذکر فرمايي ﴿ فالصالحات قانتات ﴾
(نو نيکې ښځې هغه دي چې د سړيو فرمانبرداري وي) نود ايت کريمه مدعا داده چې سړي په ښځو باندې قوام او حاکم دي له دې وجې مقرر شوي دي چې اول خو په غير اختياري او فطري خصوصياتو کې سړيو ته په ښځو باندې فوقيت حاصل دی، اوس که د کور د حکومت حاکم د سړيو په ځای ښځې مقرر کړل شي، نو ټول نظام به خراب شوی و، دويم دښځو د مصارف (مهر او خرچې اوداسې نورې) ذمه داري هم په سړيو باندې کيښودل شوې ده، ګويا هغوی د سړيو د لاس لاندې او هغوی ته ناستې دي او د عقل او فطرت تقاضه داده چې کوم خلک الله پاک اوچت کړي وي هم هغوی دې په ښکته خلکو باندې حاکم تسليم کړل شي.
جناب نيازي صاحب يوه غلطې خو دا کړې ده چې قرآن کريم د سړيو د قواميت چې کوم دوه اسباب بيان کړي دي په هغو کې يې اولنی ته خو بالکل کتلي نه دي او دويمه غلطي يې دا وکړه چې ﴿ وبما انفقوا من اموالهم ﴾ په بليغ الفاظو سره چې قرآن د کومې دعوې دليل بيان فرمايلی و، د موصوف نظرعالي د هغه حقيقت ته د رسيدو نه قاصر پاتې شوی دی. دا خبره د عجائباتو نه ده چې د داسې فهم او پوهې والا د ائمه اجتهاد نه خلاف کوي او د هغه مشرانو په فيصلو پورې ټوکې کوي.
نيازي صاحب په کلونو د جماعت اسلامي سره پاتې شوی دی، خپله هم قيم د جماعت اسلامي لاهور پاتې شوی دی د جماعت اسلامي اصطلاح قيم جماعت اسلامي نه به يقينا ناخبر نه وي، د هغه نه پوښتنه کيدلی شي چې ايا د قيم جماعت اسلامي معنا داده چې هغه د جماعت اسلامي د خرچې کفيل وي؟

څوارلسمه مغالطه:

موصوف په سورة نمل کې د ذکر شوې د بلقيس د کيسې نه د حضرت تهانوي رحمه الله په حوالې سره استدلال کوي چې ښځه د ملک حکمرانه جوړيدای شي. که موصوف په دې ځای کې د حضرت تهانوي رحمه الله د بيان القرآن فوائد کتلي وای، نو هغه ته به دا غلط فهمي نه کيدله، حضرت ليکي: او زموږ په شريعت کې د ښځې دبادشاه جوړيدو ممانعت دی، نود بلقيس د کيسې نه دې څوک شبه نه کوي، اول خو دا فعل د مشرکينو و، دويم که شريعت سليمانيه عليه السلام

د دې تقرير هم کړی وي، نو په شرع محمدي ﷺ کې د دې خلاف راتلو سره هغه حجت نه دی.
(بيان القرآن ج ۸ ص ۸۵)

او خپله په همدې فتوا کې د کوم چې کوثر نيازي صاحب حواله ورکړې ده. حضرت تهانوي رحمه الله ليکي:

"حضرات فقهاء کرامو په امامت کبری کې ذکورة (نارينه کيدل) شرط صحت او په قضاوت کې اګر چې شرط صحت نه خو د ګناه نه د بچ کيدو شرط ويلی دی. (امداد الفتاوی ج ۵ ص ۱۰۰)

مطلب دا چې که ښځه حاکم اعلی جوړه شي، نو د دې منصب له پاره د سړي کيدو شرط و. له دې وجې به د ښځې حکومت صحيح نه وي، بلکې په اهل عقد باندې به لازم وي چې سړی حاکم جوړ کړي او که ښځه قاضي جوړه شي د فقهاء احناف په نزد به د هغې تقرر صحيح وي، خو جوړونکي به ګناه ګار وي او د دې ګناه د ازالې له پاره ضروري ده چې ښځه د دې منصب نه لرې کړي، اوس دې کوثر نيازي صاحب انصاف وکړي چې ايا د حضرت تهانوي رحمه الله د فتوا په رڼا کې د ښځې د حکومت د مشرې ګنجائش شته؟ د حضرت تهانوي رحمه الله د کومې فتوا حواله چې مولانا کوثر نيازي ورکړې ده، د هغه توجيه او تعليل ما په خپله رساله "عورت کی سربراهي" کې ذکر کړې دی هغه دې وکتل شي.

نيازي صاحب حديث نبوي ﷺ: ﴿ **لن يفلح قوم ولوا امرهم امراءة** ﴾ ساقط الاعتبار ګڼلو سره ليکي: "ايله خوار علماء کرام په دې سلسله کې يو حديث وړاندې کوي، چې په هغه کې راوي وايي چې: "ماته د جنګ جمل په دوران کې د رسول الله ﷺ د قول نه اطمينان وشو چې کله ايرانيانو د خپل بادشاه د کسری لور خپله حکمرانه کړه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: چې کوم قوم ښځه خپله حکمرانه کړه، هغه به کله هم کامياب نه شي.

په دې روايت کې د جنګ جمل په دوران کښ د الفاظو نه معلوميږي چې دا روايت هغه وخت مخې ته راغلو چې کله ام المومنين حضرت عائشه رضي الله عنها خپله د يو فوج په قيادت کې د حضرت عثمان رضي الله عنه د قصاص د مطالبې له پاره ميدان ته کوزه شوه، د هغه د قيادت د غلط ثابتولو له پاره د دې دا روايت وړاندې شو او دا خيال يوازې زما نه دی، بلکې په فتح الباری ج ۱۳ ص ۵۶ کې د امام ابن حجر عسقلاني رحمه الله هم د دې رايې اظهار کړی دی."

دلته هم موصوف ته ډير مغالطې شوې دي.

پنځلسمه مغالطه:

د موصوف د سپکو الفاظو "ايله خوار علماء کرام په دې سلسله کې يو حديث وړاندې کوي" نه معلوميږي چې د موصوف په خيال کې د ائمه اجتهاد له کوم نه چې موصوف د علماء کرام په لفظ سره تعبير کړی دی چې په لمن کې يې د يو حديث نه پرته نور هيڅ هم نه شته، حال دا چې دا د موصوف غلط فهمي ده پورته مې د قرآن کريم د ايات شريفه طرف ته اشاره کړې ده.

کوم چې د ښځې د مقام او مرتبې تعین کوي او د کوم نه چې ائمه اجتهاد مسئله اخذ کړې ده، دغه شان په ذخیره احادیث باندې که نظر واچول شي، نو په ډیرو احادیثو باندې په دې مسئله کې رڼا پریوځي لکه چې په اهل نظر باندې دا خبره پټه نه ده. له دې وجې "ایله خواران یو حدیث وړاندې کوي" جمله د ائمه مجتهدین په حق کې بې ادبي او ګستاخي ده. افسوس دی چې د هغه ادب نه پیژندونکی قلم د داسې ګستاخیانو عادي شوی دی.

شپاړسمه مغالطه:

موصوف ته د حدیث په مفهوم باندې پوهیدو کې مغالطه راغلې ده، په صحیح بخاري کتاب المغازي، **باب کتاب النبي ﷺ الی کسری وقیصر** کې د حدیث متن په دې الفاظو باندې مذکور دی:

ترجمه: سیدنا ابوبکرة رضي الله عنه فرمایي چې ما یو خبره د رسول الله ﷺ نه اوریدلې وه، هغې ماته د جنګ جمل په موقع باندې نفع راکړه، وروسته د دې نه نزدې وه چې زه په اصحاب جمل کې شاملیدو سره د هغوی په ملګرتیا کې جنګ وکړم (کومه خبره چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلې وه دا وه) چې کله رسول الله ﷺ ته دا خبر راورسید چې اهل فارس د کسری لور خپله ملکه جوړه کړې ده، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه قوم به کله هم فلاح بیا نه مومي چا چې حکومت ښځې ته وسپاره.

او د ترمذي او د نسایي په روایت کې دي چې سیدنا ابوبکرة رضي الله عنه فرمایي:

زه الله پاک بچ کړی یم د یوې خبرې په ذریعه کومه چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلې وه (وړاندې د حدیث ذکر کولو نه وروسته وایي) چې کله عائشه رضي الله عنها بصرې ته راغله. نو ماته د رسول الله ﷺ دا خبره رایاده شوه، نو الله پاک زه (په جنګ کې د شرکت کولو نه) بچ کړم.

او د عمر بن شبه په روایت کې دي چې:

حضرت عائشه رضي الله عنها ابوبکرة رضي الله عنه راطلب کړ، نو هغه جواب ورکړ چې بیشکه تاسو مور یئ او بیشکه ستاسو حق ډیر عظیم دی، خو ما د رسول الله ﷺ نه دا ارشاد خپله اوریدلی دی چې هغه قوم کله هم فلاح نه شي موندلی د چا حکمرانه چې ښځه وي. (فتح ... ج ۱۳. ص ۵۶)

د دې روایاتو نه څو امور واضح شول:

۱: سیدنا ابوبکرة رضي الله عنه د مسلمانانو خپل مینځ کې جنګ کې بالکل غیر جانبدار و، خو د هغه قلبي میلان د عائشې رضي الله عنها طرف ته و.

۲: د دې قلبي میلان له وجې نږدې وه چې هغه د ام المومنین رضي الله عنها په صف کې شاملیدو سره په جنګ کې شریک شوی وای.

۳: خو د رسول الله ﷺ ارشاد کوم چې هغه په خپلو غوږونو اوریدلی ود هغه له وجې هغه د دې خپل خیال نه منع شو.

۴: ام المومنين رضي الله عنها چې کله هغه د خپل حمايت له پاره راطلب کړ، نو هغه د ام المومنين په پوره ادب او احترام سره د دې ارشاد نبوي ﷺ له وجې معذرت وکړ او ام المومنين حضرت عائشې رضي الله عنها هم په دې ارشاد اوريدو باندې سکوت اختيار وفرمايه او په هغه باندې نور اصرار ونه فرمايلو ګويا ام المومنين رضي الله عنها هم د دې ارشاد نبوي ﷺ نه ناخبره نه وه.

حافظ ابن حجر رحمه الله ليکي: چې د دې حديث نبوي ﷺ نه سيدنا ابوبکرة رضي الله عنه اندازه کړې وه چې د عائشې رضي الله عنها لښکر به کله هم کامياب نه شي، له دې وجې هغه په دې جنګ کې د هغې د ملګرتيا نه منع شو، چې وروسته يې د علي رضي الله عنه غلبه وليدله، نو په هغه باندې د ترک قتال په باره کې د خپلې رايې صحت واضح شو.

د حديث متن او د حافظ الدنيا ابن احجر عسقلاني رحمه الله د تصريحات کتلو نه وروسته په دويم ځل يو نظر د مولانا کوثر صاحب په پورته ذکر شوي عبارت باندې واچوئ، نو معلومه به شي چې:

۱: جناب کوثر صاحب يا خو د حديث په مفهوم نه دی پوهه شوی، يا هغه د خپل مطلب د پوره کولو له پاره د حديث مفهوم قصدا مسخ کړی دی.

۲: د حديث اولين راوي سيدنا ابوبکرة رضي الله عنه يو مشهور صحابي دی، خو موصوف "راوي وايي" الفاظو ويلو سره د هغه د مجهول کيدو تاثر ورکوي.

۳: د رسول الله ﷺ جليل القدر صحابي رضي الله عنه فرمايي چې په فلانی موقع باندې ماته د رسول الله ﷺ ارشاد رایاد شو، چې هغې زه په فتنه کې د واقع کيدو نه بچ کړم، کوثر صاحب په هغه باندې تهمت لګوي چې هغه د عائشې رضي الله عنها قيادت د غلط ثابتولو له پاره دا روايت وړاندې کړ، ګويا حديث يې د ځان نه جوړ کړ.

۴: حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله فرمايي چې په جنګ جمل کې د سيدنا علي رضي الله عنه غلبې په سيدنا ابوبکرة رضي الله عنه باندې د خپلې رايې صحت واضح کړی و، خو کوثر نيازي صاحب خپل مفروضات د حافظ رحمه الله په سر باندې وراچوي **انا لله وانا اليه راجعون.**

اوولسمه مغالطه:

جناب کوثر نيازي صاحب علم مصطلح الحديث او فن اسماء رجال هم په خپلو زرينو افاداتو سره ډولي کول ضروري وګڼل، نو د حديث په رجال باندې بحث کولو سره ليکي:

په حديث باندې غور کولو له پاره دويم قابل غور اړخ دادی چې کومو کسانو دا روايت بيان کړی دی يا د حديث په اصطلاح کې چې څومره د دې اسناد دی، د هغو ټولو تعلق د بصرې (عراق) سره دی، په فتح الباري جلد اتم صفحه ۹۷ کې دي:

﴿ والاسناد کله بصريون ﴾ د دې ټول راويان د بصرې سره تعلق لري.

د مکې او د مدينې ديو راوي ورسره تعلق نه شته، حال دا چې د رسول الله ﷺ نه د حديث اوريدونکي او اولني اوريدونکي د مکې او د مدينې **(زادهما الله شرفا)** اصحاب کيدل پکار

دي، هم دا وجه ده چې امام جلال الدين سيوطي رحمه الله د امام شافعي رحمه الله په حوالې سره ليکلي دي چې د کوم حديث نه د مکې او مدينې والا واقف نه وي د هغه د حقيقت سره هيڅ تعلق نه شته. (تدريب الراوى از سيوطى صفحه ۲۳)

کوثر نيازي صاحب د دې حديث د اسناد.د بصري کيدو نه دا ګڼلې ده، يا خلک په دې پوه کول غواړي چې د دې ټول راويان هميشه د بصرې د کلو کوڅو پورې محدود وو په هغوی باندې کله هم د بل ښار هوا نه ده لګيدلې او هغوی کله هم مدينې يا مکې ته نه دي تللي. نه دا حديث چا د رسول الله ﷺ نه پرته د واسطې نه اوريدلی دی لهذا...... نعوذ بالله! دا حديث غلط دی. چا د خانه جوړکړی دی، د کوثر نيازي صاحب دا افادات د محدثينو د اصطلاح نه د هغوی د ناخبرې نتيجه ده، هغوی د حافظ په کلام کې دا خو ولوستل چې د دې ټول راويان بصريان دي، کاش ! چې هغوی د يو طالب علم نه د دې مطلب پوښتی وای.... د بصري کيدو څه مطلب دی؟

تفصيل د دې خبرې دادی چې کله بصره، د حضرت عمر رضي الله عنه په دور کې په (۱۴)هجري کې اباده شوه، نو دې ځمکې ته د ټولو نه مخکې د صحابه ووکرامو رضي الله عنهم د قدمونو ښکلولو موقع ملاو شوه او ډيرو صحابه ووکرامو رضي الله عنهم دلته استوګنه اختيار کړه، نوابن سعد په طبقات کبرى (ج : ۷ ص ۵ تا ۹۰) کې د يو نيم سلو نه د زياتو صحابه کرامو رضي الله عنهم تذکره ليکلې ده چې هغوی په بصره کې استوګنه اختيار کړې وه، په هغوکې حضرت انس بن مالک رضي الله عنه (خادم النبي ﷺ) حضرت ابوبرزة الاسلمي رضي الله عنه، حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه، حضرت عتبه بن غزوان رضي الله عنه، حضرت معقل بن يسار رضي الله عنه، حضرت عبدالرحمن بن سمرة رضي الله عنه او د ابوبکرة رضي الله عنه په شان مشهور صحابه کرام رضي الله عنهم شامل دي، د امام حسن بصري رحمه الله قول دی:

﴿ لم ينزل البصرة افضل من ابي بكرة و عمران بن حصين ﴾(الاستيعاب حاشية الاصابة ج ۳ ص ۵۶۸، الذهبى: تاريخ اسلام ج ٤ ص ۳۳٤، سير اعلام النبلاء ج ۳ ص ۱۰)

ترجمه : په بصره کې يو داسې سړي استوګنه نه وه اختيار کړې، چې هغه د ابوبکرة او عمران بن حصين رضي الله عنهما نه افضل(غوره) وي.

د محدثينو اصطلاح داده چې کومو صحابه کرامو رضي الله عنهم د شام په ملک کې استوګنه اختيارکړې وه، هغوی شاميان شماري، په مصر کې اباديدونکي ته مصري او دبصرې متوطن بصري شيمري، هم دغه شان...... اوس د دې حضراتو هم وطن تابعين چې کله د دې صحابه کرامو رضي الله عنهم نه روايت کوي، نو دا اسناد شامي، مصري، کوفي، بصري او خراساني (وغيره وغيره) بلل کيږي او ځينې وخت يو محدث ته د يو ښار د راويانو نه په سلسله د سند سره روايت رسيږي، نو په داسې موقع باندې ويل کيږي. ﴿ والاسناد كله مصريون، شاميون، بصريون، كوفيون ﴾وغيره وغيره او دا شی د اسناد په لطائف کې شمارل کيږي.

په کوم حديث کې چې بحث روان دی ددې لومړی راوي حضرت ابوبکرة رضي الله عنه صحابي دی، د غزوه طائف په موقع باندې يې اسلام قبول کړی دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات پورې په سفر او حضر کې هغه سره و او د وفات النبي صلی الله علیه وسلم نه وروسته هم تر د (۱۴) هجري پورې په مدينه طيبه کې اوسيده هغه دا حديث په خپلو غوږونو مبارکو باندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ژبې مبارکې نه اوريدلی و، نو هغه د ﴿ **سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم** ﴾ تصريح فرمايي، خو زموږ کوثر نيازي صاحب د اسناد په بصري کيدو کې مغالطه ورکوي چې ددې حديث لومړي راوي ته هم د مکې او مدينې د زيارت شرف نه دی حاصل، پاتې لا داچې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې د حاضري شرف يې حاصل کړی وي، د کوثر صاحب په دې خوش فهمي باندې د ﴿ **انا لله وانا اليه راجعون** ﴾ نه پرته څه ويل کيدای شي. ؟

دحضرت ابوبکرة رضي الله عنه نه ددې حديث روايت کونکی د عالم اسلام مشهوره هستي امام حسن بصري رحمه الله دی او له هغه نه روايت کونکی يو جماعت دی.

حافظ ابن حجر رحمه الله د ابن عساکر رحمه الله په حوالې سره ليکي:

﴿ **رواه عن الحسن جماعة واحسنها اسنادا رواية حميد** ﴾(فتح الباری ج ۱۳، ص ٥٤)

ترجمه: دا حديث د امام حسن بصري رحمه الله نه يو جماعت روايت کړی دی په هغه کې د ټولو نه ښه سند د حميد روايت دی.

اوس د کوثر نيازي صاحب نه پوښتنه کيږي چې، هغه دې حديث ته دروغ ويلو سره ددې دروغو الزام په ابوبکرة رضي الله عنه باندې تړي او که د عالم اسلام قابل فخر امام التابعين حسن بصري رحمه الله باندې، يا د هغه نه روايت کونکي د يو پوره جماعت په سر؟ ددې عاجز مشوره داده چې هغه دې په دې مشرانو باندې دبهتان تړلو په ځای دا اعتراف وکړي چې هغه د فن حديث نه بې علمي او خوش فهمي دا کار کړی دی او په دې اکابرينو او تابعينو دې د بهتان عظيم تړلو نه توبه وکړي.

اتلسمه مغالطه:

موصوف د تدريب الراوي په حوالې سره د امام شافعي رحمه الله چې کوم قول نقل کړی دی، په هغه کې موصوف ته درې غلطيانې شوي دي:

اول: اول دا چې د امام شافعي رحمه الله قول د خپل دور يعنې د دويمې پيړۍ د اخر په باره کې دی، حاشا چې د صحابه ووکرامو رضي الله عنهم او اکابر تابعين رحمهم الله په باره کې امام شافعي رحمه الله داسې مهمل خبره وکړي.

دويم: دا چې د امام شافعي رحمه الله اصل الفاظ دادي:

﴿ كل حديث جاء من العراق و ليس له اصل في الحجاز فلا تقبله وان كان صحيحاً. ما اريد الا نصيحتك ﴾ (تدريب الراوى ج ١ ص ٨٥ مطبوعه مير محمد كراچى)

ترجمه هرهغه حديث چې د عراق نه راغلى وي او په حجاز کې د هغه څه اصل نه وي، نو هغه مه قبلوئ خوکه صحيح حديث وي، نو بيا بيله خبره ده، زما مقصد تاته نصيحت کول دي.
تاسو ګورئ چې په دې کې د مکې او د مدينې د اصحابو الفاظ نه شته، دا الفاظ موصوف په غلط فهمي کې خپله تصنيف کولو سره امام شافعي رحمه الله ته منسوب کړی دی. که موصوف د امام شافعي رحمه الله د مسند مطالعه کړې وای، نو هغه ته به ښکاره شوې وه چې د امام شافعي رحمه الله مسند د موصوف ددې الفاظو تکذيب کوي، ځکه چې خپله هغه ډير روايات د مکې او مدينې د اصحابو نه پرته د نورو حضراتو نه اخيستي دي.

دريم : دعراق په رواياتو باندې چې کله محدثين تنقيد کوي يا هغه ته په مشکوک نظر ګوري، نوله ''عراق،، نه د هغوی مراد کوفه وي، يوازې د بصرې نه هغوی په لفظ د عراق سر تعبير نه کوي، خو چې کله کوفه او بصره يوځای ذکر کوي، نو د هغه نه په لفظ د **عراقيين** سره تعبير فرمايي، کوفه د روافضو مرکز و، چاته چې ﴿ اكذب خلق الله ﴾ ويل کيږي. له دې وجې محدثين کوفې روايت ته ډير په مشکوک نظر سره ګوري او ترڅو پورې چې د قرائنو او شواهد نه د صحت اطمينان نه وي شوی له هغه نه د ځان ساتلو تلقين کوي، خو د بصرې رواياتو په باره کې د هغوی رايه دومره سخته نه ده، په تدريب کې حافظ سيوطي رحمه الله د حافظ ابن تيمية رحمه الله قول نقل کړی دی!

﴿ وقال ابن تيمية : اتفق اهل العلم بالحديث على ان اصح الاحاديث ما رواه اهل المدينة ثم اهل البصرة ثم اهل الشام ﴾ (تدريب ج ١ ص ٨۶ طبع جديد ج ١ ص ٣٩)

ترجمه : دمحدثينو په دې باندې اتفاق دی چې ډير صحيح حديث هغه دی کوم چې د اهل مدينه روايت دی، بيا د اهل بصره، بيا د اهل الشام.
او ددې نه وړاندې يې د خطيب بغدادي قول نقل کړی دی.

﴿ وقال الخطيب أصح طرق السنن ما يرويه أهل الحرمين (مكة والمدينة) فإن التدليس عنهم قليل والكذب ووضع الحديث عندهم عزيز ولأهل اليمن روايات جيدة وطرق صحيحة إلا أنها قليلة ومرجعها إلى أهل الحجاز أيضاً ولأهل البصرة من السنن الثابتة بالأسانيد الواضحة ما ليس لغيرهم مع إكثارهم والكوفيون مثلهم في الكثرة غير أن رواياتهم كثيرة الدغل قليلة السلامة مع العلل ﴾ (تدريب ج ١ ص ٨٥ طبع جديد ج ١ ص ٣٩)

ترجمه: د حديثو صحيح ترين اسانيد هغه دي كوم چې د اهل حرمين (مكې او مدينې) په روايت سره وي، ځكه چې په هغه كې تدليس كم دى او په دروغو احاديث تړل د نه كيدو برابر دي او د اهل يمن په نزد روايات جيده او طرق صحيحه دي خو كم دي او د هغوى مرجع هم د اهل حجاز طرف دى او اهل بصرې سره ډير احاديث صحيحه په اسانيد واضحه سره موجود دي كوم چې نورو سره نه شته، سره ددې چې هغوى كثير الروايت دي او په كثرت روايت كې اهل كوفه هم د اهل بصره په شان دي، خو د هغوى په روايت كې دروغ او دوكه ډيره ده. ډير كم روايات دي چې د علل نه محفوظ او سالم وي.

د تدريب دا روايت هم په هغه صفحه ده د كوم ځاى نه چې كوثر نيازي صاحب د امام شافعي رحمة الله جمله نقل كړې ده او د هغه په مفهوم او مدعا باندې د ځان پوهولو نه پرته يې له هغه نه خپله مدعا اخذ كول غوښتي دي، خو افسوس چې نه خو هغه د يو ماهر فن نه دا علم باقاعده زده كړى ده، نه يې خپله د داسې لياقت مظاهره كړې ده چې د غور او فكر كولو نه وروسته هغه ځه صحيح نتيجې ته ورسيږي، له دې وجې يې پرته د تكلف نه په امام شافعي رحمة الله باندې دا تهمت ولګولو چې هغه د مكې مكرمې او د مدينې منورې صحابه وو د رواياتو نه پرته په پوره عالم اسلام كې خواره د صحابه وو كرامو رضي الله عنهم روايات غلط ګڼي. **استغفر الله!**

نولسمه مغالطه:

كوثر نيازي صاحب د صحيح بخاري صحيح حديث د تاريخ په تله باندې تللو سره ليكي:

د حديث يو بل قابل غور اړخ دادى چې د رسول الله ﷺ هيڅ يو ارشاد داسې نه شي كيداى چې هغه ته تاريخ د دروغژن كولو جرأت وكړاى شي، كه تاسو فرمايلي واى چې يو قوم هم چا چې ښځه حكمرانه كړې وي كاميابي نه شي موندلى، نو بيا به تاريخ ددې تصديق كوي. هغه د رسول الله ﷺ ددې قول د ترديد جرأت نه شي كولى، فلاح په دنيا او اخرت دواړو ځايونو كې د كاميابي او كامراني نوم دى او زموږ مخكې تاريخ داسې ډير واقعات وړاندې كوي چې په هغه كې ښځه د خپلو ملكونو او قومونو مشرانې شوې او د هغوى دور د خپل وخت ښكلى دور و.

په دې ضمن كې موصوف ددې ښځو ذكر كړى دى: د روس ملكه كيتهرائن، د هاليند ملكه هلينا، د هغې لور او لمسى، د برطانيه ملكه وكټوريه، موجوده ملكه الزبتهـ او د هغه ځاى ښځه آهن ماركريټ، د لكسمبرګ يوه ډچ ملكه او د هغې جانشين موجوده ملكه، د اسرائيل ګولډا ميئر، د انډيا اندرا ګاندهي او د سرى لنكا بندرا نائيكې دا ښځه د موصوف په خيال كې د سړيو نه زياتې كاميابې او لائق حكمرانې پاتې شوې دي او د هغوى دور غوره دور ګڼل شوى دى.

په مسلمو ښځو كې د مصر د بادشاه نجم الدين لور ... لور نه، بلكې ښځه، ملكه شجرة الدر، فاطمه شريفه، ملكه ترخان، رضيه سلطانه، چاند بي بي او د بهوپال د بيګماتو حواله وركړې ده، مولانا موصوف ددې ښځود حوالو ذكر كولو نه وروسته ليكي:

"سوال دا پيدا کيږي چې که د تاريخ دا روښانه مثالونه ټول په ټول ددې خبرې شهادت ورکوي چې د دې ښځو حکمرانو په دور کې د هغوی رعايا د امن او سکون شپيلئ وهله. نو بيا به دا قول د رسول ﷺ چيرته ځي؟ چې په هغه کې دا ويل شوي دي چې هغه قوم کاميابي نه شي موندلی چې چا ښځه خپله حکمرانه جوړه کړه، ايا ددې دا مطلب دی چې زما په خوله کې خاورې چې تاريخ د قول رسول ﷺ ترديد وکړ، په سمندر کې اور ولګيد، ګلونو بدبويي شروع کړه، لمر او سپوږمۍ تياره خورول شروع کړل. ورځ شپه جوړه شوه او شپه ورځ کې بدله شو.

کوثر نيازي صاحب د منطق خلاصه داده چې ددې ښځودور حکومت د انسانيت د فلاح دور و، لهذا ددې تاريخي واقعاتو دا ثابته کړه چې دا حديث دروغژن دی، حديث رسول ﷺ نه دی، که نه، د تاريخ څه مجال و چې هغه د حديث رسول ﷺ تکذيب وکړي؟

دلته د موصوف د فکر او پوهې نه دومره غلطي شوې ده چې په دې مختصر مضمون سره د هغه پوره تجزيه ممکن نه ده، خو مختصرا څو امورو ته اشاره کوم:

۱: په قرآن کريم کې څلويښتو ته نژدې اياتونه دي چې په هغه کې فلاح په اهل ايمان کې منحصر ګڼل شوې ده او د کفارو او فجارو نه د هغه نفي شوې ده، جناب کوثر نيازي صاحب چې په کوم منطق باندې حديث رسول دروغژن کړی دی، څوک احمق هم دې منطق ته وړاندې بوتلو سره د تاريخ په حوالې سره د قرآن کريم ددې اياتونو (نعوذ بالله)... تکذيب کولو ته کيني، نو کوثر صاحب سره به ددې څه جواب وي؟ ځکه چې کله انجناب دا ومنله چې ددې کافر او فاجر ښځو دور غوره دور او د فلاح او کامراني دور و، لهذا په حديث کې چې د فلاح نفي شوې ده هغه د هغو ښځو غوره دور او د هغوی زرينو کارنامو غلط ثابت کړ، نو تاسو سره د پوهې يا په ناپوهي باندې دا هم ومنله چې د قرآن کريم دا دعوه چې کفارو او فجارو ته به فلاح نه نصيب کيږي... نعوذ بالله غلطه ثابته شوه، ايا هم ستاسو په الفاظو کې ستاسو نه پوښتنه نه شي کيدای چې:

که هم ددې کافرو او فاجرو ښځو د حکمراني په دور کې د هغوی رعايا د امن او ارام شپيلۍ وهلې، نو بيا به د قرآن کريم دا ارشاد چيرته ځي چې کافرانو او فاجرانو ته به فلاح نه نصيب کيږي، ايا د دې مطلب زما په خوله کې خاورې دادي چې موږ دا ومنو چې تاريخ د الله پاک د قول ترديد کړی دی

د قول رسول ﷺ په باره کې خو تاسو فورا وويل چې دا قول د رسول ﷺ نه دی، چا له ځانه جوړ کړی دی او رسول الله ﷺ ته يې منسوب کړی دی، ايا د قرآن کريم ددې څلويښتو ايتونو په باره کې به هم د روافض په شان دا وايي چې تاريخ **نعوذ بالله!** دا ايتونه غلط ثابت کړي دي؟

نعوذ بالله من الغواية والغباوة!

۲: جناب د فلاح تفسير په خپله دا ليکلي دي چې:

"فلاح په دنيا او اخرت دواړو ځايونو کې د کاميابي او کامراني نوم دی".

ددې تفسیر په رڼا کې د جناب عالي نه پوښتنه کیږي چې ددې کافرو او فاجرو ښځو د حکمراني په دور کې چې د هغوی د دروغژن چمک نه مرعوب کیدو سره جناب عالي هغه غوره دور ګڼلی دی هغوی ته یا د هغوی رعایا ته د اخرت کومه کامیابي او کامراني ملاو شوه؟ چې د هغه په بنیاد باندې تاسو د حدیث رسول ﷺ تکذیب کوئ؟ که دې کفارو او فجارو ته د اخرت فلاح نه ده نصیب شوې، نو حدیث رسول ﷺ څنګه غلط ثابت شو

هر چاته معلومه ده چې ددې ښځو دور د الله پاک د هیرولو او د خپل ځان د هیرولو بدترین دور و، چې په هغه کې د انساني اقدارو خاوره پلیته شوه، انسان د وحشي درندګانو شکل اختیار کړ، د سړیو او ښځو سخت اختلاط پیدا شو. شهوت پرستي، اباحیت او د جنسي شدت وبا خوره شوه او هغوی ټوله دنیا په جنسي زکام اخته کړه، هم ددې ښځو په غوره دور کې مغرب د مور پلار ازادۍ حاصله کړه، د معاشرې تحلیل او د کور نظام تباه پاتې شو، د انسان په شکل ځناور د حیوانیت هغه کارنامې وښودلې چې وحشي ځناورو ته یې هم شکست ورکړ او ! هم ددې ښځو په زرین دور کې پارلیمینټ د هم جنس ودونو د جواز قانون وضع کړ، ګویا عمل د قوم لوط علیه السلام ته یې قانوني سند ورکړ، نو پادري صاحبانو په ګرجا کې د دوه هلکانو نکاح وتړله او هغوته یې د ښځې او خاوند حیثیت ورکړ او هم ددې ښځو په دور کې د طلاق حق د سړیو په ځای د ښځو په لاس کې ورکړل شو د دې ښځو په سپیره دور کې په انسانیت باندې کوم کوم ظلم ونکړای شو؟ خو د کوثر نیازي صاحب په نظر کې دا د انسانیت د فلاح او کامراني دور و، له دې وجې هغه فرض کوي چې تاریخ د حدیث رسول ﷺ تکذیب وکړ، په دې عقل او پوهه باندې یوازې کوثر نیازي صاحب فخر کولی شي . !

۳: د کومو ښځو په حوالې سره چې موصوف د حدیث رسول ﷺ د تکذیب فخریه اعلان کوي، دهغه حکومت د معمول حکومت نه و، بلکې د حادثې پیداوار و او د نظام شهنشاهیت پیدوار و او د نظام شهنشاهیت نتیجه وه، په دې شهنشاهي نظام کې حکمراني د جهان پناه د کور مینځه وه، ملک د هغې جاګیر و او تاج او تخت د هغې وراثت و، د جهان پناه له مرګ نه وروسته د هغې هلک، که نابالغ ولې نه وي د تاج او تخت وارث ګڼل کیدو، که هلک به نه و، نو اینجلۍ، ښځه خور به ملکه جوړیدله، نونیازي صاحب چې د کومو ښځو حواله ورکړې ده هغه ټولې هم ددې حادثې پیداوار وې چې د هغوی په شاهي خاندان کې څوک سړي باقي نه وو او شهنشاهیت د جهان پناه د خاندان نه بهر نه شو وتللی، د مجبوري له وجې نه دې ښځو د حکومت واګې په لاس کې ونیولې، ګویا دې نظام ملوکیت هم دا نکته تسلیموله چې که یو حادثه ښکاره نه شي، نو حکومت د ښځو نه، بلکې د سړیو حق دی، هر چې د حادثاتي واقعاتو تعلق دی ددنیا یو عقل مند هم هغه د معمول په واقعاتو باندې نه ورتپي، بلکې اهل عقل دداسې واقعاتو نه عبرت حاصلوي، چاته پته نه شته چې د عجیب الخلقت ماشومانو د پیدائښن واقعات ښکاره کیږي، خو یو عاقل کله هم هغوی معیاري او مثالي ماشومان ګڼلو

سره په هغو باندې فخر نه دی کړی، دا کوثر نيازي صاحب دی چې د دور ملوکيت حادثاتي واقعات په ډول د مثال او نمونې وړاندې کوي او ددې حادثاتي واقعاتوله وجې د رسول الله ﷺ د حديث د دروغژن کولو جرأت کوي.

دور ملوکيت ختم شوی دی او د هغه ځای دروغژن جمهوريت او په صحيح معنا کې جبريت نيولی دی، خو د عوامو ذهن نن هم د دور ملوکيت د غلامانه ذهنيت عکاسي کوي، هم دا وجه ده چې د انډيا په تخت جمهوريت باندې د نهرو نه وروسته د هغه لور اندرا کيناسته او ترڅو چې دا خاندان ختم نه شو، د انډيا تخت هم ددې خاندان جاگير و، که د قضاء او قدر فيصلو ددې خاندان د يو يو فرد خاتمه نه وه کړې، نو ناممکن وه چې ددې خاندان نه هندوستان خلاص شوی وای.

د ۱۹۶۴ء په صدارتي انتخاب کې مس فاطمه جناح د ايوب خان په مقابله کې رامخې ته کيدل هم ددې ذهني غلامۍ کرشمه وه، ځکه چې هغه دباني پاکستان مسټر محمد علي جناح خور وه، له دې وجې د بادشاه خور د صدر ايوب په مقابله کې د حکومت کولو زياته مستحق وګڼل شوه، هغه خو د ايوب خان بي ډي نظام بيړه غرقه کړه چې فاطمه جناح شکست وخوړ، که نه، که يو سړی د يو ووټ په ذريعه دا انتخابي معرکه سر کول غوښتل، نو ګټه به يقينا د بادشاه د خور وه، د ايوب خان به چا پوښتنه هم نه وه کړې، د سري لنکا د مسز بندرا نائيکې د خپل خاوند نه وروسته د هغه د پارټۍ قائد جوړيدل، د بنګله ديش د حسينه واجد د خپل پلار په ځای او د خالده ضياء د خپل خاوند په ګدۍ باندې قابض کيدل هم د عوامو ددې شاه پرستانه او غلامانه ذهنيت مظهر دی، هم ددې ذهني غلامۍ نتيجه ده چې د پي پي کي د "شاه"، نه وروسته د هغه د تخت وارث د هغه ښځه او لور شوه ځکه چې د تخت اصل وارث په دغو ورځو کې د ملک نه بهر و، تاسو به وګورئ چې ترڅو پورې د شاهي خاندان يو فرد هم باقي دی، د پارټۍ قيادت او د ملک حکومت به د هغه خانداني حق تصور کولی شي، د کوثر نيازي صاحب خطبات او مقالات هم ددغه غلامانه ذهنيت تمبيدلی اواز دی، چې د هغه په بنياد باندې موصوف د ارشاد نبوي ﷺ په مضبوط ديوال باندې دخپل دين او ايمان سر ماتوي.

۴: د کومو مسلمانانو ښځو نومونه چې موصوف دساده عوامو مخکې دمعيار په ډول وړاندې کوي که د تاريخ په پاڼو کې ددې ښځو د کارنامو مطالعه وشي، نو په هغه باندې به د فخر کولو په ځای به يې سرونه د شرم نه ښکته شي، دمثال په ډول د موصوف ممدوحه د (شجرة الدر) حالات زما د رسالې "زنانه کی حکمرانی" په اخر کې د په طور منسلک دي چې د هغه خلاصه داده چې د خپل خاوند نجم الدين له وفات نه وروسته هغې د بادشاهت له خاطره د خاوند زوی (توارن شاه) په خفيه ډول قتل کړ او خپله بادشاه جوړه شوه، په دې باندې خليفه بغداد مستنصر بالله د اهل مصر په نوم باندې خط وليکه چې:

"اې اهل مصر! که تاسو سره داسې سړی نه وي پاتې شوی چې بادشاهي د سنبالولو اهليت لري، نو موږ ته ووايئ که داسې وي، نو موږ به يو سړی در ولېږو چې د بادشاهي د سنبالولو اهليت لري، ايا تاسو حديث نبوي ﷺ نه دی اوريدلی چې رسول الله ﷺ فرمايي. هغه قوم کله هم نه شي کاميابيدای چا چې خپل معاملات يوې ښځې ته وسپارل".
خليفه اهل مصر ته تاکيد وکړ چې ښځه دې معزوله شي او د هغې په ځای دې يو سړی حاکم مقرر شي چې د خليفه دا خط مصر ته راورسيد، نو (شجرة الدر) د خپل سپه سالار عزالدين ايبک په حق کې بادشاهي پرېښوده او هغه يې بادشاه کړ او ورسره يې واده وکړ. څو ورځې وروسته يې خپل خاوند قتل کړ، د بادشاه د قتل نه وروسته هغې ډېرو خلکو ته تخت وړاندې کړ، خو چا هم هغه قبول نه کړ، اخر دا چې د تاج او تخت سره خپل ځان د عز الدين ايبک وارثانو ته په حواله کولو باندې مجبوره شوه او د خپل غلط کردار په سزا کې قتل شوه، ټول اتيا ورځې د هغې حکومت و، چې د هغه له خاطره هغې د خپل خاوند زوی او دويم خاوند قتل کړ او خپله د خپل کردار نتيجې ته ورسيده، افسوس دی چې زموږ کوثر نيازي صاحب ددې مکارې ښځې د اتيا ورځو د سازشي حکومت د ناخبره عوامو مخکې وړاندې کوي او خلکو ته وايي چې ددې ښځې د درې مياشتو نه کم د حکمرانۍ دور غوره دور و، کوم چې د ارشاد رسول ﷺ تکذيب وکړ:

بريں عقل و دانش ببايد گريست

شلمه مغالطه:

پورته د اتمې مغالطې لاندې تير شوي دي چې جناب مودودي صاحب د مس فاطمه جناح د صدارتي انتخاب د جواز ثابتولو له پاره دا نظريه وړاندې کړې وه چې کوم شيان په شريعت کې حرام شوي دي دهغه دوه قسمونه دي، حرام ابدي او حرام غير ابدي، زموږ کوثر نيازي صاحب دې نظريې ته خطرناک ويلو سره ويلي و چې: "دغه شان شريعت نه يوه ټوکه جوړيږي".
ددې په ځای موصوف د ښځې د حکمراني د جواز ثابتولو له پاره چې کومه نظريه اختراع کړه هغه هم د هغه په الفاظو کې دا ده:
اصل خبره داده چې زموږ ډېرې رويې زموږ د مخصوص سماجي او معاشرتي جبر پيداوار دي، د ښځې د مشرې مسئله هم څه داسې مسئله ده، چې کله ښځه د کفالت له پاره سړي ته محتاجه وه، د کور په چارديواري کې بنده وه، نو مسئلې مسائل بل شان وې، خو اوس خو د سماجي حالاتو او ضرورياتو نقشه بالکل مختلفه ده، ښځه په هره مسلمانه معاشره کې قدم په قدم وړاندې روانه ده، خپله دکټې قابله ده، تعليم يافته ده، په هره شعبه کې په ذمه دارانه مناصب باندې فائزه ده، دغه شان د مخصوص سماجي نظرياتو پيداوار نه شريعت جوړولو سره په عوامو باندې نه شي مسلط کولی.

زه محترمو لوستونکو ته او خپله جناب کوثر نیازي ته هم د انصاف دعوت ورکوم چې هغوی فیصله وکړي چې یو طرف ته د مودودي صاحب نظریه "ابدي حرام او غیر ابدي حرام"او بل طرف ته د کوثر نیازي صاحب نظریه چې :" د شریعت ډیر مسائل د سماجي او معاشرتي جبر پیداوار دي". او دا چې "له هغه نه شریعت جوړولو سره په عوامو باندې نه شي مسلط کولی". په دې دواړه نظریاتو کې کومه یوه ډیره خطرناکه ده؟ او په شریعت پورې په بدترین ټوکو کې کومه نظریه زیاته د جرأت مظاهره کوي؟ مودودي صاحب د شریعت حرام ته حرام تصور کولو سره یوازې دومره ترمیم کړی و چې دا حرام ابدي نه دي، بلکې حرام غیر ابدي دي، خو نیازي صاحب هم دې حرام ته "د جبر پیداوار" ویلو سره نه یوازې ددې د حرمت نه انکار کړی دی، بلکې "ددې نه شریعت جوړولو سره په عوامو باندې نه شي مسلط کیدلی" په الفاظو سره یې د شریعت محمدیه ﷺ خلاف صفا صفا د بغاوت اعلان هم وکړ، دکوثر نیازي صاحب د زړه په یو کونج کې که د عقل او ایمان او فهم او انصاف څه ادنی نه ادنی برخه هم باقي وي، نو هغه دې بار بار سوچ وکړي او د زړ کرته سو چ کولو نه وروسته دې انصاف وکړي چې هغه په دې نظریه ایجاد کولو باندې مودودي صاحب شاته پرینښوده؟ هغه نیغ د پرویزیانو په صف کې شامل نه شو؟ او ایا هغه د پورته ذکر شویو الفاظو په ذریعه شریعت په سپکاوي سره رد نه کړ؟ د مودودي صاحب روح به د هغه نه شکایت کوي:

میری وفا کو دیکھ کر، اپنی جفا کو دیکھ کر
بنده پرور! منصفی کرنا خدا کو دیکھ کر

که کوثر نیازي صاحب ته پته وي او که نه وي، خو هر هغه سړی چې د دین د ابجدو نه هم خبر وي هغه پوهیږي چې کوم مسائلو ته موصوف د جبر پیداوار ویلو سره ډیر جرأت او جسارت، بلکې په بې باکي او سختي سره رد کوي، دا د قرآن کریم صریح احکام دي.

الله پاک چې علیم او خبیر دی او خالق فطرت دی، د نسواني فطرت او د هغه د تقاضو نه ښه خبر دی، هم هغه علیم اوحکیم ښځو ته حکم کړی دی چې په خپلو کورونو کې کلکې کیني او د جاهلیت اول په شان دې د شهوت په نیلام ګهر کې د خپل حسن نمائش نه کوي، نو ارشاد دی: ﴿ وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ ﴾(الاحزاب : ٣٣)

ترجمه: او قرار ونیسئ په خپلو کورونو کې او ښکاره مه وځئ، څنګه ښکاره وتل چې مخکې د جاهلیت دستور و. (ترجمة شیخ الهند)

شیخ الاسلام حضرت مولانا شبیراحمد عثماني رحمه الله ددې ایت کریمه په تفسیر کې لیکي: "یعنې د اسلام نه مخکې د جاهلیت په زمانه کې به ښځې بې پردې ګرځیدلې او د خپل بدن او د جامې د زیبائش به یې ښکاره مظاهره کوله، ددې بد اخلاقي او بې حیایي عادت اسلام څنګه برداشت کولی شي؟ هغه ښځو ته حکم وکړ چې په کورونو کې کیني او د جاهلیت د

زمانې په شان د حسن او جمال نمائش نه کوي، د امهات المومنين رضی الله عنهن فرض به په دې معامله کې نور هم زيات موکد وي لکه چې د ﴿لستن كاحد من النساء﴾ د لاندې تير شوي دي.
باقي د يو شرعي يا طبعي ضرورت له وجې پرته د ډول او سنګار نه په ساده جامو کې پټې کله کله بهر وتل، په دې شرط چې د ماحول په اعتبار سره د فتنې ويره نه وي، بيشکه د دې اجازه د نصوص نه راوځي او خاص د ازواج مطهرات رضی الله عنهن په حق کې هم د دې ممانعت نه ثابتيږي. بلکې ډېرو واقعاتو نه د داسې وتلو ثبوت پيداکيږي، خود شارع د ارشاداتو نه ښکاره ظاهريږي چې هغه دا خوښوي چې يو مسلمانه ښځه په هر حال د خپل کور زينت جوړه شي او بهر وتلو سره دې شيطان ته د ځار او کتلو موقع ورنکړي. (فوائد عثمانی)
همدغه شان د ښځو دخرچ کفالت او ذمه داري الله پاک په سړيو باندې کيښودلې ده. چې د هغې اعتراف خپله فاضل نيازي په دې مضمون کې کړی دی، اوس د دې غلطو ټوکو څه حد. شته چې د قرآن کريم احکام منصوصه ته چې عين د فطرت تقاضه ده دې ته "سماجي او معاشرتي جبر" ويلو سره په سپکاوي باندې رد کړل شي، نيازي صاحب دې بيان کړي چې کوم وخت په قرآن کريم کې دا احکام نازليدل که په هغه وخت کې ستاسو يو ورور د داسې احکاماتو په باره کې همدا جمله ويله، نو د هغه شمار به په کومو خلکو کې وو؟ او دا مو هم ښه خبره وکړه چې ښځه خپله ګټې، تعليم يافته ده قابله ده وغيره وغيره، لهذا د قرآن کريم احکاماتو ته "معيار شريعت جوړولو سره په عوامو باندې نه شي مسلط کولی" يعنې د حافظ شيرازي رحمه الله په قول د نن سبا زليخا د عصمت د پردې نه بهر وتلې ده، لهذا قرآن کريم منسوخ شو او شريعت باطل شو، **نعوذ بالله!**
د داسې عقل او پوهې خبرې د نيازي صاحب په شان پوهانو سره ښائي(!)
يادش بخير ډاکټر فضل الرحمن صاحب، د چا په ذمه چې د ايوب خان په زمانه کې د اسلام د مرمت فرض سپارلې شوي و، هغه هم دا د نيازي فلسفه وړاندې کړې وه، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې ښځې جاهلې وې، اجړې وې، ناپوهه وې له دې وجې قرآن کريم د دوه ښځو شهادت د يو سړي برابر کړی و، خو د نن سبا ښځه تعليم يافته ده، قابله ده، مهذبه ده، لهذا هيڅ وجه نه شته چې د هغې شهادت دې د سړي برابر نه کړل شي، د دې بدتميزي نتيجه دا راوتله چې د هغه ايمان سلب شو، اوريدلي مو دي چې هغه ښکاره عيسايي کيدو سره مړ شو، نن کوثر نيازي صاحب هم د ليلائے اقتدار په عشق کې هم د هغه په نقش قدم باندې روان دی، داسې محسوسيږي چې د ډاکټر فضل الرحمن صاحب مسند نن کوثر نيازي صاحب ته حواله شوی دی، ايا څوک شته چې نيازي صاحب ته د خيرخواهي مشوره ورکړي چې هغه د ډاکټر فضل الرحمن د انجام نه عبرت حاصل کړي.

يويشتمه مغالطه:

نيازي صاحب په حديث ﴿ الائمة من قريش ﴾ باندې هم خبره کړې ده. د موصوف وينا ده چې ددې حديث له وجې دخليفه او حکمران کيدو له پاره زموږ ټول علماء او فقهاء قريشي النسل کيدو ته شرط لازم وايي، مولانا ابو الکلام آزاد دې حديث ته پيشن ګويي ويلو سره ددې ترجمه داسې کړې وه چې : حکمران به د قريشو نه وي زموږ علماء کرامو ددې ترجمه داسې وکړه چې : حکمران د قريشو نه کيدل پکار دي.

په دې حديث شريف باندې د مفصل بحث دلته ګنجائش نه شته چې دا ديوې مستقلې مقالې موضوع ده، مختصر دا چې د حديث صحيح مفهوم هم هغه دی کوم چې ټولو فقهاء کرامو او علماء کرامو اخيستی دی د مولانا ازاد طرف ته چې کوم مفهوم نيازي صاحب منسوب کړی دی، که دا نسبت صحيح هم وي، نو هغه ښکاره غلط دی، ځکه چې اول خو د علماء او فقهاء کرامو په مقابله کې د مولانا ازاد قول هيڅ قيمت نه لري، دويم دا چې د ټولو علماء او فقهاء د قول مطابق دا يو حکم شرعي دی، کوم چې رسول الله ﷺ فرمايلی دی، اوس که امت په دې حکم شرعي باندې عمل کوي، نو د هغوی نيک بختي ده او که امت ددې خلاف کوي، نو امت به د عتاب لائق وي، خو د رسول الله ﷺ په ارشاد باندې هيڅ حرف نه راځي، په خلاف ددې چې که دا پيشن ګوئي حساب شي، نو نيازي صاحب خپله دا مني چې دا پيشن ګوئي نه ده پوره شوې، په دې صورت کې به د رسول الله ﷺ د پيشن ګويي نعوذ بالله غلط کيدل لازم شي، ظاهره ده چې د امت طرف ته د کوتاهي نسبت کول د رسول الله ﷺ پيشن ګويي ته نعوذ بالله د دروغ ويلو نه اسان دي، که د نيازي صاحب په دې نکتې باندې نظر وي، نو هغه به د علماء او فقهاء کرامو تغليط ته ملا نه وه تړلې.

دويشتمه مغالطه:

نيازي صاحب د لاوډ اسپيکر، تصوير، ټيلي فون او د ښځو د تعليم حوالې ورکولو سره په علماء کرامو پورې ټوکې کړې دي، کوم سړی چې د قرآن کريم د احکاماتو، د رسول الله ﷺ د ارشاداتو طيباتو، په سلف صالحينو، ائمه مجتهدينو او په ټول فقهاء امت پورې ټوکې کوي که هغه دخپل دورپه علماء کرامو پورې ټوکې وکړي، نو د هغه نه به څه شکايت وکړل شي؟ خو نيازي صاحب ته داعرض کول ضروري ګڼم چې که هغه دپوهانوقول ﴿لحوم العلماء مسمومة﴾ د علماء کرامو غوښه کې زهر وي، ضرور اوريدلي وي، تاسو په علماء کرامو پورې ټوکې ضرور کوئ خو دا مه هيروئ چې :دا زهر چې د کوم سړي په رګونو کې خواره شي هغه د دنيا نه ايمان سلامت نه وړي، ددې نه پرته هغه خپل شمير هم په دې ډله کې کوي او د هغه د نوم سره د مولانا سابقه لګيدلې وي، چې د کوم تالي نه خوراک کيږي په هغې کې توکول د عقل مندو کار نه دی.

درویشتمه مغالطه:

د خالص علمي مضامینو په ثبوت کې لطیفې او عکسي خبرې وړاندې کول د جناب نیازي صاحب نوی طرز استدلال دی. له دې وجې په اهل علم پورې د ټوکو کولو له پاره هغه په څو لطیفو باندې خپل لوستونکي خوشالوي، وګورئ!

اوله لطیفه:

"یو وخت و چې لاؤډ اسپیکر حرام و، اوس امام صاحب چې پنځه کسان هم ناست وي. نو د لاؤډ اسپیکر د لګولو نه پرته درس نه کوي"

د موصوف ددې ارشاد حیثیت یوازې د یوې لطیفې او عکسي خبرې دی، خو په دې کې هم هغه د دروغو د مالګې او مرچ لګول مناسب وګڼل، د موصوف د خبرولو له پاره عرض دی چې په لاؤډ اسپیکر باندې وعظ او ارشاد ته کله هم اهل علمو حرام نه دي ویلي، له دې وجې د هغه دا لطیفه یوازې د مالګینو دروغو حیثیت لري.

دویم: د هغه په خدمت کې عرض دی چې په یو علمي مسئله کې د تحقیق د بدلیدو له وجې نه د اهل علم رائې بدلیدل، داسې خبره نه ده چې په هغې پورې ټوکې وشي، دا د اهل علم مستمره سنت راروان دی، امام شافعي رحمه الله په ډیرو مسائلو کې د قول قدیم په ځای قول جدید اختیار کړی دی، چې د هغه نه اهل علم خبر دي، د امام احمد رحمه الله په نزد به داسې مسائل ډیر کم وي چې په هغه کې د هغه نه دوه دوه او درې درې اقوال نه وي نقل شوي، زمونږ د امام ابوحنیفه رحمه الله نه هم په ډیرو مسائلو کې ګڼ اقوال نقل دي، د ځینو مسائلو په باره کې منقول دي چې امام صاحب له وفات نه مخکې د هغو نه رجوع کړې وه، الغرض د اهل علم رایه بدلیدل داسې شی نه دی چې هغه پورې ټوکې کولو سره دې د هغه نه خوند واخیستل شي، دا خو د اهل علم سنت مستمره دی چې په کلونو یې چې په کوم قول باندې فتوا ورکوله د تحقیق حق نه وروسته یې د هغې نه پرته د تکلف نه رجوع وفرمایله جناب کوثر نیازي صاحب به د دې نکتې نه بې خبر نه وي که بالفرض د لاؤډ اسپیکر په مسئله کې د علماء کرامو تحقیق بدل شو، نو دا خبره د اعتراض قابل نه ده، خو د هغه مقصود په علماء کرامو پورې ټوکې کول دي، له دې وجې هغه دا هم ونه کتل چې څه د هغه د ژبې او قلم نه راوځي هغه د حقیقت خلاف نه دي؟ او کوم شي پورې چې هغه ټوکې کوي هغه د اعتراض قابل هم دي او که نه؟

دریم: د جناب د خبرولو له پاره عرض دی چې د لاؤډ اسپیکر په مسئله کې د اهل علم فتوا نه ده بدله شوې، بلکې د لاؤډ اسپیکر د اواز په باره کې د فني ماهرینو رایه بدله شوه، په لمانځه کې د اقتداء اصول دادي چې د امام یا د هغه د نائب مکبر په اواز باندې رکوع او سجده کول صحیح دي، خو که د امام اواز یو دیوال او غر سره جنګیدو باندې بیرته راغلو او د مقتدي

غوږ ته راورسیږي، نو ددې تمبیدلي اواز اقتداء د مقتدي له پاره جائز نه ده، که وکړي، نو د هغه لمونځ به فاسد شي.

چې کله لاؤډ اسپیکر ایجاد شو، نو اهل علم د فني ماهرینو نه پوښتنه وکړه چې ددې په ذریعه راتلونکی اواز بعینه د ویونکي اواز دی او که د هغه تمبیدلي اواز دی؟ فني ماهرینو وویل چې دا اصل اواز نه دی، بلکې د تمبیدلي اواز په شان شی دی، په دې باندې اهل علم فتوا ورکړه او بالکل صحیح فتوا یې ورکړه چې د لاؤډ اسپیکر په اواز باندې د مقتدي انتقالات (رکوع او سجود وغیره) صحیح نه دي، لمونځ به یې فاسد وي، خو وروسته د فني ماهرینو تکنیکي رایه بدله شوه او هغوی اولې رایې ته غلط ویلو سره وویل چې د لاؤډ اسپیکر اواز بعینه د ویونکي اواز دی، کوم چې اله مکبر الصوت لرې لرې رسوي، په دې باندې مفتي اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمه الله فتوا ورکړه چې که دا صورت وي، نو لمونځ په دې باندې جائز دی او نورو مشرانو علماء کرامو ددې فتوا تصدیق وکړ، نوددې پوره شرح او تفصیل د حضرت مفتي صاحب په رساله "آله مکبر الصوت" کې موجود ده، اوس انصاف وکړئ چې د جناب نیازي صاحب په علماء کرامو پورې توکې کول کوم ځای پورې صحیح دي؟ دلته د فتوا د بدلون مثال خو داسې شو چې یو سړی یو مفتي صاحب ته یو واقعه نقل کړي او دویم سړی د هغه بالکل برعکس صورت مسئله وړاندې کړي، ښکاره خبره ده چې د مفتي جواب به د دواړو سوالونو په باره کې یو شان نه وي، همدغه شان د لاؤډ اسپیکر په باره کې چې څنګه صورت د اهل علم مخکې وړاندې کړای شو، هم د هغې مطابق هغوی فتوا ورکړه وښایئ جناب نیازي صاحب! چې د توکو کولو څه ګنجائش پاتې شو؟

چون بشنوی سخن اهل دل مگو که خطاست
سخن شناس نه دلبرا خطا این جاست

دویمه لطیفه:

په یو دور کې (بلکه د مسئلې تر حده پورې خو اوس هم) تصویر ویستل حرام ګڼل کیدل، اوس چې تر څو پورې پریس کانفرنس ته فوټو ګرافر نه وي رارسیدلي حضرت مولانا صاحب خوله نه پرانیزي ـ نیازي صاحب مني چې اهل علم تصویر ویستل اوس هم حرام ګڼي، اوس که د هغه په قول " اوس چې ترڅو پورې پریس کانفرنس ته فوټو ګرافر نه وي رارسیدلي حضرت مولانا صاحب خوله نه پرانیزي" نودا د هغه مولایانو بې عملي ده، ایا په دې عمل باندې مطلقا د علماء کرامو په عزت پورې توکې کول به د مولانا نیازي صاحب له پاره حلال وي؟ نیازي صاحب ته معلومه ده چې د یو مجرم د قانون ماتول د حوالې په ډول وړاندې کول او د هغه له وجې د قانون یا د قانون د ماهرینو یا په قانون باندې عمل کونکو پورې توکې کول د روغ فکر علامت نه دی او که د هغه مقصد ددې قانون ماتولو په ذریعه د حضرات اهل علم تضحیک

دي، نو زه منم چې څو ملایان صاحبان نه، بلکې د امت غالب اکثریت د قانون ماتولو مرتکب دي، د الله پاک او د هغه د رسول په زرګونو نافرماني پرته له څه ویرې ترخې نه په موږ کې خورې شوې دي او هم ددې اجتماعي جرمونو نتیجه ده چې د الله پاک د قهر ډنډې په موږ باندې یو ښځه په ډول د حکمرانې مسلط کړې ده، چې د هغې له وجې موږ د ﴿ **بطن الارض خیر لکم من ظهرها** ﴾ مصداق جوړ شوي یو، الله پاک دې په موږ باندې رحم وکړي او زموږ ګناهونه دې معاف کړي، خو سوال دادی چې ایا د امت د بدعملي له وجې د الله پاک شریعت بدل کړل شي؟

او که د نیازي صاحب مقصود دا ښودل وي چې د تصویر د حرمت په باره کې د علماء کرامو فتوا غلطه ده، نو د هغه په خدمت کې عرض دی چې دا د جناب عالي غلط فهمي ده، د تصویر د حرمت په مسئله کې د مولانا ابوالکلام ازاد مرحوم او مولانا سید سلیمان ندوي رحمه الله په شان اکابر هم په غلط فهمي کې اخته وو، مولانا محمد شفیع رحمه الله خپله رساله (التصویر لاحکام التصویر) هغوی ته ولیږله، نو د هغوی غلط فهمي لرې شوه او دا د هغه بزرګانو حق پرستي وه چې هغه ښکاره د خپلې غلطۍ اعتراف وکړ په (۱۹۴۵ء) کې پرویز په ''طلوع اسلام،، کې د تصویر په جواز باندې یو مضمون ولیکه چې په هغه کې د مولانا ازاد او مولانا ندوي هم حواله ورکړل شوې وه او په دې باندې مولانا عبدالماجد دریا اباديٓ په ''صدق جدید ، ، کې ''تصویر او شریعت اسلامي، ، په عنوان باندې یو مقاله ولیکله،

دا مقاله په حال کې مولانا قاضي زاهد الحسیني په بینات کراچی (نومبر ۱۹۹۳ء) کې شائع کړې ده، د نیازي صاحب په خدمت کې هغې وړاندې کولو سره استدعا کوم چې هغه دې هم ددې بزرګانو په شان د حق پرستي ثبوت ورکولو سره په خپل موقف باندې نظر ثاني وفرمایي، د مولانا دریا ابادي مقاله لاندې لیکل کیږي:

تصویر او اسلامي شریعت

ددهلي نه یو میاشتنی رساله "قوم" راځي، هغه په جنوري نمبر کې رساله ''طلوع اسلام،، د دهلي په حوالې سره د مولانا سید سلیمان ندوي رحمه الله د یو ډیر زوړ مضمون خلاصه کومه چې د تصویر ویستلو سره متعلق ده، شائع شوې ده، او ''طلوع اسلام، ، خپله هم د تصویر ویستلو د جواز تائید کړی دی.

کوشش سخت افسوسناک او سخت مغالطه ورکونکی دی، د سید صاحب مضمون د نن نه ۲۵، ۲۲ کاله مخکې په (۱۹۱۹ء) کې لیکل شوی دی، هغه وخت د هغه تحقیق په دې باب کې مکمل او اجتهاد په دې مسئله کې صائب نه و، ددنیا د یو لوی نه لوی فاضل او محقق اجتهاد د خپل عمر او علم په هر دور کې یو شان صائب (حق ته رسیدونکي) وي؟ د عمر اضافي او د فکر او نظر پوخ والي سید صاحب په خپله رایې باندې نظر ثاني کولو باندې

مجبور کړ اود جنوري (۱۹۴۳ء) په معارف کې يې د حق خوبنولو د جرأت سره د رجوع او اعتراف د عنوان لاندې د خپل مسلک نه د رجوع اعلان هم شائع کړ، حيرانتياده چې د هغه دومره پخوانی مضمون دې په ريسرچ کولو سره راويستل شي او د هغه په تازه اعلان باندې دې داسې سترګې پټې شي.

د سيد صاحب په دې رجوع نامې سره به غوره داوي چې د مولانا ابوالکلام دادبهادري اعلان هم مخې ته وي:

" تصوير ويستل، ساتل او شائع کول ټول ناجائز دي دا زما سخته غلطي وه چې تصوير مې ويستلی و او "الهلال" ، مې د تصويرسره ويستلی و، اوس مې ددې غلطي نه توبه ويستلې ده، زما مخکې غلطي پټول پکار دي نه دا چې د نوي سر نه يې تشهير وکړل شي. (تذکره ابوالکلام ص : ۸)

په حديث نبوي کې سخت وعيدونه د تصويرونو او مصورينو په باره کې راغلي دي، د هغه د استحضار نه وروسته به ډير په ګرانه باندې يو ديندار او متقي مسلمان د جواز د فتوا جرأت کولی شي او دا استدلال خو بالکل غلط دی چې هغه احکام د دستي تصويرانو متعلق دي نه د فوټو دواړه قسمونه په هر حال دتصويردي، د جاندار د پايدار نقش دی، د اصل په لحاظ سره په دواړو کې هيڅ فرق نه شته او شرعي حکم د دواړو په حق کې داسې يو شان دی لکه د د کلي وال په لاس باندې جوړ شوي "دارو" ، (شراب) او د بهر ملکونو په الاتو باندې تيار شوي د اعلى درجې مقطر شراب انګوري يا اسپرټ په حق کې يو شان.

مولانا احمد علي لاهوري (خدام الدين) په مختصر رساله کې د "فوټو کا شرعی فيصله" په اخر کې د تصوير ويستلو په منع باندې تايدي ليکل د مولانا انور شاه کشميري او مولانا حسين احمد مدني او د نورو مشهور فاضلانو شامل دي او د ټولو نه زيات قابل اعتماد او قابله مطالعه ليکل په دې باب کې د مولانا مفتي محمد شفيع ديوبندي رحمه الله رساله (التصوير لاحکام التصوير) ده، ادراه "قوم" دې مهرباني کولو سره د هغه مطالعه ضرور وکړې.

"فرنګي تمدن" ويل پکار دي چې ټول بس تصويري تمدن دی او په موږ خلکو کې د تصوير ويستلو شوق يا د هغه وقعت او عزت د ټولو فرنګيانو د تهذيب نه د مرعوبيت نتيجه ده، نن فرنګستان په کروړو نه، بلکې په اربونو روپۍ چې هر کال په تصويرونو باندې خرچ کوي او خپل اخلاقي او فکري طاقت دواړه ددې په ذريعه تباه کوي، ددې کيسه چې څومره اوږده ده هغومره د عبرت والا ده افسوس دی چې موږ د هغه نه په ځای د عبرت حاصلولو التبه د خپل ځان له پاره دليل جوړ کړی؟ تصويرکشي، نقاشي او مجسمه سازي ته په هندو تهذيب، بدهستي تهذيب غرض په هر جاهلي تهذيب کې چې څومره نژدې تعلق يو طرف ته د شرک او بت پرستي سره او دويم طرف ته د فسق او فحش کاري سره پاتې شوی دی، د هغه څه اندازه نن هم غار ايلورا، غار اجنټا د ديوالونو تصويرانو د مشاهدې نه کيدای شي، د شريعت اسلامي

ژور، حکیمانه نظر د یویو جاهلي تهذیب، یو یو شعار اویو یو یادګار ختم کړی دی. (صدق لکهنو ۱۶ جنوری ۱۹٤۵ء)

دریمه لطیفه:

نورخو پریږده چې کله په شروع شروع کې شاه سعود ځان ته ټیلیفون ولګاو. نو علماء کرامو او شیوخ وویل دا حرام دی په دې کې خو شیطان خبرې کوي، یوه ورځ شاه سعود آپریټر ته وویل بل طرف ته د قرآن کریم تلاوت لګولو سره زما په دربار کې ټالی. ووهه چې تعمیل وشو. نو شاه د ټولو نه لوی شیخ ته وویل: وګورئ د ټیلي فون نه څه اواز راځي چې شیخ واوریده، نو ویې ویل واه! دا خو کلام الهي نشر کوي او له هغه ورځ نه سعودي عرب کې ټیلیفون حلال شو.

د نیازي صاحب د دې لطیفې نه څو خبرې معلومې شوې:

یو دا چې د حضرت لامحدود عنایات یوازې د پاکستان د علماء کرامو پورې محدود نه دي، بلکې د عرب او عجم اکابر او مشائخ ټول د جناب د سخاوتونو نه یو شان فائده اخلي.

دویم دا چې د حضرت لوی شهرت، د یو ادیب، یو صحافي یو مولانا یو موقع شناس سیاست کار په حیثیت سره و، خلکو ته دا معلومه نه وه چې د افسانه نګاري په فن کې هم هغه بې مثل دی، د شاه سعود د دور د علماوو او مشائخو په باره کې د هغه دا افسانه نګاري د شاباسي لائق ده.

دریم دا چې په حق ویلو او بې باکي کې تاسو ته ډیر مهارت حاصل دی چې د یو لوی نه لوی سړی ادب او احترام د هغه لاره نه شي منع کولی، د هغه د قلم څخه نه خو یو مومن ته امان دی او نه یو کافر ته، د هغه چاړه د حلال او د حرام تمیز نه کوي.

څلورم دا چې حدیث نبوي ﷺ ﴿ کفی بالمرء کذبا ان یحدث بکل ما سمع ﴾ د سړي د دروغژن کیدو له پاره همدا کافي ده چې هغه هره اوریدل شوې خبره وړاندې نقل کړي، باندې ستاسو پوره عمل دی، هغه د مکې مکرمې او مدینې منورې د علماوو او مشائخو د پټکي غورځولو له پاره هم دا سوچ نه کوي چې چا دا کیسه هغه ته بیان کړې ده هغه د اعتماد لائق هم دی اوکه نه؟ او دا چې دا واقعه د شاه سعود د زمانې ده او که د هغه د پلار محترم ملک عبدالعزیز د زمانې ده؟

که د نیازي صاحب دا افسانه جوړول صحیح هم تسلیم کړل شي، نو اخر هغه د دې نه څه ثابتول غواړي؟ زیات نه زیات به ترې دا ثابته شي چې د سعودي عرب علماء او مشائخ ډیر ساده ګان دي چې تر څو پورې د څه ایجاد شوي شي حقیقت هغه ته نه وي معلوم د هغه په باره کې ډیر احتیاط کوي، تاسو ووایئ چې داد هغو حضراتو مدح شوه که قدح؟

څلورویشتمه مغالطه:

موصوف د (نهاية المحتاج الى شرح المنهاج) په حوالې سره د شیخ الاسلام خیر الدین رملي رحمه الله فتوا نقل کړې ده چې: "که دخلکوله پاره ضروري شي چې د هغوی حکمرانه دې ښځه وي، نو د ضرورت له وجې هغه حکمرانه جوړیدای شي".

دلته موصوف ته درې مغالطې شوې دي:

اول: دا چې (نهاية المحتاج) د شیخ خیر الدین رملي حنفي رحمه الله تالیف نه دی، بلکې د شمس الدین رملي شافعي تالیف دی، موصوف ته په نوم کې التباس پیدا شوی دی، شیخ الاسلام خیر الدین رملي حنفي او د فتاوی خیریه په نوم باندې د هغه فتاوی شائع شوې ده. په (٩٩٣)هجري کې پیدا شوی دی او په ١٠٨١ کې وفات شوی دی، د (نهاية المحتاج) مصنف شیخ شمس الدین محمد بن احمد بن حمزه الرملي شافعي رحمه الله دی کوم چې د شافعي صغیر په لقب سره یادیږي، د هغه پیدائښ په (٩١٩)هجري او وفات په (١٠٠٤)هجري کې شوی دی.

دویم: د (نهاية المحتاج) مولف شیخ شمس الدین رملي هم د ښځې د ولایت قائل نه دی، نود قاضي شرطونو بیانولو سره لیکي:

﴿(وشرط القاضي).. (ذَكَرٌ) فَلَا تُوَلَّى امْرَأَةٌ لِنَقْصِهَا وَلِاحْتِيَاجِ الْقَاضِي لِمُخَالَطَةِ الرِّجَالِ وَهِيَ مَأْمُورَةٌ بِالتَّخَدُّرِ، وَالْخُنْثَى فِي ذَلِكَ كَالْمَرْأَةِ، وَلِخَبَرِ الْبُخَارِيِّ وَغَيْرِهِ { لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ امْرَأَةً }﴾

(نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج : ج ٨ ص:٢٣٨)

ترجمه: او دقاضي په شرطونو کې یو دادی چې هغه به سړی وي، لهذا د ښځې قاضي جوړيدل صحیح نه دي، ځکه چې اول خو په هغې کې فطري نقص دی. . . ددین او د عقل. . . .

دویم قاضي ته به سړيو سره د اختلاط ضرورت راځي، حال دا چې ښځې ته د پردې حکم دی، دریم په صحیح بخاري او نورو کتابونو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث موجود دی چې: هغه قوم هرګز نه شي کامیابیدای چا چې حکومت ښځې ته وسپاره.

دریم: د (نهاية المحتاج) د کوم عبارت نه چې موصوف دا مسئله راویستلې ده چې:

"که د خلکو له پاره ضروري شي چې د هغوی حکمرانه دې ښځه وي، نو د ضرورت له وجې هغه حکمرانه جوړیدای شي".

یا خوموصوف ددې عبارت په مطلب باندې نه دی پوه شوی، یایې قصدا ناخبره عوامو ته دوکه ورکړې ده، د موصوف غلط فهمي یا مغالطه ورکولو د رفع کولو له پاره هغه عبارت نقل کولو سره د هغه وضاحت کوم:

د نهاية المحتاج مصنف د قاضي د شرائط بیانولو نه وروسته دا مسئله لیکلې ده چې که دبادشاه له طرف نه داسې قاضي مقرر شي کوم چې د منصب قضاء اهل نه وي، مثلاً: فاسق یا

جاهل وي، نو د ضرورت له وجې به د هغه فيصلې نافذ کولی شي، چې د خلکو مصالح معطل پاتې نه شي د هغه دلاندې مصنف رحمه الله ليکي ﴿ وَلَوْ اُبْتُلِيَ النَّاسُ بِوِلَايَةِ امْرَأَةٍ أَوْ قِنٍّ أَوْ أَعْمَى فِيمَا يَضْبِطُهُ نَفَذَ قَضَاؤُهُ لِلضَّرُورَةِ كَمَا أَفْتَى بِهِ الْوَالِدُ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالَى، وَأَلْحَقَ ابْنُ عَبْدِ السَّلَامِ الصَّبِيَّ بِالْمَرْأَةِ وَنَحْوِهَا لَا كَافِرٍ ﴾ (نهاية المحتاج ج:۸ ص: ۲۴۰)

ترجمه : که بالفرض خلک مبتلا شي د ښځې يا ماشوم يا ړوند په قاضي جوړولو باندې، نو (سره د هغې به) د هغوی فيصله د ضرورت په بناء باندې نافذيږي (چې د خلکو مصالح معطل پاتې نه شي) لکه چې والد محترم رحمه الله د دې فتوا ورکړې وه او حافظ عز الدين ابن عبدالسلام ويلي دي چې د ښځه وغيره په شان به د ماشوم فيصله هم نافذ العمل وي، خو د کافر نه.

تاسو ګورئ چې دلته بحث دښځې دحکمرانۍ نه دی، بلکې بحث دادی چې که بالفرض يو بادشاهي يوې ښځې ته ورکړ يا يو غلام ته، يايې يو ړوند قاضي جوړ کړ او له هغه نه پرته په هغه علاقه کې بل څوک قاضي نه و کوم چې د خلکو د حقوق احياء کولی شي، نو ايا په دې صورت کې به دداسې نااهل قاضي فيصله نافذ العمل وي او که نه؟

ددې سوال په جواب کې مصنف رحمه الله په (نهاية المحتاج) کې فرمايي چې زما د والد مرحوم فتوا داده چې دداسې قاضي ـ ښځې فيصله نافذ العمل منل پکار دي، که نه، د خلکو حقوق به معطل پاتې شي، دا وه هغه مسئله کومه چې جناب کوثر صاحب داسې خرابه کړې ده چې: که د خلکو له پاره ضروري شي چې د هغوی حکمرانه دې ښځه شي، نو د ضرورت له وجې د هغې حکمرانی جائز ده اهل علم پوهيدلی شي چې صاحب موصوف د (نهاية المحتاج) په عبارت باندې پوهيدو کې درې غلطيانې کړې دي:

اول : د (نهاية المحتاج) په عبارت کې د ﴿ ولو ابتلی الناس ﴾ لفظ دی، اهل علم پوهيږي چې په عربي کې حرف د ﴿ لو ﴾ د فرض محال له پاره راځي، له دې وجې ددې مفهوم دا و چې: که بالفرض خلک مبتلا شي، نيازي صاحب د هغه اسانه ترجمه فرمايي: که خلک مجبوره شي، ددې دواړو تعبيرونو ترمينځه د ځمکې او اسمان فرق دی.

دويم : عبارت و: ﴿ بولاية امراءة او قن او اعمی فيما يضبطه ﴾ يعنې خلک مبتلا شي د يوې ښځې، يو غلام يا يو ړوند په قاضي جوړيدو باندې، خو حضرت ددې ترجمه داسې فرمايي: د هغوی حکمرانه ښځه وه، د قاضي او حکمران فرق هر هغه سړي ته معلوم دی چې د اوښ او بيزې ترمينځه د فرق کولو صلاحيت لري.

دريم : مصنف رحمه الله په (نهاية المحتاج) کې فرمايي چې: ددې ضرورت لاندې چې د خلکو حقوق ضائع نه شي، د هغوی فيصله به نافذ العمل منل کيږي، نيازي صاحب ددې ترجمه داسې فرمايي چې: چې د ضرورت له وجې نه د هغه حکمرانی جائز ده له چا نه پوښتنه وکړئ چې:

﴿ نفذ قضائه ﴾ ترجمه : د ښځې حکمراني جائز ده، د کوم لغت مطابق ده؟ تعجب دی چې د کوم صاحب د دیانت ، امانت او فهم پوهې دا حال وي هغه د ﴿ الا ولا غیری ﴾ شهرت کوي او د ائمه مجتهدین د اجماعي فیصلو پورې تو کې کوي.

پنځویشتمه مغالطة:

د خبرې په ختمولو باندې موصوف فرمايي: "صفا خبره ده لکه چې پورته وېيل شوي دي. يا خو دا قول رسول نه دی، ددې راوي مشکوک دی، تاريخ د هغه خلاف شهادت ورکوي.
يا بيا دا پيشن ګويي ده کومه چې يوازې د ايراني قوم له پاره وه چې يوې خاص ښځې نه يې حکمرانه جوړوله، راوي د القوم نه قوم جوړولو سره د همیشه له پاره عام کړ.
ددې دوه توجيهاتو نه پرته ددې روايت بله څه شرح کول د مذهب په حق کې د نادان دوستي نه پرته هيڅ حيثيت نه لري.
د تيرو مباحثو نه ښکاره شوې ده چې د رسول الله ﷺ ارشاد پاک دی: هغه قوم به کله هم کامياب نه شي چا چې د حکومت واړې يوې ښځې ته وسپارلې، قطعا حق دی، عين صدق او صواب دی او د کوثر صاحب ټولې خبرې په سپوږمۍ باندې د خاورو اچولو مترادف دي.
د موصوف دا نکته بيانول چې دا پيشن ګويي يوازې د ايراني قوم له پاره وه، راوي د القوم نه قوم جوړولو سره حديث عام کړی دی دا هم غلط ده، ځکه چې القوم معرفه دی او قوم نکره دی وروسته جمله يعني ﴿ ولوا امرهم امراة ﴾ د نکره صفت خو جوړيدای شي، د معرفه نه دا د موصوف داسې غلطي ده چې هغه د علم نحو مبتدي (طالب علم) هم نيولی شي.
پاتې شو د موصوف ارشاد چې : چې د هغه ذکر شوي توجيهاتو نه پرته د حديث بل څه شرح کول د مذهب په حق کې نادان دوستي ده" ددې په باره کې عرض دی چې د صحابه کرامو رضي الله عنهم نه واخله تر نن پورې اکابر امت دحديث شريف هم هغه مفهوم بيان کړی دی له کوم نه چې موصوف په نادان دوستي سره تعبير کړی دی، که د جناب عالي په خيال کې صحابه، تابعين او ائمه مجتهدين د مذهب نادان دوستان وو، نو د هغوی په مقابله کې به د انجناب حيثيت د مذهب د دانا دشمن وي اوس خو د جناب په رايه باندې منحصر ده چې د صحابه وو کرامو رضي الله عنهم او تابعينو رحمهم الله او د وروسته سلف صالحين تابعداري خوښوي او که د هغوی په مقابله کې دويم حيثيت ته ترجيح ورکوي، خو د دې عاجز خواهش دی چې جناب به هم دا رايه خوښوي کوم چې اکابر امت د خپل ځان له پاره خوښه کړې وه. خليفه راشد سيدنا عمر بن عبدالعزيز رحمة الله عليه يو سړي ته د نصيحت په ډول فرمايلي و، د حضرت دا خط امام ابوداود رحمة الله عليه په کتاب السنة کې نقل کړی دی او دې عاجز هغه په خپل کتاب (شيعه سنی اختلافات) کې نقل کړی دی، د هغې يو ټکړه دلته نقل کوم:

﴿ فَارْضَ لِنَفْسِكَ مَا رَضِيَ بِهِ الْقَوْمُ لِأَنْفُسِهِمْ فَإِنَّهُمْ عَلَى عِلْمٍ وَقَفُوا وَبِبَصَرٍ نَافِذٍ كَفُّوا وَلَهُمْ عَلَى كَشْفِ الأُمُورِ كَانُوا أَقْوَى وَبِفَضْلِ مَا كَانُوا فِيهِ أَوْلَى فَإِنْ كَانَ الْهُدَى مَا أَنْتُمْ عَلَيْهِ لَقَدْ سَبَقْتُمُوهُمْ إِلَيْهِ وَلَئِنْ قُلْتُمْ إِنَّمَا حَدَثَ بَعْدَهُمْ مَا أَحْدَثَهُ إِلاَّ مَنِ اتَّبَعَ غَيْرَ سَبِيلِهِمْ وَرَغِبَ بِنَفْسِهِ عَنْهُمْ فَإِنَّهُمْ هُمُ السَّابِقُونَ ﴾ (ابوداؤد ج ۲ ص ۲۷۷)

ترجمه : نوتاسو د خپل ذات له پاره هم هغه څه خوښ کړئ کوم چې حضرت سلف صالحين خوښ کړي وو، ځکه چې دا حضرات په صحيح علم باندې خبر وو او هغوی د ژور سوچ په بناء باندې ددې شيانو نه منع وو، بيشکه دا حضرات د معاملاتو تل ته په رسيدو باندې زيات قدرت لرلو او ددې علم او بصيرت په بناء باندې کوم چې هغوی ته حاصل و زموږ نه زيات ددې مستحق وو، نوکه د هدايت لاره هغه ده کومه چې د سلف صالحين په خلاف تاسو اختيار کړه، نو ددې معنا دا شوه چې تاسو خلکو په هدايت موندلو کې ددې حضراتو نه مخکې شوئ او دا خبره باطل ده او که تاسو وايئ چې دا شی خو د سلف صالحين نه وروسته پيدا شو، نو ښه پوه شه چې دا شی هم هغو خلکو ايجاد کړی دی کوم چې د سلف صالحين لارې نه جدا کيدو سره په نورو لارو باندې روان شو او هغوی د سلف صالحين نه لرې کيدل د خپل ځان له پاره خوښ کړل او هم دا د ټولو ګمراهيو جرړه ده، ځکه چې دا حضرات د هر خير او هدايت طرف ته مخکې کيدونکي وو.

په اخر کې به د جناب نيازي صاحب نه درخواست کوم چې تاسو چې د مولانا مودودي رحمه الله په نوم باندې کوم خط ليکلی و چې تاسو په خپل مسجد کې د سوالاتو جوابات ورکولو سره د سوونو کسانو مخکې د قرآن او حديث نه دلائلو سره د خپلې عقيدې وضاحت کړی و چې ښځه شرعا د ملک حکمرانه نه شي جوړيدای او د اخباري نمائنده ګانو په خواهش باندې مو د هغې خلاصه هم اخباراتو ته ليږلې وه، غالبا ستاسو په کاغذاتو کې به د هغې يادداشت ضرور محفوظ وي او که جناب عالي هغه ليک شائع کړي که په اخباراتو کې وي او که د رسالې په شکل وي، نودا به يو لوی کار وي، کيدای شي چې د هغه ليک اشاعت د ګناهونو کفاره وګرځي.

اللهم وفقنا لما تحب وترضاه من قول او عمل

وأخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

......

د جناب کوثر نیازي صاحب لطیفې

(۱۵) دسمبر (۱۹۹۳ء) په روزنامه جنگ کراچی ایډیشن کې د ښځې د حکمرانۍ په مسئله باندې د کوثرنیازي صاحب یومضمون شائع شوی دی، چې دهغه په لیدو باندې د غالب شعرناڅاپه رایاد شو:

بے نیازی حد سے گزری بندہ پرور کب تلک
ہم کهیں گے حال دل اور آپ فرمائیں گے کیا؟

دا مضمون په یو تمهید او شپږو نکتو باندې مشتمل دی چې په هغه کې د څه معقول علمي بحث په ځای څو لطیفې او مسخرې ویل شوي دي، نامناسب به نه وي چې لوستونکي د هغه د لطیفو نه برخمن شي.

تمهیدي لطائف:

۱: ارشاد فرمایي:

"د ښځې په حکمرانۍ کې ما د خپل دیرش کاله زوړ مضمون اعاده وکړه ګویا د مچو ګبین مې او چیړلو، یار! خلک د قلم نیزې راخیستو سره اوسه پورې دا خطاکار په هغه باندې وهي".

دادحضرت قدیم عادت شریفه دی چې په مسلمه شرعي مسائلو کې د نوي نوي اجتهاداتو شوق فرمایي او که څوک یې د اخلاص له وجې نه اوټوکي، نو هغه ټوکلو والا ته د مچیو د ګبین خطاب ورکولی شي.

۲: وایي چې: "حال دا چې دا دومره لویه مسئله نه وه".

رښتیایې وفرمایل: دا څه لویه مسئله خو پریږده؟ د سرنه څه مسئله نه ده، تاسو دې قرآن کریم د غلطو تاویلاتو په رنده باندې تراشي، د حدیث رسول ﷺ تکذیب دې کوي، د مجتهدین امت د اجماعي فیصلو تکذیب دې کوي، د امت په مشرانو پورې دې خندا کوي، شریعت ته دې د دور جبریت پیدوار وایي او چې کله د الله پاک یو بنده ستاسو په دې مسخرو باندې تاسو وټوکوي، نو تاسو ډیر په معصومیت باندې وفرمایئ چې: دا څه لویه مسئله خو نه وه مولوي صاحب هسې شور جوړوي، د حضرت په خدمت کې عرض دی چې د یو مسلمان له پاره د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ هرحکم لویه مسئله ده.

۳: ارشاد دی: "ددې نه لوی لوی ګناهونه په معاشره کې خواره شوي دي او علماء کرام بنه په سړه سینه هغه برداشت کړي دي".

د حضرت معلومات ناقص دی لږ نوم خو یې واخلئ چې کومه ګناه ده کومه چې علماء کرامو په سړه سینه برداشت کړې ده او په هغه باندې یې انکار نه وي کړی؟ خو چې سره د ټوکلو د ګناهونو ارتکاب کونکي کوثر نیازي جوړ شي، نو د هغه څه علاج وکړل شي؟

۴: بیا فرمایي: "زموږ دوست علامه طاهر القادري ښه ویلي دي چې په اسلام کې د ښځې حکمراني حرامه نه ده، بلکې زیات نه زیات مکروه (ناخوښه) ده.
سبحان الله! د حضرت په نظر کې په دې مسئله باندې د قرآن کریم آیاتونه حجت نه دي، ځکه چې د هغه تاویل کیدای شي، حدیث نبوي حجت نه دی ځکه چې هغه باطل او وضعي دی او د ائمه مجتهدین ﷺ ارشادات حجت نه دي چې هغه د دور جبریت پیداوار وو او د علماء راسخین اقوال حجت نه دي چې هغه د مچیو ګبین دي او! په دنیا کې لائق استناد هستي بس یوه ده، یعنې زموږ دوست علامه طاهر القادري څه لاجواب منطق دی؟
که حضرت غورکړی وای چې کراهت هم یو شرعي حکم دی او ضرور به هغه هم د یو دلیل شرعي نه اخیستل شوی وي، سوال دادی چې د کراهت دا حکم ستاسو علامه له کوم ځای نه واخیست، د قرآن له کوم ایت کریمه نه؟ د یو حدیث نه؟ د فقهاء کرامو له اقوالو نه؟ یا که حضرت علامه ته ذاتي ډول الهام شوی دی؟ که داسې وي، نو ګویا دا هم یو اصل مقرر شو چې په دلائل شرعیه کې یو دلیل زموږ د دوست علامه الهام هم دی.
۵: ارشاد دی: په ترکیه او بنګله دیش کې هم مسلمانانې ښځې وزیراعظمې دي، خو هلته چیرته مو نه دي اوریدلي چې داسې یو تحریک یو عالم چلولی وي".
او دا دلیل خو د پورته دلیل نه هم زیات ښکلی او وزني دی! مثلاً: که داسې وویل شي چې په کراچۍ کې ډاکې، غلا ګانې د ورځې کیږي، خو د کراچۍ شریف پولیس چاته هیڅ نه وایي، د پنجاب په پولیس معلومه نه ده چې څه چل شوی دی چې د نیولو شورکوي، څومره صفا دلیل دی؟ هلته چې د هغو ښځو خلاف څه تحریک ونه چلول شو د هغې وجه کیدای شي دا وي چې هغو ښځو ته به څوک کوثر نیازي نه وي ملاو شوی، چې د هغوی د حکمراني حق د قرآن او سنت نه ثابت کړل شي او د ټولو ائمه دین په موقف پورې ټوکې وکړي، په صحابه کرامو رضي الله عنهم پسې خبرې وکړي، د صحیح بخاري احادیثو ته موضوع او خودساخته ووایي، که داسې څه مخلوق هلته هم پیدا شوی وی، نو یقین دی چې هلته به هم د الله پاک یو بنده د هغه د تردید له پاره دریدلی و.
٦: ارشاد فرمایي: "د دوو څلورو نکتو جواب مجبورا لیکم چې د خاموشي نه د غلط فهمي د پیدا کیدو امکان دی".
جزاک الله! بالکل صحیح مو وفرمایل، په خاموشي سره د غلط فهمي د پیدا کیدو امکان دی. همدې مجبوري اهل علم ستاسو په جواب کې قلم اوچتولو ته تیار کړي دي، فرق دادی چې ستاسو مجبوري بینظیره ده او د اهل علم مجبوري د دین او شریعت صیانت او حفاظت دی، الغرض مجبوري دواړو ډلو ته پیښه ده، دا بیل بحث دی چې د چا مجبوري د کوم نوعیت ده؟

. سبو اپنا اپنا ہے جام اپنا اپنا! کئے جاؤ مے خوارو کام اپنا اپنا

د اولې نکتې لطائف

۱: ارشاد دی: "د ښځې د بادشاهۍ تايد څوک کوي"؟

خو د حضرت نهِ هير شو، د حديث نبوي ﷺ د باطل کولو له پاره تاسو کيسې د بادشاهانو ښځو اورولې وې، دا د حديث نبوي ﷺ په مقابله کې د ښځې د بادشاهۍ تايد نه دی، نو نور څه دي؟

۲: ارشاد دی: "موږ خو بحث په يو جمهوري ملک کې د ښځې د وزير اعظم جوړيدو کوو. وزيراعظم د حکومت سربراه وي د رياست يا ملک سربراه نه وي".

حضرت! زموږ خبره هم په دې کې ده چې ښځه د حکومت سربراه نه شي کيدای. چې هرکله تاسو منئ چې په جمهوري پارليماني نظام کې وزير اعظم د حکومت سربراه وي. هم هغه ته په ملک کې حاکم اعلی ويل کيږي، هم هغه د حکومت د نظم او نسق ذمه دار وي، انتظام مشينري ټوله هم د هغه په لاس کې وي او په عرف عام کې هم حکومت هم د هغه ګڼل کيږي، نو اوس داسې بااختيار حاکم ته که ته بادشاه وايې، که صدر وايې يا ورته وزير اعظم وايې، الغرض که هره يوه اصطلاح د هغه له پاره استعمال کړئ، مدعا يو ده، يعنې بااختيار حاکم او شريعت وايي چې د مسلمانانو حاکم ښځه نه شي کيدای، لهذا د ښځې نه بادشاه جوړول صحيح دي، نه وزيراعظم او نه ګورنر نه وزير اعلی نه قاضي او نه بل څه حاکم، تاسو د بادشاه، صدر او وزيراعظم په شان خود ساخته اصطلاحاتو کې اينښتلو سره پرته له څه وجې نه پريشانه کيږئ حال دا چې د پوهانو قول دی:

الفاظ کے پیچوں میں الجھتے نہیں دانا! غواص کو مطلب ہے صدف سے کہ گہر سے

۳: ارشاد دی:

"د حضرت تهانوي رحمه الله فتوا ده چې جمهوري سلطنت د ښځې کيدای شي، کوم چې قسم ثالث دی د حکومت په اقسام ثلاثه مذکوره کې او راز په دې کې دادی چې حقيقت ددې حکومت يوازې مشوره ده او ښځه د مشورې اهل ده ، نو په واقعه حديبيه کې خپله رسول الله ﷺ د ام سلمه رضي الله عنها په مشوره باندې عمل وکړ او د هغې انجام محمود شو".

د حضرت تهانوي رحمه الله فتوا په سر سترګو خو که ياد وي، نو حضرت رحمه الله فتوا د بيګم بهوپال په باره کې ورکړې وه، هغې پاکې ښځې خپل نائب نواب صاحب جوړ کړی و، خپله پرده کې اوسيده او نواب صاحب به د هغې په مشوره د ملک امور سر ته رسول، تاسو هم خپله ممدوحه په پرده کې کينوئ، خپله د هغې نائب جوړيدو سره د هغې په مشوره د حکومت امور پوره کوئ، د حضرت تهانوي رحمه الله په فتوا باندې به صحيح عمل وشي، يو عالم به هم د هغې مخالفت نه کوي، چشم ما روشن دل ماشاد! خو په موجوده صورت حال کې . . حال دا چې ستاسو وزيراعظم مختار کل دی او د کار سرې د هغه تابع مهمل دی. . . خپله سوچ وکړئ چې د

حضرت تهانوي رحمه الله فتوا به تاسو ته څه کار درکړي؟ هغه خو اولته ستاسو خلاف ده. او حضرت تهانوي رحمه الله چې د ام سلمه رضي الله عنها د مشورې حواله ورکړې ده د هغې په خپله ممدوحه باندې چسپان کول د تعجب لائق دي، ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم هم ام سلمه رضي الله عنها وزیراعظم جوړولو سره د ملک نظم هغې ته حواله کړی و؟

زموږ د عرض خلاصه داده چې که د حضرت تهانوي رحمه الله په فتوا باندې عمل کول وي، نو مشیر د مشیر په درجه کې کیږدئ، د ملک وزیراعظم ته د مشیر حیثیت د کم عقل نه کم عقل سړی هم نه شي ورکولی، پاتې لا دا چې ددې له پاره د حضرت تهانوي رحمه الله په شان د حکیم الامت او مجدد الملت حواله ورکړل شي؟

د دویمې نکتې لطائف

ارشاد دی:

"ما قصدا د هغه صحابي (یعني حضرت ابوبکرة رضي الله عنه) ذکر نه و کړی چې په دې سلسله کې څه خفګان پیدا نه شي، خو اوس خبره شروع شوه، نو عرض کوم چې حضرت ابوبکرة رضي الله عنه هغه صحابي دی چې هغه د زنا په مقدمه کې ګواهي ورکړې وه، مقدمه د پوره ګواهیانو د نه کیدو له وجې نه خارج شوه، حضرت عمر رضي الله عنه ابوبکرة رضي الله عنه ته د هغه د نورو ملګرو سره د اتیا کوړو سزا ورکړه، وروسته هغه د ابوبکرة رضي الله عنه نه دا هم مطالبه وکړه چې هغه په خپل فعل باندې توبه وکړي، خو هغه انکار وکړ، همدا وجه ده چې عمر فاروق رضي الله عنه به د هغه ګواهي نه قبلوله"

په دې عبارت کې څو لطائف دي:

۱: په خپل اول مضمون کې جناب عالي د حدیث د اول راوي حضرت ابوبکرة رضي الله عنه نوم اخیستل نه و خوښ کړي او د "راوي وایي" په مبهم الفاظو سره یې د هغه د مجهول ظاهرولو کوشش وکړ، اوس ارشاد دی چې ما قصدا داسې کړي و چې خفګان پیدا نه شي، ګویا د بدمزګي نه د بچ کیدو له پاره د راوي نوم پټول . . . کوم ته چې تدلیس وایي ضروري و.

۲: هغه خفګان څه و؟ د هغه اظهار د پورته لیکل شوي اقتباس نه کیږي چې حضرت ابوبکرة رضي الله عنه صحابي د جناب عالي په نظر کې **نعوذ بالله!** ددې درجې فاسق و چې حضرت عمر رضي الله عنه به د هغه ګواهي نه قبلوله، لهذا د هغه په روایات سره چې کوم حدیث نقل کیږي د هغه څه اعتبار؟

حال دا چې د اهل سنت دا اصل د جناب له نظره هم تیر شوی دی چې) **الصحابة کلهم عدول** (صحابه کرام رضي الله عنهم ټول په ټول عادلان دي دا منطق په اهل سنت کې چاته هم نه ورته چې د حضرت ابوبکرة رضي الله عنه روایت ته دې ناقابل اعتبار وویل شي، حافظ ابن حزم رحمه الله لیکي:

﴿ مَا سَمِعْنَا أَنَّ مُسْلِمًا فَسَّقَ أَبَا بَكْرَةَ، وَلاَ امْتَنَعَ مِنْ قَبُولِ شَهَادَتِهِ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فِي أَحْكَامِ الدِّينِ ﴾ (المحلی ج ۹ ص ۴۳۳)

ترجمه : موږ نه دي اوريدلي چې يو مسلمان حضرت ابوبکرة رضي الله عنه ته فاسق ويلي وي. ياپې د دين په احکاماتو کې د هغه د شهادت د قبلولو نه انکار کړی وي.

۳: يوه مزيداره لطيفه داده چې حديث **﴿ لن يفلح قوم ولوا امرهم امراة ﴾** تاسو له دې وجې مسترد کوئ چې په دې حديث کې د ام المومنين په قيادت باندې حرف راځي، حال دا چې اول خو ام المومنين رضي الله عنها د لښکر د قيادت له پاره تشريف نه و راوړی، بلکې د تشريف راوړلو مقصد د مسلمانانو د دوه جماعتونو ترمينځه صلح کول و، دا خبره د هغې په خيال کې هم نه وه چې د دواړو ډلو ترمينځه به جنګ ونښلي، ددې نه پرته د هغې په قيادت باندې ډير صحابه کرامو رضي الله عنهم انکار کړی و او خپله ام المومنين رضي الله عنها هم ټول عمر په دې خفه وه، خو ددې حديث د مسترد کولو له پاره تاسو د يوې داسې دروغژنې کيسې نه استدلال کوئ چې په هغه سره د يو جليل القدر صحابي شخصيت داغدار کيږي، سوال دادی چې ستاسو په زړه کې عظمت صحابه رضي الله عنهم دومره دی، نو دلته ستاسو ايماني غيرت کې جوش ولې پيدا نه شو؟ او ستاسو د غيرت رګ ولې ټوپ ونه وهلو؟ ستاسو ضمير تاسو ملامته ولې نه کړئ چې تاسو پرته د تکلف نه يو داسې کيسه نقل کړه چې په هغه سره د درې جليل القدر صحابه کرامو رضي الله عنهم فاسق او مردود الشهادة کيدل لازميږي؟

۴: حقيقت دادی چې د کومې کيسې نه چې تاسو استدلال کولو سره د يو جليل القدر صحابي حضرت ابوبکرة رضي الله عنه او هغه سره د هغوی دواړو ورونو چې هغوی هم صحابه دي د فاسق او مردود الشهادة کولو سره د هغوی روايت رد کوئ، دا کيسه خپله مشکوکه، ضعيفه او ساقط الاعتبار ده، همدا وجه ده چې د کوفې او بصرې جليل القدر تابعين او اکابر فقهاء او محدثين ددې خلاف فتوا ورکوي، نو امام حسن بصري، امام محمد بن سيرين، امام شعبي، قاضي شريح، امام سفيان ثوري، امام ابوحنيفه او د عراق د نورو جليل القدر فقهاء او محدثين رحمهم الله فتوا ددې خلاف ده، بلکې خپله د امير المومنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه فتوا د هغه خلاف منقول ده، همدغه شان د حبر الامت حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما او د سيد التابعين سعيد بن المسيب رحمه الله د چا په حوالې سره چې دا کيسه نقل کيږي د هغوی کيسه هم په صحيح سند سره ددې خلاف منقول ده، په دې کيسه باندې سخته جرح شوې ده او ثابت شوې ده چې دا کيسه غلطه او مهمله ده، د تفصيل له پاره دې د اعلاء السنن د ج ۱۵ ص ۱۹۴ ته مراجعه وشي.

څومره د افسوس خبره ده چې د يو جليل القدر صحابي د فاسق او مردود الشهادة ثابتولو له پاره د يو مجروحې کيسې نه استدلال وشي او يو داسې متفق عليه حديث ته چې د هغه صحت دټولو فقهاء کرامو او محدثين په نزد منل شوی دی او د هغه په صحت کې يو متنفس ته هم اختلاف نه شته، بلکې طبقه په طبقه په ټولو اکابر امت کې متواتر راروان دی، دساقط الاعتبار کولو له پاره د ډکو ادانه ورکړل شي؟

۵: اوكه ددې كيسې منل هم و، نو لازم وه چې ددې كيسې اصل حقيقت هم نقل شوى واى، كوم چې د امام العصر حافظ الدنيا مولانا محمد انور شاه كشميري رحمه الله په تقرير فيض الباري كې ذكر شوى دى، چې د هغه خلاصه داده چې د حضرت عمر رضي الله عنه له طرف نه د پابندي باوجود حضرت مغيره رضي الله عنه كوم چې د بصرې گورنر و هلته پټه نكاح كړې وه. حضرت ابوبكرة رضي الله عنه ته ددې علم نه و، هغه حضرت مغيره رضي الله عنه د سهار په تياره كې د هغې ښځې كور ته په تلو باندې وليد، چې لاړ ويې كتل، نو د هغې ښځې سره مشغول و. هغه خپلو درې مور شريكو ورونړو. نافع بن حارث، شبل بن معبد او زياد بن سميه ته هم دا موقع وښودله. دا څلور واړه عيني گواهان د گواهي وركولو له پاره دحضرت عمر رضي الله عنه عدالت ته راورسيدل او درې ورونړو شهادت ادا كړ او چې د زياد نمبر راغى، نو هغه خبره گول كړه او يوازې دا يې وويل چې ما نا مناسب حالت وليد، د زياد په دې طرز عمل سره حضرت مغيره رضي الله عنه خو د زنا د حد نه بچ شو خو باقي درې واړه گواهان مجرمان شو او په هغوى باندې حد قذف جاري شو.

كه دې څلوورو گواهانو گواهي وركړې واى. نوحضرت مغيره رضي الله عنه به د دوه گواهانو په گواهي ددې زنانه سره خپله نكاح ثابت كړې وه او د زنا سزا به په هغه باندې نه جاري كيدله. خو د عمر رضي الله عنه د غوسې سره به هغوى بيا هم مخامخ شوى واى، غالباحضرت مغيره رضي الله عنه به زياد د يومسلمان د پردې ساتلو ترغيب وركولو سره په دې باندې تيار كړى وي چې هغه په مبهم شهادت باندې اكتفاء وكړي چې په دې تدبير سره د هغه د پټې نكاح راز هم راز پاتې شي او هغه د سزا يا عتاب نه خلاص شي.

الغرض حضرت ابوبكرة رضي الله عنه او د هغوى دواړو ورونړو چې درې واړه صحابه دي، چې كوم شهادت وركړ د هغوى د علم مطابق صحيح و، اگر چې د دريم گواه شهادت بدلولو د مقدمې حالت بدل كړ، كه حضرت ابوبكرة رضي الله عنه ته له مخكې نه ددې علم واى، نو كله به يې هم د شهادت له پاره خوله نه وه پرانستلې، د سزا د جاري كيدو نه وروسته به د هغه دواړو ورونړو غالب دا گڼلي وي چې هغوى ته مغالطه پيدا شوې ده له دې وجې هغوى د عمر رضي الله عنه په وينا باندې توبه ويستله، خوحضرت ابوبكرة رضي الله عنه ته په خپلو ليدو باندې عين اليقين و هغه د توبې كولو نه انكار وكړ، ځكه چې د شهادت نه د رجوع مطلب دا وي چې گويا هغه په يو مسلمان باندې ناحق د زنا تهمت لگولى دى؟

دادى د واقعې اصل نوعيت ؛ چې په هغه سره نه يوازې دا چې دحضرت ابوبكرة رضي الله عنه په جلالت قدر باندې څه حرف راځي اونه دحضرت مغيرة رضي الله عنه طرف ته نعوذ بالله د زنا د تهمت نسبت كيدلى شي.

الغرض دحضرت ابوبكرة رضي الله عنه شهادت حق و، له دې وجې د نصاب شريعت د نه پوره كيدو له وجې په هغوى د شرعي حكم نفاذ وشو، خو د دې باوجود مردود الشهادة نه شو.

صاحب د روح المعاني د آيت کريمه ﴿ان جآء کم فاسق﴾ دلاندې ليکي: ﴿وکذا الحد في شهادة الزنا، لعدم تمام النصاب لا يدل على الفسق بخلافه في مقام القذف، فليحفظ﴾

ترجمه: همدغه شان که په شهادت د زنا کې د شهادت تعداد د نه پوره کيدو له وجې حد جاري شي، نو دا په فسق باندې دلالت نه کوي، په خلاف ددې حد کوم چې د تهمت په بناء باندې ولګول شي، ښه ځان پوه کړه.

بيا وايي: "دحضرت ابوبکرة رضي الله عنه نه يو روايت د خطبة حجة الوداع په موقع باندې هم منقول دی، چې په هغه کې د رسول الله ﷺ د خطبې يوازې شپږ کرښې دي، حال دا چې په نورو احاديثو (او ثابت شويو احاديثو کې) دا خطبه په څو صفحاتو باندې مشتمله ده. که دحضرت ابوبکرة رضي الله عنه د رواياتو د استناد پايه دومره لوړه ده، نو بيا به د رسول الله ﷺ دا خطبه هم په شپږو جملو کې منل لازميږي، کومه چې ظاهره ده څوک هم نه قبلوي".

حضرت داوضاحت نه دی فرمايلی چې دحضرت ابوبکرة رضي الله عنه د شپږو کرښو والا روايت په مستند کيدو سره د باقي صحابه وو کرامو رضي الله عنهم د احاديثو غير مستند کيدل څنګه لازميږي؟ يا د باقي صحابه کرامو رضي الله عنهم د احاديثو په صحيح کيدو سره دحضرت ابوبکرة رضي الله عنه د روايت مشکوک کيدل څنګه ثابت شو؟ مثلا:

دحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د احاديثو ټول تعداد (١٤٢) دی، شپږ په بخاري او مسلم دواړو کې، يولس يوازې په بخاري کې، يو يوازې په مسلم، باقي په نورو کتابونو کې.

دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه د ټولو رواياتو تعداد (٥٣٩) دی، لس په بخاري او مسلم کې، نهه يوازې په بخاري کې، پنځلس يوازې په مسلم او باقي په نورو کتابونو کې.

دحضرت عثمان ذوالنورين رضي الله عنه نه يوازې (١٤٢) احاديث روايت شوي دي، اته په صحيح بخاري او پنځه په صحيح مسلم کې، باقي په نورو کتابونو کې.

دحضرت علي بن ابي طالب رضي الله عنه د رواياتو کل تعداد (٥٨٢) دی، شل په صحيحين کې، نهه په صحيح بخاري کې، پنځلس په مسلم، باقي په نورو کتابونو کې.

ايا دلته يو سړی دا ويلی شي چې که د خلفاء راشدين د روايات د استناد پايه دومره لوړه ده، نو بيا به دا منل راځي چې ايا د رسول الله ﷺ د احاديثو تعداد بس هم دومره دی؟

د دريمې نکتې لطائف

موصوف د حديث نبوي ﷺ ﴿لن يفلح قوم﴾ په مجروح کيدو باندې يو بل شاندار ثبوت وړاندې کړی دی، هغه دا چې د لاهور په يو ماهنامه کنز الايمان کې د دهلي د پروفيسر مشير الحق مضمون شائع شوی دی چې په هغه کې د خپل استاذ مولانا عبدالسلام قدوايي په حوالې سره دا کيسه نقل کړې ده چې هغه د دار العلوم ندوة العلماء د سابقه شيخ الحديث او د هغه ځای مشهور عالم مولانا حيدر حسن ټونکي رحمه الله سره د صحيح بخاري درس اخيست، د درس

په دوران کې مولانا مرحوم ته په دې حديث باندې اشکال پيدا شو، د کتب خانې نه يې د رجال مختلف کتابونه راوغوښتل "کله چې د راويانو لټون وشو، نو په هغه کې يو حضرت داسې هم ملاو شو، چې د هغه په باره کې متفقه ډول علماء محققين اسناد ليکلی دی چې هغه صاحب د عائشې رضي الله عنها خلاف د دروغو ويلو او د هغه د خورولو شوقي و. له دې وجې د هغه د روايت کړي داسې احاديثو د قبلولو نه احتياط کول پکار دي چې د هغه اثر د عائشې رضي الله عنها په ذات باندې راځي"

دا نکته په څو نفيسو لطائفو باندې مشتمله ده:

١: تر اوسه پورې خو په دويمه نکته کې په ابوبکرة رضي الله عنه باندې نزله راوغورځول شوه او په يو جليل القدر صحابي باندې طعن کولو سره د قبر د رڼا بندوبست کيدو او اوس ناڅاپه د مولانا حيدر حسن ټونکي رحمه الله نوم اخيستو سره د حديث په راويانو کې په يو حضرت باندې مهرباني شروع شوه او دا خبره لا تر اوسه پورې په پرده کې ده چې دا د ناز مشق په چا باندې کولی شي؟ د کوم کتاب په حوالې سره کيدلی شي؟ او د جرح راوي څوک دی؟ صحيح حديث په داسې خوش فهمي باندې رد کول يو تماشه ده که نه ده؟

٢: مولانا حيدر حسن ټونکي د ذوالحجة (١٣٣٩)هجري نه ذوالحجة (١٣٥٨)هجري پورې پوره نولس کاله د دار العلوم ندوة العلماء شيخ الحديث پاتې شوی دی، په دې دوران کې به زرګونو طالبانو ته د هغه د شاګردي شرف حاصل شوی و، څومره عجيبه لطيفه ده چې د حضرت حيدر حسن رحمه الله د وفات (١٣٦١)هجري نه نيمه پيړۍ وروسته دا انکشاف کيږي چې د ندوة شيخ الحديث د صحيح بخاري په احاديثو باندې نه پوهيده.

٣: لطيفه داده چې يو طرف خو دا دعوه کيږي چې د حديث يو راوي داسې دی کوم چې د عائشې رضي الله عنها خلاف دروغ جوړولو سره د هغه د خورولو شوقي دی او هغه ته د علماء محققين د اسناد متفقه فيصله ويلی شي بل طرف ته د ندوه شيخ الحديث ته دا خبره هم منسوبيږي چې: "لهذا د هغه په روايت شوي داسې احاديثوکې دومره احتياط کول پکار دي چې د هغه اثر د عائشې رضي الله عنها په ذات باندې نه پريوځي"

يعني د ټولو محققينو متفقه فيصله ده چې دا راوي دروغژن دی، کذاب دی، مفتري دی، د ام المومنين رضي الله عنها خلاف د دروغ جوړولو شوقي دی او د دروغو کيسو جوړولو سره ام المومنين رضي الله عنها بدناموي، خو د ندوة العلماء شيخ الحديث تلقين فرمايي چې د داسې کذاب، مفتري د روايتونو په قبلولو کې دې بس د دومره احتياط نه کار واخيستل شي چې د عائشې رضي الله عنها په ذات باندې د هغه اثر رانه شي، ايا داسې لغو او مهمل خبره د حديث د يو معمولي طالب علم د خولې نه هم وتلای شي، پاتې دا چې د يو مشهور محدث طرف ته هغه منسوب کړل شي.

ددې نه لویه لطیفه دا چې د اهل سنت امیر المومنین في الحدیث امام بخاري رحمه الله ددې کذاب او مفتري حدیث په (اصح الکتب بعد کتاب الله) کې بار بار لیکي او هغه ته ددې کذاب بالکل خبر هم نه کیږي، حال دا چې هغه د رجال حدیث حافظ. د تاریخ صغیر او تاریخ کبیر مصنف او د علماء محققین اسناد د سرتاج دی، بیا د صحیح بخاري د تالیف نه تر نن پورې په لکونو اکابر محدثین او حفاظ حدیث ددې د درس او تدریس سلسله جاري وساتله. نوې زره کسانو خو د صحیح بخاري سماع خپله د امام بخاري رحمه الله نه کړې، دې په لکونو حفاظ حدیث ته به هم معلوم نه وي چې ددې حدیث فلانی راوي بالاتفاق کذاب او مفتري دی. بیا په سوونو کسانو د صحیح بخاري شروح ولیکل، ځینو ددې په رجال باندې کار وکړ، ځینو ددې په نورو متعلقاتو باندې تالیفات وکړل، خو د چا په خوب کې هم دا خبره رانغله چې ددې حدیث فلانی راوي دروغژن دی، کذاب، مفتري دی، د عائشې رضي الله عنها خلاف یې دروغژنې کیسې جوړولې،

د لاهور یو ماهنامې ته د یو پروفیسر له طرف نه "الهام"، کیږي چې ددې حدیث یو راوي د ټولو محققینو د متفقه فیصلې مطابق کذاب و او زموږ کوثر نیازي صاحب په دې الهام باندې ایمان راوړی.

د څلورمې نکتې لطائف

د نهمې مغالطې په ضمن کې مې د موصوف د مولانا مودودي په نوم باندې د لیکل شوي خط په متن باندې تفصیلي خبره کړې ده، موصوف په خپل نوي مضمون کې فرمایي چې ما خو دا لیکلي وچې:

"شرعاً ښځه په یو صورت کې هم صدر مملکت نه شي جوړیدلی، په صدر مملکت او د حکومت په سربراه کې فرق دی، د ایوب خان په دور کې صدارت د بادشاهت برابر و، هغه چیرته؟ او ددې پارلیماني دور وزارت عظمی چیرته"؟

دلته هم څو لطیفې دي:

۱: د جناب نه پوښتنه کیدلی شي چې شرعاً ښځه د ملک صدر ولې نه شي جوړیدای؟ د قرآن او حدیث نه ددې دعوې څه دلیل دی؟ هغه وخت چې تاسو مودودي صاحب ته خط لیکلی و د جناب په ذهن کې و؟ په کوم دلیل سره چې جناب دا ثابته کړي چې شرعاً ښځه صدر مملکت نه شي جوړیدای هم په هغه دلیل سره ثابت ده چې هغه د حکومت سربراه هم نه شي جوړیدای.

۲: د جناب عالي نه دا پوښتنه هم کیدلی شي چې که دا رښتیا وي چې ښځه شرعاً د ملک صدر نه شي جوړیدای. . . . او ستاسو په خیال کې د ایوب خان په زمانه کې صدارت، یوازې صدارت نه و، بلکې د هغه نه زیات بادشاهت و، نو تاسو د مس فاطمه جناح د صدرات له پاره د قرآن او حدیث نه حوالې څنګه ورکړې وې؟

۳: که ستاسو په خیال د مس فاطمه جناح صدارت صحیح و، حال دا چې شرعا ښځه د ملک صدر نه شي جوړیدای. نو تاسو د مودودي صاحب په نوم باندې لیکل شوي خط کې د مس فاطمه جناح د خپل ژوند په ګناهونو کې د تېولو نه لویه ګناه ولې ګڼلې وه؟ او په دې ګناه باندې مو د ایمان د تلو اظهار ولې فرمایلی و؟

۴: او له کومې ګناه نه چې تاسو په هغه خط کې توبه کړې وه، اوس د دیرش کاله مخکې خطبه، کومه چې مو د مس فاطمه جناح په حمایت کې ورکړې وه، د فخر په ډول د هغې حوالې ورکولو سره، اوس بیا د هغې ګناه اعاده ولې کوئ؟

د پنځمې نکتې لطیفه

جناب په خپل مضمون د ۲۵ اکتوبر په اخر کې د حدیث د اصلاح له پاره لقمه ورکړې وه چې د حدیث اصل لفظ "**القوم**"، و راوي د هغه نه قوم جوړ کړ په هغه باندې عرض وکړل شو چې حضور: لفظ د "**القوم**"، معرفه دی وروسته جمله د هغه صفت نه شي جوړیدای، دا خو د قوم نکره صفت جوړیدای شي، په دې باندې فرمایي چې:

"ما کله ویلي و چې د "**القوم**"، نه وروسته عبارت به نه بدلیږي"

ډېر شکر دی چې دا یې نه دي فرمایلي چې څنګه د صحیح بخاري حدیث غلط دی، همدغه شان د نحویانو دا قاعده هم غلطه ده چې وروسته جمله د "**القوم**"، صفت نه شي جوړیدای، خو دومره کمی اوس هم باقي پاتې شو چې د وروسته تبدیل شوي عبارت په ځای د حدیث اصل عبارت لیکل شوی وي، چې اهل علم ته د جناب ادبي ذوق معلوم شوی وی او هغوی دا فیصله کړې وی، چې ایا داسې مهمل عبارت د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې نه صادریدای شي؟

غور وکړئ چې ایراني قوم هم څه د "خلیفه وقت"، انتخاب خو نه و کړی، بلکې د هغوی په ملک کې د رائج نظام مطابق یې د حکمران انتخاب کړی و، ددې باوجود رسول الله ﷺ ارشاد وفرمایلو چې هغه قوم به هرګز کامیاب نه شي چا چې د حکومت واږې یوې ښځې ته وسپارلې، که ایراني قوم د مجوسي کیدو باوجود ددې حدیث دنقصان نه بچ نه شو، نو تاسو به د مسلماني ددعوې باوجود د ارشاد نبوي ﷺ مصداق ولې نه جوړیږئ؟

فرمایي چې: "په جمهوري دور کې خو به د امیدوار سړي او ښځې عقل (او صلاحیت) ته کتل کیږي، که عقل محترمه بینظیربهټو ته الله پاک زیات ورکړی دی (او که نه وي، نو دا د مستثنیاتو د قاعدې ومنئ) نو په دې کې د غریب ووټ اچونکو څه قصور دی؟

که جناب عالي اصرار کوي چې ستاسو ممدوحه، مخدومه، محترمه په ذهانت او فطانت کې بې مثله ده، عقل کل ده او د هغې ته الله پاک د ورکړي عقل په مقابله کې د پوره ملک سړي سره له ستاسو بې عقله دي، ساده ګان دي، ناپوهه دي، د مدرسې ماشومان دي، نو جناب

عالي ته به د محترمې د عقل ښه تجربه وي، له دې وجې موږ ته ستاسو د تجربې او مشاهدې د تکذيب ضرورت نه شته غالبا دا هم دې ته دالله پاک دورکړي عقل کرشمه ده چې لغاري، مزاري، چيمه، چټهي، وټو، ټواڼې، قريشي، نيازي يعنې د ملک لوی لوی مشران د هغې د زلفو قيديان دي او د هغې د غوړولي جال ښکار شوي دي. ګويا دا لاندې ذکر شوي حديث نبوي ﷺ مضمون د لمر په شان روښانه پرقيږي:

﴿ ما رايت من ناقصات عقل ودين اذهب للب الرجل الحازم من احدا کن ﴾ (متفق عليه)

ترجمه: ما ستاسو نه زيات څوک ناقص العقل والدين نه دي ليدلي کوم چې د ښه هوښيار او پوه سړيو عقل وتښتوي.

پاتې شوه دا چې د ممدوحه ښځې عقل به د ملک او ملت په حق کې څه کارنامې کوي؟ ددې فيصله د قاضي وخت په عدالت کې ده، د هغې ډيره لويه فيصله به ډير زر د خلکو مخې ته راشي **فانتظروا انا منتظرون**. الله پاک دې په دې امت باندې رحمت وکړي.

﴿ وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين ﴾

ايا موجوده حالات دښځې د سربراه جوړولو له وجې دي؟

سوال: د يو حديث مطابق د رسول الله ﷺ نه نقل دي چې کوم قوم ښځه خپله حکمرانه او سربراه کړه هغه قوم او ملک به کله هم کامياب نه شي، د تيرو تقريبا درې کلونو نه پاکستاني قوم او ملک په نوی بحران کې اينښتي دی او يوه ورځ هم ورته سکون نصيب نه شو. ايا د ملک موجوده او تباه کن حالات د هغه حديث شريف نه د انحراف له وجې خو نه دي؟

جواب: چې کله درې کاله مخکې قوم خپلې واګې د يوې ښځې په لاس کې ورکړې او کوثر نيازي د هغې په حمايت کې د اخبار کالمونه تورول شروع کړل، نومادکوثر نيازي جواب په جنګ کې ورکړی و او د تباه کن حالاتو نه مې هغه وخت ويرولی و، ما خپل مضمون په دې جمله ختم کړی و: پاتې شوه دا چې د (کوثرنيازي) ممدوحه ښځې عقل به د ملک او ملت په حق کې څه کارنامې کوي؟ د دې فيصله د قاضي وخت په عدالت کې ده، د هغې ډيره لويه فيصله به ډير زر د خلکو مخې ته راشي"

ددې ليکلو په وخت ددې عاجز په ذهن کې دا حالات د لرې لرې پورې نه و، خو کوم قوم چې د رسول الله ﷺ ارشاد غورځولو سره يوه ښځه حکمرانه کړه، [1] هغوی ته د خپل عمل سزا ملاويږي او د ټولو نه لوی عذاب په هغه قوم باندې نازل شو چې د هغوی نه د توبې توفيق واخيستل شو او هغوی په دې هم نه پوهيدل چې په موږ باندې د لعنت او ادبار دا عذاب د

---

[1] عن ابي بکرة قال: لما بلغ رسول الله صلى الله عليه وسلم ان اهل فارس قد ملکوا عليهم بنت کسري، قال: لن يفلح قوم ولوا امرهم امرأة. رواه البخاری. (مشکوٰة/ ٣٢١/ کتاب الامارة والقضاء/ الفصل الاول)

رسول اللهﷺ د فرمان د ماتولو له وجې دی، دا ددنیا عذاب دی او د اخرت عذاب ددې نه هم سخت دی، افسوس! چې دحکومت مشرانو ته هدایت نصیب شي او ددې ګناه نه توبه وباسي.

د ازاد خیال نمایندګانو حمایت کول

سوال: لیدلي مې دي چې د مسلمانانو یو ګڼ تعداد په خپل عملي ژوند کې خو د لمونځ، روژې او نورو شرعي احکاماتو پابند وي، خو په عامو انتخاباتو کې هم ددې افرادو لوی تعداد دداسې امیدوارانو له پاره کار کونکي او ووټ ورکونکي په نظر راځي چې د هغوی په عملي ژوند کې د اسلام د بنیادي احکاماتو د پابندي جهلک هم نه ښکاره کیږي. بلکې ځینې امیدوار خو اسلام سره د متصادم نظریاتو پیروکار وي، دداسې امیدوارو په حق کې د کار کونکو او هغوی ته د ووټ ورکونکو څه شرعي حیثیت دی؟ ایا د داسې مسلمانانو په دې عمل باندې به په اخرت کې هغوی نه نیول کیږي؟

جواب: کوم خلک چې د بې دینه امیدوارانو حمایت کوي، د هغوی خیال غالبا دا وي چې د دین د سیاست سره او د سیاست د دین سره څه تعلق دی؟ خو دا خیال صحیح نه دی؟ ځکه چې د بې دین یا بددین امیدوار حمایت کول او هغه ته ووټ ورکول هم جائز نه دي. [۱] یو خو دا د بې دیني حمایت شو، دویم دا بې دینه نماینده د منتخب کیدو نه وروسته چې څومره غلط کار کوي، د هغه ګناه او وبال به د هغه حمایت کونکو او ووټ ورکونکو په سر هم وي او دا ټول خلک به هم په هغه ګناه کې برابر شریک وي. [۲]

د مسلمان ملک سربراه چې شریعت نه نافذوي د هغه څه حکم دی؟

سوال: د مسلمان ملک سربراه چې شریعت نه نافذوي ایا هغه کافر، فاسق او واجب القتل دی؟ ایا دا حکم د قرآن کریم د هدایاتو مطابق دی؟

جواب: که هغه حقیقتامسلمان وي او د الله پاک او د رسول اللهﷺ احکامات د زړه نه ربښتیا ګڼي خودسستي له وجې یا د یوموهوم مصلحت له وجې دا احکامات نه نافذوي. نو کافر او واجب القتل نه دی، خو ګناهګار دی. [۳]

---

[۱] تفصیل دپاره اوګورئ: کفایة المفتی ج:۹ ص:۳۵۲ تا۳۵۸ کتاب السیاسیات، طبع دارالاشاعت کراچی.

[۲] "ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان" (المائدة: ۲). وفی الحدیث: من سن سنة عمل بها من بعده کان له اجره ومثل اجورهم من غیر ان ینقص من اجورهم شیأا، ومن سن سنة سیئة فعمل بها بعده کان علیه وزره ومثل اوزارهم من غیر ان ینقص من اوزارهم شیأا. (کنز العمال/ ۱۵/ ۷۸۰، ایضاً: مشکوٰة/۳۳/ کتاب العلم. الفصل الاول)

[۳] عن ام سلمت قالت: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: یکون علیکم امرا بعرفون وتنکرون فمن انکر فقد بریء ومن کره فقد سلم ولکن من رضی وتابع قالوا افلا نقاتلهم؟ قال: لا ماصلوا، لا ما صلوا، ای من کره بقلبه وانکر بقلبه. رواه مسلم. (مشکوٰة/ ۳۱۹/ کتاب الامارة/ الفصل الاول)

چې شریعت نه نافذوي د داسې حکمران د لرې کولو له پاره څه مناسب کار روایي کول پکار دي؟

سوال: د داسې حکمران د لرې کولو له پاره څه مناسب کار کول پکار دی چې د شریعت مطابق وي؟

جواب: که له فتنې او فساد پرته هغه لرې شي او د هغه په ځای بل څوک راوستل شي چې د الله پاک احکام نافذ کړي، نو هغه ضرور لرې کول پکار دي، خو پرته د فتنې او فساد نه که داسې کول ممکن نه وي، یا د هغه په ځای د هغه نه د بدترین سړي د راتلو ویره وي، نو صبر به کیږي. [1]

قوم د اخلاقي تباهي په کنده کې د غورځیدو نه د بچ کولو له پاره حکومت ته څه کول پکار دي؟

سوال: په دې سلسله کې حکومت ته څه اقدامات کول پکار دي؟ ځکه چې اخلاقي تباهي اهمه قومي مسئله ده؟

جواب: په حکومت اولین فرض دادی چې قوم د اخلاقي تباهۍ کندې ته د غورځیدو نه بچ کړي، د ټي وي او ډش انتینا لعنت دې قانونا ممنوع کړي، ددین د دعوت او تبلیغ اهتمام دې کوي او د قوم په افرادو باندې دې د اخرت د حساب د فکر پیدا کولو انتظامات وکړي، خو چې کله د ملک مشران په خپله د دې لعنتونو په غولي کې تر مرۍ مرۍ ډوب وي، نو د هغوی نه به د نورو د اصلاح څه توقع و شي؟[2]

---

[1] عن عبادة بن الصامت عن النبي صلى الله عليه وسلم على السمع والطاعة فى العسر واليسر والمنشط والمكره وعلى اثرة علينا وعلى ان لا ننازع الامر اهله وعلى ان نقول بالحق اينما كنا لا نخاف فى الله لومة لائم. وفى رواية: وعلى ان لا نازع الأمر اهله الا ان تروا كفر ابواحاً عندكم من الله فيه برهان. متفق عليه. (مشكوٰة / ٣١٩/ كتاب الامارة/ الفصل الاول). وفى المرقاة: والمراد بالكفر بينا المعاصى والمعنى لا تنازعوا ولاة الأمور فى ولايتهم ولا تعرضوا عليهم الا ان تروا منهم منكراً محققاً تعلمونه من قواعد الاسلام فاذا رأيتم ذالک فأنكروه عليهم وقوموا بالحق حيث ماكنتم. (المرقاة شرح مشكوٰة/ ٤/ ١١٧/ كتاب الامارة والقضاء/ طبع اصح المطابع بمبئى)

[2] عن ابى سعيد الخدرى عن رسول الله صلى الله عليه وسلم: من رأى منكم منكرا فليغيره بيده، فان لم يستطع فبلسانه، فان لم يستطع فبقلبه، وذالک اضعف الايمان. رواه مسلم. (مشكوٰة/ ٤٣٦/ باب الأمر بالمعروف/ الفصل الاول). وفى شرحه قال الملا على القاري: قد قال علمائنا الأمر الأول للأمراء والثانى للعلماء والثالث لعامة المؤمنين. . . . اعلم انه اذا كان المنكر حراماً وجب الزجر عنه. (المرقاة/ ٥/ ٣/ باب الامر بالمعروف/ طبع بمبئى)

مهاجر یا د مهاجر اولاد؟

سوال: د(مهاجر) لفظ قران مجيد کې کوم کوم ځای کې راغلی دی؟ يعنې د کومو کومو سورتونو په کوموکومو ايتونوکې؟ په کومه معنا کې؟ د(مهاجر) لفظ داحاديث شريف په کومو کومو کتابونو کې کوم کوم ځای راغلی دی؟ په څه معنا کې؟

جواب: د (مهاجر) لفظ دهجرت نه دی، ددې معنا ده هجرت کونکی او دهجرت معنا ده. دخپل دين بچ کولوله پاره ددارالکفرنه دارالاسلام طرف ته يادار الفساد نه دارالامن طرف ته وطن پريښودل اوتلل، مکه مکرمه کې چې کله دکافرانوغلبه وه اومسلمانان بې چې کله په خپل دين باندې عمل کولوته نه پريښودل، هغه وخت کې دوه ځله صحابه کرام رضي الله عنهم دمکې مکرمې نه حبشې طرف ته هجرت وکړ، بياحضور ﷺ پخپله دمکې مکرمې نه مدينې ته تشريف راوړ، اودمکې مکرمې هغه ټول مسلمانانوکوموچې هجرت کولی شو هغوی هم ټول مدينې طيبې ته راغلل اوپه مکه کې په شمار يوڅومسلمانان پاتې شول، کوم چې دخپلې ضعيفې ياکمزورې له وجې دهجرت کولونه معذور وو، مکې مکرمې دفتح کيدو پورې هغه ټولوخلکوباندې هجرت کول اومدينې منورې ته راتلل فرض و، کوم چې کافرانوپه مينځ کې اوسيدو سره په خپل دين باندې عمل نه شي کولی، دمکې فتح کيدو نه وروسته دافرضيت پاتې نه شو[۱]، له دې وجې حضور ﷺ وفرمايل چې: دمکې فتح کيدو نه وروسته هجرت نه شته[۲] قران کې ددې مهاجرينو ذکر باربار راغلی دی او دهغوی بې شميره فضيلتونه بيان شوي دي.

دحوالې له پاره دا ايتونه وګورئ [**الحشر۹، التوبه ۲۰، الانفال ۷۲، النور۲۲، الاحزاب۵۰، النحل۴۱، ۱۱۰، العنکبوت۲۶، الاحزاب۶، ال عمران ۱۹۵، البقره ۲۱۸، الحج۸۵، الممتحنه ۱۰، الحشر۸، النساء ۹۷، ۱۰۰، التوبه ۱۰۰، الانفال ۷۲تا ۷۴، النساء ۸۹، التوبه ۱۱۷**

دهجرت اومهاجرينولفظ په صحاح سته اودحديث نورو کتابونوکې هم ډيرزيات راغلی دی، دهغو ټولوکتابونوحواله ذکر کول زماله پاره ممکن نه دي، دغه احاديثوکې دهجرت اومهاجرينو فضائل، دهجرت شرطونه، دهغه ضرورت اودهغه دقبوليت شرطونه اوداسې نور... بيان شوي دي.

---

[۱]]عن عطاء بن رباح قال: زرت عائشة رضى الله عنها مع عبيد بن عمير الليثي، فسألناها عن الهجرة، فقالت: لا هجرة اليوم. . . . . . . الخ. (قوله فسألناها عن الهجرة أى التى كانت قبل الفتح واجبة الى المدينة، ثم نسخت بقوله لا هجرة بعد الفتح، واصل الهجرة هجر الوطن. (فتح البارى/ ۷/ ۲۲۶، ۲۲۹)_

[۲]]عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال النبى صلى الله عليه وسلم يوم فتح مكة: لا هجرة بعد الفتح، ولكن جهاد ونية واذا استنفرتم فانفروا. (بخاري: ۱/ ۴۳۳/ باب لا هجرة بعد الفتح)_

سوال: ایا دمهاجر لفظ دقران او سنت خلاف دی؟

جواب: دمهاجر لفظ قران او سنت خلاف نه دی، خو غیرمهاجرته مهاجرویل پرته له څه شک نه دقران او سنت خلاف دی، په حدیث کې دي:

المهاجر من هجر ما نهی الله عنه. (صحیح بخاري، صحیح مسلم، ابوداؤد، نسائی)

ترجمه: مهاجرهغه دی کوم چې هغه شیان پریږدي له کومونه چې الله تعالی منع کړې ده.

ښکاره خبره ده کوم سړی چې حرام کارونه کوي اودشریعت فرائض پریږدي. هغه ته مهاجر ویل ددې خلاف دي.

سوال: دمسلمانانو ډیرتعداد دهندوستان دهغوبرخونه کوموته چې اوس بهارت ویل کیږي، پاکستان ته راغلل. هغوی ته مهاجر ویل کیدای شي اودهغوی اولادته هم. ایادې کې دشریعت مطابق څه قباحت شته؟

جواب: کومو خلکو چې دخپل دین له پاره هندوستان پریښودو اوپاکستان ته راغلل هغوی بې شکه مهاجردي اودکومو خلکو په نظرکې چې دین نه و، بلکې ددنیامفاداتوله پاره دلته راغلي دي هغوی دقران اوحدیث په نزدباندې مهاجرنه دي اونه دقران اوحدیث په نزدباندې هغوی ته مهاجر ویل کیدای شي، هجرت یوعمل دی اوددې عمل کونکوته مهاجر ویل کیږي[1] له دې وجې کومو حضراتو چې پخپله هجرت وکړ، نوهغوی مهاجردي اودهغوی اولادته اولاد المهاجر ویل صحیح دي، خوپخپله هغوی ته مهاجرویل دقران اوسنت اصطلاح نه ده، څنګه چې دیو لمونځ ګزاري اولادته لمونځ ګزاری، د یوحاجي اولاد ته حاجي اودغازي اولادته غازي ویل غلط دي، دغه شان د مهاجر اولاد ته مهاجر ویل غلط دي احادیثو کې دانصارو اولاد ته ,,اولاد الانصار،، ویل شوي دي، څنګه چې دحضور ﷺ په دعا کې نقل دي:

اللهم اغفر للانصار ولابناء الانصار ولابناء ابناء الانصار. وفی روایة: ولذراری الانصار ولذراری ذراریهم. (صحیح بخاری، مسلم، ترمذی، جامع الاصول ج۹ ص ۱۶۳، ۱۶۴)

نوڅنګه چې حضور ﷺ دانصارود اولاد له پاره ,,ابناء الانصار،، اود ,,ذراری الانصار،، الفاظ استعمال فرمایلي دي اوهغوی ته یې دانصار په خطاب کې نه دي شامل کړي. دغه شان دمهاجرواولادته اولادالمهاجرین یاابناء المهاجرین ویل صحیح دي، خودهغوی له پاره دمهاجر لقب تجویزکول غلطه خبره ده.

---

[1] عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه یقول: سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: انما الأعمال بالنیات، وانما لامریء مانوی فمن کانت هجرته الی دنیا یصیبها او الی امرأة ینکحها فهجرته الی ما هاجر الیه. (بخاری/ ۲/۱)

دلته چې د ,,نعره مهاجر، ، يا ,,جئے مهاجر، ، کومه نعره پورته کيږي. د حديث په نزد باندې دا د جاهليت نعره ده، د حديث مشهوره واقعه ده چې يو مهاجر يو انصاري ته لغته ورکړه، انصاري د **ياللانصار** نعره پورته کړه او مهاجر د **ياللمهاجر** نعره پورته کړه. حضور ﷺ بهرته تشريف راوړ او ويې فرمايل: **مابال دعوى الجاهلية**. دا د جاهليت نعرې ولې دي؟ حضور ﷺ ته کيسه بيان شوه.

دعوها فانها منتنة، وفي رواية: فانها خبيثة _(بخاري، مسلم، ترمذي، جامع الاصول ج ۲ ص۳۸۹)

ترجمه: دا نعره پريږدئ دا بدبويه نعره ده.

زموږ مشرانو پاکستان دووقومونه په نظريې په بنياد باندې جوړ کړې و. دا د سندهي، پنجابي، پښتون او بلوچي نعره د دوه قومونو نظريې نفي کوي. د غه شان د مهاجر قوميت نعره هم د دغې نعرونو نه يوه نعره ده. اسلام، رنګ، نسل او د وطنيت بتان ماتولوله پاره راغلي و، د يو مسلمان بل مسلمان سره په جنګ کولوله پاره نه. د اسلام تعليم دا دی چې رنګ او نسل او د قبيلې په بنياد باندې حمايت او مخالفت مه کوئ. بلکې د مظلوم مدد کوئ، که هغه د هر رنګ او نسل او قبيلې وي او د ظالم لاس منع کوئ که هغه د هر قوم وي.

جمهوريت د دې زمانې لوی بُت

سوال: زما يوه پريشاني ده چې اسلام کې د جمهوريت ګنجائش شته او که نه؟ ځکه چې زما د ناقص خيال مطابق د جمهوريت په حکومت کې ازادخيالي او د لفظ ازادي له وجې مسلمانان د ټولو حدونه بهرشي او مذهب کور پورې محدود شي، حالانکې اسلام نه يوازې يو بې مثاله دين دی. بلکې دې کې د الله تعالى مستند قانونونه هم دي او اسلام کې د يو حد پورې ازادي هم ورکړل شوې ده، مهرباني وکړئ جواب راکړئ!

جواب: ځينې غلطې نظريې د عام قبوليت له پاره داسې سند حاصل کړي چې غټ غټ عقل مند د دې قبلولوله پاره سربښکته کړي، هغوی ته خويا د دې غلطيو پته و نه لګيږي او يا که چيرې ورته احساس هم وشي، نو د هغه خلاف خبرې کولو همت نه لري، د نړۍ کې چې کومې غټې غلطيانې دي د هغو باره کې عقل مند خلک هم په دې مشکل کې اخته دي، مثلاً: بت پرستي واخلئ، الله واحد لاشريک پريښودو سره پخپله باندې د کاڼونه جوړشوي بتانو ته سجدې کول، څومره غلط او باطل ده، د انسانيت له پاره به د دې نه زيات د ذلالت او توهين بل څه کيدای شي چې انسان کوم چې اشرف المخلوقات دی، بتانو ته سربښکته کړي او د دې نه غټ ظلم به بل څه وي چې الله تعالى سره مخلوق په عبادت کې شريک کړل شي، خود مشرکانو قوم عقل مند و ته وګورئ چې هغوی پخپله باندې جوړشويو بتانو، ونو او ځناورو وغيره ته سجدې کوي، د هر قسمه عقل او پوهې باوجود د هغوی ضمير د هغوی خلاف

احتجاج نه کوي او نه دي کې څه شرم محسوسوي.

هم ددغې غلطې قبولیت سکه نن سبا جمهوریت کې چلیږي، جمهوریت داوسني دورهم هغه غټ بت دی چې هغه ته سجدې کول دمغرب عقل مندو شروع کړل. هغوی داسماني هدایت نه محروم وو، له دې وجې دهغوی عقل دحکومت د نورو طریقو په مقابله کې دجمهوریت بت جوړ کړ او بیا دا دحکومت مثالي طریقې ښودلو سره ددې اواز داسې لوړ کړ چې ټوله دنیاکې ددې شور شروع شو، تردې چې مسلمانانو هم دمغرب په نقل کې جمهوریت خپلول شروع کړل، کله یې دانعره ولګوله چې اسلام دجمهوریت علم بردار دی او کله یې داسلامي جمهوریت اصطلاح پیدا کړه، حالانکې مغرب چې دکوم بت سجده کونکي دی، دهغه نه یوازې داسلام سره تعلق شته، بلکې هغه داسلام دسیاسي نظریې خلاف دي. له دې وجې اسلام سره دجمهوریت پیوند لګول او جمهوریت ته داسلام شرف ورکول بالکل غلط دي.

ټولو ته پته ده چې اسلام دخلافت دنظریې اعلان کونکی دی، چې دهغه په نزدباندې داسلامي مملکت مشر دحضور ﷺ خلیفه او دنائب په حیثیت باندې دالله تعالی حکمونه دالله تعالی په ځمکه باندې دراوستلو ذمه داردی.

نو مسند الهند حکیم الامت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمه الله، دخلافت تعریف دې الفاظو کې کوي:

مسئله درتعریف خلافت:

هی الریاسة العامة فی التصدی لاقامة الدین باحیاء العلوم الدینیة واقامة ارکان الاسلام والقیام بالجهادومایتعلق به من ترتیب الجیوش والفرض للمقاتلة واعطائهم من الفیئ والقیام بالقضاء و اقامة الحدود ورفع المظالم والامربالمعروف والنهی عن المنکرنیابة عن النبی ﷺ. (ازالة الخفاء ص۲)

ترجمه: دخلافت معناده، دحضور ﷺ په نیابت کې دین قائمولو اود (نافذکولو) له پاره د مسلمانانو مشر جوړیدل، دیني علمونه ژوندي ساتل، داسلام رکنونه قائم ساتل، جهادقائمول اود جهاد له پاره انتظام کول، مثلا: لښکرجوړول، مجاهدینو ته وظیفې ورکول او هغوی کې غنیمت تقسیمول، قضا او عدل قائمول، دشریعت حدود نافذول او ظلمونه ختمول، امر بالمعروف او نهي عن المنکر کول.

ددې په مقابله کې جمهوریت دعوامو دنمایندګۍ تصوردی، نو دجمهوریت تعریف په دې الفاظو کې کیږي:

جمهوریت دحکومت هغه نظام دی په کوم کې چې دعوامو منتخب شوې پارټۍ والا سیاسي جماعت حکومت چلوي او عوامو ته به جواب ورکونکي وي، نو ګویا داسلام

د خلافت نظام او د مغرب جوړشوي جمهوریت لارېه لومړی قدم کې جدا شي. نو:
١. خلافت، د رسول الله ﷺ د نیابت تصور وړاندې کوي او جمهوریت د عوامو د نیابت نظریه وړاندې کوي.
٢. خلافت، د مسلمانانو په مشر باندې د دین د قائمولو ذمه داري اچوي. یعنې د الله تعالی په ځمکه باندې د الله تعالی دین قائمول او د الله تعالی په بندګانو باندې. د الله تعالی په ځمکه باندې د الله تعالی مقرر شوی د انصاف نظام نافذول او د جمهوریت نه الله تعالی او نه د رسول ﷺ سره څه تعلق شته او نه دین او د دین کارونو سره. د جمهوریت کار د عوامو خواهشات پوره کول دي او د هغوی د خوښې مطابق قانون جوړول دي.
٣. اسلام، د خلافت د عهدې له پاره خاص شرطونه وړاندې کوي، مثلاً: مسلمان وي. عقل لرونکی او بالغ وي، هوش او حواس کې وي، سړی وي، انصاف کونکی وي، د شریعت د حکمونو عالم وي، او جمهوریت د دې شرطونو منونکې نه دی، جمهوریت د ادی چې کوم جماعت خلکوته شنه باغونو ښودلو سره په اسمبلۍ کې زیات ووټونه حاصل کړي هغه د عوامو نماینده جماعت دی، جمهوریت دې سره هیڅ کار نه شته چې د عوامو اکثریت حاصلونکي خلک مسلمانان دي او که کافران، نیک دي او که بد، متقي او پرهیزګاره دي او که بدکاره او فاجر، د شریعت د حکمونو عالمان دي او که جاهلان، غرض دا چې جمهوریت کې د عوامو خوښه او ناخوښه اصل معیار دی او اسلام چې د مسلمان حکمران له پاره کوم شرطونه ضروري ګڼلي دي، هغه د عوامو د حمایت نه وروسته ټول فضول او بې کاره دي او د سیاست کوم نظام چې اسلام مسلمانانو ته ورکړی دی هغه د جمهوریت په نظر کې بالکل بې کاره او بې معنا دی. نعوذبالله!
٤. خلافت کې د حکمران له پاره د قانون نه اوچت کتاب او سنت دی، که چیرې مسلمانان د خپل حکمونو خلاف وکړي، نو هغه به د الله تعالی او د هغه رسول ﷺ طرف ته ردکړل شي او د کتاب او سنت په رڼاکې به د دې فیصله کیږي، چې د هغه پابندي کول د حکمران او عوامو دواړو باندې لازم وي او د جمهوریت فتوا ده چې د ملک ائین د هر څه نه مقدس شی دی او ټولو مسئلو کې به د ملک ائین طرف ته رجوع کیږي، تردې چې عدالتونه هم د ائین خلاف فیصله نشي کولی.

خو د ملک ائین د خپل هرقسمه مقدس کیدو باوجود د عوامو د منتخب شویو نمایندګانو د لوبو شی دی. هغوی د اکثریت له وجې په ائین کې چې څه تبدیلي کول غواړي وکړي، هغوی څوک منع کونکي نه شته او د ملک او سیدونکو له پاره چې څه قانون جوړول غواړي جوړوي د هغوی نه څوک پوښتنه کونکی نه شته، تاسو ته به یاد وي چې انګلینډ پارلیمنټ د دوو سړیو واده قانوني ډول باندې جائزګرځولی و او کلیسا د هغوی فیصله منلې وه، نو عملي ډول باندې د دوو سړیو، د کلیسا پادري نکاح کړې وه. نعوذبالله!

اوس اوس په اخبارونو کې دپاکستان ديوې ښځې بيان هم راغلى و، په هغه کې چې اسلام څنګه په يو وخت کې سړي ته څلورو ښځو سره دواده کولو اجازه ورکړې ده، دغه شان يوې ښځې ته هم اجازه پکارده چې هغه په يو وخت کې څلورخاوندان ساتلاى شي، دلته چې د جمهوريت په نوم باندې دښځو او سړيو يو برابريدو کومې نعرې وهل کيږي، نو دا ممکن ده چې د جمهوريت نشه لږ تيزه شي او پارليمنټ کې دې قانون باندې هم بحث وشي، اوس تيرو ورځو کې دپاکستان ديوغټ مفکرمضمون په اخبارکې چاپ شوى و، چې شريعت دپارليمنټ نه لوړ ګڼل دقوم دنمايندګانو توهين دى، ځکه چې قوم خپل منتخب شويو نمايندګانو ته دقانون جوړولو اختيارورکړى دى، ددې صاحب دابيان دجمهوريت صحيح تفسيردى، چې دده په نزد باندې دقوم منتخب شوي نمايندګان دالله تعالى دشريعت نه هم اوچت ګرځول شوي دي، هم داوجه ده چې پاکستان کې شريعت بل دڅو کلونو راهيسې دقوم منتخب شوي نمايندګانو مخونوته ګوري خو اوسه پورې دې ته دنظرکولو شرف نه دى حاصل شوى، دې نه وروسته څوک ويلى شي چې اسلام، دمغرب دجمهوريت قائل دى؟

۲: ددنيا دټولو عقل مندو اصول دي چې په يوه اهمه معامله کې دهغې د ماهرانو نه مشوره اخيستل کيږي، هم ددې اصولو مطابق اسلام د خليفه دانتخاب کولو له پاره داذمه داري او عقل مندو خلکو باندې اچولې ده، کوم چې دملک په کارونو باندې پوهيږي او داورته پته وي چې دې له پاره صحيح کس څوک کيداى شي، څنګه چې حضرت علي کرم الله وجهه فرمايلي و:

انما الشورى للمهاجرين والانصار.

ترجمه: دخليفه دمقررکولو حق يوازې مهاجرينو او انصاروته حاصل دى.

خود جمهوريت دبرهمنانو فتوا ده چې دحکومت دجوړولو حق ماهرانوته نه، بلکې عواموته حاصل دى، ددنيا بل يو کار يا منصوبه داسې نه شته چې هغه کې دماهرانو په ځاى باندې د عوامونه مشوره اخيستل کيږي، ديوې معمولي نه معمولي ادارې چلولو له پاره هم دهغو د ماهرانونه مشوره اخيستل کيږي، خوداڅومره ظلم دى چې دحکومت اداره (کومه چې دټولو ادارو مور ده، او دملک ټول وسائل چې دهغې په قبضه کې دى، دهغې) دچلولو له پاره دهغو د ماهرانو نه مشوره نه اخيستل کيږي، بلکې دعوامونه اخيستل کيږي، حالانکې دعوامو يو کم سل فيصده خلکو ته داپته نه وي چې حکومت څنګه چلول پکار دي؟ دهغو پاليسي څنګه جوړيږي؟ او دحکمراني کولو اصول او فرائض څه دي؟ ديو عقل مند او حکيم کس خيال ديو ګيا خرڅونکي دخيال برابر ګڼل او ديو کمزوري ذهن والا خيال د اوچت ذهن والا دخيال برابر، دا هغه تماشه ده کومه چې دنيا ته په لومړي ځل باندې دجمهوريت په نوم باندې وښودل شوه.

حقیقت کې دعوامو حکومت، دعوامو له پاره دعوامو په مشوره باندې دانعرې یوازې دعوامو دبې وقوفه جوړولو له پاره پیدا شوي دي، که نه، حقیقت دادی چې جمهوریت کې نه دعوامو د مشورې خیال ساتل کیږي اونه دعواموا کثریت حکومت کوي. ځکه چې جمهوریت کې په دې هیڅ پابندي نه شته چې دعواموا کثریت حاصلونکي به کومې کومې نعرې وهي او کومې کومې طریقې به استعمالوي؟ دعوامو ترغیب اوتحریض له پاره چې کومې طریقې استعمالیږي، دهغوی دګمراه کولو له پاره چې ورته کوم شنه باغونه ښودل کیږي اودهغوی د عاشقان کولو له پاره چې کومې طریقې هم استعمال کړل شي هغه ټولې جمهوریت کې صحیح دي.

اوس که یوکس په هرڅنګه ذریعه باندې، دخپلو مخالفو په مقابله کې زیات ووټونه حاصلولو کې کامیاب شي هغه به د عوامو نماینده ګڼل کیږي، حالانکې عوامو ته پته هم نه وي چې دې کس دعوامو په خواهش باندې زیات ووټونه حاصل کړي دي اوکه په پیسو باندې یې اخیستي دي، یاپه دوکه یې اخیستي دي، یایې عوامو سره غلطې وعدې کولو باندې عوام دوکه کړي دي، خوددې ټولو شیانو باوجود دغه کس ته نه دروپیو او پیسو نماینده ویل کیږي، نه دوکه باندې منتخب شوی نماینده اونه ورته د دروغو او دوکې والانماینده ویل کیږي، دنظره نه شي ده ته دعوامو نماینده ویل کیږي انصاف وکړئ، دقوم نماینده هم داسې قبیلې کس ته ویل کیږي؟ اوایاداسې کس ملک اوقوم سره همدردي کیدای شي؟

دعوامودنمایندګي مفهوم خوداپکاردی چې عوام یوکس دملک اوقوم له پاره ښه ګڼلو سره هغه بالکل ازادي سره منتخب کړي، نه دامیدوارله طرف نه څه قسمه تحریض اوترغیب وي، نه دباو وي، نه دقوم اوقبیلې تعلق وي، نه دپیسووغیره لوبه وي، غرض داچې دهغه کس له طرف نه دنمائش هیڅ سامان نه وي اودعوام دبې وقوف جوړولوهغه سره هیڅ طریقه نه وي، قوم هغه یوازې اویوازې له دې وجې منتخب کړی وي چې هغه دخپلې علاقې لائق سړی وي اوکه چیرې داسې منتخب شي، نوداعوامي انتخاب وي اوهغه کس ته دقوم نماینده ویل صحیح دي، خوعام ډول باندې کوم جمهوریت چې دلته دی، داعوامو ته دعوامو په نوم باندې ددوکې ورکولولوبه ده. بس.

ویل کیږي چې جمهوریت کې زیاتر عواموته دخپلو نمایندګانو په ذریعه باندې دحکومت کولوحق ورکول کیږي، داهم یوازې ددوکې ورکولویوه نعره ده، که نه، عملي ډول باندې داسې کیږي چې دجمهوریت دغلطې فارمولې له وجې یو محدود شان اقلیت، د اکثریت په سرنو باندې مسلط شي، مثلاً: فرض کړئ چې په یوه علاقه کې دوټونو ټول تعداد یونیم لاک دی، پنځلس امیدواران دي، هغې کې یوکس دیریش زره ووټونه حاصل کړل، چې دهغه تناسب نوروامیدوارانوته دحاصل شویو ووټونونه زیات دی، حالانکې هغه یوازې شپاړس فیصده ووټونه حاصل کړي وي، دغه شان د شپاړسو فیصدو نماینده ته دټولوراتیافیصده

باندې د حکومت کولو حق حاصل شو، وفرمايئ دا د جمهوريت په نوم باندې يو محدود اقليت د غالب اکثريت په سر باندې د مسلط کولو سازش نه دی، نو نور څه دي؟ نو دې وخت کې چې په مرکزکې کوم حکومت ,,کوس لمن الملک،، بجه غږوي، هغه ته د ملک د ټولې ابادۍ په نسبت باندې درې ديرش فيصده حمايت هم حاصل نه دی، خود جمهوريت د تماشې له وجې هغوی نه يوازې د جمهوريت حفاظت کونکي دي، بلکې هغوی يوه برخه د ملک د هرڅه مالکه جوړه کړې ده.

غرض دا چې د جمهوريت په نوم باندې، ، د عوامو حکومت د عوامو له پاره، ، دعوه يوازې يوه دوکه ده او اسلام سره د دې پيوند لګول د هغو نه غټه دوکه ده، د اسلام او سني جمهوريت سره هيڅ تعلق نه شته او نه د جمهوريت اسلام سره څه تعلق شته. ,,ضدان لايجتمعان، ، (دا دوه بيل بيل جنسونه دي، چې کله هم نه شي يوځای کيدای.)

د الو الامر اطاعت

سوال: د الوالامر اطاعت د قران هدايت مطابق پاکستاني مقننه نافذ شوي قانونونه، چې د هغوی د صحت تصديق اسلامي نظرياتي کونسل کړی دی، د هغه خلاف ورزي کولو باندې به د الله تعالی او د هغه رسول ﷺ نافرماني ګڼل کيږي او که نه؟ او د حکومت د کله پورې او کوم حد پورې اطاعت کول ضروري دي؟

جواب: د الو الامر اطاعت په هغه کارونو کې لازمي دی، په کومو کې چې د الله تعالی او د هغه رسول ﷺ نافرماني نه کيږي، نو د ملک کوم قانونونه چې د شريعت خلاف نه دي د هغه پابندي کول لازمي دي او کوم چې د شريعت خلاف وي د هغه پابندي کول حرام او ناجائز دي، غرض دا چې د الو الامر اطاعت مشروط دی او د الله تعالی او د هغه رسول ﷺ اطاعت غيرمشروط.

د اسلامي نظام نافذولو مطلب

سوال: نن تقريبا څلورکاله وشول چې زموږ ملک کې اسلامي نظام راځي، پينټ او کوټ وغيره ډيرکم خلک اچوي، خلکو کې د قميص پرتوګ وغيره رواج عام شوی دی، خودې سره سرې او ښځې تقريبا ديوشان ډيزائن جامې اغوندي او نبي کريم ﷺ ښځې د سړيو په شان جامو اوسړي د ښځو په شان جامو اغوستلو باره کې فرمايلي دي چې دوی باندې لعنت دی، زموږ ټي وي دې معامله کې ډير مخکې دی او بيا زموږ د ملک ادبي او سماجي رسالې، ډائجسټونه هم نوي نوي ډيزائنونه وړاندې کوي، ايا زموږ اسلامي معاشره کې د دې شيانو ګنجائش شته؟ دا يوه معمولي خبره کيدای شي، خو د قران په نزدباندې کلمه لوستونکي له

پاره لازم دي چې اسلام کې پوره داخل شي، داسلام په نزدباندې دښځې اوسړي دجاموو ضاحت وکړئ!

جواب: داسلامي نظام دنافذکیدومطلب دادی په خپلوخواهشاتو باندې دالله تعالی د حکمونو اوچتوالی قائمول اودالله تعالی د حکمونو مخکې خپل خواهشات پریښودل، خو مونږ دې له پاره تیارنه یو، له دې وجې مونږ داسلامي نظام دنافذکیدو مطلب گڼو اسلامي حکمونه دخپلې خوښې اوناخوښې مطابق کول نوهم ددې مظاهره مونږ کوو، دکومې خبرې شکایت چې تاسو کوئ.

ایا اسراف او تبذیر د حکومت په کارونو کې هم وي

سوال: مخکې ورځوکې دلته یوعالم تقریرکاو، دهغه عنوان و چې مونږ دپاکستان د وزیراعظم راتلوته هرکلي وایو، خود ازاد کشمیر حکومت چې دهغه په استقبال کې څومره خرچې کوي دهغو هیڅ شرعي جوازنه شته، بلکې دا اسراف دی، دې باره کې هغه د پنځلسمې سپارې داسراف ایت ولوست اوتقریر یې ختم کړ د تقریر ختمیدونه وروسته دازاد کمشیردیوې اوچتې عهدې افسر پورته شو او ویې ویل چې ملایان جاهل وي اوداچې داسراف تعلق دانسان ذات سره وي اوملک باندې داسراف اطلاق نه کیږي اوداچې زه دجمعې لمونځ کولوله پاره جومات ته ددې له وجې نه راځم چې داجاهل ملایان څه نا څه بده خبره ضرورکوي، چې دهغه دوضاحت یا تردید کولو ضرورت وي اودهغه له وجې دفساد جوړیدوویره وي، پوښتنه داکول غواړم چې اسراف اوتبذیر کې څه فرق دی؟ اوپرته د استثنانه ټولو ملایانوته جاهل ویل شرعي ډول باندې څنگه دي؟ اوهم ددې ویرې له وجې دجمعې لمونځ پریښودل شرعي څه حکم لري؟

جواب: خپلې ذاتي پیسې خودسړي ملکیت وي اودحکومت په خزانه کې چې کومې پیسې جمع کیږي، هغه دچاذاتي ملکیت نه وي، بلکې هغه امانت وي اوهغو باندې دحکومت قبضه هم د امانت قبضه ده، کله چې ذاتي ملکیت کې زیات استعمالول اسراف دی، نوامانت زیات استعمالولو به اسراف ولې نه وي؟ بلکې دا اسراف نه هم زیات دی، یعنې امانت کې خیانت، دا خو اصولي جواب شو، پاتې شوه داچې کوم اسراف صحیح دی اوکوم نه؟ دې کې دبحث ډیر زیات گنجائش دی، داممکن ده چې یوکس یوخرچ فضول گڼي اوبل یې فضول نه گڼي.

دغه صاحب چې دعالمانو باره کې کوم الفاظ استعمال کړي دي هغه ډیرسخت دي، هغه ته دې الفاظو باندې دشرم نه پرته توبه کول پکاردي، که یوعالم یاملاکې په رښتیا څه غلطي ښکاره شي، نودهغه له وجې یوازې هماغه ته غلط ویل کیدای شي، خو د عالمانوټوله ډله ملعونه گرځول یاهغوی ته سپک کتل دعقل اوانصاف مطابق نه ده، بلکې دعالمانوتوهین

ته کفر ویل شوي دي[1] الله تعالی دې هرمسلمان ددې افت نه وساتي اوددغه صاحب دملایانو له وجې دجمعې لمونځ پرېښودل نوره هم سخته ګناه ده. حدیث کې دي چې کوم کس پرته له څه عذرنه یوازې معمولي خبرې ګڼلوسره دجمعې لمونځ پرېږدي الله تعالی دهغه په زړه باندې مهر ووهي. نعوذبالله! (مشکوة ص ١٢١)[2]

د خپل خوښ لیډر تعریف او د بل بدي بیا نول

سوال: نن سبا د سیاسي پارټیو ډیر زیات زور دی، ټول خلک د خپل خوښ لیډر تعریف کوي او د خپل مخالف لیډر بدي بیانوي، ایا دا بدي بیانول هم غیبت کې شامل دي؟

جواب: د خپل لیډر هسې تعریف کول او په داسې خبره باندې تعریف کول کومه چې هغه کې موجود نه وي، یا داسې شي باندې تعریف کول چې هغه شرعي ډول باندې صحیح نه وي جائزنه دي[3] او د مخالف لیډر ذاتي عیبونه یا نقصونه بیانول دا غیبت دی[4] او که چیرې د هغه پالیسي یا بیان او تقریر د ملک د مفاد و خلاف وي، نو هغه باندې تنقید کول جائز دي.[5]

بدکارته مذهبي منصب ورکول د قیامت علامه ده

سوال: یو سړی دیوث وي او د خپلې بي بي په حرام کاري کې معاونت کوي، چې د هغه ثبوت او شهادتونه موجود وي، ایا داسې سړی د اسلامي جمهوریه پاکستان په اهم عهده خصوصا داسې عهده چې په هغې کې د مسلمانانو دیني معاملات هم هغه سړي ته وسپارل شي، د پاکستان د نمایندګي فرائض هم پوره کوي، داسې سړي ته د ذمه داري عهده ورکول جائز دي؟

جواب: داسې دیوث ته د مسلمانانو دیني معاملات سپارل د قیامت علامه ده، هغه د منصب نه لرې کول پکار دي. [6]

---

[1]]وفی الخلاصة: من ابغض عالماً من غیر سبب ظاهر خیف علیه الکفر. (خلاصة الفتاوی/ ٤/ ٣٨٨/ کتاب الفاظ الکفر/ الفصل الثاني، الجنس الثامن، طبع رشیدیه). ایضاً: الاستخفاف بالعلماء لکونه علماء استخفاف بالعلم والعلم صفة الله تعالی منحه فضلاً علی خیار عبده لیدلوا خلقه علی شریعته نیابة عن رسوله فاستخفافه هٰذا یعلم انه الی من یعود. (بزازیة علی هامش الهندیة/ ٦/ ٣٣٦/ کتاب الفاظ تکون اسلاماً او کفراً او خطا، الثامن فی الاستخفاف بالعلم) ایضا: الاستهزاء بالعلم والعلماء کفر(الأشباه والنظائر/١٩١/الفن الثانی فی کتاب السیر)

[2]] قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من ترک ثلاث جمع تهاونا بها، طبع الله علی قلبه. (مشکوٰة: ١٢١)

[3]]عن ابی موسٰی الأشعری رضی الله عنه قال: سمع النبی صلی الله علیه وسلم رجلاً یثنی علی رجل ویطریه فی المدحة،فقال:اهلکتم او اقطعتم ظهر الرجل؟(بخاري:٢/٨٩٥/ باب مایکون فی التمادح،طبع نورمحمد کراچی)

[4]]عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قیل:یارسول الله! ما الغیبة؟ قال:ذکرک اخاک بما یکره، قال: ارأیت ان کان فیه اقول؟ قال:ان کان فیه ما تقول فقد اغتبته وان لم یکن فیه ما تقول فقد بهته.(رواه الترمذی/ ٢/ ١٥/ باب ماجاء فی الغیبة)

[5]] قال النبی صلی الله علیه وسلم: کل المسلم علی المسلم حرام (دمه، وماله، وعرضه). رواه مسلم وغیر، فلا تحل الا عند الضرورة بقدرها. (شامي:٦/ ٤٠٩). تفصیل دپاره اوګورئ: احسن الفتاوی ج٨، ص١٩٣، غیبت کی جائزصورتین)۔

[6]] عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: بینما النبی صلی الله علیه وسلم یحدث ...[بقیه حاشیه په راروانه صفحه

د ووټ وعده پوره کړو که نه؟

سوال: که يو ووټ ورکونکی له کوم (اميدوار) سره وعده وکړي چې خپل ووټ به تاته درکوم، په قرآن کريم کې راځي چې وعده پوره کړئ: ﴿ يا ايها الذين امنوا اوفوا بالعقود ﴾ خو د وعدې کولو نه وروسته ديو عالم نه دا حديث واوري چې رسول الله ﷺ منع فرمايلې ده چې کوم سړی خپله ځان وړاندې کړي چې امير جوړ شي هغه دې هرگز امير يا حکمران جوړ نه کړل شي، ځکه چې دا لالچي دی، هر سړي ته پکار ده چې په شريعت باندې تول وکړي چې کوم اميدوار د ووټ قابل دی. جناب محترم: صورت حال دادی چې موږ خپله وعده پوره کړو او که په حديث باندې عمل وکړو؟ د وعدې کولو په وخت د حديث شريف نه خبر نه وو؟

جواب: که د غلط سړي سره مو وعده کړې وه، نو وعده کول هم گناه او د هغې پوره کول هم گناه[۱]، او که د يو نيک سړي سره مو کړې وه، نو هغه ضرور پوره کول پکار دي.

د انتخاب طريقه او اسلامي تعليمات

سوال: ۱: دانتخاب ددې طريقې په کومې کې چې دقومي اسمبلۍ له پاره اميدواره مقرر کول کيږي اوهغه کې جاهل، عقل مند، باشعور، بې شعور، دين داراوبې دينه دټولودووټ حيثيت برابر وي، ايا دقران اوحديث په نزدباندې داصحيح ده؟

سوال: ۲: هرپنځه کاله وروسته اليکشن کول اوملک کې جوش اوجذبه پيدا کول دقران اوسنت په نزدباندې ضروري دي؟ ايايوځل انتخاب کول کافي نه دي؟ که ضروري دي، نودقران اوحديث په حواله باندې بيان کړئ. دباربارأليکشن کولومثال اسلامي اصولومطابق ورکړئ.

سوال: ۳: دقانون مطابق وزيراعظم داسمبلۍ داکثريت دفيصلې پابند وي. ايادادشريعت خلاف نه دی؟ ايا د اکثريت دفيصلې منلو وزيراعظم دقران اوحديث په نزدباندې پابند دی؟

جواب: ۱: داسلامي اصولومطابق دحکومت انتخاب کول خو پکاردي، خو دلته چې کومه طريقه ده، هغه ديوڅووجوهاتوله وجې غلطه ده:

۱: دټولونه مخکې خوداخبره داسلام دروح اوداسلام دمزاج خلاف ده چې يوکس خپل ځان داقتدار دحاصلولو له پاره وړاندې کړي، اسلام هغه خلک دحکومت کولواهل گڼي کوم چې دايومقدس امانت گڼي اوددې غهدې نه له دې وجې ويريږي چې هغه به ددې امانت حق

بقيه د تيرمخ].. اذ جاء اعرابي فقال: متى الساعة؟ قال: اذا ضيعت الأمانة فانتظر الساعة، قال: كيف اضاعتها؟ قال: اذا وسد الأمر الى غير اهله فانتظر الساعة. رواه البخاري. (مشكوٰة/ ٤٦٩/ باب اشراط الساعة/ الفصل الاول/ طبع قديمي كتب خانه)

[۱] "وتعاونوا على البر والتقوىٰ ولا تعاونوا على الاثم والعدوان واتقوالله، ان الله شديد العقاب". (المائدة: ۲)

صحيح ډول باندې اداکړي او که نه؟ ددې په مقابله کې اوسني انتخاب کې اقتدار ديو مقدس امانت ګڼلو په ځای باندې داقتدار حريصانو دې نه دلوبو يوشی جوړکړی دی، حديث کې دي چې: موږ داسې کس ته عهده نه ورکوو کوم چې دهغه طلب کونکی ياخواهش لرونکی وي. (صحيح بخاری ومسلم)[1]

۲: اليکشن کې چې دګټلو له پاره څه کيږي هغه دسرنه تراخره پورې غلط دي، دعواموخيال متاثره کولوله پاره اوهغوی نه مطلبونه حاصلولو له پاره دروغ وعدې کول. غلطې پروپيګنډې کول، جوړتوړ کول، نعرې لګول، چغې وهل داټول شيان داسلام په نظرکې جائزنه دي اوداغلطه لارد قوم داخلاقوتباه کولويوه مستقله ذريعه ده.

۳: دې انتخاب کې يوفريق بل فريق ښکته ښودلو له پاره دهغه خلاف بدرد وايي اودهغه خلاف نوې نوې کيسې جوړول سياست کې ضروري ګڼل کيږي اودکبر، غيبت، بهتان، دمسلمان بې عزتي کولو په شان دبدوکولوچټې ملاوشي، دخلکو او جماعتونو په مينځ کې نفرتونه اوبغض پيداشي اوټولې معاشره کې دتلخی او بيزاری زهرشامل شي اوداټول شيان داسلام په نظرکې حرام او قبيح دي، ځکه چې دادملک اوملت دانتشاراوافتراق ذريعه ده.

۴: دانتخاب دې طريقې ته خودجمهوريت نوم ورکول کيږي، خو حقيقت کې چې کوم شی مخې ته راځي هغه جمهوريت نه جبريت دی، داليکشن په پرده کې دشراوفتنې کوم اورچې بل شي، دجنګ جګړو اوفساد اووهلوټکولونه بهرکيدو له وجې پکې خلک مړه شي، داټول شيان هم ددې جبريت له وجې دي چې هغه ته شيطان ښائسته نوم جمهوريت ورکړی دی.

۵: دې ټولوکندونه تيريدونه وروسته چې دجمهوريت پورې کومه خندا کيږي هغه ددې انتخاب د طريقې دبدمذاقي دليل دی، هغه داسې چې په يوه يوه حلقه کې دلسولسو پهلوانانومقابله وي اودې کې يوکس پنځلس فيصده ووټونه حاصل کړي او خپلو نورو مخالفو باندې ورته برتري حاصله شي اودغه صاحب دخپلې حلقې جمهورنماينده جوړشي، يعنې دخپلې حلقې پنځه اتيا فيصده خلکو چې کوم کس مستردکړی وي، زموږ جمهوريت هغه ته دجمهورنماينده خطاب ورکوي.

۶: دټولوعقل مندو دا اصول دي چې ديوې معاملې باره کې يوازې دهغې دماهرانونه مشوره اخيستل کيږي، خوسياست اوحکمراني جوړې دنياکې دومره ذليل شی دی چې دې کې هرڅوک دمشورې ورکولوقابل وي اوديوبنګي مشوره هم هغومره قدراوقيمت لري څومره

---

[1] عن ابي موسیٰ رضي الله عنه قال: دخلت علی النبي صلی الله عليه وسلم انا ورجلان من بني عمي، فقال احدهما: يا رسول الله! امرنا علی بعض ما ولاک الله، وقال الآخر مثل ذالک، فقال: انا والله لا نولی علی هذا العمل احداً يسأله ولا احداً حرص عليه. وفي رواية: قال: لا نستعمل علی عملنا من اراده. متفق عليه. (مشکوٰة/ ۳۲۰/ کتاب الامارة/ الفصل الاول)۔

چې دسپريم كورټ دججانو مشوره او عوام دذاتي او وختي مسئلونه مخكې دملک او ملت مفادات خپل سوچ كې نه راولي اونه يې سوچ كې راوستلی شي، له دې وجې چې کوم کس عوام په جذباتي تقريرونو او نعروباندې ګمراه كولو كې كامياب شي دهغه دملک اوملت دقسمت مالک جوړشي، هم دا هغه بنيادي غلطي ده كومې ته چې ابليس دسلطاني جمهور نوم وركولو سره دنياپه زړه اودماغونوباندې مسلط کړې ده. اسلام ددې كم عقل توب نظريې قائل نه دی، هغه دحكومت په انتخاب كې داهل بصيرت اوعقلمندو د رايې او مشورې اهل ګڼي، دقومي شاعر علامه اقبال مرحوم الفاظ دي:

گریز از طرزِ جمهوری غلام پخته کارے شو
که از مغز دوصد خرکار انسانی نمی آید

۷. دانتخاب دا طريقه دتجربې نه وروسته هم غلطه ثابته شوه، دې طريقې سره چې كوم خلک اقتدار ته ورسيدل، هغه خلک اقتدارته رسيدو سره دملک دشكست اوماتولونه پرته دملک هيڅ خدمت ونه كړای شو اوكوم شی چې دتجربې په ذريعه باندې خطرناک ثابت شي اوقوم ته دهغه سزا ملاو شوي وي، هغه تجربه په دويم ځل باندې كول نه شرعي ډول باندې جائزدي اونه عقلي ډول باندې هغه ته صحيح ويل كيدای شي، نواوسنۍ طريقه كاربدلول اوداسې طريقه كار پيدا كول ضروري ده چې ددې قباحتونونه پاكه وي اوچې دهغه په ذريعه باندې اقتدار دامن په ماحول كې منتقل كيږي.

جواب: ۲: انتخاب هرڅنګه كاله وروسته كول خوڅه شرعي فرض نه دي، خوكه چيرې حكمران كې هم څه داسې خرابي ونه موندل شي دكومې له وجې چې دهغه دلرې كولوتقاضا وكړل شي، نوهغه بدلول هم جائزنه دي، داسلام نظريه دې باره كې داده چې هغه د حكومت بدلولو مسئلې ته داهيمت وركولوپه ځای باندې دمنتخب شوي حكمران داهليت صفاتوته زيات اهميت وركوي، اسلامي ذوق ته داخبره ډيره نژدې ده چې عقل مندخلک دې دصدريا امير انتخاب وكړي اوبيادې هغه دعقل مندو خلكوپه مشوره باندې دځان له پاره مددګار او ملګری منتخب کړي.

جواب: ۳: دحكومت مشردعقل مندونه دمشورې اخيستلو پابند دی، خود زياتوخلكوپه مشوره باندې دعمل كولوپابندنه دی، بلكې ددليل په قوت باندې دعمل كولو پابند دی، دې مسئله كې داسلام جمهوريت سره اختلاف دی، جمهوريت دويونكودخبرې دوزن كولو قائل نه دی، بلكې يوازې دمردم شماري قائل دی. داقبال دقول مطابق:

جمہوریت اِک طرزِ حکومت ہے کہ اس میں
بندوں کو گنا کرتے ہیں تولا نہیں کرتے

[اووم جلد ختم شو]